فتح الهداية

شرح

هداية

د اول ځل لپاره په آسانه معیاري پښتو
ژبه کې یوه جامع شرحه

صداقت کتب خانه
کندهار



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

وَاللّٰهُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهدايه

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج
د متن بشپړ اعراب
صرفي تحقيق
د لغاتو حل

پر فقهي او ضروري معلوماتو
مشتمله يوه جامع مقدمه

تعيين د قول راجح
د هري جملې تر څنګ ژباړه
د عنواناتو اضافه
صورت د مسئلې

پنځم ټوک

كتاب الحدود - فصل فى بناء المسجد وغيره

ژباړه او ترتيب:
مولوى حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت كتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم : **فتح الهدايه** پښتو شرح هدايه

❁ ژباړه او ترتيب : مولوي حبيب الرحمن مدني

❁ ټوک :پنځم ټوک

❁ خپرندوی : **صداقت کتب خانه**/ کندهار

❁ کمپوز/ ډيزاين : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❁ د چاپ کال : ۱۳۹۷ ل./ ۱٤۳۷ هـ.ق. / ۲۰۱۹ م.

❁ د خپرونو لړ : ۲٦۷

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځای:

صداقت کتب خانه

کندهار - افغانستان

تليفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

ايميل: sadaqat.books@gmail.com

فهرس



كِتَابُ الْحُدُوْد

(دا) كتاب حدونو (او د شرعي سزاګانو د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: تر "كتابُ الأيمان" وروسته د "كتابُ الحُدود" د بيانولو وجه دا ده چې په أيمان (قسمونو) كې چې په حانث كېدلو سره كومه كفاره واجبيږي هغه د عبادت او عقوبت (سزا) په مينځ كې مشتركه ده. او "حَدّ" خالص عقوبت دى. نو د عقوبت په حواله سره په دې دواړو كې څه غوندې مشابهت سته. په همدې وجه مصنف رَحِمَهُ الله تر كتابُ الأيمان وروسته كتابُ الحدود بيان كړى دى.

د حدّ لغوي او اصطلاحي تعريف

قَالَ: اَلْحَدُّ لُغَةً: هُوَ الْمَنْعُ فرمايي: د حدّ لغوي معنىٰ ده: منع كول وَمِنْهُ الْحَدَّادُ لِلْبَوَّابِ او له همدغه معنىٰ څخه د پيره دار [دربانچي] لپاره د "حَدَّاد" لفظ [مستعمل] دى [يعني په همدې وجه پيره دار ته حدّاد ويل كيږي] وَفِي الشَّرِيْعَةِ هُوَ الْعُقُوْبَةُ الْمُقَدَّرَةُ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالىٰ او په شريعت كې حدّ هغه سزا ته وايي كوم چې د الله د حق لپاره متعينه سوې وي حَتّٰى لَا يُسَمَّى الْقِصَاصُ حَدًّا تر دې چې قصاص ته حدّ نه ويل كيږي [يعني له همدې وجهي قصاص ته حدّ نه ويل كيږي] لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَبْدِ څكه چې قصاص د بنده حق دى وَلَا التَّعْزِيْرُ او نه تعزير ته [حدّ ويل كيږي] لِعَدَمِ التَّقْدِيْرِ څكه چې [د تعزير] مقدار متعين نه دى وَالْمَقْصَدُ الْأَصْلِيُّ مِنْ شَرْعِهِ: اَلْاِنْزِجَارُ عَمَّا يَتَضَرَّرُ بِهِ الْعِبَادُ او د حدّ د مشروع كېدلو اصلي مقصد دا دى: چې په كومو شيانو سره بندګانو ته تكليف رسيږي له هغه څخه منع وسي وَالطَّهَارَةُ لَيْسَتْ أَصْلِيَّةً فِيْهِ او [له ګناه څخه] پاكېدل د حدّ اصلي مقصد نه دى بِدَلِيْلِ شَرْعِهِ فِيْ حَقِّ الْكَافِرِ څكه چې حدّ خو د كافر په حق كې [هم] مشروع دى.

اللغات: ﴿حَدَّاد﴾ چوكيدار. څوكيدار. منع كونكى. ﴿بَوَّاب﴾ دربانچي (هغه كس چې پر دروازه ولاړ وي او څوك دننه نه پرېږدي). پيره دار. ﴿عُقُوْبَة﴾ سزا. ﴿اِنْزِجَار﴾ د انفعال مصدر دى: منع كېدل. درېدل. رټل (مصباح اللغات). ﴿يَتَضَرَّر﴾ د تفعّل مضارع ده: ضرر او نقصان رسېدل. تكليف رسېدل.

تشريح: په دې عبارت كې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د حدّ لغوي او شرعي (اصطلاحي) تعريف او د حدّ د مشروعيت وجه بيانوي، نو فرمايي چې د حدّ لغوي معنیٰ ده: ”منع كول، اجازه نه وركول، بنديز لګول“. له همدې كبله چوكيدار (پيره دار) ته حَدَّاد وايي: ځكه چې هغه هر كس او ناكس له داخلېدلو څخه منع كوي او اجازه نه وركوي.

د حدّ شرعي معنیٰ ده: ”داسي سزا (عقوبت) كوم چې خالص د الله د حق په توګه متعين سوى وي“ (يعني د الله له طرفه چې كومه سزا ټاكل سوې ده هغه ته حدّ وايي). له همدې كبله قصاص ته حدّ نه ويل كيږي: ځكه چې د هغه سره د بنده حق متعلق وي. او تعزير ته هم حدّ نه ويل كيږي: ځكه چې د تعزير لپاره هيڅ متعين او معلوم مقدار نسته او په هغه كي كمي او زياتوب كيږي.

او د حدّ د مشروعيت اصلي مقصد دا دى چې كوم شيان د بندګانو لپاره مُضر او تكليف رسونكي دي (مثلاً غلا، د درواغو تهمت او داسي نور) چې د دغه شيانو دروازه بنده سي او نور كسان له داسي حركتونو څخه منع سي.

”له جرم او ګناه څخه پاكېدل“ د حدّ اصلي مقصد نه دى، ځكه چې حدّ پر كافر هم جاري كيږي. حالانكي هغه بد نصيبه خو په هيڅ ډول له ګناهونو څخه نه پاكيږي.

د زنا د ثبوت طريقه او د ثبوت مطلب

قَالَ: اَلزِّنَا يَثْبُتُ بِالْبَيِّنَةِ وَالْإِقْرَارِ فرمايي: چې زنا په ګواهۍ او اقرار سره ثابتيږي وَالْمُرَادُ ثُبُوتُهُ عِنْدَ الْإِمَامِ او له ثبوت څخه مراد د إمام په نېز ثابتېدل دي ايعني زنا په ګواهۍ او اقرار سره د إمامُ المسلمين او قاضي مخته ثابتيږي ا لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ دَلِيلٌ ظَاهِرٌ ځكه چې ګواهي ظاهري دليل دى وَكَذَا الْإِقْرَارُ او همدارنګه اقرار ا هم ظاهري دليل دى ا لِأَنَّ الصِّدْقَ فِيهِ مُرَجَّحٌ ځكه چې په اقرار كي رښتياوالي غالب وي لَا سِيَّمَا فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِثُبُوتِهِ مَضَرَّةٌ وَمَعَرَّةٌ خصوصاً د هغه شيانو په باره كي ا په اقرار كي رښتياوالي غالب وي ا چې د هغو د ثبوت سره نقصان او شرمنده ګي تعلق لري انو د هغه شيانو په باره كي به همدا ګومان كيږي چې اقرار كونكي بالكل رښتيا وايي ا وَالْوُصُولُ إِلَى الْعِلْمِ الْقَطْعِيِّ مُتَعَذِّرٌ او يقيني علم اخبرتيا ا ته رسېدل مشكل وي فَيُكْتَفَى بِالظَّاهِرِ نو ځكه به په ظاهري دليل اكتفاء كيږي.

اللغات: ﴿بَيِّنَة﴾ ګواهي، ﴿مُرَجَّح﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دى: راجح، غالب. ﴿مَضَرَّة﴾ مصدرِ ميمي دى: نقصان، ضرر، تکليف، رنځ، کړاو. ﴿مَعَرَّة﴾ دا هم مصدرِ ميمي دى: شرمنده ګې، شرمېدل، بې آبه کېدل (بې پرده کېدل). ﴿وُصُول﴾ د ضرب مصدر دى: رسېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې زنا خو يا د ګواهانو په بيّنه (ګواهۍ) سره ثابتيږي، يا د زاني (زناکاره) په اقرار سره ثابتيږي، او د ثابتېدلو مطلب دا دى چې کله د زنا په هکله زاني اقرار وکړي يا بيّنه پېش کړى سي نو امامُ المسلمين دې هغه زنا تسليم کړي (او د زنا حکم دې پر وکړي) او تر دې وروسته دې حدّ پر جاري کړي، له ثبوت څخه نفسِ ثبوت مراد نه دى؛ ځکه چې زنا يو حسّي فعل دى، او په حقيقت کې د زنا ثبوت بيّنه يا اقرار ته ضرورت نه لري، خو په بيّنه يا اقرار سره چې کله د امامُ المسلمين او د قاضي او مفتي مخته زنا ثابته سي، نو پر هغه به سمدستي او په هغه ګړي د زنا حکم لګول کيږي؛ ځکه چې بيّنه ظاهري دليل دى، او قاضي به د ظاهر مطابق حکم لګوي. همدارنګه اقرار هم ظاهري دليل دى؛ ځکه چې په اقرار کې د صدق او رښتياوالي اړخ غالب وي، خصوصاً په هغه وخت کې کله چې اقرار د انسان لپاره مُضر او شرمنده کونکى وي، او په حدّ کې هم داسې کيږي چې د زاني بدن ته ضرر او تکليف رسيږي او هغه په خلکو کې رسوا کيږي او شرمنده کيږي. او څرنګه چې د زاني په فعل (زنا) سره په قطعي او يقيني توګه د قاضي او نورو خبرېدل ممکن هم نه دى، نو په دې وجه به هم په ظاهري دليل اکتفاء او اعتماد کيږي، او د هغه مطابق به فيصله کيږي.

د زنا د ګواهۍ بيان ١

قَالَ: فَالْبَيِّنَةُ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَةٌ مِنَ الشُّهُودِ عَلَى رَجُلٍ أَوِ امْرَأَةٍ بِالزِّنَا فرمايي: د ګواهۍ صورت دا دى چې څلور ګواهان د سړي يا ښځې پر زنا ګواهي ورکړي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ [النساء: ١٥] ځکه الله تعالىٰ فرمايلي دي: نو تاسې [اې قاضيانو!] پر دې [متهمو] ښځو له خپلو [مسلمانانو] څخه څلور ګواهان وغواړئ! وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ [النور: ٤] او الله تعالىٰ فرمايلي دي: بيا که هغوى څلور ګواهان وړاندې نه کړي [په دې آيت کې د څلورو ګواهانو يادونه سوې ده، نو ځکه به څلور ګواهان د زنا ګواهي ورکوي] وَقَالَ السَّلِيِّهِ [1] لِلَّذِي قَذَفَ امْرَأَتَهُ: ائْتِ بِأَرْبَعَةٍ يَشْهَدُونَ عَلَى صِدْقِ مَقَالَتِكَ او نبي ﷺ هغه کس ته وفرمايل چې هغه پر خپلې ښځې د زنا

[1] تخريج: رواه البخاري بمعناه، رقم الحديث: ٢٦٧١.

تهمت لګولی وو: ته څلور ګواهان را وله! چي هغه ستا د خبري پر ربښتيا والي ګواهي ورکړي وَلِأَنَّ فِي اشْتِرَاطِ الْأَرْبَعَةِ يَتَحَقَّقُ مَعْنَى السَّتْرِ او ځکه چي د څلورو ګواهانو په شرط لګولو سره د ستر [او پرده ساتلو] معنیٰ ثابتيږي [او د مجرم پرده او آبرو خوندي کيږي] وَهُوَ مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ او همدا ستر [د زنا په باره کي] ستر مستحب دی وَالْإِشَاعَةُ ضِدُّهُ او [د زنا] خپرول [نشر کول] د ستر خلاف دي وَإِذَا شَهِدُوا او کله چي څلور سره ګواهان ګواهي ورکړي سَأَلَهُمُ الْإِمَامُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ نو إمام [او قاضي] دي له هغو څخه د زنا په هکله پوښتنه وکړي چي ① زنا څه شي ته وايي؟ وَكَيْفَ هُوَ ② او زنا څرنګه کيږي؟ وَأَيْنَ زَنَى ③ او زاني [مشهود عليه] چيري زنا کړې ده؟ وَمَتَى زَنَى ④ او هغه کله زنا کړې ده؟ وَبِمَنْ زَنَى ⑤ او د چا سره يې زنا کړې ده؟ لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اِسْتَفْسَرَ [●] مَاعِزًا عَنِ الْكَيْفِيَّةِ وَعَنِ الْمَزْنِيَّةِ ځکه چي نبي کريم ﷺ له حضرت ماعز ﷺ څخه د زنا د کيفيت [څرنګوالي] او د زنا کړده ښځي په هکله پوښتنه [او معلومات] کړې وو وَلِأَنَّ الِاحْتِيَاطَ فِي ذَلِكَ وَاجِبٌ او ځکه چي د زنا په ثابتولو کي احتياط کول واجب دي لِأَنَّهُ عَسَاهُ غَيْرُ الْفِعْلِ فِي الْفَرْجِ عَنَاهُ ځکه کېدای سي چي د زاني مراد په فرج کي له فعل [او زنا] څخه بغير يو بل شی وي [يعني کتل، مچه اخيستل او داسي نور] أَوْ زَنَى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْ فِي الْمُتَقَادِمِ مِنَ الزَّمَانِ يا [کېدای سي چي] هغه په دارُ الحراب کي زنا کړې وي يا په پخوانۍ زمانه کي يې زنا کړې وي أَوْ كَانَتْ لَهُ شُبْهَةٌ لَا يَعْرِفُهَا هُوَ وَلَا الشُّهُودُ كَوَطْءِ جَارِيَةِ الِابْنِ يا [کېدای سي چي] د زاني لپاره شبهه وي چي په هغه باندي زاني او ګواهان نه پوهيږي لکه د زوی د مينځي سره وطي کول فَيَسْتَقْصِي فِي ذَلِكَ نو ځکه به إمام [او قاضي] د زنا په هکله پوره پلټنه [پوښتنه] کوي [او د زنا د قصې بېخ ته به ځان رسوي] اِحْتِيَالًا لِلدَّرْءِ د دې لپاره چي د "حدّ" دفع کولو [او ساقطېدلو] ته يوه حيله وسي فَإِذَا بَيَّنُوا ذَلِكَ وَقَالُوا: رَأَيْنَاهُ وَطِئَهَا فِي فَرْجِهَا كَالْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ بيا چي کله ګواهان دا خبري [يعني د پوښتنو جوابونه] بيان کړي او دا ووايي: چي موږ هغه د فلانۍ ښځي په فرج کي داسي وطي کونکی [او ذکر داخلونکی] وليدی لکه څرنګه چي سلايي په رنجينه کي داخليږي وَسَأَلَ الْقَاضِي عَنْهُمْ او اهمدارنګه کله چي [قاضي د ګواهانو په باره کي پوښتنه وکړي

● تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ٤٤١٩.

فَعُدِّلُوا فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ او په ظاهر او باطن کې هغوی عادلان ثابت سي حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ نو ابيا ا دي قاضي د هغو پر شهادت فيصله وکړي وَلَمْ يَكْتَفِ بِظَاهِرِ الْعَدَالَةِ فِي الْحُدُودِ او په حدونو کي به قاضي په ظاهري عدالت اکتفاء نه کوي احْتِيَالًا لِلدَّرْءِ د دې لپاره چي د "حد" دفع کولو ته حيله وسي قَالَ الطَّيْلا ❸: اِدْرَءُوا الْحُدُودَ مَا اسْتَطَعْتُمْ نبي ﷺ فرمايلي دي: څومره چي ستاسي وس او طاقت اوي، حدونه دفع کوئ! بِخِلَافِ سَائِرِ الْحُقُوقِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ په خلاف د نورو حقونو. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ايعني په نورو حقونو کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په ظاهري عدالت اکتفاء کيږي ا وَتَعْدِيلُ السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ نُبَيِّنُهُ فِي الشَّهَادَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د ظاهر او باطن عدالت به مورږ انشاء الله په "كتابُ الشهادات" کي بيان کړو قَالَ فِي الْأَصْلِ: يَحْبِسُهُ حَتَّى يَسْأَلَ عَنِ الشُّهُودِ او په مبسوط کي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي قاضي به مشهود عليه [زاني] بندي کوي تر دې چي د ګواهانو په باره کي پوښتنه وکړي [او د هغو أحوال ځان ته معلوم کړي] لِلِاتِّهَامِ بِالْجِنَايَةِ ځکه چي هغه په جرم [زنا] سره متهم دی وَقَدْ حَبَسَ ❹ رَسُولُ ﷺ رَجُلًا بِالتُّهْمَةِ او نبي کريم ﷺ د تهمت په وجه يو سړی بندي کړی وو بِخِلَافِ الدُّيُونِ حَيْثُ لَا يُحْبَسُ فِيهَا قَبْلَ ظُهُورِ الْعَدَالَةِ په خلاف د قرضونو، نو په هغوی کي به [د ګواهانو] د عدالت تر ښکاره کېدلو مخکي مقروض [پور وړی] نه بندي کيږي وَسَيَأْتِيكَ الْفَرْقُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او [د حدّ او قرض په مينځ کي] فرق به انشاء الله ژر ستا [مخ] ته راسي.

اللغات: ﴿بَيِّنَة﴾ ګواهي، شاهدي. ﴿إِسْتَشْهِدُوا﴾ د استفعال له باب څخه د جمع مذکر أمر حاضر صيغه ده: ګواه دروِل. د ګواه تلاش کول. ﴿قَذْف﴾ د ضرب مصدر دی: د زنا تهمت لګول. ﴿مَقَال﴾ قول. خبره. ﴿سَتْر﴾ پرده ساتل. پرده داري (پرده پوشي). ﴿إِسْتَفْسَر﴾ د استفعال ماضي ده: پوښتنه کول (معلومات کول). په يو چا يوه خبره سپينول (څرګندول). ﴿مَزْنِيَة﴾ د ضرب له باب څخه د مؤنث اسم مفعول صيغه ده: هغه ښځه چي زنا ور سره سوې وي (زنا کاره ښځه). ﴿عَسَاه﴾ ممکن

❸ تخريج: رواه الترمذی فی الحدود، رقم الحديث: ١٤٢٤.
❹ تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ٣٦٣٠.

دي، کېدای سي، ﴿عنَاهُ﴾ د ضرب ماضي ده: مرادول، ﴿دَرْء﴾ د فتح مصدر دی: دفع کول، لیري کول (ساقطول)، ﴿يَسْتَقْصِيْ﴾ د استفعال مضارع ده: د مسئلې تر بېخه ځان رسول، پوره پلټنه او تحقيق کول (تفتيش کول)، ﴿مِيْل﴾ سلايي (دا رانجو لرګی)، ﴿مُكْحَلَة﴾ هغه ښيښه چې رانجه پکښې خوندي کيږي چې هغه ته رنجينه (يا سرمه دانی) وايي.

تشريح: په دې عبارت کې صاحب د هدايې د ګواهۍ ورکولو کيفيت او طريقه بيان کړې ده کوم چې له ترجمې څخه ښکاره ده. مختصراً د هغه خلاصه دا ده چې زنا د څلورو ګواهانو په ګواهۍ (بيّنه) سره ثابتيږي، او د څلورو ګواهانو دليل د قرآن کريم هغه دوه آيتونه دي کوم چې په عبارت کې ذکر سول، او هغه حديث مبارک دی چې په هغه کې نبي کريم ﷺ له تهمت لګونکي سړي څخه د "اِئْتِ بِأَرْبَعَة" مطالبه کړې ده. په دې سلسله کې عقلي دليل دا دی چې د څلورو ګواهانو په شرط کېښلو کې د ستر (او پرده ساتلو) رعايت سته، او په زنا او داسې نورو کې ستر غوره او مستحب دی. او د زنا خبر نشر کول او عامول فحش او بې حيائي ده، په حديث کې ذکر سوي دي "مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَة" (يعني څوک چې ديو مسلمان پرده وساتي، ربُ العالمين به په دنيا او آخرت دواړو کې د هغه پرده وساتي).

وإذا شهدوا إلخ: د دې حاصل دا دی چې کله ګواهان د ګواهي ورکولو لپاره د قاضي مخته راسي، نو قاضي دي له هغو څخه پنځه پوښتني وکړي: ① زنا څه ته وايي؟ ② زنا څنګه کيږي؟ ③ زاني په کوم ځای کې دا کار کړی دی؟ ④ کله او په کوم وخت کې يې کړی دی؟ ⑤ د کومي ښځي سره يې کړی دی؟؛ دليل دا دی چې نبي کريم ﷺ له حضرت ماعز اسلمي ﷛ څخه د زنا کيفيت او د مزنيه ښځي په هکله پوښتنه کړې وه، لهذا مونږ ته هم په ښه توګه د زنا پلټنه او تحقيق کول پکار دي. د پلټني او تحقيق کولو عقلي دليل دا دی چې کېدای سي زاني به د ښځي سره په فرج (شرمګاه) کې وطي کړي نه وي، بلکې فقط فرج ته به يې په غور سره کتلي وي، يا مچه به يې اخيستې وي، يا داسې بل حرکت به يې کړی وي چې هغه به زاني په خپل خيال کې زنا ګڼلې وي. يا کېدای سي چې فقط ښځه او سړی به په خونه کې سره يو ځای سوي وي او جماع به يې کړې نه وي لېکن ګواهانو به په خونه کې د دوی په ليدلو سره د زنا تهمت لګولی وي. يا کېدای سي په دارُ الحرب کې زنا واقع سوې وي. يا ډېر مودت مخکې به زنا سوې وي، يا د موطوئه ښځي سره به وطي بالشبهه سوې وي. او واطئ او ګواهانو ته به د دې خبر نه وي، مثلاً هغه ښځه د واطئ د زوی مېنځه وي، او څرنګه چې په دې ټولو

صورتونو كې حدّ نه واجبيږي، نو په دې وجه قاضي او مفتي ته پكار دي چې په ښه توګه د زنا تحقيق او پلټنه وكړي، كېداى سي چې يو داسي صورت را ووځي چې حدّ ختم او دفع سي.

قَاِذا بينوا ذلك إلخ: فرمايي كله چې ګواهان د دې پنځو پوښتنو جواب ور كړي، او دا ووايي چې څرنګه په رنجينــنه (سرمه دانى) كې سلائي ننه كيږي، همدغسي مو د فلانكي ذكر د فلانـۍ ښځي په فرج كې داخل وليدى، نو بيا دي قاضي د ګواهانو د أحوالو او د هغو د ذاتي اخلاق او كردار پلټنه وكړي (او د هغو په باره كې دي پوښتنه وكړي)، كله چې په ظاهر او باطن دواړو كې د هغو عدالت ښكاره سي (چې هغوى عادلان او باوري خلك دي)، نو بيا دي د هغو پر شهادت (ګواهى) فيصله وكړي. او قاضي دي فقط په ظاهري عدالت اكتفاء نه كوي، د دې لپاره چې د حدّ دفع كولو يوه حيله جوړه سي، ځكه كله چې د ظاهر او باطن دواړو پلټنه وسي نو كېداى سي چې په ګواهانو كې يوه داسي كمزوري ثابته سي چې د هغه په وجه د دوى ګواهي د قبلولو وړ پاته نه سي نو په دې توګه به حدّ ختم او دفع سي؛ ځكه چې په حديث كې حتى الإمكان د حدّ د ختمولو او دفع كولو حكم سوى دى، په عبارت كې د إِحْتِيَاطًا لِلدَّرْءِ واضح مطلب همدا دى.

د دې په خلاف له حدودو څخه بغير چې نور كوم حقوق دي كه په هغوى كې قاضي فقط په ظاهري عدالت اكتفاء وكړي، نو هيڅ حرج او پروا نه لري، د ظاهري او باطني عدالت نور وضاحت به په "كتابُ الشهادات" كې بيان سي (انشاء الله تعالىٰ)

قال محمد إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كې ليكلي دي چې د ګواهانو تر شهادت وروسته به قاضي مشهود عليه بندي كړي، او تر څو چې د ګواهانو د أحوالو ښه تحقيق نه وكړي، تر هغه وخته پوري به پر مشهود عليه هيڅ كاروايي نه كوي، ځكه كېداى سي چې ګواهانو پر هغه عيب او تهمت لګولى وي، او د هغو تهمت به د حقيقت سره هيڅ تعلق نه لري، يا كېداى سي چې د هغو شهادت به صحيح وي نو مشهود عليه به وتښتيږي (نو په دې وجهو به يې بندي كوي)، او له نبي كريم ﷺ څخه هم دا ثابته ده چې هغه ﷺ د تهمت پر بناء يو تورن (متهم كس) بندي كړى.

د دې په خلاف د قرضونو مسئله ده، نو د قرض په شخړه او د قرض په مسئله كې به تر هغه وخته پوري مقروض (پوروړى) نه بندي كيږي تر څو چې د ګواهانو عدالت ښكاره نه سي؛ ځكه چې په قرض او دَين كې كفيل اخيستل مشروع دي او د كفيل په ذريعه هغه اداء كېداى سي، لېكن په حدّ كې كفيل اخيستل صحيح نه دى، همدا هغه فرق دى چې صاحبِ د كتاب يې د بيانولو وعده كړې ده، لېكن صاحب د كتاب هغه بيان كړى نه دى، موږ دلته بيان كړى.

د زنا په هکله د اقرار کولو د شمېر بيان

قَالَ: وَالْإِقْرَارُ أَنْ يُقِرَّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بِالزِّنَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي أَرْبَعَةِ مَجَالِسَ مِنْ مَجَالِسِ الْمُقِرِّ فرمايي: او د اقرار صورت دا دی چې عاقل او بالغ سړی څلور واره، په څلورو مجلسونو کې پر خپل ځان د زنا اقرار وکړي كُلَّمَا أَقَرَّ رَدَّهُ الْقَاضِي هر وار چې هغه د زنا اقرار وکړي، نو قاضي دې هغه ردّ کړي فَاشْتِرَاطُ الْبُلُوغِ وَالْعَقْلِ لِأَنَّ قَوْلَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ غَيْرُ مُعْتَبَرٍ أَوْ هُوَ غَيْرُ مُوجِبٍ لِلْحَدِّ نو د بلوغ او عقل شرط ځکه لګول سوی دی چې د کوچني او لېوني قول معتبر نه دی يا د هغه اقرار [د حدّ واجبېدلو] سبب نه دی وَاشْتِرَاطُ الْأَرْبَعِ مَذْهَبُنَا او د څلورو واره [اقرار کولو] شرط زموږ د مذهب مطابق دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ يُكْتَفَىٰ بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً وَاحِدَةً او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په يوه وار اقرار کولو سره اکتفاء کيږي اعْتِبَارًا بِسَائِرِ الْحُقُوقِ پر نورو حقونو باندې په قياس کولو سره وَهٰذَا لِأَنَّهُ مُظْهِرٌ او دا ځکه چې يو وار اقرار کول [د زنا لپاره] څرګندونکی دی [يعني په يوه وار اقرار کولو سره هم زنا ښکاره کيږي] وَتَكْرَارُ الْإِقْرَارِ لَا يُفِيدُ زِيَادَةَ الظُّهُورِ او د اقرار مکرر والي د زياتي څرګندوني فايده نه ورکوي [يعني کله چې يو وار په اقرار سره زنا ښکاره سي، نو بيا په بل وار اقرار کولو سره زنا نوره نه ښکاره کيږي، ځکه چې اقرار خو د ګواهۍ په شير نه دی] بِخِلَافِ زِيَادَةِ الْعَدَدِ فِي الشَّهَادَةِ په خلاف په ګواهۍ د شمېر د زياتوالي وَلَنَا حَدِيثُ مَاعِزٍ [1] او زموږ دليل د حضرت ماعز ﷺ حديث دی فَإِنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَخَّرَ الْإِقَامَةَ إِلَىٰ أَنْ تَمَّ الْإِقْرَارُ مِنْهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي أَرْبَعَةِ مَجَالِسَ ځکه چې نبي کريم ﷺ تر هغه وخت پوري د حدّ جاري کول مؤخّر کړل تر دې چې د حضرت ماعز له طرفه په څلورو مجلسونو کې څلور وار اقرار پوره سو فَلَوْ ظَهَرَ بِمَا دُونَهَا لَمَا أَخَّرَهَا لِثُبُوتِ الْوُجُوبِ نو که له څلورو وارونو څخه په کمه حدّ ښکاره کېدای نو د وجوب تر ثبوت وروسته به نبي ﷺ د حدّ جاري کول نه مؤخّر کولای وَلِأَنَّ الشَّهَادَةَ اخْتَصَّتْ فِيهِ بِزِيَادَةِ الْعَدَدِ او ځکه چې د زنا ګواهي د شمېر په زيادت سره خاص کړی سوې ده فَكَذَا الْإِقْرَارُ نو همداسې به اقرار [هم] د شمېر په زيادت سره خاص کيږي إِعْظَامًا لِأَمْرِ الزِّنَا د دې لپاره د چې د زنا د معاملې اهميت [خلکو ته] څرګند سي وَتَحْقِيقًا لِمَعْنَى السَّتْرِ او چې د ستر [او پرده پوشۍ] معنیٰ ثابته کړی سي وَلَا بُدَّ مِنِ اخْتِلَافِ الْمَجَالِسِ او د اقرار د مجلسونو بدلېدل ضروري دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلِأَنَّ لِاتِّحَادِ الْمَجْلِسِ أَثَرًا فِي جَمْعِ الْمُتَفَرِّقَاتِ او ځکه چې د

---

[1] تخريج: رواه البخاري فی الحدود باب:۲۲ رقم الحديث:۶۸۱۵

متفرقاتو [بېلا بېلو شيانو] په جمع كولو كې د مجلس اتحاد لره [غټ] دخل وي [مثلاً كه يو څوک په يوه مجلس كي څو واره د سجدې آيت تلاوت كړي، نو هغه ټوله ديوه آيت په څير شمارل كيږي، او يوه سجده واجبيږي] فَعِنْدَهُ يَتَحَقَّقُ شُبْهَةُ الِاتِّحَادِ فِي الْإِقْرَارِ نو د مجلس د متحد كېدلو په وخت كي به په قرار كي د اتحاد [يو والي] شبهه پيدا سي وَالْإِقْرَارُ قَائِمٌ بِالْمُقِرِّ او اقرار په اقرار كونكي سره قائم دی فَيُعْتَبَرُ اخْتِلَافُ مَجْلِسِهِ دُونَ مَجْلِسِ الْقَاضِي نو ځكه به د مُقِر د مجلس بدلېدل معتبر وي، نه د قاضي د مجلس وَالِاخْتِلَافُ بِأَنْ يَرُدَّهُ الْقَاضِي كُلَّمَا أَقَرَّ او د مجلس د بدلېدلو صورت دا دي چي كله هر وار مُقِر اقرار وكړي نو قاضي دي د هغه اقرار ردّ كړي فَيَذْهَبَ حَيْثُ لَا يَرَاهُ ثُمَّ يَجِيءُ فَيُقِرَّ هُوَ [او] بيا دي مُقِر دومره ولاړ سي چي قاضي هغه نه ويني [او] بيا دي راسي اقرار دي وكړي هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه همداسي نقل سوي دي لِأَنَّهُ عليه السلام ❷ طَرَدَ مَاعِزًا فِي كُلِّ مَرَّةٍ حَتَّى تَوَارَى بِحِيطَانِ الْمَدِينَةِ ځكه چي نبي كريم ﷺ په هر وار كي حضرت ماعز رټلی وو تر دې چي هغه [هر وار] د مدينې تر دېوالونو نيام سوی [پټ سوی] وو.

اللغات: ﴿مُظْهِر﴾ د افعال اسمِ فاعل دی: ښكاره كونكی (څرګندونكی). ﴿أَخَّرَ﴾ د تفعيل ماضي ده: ځنډول، وروسته كول، مؤخّر كول. ﴿طَرَدَ﴾ د نصر ماضي ده: ليري كول، رټل (غندل)، شړل. ﴿تَوَارَى﴾ د تفاعل ماضي ده: پټېدل، نيامېدل. ﴿حِيطَان﴾ جمع د حَائِطٌ ده: دېوال.

تشريح: په دې عبارت كې د اقرار تفصيل بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چي كه عاقل او بالغ سړی پر خپل ځان څلور واره په جلا جلا مجلس كي د قاضي مخته د زنا اقرار وكړي، نو پر هغه به زنا ثابتيږي او قاضي به پر هغه د حدّ جاري كولو فيصله كوي، او څلور واره اقرار كول زموږ په نېز شرط دی. لېكن د شوافعو په نېز فقط په يوه وار اقرار كولو سره پر مُقِر (اقرار كونكي) زنا ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: په دې سلسله كي د هغه اول دليل قياس دی. يعني څرنګه چي له حدّ څخه بغير په نورو حقوقو كي فقط يو وار اقرار كافي دی، څلور واره شرط نه دي، همداسي به په حدودو كي هم فقط يو وار اقرار كافي وي، د هغه دويم دليل دا دی چي د اقرار مقصد د زنا ښكاره كول دي، او په يوه وار اقرار كولو سره په پوره توګه زنا ثابتيږي او ښكاره كيږي، لهذا بېله وجهي به څلور واره د اقرار كولو شرط نه لګول كيږي، ځكه چي دا خو د تحصيل د حاصل دی كوم چي پر خپل ځای لغو او ممنوع دی.

زموږ دليل: د حضرت ماعز اسلمي رضي الله عنه واقعه ده چي په هغه كي نبي كريم ﷺ تر څلور واره اقرار كولو وروسته پر حضرت ماعز رضي الله عنه حدّ جاري كړی دی. ښكاره خبره ده چي كه يو وار اقرار كول د حدّ د جاري كولو

---

❷ تخريج: قدم تخريجه في الحديث السابق

لپاره كافي واى، نو نبي كريم ﷺ به هيڅكله هغه نه دفع كولاى؛ په دې سلسله كې زموږ عقلي دليل (كوم چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب هم دى) دا دى چې په قرآن او حديث دواړو كې د زنا شهادت د څلورو ګواهانو سره د ګواهۍ سره خاص دى (چې پوره څلور ګواهان به ګواهي وركوي)، او په اقرار سره هم د شهادت په څېر زنا ثابتيږي، نو ځكه به اقرار هم د څلور وارو (أربع مرّات) سره خاص وي، د دې لپاره چې د زنا اهميت او پر زنا باندې واقع كېدونكې سختي او شدّت خلكو ته معلوم سي، او د ستر (او پرده ساتلو) معنىٰ ثابته سي.

څرنګه چې د حضرت ماعز ﷺ په حديث كې د مجلس د اختلاف او تبديلۍ ذكر سوى دى، نو ځكه د مُقر لپاره د هر وار اقرار په وخت كې د مجلس بدلول ضروري دي، او دا تبديلي د مُقر له طرفه معتبره ده، چې د هغه صورت دا دى چې كله مُقر يو وار اقرار وكړي، نو قاضي دې پر هغه هيڅ توجّه نه كوي، بيا دې مُقر له هغه ځاى څخه دومره لېرې ولاړ سي چې د قاضي له ستر ګو څخه پټ سي، بيا دې دويم ځل راسي اقرار دې كړي، او قاضي دې د هغه پر اقرار هيڅ توجّه نه كوي، همداسې دې څلور واره وكړي؛ ځكه چې د حضرت ماعز ﷺ په هكله دا مشهور ده چې نبي ﷺ به هر وار د هغه اقرار ردّ كوى، او هغه به هر وار خپل ځان د مدينې تر دېوالونو نياموى.

د مجلس د اختلاف او بدلون دويم دليل دا دى چې مجلس بيلا بېل (متفرق) شيان جمع كوي، لكه د قي او سجده تلاوت په مسئله كې چې په دې هكله پوره بحث وسو، او س كه چيري د اقرار مجلس متحد سي (او په يوه مجلس كې څلور واره اقرار وسي)، نو د اقرار د متحد كېدلو شبهه به پيدا سي (چې شايد دا به يو اقرار وي، نه څلور واره)، لهذا د څلورو وارو (أربع مرّات) د تحقّق او ثبوت لپاره مجلس بدلول ضروري دي.

د اقرار أحكام

قَالَ: فَإِذَا تَمَّ إِقْرَارُهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ سَأَلَهُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ فرمايي: كله چې اقرار كونكى [مُقر] څلور واره اقرار وكړي نو قاضي دې له هغه څخه د زنا په باره كې پوښتنه وكړي ① چې زنا څه شي ده؟ وَكَيْفَ هُوَ ② او زنا څرنګه كيږي وَأَيْنَ زَنَى ③ او هغه چيري زنا كړې ده وَبِمَنْ زَنَى او د چا سره يې زنا كړې ده فَإِذَا بَيَّنَ ذٰلِكَ كله چې مُقر دا ټولې خبرې بيان كړي [او د دې سوالونو جواب وركړي] لَزِمَهُ الْحَدُّ نو پر هغه حدّ لازم سو لِتَمَامِ الْحُجَّةِ ځكه چې حجّت [او دليل] پوره سو وَمَعْنَى السُّؤَالِ عَنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ بَيَّنَّاهُ فِي الشَّهَادَةِ او د دې شيانو په هكله د سوال كولو مطلب موږ د شهادت په بحث كې بيان كړى وَلَمْ يَذْكُرِ السُّؤَالَ فِيهِ عَنِ الزَّمَانِ او په اقرار كې امام قدوري رَحِمَهُ الله د وخت په هكله د سوال كولو يادونه كړې نه ده وَذَكَرَهُ فِي الشَّهَادَةِ حالانكې د شهادت په بحث كې يې د دې يادونه كړې ده لِأَنَّ تَقَادُمَ الْعَهْدِ يَمْنَعُ الشَّهَادَةَ دُونَ الْإِقْرَارِ ځكه چې د زمانې مخكې والي [او پخوانى

والي] فقط له شهادت څخه مانع دي، نه له اقرار څخه وَقِيلَ: لَوْسَأَلَهُ او ويل سوي دي: كه چيري قاضي له مُقر څخه د وخت پوښتنه [هم] وكړي جَازَ نو جائز دي لِجَوَازِ أَنَّهُ زَنٰى فِي صَبَاهُ ځكه كېداى سي چي هغه به كوچنيوالي كي زنا كړې وي.

اللغات: ﴿بَيَّنَ﴾ د تفعيل ماضي ده: بيانول، ځرګندول، ﴿حُجَّةٌ﴾ دليل، ﴿تَقَادُم﴾ د تفاعُل مصدر دى: ډېر مخكي كېدل، پخوانى كېدل، ﴿صَبَا﴾ د كوچنيوالي وخت، كوچنيتوب (وړوكتوب، ماشومتوب).

تشريح: فرمايي چي كله مُقر څلور واره اقرار وكړي، نو قاضي دي له هغه څخه د ګواهانو په څېر د زنا په هكله، همدارنګه د زنا د كيفيت او د زنا د مقام او داسي نورو په هكله پوښتنه وكړي، او كله چي مُقر د هري پوښتني جواب وركړي، نو بيا دي قاضي پر هغه حدّ جاري كړي، لېكن قاضي به د مُقر څخه د زنا د وخت پوښتنه نه كوي، ځكه كه څه هم د زنا وخت لېري كېدل او د زنا وخت ډېر تېرېدل د شهادت له قبوليت څخه مانع دي، لېكن د اقرار له قبوليت څخه مانع نه دي (يعني كه څه هم ډېر وخت تېر سوى وي، بيا به هم د زنا اقرار قبلېږي)، ځكه چي انسان پر خپل ځان په اقرار كولو متهم كېداى نه سي، او د هغه اقرار د هغه په حق كي حجّت وي، بيا هم كه قاضي له هغه څخه په دې هكله پوښتنه وكړي، نو څه حرج نه لري، ځكه كېداى سي چي هغه به په كوچنيوالي كي زنا كړې وي، او د كوچنيوالي پر زنا حدّ نه جاري كيږي، نو ځكه د واقعې او معاملې د صفا كولو لپاره په دې باره كي پوښتنه كول غوره دي.

كه اقرار كونكى له خپل اقرار څخه رجوع وكړي؟

فَإِنْ رَجَعَ الْمُقِرُّ عَنْ إِقْرَارِهِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ او كه چيري اقرار كونكى تر حدّ جاري كېدلو مخكي له خپل اقرار څخه رجوع وكړي أَوْفِي وَسَطِهِ يا د حدّ جاري كېدلو په دوران كي [له خپل اقرار څخه رجوع وكړي] قُبِلَ رُجُوعُهُ وَخُلِّيَ سَبِيلُهُ نو د هغه رجوع به قبلېږي او د هغه لاره به پرېښوول كيږي [يعني له هغه څخه به حدّ ساقطيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ أَبِي لَيْلَى: يُقِيمُ عَلَيْهِ الْحَدَّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي (او همدا د ابن أبي ليلىٰ قول دى): چي پر هغه به [بيا هم] حدّ جاري كيږي لِأَنَّهُ وَجَبَ الْحَدُّ بِإِقْرَارِهِ ځكه چي د هغه په اقرار سره حدّ واجب سو فَلَا يَبْطُلُ بِرُجُوعِهِ وَإِنْكَارِهِ نو ځكه به [اوس] د هغه په رجوع او انكار كولو سره حدّ نه باطليږي كَمَا إِذَا وَجَبَ بِالشَّهَادَةِ لكه په هغه صورت كي [چي حدّ نه باطليږي] كله چي حدّ په ګواهۍ سره واجب سي وَصَارَ كَالْقِصَاصِ وَحَدِّ الْقَذْفِ او دا د قصاص او حدِ قذف په څېر سو وَلَنَا: أَنَّ الرُّجُوعَ خَبَرٌ مُحْتَمِلٌ لِلصِّدْقِ او زموږ دليل دا دى: چي رجوع كول يو داسي خبر دى چي په هغه كي د رښتيا والي احتمال سته كَالْإِقْرَارِ لكه په اقرار كي [چي د رښتياوالي احتمال غالب دى] وَلَيْسَ أَحَدٌ يُكَذِّبُهُ فِيهِ او

په رجوع کې بل څوک داسې نسته چې د هغه تکذیب وکړي فَيَتَحَقَّقُ الشُّبْهَةُ فِي الْإِقْرَارِ نو په اقرار کې به شبهه ثابته سي او په شبهې سره حدود ساقطيږي بِخِلَافِ مَا فِيهِ حَقُّ الْعَبْدِ په خلاف د هغه شي چې په هغه کې د بنده حق سته ايعني چې هغه د بنده حق دی] وَهُوَ الْقِصَاصُ وَحَدُّ الْقَذْفِ او هغه قصاص او حدّ قذف دی لِوُجُودِ مَنْ يُكَذِّبُهُ ځکه چې [په دوی کې] داسې څوک سته چې د هغه تکذيب وکړي وَلَا كَذَٰلِكَ مَا هُوَ خَالِصُ حَقِّ الشَّرْعِ او کوم چې خالص د شريعت حق دی [يعني حدّ] هغه داسې نه دی وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ او د امام لپاره مستحب دي چې اقرار کونکي ته د رجوع تلقين ورکړي فَيَقُولَ لَهُ: لَعَلَّكَ لَمَسْتَ أَوْ قَبَّلْتَ نو امام دي هغه ته [داسې] ووايي: کېدای سي چې تا به [ښځه] مسه کړې وي يا مچ کړې به دي وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِمَاعِزٍ: لَعَلَّكَ لَمَسْتَهَا أَوْ قَبَّلْتَهَا[1] ځکه چې نبي کريم ﷺ حضرت ماعز رضي الله عنه ته فرمايلي وو: چې کېدای سي تا به هغه مسه کړې يا مچ کړې وي قَالَ فِي الْأَصْلِ: وَيَنْبَغِي أَنْ يَقُولَ لَهُ الْإِمَامُ: لَعَلَّكَ تَزَوَّجْتَهَا أَوْ وَطِئْتَهَا بِشُبْهَةٍ او په مبسوط کې امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: او مناسب دي چې امام هغه ته دا [هم] ووايي: چې کېدای سي تا د هغې سره نکاح کړې وي يا [کېدای سي] تا په شبهه کې د هغې سره وطي کړې وي وَهَذَا قَرِيبٌ مِنَ الْأَوَّلِ فِي الْمَعْنَى او [د امام محمد رَحِمَهُ الله] دا قول د معنیٰ په اعتبار سره اول قول ته نژدې دی.

اللغات: ﴿إِقَامَة﴾ د افعال مصدر دی: قائمول، درول، جاري کول. ﴿وَسَط﴾ مينځ، دوران، جريان. ﴿خَلَّى﴾ د تفعيل ماضي ده: ايله کول، پرېښوول. ﴿قَذْف﴾ د زنا تهمت لګول (پر ښځې د زنا تور لګول). ﴿يُكَذِّبُه﴾ د تفعيل مضارع ده: تکذيب کول، درواغجن ثابتول. ﴿يُلَقِّنَ﴾ د تفعيل مضارع ده: تلقين ورکول، پوهول، په ټينګه ورته ويل. (مطلب دا چې قاضي دي هغه ته د رجوع لاره هواره کړي او هغه دي رجوع ته اړ کړي). ﴿قَبَّلْتَ﴾ د تفعيل ماضي ده: مچول، مچه اخيستل.

تشريح: مسئله: دا ده که مُقر تر حدّ جاري کېدلو مخکې يا د حدّ جاري کېدلو په دوران کې له خپل اقرار څخه رجوع وکړي، نو زموږ په نېز د هغه رجوع مقبوله او معتبره ده او له هغه څخه به حدّ ساقطيږي. لېکن د امام شافعي او ابن أبی ليلیٰ په نېز د هغه رجوع معتبره نه ده او له هغه څخه به حدّ نه ساقطيږي.

دليل: د امام شافعي او ابن أبی ليلیٰ دليل دادی چې کله د مُقر په يوه وار اقرار کولو سره حد واجب سو، نو بيا به د هغه په انکار او رجوع سره حدّ نه باطليږي، لکه کله چې د ګواهانو په شهادت سره زنا او حدّ ثابت سي، نو بيا

[1] تخريج: رواه الحاکم فی المستدرک، رقم الحديث: ۸۰۷۷.

د هغه په انکار سره دا حدّ نه ساقطیږي، او لکه څرنګه چي د مُقر په اقرار سره "حدّ قذف" او "حدّ قصاص" ثابت سي، نو بیا د هغه په انکار سره نه ساقطیږي، همداسي به "حدّ زنا" هم وي چي کله هغه یو وار د مُقر په اقرار سره ثابت سي، نو بیا به نه ساقطیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي څرنګه په اقرار کي د صدق (ربنتیاوالي) اړخ راجح او غالب وي، همداسي په رجوع او انکار کي هم د صدق اړخ غالب وي؛ ځکه چي په رجوع کي هم راجع یک تنها وي، او بل څوک د هغه تکذیب کونکی نه وي، نو کله چي هغه تر اقرار وروسته رجوع او انکار وکړي، نو په یوه معامله کي دا قرار او انکار د جمع کېدلو په وجه په معامله کي شبهه پیدا سي، او حدود په شبهي سره ساقطیږي. نو په همدې وجه موږ د مُقر په رجوع کولو سره د حدّ ساقطېدلو فیصله کړې ده او د هغه رجوع ته مو اعتبار او قبولیت ورکړی دی. او د "حدّ قذف او حدّ قصاص" مسئلې د "حدّ زنا" پر مسئله قیاسول صحیح نه دي، ځکه چي حدّ قذف او حدّ قصاص د بندګانو حق دی، او د هغو په انکار کي مُدّعي مکذّب او درواغجن وي، لېکن حدّ زنا د الله تعالیٰ حق دی، په دې کي نه څوک مُدّعي سته او نه مُکذّب، نو په دې وجه به حدّ قذف او حَدّ قصاص په انکار او رجوع سره نه باطلیږي، لېکن حدّ زنا به په انکار او رجوع سره باطلیږي.

ويستحبّ للإمام إلخ: فرمايي: کله چي مُقر د امام یا د قاضي او مفتي مخته د زنا اقرار وکړي، نو هغو ته پکار دي چي مُقر ته د رجوع تلقین ورکړي او د رجوع لاره ورته هواره کړي. او په دې توګه دي څو پوښتني ځني وکړي چي "کېدای سي تا به هغې ته صرف لاس وروړی وي، یا صرف هغه به دي مچ کړې وي او داسي نور". د دې لپاره چي مُقر "هو!" وکړي، او حدّ ختم او ساقط سي، ځکه چي د حضرت ماعز ﷛ سره نبي کريم ﷺ همداسي طریقه اختیار کړې وه.

امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي لیکلي دي چي قاضي ته پکار دي چي مُقر ته داسي هم ووایي چي "کېدای سي هغه ستا ښځه (زوجه) وي، یا ته به د هغې سره وطي بالشبهه کړې وي". ځکه که چیري مُقر په دې صورت کي "هو!" ووایي، نو بیا به هم پر هغه حدّ نه جاري کیږي. او دا قول د معنیٰ په اعتبار سره اول قول ته یعني "لَعَلَّكَ لَمَسْتَهَا أو قَبَّلْتَهَا" ته زیات نژدې دی، ځکه چي په دې قول کي هم د اول قول په څیر د رجوع تلقین او تأکید سته.



فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ الْحَدِّ

(دا) فصل د حدّ د کیفیت (او طریقې په بیان) کې دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د "حدّ" د واجبېدلو بیان وکړی، او اوس د "حدّ" نافذولو بیان کوي، او ښکاره خبره ده چې وجوب له نفاذ څخه مخکې وي، نو په دې وجه صاحب د هدايې د "حدّ" د وجوب مسئلې مخکې بیان کړې دي.

د رجم کولو (سنګسارولو) طریقه

وَإِذَا وَجَبَ الْحَدُّ وَكَانَ الزَّانِي مُحْصَنًا او کله چې حد واجب سي او زاني مُحصن [واده والا] وي رَجَمَهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى يَمُوتَ نو قاضي دې هغه په ډبرو سره رجم کړي تر دې چې هغه مړ سي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَام رَجَمَ[1] مَاعِزًا وَقَدْ أُحْصِنَ ځکه چې نبي کریم ﷺ حضرت ماعز رضي الله عنه په داسې حالت کې رجم کړی وو چې هغه واده والا وو وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ الْمَعْرُوفِ[2]: وَزِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ او په مشهور حدیث کې یې فرمایلي دي: او تر محصن کېدلو وروسته زنا [رجم واجبوي] وَعَلَى هٰذَا إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ او پر همدې د صحابه وو اجماع ده قَالَ: وَيُخْرِجُهُ إِلَى أَرْضٍ فَضَاءٍ فرمایي: چې إمام به زاني د پراخې ځمکې [میدان] وطرف ته باسي وَيَبْتَدِئُ الشُّهُودُ بِرَجْمِهِ ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ او د هغه په رجم [سنګسارولو] سره به ګواهان شروع کوي بیا إمام [او] بیا خلک كَذَا رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ همداسې له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي وَلِأَنَّ الشَّاهِدَ قَدْ يَتَجَاسَرُ عَلَى الْأَدَاءِ او ځکه چې کله نا کله ګواهان [د دروغجنې ګواهۍ] پر اداء جرأت [او بې باکي] وکړي کولو ثُمَّ يَسْتَعْظِمُ الْمُبَاشَرَةَ فَيَرْجِعُ بیا په خپل لاس رجم کول غټ [او خطرناک] وګڼي او رجوع وکړي [یعني کله چې اول ګواهانو ته د رجم شروع کولو حکم وسي، نو کله نا کله د دوی لپاره دا خبره غټه او درنه ښکاره سي چې په خپله د رجم کار وکړي او په خپلو لاسو مجرم (مشهود علیه) ووژني، نو کېدای سي چې رجوع وکړي، او د ګواه په رجوع کولو سره حدّ

---

[1] تخريج: قدمه تخريجه.

[2] تخريج: رواه الترمذی فی الفتن باب:١، رقم الحديث:٢١٥٨.

ساقطیږي، او په حدیث کي ذکر سوي دي چي څومره ستاسو په وس کي وي، تاسي حدّ ساقطوئ!. او د ګواهانو د رجم په شروع کولو کي د حدّ ساقطېدلو لپاره څه حیله او چل جوړېدای سي، نو ځکه به په دوی شروع کیږي [فَكَانَ فِي بِدَايَتِهِ احْتِيَالٌ لِلدَّرْءِ نو د ګواهانو د رجم په شروع کولو کي به د حدّ دفع کولو [او ساقطولو] ته حیله کېدای سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : لَا تُشْتَرَطُ بِدَايَتِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د ګواهانو شروع کول شرط نه دي اعْتِبَارًا بِالْجَلْدِ د دُرې پر وهلو باندي په قیاس کولو سره قُلْنَا: كُلُّ أَحَدٍ لَا يُحْسِنُ الْجَلْدَ موږ وایو: چي هر کس ښه دُره نه سي استعمالولای [یعني هر کس په ښه توګه په دُره سره وهل نه سي کولای] فَرُبَّمَا يَقَعُ مُهْلِكًا نو کېدای سي چي د دُرې وهل وژونکي ثابت سي وَالْإِهْلَاكُ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ حالانکي [د دُرې په حدّ کي د مجرم] وژل واجب نه دي وَلَا كَذٰلِكَ الرَّجْمُ او رجم داسي نه دی لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ ځکه چي رجم خو هلاکول [او وژل] دي.

اللغات: ﴿رَجَمَ﴾ د نصر ماضي ده: رجم کول، سنګسارول، مجرم په ډبرو وژل. ﴿مُحْصِن﴾ د افعال اسم فاعل دی، د دې لفظ خپله معنیٰ ده: پاک لمنی سړی، مراد ځني هغه کس دی چي واده یې کړی وي او ښځه لري (یعني واده والا سړی)، همدارنګه هغه به عاقل، بالغ، آزاد او مسلمان وي. په مُحصن سړي کي دا ټوله شیان شرط دی چي وروسته به د دې بحث وسي، ﴿أَرْض فَضَاء﴾ خلاصه ځمکه. پراخه ځمکه (پراخ ډګر)، میدان، ﴿يَتَجَاسَرُ﴾ د تفاعل مضارع ده: جرأت کول. زړور تیار کول. بې پروایي او بې باکي کول. ﴿يَسْتَعْظِم﴾ د استفعال مضارع ده: غټ ګڼل (یو کار پر ځان درون ګڼل). پریو شي د غټ خیال کول. ﴿جَلْد﴾ په دُره سره وهل. ﴿إِتْلَاف﴾ ضایع کول (بربادول). ختمول. هلاکول (وژل).

تشریح: مسئله: دا ده چي کله په ګواهي یا اقرار سره پر زاني باندي زنا ثابته سي. او قاضي د هغه په حق کي د رجم (سنګسارولو) فیصله وکړي او زاني مُحصن هم وي یعني واده والا وي. نو قاضي دي هغه په ډبرو سره رجم وکړي، او تر هغه وخته پوري دي رجم جاري وساتي تر څو چي هغه مړ سي: ځکه چي په همدې حالت کي نبي کریم ﷺ حضرت ماعز رجم کړی وو. او په یو بل حدیث کي (کوم چي له حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روایت سوی دی) هم دغه حکم سوی دی چي که زاني مُحصن وي، نو هغه به رجم کیږي، په ابو داؤد شریف کي هغه حدیث داسي ذکر دی "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: رَجُلٌ زَنَىٰ بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ...إلخ"، یعني په درې وجهو سره د

مسلمان وينه بيول روا دي، چې له هغو څخه يوه وجه د مُحصن سړي زنا كول دي. نو هغه به رجم كيږي. (بنايه ج: ٦، ص: ٢٠٥)، او د مُحصن سړي په رجم كولو باندې د صحابه وو إجماع هم سوې ده.

قال ويُخرجه إلخ: فرمايي چې كله إمام د زاني د رجم كولو اراده وكړي، نو إمام دې هغه د ښار او آبادۍ څخه دباندې پراخ ميدان ته وباسي، او په ګواهانو سره دې د رجم شروع وكړي. بيا دې إمام په خپله هغه رجم كړي، او تر دې وروسته دې په خلكو سره هغه رجم كړي. همدا ترتيب له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوى دى، د دې عقلي دليل دا دى چې كله نا كله ګواهان د دروا غو په ګواهۍ سره پر يو چا زنا او حدّ واجب كړي، ليكن كله چې د رجم او سنګسارولو منظر ووينې او په دوى د رجم شروع وسي نو دوى وبيريږي او له ګواهۍ څخه رجوع وكړي، او حكم همدا دى چې حتى الإمكان به حدّ دفع كيږي، نو ځكه د حدّ دفع كولو لپاره د حيلې په توګه له ګواهانو څخه د رجم شروع كول زموږ په نيز شرط دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز له ګواهانو څخه شروع كول شرط نه دى، لكه كله چې غير مُحصن (نا واده والا سړى) زنا وكړي او په ګواهۍ سره پر هغه حدّ واجب سي، نو په هغه كې هم له ګواهانو څخه د دُرې وهلو (جَلد) شروع كول شرط نه دي، همداسې به په رجم كې هم له ګواهانو څخه شروع كول شرط نه وي. ګواكي امام شافعي رَحِمَهُ الله رجم پر جَلد باندې قياس كړى دى. ليكن زموږ له طرفه هغه ته جواب دا دى چې هر څوک په ښه توګه دُره نه سي استعمالولاى (بلكې دا خو د جلاد او دُره باز كار دى)، نو كېداى سي چې ګواه نا ولده وي او مجرمْ ته به زياتې او سختې دُرې وركړي چې د هغه په وجه به مُجرم مړ سي، حالانكې په دُرو وهلو (جَلد) كې د مجرم وژل مقصود نه دي، د دې په خلاف په رجم كې د زاني وژل مقصود دي، نو كه د رجم په صورت كې ګواه ناولده او بې تجربې وي، او په ډېر زور سره پر مجرم د ډبرو باران وكړي، نو هم څه پروا نه لري، لهذا پر جَلد باندې رجم قياسول صحيح نه دي، ځكه چې په دواړو كې فرق سته.

له رجم څخه د ګواهانو د انكار كولو حكم

> قَالَ: **فَإِنْ اِمْتَنَعَ الشُّهُودُ مِنَ الاِبْتِدَاءِ** فرمايي: كه چيرې ګواهان [د رجم] له شروع څخه منع سي **سَقَطَ الْحَدُّ** نو حدّ ساقطيږي لِأَنَّهُ دَلَالَةُ الرُّجُوعِ ځكه چې "منع كېدل" د رجوع كولو دليل دى وَكَذَا إِذَا مَاتُوا أَوْ غَابُوا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او همدارنګه په ظاهر روايت كې [حد ساقطيږي] كله چې ګواهان مړه سي يا غائب سي لِفَوَاتِ الشَّرْطِ ځكه چې شرط فوت سو **وَإِنْ كَانَ مُقِرًّا اِبْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ** او كه زاني [په خپله] اقرار كونكى وي نو د رجم شروع دې امام وكړي [او] بيا نور خلك كَذَا رُوِيَ عَنْ

عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همداسي له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي وَرَمَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] الْغَامِدِيَّةَ بِحَصَاةٍ مِثْلِ الْحِمَّصَةِ او غامديه ښځه تر ټولو مخکي نبي كريم ﷺ د نخود [چڼي] په څير په كوچني كاڼي سره وويشتله وَكَانَتْ قَدْ اعْتَرَفَتْ بِالزِّنَا او هغې د زنا اقرار كړى وو وَيُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ او رجم كړى سوي كس [مرجوم] ته به غسل وركول كيږي او پر هغه به د جنازې لمونځ كيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي مَاعِزٍ: اصْنَعُوا [2] بِهِ كَمَا تَصْنَعُونَ بِمَوْتَاكُمْ ځكه چي نبي كريم ﷺ د حضرت ماعز اسلمي رضي الله عنه په هكله وفرمايل: تاسي د ده سره هغه معامله [او چلند] وكړئ! كوم چي يې تاسي د خپلو مړو سره كوى وَلِأَنَّهُ قُتِلَ بِحَقٍّ او ځكه چي مرجوم د يو حق په وجه سره وژول سوى دى فَلَا يَسْقُطُ الْغُسْلُ نو ځكه به [له هغه څخه] غسل نه ساقطيږي كَالْمَقْتُولِ قِصَاصًا لكه په قصاص كي چي دوژول سوي كس [څخه غسل نه ساقطيږي] وَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [3] عَلَى الْغَامِدِيَّةِ بَعْدَمَا رُجِمَتْ او د غامديه تر رجم كېدلو وروسته نبي ﷺ پر هغې د جنازې لمونځ وكړى.

اللغات: ﴿إِمْتَنَعَ﴾ دافتعال ماضي ده: منع كېدل، راګرځېدل. ﴿حَصَاةٌ﴾ شګه، كوچنى ډبره (كوچنى كاڼى). ﴿حِمَّصَة﴾ يوه دانه نخود، چڼه (ډيرو ته حِمَّص) وايي.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه چيري ګواهان انكار وكړي چي موږ په رجم شروع نه كوو. نو له مشهود عليه څخه حد ساقطيږي، ځكه چي انكار كول د رجوع علامه (نښه) ده. او په ظاهر روايت كي د ګواهانو د مرګ او د هغو د غائبېدلو هم دغه حكم دى.

كه چيري پر زاني په خپل اقرار سره حدّ واجب سوى وي نو په دې وخت كي به إمام په رجم شروع كوي. بيا به خلګ رجم شروع كوي؛ ځكه كله چي غامديه نومي ښځي اقرار وكړى، نو تر ټولو مخكي نبي كريم ﷺ په رجم شروع وكړه او هغه يې په كوچني ډبره وويشتله، او له حضرت علي رضي الله عنه څخه هم دغه ترتيب نقل سوى دى. او سنګسار كړى سوى سړي او ښځي (مرجوم او مرجومه) ته به هم د عامو مړو په څير غسل او كفن وركول كيږي، او پر دوى به د جنازې لمونځ كيږي. پاته عبارت واضح دى.

[1] تخريج: رواه ابو داؤد في الحدود، رقم الحديث: ۴۴۴۳.
[2] تخريج: رواه ابن أبي شيبة في المصنف، رقم الحديث: ١١١۴.
[3] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۴۴٠. والنسائي في المجتبى، رقم الحديث: ١٨۴٩.

ساقطيږي، او په حديث کي ذکر سوي دي چي ځومره ستاسو په وس کي وي، تاسي حدّ ساقطوئ!. او د ګواهانو د رجم په شروع کولو کي د حدّ ساقطېدلو لپاره څه حيله او چل جوړېداى سي، نو ځکه به په دوى شروع کيږي ا فَكَانَ فِي بِدَايَتِهِ احْتِيَالٌ لِلدَّرْءِ نو د ګواهانو د رجم په شروع کولو کي به د حدّ دفع کولو [او ساقطولو] ته حيله کېداى سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تُشْتَرَطُ بِدَايَتِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ګواهانو شروع کول شرط نه دي اعْتِبَارًا بِالْجَلْدِ د دُرې پر وهلو باندي په قياس کولو سره قُلْنَا: كُلُّ أَحَدٍ لَا يُحْسِنُ الْجَلْدَ موږ وايو: چي هر کس ښه دُره نه سي استعمالولاى [يعني هر کس په ښه توګه په دُره سره وهل نه سي کولاى] فَرُبَّمَا يَقَعُ مُهْلِكًا نو کېداى سي چي د دُرې وهل وژونکي ثابت سي وَالْإِهْلَاكُ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ حالانکي [د دُرې په حدّ کي د مجرم] وژل واجب نه دي وَلَا كَذٰلِكَ الرَّجْمُ او رجم داسي نه دى لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ ځکه چي رجم خو هلاکول [او وژل] دي.

اللغات: ﴿رَجَمَ﴾ د نصر ماضي ده: رجم کول، سنګسارول، مجرم په ډبرو وژل. ﴿مُحْصِن﴾ د افعال اسم فاعل دى، د دې لفظ خپله معنىٰ ده: پاک لمنى سړى، مراد ځني هغه کس دى چي واده يې کړى وي او ښځه لري (يعني واده والا سړى)، همدارنګه هغه به عاقل، بالغ، آزاد او مسلمان وي. په مُحصن سړي کي دا ټوله شپان شرط دى چي وروسته به د دې بحث وسي، ﴿أَرْض فَضَاء﴾ خلاصه ځمکه، پراخه ځمکه (پراخ ډګر)، ميدان. ﴿يَتَجَاسَرُ﴾ د تفاعل مضارع ده: جرأت کول، زړور تيار کول، بې پروايي او بې باکي کول. ﴿يَسْتَعْظِم﴾ د استفعال مضارع ده: غټ ګڼل (يو کار پر ځان درون ګڼل). پريو شي د غټ خيال کول. ﴿جَلْد﴾ په دُره سره وهل. ﴿إِتْلَاف﴾ ضايع کول (بربادول)، ختمول، هلاکول (وژل).

تشريح: **مسئله**: دا ده چي کله په ګواهي يا اقرار سره پر زاني باندي زنا ثابته سي، او قاضي د هغه په حق کي د رجم (سنګسارولو) فيصله وکړي او زاني مُحصن هم وي يعني واده والا وي، نو قاضي دي هغه په ډبرو سره رجم وکړي، او تر هغه وخته پوري دي رجم جاري وساتي تر څو چي هغه مړ سي: ځکه چي په همدې حالت کي نبي کريم ﷺ حضرت ماعز رجم کړى وو. او په يو بل حديث کي (کوم چي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت سوى دى) هم دغه حکم سوى دى چي که زاني مُحصن وي، نو هغه به رجم کيږي، په ابو داؤد شريف کي هغه حديث داسي ذکر دى "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدٰى ثَلَاثٍ: رَجُلٌ زَنٰى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ...إلخ"، يعني په درې وجهو سره د

مسلمان وژنه بیول روا دي، چي له هغو څخه یوه وجه د مُحصن سړي زنا کول دي. نو هغه به رجم کيږي. (بنايه ج: ۶، ص: ۲۰۵)، او د مُحصن سړي په رجم کولو باندي د صحابه وو إجماع هم سوې ده.

قال ويُخرجه إلخ: فرمايي چي کله إمام د زاني د رجم کولو اراده وکړي، نو إمام دي هغه د ښار او آبادۍ څخه دباندي پراخ ميدان ته وباسي، او په ګواهانو سره دي د رجم شروع وکړي. بيا دي إمام په خپله هغه رجم کړي، او تر دې وروسته دي په خلکو سره هغه رجم کړي. همدا ترتيب له حضرت علي ﷛ څخه نقل سوی دی. د دې عقلي دليل دا دی چي کله نا کله ګواهان د درواغو په ګواهۍ سره پر يو چا زنا او حدّ واجب کړي، لېکن کله چي د رجم او سنګسارولو منظر ووينې او په دوی د رجم شروع وسي نو دوی وبيريږي او له ګواهۍ څخه رجوع وکړي. او حکم همدا دی چي حتى الإمکان به حدّ دفع کيږي. نو ځکه د حدّ دفع کولو لپاره د حيلې په توګه له ګواهانو څخه د رجم شروع کول زموږ په نېز شرط دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز له ګواهانو څخه شروع کول شرط نه دی. لکه کله چي غيرِ مُحصن (نا واده والا سړی) زنا وکړي او په ګواهۍ سره پر هغه حدّ واجب سي، نو په هغه کي هم له ګواهانو څخه د دُرې وهلو (جَلد) شروع کول شرط نه دي. همداسي به په رجم کي هم له ګواهانو څخه شروع کول شرط نه وي. ګواکي امام شافعي رَحِمَهُ الله رجم پر جَلد باندي قياس کړی دی. لېکن زموږ له طرفه هغه ته جواب دا دی چي هر څوک په ښه توګه دُره نه سي استعمالولای (بلکي دا خو د جلاد او دُره باز کار دی)، نو کېدای سي چي ګواه نا ولده وي او مجرم ته به زياتي او سختي دُرې ورکړي چي د هغه په وجه به مُجرم مړ سي، حالانکي په دُرو وهلو (جَلد) کي د مجرم وژل مقصود نه دي. د دې په خلاف په رجم کي د زاني وژل مقصود دي. نو که د رجم په صورت کي ګواه ناولده او بې تجربې وي، او په ډېر زور سره پر مجرم د ډبرو باران وکړي، نو هم څه پروا نه لري. لهذا پر جَلد باندي رجم قياسول صحيح نه دي، ځکه چي په دواړو کي فرق سته.

له رجم څخه د ګواهانو د انکار کولو حکم

قَالَ: **فَإِنْ اِمْتَنَعَ الشُّهُوْدُ مِنَ الْاِبْتِدَاءِ** فرمايي: که چيري ګواهان [د رجم] له شروع څخه منع سي **سَقَطَ الْحَدُّ** نو حدّ ساقطيږي **لِأَنَّهُ دَلَالَةُ الرُّجُوْعِ** ځکه چي "منع کېدل" د رجوع کولو دليل دی **وَكَذَا إِذَا مَاتُوا أَوْ غَابُوا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ** او همدارنګه په ظاهر روايت کي [حد ساقطيږي] کله چي ګواهان مړه سي يا غائب سي **لِفَوَاتِ الشَّرْطِ** ځکه چي شرط فوت سو **وَإِنْ كَانَ مُقِرًّا اِبْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ** او که زاني [په خپله] اقرار کونکی وي نو د رجم شروع دي امام وکړي [او] بيا نور خلک **كَذَا رُوِيَ عَنْ**

الْغَامِدِيَّةَ [1] وَرَمَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همداسي له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي بِحَصَاةٍ مِثْلِ الْحِمَّصَةِ او غامديه ښځه تر ټولو مخكي نبي كريم ﷺ د نخود [چڼې] په څير په كوچني كاڼي سره وويشتله وَكَانَتْ قَدْ اعْتَرَفَتْ بِالزِّنَا او هغې د زنا اقرار كړى وو وَيُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ او رجم كړى سوي كس [مرجوم] ته به غسل وركول كيږي او پر هغه به د جنازې لمونځ كيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي مَاعِزٍ: اصْنَعُوا بِهِ كَمَا تَصْنَعُونَ بِمَوْتَاكُمْ [2] ځكه چي نبي كريم ﷺ د حضرت ماعز اسلمي رضي الله عنه په هكله وفرمايل: تاسي د ده سره هغه معامله [او چلند] وكړئ! كوم چي يې تاسي د خپلو مړو سره كوى وَلِأَنَّهُ قُتِلَ بِحَقٍّ او ځكه چي مرجوم د يو حق په وجه سره وژول سوى دى فَلَا يَسْقُطُ الْغُسْلُ نو ځكه به [له هغه څخه] غسل نه ساقطيږي كَالْمَقْتُولِ قِصَاصًا لكه په قصاص كي چي د وژول سوي كس [څخه غسل نه ساقطيږي] وَصَلَّى النَّبِيُّ ﷺ [3] عَلَى الْغَامِدِيَّةِ بَعْدَمَا رُجِمَتْ او د غامديه تر رجم كېدلو وروسته نبي ﷺ پر هغې د جنازې لمونځ وكړى.

اللغات: ﴿اِمْتَنَعَ﴾ دافتعال ماضي ده: منع كېدل، راګرځېدل. ﴿حَصَاةٌ﴾ شګه، كوچنى ډبره (كوچنى كاڼى)، ﴿حِمَّصَةٌ﴾ يوه دانه نخود، چڼه (ډيرو ته حِمَّص) وايي.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه چيري ګواهان انكار وكړي چي موږ په رجم شروع نه كوو، نو له مشهود عليه څخه حد ساقطيږي، ځكه چي انكار كول د رجوع علامه (نښه) ده، او په ظاهر روايت كي د ګواهانو د مرګ او د هغو د غائبېدلو هم دغه حكم دى.

كه چيري پر زاني په خپل اقرار سره حدّ واجب سوى وي نو په دې وخت كي به امام په رجم شروع كوي، بيا به خلګ رجم شروع كوي؛ ځكه كله چي غامديه نومي ښځي اقرار وكړى، نو تر ټولو مخكي نبي كريم ﷺ په رجم شروع وكړه او هغه يې په كوچني ډبره وويشتله، او له حضرت علي رضي الله عنه څخه هم دغه ترتيب نقل سوى دى. او سنګسار كړى سوى سړي او ښځي (مرجوم او مرجومه) ته به هم د عامو مړو په څير غسل او كفن وركول كيږي، او پر دوى به د جنازې لمونځ كيږي. پاته عبارت واضح دى.

---

[1] تخريج: رواه ابو داؤد في الحدود، رقم الحديث:۴۴۴۳.
[2] تخريج: رواه ابن أبي شيبة في المصنف، رقم الحديث:۱۱۱۴۰.
[3] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث:۴۴۴۰. والنسائي في المجتبى، رقم الحديث:۱۸۴۹.

د غیرِ مُحصن زاني د حدّ طريقه

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُحْصَنًا وَكَانَ حُرًّا او كه چيري زاني واده والا نه وي او آزاد وي فَحَدُّهُ مِائَةُ جَلْدَةٍ نو د هغه حدّ [سزا] سل دُرې دي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ [النور: ۲] ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: په زناكاره سړي او ښځه كي هريو تاسي سل [۱۰۰] دُرې ووهئ! إِلَّا أَنَّهُ انْتَسَخَ فِي حَقِّ الْمُحْصَنِ فَبَقِيَ فِي حَقِّ غَيْرِهِ مَعْمُولًا بِهِ مګر د مُحصن په حق كي دا حكم منسوخ سو نو د غيرِ محصن په حق كي پر آيت عمل باقي پاته سو يَأْمُرُ الْإِمَامُ بِضَرْبِهِ بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ ضَرْبًا مُتَوَسِّطًا [او] امام به [دُره باز ته] په داسي دُره سره د متوسّطه وهلو حكم كوي چي هغه غوټه نه لري لِأَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ❶ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ الْحَدَّ كَسَرَ ثَمَرَتَهُ ځكه حضرت علي رضي الله عنه چي كله د حدّ جاري كولو اراده وكړه نو د خپلي دُرې غوټه يې ماته كړه وَالْمُتَوَسِّطُ بَيْنَ الْمُبَرِّحِ وَغَيْرِ الْمُؤْلِمِ او متوسط وهل دا دي چي د سختو او د نرمو وهلو په مينځ كي وي لِإِفْضَاءِ الْأَوَّلِ إِلَى الْهَلَاكِ وَخُلُوِّ الثَّانِي عَنِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الْانْزِجَارُ ځكه چي اول د هلاكېدلو [مړ كېدلو] سبب جوړېږي او دويم له مقصود څخه خالي دي چي هغه [د مجرم] منع كېدل دي [يعني كه مجرم نرم ووهل سي. نو د حدّ مقصود به حاصل نه سي. او د حدّ مقصود دا دی چي د آينده لپاره مجرم له داسي كار (زنا) څخه منع سي] وَتُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ او له مجرم څخه به جامې كښل كيږي مَعْنَاهُ دُونَ الْإِزَارِ يعني د لنګ [او پرتوګ] څخه بغير نوري جامې [به څني كښل كيږي] لِأَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَأْمُرُ بِالتَّجْرِيدِ فِي الْحُدُودِ ځكه چي حضرت علي به په حدّونو كي د جامې كښلو حكم كوى وَلِأَنَّ التَّجْرِيدَ أَبْلَغُ فِي إِيصَالِ الْأَلَمِ إِلَيْهِ او ځكه چي [له مجرم څخه] جامې كښل هغه ته د درد په رسولو كي زيات مؤثر دي وَهَذَا الْحَدُّ مَبْنَاهُ عَلَى الشِّدَّةِ فِي الضَّرْبِ او د دغه حدّ مدار د وهلو پر سختى دى [چي مجرم سخت ووهل سي. د دې لپاره چي هغه په آينده كي له زنا څخه منع سي] وَفِي نَزْعِ الْإِزَارِ كَشْفُ الْعَوْرَةِ او د لنګ په كښلو كي د عورت ښكاره كېدل سته فَلْيَتَوَقَّاهُ نو له دې څخه به ځان ساتي وَيُفَرِّقُ الضَّرْبَ عَلَى أَعْضَائِهِ او وهل به جلا

---

❶ تخريج: رواه المالك في الموطأ مرفوعاً، رقم الحديث: ۱۵۶۰.

کيږي (يعني تقسيميږي) د هغه پر اندامونو (يعني پر متفرقه او جلا، جلا اندامونو به وهل کيږي) لِأَنَّ الْجَمْعَ فِي عُضْوٍ وَاحِدٍ قَدْ يُفْضِيُ إِلَى التَّلَفِ ځکه چې (فقط) پر يوه اندام وهل کله، کله د مرګ سبب جوړيږي وَالْحَدُّ زَاجِرٌ لَا مُتْلِفٌ او دغه حد منع کونکی (او سزا ورکونکی) دی، هلاکونکی نه دی.

اللغات: ﴿جَلْدَة﴾ په دُره سره وهل، ﴿سَوْط﴾ دُره، غمچينه (قمچينه)، له چمړې څخه جوړه سوې دوهلو آله (د ځرمنې چلاخه)، ﴿مُبَرِّح﴾ د تفعيل اسمِ فاعل دی: بَرَّحَ يُبَرِّحُ تَبْرِيْحًا: سخت تکليف ورکول، ﴿مُؤْلِم﴾ د افعال اسمِ فاعل دی: دردونکی، غَيْر مُؤْلِم: نا دردونکي، نرم، کرار، ﴿إِفْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: رسول، سبب جوړېدل، ﴿إِنْزِجَار﴾ د انفعال مصدر دی: منع کېدل (راګرځېدل)، ﴿تَجْرِيْد﴾ د تفعيل مصدر دی: لڅول (بربنډول)، له جامو (کپړو) څخه خالي کول، ﴿فَلْيَتَوَقَّاه﴾ د تفعّل له باب څخه د أمرِ غائب صيغه ده: ځان ساتل، احتياط کول، ﴿يُفَرَّق﴾ د تفعيل مضارعِ مجهوله ده: جلاکول، متفرّق کول، بېلول.

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چې رجم (سنګسارول) د هغه زاني لپاره حدّ او سزا ده کوم چې محصن وي، او که چيري زاني غيرِ محصن وي او تر اوسه يې واده کړی نه وي، نو د هغه حدّ سل دُرې دي، دليل د قرآن کريم دا آيت دی: "الزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ...إلخ"، په دې آيت سره په دې توګه دليل نيول کيږي چې دا حکم د مُحصن کس په حق کي نه دی، بلکي د مُحصن په حق کي خو رجم دی، نو ښکاره خبره ده چې کله د محصن په حق کي د دې آيت حکم ساقط دی نو د غيرِ محصن په حق کي به دا حکم ثابتيږي.

اودُره بازه (دُره وهونکي سړي) ته به د إمام له طرفه دا حکم کيږي چې هغه به دا مجرم (زاني) په غوټه داره دُره سره نه وهي (يعني داسي دُره به نه استعمالوي چې هغه غوټه لري کوم چې د مرګ سبب جوړيږي)، او هغه ته به حکم کوي چې په متوسّطه (درميانه) وهلو سره مجرم ووهي: ځکه چې همدا د حضرت علي رضي الله عنه طريقه وه، او د متوسّطه وهلو مطلب دا دی چې نه به دومره په زوره وهل کوي چې مجرم هلاک سي او نه به دومره کرار وهل کوي چې مجرم بالکل په خبر نه سي، ځکه چې په دغه حدّ کي نه د هغه وژل مقصود دي او نه پر هغه ناز او شفقت کول مطلوب دي، بلکي د شريعت مقصد دا دی چې هغه دويم وار بيا داسي ناوړه حرکت نه وکړي.

وينزع عنه ثيابه إلخ: فرمايي چې د وهلو په وخت کي به له إزار او پرتوګ څخه بغير نوري جامې له زاني څخه کښل کيږي، إزار او پرتوګ به نه ځني ليري کيږي، ځکه چې په دې سره د هغه عورت

ښکاره کيږي کوم شي په شريعت کي حرام دي. او د نورو جامو په ليري کولو کي عورت هم نه ښکاره کيږي او وهل به پر مجرم ښه أثر هم کوي چي په هر دُره سره به هغه ته د مور نوم په ياد ورځي. او همدا طريقه له حضرت علي رَحِمَهُ الله څخه نقل سوې ده.

او دُره باز ته پکار دي چي زاني پر جلا، جلا ځايونو او پر متفرّقه اندامونو ووهي. او پر يوه ځاى دي ځان نه سترى کوي، ځکه چي کله نا کله له دې څخه د هلاکت او مرګ خطره پيښيږي. حالانکي په دې حدّ کي هلاکت مقصود نه دى. بلکي د وهلو شدّت او مجرم ته سزا ورکول مطلوب دي.

د دُرې وهلو په دوران کي به کوم اندامونه نه وهل کيږي؟

قَالَ: إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ فرمايي: مګر زاني به پر سر او مخ او فرج باندي نه وهل کيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶ لِلَّذِي أَمَرَهُ بِضَرْبِ الْحَدِّ: اتَّقِ الْوَجْهَ وَالْمَذَاكِيرَ ځکه نبي ﷺ چي کوم کس ته د حدّ جاري کولو حکم کړى وو، هغه ته يې فرمايلي وو: چي له مخ او جنسي اندامونو څخه ځان ساته! أيعني پر مخ او فرج باندي مجرم مه وهه! وَلِأَنَّ الْفَرْجَ مَقْتَلٌ وَالرَّأْسَ مَجْمَعُ الْحَوَاسِّ او ځکه چي فرج د وژلو ځاى دى أيعني داسي ځاى دى چي د هغه له وهلو څخه انسان مړ کيږي ا او سر د ټولو حواسو د جمع کيدلو ځاى دى ايعني حواسِ خمسه ټوله په سر کي موجود دي ا وَكَذَا الْوَجْهُ وَهُوَ مَجْمَعُ الْمَحَاسِنِ أَيْضًا او همدارنګه مخ د ښکلاوو د جمع کيدلو ځاى دى أيعني انسان چي په کومو اندامونو سره ښايسته دى، هغه په مخ کي دي: يعني سترګي، پزه، غوږونه، خوله او داسي نور ا فَلَا يُؤْمَنُ فَوَاتُ شَيْءٍ مِنْهَا بِالضَّرْبِ نو د وهلو په وجه په دې شيانو کي د يو شي فوت‌يدل ناممکن نه دي وَذٰلِكَ إِهْلَاكٌ مَعْنًى او دا د معنىٰ په اعتبار سر هلاکول دي فَلَا يُشْرَعُ حَدًّا لهذا دا به د حد په توګه مشروع نه وي ايعني لهذا پر دې اندامونو به حدّ جاري کول مشروع نه وي ا وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ؒ: يُضْرَبُ الرَّأْسُ أَيْضًا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي سر به هم ا په دُره سره ا وهل کيږي رَجَعَ إِلَيْهِ د دې قول وطرف ته هغه رجوع کړې ده وَإِنَّمَا يُضْرَبُ سَوْطًا لِقَوْلِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: اضْرِبُوا * الرَّأْسَ فَإِنَّ فِيهِ شَيْطَانًا او

---

❶ تخريج: رواه ابن أبي شيبة في المصنف، رقم الحديث:٢٨٦٧٥.

◆ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٥، ص:١٩)، وكذا في الدر المختار (ج:٣، ص:١٦١).[القول الراجح ج:١، ص:٢٤٤].

* تخريج: رواه ابن أبي شيبة في المصنف، رقم الحديث: ٢٩٠٣٣.

په دُرسره به ځکه وهل کيږي چې ابو بکر ﷺ فرمايلي دي: چې ادا مجرم ا پر سر اهم ا ووهئ. ځکه چې اد ده ا په سر کي شيطان دی ايعني پر سر يې هم ځو دُرې لګاو کړئ چې دماغ يې برابر سي او شيطاني خواهشات يې له دماغ څخه ووځي ا قُلْنَا: تَأْوِيلُهُ أَنَّهُ قَالَ ذٰلِكَ فِيمَنْ أُبِيحَ قَتْلُهُ موږ وايو: چې د دې تأويل دا دی چې حضرت ابو بکر ﷺ دا قول د هغه کس په هکله ويلی وو چې د هغه وژل مباح اروا ا وو وَيُقَالُ: إِنَّهُ وَرَدَ فِي حَرْبِيٍّ كَانَ مِنْ دُعَاةِ الْكَفَرَةِ او ادا هم ا ويل سوي دي: چې دا قول د هغه حربي په هکله وو کوم چې د کافرانو داعي امُبلغ ا وو وَالْإِهْلَاكُ فِيهِ مُسْتَحَقٌّ او د هغه وژل واجب وو ايا د دې جملې معنیٰ به دا وي: چې د کفري دعوت چلولو په وجه (د کافر) وژل واجب دي. او هغه د وژلو حقداره دی ا وَيُضْرَبُ فِي الْحُدُودِ كُلِّهَا قَائِمًا غَيْرَ مَمْدُودٍ او په ټولو حدونو کي به زاني په ولاړه وهل کيږي. نه په پروتي سره ايعني په ټولو حدونو کي به مجرم درول کيږي. او نه به پرې ايستل کيږي ا لِقَوْلِ عَلِيٍّ ﷺ [3]: يُضْرَبُ الرِّجَالُ فِي الْحُدُودِ قِيَامًا وَالنِّسَاءُ قُعُودًا ځکه چې حضرت علي ﷺ فرمايلي دي: چې په حدونو کي به خلک په ولاړي وهل کيږي او ښځي به په ناستي وهل کيږي وَلِأَنَّ مَبْنَى إِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَى التَّشْهِيرِ او ځکه چې د حدّ جاري کولو دار ومدار پر مشهورولو دی وَالْقِيَامُ أَبْلَغُ فِيهِ او درول په دې هکله زيات رسونکي ااو مفيدا دي ثُمَّ قَوْلُهُ: غَيْرَ مَمْدُودٍ فَقَدْ قِيلَ: الْمَدُّ أَنْ يُلْقَى عَلَى الْأَرْضِ وَيُمَدَّ كَمَا يُفْعَلُ فِي زَمَانِنَا بيا د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "غَيْرَ مَمْدُودٍ" نو اد دې په هکله ا يو قول دا دی: چې مجرم پر ځمکه پرې ايستل سي او اپر ځمکه ا کش کړی سي لکه څرنګه چې زموږ په زمانه داسي کيږي انو امام قدوري فرمايي چې مجرم به داسي نه وهل کيږي ا وَقِيلَ: أَنْ يَمُدَّ السَّوْطَ فَيَرْفَعَهُ الضَّارِبُ فَوْقَ رَأْسِهِ او بل قول دا دی: چې وهونکی ادُره باز ا خپله دُره کش کړي او تر خپل سر يې پورته کړي ااو په زوره مجرم په ووهي ا وَقِيلَ: أَنْ يَمُدَّهُ بَعْدَ الضَّرْبِ او بل قول دا دی: چې تر وهلو وروسته دُره اد مجرم پر بدن ا کش کړي وَذٰلِكَ كُلُّهُ لَا يُفْعَلُ او دا ټوله کارونه به نه کوي لِأَنَّهُ زِيَادَةٌ عَلَى الْمُسْتَحَقِّ ځکه چې دا پر واجب سوي وهلو زياتوب کول دي ايعني په شريعت کي چې مجرم (غيرِ محصن زاني) د څومره وهلو مستحق دی. دا پر هغه زياتوب کول دي ا

---

[3] تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرىٰ رقم الحديث:۱۸۰۳۷

اللغات: ﴿اِتَّقِ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد متکلم امرِ حاضر صیغه ده: پرهېز کول. ځان ساتل. ﴿مَذَا کِیْر﴾ جنسي غړي، جنسي اندامونه. ﴿مَقْتَل﴾ د نصر له باب څخه د اسمِ ظرف صیغه ده: د قتل کېدلو ځای. ﴿مَجْمَع﴾ د فتح له باب څخه د اسمِ ظرف صیغه ده: د یو ځای کېدلو ځای. د جمع کېدلو ځای. ﴿اِهْلَاک﴾ د افعال مصدر دی: هلاکول. وژل. ﴿مَمْدُوْد﴾ د نصر له باب څخه د اسمِ مفعول صیغه ده: کش کړی سوی. ﴿یُلْقَیٰ﴾ د افعال مضارع مجهوله ده: غورځول. اچول. مراد ځنې پر ځمکه پرېباسل دي.

تشریح: **مسئله**: دا ده چي دُره باز (جلاد) چي کله غیرِ محصن په دُره وهي، نو هغه ته پکار دي چي د هغه له مخ، سر او فرج (شرمګاه) څخه ځان وګوري او پر دې اندامونو دي هغه نه وهي: ځکه چي نبي ﷺ دُره باز ته دا حکم کړی وو چي هغه به د مخ او فرج له وهلو څخه ځان ساتي. په دې هکله دویم دلیل دا دی چي د فرج له وهلو څخه کله انسان مړ کیږي، همدارنګه د انسان سر مجمعُ الحواس دي (یعني د انسان پنځه سره حواس په سر کي جمع دي). او مخ مجمعُ المحاسن دی. او د دې اندامونو په وهلو سره هم کله نا کله انسان وژل کیږي، او که مرګ واقع نه سي، نو عیب خامخا پکښي پیدا کیږي کوم چي د معنیٰ په اعتبار سره د هلاکېدلو او مړ کېدلو په څېر دي. حال دا چي د دُرې په حدّ (حدّ جَلد) کي نه ظاهراً هلاکول مقصود دي او نه باطلاً، نو ځکه د دې اندامو د وهلو اجازه نسته. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مخکني قول هم داسي وو، لېکن وروسته هغه له خپل قول څخه ودې ته رجوع کړه چي مجرم به پر سر هم وهل کیږي، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله رجوع د حضرت ابو بکر رضی الله عنه د دې حکم په وجه وه چي هغه فرمایلي دي "اِضْرِبُوا الرَّأْسَ فَإِنَّ فِيْهِ شَيْطَانًا". په دې حکم سره حضرت ابو بکر رضی الله عنه د سر د وهلو اجازه ورکړه، لېکن زموږ له طرفه د دې حکم او فرمان دوه جوابه ورکول سوي دي: ① دا فرمان د هغه سړي په هکله وو کوم چي مباحُ الدم وو (یعني د هغه وژل روا وو). او د مباحُ الدم کس وژل مقصود وي. ② دا فرمان د کفارو د یو مُبلغ (تبلیغ کونکي) په هکله وو. او کافر مُبلغ خو د وژلو حقداره دی، نو ځکه په دې فرمان سره د غیرِ محصن په حق کي د "سر" د وهلو جواز ثابتېدای نه سي.

ویضرب في الحدود کلّها الخ: فرمایي چي په ټولو حدّونو کي به مجرم په ولاړي وهل کیږي. او د هغه لاسونه او پښې به نه تړل کیږي. او مجربه ښځه به په ناستي وهل کیږي. ځکه چي له حضرت علي رضی الله عنه څخه همداسي نقل سوي دي. او عقلي دلیل دا دی چي د دُرې د وهلو مقصد دا دی چي د حدّ نندارہ وسي او د حدّ خبر مشهور او خپور سي او تر لیري، لیري یې خلک ووینې او د هغه ږغ واوري. او دا

مقصد هغه وخت بنه حاصليږي كله چې مجرم ودرول سي او د ولاړې په حالت كې ووهل سي. نو ځكه به نارينه مجرم درول كيږي او د ولاړې په حالت كې به په دُرو سره وهل كيږي.

ثم قوله غير ممدود إلخ: په متن كې چې كوم د "غَيْر مَمْدُوْد" جمله ذكر سوې ده. د هغې درې مطلبونه دي.

①... اول مطلب يې دا دى چې مجرم پر ځمكه پرې ايستل سي. او د هغه لاس او پښې وتړل سي. بيا هغه پر ځمكه كش كړى سي.

②... دويم مطلب يې دا دى چې دُره باز خپله دُره راكشوي. يعني تر خپل سر دُره پورته كوي او مجرم په وهي.

③... دريم مطلب يې دا دى چې پر بدن باندې د دُرې د لګېدلو څخه وروسته هغه پر بدن را كش كړى سي چې زيات سوخت او تكليف مجرم ته ورسيږي. د "مَدّ" دغه درې مطلبونه دي. او په دوى كې د يوه ګنجائش هم نسته. ځكه چې دا د مجرم (زاني) له سزا څخه زياته سزا ده. كوم چې بالكل ظلم او تجاوز دى.

د غلام يا د مينځې د زنا حدّ

وَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ خَمْسِينَ جَلْدَةً او كه زاني غلام وي [يا مينځه زانيه ي] نو هغه به پنځوس دُرې وهل كيږي لِقَوْلِهِ تَعَالىٰ: فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ [النساء: ۲۵] ځكه چې الله تعالىٰ فرمايلي دي: چې پر مينځو باندې د آزادو ښځو نيمه سزا ده نَزَلَتْ فِي الْإِمَاءِ دا آيت د مينځو په حق كې نازل سوى دى وَلِأَنَّ الرِّقَّ مُنَقِّصٌ لِلنِّعْمَةِ او ځكه چې رقيت [غلامتوب] نعمت كموي فَيَكُونُ مُنَقِّصًا لِلْعُقُوبَةِ نو سزا به [هم] كموي لِأَنَّ الْجِنَايَةَ عِنْدَ تَوَافُرِ النِّعَمِ أَفْحَشُ ځكه چې د نعمتونو د ډېربښت باوجود جرم كول ډېر بد دي فَيَكُونُ أَدْعَىٰ إِلَى التَّغْلِيظِ لهذا دا جرم به [د آزاد په حق كې] زيات د سختۍ وطرف ته بلونكي وي [مطلب دا چې څومره جرم بد وي. هغومره به يې ګناه هم سخته وي] وَالرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ فِي ذٰلِكَ سَوَاءٌ او سړى او ښځه په حدّ كې برابر دي لِأَنَّ النُّصُوصَ تَشْمَلُهُمَا ځكه چې نصوص [آيتونه] دواړو ته شامل دي غَيْرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا يُنْزَعُ مِنْ ثِيَابِهَا إِلَّا الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ خو له ښځې څخه به جامې نه كښل كيږي ما سوا له پوستين او پنډو جامو څخه [كوم چې له پمبه وو څخه ډكې وي. لكه كوټ او داسې نور] لِأَنَّ فِي تَجْرِيدِهَا كَشْفُ الْعَوْرَةِ ځكه چې د ښځې د

جامې په ليرې كولو كې د عورت لڅېدل سته وَالْفَرْوُ وَالْحَشْوُ يَمْنَعَانِ وُصُولَ الْأَلَمِ إِلَى الْمَضْرُوبِ او پوستين او پنډې جامې [د بدن] وهل سوې حصې ته له درد رسېدلو څخه مانع دي وَالسَّتْرُ حَاصِلٌ بِدُونِهِمَا او له دې دواړو څخه بغير [هم] پرده حاصله ده فَيُنْزَعَانِ نو ځكه به دا دواړه [له ښځې څخه] كښل كيږي وَتُضْرَبُ جَالِسَةً او ښځه به د ناستې په حالت كې وهل كيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چې موږ روايت كړى وَلِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا او ځكه چې ناسته د ښځې لپاره ډېر ستر ناكه ده [يعني په ناسته كې د ښځې زياته پرده ده] قَالَ: وَإِنْ حُفِرَ لَهَا فِي الرَّجْمِ جَازَ فرمايي: او كه د ښځې لپاره په رجم كې ګړۍ وكيندل سي، نو جائز دي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ حَفَرَ [1] لِلْغَامِدِيَّةِ إِلَى ثُنْدُوَتِهَا ځكه چې نبي كريم ﷺ د غامديه لپاره د هغې تر سينې پورې كړۍ كيندلې وو وَحَفَرَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ * لِشُرَاحَةَ الْهَمْدَانِيَّةِ او [همدا رنګه] حضرت علي رضي الله عنه د شراحه همدانيه لپاره كړۍ كيندلې وو وَإِنْ تَرَكَ لَا يَضُرُّهُ او كه [د كړۍ كيندل] پرېښوول سي نو هم څه تاوان نه كوي لِأَنَّهُ لَمْ يَأْمُرْ بِذَلِكَ ځكه چې نبي ﷺ د دې حكم كړى نه وو وَهِيَ مَسْتُورَةٌ بِثِيَابِهَا او ښځه خو په خپلو جامو كې پټه [او په پرده] وي وَالْحَفْرُ أَحْسَنُ [ليكن] كړۍ كيندل زياته غوره دي لِأَنَّهُ أَسْتَرُ ځكه چې هغه زيات ستر ناكه دي وَيُحْفَرُ إِلَى الصَّدْرِ او كړۍ به تر سينې پورې كيندل كيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چې موږ روايت كړى وَلَا يُحْفَرُ لِلرَّجُلِ او د سړي لپاره به كړۍ نه كيندل كيږي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَا حَفَرَ [2] لِمَاعِزٍ ځكه نبي ﷺ د حضرت ماعز لپاره كړۍ كيندلې نه وو وَلِأَنَّ مَبْنَى الْإِقَامَةِ عَلَى التَّشْهِيرِ فِي الرِّجَالِ او ځكه چې په نارينه وو كې د حد مدار پر مشهوره كولو دى وَالرَّبْطُ وَالْإِمْسَاكُ غَيْرُ مَشْرُوعٍ او [د مرجوم كس] تړل او منع كول [نيول] مشروع نه دي.

[1] تخريج: أخرجه مسلم، باب من اعترف على نفسه بالزنا، رقم الحديث:١٦٩٥/ ٢٢٣٢.

* تخريج: دا أثر په مسند احمد ابن حنبل كي داسي ذكر سوى دى: حدّثنا عامر قال: كان لشراحة زوج غائب في الشام...ورجمها يوم الجمعة، وحفر لها إلى السرّة وأنا شاهد (يعني د شراحه لپاره تر نامه پورې كړۍ وكښل سو). (مسند احمد بن حنبل ج:١، ص:١٩٢، رقم:٩٨١)

[2] تخريج: مرّ تخريجه.

اللغات: ﴿مُنَقِّص﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: كمونكی، كمي كونكی. ﴿تَوَافُر﴾ د تفاعل مصدر دی: ډېرېدل، ډېربښت، زياتوالی (پرېوانه كېدل). ﴿أَفْحَش﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: ډېر بد، زيات قبيح. ﴿تَغْلِيْظ﴾ د تفعيل مصدر دی: سختي كول. ﴿فَرْو﴾ له وړيني څرمني څخه جوړه جامه، پوستين. ﴿حَشْو﴾ هغه جامه چي له پمبه وو څخه ډكه سوې وي (په پمبه وو سره ډكه سوې جامه). يعني كوټ. مراد ځني پنډې ډبلي جامي دي چي د وهلو أثر منع كوي. ﴿تَجْرِيد﴾ د تفعيل مصدر دی: لڅول، جامې ځني كښل. ﴿سَتْر﴾ پرده ساتل، پرده داري (پرده پوشي). ﴿حُفِر﴾ د ضرب ماضي مجهوله ده: كيندل، كنډې كښل (غارول). ﴿ثَنْدُوَة﴾ تيان، سينه. ﴿رَبْط﴾ د ضرب مصدر دی: تړل. ﴿إِمْسَاك﴾ د افعال مصدر دی: منع كول، نيول.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه يو غلام يا مينځه زنا وكړي، نو هغه به پنځوس دُرې وهل كيږي. ځكه چي په دې آيت "إِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ" كي د مينځو لپاره د آزادو ښځو نيمه سزا واجب سوې ده. او څرنگه چي د آزادي ښځي حد سل دُرې دي. لهذا د مينځي حد به پنځوس دُرې وي. او كوم حكم چي د مينځي دی، هغه حكم د غلام هم دی. ځكه چي رقيت (غلامتوب) په دواړو كي سته. او څرنگه چي رقيت د غلام او مينځي نعمت نصف گرځوي. همداسي د دوی عقوبت هم نصف گرځوي (يعني څرنگه چي د غلام او مينځي په حق كي رقيت د نكاح نعمت او داسي نور نعمتونه نيمايي كوي. همداسي رقيت د دوی سزاگاني هم نيمايي كوي). او كوم كسان چي الله د آزادي په بې شمېره نعمتونو سره نازولي وي او بيا هغوی جرم او جنايت وكړي، نو د هغو سزا به هم سخته وي. لكه څرنگه چي د قرآن كريم په دې آيت كي د نبي كريم ﷺ پاكو بيبيانو ته خطاب سوی دی: "يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ".

او د حدّ په حكم كي د ښځي او سړي دواړو حكم برابر دی، ځكه چي شرعي نُصوص دواړو ته برابر شامل دي. لېكن له ښځي څخه به د سړي په څېر جامې نه كښل كيږي. ها! كه ښځي پوستين اغوستی وي، يا د پمبې او داسي نورو پنډه جامه يې اغوستې وي، نو هغه به ځني لېري كيږي. ځكه چي د دې شيانو په لېري كولو سره د ښځي عورت نه ښكاره كيږي. همدارنگه كه دا شيان لېري نه كړی سي نو پر مجرم (ښځي) به وهل پوره أثر نه كوي (يعني پوستين او داسي نوري پنډې جامې د وهلو له درد او تكليف څخه مانع دي. حالانكي د وهلو مقصدا همدا دی چي مجرم ته درد او تكليف ورسيږي او وهل پوره أثر پر وكړي چي مجرم بيا داسي كار نه وكړي). نو ځكه به دا شيان ځني لېري كيږي. لېكن له دې څخه بغير نور جامې به نه ځني لېري كيږي، ځكه چي د هغوی په لېري كولو سره

ښځه بې پرده کيږي، او د ښځې په حق کې پرده مطلوب ده. همدا وجه ده چې په ناستې د ښځې د وهلو حکم سوی دی (چې ښځه به کښېنول کيږي او د ناستې په حالت کې به وهل کيږي). د دې لپاره چې په هر اعتبار سره د پردې خيال وساتل سي.

قال وإن حفر لها إلخ: فرمايي که د ښځې د رجم کولو لپاره کنده (غار) وکيندل سي، نو ډېره غوره ده. ځکه چې نبي کريم ﷺ د غامديه نومې ښځې تر سينې پورې کنده کيندلې وه او هغه يې رجم کړې وه. همدارنګه حضرت علي ﷛ د شراحه همدانيه لپاره کنده کيندلې وه. خو د رجم کولو لپاره کنده کښل ضروري نه دي. که نه وکيندل سي، نو هم څه پروا نه لري، ځکه چې نبي ﷺ د کندې کښلو حکم نه وو کړی. او په خپلو جامو سره هم د ښځې پرده کيږي (نو ځکه د کندې کښل ضروري نه دي)، لېکن که بيا هم د ښځې لپاره کنده وکيندل سي، نو دا به د هغې لپاره زياته پرده وي، او د سړي لپاره به کنده نه کښل کيږي، ځکه چې نبي کريم ﷺ د حضرت ماعز اسلمي ﷛ لپاره کنده کيندلې نه وه. او بل دا چې د سړي حد پر تشهير او تعميم مبني دی (چې د هغه د حدّ ننداره وسي، او هغه مشهوره او عام کړی سي)، او کنده کښل د تشهير منافي دي. او د مرجوم کس تړل، منع کول (او نيول) مشروع نه دي، ځکه چې نبي کريم نه حضرت ماعز تړلی وو. او نه يې په يو ډول د هغه د منع کولو حکم کړی وو.

د إمام له اجازې څخه بغير پر خپل غلام حدّ جاري کول

وَلَا يُقِيمُ الْمَوْلَى الْحَدَّ عَلَى عَبْدِهِ إِلَّا بِإِذْنِ الْإِمَامِ او مالک به پر خپل غلام [او مينځې] حد نه جاري کوي، مګر د إمام په اجازه سره [يعني که غلام يا مينځه زنا وکړي، نو مالک په خپله پر هغو حدّ نه سي جاري کولای. ها! که د امام سره رابطه وکړي او هغه اجازه ورکړي، نو بيا مالک پر غلام او مينځې حدّ جاري کولای سي. ځکه کېدای سي چې مالک پر غلام او مينځې زياتوب وکړي، نو په دې وجه د امام اجازه ضروري ده] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهُ أَنْ يُقِيمَهُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې مالک ته دا حق سته چې پر غلام [او مينځې] حد جاري کړي لِأَنَّ لَهُ وِلَايَةً مُطْلَقَةً عَلَيْهِ كَالْإِمَامِ ځکه چې پر خپل غلام مالک ته مطلق ولايت حاصل دی لکه امام ته [چې حاصل دی] بَلْ أَوْلَى بلکې [مالک ته] تر امام هم زيات [ولايت حاصل دی] لِأَنَّهُ يَمْلِكُ مِنَ التَّصَرُّفِ فِيهِ مَا لَا يَمْلِكُهُ الْإِمَامُ ځکه مالک په خپل غلام کې د هغه تصرف ملکيت لري چې امام د هغه ملکيت نه لري [مثلاً خرڅول او داسې نور] فَصَارَ كَالتَّعْزِيرِ نو اد غلام حد [د تعزير په څېر سو] حاصل د عبارت دا دی چې امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې مالک پر خپل غلام او مينځې حدّ جاري کولای سي، ځکه چې مالک ته پر خپل غلام او مينځې پوره ولايت حاصل دی. او هغه ته تر امام هم زيات ولايت حاصل دی، ځکه چې مالک خپل غلام خرڅولای سي، حالانکې امام د بل چا غلام نه سي

خرڅولای. نو دا حدّ د تعزير په څير سو. يعني لکه څرنګه چي مالک خپل غلام ته د إمام له اجازې څخه بغير سزا ورکولای سي، همدارنګه د امام له اجازې څخه بغير حدّ هم پر جاري کولای سي، ځکه چي غلام د هغه خپل مال دی ا وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] : أَرْبَعٌ إِلَى الْوُلَاةِ وَذَكَرَ مِنْهَا الْحُدُودَ زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی: چي د څلورو شيانو ذمه واري پر واليانو ده چي له هغوی څخه نبي ﷺ حدود هم ذکر کړل ا يعني څلور شيان والي او امام ته سپارل سوي دي: ① د جمعې لمونځ، ② زکاة، ③ حدود، ④ قصاص، معلومه سوه چي د امام له اجازې څخه بغير څوک حد نه سي جاري کولای ا وَلِأَنَّ الْحَدَّ حَقُّ اللهِ تَعَالَى او په دې وجه [هم] چي حدّ د الله تعالیٰ حق دی لِأَنَّ الْمَقْصِدَ مِنْهَا إِخْلَاءُ الْعَالَمِ عَنِ الْفَسَادِ ځکه چي د حدونو مقصد دنيا له فساد څخه خالي کول دي وَلِهٰذَا لَا يَسْقُطُ بِإِسْقَاطِ الْعَبْدِ همدا وجه ده چي د بنده په ساقطولو سره حدّ نه ساقطيږي فَيَسْتَوْفِيهِ مَنْ هُوَ نَائِبٌ عَنِ الشَّرْعِ وَهُوَ الْإِمَامُ أَوْ نَائِبُهُ لهذا دا حق به هغه کس حاصلوي [او هغه کس به يې جاري] کوم چي د شريعت نائب دی او هغه إمام دی يا د هغه نائب دی ا عقلي دليل دا دی چي حدّ لګول او جاري کول دا د الله تعالیٰ يعني د شريعت حق دی، ځکه چي د حد مقصد دا دی چي دنيا له فساد څخه پاکه سي، نو ځکه به د شريعت نائب يعني امام يا د هغه نائب حدّ جاري کوي ا بِخِلَافِ التَّعْزِيرِ لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَبْدِ په خلاف د تعزير، ځکه چي هغه د بنده حق دی وَلِهٰذَا يُعَزَّرُ الصَّبِيُّ او له همدې وجهي بچي ته سزا ورکول کېدای سي وَحَقُّ الشَّرْعِ مَوْضُوعٌ عَنْهُ حالانکي له بچي څخه د شريعت حق معاف کړی سوی دی [بخلاف التعزير: په دې سره امام شافعي ته جواب ورکوي. حاصل يې دا دی چي تعزير يعني تنبيه او ټيټه سزا ورکول د بنده حق دی، همدا وجه ده چي د بچي سرپرست (پلار او مور) هغه ته سزا ورکولای. نو که تعزير د شريعت حق وای، نو د هيڅ لپاره به بچي ته سزا ورکول صحيح نه وای، ځکه چي بچی د شريعت په احکامو مکلف نه دی (لهذا کله چي مکلّف نه دی، نو هغه ته به سزا ورکول صحيح نه وای). حالانکي هغه ته سزا ورکول صحيح دي، نو معلومه سوه چي تعزير د بنده حق دی، نو په دې وجه حدّ پر تعزير باندي قياسول صحيح نه دي.

اللغات: ﴿وُلَاة﴾ جمع د وَالِيْ ده: حاکم، حکمران (واکمن)، إمام. ﴿إِخْلَاء﴾ د افعال مصدر دی: خالي کول ﴿يَسْتَوْفِيْه﴾ د استفعال مضارع ده: اخيستل، حاصلول، ترلاسه کول. ﴿تَعْزِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: له حدّ څخه لاندي سزا ته "تعزير" وايي، (ټيټه سزا ورکول)، تنبيه ورکول، رټل او غندل.

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

[1] تخريج: رواه ابن أبي شيبة في المصنف ج:٢، ص:٣٨٥، رقم: ١٠١٨٩ / ٢٨٤٢٩.

د "إحصان" (مُحصن والي) مطلب

قَالَ: وَإِحْصَانُ الرَّجْمِ أَنْ يَكُونَ حُرًّا عَاقِلًا بَالِغًا مُسْلِمًا قَدْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَدَخَلَ بِهَا وَهُمَا عَلَى صِفَةِ الْإِحْصَانِ او د رجم محصن کېدل دا دي چې هغه امرجوم‌ا ① آزاد وي. ② بالغ وي. ③ عاقل وي. ④ مسلمان وي. ⑤ د يوې ښځې سره يې صحيح نکاح کړې وي. ⑥ او د هغې سره يې وطي کړې وي او اد دخول په وخت کې‌ا دواړه د إحصان پر صفت وي فَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ شَرْطٌ لِأَهْلِيَّةِ الْعُقُوبَةِ نو عقل او بلوغ د سزا د أهليت لپاره شرط دي إِذْ لَا خِطَابَ دُونَهُمَا ځکه چې له دې دواړو ځخه بغير د شريعت خطاب نه ثابتيږي وَمَا وَرَاءَهُمَا يُشْتَرَطُ لِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ بِوَاسِطَةِ تَكَامُلِ النِّعْمَةِ او له دې دواړو اعقل او بلوغ‌ا ځخه بغير چې انور‌ا کوم شرطونه دي هغه د نعمت د پوره والي په واسطه سره د جنايت د پوره کېدلو په وجه شرط دي إِذْ كُفْرَانُ النِّعْمَةِ يَتَغَلَّظُ عِنْدَ تَكَثُّرِهَا ځکه چې د نعمت د ډېرښت په وخت کې د نعمت ناشکري کول زيات سخت ‌او غليظ‌ا وي ايعني په دې صورت کې گناه سختيږي‌ا وَهَذِهِ الْأَشْيَاءُ مِنْ جَلَائِلِ النِّعَمِ او دا شيان له غټو نعمتونو ځخه دي وَقَدْ شُرِعَ الرَّجْمُ بِالزِّنَا عِنْدَ اسْتِجْمَاعِهَا او ‌افقط‌ا د دې نعمتونو د اجتماع په صورت کې د زنا په وجه رجم مشروع سوى دى فَيُنَاطُ بِهِ نو ‌افقط‌ا د دې نعمتونو پر اجتماع به د رجم مدار وي بِخِلَافِ الشَّرَفِ وَالْعِلْمِ په خلاف د شريف کېدلو او د علم لِأَنَّ الشَّرْعَ مَا وَرَدَ بِاعْتِبَارِهِمَا ځکه چې شريعت د دې شيانو د اعتبار کولو په باره کې وارد سوى نه دى ‌ايعني شريعت د دې شيانو اعتبار بيان کړى نه دي‌ا وَنَصْبُ الشَّرْعِ بِالرَّأْيِ مُتَعَذِّرٌ او په ‌اخپله‌ا رايه سره د شريعت حکم ټاکل ناممکن دي وَلِأَنَّ الْحُرِّيَّةَ مُمْكِنَةٌ مِنَ النِّكَاحِ الصَّحِيحِ او ځکه چې آزاد والى پر صحيح نکاح قدرت ورکونکي دى وَالنِّكَاحُ الصَّحِيحُ مُمْكِنٌ مِنَ الْوَطْءِ الْحَلَالِ او صحيح نکاح پر حلالي جماع قدرت ورکونکې ده وَالْإِصَابَةُ شِبَعٌ بِالْحَلَالِ او دخول کول په دې حلال کار سره مړونکي دي ايعني د دخول په ذريعه په حلالي جماع سره انسان مړېداى سي او د هغه شهوت پوره کېداى سي‌ا وَالْإِسْلَامُ يُمَكِّنُهُ مِنْ نِكَاحِ الْمُسْلِمَةِ او اسلام مسلمان سړي ته د مسلماني ښځې پر نکاح قدرت ورکوي وَيُؤَكِّدُ اعْتِقَادَ الْحُرْمَةِ او اسلام د زنا د حرمت عقيده قوي کوي فَيَكُونُ الْكُلُّ مُزْجِرَةً عَنِ الزِّنَا لهذا دا ټوله شيان له زنا ځخه منع کونکي

دي وَالْجِنَايَةُ بَعْدَ تَوَفُّرِ الزَّوَاجِرِ أَغْلَظُ او د موانعو د ډېرښت باوجود زنا کول ډېر سخت اسنګین اجرم دی وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِي اشْتِرَاطِ الْإِسْلَامِ او د اسلام په شرطېدلو کي امام شافعي رَحِمَهُ الله زموږ اد قول ا مخالف دی. ايعني د هغه په نيز د إحصان لپاره اسلام شرط نه دی ا وَكَذَا أَبُو يُوسُفَ فِي رِوَايَةٍ همدارنګه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم په يوه روايت کي مخالف دی اخو راجح قول زموږ (د طرفينو) دی چي دإحصان لپاره اسلام شرط دی ا لَهُمَا مَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَام رَجَمَ[1] يَهُودِيَّيْنِ قَدْ زَنَيَا د دوی دواړو دليل هغه حديث دی. کوم چي له نبي کريم ﷺ څخه روايت سوی دی. چي نبي ﷺ يو يهودي سړی او يوه يهودي ښځه د زنا کولو په وجه رجم کړه انو له دې څخه معلومه سوه چي کافر هم رجم کېدای سي ا قُلْنَا: كَانَ ذٰلِكَ بِحُكْمِ التَّوْرَاةِ ثُمَّ نُسِخَ موږ جواب ورکوو: چي دا حکم د تورات په وجه سره وو او وروسته دا حکم منسوخ سو يُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَام[2]: مَنْ أَشْرَكَ بِاللهِ فَلَيْسَ بِمُحْصَنٍ چي د هغه تائيد د نبي کريم ﷺ په دې قول سره کيږي: چي څوک د الله سره شريک ونيسي نو هغه محصن نه دی ايعني مشرک انسان محصن جوړېدای نه سي ا وَالْمُعْتَبَرُ فِي الدُّخُولِ إِيلَاجٌ فِي الْقُبُلِ عَلَى وَجْهٍ يُوجِبُ الْغُسْلَ او هغه دخول معتبر دی چي په قُبُل افرج ا کي په دې توګه ذکر دننه کړی سي چي هغه غسل واجبوي وَشَرْطُ صِفَةِ الْإِحْصَانِ فِيهِمَا عِنْدَ الدُّخُولِ او امام قدوري رَحِمَهُ الله په سړي او ښځه کي د محصن والي صفت د دخول په وخت کي شرط ګرځولی دی حَتّٰى لَوْ دَخَلَ بِالْمَنْكُوحَةِ الْكَافِرَةِ أَوِ الْمَمْلُوكَةِ أَوِ الْمَجْنُونَةِ أَوِ الصَّبِيَّةِ تر که يو څوک په کافري منکوحه ښځي. يا په مملوکه مينځي. يا په لېونۍ ښځي. يا په کوچنۍ نجلۍ دخول وکړي لَا يَكُونُ مُحْصَنًا نو هغه مُحصن نه ګرځي وَكَذَا إِذَا كَانَ الزَّوْجُ مَوْصُوفًا بِإِحْدَى هٰذِهِ الصِّفَاتِ وَهِيَ حُرَّةٌ مُسْلِمَةٌ عَاقِلَةٌ بَالِغَةٌ او همدارنګه اخاوند محصن نه ګرځي ا که چيري هغه په دې صفاتو کي په يوه صفت سره متصف وي او د هغه ښځه آزاده. مسلمانه. عاقله او بالغه وي لِأَنَّ النِّعْمَةَ بِذٰلِكَ تَتَكَامَلُ ځکه چي په دې شيانو سره نعمت پوره کيږي ايعني په نکاح. اسلام. آزادي. عقل او بلوغ سره نعمت پوره کيږي. او که په دې شيانو کي

[1] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۴۲۶ و ۴۴۵۰.

[2] تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرى، رقم الحديث: ۱۷۳۹۱.

يو شی کم سي، نو په بشپړه توګه نعمت نه پوره کيږي، نو ځکه به رجم هم نه ثابتيږي | إِذِ الطَّبْعُ يَنْفِرُ عَنْ صُحْبَةِ الْمَجْنُونَةِ ځکه چې طبيعت د لېونۍ ښځې له کوروالي [جماع] څخه نفرت کوي وَقَلَّمَا يَرْغَبُ فِي الصَّبِيَّةِ لِقِلَّةِ رَغْبَتِهَا او په کوچنۍ نجلۍ کې د خواهش د کمېدلو په وجه خاوند هغې ته کم رغبت کيږي وَفِي الْمَنْكُوحَةِ الْمَمْلُوكَةِ او منکوحه مملوکه مينځې ته [هم د خاوند رغبت کم کيږي] حَذَرًا عَنْ رِقِّ الْوَلَدِ د خپل بچي له غلامتوب څخه د ځان ساتلو لپاره [يعني که ښځه مينځه وي نو له هغې څخه چې کوم بچی پيدا کيږي هغه هم غلام شمارل کيږي، نو خاوند به له غلامتوب څخه د خپل بچي د ساتلو لپاره په ښه رغبت او مينه د هغې سره جماع نه سي کولای، بلکې د هغې له جماع څخه به يې نفرت کيږي] وَلَا ائْتِلَافَ مَعَ الِاخْتِلَافِ فِي الدِّينِ او د دين د اختلاف سره اُلفت نه وي [يعني که د خاوند او ښځې دين سره جلا وي، نو هم د دوی په مينځ کې پوره اُلفت او رغبت نه وي] وَأَبُويُوسُفَ يُخَالِفُنَا فِي الْكَافِرَةِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د کافرې ښځې په هکله زموږ مخالف دی [يعني که خاوند د کافرې ښځې سره جماع وکړي، نو د هغه په نېز خاوند محصن ګرځي] وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا ذَكَرْنَاهُ او د امام ابو يوسف په خلاف هغه دليل حجت دی کوم چې موږ ذکر کړی [چې د خاوند او ښځې په مينځ کې پوره اُلفت او رغبت نه وي] وَقَوْلُهُ الطَّيْلا [3] : لَا تُحْصِنُ الْمُسْلِمَ الْيَهُودِيَّةُ وَلَا النَّصْرَانِيَّةُ وَلَا الْحُرَّ الْأَمَةُ وَلَا الْحُرَّةَ الْعَبْدُ او [بل دليل] د نبي ﷺ دا قول دی: چې يهودي او نصراني ښځه مسلمان سړی محصن نه جوړوي، او نه مينځه آزاد سړی محصن جوړوي، او نه غلام آزاده ښځه محصنه جوړوي.

اللغات: ﴿إحصان﴾ د افعال مصدر دی: محصن کېدل، محصن والی. ﴿تكامل﴾ د تفاعل مضارع ده: پوره کېدل. ﴿كفران﴾ ناشکري، ناقدري، سپکاوی. ﴿يتغلظ﴾ د تفعل مضارع ده: سختېدل. ﴿تكثر﴾ د تفعل مصدر دی: زياتېدل، ډېرېدل. ﴿جلائل﴾ جمع د جَلِيل ده: غټ، ستر. ﴿يناط﴾ د مضارع صيغه ده: متعلق کېدل. ﴿متعذر﴾ د تفعل اسم مفعول دی: ناممکن. ﴿إصابة﴾ د افعال مصدر دی: رسېدل، وارد‌ېدل، مراد ځني وطي او دخول کول دي. ﴿شبع﴾ د فتح مصدر دی: مړتيا، سېرابي، آرام او سکون. ﴿يمكنه﴾ د تفعيل مضارع ده: قدرت ورکول، طاقت ورکول. ﴿مزجرة﴾ د

[3] تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرى رقم الحديث: ١٧٣٩٥

افعال مؤنث اسم فاعل دی: منع کونکی. ﴿أَغْلَظ﴾ زيات سخت. ﴿إِيلاج﴾ د افعال مصدر دی: دننه کول، داخلول. ﴿قُبُل﴾ د ښځي د مخ شرمګاه (فرج). ﴿حَذْر﴾ د سمع مصدر دی: ځان ساتل. ځان ژغورل. ﴿إِيتلاف﴾ د افتعال مصدر دی: په خپل مينځ کي مينه او محبت کول. اُلفت کول.

تشريح: مخکي د زاني د رجم کولو لپاره د هغه د محصن کېدلو شرط ذکر سو (چي هغه به مُحصن وي)، په دې عبارت کي د هغه شرط مطلب بيانوي فرمايي چي د مُحصن والي مطلب دا دی چي زاني آزاد وي، عاقل، بالغ او مسلمان وي. او زاني د يوې مسلماني ښځي سره صحيح نکاح کړې وي او په همدې حالت کي د دواړو ملاقات او جماع سوې وي چي دواړه د إحصان پر صفت قائم او باقي وي.

د عقل او بلوغ شرط ځکه لګول سوی دی چي عقل او بلوغ د عقوبت د أهل کېدلو لپاره شرط دي، ځکه چي کوچني او لېوني دواړه د شريعت په احکامو مکلف نه دي. او رجم (سنګسارول) د شريعت له احکامو څخه يو حکم دی. نو ځکه به د دې لپاره هم عقل او بلوغ ضروري وي. او له دې څخه بغير نور شرائط (يعني نکاح، آزادي او اسلام، دا شرائط) ځکه لګول سوي دي چي د دې شيانو په وجه په انسان کي نعمت پوره کيږي. او په چا کي چي نعمت کامل او پوره وي. د هغه جرم خطرناک او سنګين ګرځي، او که د دومره إنعام او نوازش باوجود زنا وکړي نو د هغه سزا رجم ده. او په دې شرائطو کي شرافت او علم لره هيڅ دخل نسته. ځکه چي دا غير محدود دي. او شريعت دا شيان (شرافت او علم) د إحصان له شرائطو څخه هم شمارلي نه دي. او نه د دوی په هکله يو روايت نقل سوی دی، نو ځکه موږ ته هيڅ حق نسته چي په خپل عقل او رايه سره په شريعت کي يو شی مقرر کړو.

عقلي دليل: په إحصان کي د آزادۍ، نکاح او پاته شرائطو د معتبر کېدلو او شرط کېدلو عقلي دليل دا دی چي آزاد سړی يا ښځه د خپلو أمورو او کارونو "ذمه وار" وي او په تصرّفاتو کي "خود مختار" وي. نو په دې وجه د آزاد سړي لپاره صحيح نکاح کول ممکن وي. او کله چي هغه پر صحيح نکاح قدرت لري، نو ښکاره خبره ده چي هغه به د صحيح نکاح او د حلال وطي په ذريعه له خپلي ښځي څخه آرام حاصلوي (او شهوت به پوره کوي)، او کله چي هغه مسلمان وي، نو لازماً به د مسلماني ښځي سره وطي کوي. او د اسلام په وجه به د هغه په زړه کي د زنا حُرمت او له زنا څخه نفرت وي. او دا شيان (اسلام، نکاح او داسي نور) به هغه له ناوړه حرکت څخه منع کوي. نو ځکه دا شرائط د إحصان په شرائطو او أوصافو کي داخل سوي دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د إحصان لپاره اسلام شرط نه دی (يعني د زاني د محصن کېدلو لپاره د اسلام شرط نه لګوي)، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه هم په يوه روايت کي داسي نقل سوي دي: د

هغو دليل دا حديث دی چې نبي كريم ﷺ پر يوه يهودي سړي او ښځي باندي د رجم حكم جاري كړی وو چې هغو زنا كړې وه. او دوی دواړه "محصنان" ول. نو كله چې په يهودو كي إحصان ثابت سوی دی. نو ځكه به د إحصان لپاره د اسلام شرط لګول صحيح نه وي. لېكن زموږ له طرفه د دې حديث جواب دا دی چې نبي كريم ﷺ خو د اسلام په شروع كي د تورات د حكم مطابق رجم جاري كړی وو. او تر هغه وخته پوري په اسلام كي هيڅ حكم نازل سوی نه وو. له همدې كبله نبي كريم ﷺ د يهودو ځخه د زنا په هكله د توارت د حكم پوښتنه كړې وه. او د دې حديث حكم وروسته منسوخ سو. ځكه چې نبي ﷺ وروسته په ښكاره الفاظو سره وفرمايل "مَنْ أَشْرَكَ بِاللهِ فَلَيْسَ بِمُحْصِنٍ" چې مشرک محصن كېدلای نه سي. او كله چې مشرک محصن كېدلای نه سي. نو خامخا به د احصان لپاره د اسلام شرط لګول كيږي.

والمعتبر إلخ: فرمايي د متن په دې عبارت "قد تَزَوَّجَ اِمرأةً نكاحًا صَحِيْحًا و دَخَلَ بها" كي له "دَخَلَ" ځخه هغه "دخول" مراد دی كوم چې د غسل موجب او سبب وي. يعني چې د سړي د ذكر سر (حشفه) د ښځي په فرج كي داخل سي. او د دخول په وخت كي د دوی د محصن كېدل مطلب دا دی چې كه خاوند مسلمان وي او ښځه كافره وي. يا ښځه مملوكه مينځه وي. يا مجنونه او صبيه وي. يا د دې برعكس وي يعني ښځه مسلمانه. آزاده او عاقله او بالغه وي. او خاوند كافر او غلام يا لېونی يا كوچنی وي. نو په دې صورت كي د دوی "دخول" معتبر نه دی. او په دې صورت كي په دخول سره سړی محصن نه ګرځي. ځكه په چا كي چې دا صفات موجود وي. په هغه كي به الهي نعمت په پوره توګه ثابت وي. او بيا د سړي طبيعت د لېونی ښځي د جماع ځخه نفرت كوي. او په كوچنی نجلی كي بالكل هيڅ خواهش نه وي. همدارنګه د خپل بچي د غلام جوړېدلو د بيري په وجه ځوک د مملوكه مينځي سره وطي نه سي كولای (يعني د هغه سره دا بيره وي چې كه زه د خپلي مينځي سره جماع وكړم. نو زما بچی به هم غلام وګرځي). او د ديني اختلاف په وجه د كافري ښځي سره د مسلمان محبت او اُلفت نه پيدا كيږي. نو ځكه به د دې شيانو په وجود كي نه دُخول معتبر وي. او نه به احصان ثابتيږي.

د كافري ښځي په هكله امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله زموږ مخالف دی. د هغه په نېز په كافري ښځي باندي دخول كول په إحصان كي معتبر دي. لېكن زموږ له طرفه هغه ته دا جواب وركول كيږي چې ديني اختلاف د محبت او اُلفت ځخه مانع دی. او د اُلفت د نشتوالي په وجه كما حقهٗ إيلاج او دخول كېدای نه سي. او بيا په حديث كي په ښكاره الفاظو سره دا بيان سوي دي چې يهودي او نصراني ښځه يو مسلمان سړی محصن نه سي جوړولای. همدارنګه نه مينځه يو آزاد سړی محصن جوړولای سي او نه غلام آزاده ښځه محصنه جوړولای سي.

د رجم سره جلد (دُره) جمع کول

قَالَ: وَلَا يُجْمَعُ فِي الْمُحْصَنِ بَيْنَ الرَّجْمِ وَالْجَلْدِ فرمايي: چې په محصن کې به رجم او دُرې نه سره جمع کيږي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمْ يَجْمَعْ ❶ ځکه چې نبي ﷺ (دا دواړه) سره جمع کړي نه دي وَلِأَنَّ الْجَلْدَ يَعْرَى عَنِ الْمَقْصُودِ مَعَ الرَّجْمِ ځکه چې د رجم سره (يعني د رجم باوجود) د دُرې وهل له مقصود څخه خالي وي لِأَنَّ زَجْرَ غَيْرِهِ يَحْصُلُ بِالرَّجْمِ ځکه چې د بل چا زجر په رجم سره حاصليږي إِذْ هُوَ فِي الْعُقُوبَةِ أَقْصَاهَا ځکه چې رجم آخري سزا ده وَزَجْرُهُ لَا يَحْصُلُ بَعْدَ هَلَاكِهِ او د زاني تر هلاکېدلو وروسته د هغه زجر نه حاصليږي. (لنډه دا چې په رجم سره هغه ته زجر ورکول سو. ځکه چې رجم آخري زجر او سزا ده، او تر مرګ وروسته هغه ته زجر نه سي ورکول کېدای)

اللغات: ﴿يَعْرَى﴾ د فتح مضارع ده: خالي کېدل. ﴿زَجْر﴾ تنبيه ورکول. رټل (غندل). ﴿أَقْصَاهَا﴾ أَقْصَى: آخري. انتهائي (نهائي).

تشريح: مسئله: دا ده چې د محصن زاني په سزا کې به رجم او دُرې وهل نه سره جمع کيږي (يعني داسي به نه کوي چې هغه په دُرو سره هم ووهي. او سنګسار يې هم کړي). ځکه چې نبي کريم له جمع څخه منع کړې ده. دويم دليل دا دی چې رجم د زنا انتهائي او آخري سزا ده. او تر رجم وروسته (يا مخکې) د دُرې په وهلو سره مقصود يعني زجر نه حاصليږي. او داسي کول تحصيل د حاصل دی، نو ځکه جمع صحيح نه ده.

غيرِ محصن زاني له وطن څخه شړل (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَلَا يُجْمَعُ فِي الْبِكْرِ بَيْنَ الْجَلْدِ وَالنَّفْيِ فرمايي: او په بې واده کس کې به د دُرې وهل او له وطن څخه ايستل (دواړه) نه سره جمع کيږي وَالشَّافِعِيُّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا حَدًّا (الْبِكْر) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دواړه (د بې واده کس لپاره) د حدّ په توګه سره جمع کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❷: الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: چې بې واده سړی د بې واده ښځې سره (که چيري زنا وکړي نو د دوی سزا) سل دُرې او يو کال جلا وطن کول دي وَلِأَنَّ فِيهِ حَسْمَ بَابِ الزِّنَا او ځکه چې په

---

❶ تخريج: قد مرّ تخريجه تحت حديث ماعز والغامدية.

❷ تخريج: رواه الجماعة فأخرجه البخاري في باب البكر يجلدان وينفيان، رقم الحديث: ٦٨٣١. و مسلم، وابو داؤد في السنن، رقم الحديث: ٤٤١٥.

جلا وطن کولو د زنا دروازه بندول دي لِقِلَّةِ الْمَعَارِفِ ځکه چې [په پردي ښار کې] تعلقات [او تعارف] کم وي وَلَنَا قَوْله تَعَالَىٰ: فَاجْلِدُوا [النور: ٢] زموږ دليل د الله تعالىٰ دا فرمان دی: "فَاجْلِدُوْا" جَعَلَ الْجَلْدَ كُلَّ الْمُوجَبِ [په دې آيت کې] الله تعالىٰ د دُرې وهل ټوله [پوره] سزا ګرځولې ده رُجُوعًا إِلَىٰ حَرْفِ الْفَاءِ د "فاء" حرف ته په رجوع کولو سره [يعني د هغه دليل د فاء حرف دی کوم چې پر جزاء "فَاجْلِدُوْا" داخل سوی دی] أَوْ إِلَىٰ كَوْنِهِ كُلَّ الْمَذْكُورِ يا دا چې ټوله سزا همدا ده کوم چې ذکر سوې ده وَلِأَنَّ فِي التَّغْرِيبِ فَتْحَ بَابِ الزِّنَا او ځکه چې په جلا وطن کولو کې د زنا دروازه خلاصول دي [نه بندول] لِانْعِدَامِ الِاسْتِحْيَاءِ مِنَ الْعَشِيرَةِ ځکه چې [په پردي ښار کې] د خپل خاندان [د نشتوالي په وجه] شرم او حياء ختمه سي [او زاني خپل سر ته ايله سي. هر څه چي غواړي هغه کولای سي] ثُمَّ فِيهِ قَطْعُ مَوَادِّ الْبَقَاءِ بيا په جلا وطن کولو سره د [ژوندي] پاتېدلو د اسبابو ختمېدل [هم] سته [يعني د جلا وطنی سره دا خبره هم تړلې ده چې په بېګانه ښار کې د ښځي او سړي لپاره د رزق او روزی انتظام برابر نه سي] فَرُبَّمَا تَتَّخِذُ زِنَاهَا مَكْسَبَةً نو کېدای سي چې ښځه زنا خپله پېشه [او د ګټې ذريعه] وګرځوي وَهُوَ مِنْ أَقْبَحِ وُجُوهِ الزِّنَا او دا د زنا ډېره بده طريقه ده وَهَذِهِ الْجِهَةُ مُرَجِّحَةٌ لِقَوْلِ عَلِيٍّ* رضي الله عنه: كَفَىٰ بِالنَّفْيِ فِتْنَةً او همدې جهت [يعني له ښار څخه نه ايستلو] ته د حضرت علي رضي الله عنه په دې قول سره ترجيح ورکول سوې ده: چې له ښار څخه ايستل د فتنې لپاره کافي دي [يعني د فتنې او فساد لپاره بس همدا کافي دي چې ښځه او سړی له ښار څخه وېستل سي. نو د حضرت علي رضي الله عنه دا قول د نفي او تغريب پر ډېر بدوالي دلالت کوي. نو ځکه به زموږ جهت مرجّح وي] وَالْحَدِيثُ مَنْسُوخٌ كَشَطْرِهِ وَهُوَ قَوْلُهُ عليه السلام ❸: الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَرَجْمٌ بِالْحِجَارَةِ او [د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه بيان سوی] حديث منسوخ دی لکه څرنګه چې د دې حديث [آخري] جزء منسوخ دی او هغه د نبي صلی الله عليه وسلم دا قول دی: "اَلثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ...اِلخ" وَقَدْ عُرِفَ طَرِيقُهُ فِي مَوْضِعِهِ او د دې نسخ طريقه پر خپل ځای پېژندل

---

* أثر: رواه عبد الرزاق فی المصنف، رقم:١٣٣١٣.

❸ تخريج: په مسلم شريف کې پوره حديث داسې ذکر سوی دی: عن عبادة بن ثابت قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: خذوا عنى، خذوا عنى، فقد جعل الله لهن سبيلاً البكر بالبكر جلد مائة ونفى سنة، والثيب بالثيب جلد مائة والرجم. (باب حد الزنا، رقم الحديث: ١٦٩٠، ٤٤١٤)

سوې ده إِلَّا أَنْ يَرَى الْإِمَامُ فِي ذٰلِكَ مَصْلَحَةً خو دا چې امام په جلا وطن كولو كې ښېګڼه او خير ا ووينې فَيُغَرِّبَهُ عَلٰى قَدْرِ مَا يَرٰى نو ا په دې صورت كې چې امام ا څومره وخت مناسب وګڼي هغومره وخت دې مجرم جلا وطن كړي وَذٰلِكَ تَعْزِيْرٌ وَسِيَاسَةٌ او دا تغريب ا د تعزير او سياست پر بناء دى لِأَنَّهُ قَدْ يُفِيْدُ فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ ځكه چې دا په ځينې حالاتو كې فايده كوي او په ځينې حالاتو كې فايده نه كوي ا فَيَكُوْنُ الرَّأْيُ فِيْهِ إِلَى الْإِمَامِ نو ځكه به په دې هكله رايه إمام ته پرېښوول كيږي وَعَلَيْهِ يُحْمَلُ النَّفْيُ الْمَرْوِيُّ عَنْ بَعْضِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او له ځينې صحابه وو څخه چې كوم "جلا وطن كول" نقل سوي دي هغه به هم پر دغه سياست او تعزير باندې حمل كيږي.

اللغات: ﴿بِكْر﴾ بې واده كس، مجرّد. ﴿جَلْد﴾ په دُره وهل، د دُرې وهل. ﴿نَفْي﴾ له وطن او ښار څخه ايستل (جلا وطن كول). ﴿تَغْرِيْب﴾ د تفعيل مصدر دى: جلا وطن كول. ﴿حَسْم﴾ بندول. قطع كول (غوڅول). ﴿عَشِيْرَة﴾ قبيله. خاندان. ﴿مَكْسَبَة﴾ د ګټې ذريعه. كسب او پېشه. دنده. ﴿شَطْر﴾ نيمه حصه (نيمه ټوكره). جزء.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې زموږ په نيز كه بې واده سړى او بې اوده ښځه زنا وكړي، نو د دوى سزا فقط سل (۱۰۰) درې دي. او تر دې وروسته به هغو ته د "جلا وطنى" (تغريب) سزا نه وركول كيږي (چې له خپل وطن او ښار څخه وشړل سي). لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به د دوى په سزا كي جَلد او تغريب دواړه جمع كيږي.

د امام شافعي دليل: د مسلم شريف دا روايت دى: "اِلبكر بالبكر جلد مائة وتغريب عام" (يعني كه بې واده سړى او بې واده ښځه زنا سره وكړي، نو د دوى سزا سل دُرې او جلا وطن كول دي). په دې حديث كي په ښكاره توګه جَلد او تغريب دواړه سره جمع سوي دي. نو ځكه موږ (امام شافعي) وايو چې دواړه به سره جمع كيږي. په دې سلسله كي د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دى چې كله زاني او زانيه له ښار څخه وېستل سي، نو په نوي ښار كي به د دوى تعلّقات كم سي. او كله چې تعلقات كم سي، نو د زنا دروازه به بنده سي، نو په دې حواله سره به هم جَلد او تغريب سره جمع كيږي.

زموږ دليل: دا دى چې په دې آيت "اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ" كي د غير محصن كس لپاره د زنا پوره سزا سل (۱۰۰) دُرې ټاكل سوې ده. دليل دا دى چې فَاجْلِدُوا جزاء ده. او

فاء پر داخله سوې ده، او تر شرط وروسته چي كله پر جزاء فاء داخله سي، نو هغه جزاء کُل (ټولو) شامله وي، لهذا فقط جَلد به د غير محصن زناكاره لپاره كامله او پوره سزا وي. او بل دا چي په فَاجْلِدُوْا سره سزا بيان سوې ده، او په بيان كي چي څومره مقدار او څومره كلام ته ضرورت وي، هغه ټوله پر يوه ځاى بيانيږي، نو معلومه سوه چي په فَاجْلِدُوْا كي پوره سزا بيان سوې ده. او كله چي پوره سزا جَلد ده، نو په دې سزا كي به تغريب نه داخليږي.

زموږ عقلي دليل دا دى چي په جلا وطن كولو كي د زنا دروازه خامخا خلاصيږي، ځكه كله چي زاني او زانيه له خپل ښار څخه ويستل او له خپل وطن څخه وشړل سي، نو هلته به د دوى هيڅ قريب نه وي، نو په بې باكي او جرائت سره به زنا كوي، او عموماً داسي شړل سوي ښځه زنا او بدكاري خپله دنده جوړوي، له همدې كبله حضرت علي رضي الله عنه فرمايلي دي "كَفٰى بِالنَّفْيِ فِتْنَةً" چي له ښار څخه ايستل د فتني او فساد لپاره كافي دي، لهذا په تغريب كي تر ګټي تاوان زيات دى او هغه د إِثْمُهُ أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِ مصداق دى، نو په دې وجه به تغريب د جَلد سره نه جمع كيږي.

والحديث منسوخ إلخ: په دې عبارت سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب وركوي، فرمايي چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله بيان سوى حديث منسوخ دى، او د نسخ دليل يې دا دى چي د هغه حديث دا حصه او جزء "الثّيب بالثّيب جلد مائة..." هم منسوخ دى، لهذا د دې نسخ په وجه به هم جَلد او تغريب نه سره جمع كيږي.

ها! كه چيري امام په تغريب كي مصلحت او خير ويني، نو هغه د خپل ښه تدبير مطابق د يو څو ورځو لپاره تغريب كولاى سي، ليكن دا تغريب به د حدّ په توګه نه وي، بلكي د سزا او سياست مدني په اعتبار سره به وي، او رښتيا هم په ځيني حالاتو كي تغريب فايده من ثابتيږي، نو ځكه زموږ په نيز هم امام ته د ښه تدبير مطابق د تغريب كولو حق سته، او حضرت ابن عمر رضي الله عنه او شيخينو رَحِمَهُمَا الله چي د تغريب حكم كړى دى، هغه پر تعزير او سياست مدني باندي محمول دى.

پر زنا كاره مريض د حدّ جاري كولو بيان

وَإِذَا زَنَى الْمَرِيضُ وَحَدُّهُ الرَّجْمُ او كله چي مريض زنا وكړي او د هغه حدّ رجم وي رُجِمَ نو هغه به رجم كيږي لِأَنَّ الْإِتْلَافَ مُسْتَحَقٌّ ځكه چي هلاكول واجب دي فَلَا يَمْتَنِعُ بِسَبَبِ الْمَرَضِ لهذا د مرض ناروغى په وجه به دا إتلاف نه منع كيږي وَإِنْ كَانَ حَدُّهُ الْجَلْدَ او كه د هغه حدّ د دُرې وهل وي لَمْ

يُجْلَدُ حَتَّى يَبْرَأَ نو ا تر هغه وخته ا به په دُورو نه وهل كيږي تر دې چې جوړ ا و روغ ا سي كَيْلَا يُفْضِيَ إِلَى الْهَلَاكِ د دې لپاره چي دا وهل ا د هلاكت امر كېدلو ا سبب جوړ نه سي وَلِهٰذَا لَا يُقَامُ الْقَطْعُ عِنْدَ شِدَّةِ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ او له همدې كبله په سخته ګرمي او سخت يخ كي ا د غله لاس ا نه غوڅول كيږي وَإِذَا زَنَتِ الْحَامِلُ او كله چي حامله ښځه زنا وكړي لَمْ تُحَدَّ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا نو ا تر هغه وخته ا به حد نه پر جاري كيږي تر دې چي حمل وزېږوي كَيْلَا يُؤَدِّيَ إِلَى هَلَاكِ الْوَلَدِ د دې لپاره چي دا د بچي د هلاكت سبب جوړ نه سي وَهُوَ نَفْسٌ مُحْتَرَمَةٌ ځكه چي ا بچی يو محترم ا او د حفاظت قابل ا نفس دی ا ځكه هغه خو هيڅ خطاء نه ده كړې ا وَإِنْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدَ او كه د حاملې حدّ د دُرې وهل وي لَمْ تُجْلَدْ حَتَّى تَتَعَالَى مِنْ نِفَاسِهَا أَيْ تَرْتَفِعَ نو ا تر هغه وخته ا به په دُرو نه وهل كيږي تر دې چي له نفاس څخه پورته سي. يعني نفاس يې ختم سي يُرِيدُ بِهِ تَخْرُجُ مِنْهُ په ا تتعالىٰ ا سره د امام قدوري مطلب دا دی چي هغه ا حامله ا له نفاس څخه ووځي لِأَنَّ النِّفَاسَ نَوْعُ مَرَضٍ ځكه چي نفاس يو ډول مرض دی فَيُؤَخَّرُ إِلَى زَمَانِ الْبُرْءِ لهذا د جوړېدلو ا روغېدلو ا تر وخت پوري به جَلْد ځنډول كيږي بِخِلَافِ الرَّجْمِ په خلاف د رجم لِأَنَّ التَّأْخِيرَ لِأَجْلِ الْوَلَدِ ځكه چي ا د رجم ا ځنډول د بچي په وجه دی ا يعني رجم د حمل (بچي) د ساتني په وجه ځنډول كيږي ا وَقَدِ انْفَصَلَ او بچی ا خو ا پيدا سو ا نو ځكه به ښځه رجم كيږي. او تر نفاس ختمېدلو پوري به د هغې رجم نه ځنډول كيږي ا وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ ❁: أَنَّهُ يُؤَخَّرُ إِلَى أَنْ يَسْتَغْنِيَ وَلَدُهَا عَنْهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي ا د دې ښځي ا رجم به تر هغه وخت پوري ځنډول كيږي چي د هغې بچی له هغې څخه بې پروا سي ا يعني د هغې له ساتني او پرورش څخه بې پروا سي ا إِذَا لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ يَقُومُ بِتَرْبِيَتِهِ ا په دې شرط ا كله چي داسي څوک نه وي چي د كوچني تربيت ا او پرورش ا وكړي لِأَنَّ فِي التَّأْخِيرِ صِيَانَةَ الْوَلَدِ عَنِ

❁ القول الراجح: هو قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في ردّ المحتار (ج:٣، ص:١٦٣)، وكذا في الخانية (ج:٢، ص:٤١١). [القول الراجح ج:١، ص:٤٣٧]

الضِّيَاعِ ځکه چي د رجم په ځنډولو کي له ضايع کېدلو څخه د بچي ساتل دي وَقَدْ رُوِيَ أَنَّهُ عليه السلام قَالَ❶ لِلْغَامِدِيَّةِ بَعْدَمَا وَضَعَتْ: ارْجِعِي حَتَّى يَسْتَغْنِيَ وَلَدُكِ او روايت سوی دی چي غامديه ښځي ته تر حمل زېږولو وروسته نبي ﷺ وفرمايل: واپس ولاړه سه! تر دې چي ستا بچی استا له پرورش څخه ابې پرواسي ثُمَّ الْحُبْلَى تُحْبَسُ إِلَى أَنْ تَلِدَ إِنْ كَانَ الْحَدُّ ثَابِتًا بِالْبَيِّنَةِ بيا به حامله ښځه د بچي تر زېږولو پوري بندي کېږي که چيري حدّ د ګواهۍ په ذريعه ثابت سوی وي كَيْ لَا تَهْرُبَ د دې لپاره چي هغه ونه تښتېږي بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ په خلاف د اقرار لِأَنَّ الرُّجُوعَ عَنْهُ عَامِلٌ ځکه چي له اقرار څخه رجوع عمل کونکې ده ايعني د حدّ ساقطونکې ده! فَلَا يُفِيدُ الْحَبْسُ نو اد اقرار په صورت کي د هغې ابندي کول فايده نه کوي الهذا تر اقرار وروسته به هغه نه بندي کيږي!.

اللغات: ﴿إِتْلَاف﴾ د افعال مصدر دی: ضايع کول، هلاکول (وژل). ﴿يَبْرَأُ﴾ د فتح مضارع ده: جوړېدل، روغېدل، ښه کېدل. ﴿لَا يُفْضِيْ﴾ د افعال له باب څخه د نفي صيغه ده: رسول، مراد ځني سبب جوړېدل دي. ﴿قَطْع﴾ پرېکول، غوڅول، مراد ځني د غله لاس غوڅول دي. ﴿تَتَعَالَى﴾ د تفاعل مضارع ده: پورته کېدل، يعني له نفاس څخه د ښځي وتل. ﴿يُؤَخِّر﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: ځنډول، مؤخّر کول. ﴿حُبْلَى﴾ بلاربه، حامله. ﴿تُحْبَس﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: قيدول، بندي کول، بنديخانې ته اچول.


تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري يو مريض زنا وکړي او هغه محصن وي يعني د رجم مستحق وي، نو هغه به بېله ځنډه رجم کيږي: ځکه کله چي پر هغه رجم واجب دی. او د رجم مقصد هلاکول او وژل دي، نو د مرض په وجه به د هغه إهلاک (وژل) نه ځنډول کيږي. لېکن که دا مريض غيرِ محصن وي او د رجم مستحق نه وي، بلکي د هغه سزا جَلد يعني سُل دُرې وي، نو د هغه تر صحت او روغتيا پوري به د هغه سزا ځنډول کيږي، او د مرض (ناجوړی) په حالت کي به هغه نه وهل کيږي: ځکه چي د مرض په حالت کي په دُرو سره وهل د هلاکت (مرګ) سبب جوړيږي. حالانکي په جَلد سره إهلاک مقصود نه دی. همدا وجه ده چي په زيات يخ او په زياته ګرمي کي د غله (سارق) لاس نه غوڅول کيږي چي دا قطع د هلاکت سبب جوړه نه سي.

❶تخريج: أخرجه مسلم رقم الحديث:١٦٩٥ وابن أبي شيبة تحت رقم الحديث:٢٨٨٠٩

وإذا زنت الحامل إلخ: د دې حاصل دا دی که چیري حامله ښځه زنا وکړي او هغه د رجم مستحقه وي، نو تر څو چي د هغې بچی پیدا نه سي، تر هغه وخته به نه رجم کیږي، ځکه چي د حاملې په رجم کولو سره به د هغې بچی هلاک سي، حالانکي د هغې بچی نفس محترم دی او هغه هیڅ خطاء نه ده کړې، نو د بچي د ساتني لپاره به د حمل د زیږولو تر وخته پوري د هغې رجم ځنډول کیږي.

او که د هغې حد جَلد یعني سل دُرې وي، نو په دې صورت کي به له حمل زیږولو څخه وروسته د نفاس تر ختمېدلو پوري د هغې د جَلد سزا ځنډول کیږي، ځکه چي نفاس هم یو ډول مرض او ناجوړي ده. لهذا د نورو مرضونو په څیر به د نفاس په وجه هم جَلد مؤخر کیږي. (او هر کله چي نفاس ختم سي، نو بیا به هغې ته سزا ورکول کیږي). او د رجم کولو په صورت کي به تر حمل زیږولو وروسته ښځه رجم کیږي ځکه چي په رجم کي إهلاک مقصود وي، او مرض له هغه څخه مانع نه دی. لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله یو روایت دا دی چي تر حمل زیږولو وروسته به سمدستي ښځه نه رجم کیږي، او که د هغې د بچي د پرورش او پالني لپاري یو څوک نه وي، نو تر دومره وخت پوري به رجم ځنډول کیږي، تر څو چي بچی له هغې څخه مستغني سي، ځکه چي تر دې مخکي د مور په رجم کولو سره بچی ضایع کیږي، حالانکي مور ته د بچي د حفاظت او ساتلو حکم سوی دی، نه د إتلاف او ضایع کولو. د دې نقلي دلیل دا دی چي نبي کریم ﷺ غامدیه ښځي ته دا فرمایلي وو چي "إرْجِعِيْ حَتّٰى يَسْتَغْنِيَ وَلَدُكِ". یعني تر څو چي ستا له پرورش څخه بچی مستغني نه سي، تر هغه وخته پوري مور تا نه رجم کوو. بیا هغه ولاړه او خپل بچی یې را ویستی او د نبي ﷺ په خدمت کي یې حاضر کړی او هغه ډوډۍ خوړل. نبي ﷺ چي بچی ولیدی چي غټ دی او د مور له پرورش څخه مستغني دی، نو بیا یې پر هغې د رجم حکم صادر کړی. معلومه سوه چي د بچي تر مستغني کېدلو رجم ځنډول زیات غوره دي.

ثم الحبلیٰ إلخ: فرمایي که د حاملې ښځي زنا په ګواهۍ سره ثابته سوې وي، نو د بچي تر زیږولو پوري به هغه بندي کیږي، د دې لپاره چي هغه فرار اختیار نه کړي. لیکن که د هغې په اقرار سره زنا ثابته سوې وي، نو بیا د هغې د بندي کولو هیڅ ضرورت نسته، ځکه چي په دې صورت کي هغې ته دا حق هم سته چي له زنا څخه رجوع وکړي، او د رجوع په ذریعه حدّ ساقط کړي. نو ځکه به هغه نه بندي کیږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْوَطْءِ الَّذِي يُوجِبُ الْحَدَّ وَالَّذِي لَا يُوجِبُهُ

(د) باب د هغه وطي (په بيان کي) دی چي حدّ واجبوی او هغه چي حدّ نه واجبوي

کومي وطي ته زنا وايي او د کومي وطي په وجه حد واجبيږي؟ (تفصيلي بيان)

قَالَ: اَلْوَطْءُ الْمُوْجِبُ لِلْحَدِّ هُوَ الزِّنَا فرمايي: چي د حدّ واجبونکي وطي زنا ده وَإِنَّهُ فِي عُرْفِ الشَّرْعِ وَاللِّسَانِ: وَطْءُ الرَّجُلِ الْمَرْأَةَ فِي الْقُبُلِ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ وَشُبْهَةِ الْمِلْكِ او د شريعت او لغت په عرف کي د زنا معنیٰ دا ده: چي سړی د داسي ښځي سره په فرج کي وطي وکړي چي [په هغې کي د سړي] ملکيت [هم] نه وي او د ملکيت شبهه [هم] نه وي لِأَنَّهُ فِعْلٌ مَحْظُوْرٌ ځکه چي دا ممنوع [انا روا] کار دی وَالْحُرْمَةُ عَلَى الْإِطْلَاقِ عِنْدَ التَّعَرِّي عَنِ الْمِلْكِ وَشُبْهَتِهِ او مطلق حرمت هغه وخت ثابتيږي کله چي وطي له ملکيت او د ملکيت له شبهي څخه خالي وي يُؤَيِّدُ ذٰلِكَ قَوْلُهُ عليه السلام [1] اِدْرَءُوا الْحُدُوْدَ بِالشُّبُهَاتِ [او] د نبي کريم ﷺ دا قول "اِدْرَءُوا الْحُدُوْدَ بِالشُّبُهَاتِ" هم د دې تائيد کوي [چي د ملکيت په شبهي سره حدّ ساقطيږي او مطلق حرمت نه پاتيږي. د حديث معنیٰ ده: چي تاسي د شبهاتو په وجه حدود دفع کړئ!] ثُمَّ الشُّبْهَةُ نَوْعَانِ: شُبْهَةٌ فِي الْفِعْلِ وَتُسَمَّى شُبْهَةَ اشْتِبَاهٍ وَشُبْهَةٌ فِي الْمَحَلِّ وَتُسَمَّى شُبْهَةً حُكْمِيَّةً بيا شبهه پر دوه قسمه ده: ① شبهه في الفعل او دې ته شبهۀ اشتباه ويل کيږي. ② او شبهه في المحل او دې ته شبهۀ حکميه ويل کيږي فَالْأُوْلَى تَتَحَقَّقُ فِي حَقِّ مَنِ اشْتَبَهَ عَلَيْهِ نو اول قسم [شبهه في الفعل] د هغه انسان [مجرم] په حق کي ثابتيږي چي پر هغه فعل [او ملکيت] مشتبه سي لِأَنَّ مَعْنَاهُ: أَنْ يَظُنَّ غَيْرُ الدَّلِيلِ دَلِيلًا ځکه چي د دې مطلب دا دی: چي انسان پر هغه شي د دليل ګومان وکړي کوم چي دليل نه وي وَلَا بُدَّ مِنَ الظَّنِّ لِتَحَقُّقِ الِاشْتِبَاهِ

---

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في المصنف، رقم الحديث: ٢٨٤٩٧، ولكن في الحديث: ادفعوا مكان ادرءوا.

او ا په دې صورت كې ا د اشتباه د ثابتېدلو لپاره د گومان وجود ضروري دی اچې مجرم ووايي: چې ما دا گومان وكړی چې دا ښځه زما لپاره حلاله ده ا وَالثَّانِيَةُ تَتَحَقَّقُ بِقِيَامِ الدَّلِيلِ النَّافِي لِلْحُرْمَةِ فِي ذَاتِهِ او دويم قسم اشبهه فی المحل ا د داسې دليل په موجودېدلو سره ثابتيږي كوم چې بذات خود د حرمت نفي كونكي وي وَلَا تَتَوَقَّفُ عَلَى ظَنِّ الْجَانِي وَاعْتِقَادِهِ او دويم قسم د مجرم پر گومان او اعتقاد [يقين] باندې نه موقوف كيږي وَالْحَدُّ يَسْقُطُ بِالنَّوْعَيْنِ او حدّ به په دواړو قسمونو سره ساقطيږي لِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ ځكه چې حديث مطلق دی وَالنَّسَبُ يَثْبُتُ فِي الثَّانِيَةِ إِذَا ادَّعَى الْوَلَدَ او كه چيرې زاني امجرم ا د بچي د نسب دعوىٰ وكړي نو په دويم قسم كې اد هغه سره د بچي ا نسب ثابتيږي وَلَا يَثْبُتُ فِي الْأُولَى وَإِنْ ادَّعَاهُ البكن ا په اول قسم كې نه ثابتيږي كه څه هم هغه د نسب دعوىٰ وكړي لِأَنَّ الْفِعْلَ تَمَحَّضَ زِنًا فِي الْأُولَى ځكه چې په اول كې صورت كې فعل اوطي ا خالص زنا ده وَإِنَّمَا يَسْقُطُ الْحَدُّ لِأَمْرٍ رَاجِعٍ إِلَيْهِ وَهُوَ اشْتِبَاهُ الْأَمْرِ عَلَيْهِ او ا په اول صورت كې به ا حدّ ځكه ساقطيږي چې واطئ د داسې شي دعوىٰ كړې ده كوم چې د ده وطرف ته راجع دي او هغه پر ده د فعل او ملكيت ا مشتبه كېدل دي ايعني د زاني گومان دا دی چې دا ښځه زما لپاره حلاله ده ا وَلَمْ يَتَمَحَّضْ فِي الثَّانِيَةِ او په دويم قسم اشبهه فی المحل ا كې فعل خالص زنا نه ده فَشُبْهَةُ الْفِعْلِ فِي ثَمَانِيَةِ مَوَاضِعَ او شبهه فی الفعل په اتو ا۸ا ځايونو كې ستة جَارِيَةِ أَبِيهِ ا۱ا د خپل پلار د مينځې سره په وطي كولو كې وَأُمِّهِ ا۲ا د خپل مور د مينځې سره په وطي كولو كې وَزَوْجَتِهِ ا۳ا او د خپلې ښځې د مينځې سره په وطي كولو وَالْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ ا۴ا او د مطلقه ثلاثه په عدت كې د هغې سره په وطي كولو كې ايعني چې خاوند خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړي او بيا د هغې په عدت كې وطي ورسره وكړي، نو په دې صورت كې هم شبهه بالفعل سته ا وَبَائِنًا بِالطَّلَاقِ عَلَى مَالٍ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ ا۵ا او د مال په عوض كې د طلاق بائن وركول سوي ښځې په عدت كې د هغې سره په وطي كولو كې ايعني چې خاوند خپلې ښځې ته د مال په بدله كې طلاقِ بائن وركړي، او بيا په عدت كې وطي ور سره وكړي ا وَأُمِّ وَلَدٍ أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ ا۶ا او د خپلې آزادي كړی سوي اُم ولد په عدت كې د هغې سره په وطي كولو كې ايعني چې مالك خپله مينځه آزاده كړي او بيا د هغې سره په عدت كې وطي

وکړي ا وَجَارِيَةِ الْمَوْلٰى فِي حَقِّ الْعَبْدِ ا٧ا او د خپل مالک د مينځې سره د غلام په وطي کولو کې ايعني چې غلام د خپل مالک د مينځې سره وطي وکړي ا وَالْجَارِيَةِ الْمَرْهُونَةِ فِي حَقِّ الْمُرْتَهِنِ فِي رِوَايَةِ كِتَابِ الْحُدُودِ ا٨ا او د مرهونه مينځې سره د مرتهن په وطي کولو کې د کتابُ الحدود د روايت مطابق ايعني چې راهن خپله مينځه مرتهن ته په رهن کې کښېږدي او مرتهن د هغې سره وطي وکړي. نو د کتابُ الحدود مطابق په دې صورت کې هم شبهه سته ا فَفِي هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ لَا حَدَّ عَلَيْهِ إِذَا قَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِيْ نو که چيرې په دې اا ته ا ځايونو کې واطئ داسې ووايي: زما ګومان دا وو چې دا ښځه زما لپاره حلاله ده. نو پر هغه حدّ نه واجبيږي وَلَوْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ وَجَبَ الْحَدُّ او که چيرې هغه داسې ووايي: زه په دې خبر وم چې دا ښځه پر ما حرامه ده. نو حدّ نه واجبيږي وَالشُّبْهَةُ فِي الْمَحَلِّ فِي سِتَّةِ مَوَاضِعَ او شبهه في المحل په شپږو ځايونو کې سته جَارِيَةِ ابْنِهِ ا١ا د خپل زوی د مينځې سره په وطي کولو کې وَالْمُطَلَّقَةِ طَلَاقًا بَائِنًا بِالْكِنَايَاتِ ا٢ا د کنايي الفاظو په ذريعه د طلاقِ بائن ورکول سوي ښځې سره په وطي کولو کې وَالْجَارِيَةِ الْمَبِيْعَةِ فِي حَقِّ الْبَائِعِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ ا٣ا او د خرڅه کړې سوي مينځې تر ور سپارلو مخکې د هغې سره د بائع اخرڅونکي ا په وطي کولو کې ايعني چې مالک خپله مينځه خرڅه کړي او بيا مشتري ته تر ورسپارلو مخکې د هغې سره وطي وکړي، نو په دې صورت کې هم شبهه في المحل سته ا وَالْمَمْهُورَةُ فِي حَقِّ الزَّوْجِ قَبْلَ الْقَبْضِ ا٤ا او په مهر کې د ورکول سوي مينځې تر قبضه کولو مخکې د هغې سره د خاوند په وطي کولو کې ايعني چې خاوند خپلې ښځې ته په مهر کې مينځې ورکړي، او ښځې تر اوسه پر مينځې قبضه کړې نه وي، او خاوند د هغې سره وطي وکړي ا وَالْمُشْتَرَكَةُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ او د مشترکې مينځې سره د يو شريک په وطي کولو کې وَالْمَرْهُونَةُ فِي حَقِّ الْمُرْتَهِنِ فِي رِوَايَةِ كِتَابِ الرَّهْنِ او د مرهونه مينځې سره د مرتهن په وطي کولو کې د کتابُ الرهن د روايت مطابق فَفِي هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ لَا يَجِبُ الْحَدُّ وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ نو په دې ځايونو کې حدّ نه واجبيږي که څه هم واطئ داسې ووايي: زه په دې خبر وم چې دا ښځه پرما حرامه ده ثُمَّ الشُّبْهَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ تَثْبُتُ بِالْعَقْدِ وَإِنْ كَانَ مُتَّفَقًا عَلَى تَحْرِيمِهِ وَهُوَ عَالِمٌ بِهِ بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په عقد انکاح ا سره هم شبهه ثابتيږي که څه هم د عقد حراموالی متفق عليه وي. او واطئ د عقد په حراموالی خبر اهم ا

وي وَعِنْدَ الْبَاقِيْنَ لَا تَثْبُتُ إِذَا عَلِمَ بِتَحْرِيْمِهِ او د پاته فقهاؤ په نېز که چيري واطئ د دې عقد په حراموالي خبر وي نو شبهه نه ثابتيږي وَيَظْهَرُ ذٰلِكَ فِيْ نِكَاحِ الْمَحَارِمِ عَلٰى مَا يَأْتِيْكَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او د محرماتو په نکاح کي د دې اختلاف ثمره به انشاء الله ستا مخ ته | په تفصيلي توګه | راسي.

اللغات: ﴿قُبُل﴾ د ښځي مخکنی شرمګاه، فرج. ﴿محظور﴾ ممنوع، ناجائز، ناروا. ﴿التعرّي﴾ د تفعّل مصدر دی: خالي کېدل. ﴿إِدْرَءُوا﴾ د فتح له باب څخه د جمع مذکر امرِ حاضر صيغه ده: ليري کول، دفع کول. ﴿ظَنّ﴾ ګومان. ﴿جَانِي﴾ جرم کونکی (مجرم). ﴿مَبِيْعَة﴾ د ضرب له باب څخه د مؤنث اسمِ مفعول صيغه ده: خرڅه کړی سوې (هغه مينځه چي مالک يې خرڅه کړي). ﴿مَمْهُوْرَة﴾ دا هم د مؤنث اسمِ مفعول صيغه ده، له نصر او فتح دواړو څخه راځي: په مهر کي ورکول سوې مينځه. د مهر په توګه ورکول سوې مينځه. مَهَرَ يَمْهُرُ مَهْرًا: په مهر کي ورکول. په مهر کي ټاکل.

تشريح: د عبارت مطلب له ترجمې څخه واضح دی. خو ستاسي د آسانۍ لپاره د هغه خلاصه دا ده چي که د سړي لپاره په ښځه کي نه ملک نکاح وي، او نه ملک رقبه وي، او نه د ملک رقبه شبهه وي. نو د داسي ښځي سره وطي کولو ته زنا وايي (يعني که يو سړی د پردۍ ښځي سره وطي وکړي چي هغه نه د ده ماينه وي، او نه يې مينځه وي. او د ماينې و مينځي له شبهي څخه هم وتلې وي، نو دغه وطي ته زنا وايي). او په دې زنا سره حدّ واجبيږي. لېکن که چيري ملک نکاح وي، يا ملک رقبه وي، يا د ملک رقبه شبهه وي او بيا سړی د ښځي سره وطي وکړي، نو حدّ ساقطيږي.

وروسته فرمايي چي شبهه پر دوه قسمه ده: ① په محل کي شبهه (شبهه في المحل). ② په فعل کي شبهه (شبهه في الفعل). (١) شبهه في المحل: دې ته شبههٔ حکميه هم وايي. د دې مطلب دا دی چي په ښځه (مينځه) کي د سړي د ملکيت (مالک کېدلو) شبهه وي. نو دا سړی که څه هم د هغې سره وطي حرام ګڼي او بيا وطي ور سره وکړي، نو هم به حدّ ساقطيږي، ځکه چي د ملکيت شبهه موجود ده. مثلاً که پلار د زوی د مينځي سره وطي وکړي، نو که څه هم پلار د هغې سره وطي حرام ګڼي، بيا هم حدّ ساقطيږي، ځکه چي د ملکيت شبهه موجود ده. لکه مخکي چي په دې هکله بحث وسو چي نبي ﷺ يو بچي ته وفرمايل: أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ.

(٢) شبهه في الفعل: دې ته شبههٔ اشتباه هم وايي. د دې مطلب دا دی چي د ملکيت شبهه نه وي. بلکي شبههٔ الشبهه وي. که په دې صورت کي سړی وطي حلال ګڼي او وطي وکړي، نو حدّ به ساقطيږي. او که وطي حرام ګڼي بيا هم وطي کړي، نو پر هغه به حدّ جاري کيږي. مثلاً د پلار مينځه

د زوی مینځه نه شمارل کیږي، لیکن د توسّع او نژدېکت پر بنیاد زوی د پلار شی استعمالولای سي، نو په دې وجه زوی ته دا شبهه پیدا کیږي چي د پلار مینځي به هم د هغه وي، اوس که چیري زوی د پلار د مینځي سره وطي وکړي، او د هغه دا گومان وي چي په دې مینځه کي زما ملکیت سته، نو د ملکیت د شبهي په به وجه حدّ ساقطیږي، لیکن که زوی ووایي چي دا زما لپاره حرامه ده، بیا هم وطي ور سره وکړي، نو پرَ هغه به حدّ جاري کیږي (ځکه چي د هغه په گومان کي هم د ملکیت شبهه نسته).

فالأولى تتحقق في حق من اشتبه إلخ: د دې حاصل دا دی چي شبهه فی الفعل د هغه سړي حق کي ثابتیږي چي په حقیقت کي د هغه لپاره په ښځه کي د ملکیت دلیل موجود نه وي، لیکن هغه خپل د ملکیت شبهه او گومان کوي او داسي شی دلیل گڼي چي هغه دلیل نه وي (مثلاً د زوی مثال کوم چي لوړ ذکر سو، یا مثلاً خاوند د خپلي ښځي د مینځي سره وطي حلال وگڼي، حالانکي د هغې سره وطي حلال نه دي، ځکه چي د ښځي له مینځي څخه فقط خدمت اخیستل حلال دي، لیکن وطي حلال نه دي)، نو په دغه صورت کي د حدّ ساقطولو لپاره د واطئ سړي گومان ضروري دی، یعني که هغه دا ووایي چي ما دا ښځه د ځان لپاره حلاله گڼله، بیا به حدّ ساقطیږي، او که ووایي چي ما حرامه گڼله، نو حدّ به جاري کیږي، ځکه چي په حقیقت کي د حلالوالي دلیل (شبهه) موجود نه سو.

والثانية تتحقق إلخ: د دې عبارت حاصل دا دی چي شبهه فی الملک د داسي دلیل په وجه سره ثابتیږي، کوم چي بذات خود د وطي حُرمت نفي کوي (یعني په ښځه کي د ملکیت شبهه موجوده وي)، نو په دې صورت کي د واطئ گومان ضروري نه دی، یعني که څه هم هغه وطي حرام گڼي، نو هم به حدّ نه جاري کیږي، (ځکه چي په دې صورت کي د ملکیت شبهه موجود ده).

والحد يسقط بالنوعين: فرمایي چي حدّ د شبهي په دغه دواړو قسمونو سره ساقطیږي، ځکه چي دا حدیث إِدْرَءُوا الحُدُوْدَ بَالشُّبُهَاتِ مطلق دی، او د شبهه فی المحل یا شبهه فی الفعل قید پکښي ذکر سوی نه دی.

والنسب يثبت إلخ: په شبهه فی الفعل او شبهه فی المحل کي فرق دا دی چي که په شبهه فی المحل کي واطئ سړی د خپلي وطي څخه د پیدا سوي کوچني د نسب دعویٰ وکړي، نو د هغه بچي نسب د ده سره ثابتیږي، ځکه چي د شبهه فی المحل په وجه د هغه فعل یعني وطي خالص زنا نه سوه، او څرنگه چي د نسب په ثابتولو کي احتیاط کیږي، نو ځکه به د دې واطئ په دعویٰ سره د هغه بچي نسب د ده سره ثابتیږي، د دې په خلاف که واطئ په شبهه فی الفعل کي د خپلي وطي څخه د پیدا سوي کوچني د نسب دعویٰ وکړي، نو د دعویٰ باوجود هم د ده سره د بچي نسب نه ثابتیږي، ځکه

چې په محل يعني په موطوئه ښځه کې د هغه هيڅ حق نسته. او د هغه وطي خالص زنا واقع سوه. لېکن څرنګه چې په دې قِسم (شبهه فى الفعل) کې زاني د خپل ملکيت ګومان او شبهه لري او د فعل د اشتباه دعوىٰ کوي، نو په دې وجه له هغه حدّ ساقطيږي.

فشبهة الفعل إلخ: شبهه فى الفعل په اته ځايونو کې ثابتيږي، کوم چې په ترجمه کې په وضاحت سره ذکره سول، او د هغوى حکم هم په ترجمه کې بيان سو.

ثم الشبهة عند أبي حنيفة إلخ: د دې حاصل دا دى چې که يو څوک د محرمي ښځي سره نکاح وکړي (يعني داسي ښځه چې د همېشه لپاره نکاح کول ور سره حرام وي)، مثلاً يو څوک د خور سره نکاح وکړي او ايجاب او قبول وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په داسي عقد سره هم شبهه ثابتيږي. او په دې شبهه سره به هم حدّ ساقطيږي، لېکن د نورو علماؤ په نېز که واطئ د داسي عقد په حراموالي خبري وي، نو بيا په هغه سره شبهه نه ثابتيږي، لهذا که يو څوک د خبر تيا باوجود د محرمي ښځي سره نکاح وکړي او بيا وطي ور سره وکړي، نو د نورو علماؤ په نېز پر هغه حدّ جاري کيږي. او د دې اختلاف نور وضاحت به وروسته انشاء الله ذکر سي.

د طلاقِ مغلظه په عدت کې وطي کول

إِذَا عَرَفْنَا هٰذَا وَمَنْ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ وَطِئَهَا فِي الْعِدَّةِ کله چې موږ دا وپېژندل [نو اوس دا هم په ياد لرئ] چې که څوک خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړي بيا په عدت کې د هغې سره وطي وکړي وَقَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ او [بيا] ووايي: چې زه په دې خبر وم چې هغه پر ما حرامه ده حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري کيږي لِزَوَالِ الْمِلْكِ الْمُحَلِّلِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چې [د درېو طلاقو په وجه] حلالونکى ملکيت په هر اعتبار سره زائل سو فَتَكُونُ الشُّبْهَةُ مُنْتَفِيَةً نو ځکه به شبهه ختمه [او معدومه] وي وَقَدْ نَطَقَ الْكِتَابُ بِانْتِفَاءِ الْحِلِّ او قرآن کريم [هم] د حلت ختمېدلو خبره بيان کړې ده وَعَلٰى ذٰلِكَ الْإِجْمَاعُ او پر همدې اجماع سوې ده وَلَا يُعْتَبَرُ قَوْلُ الْمُخَالِفِ فِيهِ او په دې سلسله کې د مخالفينو قول معتبر نه دى [يعني کوم خلک چې په دې هکله خلاف کوي او وايي چې په درېو طلاقو سره يو طلاق واقع کيږي، د هغو قول بالکل معتبر نه دى] لِأَنَّهُ خِلَافٌ لَا اخْتِلَافٌ ځکه چې دا خلاف دى اختلاف نه دى وَلَوْ قَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي او که هغه ووايي: چې ما دا ګومان وکړى چې هغه زما لپاره حلاله ده لَا يُحَدُّ نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّ الظَّنَّ فِي مَوْضِعِهِ ځکه چې د هغه

ګومان پر خپل ځای دی لِأَنَّ أَثَرَ الْمِلْكِ قَائِمٌ فِي حَقِّ النَّسَبِ وَالْحَبْسِ وَالنَّفَقَةِ ځکه چي ا د عدت په دوران کي ا د ملکيت اثر د نسب، حبس او نفې په حق کي پاته وي فَاعْتُبِرَ ظَنُّهُ فِي إِسْقَاطِ الْحَدِّ لهذا د حدّ په ساقطولو کي به د هغه ګومان معتبر وي وَأُمُّ الْوَلَدِ إِذَا أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَالْمُخْتَلِعَةُ وَالْمُطَلَّقَةُ عَلَى مَالٍ بِمَنْزِلَةِ الْمُطَلَّقَةِ الثَّلَاثَ او أم ولد چي کله خپل مالک آزاده کړي او خلع کونکي ښځه او د مال په بدله کي طلاقه سوې ښځه د مطلقه ثلاثه په درجه کي دي لِثُبُوتِ الْحُرْمَةِ بِالْإِجْمَاعِ ځکه چي ا د دې ښځو ا حرمت په إجماع سره ثابت دی وَقِيَامِ بَعْضِ الْآثَارِ فِي الْعِدَّةِ او په عدت کي ا د نکاح د ملکيت ا ځيني آثار پاته دي وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ خَلِيَّةٌ أَوْ بَرِيَّةٌ أَوْ أَمْرُكِ بِيَدِكِ او که ايو شوک ا خپلي ښځي ته ووايي: ته خالي يې يا ته بري يې يا ستا اختيار ستا په لاس کي دی فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا بيا ښځي خپل ځان اختيار کړی ثُمَّ وَطِئَهَا فِي الْعِدَّةِ وَقَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ ا او ا بيا خاوند په عدت کې د هغې سره وطي وکړي او دا يې وويل: چي زه په دې خبر وم چي هغه پر ما حرامه ده لَمْ يُحَدَّ نو حدّ به نه پر جاري کيږي لِاخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فِيهِ ځکه چي په دې ا کنايي ا الفاظو کي د صحابه وو اختلاف دی فَمِنْ مَذْهَبِ عُمَرَ أَنَّهَا تَطْلِيقَةٌ رَجْعِيَّةٌ د حضرت عمر رضي الله عنه مذهب دا دی چي دا الفاظ طلاق رجعي دی ا يعني په دې الفاظو سره طلاق رجعي واقع کيږي ا وَكَذَا الْجَوَابُ فِي سَائِرِ الْجِنَايَاتِ او د ټولو کناياتو همدغه حکم دی وَكَذَا إِذَا نَوَى ثَلَاثًا او همدارنګه کله چي هغه ا په دې الفاظو سره ا د دريو طلاقو نيت وکړي اِنو هم به حدّ نه پر جاري کيږي ا لِقِيَامِ الْاِخْتِلَافِ مَعَ ذَلِكَ ځکه چي په دې صورت کي اهم ا اختلاف دی.

اللغات: ﴿حُدَّ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: حد تا کل. حد جاري کول. ﴿مُحَلِّل﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: حلالونکی. حلال ګرځونکی. ﴿نَطَقَ﴾ د ضرب ماضي ده: خبره کول. بيانول. ﴿حَبْس﴾ د ضرب مصدر دی: قيدول. منع کول. ﴿خَلِيَّة﴾ د صفت مشبه مؤنث صيغه ده: خالي. دا کلمه له طلاق څخه کنايه ده. ﴿بَرِيَّة﴾ مخکني صيغه ده: بري. بېزاره. خلاصه. دا هم له طلاق څخه کنايه ده.

تشريح : مسئله : دا ده كه يو سړى خپلې ښځې ته درې طلاقه ور كړي، او بيا د هغې په عدت كي وطي ور سره وكړي او بيا داسي ووايي چي "ما ته معلومه وه چي زما لپاره د هغې سره وطي كول حرام دي"، نو پر هغه به حد جاري كيږي: ځكه چي د درېو طلاقونو په وجه سره د وطي او جماع حلالونكي ملكيت په بشپړه توګه زائل سو، لكه څرنګه چي د قرآن كريم په دې آيت كي د هغه زوال بيان سوى دى "فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥ"، او پر دې باندي د اُمت اجماع هم سوې ده، نو دلته شبهه في المحل او شبهه في الفعل دواړه منتفي او نيستي سوه. لهذا كله چي دلته بالكل هيڅ شبهه نسته، نو ښكاره خبره ده چي حد به خامخا واجبيږي. پاته سو دا اعتراض چي د "إماميه" ډلي په نيز درې طلاقه معتبر نه دي، او د "زيديه" ډلي په نيز درې طلاقه يو طلاق دى. لهذا ستاسي دا خبره صحيح نه ده چي دلته بالكل شبهه نسته؟ د دې اعتراض جواب دا دى چي دا خلاف دى، اختلاف نه دى، او موږ دا اختلاف جواب ور كوو، نه د خلاف. او په اختلاف او خلاف كي فرق دا دى چي په اختلاف كي مقصد متحد وي او طريقه مختلفه وي. لېكن په خلاف كي طريقه او مقصد دواړه مختلف وي. (عنايه او بنايه ج:۶، ص:۲۴۴)

او كه خاوند ووايي چي "زما ګومان دا وو چي هغه زما لپاره (په عدت كي) حلاله ده"، نو پر خاوند به حد نه جاري كيږي: ځكه چي د هغه ګومان پر خپل ځاى دى. ځكه چي اوس هم د هغه د نكاح أثر د نسب، نفقې او منع عن الخروج په حق كي پاته دى. يعني كه چيري د دې ښځي بچى پيدا سي، نو د هغه نسب د دې خاوند سره ثابتيږي، همدارنګه ښځه د عدت په ورځو كي د دغه نكاح په وجه وتلاى نه سي. او د نكاح د أثر پاتېدلو په وجه پر خاوند د هغې د عدت د ورځو نفقه واجب ده. نو كله چي په دې وجهو سره په ښځه كي د دغه خاوند د نكاح اثر پاته دى. نو د حد په ساقطولو كي به هم دا أثر مؤثر او اغېزمن وي، او د خاوند ګومان ته به اعتبار ور كول كيږي.

وأم الولد إلخ: فرمايي ① كه چيري مالك خپل اُم ولد آزاده كړي او بيا په عدت كي د هغې سره وطي وكړي، ② يا ښځه د خاوند سره خلع وكړي او خاوند د هغې سره په عدت كي وطي وكړي. ③ يا خاوند ښځي ته د مال په بدله كي طلاق وركړي او بيا په عدت كي وطي ورسره وكړي. نو دا درې سره ښځي د مطلّقه مغلظه (مطلقه ثلاثه) په حكم كي دي، يعني كه تر وطي وروسته واطئ (خاوند) ووايي: عَلِمۡتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ، نو پر هغه به حد جاري كيږي، او كه هغه ووايي: ظَنَنۡتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي، نو حد به نه پر جاري كيږي، ځكه چي د دې ښځو حرمت د ټولو په اتفاق سره ثابت دى. او د عدت په ورځو كي د نكاح يو څو آثار پاته وي.

ولو قال لها أنت خلية إلخ: د دې حاصل دا دی چي که خاوند په کنايي الفاظو سره خپلې ښځي ته طلاق ورکړي. بیا د عدت په دوران کي د هغې سره وطي وکړي او بیا ووايي "علمتُ أنها عليّ حرام". نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي، ځکه چي په کنايي الفاظو سره په واقع کېدونکي طلاق کي د صحابه وو اختلاف دی، د حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه په نېز په کنايي الفاظو سره طلاق رجعي واقع کيږي. او د حضرت علي او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په نېز په دې الفاظو سره طلاق بائن واقع کيږي. همدارنګه که خاوند په کنايي الفاظو سره د درې طلاقو نيت وکړي او بیا د عدت په دوران کي د هغې سره وطي وکړي او ووايي: "علمتُ أنها عليّ حرام"، نو په دې صورت کي به هم پر هغه حدّ نه جاري کيږي، ځکه چي په کنايي الفاظو سره د درې طلاقو نيت کول هم د صحابه وو په مينځ کي مختلف فيه دي، نو د اختلاف په وجه د ملکيت شبهه موجوده ده، او کله چي شبهه سته، نو ښکاره خبره ده چي حدّ به ساقطيږي.

د زوی د مینځي سره وطي کول

وَلَا حَدَّ عَلَى مَنْ وَطِئَ جَارِيَةَ وَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ او پر هغه کس حدّ نشته چي هغه د خپل زوی او د خپل لمسي د مینځي سره وطي وکړي وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ که څه هم هغه ووايي: چي زه په دې خبر وم چي هغه پر ما حرامه ده لِأَنَّ الشُّبْهَةَ حُكْمِيَّةٌ ځکه چي شبههٔ حکميه [شبهه في المحل] موجوده ده لِأَنَّهَا نَشَأَتْ عَنْ دَلِيلٍ ځکه چي دا شبهه له يو دليل څخه پيدا سوې ده وَهُوَ قَوْلُهُ عليه السلام: أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ [1] او هغه د نبي ﷺ دا فرمان دی: ته او ستا مال د خپل پلار [په ملکيت کي] ياست وَالْأُبُوَّةُ قَائِمَةٌ فِي حَقِّ الْجَدِّ او د نيکه په حق کي [هم] پلار والی موجود دی وَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ او د واطئ [پلار او نيکه] سره به د هغه بچي نسب ثابتيږي وَعَلَيْهِ قِيمَةُ الْجَارِيَةِ او پر واطئ به د مینځي قيمت واجب وي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او موږ [مخکي] دا [خبره] ذکر کړه وَإِذَا وَطِئَ جَارِيَةَ أَبِيهِ أَوْ أُمِّهِ أَوْ زَوْجَتِهِ وَقَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي او کله چي [يو څوک] د خپل پلار يا د خپلي مور يا د خپلي ښځي د مینځي سره وطي وکړي او [بيا] ووايي: ما دا ګومان وکړی چي هغه زما لپاره حلاله ده فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَلَا عَلَى قَاذِفِهِ نو پر هغه حدّ نشته او نه د هغه پر تهمت لګونکي حدّ سته وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ

[1] تخريج: رواه ابن ماجة في السنن، رقم الحديث: ٢٢٩١.

أنّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ او که هغه ووايي: چي زه په دې خبر وم چي هغه زما لپاره حلاله ده حُدَّ نو حدّ به پر جاري کيږي وَكَذَا الْعَبْدُ إِذَا وَطِئَ جَارِيَةَ مَوْلَاهُ او همدارنګه کله چي غلام د خپل مالک د مينځي سره وطي وکړي انو هم دا حکم دی ا لِأَنَّ بَيْنَ هٰؤُلَاءِ انْبِسَاطًا فِي الِانْتِفَاعِ ځکه چي د دې کسانو په مينځ کي په خپله خوښه نفع اخيستل جاري دی امطلب دا چي دا کسان د يوه او بل مال په لوی لاس او په آزاده توګه استعمالوي. او شپه او ورځ يو ځای ږوږي. سره خوري چي په هغه کي خامخا د يوه او بل مال استعمالول راځي ا فَظَنُّهُ فِي الِاسْتِمْتَاعِ مُحْتَمَلٌ نو د واطئ د فايدې اخيستلو د ګومان احتمال هم پيدا سو امطلب دا چي د دومره انبساط په وجه واطئ دا ګومان سو چي زما لپاره به د وطي ګنجائش هم وي ا فَكَانَ شُبْهَةَ اِشْتِبَاهٍ نو ځکه به دا د اشتباه شبهه اشبهه فى الفعل ا وي إِلَّا أَنَّهُ زِنًا حَقِيقَةً خو څرنګه چي دا حقيقتاً زنا ده فَلَا يُحَدُّ قَاذِفُهُ نو ځکه به د هغه پر تهمت لګوني حدّ نه جاري کيږي وَكَذَا إِذَا قَالَتِ الْجَارِيَةُ: ظَنَنْتُ أَنَّهُ يَحِلُّ لِيْ او همدارنګه کله چي مينځه ووايي: چي ما دا ګومان وکړی چي ازما د مالک ا دا غلام زما لپاره حلال دی وَالْفَحْلُ لَمْ يَدَّعِ او غلام هيڅ دعوىٰ نه وکړي فِي الظَّاهِرِ انو هم به ا په ظاهر روايت کي اپر غلام حدّ نه جاري کيږي ا لِأَنَّ الْفِعْلَ وَاحِدٌ ځکه چي فعل ازنا ا يو دی وَإِنْ وَطِئَ جَارِيَةَ أَخِيهِ أَوْ عَمِّهِ وَقَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي او که چيري ايو څوک ا د خپل ورور يا د خپل اکا د مينځي سره وطي وکړي او ابيا ا ووايي: چي ما دا ګومان وکړی چي دا مينځه زما لپاره حلاله ده حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ لَا انْبِسَاطَ فِي الْمَالِ فِيمَا بَيْنَهُمَا ځکه چي د دې دوو کسانو ايعني د وراره او اکا او د ورونو ا په مينځ کي په خپله خوښه نفع اخيستل جاري نه دي وَكَذَا سَائِرُ الْمَحَارِمِ سِوَى الْوِلَادِ او همدا حکم د ټولو محارمو دی ماسوا له ولادتي محارمو څخه ايعني هغه محارم د چي د ولادت او پيدائشت په قرابت کي سره شريکان وي. مثلاً پلار وزوی. نيکه ولمسی او داسي نورا لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿نَشَأَتْ﴾ د فتح له باب څخه ماضي ده: پيدا کېدل. ﴿أُبُوَّة﴾ پلار والی. پلار کېدل. ﴿قَاذِف﴾ د ضرب اسم فاعل دی: تهمت لګونکی. ﴿إنبساط﴾ د انفعال مصدر دی: خوشحاله کېدل، تندی ورېنول، پراخېدل، بې تکلف کېدل، ﴿فَحْل﴾ نر. مينده. مراد ځني غلام دی.

تشريح : مسئله : دا ده چي د زوی يا د لمسي د مينځي سره وطي کول د حدّ موجب نه دي. ځکه چي دلته شبهۀ حکميه (شبهه فى المحل) موجوده ده کوم چي د أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ په حديث سره ثابته ده. او تر وطى وروسته د واطئ له نطفې څخه د پيدا سوي بچي نسب به هم د هغه سره ثابتيږي که چيري هغه د بچي د نسب دعوىٰ وکړي. لکه څرنګه چي د شبهۀ حکميه او د شبهۀ اشتباه د فرق په بحث کي موږ دا خبره بيان کړه.

که چيري يو څوک د خپل پلار يا د خپلي مور يا د خپلي ښځي د مينځي سره وطي وکړي. يا غلام د خپل مالک د مينځي سره وطي وکړي، او د هغه سړي يا غلام ګومان دا وي چي د دې مينځي سره زما لپاره وطي حلال دي، نو په دې صورت کي نه پر واطئ حدّ واجبيږي، او نه پر هغه سړي حدّ واجبيږي کوم چي د دغه وطي په وجه پر واطئ د زنا تهمت ولګوي. ځکه چي دا کسان (يعني زوی او پلار، يا خاوند او ښځه او داسي نور) په خپله خوښه او ورين تندي سره يو د بل مال استعمالوي، او په دوی کي د يو او بل د مال استعمالولو عادت جاري دی (او شپه او ورځ يو ځای ډوډۍ سره خوري). او څرنګه چي د واطئ ګومان هم د وطي د حلال والي دی، نو په دې وجه دلته شبهۀ اشتباه (شبهه فى الفعل) موجوده سوه او هغه حدّ ساقطوي. لېکن که چيري واطئ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ ووايي او د حُرمت په ګومان د خپل پلار يا د خپلي مور او داسي نورو د مينځي سره وطي وکړي، نو پر هغه حدّ واجبيږي، ځکه چي مخکي دا خبره تېره سوه چي د شبهۀ اشتباه د تحقق او ثبوت لپاره د واطئ د ظن او ګومان وجود ضروري دی. او دلته ظن نسته. نو ځکه د شبهي يو قسم ثابت نه سو او د واطئ فعل خالص زنا سوه، نو ځکه به پر هغه حدّ جاري کيږي. او د دې زنا په وجه به د هغه پر قاذف (تهمت لګونکي) حدّ واجب نه وي، ځکه چي يقيناً واطئ زنا کړې ده.

وكذا إذا قالت إلخ: فرمايي که يو غلام د خپل مالک د مينځي سره وطي وکړي او بيا ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِيْ يا عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ نه ووايي. لېکن مينځه ظَنَنْتُ أَنَّهُ يَحِلُّ لِيْ ووايي او خپل ظن څرګند او بيان کړي. نو د شبهي په تحقق او ثبوت کي به د هغې د ګومان اعتبار کيږي او دواړه به له حدّ څخه ژغورل کيږي. ځکه چي د زنا فعل د دواړو وطرف ته منسوب دی، او دواړو په ګډه دا کار کړی دی. لهذا کله چي له مينځي څخه د هغې د ګومان د څرګندولو په وجه حدّ ساقطيږي نو له غلام څخه به هم ساقطيږي.

وإن وطى إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو څوک د خپل ورور يا د خپل ماما يا د خپلي خاله د مينځي سره وطي وکړي او ګومان يې دا وي چي زما وطي د هغې سره حلال دي، نو هم به پر هغه حدّ جاري کيږي. ځکه چي دا کسان په خپل مينځ کي په خپله خوښه او انبساط سره يو د بل مال نه استعمالوي (او په دوی کي د يوه او بل د مال استعمالولو عادت جاري نه دی). لهذا دلته د شبهي يو قسم نه ثابتيږي، نو ځکه به د هغه وطي خالص زنا وي او د حدّ لپاره به موجِب وي. فقط د ولادت په قرابت کي انبساط فى المال ثابت دی. نو ځکه به د ولادت په قرابت کي حدّ ساقطيږي.

د "وطي بالشبهه" يو څو صورتونه

وَمَنْ زُفَّتْ إِلَيْهِ غَيْرُ امْرَأَتِهِ او چا ته چي (د واده په اوله شپه) له خپلي ښځي څخه بغير (ابله ښځه) د ناوي په توګه را وستل سي وَقَالَتِ النِّسَاءُ: إِنَّهَا زَوْجَتُكَ او (نوري) ښځي (هغه ته) ووايي: چي دا ستا ښځه ده فَوَطِئَهَا او هغه وطي ور سره وکړي لَاحَدَّ عَلَيْهِ نو پر هغه حدّ نسته وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ او پر خاوند مهر واجب دی قَضَى بِذٰلِكَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَبِالْعِدَّةِ حضرت علي ﷺ هم په دې سلسله کي د مهر او عدت فيصله کړې ده وَلِأَنَّهُ اعْتَمَدَ دَلِيلًا او ځکه چي (دلته) خاوند پر يو دليل اعتماد کړی دی وَهُوَ الْإِخْبَارُ فِي مَوْضِعِ الْاِشْتِبَاهِ او هغه دليل (د خاوند) د شکمن کېدلو په ځای کي (د ښځو) خبر ورکول دي إِذِ الْإِنْسَانُ لَا يُمَيِّزُ بَيْنَ امْرَأَتِهِ وَبَيْنَ غَيْرِهَا فِي أَوَّلِ الْوَهْلَةِ ځکه چي اول وار انسان د خپلي ښځي او بلي (پردۍ) ښځي په مينځ کي توپير نه سي کولای فَصَارَ كَالْمَغْرُورِ نو هغه د دوکه ورکول سوي سړي په څېر سو وَلَا يُحَدُّ قَاذِفُهُ إِلَّا فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي يُوسُفَ ۞ او د هغه پر تهمت لګونکي به حدّ نه جاري کيږي مګر د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللّٰه په يوه روايت کي (به پر جاري کيږي) لِأَنَّ الْمِلْكَ مُنْعَدِمٌ حَقِيقَةً ځکه چي ملکيت په حقيقت کي نسته وَمَنْ وَجَدَ امْرَأَةً عَلَى فِرَاشِهِ او څوک پر خپله بستره يو ښځه ووېني فَوَطِئَهَا او د هغې سره وطي وکړي فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر هغه حدّ سته لِأَنَّهُ لَا اشْتِبَاهَ بَعْدَ طُولِ الصُّحْبَةِ ځکه چي د ډېر وخت تر يو ځای کېدلو وروسته اشتباه نه سي کېدای (يعني تر ډېر مودت پوري د خپلي ښځي سره د يو ځای اُسېدلو په وجه پر خاوند خپله ښځه نه سي مشتبه کېدلای. بلکي په دې هکله هغه توپير کولای سي) فَلَمْ يَكُنِ الظَّنُّ مُسْتَنِدًا إِلَى دَلِيلٍ نو (د هغه) ګومان به د هيڅ دليل وطرف ته منسوب نه وي وَهٰذَا لِأَنَّهُ قَدْ يَنَامُ عَلَى فِرَاشِهَا غَيْرُهَا مِنَ الْمَحَارِمِ الَّتِي فِي بَيْتِهَا او د اشتباه نه کېدلو دليل دا هم دی چي کله نا کله د ښځي پر بستره له هغې څخه بغير د کور محرمي ښځي (هم) بيديږي وَكَذَا إِذَا كَانَ أَعْمَى او همدارنګه کله چي خاوند نابينا (ړوند) وي

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٧٠)، وكذا في فتح القدير (ج:٥، ص:٣٩). [القول الراجح ج:١، ص:٤٣٨]

انو هم دغه حکم دی ا لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ التَّمْيِيزُ بِالسُّؤَالِ وَغَيْرِهِ ځکه چي د پوښتني او داسي نورو په ذريعه د هغه لپاره توپير کول ممکن دي إِلَّا إِنْ كَانَ دَعَاهَا فَأَجَابَتْهُ أَجْنَبِيَّةٌ وَقَالَتْ: أَنَا زَوْجَتُكَ خو که نابينا هغه ښځي ته آواز وکړي او هغه پردۍ ښځه په جواب کي [داسي] ورته ووايي: چي زه ستا ښځه يم فَوَاقَعَهَا او نابينا د هغې سره جماع وکړي [نو په دې صورت کي پر هغه حدّ نسته] لِأَنَّ الْإِخْبَارَ دَلِيلٌ ځکه چي [د أجنبي ښځي غلط] خبر ورکول دليل دی.

اللغات: ﴿زُفَّتْ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده. زَفَّ يَزُفُّ زَفَافًا: ناوې (ناوکۍ) دَ پلار له کور څخه د خاوند کور ته بېول. ناوې خاوند ته را وستل. ﴿لَا يُمَيِّزُ﴾ د تفعيل له باب څخه د نفي صيغه ده: تمييز کول، توپير کول، فرق کول. ﴿وَهْلَة﴾ او وَهَلَة: تر ټولو مخکي، اول وار، عرب وايي: لقيتُهُ أَوَّلَ وَهْلَةٍ (تر ټولو مخکي ما د هغه سره ملاقات وکړی).

﴿مَغْرُوْر﴾ د ضرب له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: چا ته چي دوکه ورکول سوې وي، دوکه سوی سړی. ﴿فِرَاش﴾ بستره (بستر)، د بيديدو ځای. ﴿وَاقَعَهَا﴾ د مفاعلې ماضي ده: جماع کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی واده وکړي او د واده په اوله شپه هغه ته بله ښځه را وستل سي. او يو څو ښځي هغه ته ووايي چي مه حيرانېږه! دا ستا ښځه ده. او دا سړی د هغه سره جماع وکړي. نو په دې جماع سره پر هغه حدّ نه واجبيږي، ليکن د دې (موطوئه) ښځي مهر به پر واجب وي، ځکه چي د داسي مسئلې په هکله له حضرت علي ﵁ څخه همداسي فيصله نقل سوې ده. د دې دويم دليل دا دی چي دلته خاوند د نورو ښځو پر خبر او دليل اعتماد کړی دی. او څرنګه چي په اول وار سړي ته خپله ښځه او بله ښځه نه معلوميږي (او توپير نه سي کولای) او عموماً په دې هکله سړي ته اشتباه راځي، او د اشتباه په مقام کي إخبار دليل دی، نو د همدې دليل په وجه به پر هغه حدّ نه لازميږي. لکه يوه ښځه چي يو سړي ته دوکه ورکړي او په دوکه نکاح ور سره وکړي. او دا سړی د هغې سره وطي هم وکړي، نو پر هغه حدّ نه جاري کيږي، همداسي به په دې مسئله کي پر خاوند حدّ نه جاري کيږي. ځکه چي دا خاوند هم مغرور دی (يعني خبر ورکونکو ښځو دوکه ورکړې ده)، همدا وجه ده که پر دې خاوند يو څوک د زنا تهمت ولګوي نو پر تهمت لګونکي (قاذف) به حدّ نه جاري کيږي. ځکه چي په حقيقت کي له ده څخه زنا صادره سوې ده او پر موطوئه ښځي د هغه هيڅ ملکيت نسته. ليکن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي د هغه پر قاذف به حدّ جاري کيږي.

ومن وجد امرأة إلخ: دويمه مسئله دا ده که يو څوک پر خپله بستره باندي يوه ښځه ويني او بيا د هغې سره جماع وکړي، نو پر واطئ حدّ واجبيږي، ځکه چي د خپلي ښځي سره تر ډېر وخت تېرولو وروسته د اشتباه هيڅ امکان نسته، لهذا د دې سړي دا ګومان به چي دا زما ښځه ده د هيڅ دليل وطرف ته نه منسوب کيږي، ځکه چي کله نا کله د ښځي (مايني) څخه بغير د کور محرمي ښځي مثلاً خور، مور او لور هم د ښځي پر بستره بيديږي، لهذا کله چي د هغه ظنّ له دليل څخه خالي دی (د ظنّ لپاره يې هيڅ دليل نسته) نو هغه به معتبر هم نه وي او د هغه فعل به خالص زنا وي او حدّ به پر واجب وي.
او همدا حکم په هغه صورت کي هم دی چي کله دا سړی نابينا (ړوند) وي او پر خپله بستره يوه ښځه موندي او بيا د هغې سره وطي وکړي (نو پر هغه هم حدّ واجبيږي)، ځکه چي د نابينا سړي لپاره د پوښتني او خبرو په ذريعه د خپلي او بلي ښځي په مينځ کي فرق کول ممکن دي. ليکن که نابينا له دې ښځي څخه پوښتنه وکړي او هغه ووايي چي زه ستا ښځه يم، او بيا نابينا د هغې سره وطي وکړي. نو په صورت کي پر نابينا حدّ نه واجبيږي، ځکه چي هغه د دې ښځي پر خبر باندي د اعتماد کولو په وجه د هغې سره وطي کړي دي، او إخبار د هغه په حق کي دليل دی.

د محرمو ښځو سره نکاح کول

وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا او که يو څوک د داسي ښځي سره نکاح وکړي چي د ده لپاره د هغې سره نکاح حلاله نه وي فَوَطِئَهَا او [بيا] هغه وطي ور سره وکړي لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه حدّ نه واجبيږي وَلَكِنْ يُوجَعُ عُقُوبَةً إِذَا كَانَ عَلِمَ بِذٰلِكَ ليکن سخته سزا به ورکول کيږي که چيري هغه د دې په حراموالي خبر وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ ✲ وَالشَّافِعِيُّ: عَلَيْهِ الْحَدُّ إِذَا كَانَ عَالِمًا بِذٰلِكَ صاحبين او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي که چيري هغه د دې په حراموالي خبر وي نو پر هغه حدّ واجب دی لِأَنَّهُ عَقْدٌ لَمْ يُصَادِفْ مَحَلَّهُ ځکه چي دا يو داسي عقد دی کوم چي پر خپل محل واقع سوی نه دی فَيَلْغُو كَمَا إِذَا أُضِيفَ إِلَى الذُّكُورِ نو ځکه به لغو کيږي لکه څرنګه چي [په هغه وخت کي عقد لغو کيږي] کله چي د هغه نسبت د نارينه ؤ وطرف ته وسي ايعني کله چي د هلک سره عقدِ نکاح وسي نو هغه لغو کيږي، نو د محرمي ښځي عقد به هم لغو

✲ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال ابن الهمام بعد تفصيل المسئلة: لكن في الخلاصة قال: الفتوىٰ على قولهما (فتح القدير ج:۵، ص:۴۲)، وكذا في الدر المختار (ج:۳، ص:۱۶۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۳۹]

کيږي‌ا وَهٰذَا لِأَنَّ مَحَلَّ التَّصَرُّفِ مَا يَكُونُ مَحَلًّا لِحُكْمِهِ او دا حکم ځکه دی چي د تصرف ا عقد نکاح ا محل هغه دی کوم چي د تصرف د حکم محل وي وَحُكْمُهُ الْحِلُّ او د تصرف ا عقد نکاح ا حکم حلال کېدل دي ا چي ښځي حلاله وي ا وَهِيَ مِنَ الْمُحَرَّمَاتِ او دا ا منکوحه ا ښځه له محرمو ښځو څخه ده وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْعَقْدَ صَادَفَ مَحَلَّهُ دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي ا دلته ا عقد پر خپل محل واقع سوی دی لِأَنَّ مَحَلَّ التَّصَرُّفِ مَا يَقْبَلُ مَقْصُودَهُ ځکه چي د تصرف ا عقد نکاح ا محل هغه وي کوم چي د تصرف مقصود قبول کړي وَالْأُنْثَى مِنْ بَنَاتِ آدَمَ قَابِلَةٌ لِلتَّوَالُدِ او د بني آدم ښځه د بچي زېږولو أهل ده وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا د تصرف مقصود دی ا يعني د عقد نکاح مقصد همدا توالد او تناسل دی ا وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يَنْعَقِدَ فِي جَمِيعِ الْأَحْكَامِ لهذا د ټولو أحکامو په حق کي عقد منعقد کېدل ا او صحيح کېدل ا پکار وو ا يعني د ټولو په حق کي نکاح صحيح کېدل پکار وو ا إِلَّا أَنَّهُ تَقَاعَدَ عَنْ إِفَادَةِ حَقِيقَةِ الْحِلِّ لېکن اد محرمي ښځي په حق کي ا دا عقد د حلت له فايدې ورکولو څخه کښېنستی فَيُورِثُ الشُّبْهَةَ نو دا عقد به شبهه پيدا کړي ا يعني کله چي دا عقد د حلت له فايدې ورکولو څخه کښېنستی نو شبهه پيدا سوه ا لِأَنَّ الشُّبْهَةَ مَا يُشْبِهُ الثَّابِتَ لَا نَفْسَ الثَّابِتِ ځکه چي شبهه دې ته وايي کوم چي د ثابت سوي شي سره مشابه وي خاص د ثابت سوي شي په څير نه وي إِلَّا أَنَّهُ ارْتَكَبَ جَرِيمَةً وَلَيْسَ فِيهَا حَدٌّ مُقَدَّرٌ خو ا څرنګه چي ا هغه يو غټه ګناه کړې ده او په دې هکله يو ټاکل سوی حد نسته فَيُعَزَّرُ نو ځکه به هغه ته ا سخته ا سزا ورکول کيږي.

اللغات: ﴿يُوجَعُ عُقُوبَةً﴾ د دې مطلب دا دی: چي مجرم ته به داسي سخته سزا ورکول کيږي چي د هغه په وجه مجرم ودردول سي او د مور رودلي را قي کړي. ﴿لَمْ يُصَادِفْ﴾ د مفاعلې له باب څخه د جحد صيغه ده: واقع کېدل. مخامخ کېدل. ﴿أُضِيفَ﴾ د افعال له باب څخه ماضي مجهوله ده: نسبت کول. مضاف کول (منسوب کول). ﴿تَوَالُدٌ﴾ د تفاعل مصدر دی: زېږونه. بچيان زېږول. اولاد پيدا کول. نسل ډېرول. ﴿يُعَزَّرُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: تنبيه ورکول. سزا ورکول.

تشريح: مخکې چې کوم دا خبره ذکره سوه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په عقد نکاح سره هم شبهه ثابتيږي. په دې عبارت کې د هغه خبرې وضاحت کوي فرمايي چې که يو سړی په خپلو محرماتو کې ديوې ښځې سره نکاح وکړي او هغه ته دا معلومه وي چې زما لپاره د هغې سره نکاح کول حلال نه دي، مګر بيا هم د هغې سره نکاح وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه حدّ نه واجبيږي، لېکن هغه ته به سخته سزا ورکول کيږي. لېکن د صاحبينو او د امام شافعي په نېز پر هغه حدّ واجبيږي که چيرې هغه په حُرمت خبر وي او قصداً يې دا کار کړی وي.

دليل: د صاحبينو او د امام شافعي دليل دا دی چې په دې مسئله کې عقد نکاح پر خپل محل (محرمي ښځې) نه دی واقع سوی، ځکه چې د عقد محل هغه دی کوم چې د عقد د حکم محل وي. او محرمه ښځه د عقد نکاح د حکم محل نه ده ځکه چې د عقد نکاح حکم حلّت يعني د منکوحه ښځې حلال والی دی. حالانکې دلته منکوحه (محرمه) ښځه د سړي (عاقد) لپاره په أبدي توګه حرامه ده. لهذا دا عقد پر خپل محل د نه واقع کېدلو په وجه لغو دی او د دې سړي وطي کول خالص زنا ده کوم چې د حدّ موجب دي. د دې مثال دا دی لکه يو سړی چې د لغړ زني (هلک) سره نکاح وکړي. نو هلته عقد لغو کيږي. همداسي به دلته هم عقد لغو وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې کوم عقد چې دلته سوی دی هغه پر خپل محل واقع دی ځکه چې عقد نکاح (تصرف) محل هغه دی کوم چې د تصرّف مقصود قبول کړي. او په عقد نکاح سره چې کوم شی مقصود دی يعني توالد او تناسل (بچي زيږول) دا مقصود دلته حاصل دی. ځکه چې ټولي ښځي د بچي زيږولو أهليت لري. لهذا د عقد نکاح د مقصود وطرف ته په نظر کولو سره د هري ښځي سره نکاح حلالېدل پکار دي. لېکن څرنګه چې په محرمات ابديه وو کي حلّت مُفيد او مؤثر نه دی خو بيا هم په دغه عقد سره څه نا څه د حلّت څه شبهه راغله. ځکه چې شبهه دې ته وايي چې د ثابت سوي شي سره مشابه وي او نفس ثابت نه وي. نو ځکه به د دې شبهې په وجه پر عاقد حدّ نه واجبيږي. خو څرنګه چې د هغه جرم دومره غټ دی چې هغه له سزا څخه خلاصېدای نه سي. نو ځکه به امام د خپل تدبير او تجويز مطابق د هغه لپاره د سزا فيصله کوي.

له فرج څخه بغير په نورو اندامونو يا په دُبر کي د وطي کولو سزا

وَمَنْ وَطِئَ أَجْنَبِيَّةً فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ او څوک چې له فرج [او دُبر] څخه بغير [په بل اندام کي] د پردی ښځې سره وطي وکړي يُعَزَّرُ نو هغه ته به سزا ورکول کيږي [حدّ به نه ورکول کيږي] لِأَنَّهُ مُنْكَرٌ لَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ مُقَدَّرٌ ځکه چې دا [په غير فرج کي وطي کول] يو ممنوع کار دی [او] د هغه لپاره څه

سزا ټاكل سوې نه ده وَمَنْ أَتَى امْرَأَةً فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوهِ أَوْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ او څوک چې د خپلې ښځې سره په ناوړه ځاى [دُبُر] کې وطې وکړي يا د [يو نارينه سره] د قوم لوط عمل وکړي فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو پر هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حدّ نسته وَيُعَزَّرُ [لېکن] هغه ته به سزا وركول كيږي وَزَادَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَيُودَعُ فِي السِّجْنِ امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې فرمايلي دي: او هغه به بنديخانې ته اچول كيږي وَقَالَا: هُوَ كَالزِّنَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې لواطت د زنا په شير دى فَيُحَدُّ نو ځکه به پر لوطي حدّ جاري کيږي وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دى وَقَالَ فِي قَوْلٍ: يُقْتَلَانِ بِكُلِّ حَالٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په بل قول کې فرمايلي دي: چې دواړه به په هر حالت کې وژل كيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام: اُقْتُلُوا [1] الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: تاسې قتل کړئ! لواطت كونكى كس او د چا سره چې لواطت سوى وي وَيُرْوَى: فَارْجُمُوا [2] الْأَعْلَى وَالْأَسْفَلَ او په يوه روايت کې [ذكر سوي] دي: لوړ او لاندي دواړه سنگسار کړئ! وَلَهُمَا: أَنَّهُ فِي مَعْنَى الزِّنَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چې لواطت د زنا په معنىٰ سره دى لِأَنَّهُ قَضَاءُ الشَّهْوَةِ فِي مَحَلٍّ مُشْتَهًى عَلَى سَبِيلِ الْكَمَالِ عَلَى وَجْهٍ تَمَحَّضَ حَرَامًا لِقَصْدِ سَفْحِ الْمَاءِ ځکه چې دا [لواطت] د شهوت په ځاى په كامله توگه د شهوت پوره كول دي په داسې طريقه سره كوم چې د مني وو د بيولو لپاره خالص حرامه [طريقه] ده [چې د حلت يوه ذره هم پکښې نسته] وَلَهُ: أَنَّهُ لَيْسَ بِزِنًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې لواطت زنا نه ده لِاخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فِي مُوجَبِهِ مِنَ الْإِحْرَاقِ بِالنَّارِ وَهَدْمِ الْجِدَارِ

❁ القول الراجح: قول أبى حنيفة رَحِمَهُ الله ، قال العلامة داما آفندي رَحِمَهُ الله :...والصحيح قول الإمام، وفى الفتح: أنه يودع (عند الأمام) فى السجن، حتى يتوب أو يموت، ولو اعتاد اللواطة، قتله الإمام محصنا كان أو غير محصن سياسة (مجمع الأنهر ج:١، ص:٦٠٣)، وقال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله :...ولا يحدّ عند الإمام (أبي حنيفة) إلا إذا تكرر، فيقتل على المفتىٰ بـه (رد المحتار ج:٣، ص:١٧١)، وهكذا فى الهندية (ج:٢، ص:١٥٠). [القول الراجح ج:١، ص:٤٤١]

[1] تخريج: رواه ابو داؤد فى الحدود، باب:٢٨، رقم الحديث:٤٤٦٢.

[2] تخريج: رواه الطحاوىٰ فى مشكل الآثار، رقم الحديث: ٣٢٣٠. وابن ماجة فى السنن رقم الحديث:٢٥٦٢.

وَالتَّنْكِيسِ مِنْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ بِاتِّبَاعِ الْأَحْجَارِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ ځکه چي د لواطت د سزا په هکله د صحابه وو اختلاف وو [ځيني وايي] چي هغه [لوطي] دي په اُور کي وسوځل سي او [ځيني وايي چي] پر هغه دي دېوال ونړول سي او [ځيني وايي چي] د لوړ ځای څخه دي سرکول کوني را ايله کړی سي او [سربېره] دي ډبري پر ووروول سي وَلَا هُوَ فِي مَعْنَى الزِّنَا او لواطت د زنا په معنیٰ سره هم نه دی لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ إِضَاعَةُ الْوَلَدِ وَاشْتِبَاهُ الْأَنْسَابِ ځکه چيِ په دې کي [خو] نه د بچي ضايع کېدل سته او نه د نسبونو مشتبه کېدل سته وَكَذَا هُوَ أَنْدَرُ وُقُوعًا همدارنګه دا فعل ډېر کم پېښېدونکی دی [خو نه زموږ په سيمو کي!!!] لِانْعِدَامِ الدَّاعِي مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ ځکه چيِ [په لواطت کي] شهوت [او داعيه] له يوه طرفه وي وَالدَّاعِي إِلَى الزِّنَا مِنَ الْجَانِبَيْنِ و په زنا کي له دواړو طرفونو څخه شهوت وي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى السِّيَاسَةِ أَوْ عَلَى الْمُسْتَحِلِّ او کوم حديث چي امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه حديث پر سياست محمول دی يا [د لواطت] د حلال ګڼونکي سره متعلق دی إِلَّا أَنَّهُ يُعَزَّرُ عِنْدَهُ خو دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به لواطت کونکي ته سختـه سزا ورکول کيږي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿مُنكر﴾ ناخوښه عمل، د ګناه کار، بد فعل، ﴿مُقَدّر﴾ ټاکل سوی، اندازه کړی سوی، متعين، ﴿يُودع﴾ د فتح له باب څخه د مضارع مجهولي صيغه ده: اېښول (اچول)، ﴿سِجن﴾ بنديخانه، قيدخانه، جېل، محبس، جمع: سُجُون، ﴿سَفح﴾ د فتح مصدر دی: بيوله، بهول، ﴿مُوْجَب﴾ د افعال اسمِ مفعول دی: واجب کړی سوی شی مراد ځني سزا ده، ﴿إِحْرَاق﴾ د افعال مصدر دی: سوځل، ﴿هَدْم﴾ د ضرب مصدر دی: نړول، ﴿تَنْكِيس﴾ د تفعيل مصدر دی: پر مخي غوځارول، سرکول کوني ايله کول (غورځول)، ﴿أَحْجَار﴾ جمع د حَجَرٌ ده: ډبره، کاڼی.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو څوک له فرج او دُبر څخه بغير په بل اندام کي د پردۍ (أجنبي) ښځي سره وطي وکړي يعني د هغې د نس يا د ورون او داسي نورو سره خپل ذکر ومږي او شهوت پوره کړي، نو هغه ته به سختـه سزا ورکول کيږي. ځکه چي دا ممنوع کار دی. او په شريعت کي د دې لپاره حدّ ټاکل سوی نه دی. لهذا امام به د خپلي رايي او تدبير مطابق هغه ته سزا ورکوي.

دويمه مسئله دا ده كه يو سړى ديوې ښځي سره په دبر (معقد) كي وطي وكړي. يا ديو نارينه (هلک) سره په مقعد كي وطي وكړي چي هغه ته لواطت (د قوم لوط عمل) وايي. نو دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه حدّ نسته. ليكن هغه ته به سخت ترينه سزا وركول كيږي. صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي لواطت د زنا په شير دى. نو ځكه به د زاني په شير پر لوطي هم حدّ جاري كيږي. له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په جامع صغير كي نقل سوي دي چي لوطي به بنديخانې ته اچول كيږي تر دې چي هغه توبه وكړي. له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې سلسله كي دوه قوله نقل سوي دي: ① اول قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله موافق دى. ② او دويم قول دا دى چي فاعل او مفعول به دواړه وژل كيږي. ځكه چي له رسول الله ﷺ څخه صراحتاً دا نقل سوي دي: "أُقتلوا الفاعل والمفعول". او په بل روايت كي "فَارجُموا الأعلىٰ والأسفل" ذكر سوي دي.

د صاحبينو دليل: دا دى چي لواطت د زنا په معنىٰ سره دى. ځكه چي د زاني په شير لوطي هم د شهوت په محل (ځاى) كي خپل شهوت پوره كوي. او څرنګه چي په شريعت كي د زاني سزا حدّ ده. نو د لوطي سزا به هم حدّ وي.

د امام صاحب دليل: دا دى چي لواطت زنا نه ده. ځكه چي د دې په سزا كي د صحابه ؤ اختلاف وو. حالانكي د زنا په سزا كي د دوى اختلاف نه وو. او لواطت د زنا په معنىٰ سره هم نه دى. ځكه چي په دې كي د بچي ضايع كول او د نسب مشتبه كېدل هيڅ شى هم نسته. ځكه چي په لواطت سره بچى نه پيدا كيږي او نسب پر بچي مبني دى (يعني چي يو څوک د يو بچي د نسب دعوىٰ وكړي) او كله چي بالكل بچى نه وي نو دعوىٰ به څرنګه وسي. همدارنګه په لواطت كي د لوطي له طرفه داعيه او شهوت وي او د مفعول له طرفه داعيه ډېره كمه وي. حالانكي په زنا كي د سړي او ښځي دواړو له طرفه كامل شهوت او داعيه وي. نو په دې حواله سره هم لواطت د زنا په معنىٰ سره نه دى. نو ځكه مونږ (امام صاحب) وايو چي كومه سزا چي د زنا لپاره ټاكل سوې ده هغه به د لواطت سزا نه وي. ها! څرنګه چي دا يو ډېر قبيح او ممنوع فعل دى. نو ځكه به د هغه سزا سخت ترينه وي.

وما رواه الخ: فرمايي كوم حديث چي امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل دليل كي ذكر كړى دى. هغه خو يا پر سياست مدنيه باندي محمول يا دا هغه سړي سزا ده چي لواطت حلال وګڼي او ويې كړي.

د حيوان او څاروي سره وطي کول

وَمَنْ وَطِئَ بَهِيمَةً او څوک چي د يو څاروي سره وطي وکړي لَاحَدَّ عَلَيْهِ نو پر هغه حد نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي مَعْنَى الزِّنَا فِي كَوْنِهِ جِنَايَةً وَفِي وُجُودِ الدَّاعِي ځکه چي د جرم کېدلو او د شهوت په موجودېدلو کي دا فعل د زنا په معنیٰ سره نه دی لِأَنَّ الطَّبْعَ السَّلِيمَ يَنْفِرُ عَنْهُ ځکه چي سليم طبيعت له دې څخه نفرت کوي وَالْحَامِلُ عَلَيْهِ نِهَايَةُ السَّفَهِ أَوْ فَرْطُ الشَّبَقِ او پر دې کار هڅونکی شی خو يا انتهائي بېعقلي (احماقت) وي يا د شهوت زيات راپورته کېدل وي وَلِهَذَا لَا يَجِبُ سَتْرُهُ او له همدې کبله د څاروي شرمګاه پټول (پر مالک) واجب نه دي إِلَّا أَنَّهُ يُعَزَّرُ خو واطئ ته به سزا ورکول کيږي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَالَّذِي يُرْوَى [1] أَنَّهُ تُذْبَحُ الْبَهِيمَةُ وَتُحْرَقُ او هغه حکم کوم چي روايت سوی دی چي مفعوله څاروی به ذبح کيږي او سوځل کيږي فَذَلِكَ لِقَطْعِ التَّحَدُّثِ بِهِ نو هغه حکم د دې لپاره دی چي په دې هکله بحث او مباحثه ختمه سي (او د دې عمل آوازه ختمه سي) وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ (ليکن) داسي کول واجب نه دي.

اللغات: ﴿بَهِيمَةٌ﴾ څاروی، چارپای، له درندګانو څخه بغير هر هغه د برّ او بحر حيوان کوم چي څلور پښي لري صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: (كل ذَات أَربع قَوَائِم من دَوَاب الْبر وَالْبَحْر مَا عدا السبَاع. جمع: بهائم)، ﴿فَرْط﴾ د نصر مصدر دی: زياتېدل، غالب کېدل. ﴿الشَّبَق﴾ د باء په فتحه سره، د سمع اسم مصدر دی: شهوت. ﴿تَحَدُّث﴾ د تفعّل مصدر دی: خبري کول. بحث او مباحثه کول (خبري اترې کول).

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک د يو حيوان او څاروي سره وطي وکړي. نو پر هغه حد نسته. ځکه چي د حيوان سره وطي کول نه د زنا په څير جرم دی او نه په دې کي د زنا په څير شهوت او داعيه وي. ځکه چي سليم فطرت والا کس له داسي ناوړه حرکت څخه نفرت او انکار کوي. داسي حرکت خو يا د اولې درجې بيوقوف کوي يا يې له شهوت څخه ډېر مغلوب کس کوي، همدا وجه ده چي پر مالک دا واجب نه دي چي د خپل حيوان او څاروي شرمګاه پټه کړي، خو څرنګه چي د هغه دا فعل ډېر ناوړه او ډېر له انسانيت څخه وتلی دی. نو ځکه به د هغه لپاره سزا خامخا وي.

والذی يروىٰ إلخ: فرمايي: په حديث کي چي کوم دا حکم ذکر سوی دی چي مفعوله (وطي کړی سوی) حيوان به تر ذبح کولو وروسته سوځل کيږي، دا حکم واجب او ضروري نه دی. بلکي دا حکم په دې وجه دی چي د دې عمل په هکله بحث او مباحثه نه وسي او خلک د دې آوازه خپره او نشر نه کړي. او ښکاره خبره ده چي کله حيوان وسوځل سي. نو د هغه آواز او ډنډوره ختميږي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في السنن لا بلفظه رقم الحديث: ٢٢٦٢

په دارُ الحرب کې زنا کول

وَمَنْ زَنَى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْ فِي دَارِ الْبَغْيِ او څوک چې په دارُ الحرب کې زنا وکړي يا د باغيانو په حکومت کې زنا وکړي ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا بيا زموږ وطرف ته راسي لَا يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ يُحَدُّ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز حدّ پر جاري کيږي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ بِإِسْلَامِهِ أَحْكَامَهُ أَيْنَمَا كَانَ مَقَامُهُ ځکه چې د خپل اسلام راوړلو په وجه هغه پر ځان اسلامي احکام لازم کړي دي، هغه که دئ په هر ځای کې وي وَلَنَا قَوْلُهُ عليه السلام [1]: لَا تُقَامُ الْحُدُودُ فِي دَارِ الْحَرْبِ زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چې: په دارُ الحرب کې به حدود نه جاري کيږي وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الِانْزِجَارُ او ځکه چې [د حدّ جاري کولو] مقصد منع کېدل [او تنبيه ورکول] دي وَوِلَايَةُ الْإِمَامِ مُنْقَطِعَةٌ فِيهِمَا حالانکې په [دار الحرب او دار البغی] دواړو کې د امام ولايت قطع سوی دی فَيَعْرَى الْوُجُوبُ عَنِ الْفَائِدَةِ لهذا د حدّ واجبېدل [او جاري کول] به له فايدې څخه خالي وي وَلَا تُقَامُ بَعْدَ مَا خَرَجَ او له دارُ الحرب څخه به د زاني تر را وتلو وروسته هم حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّهَا لَمْ تَنْعَقِدْ مُوجِبَةً فَلَا تَنْقَلِبُ مُوجِبَةً ځکه چې [د هغه] زنا [په شروع کې] د حدّ موجِب نه وه نو ځکه به [وروسته هم] د حدّ لپاره موجِب نه ګرځي [مطلب دا چې په دارُ الحرب کې د هغه زنا د حدّ قابل نه وه، نو اوس به په دارُ الاسلام کې هم د حدّ قابل نه جوړيږي] وَلَوْ غَزَا مَنْ لَهُ وِلَايَةُ الْإِقَامَةِ بِنَفْسِهِ كَالْخَلِيفَةِ وَأَمِيرِ مِصْرَ او که چيري په غزا کې داسې کس موجود وي چې د هغه لپاره بذاتِ خود د حدّ جاري کولو اختيار وي لکه خليفه ايا د ښار أمير يُقِيمُ الْحَدَّ عَلَى مَنْ زَنَى فِي مُعَسْكَرِهِ نو دا کس [خليفه او د ښار أمير] پر هغه سړي حدّ جاري کولای سي کوم چې په "لښکر ځای" کې زنا وکړي لِأَنَّهُ تَحْتَ يَدِهِ ځکه چې هغه د ده تر ولايت لاندې دی بِخِلَافِ أَمِيرِ الْعَسْكَرِ وَالسَّرِيَّةِ په خلاف د سريه او د لښکر أمير لِأَنَّهُ لَمْ تُفَوَّضْ إِلَيْهِمَا الْإِقَامَةُ ځکه چې دوی دواړو ته د حدّ جاري کولو اختيار ور سپارل سوی نه دی.

---

[1] تخريج: رواه البيهقي رقم الحديث:١٨٦٨٧ وابو داؤد رقم الحديث:٤٤٠٨

اللغات: ﴿إِلْتَزَمَ﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول، په خپله ذمه اخيستل. ﴿إِنْزِجَار﴾ د انفعال مصدر دی: منع کېدل. ﴿يَغْزِی﴾ د فتح مضارع ده: خالي کېدل. ﴿لَا تَنْقَلِب﴾ د انفعال مضارع ده: ګرځېدل، اوښتل. ﴿مُوْجِبَة﴾ د افعال مؤنث اسم فاعل دی: واجبونکی، سبب جوړېدونکی. ﴿مُعَسْكَر﴾ لښکر ځای (لښکر ګاه)، چوڼی. ﴿سَرِيَّة﴾ د سپايانو کوچنی ډله. ﴿لَمْ يُفَوَّض﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: سپارل، حواله کول، تسليمول.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی په دارُ الحرب کي زنا وکړي يا د باغيانو په علاقه کي زنا وکړي. بيا دارُ الاسلام ته راسي، نو زموږ په نېز پر هغه حدّ نه جاري کيږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه حدّ جاري کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي زاني مسلمان دی او د دنيا په هر طرف او هر ګوټ کي په اسلامي احکامو مکلّف دی (او د دنيا په هر ځای کي پر هغه اسلامي احکام عملي کول ضروري دي). لهذا هغه چي هر ځای هم وي، حدّ به پر جاري کيږي.

زموږ دليل: دا حديث دی چي "لا يُقام الحدود في دار الحرب" (يعني په دارُ الحرب کي به حدود نه جاري کيږي). او په دې حديث کي له عدمِ إقامت يعني له "حدّ نه جاري کولو" څخه مراد "حدّ نه واجبېدل" دي (يعني پر مجرم حدّ نه واجبيږي)، ځکه چي په دارُ الحرب کي د امام ولايت منقطع او معدوم وي، او د ولايت انقطاع د وجوب انقطاع ده (مطلب دا چي په کوم ځای کي د امامُ المسلمين ولايت نه چليږي، هلته اسلامي سزا (حدّ) هم نه واجبيږي)، له همدې کبله د حدّ جاري کولو مقصد دی "يعني نور خلک له داسي حرکت څخه منع کول او تنبيه ورکول" دا مقصد په دارُ الحرب کي نه حاصليږي، او إقامت (يعني د حدّ جاري کول) چي کله له مقصد څخه خالي وي نو بيا إقامت هيڅ فايده هم نه کوي، او څرنګه چي دا زنا په شروع کي (يعني په دارُ الحرب کي) د حدّ موجب نه ده. نو له دارُ الحرب څخه دارُ الاسلام ته تر راتلو وروسته به هم د حدّ موجب نه وي. کنې حکم به له سبب څخه بغير موجود سي، حالانکي له سبب څخه بغير د حکم وجود ناممکن دی.

ولو غزی إلخ: فرمايي که چيري د مجاهدينو په جماعت کي خليفةُ المسلمين يا د ښار أمير موجود وي، او د جماعت په خلکو کي يو څوک زنا وکړي، نو خليفه يا أمير به پر هغه زاني حدّ جاري کوي. ځکه چي زاني د هغه په قبضه کي دی او د هغه ماتحت دی. او هغه ته پر دې زاني د حدّ جاري کولو اختيار حاصل دی. لېکن د لښکر او سريه أمير ته د دې اختيار نسته. لهذا هغه د جهاد په ميدان کي پر هيڅ زاني حدّ نه سي جاري کولای.

په دارُ الاسلام کي د کفارو د زنا کولو حکم

وَإِذَا دَخَلَ حَرْبِيٌّ دَارَنَا بِأَمَانٍ او کله چي يو حربي کافر په أمان سره زموږ دار [دارُ الاسلام] ته داخل سي فَزَنَى بِذِمِّيَّةٍ بيا د يوې ذمي ښځي سره زنا وکړي أَوْ زَنَى ذِمِّيٌّ بِحَرْبِيَّةٍ يا يو ذمي سړی د يوې حربي ښځي سره زنا وکړي يُحَدُّ الذِّمِّيُّ وَالذِّمِّيَّةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو د امام صاحب په نېز به پر ذمي سړي او ذمي ښځي حدّ جاري کيږي وَلَا يُحَدُّ الْحَرْبِيُّ وَالْحَرْبِيَّةُ او پر حربي سړی او حربي ښځي باندي به حدّ نه جاري کيږي وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي الذِّمِّيِّ او د ذمي سړي په هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دا دی يَعْنِي إِذَا زَنَى بِحَرْبِيَّةٍ يعني کله چي د يوې حربي ښځي سره زنا وکړي فَأَمَّا إِذَا زَنَى الْحَرْبِيُّ بِذِمِّيَّةٍ لېکن که چيري يو حربي سړی د ذمي ښځي سره زنا وکړي لَا يُحَدَّانِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به پر دوی حدّ نه جاري کيږي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ الله أَوَّلًا او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُحَدُّونَ كُلُّهُمْ [بيا] امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وفرمايل: چي پر دوی ټولو به حدّ جاري کيږي وَهُوَ قَوْلُهُ الْآخَرُ او دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دی لِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمُسْتَأْمَنَ الْتَزَمَ أَحْكَامَنَا مُدَّةَ مُقَامِهِ فِي دَارِنَا فِي الْمُعَامَلَاتِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي أمان اخيستونکی حربي د خپل پاتېدلو د مودت په اندازه زموږ د اسلامي احکامو التزام کړی دی [يعني مستأمن حربي دومره وخت اسلامي احکام پر ځان لازموي څومره وخت چي هغه په دارُ الاسلام کي پاتېږي] كَمَا أَنَّ الذِّمِّيَّ الْتَزَمَهَا مُدَّةَ عُمُرِهِ لکه څرنګه چي ذمي خپل ټوله عمر د دې التزام کړی دی وَلِهَذَا يُحَدُّ حَدَّ الْقَذْفِ همدا وجه ده [که يو ذمي پر يو چا د زنا تهمت ولګوي نو] پر هغه حدّ قذف جاري کيږي وَيُقْتَلُ قِصَاصًا او په قصاص کي قتل کيږي بِخِلَافِ حَدِّ الشُّرْبِ لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُ إِبَاحَتَهُ په خلاف د شرابو د حدّ. ځکه چي ذمي شراب جائز ګڼي وَلَهُمَا: أَنَّهُ مَا دَخَلَ لِلْقَرَارِ بَلْ لِحَاجَةٍ كَالتِّجَارَةِ وَنَحْوِهَا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي حربي په دارُ الاسلام کي د همېشه اوسېدلو لپاره نه راځي بلکي د يو ضرورت په وجه راځي لکه تجارت او

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٧٠). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢١]

داسي نور فَلَمْ يَصِرْ مِنْ أَهْلِ دَارِنَا نو ځکه هغه د دارُ الاسلام له اوسېدونکو شخه نه سو وَلِهٰذَا تَمَكَّنَ مِنَ الرُّجُوعِ إِلَىٰ دَارِ الْحَرْبِ او له همدې کبله هغه دارُ الحرب ته د رجوع کولو قدرت لري ايعني همدا وجه ده چي هغه بيرته خپل دارُ الحرب ته ځي ا وَلَا يُقْتَلُ الْمُسْلِمُ وَلَا الذِّمِّيُّ بِهِ او د هغه احربي ا د قتل کولو په وجه يو مسلمان يا ذمي نه قتل کيږي ابلکي ديّت به ورکوي ا وَإِنَّمَا الْتَزَمَ مِنَ الْحُكْمِ مَا يَرْجِعُ إِلَىٰ تَحْصِيلِ مَقْصُودِهِ او حربي فقط د هغه اسلامي احکامو التزام کړی دی چي په هغه سره د ده مقصود حاصل سي ايعني د حربي تعلق او سروکار د خپل مقصد سره دی. نو حربي هغه أحکام پر ځان لازموي کوم چي د ده مقصد د حصول سره تعلق لري ا وَهُوَ حُقُوقُ الْعِبَادِ او هغه د بندګانو حقوق دي لِأَنَّهُ لَمَّا طَمِعَ فِي الْإِنْصَافِ ځکه کله چي هغه ا په دارُ الاسلام کي ا د انصاف طمع کړې ده يَلْتَزِمُ الِانْتِصَافَ نو هغه به د انصاف ورکولو ملتزم او پابند اهم ا وي ايعني حربي چيٰ کله د أمان په اخيستلو سره په دارُ اسلام کي د انصاف طمع او غوښتنه کړې ده نو پر هغه به هم انصاف ورکول لازم وي ا وَالْقِصَاصُ وَحَدُّ الْقَذْفِ مِنْ حُقُوقِهِمْ او قصاص او حدّ قذف د بندګانو له حقوقو شخه دي أَمَّا حَدُّ الزِّنَا حَقُّ الشَّرْعِ لېکن زنا اخالص ا د شريعت حق دی وَلِمُحَمَّدٍ وَهُوَ الْفَرْقُ: أَنَّ الْأَصْلَ فِي بَابِ الزِّنَا فِعْلُ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةُ تَابِعَةٌ لَهُ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل (او همدا په ذمي او ذميه کي فرق هم دی) دا دی: چي د زنا په باب کي أصل د سړي فعل وي او د ښځي فعل د هغه تابع وي عَلَىٰ مَا نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ چي د دې اتفصيل ا به موږ انشاءالله وروسته ذکر کړو فَامْتِنَاعُ الْحَدِّ فِي حَقِّ الْأَصْلِ يُوجِبُ امْتِنَاعَهُ فِي حَقِّ التَّبَعِ لهذا د اصل په حق کي د حدّ امتناع به د تابع په حق کي هم د حدّ امتناع لره مستلزم وي أَمَّا الِامْتِنَاعُ فِي حَقِّ التَّبَعِ لَا يُوجِبُ الِامْتِنَاعَ فِي حَقِّ الْأَصْلِ لېکن د تابع په حق کي د حدّ امتناع به د اصل په حق کي د حدّ امتناع لره مستلزم نه وي نَظِيرُهُ: إِذَا زَنَى الْبَالِغُ بِصَبِيَّةٍ أَوْ مَجْنُونَةٍ وَتَمْكِينُ الْبَالِغَةِ مِنَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ او د دې مثال دا دی: لکه بالغ سړی چي ديوې کوچنۍ نجلۍ يا لېونۍ ښځي سره زنا وکړي انو فقط پر بالغ سړي به حدّ جاري کيږي ا او الکه ا بالغه ښځه چي پر خپل ځان کوچني هلک يا لېوني سړي ته قدرت ورکړي انو پر بالغي ښځي به حدّ نه جاري کيږي ا وَلِأَبِي حَنِيفَةَ فِيهِ:

أَنَّ فِعْلَ الْحَرْبِيِّ الْمُسْتَأْمَنِ زِنًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د مستأمن حربي فعل زنا ده لِأَنَّهُ مُخَاطَبٌ بِالْحُرُمَاتِ عَلٰى مَا هُوَ الصَّحِيحُ ځکه چي د صحيح قول مطابق حربي هم په محرماتو مخاطب دی وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُخَاطَبًا بِالشَّرَائِعِ عَلٰى أَصْلِنَا که څه هم زموږ د أصل مطابق هغه زموږ د شريعت مخاطب نه دی وَالتَّمْكِينُ مِنْ فِعْلٍ هُوَ زِنًا مُوجِبٌ لِلْحَدِّ عَلَيْهَا او پر فعل [زنا] باندي قدرت ورکول دا هغه زنا ده کوم چي پر ښځي [ذميه] باندي د حدّ واجبونکې ده بِخِلَافِ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ په خلاف د کوچني هلک او لېوني سړي لِأَنَّهُمَا لَا يُخَاطَبَانِ ځکه چي هغوی د شريعت په احکامو مخاطب نه دي وَنَظِيرُ هٰذَا الِاخْتِلَافِ: إِذَا زَنَى الْمُكْرَهُ بِالْمُطَاوِعَةِ او د دې اختلاف مثال دا دی: لکه يو مجبور کړی سوی کس چي د داسي ښځي سره زنا وکړي کوم چي په زنا راضي وي تُحَدُّ الْمُطَاوِعَةُ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر دې راضي ښځي حدّ جاري کيږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِ لَا تُحَدُّ ليکن [د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به [پر هغې] حدّ نه جاري کيږي.

اللغات: ﴿مُسْتَأْمِنْ﴾ د استفعال اسم فاعل دی: أمان اخيستونکی. هغه حربي کافر کوم چي أمان طلب کړي او دارُ الاسلام ته راسي (او د دارُ اسلام له طرفه هغه ته د هغه پر ځان او مال أمان ورکول سي). ﴿مُقَام﴾ پاتېدل، اوسېدل، درېدل. ﴿تَمَكَّنَ﴾ د تفعّل ماضي ده: قدرت لرل، اختيار لرل. ﴿إِمْتِنَاع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، ناممکن کېدل. ﴿نَظِيْر﴾ مثال، مشابه. ﴿مُطَاوِعَة﴾ د مفاعلې له باب څخه د مؤنث اسمِ مفعول صيغه ده: راضي ښځه (په خپله خوښه او رضا جماع کونکې ښځه). چاته پر خپل ځان موقع ورکونکې ښځه. طَاوَعَ يُطَاوِعُ مُطَاوَعَةً: راضي کېدل، اطاعت کول، موقع ورکول.

تشريح: مسئله خو بالکل واضحه او آسانه ده. خلاصه يې دا ده چي که په دارُ الاسلام کي حربي سړی يا ښځه زنا وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر هغو حدّ نه جاري کيږي. لېکن که يو ذمي سړی يا ښځه دا حرکت وکړي، نو پر هغه به حدّ جاري کيږي. امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي که ذمي سړی زنا وکړي، نو پر هغه به حدّ جاري کيږي. لېکن که ذمي ښځه د يو حربي سره زنا وکړي، نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي. همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دی. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دا دی چي که په دارُ الاسلام هرڅوک زنا وکړي، پر هغه به حدّ جاري کيږي. برابره ده هغه که مسلمان وي يا ذمي او حربي وي. يا که مسلمانه ښځه وي يا ذمي او حربي ښځه وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دى چي کله حربي کس له اسلامي حاکم (واکمن) څخه أمان اخلي او دارُ الاسلام ته راځي، نو هغه (په شروع کي د حاکم سره) دا عهد کوي چي زه تر څو په دې ځاى کي يم تر هغه وخته به زه د اسلامي قوانينو پابندي کوم. لکه څرنګه چي ذمي کافر تر خپل مرګ پوري د اسلامي احکامو د عملي کولو عهد او پيمان کوي، او که چيري ذمي په دارُ الاسلام کي زنا وکړي نو پر هغه حدّ واجب دى، لهذا پر حربي به هم په دارُ الاسلام کي د زنا په وجه حدّ واجبيږي. ها که دغه مستأمن حربي په دارُ السلام کي شرب وچيښي، نو پر هغه به حدّ نه واجبيږي. ځکه چي د هغه په عقيده شراب حلال دي وَنَحْنُ اُمِرْنَا بِتَرْكِهِمْ وَمَا يَدِيْنُوْن.

د طرفينو دليل: دا دى چي د دارُ الاسلام د قوانينو پابندِي پر هغه کس لازمه ده کوم چي په مستقله توګه دلته (دارُ الاسلام) ته د استوګني لپاره راسي. او مستأمن حربي خو د يو څو وخت لپاره دارُ الاسلام ته راځي او کله چي خپل کار پوره کړي نو فوراً غوته ټولوي او خپل دارُ الحرب ته ځي. لهذا هغه د خپل کار په اندازه د اسلامي احکامو التزام (او پابندي) کوي. او په کوم مقدار سره چي د ده مقصود حاصليږي فقط د هغو مره مقدار سره د ده سرو کار او مقصد وي او دا مقدار تر حقوقُ العباد پوري محدود دى (ځکه چي حربي دلته د يو تجارت او يو کاوبار لپاره راځي او دا د حقوقُ العباد سره تعلق لري). او څرنګه چي قصاص او حدّ قذف حقوقُ العباد دى. نو پر هغه خو به په دې حقوقو کي حدّ جاري کيږي، لېکن زنا د شريعت حق دى. نو ځکه به د زنا کولو په وجه پر هغه حدّ نه جاري کيږي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز خو پر ذمي سړي حدّ سته. لېکن پر ذمي ښځي حدّ نسته. د دوى په مينځ کي د هغه په نېز د فرق وجه دا ده چي په زنا کي أصل د سړي فعل وي او سړى پر ښځي دباو او فشار اچوي او هغه راضي کوي او په فعل کي يې د ځان ملګرې کوي. نو ځکه په دې باره کي د ښځي فعل تابع دى. او قاعده دا ده چي که يو شى (مثلاً حدّ) د أصل په حق کي ممتنع او منتفي وي. نو هغه امتناع د تابع په حق کي هم ثابتيږي. لهذا که ذمي ښځه د يو حربي سره زنا وکړي نو په اصل يعني په حربي کي حدّ ممتنع دى نو ځکه به په تابع يعني په ذمي ښځه کي هم ممتنع کيږي. د دې په خلاف که يو ذمي سړى د يوې حربي ښځي سره زنا وکړي. نو د تابع يعني د حربي ښځي په حق کي چي د حدّ کومه امتناع ده هغه به د أصل (ذمي سړي) په حق کي د حدّ امتناع لزه نه مستلزم کيږي (بلکي پر ذمي سړي به حدّ جاري کيږي)، د دې مثال دا دى چي که يو بالغ سړى د کوچنى نجلى يا لېونى ښځي (مجنونه) سره زنا وکړي نو نجلى او مجنونه تابع دي او د دوى په حق کي حدّ ممتنع دى. لېکن دا امتناع د أصل يعني د بالغ سړي په حق کي نه مؤثر کيږي او پر هغه به حدّ جاري کيږي. همدارنګه که يوه بالغه ښځه پر خپل ځان کوچني هلک يا مجنون ته قدرت ورکړي او په هغو زنا وکړي نو څرنګه چي پر أصل يعني پر کوچني هلک او مجنون حدّ نه جاري کيږي، نو پر تابع يعني پر بالغي ښځي به هم حدّ نه جاري کيږي.

د امام صاحب دليل: پر مستأمن حربي باندي د حدّ نه واجبېدلو او پر ذمي ښځي د حد واجبېدلو په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د مستأمن حربي فعل زنا ده. ځکه چي صحيح خبره دا ده چي حربيان هم د حرام کار (او زنا) نه کولو پابند جوړ سوي دي که څه هم زموږ پر قاعده هغوی په دارُ الاسلام کي د شريعت مخاطب نه دي. اوس چي کله د حربي فعل زنا ده او هغه د يوې ذمي ښځي سره دا کار وکړي نو که څه هم پر حربي حدّ نه جاري کيږي. لېکن ذمي ښځه کوم چيٰ په هر اعتبار سره په شرعي احکامو مخاطبه ده. پر هغې خو به بالکل حدّ واجبيږي.

د دې په خلاف د هلک او مجنون فعل دی. نو هغه زنا نه ده. ځکه چي دا کسان په محرماتِ شرعيه وو مخاطب نه دي او کله چي د دوی فعل بالکل زنا نه ده. نو ښکاره ده چي د امام محمد رَحِمَهُ الله لپاره د دې کسابو تابع ګرځول او له دوی څخه حدّ ساقط منل او د بالغي ښځي د أصل کېدلو پر بناء په هغې کي حدّ واجب ګرځول صحيح نه دي.

صاحب د هدايې فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې اختلاف نظير دا دی چي مثلاً يو سړی د زنا پر کولو مجبور کړی سي، او بيا دا سړی په داسي حالت کي د ښځي سره زنا وکړي چي هغه ښځه په زنا خوشحاله وي. نو دا سړی خو مُکرَه دی. او د مُکرَه والي په وجه پر هغه حدّ نه جاري کيږي. نو څرنګه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دا سړی أصل دی. لهذا کله چي پر هغه حدّ نه واجبيږي. نو پر تابع يعني پر ښځي به هم حدّ نه واجبيږي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر دې ښځي حدّ واجبيږي، ځکه چي هغه خو مُکرَهه نه ده. همدا د ائمه ثلاثه وو مذهب هم دی. (بناية ج:۶. ص:۲۶۶)

د کوچني هلک يا لېوني سره د ښځي د زنا کولو حکم

قَالَ: وَإِذَا زَنَى الصَّبِيُّ أَوِ الْمَجْنُونُ بِامْرَأَةٍ طَاوَعَتْهُ فرمايي: کله چي بچی يا لېونی د يو داسي ښځي سره زنا وکړي چي هغه ودوی ته [پر خپل ځان د زنا] موقع ورکړې فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَلَا عَلَيْهَا نو نه پر هغه [بچي يا لېوني] حدّ سته او نه پر ښځي حدّ سره وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: يَجِبُ الْحَدُّ عَلَيْهَا امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر ښځي حدّ واجبيږي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ همدا له امام ابو يوسف رحمه الله څخه يو روايت [هم] دی وَإِنْ زَنَى صَحِيحٌ بِمَجْنُونَةٍ أَوْ صَغِيرَةٍ يُجَامَعُ مِثْلُهَا او که صحيح سلامت سړی د يوې لېونۍ ښځي يا د يوې داسي کوچنۍ نجلۍ سره جماع وکړي چي د هغومره نجلۍ سره جماع کېدلای سي حُدَّ الرَّجُلُ خَاصَّةً نو فقط پر سړي به حدّ جاري کيږي وَهَذَا

بِالْإِجْمَاعِ او دا حکم متفق علیه دی لَهُمَا: أَنَّ الْعُذْرَ مِنْ جَانِبِهَا لَا يُوجِبُ سُقُوطَ الْحَدِّ مِنْ جَانِبِهِ د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې د ښځې عذر له سړي څخه د حدّ ساقطېدل نه ثابتوي ايعني که د ښځې له طرفه عذر وي نو هغه له سړي څخه حدّ نه ساقطوي ا فَكَذَا الْعُذْرُ مِنْ جَانِبِهِ نو همداسې به د سړي عذر هم اله ښځې څخه د حدّ ساقطېدل نه ثابتوي ا وَهَذَا لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمَا مُؤَاخَذٌ بِفِعْلِهِ او دا ځکه چې په دوی کې هر يو په خپل فعل سره نيول سوی او ذمه وار دی ايعني هر انسان د خپل فعل ذمه واره دی. او په خپل فعل سره د هغه مؤاخذه کيږي ا وَلَنَا: أَنَّ فِعْلَ الزِّنَا يَتَحَقَّقُ مِنْهُ زموږ دلیل دا دی: چې د زنا فعل اپه حقيقت کې ا د سړي له طرفه ثابتيږي وَإِنَّمَا هِيَ مَحَلُّ الْفِعْلِ او ښځه خو افقط ا د فعل محل ده وَلِهَذَا يُسَمَّى هُوَ وَاطِئًا وَزَانِيًا همدا وجه ده چې سړي ته وطي کونکی او زنا کونکی ويل کيږي وَالْمَرْأَةُ مَوْطُوءَةً وَمَزْنِيًّا بِهَا او ښځې ته وطي کړی سوې یا زنا کړی سوې ويل کيږي إِلَّا أَنَّهَا سُمِّيَتْ زَانِيَةً مَجَازًا تَسْمِيَةً لِلْمَفْعُولِ بِاسْمِ الْفَاعِلِ ليکن هغې ته د مجاز په توګه زانيه ازنا کونکې ا ويل کيږي. مفعول ته د اسمِ فاعل په نوم ورکولو سره ايعني کله چې ښځې ته زانيه ويل کيږي. نو په هغه وخت کې مفعول مجازا د فاعل په معنیٰ سره ګرځول کيږي ا كَالرَّاضِيَةِ فِي مَعْنَى الْمَرْضِيَّةِ لکه راضيه چې د راضي کړی سوي په معنیٰ سره دی أَوْ لِكَوْنِهَا مُسَبِّبَةً بِالتَّمْكِينِ يا ځکه چې اد زنا ا په قدرت ورکولو سره ښځه د زنا سبب جوړېدونکې ده فَتَعَلَّقَ الْحَدُّ فِي حَقِّهَا بِالتَّمْكِينِ مِنْ قَبِيحِ الزِّنَا لهذا پر بد ترين فعل باندي د قدرت ورکولو په وجه به د هغې په حق کي حدّ ثابتيږي وَهُوَ فِعْلُ مَنْ هُوَ مُخَاطَبٌ بِالْكَفِّ عَنْهُ حال دا چې دا د هغه کس فعل دی چې و هغه ته له دې فعل څخه د منع کېدلو حکم سوی دی وَمُؤْثِمٌ عَلَى مُبَاشَرَتِهِ او اچې هغه ا به د دې پر کولو ګناهګار وي وَفِعْلُ الصَّبِيِّ لَيْسَ بِهَذِهِ الصِّفَةِ او د بچي فعل په دې توګه نه دی فَلَا يُنَاطُ بِهِ الْحَدُّ نو ځکه به د هغه سره حدّ نه متعلق کيږي.

اللغات: ﴿طَاوَعَتْهُ﴾ د مفاعلې له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: راضي کېدل. موقع ورکول (چانس ورکول). اطاعت کول (غاړه ايښودل). ﴿حُدَّ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: حدّ جاري. حدّ لګول. ﴿مُؤَاخَذٌ﴾ د مفاعلې اسمِ مفعول دی: نيول سوی.

﴿مُسَبِّبَة﴾ د تفعيل مؤنث اسمِ فاعل دی سبب جوړېدونکی. سبب پيدا کونکی. ﴿تَمْكِيْن﴾ د تفعيل مصدر دی: قدرت ورکول (پر خپل ځان چا ته قدرت او اختيار ورکول). ﴿قَبِيْح﴾ بد کار. ﴿كَفّ﴾ د نصر مصدر دی: منع کېدل. منع کول (متعدي او غيرِ متعدي دواړه راځي). ﴿مُبَاشَرَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: کول (يو کار په خپله کول). ارتکاب. ﴿لَا يُنَاط﴾ د فتح له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: متعلق کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يوه ښځه پر خپل ځان کوچني هلک يا لېوني ته قدرت ورکړي او د زنا کولو موقع ورکړي. نو زموږ په نېز نه پر زاني يعني پر هلک او مجنون حدّ واجبېږي. او نه پر مزنيه (مطاوعه) ښځې حدّ واجبېږي. لېکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز که څه هم پر هلک يا مجنون حدّ نه واجبېږي. لېکن پر مطاوعه ښځې حدّ واجبېږي. دويمه مسئله دا ده که يو صحيح سالم سړی د يوې لېونۍ ښځې سره زنا وکړي يا د داسې کوچنۍ نجلۍ سره جماع وکړي کوم چې د جماع قابله وي. نو فقط پر زاني سړي حدّ واجبېږي. پر مجنونه او صغيره باندي حدّ نسته. دا مسئله إجماعي او متفق عليه ده.

دليل: په مختلف فيه مسئله کي د امام زفر او امام شافعي دليل دا دی چي زاني او زانيه دواړه د خپل فعل او کار ذمه واران وي او د خپل فعل په وجه د دې مؤاخذه او نيوکه کيږي. او که په ښځه کي يو عذر وي مثلاً هغه صبيه يا مجنونه وي او د هغه عذر په وجه پر هغې حدّ واجب نه وي نو دا عذر به د سړي په حق کي نه معتبر کيږي او له هغه څخه به حدّ نه ساقطيږي. همدارنګه که د سړي په حق کي عذر وي نو د هغه عذر به د ښځې په حق کي نه مؤثر کيږي. او څرنګه چي دلته سړی د صبي کېدلو يا مجنون کېدلو په وجه معذور دی. نو په دې وجه خو به پر هغه حدّ نه واجبيږي. لېکن ښځه کوم چي مطاوعه ده پر هغې به حدّ واجبيږي.

زموږ دليل: دا دی چي زنا په حقيقت کي د سړي له طرفه صادريږي او عورت خو د وطي مقام او محل وي. همدا وجه ده چي سړي ته "زنا کونکی" او "وطي کونکی" وايي. لېکن ښځي ته مزنيه او موطوئه (زنا کړی سوې او وطي کړی سوې) وايي. او هغې مجازاً ته زانيه (زنا کونکې) وايي. يا په دې وجه هغې ته زانيه وايي چي هغه يو سړي ته پر خپل ځان قدرت ورکوي او د دې ناوړه حرکت سبب جوړيږي. بيا هم د زنا فعل د سړي وي. او هغه له دې فعل څخه منع سوی دی. او د نه منلو په صورت کي د سختي سزا ورکولو حکم سوی دی. لنډه دا چي ښځه فقط په هغه وخت کي مُسَبِّبه ګرځي کله چي هغه يو بالغ سړي ته پر خپل ځان قدرت ورکړي. او څرنګه دلته هغې نابالغ او غيرِ مکلف يعني صبي او مجنون ته پر ځان قدرت ورکړی دی. نو ځکه به هغه مسببه نه وي او د دې مطاوعت په وجه به پر هغې حدّ نه واجبيږي.

د مُکرَه (مجبور) سړي د زنا کولو حکم

قَالَ وَمَنْ أَكْرَهَهُ السُّلْطَانُ حَتَّى زَنَى فرمايي: او څوک چي حاکم [د زنا پر کولو] مجبور کړي، تر دې چي هغه زنا وکړي فَلَاحَدَّ عَلَيْهِ نو پر هغه حدّ نسته وَكَانَ أَبُوحَنِيفَةَ: يَقُولُ أَوَّلًا: يُحَدُّ او امام صاحب رَحِمَهُ الله به مخکي ويل: چي پر هغه به حدّ جاري کيږي وَهُوَقَوْلُ زُفَرَ همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ الزِّنَا مِنَ الرَّجُلِ لَايُتَصَوَّرُ إِلَّا بَعْدَ انْتِشَارِ الْآلَةِ ځکه چي د سړي له طرفه فقط د ذکر تر دربدلو وروسته د زنا تصوّر کېدای سي [يعني سړی فقط هغه وخت زنا کولای سي کله چي د هغه ذکر منتشر او ودربږي] وَذٰلِكَ دَلِيلُ الطَّوَاعِيَةِ او د ذکر دربدل [انتشار] د رضامندۍ دليل دی ثُمَّ رَجَعَ عَنْهُ [لېکن] بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله له دې قول څخه رجوع وکړه فَقَالَ: لَاحَدَّ عَلَيْهِ او ويې فرمايل: چي پر هغه حدّ نسته لِأَنَّ سَبَبَهُ الْمُلْجِئَ قَائِمٌ ظَاهِرًا ځکه چي پر زنا مجبوره کونکی سبب په ښکاره توګه موجود دی وَالِانْتِشَارُ دَلِيلٌ مُتَرَدِّدٌ او د ذکر دربدل يو مشکوک دليل دی لِأَنَّهُ قَدْيَكُونُ مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ ځکه چي [د ذکر دربدل] کله د ارادې څخه بغير [هم] وي لِأَنَّ الِانْتِشَارَ قَدْيَكُونُ طَبْعًا لَا طَوْعًا ځک چي د ذکر دربدل کله په طبيعي توګه وي، نه د رضا [او قصد] په توګه كَمَا فِي النَّائِمِ لکه په بيده سړي کي [چي کله نا کله په طبيعي توګه داسي کيږي] فَأَوْرَثَ شُبْهَةً نو دې شبهه پيدا کړه [مطلب دا چي په طواعيت او رضا کي شبهه پيدا سوه، نو ځکه به حدّ نه جاري کيږي] وَإِنْ أَكْرَهَهُ غَيْرُ السُّلْطَانِ او که له باچا [حاکم] څخه بغير [بل چا] هغه مجبوره کړی وي حُدَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر هغه حدّ جاري کيږي وَقَالَا[*]: لَا يُحَدُّ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي حدّ به نه پر جاري کيږي لِأَنَّ الْإِكْرَاهَ عِنْدَهُمَا قَدْيَتَحَقَّقُ مِنْ غَيْرِ السُّلْطَانِ ځکه چي د دوی په نيز له باچا څخه بغير [د بل چا] له طرفه هم إکراه ثابتيږي لِأَنَّ الْمُؤَثِّرَ خَوْفُ الْهَلَاكِ وَأَنَّهُ يَتَحَقَّقُ مِنْ غَيْرِهِ ځکه چي اثر کونکی [اغېزمن] شی خو د هلايت بېره ده او هغه د غير [بل چا] له

---

[*] القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۷۲)، وكذا في الهندية (ج:۲، ص:۱۵۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۲۳]

طرفه اهم ا ثابتېداى سي وَلَهُ: أَنَّ الْإِكْرَاهَ مِنْ غَيْرِهِ لَا يَدُومُ إِلَّا نَادِرًا د امام صاحب رحمه الله دليل دا دى: چي د غېرله طرفه إكراه دوام نه كوي مګر ډېر كم اشاذ ونادر ا لِتَمَكُّنِهِ مِنَ الْاِسْتِعَانَةِ بِالسُّلْطَانِ أَوْ بِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ ځكه چي مُكرَه امجبور سوى كس اله باچا يا د مسلمانانو له جماعت څخه د مدد غوښتلو قدرت لري وَتَمَكُّنِهِ دَفْعُهُ بِنَفْسِهِ بِالسِّلَاحِ اهمدارنګه اهغه د يو وسلې په ذريعه د إكراه پر دفع كولو قدرت لري وَالنَّادِرُ لَا حُكْمَ لَهُ او نادر شي لره هيڅ حكم نه وي ايعني پر نادر هيڅ حكم صادرېداى نه سي ا فَلَا يَسْقُطُ بِهِ الْحَدُّ نو ځكه به په هغه سره حد نه ساقطيږي بِخِلَافِ السُّلْطَانِ په خلاف د باچا اد إكراه ا لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الْاِسْتِعَانَةُ بِغَيْرِهِ ځكه چي مُكرَه د هغه په خلاف له بل چا څخه مدد نه سي غوښتلاى ا ځكه چي د هغه پاور او طاقت تر ټولو خلكو زيات دى ا وَلَا الْخُرُوجُ بِالسِّلَاحِ عَلَيْهِ او نه د هغه په خلاف وسله را ايستلاى سي فَافْتَرَقَا نو ځكه دا دواړه سره جلا سول.

اللغات: ﴿أَكْرَهَهُ﴾ د افعال ماضي ده. أَكْرَهَ يُكْرِهُ إِكْرَاهًا: مجبوره كول. په يو چا په زوره كار كول. ﴿إِنْتِشَار﴾ د افتعال مصدر دى: غوړېدل. مراد ځني د ذكر پورته كېدل. درېدل او كلكېدل دي. ﴿طَوَاعِيَة﴾ رضامندي. خوښه او رضا. ﴿مُلْجِئ﴾ د افعال اسم فاعل دى: مجبوره كونكى. ﴿مُتَرَدَّد﴾ د تفعل اسم مفعول دى: مشكوك. شكمن. ﴿لَا يَدُوْم﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: همېشه پاتېدل. دوام كول. ﴿إِسْتِعَانَة﴾ د استفعال مصدر دى: د مرستي طلب كول. مدد غوښتل (كومك غوښتل). ﴿سِلَاح﴾ اسلحه. وسله.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه د وخت حاكم (واكمن) يو څوك د زنا پر كولو مجبور وكړي. او هغه مجبوراً زنا وكړي، نو پر هغه حد نسته، كه څه هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله مخكني قول دا وو چي پر داسي سړي حد واجبيږي، لېكن وروسته هغه له خپل دې قول څخه رجوع وكړه او د نه وجوب حكم يې وكړى. او د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دا دى چي پر داسي سړي حد واجبيږي. د دې قول (يعني د حد واجبېدلو) دليل دا دى چي تر څو د سړي ذكر نه ودريږي او منتشر نه سي. تر هغه وخته سړى زنا نه سي كولاى. او د هغه د ذكر منتشر كېدل او درېدل د دې خبري دليل دا دى چي په هغه خوشالي او رضا زنا كړې ده. او څوك چي په رضا زنا وكړي نو پر هغه حد واجيږي. نو ځكه به پر دې سړي هم حد واجبيږي.

د مرجوع قول (چي په آخر كي امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه ته رجوع كړې ده) دليل دا دى چي دغه سړي د حاكم د فشار او د هغه د زور په وجه د هلاكت له بيري څخه مجبوراً زنا كړې ده. او د حاكم إكراه له اول څخه تر آخره

پورې موجوده ده. نو ځکه دلته زاني مُکره دی. او پر مُکره سړي حد نه سته. نو ځکه به حد نه پر واجبيږي. او پاته سوه د ذکر د انتشار مسئله. نو د هغه جواب دا دی چي انتشار د رضا او خوښي دليل نه سي جوړېدای. ځکه کله نا کله د جماع او زنا له قصد څخه بغير هم انتشار پيدا کيږي. لکه څرنګه چي د بيده سړي ذکر ځيني وخت منتشر کيږي. حال دا چي د هغه قصد د جماع او زنا نه وي. نو په دې وجه انتشار د رضا دليل نه سي شمارل کېدای.

وإن أكرهه غير السلطان إلخ: که له حاکم او باچا څخه بغير بل څوک يو سړی د زنا پر کولو مجبور کړي او هغه زنا وکړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به پر هغه حد جاري کيږي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به حد نه پر جاري کيږي. د دواړو طرفونو دليل له ترجمې څخه واضح دی. په غور سره يې مطالعه کړئ!

که په خاوند او ښځه کي يو د زنا دعویٰ وکړي او بل د نکاح دعویٰ وکړي؟ (حکم)

وَمَنْ أَقَرَّ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي مَجَالِسَ مُخْتَلِفَةٍ أَنَّهُ زَنَى بِفُلَانَةٍ او کوم سړی چي په مختلفه مجلسونو کي څلور واره دا اقرار وکړي چي هغه د فلانۍ ښځي سره زنا کړې ده **وَقَالَتْ هِيَ: تَزَوَّجَنِيْ** او فلانۍ ښځه ووايي: چي هغه زما سره نکاح کړې ده **أَوْ أَقَرَّتْ بِالزِّنَا وَقَالَ الرَّجُلُ: تَزَوَّجْتُهَا** يا دا چي ښځه د زنا اقرار وکړي او سړی ووايي: چي ما د هغي سره نکاح کړې ده **فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ** نو پر سړي حد نسته **وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ فِي ذٰلِكَ** او په دواړو صورتونو کي به پر هغه مهر اواجب ا وي **لِأَنَّ دَعْوَى النِّكَاحِ يَحْتَمِلُ الصِّدْقَ** ځکه چي د نکاح دعویٰ کول د رښتياولي احتمال اهم الري **وَهُوَ يَقُومُ بِالطَّرَفَيْنِ** او نکاح پر دواړو طرفونو ولاړه ده **فَأَوْرَثَ شُبْهَةً** نو دې اقرار شبهه پيدا کړه **وَإِذَا سَقَطَ الْحَدُّ** او کله چي حد ساقط سو **وَجَبَ الْمَهْرُ تَعْظِيمًا لِخَطَرِ الْبُضْعِ** نو د بضع د احترام ااو درنښت اڅرګندولو لپاره به مهر واجبيږي.

اللغات: ﴿صِدْق﴾ د نصر اسمِ مصدر دی: رښتيا والی (رښتيا ويل). صداقت. ﴿أَوْرَثَ﴾ د افعال ماضي ده: په نتيجه کي پرېښوول. سبب جوړېدل. وارث جوړول. ﴿خَطَر﴾ احترام. درنښت (درناوی). ﴿بُضْع﴾ د ښځي شرمګاه.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی څلور واره په څلورو مجلسونو کي دا اقرار وکړي چي ما د فلانۍ ښځي سره زنا کړې ده. لېکن ښځه وايي چي هغه زما سره نکاح کړې ده. يا ښځه د زنا اقرار وکړي او سړی د نکاح خبره وکړي. نو په دې دواړو صورتونو کي پر يوه هم حد نه واجبيږي. او پر سړي مهر واجبيږي: ځکه چي د نکاح په دعویٰ کي د صدق او رښتياوالي احتمال هم سته. او نکاح له دواړو

طرفونو څخه ثابتيږي هغه که سړی دعویٰ وکړي يا ښځه دعویٰ وکړي. لهذا دغه دعوې د حدّ په وجوب کې شبهه پيدا کړه، او په شبهاتو سره حدود ساقطيږي نو ځکه به له دواړو څخه حدّ ساقطيږي، لېکن د ملکِ بضع د شرافت څرګندولو لپاره به پر سړي (يعني پر خاوند) مهرِ مثل واجب وي.

د زنا په وجه د مينځې مړه کېدل (حکم او اختلاف)

وَمَنْ زَنٰى بِجَارِيَةٍ فَقَتَلَهَا او کوم کس چې د مينځې سره زنا وکړي او هغه [په زنا سره] قتل کړي فَإِنَّهُ يُحَدُّ نو پر هغه به حدّ جاري کيږي وَعَلَيْهِ الْقِيمَةُ او پر هغه به قيمت [هم واجب] وي مَعْنَاهُ: قَتَلَهَا بِفِعْلِ الزِّنَا د دې مطلب دا دی چې زاني په زنا کولو سره هغه قتل کړي لِأَنَّهُ جَنٰى جِنَايَتَيْنِ ځکه چې هغه دوه جرمونه وکړه فَيُوَفَّرُ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حُكْمَهُ لهذا په دوی کې به هر يوه ته د هغه پوره حکم ورکول کيږي [مطلب دا چې پر دغه کس به د هر جرم حکم جاري کيږي] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁: أَنَّهُ لَا يُحَدُّ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چې پر هغه به حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّ تَقَرُّرَ ضَمَانِ الْقِيمَةِ سَبَبٌ لِمِلْكِ الْأَمَةِ ځکه چې د قيمت د ضمان ثبوت د مينځې د مالک جوړېدلو سبب دی [يعني د ضمان لازمېدل د مينځې د مالک جوړېدلو لامل دی] فَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَاهَا بَعْدَ مَا زَنٰى بِهَا نو داسې سو لکه زاني چې تر زنا کولو وروسته مينځه رانيسي وَهُوَ عَلٰى هٰذَا الِاخْتِلَافِ او دا [هم] پر همدغه اختلاف دي وَاعْتِرَاضُ سَبَبِ الْمِلْكِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ يُوجِبُ سُقُوطَهُ او تر حدّ جاري کولو مخکې د ملکيت سبب مخته راتلل د حدّ سقوط ثابتوي كَمَا إِذَا مَلَكَ الْمَسْرُوقَ قَبْلَ الْقَطْعِ لکه کله چې غل تر لاس پرېکېدلو مخکې د غلا کړی سوي شي مالک جوړ سي [نو له هغه څخه د لاس پرېکېدلو حدّ ساقطيږي] وَلَهُمَا: أَنَّهُ ضَمَانُ قَتْلٍ د طرفينو دليل دا دی: چې دا قيمت د قتل ضمان دی فَلَا يُوجِبُ الْمِلْكَ نو ځکه به ملکيت نه ثابتوي لِأَنَّهُ ضَمَانُ دَمٍ ځکه چې دا قيمت د خون ضمان دی وَلَوْ كَانَ يُوجِبُهُ فَإِنَّمَا يُوجِبُهُ فِي الْعَيْنِ كَمَا فِي هِبَةِ الْمَسْرُوقِ او که چيري هغه ملکيت ثابتولای نو په ذات [مينځه] کې به يې ثابتولای، لکه د غلا کړی سوي شي په هبه کولو کې [چې داسې کيږي] لَا فِي مَنَافِعِ الْبُضْعِ [او] د بضع په منافعو کې به يې ملکيت نه ثابتولای لِأَنَّهَا اُسْتُوْفِيَتْ ځکه چې د

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۷۳). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۴۳]

بُضع منافع خو امخکي لا ا حاصل کړی سول وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ مُسْتَنِدًا او ملکيت د منسوبېدلو په حالت کي ثابتيږي [يعني ملکيت تر ضمان ورکولو وروسته ثابتيږي] فَلَا يَظْهَرُ فِى الْمُسْتَوْفَى لهذا هغه به په حاصل کړي سوي شي [منافعو] کي نه ښکاره کيږي لِكَوْنِهَا مَعْدُومَةً ځکه چي هغه خو نيستي سول وَهَذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا زَنَى بِهَا فَأَذْهَبَ عَيْنَهَا او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چي [يو ځوک] د مينځي سره زنا وکړي او د هغې يوه سترګه ختمه کړي حَيْثُ تَجِبُ عَلَيْهِ قِيمَتُهَا نو [په هغه صورت کي] پر هغه د مينځي قيمت واجبيږي وَيَسْقُطُ الْحَدُّ او حدّ ساقطيږي لِأَنَّ الْمِلْكَ هُنَالِكَ يَثْبُتُ فِي الْجُثَّةِ الْعَمْيَاءِ وَهِيَ عَيْنٌ ځکه چي هلته په ړانده جسم کي ملکيت ثابتيږي او هغه سترګه ده [يعني هلته په ختمه سوې سترګه کي ملکيت ثابتيږي] فَأَوْرَثَ شُبْهَةً نو دې ملکيت شبهه پيدا کړه.

اللغات: ﴿يُوَفِّر﴾ د تفعيل مضارع ده: پوره ورکول (حق پوره ورکول). ﴿دَم﴾ وينه. خون (وژنه). ﴿يُوجِبُهُ﴾ افعال مضارع ده: ثابتول. واجبول. ﴿أُسْتُوْفِيَت﴾ د استفعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده: حاصلول (خپل حق اخيستل). تر لاسه کول. ﴿مُسْتَنِدًا﴾ د استفعال اسم فاعل دی. اِسْتَنَدَ يَسْتَنِدُ اِسْتِنَادًا: نسبت کېدل. منسوب کېدل (تر سبب وروسته متصل راتلل). ﴿عَيْن﴾ سترګه. ﴿جُثَّة﴾ جسم. جسد. قواره. شکل. خيره.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی د يوې مينځي سره په دومره فشار زنا وکړي چي د هغه په وجه مينځه مړه سي. نو پر زاني حدّ هم واجبيږي. او د مينځي قيمت هم پر واجبيږي. ځکه چي هغه دوه جنايته کړي دي: ① يو زنا چي هغه حدّ واجبوي. ② بل قتل چي د هغه بدل قيمت دی. نو ځکه به پر هغه حدّ او قيمت دواړه شيان وي. له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي پر زاني صرف قيمت واجبيږي. ځکه چي د قيمت تر اداء کولو وروسته هغه د دې مينځي مالک جوړيږي. او تر حدّ جاري کېدلو مخکي مالک جوړېدل حدّ ساقطوي. لکه يو ځوک چي يو شی غلا کړي. بيا تر لاس پرېکېدلو مخکي د هغه شي مالک سي. نو له هغه څخه حدّ (قطعُ اليد) ساقطيږي). همداسي به دلته هم که تر حدّ جاري کېدلو مخکي زاني د مقتوله مزنيه مينځي مالک سي نو له هغه څخه به حدّ ساقطيږي. او لکه څرنګه چي تر زنا وروسته زاني مزنيه مينځي رانيسي. نو په هغه صورت کي هم د امام ابو يوسف په نېز حدّ ساقطيږي.

لهما إلخ: د طرفينو دليل دا دی چي ملکيت خو د يو شي په رانيولو يا په وراثت او هبه کي د يو شي په حاصلولو سره ثابتيږي. د خون د ضمان په ورکولو سره ملکيت نه حاصليږي. حالانکي دلته چي پر زاني کوم قيمت واجب دی. هغه د خون ضمان دی. نو ځکه په دې سره ملکيت نه سي ثابتېدای او کله چي ملکيت نه ثابتيږي. نو پر زاني به د زنا په وجه حدّ واجبيږي. او که چيري موږ دا خبره تسليم هم کړو چي په دې ضمان سره د زاني مُلکيت (په مينځه کي) ثابتيږي. نو دا ملکيت به د مينځي په عين (ذات) کي ثابتيږي. نه د بضع په منافعو کي. او ملکيت د استناد په توګه په قائم شي کي ثابتيږي. حالانکي زاني خو مخکي ملکِ بضع حاصله کړه او هغه نيستي سوه. نو ځکه د زاني ملکيت په هغه کي نه سي ثابتېدای. او حدّ د ملکِ بضع د حاصلولو عوض دی (او هغه نيستي سوه). نو ځکه به پر هغه خامخا حدّ لازميږي (خلاصه دا چي دا ضمان د مينځي قيمت هم جوړېدای نه سي. ځکه چي هغه مړه سو. او کومه نفع (وطي) چي سړي له مينځي څخه حاصله کړې ده. دا ضمان د هغه قيمت هم جوړېدا نه سي. ځکه چي هغه نفع او محل د نفع هم معدوم او نيستي سو. نو ځکه به دا قيمت فقط د ښځي د خون ضمان وي. او حدّ به پر هغه جلا واجبيږي).

د دې په خلاف که يو سړی د يوې مينځي سره زنا وکړي او د هغې يوه سترګه ختمه کړي. نو فقط پر هغه د مينځي د سترګي قيمت واجبيږي. حدّ نه پر واجبيږي. ځکه چي دلته د زاني لپاره د مينځي په سترګه کي ملکيت حاصل سو. او د استناد په توګه په مينځه کي هغه لره ملکيت حاصلېدای سي. ځکه چي مينځه ژوندۍ ده او د ملکيت محل ده. نو په سترګه کي د زاني د ملکيت په ثابتېدلو سره د مينځي په ذات کي د هغه ملکيت شبهه پيدا سوه. او د شبهي په وجه حدّ ساقطيږي. نو ځکه به په دې مسئله کي پر زاني فقط د سترګي قيمت واجبيږي. نه حدّ.

د مسلمانانو پر أمير (امام) د حدّ نافذولو بيان


قَالَ: **وَكُلُّ شَيْءٍ صَنَعَهُ الْإِمَامُ الَّذِي لَيْسَ فَوْقَهُ إِمَامٌ** فرمايي: او هر هغه کار کوم چي يې داسي إمام (حاکم) وکړي چي تر هغه پورته بل إمام نه وي **فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ إِلَّا الْقِصَاصُ** نو له قصاص څخه بغير (په بل کار کي) پر هغه حدّ نسته فَإِنَّهُ يُؤْخَذُ بِهِ وَبِالْأَمْوَالِ ليکن په قصاص او مالونو کي به د هغه نيوکه کيږي لِأَنَّ الْحُدُودَ حَقُّ اللهِ تَعَالَى ځکه چي حدود د الله حق دی وَإِقَامَتُهَا إِلَيْهِ لَا إِلَى غَيْرِهِ او د حدونو د نافذولو اختيار (فقط) حاکم لره سته. نه بل چا لره وَلَا يُمْكِنُهُ أَنْ يُقِيمَ عَلَى نَفْسِهِ او دا ممکنه نه ده چي إمام پر خپل ځان حدّ جاري کړي لِأَنَّهُ لَا يُفِيدُ (نو) ځکه (پر امام حدّ لازمول) فايده نه کوي

بِخِلَافِ حُقُوقِ الْعِبَادِ په خلاف د بندګانو د حقونو لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِيهِ وَلِيُّ الْحَقِّ ځکه چې هغه د حق خاوند (مالک) حاصلوي إِمَّا بِتَمْكِينِهِ أَوْ بِالِاسْتِعَانَةِ بِمَنَعَةِ الْمُسْلِمِينَ يا د (مالک) په قادر جوړېدلو سره يا د مسلمانانو د لښکر په راننګولو (مرسته غوښتلو) سره وَالْقِصَاصُ وَالْأَمْوَالُ مِنْهَا او قصاص او أموال له حقوقُ العباد څخه دي وَأَمَّا حَدُّ الْقَذْفِ قَالُوا: الْمُغَلَّبُ فِيهِ حَقُّ الشَّرْعِ او کوم چې حدِ قذف دی. نو علماء فرمايي: چې غالب په هغه کې د شريعت حق دی فَحُكْمُهُ حُكْمُ سَائِرِ الْحُدُودِ الَّتِي هِيَ حَقُّ اللهِ تَعَالَى نو د هغه حکم به د هغه نورو حدونو په څېر وي کوم چې د الله حق دي.

اللغات: ﴿يُؤْخَذ﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: نيول. مواخذه کول. ﴿تَمْكِيْن﴾ د تفعيل مصدر دی: قدرت ورکول. اختيار ورکول. ﴿إِسْتِعَانَة﴾ د استفعال مصدر دی: د مدد طلب کول. مرسته غوښتل (ننګول). ﴿سَائِر﴾ د دې لفظ دوې معناوې راځي: ټوله (تمام). نور (پاته). دلته يې آخري معنىٰ مراد ده.

تشريح: **مسئله**: دا ده که د مسلمانانو أمير او حاکم يو داسې حرکت وکړي چې د هغه په وجه حدّ واجبيږي مثلاً زنا يا غلا وکړي يا شراب وڅيښي. او تر هغه بل پورته حاکم نه وي. نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي. ها! که هغه يو څوک قتل کړي نو په قصاص کې به هغه هم قتل کيږي. او د أموالو په هکله به له هغه څخه پوښتنه (حساب وکتاب) کيږي. او په نورو حقوقو کې به پر هغه ځکه حدّ نه جاري کيږي چې حدود د الله تعالىٰ حق دی. او حد جاري کول فقط د إمام او حاکم کار دی. او إمام پر خپل ځان حدّ نه سي جاري کولای. نو ځکه په حدّ واجبولو کې هيڅ فايده نسته. د دې په خلاف هغه حقوق کوم چې د بندګانو سره تعلق لري مثلاً قصاص. أموال او داسې نور. نو د دې حقوقو بدله به له إمام څخه هم اخيستل کيږي. ځکه چې دا حقوق خپل مالک (د حق خاوند) حاصلوي.

او که امام پر يو چا تهمت ولګوي. نو پر هغه به حدّ قذف نه جاري کيږي. ځکه چې د علماؤ په قول په حدّ قذف کې د شريعت او الله حق غالب دی (ګواکې هغه هم حقّ الله دی). لهذا څرنګه چې په نورو حقوقُ الله کې پورتني کبير إمام او حاکم ته سزا او مجازات نه ورکول کيږي. همداسې به په حدّ قذف کې هم هغه ته سزا نه ورکول کيږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الشَّهَادَةِ عَلَى الزِّنَا وَالرُّجُوعِ عَنْهَا

(دا) باب د زنا په ګواهۍ ورکولو او له ګواهۍ څخه د رجوع کولو (په بيان کې) دی

تشريح: مخکې دا خبره ذکر سوه چې زنا خو يا په اقرار سره ثابتيږي، يا په شهادت (ګواهۍ) سره. د اقرار احکام او مسئلې په مخکنۍ باب کې بيان سوې. اوس له دې ځای څخه د شهادت مسئلې بيانيږي. شهادت ځکه له اقرار څخه وروسته بيان سوی دی چې د شهادت د شرائطو د سختوالي په وجه په شهادت سره د زنا ثابتېدل انتهائي شاذ او نادر دي. (بناية ج:٦، ص:٢٧٦)

په شهادت کې تأخير کول (ګواهي ځنډول)

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ الشُّهُودُ بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ فرمايي: که چيري ګواهان د يو پخواني حدّ ګواهي ورکړي لَمْ يَمْنَعْهُمْ عَنْ إِقَامَتِهِ بُعْدُهُمْ عَنِ الْإِمَامِ او له امام څخه د دوی ليري والي دوی له ګواهي ورکولو څخه منع کړي نه وي [يعني په ګواهۍ کې د تأخير کولو وجه دا نه وي چې د دوی او د إمام په وطن کې ډېره فاصله او ليري والي وي] لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمْ إِلَّا فِي حَدِّ الْقَذْفِ خَاصَّةً نو د دوی ګواهي به نه قبليږي مګر فقط په حدّ قذف کې وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَإِذَا شَهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُودُ بِسَرِقَةٍ أَوْ بِشُرْبِ خَمْرٍ أَوْ بِزِنًا بَعْدَ حِينٍ او په جامع صغير کې [ذکر سوي] دي: که چيري ګواهان تر يو مودت وروسته د يو چا په خلاف د غلا کولو يا د شراب چيښلو يا د زنا کولو ګواهي ورکړي لَمْ يُؤْخَذْ بِهِ نو دا ګواهي به نه قبليږي [او د دې په وجه به پر مجرم حدّ نه جاري کيږي] وَضَمِنَ السَّرِقَةَ [ليکن] هغه به د غلا ضامن وي [يعني فقط د غلا کولو په حق کې به دا ګواهي قبليږي] وَالْأَصْلُ فِيهِ: أَنَّ الْحُدُودَ الْخَالِصَةَ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى تَبْطُلُ بِالتَّقَادُمِ او په دې باره کې أصول دا دی: چې هغه حدود کوم چې خالص د الله تعالی حق دي هغه په پخوانې کېدلو سره باطليږي [يعني د ډېر وخت په تېرېدلو سره باطليږي] خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله هُوَ يَعْتَبِرُهَا بِحُقُوقِ الْعِبَادِ هغه دا پر حقوقُ العباد قياسوي وَبِالْإِقْرَارِ الَّذِي هُوَ إِحْدَى الْحُجَّتَيْنِ او پر اقرار يې قياسوي کوم چې له دوو حجتونو څخه

يو حجّت دی وَلَنَا أَنَّ الشَّاهِدَ مُخَيَّرٌ بَيْنَ حِسْبَتَيْنِ مِنْ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ وَالسَّتْرِ زمونږ دليل دا دی: چي ګواه لره په دوو ثوابونو کي د يوه ثواب حاصلولو اختيار سته يعني [پر مجرم] ګواهي اداء کول او [د مجرم] پرده ساتل فَالتَّأْخِيرُ إِنْ كَانَ لِاخْتِيَارِ السَّتْرِ نو [د ګواهۍ] تأخير که چيري د ستر [پرده ساتلو] په وجه وي فَالْإِقْدَامُ عَلَى الْأَدَاءِ بَعْدَ ذَلِكَ لِضَغِينَةٍ هَيَّجَتْهُ أَوْ لِعَدَاوَةٍ حَرَّكَتْهُ نو [تر تأخير وروسته] به د ګواهۍ پر اداء کولو د هغه إقدام کول د يو داسي بغض په وجه وي چي هغه يې [پر ګواهۍ] را پارولی وي او يا به د يو داسي دښمنۍ په وجه وي چي هغه يې [ګواهۍ ته] آماده کړی وي فَيُتَّهَمُ فِيهَا نو [په دې صورت کي] به هغه په خپله ګواهۍ کي مُتهم وي وَإِنْ كَانَ التَّأْخِيرُ لَا لِلسَّتْرِ يَصِيرُ فَاسِقًا آثِمًا او که چيري تأخير د ستر [پرده ساتلو] په وجه نه وي نو ګواه به فاسق او ګنګهار وي فَتَيَقَّنَّا بِالْمَانِعِ نو ځکه موږ د مانع يقين وکړی اطلب دا چي دا دواړه صورتونه (يعني متهم کېدل او فاسق کېدل) په يقيني توګه د شهادت له قبوليت او اداء کېدلو څخه مانع دي. نو ځکه به ګواهي نه قبليږي] بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ لِأَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يُعَادِي نَفْسَهُ په خلاف د اقرار. ځکه چي انسان د خپل ځان سره دښمني نه کوي فَحَدُّ الزِّنَا وَشُرْبِ الْخَمْرِ وَالسَّرِقَةِ خَالِصُ حَقِّ اللهِ تَعَالَى نو د زنا. شراب خوري او غلا حدّ خالص د الله تعالیٰ حق دی حَتَّى يَصِحَّ الرُّجُوعُ عَنْهَا بَعْدَ الْإِقْرَارِ همدا وجه ده چي تر اقرار وروسته له دوی څخه رجوع کول صحيح دي فَيَكُونُ التَّقَادُمُ فِيهِ مَانِعًا لهذا په ګواهۍ کي به تقادم [د ګواهۍ له قبوليت څخه] مانع وي وَحَدُّ الْقَذْفِ فِيهِ حَقُّ الْعَبْدِ او حدّ قذف د بنده حق دی لِمَا فِيهِ مِنْ دَفْعِ الْعَارِ عَنْهُ ځکه چي په هغه کي له بنده څخه د عيب [او پيغور] ختمول دي وَلِهَذَا لَا يَصِحُّ رُجُوعُهُ بَعْدَ الْإِقْرَارِ همدا وجه ده چي تر اقرار وروسته له هغه څخه رجوع کول صحيح نه دي وَالتَّقَادُمُ غَيْرُ مَانِعٍ فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ او په حقوقُ العباد کي تقادم مانع نه دی لِأَنَّ الدَّعْوَى فِيهِ شَرْطٌ ځکه چي په حقُ العبد کي دعویٰ شرط ده فَيُحْمَلُ تَأْخِيرُهُمْ عَلَى انْعِدَامِ الدَّعْوَى نو [په حقُ العبد کي] به د ګواهانو تأخير د دعویٰ پر معدوم کېدلو [نشتوالي] باندي حمل کيږي فَلَا يُوجِبُ تَفْسِيقَهُمْ نو ځکه به دا تأخير د دوی تفسيق نه واجبوي [يعني نو ځکه به په حقُ العبد کي د ګواهۍ د ځنډولو په وجه دوی فاسقان نه ګرځول کيږي] بِخِلَافِ حَدِّ السَّرِقَةِ په خلاف د غلا د حدّ لِأَنَّ

الدَّعْوَى لَيْسَتْ بِشَرْطٍ لِلْحَدِّ ځكه چي د حدّ لپاره دعوىٰ شرط نه ده لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللهِ تَعَالَىٰ ځكه چي حدّ خالص د الله تعالىٰ حق دى عَلَىٰ مَا مَرَّ لكه مخكي چي دا اخبره ا تېره سوه وَإِنَّمَا شُرِطَتْ لِلْمَالِ دعوىٰ خو ا فقط ا د مال لپاره شرط ده وَلِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَىٰ كَوْنِ الْحَدِّ حَقًّا لِلهِ تَعَالَىٰ او ځكه چي د حكم مدار پر دې خبره دى چي حدّ د الله تعالىٰ حق دى فَلَا يُعْتَبَرُ وُجُودُ التُّهْمَةِ فِي كُلِّ فَرْدٍ نو ځكه په هر فرد كي د تهمت موجودېدل معتبر نه دي وَلِأَنَّ السَّرِقَةَ تُقَامُ عَلَى الِاسْتِسْرَارِ عَلَىٰ غِرَّةٍ مِنَ الْمَالِكِ او ځكه چي غلا د مالك د غفلت په وخت كي په پټه كيږي فَيَجِبُ عَلَى الشَّاهِدِ إِعْلَامُهُ نو ځكه پر گواه د مالك خبرول واجب دي وَبِالْكِتْمَانِ يَصِيرُ فَاسِقًا آثِمًا او د ا گواهى ا د پټولو په وجه هغه فاسق او گنهگار گرځي ثُمَّ التَّقَادُمُ كَمَا يَمْنَعُ قَبُولَ الشَّهَادَةِ فِي الِابْتِدَاءِ يَمْنَعُ الْإِقَامَةَ بَعْدَ الْقَضَاءِ عِنْدَنَا بيا چي څرنگه تقادم په ابتداء كي د شهادت له قبوليت څخه مانع دى همداسي زموږ په نېز تر قضاء وروسته هم د حدّ له اقامت ا جاري كولو ا څخه مانع دى خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله حَتَّىٰ لَوْ هَرَبَ بَعْدَ مَا ضُرِبَ بَعْضَ الْحَدِّ ثُمَّ أُخِذَ بَعْدَ مَا تَقَادَمَ الزَّمَانُ تر دې كه ا يو مجرم ا د حدّ يو څه حصه ووهل سي او ا په دې دوران كي ا هغه وتښتيږي بيا تر يو مودت تېرېدلو وروسته هغه ونيول سي لَا يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر هغه به حدّ نه جاري كيږي لِأَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي بَابِ الْحُدُودِ ځكه چي د حدونو په باب كي حدّ جاري كول له قضاء څخه دي ا يعني ځكه چي د حدّ په باب كي حدّ جاري كول هم د قضاء حصه ده ا وَاخْتَلَفُوا فِي حَدِّ التَّقَادُمِ او د تقادم په اندازه كي مشائخو اختلاف كړى دى وَأَشَارَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ إِلَىٰ سِتَّةِ أَشْهُرٍ امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير كي شپږو مياشتو ته اشاره كړې ده فَإِنَّهُ قَالَ بَعْدَ حِينٍ ځكه چي هغه "بَعْدَ حِينٍ" فرمايلي دي ا او د حِين إطلاق پر شپږو مياشتو كيږي ا وَهَكَذَا أَشَارَ الطَّحَاوِيُّ او همدارنگه امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم ا دې ته ا اشاره كړې ده وَأَبُو حَنِيفَةَ لَمْ يُقَدِّرْ فِي ذَلِكَ او امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې هكله هيڅ مودت ټاكلى نه دى وَفَوَّضَهُ إِلَىٰ رَأْيِ الْقَاضِي فِي كُلِّ عَصْرٍ او دا يې د هري زمانې د قاضي ته سپارلى دى وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ قَدَّرَهُ بِشَهْرٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى: چي هغه تقادم په

يوې مياشتي سره اندازه کړي دی لِأَنَّ مَا دُونَهُ عَاجِلٌ ځکه چي تر يوې مياشتي کم مودت عاجل وخت دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او همدا له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه يو روايت دی وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح دی وَهَذَا إِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ الْقَاضِي وَبَيْنَهُمْ مَسِيرَةُ شَهْرٍ او دا حکم په هغه صورت کي چي کله د قاضي او د ګواهانو په مينځ کي د يوې مياشتي مسافه نه وي أَمَّا إِذَا كَانَ لېکن که چيري د يوې مياشتي مسافه وي تُقْبَلُ شَهَادَتُهُمْ نو د دوی ګواهي به قبليږي لِأَنَّ الْمَانِعَ بُعْدُهُمْ عَنِ الْإِمَامِ ځکه چي (په دې صورت کي) مانع له امام څخه د دوی لېري والي دی فَلَا تَتَحَقَّقُ التُّهْمَةُ نو تهمت نه ثابتيږي وَالتَّقَادُمُ فِي حَدِّ الشُّرْبِ كَذَلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او د شرابو په حد کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز همدومره تقادم معتبر دی (يعني د شراب چيښلو په حد کي د هغه نيز د تقادم مودت يوه مياشته ده) وَعِنْدَهُمَا يُقَدَّرُ بِزَوَالِ الرَّائِحَةِ عَلَى مَا يَأْتِي فِي بَابِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به هغه (د خولې) د بوی په ختمېدلو سره اندازه کيږي چي د دې بيان به انشاء الله په خپل باب کي (استاسي مخته) راسي.

اللغات: ﴿مُتَقَادِم﴾ د تفاعل اسمِ فاعل دی: پخواني. مخکني. ﴿تَقَادُم﴾ د تفعل مصدر دی: پخواني کېدل. مخکي کېدل. ډېر وخت تېرېدل. ﴿حِسبَتَين﴾ د ثواب دوې طريقې. دوه ثوابونه. دوه أجرونه. ﴿سَتَر﴾ پرده داري. پرده ساتل. پرده پوشي. ﴿ضَغِينَة﴾ کينه. بغض. ﴿هَيَّجَتْه﴾ د تفعيل ماضي ده: پارول. لمسول. په اشتعال کي راوستل. ﴿حَرَّكَتْه﴾ دا هم د تفعيل ماضي ده: ښورول. هڅول. آماده کول. ﴿عَدَاوة﴾ دښمني. ﴿تَفْسِيق﴾ د تفعيل مصدر دی: فاسق ګرځول. فاسق شمارل (فاسق ورته ويل). ﴿إِسْتِسْرَا﴾ د استفعال مصدر دی: په پټه د يو شي طلب کول. ﴿كِتْمَان﴾ د نصر مصدر دی: پټول. ﴿إِمْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: د حدّ نافذول. حدّ جاري کول. ﴿قَدَّرَهُ﴾ د تفعيل ماضي ده: اندازه کول. مقدار ټاکل. مقرر کول. ﴿عَاجِل﴾ فوراً. ژر (مراد ځني لنډ وخت دی). ﴿مَسِيرة﴾ مسافه. فاصله (واټن). ﴿رَائِحة﴾ بوی.

تشريح: **مسئله**: دا ده که چيري ګواهانو پريو پخواني حدّ شهادت (ګواهي) ورکړه. او د شهادت له اداء کولو څخه د دوی لپاره هيڅ شي مانع نه وو. يعني نه دا کسان (ګواهان) له امام څخه لېري وه. او نه دوی په يو مرض مبتلا وه. خو د دې باوجود ګواهانو د شهادت په اداء کولو کي تأخير وکړی. نو په

داسي صورت کي به د دوی شهادت فقط په حدّ قذف کي قبليږي او له دې څخه بغير به په بل شي کي نه قبليږي. په جامع صغير کي دا مسئله بيان سوې ده چي که يو څو خلک ډېر وخت وروسته د يو چا په خلاف د غلا کولو يا د شراب چيښلو يا د زنا کولو ګواهي ورکړي، نو فقط د غلا کولو په حق کي به دا شهادت قبليږي او د زنا او داسي نورو په حق کي به نه قبليږي.

والأصل إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي په دې سلسله کي زموږ اُصول او قاعده دا ده چي کوم حدود خالص د الله تعالىٰ حق دي هغه په تأخير او تقادم سره باطليږي (يعني په ځنډولو او په ډېر وخت تېرېدلو سره ساقطيږي). لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حقوقُ الله هم د حقوقُ العباد په څېر په تأخير او تقادم سره نه باطليږي. او لکه څرنګه چي يو زناکاره يا شراب خوره تر ډېر وخت وروسته د زنا يا د شراب اقرار وکړي نو له هغه څخه حدّ نه ساقطيږي. همداسي تر ډېر وخت وروسته د زنا يا د شرابو په شهادت ورکولو سره هم حدّ نه باطليږي. لنډه چي څرنګه اقرار حجّت دی. د امام شافعي په نېز شهادت هم هغسي حجّت دی.

زموږ دليل: دا دی چي ګواه لره په دوو خبرو کي د يوې خبري اختيار سته: ① يا دا چي شهادت ورکړي او ثواب حاصل کړي. ② يا دا چي شهادت پټ کړي او د ستر (پرده داری) ثواب حاصل کړي. نو که ګواه د ستر او پرده پوشی په نيت په شروع کي شهادت اداء نه کړی. او بيا تر يو مودت وروسته هغه د شهادت پر اداء کولو إقدام وکړی. نو د هغه دا إقدام به پر بغض او کينه (عداوت) مبني وي. او په دې وجه سره به ګواه د شهادت په اداء کولو کي متهم او تورن وي. او که چيري د شهادت په اداء کولو کي د تأخير کولو وجه ستر او پرده پوشي نه وي او بېله وجهې شهادت ځنډول سوی وي. نو د دې تأخير په وجه به ګواه فاسق او ګناهګاره وي. او دا دواړه صورتونه (يعني متهم کېدل او فاسق کېدل) د شهادت له اداء کېدلو څخه مانع دي. نو ځکه به د هغه شهادت بالکل نه قبليږي.

د شهادت په خلاف د اقرار مسئله ده. نو په اقرار کي تأخير په دې وجه مانع نه دی چي په اقرار سره ثابتېدونکی حکم په خپله پر مُقر (اقرار کونکي) ثابتيږي. او انسان د خپل ذات سره بغض او عداوت نه کوي. نو په دې د اقرار په صورت کي انسان متهم کېدلای نه سي او تر تأخير وروسته به هم د هغه اقرار معتبر وي.

اوس تاسي زموږ د مخکني اُصول په رڼا کي د عبارت تشريح ته ګورئ! د غلا او د شرابو حدود خالص حقوقُ الله دي. له همدې وجهې د دې شيانو تر اقرار وروسته له اقرار څخه رجوع کول صحيح دي. نو ځکه به په دوی کي تقادم او تأخير د شهادت له قبلېدلو څخه مانع وي. او په حدّ قذف کي له بنده څخه پېغور او عار دفع کيږي. په همدې وجه شريعت هغه حقُ العبد شمارلی دی. او په حقوقُ

العباد کي تقادم د شهادت له قبول څخه مانع نه نوي، نو ځکه وجه موږ. إِلَّا فِيْ حَدِّ الْقَذْفِ خاصَّةً وويل او د حدّ قذف استثناء مو وکړه، تقادم ځکه له حقوقُ العباد څخه مانع نه دی چي په حقُ العبد کي دعوىٰ شرط ده. لهذا کله چي په حقُ العبد کي د شهادت په اداء کول کي تأخير راسي، نو دا تأخير به د دعوىٰ پر نشتوالي محمول وي، نو ځکه په دې تأخير سره ګواه فاسق نه سي ګرځول کېدای. او د غلا په حدّ کي د شهادت نه قبلېدلو وجه دا ده چي د قطعُ اليد لپاره دعوىٰ شرط نه ده. ځکه چي غلا خالص د الله حق دی، نو ځکه په دې کي تأخير او تقادم د شهادت له قبوليت څخه مانع ګرځي (او د تأخير او تقادم په وجه د غلا په حدّ کي شهادت باطلیږي، د دې خبري دويم دليل به يو څو ليکي وروسته هم ذکر سي)

د دې سلسلې عقلي دليل دا دی چي هغه حدود کوم چي خالص د الله حق وي په هغوی کي د شهادت تأخير د بغض او کينه په وجه وي، او بغض او کينه يو مخفي (پټ) شی چي په هغه هر کس خبرېدلای نه سي، له همدي کبله په هر، هر فرد کي د دې تهمت (بغض او عدوات) موجودېدل ضروري نه دي، نو په دې وجه موږ پر دې خبره د حکم بنياد کښېښووی چي کوم حدود خالص د الله تعالىٰ حق وي په هغوی کي په تأخير او تقادم سره شهادت باطليږي.

ولأن السرقة تقام إلخ د دې خبري دويم دليل (چي د تأخير او تقادم په وجه د غلا په حدّ کي شهادت باطليږي) دا دی چي غلا د مالِک په غفلتِ سره په پټه کيږي او مالک (مسروق منه) ته د هغه هيڅ علم نه وي نو په همدې وجه مالک د غله په خلاف ګواهيْ نه سي ورکولای. لهذا کوم څوک چي غل وويني نو پر هغه سمدستي ضروري دي چي مالک خبر کړي او په ډاګه شهادت اداء کړي. لېکن که هغه شهادت اداء نه کړي بلکي تأخير پکښې وکړي، نو دا د هغه د فاسق کېدلو لپاره کافي دي (يعني په دې سره هغه فاسق ګرځي)، نو په دې وجه به هم د هغه شهادت نه قبليږي.

ثم التقادم كما يمنع قبول الشهادة إلخ: فرمايي چي څرنګه تأخير او تقادم په ابتداء کي د شهادت له قبوليت څخه مانع دی، همداسي په انتهاء کي يعني د قاضي تر قضاء (فيصلې) وروسته هم د شهادت له قبوليت څخه مانع دی، ځکه چي انتهاء له ابتداء څخه زياته سپکه او آسانه ده، او کله چي په ابتداء کي معامله لانجمنه او مبهمه وي. نو په انتهاء کي هغه څرنګه واضحه کېدای سي، همدا وجه ده که پر يوه مجرم د حدّ څه حصه جاري کړی سي بيا هغه وتښتي او څه مودت وروسته هغه ونيول سي نو اوس به پر هغه حدّ نه جاري کيږي، ځکه چي د حدودو په باب کي امضاء يعني حدّ جاري کول هم د قضاء حصه ده (يعني له شهادت قبلېدلو څخه وروسته چي تر کوم وخت پوري په کامله توګه شهادت (او حدّ) جاري کيږي، دې ته قضاء وايي او دا د قضاء وخت دی) او که په قضاء کي تأخير راسي، نو حدّ ساقطيږي، نو ځکه به اوس دا حدّ ساقطيږي.

واختلفوا في إلخ: د دې حاصل دا دی چي د تقادم په مقدار او اندازه کي زموږ له امامانو څخه مختلفه اقوال نقل سوي دي:

(۱) په جامع صغیر کي امام محمد رَحِمَهُ الله د شپږو (۶) میاشتو مودت ته اشاره کړې ده (چي که شپږ میاشتي تیري سي. نو دا ډېر وخت دی او دې ته تقادم او تأخیر وایي). ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کي داسي ویلي دي: وَإِذَا شَهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُوْدُ... بَعْدَ حِيْنٍ. او د حِيْن إطلاق پر شپږو میاشتو کیږي. همدا د امام طحاوي رَحِمَهُ الله رایه هم ده.

(۲) لېکن له امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې سلسله کي هیڅ مودت ټاکلی نه دی. بلکي د دې مقدار یې د قاضي پر رایه پرې ایښی دی چي که قاضي څومره وخت ډېر وګڼي. نو هغه به ډېر وخت او تقادم ګڼل کیږي. او څومره وخت چي هغه لږ وګڼي. نو هغه به لږ وخت ګڼل کیږي.

(۳) له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چي د یوې میاشتي مودت تقادم او ډېر وخت دی. ځکه چي تر یوې میاشتي کم وخت قریب او لږ مودت دی. او دا له شیخینو رَحِمَهُمَا الله څخه یو روایت هم دی. او همدا صحیح او معتمد مودت دی.

وهذا الذي إلخ: فرمایي: کوم تفصیل چي موږ بیان کړی دا تفصیل په هغه صورت کي دی کله چي د قاضي او د ګواهانو د وطن په مینځ کي د یوې میاشتي فاصله او مسافه نه وي. لېکن که د دوی په منینځ کي د یوې میاشتي مسافه وي. نو په دې صورت کي به د ګواهانو تأخیر پر بُعد (لیري والي) باندي حمل کیږي او داسي تأخیر د شهادت له قبولیت څخه مانع نه دی. ځکه چي اوس پر دې ګواهانو د بغض او عداوت تهمت نه سي کېدلای.

او د شرابو په حق کي هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د تقادم مودت یوه میاشته ده. لېکن د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د دې مودت مقدار فقط دومره وخت دی چي له خولې څخه د شرابو بوی ختم سي. یعني د خولې د بوی تر ختمېدلو مخکي به د شرابو په حد کي شهادت قبلیږي. کنې نه به قبلیږي (لېکن نن سبا ځیني داسي خوشبویه دارو ګان جوړ سوي چي د هغه په خوړلو سره فوراً د خولې بوی ختمیږي. نو په دې هکله د نور غور او فکر کولو ضرورت سته).

د مُدعی په ناموجودیت کي د حدّ جاري کولو بیان

وَإِذَا شَهِدُوا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ زَنَى بِفُلَانَةٍ او که (خلورو) خلکو د یو سړي په خلاف ګواهي ورکړه چي هغه د فلانی ښځي سره زنا کړې ده وَفُلَانَةُ غَائِبَةٌ او فلانی ښځه غائبه وه فَإِنَّهُ يُحَدُّ نو (هم) به پر هغه سړي حدّ جاري کیږي وَإِنْ شَهِدُوا أَنَّهُ سَرَقَ مِنْ فُلَانٍ او که دا خلک (داسي) ګواهي ورکړي چي

هغه له فلانکي ځخه مال غلا کړی دی وَهُوَغَائِبٌ او فلانکی غائب وو لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه غوڅول کیږي وَالْفَرْقُ أَنَّ بِالْغَيْبَةِ تَنْعَدِمُ الدَّعْوٰى او [په دې دواړو مسئلو کې] فرق دا دی چې د غائبېدلو په صورت کي دعوىٰ نه موجودیږي وَهِيَ شَرْطٌ فِي السَّرِقَةِ دُونَ الزِّنَا حالانکي په غلا کي دعوىٰ شرط ده. نه په زنا کي وَبِالْحُضُورِ يُتَوَهَّمُ دَعْوَى الشُّبْهَةِ او د [فلانکي] حاضرېدلو په صورت کي [د نکاح] د شبهي د دعوىٰ وهم کېدای سي [یعني د فلانکي د حاضرېدلو په وخت کي د نکاح د دعوىٰ کولو وهم او ګومان کېدای سي] وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْمَوْهُومِ لیکن موهوم [او ګوماني] شي لره هیڅ اعتبار نسته وَإِنْ شَهِدُوا أَنَّهُ زَنٰى بِامْرَأَةٍ لَا يَعْرِفُونَهَا او که دې خلکو دا ګواهي ورکړه چې هغه د داسي ښځي سره زنا کړې ده چې موږ هغه نه پېژنو لَمْ يُحَدَّ نو پر زاني به حدّ نه جاري کیږي لِاحْتِمَالِ أَنَّهَا امْرَأَتُهُ أَوْ أَمَتُهُ ځکه چې دا احتمال سته چې هغه به د ده ښځه یا مینځه وي بَلْ هُوَ الظَّاهِرُ بلکې اله مسلمان ځخه [همدا ښکاره دي وَإِنْ أَقَرَّ بِذٰلِكَ او که زاني [په خپله] د دې اقرار کړی وي حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري کیږي لِأَنَّهُ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ أَمَتُهُ أَوْ امْرَأَتُهُ ځکه چې پر زاني دا خبره نه پټیږي چې هغه د ده مینځه یا ښځه ده.

اللغات: ﴿يَنْعَدِمُ﴾ د انفعال مضارع ده: نیستي کېدل (نه موجودېدل). ختمېدل. ﴿يُتَوَهَّمُ﴾ د تفعّل مضارع ده مجهوله ده: وهم کول. ﴿لَا يَخْفٰى﴾ د سمع له باب ځخه د نفي صیغه ده: پټېدل. نا څرګندېدل.

تشریح: د عبارت له وضاحت ځخه مخکي دا دوه اُصول په یاد لرئ!: ① د زنا د حدّ ثابتولو لپاره د زانیه ښځي له طرفه د زنا دعوىٰ کول شرط نه دي. ② د غلا د حدّ ثابتولو لپاره د مالک له طرفه د غلا دعوىٰ کول شرط دي (یعني له چا ځخه چې مال غلا سوی وی، د هغه دعوىٰ کول ضروري دي).

صورت د مسئلې: دا دی که ځلورو خلکو ګواهي ورکړه چې زید د ساجدې سره زنا کړې ده. حالانکي ساجده اوس په ښار کي نسته. بیا به هم پر زید حدّ جاري کیږي. ځکه چې په زنا کي د ساجدې له طرفه د زنا دعوىٰ کول ضروري نه دي.

او که دوو خلکو ګواهي ورکړه چې زید د خالد مالک غلا کړی دی. او خالد اوس په ښار کي نه وو. نو د زید لاس به نه پرېکول کیږي. ځکه چې د خالد له طرفه د غلا دعوىٰ کول ضروري دي. او

ځرنګه چي هغه غائب دی نو ځکه د هغه له طرفه دعویٰ نه وسوه (يعني د هغه له طرفه دعویٰ موجوده نه سوه)، نو ځکه به اوس د زید لاس نه پرېکول کیږي. په زنا او غلا کي همدا فرق دی.

وبالحضور يُتوهّم إلخ: دا د يو مُقدّر سوال جواب دی. حاصل يې دا دی چي که هغه غائبه مزنيه ښځه (مثلاً ساجده حاضره وای، نو ممکنه وه چي هغې دا ثابته کړي وای چي دغه سړي (زيد) زما سره نکاح کړې ده. نو په دې توګه به حدّ ساقط سوي وای. لهذا د دې شبهې باوجود به ځرنګه (پر زيد) حدّ جاري کیږي؟ نو د دې جواب ورکوي فرمايي چي دا فقط يو وهم دی. نو ځکه به ودې وهم ته له توجه کولو شخه بغير حدّ جاري کیږي (يعني دې وهم ته به هيڅ توجه نه کیږي، او په حدّ جاري کولو به شروع کیږي).

وإن شهدوا أنه زنیٰ إلخ: د دې حاصل دا دی چي د کومي ښځي سره چي ګواهانو د زنا ګواهي ورکړې وي (يعني مزنيه ښځه)، که د هغې په باره کي هيڅ ګواه ته معلومات نه وي. او هيڅ ګواه يې نه پېژني چي هغه ښځه څوک ده. نو دا احتمال سته چي هغه ښځه د دې سړي خپله ښځه يا مينځه وي. نو د دې إمکان او احتمال په وجه به پر هغه حدّ نه جاري کیږي.

وإن أقرّ بذلك إلخ: او که زاني په خپله اقرار وکړي چي ما زنا کړې ده. نو هغه ته خو معلومه ده چي هغه ښځه زما خپله ښځه يا زما مينځه نه ده. نو که څه هم په دې صورت کي زاني ته د هغې په باره کي هيڅ معلومات نه وي او زاني يې نه پېژني چي هغه ښځه څوک ده. نو بيا به هم حدّ پر جاري کیږي (ځکه چي زاني په دې خبر دی چي هغه زما ښځه يا مينځه نه ده).

په ګواهانو کي د جبر او رضا په هکله د اختلاف راتللو حکم

وَإِنْ شَهِدَ اثْنَانِ أَنَّهُ زَنَىٰ بِفُلَانَةٍ فَاسْتَكْرَهَهَا او که دوو خلکو دا ګواهي ورکړه چي فلانکي سړي د فلانۍ ښځه سره په زوره [جبراً] زنا وکړه وَآخَرَانِ أَنَّهَا طَاوَعَتْهُ او نورو خلکو ګواهي ورکړه چي فلانۍ ښځي په رضا دا کار وکړی دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمَا جَمِيعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به له دواړو څخه حدّ ساقطيږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَا: يُحَدُّ الرَّجُلُ خَاصَّةً او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي فقط پر سړي به حدّ جاري کیږي لِاتِّفَاقِهِمَا عَلَى الْمُوجِبِ ځکه چي په دوی کي هر فريق د حدّ پر مُوجب [زنا] باندي متفق دی وَتَفَرَّدَ أَحَدُهُمَا بِزِيَادَةِ جِنَايَةٍ وَهُوَ الْإِكْرَاهُ او له دوی څه يو فريق د جرم د زياتوب يعني د جبر [په دعویٰ کي] منفرد دی

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۷۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۲۲]

بِخِلَافِ جَانِبِهَا په خلاف د ښځي له طرفه لِأَنَّ طَوَاعِيَتَهَا شَرْطُ تَحَقُّقِ الْمُوجِبِ فِي حَقِّهَا ځکه چي د هغې په حق كي د زنا د ثبوت لپاره د هغې طواعيت [رضامندي] شرط ده وَلَمْ يَثْبُتْ لِاخْتِلَافِهِمَا لېكن [په طواعيت كي] د دواړو فريقينو د اختلاف په وجه د دي ښځي په حق كي زنا ثابته نه سوه وَلَهُ: أَنَّهُ اِخْتَلَفَ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي مشهود عليه مختلف دی لِأَنَّ الزِّنَا فِعْلٌ وَاحِدٌ يَقُومُ بِهِمَا ځکه چي زنا يو فعل کوم چي پر نر او ښځي دواړو موقوف دی وَلِأَنَّ شَاهِدَيِ الطَّوَاعِيَةِ صَارَا قَاذِفَيْنِ لَهُمَا او ځکه چي د طواعيت دوه ګواهان پر ښځي او سړي تهمت لګونکي دي وَإِنَّمَا يَسْقُطُ الْحَدُّ عَنْهُمَا بِشَهَادَةِ شَاهِدَيِ الْإِكْرَاهِ و [د طواعيت له دوو ګواهانو څخه به] حدّ د إكراه د دوو ګواهانو په شهادت سره ساقطيږي لِأَنَّ زِنَاهَا مُكْرَهَةً يُسْقِطُ إِحْصَانَهَا ځکه چي د ښځي سره په زوره زنا کول د هغې إحصان ساقطوي فَصَارَا خَصْمَيْنِ فِي ذٰلِكَ لهذا دا دواړه په دې سلسله خصم وګرځېدل وَإِنْ شَهِدَ اِثْنَانِ أَنَّهُ زَنٰى بِامْرَأَةٍ بِالْكُوفَةِ او که دوو ګواهانو ګواهي ورکړه چي فلانکي په کوفه کي د يوې ښځي سره زنا وکړه وَآخَرَانِ أَنَّهُ زَنٰى بِهَا بِالْبَصْرَةِ او نورو دوو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي هغه په بصره کي د ښځي سره زنا وکړه دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمَا نو له سړي او ښځي دواړو څخه به ـ حدّ ساقطيږي لِأَنَّ الْمَشْهُودَ بِهِ فِعْلُ الزِّنَا ځکه د کوم شي په باره کي چي ګواهي ورکول سوې ده هغه د زنا فعل دی وَقَدْ اخْتَلَفَ بِاخْتِلَافِ الْمَكَانِ او د ځای په بدلېدلو سره هغه [د زنا فعل] بدل سو [يعني ګواکي دوې زناوې او دوه فعلونه سول] وَلَمْ يَتِمَّ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصَابُ الشَّهَادَةِ او په دوی کي د يوه په حق کي [هم] د شهادت نصاب پوره نه سو وَلَا يُحَدُّ الشُّهُودُ او پر ګواهانو به [هم] حدّ نه جاري کيږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِشُبْهَةِ الْاِتِّحَادِ نَظَرًا إِلَى اتِّحَادِ الصُّورَةِ وَالْمَرْأَةِ ځکه چي د صورت او د ښځي اتحاد [يو والي] ته په کتلو سره [د زنا] په اتحاد کي شبهه پيدا سوه.

اللغات: ﴿إِسْتَكْرَهَهَا﴾ د استفعال ماضي ده: مجبوره کول. ﴿دُرِئَ﴾ د فتح له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: دفع کېدل. ليري کېدل. ساقطېدل. ﴿مُوْجِب﴾ د افعال اسم فاعل دی: واجبونکی. ثابتونکی. سبب. ﴿مُكْرَهَة﴾ د افعال مؤنث اسم مفعول دی: مجبوره کړی سوې ښځه (چي په زوره زنا ور سره وسي). ﴿إِحْصَان﴾ د افعال مصدر دی: محصن کېدل. واده والا کېدل. پاک لمنوالي.

تشريح: **مسئله**: دا ده که دوو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي فلانکي سړي د فلانۍ ښځي سره په زوره زنا کړې ده. او دوو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي هغه د دې ښځي سره په رضا زنا کړې ده. يعني ښځه

هم په زنا راضي ده. نو په دې صورت کي د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز نه به پر سړي حدّ جاري کیږي او نه پر ښځي، یعني له دواړو څخه حدّ ساقطیږي. لیکن د صاحبینو په نیز له ښځي څخه حدّ ساقطیږي او پر سړي به حدّ جاري کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي د دواړو طرفو ګواهان (فریقین) پر دې خبره متفق دي چي دغه سړي د فلانۍ ښځي سره زنا کړې ده. نو ځکه به پر هغه حدّ جاري کیږي، ځکه چي د ده په حق کي د شهادت نصاب پوره دی (یعني پوره څلورو ګواهانو د ده د زنا ګواهي ورکړې ده). خو په دوی کي یوه فریق د ښځي د مُکرَهه کېدلو ګواهي ورکړې ده او دویم فریق هغې د مُطاوِعه کېدلو ګواهي ورکړې ده. لهٰذا د ښځي د مُکرَهه او مُطاوعه کېدلو په حق کي د شهادت نصاب پوره نه دی. بلکي د ښځي طرف مشتبه او مشکوک دی. او په شبهې سره حدّ ساقطیږي، نو ځکه به پر دې ښځي حدّ نه جاري کیږي. فقط سړی به دبول کیږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي دلته په مشهودبه یعني په فعل (زنا) کي اختلاف دی. ځکه چي زنا د سړي او ښځي دواړو له طرفه ثابتیږي. او څرنګه چي د ښځي د مُطاوعه او مُکرَهه کېدلو په حق کي د اختلاف په وجه دا فعل بدل سوی دی. نو ځکه به د سړي په حق کي هم دا فعل مختلف کیږي (او د هغه په حق کي به هم دا اختلاف ثابتیږي). لهٰذا څرنګه چي د ښځي په حق کي د شهادت نصاب پوره نه دی، هغسي به د سړي په حق کي هم دا نصاب پوره نه وي. نو ځکه به پر یوه هم حدّ نه جاري کیږي.

ولأن شاهِدَي الطّواعية إلخ: په دې هکله دویم دلیل دا دی چي په دې ګواهانو کي چي کوم فریق د ښځي د مُطاوعه کېدلو ګواهي ورکوي، هغه ګواکي پر سړي او ښځي د زنا تهمت لګوي (ځکه چي د دوی په حق کي د شهادت نصاب ناقص دی. نو ځکه دوی د تهمت لګونکو په درجه کي سوه). لهٰذا دا فریق خصم (مُدعي) جوړ سو. او د خصم ګواهي نه قبلیږي. او که څوک اعتراض چي که دوی تهمت لګونکي (قاذفین) دي نو باید حدّ قذف پر جاري سي. حالانکي پر دوی حدّ قذف نه جاري کیږي. نو د دې جواب دا دی چي کوم فَرِیق چي د ښځي د مُکرَهه کېدلو ګواهيَ ورکړه نو ښځه مُحصنه (او پاک لمنې) پاته نه سوه. نو ځکه به پر تهمت لګونکو حدّ قذف نه جاري کیږي. ګواکي دلته هر طرف والا دوه ګواهان (فریقین) خصم وګرځېدل (او دواړه قاذفین وګرځېدل). او د خصم ګواهي لره اعتبار نسته. نو ځکه به دلته نه پر ښځي حدّ جاري کیږي او نه پر سړي.

وإن شهد إثنان إلخ: دویمه مسئله دا ده که دوو خلګو دا ګواهي ورکړه چي فلانکي سړي د فلانۍ ښځي سره په کوفه کي زنا کړې ده. او نور دوه خلګ راغله او دا ګواهي یې ورکړه چي دغه سړي د هغې سره په بصره کي زنا کړې ده. نو په دې ګواهي سره هم نه زنا ثابت ثابتیږي او نه به پر دې سړي او

ښځي حدّ جاري کيږي، ځکه چي مشهود به زنا ده. او د ځای په بدلېدلو سره دا زنا ګواکي دوې زناوي وګرځېدلې، او پر هري زنا فقط دوه ګواهان دي. نو د شهادت د نصاب د نه پوره کېدلو په وجه به پر يوه هم حدّ نه جاري کيږي.

ولا يُحدّ الشهود الخ: د دې حاصل دا دی چي دلته (ګواکي) ګواهانو پر سړي او ښځي د زنا تهمت لګولی دی نو ځکه پر دوی حدّ قذف جاري کېدل پکار دی. نو جواب ورکوي چي حد به ځکه نه پر جاري کيږي چي دا ښځه هم يوه ده (چي پر هغې د زنا ګواهي ورکول سوې ده) او د صورت په اعتبار سره د زنا معامله هم يوه ده. نو دا شبهه پيدا سوه چي پر يوه زنا به څلورو ګواهانو ګواهي ورکړې وي او همدا شبهه له ګواهانو څخه د حدّ دفع کېدلو لپاره کافي ده. نو ځکه به پر ګواهانو حدِ قذف نه جاري کيږي. او د امام زفر رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي پر ګواهانو به حدّ قذف جاري کيږي.

د جزئي شي په هکله د ګواهانو د اختلاف حکم

وَإِنْ اخْتَلَفُوا فِي بَيْتٍ وَاحِدٍ او که ګواهان په يوه خونه کي [د کونج او طرف په هکله] اختلاف وکړي حُدَّ الرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ نو پر سړي او ښځي دواړو به حدّ جاري کيږي مَعْنَاهُ: أَنْ يَشْهَدَ كُلُّ اثْنَيْنِ عَلَى الزِّنَى فِي زَاوِيَةٍ د دې مطلب دا دی: چي هر فريق په [جلا] کونج کي د زنا ګواهي ورکړي وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يُحَدَّ او قياس دا دی: چي [پر دوی] به حدّ نه جاري کيږي لِاخْتِلَافِ الْمَكَانِ حَقِيقَةً ځکه چي په حقيقت کي [د زنا] ځای مختلف دی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ التَّوْفِيقَ مُمْكِنٌ بِأَنْ يَكُونَ ابْتِدَاءُ الْفِعْلِ فِي زَاوِيَةٍ وَالِانْتِهَاءُ فِي زَاوِيَةٍ أُخْرَى بِالِاضْطِرَابِ د استحسان دليل دا دی: چي [د دواړو په مېنځ کي] موافقت پيدا کول ممکن دي په دې توګه چي د کار شروع به په يوه کونج کي وې سوې او د اوښتلو را اوښتلو په وجه به په بل کونج کي پای ته رسېدلی وي أَوْ لِأَنَّ الْوَاقِعَ فِي وَسَطِ الْبَيْتِ يا دا چي کار به د خوني په مېنځ کي واقع سوی وي فَيَحْسِبُهُ مَنْ فِي الْمُقَدَّمِ فِي الْمُقَدَّمِ وَمَنْ فِي الْمُؤَخَّرِ فِي الْمُؤَخَّرِ نو کوم فريق چي [د خوني] د مخ په طرف کي وي هغه به دا کار [د خوني] د مخ په طرف کي ګڼلی وي او کوم فريق چي [د خوني] د شا په طرف کي وي هغه به دا کار [د خوني] د شا په طرف کي ګڼلی وي فَيَشْهَدُ بِحَسَبِ مَا عِنْدَهُ نو د خپل ګومان مطابق به هر فريق ګواهي ورکړې وي.

اللغات: ﴿زَاوِيَةٌ﴾ کونج. جمع: زَاوِيَات. ﴿يَحْسِبُهُ﴾ د حسب له باب څخه د مضارع صيغه ده: ګومان کول. خيال کول. ګڼل. ﴿الْمُؤَخَّر﴾ وروستنی طرف. د شا طرف (د شا حصه).

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې که د هر طرف دوه ګواهان (فريقين) په يوه خونه کې د زنا واقع کېدلو ګواهي ورکړي، محض د خونې په کونج او طرف کې د دوی اختلاف وي. نو استحساناً به د دوی ګواهي قبليږي، او په دغه اختلاف کې به په دې توګه موافقت پيدا کيږي چې سړي او ښځې به يوه کونج کې زنا شروع کړې وي او د اوښتلو را اوښتلو په وجه به بل کونج ته را را سېدلي وي، يا به په دې توګه موافقت پيدا کيږي چې زنا به د خونې په مينځ کې واقع سوې وي. ليکن کوم فريق چې د خونې مخ لخوا دا قصه لېدلې وي هغو به د خونې ديوه طرف ګواهي ورکړې وي او کوم فريق چې د خونې د شا لخوا دا واقعه ليدلې وي، هغو به د بل طرف ګواهي ورکړې وي. او فقط په دې حواله سره به په دوی کې اختلاف راغلی وي. لهذا چې دلته د ګواهانو په مينځ کې موافقت کېدای سي نو ګواکې دوی سره متفق دي، نو ځکه به پر سړي او ښځې حدّ جاري کيږي.

د زنا په هکله د ګواهانو د اختلاف حکم

وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ بِالنُّخَيْلَةِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ او که څلورو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چې فلانکي په "نُخيله" کې د لمر راختلو پر مهال ديوې ښځې سره زنا وکړه وَأَرْبَعَةٌ أَنَّهُ زَنَى بِهَا عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ بِدَيْرِ هِنْدٍ او څلورو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چې هغه د لمر راختلو پر مهال په "دير هند" کې زنا وکړه دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمْ جَمِيعًا نو له دوی څخه به حدّ ساقطيږي أَمَّا عَنْهُمَا فَلِأَنَّا تَيَقَّنَّا بِكَذِبِ أَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ غَيْرِ عَيْنٍ له سړي او ښځې څخه به ځکه حدّ ساقطيږي چې موږ ته په دې دواړو فريقو کې د يوه فريق د درواغجن کېدلو يقين دی وَأَمَّا عَنِ الشُّهُودِ فَلِاحْتِمَالِ صِدْقِ كُلِّ فَرِيقٍ او له ګواهانو څخه به ځکه حدّ ساقطيږي چې د هر فريق د رښتياوالي احتمال [هم] سته وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى امْرَأَةٍ بِالزِّنَا وَهِيَ بِكْرٌ او که څلورو ګواهانو پر يوې ښځې د زنا ګواهي ورکړه حال دا چې هغه باکره وه دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمَا وَعَنْهُمْ نو له سړي او ښځې او له ټولو ګواهانو څخه به حدّ ساقطيږي لِأَنَّ الزِّنَا لَا يَتَحَقَّقُ مَعَ بَقَاءِ الْبَكَارَةِ ځکه چې د بکارت سره زنا ثابتېدای نه سي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ: أَنَّ النِّسَاءَ نَظَرْنَ إِلَيْهَا فَقُلْنَ إِنَّهَا بِكْرٌ او د دې مسئلې مطلب دا دی: چې نورې [تجربه کاره] ښځې د هغې کتنه [او معاينه] وکړي او وايي: چې هغه باکره ده وَشَهَادَتُهُنَّ حُجَّةٌ فِي إِسْقَاطِ الْحَدِّ وَلَيْسَتْ بِحُجَّةٍ فِي إِيجَابِهِ او د ښځو ګواهي د حدّ په ساقطولو کې حُجّت ده [ليکن] د حدّ په ثابتولو کې حُجّت نه ده

فَلِهَذَا سَقَطَ الْحَدُّ عَنْهُمَا وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ نو په همدې وجهې به له سړي او ښځې څخه حدّ ساقطيږي او پر ګواهانو به نه واجبيږي.

اللغات: ﴿تَيَقَّنَّا﴾ د تفعّل ماضي ده: يقين کول. ﴿بِكْر﴾ باکره، پيغله (هغه ښځه چې د بکارت پرده يې ثابته پاته وي) ﴿إِيْجَاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول، ثابتول.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که څلورو ګواهانو دا ګواهي ورکړه چې فلانکي سړي کوفې ته نژدې په "نُخيله" نومي ځای کې د لمر راختلو په وخت کې زنا کړې ده. او نورو څلورو ګواهانو هم دغسې ګواهي ورکړه. لېکن هغو له "نُخيله" څخه بغير د کوفې په "ديرهند" کې د زنا خبره وکړه. نو په دې صورت کې به پر سړي او ښځې هم حدّ نه جاري کيږي او پر ګواهانو به هم حدّ نه جاري کيږي. پر سړي او ښځه به ځکه حدّ نه جاري کيږي چې په دې دواړو فريقينو کې يو فريق په يقيني توګه کاذب دی. ځکه چې په يوه وخت کې د يوه سړي لپاره په دوو جلا جلا ځايونو کې يو کار کول ناممکن دي. لېکن موږ ته دا معلومه نه ده چې د کوم فريق ګواهي او شهادت کاذب دی. نو ځکه به د يوه فريق په شهادت سره هم په يقيني توګه زنا نه ثابتيږي او پر سړي او ښځې به حدّ نه جاري کيږي. او پر ګواهانو به ځکه حدّ قذف نه جاري کيږي چې په هر فريق کې د صادق کېدلو احتمال هم سته يعني د هر فريق په شهادت سره د زنا شبهه هم موجوده ده. او د زنا شبهه له دوی څخه د حدّ وجوب منع کوي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که څلورو ګواهانو د يوې ښځې په خلاف د زنا ګواهي ورکړه. حالانکې تر ګواهۍ وروسته چې کله نورو ښځو د هغې معاينه وکړه نو هغه يې باکره وشمارله. نو په دې صورت کې هم له ټولو څخه حدّ ساقطيږي. ځکه چې د بکارت باوجود زنا ثابتېدای نه سي (ځکه ښځه چې باکره وي نو زنا به يې څنګه کړې وي!). او د ښځو ګواهي د حدّ ساقطېدلو لپاره حجّت ده (يعني د حدّ ساقطېدلو په حق کې به د ښځو ګواهي قبليږي) نو ځکه به دلته له سړي او ښځې څخه حدّ ساقطيږي. او له ګواهانو څخه به هم حدّ ساقطيږي. ځکه چې د ښځو ګواهي د حدّ ثابتولو لپاره حجت نه ده (يعني که څه هم د ښځو په ګواهۍ سره دغه ګواهان قاذفين او تهمت لګونکي ثابت سول. لېکن څرنګه چې د ښځو په ګواهۍ سره حدّ ثابتېدای نه سي. نو ځکه به له هغو څخه حدّ قذف ساقطيږي). ابو عباس عفى الله عنه وعن والديه

د نا أهله ګواهانو د ګواهۍ حکم

وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو ګواهانو د یو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه وَهُمْ عُمْيَانٌ أَوْ مَحْدُودُونَ فِي قَذْفٍ أَوْ أَحَدُهُمْ عَبْدٌ أَوْ مَحْدُودٌ فِي قَذْفٍ حال دا چې هغوی ټوله ړانده وه یا محدود فی القذف وه یا په دوی کې یو غلام یا محدود فی القذف وو فَإِنَّهُمْ يُحَدُّونَ نو پر دوی به حد جاري کیږي وَلَا يُحَدُّ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ او د چا په خلاف چې ګواهي ورکول سوې ده پر هغه به حد جاري کیږي لِأَنَّهُ لَا يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمُ الْمَالُ ځکه چې د دې خلکو په ګواهۍ سره مال نه ثابتیږي فَكَيْفَ يَثْبُتُ الْحَدُّ نو حد به څرنګه نابت سي! وَهُمْ لَيْسُوا مِنْ أَهْلِ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ حال دا چې دا خلک د شهادت اداء کولو أهل [هم] نه دي وَالْعَبْدُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلتَّحَمُّلِ وَالْأَدَاءِ او غلام د شهادت اخیستلو او اداء کولو أهل نه دی [یعني غلام پر خپله غاړه نه د ګواهي ذمه واري اخیستلای سي او نه ګواهي اداء کولای سي] فَلَمْ تَثْبُتْ شُبْهَةُ الزِّنَا نو د زنا شبهه ثابته نه سوه لِأَنَّ الزِّنَا يَثْبُتُ بِالْأَدَاءِ ځکه چې زنا د شهادت په اداء کولو سره ثابتیږي وَإِنْ شَهِدُوا بِذَلِكَ وَهُمْ فُسَّاقٌ او که څلورو خلکو [د یو سړي په خلاف] د زنا ګواهي ورکړه حال دا چې هغه فاسقان وه أَوْ ظَهَرَ أَنَّهُمْ فُسَّاقٌ یا تر [ګواهي اداء کولو وروسته] ښکاره سوه چې هغوی فاسقان دي لَمْ يُحَدُّوا نو پر هغو به حد نه جاري کیږي لِأَنَّ الْفَاسِقَ مِنْ أَهْلِ الْأَدَاءِ وَالتَّحَمُّلِ ځکه چې فاسق د شهادت اخیستلو او اداء کولو أهل دی وَإِنْ كَانَ فِي أَدَائِهِ نَوْعُ قُصُورٍ لِتُهْمَةِ الْفِسْقِ که څه هم د فسوق د تهمت په وجه د هغه په اداء کولو کې څه نُقص سته وَلِهَذَا لَوْ قَضَى الْقَاضِي بِشَهَادَةِ فَاسِقٍ همدا وجه ده که قاضي د فاسق پر شهادت فیصله وکړي يَنْفُذُ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز به هغه فیصله نافذیږي وَيَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمْ شُبْهَةُ الزِّنَا انو په دې وجه دلته [د فاسقانو په شهادت سره د زنا شبهه ثابتیږي وَبِاعْتِبَارِ قُصُورٍ فِي الْأَدَاءِ لِتُهْمَةِ الْفِسْقِ يَثْبُتُ شُبْهَةُ عَدَمِ الزِّنَا او د فسوق د تهمت په وجه [د هغو] د شهادت په اداء کولو سره د زنا د نشتوالي شبهه ثابتیږي [چې شاید به مشهود علیه به زنا کړي نه وي] فَلِهَذَا امْتَنَعَ الْحَدَّانِ نو په دې وجه به دواړه حدونه [حدّ زنا او حدّ قذف] نه ثابتیږي وَسَيَأْتِي فِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ بِنَاءً عَلَى أَصْلِهِ أَنَّ الْفَاسِقَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ

الشَّهَادَةِ او په دې باره کې به [انشاء الله] د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف هم راسي کوم چې د هغه پر أصول مبني دی [او د هغه أصول دا دی] چې فاسق د شهادت أهل نه دی فَهُوَ كَالْعَبْدِ عِنْدَهُ نو فاسق د هغه [امام شافعي] په نیز د غلام په شان دی وَإِنْ نَقَصَ عَدَدُ الشُّهُودِ عَنْ أَرْبَعَةٍ او که چیرې د ګواهانو شمېر له څلورو څخه کم سي حُدُّوا نو پر دوی [ټولو] به حدّ جاري کیږي لِأَنَّهُمْ قَذَفَةٌ ځکه دوی [ټوله] تهمت لګونکي دي إِذْ لَا حِسْبَةَ عِنْدَ نُقْصَانِ الْعَدَدِ ځکه چې د شمېر د کمېدلو په صورت کې ثواب نه حاصلیږي وَخُرُوجِ الشَّهَادَةِ عَنِ الْقَذْفِ بِاعْتِبَارِهَا حال دا چې شهادت د همدې ثواب حاصلېدلو په وجه له تهمت څخه وځي [او شهادت ګرځي].

اللغات: ﴿عُمْيَان﴾ جمع د أَعْمٰى ده: نابينا، ړونده. ﴿تَحَمُّل﴾ د تفعّل مصدر دی: زغمل، برداشتول، پر ځان اخیستل، تَحَمُّلُ الشَّهَادَةَ: ګواهي پر خپله ذمه اخیستل (یعني ګواه جوړېدل). عرب وایي: تَحَمَّلَ شَهَادَةَ فُلَانٍ (یعني هغه د فلانکي سړي له طرفه د ګواهۍ ورکولو نائب سو او د فلانکي ګواهي یې پر خپله ذمه واخیسته. مطلب دا چې هغه د فلانکي له طرفه ګواه جوړ سو). ﴿فُسَّاق﴾ جمع د فَاسِقٌ ده: بدکار (بد عمله)، ګنهګار. ﴿قُصُوْر﴾ کمي، نُقص، کوتاهي، عیب. ﴿أَصْل﴾ قاعده، أصول. ﴿قَذَفَة﴾ جمع د قَاذِفٌ ده لکه طَلَبَة چې جمع د طَالِبٌ ده: تهمت لګونکي (تومتګر). قَذَفَ يَقْذِفُ قَذْفًا: د درواغو تهمت لګول (بهتان لګول). پر یو چا درواغ تړل.

تشریح: **مسئله**: دا ده که چیرې د یو سړي په خلاف څلور ګواهان ګواهي ورکړي. او ټوله ګواهان ړانده وي، یا محدود فی القذف وي. یا په دوی کې یو ګواه غلام یا محدود فی القذف وي. نو د دوی ګواهي به د دوی لپاره وبال وي او فقط پر دوی به حدّ جاري کیږي او د چا په خلاف چې دوی ګواهي ورکړې وي پر هغه به حدّ نه جاري کیږي: ځکه کله چې د ړندو او محدود فی القذف خلکو په ګواهۍ سره مال نه ثابتیږي. نو په هغه سره به د حدّ په څېر غټ او أهم شی څرنګه ثابت سي!. حال دا چې دا خلک بالکل د شهادت قابل نه دی. او د دوی په شهادت سره خو د زنا شبهه هم نه ثابتیږي. زنا خو هلته پرېږده!. ځکه زنا خو په صحیح او معتبره ګواهي سره ثابتیږي. او د داسي درجې شهادت په دې خلکو کې نسته. نو ځکه به دوی قاذفین (تهمت لګونکي) شمارل کیږي او حد قذف به پر جاري کیږي.

د دې مسئلې دویم جزء دا دی چې که ټوله ګواهان فاسقان وي یا تر شهادت اداء کېدلو وروسته د دوی فسوق ښکاره سي. نو که څه هم د دوی په شهادت سره زنا نه ثابتیږي. لېکن پر دوی به حدّ قذف

هم نه جاري کيږي؛ ځکه چي زموږ په نيز فاسق د شهادت اداء کولو أهل دی که څه هم د فسوق د تهمت په وجه د هغه په شهادت کي څه نُقص او خامي راځي. نو د شهادت د أهل کېدلو په وجه د فاسق په شهادت سره که څه هم زنا نه ثابتيږي لېکن د زنا به شبهه خامخا ثابتيږي. لېکن د هغه د تهمت (فسوق) وطرف ته په غور کولو سره د عدمِ زنا شبهه ثابتيږي (يعني د هغه فسوق ته په نظر کولو سره د زنا د نشتوالي شبهه ثابتيږي). نو دلته تعارض راغلی د زنا په شبهه او د عدمِ زنا په شبهه کي. نو ځکه به د فاسقو گواهانو په شهادت سره نه د مشهود عليه په خلاف څه کاروايي کيږي او نه به د دوی په خلاف څه قدم پورته کيږي. په دې مسئله کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی. ځکه چي د هغه په نيز فاسق د شهادت اداء کولو أهل نه دی او د غلام په څير دی. نو گواکي د شوافعو په نيز به پر دې فاسقو گواهانو حدّ جاري کيږي.

وإن نقص إلخ: فرمايي که د گواهانو شمېر له څلورو څخه کم وي. نو پر هغو به حدّ قذف جاري کيږي. ځکه چي د دوی شهادت ناقص دی. او دوی د شهات اداء کولو له ثواب څخه بې برخي دي. حالانکي د شهادت "قذف نه گرځېدل" د ثواب حاصلېدلو په اعتبار سره دي (يعني گواهي او شهادت هغه وخت له قذف او تهمت څخه وځي کله چي په هغه سره ثواب حاصل سي. او له څلورو څخه د کمو گواهانو په شهادت سره ثواب نه حاصليږي. ځکه چي په قرآن کريم او حديث کي څلور گواهان شرط دی). لهذا کله چي د شهادت د نقصان په وجه دا مقصود نه حاصليږي. نو دا شهادت به قذف او تهمت وي. او پر شاهدينو (گواهانو) به حدّ قذف جاري کيږي.

که تر حدّ جاري کېدلو وروسته د يوه گواه نا أهليت ښکاره سي

وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو خلکو د يو چا په خلاف د زنا گواهي ورکړه فَضُرِبَ بِشَهَادَتِهِمْ او د دوی په گواهي سره هغه سړی ا په دُروا ووهل سو ثُمَّ وُجِدَ أَحَدُهُمْ عَبْدًا أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ بيا په دوی کي يو گواه غلام يا محدود فی القذف وموندل سو فَإِنَّهُمْ يُحَدُّونَ نو پر دوی ا ټولو ا به حدّ قذف جاري کيږي لِأَنَّهُمْ قَذَفَةٌ ځکه چي دوی تهمت لگونکي دي إِذِ الشُّهُودُ ثَلَاثَةٌ ځکه ادوی په حقيقت کي ا درې گواهان دي وَلَيْسَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَلَى بَيْتِ الْمَالِ أَرْشُ الضَّرْبِ او د وهلو تاوان به نه پر دې گواهانو وي او نه پر بيتُ المال وَإِنْ رُجِمَ فَدِيَتُهُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او که مشهود عليه امجرم ا رجم کړی سي نو د هغه ديت به پر بيتُ المال وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❀ او دا حکم د امام صاحب

❀ القول الراجح: قول أبی حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:٣، ص:١٧٥). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢٦]

رَحِمَهُ الله په نیز دی وَقَالَا: أَرْشُ الضَّرْبِ أَيْضًا عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د وهلو تاوان به هم پر بیتُ المال وي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللهُ: مَعْنَاهُ: إِذَا كَانَ جَرَحَهُ ناتوانه بنده وايي (الله تعالىٰ دي اله هر شر څخه] هغه وساتي): د صاحبينو د قول د معنىٰ دا ده: چي كله وهونكي [جلاد] مشهود عليه زخمي كړی وي انو په هغه صورت كي به د وهلو ضمان پر بيتُ المال وي] وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا مَاتَ مِنَ الضَّرْبِ او پر همدغه اختلاف دي كله چي مشهود عليه له وهلو څخه مړ سي وَعَلَى هٰذَا إِذَا رَجَعَ الشُّهُودُ لَا يَضْمَنُونَ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُمَا يَضْمَنُونَ او پر همدغه اختلاف دي چي كله گواهان له شهادت څخه رجوع وكړي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به دوی نه ضامن كيږي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به ضامن كيږي لَهُمَا: أَنَّ الْوَاجِبَ بِشَهَادَتِهِمْ مُطْلَقُ الضَّرْبِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د دې گواهانو په شهادت سره مطلق وهل واجب دي إِذِ الِاحْتِرَازُ عَنِ الْجَرْحِ خَارِجٌ عَنِ الْوُسْعِ ځكه چي له زخمي كولو څخه [د جلاد] ځان ساتل له وس [او طاقت] څخه وتلی كار دي فَيَنْتَظِمُ الْجَارِحَ وَغَيْرَهُ نو دا ضرب به جارح [جلاد] او غير جارح دواړو ته شامليږي فَيُضَافُ إِلَى شَهَادَتِهِمْ نو د گواهانو د شهادت وطرف ته به منسوبيږي فَيَضْمَنُونَ بِالرُّجُوعِ نو ځكه به په رجوع كولو سره دوی ضامن گرځي وَعِنْدَ عَدَمِ الرُّجُوعِ تَجِبُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او د رجوع نه كولو په صورت كي به پر بيتُ المال ضمان واجب وي لِأَنَّهُ يَنْتَقِلُ فِعْلُ الْجَلَّادِ إِلَى الْقَاضِي ځكه چي د جلاد [دره باز] فعل د قاضي وطرف ته منتقل كيږي وَهُوَ عَامِلٌ لِلْمُسْلِمِينَ او قاضي د ټولو مسلمانانو عامل وي فَتَجِبُ الْغَرَامَةُ فِي مَالِهِمْ نو ځكه به د مسلمانانو په مال [بيتُ المال] كي تاوان واجبيږي فَصَارَ كَالرَّجْمِ وَالْقِصَاصِ لهذا [د دې حكم] داسي سو لكه د رجم او قصاص حكم وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ الْجَلْدُ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي واجب جَلد [د دُرې وهل] دي وَهُوَ ضَرْبٌ مُؤْلِمٌ غَيْرُ جَارِحٍ وَلَا مُهْلِكٍ او جَلد دردونكي وهل وي لېكن زخمي كونكي او هلاكونكي نه وي فَلَا يَقَعُ جَارِحًا ظَاهِرًا إِلَّا لِمَعْنًى فِي الضَّارِبِ وَهُوَ قِلَّةُ هِدَايَتِهِ نو [د جلاد وهل] به په ښكاره جارح نه وي مگر په وهونكي [جلاد] كي د يو سبب په وجه چي هغه د وهونكي بې تجربگي ده فَاقْتَصَرَ

عَلَيْهِ نو دا زخمي کول به پر هغه منحصر کيږي [يعني دا زخمي کول به د جلاد سره خاص کيږي او پر هغه به ضمان واجبېدل پکار وي] إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الضَّمَانُ فِي الصَّحِيحِ خو په صحيح قول کې به پر هغه [هم] ضمان نه واجبيږي كَيْلَا يَمْتَنِعَ النَّاسُ عَنِ الْإِقَامَةِ مَخَافَةَ الْغَرَامَةِ د دې لپاره چې خلک د تاوان [ضمان] له بيرې د حد له جاري کولو څخه منع نه سي.

اللغات: ﴿مَحْدُوْد﴾ د نصر اسمِ مفعول دی: هغه کس چې حدّ پر جاري کړی سوی وي. ﴿أَرْش﴾ تاوان، ضمان، تلافي. ﴿اِحْتِرَاز﴾ د افتعال مصدر دی: ځان ساتل (ځان کتل). پرهېز کول. ﴿جَلَّاد﴾ دُره باز، دُره وهونکی (هغه کس چې د حاکم له طرفه مجرمانو ته د سزا ورکولو لپاره ټاکل سوی وي). ﴿غَرَامَة﴾ ضمان (تاوان). جرمانه. ﴿جَارِح﴾ د نصر اسم فاعل دی: زخمي کونکی. ﴿قِلَّة هِدَايَته﴾ د هدايت کمښت. مراد ځني بې تجربګي ده. ﴿أُقْتُصِرَ﴾ د افتعال ماضي مجهوله ده: اکتفاء کول. منحصر کول. ﴿مَخَافَة﴾ د سمع له باب څخه مصدرِ ميمي دی: بېره. خطره.

يادونه: په دې عبارت کې څه کمي سته؛ تاسي يې په غور سره مطالعه کړئ!.

تشريح: **مسئله**: دا ده که څلورو خلکو ديو چا په خلاف د زنا ګواهي ورکړه چې د هغو د ګواهي په وجه پر هغه سړي حدّ جاري کړی سو او په دُرو ووهل سو. تر دې وروسته معلومه سوه چې په دوی کې يو ګواه غلام دی يا محدود في القذف دی. نو پر دې ګواهانو به حدّ قذف جاري کيږي. ځکه چې د شهادت نصاب پوره نه دی او په حقيقت کې فقط درې ګواهان دي. او څه مخکې دا خبره تېره سوه چې که د ګواهانو شمېر له څلورو څخه کم وي، نو دوی ته د شهادت اداء کولو ثواب نه حاصليږي. او د دوی شهادت به فقط د دوی لپاره وبال او د حدّ قذف موجب وي.

او کوم سړی چې په دُرو وهل سوی دی (يعني مشهودعليه) د هغه د وهلو ضمان د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نه پر ګواهانو واجب دی او نه پر بيت المال. لېکن د صاحبينو په نېز که هغه د وهلو په وجه زخمي سي. نو پر بيتُ المال د هغه ضمان واجب دی. او که چيري مشهود عليه رجم کړی سي، نو د هغه ديت د امام صاحب په نېز پر بيتُ المال واجب دی. همدارنګه که د وهلو په وجه مشهود عليه مړ سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هيڅ شی واجب نه دی. لېکن د صاحبينو په نېز د هغه ديت پر بيتُ المال واجب دی. او که چيري تر وهلو وروسته ګواهان له خپل شهادت څخه رجوع وکړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغو ضمان واجب نه دی. لېکن د صاحبينو په نېز پر هغو ضمان واجب دی.

د صاحبينو دليل: په دې ټولو صورتونو کې د صاحبينو دليل دا دی چې د ګواهانو په شهادت سره پر مشهود عليه ضرب (وهل) ثابت او واجب سو. او دا ضرب که جارح وي او که مهلک وي په هر صورت کي د ګواهانو د شهادت وطرف ته د هغه نسبت کيږي. ځکه چي له زخم او هلاکت ځخه مجرم ساتل د انسان له طاقت څخه وتلي او ناممکن دي. لهذا په دې ضرب سره که مجرم (مشهود عليه) زخمي سي يا مړ سي او ګواهان له خپل شهادت څخه رجوع وکړي. نو پر دوی به د ضرب ضمان يا د نفس ضمان واجب وي، او که دوی رجوع نه وکړي لېکن په دوی کي يو غلام وي يا محدود في القذف وي، نو دا ضمان به پر بيتُ المال واجب وي، ځکه چي بيتُ المال د ټولو مسلمانانو دی. او د جلاد (دُره باز) د فعل نسبت د قاضي وطرف ته هم کيږي. او څرنګه چي قاضي د مسلمانانو لپاره مقرر سوی دی. لهذا د قاضي په وجه چي کوم ضمان هم واجب سي هغه به د مسلمانانو په مال (بيتُ المال) کي واجبيږي. يعني هغه به له بيتُ المال څخه اداء کيږي. او لکه څرنګه چي درجم او قصاص په صورت کي د مجرم تر وژل کېدلو وروسته که چيري ګواهان له خپل شهادت څخه رجوع وکړي يا په دوی کي يو ګواه غلام يا محدود في القذف وخيږي نو د وژل سوي مجرم دِيت پر بيتُ المال واجبيږي. همداسي به د ضرب په صورت کي هم دا ديت او ضمان پر بيتُ المال واجب وي. او له بيتُ المال څخه به اداء کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د دې ګواهانو په شهادت پر مشهود عليه جَلد (يعني د دُرې وهل) واجب سو. او جَلد هغه وهلو ته وايي کوم چي دردناکه او سخت وي لېکن زخمي کونکي او هلاکونکينه وي. لېکن کله چي جَلد جارح يا مهلک جوړ سي نو د دې مطلب دا دی چي وهونکي (جلاد) تعدّي او زياتوب وکړی، او د بې تجربګي په وجه داسې پيښې سوه. لهذا دا زياتوب او تجاوز به فقط د وهونکي سره خاص وي او په دې کي به نه د ګواهانو څه قصور وي او نه د قاضي. نو ځکه به نه پر ګواهانو ضمان واجبيږي او نه پر بيتُ المال. او پر وهونکي (جلاد) به هم ضمان نه واجبيږي. ځکه که پر هغه ضمان واجب کړی سي، نو په آينده کي به هيڅوک د جلادۍ کار نه کوي او د ضمان ورکولو له بيري څخه به د دغه کار نوم هم نه اخلي.

دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي د ګواهانو په شهادت سره ضرب ثابت سوی وی. يعني مشهود عليه محصن نه وي. او که مشهود عليه محصن وي او هغه رجم کړی سي بيا داسي قصه پېښه سي (يعني يو ګواه غلام يا محدود في القذف ثابت سي. يا ګواهان له شهادت څخه رجوع وکړي). نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم پر بيتُ المال د هغه ديت واجبيږي. د دې چي لپاره چي د مشهود عليه خون ضايع او بې ځايه نه سي.

پر يوې ګواهۍ د بلې ګواهۍ د اداء کېدلو بيان

وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى شَهَادَةِ أَرْبَعَةٍ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو خلکو د څلورو ګواهانو د زنا پر شهادت ګواهي ورکړه. لَمْ يُحَدَّ نو پر مشهود عليه به حدّ نه جاري کيږي لِمَا فِيهَا مِنْ زِيَادَةِ الشُّبْهَةِ ځکه چې په دې شهادت کې ډېر شبهات سته وَلَا ضَرُورَةَ إِلَى تَحَمُّلِهَا او د داسې شهادت د اخيستلو او قبلولو [هيڅ ضرورت نسته فَإِنْ جَاءَ الْأَوَّلُونَ فَشَهِدُوا عَلَى الْمُعَايَنَةِ فِي ذٰلِكَ الْمَكَانِ بيا که مخکنې څلور ګواهان راسې او په هغه ځای کې د زنا ليدلو ګواهي ورکړي لَمْ يُحَدَّ أَيْضًا نو [په دې صورت کې] به هم پر مشهود عليه حدّ نه جاري کيږي مَعْنَاهُ: شَهِدُوا عَلَى ذٰلِكَ الزِّنَا بِعَيْنِهِ د دې مطلب دا دی: چې بعينه پر هغه زنا ګواهي ورکړي [پر کومه زنا چې وروستني څلورو ګواهانو (فروعو) ګواهي ورکړې وي] لِأَنَّ شَهَادَتَهُمْ قَدْ رُدَّتْ مِنْ وَجْهٍ بِرَدِّ شَهَادَةِ الْفُرُوعِ فِي عَيْنِ هٰذِهِ الْحَادِثَةِ ځکه چې په دغه واقعه کې د فروعو د شهادت په ردّ کولو سره من وجه د هغو [اُصولو] شهادت [هم] ردّ سو إِذْ هُمْ قَائِمُونَ مَقَامَهُمْ بِالْأَمْرِ وَالتَّحْمِيلِ ځکه چې فروع [د شهادت] په معامله کې او د شهادت په اداء کولو کې د اُصولو قائم مقام دي وَلَا يُحَدُّ الشُّهُودُ او پر ګواهانو به [هم] حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّ عَدَدَهُمْ مُتَكَامِلٌ ځکه چې د هغو شمېر پوره دی وَامْتِنَاعُ الْحَدِّ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ لِنَوْعِ شُبْهَةٍ او له مشهود عليه [مجرم] څخه د حدّ منع کېدل [او ساقطېدل] د يو ډول شبهې په وجه دي وَهِيَ كَافِيَةٌ لِدَرْءِ الْحَدِّ لَا لِإِيجَابِهِ او دا شبهه [فقط] د حدّ دفع کولو لپاره کافي ده [لېکن] د حدّ ثابتولو لپاره کافي نه ده.

اللغات: ﴿مُعَايَنَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: کتل (په سترګو ليدل. مراد ځني عيني ګواهي ورکول دي). ﴿دَرْء﴾ د فتح مصدر دی: دفع کول. ليرې کول (ساقطول). ﴿إِيجَاب﴾ د إفعال مصدر دی: واجبول. ثابتول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: که څلورو خلکو د يوه سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه. او بيا نورو څلورو خلکو د هغه اولو کسانو پر ګواهۍ باندې ګواهي ورکړه چې هغوی بالکل ربښتيا وايي او موږ د هغو ګواهان يو. نو په دې صورت کې به پر مشهود عليه (مجرم) حدّ نه جاري کيږي. ځکه چې په دې ګواهۍ کې څو شبهات پيدا سوه (مثلاً د اُصولو پر ګواهۍ باندې فروعو ولې ګواهي ورکړه؟ (يعنې د

اولو خلکو پر ګواهۍ باندي نورو څلورو خلکو ولي ګواهي ورکړه؟)همدارنګه کله چي په یو معامله کي تر ضرورت زیاته ګواهي پېشه کړی سي، نو په هغه ګواهۍ د درواغو شبهه پیدا کیږي او داسي نور). او د شبهاتو د پیدا کېدلو په صورت کي د ګواهۍ قبلولو هیڅ ضرورت هم نسته. ځکه چي ګواهي د شبهاتو د ختمولو لپاره وي نه د شبهاتو د ثابتولو او پیدا کولو لپاره. نو ځکه به دلته د فروعو (وروستني څلورو خلکو) ګواهي نه قبلیږي.

فإن جاء الأولون: فرمايي که چیري فروع ګواهي ورکړي او د هغو ګواهي قبوله نه کړی سي. تر دې وروسته أصول [اول خلک] راسي او په خپلو ستر ګو د لیدلو ګواهي ورکړي (چي موږ زاني په خپلو ستر ګو ولیدی چي په زنا لګیا وو) نو هم به د هغو ګواهي ردّ کیږي او نه به قبلیږي. ځکه فروعو چي کومه ګواهي ورکړې ده هغه هم د أصول ګواهي ده. او دا ګواهي یو وار ردّ کړی سوه. لهذا په هغې کي شبهه پیدا سوه. نو ځکه به دویم وار په دې باره کي ګواهي نه قبلیږي (د في الأمر والتحميل معنىٰ دا ده: چي فروع (وروستني خلک) په ګواهۍ او د ګواهۍ په اداء کولو کي د أصولو (اولو خلکو) قائم مقام دي، نو د ګواهۍ د ردّ کېدلو کومه وجه چي په فروعو کي سته. هغه په أصولو کي هم سته. نو ځکه به د یو فریق شهادت هم نه قبلیږي او پر مشهود علیه به حدّ نه جاري کیږي).

ولايحد الشهود إلخ: فرمايي چي پر ګواهانو به هم حدّ قذف نه جاري کیږي. ځکه چي په ګواهانو کي نه څه نقصان او عیب سته او نه د دوی شمېر کم دی. هـا! له مشهود علیه څخه د یوې شبهې په وجه حدّ ساقط سو (یعني هغه شبهه چي د هغې په وجه د فروعو ګواهي قبوله نه سوه. او د أصولو ګواهي ردّ کړی سوه). او د حدّ ساقطېدلو لپاره همدومره شبهه کافي ده. لېکن د حدّ ثابتولو لپاره دا شبهه کافي نه ده. ځکه چي تاسو ته معلومه ده چي شبهه خو حدّ ساقطوي لېکن حدّ نه ثابتوي.

تر حدّ جاري کېدلو وروسته د یوه ګواه د رجوع کولو حکم

وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او کله چي څلور ګواهان د یو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړي فَرُجِمَ او هغه رجم کړی سي فَكُلَّمَا رَجَعَ وَاحِدٌ نو کله چي هم [په دې څلورو ګواهانو کي] یو ګواه رجوع وکړي حُدَّ الرَّاجِعُ وَحْدَهُ نو یوازي پر رجوع کونکي ګواه به حدّ جاري کیږي وَغَرِمَ رُبُعَ الدِّيَةِ او هغه به د دیت د څلورمې حصې ضامن [هم] وي [یعني د دیت د یوې ربع ضمان او قیمت به پر واجب وي] أَمَّا الْغَرَامَةُ فَلِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْحَقِّ کوم چي [یوه ربع] ضمان دی نو د هغه وجه دا ده چي [اوس] څومره ګواهان پر شهادت قائم وي د هغو له شهادت څخه درې ربع حق پاته دی [یعني پر راجع د دیت ربع ځکه واجبیږي چي اوس هم درې ګواهان پر خپل شهادت پاته او قائم دي

نو د راجع په شهادت سره فَيَكُونُ التَّالِفُ بِشَهَادَةِ الرَّاجِعِ رُبْعَ الْحَقِّ چي د هغه په وجه درې ربع پاته دي ا
به د حق ځلورمه حصه فوت سوې وي امطلب دا چي ديوه ګواه د رجوع کولو په وجه فقط د حق يوه ربع فوت
سوه ا وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجِبُ الْقَتْلُ دُونَ الْمَالِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د راجع وژل به
واجب وي، نه مال [او ضمان] بِنَاءً عَلَى أَصْلِهِ فِي شُهُودِ الْقِصَاصِ ا د امام شافعي رَحِمَهُ الله ا دا قول د
قصاص په ګواهانو کي د هغه پر أصل مبني دي وَسَنُبَيِّنُهُ فِي الدِّيَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او په کتابُ
الديّات کي به موږ انشاء الله د دې بيان وکړو وَأَمَّا الْحَدُّ فَمَذْهَبُ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ کوم چي حدّ دی نو
هغه زموږ د دريو امامانو مذهب دی [يعني امام صاحب او صاحبين رَحِمَهُمُ الله ا وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُحَدُّ او
امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر راجع به حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ الرَّاجِعُ قَاذِفَ حَيٍّ ځکه که
چيري راجع پر ژوندي [مشهود عليه] باندي تهمت لګونکی وي فَقَدْ بَطَلَ بِالْمَوْتِ نو د هغه په مړ
کيدلو سره تهمت باطل سو وَإِنْ كَانَ قَاذِفَ مَيِّتٍ او که راجع پر مړه [مشهود عليه] باندي تهمت
لګونکی وي فَهُوَ مَرْجُومٌ بِحُكْمِ الْقَاضِي نو هغه [خو] د قاضي په حکم سره رجم سوی دی فَيُورِثُ
ذَلِكَ شُبْهَةً نو دا به شبهه پيدا کړي [يعني د دې په وجه شبهه پيدا سوه] وَلَنَا: أَنَّ الشَّهَادَةَ إِنَّمَا تَنْقَلِبُ
قَذْفًا بِالرُّجُوعِ زموږ دليل دا دی: چي شهادت به په رجوع کولو سره په تهمت بدليږي لِأَنَّ بِهِ تَنْفَسِخُ
شَهَادَتُهُ ځکه چي په رجوع سره د راجع شهادت باطليږي فَجُعِلَ لِلْحَالِ قَاذِفًا لِلْمَيِّتِ نو هغه به فی
الحاله پر ميّت باندي تهمت لګونکی ګرځول کيږي وَقَدِ انْفَسَخَتِ الْحُجَّةُ او [د هغه د رجوع په
وجه] به حجّت فسخ کيږي فَيَنْفَسِخُ مَا يَبْتَنِي عَلَيْهِ وَهُوَ الْقَضَاءُ فِي حَقِّهِ نو کوم شی چي پر حجت
مبني دی هغه به [هم] فسخ کيږي او هغه دده په حق کي د قاضي فيصله ده فَلَا يُورِثُ الشُّبْهَةَ نو دې
شبهه پيدا نه کړه [يعني شبهه پاته نه سوه نو ځکه به پر راجع حدّ قذف جاري کيږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا
قَذَفَهُ غَيْرُهُ په خلاف د هغه صورت کله چي له راجع [ګواه] څخه بغير ابل څوک] پر مرجوم
تهمت ولګوي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُحْصَنٍ فِي حَقِّ غَيْرِهِ ځکه چي مرجوم له ګواه څخه بغير [د بل چا] په حق
کي مُحصن نه دی لِقِيَامِ الْقَضَاءِ فِي حَقِّهِ ځکه چي د ګواه په حق کي د قاضي فيصله موجوده ده.

اللغات: ﴿غَرِمَ﴾ د سمع ماضي ده: ضمان او تاوان اداء كول. جرمانه اداء كول. ﴿قَاذِف﴾ د ضرب اسمِ فاعل دی: د دراوغو تهمت لګونكی (هغه كس چي په دروغو پر يو چا د زنا تور ولګوي).
﴿يُوْرِث﴾ د افعال مضارع ده: وارث جوړل. شاته پرېښوول (مراد ځني شبهه پيدا كول دي).

تشريح: **مسئله**: دا ده كه څلور ګواهان د يوه سړي په خلاف د زنا ګواهي وركړي چي د هغه په وجه دا سړی رجم كړی سي. او بيا تر رجم وروسته له دې ګواهانو څخه يو ګواه رجوع وكړي. نو دا رجوع به فقط د هغه په حق كي معتبره وي. او په دې رجوع سره به فقط پر هغه حدّ قذف جاري كيږي او د حدّ سره به پر هغه د مرجوم د دِيَت څلورمه حصه ضمان هم واجب وي. او له هغه څخه بغير به پر نورو ګواهانو نه حدّ جاري كيږي او نه به ضمان پر واجبيږي؛ ځكه چي هغوی پر خپل شهادت قائم پاته دي. او د هغو په شهادت سره د مشهود عليه درې ربعي (درې څلورمي حصې) حق پاته دی او د راجع په رجوع سره فقط يوه ربع حق ختم سوی دی. نو ځكه به پر راجع فقط د يوه دِيَت واجب وي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلك دا دی چي پر راجع ديت نه واجبيږي. بلكي د رجوع په وجه به هغه قتل كيږي. لكه كله چي د قصاص ګواهان د مشهود عليه تر قتل كېدلو وروسته له ګواهي څخه رجوع وكړي. نو پر هغو دِيَت نه واجبيږي بلكي قتل كيږي. همدا حال به د زنا د ګواه هم وي.

وأما الحدّ إلخ: فرمايي چي زموږ د ائمه ثلاثه وو په نيز به پر راجع حدّ جاري كيږي. ليكن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز به پر هغه حدّ نه جاري كيږي؛ د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي كه چيري مسئله داسي وګڼل سي چي دغه راجع د مشهود عليه (مجرم) د ژوند په حالت كي پر هغه تهمت او قذف لګولی دی نو د مشهود عليه په مرګ سره دا تهمت ختم سو (ځكه قاعده دا ده چي كله مقذوف دعوی وكړي. نو پر قاذف به حدّ قذف جاري كيږي. او دلته خو مقذوف يعني مشهود عليه مړ سوی دی). او كه چيري داسي وګڼل سي چي هغه د مشهود عليه تر مرګ وروسته په رجوع كولو سره پر هغه تهمت لګولی دی. نو څرنګه چي مقذوف د قاضي په حكم سره رجم سوی او وژل سوی دی. نو ځكه په دې خبره كي شك پيدا سو چي د دغه ګواه په وجه مقذوف رجم سوی دی. نو ځكه به پر ګواه حدّ قذف نه جاري كيږي.

زموږ دليل دا دی چي د دغه ګواه (راجع) شهادت په ابتداء كي حجت وو او د زنا ثابتونكی وو. ليكن د هغه پر رجوع كولو سره دا شهادت په تهمت سره بدل سو او فسخ سو او كله چي فسخ سو. نو هغه د شهادت او ستر له دواړو ثوابونو څخه ووتی او قذف وګرځېدی. او دا سړی پر ميِّت (مړه مشهود عليه) به تهمت لګونكی وګرځېدی. او څرنګه چي د ده په شهادت سره د ده په حق كي د قاضي د رجم أمر ثابت سوی وو. نو د شهادت په فسخ كېدلو سره هغه أمر هم فسخ سو (ګواكي قاضي د ده په شهادت سره مجرم نه دي رجم كړی) نو د ده په قذف كي هيڅ شبهه پاته نه سوه. لهذا دئ خالص

قاذف سو، نو ځکه به پر ده حدّ قذف جاري کيږي. لېکن که له ګواه ښخه بغير يو بل څوک پر مرجوم تهمت ولګوي نو پر بل سړي به حدّ قذف نه جاري کيږي، ځکه چي مرجوم له ګواه ښخه بغير د بل چا په حق کي محصن نه دی چي د هغه په قذف سره دي د هغه إحصان ساقط سوی وي. بلکي په دې صورت کي د مرجوم په رجم کي د قاضي فيصله مؤثره ده، او د دې قاذف په قذف کي شبهه ده. چي د دې شبهي په وجه به پر هغه حدّ نه جاري کيږي.

تر حدّ جاري کېدلو مخکي د يو ګواه د رجوع کولو حکم

فَإِنْ لَمْ يُحَدَّ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ حَتّٰى رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ او که پر مشهود عليه حدّ جاري نه کړی سي تر دې چي له ګواهانو ښخه يو ګواه رجوع وکړي حُدُّوا جَمِيعًا نو پر دوی ټولو به حدّ جاري کيږي وَسَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ او له مشهود عليه ښخه به حدّ ساقطيږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁ : حُدَّ الرَّاجِعُ خَاصَّةً او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي فقط پر راجع به حدّ جاري کيږي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ تَأَكَّدَتْ بِالْقَضَاءِ ځکه چي د قاضي په فيصله سره شهادت مؤکد سو فَلَا يَنْفَسِخُ إِلَّا فِي حَقِّ الرَّاجِعِ لهذا هغه به فقط د راجع په حق کي فسخ کيږي كَمَا إِذَا رَجَعَ بَعْدَ الْإِمْضَاءِ لکه تر حدّ جاري کولو وروسته چي يو څوک رجوع وکړي وَلَهُمَا: أَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي حد جاري کول هم له قضاء ښخه دي [يعني د حدّ نفاذ او إجراء هم د قاضي د فيصلې يوه حصه ده] فَصَارَ كَمَا إِذَا رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ قَبْلَ الْقَضَاءِ نو داسي سو لکه تر قضا مخکي چي له ګواهانو ښخه يو رجوع وکړي وَلِهٰذَا سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ او په همدې وجه له مشهود عليه ښخه حدّ ساقطيږي وَلَوْ رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ قَبْلَ الْقَضَاءِ او که تر قضاء مخکي له ګواهانو ښخه يو رجوع وکړي حُدُّوا جَمِيعًا نو پر ټولو به حدّ جاري کيږي وَقَالَ زُفَرُ: يُحَدُّ الرَّاجِعُ خَاصَّةً او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي فقط پر رجوع کونکي ګواه به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ لَا يُصَدَّقُ عَلٰى غَيْرِهِ ځکه چي د نورو ګواهانو په خلاف به د هغه تصديق نه کيږي [او د راجع پړه به پر نورو ګواهانو نه اچول کيږي] وَلَنَا: أَنَّ كَلَامَهُمْ قَذْفٌ فِي الْأَصْلِ زموږ دليل دا دی: چي د ګواهانو کلام [شهادت] په اصل کي تهمت دی وَإِنَّمَا يَصِيرُ شَهَادَةً

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۷۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۲۷]

بِاتِّصَالِ الْقَضَاءِ بِهِ او [د دوی] کلام هغه وخت شهادت ګرځي [کله] چي د قاضي فيصله د هغه سره متصل سي فَإِذَا لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ نو کله چي [ادلته] د هغه سره د قاضي فيصله متصله نه سوه بَقِيَ قَذْفًا نو هغه تهمت پاته سو فَيُحَدُّونَ نو ځکه به پر [ټولو] ګواهانو حدّ جاري کيږي فَإِنْ كَانُوا خَمْسَةً فَرَجَعَ أَحَدُهُمْ او که ګواهان پنځه وي او [بيا] له دوی څخه يو رجوع وکړي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِمْ نو [په دې صورت کي] پر ګواهانو هيڅ شی نسته لِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ كُلُّ الْحَقِّ وَهُوَ شَهَادَةُ الْأَرْبَعَةِ ځکه چي [اوس] دومره ګواهان پاته دي چي د هغو په ګواهی سره ټوله حق (يعني شهادةُ الأربعة) پاتيږي فَإِنْ رَجَعَ آخَرُ لېکن که يو بل ګواه [هم] رجوع وکړي حُدَّا نو پر هغوی دواړو به حدّ جاري کيږي وَغَرِمَا رُبْعَ الدِّيَةِ او دواړه به د ديت د څلورمي حصې ضمان اداء کوي أَمَّا الْحَدُّ فَلِمَا ذَكَرْنَا کوم چي حدّ دی نو د هغه دليل په وجه [به جاري کيږي] کوم چي موږ ذکر کړی وَأَمَّا الْغَرَامَةُ فَلِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْحَقِّ او کوم چي ضمان دی نو ځکه چي دومره ګواهان پاته دي چي د هغو په ګواهی سره درې رُبع حق پاتيږي وَالْمُعْتَبَرُ بَقَاءُ مَنْ بَقِيَ لَا رُجُوعُ مَنْ رَجَعَ او [په دې سلسله کي] د باقي پاتېدونکو ګواهانو بقاء معتبره ده نه د رجوع کونکي رجوع [يعني قاعده دا ده چي په داسي صورت کي هغه ګواهانو ته اعتبار ورکول کيږي کوم چي پر خپل شهادت پاته وي. او رجوع کونکي ګواه لره هيڅ اعتبار نسته] عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي [په كتابُ الشهادات کي دا خبره تاسي ته] معلومه سوه.

اللغات: ﴿تَأَكَّدَتْ﴾ د تفعّل ماضي ده: مضبوطېدل. ټينګېدل. ﴿إِمْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: جاري کول. نافذول. ﴿غَرِمَا﴾ د سمع له باب څخه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: ضمان او جرمانه اداء کول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل واضح دی چي د قاضي له قضاء څخه وروسته پرمشهود عليه تر حدّ جاري کېدلو مخکي د يو ګواه په رجوع کولو سره د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر ټولو ګواهان حدّ جاري کيږي. لکه څرنګه چي د قاضي تر قضاء (فيصلې) مخکي يو ګواه رجوع وکړي. نو پر ټولو حدّ جاري کيږي. ځکه چي د حدّونو په باب کي حدّ جاري کول هم د قضاء حصه ده او هغه ته قضاء وايي. او تر قضاء مخکي رجوع کول جرم او د حدّ موجب دی. امام محمد رَحِمَهُ الله په دې صورت کي فقط پر راجع حدّ واجبوي. ځکه چي د قاضي په قضاء سره د ګواهانو شهادت پوخ او

مضبوط سو. لهذا تر قضاء وروسته چي کوم ګواه رجوع وکړي، د هغه رجوع به فقط د هغه په حق کي ثابتيږي. او د نورو ګواهانو په حق کي به نه ثابتيږي.

دويمه مسئله دا ده که د قاضي له قضاء ځخه مخکي (او تر شهادت اداء کولو وروسته) يو ګواه رجوع وکړي، نو زموږ په نېز به پر ټولو ګواهانو حدّ جاري کيږي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به فقط پر راجع (رجوع کونکي) باندي حدّ جاري کيږي: د امام زفر دليل دا دی چي د راجع خبره فقط د هغه په حق کي معتبره ده، نو له هغه ځخه بغير به د نورو ګواهانو په حق کي د هغه تصديق نه کيږي.

زموږ دليل دا دی چي د قاضي تر قضاء مخکي د ګواهانو خبره فقط قذف او تهمت وي. ها! کله چي قاضي د دوی خبره تسليم کړي او د هغه مطابق د رجم يا د جَلد فيصله وکړي، نو بيا د دوی خبري ته شهادت او ګواهي وايي، لېکن ځرنګه چي دلته د دوی د خبري سره د قاضي قضاء متصله نه ده، نو ځکه د دوی خبره قذف پاته سوه، او د يوه ګواه رجوع کول و دې طرف ته نوره تقويه ورکړه (او ثابته يې کړه چي زموږ ګواهي قذف ده)، نو ځکه به ټوله قاذفين (تهمت لګونکي) شمارل کيږي، او پر ټولو به حدّ قذف جاري کيږي.

او که چيري د ګواهانو شمېر پنځه وي، او بيا له رجم ځخه وروسته په دوی کي يو ګواه له شهادت ځخه رجوع وکړي، نو پر يوه ګواه به هم هيځ شی نه واجبيږي، لېکن که يو بل ګواه هم ور سره يو ځای سي يعني ټوله دوه ګواهان رجوع وکړي، نو بيا به پر هغوی دواړو حدّ قذف جاري کيږي، او دا يو ګواه به د ديت د څلورمي حصې (ربع) ضامن هم وي، لکه په تېر عبارت کي چي په دې هکله تفصيل ذکر سو. په لِمَا ذَكَرْنَا سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله هغه ته اشاره کړې ده.

د ګواهۍ د غلطېدلو په صورت کي د مرجوم د ديت مسئله

وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو ګواهانو د يو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه فَزُكُّوا بيا د ګواهانو تزکيه بيان کړی سوه [يعني بيا نور خلګو د ګواهانو تزکيه او تعديل وکړي چي دغه ګواهان عادله او د شهادت قابله خلګ دي] فَرُجِمَ او [د ګواهانو د ګواهی [مشهود عليه رجم کړی سو فَإِذَا الشُّهُودُ مَجُوسٌ أَوْ عَبِيدٌ تر دې وروسته وروسته معلومه سوه چي ګواهان خو مجوسيان يا غلامان دي فَالدِّيَةُ عَلَى الْمُزَكِّينَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ✽ نو [د مرجوم] ديت به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر تزکيه کونکو خلګ واجب وي مَعْنَاهُ: إِذَا رَجَعُوا عَنِ التَّزْكِيَةِ د دې مطلب دا دی: چي کله مُزکين له تزکيه ځخه رجوع وکړي وَقَالَا: هُوَ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي ديت به پر بيتُ المال واجب وي وَقِيلَ: هٰذَا إِذَا قَالُوا:

✽ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۳، ص:۱۷۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۴۸]

تَعَمَّدْنَا التَّزْكِيَةَ مَعَ عِلْمِنَا بِحَالِهِمْ او ويل سوي دي: چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي مُزکين اداسي اووايي: چي موږ د ګواهانو په حالت د خبرېدلو باوجود د هغو تزکيه قصداً کړې وه لَهُمَا: أَنَّهُمْ أَثْنَوْا عَلَى الشُّهُودِ خَيْرًا د صاحبينو دليل دا دی: چي مُزکينو د هغه ګواهانو د ښه والي او عادلوالي تعريف کړی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا أَثْنَوْا عَلَى الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ خَيْرًا بِأَنْ شَهِدُوا بِإِحْصَانِهِ نو دا داسي سو لکه هغوی چي د مشهود عليه د ښه والي تعريف وکړي په دې توګه چي د هغه د محصنوالي ګواهي ورکړي وَلَهُ: أَنَّ الشَّهَادَةَ إِنَّمَا تَصِيرُ حُجَّةً عَامِلَةً بِالتَّزْكِيَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي شهادت په تزکيه سره فعال حجت جوړېږي ايعني شهادت فقط په تزکيه سره عمل او أثر کوي او حجت ګرځي ا فَكَانَتِ التَّزْكِيَةُ فِي مَعْنَى عِلَّةِ الْعِلَّةِ نو تزکيه به د علت د علت اسببُ السببا په معنیٰ سره وي فَيُضَافُ الْحُكْمُ إِلَيْهَا نو ځکه به حکم د هغه اعلةُ العلة اوطرف ته منسوب کيږي بِخِلَافِ شُهُودِ الْإِحْصَانِ په خلاف د إحصان د ګواهانو لِأَنَّهُ مَحْضُ الشَّرْطِ ځکه چي هغه محض يو شرط دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا شَهِدُوا بِلَفْظَةِ الشَّهَادَةِ أَوْ أَخْبَرُوا او په دې کي هيڅ فرق نسته چي مُزکين د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکړي يا د خبرو ورکولو په لفظ سره وَهَذَا إِذَا أَخْبَرُوا بِالْحُرِّيَّةِ وَالْإِسْلَامِ او دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دوی امُزکينوا د آزادۍ او اسلام خبر ورکړی وی أَمَّا إِذَا قَالُوا: هُمْ عُدُولٌ وَظَهَرُوا عَبِيدًا لېکن که دوی ويلي وي: چي ګواهان عادلان دي او ابيا ا ګواهان غلامان ښکاره سي لَا يَضْمَنُونَ نو اپه دې صورت کي ا به مُزکين ضامن نه وي لِأَنَّ الْعَبْدَ قَدْ يَكُونُ عَدْلًا ځکه چي ځيني وخت غلام اهم ا عادل وي وَلَا ضَمَانَ عَلَى الشُّهُودِ او پر ګواهانو به اهم ا ضمان نه وي لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ كَلَامُهُمْ شَهَادَةً ځکه چي د دوی کلام شهادت واقع نه سو وَلَا يُحَدُّونَ حَدَّ الْقَذْفِ او پر هغوی به حدِ قذف اهم ا نه جاري کيږي لِأَنَّهُمْ قَذَفُوا حَيًّا وَقَدْ مَاتَ ځکه چي هغو پر ژوندي کس باندي تهمت لګولی وو او هغه اخوا مړ سو فَلَا يُورَثُ عَنْهُ نو ځکه به له هغه شخصه اڅوکا نه وارث کيږي ايعني داسي کېدای نه سي چي د هغه تر مرګ وروسته يو قريب د هغه د حدِ قذف وارث جوړ سي او د هغه د حدِ قذف مطالبه وکړي. ځکه چي په حدِ قذف کي ميراث نه چليږي ا.

اللغات: ﴿زُكُّوا﴾ د تفعيل له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي مجهولي صيغه ده: تزکيه کول. د يو چا پاکوالي او صفاوالي بيانول. ﴿عَبِيْد﴾ جمع د عَبْدٌ ده: غلام. مريی. ﴿مُزَكِّيْن﴾ د تفعيل جمع اسمِ فاعل دی: تزکيه کونکي خلک. ﴿تَعَمَّدْنَا﴾ د تفعّل ماضي ده: قصداً يو کار کول (په قصده

کول)، ﴿أَثْنَوْا﴾ د افعال ماضي ده: ثنا بیانول، تعریف کول، ﴿لَا يُوْرَثُ﴾ د سمع له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: وارث کېدل، وارث جوړېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو چا په خلاف څلورو ګواهانو د زنا ګواهي ورکړه، او یو څو خلګو د دې ګواهانو تعدیل او تزکیه بیان کړه (یعني دوی یې عادلان او صفا خلک وګرځول او د شهادت قابل یې وشمارل)، او بیا د دې ګواهانو د شهادت په وجه مشهود علیه رجم کړی سو: وروسته معلومه سوه چې مشهودٌ علیه خو مجوسي یا غلام وو، او تزکیه کونکو خلګو له خپل تزکیه څخه رجوع وکړه او دا یې ویل چې موږ د دې ګواهانو په فاسقوالي یا غلاموالي خبر وو، لېکن موږ قصداً دا خبره پټه کړه او هغوی مو (ستاسي په مخکې) عادلان ثابت کړل، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د مرجوم دیت پر دغه مُزکّینو (تعدیل کونکو خلګو) باندې واجب وي، لېکن صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې دا دیت به پر بیتُ المال واجب وي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې مُزکینو په خپله تزکیه سره په ګواهانو کې خیر او عدالت ثابت کړی او په خپله تزکیه سره یې د دوی ښه والی بیان کړی (چې دا غوره او معتمد خلک دي، مطلب دا چې د صاحبینو په نېز تزکیه د علت په درجه کې نه ده)، لهذا څرنګه چې د مشهود علیه (مجرم) په باره کې یو څو ک خلک دا ګواهي ورکړي چې هغه مُحصن دی او وروسته معلومه سي چې هغه محصن نه دی، نو پر هغه خلګو کې دیّت نه واجبیږي، همداسي به دلته هم پر مُزکینو دیت نه واجبیږي، نو د مشهود علیه رجم د قاضي په حکم او فیصله سره لازم سو (یعني ګواکې هغه فقط د قاضي په فیصله سره رجم سوی دی)، نو ځکه به پر بیتُ المال دیّت واجب وي (چې د هغه خون ضایع نه سي).

د امام صاحب دلیل: دا دی چې زنا په شهادت سره ثابتیږي، او شهادت بیا په تزکیه سره د حُجّت قابل ګرځي، نو د رجم لپاره تزکیه علةُ العلة (د علت، علت) وګرځېده (مطلب دا چې تزکیه د علت په درجه کې ده)، نو ځکه به حکم د هغه وطرف ته منسوبیږي (ځکه څرنګه چې د علت وطرف ته د حکم نسبت کیږي، همداسي به د علتُ العلة وطرف ته هم د حکم نسبت کیږي)، نو ځکه موږ (امام صاحب) وایو چې که مُزکین له تزکیه څخه رجوع وکړي، نو پر هغو به دیت واجب وي.

بخلاف شهود الإحصان إلخ: د دې حاصل دا دی چې د احصان ګواهي محض دیو شرط په درجه کې ده، د علت په درجه کې نه ده، ځکه کوم خلک چې د مشهود علیه (مجرم) په باره کې دا ګواهي ورکړي چې مشهود علیه محصن دی نو مشهود علیه به رجم سي، او که چیري هغه محصن نه وی نو په دُرو به ووهل سي (معلومه سوه چې د إحصان ګواهي ورکول محض یو شرط دی او د علت په درجه کې نه ده)، نو ځکه به د إحصان پر ګواهانو دیت او ضمان نه واجبیږي، لېکن تزکیه د علت په درجه کې ده،

نو ځکه به پر مزکينو ديت او ضمان واجبيږي، لهذا د إحصان پر ګواهانو باندي مُزکين قياسول د صاحبينو لپاره صحيح نه دي.

ولا فرق إلخ: فرمايي: برابره ده مُزکين که د شهادت په لفظ سره د ګواهانو تزکيه وکړي يا د إخبار په لفظ سره، په هر صورت کي به هغه حکم وي کوم چي موږ بيان کړی (يعني که د نَشْهَدُ لفظ وايي او که د نُخْبِرُ لفظ ووايي، په دواړو صورتونو کي هيڅ فرق نسته)

او امام د صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مُزکين په هغه صورت کي ضامن ګرځي (او ديت به ورکوي) کله چي هغو د ګواهانو د آزاد والي او مسلمانوالي خبر ورکړی وي، او که هغو فقط د ګواهانو د عادلوالي خبر ورکړی وي او داسي يې ويلي وي چي ټوله ګواهان عادلان دي او وروسته ګواهان غلامان ثابت سي، نو په دې صورت کي به مُزکّين ضامن نه ګرځي، ځکه چي کله نا کله غلام هم عادل او شريف وي (يعني د عدل صفت په آزاد کس او غلام دواړو کي راتلای سي)، لهذا د مُزکينو تزکيه د واقع مطابق ده (او ريښتونې ده)، نو ځکه به پر دوی ضمان (ديت) واجب نه وي. او پر ګواهانو به هم ضمان واجب نه وي، ځکه کله چي مُزکينو غلطي وکړه (او ګواهان ټوله غلامان ثابت سول)، نو د ګواهانو خبره شهادت او ګواهي پاته نه سوه، بلکي د هغو خبره قذف او تهمت وګرځېده، او د مشهود عليه رجم د قاضي په حکم سره لازم سو، نو ځکه به پر ګواهانو هم ضمان واجب نه وي.

ولايُحدّون إلخ: کله چي د ګواهانو خبره قذف وګرځېده، نو بايد پر هغو حدّ قذف جاري سي، په دې جمله سره د هغه جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي د حدّ قذف لپاره دا ضروري دي چي د مقذوف له طرفه د حدّ قذف دعویٰ او مطالبه وسي، او دلته ګواهانو د مجرم دژوند په حالت کي پر هغه تهمت لګولي دی، او اوس هغه مړ سوی دی او په حدّ قذف کي ميراث نه چليږي (يعني د سړي تر مرګ وروسته وارثان د هغه د حدّ قذف مطالبه او دعویٰ نه سي کولای)، نو ځکه به پر دغه ګواهانو حدّ قذف نه جاري کيږي (او ضمان به هم پر واجب نه وي).

د پورتنی مسئلې يو بل صورت

وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو ګواهانو د يو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه فَأَمَرَ الْقَاضِي بِرَجْمِهِ او قاضي د هغه د رجم کولو حکم وکړی فَضَرَبَ رَجُلٌ عُنُقَهُ او [په دې حالت کي] يوه سړي د هغه غاړه ووهل [او قتل يې کړی] ثُمَّ وُجِدَ الشُّهُودَ عَبِيدًا بيا ګواهان غلامان وموندل سول [يعني غلامان ثابت سول] فَعَلَى الْقَاتِلِ الدِّيَةُ نو پر قاتل ديت واجب دی وَفِي الْقِيَاسِ يَجِبُ الْقِصَاصُ

او په قیاس کې پر هغه قصاص واجبیږي لِأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً بِغَيْرِ حَقٍّ ځکه چې هغه په ناحقه سره یو معصوم [بې ګناه] نفس قتل کړی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الْقَضَاءَ صَحِيحٌ ظَاهِرًا وَقْتَ الْقَتْلِ د استحسان دلیل دا دی: چې په ظاهري توګه د قتل کولو په وخت کې اد قاضي [قضاء صحیح وه فَأَوْرَثَ شُبْهَةً نو هغه شبهه پیدا کړه بِخِلَافِ مَا إِذَا قَتَلَهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ په خلاف د هغه صورت کله چې هغه تر قضاء مخکې مشهود علیه قتل کړی وي لِأَنَّ الشَّهَادَةَ لَمْ تَصِرْ حُجَّةً بَعْدُ ځکه چې شهادت تر اوسه حجت ګرځېدلی نه دی [ځکه مخکې ذکر سوه چې شهادت د قاضي په قضاء سره حُجت ګرځي] وَلِأَنَّهُ ظَنَّهُ مُبَاحَ الدَّمِ مُعْتَمِدًا عَلَى دَلِيلٍ مُبِيحٍ او ځکه چې قاتل په یو روا کونکي دلیل باندې په اعتماد کولو سره د هغه خون روا ګڼلی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا ظَنَّهُ حَرْبِيًّا وَعَلَيْهِ عَلَامَتُهُمْ نو داسې سو لکه قاتل چې هغه حربي ګڼلی وي او پر هغه د حربیانو نښانې هم وي اَنو په داسې صورت کې خو قاتل غازي ګرځي، قصاص خو هلته پرېږده!. نو ځکه به په پورتني صورت کې پر قاتل قصاص نه واجبیږي. بلکې فقط دیت به واجبیږي] وَتَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ او دا دیت به د قاتل په مال کې واجب وي لِأَنَّهُ عَمْدٌ ځکه چې دا قتلِ عمد دی وَالْعَوَاقِلُ لَا تَعْقِلُ الْعَمْدَ او عاقله د قتلِ عمد دیت نه اداء کوي وَيَجِبُ ذَلِكَ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ او دا دیت به په درېو کالو کې واجب وي لِأَنَّهُ وَجَبَ بِنَفْسِ الْقَتْلِ ځکه چې هغه خاص د قتل په وجه واجب سوی دی وَإِنْ رُجِمَ ثُمَّ وُجِدُوا عَبِيدًا او که مشهود علیه رجم کړی سي [او] تر دې وروسته ګواهان غلامان وموندل سي فَالدِّيَةُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ نو دیت به پر بیتُ المال [واجب] وي لِأَنَّهُ امْتَثَلَ أَمْرَ الْإِمَامِ ځکه چې [په دې صورت کې] قاتل د امام د حکم اطاعت وکړی [هغه قصداً دا کار نه وکړی] فَنُقِلَ فِعْلُهُ إِلَيْهِ نو ځکه به د هغه فعل د إمام وطرف ته منتقل کیږي وَلَوْ بَاشَرَهُ بِنَفْسِهِ او که امام بذاتِ خود هغه رجم کړي وای تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ لِمَا ذَكَرْنَاهُ نو دیت به پر إمام واجبېدای (د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی) كَذَا هَذَا همداسې به دا هم وي [یعني همداسې به دلته هم دیت فقط پر بیتُ المال واجبیږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا ضَرَبَ عُنُقَهُ په خلاف د هغه صورت کله چې هغه مشهود علیه قتل کړي

لِأَنَّهُ لَمْ يَأْتَمِرْ أَمْرَهُ ځکه چې [په دې صورت کې] قاتل د إمام د حکم اطاعت نه دې کړی وَإِذَا شَهِدُوا عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او کله چې څلور ګواهان د یو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړي وَقَالُوا: تَعَمَّدْنَا النَّظَرَ او ووايي: چې موږ قصداً [د سړي او ښځې شرمګاه ته] وکتل قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمْ نو د دوی شهادت به قبلیږي لِأَنَّهُ يُبَاحُ النَّظَرُ لَهُمْ ضَرُورَةَ تَحَمُّلِ الشَّهَادَةِ ځکه چې د شهادت اخیستلو [او د ګواه جوړېدلو] د ضرورت په خاطر د هغو لپاره کتل روا دي فَأَشْبَهَ الطَّبِيبَ وَالْقَابِلَةَ نو دا [د کتلو مسئله] د ډاکټر او دايي [د مسئلې] سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿رَجْم﴾ د نصر مصدر دی: رجم کول. سنګسارول. ﴿مُبِيْح﴾ د افعال اسم فاعل دی: حلالونکی. روا کونکی (روایښت ورکونکی)، ﴿عَوَاقِل﴾ جمع د عَاقِلَة ده: د قاتل نژدې قربیان. ﴿لَا تَعْقِل﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صیغه ده: دیت اداء کول. ﴿إِمْتَثَلَ﴾ د افتعال ماضي ده: اطاعت کول. حکم منل. ﴿لَمْ يَأْتَمِر﴾ فرمانبرداري کول. أمر پر ځای کول (حکم منل).

تشریح: **مسئله**: دا ده که د یو سړي په خلاف څلورو خلکو ګواهي ورکړه. او قاضي پر هغه (مشهود علیه) د رجم حکم صادر کړی او په دې حالت کې یو سړي پر مشهود علیه ګزار وکړی او هغه یې قتل کړی. وروسته معلومه سوه چې ټوله ګواهان غلامان ول. نو پر قاتل به استحساناً دیت واجب وي. حالانکې د قیاس تقاضا دا ده چې پر هغه دي قصاص واجب سي. ځکه چې قاتل په ناحقه یو معصوم نفس قتل کړی. او ناحقه قتل قصاص مُوجِب دی (یعني په ناحقه قتل سره قصاص واجبیږي)، د استحسان دلیل دا دی چې د قاتل د قتل په وخت کې په ښکاره توګه د قاضي د رجم حکم او فیصله صحیح وه. نو دغه صحت د قصاص په وجوب کې شبهه پیدا کړه. او په شبهه سره قصاص نه واجبیږي. نو ځکه به پر قاتل فقط دیت واجبیږي. نه قصاص. ها! که چیري دغه سړي د قاضي تر قضاء او فیصلې مخکې مشهود علیه قتل کړي وای نو پر هغه به قصاص واجبېدای. ځکه چې تر قضاء مخکې د ګواهانو خبره د شهادت په درجه که نه وي لهذا هغه به د قصاص په وجوب کې شبهه نه پیدا کوي.

د استحسان دویم دلیل دا دی چې کله دلته قاضي پر مشهود علیه (مجرم) د رجم فیصله وکړه. نو دا فیصله د مشهود علیه د مباحُ الدّم کېدلو دلیل سو (چې د هغه خون او وژل روا دي). نو قاتل پر همدې دلیل اعتماد وکړی او هغه یې قتل کړی. نو په دې حواله سره هم د قاتل د قتل په ناحقوالي کې شبهه پیدا سوه. نو ځکه به پر قاتل فقط دیت واجبیږي چې هغه به د قاتل له مال څخه اداء کیږي.

ځکه چې دا په حقیقت کې قتلِ عمد دی او عاقله د قتلِ عمد دیت نه ورکوي (بلکې هغه فقط د قاتل له مال څخه اداء کیږي). او څرنګه چې دا دیّت په حقیقت کې د قتل په وجه واجب سوی دی. نو ځکه به هغه په دریو کالو کې دننه اداء کیږي.

وإن رُجم إلخ: فرمایي که قاضي پر مشهود علیه (مجرم) د رجم حکم صادر کړي او هغه رجم کړی سی، تر دې وروسته معلومه سي چې ګواهان غلامان ول. نو په دې صورت کې به د مرجوم دیت پر بیتُ المال واجب وي. ځکه چې د جلّاد او رجم کونکي فعل د قاضي وطرف منتقل سو. ځکه چې هغه د قاضي په حکم سره مشهود علیه رجم کړی دی. او که چیري قاضي په خپله یو څوک رجم وکړي او وروسته ګواهان غلامان ثابت سي نو د هغه دیت پر بیتُ المال واجبیږي. لهذا په دې صورت کې به هم فقط پر بیتُ المال د هغه دیت واجب وي. لېکن که د قاضي د رجم تر حکم کولو وروسته یو څوک مشهود علیه قتل کړي، نو بیا به پر قاتل دیت واجب وي (لکه اوس چې دا مسئله بیان سوه). ځکه چې قاضي د رجم حکم کړی وو. نه د قتل. نو ځکه به د قاتل فعل د قاتل وطرف ته نه منتقل کیږي بلکې د قاتل سره به خاص وي او فقط قاتل به د دیّت ضامن وي.

وإذا شهدوا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که څلورو خلکو د یو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه او بیې ویل چې موږ قصداً د هغه او ښځي شرمګاه ته وکتل د دې لپاره چې هیڅ شبهه پاته نه سي (او په پوره توګه موږ ته معلومه سي چې دا سړی او ښځه رښتیا زنا کونکی دی)، نو د هغو ګواهي به قبلیږي: ځکه چې د ګواه جوړېدلو د ضرورت په خاطر دغه ځای ته کتل د ګواهانو لپاره روا دي. لکه څرنګه چې د ضرورت په وخت کې د ډاکټر او دایي لپاره دته ځای ته کتل روا دي او هغوی په دې سره فاسقان نه ګرځي (ځکه چې یو څوک هغه وخت په کتلو سره فاسق ګرځي. کله چې په قصدي ډول بېله ضرورته شرمګاه ته وګوري).

او که چیري ګواهان د خوند اخیستلو لپاره هغه ته وګوري. نو دوی به فاسقان او مردودُ الشهادة ګرځي. او شهادت به یې نه قبلیږي.

له محصنوالي څخه د زاني د انکار کولو حکم

وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا او که څلورو ګواهانو د یو سړي په خلاف د زنا ګواهي ورکړه فَأَنْكَرَ الْإِحْصَانَ لېکن هغه سړي (مشهود علیه) له خپل مُحصن کېدلو څخه انکار وکړی وَلَهُ امْرَأَةٌ قَدْ وَلَدَتْ مِنْهُ حال دا چې هغه یوه داسي ښځه (هم) درلوده چې له ده څخه د هغې بچی سوی وو فَإِنَّهُ يُرْجَمُ نو هغه به رجم کیږي مَعْنَاهُ: أَنْ يُنْكِرَ الدُّخُولَ بَعْدَ وُجُودِ سَائِرِ الشَّرَائِطِ د دې مطلب دا دی: چې هغه سړي د إحصان د ټولو شرائطو

تر موجود ېدلو وروسته انکار کړی وي [يعني چې په هغه کې د إحصان ټوله شرائط موجود وي او بيا هغه انکار کړی وي] لِأَنَّ الْحُكْمَ بِثَبَاتِ النَّسَبِ مِنْهُ حُكْمٌ بِالدُّخُولِ عَلَيْهِ ځکه چې له هغه شخصه د نسب ثابتېدلو حکم د هغه د دخول کولو حکم دی وَلِهٰذَا لَوْ طَلَّقَهَا يُعَقِّبُ الرَّجْعَةَ همدا وجه که هغه خپل دغه ښځې ته طلاق ورکړي نو تر طلاق وروسته به هغه د رجعت حقدار وي وَالْإِحْصَانُ يَثْبُتُ بِمِثْلِهِ او په داسې دليل سره إحصان ثابتيږي فَإِنْ لَمْ تَكُنْ وَلَدَتْ مِنْهُ ليکن که له هغه شخصه د ښځې بچی پيدا سوی نه وو وَشَهِدَ عَلَيْهِ بِالْإِحْصَانِ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ او [بيا] يوه سړي او دوو ښځو د هغه د محصنوالي ګواهي ورکړه رُجِمَ نو هغه به رجم کيږي خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ په خلاف د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فَالشَّافِعِيُّ مَرَّ عَلَى أَصْلِهِ نو امام شافعي رَحِمَهُ الله [خو] پر اُصول تللی دی أَنَّ شَهَادَتَهُنَّ غَيْرُ مَقْبُولَةٍ فِي غَيْرِ الْأَمْوَالِ [د هغه اُصول دا دی] چې له مالونو شخه بغير [په نورو معاملاتو کې] د ښځو ګواهي مقبوله نه ده وَزُفَرُ يَقُولُ: أَنَّهُ شَرْطٌ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې إحصان داسې شرط دی کوم چې د علت په معنیٰ سره دی لِأَنَّ الْجِنَايَةَ تَتَغَلَّظُ عِنْدَهُ ځکه چې د إحصان په صورت کې رم سختيږي فَيُضَافُ الْحُكْمُ إِلَيْهِ او حکم د إحصان وطرف منسوب کيږي فَأَشْبَهَ حَقِيقَةَ الْعِلَّةِ نو إحصان د حقيقي علت سره مشابه سو فَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِيهِ نو ځکه به په دې کې د ښځو ګواهي نه قبليږي احْتِيَالًا لِلدَّرْءِ د دې لپاره چې د "حدّ" دفع کولو ته يو حيله جوړه سي فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدَ ذِمِّيَّانِ عَلَى ذِمِّيٍّ زَنَى عَبْدُهُ الْمُسْلِمُ: أَنَّهُ أَعْتَقَهُ قَبْلَ الزِّنَا نو داسې سو لکه دوه ذميان چې د يو بل داسې ذمي په خلاف (چې د هغه مسلمان غلام زنا کړې وي) دا ګواهي ورکړي: چې هغه تر زنا مخکې دغه غلام آزاد کړی دی لَا تُقْبَلُ نو دا ګواهي به نه قبليږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَلَنَا: أَنَّ الْإِحْصَانَ عِبَارَةٌ عَنِ الْخِصَالِ الْحَمِيدَةِ زموږ دليل دا دی: چې إحصان دغوره صفتونو نوم دی وَأَنَّهَا مَانِعَةٌ مِنَ الزِّنَا عَلَى مَا ذَكَرْنَا او هغه صفتونه [محصن] له زنا شخه منع کوي. لکه مخکې چې موږ ذکر کړه فَلَا يَكُونُ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ نو ځکه به إحصان د علت په معنیٰ کې نه وي وَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدُوا بِهِ فِي غَيْرِ هَذِهِ الْحَالَةِ نو داسې سو لکه ګواهانو چې له دې حالت شخه بغير [په بل حالت کې] ګواهي ورکړې وي بِخِلَافِ مَا ذَكَرَ په خلاف د هغه مثال کوم چې امام زفر رَحِمَهُ الله ذکر کړی [چې که دوه ذميان د يو بل داسې ذمي په خلاف... الخ] لِأَنَّ الْعِتْقَ يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمَا ځکه چې د هغو ادوو ذميانو] په شهادت سره آزادي ثابتيږي وَإِنَّمَا لَا يَثْبُتُ سَبْقُ التَّارِيخِ لِأَنَّهُ يُنْكِرُهُ الْمُسْلِمُ أَوْ يَتَضَرَّرُ بِهِ الْمُسْلِمُ ليکن تر تاريخ [يعني تر زنا] مخکې به

آزادي نه ثابتيږي، ځکه چي مسلمان له دې څخه انکار کوي يا په دې سره مسلمان ته ضرر رسيږي **فَإِنْ رَجَعَ شُهُودُ الْإِحْصَانِ** او که د إحصان ګواهان له خپلې ګواهۍ څخه رجوع وکړي **لَا يَضْمَنُونَ عِنْدَنَا** نو زموږ په نيز به نه ضامن کيږي **خِلَافًا لِزُفَرَ** په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله **وَهُوَ فَرْعُ مَا تَقَدَّمَ** او دا د مخکي ذکر سوي اختلاف فرع ده.

اللغات: ﴿إِحْصَان﴾ د افعال مصدر دی: آزاد، مسلمان او واده والا کېدل. محصن کېدل (محصنوالی). ﴿وَلَدَتْ﴾ د ضرب ماضي ده: بچی زېږول (پيدا کېدل). ﴿يُعَقِّبُ﴾ د تفعيل مضارع ده: وروسته راوړل. وروسته ثابتول. د يُعَقِّبُ الرُّجْعَةَ أصلي مطلب دا دی چي: دا طلاق تر ځان وروسته د خاوند لپاره رجعت ثابتوي. ﴿يَتَغَلَّظ﴾ د تفعّل مضارع ده: سختېدل. ﴿خِصَال﴾ جمع د خُصْلَةٌ ده: خوی. عادت. صفت. ﴿يَتَضَرَّر﴾ د تفعّل مضارع ده: ضرر او تکليف رسېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که څلورو ګواهانو د يو سړي په خلاف ګواهي ورکړه چي هغه زنا کړې ده او هغه محصن دی يعني د رجم مستحق دی، لېکن هغه له خپل محصنوالي څخه انکار وکړی، حالانکي د هغه يوه ښځه وه چي له هغې څخه يې يو بچی هم درلودی، نو دا ښځه او هلک د هغه پر إحصان دليل جوړيږي او هغه به رجم کيږي، ځکه کله چي د هغه سره د يو بچي نسب ثابت دی نو ښکاره خبره ده چي هغه به په ښځي دخول کړی وي. ځکه چي له دخول څخه بغير بچی پيدا کېدای نه سي، همدا وجه که هغه سړی اوس خپلې ښځي ته طلاق ورکړي نو د رُجعت مستحق به وي (يعني د هغه پر ښځي به طلاق رجعي واقع کيږي، ځکه چي بچی پيدا سوی دی)، حالانکي تر دخول مخکي د طلاق ورکولو په صورت کي خاوند د رجعت مستحق نه ګرځي، نو دا د دې خبري دليل دی چي هغه محصن دی، نو ځکه به رجم کيږي.

او که هغه سړی هيڅ بچی نه لري لېکن يوه سړي او دوو ښځو د هغه د محصنوالي ګواهي ورکړي، نو هم به زموږ په نيز هغه رجم کيږي، لېکن د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز به هغه نه رجم کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله خو په دې سلسله کي پر خپل أصول قائم دی چي له أموالو څخه بغير په نورو معاملاتو کي د ښځو شهادت (ګواهي) مقبوله نه ده. او څرنګه چي إحصان هم مال نه دی، نو ځکه به په إحصان کي هم د ښځو ګواهي نه قبليږي. او د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي إحصان داسي شرط دی کوم چي د علت په معنیٰ سره دی ځکه چي په محصنوالي سره د زاني جرم درنيږي او د همدې إحصان وطرف ته (د رجم) حکم منسوبيږي، لهذا إحصان د حقيقي علت يعني د زنا په شير سو. او په زنا کي د ښځو شهادت نه قبليږي، لهذا په إحصان کي به هم د هغوی شهادت نه قبليږي. د دې مثال دا دی چي که د يوه ذمي سړي مسلمان غلام زنا وکړه او دوو ذميانو خلکو د دې ذمي مالک په خلاف دا ګواهي ورکړه چي هغه تر زنا مخکي خپل دغه غلام آزاد کړی دی (يعني دغه غلام د آزادۍ په حالت کي زنا کړې ده. لهذا هغه دې سل دُرې ووهل سي، نه پنځوس دُرې) نو دا شهادت

به نه قبلیږي او د دې شهادت په وجه به غلام ته سزا نه ورکول کیږي، ځکه چې دا شهادت هم د علت په معنیٰ سره دی ځکه چې د إحصان په څیر د دې شهادت مقصود هم پر مسلمان غلام د سزا تکمیل (او بشپړتیا) ده (چې د غلام سزا دې درنه سي او هغه دې پوره سل دُرې ووهل سي). نو څرنګه چې دلته د ذمیانو ګواهي نه قبلیږي، همداسي به د إحصان په باره کي د ښځي ګواهي هم نه قبلیږي.

زموږ دلیل دا دی چې إحصان په انسان کي یو ښه صفت او غوره خصلت دی چې مسلمان له زنا څخه منع کوي (لکه مخکي چې په دې هکله پوره بحث وسو). نو ځکه به دا د علت په معنیٰ سره نه وي (یعني د إحصان شهادت به د زنا د شهادت په درجه کي نه وي). او کوم شهادت چې هم د إحصان په باره کي وي هغه به قبلیږي، او د دې مثال دا دی لکه یو سړی او دوې ښځي چې د یو چا په خلاف له زنا څخه بغیر د بل حالت ګواهي ورکړي، مثلاً یو سړی او دوې ښځي وایي چې هغه د فلانی ښځي سره نکاح کړې ده نو د دوی ګواهي به قبلیږي، لهذا څرنګه چې له زنا څخه بغیر په بل حالت کي د ښځو شهادت قبلیږي، همداسي به د إحصان په باره کي هم د ښځو شهادت قبلیږي. (أثمار الهدایه ج:۶، ص:۲۹۸)

بخلاف ما ذکر إلخ: په دې سره امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چې دلته د دوو ذمیانو شهادت پر دوه قسمه دی: ① یو دا چې د ذمیانو په شهادت سره د غلام آزادي ثابتول، نو دا ثابتیږي. ② او بل دا چې تر زنا مخکي د غلام آزادول، دا نه ثابتیږي، ځکه چې مسلمان غلام له دې څخه انکار کوي. او په دې سره مسلمان ته نقصان رسیږي (چې د هغه سزا به کامله او بشپړه وګرځي). او که چیري بیا هم موږ د دې ذمیانو په شهادت سره تر زنا مخکي د غلام آزادول ثابت کړو، نو د مسلمان په خلاف به د کافر شهادت معتبر او مقبول وګرځي، کوم چې صحیح نه دي، نو په دې وجه به دا شهادت نه قبلیږي.

فإن رجع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که ګواهانو د یو سړي پر محصنوالي ګواهي ورکړه چې د هغه په وجه سړی رجم کړی سو، وروسته ګواهانو له خپل شهادت څخه رجوع وکړه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر ګواهانو د دیّت ضمان واجب وي، ځکه چې د هغه په نېز إحصان د علت په معنیٰ سره نه دی (یعني د إحصان شهادت د زنا د شهادت په درجه کي نه دی، او د رجم کېدلو سبب نه دی)، بلکي هغه فقط د شرط په درجه کي دی.

او څرنګه چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز إحصان د علت په معنیٰ سره دی (یعني د إحصان شهادت د زنا په درجه کي دی او د رجم کېدلو سبب دی)، نو ځکه به د رجوع کولو په صورت کي پر ګواهانو د دیّت ضمان واجب وي. والله أعلم علمهٗ أتم



بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ

(دا) باب د شرابو چيښنلو د حدّ (په بيان کي) دی

تشريح: د زنا د حدّ بيان ځکه د شرابو د حدّ له بيان څخه مخکي ذکر سوی دی چي د زنا سزا د شرابو تر سزا زياته سخته ده، او د زنا په حد کي نفس قتل کيږي او سنګساريږي، لېکن د شرابو په حد کي نفس ته سزا او تکليف ورکول کيږي، نو په دې وجه د زنا د حدّ مسئلې مخکي بيان سوې. او اوس د شرابو د حدّ مسئلې بيانيږي.

د شرابو د ګواهۍ ورکولو يا د شرابي د نيول کېدلو په صورت کي د حدّ بيان

وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ او څوک چي شراب وچيښي فَأُخِذَ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ او [بيا] هغه ونيول سي په داسي حال کي چي [په خوله کي يې] د شرابو بوی موجود وي أَوْ جَاءُوا بِهِ سَكْرَانَ يا خلګ هغه د نشه په حال کي راولي فَشَهِدَ الشُّهُودُ عَلَيْهِ بِذَلِكَ او ګواهان د هغه د شراب چيښنلو ګواهي ورکړي فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر هغه به حدّ [واجب] وي وَكَذَلِكَ إِذَا أَقَرَّ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ او همدارنګه که هغه اقرار وکړي په داسي حال کي چي د شرابو بوی موجود وي [نو هم به حدّ پر جاري کيږي] لِأَنَّ جِنَايَةَ الشُّرْبِ قَدْ ظَهَرَتْ ځکه چي د شراب چيښنلو جرم ښکاره سو وَلَمْ يَتَقَادَمِ الْعَهْدُ او مودت [هم] پخوانی سوی نه دی [يعني وخت هم ډېر تېر سوی نه دی] وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶ : مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ فَاجْلِدُوهُ او أصل په دې سلسله کي د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی: څوک چي شراب وچيښي نو تاسي هغه ته د دُرو سزا ورکړئ! او که چيري هغه بيا دا کار وکړي نو بيا د دُرو سزا ورکړئ! وَإِنْ أَقَرَّ بَعْدَ ذَهَابِ رَائِحَتِهَا او که د شرابو د بوی تر ختمېدلو وروسته هغه [د شراب چيښنلو] اقرار وکړي لَمْ يُحَدَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر هغه حدّ نه جاري کيږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❷ : يُحَدُّ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر هغه به حدّ جاري کيږي وَكَذَلِكَ إِذَا شَهِدُوا عَلَيْهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رِيحُهَا او همدارنګه که تر بوی ختمېدلو وروسته

---

❶ تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۴۸۲.

❷ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۸۰)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۱، ص:۶۱۱)، وكذا في الفتح (ج:۵، ص:۷۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۵۰]

خلک د هغه په خلاف ګواهي ورکړي لَمْ يُحَدَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو اهم ا به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه حدّ نه جاري کیږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُحَدُّ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: چې حد به پر جاري کیږي فَالتَّقَادُمُ يَمْنَعُ قَبُولَ الشَّهَادَةِ بِالِاتِّفَاقِ [حاصل دا چې] تقادم بالاتفاق د شهادت قبولیت منع کوي غَيْرَ أَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالزَّمَانِ عِنْدَهُ خو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز تقام په زمانه [یوې میاشتې] سره اندازه سوی دی اعْتِبَارًا بِحَدِّ الزِّنَا د زنا پر حدّ باندې په قیاس کولو سره وَهَذَا لِأَنَّ التَّأْخِيرَ يَتَحَقَّقُ بِمُضِيِّ الزَّمَانِ او دا ځکه چې د زمانې [یوې میاشتې] په تېرېدلو سره تأخیر [او تقادم] ثابتیږي وَالرَّائِحَةُ قَدْ تَكُونُ مِنْ غَيْرِهِ او بوی ځینې وخت له شرابو څخه بغیر [د بل شي] وي كَمَا قِيلَ لکه څرنګه چې [په دې شعر کې] ویل سوي دي: "يَقُولُونَ لِي إِنْكَهْ شَرِبْتَ مُدَامَةً خلک ما ته وايي چې ته خپل خوله بوی کړه! تا شراب چيښلي دي فَقُلْتُ لَهُمْ لَا بَلْ أَكَلْتُ السَّفَرْجَلَا" لېکن زه هغو ته ووایم چې ما بهي خوړلی دی وَعِنْدَهُمَا يُقَدَّرُ بِزَوَالِ الرَّائِحَةِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا تقادم د بوی په ختمېدلو سره اندازه سوی دی لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ ❷: فَإِنْ وَجَدْتُمْ رَائِحَةَ الْخَمْرِ فَاجْلِدُوهُ ځکه چې حضرت ابن مسعود ﷺ په دې باره کې فرمایلي دي: که چیرې تاسي [په شرابي کې] د شرابو بوی پیدا کړی نو هغه په دُرو ووهئ! وَلِأَنَّ قِيَامَ الْأَثَرِ مِنْ أَقْوَى دَلَالَةٍ عَلَى الشُّرْبِ او ځکه چې د بوی موجودېل د چيښلو تر ټولو قوي دلیل دی وَإِنَّمَا يُصَارُ إِلَى التَّقْدِيرِ بِالزَّمَانِ عِنْدَ تَعَذُّرِ اعْتِبَارِهِ او په زمانې سره [د تقادم] اندازه کولو ته هغه وخت رجوع کیږي کله چې د أثر اعتبار کول ناممکن وي [او دلته د أثر اعتبار کول ممکن دی] وَالتَّمْيِيزُ بَيْنَ الرَّوَائِحِ مُمْكِنٌ لِلْمُسْتَدِلِّ او د پېژندونکي [تجربه کار] کس لپاره د بوی تر مینځ توپیر کول ممکن دي وَإِنَّمَا تَشْتَبِهُ عَلَى الْجُهَّالِ او بوی [فقط] پر ناپوهانو مشتبه کیږي وَأَمَّا الْإِقْرَارُ فَالتَّقَادُمُ لَا يُبْطِلُهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او کوم چې اقرار دی نو تقادم هغه نه باطلوي، امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز كَمَا فِي حَدِّ الزِّنَا لکه څرنګه چې په حدّ زنا کې [هم دغه حکم دی] عَلَى مَا مَرَّ تَقْرِيرُهُ لکه مخکې چې د دې بیان تېر سو وَعِنْدَهُمَا لَا يُقَامُ الْحَدُّ إِلَّا عِنْدَ قِيَامِ الرَّائِحَةِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به [فقط] د بوی د موجودېدلو په وخت کې حدّ جاري کیږي لِأَنَّ حَدَّ الشُّرْبِ ثَبَتَ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ ځکه چې د شراب چيښلو حدّ د صحابه وو په اجماع سره ثابت دی وَلَا إِجْمَاعَ إِلَّا بِرَأْيِ ابْنِ مَسْعُودٍ

---

❷ تخريج: رواه البخاري بمعناه، ص:۸۹۷، رقم الحديث:۵۰۰۱. ومصنف ابن أبي شيبة ج:۵، ص:۵۲۰، رقم:۲۸۶۲۰.

او د ابن مسعود ﷺ له رايي څخه بغير اجماع کېداى نه سي وَقَدْ شَرَطَ قِيَامَ الرَّائِحَةِ او ابن مسعود ﷺ د بوى موجودېدل شرط گرځولي دي عَلىٰ مَا رَوَيْنَا لکه ااوس اچي موږ ادهغه قول ارانقل کړى.

اللغات: ﴿أُخِذَ﴾ د نصر ماضي مجهوله ده: نيول (گرفتاره کول). ﴿سَکْرَان﴾ نشه سړى (هغه کس چې د نشې په حالت کي وي). ﴿لَمْ يَتَقَادَمْ﴾ د تفاعل له باب څخه د جحد صيغه ده: قديم کېدل. پخوانى کېدل (ډېر وخت تېرېدل). ﴿إِنْکَه﴾ د فتح له باب څخه د أمر حاضر صيغه ده: خوله بوى کول (د خولې بوى کتل). دا له نَکْهَةٌ څخه مشتق دى چي د هغه معنىٰ ده "د خولې بوى". ﴿سَفَرْجَل﴾ بهي. بوهي. سېب ته ورته مشهوره مېوه ده. ﴿مُدَامَة﴾ دانګورو شراب (انګوري شراب). ﴿تَمْيِيز﴾ د تفعيل مصدر دى: فرق او توپير کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړى شراب وچيښي او بيا په داسي حالت کي ونيول سي چي د هغه په خوله کي د شرابو بوى موجود وي. يا يو څو خلک شرابي د نشې په حالت کي ونيسي او قاضي ته يې راولي او يو څو خلک د هغه د شرابو پر چيښلو ګواهي هم ورکړي. يا شرابي په خپله د شراب چيښلو اقرار وکړي او د هغه په خوله کي بوى موجود وي. نو پر هغه به د شراب چيښلو حدّ (حدُّ الشّرب) جاري کېږي، ځکه چي په شهادت (ګواهي) يا اقرار سره د هغه جرم او جنايت ښکاره سو او په خوله کي د بوى پاتېدل د دې خبره علامت دى چي هغه په دې نژدې وخت کي شراب چيښلي دي نو ځکه به پر هغه حدّ جاري کيږي. او په دې باره کي أصل او بنياد دا حديث دى: "من شرب الخمر فأجلدوه...إلخ".

فإن أقرّ إلخ: د دې حاصل دا دى چي که د شرابي د خولې بوى ختم سي او تر دې وروسته هغه د شراب چيښلو اقرار وکړي. يا تر بوى ختمېدلو وروسته يو څوک د هغه د شرابو پر چيښلو ګواهي وکړي. نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر هغه حدّ نه جاري کيږي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله نيز به د اقرار او شهادت په دواړو صورتونو کي به پر هغه حدّ جاري کيږي. د دې اختلاف حاصل دا دى چي د زمانې تقادم (يعني ډېر وخت تېرېدل) خو بالاتفاق د شهادت له قبوليت څخه مانع دى. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د تقادم مقدار يوه مياشته ده. او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د بوى زائلېدل دي. امام محمد رَحِمَهُ الله د حدّ الشرب تقادم د حدّ الزنا پر تقادم قياس کړى دى[1]، ځکه چي په حدّ الزنا کي تقادم په يوې مياشتي سره اندازه سوى دى، نو په يوې مياشتي سره به تأخير او تقادم ثابتيږي. پاته سوه د بوى مسئله. نو کله نا کله د بهي، سېب، انګور او داسي نورو په خوړلو سره هم له خولې څخه د

[1] **يادونه**: د تقادم د معنىٰ، مقدار او داسي نورو په هکله پوره تفصيل تر دې باب مخکي د "باب الشهادة على الزنا والرجوع عنها" د شروع په عبارت کي ذکر سو، فلا نعيدها هٰهنا. (أحقر حبيب الرحمن مدني)

شرابو بوی راځي، لکه د عبارت په شعر کي چي دې خبري ته اشاره سوې ده چي د بُهي په خوړلو سره خلګ د شاعر له خولې څخه د شرابو بوی محسوسوی، لهذا بوی به د تقادم معيار او مقدار نه ټاکل کيږي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي اقرار او شهادت دواړه هغه وخت معتبر ګرځي، کله چي د شرابي په خوله کي د شرابو بوی موجود وي، ځکه چي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فقط د بوی اعتبار کړی دی او داسي يې فرمايلي دي "فإن وجدتم رائحة الخمر فاجلدوه" (يعني که چيري تاسي د شرابي له خولې څخه د شرابو بوی محسوس کړی، نو بيا هغه په دُرو سره ووهئ). او بل دا چي حدّ الشرب د صحابه وو په اجماع سره ثابت دی او د ابن مسعود په څير د غټ فقيه صحابي د رايې له شموليت څخه بغير اجماع ثابتېدای نه سي، او څرنګه چي د ابن مسعود په نېز د بوی موجودېدل د حدّ جاري کولو لپاره شرط دي، نو ځکه به زموږ په نېز هم د حدّ جاري کولو لپاره بوی شرط وي.

د دې سلسلې عقلي دليل دا دی چي أثر يعني د بوی موجودېدل د شراب چيښلو په هکله تر ټولو زيات قوي دليل دی، او په وخت او زمانه سره يو شی هغه وخت اندازه کيږي او هغه وخت زمان ته رجوع کيږي کله چي پر أثر عمل کول او د هغه اعتبار کول ناممکن وي، او څرنګه چي په دې مسئله کي تقادم د شرابي د خولې په بوی سره اندازه کول ممکن دي، نو ځکه به د بوی په ذريعه تقادم اندازه کيږي او د دې لپاره به يو بل مودت نه ټاکل کيږي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله دا خبره چي له شرابو څخه بغير له بُهي، انګور او داسي نورو څخه هم بوی راځي، نو د دې جواب دا دی چي پېژندونکی او تجربه کاره کس (يعني هغه کس چي د شرابو بوی پېژني هغه) په آساني سره د شرابو او د بُهي د بوی په مينځ کي فرق کولای سي حتیٰ چي يو ساده سړی هم په خپل قوت شامه سره د شرابو او د بلي مېوې بوی سره جلا کولای سي، نو دا خبره صحيح نه ده. لهذا تقادم به د خولې په بوی سره اندازه کيږي او تر څو چي د شرابو بوی موجود وي تر هغه وخته به حدّ جاري کيږي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز تقادم له شهادت څخه مانع دی، لېکن له اقرار څخه مانع نه دی، نو که شرابي تر يوه کال وروسته هم د شراب چيښلو اقرار وکړي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به پر هغه حدّ جاري کيږي، د تېر باب په شروع کي په دې عبارت: بِخِلَافِ الإِقْرَارِ، لِأَنَّ الإِنْسَانَ لَا يُعَادِيْ نَفْسَهٗ سره د دې خبري تفصيل بيان سو.

د شرابو د ګواهۍ ورکولو یا د شرابي د نیول کېدلو په صورت کې د حدّ بیان

فَإِنْ أَخَذَهُ الشُّهُودُ وَرِيحُهَا يُوجَدُ مِنْهُ أَوْ سَكْرَانُ او که ګواهانو شرابي په داسې حال کې ونیوی چې له هغه شخصه د شرابو بوی راتلې یا هغه نشه وو فَذَهَبُوا بِهِ مِنْ مِصْرٍ إِلَى مِصْرٍ فِيهِ الْإِمَامُ بیا ګواهانو هغه له اخپل ا ښار شخصه د امام ښار ته بوتلې فَانْقَطَعَ ذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يَنْتَهُوا بِهِ او [د امام ښار ته] د شرابي تر رسولو مخکې د شرابو بوی ختم سو حُدَّ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو د ټولو په قول کې به پر هغه حدّ جاري کېږي لِأَنَّ هَذَا عُذْرٌ كَبُعْدِ الْمَسَافَةِ فِي حَدِّ الزِّنَا ځکه چې دا یو عذر دی لکه د زنا د حدّ په سلسله کې چې د مسافې لیرې والی ایو عذر دی] وَالشَّاهِدُ لَا يُتَّهَمُ فِي مِثْلِهِ او په داسې معامله کې [په تأخیر کولو سره] ګواه نه متهم کېږي وَمَنْ سَكِرَ مِنَ النَّبِيذِ او کوم کس چې په نبیذ سره نشه سي حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري کېږي لِمَا رُوِيَ [1] أَنَّ عُمَرَ أَقَامَ الْحَدَّ عَلَى أَعْرَابِيٍّ سَكِرَ مِنَ النَّبِيذِ ځکه روایت سوی دی چې حضرت عمر ﷺ پر داسې کوچي باندې حدّ جاري کړی کوم چې په نبیذ سره نشه سوی وو وَسَنُبَيِّنُ الْكَلَامَ فِي حَدِّ السُّكْرِ وَمِقْدَارِ حَدِّهِ الْمُسْتَحَقِّ عَلَيْهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى او د نشې اندازه او په نشه سره د مستحق حدّ مقدار به انشاء الله موږ اځه وروسته ا بیان کړو وَلَا حَدَّ عَلَى مَنْ وُجِدَ مِنْهُ رَائِحَةُ الْخَمْرِ أَوْ تَقَيَّأَهَا او حدّ نسته پر هغه کس باندې چې له هغه شخصه د شرابو بوی را سي، یا هغه کس چې شراب قی کړي لِأَنَّ الرَّائِحَةَ مُحْتَمَلَةٌ ځکه چې په بوی کې احتمال سته وَكَذَا الشُّرْبُ قَدْ يَقَعُ عَنْ إِكْرَاهٍ أَوِ اضْطِرَارٍ همدارنګه چیښل هم ځینې وخت د جبر او مجبورۍ په وجه وي وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ حَتَّى يُعْلَمَ أَنَّهُ سَكِرَ مِنَ النَّبِيذِ وَشَرِبَهُ طَوْعًا او پر نشه سړي به [تر هغه وخته] حدّ نه جاري کېږي تر دې چې دا معلومه سي چې هغه په نبیذ سره نشه سوی دی او دا چې هغه په خپله رضا نبیذ چیښلي دي لِأَنَّ السُّكْرَ مِنَ الْمُبَاحِ لَا يُوجِبُ الْحَدَّ كَالْبَنْجِ وَلَبَنِ الرِّمَاكِ ځکه چې په روا شي سره پیدا سوې نشه حدّ نه واجبوي لکه بنګې او د آسپې شیدې وَكَذَا شُرْبُ الْمُكْرَهِ لَا يُوجِبُ الْحَدَّ او همدارنګه د مجبور کړی سوي کس شراب چیښل هم [پر هغه] حدّ نه واجبوي وَلَا يُحَدُّ حَتَّى يَزُولَ عَنْهُ السُّكْرُ او پر شرابي به [تر هغه وخته] حدّ نه جاري کېږي تر دې چې له هغه شخصه نشه لیرې سي تَحْصِيلًا لِمَقْصُودِ الْاِنْزِجَارِ د دې لپاره چې د منع کېدلو [او ېرولو] مقصود حاصل سي وَحَدُّ الْخَمْرِ وَالسُّكْرِ فِي الْحُرِّ ثَمَانُونَ سَوْطًا او په آزاد کس کې د شرابو

[1] تخریج: رواه الدار القطني مرفوعاً في السنن رقم الحدیث:۴۷۵۸

او د نشې حدّ اتيا [۸۰] دُرې دى لِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ځکه چې پر همدغه مقدار د صحابه وو إجماع ده يُفَرَّقُ عَلٰى بَدَنِهِ كَمَا فِي حَدِّ الزِّنَا او د حدّ زنا په شير به د دې حدّ دُرې هم د هغه د بدن پر جلا جلا حصو وهل كيږي عَلٰى مَا مَرَّ لكه مخكې چې [د زنا په حدّ كې د دې بيان] تېر سو ثُمَّ يُجَرَّدُ فِي الْمَشْهُورِ مِنَ الرِّوَايَةِ او د مشهور روايت مطابق به د هغه بدن لڅول كيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ لَا يُجَرَّدُ إِظْهَارًا لِلتَّخْفِيفِ [ليكن] له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوى دى: چې د تخفيف څرګندولو لپاره به هغه نه لڅول كيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَرِدْ بِهِ نَصٌّ ځكه چې په دې باره كې هيڅ نص وارد سوى نه دى وَوَجْهُ الْمَشْهُورِ: أَنَّا أَظْهَرْنَا التَّخْفِيفَ مَرَّةً او د مشهور روايت دليل دا دى چې موږ يو وار تخفيف څرګند كړى [چې سل دُرې به نه وهل كيږي، بلكې اتيا دُرې به وهل كيږي] فَلَا يُعْتَبَرُ ثَانِيًا لهذا دويم وار تخفيف به معتبر نه وي وَإِنْ كَانَ عَبْدًا او كه هغه [شرابي يا نشه يي] غلام وي فَحَدُّهُ أَرْبَعُونَ سَوْطًا نو د هغه حدّ څلوېښت دُرې دى لِأَنَّ الرِّقَّ مُنَصِّفٌ ځكه چې غلامتوب نيمونكى دى عَلٰى مَا عُرِفَ لكه مخكې چې [دا مسئله] معلومه سوه وَمَنْ أَقَرَّ بِشُرْبِ الْخَمْرِ أَوِ السُّكْرِ ثُمَّ رَجَعَ او څوک چې د شراب چيښلو يا د نشې كولو اقرار وكړي بيا [تر حدّ جاري كېدلو مخكې] رجوع وكړي لَمْ يُحَدَّ نو حدّ به نه پر جاري كيږي لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللهِ تَعَالٰى ځكه چې دا حدّ خالص د الله تعالىٰ حق دى.

اللغات: ﴿سُكْر﴾ په دې لفظ كې څلور لغات دي: سَكر. سَكَر. سُكر. سُكُر. په دې ټولو لغاتو سره دا لفظ مستعمل دى، د سَمِع د باب اسمِ مصدر دى: نشه. نشه كېدل. ﴿طَوْعًا﴾ په رضا. ﴿بَنْج﴾ بنګي. د يو مشهوره بوټي ذانو ته وايي. ﴿رِمَاك﴾ آسپه (د آس مؤنث)، ماده آس. ﴿مُنَصِّف﴾ د تفعيل اسمِ فاعل دى: نيمونكى (نيمايي كونكى).

تشريح: په دې عبارت كې ټوله پنځه مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... كه ګواهانو يو شرابي په داسي حال كې ونيوى چې هغه بې هوښه وو يا د هغه له خولې څخه د شرابو بوى راتلى، او بيا ګواهانو هغه له خپل ښار څخه د إمام ښار ته راوستى. ليكن إمام تـه لـه رسېدلو څخه مخكې د هغه د خولې بوى ختم سو، نو هم به د ټولو فقهاؤ په نيز پر هغه حدّ جاري كيږي: ځكه چې د إمام ښار ته د هغه رسول يو عذر دى، او عذر حدّ نه ساقطوي. همدا وجه ده چې د عذر ګواه په تقادم او تأخير كولو سره نه متهم كيږي (لكه مخكې چې په دې هكله بيان وسو).

(۲)... که چیرې یو څوک نشه لرونکي نبیذ وچیښي او د هغه په وجه نشه سي، نو پر هغه به هم حدّ جاري کیږي: ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه پر یوه اعرابي په همدې وجه "حدّ الشرب" جاري کړی چې هغه نشه لرونکي نبیذ وچیښل او د هغه په وجه نشه سو. دا دې خبرې دلیل دی چې په نبیذو سره د نشه کېدلو په صورت کې به پر چیښونکي حدّ جاري کیږي.

(۳)... که د یو چا له خولې څخه فقط د شرابو راتلی، یا یو چا شراب قی کړل، نو پر هغه به حدّ نه جاري کیږي تر څو چې په یقیني توګه پر هغه د شرابو چیښل ثابت نه سي: ځکه چې په دې بوی کې ډېر احتمالات سته چې کېدای سي دا به د شرابو بوی نه وي بلکې د کشمشو یا داسې بل شی به بوی وي، همدارنګه دا هم کېدای سي چې هغه به په رضاء او رغبت سره شراب نه وي چیښلي، بلکې بل چا به په زوره په چیښلي وي، لهذا تر څو چې د شرابو او د شرابو چیښلو په هکله پوره ثبوت ترلاسه نه کړی سي، تر هغه وخت به هغه حدّ نه جاري کیږي، ځکه کله چې انسان په یو داسې مباح (روا) شي سره نشه سي چې هغه د شرابو سره په هیڅ ډول هیڅ واسطه نه لري. نو د هغه په استعمالو سره به پر انسان حدّ نه جاري کیږي، مثلاً که یو څوک بنګي وخوري یا د آسپي (ماده آس) شیدې وچیښي او د هغو په وجه نشه سي، نو څرنګه چې دا شیان مباح دي، نو ځکه به پر هغه حدّ نه جاري کیږي.

(۴)... تر څو چې له شرابي او نشه یي کس څخه په پوره توګه نشه ختمه نه سي تر هغه وخت پورې به حدّ نه پر جاري کیږي: ځکه چې د نشې په حالت کې حدّ جاري کول هیڅ فایده نه کوي (ځکه نشه سړی په پوره توګه په درد، تکلیف او تنبیه نه پوهیږي). نو د حدّ جاري کولو چې کوم مقصد دی (یعني د آینده لپاره له دې کار څخه د شرابي منع کېدل) هغه به حاصل نه سي، نو ځکه به د نشې په حالت کې پر شرابي حدّ نه جاري کیږي.

﴿د شرابو د حدّ اندازه﴾

(۵)... وحدّ الخمر والسکر الخ: که آزاد سړی شراب وچیښي، یا یو بله نشه وکړي او د شرابي په څېر د هغه عقل بې ځایه او مختل سي، نو د هغه سزا اتیا (۸۰) دُرې ده: ځکه چې د "حدّ الشرب" په باره کې همدومره مقدار سزا د صحابه په إجماع سره ثابته ده. اوس پاته سوه دا خبره چې د جامو د پاسه به هغه په دُرو سره وهل کیږي او که جامې به ځني کښل کیږي؟ نو په دې سلسله کې دوه روایتونه دي: ① مشهور روایت دا دی چې جامې به ځني کښل کیږي او پر ټول بدن به سزا ورکول کیږي. ② دویم روایت کوم چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی، دا دی چې له هغه څخه به جامې نه کښل کیږي د دې لپاره چې د هغه په سزا کې څه تخفیف راسي او هغه ته کم درد او تکلیف ورسیږي.

لېکن د مشهور روایت دلیل دا دی چي د هغه په سزا کي د سلو (۱۰۰) دُرو پر ځای اتیا دُرې ټاکل سوي دي، نو دا په خپله تخیف دی، نو ځکه به د هغه په سزا کي نور تخفیف نه کیږي بلکي د وهلو په وخت کي به جامې ځني کښل کیږي.

او د حدّ زنا په څیر به په دې حدّ کي هم شرابي د بدن پر مختلفه حصه او پر جلا جلا اندامونو وهل کیږي.

وإن كان عبدًا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که شرابي غلام وي، نو د هغه حدّ څلوېښت دُرې دی: ځکه چي رقیت د نعمت په څیر عقوبت هم نیمایي کوي او د غلام لپاره به د آزاد سړي نیمه سزا وي.

او که یو څوک پر خپل ځان د شراب چیښلو یا د نشې کولو اقرار وکړي. او بیا تر حدّ جاري کېدلو مخکي هغه له خپل اقرار څخه رجوع وکړي، نو پر هغه به حدّ نه جاري کیږي. ځکه چي حدّ خالص د الله تعالیٰ حق دی نو له هغه شخه د رجوع کولو په صورت کي د راجع هیڅ مُکذّب نسته (چي د هغه د تکذیب دعویٰ وکړي).

د شرابو په حدّ کي د ګواهی د نصاب بیان

وَيَثْبُتُ الشُّرْبُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ وَيَثْبُتُ بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً وَاحِدَةً او [د شرابو] چیښل د دوو ګواهانو په ګواهی سره یا په یوه وار اقرار کولو سره ثابتیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ﷯: أَنَّهُ يَشْتَرِطُ الْإِقْرَارَ مَرَّتَيْنِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چي هغه دوه واره اقرار شرط کړی دی وَهُوَ نَظِيرُ الِاخْتِلَافِ فِي السَّرِقَةِ او دا اختلاف د غلا د اختلاف سره مشابه دی [یعني د غلام په ثبوت کي هم دغه اختلاف دی] وَسَنُبَيِّنُهَا هُنَاكَ إِنْ شَاءَ اللهُ او دا مسئله به موږ انشاء الله هلته [په کتاب السرقه کي] بیان کړو وَلَا يُقْبَلُ فِيهِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ او د شرابو په حدّ کي به د خلکو سره د ښځو ګواهي نه قبلیږي لِأَنَّ فِيهَا شُبْهَةَ الْبَدَلِيَّةِ ځکه چي د ښځو په ګواهی کي د بدلیّت شبهه سته وَتُهْمَةَ الضَّلَالِ وَالنِّسْيَانِ او [د ښځو په ګواهی کي] د خطاوتلو او هېرولو تهمت سته وَالسَّكْرَانُ الَّذِي يُحَدُّ هُوَ الَّذِي لَا يَعْقِلُ مَنْطِقًا لَا قَلِيلًا وَلَا كَثِيرًا او پر کوم نشه کس چي حدّ جاري کیږي هغه [دومره نشه] کس دی چي په خبرو نه پوهیږي نه لږ او نه زیات وَلَا يَعْقِلُ الرَّجُلَ مِنَ الْمَرْأَةِ او چي هغه د سړي او ښځي په مینځ کي توپیر نه سي کولای قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ناتوانه بنده (صاحب د هدایې) فرمایي: دا قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی وَقَالَا: هُوَ الَّذِي يَهْذِي وَيَخْتَلِطُ كَلَامُهُ او

﷯ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله : ولو أقر بشرب الخمر مرة واحدة حدّ في قول أبي حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله (خانية ج:۲، ص:۴۱۵)، وكذا في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۸۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۰]

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د حدّ مستحق سکران هغه کس دی کوم چې عبث اچتې اخبري کوي او د هغه کلام ګډوډ وي لِأَنَّهُ هُوَ السَّكْرَانُ فِي الْعُرْفِ ځکه چې په عرف کې همدغه کس ته سکران وايي وَإِلَيْهِ مَالَ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ او همدې ته زياتره مشائخو ميلان کړی دی وَلَهُ: أَنَّهُ يُؤْخَذُ فِي أَسْبَابِ الْحُدُودِ بِأَقْصَاهَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې اد حدّ جاري کولو په هکله ا د حدونو په اسبابو کې د آخري درجې سبب اختيـاربږي ااو په آخري درجه عمل کيږي ا دَرْءًا لِلْحَدِّ د دې لپاره چې حدّ دفع کړی سي وَنِهَايَةُ السُّكْرِ أَنْ يَغْلِبَ السُّرُورُ عَلَى الْعَقْلِ فَيَسْلُبُهُ التَّمْيِيزَ بَيْنَ شَيْءٍ وَشَيْءٍ او د نشې آخري درجه دا ده چې مستي [نشه] پر عقل دومره غالبه سي چې له نشه يي څخه د دوو شيانو تر مينځ توپير کول سلب کړي وَمَا دُونَ ذَلِكَ لَا يَعْرَى عَنْ شُبْهَةِ الصَّحْوِ او کوم مقدار نشه چې له دې څخه کمه وي هغه د هوښ له شبهې څخه خالي نه وي وَالْمُعْتَبَرُ فِي الْقَدَحِ الْمُسْكِرِ فِي حَقِّ الْحُرْمَةِ مَا قَالَاهُ او په نشه کونکې پياله کې د حرمت په حواله سره د نشې دومره مقدار معتبر دی کوم چې صاحبينو ذکر کړي دی ايعني د حرامېدلو په حق کې هغه پياله معتبره ده چې په هغه سره [انسان] دومره نشه سي چې عبث او چټي خبري شروع کړي او کلام يې ګډوډ سي ا بِالْإِجْمَاعِ أَخْذًا بِالْاِحْتِيَاطِ دا حکم [زموږ د امامانو] په اتفاق سره دی، په احتياط باندې د عمل کول لپاره وَالشَّافِعِيُّ يَعْتَبِرُ ظُهُورَ أَثَرِهِ فِي مِشْيَتِهِ وَحَرَكَاتِهِ وَأَطْرَافِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د هغه په تګ [چال] او د هغه په حرکت او أطرافو [لاس او پښو] کې د نشې د أثر ښکاره کېدلو اعتبار کوي وَهَذَا مِمَّا يَتَفَاوَتُ [لېکن] دا له تفاوت کونکو شيانو څخه دي ايعني په چال، حرکت او أطرافو کې د نشې په أثر ښکاره کېدلو کې د خلکو په اعتبار سره ډېر تفاوت وي...ا فَلَا مَعْنَى لِاعْتِبَارِهِ لهذا د هغه د معتبر ګرځولو لپاره هيڅ صورت نسته وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ بِإِقْرَارِهِ عَلَى نَفْسِهِ او د خپل ځان په خلاف د اقرار کولو په صورت کې به پر نشه سړي حدّ نه جاري کيږي لِزِيَادَةِ احْتِمَالِ الْكَذِبِ فِي إِقْرَارِهِ ځکه چې د نشه سړي په اقرار کې د درواغو احتمال زيات وي فَيَحْتَالُ لِدَرْئِهِ نو له هغه څخه د "حدّ" دفع کولو لپاره به حيله کيږي لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللهِ تَعَالَى ځکه چې دا حدّ خالص د الله تعالىٰ حق دی بِخِلَافِ حَدِّ الْقَذْفِ په خلاف د حدّ قذف لِأَنَّ فِيهِ حَقَّ الْعَبْدِ ځکه چې په هغه کې د بنده حق سته وَالسَّكْرَانُ فِيهِ كَالصَّاحِي عُقُوبَةً عَلَيْهِ او د بنده په حق کې نشه سړی د سزا په حواله سره د هوښ مند سړي په شير دی ايعني په حق العبد کې د سزا په حواله سره دا دواړه کسان برابر دي ا كَمَا فِي سَائِرِ تَصَرُّفَاتِهِ لکه د هغه په ټولو تصرفاتو کې [چې هم دغه حکم دی] وَلَوِ ارْتَدَّ السَّكْرَانُ او که نشه سړی مرتد سي لَا تَبِينُ مِنْهُ

امْرَأَتُهُ نو د هغه ښځه به له هغه شخصه نه بائنه کیږي لِأَنَّ الْكُفْرَ مِنْ بَابِ الْاِعْتِقَادِ ځکه چي کفر د اعتقاد له باب څخه دی [یعني کفر د عقیدې سره تعلق لري] فَلَا يَتَحَقَّقُ مَعَ السُّكْرِ نو ځکه به د نشې سره کفر نه ثابتیږي [ځکه چي د عقیدې معنیٰ ده باور او یقین لرل، او نشه سړی په ځان خبر نه وي، نو باور او یقین به څنګه وکړي!] وَهٰذَا قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفینو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَفِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ* تَكُوْنُ رِدَّةً او په ظاهر روایت کي هغه ارتداد شمارل کیږي [یعني په ظاهر روایت کي دا نشه سړی مرتد ګرځي].

اللغات: ﴿نَظِيْر﴾ مثال، مشابه، ﴿ضَلَال﴾ ګمراه کېدل، لاره ورکول، تېروتل، خطاوتل (غلطېدل). ﴿سَكْرَان﴾ (د کاف په سکون سره): نشه سړی، بې هوښه، ﴿يَهْذِيْ﴾ د ضرب مضارع ده: پالتو ګډېدل، عبث او چټي خبري کول، ﴿يَخْتَلِطُ﴾ د افتعال مضارع: ګډول، ګډېدل، (مراد ځني ګډې وډې خبري کول دي)، ﴿دَرْء﴾ د فتح مصدر دی: لیري کول، دفع کول، ﴿سُرُوْر﴾ مستي، نشه، خمار، خوشالي، ﴿صَحْو﴾ هوښ مندي، پرسدتیا، هغه حالت چي د انسان هوښ او خواس پر ځای وي، ﴿قَدَح﴾ پیاله (د شراب او داسي نورو مشروباتو د چیښلو پیمانه).

تشريح: په دې عبارت کي شپږ مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که چیري دوه ګواهان دیو چا په خلاف د شراب چیښلو ګواهي ورکړي یا شرابي په خپله د نشې له ختمېدلو څخه وروسته (د هوښ په حالت) کي د شراب چیښلو اقرار وکړي او فقط یو وار اقرار وکړي، نو په دې سره به حدّ ثابتیږي (او پر هغه به حدّ جاري کیږي)، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دوه واره اقرار کول شرط دي، امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دا شرط د ګواهانو پر دوه کېدلو باندي قیاس کړی دی چي د هغه تفصیل به انشاء الله په بابُ السّرقه کي راسي.

(۲)... د شرابو په حدّ (او نورو حدّونو) کي فقط د خلکو ګواهي معتبره ده، د خلکو سره د ښځو ګواهي مقبوله او معتبره نه ده؛ ځکه چي د ښځو په ګواهۍ کي د بدلیّت شبهه سته او په ښځو کي د خطاوتلو او د خبري هېرولو خطره سته، خلاصه دا چي په ښځه کي درې خامیاني سته: ① په عورت کي دا شبهه سته چي هغه د سړي بدل ده، ځکه چي الله تعالیٰ په دې آیت "فَإِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَأَتَانِ" کي دوې ښځي د یوه سړي بدل ګرځولي دي، د دې مطلب دا رواځي چي

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۸۱)، وكذا في البحر الرائق (ج:۵، ص:۲۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۵۱]

ښځه د سړي بدل ده (همدې ته بدليَت وايي)، (۲) ښځه د واقعې په بيانولو کي ګمراهي او غلطي کوي. (۳) او ښځه د واقعې او خبري هېرونکې هم وي. ځکه چي الله تعالیٰ په پورتني آيت کي فرمايلي دي "أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَىٰ" يعني دوې ښځي ځکه د يوه سړي بدل ګرځول سوي دي چي که په دې دواړو کي يوه ښځه تېروتنه او غلطي وکړي او واقعه هېره کړي نو دويمه ښځه به هغې ته واقعه ورپه يادوي. نو په دې وجه د ښځو ګواهي په حدونو کي معتبره او کافي نه ده. د مصنف رَحِمَهُ الله دا عبارت د همدغه آيت وطرف ته اشاره کوي.

﴿ د نشې د مقدار او اندازې بيان ﴾

(۳)... والسکران إلخ: فرمايي د نشې په کوم مقدار سره چي پر شرابي او نشه سړي حدّ جاري کيږي. هغه دا دی چي په شرابي او نشه سړي کي د پوهېدلو ماده ختمه سي يعني چي هغه نه په لږو خبرو پوهيږي او نه په زياتو . او د ښځي او سړي تر مينځ توپير تميز نه سي کولای. دا تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی. د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د سُکر او نشې مقدار دا دی چي شرابي فضول او چټي خبري شروع کړي. يعني د هغه په خبرو کي اختلاط پيدا سي. يوه خبره د آسمانه کوي او بله د ځمکي کوي او داسي ګډي وډي او بې لاستي خبري کوي چي هغه بالکل د عقل څخه ليري خبري وي، په عرف کي هم داسي سړي ته سکران وايي. او همدې طرف ته زياتره فقهاؤ ميلان کړی دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د حدّونو په باب کي د حدّ له اسبابو څخه تر ټولو آخري او د کاملي درجې سبب اختياريږي د دې لپاره چي په يو ټول څه غوندي لاره او حيله پيدا سي او حدّ ختم سي. او دلته د حدّ تر ټولو آخري درجه دا ده چي نشه د انسان پر عقل وغوړيږي او په انسان کي د پوهي او تميز ماده ختمه کړي. او که په دې اندازه نشه پيدا نه سي او شرابي د ښځي او سړي تر مينځ او د ښه او بد تر مينځ توپير کولای سي. نو پر هغه به کما حقهٗ د سکران إطلاق نه کيږي او د حدّ مستحق به نه ګرځي.

(۴)... والمعتبر في القدح المسکر إلخ: د دې عبارت مطلب چي په شرابو کي د حدّ جاري کېدلو لپاره خو دومره مقدار نشه کېدل پکار دي چي سکران او شرابي د ښځي او سړي په مينځ کي تميز نه سي کولای. لېکن له شرابو څخه بغير په بل نشه لرونکي شي کي مثلاً په نبيذ او داسي نور کي د حرامېدلو لپاره دومره نشه کېدل پکار ده چي د هغه په وجه په خبرو کي اختلاط او ګډوډي پيدا سي لکه څرنګه چي دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د نشې مقدار دی. مطلب دا چي که د يوې پيالې په چيښلو په خبرو

کي اختلاط پيدا سي نو د هغه پيالې چيښل حرام دي. زموږ درې سره امامانو پر همدې خبره اتفاق کړی دی، او په همدې کي احتياط دی. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي له اختلاط او ګډوډي څخه بغير د چيښونکي په چال او حرکاتو کې هم بدلون راتلل پکار دي يعني چي سړی اوتره سي او تګ يې په واک او اختيار کي نه وي، نو دومره چيښل حرام دي. مګر صاحب د هدايې امام شافعي رَحِمَهُ الله ته دا جواب ورکوي چي د چال او حرکاتو بدلېدل د خلکو په بدلېدلو سره مختلف کيږي (مثلاً ځيني خلک قوي او مضبوط بدن والا وي، او د پوره نشې باوجود سم تګ کوي او خپل حرکات يې په اختيار کي وي، او ځيني خلک بيا کمزوري وي چي که د پيالې دريمه حصه وچيښي نو هم زنګيږي او اختيار د لاسه ورکوي). لهذا د چال او حرکت د بدلېدلو اعتبار کول او پر هغه د حُرمت مدار ايښول صحيح نه دی، بلکي فقط د خبرو پر اختلاط او ګډوډي به اکتفاء کيږي.

(۵)... که چيري په نشه کي ډوب سړی پر خپل ځان د شراب چيښلو يا د غلا يا د زنا کولو اقرار وکړي، نو د هغه دې اقرار ته به اعتبار نه ورکول کيږي او د دې اقرار په وجه به پر هغه حدّ نه جاري کيږي؛ ځکه چي په اقرار کي خو هسي هم د کذب او درواغو احتمال سته. او کله چي په نشه کي غرق سړی اقرار وکړي نو د کذب احتمال نور زيات سي، او څرنګه چي دا حدود خالص د الله تعالیٰ حق دی، نو ځکه به د کذب دا احتمال د حدّ د ختمولو او دفع کولو لپاره حيله جوړيږي او له داسي ډوب سړي څخه به حدّ دفع کيږي. لېکن که هغه په دې حالت کي د حدّ قذف اقرار وکړي. نو د هغه دا اقرار به معتبر وي، او له نشې ختمېدلو څخه وروسته به پر هغه حدّ قذف جاري کيږي او په دُرو سره به وهل کيږي، ځکه چي حدّ قذف د بنده حق دی، او په حقوقُ العباد کي د سزا په حواله سره نشه او با هوښه (پرسد) سړی دواړه برابر دي، او لکه څرنګه چي د نشه او بې خوده سړي طلاق او إعتاق صحيح دي همداسي د حدّ قذف په هکله د هغه اقرار هم صحيح دی.

(۶)... که چيري نَشه سړی (سکران) مرتد سي، نو د دې ارتداد په وجه به د هغه ښځه بائنه نه ګرځي؛ ځکه چي د کفر تعلق د عقيدې سره دی، او په نشه او بې خودۍ سره کفر نه ثابتيږي. او کله چي کفر نه ثابتيږي، نو ښکاره خبره ده چي د سکران ښځه به له هغه څخه نه بائنه کيږي. دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی او همدا محقق او مختار قول دی. که څه هم ظاهر روايت دا دی چي د هغه ارتداد معتبر دی او د هغه ښځه به بائنه ګرځي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ حَدِّ الْقَذْفِ

(دا) باب د تهمت لګولو د حدّ (په بيان کي) دی

تشريح: حدّ قذف ځکه تر حدّ شُرب وروسته بيان سوی دی چي د شراب چيښلو جرم په يقيني توګه ثابتيږي، لېکن د تهمت لګونکي کس په تهمت کي د صدق او کذب دواړو احتمال وي او دا په يقيني توګه نه ثابتيږي، او ښکاره خبره ده چي په يقيني توګه ثابتېدنکی شی له هغه شي څخه مقدم او مخکي وي کوم چي په يقيني توګه نه ثابتيږي. (بناية ج:۴)

د قذف لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د قذف د ضرب د باب مصدر دی، لغوي معنیٰ يې ده: غورځول.

د قذف شرعي او اصطلاحي معنیٰ ده: پر ښځه يا سړي باندي د زنا تهمت لګول.

د قذف وضاحت او د هغه د ثبوت دليل

وَإِذَا قَذَفَ الرَّجُلُ رَجُلًا مُحْصَنًا أَوِ امْرَأَةً مُحْصَنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَا او کله چي سړی پر يو واده الا سړي يا يا واده والا ښځي باندي په ښرګنده توګه د زنا تهمت ولګوي وَطَالَبَ الْمَقْذُوفُ بِالْحَدِّ او مقذوف اله قاضي او حاکم څخه] د حدّ مطالبه وکړي حَدَّهُ الْحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوْطًا نو حاکم به هغه [تهمت لګونکي] اتيا [۸۰] دُرې وهي إِنْ كَانَ حُرًّا که چيري هغه آزاد وي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ.... إِلَىٰ أَنْ قَالَ: فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً [النور: ۴] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: او کوم کسان چي پر پاک لمنو ښځو د زنا تهمت لګوي... تر دې چي الله تعالیٰ فرمايلي: نو تاسي هغوی اتيا دُرې ووهئ! وَالْمُرَادُ الرَّمْيُ بِالزِّنَا بِالْإِجْمَاعِ او [له يَرْمُوْن] څخه بالاتفاق د زنا تهمت لګول مراد دي وَفِي النَّصِّ إِشَارَةٌ إِلَيْهِ او په دې آيت کي همدې طرف ته اشاره سوې ده وَهُوَ اشْتِرَاطُ أَرْبَعَةٍ مِنَ الشُّهَدَاءِ او هغه [دا چي په دې آيت کي] د څلورو ګواهانو شرط [هم لګول سوی] دی إِذْ هُوَ مُخْتَصٌّ بِالزِّنَا ځکه چي څلور ګواهان د زنا سره خاص دي وَيُشْتَرَطُ مُطَالَبَةُ الْمَقْذُوفِ لِأَنَّ فِيهِ حَقَّهُ مِنْ حَيْثُ دَفْعُ الْعَارِ او د مقذوف مطالبه کول ځکه شرط دي چي د عيب [او پېغور] دفع کولو په

حيثيت سره په دې حدّ کې د مقذوف حق سته وَإِحْصَانُ الْمَقْذُوفِ لِمَا تَلَوْنَا او د مقذوف محصن کېدل د هغه آيت په وجه شرط دي کوم چې موږ تلاوت کړی.

اللغات: ﴿مَقْذُوْف﴾ د ضرب له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: هغه کس چې د درواغو تهمت پر لګول سوی وی (پر چا چې تور وتړل سي)، ﴿سَوْط﴾ دُره (څرمني غمچينه). ﴿يَرْمُوْن﴾ د ضرب له باب څخه د جمع مذکر غائب صيغه ده: ويشتل، مراد څني د زنا تهمت لګول دي.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو څوک پر واده والا سړي يا ښځه باندي د زنا تهمت ولګوي. او بيا دا مقذوف سړی يا ښځه پر قاذف د حدّ قذف جاري کولو مطالبه وکړي، نو که چيري قاذف آزاد وي. نو قاضي به هغه اتيا دُرې وهي؛ دليل د قرآن کريم دا آيت دی: "وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءِ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً"، په دې آيت کې د ټولو په نېز له "رمی" څخه "د زنا تهمت لګول" مراد دي، ځکه چې د أربعة شهداء ضرورت په زنا کې پيښيږي. او د مقذوف له طرفه د حدّ قذف مطالبه کول ځکه شرط دي چې حدّ قذف د مقذوف حق دی. ځکه چې په دې حدّ سره له مقذوف څخه عيب او پېغور ختميږي، او د مقذوف محصن کېدل ځکه شرط دي چې په دې آيت "وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ..." کې الْمُحْصَنَات ذکر سوي دي.

د قذف د ثبوت بل دليل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره اړوند د إفک واقعه هم ده. چې په هغه واقعه کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د برائت تر ښکاره کېدلو وروسته نبي ﷺ پر حضرت حسان بن ثابت، حضرت مسطح او حضرت حمنه بنت جحش باندي حدّ قذف جاري کړی وو.

د حدّ قذف جاري کولو طريقه

قَالَ: وَيُفَرَّقُ عَلَى أَعْضَائِهِ فرمايي: او دا [د دُرو] وهل به د قاذف پر بدن متفرق کيږي [يعني قاذف به د بدن پر مختلفه حصو او پر جلا جلا اندامونو وهل کيږي] لِمَا مَرَّ فِي حَدِّ الزِّنَا د هغه دليل په وجه کوم چې په زنا کې تېر سو وَلَا يُجَرَّدُ مِنْ ثِيَابِهِ او له هغه څخه به جامې نه کښل کيږي لِأَنَّ سَبَبَهُ غَيْرُ مَقْطُوعٍ ځکه چې د حدّ قذف سبب يقيني نه وي فَلَا يُقَامُ عَلَى الشِّدَّةِ لهذا دا حدّ به په سختۍ سره نه جاري کيږي بِخِلَافِ حَدِّ الزِّنَا په خلاف د حدّ زنا غَيْرَ أَنَّهُ يُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ خو له هغه څخه به پوستين او پنډې جامې کښل کيږي لِأَنَّ ذٰلِكَ يَمْنَعُ إِيصَالَ الْأَلَمِ بِهِ ځکه چې دا [دواړې جامې]

قاذف ته له درد رسولو څخه مانع دي وَإِنْ كَانَ الْقَاذِفُ عَبْدًا او كه تهمت لګونكى غلام وي جُلِدَ أَرْبَعِينَ سَوْطًا لِمَكَانِ الرِّقِّ نو د غلامتوب په وجه به هغه څلوېښت دُرې وهل كيږي وَالْإِحْصَانُ: أَنْ يَكُونَ الْمَقْذُوفُ حُرًّا عَاقِلًا بَالِغًا مُسْلِمًا عَفِيفًا عَنْ فِعْلِ الزِّنَا او د إحصان مطلب دا دى: چي مقذوف آزاد وي، عاقل، بالغ، مسلمان او د زنا له فعل څخه پاك وي أَمَّا الْحُرِّيَّةُ فَلِأَنَّهُ يُطْلَقُ عَلَيْهِ اسْمُ الْإِحْصَانِ كوم چي حُريّت دى نو ځكه چي پر همدې آزاد باندي د إحصان د لفظ إطلاق كيږي [او آزاد ته مُحصن ويل كيږي] قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ [النساء: ٢٥] أَيِ الْحَرَائِرِ الله تعالىٰ فرمايلي دي: چي پر مينځو باندي د پاك لمنو ښځو يعني د آزادو ښځو نيم عذاب دى [په دې آيت كي له مُحصنات څخه آزادي ښځي مراد دي] وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ لِأَنَّ الْعَارَ لَا يَلْحَقُ بِالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ او عقل او بلوغ ځكه شرط دى چي په بچي او لېوني پسي عار نه لاحقيږي لِعَدَمِ تَحَقُّقِ فِعْلِ الزِّنَا مِنْهُمَا ځكه چي له كوچني او لېوني څخه د زنا فعل نه ثابتيږي [بچى خو ځكه چي هغه مني نه لري، او مجنون كه څه هم زنا وكړي خو هغه ته هيڅ هوښ نه وي، نو ځكه د هغه فعل زنا نه شمارل كيږي. او بل دا چي دا دواړه د شريعت مخاطب نه دي] وَالْإِسْلَامُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ[1] أَشْرَكَ بِاللهِ فَلَيْسَ بِمُحْصَنٍ او مسلمان كېدل ځكه شرط دي چي نبي ﷺ فرمايلي دي: څوك چي د الله سره شريك ونيسي هغه محصن نه دى وَالْعِفَّةُ لِأَنَّ غَيْرَ الْعَفِيفِ لَا يَلْحَقُهُ الْعَارُ او پاكوالى ځكه شرط دى چي څوك پاك لمنى نه وي هغه ته عار [او شرم] نه محسوسيږي [د عفيف او پاك لمني سړي مطلب دا دى چي هغه هيڅكله زنا كړي نه وي. او چا چي يو وار هم زنا كړې وي. نو هغه د زنا په تهمت سره عار او شرم نه محسوسوي. ځكه چي هغه خو په دې كار كي مبتلا دى] وَكَذَا الْقَاذِفُ صَادِقٌ فِيهِ او همدارنګه پر غيرِ عفيف باندي تهمت لګونكى كس په خپل تهمت كي رښتونى وي وَمَنْ نَفَى نَسَبَ غَيْرِهِ او څوك چي د بل چا د نسب نفي وكړي فَقَالَ: لَسْتَ لِأَبِيكَ او داسي [ورته] ووايي: ته د خپل پلار [زوى] نه يې فَإِنَّهُ يُحَدُّ نو پر هغه [نفي كونكي] به حدّ جاري كيږي

---

[1] تخريج: رواه الدار قطني، كتاب الحدود والديات ج:٣، ص:١٠٧، رقم الحديث:٣٢٦٦. والسنن للبيهقي، ج:٨، ص:٣٧٥، رقم الحديث:١٦٩٣٧.

وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ أُمُّهُ حُرَّةً مُسْلِمَةً او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي د دې بل کس مور آزاده او مسلمانه وي لِأَنَّهُ فِي الْحَقِيقَةِ قَذْفٌ لِأُمِّهِ ځکه چي دا په حقيقت کي د ده پر مور تهمت لګول دي لِأَنَّ النَّسَبَ إِنَّمَا يُنْفَى عَنِ الزَّانِي لَا عَنْ غَيْرِهِ ځکه چي نسب [فقط] له زاني څخه نفي کيږي. نه له بل چا څخه.

اللغات: ﴿يُفَرَّقُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: سره جلا کول. متفرق کول. مراد ځني پر جلا. جلا اندامونو وهل دي. ﴿لَا يُجَرَّدُ﴾ د تفعيل له باب څخه د نفي مجهوله صيغه ده: لڅول. برېنډول (مراد ځني جامې کښل دي). ﴿فَرْو﴾ له وړيني څرمني څخه جوړه سوې چپنه. پوستين. ﴿حَشْو﴾ له پمبه وو څخه ډکه جامه. مراد ځني کوټ او داسي نوري پنډې جامې دي. ﴿عَار﴾ پېغور. شرم. عيب. ﴿إِيْصَال﴾ د افعال مصدر دی: رسول. ﴿عِفَّة﴾ پاک لمنوالي (پاکوالی). ﴿عَفِيْف﴾ پاک او صفا سړی، پاک لمنی سړی چي له کونيتوب څخه پاک وي. ﴿غَيْرِ عَفِيْف﴾ ناپاکه. کوني (رنډی). بد لاری، بدلغامی (هغه کس چي د کونيتوب عادت پکښي وي).

تشريح: صورت د مسئلې واضح دی چي د حدّ زنا په څېر به په حدّ قذف کي هم قاذف د بدن پر مختلفه حصو او جلا اندامونو وهل کيږي. لېکن په دې حدّ به کي جامې نه ځني ليري کيږي. ځکه کېدای سي چي قاذف په خپل قذف کي رېښتونی وي خو ديو عذر او عجز په وجه به يې د ګواهانو پر پېښولو قدرت پيدا کړی نه وي. نو څرنګه چي د دې احتمال په وجه د حدّ قذف ثبوت قطعي او يقيني نه دی. نو ځکه به دا حدّ په سختۍ سره نه جاري کيږي. ها که قاذف کوټ. پوستين او داسي نوري پنډې جامې اغوستي وي نو هغه به ځني ليري کيږي، د دې لپاره چي د هغه بدن ته د وهلو أثر (درد او تکليف) ورسيږي.

والإحصان إلخ: له دې ځای څخه د مقذوف د إحصان شرائط او قيود بيانيږي چي هغه په عبارت کي په واضحه توګه ذکر سوي دي.

ومن نفى نسب غيره إلخ: فرمايي: که يو څوک ديو چا د نسب نفي وکړي مثلاً داسي ورته وايي چي "ته له خپل پلار څخه نه يې!"، حال دا چي د هغه مور آزاده او مسلمانه وي. نو پر نفي کونکي به حدّ قذف جاري کيږي. ځکه چي د پلار د نفي کولو مطلب دا دی چي "ته ولدُ الزنا او حرامي يې"، او دا قذف په حقيقت کي د هغې پر مور تهمت دی، حال دا چي د هغه مور مسلمانه او آزاده ده او په ظاهري توګه له هغې څخه د زنا صادرېدل ناممکن دي، نو پر مور به د تهمت لګولو په وجه پر قاذف حدّ قذف جاري کيږي.

د قذف د الفاظو بیان

وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ فِي غَضَبٍ: لَسْتَ بِابْنِ فُلَانٍ او څوک چې بل چا ته د غصې په حالت کې ووايي: ته د فلانکي زوی نه يې لِأَبِيهِ الَّذِي يُدْعَى لَهُ د هغه پلار لپاره چې په هغه سره دئ بلل کيږي [يعني د کوم پلار په نامه سره چې دئ ياديږي، له هغه څخه د ده نفي وکړي چې "ته د هغه زوی نه يې"] يُحَدُّ نو پر هغه به حدّ جاري کيږي وَلَوْ قَالَ فِي غَيْرِ غَضَبٍ او که له غصې څخه بغير [په بل] حالت کې [داسي ورته] ووايي لَا يُحَدُّ نو حدّ به نه پر جاري کيږي لِأَنَّ عِنْدَ الْغَضَبِ يُرَادُ بِهِ حَقِيقَةً سَبًّا لَهُ ځکه چې د غصې په حالت کې په دې سره حقيقتاً ښکنځا [او تهمت] مراديږي وَفِي غَيْرِهِ يُرَادُ بِهِ الْمُعَاتَبَةُ بِنَفْيِ مُشَابَهَتِهِ أَبَاهُ فِي أَسْبَابِ الْمُرُوءَةِ او له غصې څخه بغير [په بل حالت] کې په دې سره ملامتول [او تنبيه ورکول] مراديږي چې د مروّت [او شرافت] په اسبابو کې ته د خپل پلار سره مشابه نه يې!

وَلَوْ قَالَ: لَسْتَ بِابْنِ فُلَانٍ يَعْنِي جَدَّهُ او که [ورته] ووايي: چې ته د فلانکي زوی يې [او] هغه په دې سره د ده نيکه مراد کړي [يعني د هغه مراد دا وي چې ته د خپل نيکه زوی نه يې] لَمْ يُحَدَّ نو پر هغه به حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّهُ صَادِقٌ فِي كَلَامِهِ ځکه چې هغه په خپله خبره کې رښتونی دی وَلَوْ نَسَبَهُ إِلَى جَدِّهِ او که هغه د نيکه وطرف ته د ده نسبت وکړي لَا يُحَدُّ أَيْضًا نو هم به پر هغه حدّ نه جاري کيږي لِأَنَّهُ قَدْ يُنْسَبُ إِلَيْهِ مَجَازًا ځکه چې مجازاً د نيکه وطرف ته [هم] نسبت کيږي. وَلَوْ قَالَ لَهُ: يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مَيِّتَةٌ مُحْصَنَةٌ او که هغه ده ته ووايي: اې د زناکارې بچيه! حال دا چې د ده مور مړه او پاک لمنې وي فَطَالَبَ الِابْنُ بِحَدِّهِ او بچی پر هغه [قاذف] د حدّ مطالبه وکړي حُدَّ الْقَاذِفُ نو پر قاذف به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ قَذَفَ مُحْصَنَةً بَعْدَ مَوْتِهَا ځکه چې هغه پر يوې پاک لمنې ښځې د هغې تر مرګ وروسته تهمت لګولی دی وَلَا يُطَالِبُ بِحَدِّ الْقَذْفِ لِلْمَيِّتِ إِلَّا مَنْ يَقَعُ الْقَدْحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذْفِهِ او د ميّت [مړي] لپاره [فقط] هغه کس د "حدّ قذف" مطالبه کولای سي چې د ميّت په تهمت سره د هغه په نسب کې عيب واقع کيږي وَهُوَ الْوَالِدُ وَالْوَلَدُ او هغه پلار يا بچی دی لِأَنَّ الْعَارَ يَلْتَحِقُ بِهِ لِمَكَانِ الْجُزْئِيَّةِ ځکه چې د جزئيت په وجه دوی ته د ميّت په تهمت سره عار [او پېغور]

لاحقيږي فَيَكُونُ الْقَذْفُ مُتَنَاوِلًا لَهُ مَعْنًى نو د ميّت تهمت به د معنیٰ په اعتبار سره دوی ته هم شامل وي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ يَثْبُتُ حَقُّ الْمُطَالَبَةِ لِكُلِّ وَارِثٍ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د هر وارث لپاره د مطالبه کولو حق ثابتيږي لِأَنَّ حَدَّ الْقَذْفِ يُورَثُ عِنْدَهُ عَلَى مَا نُبَيِّنُ ځکه چي د هغه په نيز په حدّ قذف کي ميراث کي جاري کيږي چي [وروسته] به مونږ د دې بيان وکړو [انشاء الله] وَعِنْدَنَا وِلَايَةُ الْمُطَالَبَةِ لَيْسَتْ بِطَرِيقِ الْإِرْثِ او زمونږ په نيز د مطالبه کولو ولايت د وراثت په توګه نه دی بَلْ لِمَا ذَكَرْنَاهُ بلکي په هغه توګه [سره حاصليږي] کوم چي مونږ [اوس] ذکر کړه [يعني د جزئيت په وجه د عار لاحقيدلو په توګه] وَلِهَذَا يَثْبُتُ عِنْدَنَا لِلْمَحْرُومِ عَنِ الْمِيرَاثِ بِالْقَتْلِ همدا وجه ده چي د قتل په وجه له ميراث څخه د محروم کس لپاره [هم] زمو په نيز دا حق ثابتيږي وَيَثْبُتُ لِوَلَدِ الْبِنْتِ كَمَا يَثْبُتُ لِوَلَدِ الِابْنِ او د لور د بچي لپاره [هم] دا حق ثابتيږي لکه څرنګه چي د زوی د بچي لپاره ثابتيږي خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ* په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله وَيَثْبُتُ لِوَلَدِ الْوَلَدِ حَالَ قِيَامِ الْوَلَدِ [همدارنګه] د بچي د موجوديدلو په حالت کي د بچي، د بچي [المسي] لپاره [هم] دا حق ثابتيږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله.

اللغات: ﴿يُدْعَى﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: بلل، راغوښتل. ﴿غَضَب﴾ غصه، خښم، قهر. ﴿مُعَاتَبَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: خښم ښکاره کول (خوشکه کول)، ملامتول، رټل، تنبيه ورکول. ﴿مُرُوَّة﴾ ميړانه، بهادري، انسانيت، شرافت، اخلاق مندي. ﴿قَدْح﴾ عيب.

تشريح: يو سړی د خالد زوی دی او د هغه په نسبت سره ياديږي، اوس که يو څوک د غصې په حالت کي هغه ته ووايي چي ته د خالد زوی نه يې! نو د غصې او غضب د حالت په وجه به له داسي خبري څخه حقيقتاً ښکنځل او تهمت مراديږي او دا خبره به قذف شمارل کيږي. لهذا پر قاذف به حدّ جاري کيږي. ليکن که هغه د غصې په حالت کي دا خبره کړې نه وي، نو له دې څخه به تهمت نه مراديږي، بلکي دا به ګڼل کيږي چي هغه په اخلاق، انسانيت او مروّت کي د مشابهت نفي کړې دي (چي ته د خپل پلار سره په اخلاق او ميړانه کي مشابه نه يې!).

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٥، ص:٩٤)، وكذا في رد المحتار (ج:٣، ص:١٨٨).[القول الراجح ج:١، ص:٤٥٢]

که یو سړي یو کس ته داسي ووایي چي ته د فلانکي زوی نه یې! او د هغه مراد دا وي چي ته د خپل نیکه زوی نه یې!، نو پر هغه به حدّ نه جاري کیږي، ځکه چي قائل په خپله خبره کي رینښتونی دی ځکه رښتیا هم دا کس د خپل نیکه زوی نه دی، او که دیو سړي د نیکه نوم (مثلاً) خالد وي او بل څوک هغه ته ووایي چي ته د خالد زوی یې، نو پر هغه به هم حدّ نه جاري کیږي، ځکه چي مجازاً و نیکه ته هم پلار وایي.

ولوقال له یا ابن الزانیة إلخ: او که یو سړي بل سړي ته ووایي چي اې! د زناکاري بچیه، حال دا چي د هغه مور محصنه وي او وفات سوې وي، بیا هغه (بچی) پر قاذف باندي د حدّ قذف جاري کولو مطالبه وکړي، نو پر قاذف به حدّ قذف جاري کیږي؛ ځکه چي قاذف پر یوه محصنه ښځه باندي د هغې تر مرګ وروسته تهمت لګولی دی، حال دا چي په مرګ سره د هغې إحصان مضبوط سوی او مؤکد سوی دی، نو ځکه به پر هغې تهمت لګول د حدّ موجب وي.

ولا یطالب إلخ: فرمایي چي د مړه کس (میّت) له طرفه فقط د هغه پلار او نیکه ته یا د هغه زوی او لمسي ته د حدّ قذف د مطالبې کولو حق سته؛ ځکه چي همدا کسان د میّت سره د جزئیت واسطه لري او د میّت په تهمت سره دوی ته پیغور او شرم (عار) محسوسیږي. او پر میّت باندي تهمت لګول د دوی په حق کي هم تهمت شمارل کیږي. نو له خپل ځان څخه د عار او عیب د لیري کولو لپاره به هغو ته د حدّ قذف د مطالبې کولو حق وي. د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په حدّ قذف کي وراثت چلیږي، یعني د هغه په نېز د هر وارث لپاره د حدّ قذف د مطالبې کولو حق سته. او زموږ په نېز دا حق فقط د جزئیت او بعضیت په وجه ثابتیږي، نو ځکه به هر وارث ته دا حق حاصل نه وي. بلکي څوک چي د مقذوف یا مقذوفه سره د بعضیت او جزئیت واسطه لري. هغه ته به دا حق حاصل وي. او که چیري مقذوف وارث د خپل قتل او خون کولو په وجه له میراث څخه محروم وي. نو هغه ته هم زموږ په نېز د جزئیت د واسطې په وجه دا حق حاصلیږي. او د مقذوف د لور زوی (لورني لمسي) ته هم دا حق حاصلیږي (یعني هغه ته دا حق سته چي د خپل مورني نیکه د حدّ قذف مطالبه وکړي). لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هغه ته دا حق نه حاصلیږي. ځکه چي د لور زوی د خپل پلار وطرف ته منسوب کیږي، او د هغه پلار د مقذوف یعني د خسر سره د جزئیت واسطه نه لري (بلکي هغه د مقذوف زوم کیږي). لېکن زموږ له طرفه امام محمد رَحِمَهُ الله ته دا جواب ورکول سوی دی چي د مورني نیکه وطرف ته هم د لمسي نسبت کیږي. ځکه چي خلک وایي فلانکی سړی "نجیبُ الطرفین" دی (یعني فلانکی سړی د مور او پلار دواړو له طرفه صحیح او شریف نسب والا

دی)، همدا وجه ده چې د مورني نيکه په ښکنځلو سره هم انسان عار محسوسوي. نو ځکه به د لور زوی (لورني لمسي) ته هم د مطالبې کولو حق حاصل وي.

ويثبت لولد الولد إلخ: فرمايي که چيرې د مقذوف زوی موجود وي. نو د هغه په موجوديت کې د مقذوف لمسي ته هم د حدّ د مطالبې حق سته، ځکه چې د جزئيت واسطه موجوده ده. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز د زوی په موجوديت کې لمسي ته دا حق نه حاصلېږي لکه څرنګه چې د أقرب په موجوديت کې أبعد ته د کفارې د مطالبې حق نه حاصلېږي.

د مړه سوي مقذوف کافر زوی لره د مطالبې کولو حق سته، که نه؟

وَإِذَا كَانَ الْمَقْذُوفُ مُحْصَنًا او کله چې مقذوف محصن وي جَازَ لِابْنِهِ الْكَافِرِ وَالْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ بِالْحَدِّ نو د هغه د کافر او غلام زوی لپاره جائز دي چې [د پلار لپاره] د "حدّ قذف" مطالبه وکړي خِلَافًا لِزُفَرَ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَقُولُ: اَلْقَذْفُ يَتَنَاوَلُهُ مَعْنًى هغه فرمايي: چې د معنیٰ په اعتبار سره زوی ته هم دا تهمت شاملېږي لِرُجُوعِ الْعَارِ إِلَيْهِ ځکه چې د زوی وطرف ته [هم] عار او پيغور [راجع کېږي [يعني دغه کافر يا غلام زوی هم د پلار په تهمت سره شرمنده ګرځي او د خلکو د پيغور نښه ګرځي] وَلَيْسَ طَرِيقُهُ الْإِرْثَ عِنْدَنَا او زموږ په نيز [خو] د ميراث په طريقه سره دا [حدّ قذف] نه ثابتېږي فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ مُتَنَاوِلًا لَهُ صُورَةً وَمَعْنًى نو داسي سو لکه د صورت او معنیٰ په اعتبار سره چې دا قذف بچي ته [هم] شامل وي [نو په دې وجه د بچي محصن کېدل هم ضروري دي] وَلَنَا: أَنَّهُ عَيَّرَهُ بِقَذْفِ مُحْصَنٍ زموږ دليل دا دی: چې قاذف پر محصن پلار په تهمت لګولو سره د هغه زوی ته عار [او پيغور] ورکړی [او د پيغور او عيب وطرف ته يې د زوی نسبت وکړی] فَيَأْخُذُهُ بِالْحَدِّ نو ځکه به دا زوی هغه [قاذف] په حدّ سره نيسي [او د حدّ مطالبه به کولای سي] وَهَذَا لِأَنَّ الْإِحْصَانَ فِي الَّذِي يُنْسَبُ إِلَى الزِّنَا شَرْطٌ او دا ځکه چې څوک د زنا وطرف ته منسوب کړی سي د هغه محصن کېدل شرط دي لِيَقَعَ تَعْيِيرًا عَلَى الْكَمَالِ د دې لپاره چې په کامله توګه عار واقع سي ثُمَّ يَرْجِعُ هَذَا التَّعْيِيرُ الْكَامِلُ إِلَى وَلَدِهِ بيا دا کامل عار د هغه د زوی وطرف ته منسوب کېږي وَالْكُفْرُ لَا يُنَافِي أَهْلِيَّةَ الِاسْتِحْقَاقِ او کفر د استحقاق د اهليت منافي نه دی [يعني کفر د حدّ د مطالبې کولو منافي نه دی] بِخِلَافِ إِذَا تَنَاوَلَ الْقَذْفُ نَفْسَهُ په خلاف د هغه صورت کله چې بذات خود

[کافر یا غلام] زوی ته تهمت شامل سي لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ التَّعْيِيرُ عَلَى الْكَمَالِ ځکه چي [په دې صورت کي] کامل عار نه واقع کیږي لِفَقْدِ الْإِحْصَانِ فِي الْمَنْسُوبِ إِلَى الزِّنَا ځکه [دلته] چي د چا نسبت د زنا وطرف ته سوی دی [یعني کافر یا غلام زوی] په هغه کي إحصان نسته [ځکه چي د إحصان له شرائطو څخه اسلام او آزادي هم ده] وَلَيْسَ لِلْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ مَوْلَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ او غلام لره جائز نه دي چي د خپل آزادي مور د تهمت په وجه له مالک څخه د "حدّ قذف" مطالبه وکړي وَلَا لِلِابْنِ أَنْ يُطَالِبَ أَبَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ الْمُسْلِمَةِ او نه زوی لره جائز دي چي د خپل آزادي مور د تهمت په وجه له خپل پلار څخه د "حدّ قذف" مطالبه وکړي لِأَنَّ الْمَوْلَى لَا يُعَاقَبُ بِسَبَبِ عَبْدِهِ ځکه چي مالک ته د خپل غلام په وجه سزا نه ورکول کیږي [یعني پر مالک باندي د غلام په وجه سزا نه لازمیږي] وَكَذَا الْأَبُ بِسَبَبِ ابْنِهِ او همدارنګه پلار ته [هم] د زوی په وجه سزا نه ورکول کیږي وَلِهَذَا لَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِوَلَدِهِ همدا وجه ده چي د خپل زوی د قتل کولو پر بناء پلار قصاصاً نه قتل کیږي وَلَا السَّيِّدُ بِعَبْدِهِ او نه د غلام په قتل کولو سره د هغه مالک قصاصاً قتل کیږي وَلَوْ كَانَ لَهَا ابْنٌ مِنْ غَيْرِهِ او که د دې ښځي لپاره له بل خاوند څخه یو زوی وي لَهُ أَنْ يُطَالِبَ نو هغه لره جائز دي چي د "حدّ قذف" مطالبه وکړي لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ وَانْعِدَامِ الْمَانِعِ ځکه چي سبب [یعني تهمت لګول] موجود دی او مانع [أبوّت] نسته.

اللغات: ﴿عَارٌ﴾ پېغور. شرم. عیب. بې عزتي. ﴿عَيَّرَهُ﴾ د تفعیل ماضي ده: پېغور ورکول. بې عزتي کول. د عیب او شرمنده کونکي خبري وطرف ته د چا نسبت کول. ﴿فَقْدٌ﴾ د ضرب مصدر دی: نیستي کېدل. ورکېدل.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که یو سړی پر یو محصن کس باندي تهمت ولګوي او بیا مړ سي. نو که څه هم د هغه زوی کافر یا غلام وي زموږ په نېز د هغه لپاره د حدّ د مطالبې کولو حق سته. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز کافر او غلام زوی لره دا حق نسته.

اُصول: د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د مطالبه کونکي کس محصن کېدل هم ضروري دي. لېکن زموږ په نېز ضروري نه دي.

د امام زفر دليل: دا دی چي څرنګه دا تهمت (قذف) پلار ته شامل دی. همداسي د عار په وجه زوی ته هم د صورت او معنیٰ په اعتبار سره شامل دی. نو په دې وجه د زوی محصن کېدل هم ضروري دي او دلته زوی د کافر یا غلام کېدلو په وجه محصن نه دی. نو ځکه به کافر یا غلام زوی ته د حدّ د مطالبې کولو حق نه وي. همدا وجه ده که چیري هغه سړی بذات خود پر دغه کافر یا غلام زوی باندي تهمت ولګوي نو کافر یا غلام ته د مطالبې کولو حق نسته (ځکه چي د مطالبه کونکي کس لپاره محصن کېدل ضروري دي).

زموږ دليل: زموږ د دلیل حاصل دا دی چي هغه سړي پر یو محصن کس باندي تهمت لګولی دی. نو د محصن کېدلو په وجه په دې محصن کس کي کامل عار او عیب واقع سو. او دا عار د کافر یا غلام زوی وطرف ته هم نقل کیږي. ځکه چي د کفر یا رقیت په وجه له مقذوف شخصه د زوی نسبت او قرابت نه قطع کیږي. نو ځکه به د زوی لپاره د حدّ د مطالبې کولو حق وي.

بخلاف إذا تناول القذف إلخ: د دې په خلاف که هغه بذات خود پر دغه کافر یا غلام زوی باندي تهمت ولګوي نو کافر یا غلام ته د مطالبې حق ځکه نسته چي د نه محصن کېدلو په وجه په هغه کي کامل عار او عیب نه واقع کیږي (او د هغه لپاره کامل پېغور نه ثابتیږي).

(۲)... که د یو غلام مور آزاده وي، او بیا مالک د هغه پر مور تهمت ولګوي، یا د یو چا پلار پر خپلي آزادي او مسلماني ښځي باندي تهمت ولګوي، نو د غلام او زوی لپاره دا حق نسته چي د مور د تهمت په وجه غلام پر خپل مالک یا زوی پر خپل پلار د حدّ مطالبه وکړي؛ ځکه چي د غلام په دعویٰ سره نه مالک ته مجازات او سزا ورکول کیږي او نه د زوی په دعویٰ سره پلار ته سزا ورکول کیږي حتیٰ که مالک خپل غلام قتل کړي یا پلار خپل زوی قتل کړي، نو هغوی به قصاصاً نه قتل کیږي. لهذا کله چي د قتل په شیر درنه مسئله کي پر هغو هیڅ کاروايي نه کیږي، نو د قذف په مسئله کي به څرنګه د هغو په خلاف کاروايي وسي؟ ها! که چیري د دغه مقذوفه ښځي له بل خاوند شخصه یو زوی موجود وي، نو هغه پر دغه ناسکه پلار د حدّ مطالبه کولای سي. ځکه چي د هغه په حق کي له مطالبې کولو شخه مانع شی یعني اُبوّت (پلار والی) نسته، او د فقهې قاعده دا ده چي إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوْع.

تر حدّ جاري کېدلو مخکي د مقذوف د مرګ حکم

وَمَنْ قَذَفَ غَيْرَهُ او کوم څوک چي پر یو بل کس تهمت ولګوي فَمَاتَ الْمَقْذُوفُ او بیا هغه کس مړ سي چي تهمت پر لګول سوی وي بَطَلَ الْحَدُّ نو حدّ باطليږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَبْطُلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي حدّ نه باطليږي وَلَوْ مَاتَ بَعْدَمَا أُقِيمَ بَعْضُ الْحَدِّ او که چیري تر څه

حد جاري کېدلو وروسته مقذوف مړ سي بَطَلَ الْحَدُّ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز پاته حد باطليږي خلافا لَهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله بِنَاءً عَلٰى أَنَّهُ يُوْرَثُ عِنْدَهُ وَعِنْدَنَا لَا يُوْرَثُ ازموږ او د امام شافعي په مينځ کي [دا اختلاف پر دې خبره مبني دی چي د هغه په نېز په "حد قذف" کي ميراث جاري کيږي او زموږ په هغه کي ميراث نه جاري کيږي وَلَا خِلَافَ أَنَّ فِيهِ حَقَّ الشَّرْعِ وَحَقَّ الْعَبْدِ او په دې خبره کي هيڅ اختلاف نسته چي په حدّ قذف کي حقّ الشرع او حقّ العبد دواړه سته فَإِنَّهُ شُرِعَ لِدَفْعِ الْعَارِ عَنِ الْمَقْذُوفِ [حقّ العبد خو په دې وجه پکښي سته] ځکه چي دا له مقذوف څخه د عار [او عيب] دفع کولو لپاره مشروع سوی دی وَهُوَ الَّذِي يَنْتَفِعُ بِهِ عَلَى الْخُصُوصِ او دا نفع په ځانګړې توګه [فقط] مقذوف ته حاصليږي فَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ حَقُّ الْعَبْدِ نو په دې وجه سره دا حدّ حقّ العبد دی ثُمَّ إِنَّهُ شُرِعَ زَاجِرًا [او حقّ الشروع په دې وجه پکښي سته] چي دا حدّ د زاجر [سزا ورکونکي] په توګه مشروع سوی دی وَمِنْهُ سُمِّيَ حَدًّا او له همدې وجهي هغه ته حدّ اله فساد څخه منع کونکی شی] ويل کيږي وَالْمَقْصُودُ مِنْ شَرْعِ الزَّاجِرِ إِخْلَاءُ الْعَالَمِ عَنِ الْفَسَادِ او د زاجر [او سزا] د مشروع کولو مقصد دنيا له فساد څخه خالي کول دي وَهٰذَا آيَةُ حَقِّ الشَّرْعِ او دا د حقّ الشرع کېدلو علامت دی وَبِكُلِّ ذٰلِكَ تَشْهَدُ الْأَحْكَامُ او أحکام د دغه هر طرف [حقّ العبد او حقّ الشرع] په حق کي ګواهي ورکوي وَإِذَا تَعَارَضَتِ الْجِهَتَانِ او کله چي دواړه طرفونه سره متعارض سول فَالشَّافِعِيُّ مَالَ إِلَى تَغْلِيبِ حَقِّ الْعَبْدِ تَقْدِيمًا لِحَقِّ الْعَبْدِ نو د بنده د حق مخکي کولو لپاره امام شافعي رَحِمَهُ الله [په حدّ قذف کي] د حقّ العبد د غالب ګرځولو وطرف ته ميلان وکړی بِاعْتِبَارِ حَاجَتِهِ وَغِنَى الشَّرْعِ ځکه چي بنده محتاج دی او شريعت مستغني دی [يعني شريعت بنده ته هيڅ ضرورت نه لري] وَنَحْنُ صِرْنَا إِلَى تَغْلِيبِ حَقِّ الشَّرْعِ او موږ د حقّ الشرع د غالب ګرځولو وطرف ته ميلان وکړی لِأَنَّ مَا لِلْعَبْدِ مِنَ الْحَقِّ يَتَوَلَّاهُ مَوْلَاهُ ځکه چي د بنده د حق متولي [او سرپرست] د هغه مالک [يعني ربّ العالمين] دی فَيَصِيرُ حَقُّ الْعَبْدِ مَرْعِيًّا بِهِ لهذا د شريعت په حق کي به د بنده د حق عايت کيږي وَلَا كَذٰلِكَ عَكْسُهُ لېکن د دې برعکس به نه کيږي [يعني د بنده په حق کي به د شريعت د حق رعايت نه

کیږي [لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لِلْعَبْدِ فِي اسْتِيفَاءِ حُقُوقِ الشَّرْعِ إِلَّا نِيَابَةً عَنْهُ ځکه چې د حقوق الشرع په حاصلولو کې د بنده ولایت [او حق] فقط د نائب په توګه دی [یعني هغه فقط د نائب په توګه د شریعت حق حاصلوي، نه د أصل په توګه] وَهَذَا هُوَ الْأَصْلُ الْمَشْهُورُ الَّذِي يَتَخَرَّجُ عَلَيْهِ الْفُرُوعُ الْمُخْتَلَفُ فِيهَا همدا هغه مشهور أصل دی چې پر هغه باندې د مختلف فیه فروعاتو [او مسائلو] تخریج کیږي مِنْهَا: الْإِرْثُ له هغو څخه [یوه مسئله]: میراث دی إِذِ الْإِرْثُ يَجْرِي فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لَا فِي حُقُوقِ الشَّرْعِ ځکه چې میراث په حقوقُ العباد کې جاري کیږي، نه په حقوقُ الشرع کې وَمِنْهَا: الْعَفْوُ او له هغو څخه [یوه مسئله]: معافول دي فَإِنَّهُ لَا يَصِحُّ عَفْوُ الْمَقْذُوفِ عِنْدَنَا وَيَصِحُّ عِنْدَهُ نو زموږ زموږ په نیز د مقذوف لپاره [د حدّ قذف] معافول صحیح دي او د امام شافعي په نیز صحیح نه دی وَمِنْهَا: أَنَّهُ لَا يَجُوزُ الِاعْتِيَاضُ عَنْهُ وَيَجْرِي فِيهِ التَّدَاخُلُ او له هغو څخه [یوه مسئله دا ده]: چې [زموږ په نیز] د حدّ قذف عوض اخیستل جائز نه دی او په هغه کې تداخل جاري کیږي وَعِنْدَهُ لَا يَجْرِي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز [په حدّ قذف کې] تداخل نه جاري کیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْعَفْوِ مِثْلُ قَوْلِ الشَّافِعِيِّ او د معافولو په باره کې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول په څیر روایت سوی دی وَمِنْ أَصْحَابِنَا مَنْ قَالَ: إِنَّ الْغَالِبَ حَقُّ الْعَبْدِ او زموږ له أصحابو څخه ځینو [فقهاؤ] ویلي دي: چې [په حدّ قذف کې] غالب د بنده حق دی وَخَرَّجَ الْأَحْكَامَ او [هغه فقهاؤ د همدې مطابق] د أحکامو تخریج [هم] کړی ده وَالْأَوَّلُ أَظْهَرُ [لیکن] اول قول زیات ښکاره دی.

اللغات: ﴿عَار﴾ شرم، بې عزتي، پېغور. ﴿إِخْلَاء﴾ د افعال مصدر دی: خالي کول. ﴿تَغْلِيب﴾ د تفعیل مصدر دی: غالب ګرځول، غالبول. ﴿عَفْو﴾ د نصر مصدر دی: معافول (بخښل)، سزا پرېښوول. ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: حق حاصلول، اخیستل، تر لاسه کول. ﴿إِعْتِيَاض﴾ د افتعال مصدر دی: عوض اخیستل، بدل او قیمت غوښتل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که یو څوک پر بل چا د زنا تهمت ولګوي، او پر قاذف د حدّ جاري کېدلو څخه مخکې مقذوف مړ سي، یا د حدّ د ځیني حصې تر جاري کېدلو وروسته مقذوف مړ سي (مثلاً قاذف ترا اوسه شل درې وهل سوی وي او شپېته درې لا پاته وي او په دې دوران کې مقذوف مړ سي). نو په اول صورت کې زموږ په نیز ټوله حدّ باطلیږي او په دویم صورت کې پاته (ما بقی) حدّ باطلیږي، لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز نه په

اوّل صورت کي حدّ باطليږي او نه په دويم صورت کي: زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا اختلاف پر دې خبره مبني دی چي زموږ په نېز په حدِ قذف کي ميراث نه جاري کيږي (يعني وارثانو ته دا حق نسته چي د مقذوف تر مرګ وروسته د هغه د حدّ قذف مطالبه وکړي)، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په حدِ قذف کي ميراث جاري کيږي، او کله چي د هغه په نېز په حدِ قذف کي ميراث جاري کيږي، نو ښکاره خبره ده چي د مقذوف تر مرګ وروسته به د هغه وارثانو ته د حدّ د مطالبې کولو حق وي، او کله چي هغو ته دا حق ستنه نو حدّ به هم نه باطليږي، لېکن زموږ په نېز د هغه وارثانو ته دا حق نسته؛ نو ځکه به حدّ هم باطليږي.

ولا خلاف إلخ: فرمايي چي د حدّ قذف دوه طرفه دي: (۱) من وجه دا حقُ العبد دی. (۲) او من وجه حقُ الشرع (حقُ الله) دی. حقُ العبد خو ځکه دی چي له بنده څخه د عار دفع کولو لپاره دا حدّ مشروع سوی دی. او حقُ الشرع ځکه دی چي دا حدّ د زاجر (د تنبيه ورکونکي او سزا ورکونکي) په توګه مشروع سوی دی او د دې مقصود ټوله دنيا له فساد څخه خالي کول دي، نو د حدّ قذف د مقصود عام کېدل د هغه د حقُ الشرع کېدلو نښه او علامت دی، او أحکام د دې دواړو طرفونو په حق کي ګواه دي. مثلاً له ډېر وخت تېرېدلو (تقادمُ الزمان) څخه وروسته په ګواهۍ او بيّنه سره دا حدّ ثابتيږي، همدارنګه تر اقرار کولو وروسته د مُقر لپاره له دې حدّ څخه د رجوع کولو حق نسته، او دا شيان د حقُ العبد سره تعلق لري (نو معلومه سوه چي حدّ قذف من وجه حقُ العبد دی)، او د دې حدّ د حقُ الشرع کېدلو أحکام دا دي چي دا حق إمام فقط حاصلولای سي او إمام د شريعت نائب دی، همدارنګه په رقيت سره په دې حدّ کي تنصيف کيږي (معلومه سوه چي دا حدّ من وجه حقُ الشرع دی)، لنډه دا چي په دې حد کي دغه دواړه احتمالات سته، او له دې دواړو څخه امام شافعي رَحِمَهُ الله حقُ العبد ته ترجيح ورکړې ده، ځکه چي حقُ العبد پر حقُ الشرع مخکي وي او بنده محتاج وي. او موږ حقُ الشرع ته ترجيح ورکړې ده، ځکه چي د بنده او د هغه د تمامو حقوقو يعني د عار، عيب او داسي نورو مالک او متولّي د الله تعالىٰ ذات دی، لهٰذا په حقُ الشرع کي به د حقُ العبد رعايت خو کيږي لېکن په حقُ العبد کي به د حقُ الشرع رعايت نه کيږي، ځکه چي بنده د نائب جوړېدلو په توګه د شريعت حقوق حاصلوي نه د أصل جوړېدلو په توګه (يعني هغه د الله د نائب جوړېدلو په حيثيت سره د شريعت حقوق حاصلوي). نو په دې وجه موږ پر حقُ العبد باندي حقُ الشرع ته ترجيح ورکړې ده.

زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مينځ کي پر دغه نظرياتي اختلاف ډېري مسئلې متفرع دي، چي له هغوی څخه څلور مسئلې په دې عبارت کي ذکر سوي دي:

(۱)... په حدّ قذف کي به د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز وراثت جاري کيږي، ځکه چي د هغه په نېز دا حقُ العبد دی، او په حقُ العبد کي وراثت جاري کيږي، لېکن زموږ په نېز حدّ قذف حقُ الشرع دی، او په حقُ الشرع کي وراثت نه جاري کيږي، نو ځکه به زموږ په نېز په حدِ قذف کي وراثت نه جاري کيږي.

(۲)... که چیرې مقذوف وغواړي چې حدّ قذف معاف کړي، نو د شوافعو په نیز یې معافولای سي، ځکه چې دا د هغه حق دی، لیکن زموږ په نیز یې نه سي معافولای، ځکه چې دا حقُ الشرع دي، او بنده د حقُ الشرع د معافولو هیڅ حق نه لري.

(۳)... د مقذوف لپاره زموږ په نیز د حدّ قذف عوض اخیستل صحیح نه دي، ځکه چې زموږ په نیز هغه حقُ الشرع او حقُ الله دی، لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز مقذوف د حدِ قذف عوض اخیستلای سي. ځکه چې د امام شافعي په نیز دا حدّ د بنده خپل حق دی.

(۴)... زموږ په نیز به په حدّ قذف کې تداخل کیږي، یعني که یو څوک پر ډیرو خلکو تهمت ولګوي. نو زموږ په نیز به پر هغه یو حدّ جاري کیږي (لکه څرنګه چې یو سړی په یوه مجلس کې څو ځله د سجدې آیت ولوستي، نو پر هغه یوه سجده واجبیږي)، لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز به په حدِ قذف کې تداخل نه جاري کیږي او د هر قذف په بدله کې به پر قاذف حدّ جاري کیږي.

د معافولو په سلسله کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله یو روایت د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مسلک په څیر دی. او د احنافو له فقهاؤ څخه علامه صدرُ الاسلام بزدوي رَحِمَهُ الله هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په څیر حدَ قذف د بنده حق "حقُ العبد" شماري او د هغه مطابق یې د مسائلو تخریج هم کړې ده. لیکن دا د هغه ذاتي مسئله ده جماعتي نه ده. او اول قول یعني د دې حدّ "حقُ الشرع" کېدل ښکاره او څرګند دی او همدا قول زیاتره مشائخو اختیار کړی دی.

له تهمت څخه رجوع کول

وَمَنْ أَقَرَّ بِالْقَذْفِ ثُمَّ رَجَعَ او څوک چې [یو وار] د تهمت اقرار وکړي بیا [له تهمت څخه] رجوع وکړي لَمْ يُقْبَلْ رُجُوعُهُ نو د هغه رجوع به نه قبلیږي لِأَنَّ لِلْمَقْذُوفِ فِيهِ حَقًّا ځکه چې په دې اقرار کې د مقذوف حق [هم] سته فَيُكَذِّبُهُ فِي الرُّجُوعِ نو به په رجوع کولو کې به مقذوف د هغه [رجوع کونکي] تکذیب کوي بِخِلَافِ مَا هُوَ خَالِصُ حَقِّ اللهِ په خلاف له هغه شي څخه په رجوع کولو کې کوم چې خالص د الله حق وي لِأَنَّهُ لَا مُكَذِّبَ لَهُ فِيهِ ځکه چې په هغه کې د راجع هیڅ تکذیب کونکی نسته وَمَنْ قَالَ لِعَرَبِيٍّ: يَا نَبَطِيُّ! او څوک چې یو عربي ته وایي: اې نبطي! لَمْ يُحَدَّ نو پر هغه به حدّ نه جاري کیږي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّشْبِيهُ فِي الْأَخْلَاقِ أَوْ عَدَمِ الْفَصَاحَةِ ځکه چې په داسي [قول] سره په بد اخلاقۍ یا نا فصاحت کې تشبیه ورکول مرادیږي وَكَذَا إِذَا قَالَ: لَسْتَ بِعَرَبِيٍّ او همدارنګه که [ورته] و وایي: ته عربي نه یې [نو هم به پر هغه حدّ نه جاري کیږي] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه

کوم چي مور ئ اوس ا ذکر کړی وَمَنْ قَالَ لِرَجُلٍ: يَا ابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ! او که يو څوک يو سړي ته ووايي: اې د آسماني اوبو بچيه! فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ نو هغه تهمت لګونکی نه دی لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّشْبِيهُ فِي الْجُودِ وَالسَّمَاحَةِ وَالصَّفَاءِ ځکه چي په دې سره په سخاوت، ځوانمردي او صفا والي کي تشبيه ورکول مراديږي لِأَنَّ مَاءَ السَّمَاءِ لُقِّبَ بِهِ لِصَفَائِهِ وَسَخَائِهِ ځکه چي آسماني اوبه د خپل صفاوالي او سخاوت په وجه په دې صفاتو سره يادول کيږي [او د جود، سماحت او صفاء لقب ورکول کيږي] وَإِنْ نَسَبَهُ إِلَى عَمِّهِ أَوْ خَالِهِ أَوْ إِلَى زَوْجِ أُمِّهِ او که يو سړی د يو چا نسبت وکړي د هغه د اکا، يا د هغه د ماما، يا د هغه د مور د خاوند وطرف ته فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ نو دا سړی [هم] تهمت لګونکی نه دی لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْ هَؤُلَاءِ يُسَمَّى أَبًا ځکه چي په دې کسانو کي هر يوه ته پلار ويل کيږي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى: نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ [البقرة: ۱۳۳] کوم چي اکا دی نو ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي [چي يعقوب عليه السلام خپلو زامنو ته وويل چي زما تر مرګ وروسته به تاسي د چا عبادت کوئ، نو هغو وويل]: موږ به ستا د رب او ستا د پلرونو [يعني] د ابراهيم، اسماعيل او اسحاق عليهم السلام د رب عبادت کوو وَإِسْمَاعِيلُ كَانَ عَمًّا لَهُ حال دا چي حضرت اسماعيل عليه السلام د حضرت يعقوب عليه السلام اکا وو وَالثَّانِي لِقَوْلِهِ[1] عليه السلام: اَلْخَالُ أَبٌ او دويم [ماما ته د پلار ويل کېدل په دې حديث سره ثابت دي] چي نبي ﷺ فرمايلي دي: ماما د پلار [په درجه کي] وي وَالثَّالِثُ لِلتَّرْبِيَةِ او دريم [ناسکه پلار ته د پلار ويل کېدل] د تربيت کولو په وجه دي.

اللغات: ﴿يُكَذِّبُهُ﴾ د تفعيل مضارع ده: دروغجن ثابتول، دروغجن ګڼل، د يو چا د دروغجن کېدلو دعوىٰ کول، ﴿جُوْد﴾ سخا، سخاوت، ﴿سَمَاحَة﴾ ځوانمردي، فياضي، سخاوت.

تشريح: په دې عبارت کي څلور کوچنۍ مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو سړی پر يو چا تهمت ولګوي، بيا هغه له دې تهمت څخه رجوع وکړي، نو د هغه رجوع کول به معتبر نه وي؛ ځکه چي د هغه د قذف او تهمت سره د مقذوف حق يعني دفعُ العار عن نفسه متعلق سو، او دا مقذوف د هغه په حق کي مکذّب دی (او د قذف په هکله د هغه تکذيب کوي)، لهذا دا رجوع

[1] تخريج: لم أجده.

په معتبره نه وي، ها! كه چيرې دا تهمت د حقُ الله مثلاً د غلا يا د زنا په باره كې وي. نو څرنګه چې هيڅوک د
هغه مكذّب نه وي، نو ځكه په حقُ الله كې مُقر او قاذف له خپل اقرار او قذف څخه رجوع كولای سي.

﴿ يو څوک بل قوم ته منسوب كول ﴾

(٢).. كه يو څوک يو عربي ته ووايي: "اې نبطي!" (نبط د عراق يو ټيټ او كمتره قوم دی)، نو پر قائل (ويونكي) به حدّ نه جاري كيږي؛ ځكه چې په دې سره تهمت لګول مقصود نه وي. بلكې په بد اخلاقۍ يا په نا فصاحت يا جهالت كې تشبيه وركول مقصود وي. همدارنګه د لَسْتَ بِعَرَبِيٍّ په ويلو سره هم له هغه څخه د عربو د اخلاق او سخاوت نفي كول مقصود وي. عار او تهمت لګول مقصود نه وي، لهذا په دې صورتونو كې به هم پر قائل حدّ نه جاري كيږي.

(٣)... كه يو كس يو چا ته ووايي: "اې د آسماني اوبو بچيه!"، نو دا هم تهمت نه دی. ځكه چې دا په سخاوت او صفا والي كې تشبيه وركول دي چې څرنګه د آسمان اوبه بالكل صفا دي او هر كس نا كس اوبه كوي، همداسې ستا ذات هم دی.

(۴)... كه يو سړی يو چا ته ووايي "ته خپل د اكا زوی يې! يا د ماما زوی يې! يا د ناسكه پلار زوی يې". نو دا به هم تهمت نه وي، ځكه چې پر اكا، ماما او ناسكه پلار باندې هم د پلار (أب) اطلاق كيږي. پر اكا باندې د أب د اطلاق كېدلو دليل د قرآن كريم دا آيت دی: "نَعْبُدُ إِلٰهَكَ وَإِلٰهَ اٰبَائِكَ إِبْرَاهِيْمَ وَإِسْمَاعِيْلَ وَإِسْحَاقَ". په دې آيت كې حضرت اسماعيل عليه السلام ته هم أب ويل سوي دي، حالانكې حضرت اسماعيل د حضرت يعقوب اكا وو. او پر ماما باندې د أب اطلاق په دې حديث سره ثابت دی چې "الْخَالُ أَبٌ". او بچی د ناسكه پلار تر پالنې او تربيت لاندې غټيږي، نو په دې وجه ناسكه پلار ته هم أب وايي.

د قذف يو څو مبهم الفاظ

وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ: زَنَأْتَ فِي الْجَبَلِ او كوم څوک چې بل چا ته ووايي: زَنَأْتَ فى الجبل [يعني د زَنَيْتَ پر زَنَأْتَ په همزه سره ووايي] وَقَالَ: عَنَيْتُ صُعُوْدَ الْجَبَلِ او [بيا] ووايي: چې په دې سره ما "غره ته ختل" مراد كړه حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري كيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ او دا [حكم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: لَا يُحَدُّ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه به حدّ نه جاري كيږي لِأَنَّ الْمَهْمُوْزَ مِنْهُ لِلصُّعُوْدِ حَقِيْقَةً ځكه چې "زنأ" په همز سره د "ختلو" د معنی

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر فى ردّ المحتار (ج:٣، ص:١٨٥). [القول الراجح ج:١، ص:٢٥٢]

لپاره حقيقت دی قَالَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الْعَرَبِ: وَارْقِ إِلَى الْخَيْرَاتِ زِنَأْ فِي الْجَبَلِ د عربو يوې ښځې ويلي دي: غره ته د ختلو په څير ښکيو [او ښېګڼو] ته وخېږه! وَذِكْرُ الْجَبَلِ يُقَرِّرُهُ مُرَادًا او [په دې شعر كي] د "جبل" ذكر كېدل د دغه معنیٰ [ختلو] مرادېدل ثابتوي وَلَهُمَا: أَنَّهُ يُسْتَعْمَلُ فِي الْفَاحِشَةِ مَهْمُوزًا أَيْضًا او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي "زنأت" په همز سره هم د بدكارۍ لپاره استعمالیږي لِأَنَّ مِنَ الْعَرَبِ مَنْ يَهْمِزُ الْمُلَيَّنَ كَمَا يُلَيِّنُ الْمَهْمُوزَ ځکه چي ځيني عرب خفيف الف په همز سره بدلوي لكه څرنګه چې همزه په الف سره بدلوي وَحَالَةُ الْغَضَبِ وَالسِّبَابِ تُعَيِّنُ الْفَاحِشَةَ مُرَادًا او د غصې او ښکنځا حالت د بدكارۍ [زنا] مرادېدل متعين كوي بِمَنْزِلَةِ مَا إِذَا قَالَ يَا زَانِئُ أَوْ قَالَ زَنَأْتَ لكه څرنګه چي يو څوك يَا زَانِئُ يا زَنَأْتَ [مطلق] ووايي [او "جبل" ور سره ذكر نه كړي] وَذِكْرُ الْجَبَلِ إِنَّمَا يُعَيِّنُ الصُّعُودَ مُرَادًا إِذَا كَانَ مَقْرُونًا بِكَلِمَةِ عَلَى او د "الجبل" ذكر كېدل به هغه وخت د "ختلو" مراد متعينولای كله چي "الجبل" د "علیٰ" د كلمې سره متصل وای إِذْ هُوَ لِلْمُسْتَعْمَلِ فِيهِ ځكه چي همدا په دې معنیٰ كي مستعمل دی [يعني كله چي جبل د علیٰ سره متصل وي، نو په هغه وخت كي د ختلو په معنیٰ سره استعمالیږي] وَلَوْ قَالَ: زَنَأْتَ عَلَى الْجَبَلِ او كه [ورته] ووايي: زَنَأْتَ عَلَى الجَبَل قِيلَ: لَا يُحَدُّ نو يو قول دا دی: چي پر هغه به حدّ نه جاري كيږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړی وَقِيلَ: يُحَدُّ او [بل] قول دا دی: چي پر هغه به حدّ جاري كيږي لِلْمَعْنَى الَّذِي ذَكَرْنَاهُ د هغه معنیٰ په وجه كوم چي موږ ذكر كړه وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: يَا زَانِي! فَقَالَ: لَا بَلْ أَنْتَ او څوك چي بل چا ته ووايي: اې زنا كاره! نو هغه [په جواب كي ورته] ووايي: چي زه نه بلكي ته! فَإِنَّهُمَا يُحَدَّانِ نو پر دواړو به حدّ جاري كيږي لِأَنَّ مَعْنَاهُ: لَا بَلْ أَنْتَ زَانٍ ځكه چي د دې مطلب دی: چي زه نه بلكي ته زناكاره يې! إِذْ هِيَ كَلِمَةُ عَطْفٍ يُسْتَدْرَكُ بِهَا الْغَلَطُ ځكه چي "لَا بَلْ" د عطف كلمه ده چي په هغه سره اد ماقبل [د غلطۍ اصلاح كيږي فَيَصِيرُ الْخَبَرُ الْمَذْكُورُ فِي الْأَوَّلِ مَذْكُورًا فِي الثَّانِي لهذا په اوله جمله كي چي كوم خبر ذكر سوی دی هغه به په دويمه جمله كي هم مذكور ګرځي [يعني هغه خبر به په دويمه جمله كي هم وي] وَمَنْ قَالَ

لِامْرَأَتِهِ: يَا زَانِيَةُ فَقَالَتْ لَا بَلْ أَنْتَ او څوک چي خپلي ښځي ته ووايي: اې زناکاري! نو ښځه ووايي: چي زه نه بلکي ته! حُدَّتِ الْمَرْأَةُ نو پر ښځي به حدّ جاري کيږي وَلَا لِعَانَ او لعان به [واجب] نه وي لِأَنَّهُمَا قَاذِفَانِ ځکه چي دوی دواړه تهمت لګونکي دي وَقَذْفُهُ يُوجِبُ اللِّعَانَ وَقَذْفُهَا الْحَدَّ او د خاوند تهمت لګول لعان واجبوي او د ښځي تهمت لګول حدّ واجبوي وَفِي الْبِدَايَةِ بِالْحَدِّ إِبْطَالُ اللِّعَانِ او په حدّ باندي په شروع کولو سره لعان باطليږي لِأَنَّ الْمَحْدُودَ فِي الْقَذْفِ لَيْسَ بِأَهْلٍ لَهُ ځکه چي محدود في القذوف د لعان أهل نه پاتيږي وَلَا إِبْطَالَ فِي عَكْسِهِ أَصْلًا او د دې په برعکس کي لعان باطليدای نه سي فَيُحْتَالُ لِلدَّرْءِ نو د لعان ساقطولو لپاره به [هم د] حيله کيږي [چي اول به پر ښځي حدّ جاري کيږي] إِذْ اللِّعَانُ فِي مَعْنَى الْحَدِّ ځکه چي لعان [هم] د حدّ په معنیٰ سره دی.

اللغات: ﴿زَنَأْتَ﴾ د فتح ماضي ده: لوړ ځای ته ختل، یو ځای ته پنا وړل، او عرب ځيني وخت زَنَيْت هم د زَنَأْت په معنیٰ سره استعمالوي، او په دغه عبارت کي په همدې هکله تفصيلي بيان سوی دی. ﴿صُعُوْد﴾ د سمع مصدر دی: ختل، پورته کېدل، لوړېدل. ﴿اِرْقَ﴾ د سمع له باب څخه د واحد مذکر أمر حاضر صيغه ده. رَقِيَ يَرْقَىٰ رَقْيًا: ختل. ﴿مُلِيْن﴾ د لِيْن (نرموالي) څخه مشتق دی. الف ته "ملين" وايي. ﴿سَبَاب﴾ ښکنځا، ښکنځل، سپکتيا، اهانت.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوې دي:

(۱)... که یو سړی بل چا ته ووايي: زَنَأْتَ فِي الْجَبَلِ، او بيا ووايي چي په دې جمله سره زما مراد دا وو چي ته پر غره ختلي وې، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د هغه د نيت اعتبار نه کيږي او پر هغه به حدّ جاري کيږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به د هغه دا نيت معتبر وي او پر هغه به حدّ نه جاري کيږي.

د امام محمد دليل: دا دی چي د "زِنأ" لفظ چي کله په همزه سره استعمال سي، نو هغه د "ختلو" په معنیٰ کي حقيقت وي، لکه ديوې عربي ښځي په دې شعر کي چي مستعمل دی "وَارْقَ إِلَى الخيرات زنأ في الجبل" (يعني څرنګه چي انسان غره ته خيږي همداسي ته هم د نېکيو او ښېګڼو غره ته وخېږه!). دلته هم زنأ مهموز دی او تر هغه وروسته د الجبل لفظ ذکر سوی دی، دا د همدې خبري تائيد کوي چي له زنأً څخه "غره ته ختل" مراد دي، او څرنګه چي په پورتنی جمله کي هم د الجبل لفظ ذکر سوی دی. نو ځکه به هلته هم له زنأت څخه "غره ته ختل" مراد وي، نه زنا کول.

د شيخينو دليل: دا دی چي مهموز "زنأ" چي څرنګه د "ختلو" په معنیٰ سره استعماليږي همداسې د فحش او زنا کاري په معنیٰ سره هم استعماليږي، ځکه د عربو دا عادت دی چي هغوی کله نا کله غير مهموز لفظ ته همزه ورکوي او کله له مهموز لفظ څخه همزه ليري کوي. او د غضب او ښکنځا موقع د دې خبري تائيد او تعيين کوي چي له زنأت څخه فحش او زنا کاري مراد ده. لکه څرنګه چي يو څوک د جبل له ذکر څخه بغير يَا زَانِئ يا زَنَأت ووايي نو له هغه څخه هم فحش او زنا کول مرادوي. او پاته سوه د امام محمد رَحِمَهُ الله دا وينا چي د الجبل په ذکر کېدلو سره دلته زنأت د "ختلو" د معنیٰ لپاره متعين دی. نو د هغه جواب دا دی چي زنأت به دلته هغه وخت د "ختلو" لپاره متعين کېدلای کله چي پر الجبل د "عَلیٰ" کلمه داخله وای ځکه چي دا لفظ د "عَلیٰ" په کلمه سره د "ختلو" په معنیٰ کي استعماليږي. لېکن دلته خو پر هغه د "فِيْ" کلمه داخله ده. نو ځکه به دا د "ختلو" د معنیٰ لپاره نه متعين کيږي.

ولوقال إلخ: فرمايي که يو څوک بل چا ته "زَنَأْتَ عَلَى الجَبَل" ووايي، نو يو قول دا دی چي پر الجبل باندي د عَلیٰ د داخلېدلو په وجه دا جمله د "ختلو" د معنیٰ لپاره متعينه ده، نو ځکه به پر قائل حد واجب نه وي، لېکن دويم قول دا دی چي که چيري د غضب حالت وي نو په دې سره هم فحش او زنا مراديږي.

(۲)... که زيد خالد ته ووايي: اې زاني، او خالد په جواب کي ورته ووايي لَا بَلْ أَنْتَ (چي زه نه بلکي ته!)، نو پر زيد او خالد دواړو به حد جاري کيږي، ځکه چي د لَا بَلْ أَنْتَ مطلب دی لَا بَلْ أَنْتَ زَانٍ. ځکه چي لَا بَلْ د عطف کلمه ده کوم چي د ماقبل د غلطی د صحيح کولو لپاره وضع سوې ده او تر عطف وروسته که چيري خبر نه وي نو په معطوف عليه کي ذکر سوی خبر د هغه خبر ګرځول کيږي، او څرنګه چي په ماقبل کي "زاني" خبر دی، نو ځکه به دا عبارت لَا بَلْ أَنْتَ زَانِي وي او زيد او خالد به دواړه قاذفين وي او پر دواړو به حد جاري کيږي.

(۳)... که يو سړي خپلي ښځي ته ووايي: اې زناکاري! او ښځه په جواب کي ورته ووايي: زه نه بلکي ته!، يعني بلکي ته زناکاره يې، نو پر ښځي به حد جاري کيږي لېکن پر سړي به لعان نه واجبيږي، ځکه دلته که څه هم خاوند او ښځه دواړه قاذفين دي. او د سړي قذف د لعان موجب دی (يعني د سړي تهمت لګول پر هغه لعان واجبوي)، او د ښځي قذف د حد موجِب دی، لېکن کله چي پر ښځي حد جاري کړی سي نو هغه د لعان أهل نه پاتيږي (يعني تر حد جاري کېدلو وروسته ښځه د دې أهل نه پاتيږي چي د هغې په وجه پر خاوند لعان واجب کړی سي)، نو د لعان ختمولو لپاره به همدا حيله کيږي چي اول پر ښځي حد جاري کړی سي چي ښځه محدود فی القذف وګرځي، او لعان ساقط سي.

د خاوند او ښځي يوه او بل ته د زنا کولو نسبت کول (د پورتني مسئلې نور وضاحت)

وَلَوْقَالَتْ: زَنَيْتُ بِكَ او که ښځه [خاوند ته په جواب کي] ووايي: ما [خو فقط] ستا سره زنا کړې ده فَلَاحَدَّ وَلَالِعَانَ نو نه حدّ شته او نه لعان شته مَعْنَاهُ: قَالَتْ بَعْدَمَا قَالَ لَهَا يَا زَانِيَةُ د دې مطلب دا دی: چي د خاوند تر يَا زَانِيَة! ويلو وروسته ښځه هغه دا [جمله] ووايي لِوُقُوعِ الشَّكِّ فِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ځکه چي له دوی څخه په هر يوه کي شک واقع سو [يعني د دواړو په خبره کي شک پيدا سو] لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهَا أَرَادَتِ الزِّنَا قَبْلَ النِّكَاحِ ځکه کېدای سي چي ښځي تر نکاح مخکي زنا مراد کړې وي فَيَجِبُ الْحَدُّ دُونَ اللِّعَانِ نو [فقط] حدّ به واجبيږي، نه لعان لِتَصْدِيقِهَا إِيَّاهُ وَانْعِدَامِهِ مِنْهُ ځکه ښځي [خو] د خاوند تصديق وکړی [لېکن] د خاوند له طرفه [د هغې تصديق] نه وسو وَيَحْتَمِلُ أَنَّهَا زِنَايَ مَاكَانَ مَعَكَ بَعْدَ النِّكَاحِ او دا هم کېدا سي چي د ښځي مراد دا وي چي زما زنا [خو نقط] هغه [وطي] دي کوم چي تر نکاح وروسته ستا سره سوي دي لِأَنِّي مَا مَكَّنْتُ أَحَدًا غَيْرَكَ ځکه چي ما ستا څخه بغير [بل] هيچا ته [پر خپل ځان] قدرت ورکړی نه دی وَهُوَ الْمُرَادُ فِي مِثْلِ هَذِهِ الْحَالَةِ او په داسي حالت کي همدغه احتمال مراديږي وَعَلَى هَذَا الِاعْتِبَارِ يَجِبُ اللِّعَانُ دُونَ الْحَدِّ عَلَى الْمَرْأَةِ او د دې احتمال په معتبر ګرځولو سره به [پر خاوند] لعان واجبيږي او پر ښځي به حدّ نه [واجبيږي] لِوُجُودِ الْقَذْفِ مِنْهُ وَعَدَمِهِ مِنْهَا ځکه چي قذف د خاوند له طرفه موجود دی او د ښځي له طرفه نسته فَجَاءَ مَاقُلْنَا نو هغه خبره سوه کوم چي موږ وويل وَمَنْ أَقَرَّ بِوَلَدٍ ثُمَّ نَفَاهُ او که خاوند ديو بچي اقرار وکړي [او] بيا د هغه نفي وکړي فَإِنَّهُ يُلَاعِنُ نو هغه به لعان کوي [يعني پر هغه به لعان واجبيږي] لِأَنَّ النَّسَبَ لَزِمَهُ بِإِقْرَارِهِ ځکه چي د هغه په اقرار سره نسب د هغه سره لازم سو وَبِالنَّفْيِ بَعْدَهُ صَارَ قَاذِفًا او تر اقرار وروسته په نفي کولو سره هغه تهمت لګونکی وګرځېدی فَيُلَاعِنُ نو ځکه به لعان کوي وَإِنْ نَفَاهُ ثُمَّ أَقَرَّ بِهِ او که د بچي نفي وکړي بيا د هغه اقرار وکړي حُدَّ نو حدّ به پر جاري کيږي لِأَنَّهُ لَمَّا أَكْذَبَ نَفْسَهُ ځکه کله چي هغه خپل ځان دروغجن کړی بَطَلَ اللِّعَانُ نو لعان باطل سو لِأَنَّهُ حَدٌّ ضَرُورِيٌّ صُيِّرَ إِلَيْهِ ضَرُورَةَ التَّكَاذُبِ ځکه چي لعان پر ضرورت مبني حدّ دی

چي د تکاذب د ضرورت په وجه د هغه وطرف ته رجوع كيږي [يعني لعان خو په هغه وخت كي كيږي كله چي خاوند او ښځه يو د بل تكذيب وكړي او يوه او بل ته دروا غجن ووايي] وَالْأَصْلُ فِيهِ حَدُّ الْقَذْفِ او أصل [خو] په دې كي حدّ قذف دى فَإِذَا بَطَلَ التَّكَاذُبُ لهذا كله چي تكاذب باطل سو يُصَارُ إِلَى الْأَصْلِ نو دِ أصل وطرف ته به رجوع كيږي وَالْوَلَدُ وَلَدُهُ فِي الْوَجْهَيْنِ او بچى به په دواړو صورتونو كي د پلار [خاوند] بچى وي. لِإِقْرَارِهِ بِهِ سَابِقًا أَوْ لَاحِقًا ځكه چي هغه د بچي اقرار كړى دى [په اول صورت كي] تر نفي مخكي يا [په دويم صورت كي] تر نفي وروسته وَاللِّعَانُ يَصِحُّ بِدُونِ قَطْعِ النَّسَبِ او لعان [خو] له نسب ختمولو څخه بغير هم صحيح كيږي كَمَا يَصِحُّ بِدُونِ الْوَلَدِ لكه څرنګه چي له بچي څخه بغير صحيح كيږي وَإِنْ قَالَ: لَيْسَ بِابْنِي وَلَا بِابْنِكِ او كه [يو شوك خپلي ښځي ته] ووايي: چي دا نه زما زوى دى او نه ستا زوى دى فَلَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ نو نه حدّ سته او نه لعان سته لِأَنَّهُ أَنْكَرَ الْوِلَادَةَ ځكه چي هغه [د بچي] د پيداكېدلو انكار وكړى وَبِهِ لَا يَصِيرُ قَاذِفًا او په دې انكار سره هغه تهمت لګونكى نه ګرځي وَمَنْ قَذَفَ امْرَأَةً وَمَعَهَا أَوْلَادٌ لَمْ يُعْرَفْ لَهُمْ أَبٌ او كه شوك پر داسي ښځي تهمت ولګوي چي د هغې سره يو څو بچيان وي [لېكن] د هغو پلار نامعلوم وي أَوْ قَذَفَ الْمُلَاعَنَةَ بِوَلَدٍ يا يو شوك پر داسي ښځي تهمت ولګوي چي هغي د خپل خاوند سره د بچي هكله لعان كړى وى وَالْوَلَدُ حَيٌّ او بچى ژوندى وي أَوْ قَذَفَهَا بَعْدَ مَوْتِ الْوَلَدِ يا د بچي تر مرګ وروسته پر هغي تهمت ولګوي فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ نو پر هغه به حدّ [واجب] نه وي لِقِيَامِ أَمَارَةِ الزِّنَا مِنْهَا ځكه چي د ښځي له طرفه د زنا علامت موجود دى وَهِيَ وِلَادَةُ وَلَدٍ لَا أَبَ لَهُ او هغه د داسي بچي ولادت دى چي د هغه پلار نسته فَفَاتَتِ الْعِفَّةُ نَظَرًا إِلَيْهَا نو دغه علامت په كتلو سره [د ښځي] پاكوالى فوت سو وَهِيَ شَرْطُ الْإِحْصَانِ او همدا پاكوالى د إحصان شرط دى الهذا كله چي عفت پاته نه سو. نو هغه محصنه نه سوه. نو ځكه به پر هغه حدّ واجب نه وي] وَلَوْ قَذَفَ امْرَأَةً لَاعَنَتْ بِغَيْرِ وَلَدٍ او كه يو شوك پر داسي ښځي تهمت ولګوي چي هغې بغير له بچي څخه لعان كړى وى فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر قاذف به حدّ [واجب] وای لِانْعِدَامِ أَمَارَةِ الزِّنَا ځكه چي [د ښځي له طرفه] د زنا علامت نسته.

اللغات: ﴿نَفَاهُ﴾ د ضرب ماضي ده: نفي کول. يو بچی له خپل نسب څخه نفي کول (چي دا زما بچی نه دی). ﴿أَمَارَةٌ﴾ علامت (علامه). نښه. نښاني.

تشريح: **مسئله**: دا ده که چيري خاوند خپلي ښځي ته يَا زَانِيَةَ ووايي. او په جواب کي ښځه ورته ووايي: زَنَيْتُ بِکَ. نو په دې صورت کي نه حدّ واجبيږي او نه لعان. ځکه چي د ښځي په دې قول کي دوه احتماله سته: (١)... اول احتمال دا دی چي ښځي به په خپل قول سره قبل النکاح زنا مراد کړې وي. په دې صورت کي به هغه د خاوند تصديق کونکې وي. نو ځکه به له خاوند څخه لعان ساقطيږي او پر ښځي به حدّ واجبيږي. ځکه چي خاوند د هغې تصديق نه دي کړی. (٢)... دويم احتمال دا دی چي ښځي به په خپل قول سره له هغه وطي څخه زنا مراد کړې وي کوم چي هغې تر نکاح وروسته د خاوند سره کړې وي. او په داسي حالت کي چي خاوند ښځي ته ښکنځل کوي يا پر هغې تهمت لګوي نو همدغه معنیٰ مراديږي. نو د دې معنیٰ په اعتبار سره به پر خاوند لعان واجب وي. ځکه چي د خاوند له طرفه قذف او تهمت موجود سو او د ښځي له طرفه قذف نسته. او څرنګه چي دلته له دې دواړو احتمالونو څخه يو احتمال هم راجح نه دی. نو ځکه د لعان او حدّ په واجبېدلو کي شک او شبهه پيدا سوه. او د شبهي په وجه نه حدّ واجبيږي او نه لعان.

ومن أقرّ بولد إلخ: مسئله دا ده که يو سړی د خپل بچي د نسب اقرار وکړي بيا د هغه نفي وکړي نو هغه به لعان کوي. ځکه چي د هغه په اقرار کولو سره د دغه بچي نسب د هغه سره ثابت سو. او تر اقرار وروسته په نفي کولو سره دا سړی د بچي پر مور د زنا تهمت لګونکی وګرځېدی. او خاوند که چيري پر ښځه د زنا تهمت ولګوي نو پر هغه لعان واجبيږي. نو ځکه به دلته خاوند لعان کوي. او که صورت داوي چي اول خاوند د بچي نفي وکړي بيا اقرار وکړي نو پر هغه به حدّ جاري کيږي. لعان به نه واجبيږي. ځکه چي تر نفي وروسته د خاوند په اقرار سره د خاوند تکذيب وسو او د همدغه تکذيب لپاره لعان واجبيږي. نو کله چي تر لعان مخکي د لعان مقصد حاصل سو نو لعان به باطليږي او د قذف أصل سزا يعني حدّ به بيرته راګرځي او حدّ به پر هغه واجبيږي.

او په دواړو صورتونو کي به بچی د خاوند وي (برابره ده هغه که تر اقرار وروسته نفي کړي وي يا يې تر نفي وروسته اقرار کړی وي)، ځکه چي په هر صورت کي د هغه له طرفه اقرار موجود دی. او د بچي نفي کول د لعان له صحّت څخه مانع نه دي، ځکه چي د نسب له قطع کولو څخه بغير هم لعان صحيح کيږي لکه څرنګه چي له بچي څخه بغير (بدون الولد) هم لعان صحيح دی او کله چي له بچي څخه بغير لعان صحيح دی. نو د نفي په صورت کي به هم لعان صحيح کيږي.

که یو سړی د یو بچي په هکله خپلې ښځې ته ووايي چې دا نه زما بچی دی او نه ستا بچی دی. نو ځرنګه چې دا د ولادت نفي دي، قذف نه دی، نو ځکه به هيڅ شی هم نه واجبيږي (نه حدّ او نه لعان). همدارنګه که د یوې ښځې سره یو څو بچيان وي لېکن د هغو د پلار نوم او نښان معلوم نه وي. او بيا پر هغو یو څوک تهمت ولګوي، یا پر یوې داسې ښځې یو څوک تهمت ولګوي چې هغې مخکې د خپل بچي په هکله د خاوند سره لعان کړی وي او د هغې بچی ژوندی وي، یا د بچي تر مرګ وروسته یو څوک پر دغه مُلاعنه ښځه باندې تهمت ولګوي، نو په دې صورتونو کې به پر قاذف حدّ نه واجبيږي؛ ځکه چې د دې ښځې په حق کې د زنا علامه (نښه) موجود ده، يعني د هغې سره د بې پلاره بچي پيدا کېدل او موجودېدل د هغې په حق کې د زنا سبب دی (مطلب دا چې هغې سره بچی موجود دی لېکن نسب یې د یو چا سره ثابت نه دی، نو دا د زنا علامه او سبب دی)، نو د همدې سبب په وجه د هغې عفت او پاک لمنې فوت سوه، حالانکې د إحصان لپاره عفت شرط دی. لهذا که چېرې بيا هم مونږ دا قذف ومنو، نو هم به د دې مقذوفه ښځې د غیر محصنوالي په وجه پر قاذف حدّ نه جاري کيږي. د دې په خلاف که یو څوک پر داسې ښځې تهمت ولګوي چې هغې له بچي ځخه بغیر له خپل خاوند ځخه لعان کړی وي، نو پر قاذف به حدّ جاري کيږي؛ ځکه چې د دې ښځې په حق کې د زنا علامه يعني بې پلاره بچی موجود نه دی، نو دلته قاذف پر محصنه ښځه باندې تهمت لګونکی دی، نو ځکه به پر هغه حدّ جاري کيږي.

حرام وطي کونکي ته "زاني" ويل

قَالَ: وَمَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا فِي غَيْرِ مِلْكِهِ فرمايي: او څوک چې د بل چا په ملکيت کې نا روا وطي وکړي لَمْ يُحَدَّ قَاذِفُهُ نو د هغه پر تهمت لګونکي به حدّ نه جاري کيږي لِفَوَاتِ الْعِفَّةِ ځکه چې عفت [پاکوالی] فوت دی وَهِيَ شَرْطُ الْإِحْصَانِ حال دا چې عفت د إحصان شرط دی. وَلِأَنَّ الْقَاذِفَ صَادِقٌ او ځکه چې تهمت لګونکی رېښتونی دی وَالْأَصْلُ فِيهِ: أَنَّ مَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا لِعَيْنِهِ لَا يَجِبُ الْحَدُّ بِقَذْفِهِ او په دې سلسله کې أصل [قاعده] دا ده: چې څوک داسې وطي وکړي کوم چې حرام لعينه وي نو پر هغه د تهمت په لګولو سره به حدّ نه واجبيږي ايعني څوک چې پر هغه تهمت ولګوي، پر هغه به حدّ نه جاري کيږي] لِأَنَّ الزِّنَا هُوَ الْوَطْءُ الْمُحَرَّمُ لِعَيْنِهِ ځکه چې زنا هغه وطي ته وايي کوم چې حرام لعينه وي وَإِنْ كَانَ مُحَرَّمًا لِغَيْرِهِ او که وطي حرام لغيره وي يُحَدُّ نو د هغه پر قاذف به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِزِنًا ځکه چې دا زنا نه ده فَالْوَطْءُ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ أَوْ مِنْ وَجْهٍ

حَرَامٌ لِعَيْنِهِ نو هغه وطي کوم چي په هر اعتبار سره يا په يوه اعتبار سره د بل چا په ملکيت کي وي. هغه حرام لعينهٖ دي وَكَذَا الْوَطْءُ فِي الْمِلْكِ وَالْحُرْمَةُ مُؤَبَّدَةٌ همدارنګه هغه وطي اهم حرام لعينهٖ دي ا کوم چي په اخپل ا ملکيت کي وي ليکن حُرمت مؤبد وي ايعني د همېشه لپاره وطي حرام وي ا فَإِنْ كَانَتِ الْحُرْمَةُ مُؤَقَّتَةً ليکن که مؤقت حرمت وي فَالْحُرْمَةُ لِغَيْرِهِ نو اد ا حرمت لغيرهٖ دی وَأَبُوحَنِيفَةَ يَشْتَرِطُ أَنْ تَكُونَ الْحُرْمَةُ الْمُؤَبَّدَةُ ثَابِتَةً بِالْإِجْمَاعِ أَوْ بِالْحَدِيثِ الْمَشْهُورِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله دا شرط لګولی دی چي حرمتِ مؤبده به بالاتفاق ثابت وي يا به په حديثِ مشهور سره ثابت وي لِتَكُونَ ثَابِتَةً مِنْ غَيْرِ تَرَدُّدٍ د دې لپاره چي له څه شک څخه بغير حرمت ثابت سي بَيَانُهُ: أَنَّ مَنْ قَذَفَ رَجُلًا وَطِئَ جَارِيَةً مُشْتَرَكَةً بَيْنَهُ وَبَيْنَ آخَرَ د دې وضاحت دا دی: چي که يو څوک پر هغه سړي تهمت ولګوي چي هغه د داسي مينځي سره وطي کړي وي کوم چي د هغه او بل کس تر مينځ مشترکه وي فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ نو پر هغه به حدّ اواجب ا نه وي لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي مِن وجه ملکيت نسته وَكَذَا إِذَا قَذَفَ امْرَأَةً زَنَتْ فِي نَصْرَانِيَّتِهَا همدارنګه که ايو څوک ا پر داسي ښځي تهمت ولګوي چي هغې د خپل نصرانيت په زمانه کي زنا کړې وي انو پر هغه به هم حدّ نه جاري کيږي ا لِتَحَقُّقِ الزِّنَا مِنْهَا شَرْعًا ځکه چي له دغه ښځي څخه شرعاً زنا ثابته ده لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ ځکه چي ملکيت نسته ايعني ځکه چي دا ښځه د زاني په ملکيت کي نه وه ا وَلِهَذَا وَجَبَ عَلَيْهَا الْحَدُّ همدا وجه ده چي پر هغې ا د زنا ا حدّ واجب‌ای سي.

اللغات: ﴿عِفَّةٌ﴾ پاک لمني، پاک لمنوالی (پاکوالی)، له زنا او ناروا وطي څخه ځان ساتل. ﴿مُؤَبَّدَةٌ﴾ أبدي، همېشنی. د همېشه لپاره ثابت شی. ﴿مُؤَقَّتَةٌ﴾ مؤقت شی. تر يو معلوم او ټاکلي وخت پوري ثابت شی. ﴿حَرَام لِعَيْنِهِ﴾ (هغه وطي کوم چي د خپل ذات په وجه ناروا او حرام وي). کومه ښځه يا مينځه چي په ذاتي توګه د سړي لپاره حرامه وي (مثلاً خپله قريبه او داسي نور)، نو د هغې سره وطي کول حرام لعينهٖ دي، ځکه چي د هغې د عين او ذات په وجه وطي ور سره حرام دي، او داسي حُرمت ته حُرمت لعينهٖ وايي. ﴿حَرَام لِغَيْرِهِ﴾ (هغه وطي کوم چي د بل عارض په وجه حرام وي)، که په ذاتي توګه ښځه يا مينځه د سړي په ملکيت کي وي، ليکن د حيض په وجه، يا د مجوسيت په وجه، يا د مکاتبوالي په وجه يا په داسي بله وجه د هغې سره وطي کول ناروا او ممنوع وي، نو داسي وطي ته حرام لغيرهٖ وايي، ځکه چي د ذات په اعتبار سره خو دا وطي روا دي، ليکن د يو بل عارض په وجه ناروا دي، او داسي حُرمت ته حُرمت لغيرهٖ وايي.

تشریح : مسئله : دا ده که یو سړی د بل چا په ملکیت کې حرامه جماع او وطې وکړي. برابره ده دا حُرمت که من کُلِ وجهٍ وي لکه د پردۍ (أجنبیه) ښځې سره وطې کول یا فقط من وجه وي لکه د مشترکه مینځې سره وطې کول، نو که یو شوک پر داسې واطئ د زنا تهمت ولګوي، نو پر قاذف به حدّ نه جاري کېږي، ځکه چې په مقذوف کې عفّت (پاک لمنې) نسته. حال دا چې د مقذوف د محصنوالي لپاره عفت شرط دی، او بل دا چې هغه ناروا (حرام) وطې کړې دي، نو ځکه قاذف په خپل قول کې رښتونی هم دی او په رښتوني قذف کې حدّ نه جاري کېږي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په دې سلسله کې یوه قاعده کلیه بیانوي فرمایي چې پر حرام وطې کونکي تهمت لګول د حدّ مُوجِب نه دي؛ ځکه چې حرام وطې صریحه زنا ده او حرام لعینهٖ ده. لېکن که وطې حرام لعینهٖ نه وي بلکې حرام لغیرهٖ وي لکه د خپلې حائضه ښځې یا نفاسه ښځې سره وطې کول یا د خپلې مجوسې یا مکاتبې مینځې سره وطې کول، نو پر داسې واطئ به تهمت لګول د حدّ موجِب وي. د حرمتِ مؤبده لپاره امام صاحب رَحِمَهُ الله دا شرط لګولی دی چې هغه به په إجماع یا حدیثِ مشهور سره ثابت وي لکه څرنګه چې د خپل پلار د موطوئه ښځې سره د ملک نکاح یا ملکِ یمین په ذریعه وطې کول بالإجماع حرام دي یا لکه د داسې منکوحه ښځې سره وطې کول چې له ګواهانو څخه بغیر نکاح ور سره شوې وي د دې د دې حدیث لَا نِكَاحَ إِلَّا بِالشُّهُوْدِ په وجه حرام دي. اوس که چیرې حُرمت په دغه دوو وجهو (إجماع او حدیثِ مشهور) سره ثابت وي، نو هغه به په یقیني او قطعي توګه ثابت وي او د حدّ موجِب به وي.

وکذا إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که نصراني ښځې تر اسلام راوړلو مخکې زنا کړې وي، بیا تر اسلام راوړلو وروسته یو شوک پر هغې د زنا تهمت ولګوي، نو پر قاذف به حدّ نه جاري کېږي؛ ځکه له دې ښځې څخه شرعاً زنا ثابته ده، او هغې حقیقتاً زنا کړې ده. شرعاً ځکه ثابته ده چې که دا نصراني ښځه په دارُ الاسلام کې وای او پر هغې زنا ثابته شوې وای، نو پر هغې به حدّ واجبېدای، نو ځکه به د هغې پر تهمت لګونکي حدّ قذف نه جاري کېږي.

له مخکنۍ مسئلې څخه یو څو مستثنیٰ شوې مسئلې

وَلَوْقَذَفَ رَجُلًا أَتَىٰ أَمَتَهُ وَهِيَ مَجُوسِيَّةٌ أَوْ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ أَوْ مُكَاتَبَةً لَهُ او که یو شوک [پر داسې سړي تهمت ولګوي چې هغه د خپلې مجوسي مینځې سره وطې کړې وي یا یې د خپلې حائضه ښځې یا مکاتبه مینځې سره وطې کړې وي فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر هغه به حدّ [واجب] وي لِأَنَّ الْحُرْمَةَ مَعَ قِيَامِ الْمِلْكِ وَهِيَ مُؤَقَّتَةٌ ځکه چې د ملکیت موجودېدلو باوجود چې کومې وطې حرام وي هغه په وقتي توګه حرام وي فَكَانَتِ الْحُرْمَةُ لِغَيْرِهٖ نو ځکه به دا حرمت لغیرهٖ وي فَلَمْ يَكُنْ زِنًا لهذا دا به زنا

نه وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁: أَنَّ وَطْءَ الْمُكَاتَبَةِ يُسْقِطُ الْإِحْصَانَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى: چي د مكاتبي مينځي سره وطي كول إحصان ساقطوي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دى لِأَنَّ الْمِلْكَ زَائِلٌ فِي حَقِّ الْوَطْءِ ځكه چي [په مكاتبه مينځه كي] د وطي په حق كي [د مالك] ملكيت ختم سوى دى وَلِهَذَا يَلْزَمُهُ الْعُقْرُ بِالْوَطْءِ همدا وجه ده چي د وطي په وجه پر واطئ [مالك] باندي عُقر لازميږي وَنَحْنُ نَقُولُ: مِلْكُ الذَّاتِ بَاقٍ وَالْحُرْمَةُ لِغَيْرِهِ إِذْ هِيَ مُؤَقَّتَةٌ او موږ وايو: چي د ذات ملكيت باقي دى او [د هغه] حرمت لغيره دى، ځكه چي دا حرمت مؤقت دى وَلَوْ قَذَفَ رَجُلًا وَطِئَ أَمَتَهُ وَهِيَ أُخْتُهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ او كه [يو څوك] پر داسي سړي تهمت ولګوي چي هغه د خپل داسي مينځي سره وطي وكړي چي هغه د ده رضاع خوري وي لَا يُحَدُّ نو پر قاذف به حدّ نه جاري كيږي لِأَنَّ الْحُرْمَةَ مُؤَبَّدَةٌ ځكه چي [د هغې] حرمت أبدي دى [يعني د رضاعي خور سره د همېشه لپاره نكاح حرامه ده] وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح دي وَلَوْ قَذَفَ مُكَاتَبًا مَاتَ وَتَرَكَ وَفَاءً او كه [يو څوك] پر يو مكاتب غلام باندي تهمت ولګوي [او] هغه مړ سي او د بدل كتابت په اندازه مال پريږدي [يعني مالك چي دا غلام د څومره مال په عوض كي مكاتب جوړ كړى وي. هغومره مال د ده سره موجود وي] لَا حَدَّ عَلَيْهِ نو پر قاذف به حدّ [واجب] نه وي لِتَمَكُّنِ الشُّبْهَةِ فِي الْحُرِّيَّةِ لِمَكَانِ اخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ ځكه چي د مكاتب په آزادوالي كي د صحابه وو د اختلاف په وجه شبهه سته وَلَوْ قَذَفَ مَجُوسِيًّا تَزَوَّجَ بِأُمِّهِ ثُمَّ أَسْلَمَ او كه يو څوك پر داسي مجوسي باندي تهمت ولګوي چي هغه د خپلي مور سره واده كړي وي بيا هغه اسلام راوړي يُحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به پر هغه حدّ جاري كيږي وَقَالَا: لَا حَدَّ عَلَيْهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر هغه به حدّ [واجب] نه وي. وَهَذَا بِنَاءٌ عَلَى أَنَّ تَزَوُّجَ الْمَجُوسِيِّ بِالْمَحَارِمِ لَهُ حُكْمُ الصِّحَّةِ فِيمَا بَيْنَهُمْ عِنْدَهُ او دا اختلاف پر دې خبره مبني دى چي د خپلو محارمو سره د مجوسي نكاح كولو لره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د صحيح والي حكم حاصل دى خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله [يعني د صاحبينو

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:۳، ص:۱۹۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۵۵]

په نېز د خپلو محارمو سره د مجوسي نکاح کول صحيح نه دي [وَقَدْ مَرَّ فِي النِّكَاحِ او په کتاب النکاح کي [د دې بحث] تېر سو وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ او که يو حربي کافر په أمان زموږ دار الاسلام ته راسي فَقَذَفَ مُسْلِمًا او پر يو مسلمان تهمت ولګوي حُدَّ نو پر هغه به حدّ جاري کيږي لِأَنَّ فِيهِ حَقَّ الْعَبْدِ ځکه چي په "حدّ قذف" کي د بنده حق سته وَقَدْ الْتَزَمَ إِيفَاءَ حُقُوقِ الْعِبَادِ او [په أمان راتلونکي] حربي د حقوقُ العباد د پوره کولو التزام کړی دی وَلِأَنَّهُ طَمِعَ فِي أَنْ لَا يُؤْذَى او ځکه چي دغه حربي دا اُميد [او خواهش] کړی دی چي ده ته دې ضرر نه رسول کيږي فَيَكُونُ مُلْتَزِمًا أَنْ لَا يُؤْذِيَ نو هغه به د دې خبري التزام کونکی وي چي هغه به په خپله [هم] چا ته ضرر نه رسوي وَمُوجَبُ أَذَاهُ الْحَدُّ [کنې] د هغه د ضرر رسولو سزا به "حدّ قذف" وي [يعني که د ضرر ارتکاب وکړي، نو د هغه سزا ته به هم ځان نيسي چي هغه حدّ قذف دی]

اللغات: ﴿عُقر﴾ د ناروا وطي جرمانه (د هغه ناروا وطي عوض او جرمانه چي په هغه سره حدّ نه واجبيږي)، ﴿لَا يُؤْذَى﴾ د افعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: ضرر او تکليف رسول، تکليف ورکول. ﴿مُوْجَب﴾ د افعال اسمِ مفعول دی: واجب کړی سوی شی: مراد ځني سزا او حدّ دی (ځکه چي هغه د جرم کولو په وجه واجبيږي).

تشريح: د قذف او حدّ قذف په هکله په دې عبارت کي پنځه مسئلې ذکر دي. او دا مسئلې په حقيقت کي د مخکني عبارت د حرام لعينهٖ او حرام لغيرهٖ د مثالونو سره تعلق لري.

(۱)... که يو سړی د خپلي مجوسي مينځي يا د مکاتبي مينځي سره وطي وکړي يا د خپلي حائضه ښځي سره وطي وکړي او بيا يو څوک پر هغه د زنا تهمت ولګوي، نو پر قاذف به حدّ واجبيږي: ځکه چي په دغه صورتونو کي که څه هم وطي حرام دي، لېکن په موطوئه کي د واطئ ملکيت موجود دی، نو دا به حرمت لغيرهٖ وي او د واطئ وطي به زنا نه وي، نو ځکه به قاذف په خپل تهمت کي کاذب او دروغجن وي او د هغه قذب به د حدّ موجب وي. له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي د مکاتبه مينځي سره د وطي کولو په وجه إحصان ختميږي. ځکه چي په مکاتبه مينځه کي د مالک ملکيت ختم سوی دی، همدا وجه ده چي د مکاتبه مينځي سره د وطي کولو په وجه پر مالک عُقر واجبيږي که چيري په هغې کي د مالک ملکيت پاته واې نو پر مالک به هيڅ عُقر نه واجبېدای. لهذا د مکاتبه مينځي سره وطي کول به د زنا په څير وي، او پر قاذف به حدّ قذف نه واجبيږي. لېکن زموږ له

طرفه هغه ته دا جواب ورکول سوی دی چې مالک لره د مکاتبې مینځې په ذات کې ملکیت حاصل دی. او د مالک په حق کې د وطې حرمت "مؤقته" دی "مؤبده" نه دی ځکه چې دا حرمت لغیره دی. او په مؤقته حرمت سره زنا نه ثابتیږي. نو ځکه به پر قاذف حدّ واجبیږي.

(۲)... که یو سړی د داسې مینځې سره وطې وکړي چې هغه د ده رضاعي خور وي. نو د ده پر قاذف به حدّ نه واجبیږي. ځکه چې د رضاعي خور حُرمت "حُرمتِ مؤبده" دی او د هغې سره وطې کول زنا ده. لهذا قاذف په خپل قذف کې ریښتونی دی.

(۳)... که یو سړی پر مکاتب غلام د زنا تهمت ولګوي او بیا مکاتب مړ سي او د بدل کتابت د اداء کولو په اندازه مال پریږدي. نو د هغه پر قاذف به حدّ نه واجبیږي: ځکه چې د صحابه وو په مینځ کې د مکاتب په حُریّت کې اختلاف دی. حضرت علي او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایي چې دا مکاتب د آزادوالي په حالت کې مړ کیږي (یعني د ده مرګ به د آزادوالي په حالت کې شمارل کیږي). لیکن زید بن ثابت رضي الله عنه فرمایي چې هغه د غلاموالي په حالت کې مړ کیږي (او هغه به غلام شمارل کیږي). نو دغه اختلاف د هغه د قاذف په حدّ کې شبهه کړه. او حدود په شبهې سره ساقطیږي.

(۴)... که یو سړی پر داسې مجوسي د زنا تهمت ولګوي چې هغه د مجوسیت په زمانه کې د خپلې مور سره نکاح کړې وي او د هغې سره یې وطې کړې وي، بیا اسلام راوړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به پر قاذف حدّ جاري کیږي. لیکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به پر هغه حدّ نه جاري کیږي. ځکه چې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د خپلو محارمو سره د مجوسیانو نکاح صحیح نه ده. نو د واطئ فعل به زنا وي او قاذف به په خپل قذف کې ریښتونی وي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د محارمو سره د مجوسیانو نکاح صحیح ده. نو د واطئ وطې به زنا نه وي او قاذف به په خپل قذف کې درواغجن وي فَيُحَدّ.

(۵)... که یو حربي أمان واخلي او دارُ الاسلام ته راسي، او بیا په دارُ الاسلام کې پر یو مسلمان باندې تهمت ولګوي. نو پر هغه به حدّ جاري کیږي: ځکه چې حدّ قذف د بنده حق (حقُ العبد) دی. او حربي مستأمن د حقوقُ العباد د رعایت کولو عهد او پیمان کوي (لکه مخکې چې په دې هکله بیان سو). لهذا د دې عهد په ماتولو سره به هغه ته سزا ورکول کیږي. دویم دلیل دا دی چې حربي په أمان اخیستلو سره دا طمع وکړه او دا خواهش یې ښکاره کړی چې ما ته دې څوک تکلیف نه رسوي. نو د هغه دا خواهش به هغه وخت پوره کیږي کله چې هغه نه بل چا ته تکلیف ورسوي او نه یو داسې حرکت وکړي چې په هغه حرکت سره بل چا ته تکلیف رسیږي.

د محدود في القذف ګواهي ساقطېدل

وَإِذَا حُدَّ الْمُسْلِمُ فِي قَذْفٍ او که د تهمت لګولو په وجه پر يو مسلمان باندي حدّ جاري کړی سي سَقَطَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ تَابَ نو د هغه ګواهي ساقطيږي که څه هم هغه توبه وکړي [يعني د محدود في القذف مسلمان ګواهي به نه قبليږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُقْبَلُ إِذَا تَابَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه ګواهي به قبليږي کله چي هغه توبه وکړي وَهِيَ تُعْرَفُ فِي الشَّهَادَاتِ او دا [مسئله] به په کتابُ الشهادات کي [تاسي ته] معلومه سي وَإِذَا حُدَّ الْكَافِرُ فِي قَذْفٍ او که د تهمت لګولو په وجه پر يو کافر باندي حدّ جاري کړی سي لَمْ تَجُزْ شَهَادَتُهُ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ نو د ذميانو په خلاف به د هغه ګواهي نه قبليږي لِأَنَّ لَهُ الشَّهَادَةَ عَلَى جِنْسِهِ ځکه [که څه هم] هغه پر خپل همجنسه [کافرانو] باندي د ګواهۍ حق لري فَتُرَدُّ تَتِمَّةً لِحَدِّهِ [ليکن] د هغه د حدّ پوره کولو لپاره به د هغه ګواهي ردول کيږي فَإِنْ أَسْلَمَ او که هغه اسلام راوړي قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ عَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمُسْلِمِينَ نو د هغه ګواهي به د ذميانو او د مسلمانانو [دواړو] په خلاف قبليږي لِأَنَّ هَذِهِ شَهَادَةٌ اسْتَفَادَهَا بَعْدَ الْإِسْلَامِ ځکه چي دا شهادت هغه تر اسلام وروسته حاصل کړی دی فَلَمْ تَدْخُلْ تَحْتَ الرَّدِّ نو تر ردولو لاندي به نه داخليږي [يعني نه به ردول کيږي، بلکي قبليږي به] بِخِلَافِ الْعَبْدِ إِذَا حُدَّ حَدَّ الْقَذْفِ ثُمَّ أُعْتِقَ په خلاف د غلام کله چي پر هغه حدّ قذف جاري کړی سي بيا آزاد کړی سي حَيْثُ لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ نو د هغه شهادت به نه قبليږي لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ لَهُ أَصْلًا فِي حَالِ الرِّقِّ ځکه چي د غلامتوب په حالت کي هغه لره بالکل هيڅ د ګواهۍ حق نسته فَكَانَ رَدُّ شَهَادَتِهِ بَعْدَ الْعِتْقِ مِنْ تَمَامِ حَدِّهِ نو تر آزادېدلو وروسته د هغه د ګواهۍ ردول به د هغه د حدّ له بشپړتيا څخه وي [چي د ګواهۍ پر ردولو سره د هغه حدّ قذف پوره کړی سي] وَإِنْ ضُرِبَ سَوْطًا فِي قَذْفٍ ثُمَّ أَسْلَمَ ثُمَّ ضُرِبَ مَا بَقِيَ او که [يو کافر] يو څو دُرې ووهل سي بيا هغه اسلام راوړي [او] بيا هغه باقي مانده دُرې ووهل سي جَازَتْ شَهَادَتُهُ نو د هغه ګواهي به جائز وي [يعني د هغه ګواهي به قبليږي] لِأَنَّ رَدَّ الشَّهَادَةِ مُتَمِّمٌ لِلْحَدِّ ځکه چي د ګواهۍ [شهادت] ردول د حدّ پوره کونکي دي فَيَكُونُ صِفَةً لَهُ نو دا ردول به د هغه صفت جوړيږي

وَالْمُقَامُ بَعْدَ الْإِسْلَامِ بَعْضُ الْحَدِّ او څرنګه چي تر اسلام وروسته د بعضي حدّ محل دی (یعني تر اسلام راوړلو وروسته چي کوم حدّ پر جاري سوي دی، هغه هم د حدّ یوه حصه ده) فَلَا يَكُونُ رَدُّ الشَّهَادَةِ صِفَةً لَهُ نو ځکه به د ګواهۍ ردول د هغه صفت نه جوړیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ تُرَدُّ شَهَادَتُهُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چي د هغه ګواهۍ به ردّ کیږي إِذِ الْأَقَلُّ تَابِعٌ لِلْأَكْثَرِ ځکه چي کم د زیاتو تابع وي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ لېکن اول قول زیات صحیح دی.

اللغات: ﴿مُتَمِّم﴾ د تفعیل اسم فاعل دی: پوره کونکی، بشپړونکی.

تشریح: مسئله: دا ده که د تهمت لګولو په جرم کي پر یو مسلمان حدّ جاري کړی سي (چي هغه ته محدود في القذف وایي)، نو زموږ په نېز به د دغه مجدود ګواهي نه قبلیږي که څه هم هغه توبه وکړي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي تر توبې کولو وروسته به د هغه ګواهي قبلیږي. د دې په خلاف که چیري د تهمت لګولو په وجه پر یو ذمي کافر حدّ جاري کړی سي نو د ذمیانو په خلاف به د هغه ګواهي نه قبلیږي، ځکه چي د حدّ قذف دوې حصې او دوې سزاوي دي: ① په دُرو وهل. ② تر وهلو وروسته د هغه ګواهي نه قبلول (لنډه دا چي پر کوم سړي حدّ قذف جاري سي، نو تر حدّ جاري کېدلو وروسته به د هغه ګواهي هم نه قبلیږي)، نو ځکه به دلته د دغه محدود في القذف ذمي ګواهي د خپلو ذمیانو په خلاف نه قبلیږي، د دې لپاره چي د حدّ دویمه حصه پوره کړی سي (او په بشپړه توګه حدّ قذف ثابت سي). ها! که چیري تر حدّ قذف وروسته ذمي مسلمان سي نو بیا به د مسلمان او ذمي دواړو په خلاف د هغه ګواهي قبلیږي، ځکه چي اوس هغه ته د اسلام په وجه د ګواهۍ اداء کولو حق حاصل سو، او اسلام د هغه د مخکنۍ زمانې ټوله قصور معاف او ختم کړی، نو ګواکي له نوي سره (پاک صفا) پیدا سو. نو ځکه به د هغه ګواهي نه ردّ کیږي، بلکي د مسلمان او کافر دواړو په حق کي به قبلیږي.

د دې په خلاف که پر غلام حدّ قذف جاري کړی سي بیا هغه آزاد کړی سي، نو تر آزادېدلو وروسته به هم د هغه ګواهي ردّ کیږي، ځکه چي د حدّ قذف دوې حصې او دوې سزاوي دي: ① په درو وهل. ② ګواهي نه قبلول (ګواهي ردّول)، دا دویمه سزا د غلامتوب په حالت کي نه ثابتیږي، ځکه چي د غلامتوب په حالت کي خو بالکل غلام د ګواهۍ اهل نه وي (که څه هم هغه محدود في القذف نه وي)، نو ځکه به دغه دویمه سزا تر آزادېدلو وروسته هغه ته ورکول کیږي او د هغه ګواهي به

نه قبلیږي د دې لپاره چې حدّ پوره کړی سي. (خلاصه دا چې تر آزادېدلو وروسته به د حدّ قذف د بشپړ تیا او پوره کولو لپاره د هغه گواهي نه قبلیږي).

فإن ضرب سوطاً إلخ: دلته درې صورتونه په یاد لرئ! ① که پر یو کافر باندي د حدّ ټوله حصه (ټولي دُرې) د کفر په حالت کي جار کړی سي. نو تر اسلام راوړلو وروسته به د هغه شهادت او گواهي قبلیږي. ② که تر اسلام راوړلو وروسته پر هغه د حدّ ټوله حصه جاري کړی سي. نو د هغه گواهي به ردّ کیږي او نه به قبلیږي. ③ دریم صورت دا دی چې که د حد لږ حصه د کفر په حالت کي پر هغه جار کړی سي او زیاتره حصه یې د اسلام په حالت کي پر جاري کړی سي. مثلاً د کفر په حالت کي هغه شل دُرې ووهل سي. بیا هغه اسلام راوړي او شپېته د اسلام په حالت کي ووهل سي. نو په دې صورت کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه گواهي قبلیږي (ځکه کله چې هغه شل دُرې د کفر په حالت کي ووهل سو. نو گواکي د کفر په حالت کي د هغه گواهي ردّ کړی سوه. نو ځکه به تر اسلام راوړلو وروسته بیا د هغه گواهي نه ردّ کیږي. بلکي په پوره توگه به قبلیږي).

لأن الشهادة متتم إلخ: دا دلیل څه ستونزمن دی. حاصل یې دا دی چې کله پر هغه شل دُرې د کفر په حالت کي جاري کړی سوې. نو د حدّ قذف دویمه حصه یعني "گواهي نه قبلول او گواهي ردول" د دغه جاري سوي حدّ (شلو دُرو) صفت جوړ سو او په همدغه (شلو درو) سره گواهي ردّ سوه. لهذا کله چې د هغه گواهي ردّ سوه. نو تر اسلام راوړلو وروسته بیا د گواهي د ردّولو هیڅ ضرورت نسته. نو ځکه به د هغه گواهي قبلیږي (فیکون صفة له: یعني د گواهي ردّول به د دغه جاري سوي حدّ (شلو درو) صفت جوړیږي. والمقام: یعني تر اسلام راوړلو وروسته حالت).

وعن أبي یوسف إلخ: له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چې پر دې کافر چې تر اسلام راوړلو مخکي څومره حدّ جاري سوی دی هغه کم دی (مثلاً هغه شل درې دی). او تر اسلام راوړلو وروسته د حدّ حصه زیاته ده (او شپېته دُرې ده). او کم د زیاتو تابع وي. نو داسي به گڼل کیږي چې پر هغه ټوله حدّ تر اسلام راوړلو وروسته جاري سوی دی. او اوس موږ دا خبره ذکر کړه چې که پر کافر تر اسلام وروسته ټوله حدّ جاري کړی سي نو د هغه گواهي به ردّ کیږي. نو ځکه به دلته هم د دغه کافر گواهي ردّ کیږي. صاحب د هدایې فرمایي چې اول قول (د امام صاحب رَحِمَهُ الله روایت) زیات صحیح او معتمد دی.

څو واره د يوه جنايت کولو په صورت کې د يوه حدّ جاري کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ قَذَفَ أَوْ زَنٰى أَوْ شَرِبَ غَيْرَ مَرَّةٍ فرمايي: او کوم کس چې څو واره تهمت ولګوي يا [څو واره] زنا وکړي يا [څو واره] شراب وڅيښي فَحُدَّ او يو حدّ پر هغه جاري کړی سي فَهُوَ لِذٰلِكَ كُلِّهِ نو هغه حد د دې ټولو [وارونو] لپاره کافي دی أَمَّا الْأَوَّلَانِ فَلِأَنَّ الْمَقْصَدَ مِنْ إِقَامَةِ الْحَدِّ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالٰى الْاِنْزِجَارُ کوم چې زناکاري او شراب خوري ده نو ځکه چې د حقُ الله والا د حدّ جاري کولو مقصد انجار [او تنبيه ورکول] دي وَاحْتِمَالُ حُصُولِهِ بِالْأَوَّلِ قَائِمٌ او په اول حدّ جاري کولو سره د دې مقصد د حاصلېدلو احتمال سته فَتَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ فَوَاتِ الْمَقْصُودِ فِي الثَّانِي نو په دويم وار حدّ جاري کولو کې به د مقصود د فوتېدلو شبهه وي [واحتمال حصوله: صاحب د أثمار الهدايې د دې جملې معنىٰ داسي کړې ده چې "په اول وار سره مقصد [زجر او تنبيه ورکول] حاصل سو. نو د دويم وار مقصد حاصلولو [زجر او تنبيه ورکولو] څه ضرورت سته] وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا زَنٰى وَقَذَفَ وَسَرَقَ وَشَرِبَ او دا د هغه صورت په خلاف دی چې کله هغه زنا وکړي او تهمت [هم] ولګوي او غلا [هم] وکړي او شراب [هم] وڅيښي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ كُلِّ جِنْسٍ غَيْرُ الْمَقْصُودِ مِنَ الْآخَرِ ځکه چې په دوی کې د هر جنس مقصد د بل جنس له مقصد څخه جلا دی فَلَا يَتَدَاخَلُ نو ځکه به [دلته په حدّ کې] تداخل نه کيږي وَأَمَّا الْقَذْفُ فَالْمُغَلَّبُ فِيهِ عِنْدَنَا حَقُّ اللّٰهِ او کوم چې حدّ قذف دی نو په هغه کې زموږ په نيز د الله تعالىٰ حق غالب دی فَيَكُونُ مُلْحَقًا بِهِمَا لهذا هغه به هم د زنا او شرابو سره ملحق کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنِ اخْتَلَفَ الْمَقْذُوفُ أَوِ الْمَقْذُوفُ بِهِ وَهُوَ الزِّنَاءُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې که مقذوف جلا جلا وي يا مقذوف به جلا جلا وي، مثلاً زنا لَا يَتَدَاخَلُ نو [په حدّ کې] به تداخل نه کيږي لِأَنَّ الْمُغَلَّبَ فِيهِ حَقُّ الْعَبْدِ عِنْدَهُ ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په حدّ قذف کې د بنده حق غالب دی.

اللغات: ﴿اِنْزِجَار﴾ د انفعال مصدر دی: منع کېدل، بېرول، تنبيه ورکول. ﴿الْمَقْذُوْف﴾ هغه کس چې بل څوک تهمت پر ولګوي. ﴿الْمَقْذُوْف بِهٖ﴾ هغه کار چې د هغه په ذريعه پر يو چا تهمت ولګول سي (مثلاً زنا چې د دې په ذريعه پر يو چا تهمت لګول کيږي). همدارنګه هغه ښځه چې پر يو چا د هغې سره د زنا کولو تهمت ولګول سي (چې تا د فلانکۍ ښځې سره زنا وکړه). پر دې دواړو د مقذوف به إطلاق کيږي. (أثمار الهداية ج۶، ص۳۳۴)

تشريح : مسئله : دا ده که يو سړی څو واره تهمت ولګوي يا څو واره زنا وکړي يا څو وار شراب وچيښي او بيا پر هغه فقط يو حدّ جاري کړی سي، نو هغه يو حدّ د ټولو جرمونو لپاره کافي دی (مطلب دا چي په ټولو وارونو کي به تداخل کيږي، او يو حدّ د ټولو جرائمو لپاره کافي دی): په زنا او شراب چيښلو کي د يوه حدّ کافي کېدلو وجه دا ده چي کوم حدود چي خالص د الله تعالیٰ حق وي د هغوی د جاري کولو مقصد إنزجار او تنبيه ورکول وي، او په يوه وار حدّ جاري کولو سره دا مقصد حاصل سو، نو دويم وار حدّ جاري کولو ته څه ضرورت سته؟ او بل دا چي کله په اول وار سره مقصد حاصل سو نو په دويم وار حدّ جاري کولو کي سره به مقصد حاصل سي او که نه په دې خبره کي شبهه پيدا سوه، نو ځکه به دويم وار حدّ نه جاري کيږي.

د دې په خلاف که يو څوک زنا هم وکړي، تهمت هم ولګوي، غلا هم وکړي او شراب هم وچيښي، نو پر هغه به د هر هر جرم په عوض کي جلا جلا حدّ جاري کيږي، او يو حدّ به د ټولو لپاره کافي نه وي؛ ځکه چي په دې جرمونو کي هر جرم له بل جرم څخه بېل او عليحده دی، او د هر يوه مقصود هم عليحده دی.

پاته سوه د حدّ قذف مسئله نو په هغه کي زموږ په نېز حقُ الله غالب دی، لهذا هغه به په حکم کي د زنا او شراب چيښلو سره ملحق کيږي او تداخل به پکښي کيږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي که مقذوف يا مقذوف بِهٖ جلا جلا وي، نو پر هغه به جلا جلا حدّ جاري کيږي، د مقذوف مثال دا دی چي يو سړی پر خالد هم د زنا تهمت ولګوي او پر زيد هم د زنا تهمت ولګوي او پر سلمان هم د زنا تهمت ولګوي نو پر هغه به امام شافعي په نېز درې حدونه جاري کيږي، د مقذوف بِهٖ مثال دا دی چي مثلاً يو سړی پر خالد باندي د زينب سره د زنا کولو تهمت ولګوي (چي خالد د زينب سره زنا وکړه)، او بيا يو څو ورځي وروسته پر هغه د ساجدې سره د زنا کولو تهمت ولګوي (چي خالد د ساجدې سره هم زنا وکړه)، لهذا دلته په دواړو صورتونو کي ښځه بدله سوه يعني د جلا جلا ښځو سره زنا ثابته سوه، نو په داسي صورت کي به د امام شافعي په نېز پر تهمت لګونکي سړي دوه حدّه جاري کيږي او په حدّ کي به تداخل نه کيږي، ځکه چي په حدّ قذف کي د هغه په نېز حقُ العبد غالب دی.



فَصْلٌ فِي التَّعْزِيْرِ

(دا) فصل د سزا ورکول (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې هغه زواجر (حدود) بیان سول کوم چې د کتاب او سنت په څیر په قوي دلیلونو سره ثابت وو. او په دې فصل کې هغه زواجر بیانیږي کوم چې تر کتاب او سنت په لاندې او کوچنې دلیل سره ثابت دي.

د تعزیر لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د تعزیر لغوي معنیٰ ده: غندل، رټل، تنبیه ورکول (سزا ورکول)

د تعزیر اصطلاحي معنیٰ صاحب د "معجم لغة الفقهاء" داسي ذکر کړې ده: "ما يُقدِّره القاضي من العقوبة على جريمة لم يرد في الشرع عقوبة مقدرة عليها" (یعني هغه سزا کوم چې یې قاضي د یو داسې جرم په جزاء کې مقرر کړي چې په شریعت کې د هغه جرم هیڅ سزا مقرره سوې نه وي). (معجم لغة الفقهاء ج:۱، ص:۱۳۶)

پر غیر محصن باندي د زنا تهمت لګول

وَمَنْ قَذَفَ عَبْدًا أَوْ أَمَةً أَوْ أُمَّ وَلَدٍ أَوْ كَافِرًا بِالزِّنَا او څوک چې پر یو غلام. یا مینځې. یا اُمِ ولد. یا کافر باندې د زنا تهمت ولګوي عُزِّرَ نو هغه ته به سزا ورکول کیږي لِأَنَّهُ جِنَايَةُ قَذْفٍ ځکه چې دا د تهمت لګولو جرم دی [یعني ځکه چې هغه د زنا تهمت پر لګولی دی] وَقَدْ امْتَنَعَ وُجُوبُ الْحَدِّ لِفَقْدِ الْإِحْصَانِ لېکن د محصن نه کېدلو په وجه [پر هغه] د حدّ وجوب وجه منع کړی سو فَوَجَبَ التَّعْزِيرُ نو ځکه به تعزیر واجبیږي وَكَذَا إِذَا قَذَفَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ الزِّنَا فَقَالَ: يَا فَاسِقُ! أَوْ يَا كَافِرُ! أَوْ يَا خَبِيثُ! أَوْ يَا سَارِقُ! او همدارنګه [به تعزیر واجبیږي] کله چې هغه پر یو مسلمان باندې له زنا څخه بغیر بل تهمت ولګوي [مثلاً] ورته ووایي: اې فاسقه! یا اې کافره یا اې خبیثه! یا اې غله! لِأَنَّهُ آذَاهُ ځکه چې قاذف هغه ته ضرر ورسوی وَأَلْحَقَ الشَّيْنَ بِهِ او پر هغه یې عیب ولګوی وَلَا مَدْخَلَ لِلْقِيَاسِ فِي الْحُدُودِ او په حدونو کې قیاس لره هیڅ دخل نسته فَوَجَبَ التَّعْزِيرُ نو ځکه به تعزیر واجبیږي إِلَّا أَنَّهُ يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيرِ غَايَتَهُ فِي الْجِنَايَةِ الْأُولَى لېکن په اول جرم [یعني پر غیر محصن د زنا په قذف] کې به

[قاذف ته] سخته سزا ورکول کیږي لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِ مَا يَجِبُ بِهِ الْحَدُّ ځکه چې دا له هغه جنس څخه دی چې د هغه په وجه حدّ واجبیږي وَفِي الثَّانِيَةِ: الرَّأْيُ إِلَى الْإِمَامِ او په دویم صورت [یعني د یا فاسق. یا کافر... په ویلو] کې به رایه إمام ته پرېښوول کیږي [چې هغه هر څومره سزا مناسب وګڼي. هغومره سزا به ورکوي] وَلَوْ قَالَ: يَا حِمَارُ! أَوْ يَا خِنْزِيرُ! او که [ورته] ووايي: اې خره! یا اې خنزیره! لَمْ يُعَزَّرْ نو سزا به نه ورکول کیږي لِأَنَّهُ مَا أَلْحَقَ الشَّيْنَ بِهِ ځکه چې ویونکي پر هغه [مخاطب] عیب نه ولګوی لِلتَّيَقُّنِ بِنَفْيِهِ ځکه چې [په مخاطب کې] په یقیني توګه دا شیان معدوم دي [یعني دا یقیني ده چې هغه خر یا خنزیر نه دی] وَقِيلَ: فِي عُرْفِنَا يُعَزَّرُ او ویل سوي دي: چې زموږ [د صاحب د هدایې] په عرف کې به هغه ته سزا ورکول کیږي لِأَنَّهُ يُعَدُّ شَيْنًا ځکه چې [زموږ په عرف کې] دا عیب [او بدي] شمارل کیږي وَقِيلَ: إِنْ كَانَ الْمَسْبُوبُ مِنَ الْأَشْرَافِ كَالْفُقَهَاءِ وَالْعَلَوِيَّةِ او ویل سوي دي: که چیري هغه کس چا ته چې ښکنځل سوي دي [مخاطب] له شریفو خلکو څخه وي لکه فقهاء یا د حضرت علي رضي الله عنه خاندان والا [اوسیدان] يُعَزَّرُ نو هغه ته به سزا ورکول کیږي لِأَنَّهُ يَلْحَقُهُمُ الْوَحْشَةُ بِذَلِكَ ځکه چې په دې جملو سره هغو ته وحشت [او تکلیف] رسیږي وَإِنْ كَانَ مِنَ الْعَامَّةِ او که [مخاطب] له عامو خلکو څخه وي لَا يُعَزَّرُ نو هغه ته به سزا نه ورکول کیږي وَهَذَا أَحْسَنُ او دا غوره قول دی وَالتَّعْزِيرُ أَكْثَرُهُ تِسْعَةٌ وَثَلَاثُونَ سَوْطًا او د تعزیر زیات مقدار نه دېرش [۳۹] دُرې دي [د طرفینو په نېز] وَأَقَلُّهُ ثَلَاثُ جَلَدَاتٍ او کم از کم مقدار یې درې دُرې دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رحمه الله: يَبْلُغُ التَّعْزِيرُ خَمْسَةً وَسَبْعِينَ سَوْطًا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې د تعزیر زیات مقدار پنځه اویا [۷۵] دُرو ته رسیدای سي [یعني د هغه په نېز د تعزیر أکثر مقدار (۷۵) دُرې دی] وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عليه السلام ❶: مَنْ بَلَغَ حَدًّا فِي غَيْرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنَ الْمُعْتَدِينَ او أصل په دې سلسله کې د نبي ﷺ دا إرشاد دی: څوک چې په غیرِ حدّ کې د حدّ مقدار ته ورسیږي نو هغه له تجاوز کونکو څخه دی [یعني د کوم جرم ګناه چې حدّ نه وي. لېکن بیا هم په هغه کې د حدّ د دُرو په اندازه مجرم

● القول الراجح: قول لطرفين رحمهما الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٩٩). [القول الراجح ج:١، ص:٢٥٦]

❶ تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرى، رقم الحديث:١٧٥٨٤.

ووهل سي، نو دا تجاوز دی، او داسي کار کونکي متجاوزين دي. له دې حديث څخه معلومه سوه چي تعزير به د حدّ أدنیٰ مقدار ته نه رسول کيږي او د حدّ أدنیٰ مقدار (د غلام حدّ) څلوېښت (۴۰) درې دی. او يوه دُره به بله ځني کمول کيږي چي ټوله (۳۹) دُرې سي او د حدّ تر ادنیٰ مقدار کمي سي| وَإِذَا تَعَذَّرَ تَبْلِيغُهُ حَدًّا او کله چي حدّ ته د تعزير رسول ناممکن سو فَأَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ نَظَرَا إِلَى أَدْنَى الْحَدِّ نو طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د حدّ أدنیٰ [کم] مقدار ته وکتل وَهُوَ حَدُّ الْعَبْدِ فِي الْقَذْفِ او هغه په قذف کي د غلام حدّ دي فَصَرَفَاهُ إِلَيْهِ نو طرفينو د تعزير د همدغه [أدنیٰ] مقدار وطرف ته وګرځوی وَذَلِكَ أَرْبَعُونَ سَوْطًا او دا مقدار څلوېښت [۴۰] دُرې دي فَنَقَصَا مِنْهُ سَوْطًا نو طرفينو له هغه څخه يوه دره کمه کړه [او د تعزير لپاره يې (۳۹) دُرې متعين کړې] وَأَبُو يُوسُفَ اِعْتَبَرَ أَقَلَّ الْحَدِّ فِي الْأَحْرَارِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د آزادو کسانو د حدّ د أقل مقدار اعتبار کړی دی [او هغه اتيا دُرې دي] إِذِ الْأَصْلُ هُوَ الْحُرِّيَّةُ ځکه چي أصل حُريت [آزاد والی] دی ثُمَّ نَقَصَ سَوْطًا فِي رِوَايَةٍ عَنْهُ بيا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي هغه [له دې څخه] يو دره کمه کړې ده [او (۷۹) دُرې يې ټاکلي دي] وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی او همدا قياس [هم] دی وَفِي هَذِهِ الرِّوَايَةِ نَقَصَ خَمْسَةً او دلته چي کوم روايت ذکر سوی دی [يعني يبلغ التعزير خمسا وسبعين سوطاً] په هغه کي يې پنځه دُرې کمي کړي دي [ځکه چي حضرت علي ﷺ همدا مقدار ټاکلی وو] وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ او همدا له حضرت علي ﷺ څخه نقل سوي دي فَقَلَّدَهُ نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د هغه تقليد وکړی ثُمَّ قَدَّرَ الْأَدْنَى فِي الْكِتَابِ بِثَلَاثِ جَلَدَاتٍ بيا په متن کي أدنیٰ مقدار درې دُرې بيان سوی دی لِأَنَّ مَا دُونَهَا لَا يَقَعُ بِهِ الزَّجْرُ ځکه له چي دريو څخه په کمو دُرو زجر [او تنبيه] نه حاصليږي وَذَكَرَ مَشَايِخُنَا أَنَّ أَدْنَاهُ عَلَى مَا يَرَاهُ الْإِمَامُ او زموږ علماؤ ذکر کړي دي چي د تعزير ادنیٰ مقدار د امام [او قاضي] پر رايه موقوف دی يُقَدِّرُ بِقَدْرِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهُ يَنْزَجِرُ او په کوم مقدار سره چي إمام ته معلومه سي چي هغه [مجرم] به منع سي نو هغومره مقدار به ټاکي لِأَنَّهُ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ النَّاسِ ځکه چي د خلګو په بدلېدلو سره انزجار [هم] بدليږي ايعني ځيني کسان په لږو دُرو سر خلاصوي او د آينده لپاره له داسي کار څخه منع کيږي. او ځيني کسان بيا په کمه سزا نه منع کيږي، بلکي پوره ډبول غواړي. نو ځکه به رايه إمام

ته پرېښوول کيږي [وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ عَلَى قَدْرِ عِظَمِ الْجُرْمِ وَصِغَرِهِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه ابل [روايت دا دی: چې دغه مقدار د جرم پر غټوالي او کوچنيوالي موقوف دی ايعني که غټ جرم وي، نو زياتې دُرې به يې وهي، او که کوچنی جرم وي، نو کمې دُرې به يې وهي [وَعَنْهُ: أَنْ يُقَرَّبَ كُلُّ نَوْعٍ مِنْ بَابِهِ او له هغه څخه ابل [روايت دا دی: چې هر ډول جرم به د هغه د "حدّ" د باب سره نژدې کيږي فَيُقَرَّبُ الْمَسُّ وَالْقُبْلَةُ مِنْ حَدِّ الزِّنَا نو مسه کول او مچول به د حدّ زنا سره نژدې کيږي وَالْقَذْفُ بِغَيْرِ الزِّنَا مِنْ حَدِّ الْقَذْفِ او له زنا څخه بغير [د بل شي] تهمت به د حدّ قذف سره نژدې کيږي.

اللغات: ﴿فَقْد﴾ د ضرب مصدر دی: نيستي کېدل، ورکېدل، نشتوالي. ﴿شَيْن﴾ عيب. بدي.

﴿مُعْتَدِيْن﴾ د افعال جمع اسمِ فاعل دی: تجاوز کونکي (له حدّ څخه تېرېدونکي). سرکښه.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې پر غيرِ محصن يعني پر غلام يا کافر او داسي نورو باندي د زنا تهمت لګول د حدّ مُوجب نه دي، بلکي په دې صورت کي به قاذف ته بله سزا ورکول کيږي. همدارنګه که يو څوک پر محصن يعني پر مسلمان باندي له زنا څخه بغير د بل شي يعني د فسق، کفر يا د غلا تهمت ولګوي. نو هم به قاذف ته سزا ورکول کيږي؛ ځکه چې په تهمتونو کي شريعت هيڅ حدّ ټاکلی نه دی، لهذا موږ به هم په قياس سره هيڅ حدّ نه ټاکوو. لېکن قاذف ته به تنبيه او سزا ورکول کيږي، او پر غيرِ محصن (يعني پر غلام کافر او داسي نورو) باندي د زنا د تهمت لګولو په وجه به قاذف ته سخته سزا ورکول کيږي، ځکه چې دا د حدّ مُوجب ته يعني زنا ته نژدې دی. فقط د محصن نه کېدلو په وجه د هغه پر قاذف حدّ نه جاري کيږي، لېکن نور به هغه ته سخته ورکول کيږي، ځکه چې د زنا سزا سخته ده. نو کوم شی چې زنا ته نژدې وي. د هغه سزا به هم سخته وي. او په دويم صورت کي يعني چا ته د فاسق او غله ويلو په صورت کي چې امام کومه سزا مناسبه وګڼي. هغه به ورکول کيږي.

ولو قال يا حمار إلخ: فرمايي که يو څوک بل چا ته "خر" يا "خنزير" ووايي. نو هغه ته به سزا نه ورکول کيږي؛ ځکه چې دا عيب نه دی، ځکه دا معلومه او تر لمر سپينه خبره ده چې کوم کس ته "خر" يا "خنزير" ويل سوي دي. په هغه کي دا خبري نسته. په دې سلسله کي دوه نور قولونه هم سته: ①... يو قول دا دی چې زموږ (يعني د هدايې د مصنف) په عرف کي دا ښکنځا ده. نو ځکه به قائل (ويونکي) ته سزا ورکول کيږي. ②... دويم قول کوم چې د هدايې د مصنف دی. دا دی چې که مخاطب له شريفو خلکو څخه وي مثلاً عالم وي يا مفتي وي يا مثلاً د حضرت علي رضي الله عنه د خاندان

سره تعلق لري، نو قائل ته به سزا ورکول کيږي (کنځ نه به ورکول کيږي). په پاته عبارت کې د تعزير مقدار بيان سوی دی کوم چې واضح دی (تشريح ته ضرور نه لري). لېکن د تعزير په ادنیٰ مقدار کې د ماوراءُ النهر مشائخو رايه دا ده چې دا مقدار د امام پر رايه موقوف دی ځکه چې د خلکو حالات او عادات مختلف وي، ځوک فقط په درې او ځلورو دُرو سره برابرېږي او ځوک بيا پنځلس دُرو ته ضرورت لري (مطلب دا چې ځوک په لږ سزا سر خلاصوي او سميږي. لېکن ځوک بيا په لږ سزا نه سميږي، بلکې پوره ډبول غواړي). لهذا امام چې ديو چا د حال مطابق کوم مقدار مناسب وګڼي د هغه په حق کې به پر هغه مقدار فيصله کوي، له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځخه دريم روايت دا دی چې ګناه ته به کتل کيږي چې هغه د کوم باب سره تعلق لري نو د هغه باب د حدّ سره نژدې تعزير به ورکول کيږي، مثلاً که يو ځوک پردۍ (أجنبيه) ښځه مچ کړي يا په شهوت سره لاس ور وړي نو حدّ زنا ته نژدې (يعني ۷۹) دُرې به هغه ته تعزير ورکول کيږي، او له زنا ځخه بغير د بل شي په تهمت لګولو مثلاً د ''اې کافر! يا اې خبيث'' د ويلو په صورت کې به د حدّ قذف دُرو ته نژدې تعزير ورکول کيږي.

د تعزير سره اړوند يو ځو مسئلې

قَالَ: وَإِنْ رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يَضُمَّ إِلَى الضَّرْبِ فِي التَّعْزِيرِ الْحَبْسَ فرمايي: که امام مناسب وګڼي چې په تعزير کې د ضرب سره حبس [هم] يوځای کړي فَعَلَ نو دا کار دې وکړي لِأَنَّهُ صَلُحَ تَعْزِيرًا ځکه چې حبس [هم] د تعزير جوړېدلو صلاحيت [وړتيا] لري وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِهِ فِي الْجُمْلَةِ او شريعت [هم] هغه تريو اندازې پوري بيان کړی دی حَتَّى جَازَ أَنْ يَكْتَفِيَ بِهِ همدا وجه ده چې پر حبس اکتفاء کول جائز دي فَجَازَ أَنْ يَضُمَّ إِلَيْهِ لهذا د ضرب سره به د هغه يوځای کول [هم] جائز وي وَلِهَذَا لَمْ يُشْرَعْ فِي التَّعْزِيرِ بِالتُّهْمَةِ قَبْلَ ثُبُوتِهِ او له همدې وجهې د تعزير بالتهمة په صورت کې له تهمت ثابتېدلو ځخه مخکې حبس مشروع نه دی كَمَا شُرِعَ فِي الْحَدِّ لکه ځرنګه چې په حدّ کې مشروع دی لِأَنَّهُ مِنَ التَّعْزِيرِ ځکه چې حبس له تعزير ځخه دی قَالَ: وَأَشَدُّ الضَّرْبِ التَّعْزِيرُ فرمايي: چې سخت ترين وهل به په تعزير کې وي لِأَنَّهُ جَرَى التَّخْفِيفُ فِيهِ مِنْ حَيْثُ الْعَدَدُ ځکه چې د عدد په اعتبار سره په هغه کې تخفيف سوی دی فَلَا يُخَفَّفُ مِنْ حَيْثُ الْوَصْفُ لهذا د وصف په اعتبار سره به [نور] تخفيف نه [پکښې] کيږي كَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَى فَوَاتِ الْمَقْصُودِ د دې لپاره چې دغه تخفيف د مقصود

د فوت‌ېدلو سبب جوړ نه سي وَلِهٰذَا لَمْ يُخَفَّفْ مِنْ حَيْثُ التَّفْرِيقُ عَلَى الْأَعْضَاءِ او له همدې وجهې د تفريق على الأعضاء په حواله سره تخفيف نه دي سوى قَالَ: ثُمَّ حَدُّ الزِّنَا فرمايي: بيا د زنا حد دى ايعني بيا به سخت وهل دزنا په حد كي وي، مطلب دا چي دويمه درجه د "حدزنا" ده ا لِأَنَّهُ ثَابِتٌ بِالْكِتَابِ ځكه چي هغه په قرآن مجيد سره ثابت دى وَحَدُّ الشُّرْبِ ثَبَتَ بِقَوْلِ الصَّحَابَةِ او د شرابو حدّ د صحابه وو په قول (اجماع) سره ثابت دى وَلِأَنَّهُ أَعْظَمُ جِنَايَةً او ځكه چي زنا يو ستر جرم دى حَتَّى شُرِعَ فِيهِ الرَّجْمُ همدا وجه ده چي په زنا كي رجم مشروع دى ثُمَّ حَدُّ الشُّرْبِ بيا "حدّ شرب" دى لِأَنَّ سَبَبَهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ ځكه چي د هغه سبب يقيني وي ثُمَّ حَدُّ الْقَذْفِ بيا "حدّ قذف" دى لِأَنَّ سَبَبَهُ مُحْتَمَلٌ لِاحْتِمَالِ كَوْنِهِ صَادِقًا ځكه چي د قاذف د رښتياوالي د احتمال په وجه د هغه سبب احتمالي وي وَلِأَنَّهُ جَرَى فِيهِ التَّغْلِيظُ مِنْ حَيْثُ رَدِّ الشَّهَادَةِ او ځكه چي د شهادت ردولو په حواله سره په هغه كي سختي سوې ده فَلَا يُغَلَّظُ مِنْ حَيْثُ الْوَصْفُ لهذا د وصف په اعتبار سره به په هغه كي (نوره) سختي نه كېږي وَمَنْ حَدَّهُ الْإِمَامُ أَوْ عَزَّرَهُ فَمَاتَ او پر چا چي امام حدّ جاري كړي يا هغه ته سزا وركړي او هغه مړ سي فَدَمُهُ هَدَرٌ نو د هغه وينه معاف ده لِأَنَّهُ فَعَلَ مَا فَعَلَ بِأَمْرِ الشَّرْعِ ځكه امام چي كوم څه وكړه هغه يې د شريعت په حكم سره وكړه وَفِعْلُ الْمَأْمُورِ لَا يَتَقَيَّدُ بِشَرْطِ السَّلَامَةِ او د مأمور فعل د سلامتى په شرط سره نه مقيّد كېږي كَالْفَصَّادِ وَالْبَزَّاغِ لكه ښكر لګونكى او نشتر لګونكى بِخِلَافِ الزَّوْجِ إِذَا عَزَّرَ زَوْجَتَهُ په خلاف د خاوند كله چي هغه خپلي ښځي ته سزا وركړي لِأَنَّهُ مُطْلَقٌ فِيهِ وَالْإِطْلَاقَاتُ تَتَقَيَّدُ بِشَرْطِ السَّلَامَةِ ځكه (كه څه هم) هغه ته د تعزير اجازت سته (ليكن) اجازتونه د سلامتى په شرط سره مقيد وي كَالْمُرُورِ فِي الطَّرِيقِ لكه په لاره كي تېرېدل اچي د سلامتى په شرط سره مقيد دي ا وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ادمړه سوي سړي ا ديت به پر بيتُ المال واجب وي لِأَنَّ الْإِتْلَافَ خَطَأٌ فِيهِ ځكه چي په تعزير سره هلاكول خطاء ده إِذِ التَّعْزِيرُ لِلتَّأْدِيبِ ځكه چي تعزير د أدب (او تنبيه) وركولو لپاره مشروع دى غَيْرَ أَنَّهُ تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ لِأَنَّ نَفْعَ عَمَلِهِ يَرْجِعُ عَلَى عَامَّةِ الْمُسْلِمِينَ خو د هغه ديت به (ځكه) په بيتُ المال كي واجب وي ځكه

چې د امام د کار منفعت عامو مسلمانانو ته راجع کیږي فَيَكُونُ الْغُرْمُ فِي مَالِهِمْ نو ځکه به د هغه تاوان [هم] د هغو په مالونو کې واجب وي [لأن الغرم بالغنم] قُلْنَا: لَمَّا اسْتَوْفَى حَقَّ اللهِ تَعَالَى بِأَمْرِهِ صَارَ كَأَنَّ اللهَ أَمَاتَهُ مِنْ غَيْرِ وَاسِطَةٍ موږ جواب ورکوو: چې کله امام د الله تعالیٰ په حکم سره د الله حق حاصل کړي نو ګواکې الله تعالیٰ هغه [سړی] مړ کړی [نه امام] فَلَا يَجِبُ الضَّمَانُ نو ځکه به [پر امام] ضمان نه واجبیږي.

اللغات: ﴿يضمّ﴾ د نصر مضارع ده: ضمول، ورسره یوځای کول. ﴿حَبْس﴾ د ضرب مصدر دی: قیدول، بندي کول. ﴿تخفیف﴾ د تفعیل مصدر دی: سپکول، آساني کول. ﴿تغلیظ﴾ دا هم د تفعیل مصدر دی: سختول، سختي کول. ﴿جنایة﴾ جرم. ﴿شُرب﴾ شراب چیښل. ﴿هدر﴾ ضایع، معاف، بې دیته او بې قصاصه. ﴿فصّاد﴾ ښکر لګونکی. ﴿بزّاغ﴾ نشتر لګونکی، جرّاح. ("نشتر" په پښتو کې هغه آلې ته وایې کوم چې تېره ځوکه لري او زخم یا دانه په څیرل کیږي). ﴿إتلاف﴾ د افعال مصدر دی: ضایع کول، هلاکول. ﴿غُرم﴾ تاوان، جرمانه. ﴿استوفی﴾ د استفعال ماضي ده: حاصلول، ترلاسه کول، اخیستل. ﴿أماته﴾ د افعال ماضي ده: مړ کول.

تشریح: **مسئله**: دا ده که چیرې امام مصلحت ووینې نو د سزا ورکولو سره دې قاذف قید هم کړي، ځکه چې حبس (قیدول) هم د تعذیر جوړېدلو لائق او قابل دی لکه څرنګه چې له نبي کریم ﷺ څخه تعزیراً د یوه سړي قیدول ثابت دي، همدا وجه ده چې په تعزیر کې فقط پر حبس هم اکتفاء کول جائز دي، او د دې خبرې (چې حبس د تعزیر جوړېدلو قابل دی) بل دلیل دا هم دی چې که د تهمت لګولو په وجه یو څوک د تعزیر مستحق وي نو تر تهمت ثابتېدلو مخکې د هغه (قاذف) قیدول جائز نه دي، ځکه چې په قذف کې حبس (قیدول) آخري او نهائي سزا ده. او که د تهمت له ثبوت څخه مخکې موږ قاذف قید کړو نو د ادنیٰ ګناه په مقابله کې به اعلیٰ سزا جاري کړی سي کوم چې صحیح نه دي. د دې په خلاف په حدّ کې د حدّ له ثبوت څخه مخکې هم مشهود علیه قیدي کېدای سي، ځکه چې د حدّ یعنې د زنا او غلا آخري سزا حبس نه ده، بلکې تر دې هم غټه سزا یعنې "حدّ" سته. نو ځکه به په زنا او داسې نورو کې د حبس معامله سره مساوي وي او د سزا او ګناه تناسب به برابر پاته وي.

وأشد الضرب إلخ: د دې حاصل دا دی چې په کومو حدونو کې چې جَلد (د دُرې وهل) مشروع دي، په هغو کې به تر ټولو تُندې او تیزې دُرې په تعزیر کې (پر مجرم) وهل کیږي، ځکه چې د تعزیر دُرې د نورو حدونو له دُرو څخه لږ دي، نو د لږ او کمو دُرو په وجه د تعزیر په دُرو کې تخفیف ثابت سو. لهذا

نور به د وهلو په حواله سره په هغوی کي تخفيف نه کيږي. له همدې وجهې په تعزير کې فقط پر يو ځای دُرې وهل کيږي او په هغوی کي تفريق نه کيږي. پر دويم نمبر د زنا حدّ دی. پر دريم نمبر "حدّ الشرب" دی. او پر څلورم نمبر "حدّ قذف" دی. يعني په حدّ قذف کي به د دې نورو حدّونو (يعني د تعزير، زنا او شُرب د حدّونو) په مقابله کې په کراره دُرې استعماليږي (يعني په کراره به مجرم په وهل کيږي)، ځکه چې د قاذف د شهادت په ردّولو سره خو هسې هم هغه رسوا او ذليله سو او تنبيه ورکول سوه، لهذا نور به پر هغه تشدّد نه کيږي او د هغه په وهلو کي به سختي نه کيږي.

ومن حدّه الإمام إلخ: د دې حاصل دا دی چي که إمام پر يوه قاذف باندي حدّ جاري کړي يا هغه ته سزا ورکړي او د حدّ يا سزا په وجه هغه مړ سي، نو پر امام به ضمان او ديّت نه واجبيږي: ځکه امام چي هغه ته کومه سزا ورکړې ده هغه يې د شريعت په حکم سره ورکړې ده. او إمام د شريعت له طرفه مأمور دی او د مأمور په فعل کي د سلامتي شرط ملحوظ او ضروري نه دی. مثلاً که فصّاد (ښکر لګونکی) مريض ته ښکر ولګوي يا مثلاً يو څوک حيوان ته نشتر ولګوي او هغه مريض يا حيوان مړ سي. نو پر فَصّاد او بزّاغ باندي هيڅ شی نه واجبيږي، ځکه چي هغه مأمور وي (د مالک له طرفه حکم ورته سوی وي). لېکن که يو سړی خپلي ښځي ته سزا ورکړي او ښځه مړه سي. نو پر خاوند به ضمان واجبيږي، ځکه که څه هم د خاوند لپاره تأديباً د ښځي د وهلو او سزا ورکولو اجازت سته. لېکن دا اجازت د سلامتي په شرط سره مقيد دی، مثلاً که په لاره کي تېرېدونکی سړی د بل چا سره وجنګيږي او هغه مړ کړي. نو وژونکی (تېرېدونکی) به ضامن وي، ځکه چي په لاره کي تلل او تېرېدل که څه هم مُباح دي لېکن مقيد بشرط السلامة دي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي که محدود مړ سي نو د هغه ديت به پر بيتُ المال واجب وي: ځکه چي د تعزير مقصد تأديب (أدب ورکول) دي. وژل او هلاکول نه دي. لهذا که هغه په حدّ او سزا سره مړ کړی سي نو دا غلطي ده. لېکن د دې غلطي ديت به له بيتُ المال څخه اداء کيږي. ځکه کله چي أمام د عامو مسلمانانو د نفع لپاره دا کارونه کوي، نو د هغه د کار تاوان او نقصان به هم د مسلمانانو په مال (بيتُ المال) کي واجب وي.

لېکن زموږ له طرفه امام شافعي رَحِمَهُ الله ته دا جواب ورکول سوی دی چي کله د الله (او شريعت) په حکم سره حدّ جاري کړی سو نو ګواکي الله تعالیٰ هغه سړی (محدود) مړ کړی دی. نو ځکه به پر إمام ضمان نه واجبيږي. والله أعلم بالصواب



كِتَابُ السَّرِقَةِ

(دا) كتاب د غلا كولو (د احكامو په بيان كي) دى

تشريح: مخكي تر دې هغه زواجر بيان سول چي د هغوى تعلق د نفوسو د حفاظت سره وو. اوس له دې ځاى څخه هغه زواجر بيانيږي كوم چي د أموالو د حفاظت سره تعلق لري. او دا معلومه خبره ده چي نفوس له أموالو څخه مخكي او مقدّم دي. لهذا په بيان او ذكر كي هم نفوس له أموالو څخه مخكي كړل سوه. (عنايه وبناية ج:٦، ص:٣٧٢)

د "سَرِقَة" لغوي او اصطلاحي معنىٰ به په عبارت كي ذكر سي.

د "سرقه" لغوي او اصطلاحي معنى او قسمونه

قَالَ: السَّرِقَةُ فِي اللُّغَةِ: أَخْذُ الشَّيْءِ مِنَ الْغَيْرِ عَلَى سَبِيلِ الْخُفْيَةِ وَالِاسْتِسْرَارِ فرمايي: د "سرقة" لغوي معنىٰ ده: په خفيه او پټه توګه له بل چا څخه يو شى اخيستل وَمِنْهُ اسْتَرَاقُ السَّمْعِ او له همدې معنىٰ څخه استراقُ السمع [مأخوذ] دى قَالَ اللهُ تَعَالَى إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ [الحجر: ١٧] الله تعالى فرمايلي دي: ماسوا له هغه شيطان څخه كوم چي يې په پټه توګه واوري [يعني كوم چي آسماني خبرو ته په غلا غوږ ونيسي] وَقَدْ زِيدَتْ عَلَيْهِ أَوْصَافٌ فِي الشَّرِيعَةِ او د "سرقه" پر لغوي معنى په شريعت كي څه اوصاف اضافه كړل سوي دي عَلَى مَا يَأْتِيكَ بَيَانُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چي د هغه بيان به انشاء الله ستا [مخ] ته راسي وَالْمَعْنَى اللُّغَوِيُّ مُرَاعًى فِيهَا ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً او په شرعي معنىٰ كي د ابتداء او انتهاء دواړو په اعتبار سره د لغوي معنىٰ رعايت سوى دى أَوِ ابْتِدَاءً لَا غَيْرُ يا فقط ابتداءً د لغوي معنىٰ رعايت سوى دى كَمَا إِذَا نَقَبَ الْجِدَارَ عَلَى الِاسْتِسْرَارِ وَأَخَذَ الْمَالَ مِنَ الْمَالِكِ مُكَابَرَةً عَلَى الْجِهَارِ لكه يو څوک چي په پټه توګه په دېوال كي سورى جوړ كړي او له مالک څخه په جنګ په ښكاره توګه مال واخلي وَفِي الْكُبْرَى أَعْنِي قَطْعَ الطَّرِيقِ مُسَارَقَةُ عَيْنِ الْإِمَامِ او په غټه غلا يعني په ډاكه ماري كي د امام له نظر څخه [په پټه] غلا كول سته لِأَنَّهُ هُوَ الْمُتَصَدِّي لِحِفْظِ الطَّرِيقِ بِأَعْوَانِهِ حكه چي امام په خپلو

مرستيالانو [سپاهيانو] سره د لارو حفاظت ته متوجه وي وَفِي الصُّغْرٰى مُسَارَقَةُ عَيْنِ الْمَالِكِ أَوْ مَنْ يَقُوْمُ مَقَامَهٗ او په کوچنئ غلا کې د مالک يا د هغه د قائم مقام له نظر څخه [په پټه] غلا کول ستـه.

اللغات: ﴿سَرَقَة﴾ او سَرِقَة: د ضرب مصدر دى: غلا كول. ﴿استسرار﴾ د استفعال مصدر دى: پټول، په پټه يو كار كول. ﴿إِسْتِرَاقُ السَّمْعِ﴾ په غلا ديو چا خبره اورېدل. په پټه اورېدل. په پټه چا ته غوږ نيول. ﴿مُراعىٰ﴾ د مفاعلې اسم مفعول دى: د كوم شي چې رعايت وسي او اعتبار وركول سي هغه ته "مراعیٰ". ﴿نقب﴾ د نصر ماضي ده: (په دېوال كې) سوري جوړول. (دېوال سورى كول). ﴿مكابرة﴾ د مفاعلې مصدر دى: جنګ كول. زور او غلبه كول. ﴿جهار﴾ په اعلانيه توګه. په ښكاره. په ښكاره توګه. ﴿قطع الطريق﴾ لاره شكول. ډاكه اچول. ډاكه ماري. ﴿متصدّي﴾ د تفعّل اسم فاعل دى. تَصَدّٰى يَتَصَدّٰى تَصَدِّيًا: په يو شي پسې كېدل. متوجّه كېدل. ﴿أعوان﴾ جمع د "عَوْنٌ" ده: مددګار، مرستيال.

تشريح: په دې عبارت كې د "سرقه" لغوي او اصطلاحي معنىٰ بيان سوې ده. د "سرقه" لغوي معنىٰ ده "په پټه توګه ديو چا مال اخيستل"، او إِسْتِرَاقُ السَّمْعِ يعني په پټه (او په غلا) ديو چا خبره اورېدل هم له دې څخه مأخوذ او مشتق دي (او د آيت مطلب دا دى چې شيطان په پټه توګه د آسماني خبرو د اورېدلو كوښښ كوي، لېكن د الله له طرفه پر هغه خبيث يو كاري وارى وسي. او د هغه ټوله اُميدونه او كوښښونه د خاورو سره خاوري سي). او د "سرقه" اصطلاحي او شرعي معنىٰ هم د لغوي معنىٰ په څېر ده خو په هغه كې دا اضافه هم سوې ده "أَخْذُ مَالِ الْغَيْرِ عَلٰى سَبِيْلِ الْخُفْيَةِ نِصَابًا مُحْرَزًا مِنْ غَيْرِ تَأْوِيْلٍ وَلَا شُبْهَةٍ" يعني له څه تأويل او شبهې څخه بغير په پټه توګه د بل چا مال اخيستل چې هغه د "سرقه" د نصاب په اندازه وي او محفوظ هم وي (عنايه). د دې نوره تشريح به وروسته راسي. او په شرعي معنىٰ كې د ابتداء او انتهاء دواړو په اعتبار سره يا فقط په ابتداء كې د لغوي معنىٰ (يعني په پټه د مال اخيستلو) اعتبار او رعايت كېږي، د ابتداءً او انتهاءً دواړو مثال دا دى چې يو څوک په پټه ديو چا په دېوال كې سورى (نقب) جوړ كړي او په پټه د هغه مال يووسي چې په هغه سره بالكل مالک خبر نه سي (نو دلته په ابتداء كې هم مالک په خبر نه سو او په پټه هغه سورى جوړ كړى. او په انتهاء كې هم مالک په خبر نه سو او په پټه هغه مال يووړى). او ابتداءً د لغوي معنىٰ د اعتبار كولو مثال دا دى چې يو څوک په پټه په دېوال كې نقب جوړ كړي او تر دې وروسته مالک په

خبر سي او هغه د مالک سره مقابله وکړي او په ښکاره توګه (په زوره) مال ځني يووسي (نو دلته که څه هم په انتهاء کي د "سرقه" لغوي معنیٰ (په پټه مال اخيستل) نسته. لېکن په ابتداء کي (يعني کور ته د داخلېدلو په وخت کي) دا معنیٰ سته (يعني هغه په پټه کور ته داخل سو). لهذا په دې صورت کي هم د "سرقه" معنیٰ موجود سوه. نو ځکه به پر هغه مناسب حدّ جاري کيږي).

وفي الكبرىٰ إلخ: په دې سره د غلا دويم قسم (ډاکه ماري) بيانوي. حاصل يې دا دی چي که څه هم په غټه غلا يعني په ډاکه ماري کي په عامه او ښکاره توګه ډاکوګان مقابله کوي او له خلکو څخه مالونه اخلي. خو هغوی بيا د حکومت او إمام او د هغه د لښکرو او عسکرو څخه په پټه توګه دا کار کوي. ځکه چي د إمام له طرفه ګزمه ګرځي او هغه په خپلو عسکرو سره د لارو حفاظت کوي (مطلب دا چي که څه هم په ډاکه ماري کي په اعلانيه او ښکاره توګه له خلکو څخه مالونه اخيستل کيږي. خو بيا هم د إمام له نظر څخه په پټه ډاکه ماري کيږي). لهذا په دې کي هم "د پټېدلو" او د سرقه لغوي معنیٰ موجوده سوه (نو ځکه به په دې کي هم د ډاکه ماری سره مطابق حدّ جاري کيږي).

په کومو صورتونو کي به د غله (سارق) لاس پرېکيږي؟

قَالَ: وَإِذَا سَرَقَ الْعَاقِلُ الْبَالِغُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فرمايي: کله چي عاقل بالغ کس لس [۱۰] درهمه غلا کړي أَوْ مَا يَبْلُغُ قِيمَتُهُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ مَضْرُوبَةً يا داسي شی غلا کړي چي د هغه قيمت لسو تيار سوو [مُهر زده] درهمو ته رسيږي مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ [او] له محفوظه ځای څخه [يې غلا کړي] چي په هغه کي شبهه نه وي وَجَبَ الْقَطْعُ نو [د هغه د لاس] پرېکول واجبيږي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُه تَعَالىٰ: وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا [المائدة: ۳۷] او اصل په دې باره کي د الله تعالیٰ دا فرمان دی: "وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْ..." وَلَا بُدَّ مِنْ اِعْتِبَارِ الْعَقْلِ وَالْبُلُوغِ او د عقل او بلوغ اعتبار کول ضروري دي لِأَنَّ الْجِنَايَةَ لَا تَتَحَقَّقُ دُونَهُمَا ځکه چي له هغوی څخه بغير جرم نه ثابتيږي. وَالْقَطْعُ جَزَاءُ الْجِنَايَةِ او قطعُ اليد د جرم سزا ده وَلَا بُدَّ مِنَ التَّقْدِيرِ بِالْمَالِ الْخَطِيرِ او ډېر مال [مال كثير] متعينول ضروري دي لِأَنَّ الرَّغَبَاتِ تَفْتُرُ فِي الْحَقِيرِ ځکه چي په لږ غوندي مال کي کم رغبت کيږي وَكَذَا أَخْذُهُ لَا يَخْفَى او همدارنګه لږ مال په پټه [هم] نه اخيستل کيږي فَلَا يَتَحَقَّقُ رُكْنُهُ وَلَا حِكْمَةُ الزَّجْرِ نو [په لږ غوندي مال کي] به د سرقې رکن نه ثابتيږي او نه به د زجر حکمت ثابتيږي لِأَنَّهَا فِيمَا

يَغْلِبُ ځکه چې د زجر حکمت په هغه مال کې ثابتيږي کوم چې غالب وي ايمني کوم چې غالباً غلا کيږي] وَالتَّقْدِيرُ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ مَذْهَبُنَا او په لسو درهمو سره اندازه کول زموږ مذهب دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ التَّقْدِيرُ بِرُبْعِ دِينَارٍ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا تقدير په ځلورو دينارو سره دی وَعِنْدَ مَالِكٍ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز دا تقدير په دريو درهمو سره دی لَهُمَا: أَنَّ الْقَطْعَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ [1] مَا كَانَ إِلَّا فِي ثَمَنِ الْمِجَنِّ د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د نبي ﷺ په زمانه کې به د ډال د قيمت په په غلا کولو سره لاس پرېکول کېدی وَأَقَلُّ مَا نُقِلَ فِي تَقْدِيرِهِ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ او د ډال د قيمت کمه اندازه درې درهمه را نقل سوې ده ايمني د ډال کم قيمت درې درهمه دي] وَالْأَخْذُ بِالْأَقَلِّ وَهُوَ الْمُتَيَقَّنُ بِهِ أَوْلَى او پر کم مقدار عمل کول ډېره غوره دي ځکه چې کم [أقل] متيقن وي غَيْرَ أَنَّ الشَّافِعِيَّ يَقُولُ: كَانَتْ قِيمَةُ الدِّينَارِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ اثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کې د يوه دينار قيمت دوولس [۱۲] درهمه وو وَالثَّلَاثَةُ رُبْعُهَا او درې درهمه د هغه ربع ده وَلَنَا: أَنَّ الْأَخْذَ بِالْأَكْثَرِ فِي هٰذَا الْبَابِ أَوْلَى احْتِيَالًا لِدَرْءِ الْحَدِّ زموږ دليل دا دی: چې د حدّ دفع کولو لپاره د حيلې جوړولو په خاطر په دې باب کې په زيات مقدار عمل کول ډېر غوره دي وَهٰذَا لِأَنَّ فِي الْأَقَلِّ شُبْهَةَ عَدَمِ الْجِنَايَةِ او دا ځکه چې په أقل کې د "نه جرم" شبهه سته [يعني د ډېر لږ غوندي مال په غلا کولو کې دا شبهه سته چې هغه به جرم نه وي] وَهِيَ دَارِئَةٌ لِلْحَدِّ حال دا چې شبهه د حدّ لپاره دفع کونکې [ساقطونکې] ده وَقَدْ تَأَيَّدَ ذٰلِكَ بِقَوْلِهِ ﷺ [2]: لَا قَطْعَ إِلَّا فِي دِينَارٍ أَوْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ او د نبي کريم ﷺ په دغه فرمان سره د دې تائيد کيږي: چې لاس به نه پرېکول کيږي مګر په يوه دينار کې يا په لسو درهمو کې وَاسْمُ الدَّرَاهِمِ يُطْلَقُ عَلَى الْمَضْرُوبَةِ عُرْفًا او د "دراهم" د لفظ اطلاق په عرف کې پر تيار سوو [مُهر زده] دراهمو کيږي فَهٰذَا يُبَيِّنُ لَكَ اشْتِرَاطَ الْمَضْرُوبِ نو همدا [عرف] تا ته د مضروبه دراهمو د شرطوالي وضاحت کوي كَمَا قَالَ فِي الْكِتَابِ لکه څرنګه چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په کتاب [متن] کې ويلي دي وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا ظاهر روايت دی او همدا

---

[1] تخريج: رواه البخاري، رقم الحديث:۶۷۹۳.

[2] تخريج: رواه الترمذي، تحت الرقم:۱۴۴۶.

ډېر صحيح دی رِعَايَةً لِكَمَالِ الْجِنَايَةِ د دې لپاره چې د کامل جنايت رعايت وسي حَتّٰى لَوْ سَرَقَ عَشَرَةً تِبْرًا قِيمَتُهَا أَنْقَصُ مِنْ عَشَرَةٍ مَضْرُوبَةٍ همدا وجه ده که څوک د سپینو زرو لس داسې ټوټې غلا کړې چې د هغوی قیمت د لسو تیار سوو درهمو څخه کم وي لَا يَجِبُ الْقَطْعُ نو قطعُ اليد نه واجبيږي وَالْمُعْتَبَرُ وَزْنُ سَبْعَةِ مَثَاقِيلَ او په دراهمو کې د اُوو مثقالو والا وزن معتبر دی لِأَنَّهُ هُوَ الْمُتَعَارَفُ فِي عَامَّةِ الْبِلَادِ ځکه چې په زیاتره ښارو کې همدغه وزن متعارف دی وَقَوْلُهُ: أَوْ مَا يَبْلُغُ قِيمَتُهُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ غَيْرَ الدَّرَاهِمِ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ بِهَا او (په متن کې) د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "ما يبلغ قيمته عشرة دراهم" و دې خبرې ته اشاره ده چې له دراهمو څخه بغير (د بل غلا کړی سوي شي) د قيمت اعتبار به په دراهمو سره کيږي وَإِنْ كَانَ ذَهَبًا که څه هم هغه سره زر وي وَلَا بُدَّ مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ او له داسې محفوظ ځای څخه غلا کول ضروري دي چې په هغه کې شبهه نه وي لِأَنَّ الشُّبْهَةَ دَارِئَةٌ ځکه چې شبهه (د حدّ لپاره) دفع کونکې ده وَسَنُبَيِّنُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د دې بيان به موږ انشاء الله وروسته وکړو.

اللغات: ﴿مضروبة﴾ له سرو زرو او سپینو زرو څخه جوړه کړی سوې سکّه چې د حکومت له طرفه مُهر پر وهل سوی وي (يعني کله چې له سرو او سپینو زرو څخه دينار او درهم تيار کړی سي او د حکومت له طرفه مُهر [ټاپه] پر ووهل سي، نو داسې دينار او درهم ته مضروب دينار او درهم وايي). ﴿حِرْز﴾ (د حاء په کسره سره) اسم دی معنیٰ يې ده: محفوظه ځای، مظبوطه ځای، او حَرْز (د حاء په فتحه سره) د نصر د باب مصدر دی معنی يې ده: ساتل، حفاظت کول، محفوظه کول (دلته د خاء په کسره سره دی، مطلب يې دا دی چې مسروق (غلا کړی سوی شی) به په داسې ځای کې پروت وي چې هلته د حفاظت او خوندي کولو په غرض شیان اېښوول کيږي او د اېښوونکي کس اراده او مقصد په اېښولو سره خوندي کول او ساتل وي، نه ضايع کول). ﴿خطير﴾ غټ، ستر. ﴿تفتر﴾ د نصر مضارع ده: کمېدل (لږېده)، رغبت او شهوت سړېدل. ﴿مجنّ﴾ ډال، سپر. ﴿درء﴾ د فتح د باب مصدر دی: دفع کول، ليري کول. ﴿أقلّ﴾ ډېر کم، کمتر. ﴿تِبْر﴾ د سپینو زرو ټوټه (ټوکړه).

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د غلا کولو په وجه به هغه وخت د غله لاس پرېکيږي کله چې غل عاقل او بالغ وي: ځکه چې له عقل او بلوغ څخه بغير خو بالکل جنايت نه ثابتيږي. او (هغه وخت به د غله

لاس پرېکېږي) چې هغه لس نغد درهمونه يا دلسو درهمو د قيمت په اندازه شى غلا کړي. او له داسي محفوظ ځاى څخه يې غلا کړي چې د هغه په محفوظه کېدلو کي هيڅ شک او شبهه نه وي (مطلب دا چي په هغه ځاى کي د حفاظت په غرض شيان ايښوول کېږي چي د ايښوونکي مقصد خوندي کول وي، نه ضايع کول)؛ د لاس پرېکولو په باره کي أصل او بنياد دا آيت دى "اَلسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ الله" (يعني که يو سړى يا ښځه غلا وکړي. نو تاسي د هغوى لاسونه پرېکړئ! او دا قطع د الله له طرفه د دوى د عمل [غلا] جزاء او سزا ده). معلومه سوه چي د لاس پرېکول د غلا د جنايت سزا ده. او فقط د هغه مال په جزاء کي به لاس پرېکول کېږي کوم چي کثير (ډېر) وي يعني د لسو درهمو په اندازه وي، ځکه چي د لسو درهمو څخه کم مال لږ او معمولي غوندي وي او که څه هم هغه مال وي لېکن خلک پر هغه توجّه نه کوي. همدارنګه کم مال په پټه توګه غلا کول کېږي هم نه. لهذا کله چي کم مال په پټه توګه نه غلا کول کېږي. نو په هغه کي به د "سرقه" رکن يعني "په پټه اخيستل" او د زجر او تنبيه ورکولو حکمت هم نه ثابتېږي. نو ځکه موږ دا شرط لګولى دى چي د لاس پرېکولو لپاره د "سرقه" نصاب يعني کم از کم د لسو درهمو يا د هغه د قيمت په اندازه مال غلا کول ضروري دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د دينار د څلورمي حصې (رُبع) په غلا کولو سره لاس پرېکېږي. او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د درېو (٣) درهمو په غلا کولو سره لاس پرېکېږي: د دوى دليل دا دى چي د نبي ﷺ په زمانه کي به د ډال (سپر) د قيمت په غلا کولو سره لاس پرېکول کېدى. او له حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روايت سوى دى: "أن رسول الله ﷺ قطع سارقا في مجن قيمته ثلاثة دراهم" (يعني نبي کريم ﷺ د ډال غلا کولو په وجه ديوه غله لاس پرېکړى او د هغه ډال قيمت درې درهمه وو)، له دې څخه معلومه سوه چي د درېو درهمو غلا کول يا د درېو درهمو د قيمت په اندازه شى غلا کول د حدّ موجِب دى. د دې عقلي دليل دا دى چي درې أقل متعين او متيقّن وي. نو ځکه پر دې عمل کول اولىٰ دي، او د نبي ﷺ په زمانه کي يو دينار دوولس (١٢) درهمه کېدى نو په دې حساب سره د دينار يوه رُبع درې درهمه کېږي، ګواکي د معنىٰ او مقصد په لحاظ سره د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله دواړو قول يو دى. فقط په سکّه او پيسه کي يې فرق دى.

ولنا إلخ: په دې سلسله کي زموږ دليل دا دى چي "لا قطع إلّا في دينار أو عشرة دراهم" (يعني له يوه دينار يا لسو درهمو څخه په کم مال کي قطع نسته)، يعني لاس به په هغه وخت پرېکول کېږي کله چي يو دينار غلا کړى سي يا لس درهمه او له دې څخه د کم مال غلا کېدلو په صورت کي به لاس نه پرېکول

كيږي، او ښكاره خبره ده چي لس درهمه او يو دينار له دريو درهمو او ربع دينار څخه زيات او أكثر دي. او د حدّ ساقطولو لپاره د حيلې جوړولو په خاطر پر أكثر عمل كول زيات غوره دي (ځكه مخكښي ضمناً ذكر سوه چي كوښښ به كيږي چي حدّ په يوه حيله سره ساقط كړی سي). لهذا په دې حواله سره به د لسو درهمو والا قول راجح وي. دويمه خبره دا ده چي په دې هكله اختلاف دی چي په أقل يعني ربع دينار يا درې درهمو سره حدّ واجبيږي، ځكه موږ أحناف هغه د حدّ مُوجِب نه منو. لېكن زموږ مقدار يعني لس درهمه يا يو دينار شوافع او مالكيان ټوله د حدّ مُوجِب مني، او دا خبره ترلمر سپينه ده چي متفق عليه مقدار اختيارول اولیٰ او افضل دي، لهذا په دې حواله سره به هم د لسو درهمو والا قول راجح وي، همدا خبره صاحب د كتاب په دې عبارت "لأن في الأقلّ شبهة عدم الجناية.. إلخ" سره بيان كړې ده.

واسم الدراهم إلخ: فرمايي چي په عرف كي له مطلق دراهمو څخه "تيار سوې" (مُهر زده) دراهم مراديږي (كوم چي په بازار كي چليږي، د سپينو زرو نا تياري سوي ټوټې نه ځني مراديږي). نو دلته به هم له دراهمو څخه تيار سوي (مُهر زده) درهم مراد وي. ام قدوري رَحِمَهُ الله هم دا شرط لګولی دی. او د جنايت د بشپړ تيا او د حدّ د واجبېدلو لپاره دا شرط ضروري دی. همدا وجه ده كه څوک د سپينو زرو لس ټوټې غلا كړي او د هغو قيمت له عشرة دراهم مضروبة څخه كم وي نو د غله لاس به نه پرېكيږي. پاته عبارت واضح دی (تشريح ته ضرورت نه لري).

د لاس پرېكولو په حكم كي د آزاد او غلام د مساوات بيان

قَالَ: وَالْعَبْدُ وَالْحُرُّ فِي الْقَطْعِ سَوَاءٌ فرمايي: چي په قطعُ اليد كي غلام او آزاد دواړه سره برابر دي لِأَنَّ النَّصَّ لَمْ يُفَصِّلْ ځكه چي قرآني آيت (د غلام او آزاد په مينځ كي) هيڅ فرق كړی نه دی وَلِأَنَّ التَّنْصِيفَ مُتَعَذِّرٌ او ځكه چي (دلته د غلام سزا) نيمول مشكل دي فَيَتَكَامَلُ صِيَانَةً لِأَمْوَالِ النَّاسِ لهذا د خلكو د مالونو د حفاظت په خاطر به (د غلام) سزا پوره كول كيږي وَيَجِبُ الْقَطْعُ بِإِقْرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً او د غله په يوه ځل اقرار كولو سره به قطعُ اليد واجبيږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دا حكم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يُقْطَعُ إِلَّا بِالْإِقْرَارِ مَرَّتَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له دوه واره اقرار كولو څخه بغير به د هغه لاس نه پرېكيږي وَرُوِيَ عَنْهُ: أَنَّهُمَا فِي مَجْلِسَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی: چي دا دواړه اقرارونه به په دوو جلا مجلسونو كي وي لِأَنَّهُ إِحْدَى الْحُجَّتَيْنِ ځكه چي اقرار له دوو

حجتونو څخه يو حجت دى فَتُعْتَبَرُ بِالْأُخْرَىٰ نو ځکه به هغه پر دويم حجت قياس کيږي وَهِيَ الْبَيِّنَةُ او هغه ادويم حجت ا گواهي ده كَذٰلِكَ اِعْتَبَرْنَا فِي الزِّنَا همدارنگه موږ په زنا کي قياس کړی دی وَلَهُمَا: أَنَّ السَّرِقَةَ قَدْ ظَهَرَتْ بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي په يوه وار اقرار کولو سره غلا ښکاره سوه فَيُكْتَفَىٰ بِهِ لهذا پر"يوه ځل" به اکتفار کيږي كَمَا فِي الْقِصَاصِ وَحَدِّ الْقَذْفِ لکه په قصاص او حد قذف کي اچي پر يوه ځل اقرار کولو اکتفاء کيږي ا وَلَا اعْتِبَارَ بِالشَّهَادَةِ او هغه به پر گواهی نه قياس کيږي لِأَنَّ الزِّيَادَةَ تُفِيدُ فِيهَا تَقْلِيلَ تُهْمَةِ الْكَذِبِ ځکه چي په گواهی کي د درواغو د تهمت کمولو لپاره اد گواهانو ا زياتوب فايده کوي وَلَا تُفِيدُ فِي الْإِقْرَارِ شَيْئًا لېکن په اقرار کي زياتوب هيڅ فايده نه کوي لِأَنَّهُ لَا تُهْمَةَ ځکه چي اپه اقرار کي ا تهمت نسته وَبَابُ الرُّجُوعِ فِي حَقِّ الْحَدِّ لَا يَنْسَدُّ بِالتَّكْرَارِ او د څو ځله اقرار کولو باوجود د رجوع کولو دروازه نه بنديږي وَالرُّجُوعُ فِي حَقِّ الْمَالِ لَا يَصِحُّ أَصْلًا او د مال په حق کي بالکل رجوع کول صحيح نه دي لِأَنَّ صَاحِبَ الْمَالِ يُكَذِّبُهُ ځکه چي د مال خاوند دِ راجع تکذيب کوي وَاشْتِرَاطُ الزِّيَادَةِ فِي الزِّنَا بِخِلَافِ الْقِيَاسِ او په زنا کي د زياتوب شرط کېدل د قياس خلاف دي فَيَقْتَصِرُ عَلَىٰ مَوْرِدِ الشَّرْعِ نو ځکه به هغه فقط د شريعت د واردېدو پر ځای منحصر کيږي اچي هغه زنا ده. او پر هغه به غلا نه قياس کيږي ا قَالَ: وَيَجِبُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ فرمايي: چي د دوو گواهانو په گواهی سره به قطعُ اليد واجبيږي لِتَحَقُّقِ الظُّهُورِ د دې لپاره چي اد غلا ا ښکاره والی ثابت سي كَمَا فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ لکه په نورو حقوقو کي اچي دوه گواهان ضروري دي، لهذا دلته به هم دوه گواهان ضروري وي ا وَيَنْبَغِي أَنْ يَسْأَلَهُمَا الْإِمَامُ عَنْ كَيْفِيَّةِ السَّرِقَةِ وَمَاهِيَّتِهَا وَزَمَانِهَا وَمَكَانِهَا لِزِيَادَةِ الِاحْتِيَاطِ او امام لره پکار دي چي د زيات احتياط لپاره له دې دوو گواهانو څخه د غلا د کفييت، حقيقت ا تعريف ا ، او د غلا د وخت او مکان په هکله پوښتنه وکړي كَمَا مَرَّ فِي الْحُدُودِ لکه د حدّونو په بحث کي چي دا احکم ا تير سو وَيَحْبِسُهُ إِلَىٰ أَنْ يَسْأَلَ عَنِ الشُّهُودِ لِلتُّهْمَةِ او امام به تر دومره وخت پوري غل بندي کوي تر دې چي د گواهانو په باره کي پوښتنه وکړي، د تهمت په وجه ايعني ځکه چي پر غله د غلا تهمت لگېدلی دی. نو په دې وجه به يې بندي ساتي ا قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَكَ جَمَاعَةٌ فِي سَرِقَةٍ فَأَصَابَ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ فرمايي: او کله چي په غلا کي څو خلک شرکت وکړي او په هغو کي هر يوه ته لس درهمه ورسيږي قُطِعَ نو د هر يوه لاس به پرې‌کول کيږي وَإِنْ أَصَابَهُ أَقَلُّ

او که اهر یوه ته ا تر لسو کم دزهم ورسیږي لَا يُقْطَعُ نو نه به پرېکول کیږي لِأَنَّ الْمُوجِبَ سَرِقَةُ النِّصَابِ ځکه چې د پرېکولو مُوجب د نصاب غلا کول دي ایعني قطعُ الید د سرقې د نصاب په غلا کولو سره واجبیږي، چې هغه لس درهمه دي ا وَيَجِبُ عَلَىٰ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ بِجِنَايَتِهِ او اځرنګه چې قطعُ الید ا پر هر یوه د خپل جرم په وجه واجبیږي فَيُعْتَبَرُ كَمَالُ النِّصَابِ فِي حَقِّهِ نو ځکه به د هر یوه په حق کې د پوره نصاب السو درهموا اعتبار کیږي.

اللغات: ﴿تَنْصِيف﴾ د تفعیل مصدر دی: نیمول (نیمايي کول). ﴿مُتَعَذِّر﴾ مشکل. ناممکن. ﴿تَقْلِيل﴾ د تفعیل مصدر دی: لږول، کمول. ﴿لَا يَنْسَدّ﴾ د انفعال له باب څخه د نفي صیغه ده: بندېدل. ﴿مَوْرِد﴾ د ضرب له باب څخه د اسمِ ظرف صیغه ده: د "واردېدلو" مقام. ﴿أَصَابَ﴾ د افعال ماضي ده: رسېدل.

تشريح: په دې عبارت کي ټوله څلور مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... د قطعُ الید په حکم کي غلام او آزاد دواړه برابر دي. یعني که غلام غلا وکړي، نو د آزاد په څېر به د هغه لاس هم پرېکیږي او په هغه کي به تنصیف نه کیږي. ځکه چي په پرېکولو کي تنصیف کول متعذر او مشکل دي، نو ځکه به د آزاد په څېر د هغه لاس پوره پرېکیږي. د دې لپاره چي غلام هم د غلا له کارونو څخه منع سي او د خلګ أموال محفوظ او خوندي پاته سي.

(۲)... که غل فقط یو وار د غلا اقرار وکړي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په همدې یوه اقرار سره د هغه لاس پرېکیږي، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز به په دوو جلا، جلا مجلسونو کي په اقرار کولو سره د هغه لاس پرېکیږي؛ امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلته له قیاس څخه کار اخیستی دی چي څرنګه د دوو خلګو په ګواهي سره غلا ثابتیږي، همداسي به په دوه واره اقرار کولو سره غلا او قطعُ الید ثابتیږي. لکه څرنګه چي زِنا د څلورو خلګو په ګواهي سره ثابتیږي یا په څلور واره اقرار کولو سره ثابتیږي (په یوه وار اقرار کولو سره زنا نه ثابتیږي).

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي غلا په یوه وار اقرار کولو سره ثابتیږي، او څرنګه چي قصاص او حدِ قذف په یوه وار اقرار کولو سره ثابتیږي، همداسي به غلا هم په یوه وار اقرار کولو سره ثابتیږي او دا یو وار اقرار کول به د قطع مُوجب وي، او د زیاتو وارونو شرط لګول به تحصیل د حاصل وي کوم چي صحیح نه دي.

او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قیاس صحیح نه دی چي هغه اقرار پر بیّنه او ګواهي باندي قیاسوي. ځکه چي په بینه کي د ګواهانو په زیاتوالي (او دوه والي) سره د کذب تهمت نفي کیږي او په اقرار کي خو هیڅ تهمت هم نسته نو هغه به څرنګه نفي سي! (ځکه څوک چي په خپله د غلا اقرار کوي. او ځان سزا ته تیاروي. نو د هغه په اقرار کي د دروغو هیڅ احتمال راتلای نه سي)، همدا وجه ده چي تر څو واره اقرار کولو وروسته هم په حدِ کي رجوع کول صحیح وي (لکه مخکي چي د دې بیان وسو) لېکن څرنګه چي په سرقه کي د مال معامله ده او

په مال کي رجوع کېدای نه سي، ځکه مُقر چي کله هم رجوع کوي نو صاحبُ المال د هغه تکذيب کوي، لهذا په دې حوانه سره هم په دې اقرار کي تکرار مفيد نه دی، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چي هغه پر زنا قياس کړی دی دا قياس هم صحيح نه دی، ځکه چي زنا ډېره نازکه معامله ده او په هغې کي د زياتوب شرط لګول (يعني څلور واره اقرار شرط کول) د قياس خلاف دي، او قاعده دا ده چي کوم شی خلافُ القياس ثابت وي پر هغه بل شی قياس کېدای نه سي، د قاعدې الفاظ دا دي "مَا ثَبَتَ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ فَغَيْرُهُ لَا يُقَاسُ عَلَيْهِ".

(۳)... غلا به د دوو ګواهانو په ګواهۍ سره ثابتېږي او د دوو ګواهانو په ګواهۍ سره به قطعُ اليد واجبېږي. او امام ته پکار دي چي هغه له ګواهانو څخه د غلا د کيفيّت په هکله پوښتنه وکړي چي هغه (سارق) څرنګه غلا وکړه، ځکه کېدای سي چي هغه به په دېوال کي سوری (نقب) جوړ کړی وي او لاس به يې ور ننه کړی وي او په دې توګه به يې مال غلا کړی وي حال دا چي داسي غلا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قطعُ اليد مُوجِب نه ده او په دې صورت کي حدّ ساقطېږي، نو په دې وجه د غلا د کيفيّت په هکله پوښتنه کول پکار دي. همدارنګه د غلا د ماهيت په هکله هم پوښتنه کول پکار دي (چي د غلا حقيقت څه دی او غلا څه ته وايي!)، ځکه کېدای سي چي غلا کړی سوی شی ډېر کم او معمولي وي، او د غلا د وقت او تاريخ په هکله هم پوښتنه کول پکار دي، ځکه که د غلا ډېر وخت وسي نو هم حدّ ساقطېږي، او د غلا د ځای او مکان په هکله هم پوښتنه کول پکار دي، ځکه کېدای سي چي هغه له خپل کور يا د خپل زوی له کور څخه مال غلا کړی وي، يا يې له غيرِ محرز (نامحفوظ) ځای څخه مال غلا کړی وي، نو په دې صورتونو کي هم حدّ ساقطېږي. نو ځکه إمام او قاضي ته پکار دي چي د دې شيانو په هکله پوښتنه وکړي. په همدې کي زيات احتياط دی، او امام چي تر څو د ګواهانو د حالت په باره کي پوښتنه نه وکړي (او خبره سپينه نه سي) تر هغه وخته پوري به غل د ځان سره ساتي، ځکه چي پر هغه د غلا تهمت لګېدلی دی او د هغه د تښتېدلو خطره سته.

(۴)... که يو څو خلک په ګډه غلا وکړي، او ټولو ته لس، لس درهمه (يا تر دې زيات) ورسيږي، نو بيا به د ټولو لاسونه پرېکول کيږي، لېکن که په دوی کي هيچا ته د غلا د نصاب په اندازه يعني د لسو درهمو په اندازه مال نه ورسيږي، نو د يوه لاس به هم نه پرېکول کيږي؛ ځکه چي د قطعُ اليد مُوجِب د غلا د نصاب په اندازه مال غلا کول دي او هغه دلته نسته نو قطعُ اليد به هم نه واجبيږي، او څرنګه چي په دوی کي پر هر يوه باندي د خپل جنايت او جرم په وجه قطعُ اليد واجبيږي، لهذا د هر يوه په حق کي به د جنايت د پوره والي او کاملوالي اعتبار کيږي، او جنايت هغه وخت پوره کيږي کله چي هر يوه ته د غلا له مال څخه لس، لس درهمه رسېدلي وي. والله أعلم وعلمهُ أتم



بَابُ مَا يُقْطَعُ فِيْهِ وَمَا لَا يُقْطَعُ

(دا) باب (په بيان کې) د هغه غلا دی چې په هغه کې لاس پرېکول کيږي او هغه چې لاس نه (پکښې) پرېکول کيږي

د معمولي شيانو غلا

وَلَا يُقْطَعُ فِيمَا يُوجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ كَالْخَشَبِ وَالْحَشِيشِ وَالْقَصَبِ وَالسَّمَكِ وَالطَّيْرِ وَالصَّيْدِ وَالزِّرْنِيخِ وَالْمَغْرَةِ وَالنُّورَةِ او لاس به نه پرېکول کيږي په هر هغه معمولي او مباحُ الأصل شي کې کوم چې په دارُ الاسلام کې پيدا کيږي لکه لرګي [لرګيان]، واښه، بانس، ماهيان، مرغان، د ښکار ښاروبان، هړتال، سره خاوره او چينه وَالْأَصْلُ فِيهِ حَدِيثُ عَائِشَةَ [1] قَالَتْ: كَانَتِ الْيَدُ لَا تُقْطَعُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي الشَّيْءِ التَّافِهِ أَيِ الْحَقِيرِ او أصل په دې سلسله کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی، هغه فرمايي: چې د نبي ﷺ په زمانه کې به پر معمولي يعني پر حقير [کم ارزښته] شي لاس نه پرېکول کېدی وَمَا يُوجَدُ جِنْسُهُ مُبَاحًا فِي الْأَصْلِ بِصُورَتِهِ غَيْرُ مَرْغُوبٍ فِيهِ حَقِيرٌ او هر هغه شی چې په أصل کې د هغه جنس روا پيدا کيږي [چې څوک يې واخلي هغه يې مالک جوړيږي] او هغه ته رغبت [لېوالتيا] نه کيږي [هغه] حقير دی تَقِلُّ الرَّغَبَاتُ فِيهِ وَالطِّبَاعُ لَا تَضَنُّ بِهِ [ځکه چې] وهغه ته [د خلکو] رغبات [او غوښتني] لږ وي او طبيعتونه د هغه په ورکولو کې بخل نه کوي [او څه پروانه په کوي] فَقَلَّمَا يُوجَدُ أَخْذُهُ عَلَى كُرْهٍ مِنَ الْمَالِكِ او ډېر کم پيدا کيږي د مالک په ناخوښۍ سره د هغه اخيستل [د دې جملې مطلب همدا دی چې مالکان د هغه شي په اخيستلو سره ډېر بد نه وړي، يا دا چې مالکان د هغه شي پر اخيستلو کراهيت او ناخوښي نه ښکاره کوي او خاص پروا نه په کوي] فَلَا حَاجَةَ إِلَى شَرْعِ الزَّاجِرِ نو ځکه [په داسې شيانو کې] د زاجر [او سزا] مشروع کولو ته ضرورت نسته ايعني نو ځکه په داسې شيانو کې د شريعت له طرفه هغه ته د سزا او تنبيه ورکولو ضرورت نسته] وَلِهٰذَا لَمْ يَجِبِ

[1] تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرىٰ بمعناه، رقم الحديث: ۱۷۶۲۷.

الْقَطْعُ فِي سَرِقَةِ مَا دُونَ النِّصَابِ همدا وجه ده چي تر نصاب د کم مال په غلا کولو کي د لاس پرېکول نه واجبيږي وَلِأَنَّ الْحِرْزَ فِيهَا نَاقِصٌ او ځکه چي په دې شيانو کي حفاظت ناقص وي أَلَا يُرَى أَنَّ الْخَشَبَ يُلْقَى عَلَى الْأَبْوَابِ آيا هغه نه گوري چي لرگي [الرگيان] د دروازو مخته غورځول کيږي وَإِنَّمَا يَدْخُلُ فِي الدَّارِ لِلْعِمَارَةِ لَا لِلْإِحْرَازِ او په کور کي [خو فقط] د تعميراتي کار لپاره داخليږي. نه د حفاظت لپاره ايعني عموماً خلک لرگي او بناخونه د کور مخته غورځوي، خاص پروا نه په کوي (لکه د صحراء او اطرافو خلک)، او کوم لرگي چي خلک کور ته دننه کوي، نو هغه د دې لپاره دننه کوي چي بام يا داسي بل شی پر جوړ کړي. د حفاظت او ساتلو لپاره يې کور ته نه دننه کوي] وَالطَّيْرُ يَطِيرُ وَالصَّيْدُ يَفِرُّ او مرغان الوزي او ښکار ځاروبان تښتني وَكَذَا الشَّرِكَةُ الْعَامَّةُ الَّتِي كَانَتْ فِيهِ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الصِّفَةِ تُورِثُ الشُّبْهَةَ همدارنگه کوم شيان چي پر خپل أصلي هيئت پاته وي او په هغوی کي د ټولو عوامو شرکت وي نو دا شرکت [د إباحت] شبهه پيدا کوي [يعني هر هغه شی چي په هغه کي ټوله عوام شريک وي او چي څوک يې واخلي هغه يې مالک جوړيږي، نو څرنگه چي غل (سارق) هم له عوامو څخه دی، نو ځکه په داسي شي کي د غله د مالک جوړېدلو شبهه سته او د غله لپاره د دې شي د روايښت شبهه سته] وَالْحَدُّ يَنْدَرِئُ بِهَا او حدّ په شبهې سره ساقطيږي وَيَدْخُلُ فِي السَّمَكِ الْمَالِحُ وَالطَّرِيُّ وَفِي الطَّيْرِ الدَّجَاجُ وَالْبَطُّ وَالْحَمَامُ او د "سمک" په لفظ کي اوچ کړی سوی [نمکين ماهي او تازه ماهي [دواړه] داخليږي او د "طير" په لفظ کي چرگه، هيلۍ او کوتره [ټوله] داخليږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ ❷ الطَّيِّبَةِ: لَا قَطْعَ فِي الطَّيْرِ او د نبي ﷺ د دې فرمان د مطلقوالي په وجه: چي په مرغانو کي قطعُ اليد نسته [يعني د مرغانو په غلا کولو سره به د غله لاس نه پرېکول کيږي] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يَجِبُ الْقَطْعُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا الطِّينَ وَالتُّرَابَ وَالسِّرْقِينَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دا دی: چي قطعُ اليد په هر شي کي واجبيږي ماسوا له ختو، خاورو او د ځاروبانو له فُضلې څخه [لکه خوشايي (گوبر) خرشينه، پچي] وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول [هم] دی وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِمَا مَا ذَكَرْنَاهُ [ليکن] د امام شافعي په خلاف هغه دليل حجت کوم چي موږ ذکر کړی.

---

❷ تخريج: رواه البيهقي، رقم الحديث: ١٧٢٠٦.

اللغات: ﴿تَافِه﴾ معمولي، حقير، بې ارزښته (کم قدره)، ﴿حَقِيْر﴾ کم ارزښته چې څوک پروا نه په کوي، کم قدره چې څوک يې پروا نه لري، سپک، بې ارزښته، صاحب د مصابح يې داسې تعريف کړی دی: حَقُرَ الشَّيْءُ بِالضَّمِّ حَقَارَةً: هَانَ قَدْرُهُ فَلَا يُعْبَأُ بِهِ فَهُوَ حَقِيْرٌ، ﴿خَشَب﴾ اسم جنس دی: لرګيان (لرګي)، ﴿حَشِيْش﴾ واښه (په اَصل کي وچو وښو او بوټو ته وايي)، ﴿قَصَب﴾ بانس، ﴿طَيْر﴾ الوتونکي مرغان، ﴿صَيْد﴾ د ښکار حيوان، هغه حيوان چې خلک يې ښکاروي، ﴿زِرْنِيْخ﴾ يو ډول زهرجن معدني مرکب دی چې د وړېښتيانو د کښلو لپاره کارول کيږي او د پساريانو په اصطلاح هړتال ورته وايي، ﴿الْمُرْدَارْسَنْج﴾ له عجمي څخه عربي ژبې ته را اوښتی لفظ دی: يو قسم ډېره ده چې په پښتو کي مردارسنګ ورته وايي، ﴿الْمَغَرَة﴾ او الْمَغْرَة: يو ډول سره خاوره ده چې په خښتو او داسې نورو شيانو کي کارېږي، د خښتو براده، ﴿نُوْرَة﴾ چونه (چينه، دا هغه مشهوره سپينه خاوره ده چې د خونو او دېوالونو د ښکلا او سپينوالي لپاره کارول کيږي)، ﴿مُبَاحُ الأَصْل﴾ هغه شی چې په اَصل کي راوي، يعني چې څوک يې واخلي هغه يې مالک جوړېږي، لکه د صحرا بوټي (د سوځلو بوټي)، د هوا مرغان، ماهيان او داسې نور، ﴿لَا تَضَنُّ﴾ د نفي صيغه ده، له سمع او ضرب دواړو څخه راځي، بخل کول (بخالت)، ﴿مَالِح﴾ نمکين (مراد ځني هغه ماهی دی چې مالګه پر واچول سي او وچ کړی سي)، ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: ساتل، د حفاظت لپاره کور ته وړل، ذخيره کول، ﴿طَرِيّ﴾ تازه، ﴿السِّرْقِيْن﴾ او السَّرْقِيْن: د څارويانو فضله، خوشايي، خرشينه او داسې نور.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې کوم شيان په دارُ الاسلام کي مباح (روا) او معمولي وي، يعني د هغو هيڅ ارزښت او اهميت نه وي، لکي د سوځلو بوټي او لرګي، همدارنګه ماهيان او مرغان او داسې، نو د هغوی په اخيستلو او غلا کولو سره به د غله لاس نه پرېکول کيږي: ځکه چې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حديث کي له حقير او معمولي شيانو څخه د قطعُ اليد حکم ساقط سوی دی. صاحب د هدايې د تَافِه او حَقِيْر تعريف داسې کړی دی چې هر هغه شی کوم چې اَصلاً مباح وي او هغه پر خپل اصلي حالت پاته وي او هغه ته د خلکو رغبت او لېوالتيا کمه وي. هغه شی حقير دی. پر خپل اصلي حالت د پاتېدلو مطلب دا دی چې مثلاً د لرګي څخه دروازه او کړکۍ جوړه سوې نه وي، ځکه چې د دروازې او کړکۍ غلا کول د حدّ مُوجب دي. لېکن! که لرګي (لرګيان) پر خپل اصلي حالت پاته وي او مُحرز (محفوظ کړی سوي) نه وي نو د هغو اخيستل د قطع اليد مُوجب نه دي، ځکه چې د هغوی پر حفاظت خاص توجه نه کيږي او په عامه توګه لرګي د

کورونو مخته هسې (ايله) پراته وي. همدارنګه مرغان په هوا کې الوزي (او د هيچا په ملکيت نه وي) او ښکاري ښاروپان په دښت او بيابان کې ګرځي او له انسانانو څخه تښتي او هر څوک چې هغوی ونيسي نو هغه يې مالک جوړېږي (لنډه دا چې مرغان او د ښکار ښاروپان په غير محرز او نا محفوظ مقام کې وي، او حدّ [قطعُ اليد] هغه وخت واجبېږي کله چې له محفوظ مکان څخه محفوظ شی غلا کړی سي).

همدارنګه د دې حديث "الصَّيْدُ لِمَنْ أَخَذَ" په وجه په دې شيانو کې د إباحت (روايښت) شبهه سته او په شبهې سره حدّ ساقطېږي، لهذا په دې حواله سره هم د دې شيانو اخيستل د حدّ (قطعُ اليد) مُوجب نه دي.

امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فقط وچه او لنده خاوره او د ښاروپانو فضله مباحُ الأصل ګرځولي دي، او لرګي، وابنه او داسې نور شيان يې د حدّ مُوجب ګرځولي دي، خو دا صحيح نه دي، ځکه چې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث او زموږ بيان سوی عقلي دليل د دې حضراتو په خلاف حُجّت دی.

د ژر خرابېدونکي شيانو غلا

قَالَ: وَلَا قَطْعَ فِيمَا يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ كَاللَّبَنِ وَاللَّحْمِ وَالْفَوَاكِهِ الرَّطْبَةِ فرمايي: او لاس به نه پرېکول کيږي په هغو شيانو کې کوم چې ژر خرابيږي لکه شيدې، غوښې او تازه مېوې لِقَوْلِهِ [1] عليه السلام: لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا فِي كَثَرٍ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: چې نه په ثَمَر کې قطعُ اليد سته او نه په کَثَر کې وَالْكَثَرُ الْجُمَّارُ او کَثَر د خُرما د درختي ګوند [کنډورو] ته وايي [مطلب دا چې د درختو د کنډورو په غلا به هم لاس نه پرېکول کيږي] وَقِيلَ: الْوَدِيُّ او يو قول دا دی: چې "جُمَّار" د خُرما د درختي کوچني ګلانو ته وايي وَقَالَ [2] عليه السلام: لَا قَطْعَ فِي الطَّعَامِ او نبي ﷺ فرمايلي دي: چې په طعام کې قطعُ اليد نسته وَالْمُرَادُ وَاللهُ أَعْلَمُ مَا يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ او له دې څخه مراد والله أعلم هغه شی دی کوم چې ژر خرابيږي كَالْمُهَيَّإِ لِلْأَكْلِ مِنْهُ وَمَا فِي مَعْنَاهُ كَاللَّحْمِ وَالثَّمَرِ لکه د خوړلو لپاره تيار سوی شی او هغه شيی کوم چې د دې په معنیٰ سره وي لکه غوښې او [لنده] مېوه [مثلاً هندوانه، خټکی، انګور او داسې نور] لِأَنَّهُ يُقْطَعُ فِي الْحِنْطَةِ وَالسُّكَّرِ إِجْمَاعًا ځکه چې په غنم او بوره کې

---

[1] تخريج: رواه النسايي، رقم الحديث: ۴۵۹۵.

[2] تخريج: رواه ابن أبي شيبة، رقم الحديث: ۲۸۵۸۷.

بالاتفاق لاس پرېکول کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ فِيهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دې شيانو کي به هم لاس پرېکول کيږي لِقَوْلِهِ ❸ الطَّيِّلَا: لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي چي په مېوه او کَثَر کي قطعُ اليد نسته فَإِذَا آوَاهُ الْجَرِينُ أَوِ الْجِرَانُ او په بل روايت کي ذکر سوي دي البکن که هغه مېوه پر درمند ځای باندي اېښول سوې او ذخيره سوې اوي قُطِعَ نو د هغه په غلا کولو به لاس پرېکول کيږي قُلْنَا: أَخْرَجَهُ عَنْ وِفَاقِ الْعَادَةِ موږ وايو: چي دا استثناء د عربو د عادت مطابق ده وَالَّذِي يُؤْوِيهِ الْجَرِينُ فِي عَادَتِهِمْ هُوَ الْيَابِسُ مِنَ الثَّمَرِ ځکه عرب وچه خُرما پر درمند ځای باندي اړدي وَفِيهِ الْقَطْعُ او په همدې اوچه خُرما کي ازموږ په نېز هم قطعُ اليد سته قَالَ: وَلَا قَطْعَ فِي الْفَاكِهَةِ عَلَى الشَّجَرِ وَالزَّرْعِ الَّذِي لَمْ يُحْصَدْ فرمايي: او لاس به نه پرېکول کيږي په درخته باندي د لګېدلي مېوې او د هغه فصل په غلا کولو کي کم چي رېبل سوی نه وي لِعَدَمِ الْإِحْرَازِ ځکه چي دا محفوظ او ذخيره سوي نه وي وَلَا قَطْعَ فِي الْأَشْرِبَةِ الْمُطْرِبَةِ او لاس به نه پرېکول کيږي په نشه لرونکو مشروباتو کي لِأَنَّ السَّارِقَ يَتَأَوَّلُ فِي تَنَاوُلِهَا الْإِرَاقَةَ ځکه چي غل به د هغه په اخيستلو کي د بيولو تأويل کوي انو په دې صورت کي خو بالکل د هغه لاس پرېکول کېدای نه سي وَلِأَنَّ بَعْضَهَا لَيْسَ بِمَالٍ او ځکه چي ځيني د دې مشروباتو مال نه دي وَفِي مَالِيَّةِ بَعْضِهَا اخْتِلَافٌ او د ځيني په مال کېدلو کي اختلاف دی فَتَتَحَقَّقُ شُبْهَةُ عَدَمِ الْمَالِيَّةِ نو د نه مال کېدلو شبهه پيدا سوه چي دا شيان به په شريعت کي مال نه وي.

اللغات: ﴿يَتَسَارَعُ﴾ د تفاعل مضارع ده: تېزي کول، ژر والي کول، وړانديتوب کول، يتسارع إليه الفساد: داسي شی چي هغه ته خرابوالی تېزي او وړانديتوب کوي (مراد ځني ژر ورستېدونکی شی دی). ﴿جُمَّار﴾ د خُرما د درختي کنلهوري (کونلهري)، ګوند. ﴿وَدِي﴾ د خُرما کوچني ګلان. ﴿مُهَيَّأ﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: تيار سوی (تيار شده). ﴿سُكَّر﴾ بوره (چيني). ﴿جَرِين﴾ هغه ډاګ چي خُرما او داسي نورې مېوې (لکه انګور) د وچولو لپاره پر اېښوول کيږي، هغه ځای چي فصل او غله پر جمع کيږي او ذخيره کيږي. چي غالباً هغه ته په پښتو کي "درمند ځای" يا "درمند ډاګ" وايي. او جمع کړی سوي فصل او غلې ته "درمند" او د "فصل دلی" وايي. ﴿جِرَان﴾ د اوښ د غاړې مخکنۍ حصه، بار، بوج. (په دې حديث کي جرين مراد دی. نه

❸ تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۳۹.

جران. ځکه چي په نورو رواياتو کي جرين ذکر سوی دی). ﴿لَمْ يُحْصَدْ﴾ د جحد مجهول صغيه ده. له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: ريبل. لو کول (لوول). پرېکول. ﴿الأَشْرِبَةَ﴾ مشروبات (د چښاک شيان). شربتونه. ﴿المُطْرِبَةَ﴾ د افعال مؤنث اسم فاعل دی: خوشالي را وستونکی شی (خمار راوستونکی شی). مراد ځني نشه کونکي (مُسکر) مشروب دی. ﴿إِرَاقَةٌ﴾ د افعال مصدر دی: بيول (بهول).

تشريح : **مسئله** : دا ده چي د ژر خرابېدونکو او ورستېدونکو شيانو په غلا سره به لاس نه پرېکول کيږي که څه هم هغه د غلا د نصاب په اندازه وي. لکه شيدې. تازه مېوې او داسي نور: ځکه چي په حديث کي له دې شيانو څخه د قطعُ اليد حکم ساقط سوی دی. په يو بل حديث کي ذکر سوي دي "لا قطع في الطعام" چي په طعام کي قطعُ اليد نسته. په دې حديث کي له طعام څخه مراد فوراً خوړل کېدونکي شيان (لکه شيدې او داسي نور) دي. همدارنګه له دې څخه مراد غوښي او لندې مېوې دي. ځکه چي دا خبره تسليم سوې ده چي په دې حديث کي له طعام څخه غله مراد نه ده. ځکه چي د غنم او بورې په غلا کولو سره حدّ واجبيږي. لهذا تطبيق فقط په هغه صورت کي ممکن دی کله چي له غلې څخه بغير نور د خوراک شيان او مېوې له "الطعام" څخه مراد کړی سي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په مېوو. شيدو او غوښو کي به هم لاس پرېکول کيږي: ځکه چي د ابوداؤد او نسائي په روايت کي ذکر سوي "فَإِذَا آوَاهُ الجَرِيْنَ" چي کله مېوې درمند ځای ته ورسول سي او هلته کښېښول سي (او ذخيره کړی سي). نو بيا د هغوی غلا کول د قطعُ اليد مُوجب دي. له دې حديث څخه همدا خبره ښکاره سوه چي د مېوو (همدارنګه د مهيأ او تيار شيانو مثلاً د شيدو او غوښو غلا کول) د قطعُ اليد موجب دي. لېکن زموږ له طرفه امام شافعي ته يو جواب دا ورکول سوی دی چي زموږ په حديث کي "لا قطع في الطعام" کي ذکر سوي دي چي د طعام په غلا کولو سره به لاس نه پرېکول کيږي. او په طعام کي په دلالةُ النص سره تازه مېوې. لبن او لحم ټول داخل دي. او ستاسي (د امام شافعي) په حديث کي چي کوم دا خبره ذکر سوې ده چي پر درمند ځای باندي د ايښول سوي مېوې غلا کول د قطعُ اليد مُوجب دي. نو د هغه وجه دا ده چي عربو به وچي خُرماوي پر درمند ځای باندي ايښوولې. او د وچو خُرماوو غلا کول خو زموږ په نېز هم د حدّ (قطع اليد) مُوجب دي. لهذا دا حديث زموږ د مسلک موافق دی مخالف نه دی. زموږ مسلک خو د تازه او لندو مېوو سره متعلق دی.

ولا قطع إلخ: مسئله دا ده که مېوه پر درختو لګېدلې وي. او پر درختو باندي نه چار دېواري راګرځېدلې وي او نه يو نګران او چوکيدار پر ولاړ وي. همدارنګه هغه فصل او غله کوم چي تر اوسه

رېبل سوې نه وي نو داسې مېوه او فصل غلا کول د قطعُ اليد مُوجِب نه دی: ځکه چې دا محفوظ مال نه دی حال دا چې د قطعُ اليد لپاره د محفوظ او محرز ځای څخه غلا کول شرط دي. همدارنګه د نشه لرونکي مشروباتو غلا کول هم د قطعُ اليد مُوجِب نه دي. ځکه چې غل به په دې تأويل سره ځان خلاص کړي چې ما هغه د تويولو او بېولو په نيت سره اخيستي وو. نه د چينبلو لپاره (يعني غل به د قاضي مخته دا تأويل وکړي چې ما هغه شراب (يا بل مشروب) د دې لپاره غلا کړی چې زه يې توی کړم او نيست ونابود يې کړم). نو د دې ارادې په ښکارلو سره به قاضي هغه ته شاباش او آفرين ورکړي، نه حدّ او سزا. او بل دليل دا دی چې په دې مشروباتو کي ځينې شرعاً بالکل مال نه دي (لکه شراب). او د ځينې په مال کېدلو کي اختلاف دی او په اختلاف سره په هغو کي د عدمِ ماليّت شبهه پيدا سوه او په شبهې سره حدّ ساقطيږي.

د ساز او موسيقۍ د آلاتو او د قرآن کريم غلا

قَالَ: وَلَا فِي الطُّنْبُورِ فرمايي: او لاس به نه پرېکول کيږي په ستار کي لِأَنَّهُ مِنَ الْمَعَازِفِ ځکه چې هغه د موسيقۍ [او سروز] آله ده وَلَا فِي سَرِقَةِ الْمُصْحَفِ او نه به لاس پرېکول کيږي د قرآن په غلا کولو کي وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حِلْيَةٌ که څه هم پر هغه زېور [لګېدلی] وي [يعني که څه هم د سپينو يا سرو زرو کار پر سوی وي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [د قرآن په غلا کي به] لاس پرېکول کيږي لِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ ځکه چې قرآن کريم قيمت لرونکی مال دی حَتَّى يَجُوزُ بَيْعُهُ همدا وجه ده چې د قرآن خرڅول جائز دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ مِثْلُهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه [هم] د امام شافعي په څير روايت سوی دی وَعَنْهُ أَيْضًا: أَنَّهُ يُقْطَعُ إِذَا بَلَغَتِ الْحِلْيَةُ نِصَابًا او له هغه څخه بل روايت دا هم دی: چې که [پر قرآن لګېدلی] زېور د سرقې نصاب [يعني لسو درهمو] ته ورسيږي نو لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنَ الْمُصْحَفِ ځکه چې زېور له قرآن څخه نه دی [يعني له قرآن څخه جلا شی دی] فَيُعْتَبَرُ بِانْفِرَادِهَا نو ځکه به د هغه جلا اعتبار کيږي [يعني جلا به شمارل کيږي] وَوَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ الْآخِذَ يَتَأَوَّلُ فِي أَخْذِهِ الْقِرَاءَةَ وَالنَّظَرَ فِيهِ او د ظاهر روايت دليل دا دی: چې اخيستونکی به د قرآن په اخيستلو سره د لوستلو او په قرآن کي د غور [او تدبر] کولو تأويل وکړي وَلِأَنَّهُ لَا مَالِيَّةَ لَهُ عَلَى اعْتِبَارِ الْمَكْتُوبِ او ځکه چې د مکتوب په اعتبار سره قرآن کريم لره هيڅ قيمت نسته [يعني په قرآن کي چې کوم څه ليکل سوي دي. د هغه هيڅ قيمت نسته]

وَإِحْرَازُهُ لِأَجْلِهِ لَا لِلْجِلْدِ وَالْأَوْرَاقِ وَالْحِلْيَةِ او د هغه حفاظت اَفقط ا د مكتوب په وجه كيږي نه د وقايو او پاڼو او زېور په وجه وَإِنَّمَا هِيَ تَوَابِعُ او دا شيان خو توابع دي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالتَّبَعِ او تابع لره هيڅ اعتبار نه وي كَمَنْ سَرَقَ آنِيَةً فِيهَا خَمْرٌ وَقِيمَةُ الْآنِيَةِ تَرْبُو عَلَى النِّصَابِ لكه يو څوك چي داسي لوښى غلا كړي چي په هغه كي شراب وي او د لوښي قيمت د نصاب السو درهمو ا څخه زيات وي وَلَا قَطْعَ فِي أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او لاس به نه پرېكول كيږي د مسجد حرام د دروازو په غلا كولو كي ا همدا حكم د هر مسجد دى ا لِعَدَمِ الْإِحْرَازِ ځكه چي د مسجد دروازه محفوظه نه وي ا يعني د مسجد دروازه په محفوظه او محرز ځاى كي نه وي. همدا حكم د كور د دروازې دى ا فَصَارَ كَبَابِ الدَّارِ نو داسي سو لكه د كور دروازه غلا كول بَلْ أَوْلَى بلكي د مسجد دروازه د كور تر دروازې زياته نا محفوظه وي لِأَنَّهُ يُحْرَزُ بِبَابِ الدَّارِ مَا فِيهَا ځكه چي د كور په دروازې سره په كور كي د موجود سامان او داسي نورو ا حفاظت كيږي وَلَا يُحْرَزُ بِبَابِ الْمَسْجِدِ مَا فِيهِ لېكن د مسجد په دروازې سره د مسجد د شيانو حفاظت نه كيږي حَتَّى لَا يَجِبُ الْقَطْعُ بِسَرِقَةِ مَتَاعِهِ همدا وجه ده چي د مسجد د سامان په غلا كولو سره قطعُ اليد نه واجبيږي.

اللغات: ﴿طُنْبُور﴾ ستار، سه تار. د موسيقى يو آله ده. په دې آله كي به پخوا درې تارونه وه. نو په دې وجه په سه تار سره مسمىٰ سوه. او په پښتو كي تنبور هم ورته وايي. او په دې حكم كي ټوله د سروز آلات سره برابر دي لكه طبله. باجه. رباب او داسي نور چي وروسته به مصنف رَحِمَهُ الله د نورو آلاتو يادونه هم وكړي. ﴿مَعَازِف﴾ د ساز او موسيقى آلات. د سروز جوړولو آلات. ﴿الْمُصْحَف﴾ او مَصْحَف: وقايه لرونكى كتاب. مراد ځني قرآن كريم دى. جمع: مَصَاحِف. ﴿حِلْيَة﴾ (د حاء په كسره سره): زېور. د ښكلا او سينګار شى. لكه سره او سپين زر. طلا او قيمتي غميان. جمع حِلًى او حُلًى (مصباح اللغات). ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دى: محفوظه كول. ساتل. ذخيره كول. ﴿مَتَاع﴾ سامان.

تشريح: مسئله: دا ده كه څوك ستار (تنبور) غلا كړي نو د هغه لاس به نه پرېكول كيږي: ځكه چي ستار د موسيقى او لهو ولعب آله ده او شرعاً د هغه هيڅ قيمت او ماليت نسته. نو ځكه به د هغه د غلا كونكي لاس نه پرېكول كيږي. همدارنګه كه يو څوك قرآن شريف غلا كړي او پر هغه باندي زېور لګېدلى وي يعني د سرو يا سپينو زرو كار پر سوى وي نو زموږ په نېز به د هغه لاس نه پرېكول كيږي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د داسي قرآن غلا د حدّ مُوجِب ده چي پر هغه باندي زېور لګېدلى وي.

د امام شافعي دليل دا دی چي قرآن کريم متقوم مال دی او د هغه بيع او شراء جائز ده. نو ځکه به د هغه پر سارق حدّ واجبيږي، همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو روايت دی. دويم روايت دا دی چي که د حلية او زېور قيمت د نصاب په اندازه وي. نو د هغه غلا کول به د حدّ مُوجِب وي کنې نه به وي: ځکه چي زېور له قرآن کريم څخه جلا شی دی نو ځکه به هغه جلا شمارل کيږي.

د ظاهر روايت دليل دا دی چي دلته اخيستونکی دا تأويل کولای سي چي ما د لوستلو او کتلو يا د پند او نصيحت حاصلولو لپاره دا قرآن اخيستی دی او د غلا په نيت مي نه دي اخيستی. او ښکاره خبره ده چي د لوستلو په نيت سره اخيستل د حدّ مُوجِب نه دي. دويم دليل دا دی چي په قرآن کي ليکل سوی آيتونه (مکتوب) قيمت او نرخ نه لری او د قرآن حفاظت د همدې مکتوب په وجه کيږي. د وقايو او پاڼو په وجه د قرآن حفاظت نه کيږي. ځکه چي دا توابع دي او توابعو لره هيڅ اعتبار نه وي. مثلاً که يو څوک له شرابو څخه ډک لوښی غلا کړي او د لوښي قيمت د سرقې له نصاب (لسو درهمو) څخه زيات وي نو هم به د غله لاس نه پرېکول کيږي. ځکه چي لوښی تابع دی او شراب أصل او مقصود دی. حال دا چي شراب (په شريعت کي) هيڅ ماليت او قيمت نه لري. نو ځکه به نه د دې سړي غلا د حدّ مُوجِب وي او نه به د لوښي غلا د حدّ مُوجِب وي. ځکه چي هغه تابع دی او د تابع سره حکم تعلق نه لري.

<u>ولا يُقطع في أبواب المسجد إلخ</u>: د دې حاصل دا دی چي د مسجد دروازه پر محفوظه ځای نه وي بلکي هغه د دېوال سره لګېدلې وي او دباندي وي لکه څرنګه چي د کور دروازه هم داسي وي. لېکن دا خبره ده چي د کور په دروازې سره د کورني سامان د محفوظه کولو نيت کيږي. او د مسجد په دروازه سره د مسجد د سامان محفوظه کولو نيت نه کيږي (ځکه چي د مسجد په سامان کي د ټولو حصه وي او د هغه ساتنه د هر مسلمان حق وي). همدا وجه ده چي په مسجد کي د دننه سامان په غلا کولو سره لاس نه پرېکول کيږي نو د مسجد د دروازې په غلا کولو سره په درجه اولیٰ لاس نه پرېکول کيږي.

د سرو زرو صليب، شطرنج او د آزاد کوچني غلا

قَالَ: وَلَا الصَّلِيْبِ مِنَ الذَّهَبِ وَلَا الشِّطْرَنْجِ وَلَا النَّرْدِ فرمايي: او نه به لاس پرېکول کيږي د سرو زرو په صليب کي او نه په شطرنج کي او نه په نرد کي لِأَنَّهُ يَتَأَوَّلُ مَنْ أَخَذَهَا الْكَسْرَ نَهْيًا عَنِ الْمُنْكَرِ ځکه چي اخيستونکی به د نهي عن المنكر په توګه د هغه د ماتولو تأويل وکړي بِخِلَافِ الدِّرْهَمِ الَّذِي عَلَيْهِ التِّمْثَالُ په خلاف د هغه درهم چي تصوير باندي انقش سوی وي لِأَنَّهُ مَا أُعِدَّ لِلْعِبَادَةِ ځکه چي هغه د عبادت لپاره

نه وي جوړ سوی فَلَا تَثْبُتُ شُبْهَةُ إِبَاحَةِ الْكَنِيسَةِ نو د ماتولو د اِباحت شبهه به ثابته نه سي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ۞: أَنَّهُ إِنْ كَانَ الصَّلِيبُ فِي الْمُصَلَّى او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چي که صليب په کليسا کي وي لَا يُقْطَعُ لِعَدَمِ الْحِرْزِ نو د حفاظت د نشتوالي په وجه به د هغه لاس نه پرېکول کيږي وَإِنْ كَانَ فِي بَيْتٍ آخَرَ او که د بل ځا په کور کي وي يُقْطَعُ نو لاس به پرېکول کيږي لِكَمَالِ الْمَالِيَّةِ وَالْحِرْزِ ځکه چي [په دې صورت کي د صليب] ماليت او حفاظت مکمّل دی وَلَا قَطْعَ عَلَى سَارِقِ الصَّبِيِّ الْحُرِّ او د آزاد بچي د غلا کونکي لاس به نه پرېکول کيږي وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ که څه هم پر هغه بچي زېور وي [او که څه هم د نصاب په اندازه وي. د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز] لِأَنَّ الْحُرَّ لَيْسَ بِمَالٍ ځکه چي آزاد مال نه دی وَمَا عَلَيْهِ مِنَ الْحُلِيِّ تَبَعٌ لَهُ او پر بچي چي کوم زېور دي هغه د ده تابع دي وَلِأَنَّهُ يَتَأَوَّلُ فِي أَخْذِهِ الصَّبِيَّ إِسْكَاتَهُ أَوْ حَمْلَهُ إِلَى مُرْضِعَتِهِ او ځکه چي د بچي په اخيستلو کي به سارق د هغه د خاموشه کولو يا تر خپل مُرضعه پوري د هغه د رسولو تأويل وکړي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ۞: يُقْطَعُ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ هُوَ نِصَابٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که چيري پر بچي د نصاب په اندازه زېور [لګېدلی] وي نو [د غله] لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّهُ يَجِبُ الْقَطْعُ بِسَرِقَتِهِ وَحْدَهُ ځکه چي فقط د دومره زېور په غلا کولو سره قطعُ اليد واجبيږي فَكَذَا مَعَ غَيْرِهِ نو د يو ځا سره [د لګېدلي] زېور په غلا کولو سره به هم قطعُ اليد واجبيږي وَعَلَى هٰذَا إِذَا سَرَقَ إِنَاءَ فِضَّةٍ فِيهِ نَبِيذٌ أَوْ ثَرِيدٌ او پر همدغه اختلاف دي کله چي [يو شوک] د سپينو زرو داسي لوښی غلا کړي چي په هغه کي نبيذ يا ښوروا وي وَالْخِلَافُ فِي الصَّبِيِّ لَا يَمْشِي وَلَا يَتَكَلَّمُ او [مخکنی] اختلاف په هغه بچي کي دی کوم چي نه تللای سي او نه خبري کولای سي كَيْ لَا يَكُونَ فِي يَدِ نَفْسِهِ د دې لپاره چي هغه د خپل ځان په لاس کي نه وي.

اللغات: ﴿صَلِيب﴾ د عيسوي دين مُقدس نښان (چي زموږ په اصطلاح د صليب نښان ورته وايي). عيسائيان دا نښان له تختي، او سپني او داسي نورو فلزاتو څخه جوړوي، او ځيني يې له سرو او سپينو زرو څخه هم جوړوي. ﴿شَطْرَنْج﴾ او شِطْرَنْج (دا لفظ په عربي کي عموماً د شين په کسره سره استعماليږي. همدا يې مختار لغت دی)، سترنج. د پخواني وخت يوه مشهوره لوبه ده. صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف

۞ القول الراجح: راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی چي په هيڅ صورت کي به د هغه لاس نه پرېکول کيږي. كما ذكر فى فتح القدير (ج:٥، ص:١٣٣)، وكذا فى الدر المختار (ج:٣، ص:٢١٧). [القول الراجح ج:١، ص:٤٥٧]

۞ القول الراجح: قول الطرفين، كما ذكر فى العناية (ج:٥، ص:١٢٣)، وكذا فى الهندية (ج:٣، ص:١٧٧)، وكذا فى ملتقى الأبحر (ج:١، ص:٦٢٥). [القول الراجح ج:١، ص:٤٥٨]

کړې دي: لعبة تلعب على رقعة وتمثل دولتين متحاربتين بِاثْنَتَيْنِ وَثَلَاثِينَ قِطْعَة... إلخ (يعني دا يو ډول لوبه ده چې پر داسې پارچه او تخته باندې کيږي چې هغه څلور شپېته (۶۴) خانې لري او د دوو جنګي ملکونو په شکل پر دوه ډېرش (۳۲) دانو (ګټو) باندې لوبول کيږي، يعنې په هغه کې له دواړو طرفونو څخه د هر طرف والا لوبغاړي خپل ځان يو جنګي ملک تصور کوي او دوی په خپل مينځ کې په (۳۲) ګټو او دانو سره مقابله کوي. او په دې (۳۲) ګټو کې دوه ګټې د باچا او دوه ګټې د وزير په توګه لوبول کيږي، او پاتې ګټې د فوج او داسې نورو په توګه لوبول کيږي).

﴿نَرْد﴾ دا هم يو ډول لوبه ده چې د ايران پخواني باچا "أردشير بن بابک" ايجاد کړې وه (دا لوبه پر تختې باندې کيږي، او د ډبرو او دوو غميانو په ذريعه لوبول کيږي. په اوس وخت کې "الطَّاوِلَة" ورته وايي). ﴿التِّمْثَال﴾ له ډبرې څخه تراشل سوی تصوير، مجسمه، پر يو شي باندې نقش سوی تصوير. جمع: تَمَاثِيل. ﴿نَبِيْذ﴾ هغه اوبه چې خرما پکښې اچول سوې وي، او د خرما خوند او رنګ پکښې تللی وي. ﴿ثَرِيْد﴾ ښوروا (وړه سوې ښوروا).

تشريح: مسئله: دا ده چې د سرو زرو صليب، شطرنج او داسې نورو غلا کول د حدّ (قطعُ اليد) مُوجِب نه دي؛ ځکه چې صليب او شطرنج په شريعت کې ممنوع دي او بل دا چې د دې شيانو اخيستونکي به د ماتولو تأويل وکړي او د ماتولو په پلمه به ځان خلاص کړي. ها! که چيرې پر درهم باندې تصوير جوړ سوی وي نو د داسې درهم غلا کول د حدّ مُوجب دي. ځکه چې پر درهم او پيسه باندې د عبادت لپاره تصوير نه جوړيږي لهذا د هغه په اخيستلو کې (سارق) هيڅ تأويل کولای نه سي. او د داسې درهم د ماتولو د إباحت شبهه هم نسته چې د هغه په وجه حدّ ساقط کړی سي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه چې کوم روايت نقل سوی دی هغه واضح دی (تشريح ته ضرورت نه لري).

ولا قطع على سارق الصبي إلخ: که يو سړي آزاد بچی غلا کړي نو د هغه (سارق) لاس به نه پرېکول کيږي که څه هم پر بچي باندې د نصاب په اندازه زېور موجود وي؛ ځکه أصل (بچی) آزاد دی او آزاد مال نه دی او پر بچي چې کوم زېور دی هغه تابع دی او تابع لره هيڅ اعتبار نه وي. لهذا مور، نه د أصل (بچي) پر غلا کولو د سارق لاس پرېکولای سو او نه د تابع پر غلا کولو د هغه لاس پرېکولای سو. او بل دا چې هغه به په دې تأويل سره ځان خلاص کړي چې ما ځکه دغه بچی را واخيستی چې زه هغه چپ کړم يا ځکه چې زه هغه خپلې دايي ته بوزم (يعنې هغه ښځې ته يې بوزم کوم چې مور و پلار د بچي د ساتني او شيدو ور کولو لپاره په أجرت نيولې وي).

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که پر بچي باندې موجود زېور د غلا د نصاب يعنې د لسو درهمو په اندازه وي نو هم به د سارق لاس پرېکول کيږي؛ ځکه که څوک د لسو درهمو په اندازه زېور تنها غلا کړي (چې

هغه د هيڅ شي سره لګېدلي نه وي) نو قطعُ اليد واجبيږي. همداسي به په هغه صورت کي هم قطعِ اليد واجبيږي کله چي هغه ديو شي سره لګېدلي او موجود وي (لکه دلته چي د کوچني سره موجود دي).

همدارنګه که يو څوک د سپينو زرو لوښي غلا کړي او په هغه کي نبيذ يا ښوروا وي. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به قطعُ اليد نه واجبيږي که څه هم د نبيذ يا د ښوروا قيمت د نصاب سره برابر وي (يعني د لسو درهمو په اندازه وي). لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که د نبيذ يا ښوروا قيمت د نصاب سره برابر وي نو د هغه غلا کول د قطعُ اليد مُوجب دي.

او په بچي کي چي کوم اختلاف دی. دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي بچی دومره کوچنی چي پر تللو او ويلو قادر نه وي او پر خپل ذات هيڅ اختيار نه لري. لېکن که بچي پر تللو او خبرو باندي قدرت لري نو د هغه غلا کول بالإتفاق د قطعُ اليد مُوجب نه دي (يعني د هغه په غلا کولو سره د تولو په نېز د غله لاس نه پرېکول کيږي). (بنايه ج:۶، ص:۳۹۸)

غلام غلا کول، کتابچه (ريجسټر)، سپی، د موسيقی آلات او ګران بيه لرګي غلا کول

وَلَا قَطْعَ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ الْكَبِيرِ او د غټ غلام په غلا کي به لاس نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ غَصْبٌ أَوْ خِدَاعٌ ځکه چي دا غصب دی يا دوکه ده وَيُقْطَعُ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ او د کوچني غلام په غلا کولو کي به لاس پرېکول کيږي [د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز] لِتَحَقُّقِهَا بِحَدِّهَا ځکه چي [په هغه کي] سرقه د خپل پوره تعريف سره ثابته ده إِلَّا إِذَا كَانَ يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ خو دا چي هغه د خپل ځان په هکله بيان کولای سي [يعني إظهار ما فی الضمير کولای سي] لِأَنَّهُ هُوَ وَالْبَالِغُ سَوَاءٌ فِي اعْتِبَارِ يَدِهِ ځکه چي د اختيار په اعتبار سره داسي غلام او بالغ غلام سره برابر دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❁: لَا يُقْطَعُ وَإِنْ كَانَ صَغِيرًا لَا يَعْقِلُ وَلَا يَتَكَلَّمُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [د سارق] لاس به نه پرېکول کيږي که څه هم غلام دومره کوچنی وي چي نه په څه پوهيږي او نه خبري کولای سي اسْتِحْسَانًا دا حکم استحساني دی لِأَنَّهُ آدَمِيٌّ مِنْ وَجْهٍ مَالٌ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي هغه په يوه اعتبار سره انسان [بنيادم] دی او په يوه اعتبار سره مال دی وَلَهُمَا: أَنَّهُ مَالٌ مُطْلَقٌ او د طرفينو دليل دا دی: چي غلام مطلق مال دی لِكَوْنِهِ مُنْتَفَعًا بِهِ ځکه چي په هغه سره نفع حاصليږي أَوْ بِعَرَضِ أَنْ يَصِيرَ مُنْتَفَعًا بِهِ إِلَّا أَنَّهُ انْضَمَّ إِلَيْهِ

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۱۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۶۰]

مَعْنَى الْآدَمِيَّةِ یا دا چي وروسته به له هغه څخه نفع حاصله کړی سي. که څه هم د هغه سره د انسانوالي معنیٰ لګېدلې ده وَلَا قَطْعَ فِي الدَّفَاتِرِ كُلِّهَا او لاس به نه پرېکول کیږي په ټولو کتابچو اوریجسټرانوا کي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مَا فِيهَا ځکه چي په کتابچو سره مقصود د کتابچو خطونه اتحریرات اوي وَذٰلِكَ لَيْسَ بِمَالٍ او هغه مال نه دي إِلَّا فِي دَفَاتِرِ الْحِسَابِ مګر په حسابي کتابچو کي ابه لاس پرېکول کیږي ا لِأَنَّ مَا فِيهَا لَا يُقْصَدُ بِالْأَخْذِ ځکه چي په حسابي کتابچو کي د تحریراتو غلا کول مقصود نه وي فَكَانَ الْمَقْصُودُ هُوَ الْكَوَاغِدَ ابلکي په هغه کي ا کاغذات مقصود وي قَالَ: وَلَا فِي سَرِقَةِ كَلْبٍ وَلَا فَهْدٍ فرمايي چي د سپي او پړانګ په غلا کي به اهم ا لاس نه پرېکول کیږي لِأَنَّ مِنْ جِنْسِهَا يُوجَدُ مُبَاحُ الْأَصْلِ غَيْرُ مَرْغُوبٍ فِيهِ ځکه چي د دوی له جنس څخه ځیني مباحُ الأصل پیدا کیږي چي په هغوی کي ادخلکو ا هیڅ رغبت ا او لېوالتیا ا نه وي وَلِأَنَّ الِاخْتِلَافَ بَيْنَ الْعُلَمَاءِ ظَاهِرٌ فِي مَالِيَّةِ الْكَلْبِ او ځکه چي د سپي په مال کېدلو کي د علماؤ اختلاف ښکاره ا او معلوم ا دی فَأَوْرَثَ شُبْهَةً نو دې اختلاف شبهه پیدا کړه وَلَا قَطْعَ فِي دُفٍّ وَلَا طَبْلٍ وَلَا بَرْبَطٍ وَلَا مِزْمَارٍ او لاس به نه پرېکول کیږي د دریه، ډول، باجه او شپېلۍ په غلا کولو کي لِأَنَّ عِنْدَهُمَا لَا قِيمَةَ لَهَا ځکه چي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا شیان هیڅ قیمت نه لري وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ آخِذُهَا يَتَأَوَّلُ الْكَسْرَ فِيهَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغوی اخیستونکی د ماتولو تأویل کولای سي اچي ما خو د ماتولو لپاره دا شی (دریه یا ډول...) را واخیستی ا وَيُقْطَعُ فِي السَّاجِ وَالْقَنَاءِ وَالْآبَنُوسِ وَالصَّنْدَلِ او لاس به پرېکول کیږي د ساج په لرګي، د نېزې په لرګي او آبنوس او صندل اچندڼ ا کي لِأَنَّهَا أَمْوَالٌ مُحْرَزَةٌ ځکه دا محفوظ کړی سوي مالونه ده لِكَوْنِهَا عَزِيزَةً عِنْدَ النَّاسِ ځکه چي دا د خلکو په نېز ګران بیه ا او کمیابه ا دي وَلَا تُوجَدُ بِصُورَتِهَا مُبَاحَةً فِي دَارِ الْإِسْلَامِ او په خپل اصلي صورت کي اهم ا په دار الاسلام کي مباح نه پیدا کیږي ایعني په دار الإسلام کي هم دا تختې او لرګیان مباح او روا نه پیدا کیږي چي هر څوک یې کاټ کړي نو د هغه سي، داسي مباح نه دي ا

اللغات: ﴿يُعَبِّرُ﴾ د تفعیل مضارع معلومه ده: بیان کول. اظهار ما فی الضمیر کول. ترجماني کول (دیو چا خبره نقل کول). دلته ځني مراد "د خپل ځان خبره نقل کول" او "إظهار ما فی الضمیر" دی.

﴿الدَّفَاتِر﴾ جمع دَفْتَرٌ ده: دلته څني مراد مطلق کتابچه ده. او په أصل کي هر هغه کتابچې ته وايي چي حساب و کتاب پکښي ليکل کيږي او د حساب سره اړوند نومونه پکښي ليکيږي. مثلاً دتجارت د حساب او د قرضدارانو... د نومونو لپاره چي کومه کتابچه استعماليږي هغه ته په عربي کي دَفْتَرُ التُّجَار وايي. او د مُلکي او دولتي حسابداری لپاره چي کومه کتابچه استعماليږي هغه ته په عربي کي الدَّفْتَرُ السُّلْطَانِي وايي وهکذا... (چي زموږ په عامه اصطلاح داسي کتابچې ته ريجسټر هم وايي). ﴿فَهْد﴾ پړانګ. ﴿دُن﴾ دريه. دريا ﴿طَبْل﴾ ډول. نغاره. ﴿بَرْبَط﴾ مُعرب لفظ دی: باجه (د موسيقی مشهوره آله ده). په أصل عربي کي مِزْهَر او عُوْد ورته وايي. ﴿مِزْمَار﴾ شپيلی. تولکه. ﴿سَاج﴾ يو ډول ګران بيه لرګی دی. ﴿القناء﴾ د نېزې لرګی (هغه لرګی چي نېزه څني جوړيږي). ﴿آبْنُوْس﴾ د جنوبي مشرقي آسيا د يوې درختي نوم چي د هغې لرګي ډېر سخت. وزني او تور دي. ﴿صَنْدَل﴾ دا هم د درختي نوم دی چي خوشبويه لرګي لري.

تشريح: په دې عبارت کي ډيري مسئلي ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله په ترتيب ستاسي په مخ کي بيان سي:

د غټ او بالغ غلام غلا کول د حدّ مُوجِب نه دي، ځکه چي دا سرقه نه ده بلکي غصب دی يا دوکه ده چي هغه به يو چا خطا ايستلی وي چي زه ستا سره دا معامله کوم او په دوکه به يې بېولی وي. لېکن که غلام کوچنی وي نو د هغه غلا کول د حدّ (قطعُ اليد) مُوجِب دي؛ ځکه چي په کوچني غلام کي سرقه د خپل بشپړ تعريف او توصيف سره موجوده او ثابته ده. دا د هغه غلام حکم دی کوم چي خپله ترجماني نه سي کول (يعني د خپل ځان په باره کي معلومات نه سي ورکولای). ځکه چي د خپل ځان ترجماني کونکی غلام د غټ او بالغ غلام په درجه کي دی او غټ غلام غلا کول د حدّ مُوجِب نه دي، نو ځکه به د دې غلام غلا کول هم د حدّ مُوجِب نه وي. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که غلام دومره کوچنی وي چي خبري نه سي کولای او نه په شي پوهيږي نو هم استحساناً د هغه غلا کول د حدّ مُوجِب نه دي. ځکه چي هغه من وجه مال او من وجه بنيادم دی او د هغه په مکمل والي کي شبهه ده. او شبهه حدّ دفع کوي. د طرفينو دليل دا دی چي صغير غلام مطلق مال دی. ځکه چي هغه د انتفاع قابل دی (يعني نفع څني اخيستل کېدای سي) يا په آينده کي به د انتفاع قابل سي که څه هم هغه ته د آدميت معنیٰ شامله ده لېکن د دې معنیٰ په وجه به د هغه په ماليّت (مال کېدلو) کي هيڅ فرق نه راځي او هغه به مال شمارل کيږي. نو ځکه به د هغه غلا کول د حدّ مُوجِب وي.

ولا قطع في الدفاتر إلخ: فرمايي چي له حسابي كتابچو (ريجستېرانو) څخه بغير نور ټوله كتابچې د قطعُ اليد مُوجب نه دي؛ ځكه چي د نورو كتابچو په غلا سره د هغوى تحريرات او خطونه مقصود وي، او تحريرات مال نه دي، لېكن په حسابي كتابچو (ريجستېرانو) كي كاغذات او پاڼې مقصود وي او هغه مال دي، نو ځكه به د حسابي كتابچو سرقه د حدّ مُوجِب وي.

ولا في سرقة كلب إلخ: د سپي او پړانګ غلا هم د حَدّ مُوجِب نه ده: ځكه چي هر ځاى سپيان او داسي نور مباحُ الأصل وي او هيڅوك هغه ځان ته نژدې هم نه پرېږدي غلا كول خو هلته پر پرېږده!. او بل دا چي د سپي په ماليّت كي د علماؤ اختلاف هم دى، ځيني علماء فرمايي چي هغه د خنزير په څېر نجسُ العين دى او مال نه دى، او ځيني فرمايي چي هغه مال دى. او دا خبره تسليم سوې ده چي په اختلاف سره شبهه پيدا كيږي او په شبهې سره حدُود ساقطيږي. نو په دې حواله سره به هم د سپي او داسي نورو غلا كول د حدّ مُوجِب نه وي.

پاته عبارت له ترجمې څخه واضح دى، تشريح ته ضرورت نه لري.

د قيمتي كاڼو (ډېرو) غلا

قَالَ: وَيُقْطَعُ فِي الْفُصُوصِ الْخُضْرِ وَالْيَاقُوتِ وَالزَّبَرْجَدِ فرمايي: چي د زرغونو غميانو، ياقوت او زمرد په غلا كي به لاس پرېكول كيږي لِأَنَّهَا مِنْ أَعَزِّ الْأَمْوَالِ وَأَنْفَسِهَا ځكه چي دا ډېر قيمتي [كميابه] او ډېر غوره مالونه دي وَلَا تُوجَدُ مُبَاحَةَ الْأَصْلِ بِصُورَتِهَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ غَيْرَ مَرْغُوبٍ فِيهَا او دا مالونه پر خپل أصلي حالت په دارُ الاسلام كي مباح نه پيدا كيږي [او] نه [مفت] د دوى په اخيستلو كي رغبت كېدلاى سي فَصَارَتْ كَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ نو دا [هم] د سرو او سپينو زرو په څېر سول وَإِذَا اتُّخِذَ مِنَ الْخَشَبِ أَوَانٍ وَأَبْوَابًا او كه چيري د لرګي څخه لوښي او دروازې جوړي كړل سي قُطِعَ فِيهَا نو د هغوى په غلا كي به لاس پرېكول كيږي لِأَنَّهُ بِالصَّنْعَةِ الْتَحَقَ بِالْأَمْوَالِ النَّفِيسَةِ ځكه چي په جوړښت [او لاس وهني] سره لرګى د غوره مالونو سره لاحق سو أَلَا تَرَى أَنَّهَا تُحْرَزُ آيا ته نه ګورې! چي هغوى محفوظه كيږي [او د هغوى ساتنه او حفاظت كيږي] بِخِلَافِ الْحَصِيرِ په خلاف د چټايي [مراد ځني له خاشو څخه جوړه سوې چټايي ده] لِأَنَّ الصَّنْعَةَ فِيهِ لَمْ تَغْلِبْ عَلَى الْجِنْسِ ځكه چي په هغې كي جوړښت پر جنس [او أصل] باندي غالب نه وي حَتَّى يُبْسَطُ فِي غَيْرِ الْحِرْزِ همدا وجه

ده چي هغه په نا محفوظه ځای کي هواريږي وَفِي الْحَصِيْرِ الْبَغْدَادِيَّةِ قَالُوا يَجِبُ الْقَطْعُ فِي سَرِقَتِهَا او د بغدادي چټايي په هکله مشائخو فرمايلي دي چي د هغې په غلا کي به لاس پرېکول کيږي لِغَلَبَةِ الصَّنْعَةِ عَلَى الْأَصْلِ ځکه چي (په هغې کي) جوړښت پر أصل باندي غالب وي وَإِنَّمَا يَجِبُ الْقَطْعُ فِي غَيْرِ الْمُرَكَّبِ او قطعُ اليد په هغه دروازه کي واجبيږي کوم چي په دېوال کي جوړه سوې (او لګېدلې) نه وي وَإِنَّمَا يَجِبُ إِذَا كَانَ خَفِيفًا لَا يَثْقُلُ عَلَى الْوَاحِدِ حَمْلُهُ او په هغه دروازه کي واجبيږي کوم چي سپکه وي چي پر يوه سړي باندي د هغه پورته کول بوج نه وي لِأَنَّ الثَّقِيلَ مِنْهُ لَا يُرْغَبُ فِي سَرِقَتِهِ ځکه چي د درنې دروازې په غلا کي (د سارق) رغبت نه کيږي وَلَا قَطْعَ عَلَى خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ او لاس به نه پرېکول کيږي د خيانت کونکي سړي او خيانت کونکي ښځي لِقُصُورٍ فِي الْحِرْزِ ځکه چي (د دوی) په حفاظت کي کمي وي وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا مُخْتَلِسٍ او نه به لاس پرېکول کيږي د ډاکو او چورونکي (چي په نا ببره توګه مال چور کړي) لِأَنَّهُ يُجَاهِرُ بِفِعْلِهِ ځکه چي ډاکو په ډاګه خپل کار کوي (او په اعلانيه توګه خلک شکوي) كَيْفَ وَقَدْ قَالَ عليه السلام: لَا قَطْعَ فِي مُخْتَلِسٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا خَائِنٍ او پر دوی به قطعُ اليد څرنګه واجب سي حال دا چي نبي ﷺ فرمايلي دي: چي په چورونکي، ډاکو او خائن کي به لاس نه پرېکول کيږي.

اللغات: ﴿فُصُوْص﴾ جمع د فَصّ ده: غميان. ﴿خُضْر﴾ جمع د أَخْضَرٌ ده: زرغون. ﴿اليَاقُوْت﴾ ياقوت. يو قيمتي سور کاڼی دی. ﴿زَبَرْجَد﴾ زمرد. يو ډول قيمتي معدني شين کاڼی دی چي غميان ور څخه جوړيږي. ﴿أَنْفَس﴾ د اسمِ تفضيل صيغه ده: ډېره غوره، ډېر ښه. ﴿مُبَاح الأصل﴾ دا يوه محاوره ده: په دارُ الاسلام کي چي کوم شی هر څوک اخيستلای سي (او هر څوک يې په اخيستلو سره مالک جوړېدای سي) لکه مرغان چي هر کس يې ښکار کړي نو هغه يې مالک جوړيږي. داسي شي ته مباحُ الأصل وايي. ﴿أُتُّخِذَ﴾ د افتعال ماضي مجهوله ده: جوړول. ﴿حَصِيْر﴾ چټايي (سترنجي). ﴿مُنْتَهِب﴾ ډاکو. داړه مار (چي په ښکار توګه په لاره کي له خلکو څخه مالونه اخلي). ﴿مُخْتَلِس﴾ چورونکی (چي مال چور کړي او وتښتي).

تشريح: مسئله: دا ده چي د زرغونو او شنو غميانو، ياقوت او زمرد غلا د حدِّ موجب ده، ځکه چي دا ټوله قيمتي مالونه دي او په دارُ الإسلام کي مباحُ الأصل نه پيدا کيږي او د هغو په مُفت او مباح اخيستلو کي رغبت هم نه کيږي او نه څوک داسي رغبت کولای سي. نو په دې وجه به دوی د سرو او

سپينو زرو په څېر وي، يعني څرنګه چي د سرو او سپينو زرو غلا د حدّ موجب ده همداسي به د دې شيانو غلا هم د حدّ موجب وي.

كه چيري له تختې او لرګي څخه لوښي يا دروازه څني جوړه كړي سي. نو د هغه غلا به د حدّ موجب وي؛ ځكه چي د كاريګرۍ او جوړښت په ذريعه دا تخته او لرګي قيمتي او غوره مال وګرځيدی او د محفوظه كولو قابل او لائق سو. نو ځكه به د دې شيانو سرقه (غلا) د حدّ موجب وي. لېكن د چټايي سرقه د حدّ موجب نه ده؛ ځكه چي د چټايي جوړښت د هغې پر أصل او جنس غالب نه وي، همدا وجه ده چي غوره چټايي هم په نامحفوظه ځايو كي (مثلاً په مسجد) كي هوارول كيږي او د هغې د حفاظت هيڅ پروا نه كيږي. لېكن د بغدادي چټايي حكم له دې څخه مختلف دی او د هغې غلا د حدّ موجب ده. ځكه چي پر بغدادي چټايي باندي نقش و نګار سوی وي او د نقش و نګار په وجه هغه ډېره قيمتي وګرځي.

وإنما يجب إلخ: د دې حاصل دا دی چي حدّ (قطعُ اليد) د لرګي په هغه دروازه كي واجبيږي كوم چي په دېوال كي لګېدلې نه وي او سپكه وي؛ ځكه چي په لګېدل سوې دروازه كي رغبت نه كيږي او نه د درنې دروازې په غلا كولو كي كوښښ كيږي.

ولا قطع على خائن إلخ: كه د يو سړي يا ښځي سره د يو چا امانت مال پروت وي. بيا سړی يا ښځه په هغه كي خيانت وكړي. نو د هغه لاس به نه پرېكول كيږي: ځكه چي د دوی په حفاظت او ساتنه كي كمي او قصور وي. او د ډاكو او چورونكي لاس به هم نه پرېكول كيږي. ځكه چي په حديث كي له دوی څخه د قطعُ اليد حكم ساقط سوی دی.

د كفن پر غلا كونكي (كفن چور) باندي د حدّ جاري كولو مسئله

وَلَا قَطْعَ عَلَى النَّبَّاشِ او د كفن چور لاس به نه پرېكول كيږي وَهَٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دا احكام د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَالشَّافِعِيُّ ✿: عَلَيْهِ الْقَطْعُ امام ابو يوسف او اما شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه لاس به پرېكول كيږي لِقَوْلِهِ ❶ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ نَبَشَ قَطَعْنَاهُ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چي كفنونه غلا كوي نو د هغه لاس موږ پرېكوو وَلِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ مُحْرَزٌ يُحْرَزُ

✿ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۱۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۶۱]

❶ تخريج: رواه أبي شيبة بمعناه، رقم: ۲۸۶۰۵.

مِثْلُهُ او ځکه چي کفن متقوم [قيمت لرونکی] مال دی او د متقوم مال په څير محفوظه کيږي فَيُقْطَعُ فِيهِ نو ځکه به د کفن په غلا کولو کي لاس پرېکول کيږي وَلَهُمَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❷: لَا قَطْعَ عَلَى الْمُخْتَفِي او د طرفينو دليل د نبي ﷺ دا إرشاد دی: چي د مختفي [پټېدونکي] لاس به نه پرېکول کيږي وَهُوَ النَّبَّاشُ بِلُغَةِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ او مختفي د مديني د خلکو په لغت کي کفن چور ته وايي وَلِأَنَّ الشُّبْهَةَ تَمَكَّنَتْ فِي الْمِلْكِ او ځکه چي په ملکيت کي شبهه پيدا سوه لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لِلْمَيِّتِ حَقِيقَةً ځکه چي په حقيقت کي مړي لره هيڅ ملکيت نه وي وَلَا لِلْوَارِثِ او نه [د مړي] وارث لره هيڅ ملکيت وي لِتَقَدُّمِ حَاجَةِ الْمَيِّتِ ځکه چي د مړي حاجت مقدّم وي وَقَدْ تَمَكَّنَ الْخَلَلُ فِي الْمَقْصُودِ وَهُوَ الِانْزِجَارُ او په مقصود يعني په انزجار [تنبيه وركولو] کي هم خلل پيدا سو لِأَنَّ الْجِنَايَةَ فِي نَفْسِهَا نَادِرَةُ الْوُجُودِ ځکه چي دا جنايت [يعني کفن غلا کول] ډېر کم پيښيږي وَمَا رَوَاهُ غَيْرُ مَرْفُوعٍ أَوْ هُوَ مَحْمُولٌ عَلَى السِّيَاسَةِ او کوم حديث چي امام ابو يوسف [او امام شافعي] روايت دی کړی هغه مرفوع نه دی يا به هغه پر سياست حمل کيږي وَإِنْ كَانَ الْقَبْرُ فِي بَيْتٍ مُقْفَلٍ او که قبر په قلف سوي خونه [حجره] کي وي فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ فِي الصَّحِيحِ نو دا مسئله هم د صحيح قول مختلف فيه ده لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَكَذَا إِذَا سَرَقَ مِنْ تَابُوتٍ فِي الْقَافِلَةِ وَفِيهِ الْمَيِّتُ همدارنګه که ابو څوک [له د داسي مړي څخه کفن غلا کړي چي هغه په يو تابوت کي په قافله کي وي انو دا مسئله هم مختلف فيه ده [لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿نَبَّاش﴾ کفن غلا کونکی (چي په عامه اصطلاح "کفن چور" ورته وايي). ﴿مُخْتَفِي﴾ د افتعال اسم فاعل دی: پټېدونکي (ناڅرګندونکی). ﴿جِنَايَة﴾ جرم. بد کار. ﴿الْقَافِلَة﴾ کاروان. قافله.

تشريح: مسئله: دا ده چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر کفن چور حدّ (قطعُ اليد) نسته. لېکن د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز پر کفن چور حدّ سته.

دليل: د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا حديث دی "مَنْ نَبَشَ قَطَعْنَاهُ". په دې حديث کي په صراحت سره د کفن چور د لاس پرېکولو حکم سوی دی. عقلي دليل دا دی چي کفن

---

❷ تخريج: رواه أبي شيبة بمعناه، رقم: ۲۸۶۲۳.

مقتوم مال دی او د متقوم مال په شير د هغه حفاظت هم کيږي. او تاسي ته معلومه ده چي د متقوم مال غلا کول د حدّ مُوجِب دي. لهذا د کفن غلا کول به هم د حدّ مُوجِب وي.

د طرفينو دليل: دا حديث دی "لَا قَطْعَ عَلَى الْمُخْتَفِيْ". د مديني خلګو به "مختفي" کفن چور ته ويل. نو معلومه سوه چي د کفن چور لاس به نه پرېکول کيږي. عقلي دليل دا دی چي په کفن کي خو نه ميّت ملکيت لري (ځکه چي هغه مړ دی). او نه د ميّت وارثان په کفن کي ملکيت لري. ځکه چي د ميّت حق تر وارثانو مخکي دی او هغه کفن ته زيات ضرورت لري. بل عقلي دليل دا دی چي د لاس پرېکولو مقصد انزجار او خلګو ته تنبيه ورکول دي (چي هغوی هم له داسي کار څخه منع سي) حال دا چي د کفن د غلا معامله ډېره کمه پېښيږي. او يو ډېر بدبخته رذيل سړی داسي کار کولای سي. لهذا د هغه د لاس په پرېکولو سره خلګو ته زجر او تنبيه ورکول کېدای نه سي (ځکه چي خلک په خپله له داسي کار څخه ځان منع کوي).

وما رواه إلخ: فرمايي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله حديث غيرِ مرفوع دی. او غير مرفوع حديث د دې قابل نه دی چي دليل په ونيول سي. يا دا چي په دې حديث کي د قطعُ اليد حکم پر سياستِ مدنيه باندي محمول دی. ځکه چي په دې حديث کي نبي ﷺ د قطع نسبت خپل ځان ته کړی دی او فرمايلي يې دي "قَطَعْنَاه" (چي موږ د هغه لاس پرېکوو).

او که قبر په بنده حجره کي وي او يو شوک له هغه څخه کفن غلا کړي. نو په دې هکله هم د غه اختلاف دی يعني د طرفينو په نېز به د هغه لاس نه پرېکول کيږي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به پرېکول کيږي. همدا اختلاف په هغه صورت کي هم دی کله چي د قافلې خلګو د مړي تابوت را اخيستی وي او يو شوک له هغه څخه کفن غلا کړي.

له بيتُ المال يا له خپل شريک او مقروض څخه غلا کول

وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ او له بيتُ المال څخه د غلا کونکي لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ مَالُ الْعَامَّةِ ځکه چي بيتُ المال د عوامو مال وي وَهُوَ مِنْهُمْ او غل هم له عوامو څخه دی قَالَ: وَلَا مِنْ مَالٍ لِلسَّارِقِ فِيهِ شَرِكَةٌ او نه به د داسي مال پر غلا کولو لاس پرېکول کيږي چي په هغه کي په خپله د غله شرکت وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ دَرَاهِمُ او که د يو چا پر بل چا يو څو دراهم باندي وي فَسَرَقَ مِنْهُ مِثْلَهَا او بيا هغه له مقروض څخه هغومره دراهم غلا کړي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ اسْتِيفَاءٌ لِحَقِّهِ ځکه چي دا

د خپل حق حاصلول دي وَالْحَالُّ وَالْمُؤَجَّلُ فِيهِ سَوَاءٌ اسْتِحْسَانًا او استحسانا په دې مسئله کې فی الحاله قرض او د تأخیر والا قرض دواړه برابري دي لِأَنَّ التَّأْجِيلَ لِتَأْخِيرِ الْمُطَالَبَةِ ځکه چې د مودت ټاکل د مطالبې د تأخیر لپاره وي وَكَذَا إِذَا سَرَقَ زِيَادَةً عَلَى حَقِّهِ همدارنگه کله چې هغه تر خپل حق زيات (دراهم) غلا کړي (نو هم به د هغه لاس نه پرېکول کېږي لِأَنَّهُ بِمِقْدَارِ حَقِّهِ يَصِيرُ شَرِيكًا فِيهِ ځکه چې هغه د خپل حق په مقدار سره په مسروق مال کې شريک گرځي وَإِنْ سَرَقَ مِنْهُ عُرُوضًا او که هغه (قرض غوښتونکی) له مقروض شخصه سامان غلا کړي قُطِعَ نو د هغه لاس به پرېکول کېږي لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ الِاسْتِيفَاءِ مِنْهُ إِلَّا بَيْعًا بِالتَّرَاضِي ځکه چې د هغه لپاره له مقروض شخصه فقط د بيع په توگه (د مقروض) په رضاء سره د (خپل حق) حاصلولو اختيار سته وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ●: أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخه روايت سوی دی: چې (په دې صورت کې به هم) د غله لاس نه پرېکول کېږي لِأَنَّ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ عِنْدَ بَعْضِ الْعُلَمَاءِ قَضَاءً مِنْ حَقِّهِ أَوْ رَهْنًا بِحَقِّهِ ځکه چې د ځینې علماؤ په نېز د قرض غوښتونکي لپاره دا جائز دي چې له مقروض (پور وړي) شخه خپل قرض واخلي (برابره ده) هغه که د خپل حق اخيستلو په توگه وي. يا د رهن په توگه وي قُلْنَا: هٰذَا قَوْلٌ لَا يَسْتَنِدُ إِلَى دَلِيلٍ ظَاهِرٍ موږ وايو: چې دا يو داسې قول دی کوم چې د ظاهري دليل وطرف ته نه منسوب کېږي فَلَا يُعْتَبَرُ بِدُونِ اتِّصَالِ الدَّعْوَى بِهِ لهذا تر څو چې د هغه سره دعوىٰ متصله نه سي تر هغه وخته به دا قول معتبر نه وي حَتَّى لَوِ ادَّعَى ذٰلِكَ تر دې که غل دعوىٰ وکړي (چې ما خپل حق واخيستی) دُرِئَ عَنْهُ الْحَدُّ نو له هغه شخه به حد ساقطيږي لِأَنَّهُ ظَنٌّ فِي مَوْضِعِ الْخِلَافِ ځکه چې دا د اختلاف په ځای کې يو گومان دی وَلَوْ كَانَ حَقُّهُ دَرَاهِمَ او که د قرض غوښتونکي حق دراهم وي فَسَرَقَ مِنْهُ دَنَانِيرَ (لیکن) هغه له مقروض شخه دينارونه غلا کړي قِيلَ: يُقْطَعُ نو يو قول دا دی: چې د هغه لاس به پرېکول کېږي لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ حَقُّ الْأَخْذِ ځکه چې هغه لره د اخيستلو حق نسته

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة من أي مال كان، لا سيما في ديارنا...إلخ (رد المحتار ج:٣، ص:٢٢٠). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٣]

وَقِيلَ: لَا يُقْطَعُ او بل قول دا دی: چې د هغه لاس به نه پرېکول کېږي لِأَنَّ النُّقُودَ جِنْسٌ وَاحِدٌ ځکه چې د ټولو نغدو جنس يو دی.

اللغات: ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: حاصلول، خپل حق اخيستل. ﴿الْحَال﴾ مراد ځنې هغه قرض دی کوم چې اوس (فی الحاله) غوښتل کېږي. ﴿مُؤَجَّل﴾ هغه قرض چې تر يو ټاکلي مودت وروسته غوښتل کېږي. ﴿تَأْجِيْل﴾ مودت ټاکل. ﴿تَرَاضِي﴾ د تفاعل مصدر دی: يو د بل سره راضي کېدل (يو د بل په رضا يو کار کول). ﴿دُرِئَ﴾ د فتح ماضي مجهوله ده: دفع کول، ليرې کول، ساقطول.

تشريح: مسئله: دا ده که څوک له بيتُ المال څخه غلا وکړي، نو د هغه لاس به نه پرېکول کېږي: ځکه چې بيتُ المال د عام اُولس مال دی او غل هم په عام اُولس کې داخل دی. او په يوه توګه هغه د خپل مال اخيستونکی او غلا کونکی دی، نو ځکه د هغه په غلا کې د ملکيت شبهه سته او په شبهې سره حدّ ساقطيږي. همدارنګه که څه مال د دوو خلګو په مېنځ کې مشترک وي او له دوی څخه يو شريک په هغه مال کې غلا وکړي، نو د غله شريک لاس به نه پرېکول کېږي: ځکه چې په دې کې هم د خپل حق اخيستلو احتمال سته.

ومن له علی آخر دراهم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که پر خالد د زيد لس درهمه باندي وي. او بيا زيد (قرض غوښتونکی) له خالد (مقروض) څخه لس درهمه غلا کړي، نو د زيد لاس به نه پرېکول کېږي: ځکه چې هغه خپل حق اخيستی دی. او په لاس نه پرېکولو کې استحساناً فی الحاله قرض يا د تأخير والا قرض دواړه برابر دي. يعني يو خو داسي قرض وي چې قرض غوښتونکي سمدستي د هغه مطالبه وکړي او دويم داسي قرض وي چې د هغه لپاره قرض غوښتونکی وخت متعين کړي چې مثلاً زه يوه مياشته وروسته خپل قرض ستا څخه غواړم. په داسي دواړو صورتونو کې که زيد له خالد څخه خپل دراهم غلا کړي، نو د هغه لاس به نه پرېکول کېږي: د دې وجه دا بيانوي چې دراهم خو فقط د زيد دي. تأخير او تأجيل فقط د دې لپاره وي چې د قرض غوښتونکي (زيد) مطالبه مؤخره سي (نور خو دراهم په هر صورت کې د قرض غوښتونکي وي). لهذا د خپلو دراهمو په اخيستلو سره به د هغه لاس نه پرېکول کېږي. همدارنګه که قرض غوښتونکی له خپل حق څخه زيات مقدار غلا کړي، مثلاً زيد له خالد څخه پنځلس درهم غلا کړي، نو بيا به هم د زيد لاس نه پرېکول کېږي: د دې وجه دا ده چې لس درهمه خو د زيد وه، او تر غلا وروسته زيد په پنځلسو درهمو کې د خالد سره شريک سو، او شرکت شبهه پيدا کوي، او په شبهې سره حدّ (قطعُ اليد) ساقطيږي.

وإن سرق منه عروضاً إلخ: او که زید د لسو درهمو پر ځای له خالد څخه سامان غلا کړي. نو په دې صورت کي به د زید لاس پرې کول کیږي: ځکه چي د زید لپاره د خالد له مال څخه بل شی (یعني د خپل قرض له جنس څخه بغیر د بل جنس مال) د خالد په رضاء سره جائز دی. او په سرقه کي رضاء نسته. نو ځکه به دا سرقه د حدّ مُوجب وي او د هغه لاس به پرې کول کیږي. له امام ابو یوسف رَحمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چي دلته به هم د زید لاس نه پرېکول کیږي: د دې وجه دا ده چي ځیني علماء فرمایي چي زید (قرض غوښتونکي) ته دا حق سته چي د خپلو درهمو په بدله کي د خالد (مقروض) سامان واخلي او دا حق هم لري چي د خپلو درهمو په بدله کي د خالد سامان د ځان سره په رهن کي کښېږدي. لهذا کله چي د ځیني علماؤ په نېز د زید لپاره دا جائز دي. نو ځکه به د زید لاس نه پرېکول کیږي. (د قضاءً من حقه مطلب دا دی چي زید د خپل حق (یعني د خپلو درهمو) په بدله کي د خالد سامان د ځان سره کښېږدي، د رهناً من حقه مطلب دا دی چي زید د خپل حق په بدله کي د خالد سامان د ځان سره د رهن په توګه کښېږدي).

قلنا إلخ: مونږ امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوو چي دا قول (چي زید لره د خپل حق په بدله کي د سامان اخیستلو حق سته) دا بې دلیله قول دی. لهذا د دې اعتبار به نه کیږي. ها! که زید (غل) دا دعوی وکړي چي ما د خالد سامان د خپلو درهمو په وجه اخیستی دی. نو څرنګه چي د ځینو علماؤ په قول هغه خپل حق اخیستلای سي. نو ځکه اختلاف ثابت سو. او اختلاف شبهه پیدا کوي. نو د دې شبهي په وجه به له زید څخه حدّ ساقطیږي (لأنه ظن في موضع الخلاف: د دې عبارت مطلب همدا دی چي په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی چي آیا څوک د خپل حق په بدله کي سامان غلا کولای سي. نو دا هم د ګومان خبره ده. نو د دې ګومان او شبهي په وجه به حدّ ساقطیږي. ځکه چي په شبهي سره حدود ساقطیږي).

او که زید د خپلو لسو درهمو په بدله کي له خالد څخه یو څو دیناره واخلي. نو ځیني حضراتو فرمایلي دي چي د زید لاس به پرېکول کیږي. ځکه چي د زید حق په درهمو کي وو. نه په دینارو کي ځکه چي دینار خو بل جنس دی. او ځیني حضراتو فرمایلي دي چي د هغه لاس به نه پرېکول کیږي: ځکه چي درهم او دینار دواړه د نغد مال په اعتبار سره یو جنس دی یعني دواړو نقود (نغد مالونه) دي. نو ګواکي زید درهم اخیستي دي، نو ځکه به د هغه لاس نه پرېکول کیږي.

د مال تر واپس کولو وروسته دويم وار د هغه مال غلا کولو حکم

وَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا او کوم سړی چې يو شی غلا کړی فَقُطِعَ فِيهَا او په دې غلا کې د هغه لاس پرېکړی سي فَرَدَّهَا او هغه شی مالک ته واپس کړي ثُمَّ عَادَ فَسَرَقَهَا بيا غل اخاص ا هغه شی غلا کړي وَهِيَ بِحَالِهَا او هغه شی پر خپل حال پاته وي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي وَالْقِيَاسُ: أَنْ يُقْطَعَ او قياس دا دی چې ادويم وار ا د هغه لاس پرېکول سي اصورت د مسئلې دا دی چې که مثلاً زيد د خالد پسه غلا کړي چې د هغه په وجه د زيد لاس پرېکړی سي او زيد هغه غلا سوی پسه خالد ته واپس کړي او زيد بيا هغه پسه غلا کړي په داسي حال کي چې پسه پر خپل مخکني حالت پاته وي. نو په دې صورت کي به دويم وار د زيد لاس نه پرېکول کيږي، ځکه چې د لاس پرېکېدلو په وجه په پسه کي د زيد څه حق او ملکيت ثابت سو ا وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی اد امام ابو يوسف او امام شافعي رايه دا ده چې که هغه دويم وار بعينه هغه شی غلا کړي. نو دويم به د هغه لاس پرېکول کيږي ا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] : فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوهُ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: که چيري غل دويم وار غلا وکړي نو تاسي د هغه لاس پرېکړئ! مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ دا حديث له څه تفصيل اأو فرق ا څخه بغير دی ايعني په دې حديث کي دا تفصيل ذکر سوی نه دی چې که د هغه شي حالت بدل سوی وي يا بدل سوی نه وي. بلکي په هر حالت کي د لاس پرېکولو حکم ليکنبي سوی دی ا وَلِأَنَّ الثَّانِيَةَ مُتَكَامِلَةٌ كَالْأُولَى او ځکه چې دويمه سزا د اولي په څير پوره ده بَلْ أَقْبَحُ بلکي زياته بده ا او کامله ا ده لِتَقَدُّمِ الزَّاجِرِ ځکه چې يو وار زجر ااو تنبيه ا ورکول سوې ده اامام ابو يوسف او امام شافعي خپل عقلي دليل داسي بيانوي چې د سزا مقصد دا دی چې هغه (سارق) ته تنبيه ورکول سي او هغه منع سي. او تر دې مخکي د هغه لاس پرېکول سوی دی. نو په دويم لاس پرېکولو سره به هغه ته زياته تنبيه ورکول سي او هغه به له دويم وار غلا کولو څخه منع سي. نو په دې وجه دويم وار د هغه لاس پرېکول پکار دي. دويمه خبره دا ده چې دا سزا هم د اولي سزا په څير کامله ده ا وَصَارَ كَمَا إِذَا بَاعَهُ الْمَالِكُ مِنَ السَّارِقِ او دا داسي سو لکه مالک چې پر غله باندي هغه شی خرڅ کړي ثُمَّ اشْتَرَاهُ مِنْهُ بيا مالک له هغه څخه دا شی رانيسي ثُمَّ كَانَتِ السَّرِقَةُ بيا غلا پېښه سي ايعني زيد چې کوم پسه غلا کړی وو او د هغه په بدله کي يې لاس پرېکړی سوی وو. خالد هغه پس پر زيد خرڅ کړی. بيا خالد دا پسه له زيد څخه رانيوی او تر دې وروسته زيد هغه پسه دويم وار غلا کړی، نو اوس به دويم وار د زيد لاس پرېکول کيږي. لهذا په هغه وخت کي به هم د زيد (سارق) لاس دويم وار پرېکول کيږي کله چې پسه د خالد سره پاته وي او زيد

---

[1] تخريج: رواه الدار قطنی فی السنن، رقم الحديث:٣٤٣٧.

هغه دویم وار غلا کړي | وَلَنَا: أَنَّ الْقَطْعَ أَوْجَبَ سُقُوطَ عِصْمَةِ الْمَحَلِّ زموږ دلیل دا دی: چې قطعُ الید د محل عصمت | محفوظ والی | ساقط کړی عَلَی مَا يُعْرَفُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى لکه وروسته چې به انشاء الله دا | تاسي ته | معلومه سي | زموږ دلیل په منطقي توګه ذکر سوی دی او څه ستونزمن دي. مطلب يې همدا دی چې کله د پُسه په وجه د زید لاس پرېکړی سو نو پُسه محفوظ پاته نه سو يعني په پُسه کي د زید ملکیت هم راغلی (تاسي په ښه غور سره دلیل مطالعه کړئ!) | وَبِالرَّدِّ إِلَى الْمَالِكِ إِنْ عَادَتْ حَقِيقَةُ الْعِصْمَةِ او د مالک وطرف ته د مال په واپس کولو سره که څه هم د عصمت حقیقت راګرځېدلی دی بَقِيَتْ شُبْهَةُ السُّقُوطِ نَظَرًا إِلَى اتِّحَادِ الْمِلْكِ وَالْمَحَلِّ وَقِيَامِ الْمُوجِبِ وَهُوَ الْقَطْعُ فِيهِ لیکن د ملکیت او محل د اتحاد او د مُوجب یعني د قطعُ الید قائمېدلو د اتحاد وطرف ته په نظر کولو سره د عصمت د سقوط شبهه باقي ده | مطلب دا چې کله زید هغه پُسه خالد ته واپس کړی نو که څه هم عصمت را وګرځېدی لیکن بیا هم د عصمت ساقطېدلو شبهه پاته ده. ځکه چې مالک هم هغه اول مالک دی او ملکیت هم هغه ملکیت دی او د لاس پرېکېدلو سبب هم هغه (پُسه) دی.. اصل خبره دا ده چې کله د پُسه په وجه د زید لاس پرېکړی سو نو ګواکي زید د پُسه مالک جوړ سو. نو ځکه دویم وار د پُسه په غلا کولو سره د هغه لاس پرېکول پکار نه دي | بِخِلَافِ مَا ذَكَرَ په خلاف د هغه صورت کوم چې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی لِأَنَّ الْمِلْكَ قَدْ اخْتَلَفَ بِاخْتِلَافِ سَبَبِهِ ځکه چې | اهلته | د سبب په بدلېدلو سره ملکیت بدل سو | په دې جمله سره امام ابو یوسف ته جواب ورکوي. هغه فرمایلي وو چې که خالد پر زید (سارق) پُسه خرڅ کړي بیا زید هغه پر خالد خرڅ کړي تر دې وروسته خالد دویم وار هغه پسه غلا کړي نو د هغه لاس به پرېکول کیږي... نو د هغه جواب ورکوي چې دلته ملکیت بدل سو نو ګواکي هغه شی (پُسه) بدل سو. نو ځکه به دویم وار لاس پرېکول کیږي. لیکن زموږ په مسئله کي داسي نه دي پېښ سوي | وَلِأَنَّ تَكْرَارَ الْجِنَايَةِ مِنْهُ نَادِرٌ او ځکه چې دویم وار غلا کول د دې غله له طرفه نادر دي لِتَحَمُّلِهِ مَشَقَّةَ الزَّاجِرِ ځکه چې هغه | یو وار | د زجر | او سزا | تکلیف زغملی دی فَيَعْرَى الْإِقَامَةُ عَنِ الْمَقْصُودِ لهذا د حدّ | یعني د قطعُ الید | جاري کول به له مقصود څخه خالي وي وَهُوَ تَقْلِيلُ الْجِنَايَةِ او مقصود د جنایت کمول دي | ولأن تکرار: زموږ دویم دلیل دا دی چې دا ډېره نادره ده چې تر یوه وار لاس پرېکېدلو وروسته به غل بیرته خاص هغه شی غلا کوي (دا به یو ډېر پایلوچ غل داسي کوي)، او داسي ډېر کم پېښیږي. لهذا د لاس پرېکولو چې کوم مقصد دی یعني "تنبیه ورکول او د آینده لپاره له سرقه څخه د سارق منع کېدل" دا مقصد به کم وي. نو په دې وجه دویم وار د لاس پرېکولو هیڅ فایده نسته | وَصَارَ كَمَا إِذَا قَذَفَ الْمَحْدُودُ فِي قَذْفِ الْمَقْذُوفَ الْأَوَّلَ او دا داسي سو لکه محدود فی القذف چې دویم وار پر اول مقذوف باندي تهمت ولګوي | یعني مثلاً یو وار زید پر خالد د زنا تهمت ولګوي چې د هغه په وجه پر زید حدّ قذف جاري کړی سي، بیا دویم وار زید پر خالد د زنا تهمت ولګوي نو اوس به دویم وار پر زید حدّ قذف نه جاري کیږي. نو ځکه به دلته هم که زید دویم وار خاص هغه پُسه غلا کړي نو بیا به د هغه لاس نه پرېکول

کيږي| قَالَ: فَإِنْ تَغَيَّرَتْ عَنْ حَالِهَا فرمايي: که مسروق سامان له خپل امخکنۍ| حالت څخه بدل سي مِثْلُ أَنْ يَكُونَ غَزْلًا مثلاً هغه تارونه اسپنسيان| وي فَسَرَقَهُ او بيا | يو شوک| هغه غلا کړي وَقُطِعَ او د غله لاس پرېکړی سي فَرَدَّهُ او غل هغه تارونه خپل مالک ته واپس کړي ثُمَّ نُسِجَ مالک له هغه څخه ټوکر |کپړه| جوړه کړي فَعَادَ فَسَرَقَهُ او غل بيا |دويم وار| هغه غلا کړي قُطِعَ نو |په دې صورت کې| به د هغه لاس پرېکول کيږي |دا مسئله پر دې اُصول مبني ده چې که د مسروق شي حالت بدل سي. نو د هغه په غلا کولو سره به دويم وار لاس پرېکول کيږي| لِأَنَّ الْعَيْنَ قَدْ تَبَدَّلَتْ ځکه چې عين بدل سو |صورت د مسئلې دا دی: که زيد د خالد تارونه غلا کړل چې د هغه په وجه د زيد لاس پرېکړی سو او تارونه يې خالد ته واپس کړل. بيا خالد له هغه څخه ټوکر جوړ کړی. او زيد هغه ټوکر غلا کړی. نو د زيد لاس به دويم وار پرېکول کيږي: ځکه چې د تارونو د حالت بدلېدلو په وجه اوس هغه اول شی (تارونه) پاته نه سو. بلکې دويم شی ګواکې جوړ سو. نو ځکه به دويم وار لاس پرېکول کيږي| وَلِهَذَا يَمْلِكُهُ الْغَاصِبُ بِهِ همدا وجه ده چې د تارونو غصبوونکی د نسج |ټوکر جوړولو| په وجه د هغه |تارونو| مالک جوړيږي وَهَذَا هُوَ عَلَامَةُ التَّبَدُّلِ فِي كُلِّ مَحَلٍّ او په هر ځای کې د "بدلېدلو" همدغه نښه ده وَإِذَا تَبَدَّلَتْ او کله چې محل بدل سو انْتَفَتِ الشُّبْهَةُ النَّاشِئَةُ مِنْ اتِّحَادِ الْمَحَلِّ وَالْقَطْعُ فِيهِ نو د محل د متحد کېدلو او په دې محل کې د قطعُ اليد موجودېدلو شبهه ختمه سوه فَوَجَبَ الْقَطْعُ ثَانِيًا نو ځکه به دويم وار قطعُ اليد |لاس پرېکول| واجب وي |ولهذا يملکه الغاصب: د دې حاصل دا دی چې که مثلاً يو سړی دا تارونه غصب کړي او له هغه څخه ټوکر جوړ کړي. نو اوس غاصب د هغه مالک جوړيږي او پر غاصب به د تارونو قيمت واجب وي. نو د غاصب مالک جوړېدل د دې خبرې دليل دا دی چې د شي حالت بدل سو. لهذا محل يو پاته نه سو. او کله چې محل يو نه سو (بلکې دوه محلونه سول) نو ځکه به دويم وار هم د غله لاس پرېکول کيږي|.

اللغات: ﴿رَدَّهَا﴾ د نصر ماضي ده: واپس کول (بيرته ورکول). ﴿عَادَ﴾ د نصر ماضي ده: راګرځېدل (بيرته هغه کار کول). ﴿أَقْبَحُ﴾ داسمِ تفضيل صيغه ده: زيات بد. ﴿زَاجِر﴾ منع کوونکی. رټوونکی. تنبيه ورکوونکی. مراد څنې سزا ده. ﴿عِصْمَةٌ﴾ د دې لفظ ډېري معناوي دي. دلته يې معنیٰ محفوظ والې (محفوظيت) دی. (يعني د زيد (سارق) له ملکيت څخه د خالد د پُسه محفوظ کېدل). ﴿غَزْل﴾ په معنیٰ سره د مَغْزُوْل: يعني هغه تارونه او سپنسيان کوم چې له پمبې او وړی څخه جوړ سوي وي (لکه پښوا چې به د لاسي څرخې په ذريعه له پمبې څخه تارونه جوړېدل بيا به له هغه تارونو څخه ټوکر او کپړه جوړېده). ﴿نُسِجَ﴾ د ماضي مجهولي صيغه ده. له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: له تارونو څخه ټوکر جوړول. وودل (اوبدل).

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سو.



فَصْلٌ فِي الْحِرْزِ وَالْأَخْذِ مِنْهُ

(دا) فصل د محفوظه کولو او له هغه (محفوظ) ځای څخه داخيستلو (په بيان کې) دی

تشريح: حَرز (د حاء په فتحه سره) د نصر د باب مصدر دی: ساتل، حفاظت کول (محفوظه کول).

حِرز (د حاء په کسره سره) اسم دی: محفوظه ځای، مظبوطه ځای (د حَرز او حِرز په مينځ کې دغه فرق په ياد لرئ!).

د مور وپلار او نژدې قريبانو د غلا بيان

وَمَنْ سَرَقَ مِنْ أَبَوَيْهِ أَوْ وَلَدِهِ أَوْ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او څوک چې له خپل مور و پلار يا له خپل بچي يا له خپل ذی رحم محرم قريب څخه غلا وکړي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي فَالْأَوَّلُ وَهُوَ الْوِلَادُ لِلْبُسُوطَةِ فِي الْمَالِ وَفِي الدُّخُولِ فِي الْحِرْزِ نو کوم چې اول قسم دی يعني اولادي قرابت والا امور وپلار او بچيان نو هغه ځکه چې (د دوی) په مال کې او محفوظه ځای ته په داخلېدلو کې ايوه او بل ته خلاصوالي (آزادوالی) وي (مطلب دا چې مور وپلار او زامن په آزاده توګه يو د بل مال استعمالوي او له اجازې څخه بغير کور ته رانوځي او يو د بل محفوظه ځايونو ته تېللای سي. نو د دوی په حق کې کور حِرز (او محفوظ ځای) نه سو، او لاس هغه وخت پرېکول کيږي. کله چې له محفوظ ځای څخه غلا وسي. نو ځکه به دلته لاس نه پرېکول کيږي) وَالثَّانِي لِلْمَعْنَى الثَّانِي او دويم قسم (يعني ذی رحم محرم) نو (په دوی کې) ويمه معنیٰ (يعني په داخلېدلو کې آزادوالی) موجود وي وَلِهَذَا أَبَاحَ الشَّرْعُ النَّظَرَ إِلَى مَوَاضِعِ الزِّينَةِ الظَّاهِرَةِ مِنْهَا همدا وجه ده چې شريعت د محارمو ښځو د ظاهري ښکلا ځايونو ته کتل روا کړي دي بِخِلَافِ الصَّدِيقَيْنِ په خلاف د دوو دوستانو لِأَنَّهُ عَادَاهُ بِالسَّرِقَةِ ځکه چې د غلا په وجه يو دوست د بل دوست دښمن جوړيږي وَفِي الثَّانِي خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دويم قسم (ذی رحم محرم) کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّهُ أَلْحَقَهَا بِالْقَرَابَةِ الْبَعِيدَةِ ځکه چې هغه د ذی رحم محرم قرابت د قرابت بعيده سره لاحق کړی دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْعَتَاقِ او په کتاب العتاق کې مونږ دا (خبره)

بیان کړه وَلَوْسَرَقَ مِنْ بَيْتِ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مَتَاعَ غَيْرِهِ او که ایو شوک ا د ذی رحم محرم له خوني ځخه د يو بل چا سامان غلا کړي يَنْبَغِي أَنْ لَا يُقْطَعَ نو د هغه لاس پرېکول پکار نه دي وَلَوْسَرَقَ مَالَهُ مِنْ بَيْتِ غَيْرِهِ او که د بل چا له کور ځخه د ذی رحم محرم مال غلا کړي يُقْطَعُ نو د هغه لاس پرېکول پکار دي اعْتِبَارًا لِلْحِرْزِ وَعَدَمِهِ د حرز او عدمِ حرز په اعتبار کولو سره وَإِنْ سَرَقَ مِنْ أُمِّهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ او که ایو شوک ا له خپلې رضاعي مور ځخه غلا وکړي قُطِعَ نو د هغه لاس به پرېکول کیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ځخه روايت دی: چي د هغه لاس به نه پرېکول کیږي لِأَنَّهُ يَدْخُلُ عَلَيْهَا مِنْ غَيْرِ اسْتِئْذَانٍ وَحِشْمَةٍ ځکه چي انسان له اجازې او شرم ځخه بغير خپلي رضاعي مور ته راځي بِخِلَافِ الْأُخْتِ مِنَ الرَّضَاعِ په خلاف د رضاعي خور لِانْعِدَامِ هٰذَا الْمَعْنَى فِيهَا عَادَةً ځکه چي عموماً په هغې کي دا معنیٰ نه وي وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّهُ لَا قَرَابَةَ د ظاهر روايت دلیل دا دی: چي ا په رضاعي مور کي ا هیڅ قرابت نه وي وَالْمَحْرَمِيَّةُ بِدُونِهَا لَا تُحْتَرَمُ او د هغه محرمیت احترام نه کیږي کوم چي له قرابت ځخه بغیر وي ایعني هغه ته هیڅ اهمیت نه ورکول کیږي. مطلب دا چي هغه محرمیت لره هیڅ اعتبار او اهمیت نسته کوم چي له قرابت ځخه بغير وي ا كَمَا إِذَا ثَبَتَتْ بِالزِّنَا وَالتَّقْبِيلِ عَنْ شَهْوَةٍ لکه کله چي په زنا یا د شهوت په مچولو سره محرمیت ثابت سي وَأَقْرَبُ مِنْ ذٰلِكَ الْأُخْتُ مِنَ الرَّضَاعَةِ او د رضاعي خور محرمیت له دې ځخه اهم ا زيات نژدې وي وَهٰذَا لِأَنَّ الرَّضَاعَ قَلَّمَا يَشْتَهِرُ او دا ځکه چي رضاعت اشیدې ورکول ا ډېر کم مشهوره کیږي فَلَا بُسُوطَةَ تَحَرُّزًا عَنْ مَوْقِفِ التُّهْمَةِ نو له تهمت ځخه د ځان ساتلو لپاره خلاصوالی او اختلاط ا نه وي بِخِلَافِ النَّسَبِ په خلاف د نسب.

اللغات: ﴿وِلَاد﴾ ولادتي قرابت، اولادي قرابت (د مور او پلار او بچیانو قرابت). ﴿بُسُوطَة﴾ فراخي، ګنجائش، خلاصوالی. ﴿حِرْز﴾ محفوظه ځای (د حفاظت والا ځای). ﴿أَبَاحَ﴾ روا کول، حلالول. ﴿صدیق﴾ ملګری، دوست. ﴿عَادَاه﴾ د مفاعلې ماضي ده: دښمني کول. ﴿مَتَاع﴾ سامان، شیان. ﴿حِشْمَة﴾ (د حاء په کسره سره): شرم او حیاء، انقباض. ﴿مَحرمِیّة﴾ محرم کېدل، محرم والي (یو پر بل حرامېدل). ﴿تَحَرُّز﴾ د تفعّل مصدر دی: پرېز کول، ځان ساتل (ځان ژغورل).

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو څوک له خپل مور و پلار څخه يا له خپل أولاد څخه يا له خپلو نږدې قريبانو څخه مال يا سامان غلا کړي، نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي: ځکه چي په اولاد او مور او پلار کي دومره نژدېکت وي چي يو د بل مال هم استعمالوي او په يوه خونه او يوه ځای کي سره کښيني او يو د بل محفوظه مقاماتو ته هم ځي. همدارنګه ذی رحم محرم قريبان هم يو د بل کور ته ځي او پر هيڅ باندي هيڅ ډول تهمت او ممانعت نه وي. له همدې کبله شريعت د محارمو ښځو ظاهري اندامونو ته کتل روا کړي دي. لهذا دا ثابته سوه چي په دې کسانو کي حرز او محفوظيت معدوم دی (او د دوی کور د دوی په حق کي محفوظه ځای نه دی). او له حرز څخه بغير غلا نه ثابتيږي. نو ځکه به د خپل مينځوي غلا په وجه د دې کسانو لاس نه پرېکول کيږي. د دې په خلاف که يو دوست له بل دوست څخه مال غلا کړي نو د هغه لاس به پرېکول کيږي: ځکه که څه هم يو دوست د بل دوست محفوظه ځايو ته ځي (او که څه هم د دوستانو په مينځ کي آزادوالی او بسوطة سته) لېکن تر غلا وروسته د دوی په مينځ کي دښمني او عداوت پيدا کيږي. نو ځکه به د غلا په وجه د دوست لاس پرېکول کيږي. امام شافعي رَحِمَهُ الله د ذی رحم محرم قرابت د قرابت بعيد سره لاحق کړی دی او په قرابتِ بعيده کي غلا کول د حدّ (قطعُ اليد) مُوجِب دي. نو ځکه به د ذی رحم مال غلا کول هم د حدّ مُوجِب وي.

ولوسرق إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو څوک د ذی رحم محرم له کور څخه د بل چا (أجنبي) مال غلا کړي نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي: ځکه چي د ذی رحم کور حرز (محفوظ ځای) نه دی او په هغه کي محفوظيت نسته. او له حرز څخه بغير غلا نه ثابتيږي. نو ځکه موږ وايو که څوک د ذی رحم محرم قريب له کور څخه د أجنبي سړي مال غلا کړي. نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي. او که يو څوک د بل چا له کور څخه د ذی رحم محرم مال غلا کړي. نو د هغه لاس به پرېکول کيږي: ځکه چي د بل چا (أجنبي) کور حرز او محفوظ ځای دی (ځکه چي انسان د بل چا کور ته په آزاده توګه او بېله اجازې ننوتلای نه سي)، او له محفوظ ځای څخه غلا کول د قطعُ اليد موجب دي.

وإن سرق من أمه إلخ: د دې حاصل دا دی که څوک د خپلي رضاعي مور مال غلا کړي. نو د هغه لاس به پرېکول کيږي. لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د هغه لاس به نه پرېکول کيږي: ځکه چي انسان له څه اجازې او شرم څخه بغير خپلي رضاعي مور ته ځي. او د هغې له محفوظه مقاماتو څخه شيان اخلي. د دې په خلاف د رضاعي ورور او خور په مينځ کي داسي نه کيږي. لهذا د هغې مال غلا کول به د قطعُ اليد مُوجِب وي. لېکن د رضاعي مور مال غلا کول به د قطعُ اليد مُوجب نه وي.

د ظاهر روایت دلیل دا دی چې د رضاعي ، ور سره د انسان هیڅ قرابت نسته. او له قرابت څخه بغیر محرمیت نه حاصلیږي (یعني اعتبار او اهمیت نه ورکول کیږي). د مثال په توګه که یو څوک د یوې ښځې سره زنا وکړي یا په شهوت سره هغه مچ کړي نو په دې سره حرمت مصاهرت ثابتیږي. یعني د دې ښځې مور پر هغه حرامیږي (او خوابنې یې جوړیږي) خو د قرابت د نشتوالي په وجه دغه حرمت له هیڅ اهمیت نه وي (یعني که دا سړی له هغې (خوابنې) څخه غلا وکړي، نو هم به د هغه لاس پرېکول کیږي، ځکه چې قرابت نسته). همدارنګه د رضاعي خور محرمیت له هغه محرمیت څخه زیات نژدې وي کوم چې په زنا سره ثابت سوی وي لېکن د قرابت د نشتوالي په وجه د هغې حُرمت لره هم هیڅ اهمیت او اعتبار نه وي. لهذا کله چې د رضاعي خور او داسې نورو مال غلا کول د قطعُ الید مُوجِب دي نو د رضاعي مور مال غلا کول به هم د قطعُ الید موجِب وي. او په دې کې یو راز دا هم دی چې رضاعت ډېر کم مشهوره کیږي (یعني که څه هم د شیدو ورکولو په وجه ښځه د انسان رضاعي مور جوړیږي. خو په دې ډېر کم انسانان خبر وي چې فلانۍ ښځه د فلانکي رضاعي مور ده). نو له تهمت څخه د ځان ساتلو پر بناء هغه د رضاعي مور کور ته په آزاده توګه نه ځي. نو د هغې کور به د ده په حق کې محفوظه ځای وي (او غلا په محفوظه ځای کې ثابتیږي). نو ځکه به له رضاعي مور څخه غلا کول د قطعُ الید مُوجِب وي. لېکن نسب او ولادتي قرابت مشهوره وي او د دوی په مېنځ کې په آزاده توګه راشه درشه او تعلّقات موجود وي.

د ښځې او خاوند، او د غلام او مالک د غلا بیان

وَإِذَا سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنَ الْآخَرِ او که په خاوند او ښځه کې یو له بل څخه غلا وکړي أَوِ الْعَبْدُ مِنْ سَيِّدِهِ یا غلام له خپل مالک څخه [غلا وکړي] أَوْ مِنْ امْرَأَةِ سَيِّدِهِ یا غلام د خپل مالک له ښځې څخه [غلا وکړي] أَوْ مِنْ زَوْجِ سَيِّدَتِهِ یا د خپلې مالکې له خاوند څخه [غلا وکړي] لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کیږي لِوُجُودِ الْإِذْنِ بِالدُّخُولِ عَادَةً ځکه چې [د دې کسانو په مینځ کې] عادتاً د داخلېدو اجازه موجوده وي وَإِنْ سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنْ حِرْزِ الْآخَرِ خَاصَّةً لَا يَسْكُنَانِ فِيهِ او که په خاوند او ښځه کې یو د بل له محفوظه ځای څخه غلا وکړي چې هغه په کې دوی دواړه [یو ځای] نه اوسیږي فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا نو هم زموږ په نېز دا حکم دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِبُسُوطَةٍ بَيْنَهُمَا فِي الْأَمْوَالِ عَادَةً وَدَلَالَةً ازموږ دلیل [ځکه چې د عادت او دلالت [دواړو] په اعتبار سره د دوی په مېنځ کې خلاصوالی [آزادوالی] وي وَهُوَ نَظِيرُ الْخِلَافِ فِي الشَّهَادَةِ او

دا په شهادت ورکولو کې د اختلاف په څېر دی **وَلَوْسَرَقَ الْمَوْلَى مِنْ مُكَاتَبِهِ** او که مالک له خپل مکاتب څخه مال غلا کړي **لَمْ يُقْطَعْ** نو د هغه لاس به نه پرېکول کیږي **لِأَنَّ لَهُ فِي أَكْسَابِهِ حَقًّا** ځکه چې د مکاتب په ګټل سوي مال کې مالک حق لري **وَكَذٰلِكَ السَّارِقُ مِنَ الْمَغْنَمِ** او د غنيمت له مال څخه د غلا کونکي (البنکري) هم دغه حکم دی **لِأَنَّ لَهُ فِيهِ نَصِيبًا** ځکه چې د غنيمت په مال کې هغه حصه لري **وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ** [1] **دَرْءًا وَتَعْلِيلًا** او دا د حد ساقطولو او علت بیانولو په توګه له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي ایعني له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي چې هغه په دې هکله له يو سړي څخه حد ساقط کړی او د هغه علت يې هم بيان کړی (چې د غنيمت په مال کې د دې سړي حصه سته. د حضرت علي رضي الله عنه قول په حاشيه کې مذکور دی)ا.

اللغات: ﴿سَيِّد﴾ مالک. مولیٰ. ﴿مَغْنَم﴾ د غنيمت مال. ﴿نَظِيْر﴾ مثال. مشابه. ﴿أَكْسَاب﴾ کتې (مراد ځني ګټل سوی مال دی). ﴿نَصِيْب﴾ حصه. برخه. ﴿دَرْء﴾ د فتح مصدر دی: دفع کول. لیري کول. ساقطول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که په خاوند او ښځه کې يو له بل څخه مال غلا کړي يا غلام له خپل مالک يا د مالک له ښځې څخه يا د خپلې مالکې له خاوند څخه مال غلا کړي. نو د هغه لاس به نه پرېکول کیږي: ځکه چې د دغه کسانو په مینځ کې هر يوه ته د تلو او راتلو اجازه حاصله وي (او هر يو بېله څه خنډه د بل کور ته ځي). لهذا د دوی په حق کې حرز معدوم دی (يعني د دوی په حق کې کور محرز او محفوظ ځای نه سو). حالانکې د غلا لپاره حرز شرط دی (له حرز څخه بغير قطعُ اليد نه واجبيږي). که چیري په خاوند او ښځه کې د يوه لپاره جلا خصوصي خونه وي. مثلاً د خاوند لپاره جلا خونه وي. او بيا ښځه له هغه څخه غلا کړي نو په دې صورت کې هم زموږ په نېز قطعُ اليد نه واجبيږي: ځکه چې د ښځې او خاوند په مینځ کې عادتاً او دلالتاً دواړه قسمه آزاد والی وي او له اجازې څخه بغير يو د بل مال اخلي. مطلب دا چې په دوی کې هر يوه ته د عادت او دلالت دواړو په اعتبار سره يو د بل د مال استعمالولو اجازه وي. او دا اجازه حرز او إحراز ختموي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کې هم پر سارق (خاوند يا ښځې) قطعُ اليد واجبيږي او صاحب د بنايې فرمايي چې أصلاً په دې سلسله کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله درې قولونه دي. او دا په ګواهۍ کې د اختلاف په څېر دی يعني

---

[1] تخريج: رواه ابن أبي شيبة رقم: ٢٨٥٦٥، د أثر الفاظ داسې دي "أتي علي رضي الله عنه برجل سرق من الخمس، فقال له فيه نصيب وهو خائن، فلم يقطعه".

زموږ په نيز د أحدُ الزوجين ګواهي د بل په حق کي مقبوله نه ده ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په يوه قول کي مقبوله ده.

مالک که چيري له خپل مکاتب څخه غلا وکړي يا لښکري د غنيمت له مال څخه غلا وکړي. نو پر دوی هم قطعُ اليد نه واجبيږي. دليل په کتاب کي موجود او واضح دی.

د حرز تعريف او د هغه قسمونه

قَالَ: وَالْحِرْزُ عَلىٰ نَوْعَيْنِ فرمايي: چي حرز پر دوه قسمه دی حِرْزٌ لِمَعْنًى فِيهِ كَالْبُيُوتِ وَالدُّوْرِ ① يو هغه دی چي د خپلي معنیٰ په وجه محفوظ وي. لکه خوني (کمرې) او کورونه وَحِرْزٌ بِالْحَافِظِ ② او بل هغه حرز دی کوم چي د يو نګران [او پام کونکی] په وجه محفوظ وي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: الْحِرْزُ لَا بُدَّ مِنْهُ ناتوانه بنده فرمايي: چي حرز [او محفوظه ځای] ضروري دی لِأَنَّ الِاسْتِسْرَارَ لَا يَتَحَقَّقُ دُونَهُ ځکه چي له حرز څخه بغير "په پټه توګه اخيستل" ثابتيدای نه سي ثُمَّ هُوَ قَدْ يَكُونُ بِالْمَكَانِ بيا حرز [او حفاظت] کله د مکان په ذريعه سره وي وَهُوَ الْمَكَانُ الْمُعَدُّ لِإِحْرَازِ الْأَمْتِعَةِ كَالدُّورِ وَالْبُيُوتِ وَالصُّنْدُوقِ وَالْحَانُوتِ او دا هغه مکان دی کوم چي د سامانونو د حفاظت [ساتني] لپاره تيار سوي وي لکه کورونه، خوني، صندوخ او دوکان وَقَدْ يَكُونُ بِالْحَافِظِ كَمَنْ جَلَسَ فِي الطَّرِيقِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ وَعِنْدَهُ مَتَاعُهُ او کله بيا حز د نګران [پام کونکي] په ذريعه سره وي لکه يو سړی چي په لاره کي يا په مسجد کي ناست وي او د هغه سره خپل سامان [هم] وي [او پر خپل سامان پام کوي] فَهُوَ مُحْرَزٌ بِهِ نو دا سامان به د دې سړي [مالک] په وجه محفوظ وي وَقَدْ قَطَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ سَرَقَ رِدَاءَ صَفْوَانَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ[1] او نبي کريم ﷺ د هغه غله لاس پرېکړی چي هغه د حضرت صفوان تر سر لاندي څادر [پټو] غلا کړی او هغه په مسجد کي بيده وو وَفِي الْمُحْرَزِ بِالْمَكَانِ لَا يُعْتَبَرُ الْإِحْرَازُ بِالْحَافِظِ او کوم شی چي د مکان په ذريعه ساتل سوي وي په هغه کي د نګران حفاظت [او نګراني] معتبره نه ده ايعني دا ضروري نه ده چي هغه به خامخا د يو چا تر پام او نګراني لاندي وي. بس إحراز بالمكان کافي دی] هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح [قول] دی لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ بِدُونِهِ

---

[1] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۳۹۲.

ځکه هغه شی خو له نګران څخه بغیر هم محفوظ دی وَهُوَ الْبَيْتُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ بَابٌ أَوْ كَانَ وَهُوَ مَفْتُوحٌ او هغه (مکان) خونه (او کور) دی که څه هم هغه دروازه نه لري یا دروازه لري خو خلاصه وي (او قلف نه وي) حَتَّى يُقْطَعَ السَّارِقُ مِنْهُ تر دې چې له هغه څخه د غلا کونکي کس لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّ الْبِنَاءَ لِقَصْدِ الْإِحْرَازِ ځکه چې خونه د حفاظت (او ساتلو) په مقصد جوړيږي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ الْقَطْعُ إِلَّا بِالْإِخْرَاجِ مِنْهُ خو قطعُ اليد نه واجبيږي مګر له خوني څخه په ايستلو کي ايعني قطع اليد به فقط هغه وخت واجبيږي، کله چې غل له خوني او کور څخه شی وباسي) لِقِيَامِ يَدِهِ فِيهِ قَبْلَهُ ځکه چې تر إخراج (ايستلو) مخکي په هغه شي کي د مالک قبضه وي بِخِلَافِ الْمُحْرَزِ بِالْحَافِظِ په خلاف د هغه شي کوم چې په نګران سره محفوظ وي حَيْثُ يَجِبُ الْقَطْعُ فِيهِ كَمَا أَخَذَ ځکه په هغه صورت کي چې څرنګه غل (فقط) شی را واخلي نو (سمدستي) قطعُ اليد واجبيږي لِزَوَالِ يَدِ الْمَالِكِ بِمُجَرَّدِ الْأَخْذِ ځکه چې فقط په اخيستلو سره د مالک قبضه ختميږي فَتَتِمُّ السَّرِقَةُ نو غلا به پوره سي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَكُونَ الْحَافِظُ مُسْتَيْقِظًا أَوْ نَائِمًا وَالْمَتَاعُ تَحْتَهُ أَوْ عِنْدَهُ او په دې هکله هيڅ فرق نسته چې نګران ويښ وي يا بيده وي او سامان تر هغه لاندي وي يا د هغه سره وي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح (وول) دی لِأَنَّهُ يُعَدُّ النَّائِمُ عِنْدَ مَتَاعِهِ حَافِظًا لَهُ فِي الْعَادَةِ ځکه چې د خپل سامان سره (نژدې) بيده سړی په عادت (او عرف) کي نګران (او ساتونکی) شمارل کيږي وَعَلَى هَذَا لَا يَضْمَنُ الْمُودَعُ وَالْمُسْتَعِيرُ بِمِثْلِهِ او پر همدغه بناء به په داسي حالت کي مودَع او مستعير نه ضامن کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِتَضْيِيعٍ ځکه چې دا ضايع کول نه دي بِخِلَافِ مَا اخْتَارَهُ فِي الْفَتَاوَى په خلاف د هغه قول کوم چې يې په فتاوىٰ کي اختيار کړی دی.

اللغات: ﴿حِرْز﴾ محفوظه ځای. ﴿بُيُوت﴾ جمع د بَيْتٌ ده: خونه. کمره. کوټه (همدا يې عمومي معنی ده). ﴿دُوْر﴾ جمع د دَارٌ ده: کور. ﴿إِسْتِسْرَار﴾ د استفعال مصدر دی: په پټه توګه کاروايي کول. (په خفيه توګه شی اخيستل). دا په غلا کي شرط دي چې سارق به په پټه توګه شی غلا کړی وي کنې لاس به يې نه پرېکول کيږي (همدا وجه ده چې د ډاکو لاس نه پرېکول کيږي). ﴿مُعَدّ﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: تيار سوی. ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: حفاظت کول. ساتل. ذخيره کول.

﴿بِنَاءِ﴾ د ضرب اسمِ مصدر دی: جوړول، عمارت، (وداني جوړول). ﴿مُوْدَعْ﴾ هغه کس چي امانت ورته ایښول سوی وي (هغه کس چي أمین جوړ سوی وي). ﴿مُسْتَعِيْر﴾ هغه کس چي په عاریت (او امانت) له بل چا څخه شی واخلي (چي زه یې بیرته درکوم). ﴿تَضْيِيْع﴾ د تفعیل مصدر دی: ضایع کول.

تشریح: په دې ټوله عبارت کي فقط دا ښوول سوي دي چي حِرز او محفوظ پر دوه قسمه دی: ①... یو هغه دی کوم چي بیله څه واسطې او بذاتِ خود په خپل ځان کي د حفاظت د معنیٰ په وجه حِرز شمارل کیږي لکه خوني، کورونه، صندوخان او دوکانونه چي دا بذاتِ خود مُحرز او محفوظ وي او په دوی کي د إحراز معنیٰ پیدا موجوده وي، ځکه چي دا ټوله فقط د حفاظت په مقصد سره جوړیږي. ②... د حِرز دویم قسم دا دی چي په هغه کي د نګران او ساتونکي واسطه وي او بذات خود هغه شی محرز نه وي لکه یو څوک چي په لاره کي ناست وي یا په مسجد کي ناست وي او د هغه سره خپل سامان موجود وي، نو دا سامان به په لاره یا مسجد سره محفوظ او محرز نه شمارل کیږي. بلکي د سړي په وجه به محفوظ او محرز شمارل کیږي: د دې واضح دلیل دا دی چي حضرت صفوان بن اُمیه ﷺ په مسجد کي بیده وو او خپل پټوی یې ترسر لاندي کړی وو. په دې حالت کي یو سړي د ده پټو غلا کړی، نو نبي کریم ﷺ د هغه سړي لاس پرېکړی ځکه چي هغه پټو محرز بالحافظ وو.

وفي المحرز بالمكان إلخ: د دې حاصل دا دی چي هغه شیان کوم چي په مکان مثلاً په خونه، کور دوکان او داسي نورو کي موجود وي د هغه حفاظت به په هغه مکان سره معتبر وي او (د غلا د تحقق لپاره) به د هغه په إحراز کي د محافظ او نګران څه اعتبار او ضرورت نه وي: ځکه هغه شی له حافظ څخه بغیر په مکان سره محزر دی (ځکه چي په هغه مکان کي بذاتِ خود د إحراز او حفاظت معنیٰ سته) که څه هم هغه مکان دروازه لري یا دروازه خو لري مګر خلاصه وي، همدا صحیح قول دی (ځکه چي خونه، کور او داسي نور د إحراز په نیت سره جوړیږي). خو صاحب د کفایې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل کړی دی چي که په هغه مکان کي محافظ او ساتونکی وي نو په دې صورت کي به د غله لاس پرېکول کیږي او که هلته محافظ نه وي نو د غله لاس به نه پرېکول کیږي. لېکن دلته چي کوم روایت ذکر سوی دی د هغه مطابق به له محافظ او ساتونکي څخه بغیر هم د غله لاس پرېکول کیږي. د دې روایت وجه دا ده چي کور، خونه دوکان او داسي نور د إحراز په نیت او اراده سره جوړیږي. خو دا خبره په یاد لرئ! چي د کور، خوني او داسي نورو غلا به په هغه وخت کي د قطعُ الید مُوجب ګرځي کله چي غل له هغه ځای څخه سامان وباسي، ځکه تر څو چي سامان په هغه ځای کي وي تر هغه

وخته به سامان محرز او محفوظ شمارل کيږي او پر هغه به د مالک قبضه باقي وي. لهذا قبل الإخراج به قطعُ اليد نه ثابتيږي.

د دې په خلاف د حِرز په دويم قسم يعني د محرز بالحافظ په صورت کې د مال په اخيستلو سره فوراً قطع اليد واجبيږي؛ ځکه چي په دې صورت کې فقط په اخيستلو سره دمالک قبضه ختميږي او سرقه پوره کيږي. او په حرز بالحافظ کې برابره ده که حافظ ويښ وي يا بيده وي او سامان تر هغه لاندې وي يا نه وي په هر صورت کې به دا سامان محرز بالحافظ شمارل کيږي. ځکه چي د خپل سامان سره بيدېدونکي کس هم عادتاً د سامان محافظ شمارل کيږي او د همدې تفصيل مطابق که مُستعير يا مودَع د عاريت او د امانت د سامان سره بيده وي او يو څوک هغه غلا کړي نو پر مستعير او مودَع به ضمان نه واجبيږي. ځکه چي د سامان سره بيدونکي کس د سامان محافظ شمارل کيږي. لهذا د دې تفصيل پر بناء د دوی له طرفه هيڅ قصوړ او جنايت نه دې سوی. حالانکي په فتاویٰ ظهيرية کې دا حکم د فتویٰ لپاره خوښ سوی دی چي که مودَع په ولاړه بيده وي او سامان د هغه مخته وي نو د هغه په غلا کېدلو سره به پر مودَع ضمان نه واجبيږي او که مودَع په پروتې بيده وي نو پر هغه به ضمان واجبيږي. (بناية ج:۶، ص:۴۲۰)

د حِرز د دويم قسم مثال

قَالَ: وَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا مِنْ حِرْزٍ أَوْ مِنْ غَيْرِ حِرْزٍ فرمايي: او کوم کس چي له محفوظ يا غيرِ محفوظ ځای څخه يو شی غلا کړي وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ يَحْفَظُهُ او د هغه شي مالک د شي سره وي او د هغه حفاظت کوي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّهُ سَرَقَ مَالًا مُحْرَزًا بِأَحَدِ الْحِرْزَيْنِ ځکه چي هغه داسي مال غلا کړی کوم چي په دوو حِرزونو کې د يوه په ذريعه محفوظ دی وَلَا قَطْعَ عَلَى مَنْ سَرَقَ مَالًا مِنْ حَمَّامٍ أَوْ مِنْ بَيْتٍ أُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ او د هغه کس لاس به نه پرېکول کيږي چي هغه له حمام څخه يا له داسي خوني (او کور) څخه مال غلا کړي چي په هغه کې عامو خلکو ته د داخلېدلو اجازه ورکول سوې وي لِوُجُودِ الْإِذْنِ عَادَةً أَوْ حَقِيقَةً فِي الدُّخُولِ ځکه چي (په داسي ځايونو کې) عادتاً يا حقيقتاً د دخول اجازه وي فَاخْتَلَّ الْحِرْزُ لهذا په حِرز کې خلل راغلی وَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ حَوَانِيتُ التِّجَارَةِ وَالْخَانَاتُ او په دې حکم کې د کاروبار دوکانونه او کاروان سرايونه (هم) داخل دي إِلَّا إِذَا سَرَقَ مِنْهَا لَيْلًا مګر دا چي کله له دې ځايونو څخه (يو څوک) د شپې غلا وکړي لِأَنَّهَا بُنِيَتْ

لِإِحْرَازِ الْأَمْوَالِ ځکه چي دا د مالونو د حفاظت لپاره جوړ سوي دي وَإِنَّمَا الْإِذْنُ يَخْتَصُّ بِالنَّهَارِ او اد دخول اجازه فقط د ورځي سره خاص ده وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ او که ايو ځوک اله مسجد څخه سامان غلا کړي او د سامان مالک د سامان سره اموجودا وي قُطِعَ نو اد امام صاحب په نېزا د غله لاس پرېکول کيږي اپه هدايه کي فقط د امام صاحب مسلک او دليل ذکر سوی دی. د صاحبينو مسلک نه دي ذکر سوی. د صاحبينو قول دا دی چي د هغه لاس به نه پرېکول کيږي. د صاحبينو قول راجح او مفتیٰ به دی ا لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ بِالْحَافِظِ ادا اما صاحب دليل ا ځکه چي اد لته ا دا سامان د نګران په ذريعه محفوظ دی لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مَا بُنِيَ لِإِحْرَازِ الْأَمْوَالِ ځکه چي مسجد د مالونو د حفاظت لپاره نه جوړېږي فَلَمْ يَكُنِ الْمَالُ مُحْرَزًا بِالْمَكَانِ لهذا هغه مال به د مکان په ذريعه محفوظ نه وي بِخِلَافِ الْحَمَّامِ وَالْبَيْتِ الَّذِي أُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ په خلاف د حمام او د هغه خوني او کورا چي په هغه کي خلکو ته د داخلېدلو اجازه ورکول سوې وي حَيْثُ لَا يُقْطَعُ نو اله هغه څخه د غلا کولو په وجه ا به د غله لاس نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ بُنِيَ لِلْإِحْرَازِ ځکه چي دا ځايونه د إحراز لپاره جوړېږي فَكَانَ الْمَكَانُ حِرْزًا نو مکان به محرز وي فَلَا يُعْتَبَرُ الْإِحْرَازُ بِالْحَافِظِ نو په دې وجه به اهلته ا إحراز بالحافظ معتبر نه وي وَلَا قَطْعَ عَلَى الضَّيْفِ إِذَا سَرَقَ مِمَّنْ أَضَافَهُ او د مېلمه لاس به نه پرېکول کيږي کله چي مېلمه له هغه سړي څخه غلا وکړي چي دئ يې مېلمه کړی وي ايعني کله چي مېلمه له کوربه څخه غلا وکړي ا لِأَنَّ الْبَيْتَ لَمْ يَبْقَ حِرْزًا فِي حَقِّهِ ځکه د کوربه خونه ااو کورا د مېلمه په حق کي محرز ځای نه دی لِكَوْنِهِ مَأْذُونًا فِي دُخُولِهِ ځکه چي مېلمه ته اجازه ورکول سوې ده هغه خوني ته په داخلېدلو کي وَلِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ أَهْلِ الدَّارِ او ځکه چي مېله د کورنۍ خلکو په درجه کي دی فَيَكُونُ فِعْلُهُ خِيَانَةً لَا سَرِقَةً نو د هغه فعل به خيانت وي. نه غلا.

اللغات: ﴿حَمَّام﴾ دلمبېدلو ځای (چي ډېر خلک ورځي او غسلونه پکښي کوي). ﴿إِخْتَلَّ﴾ د افتعال ماضي ده: عيب پکښي راتلل، خلل او کمي پيدا کېدل. ﴿حَوَانِيت﴾ جمع د حَانُوتٌ: دوکان. ﴿خَانَات﴾ جمع د خَانٌ او خَانَةٌ ده: کاروانسرای (هغه غټ سرای کوم چي به په لويه لاره کي جوړ وو. او مسافرانو به پړاو پکښي کوی). ﴿ضَيْف﴾ مېلمه. جمع ضُيُوف.

تشریح: **مسئله**: دا ده که یو سړي خپل سامان یو ځای ایښی وي او یو څوک هغه غلا کړي حال دا چي دا سړی (مالک) هلته موجود وي. نو د غله لاس به پرېکول کیږي: ځکه چي دا مال د أحد الحرزین یعني د حافظ (مالک) په وجه محفوظ دی او د محرز مال غلا کول د قطعُ الید مُوجب دي. د دې په خلاف که یو څوک له حمام څخه یو شی غلا کړي یا له داسي کور څخه یو شی غلا کړي چي په هغه کي خلګو ته د تلو راتلو اجازه وي. نو په دې صورت کي به د غله لاس نه پرېکول کیږي. ځکه چي په حمام کي خو عادتاً د داخلېدلو اجازه وي او په کوم کور چي کي د داخلېدلو اجازه وي په هغه کي حقیقتاً د داخلېدلو اجازه وي. او په اجازه سره حرز او إحراز ختمیږي نو ځکه به په دې صورتونو کي قطعُ الید نه واجبیږي. همدا حکم د تجارتي دوکان او د مسافرانو د سرای دی یعني د دې ځایونو غلا هم د قطعُ مُوجِب نه ده: ځکه چي په دې ځایونو کي هم په عامه توګه خلګو ته د داخلېدلو اجازه وي. لېکن د اجازې حکم په هغه صورت کي دی کله چي د ورځي غلا سوې وي: ځکه چي اجازه د ورځي سره خاصل ده. لېکن که یو څوک د شپې په وخت کي له دې ځایونو څخه غلا وکړي نو د هغه لاس به پرېکول کیږي: ځکه چي دا ځایونه د أموالو د حفاظت لپاره جوړیږي.

له مسجد څخه د غلا کولو مسئله واضحه ده (تشریح ته ضرورت نه لري). او که مېلمه د کوربه له کور څخه غلا وکړي نو د هغه لاس به هم نه پرېکول کیږي: ځکه چي د کوربه کور ته مېلمه مأذون فی الدخول وي او مېلمه د کوربه د کور فرد شمارل کیږي. نو په دې وجه د مېلمه فعل (غلا) خیانت دی. سرقه نه ده. او خیانت د قطعُ الید موجب نه دی.

له قطعُ الید څخه د خلاصېدلو ممکنه حیلې

وَمَنْ سَرَقَ سَرِقَةً فَلَمْ يُخْرِجْهَا مِنَ الدَّارِ او څوک چي یو سامان غلا کړي اليکن ا هغه له کور څخه نه وباسي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کیږي لِأَنَّ الدَّارَ كُلَّهَا حِرْزٌ وَاحِدٌ ځکه چي کور ټوله یو حرز دی [یعني کور ټوله د یوه محفوظ ځای په درجه کي دی] فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِخْرَاجِ مِنْهَا نو په دې وجه له کور څخه [د سامان] ایستل ضروري دي وَلِأَنَّ الدَّارَ وَمَا فِيهَا فِي يَدِ صَاحِبِهَا مَعْنًى او ځکه چي کور او د کور سامان د معنیٰ په اعتبار سره د صاحبُ الدار [مالک] په قبضه کي وي فَيَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ عَدَمِ الْأَخْذِ نو د اخیستلو شبهه پیدا سوه فَإِنْ كَانَتْ دَارٌ فِيهَا مَقَاصِيرُ او که یو کور داسي وي چي په هغه کي څو جلا کوټې اخوني [وي [یعني هره خونه له بلي څخه جلا وي او هره خونه د جلا کس په ملکیت کي وي] فَأَخْرَجَهَا مِنَ الْمَقْصُورَةِ إِلَى صَحْنِ الدَّارِ او غل هغه سامان له یوې خوني

ځخه د کور حويلۍ اغولي ا ته را وباسي **قُطِعَ** نو د هغه لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّ كُلَّ مَقْصُورَةٍ بِاعْتِبَارِ سَاكِنِهَا حِرْزٌ عَلَى حِدَةٍ ځکه چي هره خونه د خپل اوسېدونکي په اعتبار سره جلا حرز دی **وَإِنْ أَغَارَ إِنْسَانٌ مِنْ أَهْلِ الْمَقَاصِيرِ عَلَى مَقْصُورَةٍ فَسَرَقَ مِنْهَا** او که د دې خونو له خلکو ځخه يو سړی پر بوې خوني چاپه ووهي او سامان ځني غلا کړي ايعني له يوې خوني ځخه سامان چور کړي ا **قُطِعَ** نو د هغه لاس به پرېکول کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی **وَإِذَا نَقَبَ اللِّصُّ الْبَيْتَ فَدَخَلَ وَأَخَذَ الْمَالَ وَنَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ الْبَيْتِ** او که چيري غل په خونه ايا کور ا کي سوری جوړ کړي او ور داخل سي او مال را واخلي او له خوني ځخه دباندي بل چا ته دا سامان ورکړي **فَلَا قَطْعَ عَلَيْهِمَا** نو پر دوی دواړو قطعُ اليد نسته ايعني په دې صورت کي به د دواړو لاس نه پرېکول کيږي. د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېزا لِأَنَّ الْأَوَّلَ لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ الْإِخْرَاجُ ځکه چي د اول غل له طرفه ادباندي ا را ايستل موجود نه سو لِاعْتِرَاضِ يَدٍ مُعْتَبَرَةٍ عَلَى الْمَالِ قَبْلَ خُرُوجِهِ ځکه چي د اول غله تر راوتلو مخکي پر دې مال معتبره قبضه راغله ايعني دويم سړي قبضه پر وکړه. او د اول له طرفه قبضه ثابته نه سوه ا وَالثَّانِي لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ هَتْكُ الْحِرْزِ او د دويم سړي له طرفه د حرز ااو حفاظت ا ماتول موجود نه سو فَلَمْ تَتِمَّ السَّرِقَةُ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ لهذا د يوه له طرفه اهم ا غلا پوره نه سوه وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: إِنْ أَخْرَجَ الدَّاخِلُ يَدَهُ وَنَاوَلَهَا الْخَارِجَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځخه روايت دی چي که داخل سوی غل خپل لاس اله خوني ځخه ا دباندي را وباسي او دباندي والا ته هغه سامان ورکړي فَالْقَطْعُ عَلَى الدَّاخِلِ نو د داخل لاس به پرېکول کيږي وَإِنْ أَدْخَلَ الْخَارِجُ يَدَهُ فَتَنَاوَلَهَا مِنْ يَدِ الدَّاخِلِ او که د دباندي والا خپل لاس اخوني ته ا دننه کړي او د داخل سوي غله د لاس ځخه سامان واخلي فَعَلَيْهِمَا الْقَطْعُ نو پر دوی دواړو قطعُ اليد سته وَهِيَ بِنَاءٌ عَلَى مَسْأَلَةٍ تَأْتِي بَعْدَ هٰذَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ او دا مسئله پر بلي مسئلې مبني ده چي هغه به انشاء الله وروسته راسي **وَإِنْ أَلْقَاهُ فِي الطَّرِيقِ وَخَرَجَ فَأَخَذَهُ** او که داخل سوی غل سامان دباندي لاري ته را وغورځوي او بيا را ووځي او سامان راواخلي **قُطِعَ** نو د هغه لاس به پرېکول

♦ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٢٣)، [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٥]

کیږي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُقْطَعُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د هغه لاس به نه پرې‌کول کیږي لِأَنَّ الْإِلْقَاءَ غَيْرُ مُوجِبٍ لِلْقَطْعِ ځکه چي لاري ته غورځول د قطع الید واجبونکي نه دي كَمَا لَوْ خَرَجَ وَلَمْ يَأْخُذْ لکه په هغه صورت کي اچي هم د هغه لاس نه پرې‌کول کیږي ا (۱) کله چي هغه راووځي او سامان نه را وخلي وَكَذَا الْأَخْذُ مِنَ السِّكَّةِ (۲) او همدارنګه له کوڅې څخه اخیستل دي ایعني لکه په هغه صورت کي چي هم د غله لاس نه پرې‌کول کیږي کله چي په کوڅه کي يو سامان پروت وي او هغه يې را واخلي ا كَمَا لَوْ أَخَذَهُ غَيْرُهُ (۳) او لکه يو بل څوک چي سامان واخلي وَلَنَا: أَنَّ الرَّمْيَ حِيلَةٌ يَعْتَادُهَا السُّرَّاقُ زموږ دلیل دا دی: چي لاري ته غورځول يوه حیله ده کوم چي د غلو ... ده ایعني دا د غلو عادت دی چي دیو حیلې لپاره مال له خوني او کور څخه دباندي را غورځوي ا لِتَعَذُّرِ الْخُرُوجِ مَعَ الْمَتَاعِ ځکه چي اځیني وخت ا د سامان سره وتل مشکل وي أَوْ لِيَتَفَرَّغَ لِقِتَالِ صَاحِبِ الدَّارِ أَوْ لِلْفِرَارِ يا اپه دې حیله داسي کوي ا چي د کور د مالک سره د جنګ کولو لپاره يا د اژر ا تښتېدلو لپاره فارغ سي وَلَمْ تَعْتَرِضْ عَلَيْهِ يَدٌ مُعْتَبَرَةٌ او ابیا ا پر هغه سامان باندي يوه معتبره قبضه را نه سي ابلکي دبل چا تر قبضې مخکي هغه (را غورځونکي غل) قبضه پر وکړي ا فَاعْتُبِرَ الْكُلُّ فِعْلًا وَاحِدًا نو دا به يو فعل شمارل کیږي اا و دا ټوله به د يوه غله کار شمارل کیږي ا فَإِذَا خَرَجَ وَلَمْ يَأْخُذْهُ او که هغه اله خوني څخه ا را ووځي او سامان نه را واخلي فَهُوَ مُضَيِّعٌ لَا سَارِقٌ نو هغه د سامان ضائع کونکی سو. نه غلا کونکی.

اللغات: ﴿مَقَاصِيْرُ﴾ جمع د مَقْصُوْرَةٌ ده: علیحده کوټه (خونه). له نورو خونو څخه جلا خونه. جلا حجره. صاحب د معجمُ الفقهاء يې داسي تعریف کړی دی: غُرْفَةٌ خَاصَّةٌ مفصولة عن ... الدَّارِ وَأَعلى مِنهَا (یعني هغه ځانګړې خونه کوم چي د کور له نورو خونو څخه جلا او لوړه وي). دلته له مقاصیر څخه مراد جلا. جلا خوني او کوټې دي. ﴿أَغَارَ﴾ د افعال ماضي ده: ژر ... کول (ناڅاپه حمله کول. چاپه وهل). مراد ځني چورول دي. ﴿نَقَبَ﴾ د نصر ماضي ده: په دېوال کي سوری جوړول (چي پخوا به سارقینو همداسي غلا کول). ﴿نَاوَلَهَا﴾ د مفاعلة ماضي ده: ورکول (إعطاء). دا هغه "ورکولو" ته وايي چي لاس ور اوږد کړي او ورپې کړي (مصباح اللغات). ﴿هَتَكَ﴾ د

ضرب مصدر دی: بې حُرمتي کول، پرده څيرل، پايماله کول. (تر پښو لاندې کول). ﴿أَلْقَاهُ﴾ د افعال ماضي ده: غورځول. ﴿سِكَّة﴾ کوڅه (ګلی). ﴿سُرَّاق﴾ جمع د سَارِقٌ ده: غله.

تشريح: په دې عبارت کې څلور (۴) مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو سړی له يو کور څخه سامان غلا کړي خو له هغه کور څخه سامان نه راوباسي (او په همدې حالت کي ونيول سي)، نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي؛ ځکه چي ټوله کور د حرز په حق کي يو دی (او ټوله کور ديوه حرز درجه لري). لهذا تر څو چي سامان په کور کي وي تر هغه وخته پوري به حرز باقي وي او د غلا نه کولو شبهه به باقي وي. او په شبهې سره حدّ (قطعُ اليد) ساقطيږي.

(۲)... او که په يو کور کي ډېرې عليحده خوني او کوټې وي. او غل له يوې خوني څخه مال را وباسي او د کور حويلۍ ته يې را ورسوي (او په همدې حالت کي ونيول سي). نو د هغه لاس به پرېکول کيږي. ځکه چي هر خونه د خپلو اوسېدونکي په اعتبار سره مستقل حرز دی. لهذا له يوې خوني څخه مال را ايستونکی به غل او سارق وي که څه هم هغه دا مال له کور څخه نه وباسي.

(۳)... او که په دې خونو کي يوې خوني والا پر بلې خوني چاپه ووهي او مال ځني غلا کړي نو د هغه لاس به پرېکول کيږي؛ ځکه چي هره خونه جلا او مستقل حرز دی.

(۴)... که غل ديو چا په کور يا خونه کي سوری جوړ کړي او بيا کور ته ننوځي او مال را واخلي او له کور څخه دباندې يې د بل غله په قبضه کي ورکړي. نو په دې صورت کي به د يوه غل لاس هم نه پرېکول کيږي (نه د داخل او نه د خارج). ځکه چي د اول (داخل) غله له طرفه إخراج ثابت نه سو يعني داخل سوي غله دا مال له کور څخه نه دي را ايستلی. او د دوېم غله (کوم چي دباندې مال اخيستی دی د هغه) له طرفه د حرز او حفاظت ماتول ثابت نه سو. ځکه چي هغه دباندې مال اخيستی دی او له محرز او محفوظ ځای څخه يې نه دي اخيستی. لهذا ديوه له طرفه هم سرقه پوره او کامله نه سوه. نو ځکه به د يوه لاس هم نه پرېکول کيږي.

په دې سلسله کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي که داخل سوی غل خپل لاس را وباسي او دباندې والا ته مال ورکړي، نو ورکونکی به حقيقتاً غل وي (ځکه چي هغه له حرز څخه سامان را ويستی) نو ځکه به د هغه لاس پرېکول کيږي. او که دباندې والا غل لاس ور دننه کړي او له داخل غله څخه سامان واخلي نو هغه به هم غل وي او داخل به هم غل وي او د دواړو لاس به پرېکول کيږي. د دې مسئلې نور تفصيل به إنشاء الله وروسته په بله مسئله کي ذکر سي.

او که يو څوک کور ته ننوځي او له کور څخه دباندې سامان را وغورځوي بيا خالي لاس را ووځي او سامان را پورته کړي. نو زموږ په نېز به د هغه لاس پرېکول کيږي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به د

هغه لاس نه پرېکول کيږي: د امام زفر دليل دا دی چې سرقه د حدّ مُوجب ده. نه إلقاء او رمی: لهذا ځرنګه چې په هغه صورت کې د غله لاس نه پرېکول کيږي ① کله چې له کور څخه سامان را وغورځوي او بيا يې نه را واخلي ② يا کله چې هغه په کوڅه کې اېښول سوی سامان را واخلي. ② يا دا چې کوڅې او لارې ته مال را وغورځوي او بيا يې بل څوک واخلي. نو ځرنګه چې په دې ټولو صور تونو کې د غله لاس نه پرېکول کيږي. همداسې به په دې مسئله کې هم د هغه لاس نه پرېکول کيږي.

زموږ د دليل حاصل دا دی چې موږ هم فقط إلقاء د حدّ مُوجب نه منو بلکې أخذ بعد الإلقاء د حدّ موجب منو. او دا خو د غلو (سارقينو) عادت وي چې هغوی له کور څخه سامان دباندې را غورځوي د دې لپاره چې که د مالک سره د جنګ کولو نوبت راسي نو د هغه سره به په اطمينان او فراغت سره جنګ وکړي يا د دې لپاره چې ژر له کور څخه راووځي او بيا سامان را واخلي او په تېښته بريالی سي. لهذا کله چې هغه د کور څخه را ووځي او سامان را پورته کړي نو "د سامان را غورځول" او "بيا د سامان را پورته کول" به ټوله يو او متحدّ فعل شمارل کيږي (يعني ټوله به ديوه سړي کار شمارل کيږي. ځکه چې تر را غورځولو وروسته بل چا پر سامان قبضه نه وکړه)، نو ځکه به د هغه لاس پرېکول کيږي.

فإذا خرج ولم يأخذه إلخ: په دې سره امام زفر ته جواب ورکوي. هغه وفرمايل "چې که غل سامان را وغورځوي او بيا يې نه را واخلي نو د هغه لاس نه پرېکول کيږي. همداسې به په دې مسئله کې هم نه پرېکول کيږي"، نو د هغه جواب ورکوي چې په دې صورت کې خو بالکل پر هغه د غله او سارق تعريف نه صادقيږي. بلکې دا خو د سامان ضائع کول دي نو په دې وجه د هغه نه پرېکول کيږي. لهذا د امام زفر قياس صحيح نه دی.

له قطعُ اليد څخه د خلاصېدلو ممکنه حيلې

قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنْ حَمَلَهُ عَلٰى حِمَارٍ فَسَاقَهُ وَأَخْرَجَهُ فرمايي: همدارنګه که هغه سامان پر خره باندې بار کړي او خر وشړي [يعني را روان يې کړي] او [له کور څخه] يې وباسي [نو هم به د هغه لاس پرېکول کيږي] لِأَنَّ سَيْرَهُ مُضَافٌ إِلَيْهِ لِسَوْقِهِ ځکه چې د شړلو [او راونولو] په وجه د خره تلل د هغه [سائق] وطرف ته منسوب دي وَإِذَا دَخَلَ الْحِرْزَ جَمَاعَةٌ او که يو څو خلک يو محفوظ ځای ته داخل سي فَتَوَلّٰى بَعْضُهُمُ الْأَخْذَ او په دوی کې يو سړی د مال اخيستلو ذمه واري واخلي [يعني په دوی کې يو سړی مال را واخلي] قُطِعُوا جَمِيعًا نو د ټولو لاسونه به پرېکول کيږي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هٰذَا

اسْتِحْسَانٌ ناتوانه بنده وايي: چي دا حكم استحساناً دى وَالْقِيَاسُ: أَنْ يُقْطَعَ الْحَامِلُ وَحْدَهُ او قياس دا دى: چي يوازي د را اخيستونكي لاس پرېكول سي وَهُوَقَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دى لِأَنَّ الْإِخْرَاجَ وُجِدَ مِنْهُ ځكه چي د مال أرا اخيستل ا او را ايستل د هغه له طرفه ثابت سو فَتَتِمَّ السَّرِقَةُ بِهِ لهذا غلا هم په هغه سره پوره سوه وَلَنَا: أَنَّ الْإِخْرَاجَ مِنَ الْكُلِّ مَعْنًى زموږ دليل دا دى: چي د معنىٰ په اعتبار سره د هر يوه له طرفه را ايستل ثابت دي لِلْمُعَاوَنَةِ د تعاون كولو په وجه ايعني ځكه چي په داسي جماعتي سرقه کي ټوله تعاون سره كوي ا كَمَا فِي السَّرِقَةِ الْكُبْرٰى لكه په ډاكه ماري كي اچي كبيري ا وَهٰذَا لِأَنَّ الْمُعْتَادَ فِيمَا بَيْنَهُمْ أَنْ يَحْمِلَ الْبَعْضُ الْمَتَاعَ او دا ځكه چي د غلو عادت دا وي چي يو غل سامان پورته كوي وَيَتَشَمَّرَ الْبَاقُونَ لِلدَّفْعِ او پاته غله د مقابلې لپاره تيار اوسي فَلَوِامْتَنَعَ الْقَطْعُ لَأَدّٰى إِلٰى سَدِّ بَابِ الْحَدِّ نو كه چيري اله دوى څخه ا قطعُ اليد منع سي نو دا به د "حدّ" د دروازې بندولو سبب جوړ سي ايعني كه چيري پاته غله وبخښل سي او حدّ (قطع اليد) پر جاري نه كړى سي، نو په دې سره به د حدّ دروازه بنده سي ا قَالَ: **وَمَنْ نَقَبَ الْبَيْتَ وَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ وَأَخَذَ شَيْئًا** فرمايي: او څوک چي په خونه كي سورى جوړ كړي او خوني ته لاس ور دننه كړي او يو شى را واخلي **لَمْ يُقْطَعْ** نو د هغه لاس به نه پرېكول كيږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْإِمْلَاءِ: أَنَّهُ يُقْطَعُ او په إملاء [أمالي] كي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى: چي د هغه لاس به پرېكول كيږي لِأَنَّهُ أَخْرَجَ الْمَالَ مِنَ الْحِرْزِ ځكه چي هغه له محفوظ ځاى څخه مال را ويستى وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا مقصود دي فَلَا يُشْتَرَطُ الدُّخُولُ فِيهِ لهذا خوني ته به د داخلېدلو شرط نه لګول كيږي كَمَا إِذَا أَدْخَلَ يَدَهُ فِي صُنْدُوقِ الصَّيْرَفِيِّ لكه يو څوک چي د صراف صندوخ ته لاس ور دننه كړي فَأَخْرَجَ الْغِطْرِيفِيَّ او غطريفي درهم را وباسي وَلَنَا: أَنَّ هَتْكَ الْحِرْزِ يُشْتَرَطُ فِيهِ الْكَمَالُ زموږ دليل دا دى: چي په پوره توګه د حرز ماتول او په حرز ننوتل ا شرط دى تَحَرُّزًا عَنْ شُبْهَةِ الْعَدَمِ وَالْكَمَالُ فِي الدُّخُولِ د دې لپاره چي "د حرز د نشتوالي" او "په كامله توګه د نه داخلوالي" له شبهي څخه ځان وساتل سي ايعني دا دوې شبهي پيدا نه سي. ځكه چي په شبهي سره حد ساقطيږي ا وَقَدْ أَمْكَنَ اعْتِبَارُهُ او د هغه معتبر ګرځول ممكن اهم ا دي وَالدُّخُولُ هُوَ الْمُعْتَادُ او همدا داخلوالى اداخلېدل ا معتاد دي

بِخِلَافِ الصُّنْدُوقِ لِأَنَّ الْمُمْكِنَ فِيهِ إِدْخَالُ الْيَدِ دُونَ الدُّخُولِ په خلاف د صندوخ. ځکه چي په هغه کي افقط ا لاس دننه کول ممکن دي او داخلېدل ممکن نه دي وَبِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ مِنْ حَمْلِ الْبَعْضِ الْمَتَاعَ او په خلاف د يوه سړي د سامان را اخيستلو کوم چي اځه ا مخکي تېر سو لِأَنَّ ذٰلِكَ هُوَ الْمُعْتَادُ ځکه چي اد جماعت په غلا کي ا همدا طريقه معتاده وي.

اللغات: ﴿سَاقَه﴾ د نصر ماضي ده: هشه کول. شړل (په ښڼه سره د حيوان شړل او راونول). ﴿سَيْر﴾ د ضرب مصدر دی: تلل. تګ کول. مزل کول. ﴿تَوَلَّى﴾ د تفعّل ماضي ده: ذمه واري اخيستل. ﴿حَامِل﴾ د ضرب اسمِ فاعل دی: پورته کونکی. اخيستونکی. ﴿يَتَشَمَّر﴾ د تفعّل مضارع ده: لستوڼي رانغښتل. مراد ځني تيار او چمتو اوسېدل دي. ﴿دَفْع﴾ د فتح مصدر دی: ليري کول (ايسته کول). مقابله کول. ﴿صَيْرَفِي﴾ صراف. د روپو بدلونکی (وټه کونکی). ﴿غطريفي﴾ د دراهمو يو غوره قسم دی. ﴿هَتْك﴾ د ضرب مصدر دی: بې حُرمتي کول. پايماله کول. (ختمول او ماتول). ﴿تَحَرُّز﴾ د تفعّل مصدر دی: ځان ساتل. پرهېز کول.

تشريح: دا مسئلې هم د مخکنۍ مسئلو سره تعلق لري. حاصل يې دا دی که غل يو کور ته داخل سي او له کور څخه سامان پر خره را بار کړي او خر را روان کړي او له کور څخه يې را وباسي. نو سائق او مُخرج به ضامن (يعني د هغه لاس به پرېکول کيږي). ځکه چي د خره تلل او روانېدل د سائق وطرف ته منسوب دي او عموماً ځيني خره اموخته وي او د خپل مالک کور پېژني او سامان هغه ته رسوي.

که يو جماعت (يعني يو څو خلک) د غلا کولو په نيت يو محفوظ ځای ته ولاړ سي. لېکن په دوی کي فقط يو سړی مال غلا کړي. نو هم به استحساناً د ټولو لاسونه پرېکول کيږي. همدا زموږ قول دی. لېکن قياساً به فقط د مال اخيستونکی لاس پرېکول کيږي. همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی: د دې دليل دا دی چي غلا فقط په حامل (اخيستونکي) سره کامله او ثابته سوه. لهذا فقط ا هغه ته به سزا ورکول کيږي. زموږ دليل دا دی چي د معنیٰ او مقصد په اعتبار سره دغه ټول خلک په غلا کي شريکان دي او د ټولو له طرفه إخراج ثابت دی لکه څرنګه چي په ډاکه ماری کي همداسي کيږي. او دا ځکه چي د غلو دا عادت وي چي په دوی کي يو او دوه غله سامان باسي او پاته غله د دې لپاره ملا تړلي او چمتو اووسي چي که د کور يا د محلې خلک را خبر سي نو د هغه سره به مقابله کوو. اوس ښکاره

خبره ده چي که فقط پر حامل او اخيستونکي باندي حد جاري کړی سي او پاته غله وبخښل سي نو د حدّ دروازه به بنده سي او د کوچنۍ غلا پر ځای به غټي غلاوي شروع سي. لهذا د داسي پيښنو د مخنيوي لپاره به استحساناً د ټولو لاسونه پرېکول کيږي.

ومن نقب إلخ: مسئله دا ده که غل په يو کور کي سوری جوړ کړی او کور ته داخل نه سي بلکي له دباندي څخه لاس وردننه وکړي او سامان را غلا کړی. نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي. لېکن په أمالي کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو روايت دا دی چي د هغه لاس به پرېکول کيږي: ځکه چي هغه له محفوظ ځای يعني له "کور" څخه مال غلا کړی دی. او همدا خبره د حدّ موجب ده. لهذا بېله وجهي به کور ته داخلېدل او ننوتل نه شرط کيږي. او دا مسئله داسي ده لکه يو سړی چي د صراف صندوخ ته لاس دننه کړي او درهم ځني غلا کړي. نو په هغه صورت کي له دخول څخه بغير هم حدّ واجبيږي. همداسي به دلته هم له دخول څخه بغير حدّ واجبيږي.

د ظاهر روايت دليل دا دی چي د حدّ او قطعُ اليد د واجبېدلو لپاره په پوره توګه د محفوظ ځای ختمول (هتکُ الحرز) او په کامله توګه په هغه کي غلا ثابتېدل شرط دي. د دې لپاره چي دا شبهه ختمه سي چي هغه له محفوظ ځای څخه غلا کړې نه ده يا په پوره توګه هلته داخل سوی نه دی او په کور. خونه او داسي نورو کي د دخول اعتبار کول ممکن دي. ځکه چي عموماً غل کور ته داخليږي او په کور کي دننه غلا کوي. لهذا دلته به هم د قطعُ اليد لپاره دخول فى البيت شرط ګرځول کيږي. او څرنګه چي دلته دخول نسته نو ځکه به دا غلا د حدّ موجب نه وي.

او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دی (يعني دا مسئله د صندوخ پر مسئله باندي قياسول صحيح نه دي). ځکه چي په صندوخ کي عموماً او واقعتاً لاس دننه کيږي او په هغه کي څوک داخلېدای نه سي. لهذا "غير ممکن فيه الدخول" پر "ممکن فيه الدخول" باندي قياسول څرنګه صحيح دي!!!. همدارنګه په صندوخ کي د هتکُ الحرز کاملوالی هم شرط نه دی. بلکي دلته د قطعُ اليد د واجبېدلو لپاره فقط د هتک ثابتېدل کافي دي.

وبخلاف ما تقدم من حمل البعض إلخ: دا جمله د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چي که يو جماعت (ډېر خلک) يو کور ته دننه سي نو هلته هم د هتکُ الحرز د کاملوالي شرط لګول پکار دي او هلته کاملوالي دا دی چي د جماعت هر سړی سامان را واخلي لهذا فقط د يوه سړي په را اخيستلو سره د جماعت د خلکو لاسونه پرېکول پکار نه دي. نو د دې جواب ورکوي چي د جماعت د غلو عادت همدا وي چي په دوی کي يو غل سامان را اخلي او پاته غله د مقابلې لپاره چمتو اووسي. نو په دې وجه هلته د کمال (کاملوالي) شرط نه لګول کيږي. بلکي د يوه سړي د سامان را اخيستلو په وجه به د ټولو لاسونه پرېکول کيږي.

له همياني (تېلۍ)، بټوه او جېب څخه د غلا کولو بيان

قَالَ: وَإِنْ طَرَّ صُرَّةً خَارِجَةً مِنَ الْكُمِّ فرمايي: او که غل داسي همياني پرېکړي اغېچي کړي! کوم چي د لوستوڼي څخه دباندي وي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي وَإِنْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْكُمِّ او که هغه لستوڼي ته لاس دننه کړي (او همياني پرېکړي) يُقْطَعُ نو د هغه لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ الرِّبَاطَ مِنْ خَارِجٍ ځکه چي په اول صورت کي به د همياني (رښکۍ) دباندي وي فَبِالطَّرِّ يَتَحَقَّقُ الْأَخْذُ مِنَ الظَّاهِرِ نو په پرېکولو سره به له ظاهر (دباندي) څخه اخيستل ثابت سي فَلَا يُوجَدُ هَتْكُ الْحِرْزِ لهذا د محفوظه ځای ختمول به موجود نه سي وَفِي الثَّانِي الرِّبَاطُ مِنْ دَاخِلٍ او په دويم صورت کي به د همياني (رښکۍ) دننه وي فَبِالطَّرِّ يَتَحَقَّقُ الْأَخْذُ مِنَ الْحِرْزِ وَهُوَ الْكُمُّ نو په پرېکولو سره به له حرز څخه يعني دلستوڼي څخه اخيستل ثابت سي وَلَوْ كَانَ مَكَانَ الطَّرِّ حَلُّ الرِّبَاطِ ثُمَّ الْأَخْذُ او که د پرېکولو پر ځای د رښکۍ خلاصول واقع سي. بيا واخيستل سي ايعني که غل د پرېکولو او غېچي کولو پر ځای د همياني رښکۍ خلاصه کړي بيا له هغې څخه مال را واخلي) فِي الْوَجْهَيْنِ يَنْعَكِسُ الْجَوَابُ نو په دواړو صورتونو کي به حکم برعکس (چپه) کيږي لِانْعِكَاسِ الْعِلَّةِ ځکه چي علت برعکس سو وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يُقْطَعُ عَلَى كُلِّ حَالٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چي په هر حال کي به د هغه لاس پرېکول کيږي لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ إِمَّا بِالْكُمِّ أَوْ بِصَاحِبِهِ ځکه چي هغه مال يا د لستوڼي په وجه يا د لوستوڼي د خاوند (مالک) په وجه محفوظ دی قُلْنَا: اَلْحِرْزُ هُوَ الْكُمُّ موږ وايو: چي حرز خو (فقط) لستوڼی دی لِأَنَّهُ يَعْتَمِدُهُ ځکه چي مالک پر هغه اعتماد کوي وَإِنَّمَا قَصْدُهُ قَطْعُ الْمَسَافَةِ أَوِ الِاسْتِرَاحَةِ او د هغه قصد خو (فقط) سفر کول دي يا آرام کول دي (نه حفاظت کول) فَأَشْبَهَ الْجَوَالِقَ نو دا د ګوڼۍ (او جوال) سره مشابه سو وَإِنْ سَرَقَ مِنَ الْقِطَارِ بَعِيرًا أَوْ حِمْلًا او که (يو څوک) د اوښانو له قطار څخه يو اوښ يا د اوښ بار غلا کړي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُحْرَزٍ مَقْصُودًا ځکه چي دا محرز مقصود نه دی فَيَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ الْعَدَمِ نو د إحراز د نشتوالي شبهه پيدا سوه وَهَذَا لِأَنَّ السَّائِقَ وَالْقَائِدَ وَالرَّاكِبَ

يَقْصِدُونَ قَطْعَ الْمَسَافَةِ وَنَقْلَ الْأَمْتِعَةِ دُوْنَ الْحِفْظِ او دا حکم ځکه دی چي اد اوښانوا شړونکی اروانونکی ا او مخته تلونکی ا کشونکی ا او سپرېدونکی د مسافې د پرېکولو او د سامان د نقل کولو اراده کوي. نه د حفاظت کولو حَتّٰى لَوْ كَانَ مَعَ الْأَحْمَالِ مَنْ يَتْبَعُهَا لِلْحِفْظِ تر دې که د بارونو ا او سامانونو ا د حفاظت لپاره يو څوک تر شا په پسې وي قَالُوا: يُقْطَعُ نو مشائخ فرمايي: چي ا په دې صورت کي به ا د غله لاس پرېکول کيږي وَإِنْ شَقَّ الْحِمْلَ وَأَخَذَ مِنْهُ او که غل بار ا او غوټه ا څيري کړي او له هغه څخه سامان را واخلي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّ الْجَوَالِقَ فِي مِثْلِ هٰذَا حِرْزٌ ځکه چي په دې صورت کي گوني د محفوظ ځای حيثيت لري لِأَنَّهُ يُقْصَدُ بِوَضْعِ الْأَمْتِعَةِ فِيهِ صِيَانَتَهَا كَالْكُمِّ ځکه چي په جوال او گوني ا کي د سامان په ايښولو سره د سامان د حفاظت نيت کيږي اچي زما سامان محفوظ سي ا، لکه په لستوڼي کي اچي د هميانۍ په ايښولو سره د هميانۍ د حفاظت نيت کيږي ا فَوُجِدَ الْأَخْذُ مِنَ الْحِرْزِ لهذا ادلته ا له محفوظ ځای څخه اخيستل ثابت سو فَيُقْطَعُ نو ځکه به د غله لاس پرېکول کيږي.

اللغات: ﴿طَرَّ﴾ د نصر ماضي ده: پرېکول، کاټول (غوچي کول). ﴿صُرَّةٌ﴾ تېلۍ، خلته. مراد ځني د پيسو تېلۍ ده چي هغه ته هميانۍ وايي (او په اوس وخت کي بټوه ورته وايي. خو بټوه په جوړ او طرز کي له هميانۍ څخه جلا ده، ځکه چي هميانۍ به د ختلې په شير جوړېده او د هغې خوله به په رښکۍ سره بندېده). ﴿رِبَاط﴾ هغه رښکۍ او رسۍ چي بل شی په تړل کيږي. ځينو د دې معنىٰ په "بخۍ" سره کړې ده، ځکه چي په بخۍ سره هم د ټوکريوه حصه د بلې حصې سره تړل کيږي او گنډل کيږي. ﴿حَلّ﴾ خلاصول (غوټه خلاصول). ﴿جَوَالِق﴾ او جُوَالِق: جوال، گوني، بوری (بوجی)، جمع: جَوَالِيق. ﴿سَائِق﴾ له شا څخه د حيوان شړونکی، هشه کونکی. ﴿قَائِد﴾ د مخ له طرفه د حيوان کشونکی. ﴿أَمْتِعَة﴾ جمع د مَتَاعٌ ده: سامانونه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو چا په خپل لستوڼي کي هميانۍ (د پيسو تېلۍ) تړلې وي او هميانۍ د لستوڼي څخه دباندي وي، نو له داسي هميانۍ څخه غلا کول د حد موجب نه دي، ځکه کله چي هميانۍ دباندي وي نو د هغې رښکۍ (او بخۍ) به هم دباندي وي. او د هغې پرېکونکی او اخيستونکی به له دباندي څخه اخيستونکی شمارل کيږي. او له دباندي خوا څخه (د مال) په اخيستلو کي إحراز نسته (ځکه چي د لستوڼي دباندي طرف محرز مکان نه دی). نو په دې وجه دا

صورت د حدّ مُوجب نه دی. ها! که چیري همیانی په لستوڼي کي دننه وي او غل لستوڼي ته لاس ور دننه کړي او پیسې ځني را واخلي نو ځرنګه چي په دې صورت کي له محرز مکان یعني د لستوڼي څخه پیسې اخیستل سوي دي. نو ځکه به دا "اخیستل" د حدّ مُوجب وي.

ولوكان مكان الطر إلخ: دې عبارت په توجه سره ګورئ!. حاصل یې دا دی: ① که همیانی په لستوڼي کي دننه وي او د دباندي لخوا (پر لستوڼي) د هغې رښکی غوټه سوی وي (یعني د دباندي لخوا د هغې رښکی ته غوټه ورکول سوې وي او تړل سوې وي). او غل هغه رښکی خلاصه کړي نو همیانی خو په لستوڼي کي دننه ده. بیا غل لستوڼي ته لاس وردننه کړي او پیسې ځني را واخلي. نو ځرنګه چي هغه دلته له محرز مقام څخه پیسې را اخیستي دي. نو ځکه به دا "اخیستل" د حدّ موجب وي او د هغه لاس به پرېکول کیږي. ② دویم صورت دا دی چي که همیانی د دباندي لخوا پر لستوڼي پرته وي او په لستوڼي کي دننه د هغې رښکی ته غوټه ورکول سوې وي. او غل لستوڼي ته لاس وردننه کړي او رښکی خلاصه کړي او پیسې ځني را واخلي. نو ځرنګه چي په دې صورت کي همیانی دباندي ده او غله له دباندي همیانی څخه پیسې را اخیستي دي. نو هغه ګواکي له محرز مقام څخه پیسې نه دي اخیستي. نو ځکه به دا "اخیستل" د حدّ موجب نه وي او د هغه لاس به نه پرېکول کیږي. (ینعکس الجواب لإنعکاس العلة: د دې جملې مطلب هماغه دی کوم چي موږ اوس پورته بیان کړی).

وعن أبي يوسف إلخ: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چي په هر حال کي به د هغه لاس پرېکول کیږي. برابره ده همیانی د لستوڼي څخه دباندي وي یا په لستوڼي کي دننه وي. ځکه چي لستوڼی هم محرز دی. او مالک هم محرز دی یعني که چیري مال او همیانی د لستوڼي څخه دباندي وي نو په دې صورت کي هغه په مالک سره محرز او محفوظ وي. نو ځکه به په هر حال کي د غله لاس پرېکول کیږي.

زموږ له طرفه جواب دا دی چي دلته حرز او أحراز فقط په لستوڼي سره حاصل دی: ځکه چي انسان په لستوڼي کي د همیانی په ایښولو سره مطمئن سي او پر لستوڼي اعتماد وکړي. او بذات خود د هغه (انسان) نیت د حفاظت کولو نه وي. بلکي د هغه مقصد خو یا سفر کول وي یا آرام کول وي (او د مال په حفاظت کي هغه پر لستوڼي اعتماد وکړي). لهذا په لستوڼی کي مال او همیانی ایښول په

ګوڼې کي د مال ايښولو سره مشابه سو. يعني څرنګه چي د ګوڼې مال فقط په ګوڼې سره محرز شمارل کيږي همداسي به په لستوڼي کي ايښول سوی مال فقط په لستوڼي سره محرز شمارل کيږي.

وإن سرق من القطار إلخ: مسئله دا ده که د اوښانو قطار روان وي او يو سړی له هغه څخه يو اوښ غلا کړي يا له يوه اوښ څخه بار غلا کړي نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي؛ ځکه چي د قطار په توګه د اوښانو په بېولو سره مقصود د اوښانو حفاظت نه وي. بلکي له تيت پرک کېدلو او له ورکېدلو څخه د اوښانو ساتل مقصود وي. لهذا په دې غلا کي د إحراز د نشتوالي (عدمِ حفاظت) شبهه پيدا سوه. او په شبهې سره حدّ ساقطيږي. ها! که د دې اوښانو تر شا يو محافظ او نګران هم روان وي. نو د هغه په وجه به إحراز ثابتيږي او بيا به د اوښ يا بار غلا کول د حدّ موجب وي.

او که يو څوک پر اوښ ترل سوې غوټه يا ګوڼې څيري کړي او له هغه څخه سامان غلا کړي نو د هغه لاس به پرېکول کيږي؛ ځکه چي په داسي غوټې او ګوڼې سره إحراز ثابتيږي او په هغې کي د حفاظت په نيت سره سامان ايښول کيږي.

له نا محفوظه ځای څخه د يو چا سامان غلا کول

وَإِنْ سَرَقَ جُوَالِقًا فِيهِ مَتَاعٌ وَصَاحِبُهُ يَحْفَظُهُ أَوْ نَائِمٌ عَلَيْهِ او که [يو څوک] داسي ګوڼې غلا کړي چي په هغې کي سامان موجود وي او د ګوڼې مالک د هغې حفاظت کوي يا پر هغې بيده وي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کيږي وَمَعْنَاهُ: إِنْ كَانَ الْجَوَالِقُ فِي مَوْضِعٍ هُوَ لَيْسَ بِحِرْزٍ كَالطَّرِيقِ وَنَحْوِهِ د دې مطلب دا دی: چي ګوڼې په داسي ځای کي وي چي هغه محرز [محفوظ] ځای نه وي. لکه لاره او داسي نور حَتَّى يَكُونَ مُحْرَزًا بِصَاحِبِهِ تر دې چي هغه سامان [ګوڼې] د مالک په ذريعه محرز وګرځي لِكَوْنِهِ مُتَرَصِّدًا لِحِفْظِهِ ځکه چي مالک د هغې د حفاظت لپاره تيار [او چمتو] وي وَهَذَا لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْحِفْظُ الْمُعْتَادُ او دا [حکم] ځکه دی چي معتاد حفاظت کول [او معتاد ساتل] معتبر دي وَالْجُلُوسُ عِنْدَهُ وَالنَّوْمُ عَلَيْهِ يُعَدُّ حِفْظًا عَادَةً او د سامان سره انژدې [کښېنستل يا پر هغه بيدېدل د عرف په اعتبار سره حفاظت [او ساتل] شمارل کيږي وَكَذَا النَّوْمُ بِقُرْبٍ مِنْهُ همدارنګه د سامان سره نژدې بيدېدل [هم] حفاظت دی عَلَى مَا اخْتَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ دا [قول] اختيار کړی وَذُكِرَ فِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَصَاحِبُهُ نَائِمٌ عَلَيْهِ أَوْ حَيْثُ يَكُونُ حَافِظًا لَهُ او د جامع صغير په ځيني نسخو کي

اداسي ا ذكر سوي دي: وصاحبه نائمٌ عليه أو حيث يكون حافظًا له وَهَذَا يُؤَكِّدُ مَا قَدَّمْنَاهُ مِنَ الْقَوْلِ الْمُخْتَارِ او دا قول زموږ د مخکني مختار کړی سوي قول تائید کوي.

اللغات: ﴿جَوَالِق﴾ او جُوَالِق: جوال، ګونی، بوری، جمع: جَوَالِيق. ﴿مُتَرَصِّد﴾ د تفعل اسم فاعل دی، تَرَصَّدَ يَتَرَصَّدُ تَرَصُّدًا: په کمین کي کښېنستل، تیار اوسېدل. ﴿يُعَدّ﴾ د نصر مضارع مجهول ده: شمارل، ګڼل.

تشریح: **مسئله**: دا ده که یو څوک داسي جوال او ګونی غلا کړي چي په هغې کي سامان وي حال دا چي مالک د ګونی حفاظت کوي یا پر هغې بیده وي او هغه ګونی بذات خود محرز نه وي بلکي په سړک او لاره کي پرته وي لېکن د ګونی مالک د هغې حفاظت ته تیار او ملا تړلی وي، نو په دې صورت کي به د غله لاس پرېکول کیږي؛ ځکه چي دا ګونی محرز بصاحبه ده. ځکه چي د سامان سره کښېنستل یا پر سامان بیدېدل عرفاً په حفاظت کي داخل دي. لهذا دلته سارق محرز مال غلا کړی دی او دا د حدّ (قطعُ الید) مُوجب دي.

وذکر فی بعض النسخ: فرمایي چي د جامع صغیر په ځیني نسخو کي لَه وَصَاحِبُهُ يَحْفَظُهُ أَوْ نَائِمٌ عَلَيْه څخه وروسته أَوْ حَيْثُ يَكُوْنُ حَافِظًا لَهُ هم اضافه سوي دي. او دا اضافه موږ ته دا را ښیي چي د خوب په حالت کي هم مالک محافظ او ساتونکی (نګران) شمارل کیږي او په دې اضافه سره د هغه قول تائید هم کیږي کوم چي تر دې مخکي د "وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَكُوْنَ الحَافِظُ مُسْتَيْقِظًا أَوْ نَائِمًا ...إلخ" په عبارت سره بیان سو. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ الْقَطْعِ وَإِثْبَاتِهِ

(دا) فصل د لاس پرېکولو د کيفيت او د هغه د إثبات (په بيان کې) دی

د لاس پرېکولو اندازه او طريقه

قَالَ: وَيُقْطَعُ يَمِيْنُ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ فرمايي: چې د غله لاس به له مړوند څخه پرېکول کيږي وَيُحْسَمُ او بيا به داغل کيږي ايعني بيا به په اُور يا ګرمو تېلو سره د هغه لاس داغل کيږي چې د لاس وينه بنده سي او غل مړ نه سي ا فَالْقَطْعُ لِمَا تَلَوْنَاهُ مِنْ قَبْلُ نو پرېکول د هغه آيت په وجه دي کوم چې موږ مخکي تلاوت کړي ايعني د سارق لاس به د دې آيت په وجه پرېکول کيږي: وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا...(سورة المائدة:٣٨)ا وَالْيَمِيْنُ بِقِرَاءَةِ* عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ او د راسته لاس پرېکول د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په قرائت سره ثابت دي اد هغه په قرائت کې د فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا پر ځای فَاقْطَعُوْا أَيْمَانَهُمَا ذکر سوي دي، له دې څخه معلومه سوه چې د غله راسته لاس به پرېکول کيږي ا وَمِنَ الزَّنْدِ لِأَنَّ الِاسْمَ يَتَنَاوَلُ الْيَدَ إِلَى الْإِبِطِ او له مړوند څخه به ځکه پرېکول کيږي چې إسم تر بغل پوري اتوله ا لاس ته شامليږي ايعني د يَد إطلاق تر بغل پوري کيږي ا وَهٰذَا الْمَفْصَلُ أَعْنِى الرُّسْغَ مُتَيَقَّنٌ بِهِ او دا بند يعني مړوند په دې کي يقيني دی ايعني د يَد إطلاق خو د بغل تر اندازې پوري کيږي او مړوند په دې اندازه کي په يقيني توګه داخل او شامل دی ا كَيْفَ وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام: أَمَرَ[1] بِقَطْعِ يَدِ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ او څرنګه به ثابت نه وي حال دا چې په صحيح روايت کي اذکر سوي ا دي چې نبي ﷺ له مړوند څخه د غله د لاس پرېکولو حکم وکړی وَالْحَسْمُ لِقَوْلِهِ عليه السلام[2]: فَاقْطَعُوْهُ وَاحْسِمُوْهُ او داغل د نبي کريم ﷺ په دې

---

* تخريج: رواه البيهقي، باب السارق يسرق إلا يقطع يده اليمنى من مفصل الكف ثم يحسم بالنار، رقم الحديث:١٧٢٤٧.

[1] تخريج: رواه دار قطني، رقم الحديث:٣٥١٣.

[2] تخريج: رواه البيهقي، رقم الحديث:٣٥١٣.

فرمان سره ثابت دي: چې د هغه لاس پرېکړئ! او هغه وداغئ! وَلِأَنَّهُ لَوْلَمْ يُحْسَمْ يُفْضِي إِلَى التَّلَفِ او ځکه که هغه نه وداغل سي نو دا به د هلاکت ته رسول وکړي ايعني غل به مړ سي ا وَالْحَدُّ زَاجِرٌ لَا مُتْلِفٌ او حدّ منع کونکی او تنبيه ورکونکی ا دی، نه هلاکونکی. ايعني د لاس پرېکولو مقصد دا دی چې غله ته سزا او تنبيه ورکول سي چې هغه دآينده لپاره له ناسي کار څخه منع سي. او دا يې مقصد نه دی چې د هغه په ذريعه غل هلاک کړی سي ا.

اللغات: ﴿الزَّنْد﴾ (د نون په سکون سره): مړوند. جمع: زُنُود. ﴿يُحْسَمُ﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: داغل. داغول. په گرمه اوسپنه سره داغ پر لگول (مطلب دا چې تر پرېکولو وروسته به د سارق لاس په اُور يا گرمو تېلو سره داغل کيږي چې زياته وينه نه وبهيږي، او غل مړ نه سي. او که له داغلو څخه بغير د ويني د بندوالي لپاره بله نوې طريقه وي، نو د هغه طريقې اختيارول هم صحيح دي، ځکه چې مقصد د ويني بندول دي .أثمار الهدايه). ﴿أَعْنِيْ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد متکلم ماضي صيغه ده. معنى يې ده: زما مطلب دا دی، زما مراد دا دی. ﴿تَلَف﴾ د سمع مصدر دی: هلاکېدل. بربادېدل (مړ کېدل).

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

د دويم او دريم وار غلا کولو سزا

فَإِنْ سَرَقَ ثَانِيًا که غل دويم وار غلا وکړي قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى نو د هغه چپه پښه به پرېکول کيږي فَإِنْ سَرَقَ ثَالِثًا او که دريم وار غلا وکړي لَمْ يُقْطَعْ نو ا د هغه چپه لاس ا به نه پرېکول کيږي وَخُلِّدَ فِي السِّجْنِ ابلکي ا د همېشه لپاره به جېل ابنديخانې ا ته اچول کيږي حَتَّى يَتُوبَ تر دې چې هغه توبه وکړي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَيُعَزَّرُ أَيْضًا او هغه ته به سزا هم ورکول کيږي ذَكَرَهُ الْمَشَايِخُ دا مشائخو رَحِمَهُمُ الله ذکر کړي دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: فِي الثَّالِثَةِ تُقْطَعُ يَدُهُ الْيُسْرَى او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دريم وار غلا کي به د هغه چپه لاس پرېکول کيږي وَفِي الرَّابِعَةِ تُقْطَعُ رِجْلُهُ الْيُمْنٰى او په څلورم وار غلا کي به د هغه چپه پښه پرېکول کيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام[1]: مَنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوهُ فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوهُ فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوهُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: کوم څوک چې غلا وکړي نو تاسي د هغه لاس پرېکړئ! که بل وار غلا کړي نو بيا يې پرېکړئ! او که بل وار غلا

---

[1] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۴۴۱.

وكړي نو بيا يې پرېكړئ! وَيُرْوٰى مُفَسَّرًا كَمَا هُوَ مَذْهَبُهٗ او دا حديث په هماغه تفسير سره روايت سوی دی كوم چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دی وَلِأَنَّ الثَّالِثَةَ مِثْلُ الْأُولٰى فِي كَوْنِهَا جِنَايَةً بَلْ فَوْقَهَا او ځكه چې دريم وار غلا په جرم كېدلو كې د اولې غلا په څېر ده. بلكې تر هغې لوړه (او خطرناكه) ده فَتَكُوْنُ أَدْعٰى إِلٰى شَرْعِ الْحَدِّ نو دا به د حدّ مشروع كېدلو لره زيات بلونكې وي وَلَنَا قَوْلُ عَلِيٍّ رضي الله عنه فِيهِ* : إِنِّي لَأَسْتَحِيْ مِنَ اللهِ تَعَالٰى أَنْ لَا أَدَعَ لَهٗ يَدًا يَأْكُلُ بِهَا وَيَسْتَنْجِيْ بِهَا وَرِجْلًا يَمْشِيْ عَلَيْهَا زموږ دليل په دې سلسله كې د حضرت علي رضي الله عنه دا قول دی: ما ته له الله تعالىٰ څخه حياء (او شرم) راځي چې زه د غله يو لاس (هم) نه پرېږدم چې په هغه سره دئ خوراک وكړي او استنجاء په وكړي او يوه پښه (هم) نه پرېږدم چې په هغه سره دئ تګ وكړي. وَبِهٰذَا حَاجَّ بَقِيَّةَ الصَّحَابَةِ فَحَجَّهُمْ او پر همدغه قول حضرت علي رضي الله عنه د نورو صحابه وو سره مباحثه (او مناظره) وكړه او هغه پر دوی غالب سو فَانْعَقَدَ إِجْمَاعًا نو (پر همدې قول) اجماع منعقده سوه وَلِأَنَّهٗ إِهْلَاكٌ مَعْنًى او ځكه چې دا د معنىٰ په اعتبار سره هلاكول (وژل) دي لِمَا فِيهِ مِنْ تَفْوِيتِ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ ځكه چې په دې كې د منفعت د جنس فوتول دي وَالْحَدُّ زَاجِرٌ او حدّ زاجر دی وَلِأَنَّهٗ نَادِرُ الْوُجُوْدِ ځكه چې د دې واقع كېدل نادر دي وَالزَّجْرُ فِيمَا يَغْلِبُ وُقُوعُهٗ او زجر په هغه شي كې ثابت دی چې د هغه واقع كېدل زيات وي بِخِلَافِ الْقِصَاصِ په خلاف د قصاص لِأَنَّهٗ حَقُّ الْعَبْدِ ځكه چې قصاص د بنده حق دی فَيُسْتَوْفٰى مَا أَمْكَنَ جَبْرًا لِحَقِّهٖ لهذا د هغه د حق پوره كولو لپاره به حتى الإمكان قصاص اخيستل كيږي وَالْحَدِيثُ طَعَنَ فِيهِ الطَّحَاوِيُّ او (د امام شافعي) په حديث كې امام طحاوي رَحِمَهُ الله طعن كړی دی أَوْ نَحْمِلُهٗ عَلَى السِّيَاسَةِ يا موږ به هغه پر سياست مدنيه حمل كوو.

اللغات: ﴿يُسْرٰى﴾ چپه. ﴿خُلِّدَ﴾ د تفعيل ماضي ده: د همېشه لپاره اوسېدل. د همېشه لپاره اېښوول (تل تر تله په جېل كې اچول). ﴿سِجْن﴾ جېل. بنديخانه. قيدخانه. محبس. ﴿حَاجَّ﴾ د مفاعلې ماضي ده: مباحثه كول. ﴿جَبْرًا﴾ د نقصان تلافي كول. جبران. (حق ور پوره كول).

تشريح: صورت د مسئلې واضح دی. فقط دلائلو ته ګورئ!

* تخريج: رواه دار قطني، رقم: ۳۲۱۲.

د امام شافعي دليل: دا دی چي نبي ﷺ وفرمايل: كه څوک غلا وكړي، نو تاسي پر هغه قطع (حد) جاري كړئ!. او كه هغه دويم وار غلا وكړي، نو تاسي بيا پر هغه قطع جاري كړئ!. او كه هغه دريم وار بيا غلا وكړي، نو تاسي بيا پر هغه قطع جاري كړي. د دې حديث وضاحت او تفسير د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مسلک او د هغه د قول مطابق دی.

عقلي دليل: د امام شافعي عقلي دليل دا دی چي په جنايت او جرم كېدلو كي دريمه غلا د اولي غلا په څير ده، بلكي تر اولي غلا هم زياته خطرناكه ده، ځكه چي تر دې مخكي دوه واره سارق ته سزا وركول سوې ده، او دريم وار پر غلا إقدام كول د هغه د ډېري بې شرمۍ او د ډېر جهالت (او پايلوچۍ) علامت دی او دا د هغه ضد دی، لهذا د دې وار به هم د هغه لاس پرې كول كيږي.

زموږ دليل: د حضرت علي رضي الله عنه دا فرمان دی چي ما ته له الله څخه حياء راځي چي د غله يو لاس هم نه پرېږدم چي په هغه سره غل د خوراک او استنجاء ضرورت پوره كړي او د هغه يوه پښه هم نه پرېږدم چي د هغه په مرسته دئ تګ وكړي، او د حضرت علي او نورو صحابه وو په مينځ كي په دې هكله بحث او مباحثه هم وسوه، او بيا د صحابه وو په مشوره سره دا پرېكړه وسوه چي په دريم وار غلا كولو سره به غل بنديخانې ته اچول كيږي او قطع به نه پر جاري كيږي او پر همدې د صحابه وو اجماع منعقده سوه، او اجماع له شرعي حجتونو څخه يو حجت دی.

زموږ عقلي دليل: دا دی چي په دريم او څلورم وار قطع كولو سره به بالكل د سارق د منفعت جنس فوت سي (يعني هغه به د كار او تګ له جنس څخه بې برخي سي). ځكه چي هغه به بالكل شل وشوې او محتاج وګرځي، او د معنیٰ او مقصد په اعتبار سره به هغه مړ او هلاک وګرځي. حال دا چي د غلا حدّ زاجر دی، مُهلک او مُتلف نه دی. دويمه خبره دا ده چي زجر او حدّ په غالبُ الوجود او كثيرُ الوقوع غلا كي ثابت دی او كثيرُ الوقوع غلا فقط اوله غلا ده. ليكن تر لاس پرې كېدلو وروسته دويم او دريم وار غلا كول شاذ ونادر وي، او د شاذ ونادر سره حكم نه متعلق كيږي. لهذا په دې حواله سره به هم دريمه او څلورمه غلا د حدّ موجب نه وي.

د دې په خلاف د قصاص معامله ده نو قصاص خو حقُّ العبد دی نو ځكه به حتی الإمكان دا حق اخيستل كيږي او كه ظلماً يو څوک د بل چا دواړه لاسونه او پښې پرېكړي نو د قاطع دواړه لاسونه او پښې به هم قصاصاً پرېكول كيږي او په دې سلسله كي به هيڅ كوتاهي او درغلي نه كيږي.

والحديث إلخ: فرمايي امام شافعي رَحِمَهُ الله چي كوم حديث په دليل كي وړاندي كړی دی په هغه كي امام طحاوي، امام نسائي او داسي نورو علماؤ طعن كړی دی. او مطعون حديث د استدلال قابل نه وي، يا د دې حديث جواب دا دی چي د دې حديث حكم (أمر بالقطع) پر سياست مدنيه باندي محمول

دی. ځکه چي په دې حديث کي وروسته ذکر سوي دي چي په پنځم وار غلا کي به غال قتل کيږي او أمر بالقتل يقيناً پر سياستِ مدنيه باندي محمول دی. لهذا د دريم او څلورم وار قطع کولو حکم به هم پر سياست محمول وي.

د هغه غله حدّ چي لاس يې شل او فلج وي

وَإِذَا كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرٰى أَوْ أَقْطَعَ او که چيري د غله چپه لاس شل افلج ا وي يا پرېکړی سوي وي أَوْ مَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنٰى يا يې راسته پښه پرېکړی سوې وي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّ فِيهِ تَفْوِيتَ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ بَطْشًا أَوْ مَشْيًا ځکه چي په دې کي د نيولو يا تللو په اعتبار سره د منفعتِ د جنس فوتېدل دي وَكَذَا إِذَا كَانَتْ رِجْلُهُ الْيُمْنٰى شَلَّاءَ او همدارنګه که د هغه راسته پښه شله وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَكَذَا إِذَا كَانَتْ إِبْهَامُهُ الْيُسْرٰى مَقْطُوعَةً أَوْ شَلَّاءَ او همدارنګه که د هغه چپه بټه ګوته پرېکړی سوې وي يا شله افلج ا وي أَوْ الْإِصْبَعَانِ مِنْهَا سِوَى الْإِبْهَامِ يا له بټي ګوتي څخه بغير د چپه لاس دوې ګوتي پرېکړی سوي يا شلي وي لِأَنَّ قِوَامَ الْبَطْشِ بِالْإِبْهَامِ ځکه چي د نيولو قوت پر بټه ګوته ولاړ اا و موقوف ا دی فَإِنْ كَانَتْ إِصْبَعٌ وَاحِدَةٌ سِوَى الْإِبْهَامِ مَقْطُوعَةً أَوْ شَلَّاءَ او که له بټي ګوتي څخه بغير يوه ګوته پرېکړی سوې يا شله وي قُطِعَ نو د هغه لاس به پرېکول کيږي لِأَنَّ فَوَاتَ الْوَاحِدَةِ لَا يُوجِبُ خَلَلًا ظَاهِرًا فِي الْبَطْشِ ځکه چي د يوې ګوتي ختمېدل د نيولو په قوت کي ظاهري خلل نه ثابتوي بِخِلَافِ فَوَاتِ الْإِصْبَعَيْنِ په خلاف د دوو ګوتو د ختمېدلو لِأَنَّهُمَا يَتَنَزَّلَانِ مَنْزِلَةَ الْإِبْهَامِ فِي نُقْصَانِ الْبَطْشِ ځکه چي د نيولو د قوت په کمېدلو کي دوې ګوتي د بټي ګوتي قائم مقام کيږي.

اللغات: ﴿أشَل﴾ شل. فلج. چي لاس يا پښه بېکاره او بې حسه سي او هيڅ کار نه کوي. ﴿بَطْش﴾ مصدر دی. له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: نيول (په لاس سره يو شی نيول او را اخيستل).
﴿مَشْی﴾ د ضرب مصدر دی: تګ کول (په پښو تلل). ﴿إِصْبَع﴾ او أُصْبُع: ګوته.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی غلا وکړي او بيا هغه ونيول سي. لېکن د هغه چپه لاس پرېکړی سوی وي يا بالکل شل او بېکاره وي. يا د هغه چپه پښه پرېکړی سوې وي يا شله او بېکاره وي. نو په داسي صورت کي به پر هغه د غلا حدّ نه جاري کيږي: ځکه که چيري موږ پر هغه

حدّ جاري کړو نو د هغه د منفعت جنس به بالکل ختم سي او هغه به د مړه په څير وګرځي. او دا د حدّ مقصود او منشاء نه ده.

همدارنګه که د سارق د چپه لاس بټه ګوته پرېکړې سوې يا شله وي يا له بټې ګوتي څخه بغير د سارق د چپه لاس دوې ګوتي مقطوعه يا شلي وي، نو په دې صورت کي به هم پر هغه حدّ نه جاري کيږي. بلکي هغه ته به د قيد او بند سزا ورکول کيږي. ځکه چي د نيولو قوت او منفعت د بټې ګوتي سره متعلق دی او په قطع اليد کي د دې منفعت تفويت دی او د منفعت تفويت مقصود نه دی، نو ځکه به په دې صورت کي هم د هغه لاس نه پرېکول کيږي.

ها که چيري د سارق يوه ګوته شله يا مقطوعه وي نو د هغه لاس به پرېکول کيږي. ځکه چي د يوې ګوتي په نشتوالي سره د نيولو په قوت او منفعت کي هيڅ خلل نه راځي او په دې صورت کي د لاس په پرېکولو سره د سارق د منفعت جنس نه فوتيږي.

په غلطۍ سره د چپه لاس پرېکولو حکم

قَالَ: وَإِذَا قَالَ الْحَاكِمُ لِلْحَدَّادِ: اِقْطَعْ يَمِينَ هٰذَا فِي سَرِقَةٍ سَرَقَهَا فرمايي: که چيرې حاکم حدّاد احد جاري کونکي] ته ووايي: چي د دې سړي راسته لاس پرېکړه!. د هغه غلا په بدله کي چي ده کړې ده فَقَطَعَ يَسَارَهُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً لېکن حدّاد په قصد يا خطاء سره د هغه چپه لاس پرېکړي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر حدّاد هيڅ ضمان واجب نه دی وَقَالَا: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي الْخَطَإِ وَيَضْمَنُ فِي الْعَمْدِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د خطاء په صورت کي پر هغه ضمان نسته [لېکن] د عمد په صورت کي هغه ضامن کيږي وَقَالَ زُفَرُ: يَضْمَنُ فِي الْخَطَإِ أَيْضًا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په خطاء کي به هم هغه ضامن کيږي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی وَالْمُرَادُ بِالْخَطَإِ هُوَ الْخَطَأُ فِي الِاجْتِهَادِ او په خطاء سره اجتهادي غلطي مراد ده وَأَمَّا الْخَطَأُ فِي مَعْرِفَةِ الْيَمِينِ وَالْيَسَارِ لَا يُجْعَلُ عَفْوًا پاته سو د راسته او چپه لاس په پېژندني کي خطاء کول نو هغه به عفو [او عذر] نه ګرځول کيږي وَقِيلَ: يُجْعَلُ عُذْرًا أَيْضًا او ويل سوي دي: چي هغه به هم عذر ګرځول کيږي لَهُ: أَنَّهُ قَطَعَ يَدًا مَعْصُومَةً د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي هغه يو معصوم لاس پرېکړی وَالْخَطَأُ فِي حَقِّ الْعِبَادِ غَيْرُ مَوْضُوعٍ او بندګانو په حق کي خطاء ساقطه [او معاف] نه ده فَيَضْمَنُهَا نو

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٢٧). [القول الراجح ج:١، ص:٢٦٩]

ځکه به حدّاد د هغه لاس ضامن وي قُلْنَا: إِنَّهُ أَخْطَأَ فِي اِجْتِهَادِهِ موږ وايو: چي هغه په خپل اجتهاد کي غلطي کړې ده إِذْ لَيْسَ فِي النَّصِّ تَعْيِيْنُ الْيَمِيْنِ ځکه چي په نص [آيت] کي د راسته [او چپه لاس] هيڅ تعيين نسته وَالْخَطَأُ فِي الاِجْتِهَادِ مَوْضُوعٌ او خطاء فی الإجتهاد ساقطه [او معاف] ده وَلَهُمَا: أَنَّهُ قَطَعَ طَرَفًا مَعْصُومًا بِغَيْرِ حَقٍّ وَلَا تَأْوِيْلٍ او د صاحبينو دليل دا دی: چي هغه په ناحقه او له څه تأويل څخه بغير يو معصوم اندام پرېکړی ايعني هغه په ناحقه يو بې ګناه اندام پرېکړی او دلته هيڅ تأويل هم نه سي کېدای] لِأَنَّهُ تَعَمَّدَ الظُّلْمَ ځکه چي هغه قصداً ظلم وکړی فَلَا يُعْفَى وَإِنْ كَانَ فِي الْمُجْتَهَدَاتِ نو ځکه به هغه نه معافول کيږي، که څه هم دا په اجتهادي معاملاتو کي داخل دي وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يَجِبَ الْقِصَاصُ او پکار خو دا وه چي پر هغه قصاص واجب سوي وای إِلَّا أَنَّهُ امْتَنَعَ لِلشُّبْهَةِ خو د شبهې په وجه قصاص ممتنع سو وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ: أَنَّهُ أَتْلَفَ وَأَخْلَفَ مِنْ جِنْسِهِ مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ د امام صاحب دليل دا دی: چي [که څه هم] هغه يو لاس هلاک کړی [لېکن] د هغه د جنس دويم لاس يې پرېښووی، کوم چي له هلاک سوي لاس څخه غوره دی فَلَا يُعَدُّ إِتْلَافًا نو دا به هلاکول [او ضايع کول] نه شمارل کيږي كَمَنْ شَهِدَ عَلَى غَيْرِهِ بِبَيْعِ مَالِهِ بِمِثْلِ قِيْمَتِهِ لکه يو څوک چي د بل چا په خلاف د مثلي قيمت په عوض کي د خرڅولو ګواهي ورکړي ثُمَّ رَجَعَ بيا له ګواهي څخه رجوع وکړي وَعَلَى هٰذَا لَوْ قَطَعَهُ غَيْرُ الْحَدَّادِ او پر همدې بناء که له حدّاد څخه بغير بل څوک د غله چپه لاس پرېکړي لَا يَضْمَنُ أَيْضًا نو هغه به هم نه ضامن کيږي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده وَلَوْ أَخْرَجَ السَّارِقُ يَسَارَهُ وَقَالَ: هٰذِهِ يَمِيْنِي او که غل خپل چپه لاس را وباسي او ووايي: چي دا زما راسته لاس دی لَا يَضْمَنُ بِالاِتِّفَاقِ نو حدّاد به بالاتفاق نه ضامن کيږي لِأَنَّ قَطَعَهُ بِأَمْرِهِ ځکه چي هغه د غله په حکم سره دا پرېکړی دی ثُمَّ فِي الْعَمْدِ عِنْدَهُ عَلَيْهِ ضَمَانُ الْمَالِ بيا په عمد کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر غله د مال ضمان واجب وي لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ حَدًّا ځکه چي [په قطع اليسار سره] حدّ پوره نه سو وَفِي الْخَطَإِ كَذٰلِكَ عَلَى هٰذِهِ الطَّرِيْقَةِ او په خطاء کي به هم پر همدې طريقه [پر هغه ضمان] واجب وي وَعَلَى طَرِيْقَةِ الاِجْتِهَادِ لَا يَضْمَنُ او د اجتهاد پر طريقه به هغه نه ضامن کيږي.

اللغات: ﴿حَدَّاد﴾ حدّ جاري کونکی، حدّ لګونکی، جلاد. ﴿أُتْلَفَ﴾ د افعال ماضي ده: هلاکول. بربادول، تلفول، ضايع کول. ﴿أَخْلَفَ﴾ د افعال ماضي ده: شاته پرېښوول، شاته پاته کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که ديو غله په باره کي حاکم (او قاضي) حدّاد ته وايي چي ددې غله راسته لاس پرېکړه!. لېکن حدّاد د هغه چپه لاس پرېکړي، برابره ده قصداً يې پرېکړي يا خطاءً، په هر صورت کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه ضمان نه واجبيږي. د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په عمد او خطاء کي فرق سته. هغه دا دی چي خطاءً د چپه لاس په پرېکولو سره به پر حدّاد ضمان نه واجبيږي او د قصداً پرېکولو په صورت کي به پر هغه ضمان واجبيږي. لېکن دامام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به د عمد او خطاء په دواړو صورتونو کي پر هغه ضمان واجبيږي. همدا د قياس تقاضا ده. او دلته له خطاء څخه خطاء في الإجتهاد مراد ده يعني حدّاد به دا فکر کړی وي چي په دې آيت "وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا" کي أَيْدِي مطلق دی نو د راسته يا چپه لاس دواړو پرېکول به جائز وي. او له دې څخه د يمين او يسار په معرفت کي خطاء مراد نه ده. ځکه چي هر سړی يمين او يسار پېژني او هر سړی په دې خبر وي چي دا راسته لاس دی يا چپه لاس دی. لهذا په دې هکله خطاء کونکی به معذور نه شمارل کيږي او نه به معاف کيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چي د غلا په سزا کي راسته لاس پرېکول کيږي. نو دا د حدّاد غلطي ده چي هغه چپه لاس پرېکړی، او په حقوقُ العباد کي په غلطي کولو سره انسان مأخوذ ګرځي. نو ځکه به پر حدّاد ضمان واجبيږي. لېکن زموږ له طرفه د دې جواب دا دی چي دا د هغه اجتهادي غلطي ده. ځکه چي په قرآني آيت "فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا" کي د يمين تعيين او تصريح نسته. او اجتهادي غلطي په حقوقُ العباد کي هم معاف ده. لهذا د خطاء په صورت کي به هغه نه ضامن کيږي.

د صاحبينو دليل: څه مخکي ذکر سوه چي د صاحبينو په نېز د عمد په صورت کي حدّاد ضامن کيږي: د دوی دليل دا دی چي حدّاد په ناحقه يو معصوم (او بې ګناه) اندام پرېکړی دی (ځکه چي د راسته لاس تر پرېکېدلو مخکي په چپه لاس کي د ګناه جزاء او سزاء نه ثابتيږي). او څرنګه چي دا د عمد معامله ده نو په دې وجه د خطاء تأويل هم کېدای نه سي، او عمداً په ناحقه تو ګه تلفول (إتلاف) د حدّ مُوجب دی که څه هم عمد په اجتهادي معامله کي وي. نو ځکه به د عمد په صورت کي خو حدّاد ضامن وي لېکن د خطاء په صورت کي به پر هغه ضمان نه واجبيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي که څه هم دلته حدّاد د سارق چپه لاس پرېکړی. لېکن د هغه په عوض کي يې راسته لاس پرېښوی کوم چي د يَسَار له جنس څخه غوره دی. لهذا د حدّاد دغه فعل

به إتلاف نه وي، او كله چې إتلاف نه دی. نو ښكاره خبره ده چې پر حدّاد به ضمان هم نه واجبيږي هغه كه يې قصداً دا كار كړی وي يا خطاءً. د دې مثال دا دی چې كه مثلاً زيد دا ګواهي وركړي چې عمر پر خالد باندې خپل پُسه په سل درهمه خرڅ كړی او د پُسه قيمت هم سل درهمه وو. او وروسته زيد له خپل ګواهۍ څخه رجوع وكړه نو پر زيد ضمان نه واجبيږي. ځكه كه څه هم د عمر پُسه ولاړی او فوت سو خو هغه ته د پُسه مثلي قيمت سل درهمه هم حاصل سو. همدارنګه دلته كه څه هم د غله چپه لاس فوت سو، خو هغه ته د دې په بدله كې ډېر غوره راسته لاس حاصل سو. نو ځكه به پر حدّاد هيڅ ضمان نه واجبيږي. پاته عبارت واضح دی.

ثم في العمد عنده إلخ: فرمايي چې د خطاء او عمد په دواړو صورتونو كې د غله د فعل سزا پوره نه سوه. نو ځكه به پر غله د مسروق (غلا كړی سوي) شي ضمان واجب وي د دې لپاره چې د هغه سزا پوره سي. ليكن كه له حدّاد څخه په قطع كې اجتهادي غلطي سوې وي نو بيا به پر غله هيڅ شی نه واجبيږي، ځكه چې په دې صورت كې د حدّاد قطع "حدّ" واقع سو او د غله سزا پوره سوه.

د قطعُ اليد لپاره د سامان د مالك دعوىٰ كول شرط دي

وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبُ بِالسَّرِقَةِ او [تر هغه وخت پوري به] د غله لاس نه پرېكول كيږي تر دې چې مسروق منه [مالک] حاضر سي او د غلا كېدلو مطالبه [دعوىٰ] وكړي اچې سارق زما شی غلا كړی دی، لهذا زما شي دي واپس راكول سي او د هغه لاس دي پرېكول سي] لِأَنَّ الْخُصُومَةَ شَرْطٌ لِظُهُورِهَا ځكه چې د غلا د ښكاره كېدلو لپاره خصومت [دعوىٰ كول] شرط دي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الشَّهَادَةِ وَالْإِقْرَارِ عِنْدَنَا او زموږ په نېز د ګواهۍ او اقرار په مينځ كې هيڅ فرق نسته خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِي الْإِقْرَارِ [ليكن] په اقرار كې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ الْجِنَايَةَ عَلَى مَالِ الْغَيْرِ لَا تَظْهَرُ إِلَّا بِخُصُومَةٍ ځكه چې د بل چا پر مال [د هغه] له دعوىٰ څخه بغير جنايت نه ښكاره كيږي وَكَذَا إِذَا غَابَ عِنْدَ الْقَطْعِ عِنْدَنَا او همدارنګه به زموږ په نېز [د هغه لاس نه پرېكول كيږي] كله چې مسروق منه د قطع په وخت كې غائب سي لِأَنَّ الِاسْتِيفَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي بَابِ الْحُدُودِ ځكه چې د حدّونو په باب كې حدّ په پوره توګه حاصلول [هم] د قضاء يوه حصه ده.

اللغات: ﴿مَسْرُوْق مِنْه﴾ هغه سړی چي يو شی ځني غلا سوی وي، مراد ځني د شي او سامان مالک دی.
﴿خُصُوْمَة﴾ تنازعه، دعویٰ، د حاکم مخته د يو شي مطالبه کول. ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: په پوره توګه حاصلول، اخيستل، تر لاسه کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: د ادی چي تر څو د غلا سوي شي مالک د قاضي دربار ته حاضر نه سي او د سرقې دعویٰ نه وکړي تر هغه وخت پوري به قاضي پر غله هيڅ کاروايي نه کوي او نه به د قطعُ اليد فيصله کوي؛ ځکه چي د سرقې د ثبوت او څرګندېدلو لپاره دعویٰ کول شرط دي، د دې لپاره چي په هغه کي د إباحت او جواز فی الدخول شبهه پاته نه سي، نو په دې وجه دعویٰ کول د قطعُ اليد لپاره شرط دي. برابره ده که سرقه په شهادت سره ثابته سوې وي يا د غله په اقرار سره، په هر صورت کي د قطعُ اليد لپاره خصومت او دعویٰ کول شرط دي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په هغه صورت کي دعویٰ کول شرط نه دي کله چي سرقه په شهادت او ګواهۍ سره ثابته سوې وي، د هغه په نېز فقط د اقرار په صورت کي دعویٰ کول شرط دي. ځکه چي د بل چا (يعني د مسروق منه) په مال کي د هغه له دعویٰ څخه بغير جنايت نه ښکاره کيږي.

وكذا إلخ: که چيري د مالک (مسروق منه) په خصومت او دعویٰ سره پر غله باندي د قطعُ اليد فيصله صادره سي او بيا د قطع (لاس پرېکېدلو) په وخت کي مالک غائب سي نو د هغه تر حاضرېدلو پوري به زموږ په نېز د غله لاس نه پرېکول کيږي؛ ځکه چي په حدّ کي د قاضي فيصله (قضاء) هغه وخت پوره کيږي کله چي په پوره توګه حدّ جاري کړی سي، لنډه دا چي حدّ جاري کول هم د قاضي د فيصلې يوه حصه ده. لهذا څرنګه چي د فيصلې په وخت کي د مالک حاضرېدل ضروري دي همداسي د حدّ جاري کېدلو په وخت کي هم د هغه حاضرېدل ضروري دي.

له مالک څخه بغير د بل چا څخه د مال غلا کېدلو په صورت کي خصومت (دعویٰ کول) د چا حق دیّ؟

وَلِلْمُسْتَوْدَعِ وَالْغَاصِبِ وَصَاحِبِ الرِّبٰوا أَنْ يَقْطَعُوا السَّارِقَ مِنْهُمْ او د امانت ساتونکي او د غصب کونکي او د سود والا لپاره دا حق سته چي ا په خصومت سره ا د هغه سړي لاس پرېکړي چي له دوی څخه يې غلا کړې وي وَلِرَبِّ الْوَدِيعَةِ أَنْ يَقْطَعَهُ أَيْضًا او د امانت مالک لره هم دا حق سته چي د هغه لاس پرېکړي وَكَذَا الْمَغْصُوبُ مِنْهُ او همدارنګه مغصوب منه ته ا هم ا دا حق سته وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يُقْطَعُ بِخُصُوْمَةِ الْغَاصِبِ وَالْمُسْتَوْدَعِ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د غاصب او مستودع په خصومت ا دعویٰ ا سره به د غله لاس نه پرېکول کيږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْمُسْتَعِيْرُ

وَالْمُسْتَأْجِرُ وَالْمُضَارِبُ وَالْمُسْتَبْضِعُ وَالْقَابِضُ عَلَى سَوْمِ الشِّرَاءِ وَالْمُرْتَهِنُ وَكُلُّ مَنْ لَهُ يَدٌ حَافِظَةٌ سِوَى الْمَالِكِ او پر همدغه اختلاف دی په عاریت [اخواست] سره اخیستونکی او په کرایه اخیستونکی او په مضاربت اخیستونکی او د احسان په توګه اخیستونکی او د قیمت ټاکلو په توګه قبضه کونکی او رهن ایښونکی او له مالک څخه بغیر هر هغه کس کوم چي د حفاظت په غرض پر یو شي قبضه کړې وي اد دې ټولو کسانو حکم پر همدغه اختلاف مبني دی چي دوی ټولو لره زموږ په نېز د خصومت او دعوی حق سته او د دوی په خصومت او دعوی سره به زموږ په نېز د غله لاس پرېکول کیږي لېکن د امام زفر او امام شافعي په نېز به نه پرېکول کیږي ا وَيُقْطَعُ بِخُصُومَةِ الْمَالِكِ فِي السَّرِقَةِ مِنْ هَؤُلَاءِ او له دې کسانو څخه په غلا کېدلو کي به د مالک په خصومت سره [هم] د غله لاس پرېکول کیږي [یعني په دې ټولو صورتونو کي زموږ په نېز مالک لره هم د خصومت او دعوی کولو حق سته او د هغه په خصومت سره به د غله لاس پرېکول کیږي] إِلَّا أَنَّ الرَّاهِنَ إِنَّمَا يُقْطَعُ بِخُصُومَتِهِ حَالَ قِيَامِ الرَّهْنِ بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ لېکن د راهن په خصومت سره به هغه‌وخت د غله لاس پرېکول کیږي کله چي تر قرض اداء کولو وروسته رهن باقي وي لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لَهُ فِي الْمُطَالَبَةِ بِالْعَيْنِ بِدُونِهِ ځکه چي د قرض له اداء کولو څخه بغیر راهن لره د عین [مرهون] د مطالبې کولو حق نسته وَالشَّافِعِيُّ بَنَاهُ عَلَى أَصْلِهِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول د هغه پر [اخپل] أصل مبني دی إِذْ لَا خُصُومَةَ لِهَؤُلَاءِ فِي الِاسْتِرْدَادِ عِنْدَهُ ځکه چي د امام شافعي په نېز دغه کسانو لپاره [د غلا سوي] مال په واپس اخیستلو کي د خصومت کولو حق نسته وَزُفَرُ يَقُولُ: وِلَايَةُ الْخُصُومَةِ فِي حَقِّ الِاسْتِرْدَادِ ضَرُورَةُ الْحِفْظِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د واپس اخیستلو په حق کي د خصومت ولایت د حفاظت د ضرورت په وجه دی فَلَا تَظْهَرُ فِي حَقِّ الْقَطْعِ لهذا دا ولایت به د قطعُ الید په حق کي نه ښکاره کیږي لِأَنَّ فِيهِ تَفْوِيتَ الصِّيَانَةِ ځکه چي په دې کي [د مال] د حفاظت تفویت دی وَلَنَا: أَنَّ السَّرِقَةَ مُوجِبَةٌ لِلْقَطْعِ فِي نَفْسِهَا او زموږ دلیل دا دی: چي غلا بذات خود د قطعُ الید موجب ده وَقَدْ ظَهَرَتْ عِنْدَ الْقَاضِي بِحُجَّةٍ شَرْعِيَّةٍ وَهِيَ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَقِيبَ خُصُومَةٍ مُعْتَبَرَةٍ مُطْلَقًا او د قاضي مخته په شرعي حجت سره دا غلا ثابته سوې ده یعني تر مطلقاً معتبر خصومت وروسته دوو ګواهانو د غلا ګواهي ورکړې ده إِذْ لَا اِعْتِبَارَ لِحَاجَتِهِمْ إِلَى الِاسْتِرْدَادِ ځکه چي

د دې کسانو د واپس اخيستلو ضرورت لره هيڅ اعتبار نسته فَيُسْتَوْفَى الْقَطْعُ نو ځکه به قطع اليد په پوره توګه حاصليږي وَالْمَقْصُودُ مِنَ الْخُصُومَةِ إِحْيَاءُ حَقِّهِ او د خصومت مقصد د مالک د حق ژوندي کول دی وَسُقُوطُ الْعِصْمَةِ ضَرُورَةُ الِاسْتِيفَاءِ او د مال حفاظت ساقطيدل دا د مال حاصلولو د ضرورت په وجه دی فَلَمْ يُعْتَبَرْ نو ځکه به د دې سقوط اعتبار نه کيږي وَلَا مُعْتَبَرَ بِشُبْهَةٍ مَوْهُومَةِ الِاعْتِرَاضِ او د هغه [وهمي] شبهي اعتبار به هم نه کيږي چې د هغه د پيښيدلو [پيدا کيدلو] وهم وي كَمَا إِذَا حَضَرَ الْمَالِكُ وَغَابَ الْمُؤْتَمَنُ لکه مالک چې حاضر سي او امانت ساتونکی [مستودع] غائب سي فَإِنَّهُ يُقْطَعُ بِخُصُومَتِهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو په ظاهر روايت کي به د مالک په خصومت سره د غله لاس پريکول کيږي وَإِنْ كَانَتْ شُبْهَةُ الْإِذْنِ فِي دُخُولِ الْحِرْزِ ثَابِتَةً که څه هم په محفوظه ځای کي د داخليدلو د اجازت ورکولو شبهه ثابته ده ايعني که څه هم دا وهمي شبهه دلته سته چې امانت ساتونکي به په خپله محفوظ ځای ته د داخليدلو اجازه غله ته ورکړې وي ا

اللغات: ﴿مستودَع﴾ چا ته چې امانت ايښول سوی وي (امانت ساتونکی، پر امانت پام کونکی). ﴿مغصوب منه﴾ له چا څخه چې شی غصب کړي سي (مالک). ﴿صاحب الربوٰ﴾ که يو څوک مثلاً لس درهمه د شلو درهمو په عوض کي خرڅ کړي، نو هغه ته صاحبُ الربا وايي. اوس که يو غل له هغه څخه دا شل درهمه غلا کړي، نو زموږ په نيز هغه ته دا حق سته چې د قاضي په دبار کي خصومت او دعویٰ وکړي او په خپل خصومت سره د غله لاس پرېکړي او خپل شل درهمه له غله څخه واپس واخلي. همدارنګه مستودع، مستبضع، مرتهن او داسي نورو ټولو ته زموږ په نيز دا حق سته (تفصيل به يې په تشريح کي ذکر سي). ﴿مُسْتَعِيْر﴾ هغه کس چې له يو چا څخه په خواست او امانت يو شی وغواړي. ﴿مُسْتَأْجِر﴾ په کرايه اخيستونکی، هغه کس چې له يو چا څخه په کرايه يو شی واخلي. ﴿مُضَارِب﴾ که مال د يوه سړي وي، کار د بل سړي وي او ګټه د دوی په مينځ کي مشترکه وي، نو داسي کاروبار ته مضاربت وايي او کوم سړی چې کار کوي هغه ته مُضارب وايي، نو که له مضارب څخه يو څوک د مضاربت مال غلا کړي. نو زموږ په نيز مضارب خصومت او دعویٰ کولای سي. ﴿مستبضِع﴾ له بضاعة څخه مشتق دی: هغه سړی چې له يو چا څخه د احسان په توګه مال واخلي او پر کاروبار يې ولګوي (يعني د يو چا سره احسان وکړي او د هغه مال پر ګټه واچوي او ګټه يې هغه ته ورکوي). داسي سړي ته مُسْتَبْضِع وايي. ﴿قابض على سوم الشراء﴾ هغه سړی چې له يو دوکاندار څخه يو شی د قيمت ټاکلو لپاره واخلي (چې زه يې ګورم او بيا يې قيمت دربنيم چې په دومره قيمت زه دا شی غواړم). ﴿مُرْتَهِن﴾ هغه سړی چې د هغه سره د بل چا يو شی په ګروي کي پروت وي، مثلاً

زيد له خالد څخه سل درهمه واخلي او د هغه په بدله کي خالد ته پُسه په ګرو ورکړي، نو خالد ته مرتهن وايي، او زيد ته راهن وايي، او پُسه ته رهن وايي. ﴿يَد﴾ قبضه. ﴿استرداد﴾ د استفعال مصدر دی: واپس اخيستل. ﴿إسْتِيْفَاء﴾ په پوره توګه حاصلول (حق يا داسي بل شی). ﴿حِرْز﴾ محفوظه ځای.

تشريح: د عبارت خلاصه: په عبارت کي نهه قسمه خلک بيان سوي دي: ① مستودع. ② غاصب. ③ صاحبُ الربا. ④ مستعير. ⑤ مستأجر. ⑥ مضارب. ⑦ مستبضع. ⑧ قابض على سوم الشراء. ⑨ مرتهن.

که يو څوک له دغه نهو کسانو څخه د دوی شی غلا کړي (مثلاً له مستودع څخه د امانت مال غلا کړي، يا له غاصب څخه مغصوب مال غلا کړي، يا له صاحبُ الربا څخه د سود مال غلا کړي، يا له مستعير څخه د عاريت مال او شی غلا کړي او داسي نور)، نو زموږ په نيز دغه ټولو کسانو ته دا حق سته چي د قاضي په دربار کي د غلا دعوی او خصومت وکړي او قاضي د دوی په خصومت سره د غله لاس پرېکړي، او زموږ په نيز د دې شيانو مالک ته هم د خصومت کولو او په خپل خصومت سره د سارق د لاس پرېکولو حق سته. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز فقط مالک ته د خصومت کولو او په خپل خصومت سره د سارق لاس پرېکولو حق سته. د هغه په نيز دغه نهو کسانو د دې حق نسته.

امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دغه نهو کسانو ته فقط د مال د واپس اخيستلو د خصومت حق سته. په خپل خصومت سره د لاس پرېکولو حق هغو ته نسته (چي قاضي د دوی په خصومت سره د سارق لاس پرېکړي).

لېکن که له مرتهن څخه يو څوک مرهون شی غلا کړي، نو راهن (مالک) هغه وخت خصومت کولای سي کله چي مرتهن د راهن قرض اداء کړی وي او تر اوسه د رهن معامله باقي وي، ځکه چي تر قرض اداء کولو مخکي راهن د مرهون شي مطالبه نه سي کولای، نو ځکه به د قاضي مخته د هغه شي د واپس اخيستلو مطالبه هم نه سي کولای.

والشافعي بناه إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله أصل او قاعده دا ده چي دغه نهه خلک کوم چي د مال مالکان نه دي، دوی ته دا حق نسته چي د قاضي په دربار کي د غلا سوي مال د واپس غوښتلو او اخيستلو خصومت وکړي، ځکه چي دوی د مال مالکان نه دي.

وزفر يقول إلخ: امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي دغه نهه خلک خو د مال حفاظت کوي. نو په دې وجه دوی ته د مال واپس اخيستلو لپاره د خصومت کولو حق سته. لېکن دوی ته دا حق نسته چي په خصومت سره د غله لاس پرېکړي. يعني د امام زفر په نيز به قاضي د دوی په خصومت سره د غله لاس

نه پرېکوي. ځکه کېدای سي چې هغه مال د غله د لاس څخه وتلی وي نو که چیري د غله لاس پرېکړی سي . نو هغه مال به د غه کسانو ته واپس حاصل نه سي. نو ځکه به د دوی په خصومت سره د غله لاس نه پرېکول کیږي. او نه به دوی ته د داسي خصومت کولو حق ورکول کیږي. (تفویت الصیانة: یعني په محفوظه توګه د مال واپس کول به فوت سي)

ولنا إلخ: زموږ د دلیل حاصل دا دی چې غلا کول په خپله د لاس پرېکېدلو مُوجب دي او څرنګه چې د قاضي مخته په شرعي حجت سره غلا ثابته سوې ده او د دې کسانو له طرفه د حدّ جاري کولو دعویٰ هم سوې ده. نو ځکه به د دې کسانو پر دعویٰ او خصومت باندي د غله لاس پرېکول کیږي. او بل دا چې د دوو ګواهانو په ذریعه د غلا ثابتېدل په خپله د لاس پرېکولو موجب او سبب دی (که څه هم دغه خلک د لاس پرېکولو خصومت نه وکړي). نو ځکه به د هغه لاس پرېکول کیږي

والمقصود من الخصومة إلخ: په دې سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي چې د دغه نهو کسانو له خصومت څخه مقصود د لاس پرېکول نه دي. بلکي د مالک مال واپس اخیستل دي او د مالک حق ژوندی کول دي. نو اوس د مال واپس اخیستلو په ضمن کي خامخا غلا ثابتیږي. له دې څخه چاره نسته. او غلا ثابتېدل په خپله د لاس پرېکولو موجب دي.

وسقوط العصمة إلخ: په دې سره امام زفر ته جواب ورکوي هغه وفرمایل چې که د دې نهو خلکو په خصومت سره د غله لاس پرېکول سي نو د مال حفاظت به ختم سي او دوی ته به هغه مال واپس حاصل نه سي. د جواب حاصل دا دی چې د دې نهو خلکو مقصد د حفاظت او صیانت ختمول نه دي. بلکي مال واپس واخیستل دي. اوس که د دې په ضمن کي حفاظت ختم او ساقط سي نو هغه لره به هیڅ اعتبار نه وي.

ولا معتبر بشبهة إلخ: همدارنګه داسي شبهي لره به هم هیڅ اعتبار نه وي چې هغه موهومُ الوجود وي (یعني وهمي شبهي ته به هم اعتبار نه ورکول کیږي). مثلاً امانت ساتونکي په یو محفوظ ځای کي امانت پټ کړی وي او له هغه ځای څخه یو شوک امانت غلا کړي او بیا امانت ساتونکی غائب سي. او أصل مالک راسي. او د قاضي په دربار کي خصومت او دعویٰ وکړي. نو د هغه په خصومت سره به هم د غله لاس پرېکول کیږي. حالانکي دلته دا شبهه سته چې امانت ساتونکي به په خپله غله ته د داخلېدلو اجازه کړې وي چې هغه محفوظ ځای (د امانت ایښولو ځای) ته داخل سي. لیکن د دې وهم به هیڅ اعتبار نه کیږي او د مالک په خصومت سره به د غله لاس پرېکول کیږي.

له غله څخه د مال غلا کېدلو حکم

وَإِنْ قُطِعَ سَارِقٌ بِسَرِقَةٍ که چیري د غلا په وجه د یو غله لاس پرېکړی سي فَسُرِقَتْ مِنْهُ بیا له هغه څخه مسروق مال غلا سي [یعني دویم غل یې څني غلا کړي] لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَا لِرَبِّ السَّرِقَةِ أَنْ يَقْطَعَ السَّارِقَ الثَّانِي نو اول غل او أصل مالک ته دا حق نسته چي د دویم غله لاس [د خصومت کولو په ذریعه په قاضي سره] پرېکړي لِأَنَّ الْمَالَ غَيْرُ مُتَقَوِّمٍ فِي حَقِّ السَّارِقِ ځکه چي د اول غله په حق کي مال متقوم نه دی حَتَّى لَا يَجِبَ عَلَيْهِ الضَّمَانُ بِالْهَلَاكِ تر دې چي د هلاکت په وجه پر هغه ضمان نه واجبېږي فَلَمْ تَنْعَقِدْ مُوجِبَةً فِي نَفْسِهَا لهذا دا سرقه [غلا] په بذاتِ خود د قطعُ اليد مُوجِب نه وي وَلِلْأَوَّلِ وِلَايَةُ الْخُصُومَةِ فِي الِاسْتِرْدَادِ فِي رِوَايَةٍ او په اول روایت کي د اول غله لپاره د واپس اخیستلو په هکله د خصومت کولو ولایت حاصل دی لِحَاجَتِهِ ځکه چي هغه استرداد [واپس اخیستلو] ته محتاج دی إِذِ الرَّدُّ وَاجِبٌ عَلَيْهِ ځکه چي پر هغه [د مال] واپس کول واجب دي وَلَوْ سَرَقَ الثَّانِي قَبْلَ أَنْ يُقْطَعَ الْأَوَّلُ أَوْ بَعْدَ مَا دُرِئَ الْحَدُّ بِشُبْهَةٍ او که چیري د اول غله تر لاس پرېکېدلو مخکي یا په یو شبهه سره د حدّ تر ختمېدلو وروسته دویم غل غلا وکړي يُقْطَعُ بِخُصُومَةِ الْأَوَّلِ نو د اول غله په خصومت کولو سره به د دویم غله لاس پرېکول کیږي لِأَنَّ سُقُوطَ التَّقَوُّمِ ضَرُورَةُ الْقَطْعِ ځکه چي د مسروق مال د تقوّم ساقطېدل د قطع د ضرورت په وجه وو وَلَمْ يُوجَدْ حالانکي [دلته] قطع موجوده نه سوه فَصَارَ كَالْغَاصِبِ نو هغه د غصب کونکي په څېر سو وَمَنْ سَرَقَ سَرِقَةً او څوک چي یو غلا وکړي فَرَدَّهَا عَلَى الْمَالِكِ قَبْلَ الِارْتِفَاعِ إِلَى الْحَاكِمِ خو حاکم [او قاضي] ته د معاملې تر پېش کېدلو مخکي هغه مالک ته مسروق مال واپس کړي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يُقْطَعُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چي د هغه لاس به پرېکول کیږي اِعْتِبَارًا بِمَا إِذَا رَدَّهُ بَعْدَ الْمُرَافَعَةِ په هغه صورت باندي په قیاس کولو سره کله چي [قاضي ته] د معاملې تر پېش کېدلو وروسته هغه مسروق مال واپس کړي وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ الْخُصُومَةَ شَرْطٌ لِظُهُورِ السَّرِقَةِ د ظاهر روایت دلیل دا دی: چي د غلا د ښکاره کېدلو [او څرګندېدلو] لپاره خصومت

ادعوىٰ كول ا شرط دي لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ إِنَّمَا جُعِلَتْ حُجَّةً ضَرُورَةَ قَطْعِ الْمُنَازَعَةِ ځکه چي د تنازع ختمولو د ضرورت په وجه ګواهي حجّت ګرځول سوې ده وَقَدِ انْقَطَعَتِ الْخُصُومَةُ او خصومت منقطع سو بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْمُرَافَعَةِ په خلاف تر مرافعه وروسته اد واپس كولوا لِانْتِهَاءِ الْخُصُومَةِ لِحُصُولِ مَقْصُودِهَا ځکه چي اتر مرافعه وروسته ا د خصومت د مقصود د حاصلېدلو په وجه خصومت خپل انتهاء ته ورسېدی فَتَبْقَى تَقْدِيرًا لهذا تقديراً به هغه به باقي پاته وي.

اللغات: ﴿مُوْجِبَة﴾ دافعال مؤنث اسم فاعل دی: واجبونكی، ثابتونكی. ﴿إِرْتِفَاع﴾ دافتعال مصدر دی: د حاكم مختـه مسئله وړل (مسئله پېشول)، معامله پېشول، مقدمه درجول، د فيصلې لپاره حاضرول، د مُرَافَعَةٌ هم دغه معناوي دي. ﴿مُنَازَعَة﴾ جګړه، جنجال، كړكېچ، دعوىٰ.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه زيد غلا وكړي او د هغه لاس پرېكړی سي، بيا له زيد څخه خالد هغه غلا كړی سوی مال (مسروق مال) غلا كړي، نو نه اول سارق (زيد) ته دا حق سته چي د دويم سارق (خالد) د لاس پرېكولو لپاره د قاضي په دربار كي خصومت وكړي او نه صاحبُ المال (مالک) ته دا حق سته، ځکه چي د قطعُ اليد په وجه مسروق مال د اول سارق په حق كي متقوم پاته نه سو. همدا وجه ده كه د اول سارق سره هغه مال هلاک سي نو پر هغه ضمان نه واجبېږي. لهذا كله چي هغه مال متقوّم پاته نه سو نو د هغه مال غلا كول به د حدّ مُوجِب هم نه وي؛ ځکه چي فقط د متقوّم مال غلا كول د حدّ مُوجب دي. خو يو روايت دا دی چي له دويم سارق څخه د هغه مال د واپس اخيستلو لپارهٔ اول سارق ته د خصومت حق حاصل دی. ځکه چي اول سارق دې ته محتاج او مجبوره دی چي هغه مال صاحبُ المال (مالک) ته واپس كړي.

ولوسرق الثاني إلخ: د دې حاصل دا دی چي كه د اول سارق (زيد) لاس قطع نه كړی سو يا د يو شبهې په وجه له هغه څخه حدّ ساقط سو، او په دې دوران كي دويم غل هغه مال له ده څخه غلا كړی. نو اوس به د ده (اول سارق) په خصومت سره د دويم سارق لاس پرېكول كيږي؛ ځکه چي دا مال د اول سارق د لاس د پرېكېدلو (قطعُ اليد) په وجه غير متقوم وو، لېكن څرنګه چي دلته د اول سارق لاس پرېكړی سوی نه دی نو په دې وجه اوس اول سارق غاصب سو او هغه مال متقوم پاته سو، او د متقوم مال غلا كول د حدّ مُوجب دي، نو ځكه به دلته د مال په غلا كولو سره د دويم سارق لاس پرېكول كيږي.

ومن سرق سرقة إلخ: كه زيد مثلاً د خالد پيسه غلا كړي. بيا مخكې تر دې "چې خالد دا معامله د قاضي مخته پېش كړي او مقدمه درج كړي" زيد هغه پيسه خالد ته واپس كړي. نو په ظاهر روايت كې به د زيد لاس نه پرېكول كيږي، لېكن د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په يوه روايت كې به د هغه لاس پرېكول كيږي، لكه په هغه صورت كې چې پرېكول كيږي كله چې خالد د قاضي مخته د غلا معامله او قصه پېش كړي (يعني مرافعه وكړي) او تر دې وروسته زيد هغه ته پيسه واپس كړي. (نو څرنګه چې په دې صورت كې د هغه لاس پرېكول كيږي)، همداسې به د قاضي مخته د معاملې تر پېشولو مخكې هم د هغه لاس پرېكول كيږي، ځكه چې قطعُ اليد د الله تعالىٰ حق دى او په دې كې د قبل المرافعة او بعد المرافعه حكم مساوي دى.

د ظاهر روايت دليل دا دى چې د سرقې د ظهور او څرګندېدلو لپاره د مسروق منهٗ خصومت (او دعوىٰ) كول شرط دي: ځكه چې ګواهي فقط د جګړې او خصومت د ليرې كولو لپاره حجت ګرځول سوې ده. لېكن دلته مسروق منهٗ ته د مال په واپس كېدلو سره خصومت ختم سو. او د خصومت ختمېدلو په وجه د سرقې ظهور هم ختم سو. لهذا د قطعُ اليد د جواز لاره بنده سوه.

او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دى (يعني دا مسئله پر مابعد المرافعه باندې قياسول صحيح نه دي). ځكه چې تر مرافعة وروسته د خصومت مقصود يعني "مال مالک ته واپس كېدل" په خپله حاصليږي او شى خپل انتهاء ته تر رسېدلو وروسته مضبوطيږي. نو ګواكې په بعد المرافعة والا صورت كې تقديراً خصومت باقي پاتيږي. او كله چې خصومت باقي پاتيږي نو د سرقې ظهور به كيږي او د هغه په وجه به قطعُ اليد هم لازميږي.

تر غلا كولو وروسته او تر حدّ جاري كېدلو مخكې
د سارق په ملكيت كې د مسروق مال راتللو حكم

وَإِذَا قُضِيَ عَلَى رَجُلٍ بِالْقَطْعِ فِي سَرِقَةٍ او كله چې د يو غلا په وجه پر يو سړي باندې د قطعُ اليد فيصله وسي فَوُهِبَتْ لَهُ بيا مسروق اغلا كړى سوى امال غله ته هبه كړى سي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېكول كيږي مَعْنَاهُ: إِذَا سُلِّمَتْ إِلَيْهِ د هبه كېدلو مطلب دا دى: چې هغه مال غله ته وسپارل سي وَكَذَلِكَ إِذَا بَاعَهَا الْمَالِكُ إِيَّاهُ او همدارنګه كله چې مالک مسروق مال پر هغه غله خرڅ كړي انو هم به د هغه لاس نه پرېكول كيږي ا وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د

هغه لاس به پرېکول کیږي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ همدا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دی لِأَنَّ السَّرِقَةَ قَدْ تَمَّتْ انْعِقَادًا وَظُهُورًا ځکه چي د منعقد کېدلو او ښکاره کېدلو په اعتبار سره غلا پوره سوه وَبِهٰذَا الْعَارِضِ لَمْ يَتَبَيَّنْ قِيَامُ الْمِلْكِ وَقْتَ السَّرِقَةِ او د بیع او هبې په عارض سره د غلا په وخت کي د ملکیت موجودېدل ښکاره نه سو فَلَا شُبْهَةَ نو ځکه هیڅ شبهه نسته وَلَنَا: أَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي هٰذَا الْبَابِ زموږ دلیل دا دی: چي د حدّ په باب کي د حدّ جاري کول هم د قضاء یوه حصه ده لِوُقُوعِ الِاسْتِغْنَاءِ عَنْهُ بِالِاسْتِيفَاءِ ځکه چي له قضاء څخه استغناء [فقط] د حدّ تر حاصلولو [جاري کولو] وروسته حاصلیږي إِذِ الْقَضَاءُ لِلْإِظْهَارِ ځکه چي قضاء [فقط د غلا] د ښکاره کولو لپاره وي وَالْقَطْعُ حَقُّ اللهِ تَعَالىٰ او قطع [د لاس پرېکول] د الله تعالیٰ حق دی وَهُوَ ظَاهِرٌ عِنْدَهُ او دا قطع د الله په نېز ښکاره ده وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ يُشْتَرَطُ قِيَامُ الْخُصُومَةِ عِنْدَ الِاسْتِيفَاءِ او کله چي قصه داسي ده نو د حدّ حاصلولو [قطعُ الید] په وخت کي د خصومت [او د دعویٰ] موجودېدل شرط دی وَصَارَ كَمَا إِذَا مَلَكَهَا مِنْهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ او دا داسي سو لکه تر قضاء [فیصلې] مخکي چي غل د مالک له طرفه د مال مالک جوړ سي قَالَ: وَكَذَا إِذَا نَقَصَتْ قِيمَتُهَا مِنَ النِّصَابِ يَعْنِي قَبْلَ الِاسْتِيفَاءِ بَعْدَ الْقَضَاءِ فرمايي: همدارنګه که [د قاضي] تر قضاء وروسته او تر استیفاء [قطعُ الید] مخکي د مسروق مال قیمت د سرقې له نصاب څخه کم سي انو هم به د غله لاس نه پرېکول کیږي] وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ يُقْطَعُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چي د هغه لاس به پرېکول کیږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ او همدا د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قول دی اِعْتِبَارًا بِالنُّقْصَانِ فِي الْعَيْنِ په أصل مال کي پر کمي راتلو باندي په قیاس کولو سره وَلَنَا: أَنَّ كَمَالَ النِّصَابِ لَمَّا كَانَ شَرْطًا زموږ دلیل دا دی: چي کله د قطع لپاره د نصاب پوره والی شرط دي يُشْتَرَطُ قِيَامُهُ عِنْدَ الْإِمْضَاءِ نو د حدّ جاري کولو په وخت کي به هم د نصاب پوره والی شرط وي لِمَا ذَكَرْنَاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی بِخِلَافِ النُّقْصَانِ فِي الْعَيْنِ په خلاف په اصل مال کي د کمي راتللو لِأَنَّهُ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ ځکه چي هغه پر غله باندي مضمون دی ایعني ځکه چي د هغه ضمان پر واجب دی او هغه د غله پر ذمه

دَين دی ا فَكَمُلَ النِّصَابُ عَيْنًا وَدَيْنًا لهذا د عَين اأصل مال او دَين په اعتبار کولو سره به نصاب پوره کيږي كَمَا إِذَا اسْتُهْلِكَ كُلُّهُ لکه په هغه صورت کي کله چي ټوله مال هلاک کړی سي أَمَا نُقْصَانُ السِّعْرِ فَغَيْرُ مَضْمُونٍ او کوم چي د نرخ اقيمت ا کمېدل نو هغه نه مضمون کيږي فَافْتَرَقَا لهذا دواړه سره جلا سول ايعني په أصل مال کمېدلو او په نرخ کمېدلو کي فرق راغلی ا.

اللغات: ﴿قَضٰى﴾ د ضرب ماضي ده: فيصله کول. ﴿سَرِقَة﴾ غلا. غلا کول. ﴿إِمْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: جاري کول. نافذول. ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: حاصلول. اخيستل. (مراد ځني د حدّ حاصلول دي يعني د حدّ اقطعُ اليد ا جاري کول). ﴿خُصُوْمَة﴾ دعویٰ. تنازع. ﴿إِسْتَهْلَكَ﴾ د استفعال ماضي ده: هلاکول. ختمول. ﴿سِعْر﴾ نرخ. ربټ. قيمت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی غلا وکړي او قاضي د هغه په خلاف د قطعُ اليد فيصله وکړي لېکن تر قطعُ اليد مخکي مالک هغه مسروق مال غله ته هبه کړي او غله ته يې وسپاري. يا مالک هغه مال پر غله باندي خرڅ کړي، نو په دې صورت کي به زموږ په نېز د غله لاس نه پرېکول کيږي، لېکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز به د هغه لاس پرېکول کيږي. همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو روايت دی.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي دلته غله په پټه توګه له محرز مقام څخه محرز مال غلا کړی دی نو په دې وجه سرقه پوره سوه او منعقده سوه. او ځرنګه چي په دې سرقه کي قاضي د قطعُ اليد فيصله هم کړې ده نو په دې وجه دا سرقه هم ښکاره هم سو. او د هبې او بيع معامله د قاضي تر قضاء (فيصلې) وروسته پېښه سوه نو په دې وجه د سرقې په وخت کي دا شبهه هم نسته چي غل به د دې مالک وي. لهذا په هر اعتبار سره سرقه پوره او کامله ده او د حدّ مُوجِب ده.

زموږ دليل: دا دی چي د حدّ په باب کي د حدّ جاري کول هم د قاضي د قضاء يوه حصه ده. ځکه چي فقط تر حدّ جاري کېدلو وروسته د قاضي له قضاء څخه استغناء حاصلېږي (په بله وينا دا چي فقط تر استيفاء او قطعُ اليد جاري کولو وروسته د قاضي فيصله پوره کيږي). لهذا ځرنګه چي د قطع اليد لپاره د قضاء په وخت کي د خصومت موجودېدل شرط دي همداسي به د قطع او استيفاء په وخت کي هم د خصومت باقي پاتېدل او موجودېدل شرط وي. حالانکي د مالک د هبه کولو يا خرڅولو په وجه د قطع او استيفاء په وخت کي خصومت معدوم سو. نو دا داسي سو لکه د قاضي تر قضاء وروسته چي مالک مسروق مال غله ته هبه کړی وي يا پر هغه يې خرڅ کړی وي. او تر قضاء

مخکې د بيع يا هبې په وجه قطعُ اليد نه واجبيږي لهذا تر قضاء وروسته به هم د بيع يا هبې په وجه قطعُ اليد نه واجبيږي (يعني د غله لاس به نه پرېکول کيږي).

وقال وكذالك إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د قاضي تر قضاء وروسته او تر قطعُ اليد مخکې د مسروق مال نرخ (ريټ) ولوېږي او د هغه قيمت د سرقې تر نصاب يعني تر لسو درهمو کم سي. نو هم به زموږ په نيز د غله لاس نه پرېکول کيږي. لېکن امام محمد، امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمُ الله فرمايي چې څرنګه د لسو درهمو په غلا کې د يوه درهم د ورکېدلو په صورت کې هم قطعُ اليد واجبيږي همداسې به له نصاب څخه د مسروق مال د قيمت کمېدلو په صورت کې هم قطعُ اليد واجبيږي. ګواکې دغه حضراتو د نرخ کمېدل د عين (أصل مال) پر کمېدلو قياس کړي دي.

زموږ دليل دا دی چې کله د قضاء په وخت کې د قطعُ اليد لپاره د مسروق مال د نصاب په اندازه کېدل شرط دی نو دا شرط به له اول څخه تر آخره پوري موجود وي يعني د قضاء له وخت څخه به د قطعُ اليد تر وخت پوري د دې شرط باقي پاتېدل ضروري وي: ځکه چې د حدّ په باب کې إمضاء يعني حدّ (قطعُ اليد) جارِ کول هم د قضاء يوه حصه ده. لهذا د إمضاء په وخت کې مسروق مال د سرقې د نصاب په اندازه کېدل ضروري دي. حال دا چې دلته مسروق مال د سرقې نصاب په اندازه نه دی. نو ځکه به دلته پر غله قطعُ اليد نه جاري کيږي.

د دې په خلاف که په عَين (أصل مال) کې کمي راسي نو هغه کمي به د غله پر ذمه دَين او قرض وي. او د عَين او دَين په يو ځای کولو سره به د سرقې نصاب پوره وګرځي. لکه له يو غله څخه چې ټوله مال هلاک سي نو هغه ټوله مال به د هغه پر ذمه دَين وي او د سرقې نصاب به باقي شمارل کيږي. لهذا د عين کمي د نرخ او قيمت پر کمي باندې قياسول صحيح نه دي. ځکه چې د نرخ کمي د غله پر ذمه نه مضمون کيږي او د هغه پر ذمه دَين نه ګرځي.

که غل د مسروق مال د مالک کېدلو دعویٰ وکړي (حکم او اختلاف)

وَإِذَا ادَّعَى السَّارِقُ أَنَّ الْعَيْنَ الْمَسْرُوقَةَ مِلْكُهُ او که غل دا دعویٰ وکړي چې مسروق مال د هغه مملوک دی ايعني دا دعویٰ وکړي چې دا زما په ملکيت کې دی| سَقَطَ الْقَطْعُ عَنْهُ نو له هغه څخه قطعُ اليد ساقطيږي وَإِنْ لَمْ يُقِمْ بَيِّنَةً که څه هم هغه بيّنه |او ګواهان| پېش نه کړي مَعْنَاهُ: بَعْدَمَا شَهِدَ الشَّاهِدَانِ بِالسَّرِقَةِ د دې مطلب دا دی: چې کله دوه ګواهان |د هغه په خلاف| د غلا کولو ګواهي ورکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَسْقُطُ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوٰى امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې محض په دعویٰ

سره قطعُ اليد نه ساقطيږي لِأَنَّهُ لَا يَعْجِزُ عَنْهُ سَارِقٌ ځکه چي غل له داسي دعوىٰ کولو څخه عاجز نه دی ايعني هر غل داسي دعوىٰ کولای سي ا فَيُؤَدِّيْ إِلَىٰ سَدِّ بَابِ الْحَدِّ لهذا دا امحض په دعوىٰ سره د قطعُ اليد ساقطيدل ا به د "حدّ" د دروازې بنديدلو سبب جوړ سي وَلَنَا: أَنَّ الشُّبْهَةَ دَارِئَةٌ زموږ دليل دا دی: چي شبهه د حدّ دفع کونکې ا او ساقطونکې ا ده وَتَتَحَقَّقُ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوٰى لِلِاحْتِمَالِ او ا د صدق ا د احتمال پر بناء محض په دعوىٰ سره شبهه ثابتيږي وَلَا مُعْتَبَرَ بِمَا قَالَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم څه وويل هغه لره اعتبار نسته بِدَلِيلِ صِحَّةِ الرُّجُوعِ بَعْدَ الْإِقْرَارِ ځکه چي تر اقرار وروسته رجوع کول صحيح دي وَإِذَا أَقَرَّ رَجُلَانِ بِسَرِقَةٍ ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا: هُوَ مَالِيْ او که دوه خلک د غلا اقرار وکړي بيا په دوی کي يو ووايي: چي مسروق مال ا فقط ا زما مال وو لَمْ يُقْطَعَا نو د دواړو لاسونه به نه پرېکول کيږي لِأَنَّ الرُّجُوعَ عَامِلٌ فِيْ حَقِّ الرَّاجِعِ ځکه چي د رجوع کونکي په حق کي رجوع عامل ده وَمُوْرِثٌ لِلشُّبْهَةِ فِيْ حَقِّ الْآخَرِ او ا دا رجوع ا د دويم په حق کي شبهه پيدا کونکې ده لِأَنَّ السَّرِقَةَ تَثْبُتُ بِإِقْرَارِهِمَا عَلَى الشَّرِكَةِ ځکه چي د دوی په مشترک اقرار سره غلا ثابته سوې ده فَإِنْ سَرَقَا ثُمَّ غَابَ أَحَدُهُمَا او که دوه غله ا په ګډه ا غلا وکړي بيا په دوی کي يو غل غائب سي وَشَهِدَ الشَّاهِدَانِ عَلٰى سَرِقَتِهِمَا او دوه ګواهان د دوی پر غلا ګواهي ا هم ا ورکړي قُطِعَ الْآخَرُ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيفَةَ الْآخِرِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په آخري قول کي به د دويم ا حاضر ا غله لاس پرېکول کيږي وَهُوَ قَوْلُهُمَا او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَكَانَ يَقُوْلُ أَوَّلًا: لَا يُقْطَعُ او امام صاحب رَحِمَهُ الله به مخکي ويل: چي د حاضر ا موجود ا غل لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّهُ لَوْ حَضَرَ رُبَّمَا يَدَّعِي الشُّبْهَةَ ځکه که چيري غائب غل حاضر وای نو کېدای سي چي هغه به د يو شبهي دعوىٰ کړي وای وَجْهُ قَوْلِهِ الْآخِرِ: أَنَّ الْغَيْبَةَ تَمْنَعُ ثُبُوْتَ السَّرِقَةِ عَلَى الْغَائِبِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله د آخري قول دليل دا دی: چي غائب والي پر غائب غله باندي د غلا ثابتېدل مانع کوي ايعني غيبوبت پر غائب غله باندي د سرقې له ثبوت څخه مانع دی ا فَيَبْقٰى مَعْدُوْمًا لهذا هغه غائب غل به معدوم ا او کالعدم ا وي وَالْمَعْدُوْمُ لَا يُوْرِثُ الشُّبْهَةَ او معدوم شبهه نه سي پيدا کولای وَلَا مُعْتَبَرَ بِتَوَهُّمِ حُدُوْثِ الشُّبْهَةِ او د شبهي د پيدا کېدلو وهم لره هيڅ

اعتبار نسته عَلىٰ مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سو وَإِذَا أَقَرَّ الْعَبْدُ الْمَحْجُورُ عَلَيْهِ بِسَرِقَةِ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ بِعَيْنِهَا او که محجور غلام د لسو درهمو د غلا کولو اقرار وکړي فَإِنَّهُ يُقْطَعُ نو د هغه لاس به پرېکول کيږي وَتُرَدُّ السَّرِقَةُ إِلَى الْمَسْرُوقِ مِنْهُ او سرقه [يعني غلا سوي دراهم] به مالک ته واپس کول کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيفَةَ او دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ*: يُقْطَعُ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه لاس به پرېکول کيږي وَالْعَشَرَةُ لِلْمَوْلىٰ او لس درهمه به [د هغه] د مالک وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يُقْطَعُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه لاس به نه پرېکول کيږي وَالْعَشَرَةُ لِلْمَوْلىٰ او لس درهمه به د مالک وي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَمَعْنَاهُ: إِذَا كَذَّبَهُ الْمَوْلىٰ او د دې قول مطلب دا دی: چي کله مالک د خپل غلام تکذيب وکړي.

اللغات: ﴿سَدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بندول، تړل. ﴿دَارِئَة﴾ د فتح مؤنث اسمِ فاعل دی: ليري کونکی، دفع کونکی، ساقطونکی. ﴿يَتَحَقَّق﴾ د تفعّل مضارع ده: ثابتېدل. ﴿مُجَرَّد﴾ محض، خالي، فقط. ﴿غَيْبَة﴾ غائبوالی، ناموجودوالی. ﴿حُدُوث﴾ د نصر مصدر دی: پېښېدل، پيدا کېدل. ﴿الْمَحْجُوْر عَلَيْهِ﴾ هغه غلام چي د مالک له طرفه پر هغه د تجارت کولو پابندي لګېدلې وي، يعني خپل مالک له تجارت او کاروبار کولو څخه منع کړی وي. ﴿كَذَّبَه﴾ د تفعيل ماضي ده: تکذيب کول، درواغجن ګڼل (درواغجن شمارل).

تشريح: په دې عبارت کي څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(١)... که يو سړی يو پُسه غلا کړي او بيا ووايي چي دا پُسه خو زما دی او ما له خپل مال څخه غلا کړی دی او دوه ګواهان د هغه په خلاف د غلا ګواهي هم ورکړي، نو زموږ په نيز د دې دعویٰ په وجه له هغه څخه قطعُ اليد ساقطيږي که څه هم هغه پر خپله دعویٰ باندي ګواهان پېش نه کړي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به فقط د دعویٰ په وجه د هغه جرم نه معاف کيږي او له هغه څخه به حدّ نه ساقطيږي، ځکه که داسي وسي نو هر غل به داسي دعویٰ کوي او له حدّ او سزا څخه به ځان خلاصوي او په دې توګه به بالکل د حدّ (قطعُ اليد) دروازه بنده سي.

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في فتح القدير (ج: ٥، ص:١٦٨)، وكذا في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٣٠). [القول الراجح ج:١، ص:٤٦٩]

زموږ دليل دا دی چې دا خبر خو تسليم او منل سوې ده چې د ملکيت په شبهې سره حدّ ساقطيږي او څرنګه چې د دې غله په دعوىٰ کې د رښتيا والي احتمال هم سته. نو په دې دعوىٰ سره د ملکيت شبهه پيدا کيږي او د دغه شبهې په وجه به له دې مدعي غله څخه حدّ ساقطيږي. د امام شافعي د دليل جواب دا دی چې کله د غلا تر اقرار وروسته د انکار کولو په وجه حدّ ساقطيږي نو د سارق د ملکيت په دعوىٰ سره به هم حدّ ساقطيږي (يعني چې غل ووايي "دا مال زما په ملکيت کې دی"، نو په دې سره به هم حدّ ساقطيږي)، ځکه څرنګه چې هر مُقر انکار کولای سي همداسي به هر يو دعوىٰ هم کولای سي.

(٢)... وإذا أقرّ رجلان إلخ: دا دويمه مسئله ده کوم چې تر اقرار وروسته د رجوع پر صحيح کېدلو مبني ده، حاصل يې دا دی چې که دوه خلک د غلا اقرار وکړي، بيا په دوی کې يو ووايي چې "دا مسروق مال خو زما مال وو" نو د هغه دعوىٰ به صحيح وي او د دې دعوې په وجه به د يوه لاس هم نه پرېکول کيږي، يعني نه به د دې راجع سړي لاس پرېکول کيږي (چې هغه د غلا انکار کړی دی او مسروق مال يې خپل ملکيت ګڼلی دی) او نه به د هغه د ملګري لاس پرېکول کيږي. ځکه چې د راجع په حق کې د قطعُ اليد په سقوط کې رجوع عامل ده او دا رجوع د هغه د ملګري په حق کې د غلا د نشتوالي شبهه پيدا کوي. ځکه چې غلا د دواړو په مشترک اقرار سره ثابته سوې وه. لهذا د يوه د انکار او رجوع په وجه به په غلا کې ضعف او شبهه پيدا سي او دا انکار او رجوع به د دواړو په حق کې د قطعُ اليد په سقوط کې مؤثر وي.

(٣)... که دوه خلک په ګډه غلا وکړي بيا په دوی کې يو غائب سي. او دوه ګواهان د دوی پر غلا ګواهي هم ورکړي، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز او د امام صاحب په آخري قول کې به د دغه (حاضر) غله لاس پرېکول کيږي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول دا دی چې د حاضر غله لاس به نه پرېکول کيږي. د دې قول دليل دا دی چې که غائب غل حاضر وای نو دا احتمال وو چې هغه به يو داسي دعوىٰ کړې وای چې په هغه سره به په سرقه کې شک او شبهه پيدا سوې وای. او د شبهې په وجه به له غائب او حاضر دواړو څخه حدّ ساقطېدای، لهذا د دې احتمال په وجه به د حاضر غله لاس نه پرېکول کيږي. او د آخري قول دليل دا دی چې قضاء على الغائب جائز نه ده (يعني د غائب په خلاف فيصله کول جائز نه دي)، نو ځکه به د غائب غيبوبت د هغه په حق کې د سرقې له ثبوت څخه مانع وي، لهذا په دې حواله سره به هغه د حاضر او موجود غله په حق کې معدوم شمارل کيږي، او د موجود په حق کې معلوم کس شبهه نه سي پيدا کولای، او بيا دا يو وهمي شبهه ده چې "که غائب

حاضر وای نو کېداسي چي په غلا کي به يې د شبهې دعوىٰ کړې واى". او مخکي دا خبره تېره سوه چي موهومُ الوجود (وهمي) شبهې لره هيڅ اعتبار نسته. لهذا په دې حواله سره به هم د غائب غيبوبت فقط د هغه په حق کي مؤثر وي او د حاضر په حق کي به د هغه غيبوبت لره هيڅ أثر او اغېز نه وي. نو ځکه به د حاضر لاس پرېکول کيږي.

(۴)... که يو محجور غلام دا اقرار وکړي چي ما له فلانکي شخصه لس دراهم غلا کړه. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د هغه لاس پرېکول کيږي او مسروقه دراهم به مالک ته ورکول کيږي. د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله رايه دا ده چي که چيري مالک د غلام تکذيب وکړي او دا ووايي چي "دا خو زما دراهم دي" نو د غلام لاس به نه پرېکول کيږي او هغه دراهم به مالک ته ورکول کيږي. لېکن که دا غلام مأذون وي (يعني مالک د کاروبار اجازه ورکړې وي). يا دا چي دا غلام د غير متعينو دراهمو اقرار وکړي (يعني دراهم معلوم نه کړي چي ما دومره دراهم غلا کړه). نو په دې صورتونو کي به بالاتفاق د هغه لاس پرېکول کيږي. (بناية ج:۶، ص:۴۵۴)

که غلام د غلا اقرار وکړي (تفصيلي بياب)

وَلَوْ أَقَرَّ بِسَرِقَةِ مَالٍ مُسْتَهْلَكٍ او که محجور غلام د هلاک سوي مال د غلا کولو اقرار وکړي قُطِعَتْ يَدُهُ نو د هغه لاس به پرېکول کيږي وَلَوْكَانَ الْعَبْدُ مَأْذُونًا لَهُ او که غلام مأذون وي ايعني د تجارت او کاروبار اجازه ورکول سوې وي ا يُقْطَعُ فِي الْوَجْهَيْنِ نو په دواړو صورتونو کي به د هغه لاس پرېکول کيږي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُقْطَعُ فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په ټولو صورتونو کي به د هغه لاس نه پرېکول کيږي لِأَنَّ الْأَصْلَ عِنْدَهُ: أَنَّ إِقْرَارَ الْعَبْدِ عَلَى نَفْسِهِ بِالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ لَا يَصِحُّ ځکه چي د امام زفر په نېز قاعده دا ده: چي پر خپل ځان په حدّ يا قصاص سره د غلام اقرار کول صحيح نه دي لِأَنَّهُ يَرِدُ عَلَى نَفْسِهِ وَطَرَفِهِ ځکه چي دا اقرار د غلام پر نفس يا د هغه پر اندام واردېږي وَكُلُّ ذٰلِكَ مَالُ الْمَوْلَى او دا ټوله د مالک مال دي ااو د هغه په ملکيت کي دي ا وَالْإِقْرَارُ عَلَى الْغَيْرِ غَيْرُ مَقْبُولٍ او د بل چا ا د ملکيت ا په خلاف اقرار کول مقبول نه دی إِلَّا أَنَّ الْمَأْذُونَ لَهُ يُؤَاخَذُ بِالضَّمَانِ وَالْمَالِ لېکن مأذون غلام به په ضمان او مال سره نيول کيږي لِصِحَّةِ إِقْرَارِهِ بِهِ ځکه چي د مال په هکله د هغه اقرار صحيح دی لِكَوْنِهِ مُسَلَّطًا عَلَيْهِ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي هغه د مالک له طرفه پر مال ايعني پر تجارت او

كاروبارا ګومارل سوی دی وَالْمَحْجُورُ عَلَيْهِ لَا يَصِحُّ إِقْرَارُهُ بِالْمَالِ أَيْضًا او د محجور غلام اقرار بالمال هم صحيح نه دی وَنَحْنُ نَقُولُ: يَصِحُّ إِقْرَارُهُ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ آدَمِيٌّ او موږ وايو: چې د انسان کېدلو په حيثيت سره د هغه اقرار صحيح دی ثُمَّ يَتَعَدَّى إِلَى الْمَالِيَّةِ بيا به دا اقرار د ماليت [مال کېدلو] طرف ته متعدي کيږي فَيَصِحُّ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ مَالٌ نو د مال کېدلو په حيثيت سره به دا اقرار صحيح کيږي وَلِأَنَّهُ لَا تُهْمَةَ فِي هٰذَا الْإِقْرَارِ او ځکه چې په دې اقرار کې هيڅ تهمت نسته لِمَا يَشْتَمِلُ عَلَيْهِ مِنَ الْأَضْرَارِ ځکه چې دا قرار پر نقصانونو مشتمل دی وَمِثْلُهُ مَقْبُولٌ عَلَى الْغَيْرِ او داسې اقرار کول د بل چا [د ملکيت] په حق کې [هم] مقبول دی لِمُحَمَّدٍ فِي الْمَحْجُورِ عَلَيْهِ: أَنَّ إِقْرَارَهُ بِالْمَالِ بَاطِلٌ په محجور غلام کې د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د هغه د مال اقرار کول باطل دي وَلِهٰذَا لَا يَصِحُّ مِنْهُ الْإِقْرَارُ بِالْغَصْبِ همدا وجه ده چې د هغه له طرفه د غصب اقرار کول صحيح نه دي فَيَبْقَى مَالُ الْمَوْلَى نو ځکه به هغه [مسروق مال] د مالک مال پاتې سي وَلَا قَطْعَ عَلَى الْعَبْدِ فِي سَرِقَةِ مَالِ الْمَوْلَى او د مالک د مال په غلا کولو سره پر غلام قطع اليد نه واجبيږي يُؤَيِّدُهُ أَنَّ الْمَالَ أَصْلٌ فِيهَا وَالْقَطْعُ تَابِعٌ دا د دې تائيد کوي چې په سرقه کې مال أصل دی او قطع تابع ده حَتَّى تُسْمَعَ الْخُصُومَةُ فِيهِ بِدُونِ الْقَطْعِ تر دې چې په مال کې له قطع څخه بغير [هم] خصومت اورېدل کيږي وَيَثْبُتُ الْمَالُ دُونَهُ او له قطع څخه بغير [هم] مال ثابتيږي وَفِي عَكْسِهِ لَا تُسْمَعُ وَلَا يَثْبُتُ او د دې په برعکس کې خصومت نه اورېدل کيږي او [قطع] نه ثابتيږي [يعني له مال څخه بغير محض په قطعُ اليد کې نه خصومت اورېدل کيږي او نه له مال څخه بغير قطعُ اليد ثابتيږي] وَإِذَا بَطَلَ فِيمَا هُوَ الْأَصْلُ بَطَلَ فِي التَّبَعِ او کله چې په اصل کې اقرار باطل سو نو په تابع کې به [هم] اقرار باطليږي بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ په خلاف د مأذون غلام لِأَنَّ إِقْرَارَهُ بِالْمَالِ الَّذِي فِي يَدِهِ صَحِيحٌ ځکه کوم مال چې د ده په قبضه کې دی د هغه په هکله د ده اقرار صحيح دی فَيَصِحُّ فِي حَقِّ الْقَطْعِ تَبَعًا لهذا د قطع په حق کې به تبعاً د ده اقرار صحيح کيږي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ أَقَرَّ بِشَيْئَيْنِ: بِالْقَطْعِ وَهُوَ عَلَى نَفْسِهِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې محجور غلام د دوو شيانو اقرار کړی دی: ① يو د قطع اليد. او دا د خپل ځان په خلاف د هغه اقرار دی فَيَصِحُّ عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ نو

لهذا دا اقرار به صحيح كيږي لكه اوس اچي موږ بيان كړي وَبِالْمَالِ وَهُوَ عَلَى الْمَوْلَى ② او بل هغه د مال اقرار كړى دى. او دا د اخپل ا مالك په خلاف د هغه اقرار دى فَلَا يَصِحُّ فِي حَقِّهِ فِيهِ لهذا د مالك په حق كي به دا اقرار نه صحيح كيږي وَالْقَطْعُ يُسْتَحَقُّ بِدُونِهِ او له مال څخه بغير اهم ا قطعُ اليد ثابتيږي كَمَا إِذَا قَالَ الْحُرُّ: اَلثَّوْبُ الَّذِي فِي يَدِ زَيْدٍ سَرَقْتُهُ مِنْ عَمْرٍو لكه يو آزاد سړى چي ووايي: چي هغه جامه كوم چي د زيد په لاس كي ده ما هغه له عمرو څخه غلا كړې ده وَزَيْدٌ يَقُولُ: هُوَ ثَوْبِي او زيد ووايي: چي دا جامه زما ده اهغه له عمرو څخه نه ده غلا كړې ا يُقْطَعُ يَدُ الْمُقِرِّ نو د اقرار كونكي آزاد سړي ا لاس به پرېكول كيږي وَإِنْ كَانَ لَا يُصَدَّقُ فِي تَعْيِينِ الثَّوْبِ كه څه هم د جامې په تعيين كي به د هغه تصديق نه كيږي حَتَّى لَا يُؤْخَذَ مِنْ زَيْدٍ تر دې چي هغه جامه به له زيد څخه نه اخيستل كيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْإِقْرَارَ بِالْقَطْعِ قَدْ صَحَّ مِنْهُ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي په قطع سره د غلام اقرار كول صحيح دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى فَيَصِحُّ بِالْمَالِ بِنَاءً عَلَيْهِ نو پر هغه په بناء كولو سره به په مال سره د غلام اقرار كول اهم ا صحيح وي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ يُلَاقِي حَالَةَ الْبَقَاءِ ځكه چي اقرار د بقاء د حالت سره متصل كيږي وَالْمَالُ فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ تَابِعٌ لِلْقَطْعِ او د بقاء په حالت كي مال د قطع تابع كيږي حَتَّى تَسْقُطَ عِصْمَةُ الْمَالِ بِاعْتِبَارِهِ تر دې چي د قطع په اعتبار سره د مال عصمت احفاظت ا ساقطيږي وَيُسْتَوْفَى الْقَطْعُ بَعْدَ اسْتِهْلَاكِهِ او تر استهلاك وروسته اهم ا قطع حاصليداى سي بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْحُرِّ په خلاف د آزاد سړي د مسئلې لِأَنَّ الْقَطْعَ إِنَّمَا يَجِبُ بِالسَّرِقَةِ مِنَ الْمُودَعِ ځكه چي قطعُ اليد له مودَع څخه د غلا كولو په وجه واجبيږي أَمَّا لَا يَجِبُ بِسَرِقَةِ الْعَبْدِ مَالَ الْمَوْلَى ليكن د مالك د مال په غلا كولو سره ا پر غلام ا قطعُ اليد نه واجبيږي فَافْتَرَقَا لهذا دا دواړه ايو له بل څخه ا جلا سول وَلَوْ صَدَّقَهُ الْمَوْلَى او كه مالك د غلام تصديق وكړي يُقْطَعُ فِي الْفُصُولِ كُلِّهَا نو په دې ټولو صورتونو كي به د هغه لاس پرېكول كيږي لِزَوَالِ الْمَانِعِ ځكه چي مانع ختم سو.

اللغات: ﴿مُسْتَهْلَكٌ﴾ د استفعال اسمِ مفعول دی: په خپله هلاک کړی سوی، ضایع کړی سوی. ﴿خُصُوْمَة﴾ دعویٰ، تنازع. ﴿مُوْدَعٌ﴾ هغه کس چي بل چا امانت ورته ایښی وي (امانت ساتونکی).
﴿فُصُوْل﴾ جمع د فَصْلٌ ده: د دې لفظ ډېري معناوي دي. دلته يې معنیٰ ده: حالت، صورت.

تشریح: تر دې مخکي د محجور غلام د اقرار په هکله یوه مسئله بیان سوه. دا ټوله عبارت هم د هغه سره متعلق او مربوط دی. حاصل یې دا دی که محجور غلام د هلاک سوي مال د غلا کولو اقرار وکړي. نو د هغه لاس به پرېکول کیږي، او که چیري غلام مأذون فی التجاره وي. نو برابره ده مال موجود وي یا مستهلک او معدوم وي، په دې دواړو صورتونو کي به د هغه لاس پرېکول کیږي. دا ټوله تفصیل زموږ د امامانو په نېز دی. د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي په دې ټولو صورتونو کي به د مُقر غلام لاس نه پرېکول کیږي، برابره ده هغه محجور وي یا مأذون وي او برابره ده مال موجود وي یا معدوم وي.
د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز قاعده او ضابطه دا ده چي د حد او قصاص په هکله پر خپل ځان د غلام اقرار معتبر نه دی، ځکه چي د قصاص اقرار د هغه پر ذات واردیږي او د حدّ اقرار د هغه پر اندام یعني پر لاس واقع کیږي، او د غلام نفس (ذات) او د هغه اندام دواړه د هغه د مالک په ملکیت کي دي، او د بل چا د مال (او ملکیت) په خلاف اقرار کول نه قبلیږي. لیکن که مُقر غلام مأذون وي او مسروق مال هلاک سوی وي نو هغه به د دې مال ضامن وي او که مسروق مال موجود وي نو د هغه په واپسي سره به دا مأذون غلام نیول کیږي (یعني هغه به له مأذون غلام څخه واپس اخیستل کیږي)، ځکه چي د مأذون غلام له طرفه د مال اقرار کول صحیح دي، ځکه چي مأذون غلام د مالک له طرفه پر تجارت او کاروبار کولو ګومارل کیږي، نو ځکه به د هغه اقرار صحیح وي، لیکن د محجور غلام له طرفه د مال اقرار کول (اقرار بالمال) هم صحیح نه دی، نو ځکه به د هغه لاس هم نه پرېکول کیږي (ځکه کله چي د هغه اقرار صحیح نه دی، نو لاس به یې په کوم دلیل سره پرېکول سي!)

زموږ له طرفه امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب دا دی چي د محجور غلام اقرار د هغه د انسان کېدلو په وجه صحیح دی او کله چي مِن حیث الإنسان د هغه اقرار صحیح دی نو مِن حیث المال به هم د هغه اقرار صحیح وي، ځکه چي انسانیت (انسان کېدل) له مالیت (مال کېدلو) څخه جلا او علیحده نه وي او ځکه چي په داسي اقرار کي هیڅ تهمت نه وي، ځکه چي په دې کي د مُقر یعني د غلام نقصان دی. ځکه چي په قطعُ الید سره هغه ته رسېدونکی نقصان د مالک د مال له نقصان څخه ډېر سخت او اعلیٰ دی. او په کوم اقرار کي چي د مُقر نفع نه وي هغه قبلیږي.

لمحمد إلخ: د محجور غلام د لاس نه پرېکولو په هکله د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د محجور غلام له طرفه اقرار بالمال باطل دی. همدا وجه ده چې د هغه له طرفه د غصب اقرار صحيح نه دی. او کله چې د محجور غلام اقرار بالمال باطل او غير صحيح دی. نو مسروق مال به فقط د مالک مال وګرځي (او هغه به فقط د مالک مال وي) او غلام که چيرې له مالک څخه غلا وکړي نو پر هغه قطعُ اليد نه واجبيږي. ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مال أصل دی او قطعُ اليد تابع ده. همدا وجه ده چې له قطعُ اليد څخه بغير هم د مال په هکله خصومت اوريدل کيږي او له قطعُ اليد څخه بغير هم مال ثابتيږي حالانکي له مال څخه بغير نه په قطعُ اليد کي خصومت اوريدل کيږي او نه قطعُ اليد ثابتيږي. لنډه دا چې دا خبره ثابته سوه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مال أصل دی او قطع تابع ده. او کله چې په أصل يعني په مال کي د محجور غلام اقرار معتبر نه دی نو په قطع کي به په طريقه اولیٰ سره د هغه اعتبار نه کيږي. د دې په خلاف که مُقر غلام "مأذون" وي (يعني د کاروبار اجازه ورکول سوې وي)، نو د هغه په قبضه کي به د موجود مسروق مال په هکله د هغه اقرار صحيح وي. او کله چې د مال په حق کي د هغه اقرار صحيح دی کوم چې اصل دی، نو د تابع يعني د قطعُ اليد په حق کي به هم د هغه اقرار صحيح وي.

ولأبي يوسف إلخ: د امام ابو يوسف دليل دا دی چې محجور غلام د لسو درهمو د غلا په اقرار سره په حقيقت کي د دوو خبرو اقرار وکړی: ① د قطعُ اليد. ② د مال. او د قطعُ اليد اقرار د هغه د ذات سره متعلق دی. لهذا دا اقرار به صحيح وي. او د مال اقرار د هغه د مالک سره متعلق دی. کوم چې اقرار علی الغير دی، او اقرار علی الغير معتبر نه دی. لهذا د مال په حواله سره به د دې غلام اقرار معتبر نه وي. او د قطعُ اليد والا اقرار به معتبر وي. ځکه چې له مال څخه بغير هم قطعُ اليد ثابتيږي. د دې مثال دا دی لکه يو آزاد سړی چې داسي ووايي "د زيد سره چې کومه جامه ده. هغه ما له عمرو څخه غلا کړې ده". ليکن زيد ووايي چې "دا زما خپله جامه ده". نو دلته که څه هم د جامې په هکله د زيد مؤاخذه نه کيږي او له زيد څخه به جامه نه اخيستل کيږي، ليکن د غلا د اقرار په وجه به د آزاد مُقر سړي لاس پرېکول کيږي. همداسي به په دې مسئله کي هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د غلام لاس پرېکول کيږي او د کوم مال د غلا کولو اقرار چې غلام کړی دی هغه به د مالک وي. نه د مسروق منهُ.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب دليل دا دی چې من حيث الإنسان د غلام د قطعُ اليد اقرار صحيح دی، او څرنګه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز قطعُ اليد أصل دی او مال تابع دی. لهذا کله چې د أصل يعني د قطعُ اليد په هکله د غلام اقرار صحيح دی نو د تابع يعني د مال په حق کي به هم د هغه اقرار

صحيح وي. ځکه چي اقرار د سرقې (غلا) د بقاء د حالت سره متصل کيږي او د بقاء په حالت کي مسروق مال د قطعُ اليد تابع کيږي او د قطعُ اليد په وجه د مسروق مال عصمت هم ختميږي. ځکه چي ضمان او قطع دواړه جمع کېدای نه سي. لنډه دا چي دا خبره ثابته سوه چي قطع أصل دی او مال تابع دی. او څرنګه چي په قطع کي د محجور غلام اقرار معتبر دی. لهذا د مال په هکله به هم د ده اقرار معتبر وي او هغه مال به مسروق منهٗ ته واپس کول کيږي.

د دې په خلاف د آزادي سرې د اقرار مسئله ده. نو په دې مسئله سره د غلام په مسئله کي دليل نيول صحيح نه دی (لکه څرنګه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دلیل په نيولی دی). ځکه چي د قطع اليد لپاره له مالک څخه د سارق غلا کول ضروري نه دي (يعني دا ضروري نه دي چي غله به له مالک څخه مال غلا کړی وي). بلکي که آزاد سړي له مُودَع څخه مال غلا کړي نو بيا به هم پر هغه قطعُ اليد واجبيږي حالانکي مُودَع فقط د امانت مال أمين (او ساتونکی) وي مالک يې نه وي. او که چيري غلام له خپل مالک څخه مال غلا کړي نو پر هغه قطعُ اليد نه واجبيږي. نو په دې وجه د آزاد سړي او غلام په سرقه کي فرق دی. لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

او که مالک د غلام تصديق وکړي او ووايي چي "مسروق مال زما مال نه دی. بلکي غلام د بل چا مال غلا کړی دی". نو په پورتني ټولو صورتونو کي به د هغه لاس پرېکول کيږي. ځکه چي په قطعُ اليد کي محض د مالک د حق او د مالک د مال په وجه تردّد او شک وو. او د مالک په تصديق سره دا تردّد ختم سو. لهذا اوس د قطعُ لاره بالکل صفا او خلاصه سوه. نو په دې وجه به اوس په ټولو صورتونو کي د غلام لاس پرېکول کيږي.

د مسروق مال احكام

قَالَ: وَإِذَا قُطِعَ السَّارِقُ وَالْعَيْنُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ فرمايي: که چيري ـ غله لاس پرېکول سي او (مسروق) مال د هغه سره موجود وي رُدَّتْ إِلَى صَاحِبِهَا نو هغه مال به د خپل مالک ته واپس کيږي لِبَقَائِهَا عَلَى مِلْكِهِ ځکه چي هغه (تر اوسه) د ده پر ملکيت پاته دی وَإِنْ كَانَتْ مُسْتَهْلَكَةً او که هغه مال هلاک سوی وي لَمْ يَضْمَنْ نو غل به د هغه نه ضامن کيږي وَهٰذَا الْإِطْلَاقُ يَشْمَلُ الْهَلَاكَ وَالْاِسْتِهْلَاكَ او دا إطلاق (په خپله) هلاکېدلو او (قصداً) هلاکولو دواړو ته شامل دی وَهُوَ رِوَايَةُ أَبِي يُوسُفَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ همدا له امام صاحب څخه د امام ابو يوسف روايت دی وَهُوَ الْمَشْهُورُ او همدا مشهور دی وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْهُ: أَنَّهُ يَضْمَنُ بِالْاِسْتِهْلَاكِ او حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روايت کړی

دی: چي په هلاکولو سره به غل ضامن کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَضْمَنُ فِيهِمَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي به غل ضامن کيږي لِأَنَّهُمَا حَقَّانِ قَدْ اخْتَلَفَ سَبَبَاهُمَا ځکه چي قطع او ضمان دواړه [داسي] حقونه دي چي د دوی اسباب سره جلا دي فَلَا يَمْتَنِعَانِ لهذا دوی به دواړه نه ممتنع کيږي فَالْقَطْعُ حَقُّ الشَّرْعِ نو قطع د شريعت حق دی وَسَبَبُهُ تَرْكُ الِانْتِهَاءِ عَمَّا نُهِيَ عَنْهُ او د هغه سبب له منع کړی سوي شي څخه د منع پرېښوول دي وَالضَّمَانُ حَقُّ الْعَبْدِ او ضمان د بنده حق دی وَسَبَبُهُ أَخْذُ الْمَالِ او د هغه سبب مال اخيستل [اغلا کول] دي فَصَارَ كَاسْتِهْلَاكِ صَيْدٍ مَمْلُوكٍ فِي الْحَرَمِ نو داسي سو لکه په حرم کي [ديو چا] مملوک ښکار هلاکول أَوْ شُرْبِ خَمْرٍ مَمْلُوكَةٍ لِذِمِّيٍّ يا لکه د ذمي مملوکه شراب چيښل وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1]: لَا غُرْمَ عَلَى السَّارِقِ بَعْدَ مَا قُطِعَتْ يَمِينُهُ زموږ دليل د نبي ﷺ دا ارشاد دی: چي کله د غله راسته لاس پرېکول سي نو [بيا] پر هغه تاوان [ضمان] نسته وَلِأَنَّ وُجُوبَ الضَّمَانِ يُنَافِي الْقَطْعَ او ځکه چي د ضمان وجوب د قطعُ اليد منافي دی لِأَنَّهُ يَتَمَلَّكُهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ مُسْتَنِدًا إِلَى وَقْتِ الْأَخْذِ ځکه چي د ضمان په اداء کولو سره د اخيستلو [اغلا کولو] د وخت وطرف ته په منسوب کېدلو سره غل د هغه [مسروق] مال جوړېږي فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ نو ښکاره به سي چي غلا د هغه په ملکيت کي واقع سوه فَيَنْتَفِي الْقَطْعُ لِلشُّبْهَةِ لهذا د دې شبهي په وجه به قطع منتفي کيږي وَمَا يُؤَدِّي إِلَى انْتِفَائِهِ فَهُوَ الْمُنْتَفِي او کوم شی چي د قطع د منتفي کېدلو سبب جوړېږي نو هغه به [هم] منتفي وي وَلِأَنَّ الْمَحَلَّ لَا يَبْقَى مَعْصُومًا حَقًّا لِلْعَبْدِ او ځکه چي محل د بنده د حق جوړېدلو په توګه معصوم نه پاتيږي إِذْ لَوْ بَقِيَ لَكَانَ مُبَاحًا فِي نَفْسِهِ ځکه که هغه معصوم پاته سي نو په خپل ذات کي به هغه مباح [روا] وي فَيَنْتَفِي الْقَطْعُ لِلشُّبْهَةِ نو د دې شبهي په وجه به [هم] قطع منتفي کيږي فَيَصِيرُ مُحَرَّمًا حَقًّا لِلشَّرْعِ كَالْمَيْتَةِ لهذا د مړه سوي څاروی په څير به د شريعت د حق جوړېدلو په توګه هغه حرام وګرځي وَلَا ضَمَانَ فِيهِ او په هغه کي به هيڅ ضمان نه وي إِلَّا أَنَّ الْعِصْمَةَ لَا يَظْهَرُ سُقُوطُهَا فِي حَقِّ الِاسْتِهْلَاكِ خو د استهلاک [هلاکولو] په حق کي به د

---

[1] تخريج: رواه النسائي، رقم الحديث: ٤٩٨٤.

عصمت ساقطيدل نه ښكاره كيږي لِأَنَّهُ فِعْلٌ آخَرُ غَيْرُ السَّرِقَةِ ځكه چي استهلاک له سرقې څخه بغير بل [عليحده] فعل دى وَلَا ضَرُورَةَ فِي حَقِّهِ او د هغه په حق كي [د عصمت د سقوط] هيڅ ضرورت نسته وَكَذَا الشُّبْهَةُ تُعْتَبَرُ فِيمَا هُوَ السَّبَبُ دُونَ غَيْرِهِ همدارنګه شبهه به هم [فقط] په سبب كي معتبره كيږي، نه په غيرِ سبب كي وَوَجْهُ الْمَشْهُورِ: أَنَّ الِاسْتِهْلَاكَ إِتْمَامُ الْمَقْصُودِ د مشهور روايت دليل دا دى: چي هلاكول [په حقيقت كي] د غلا پوره كول دي ايعني په استهلاک سره د سرقې پوره كول مطلوب وي] فَتُعْتَبَرُ الشُّبْهَةُ فِيهِ لهذا په هغه كي به د شبهي اعتبار كيږي وَكَذَا يَظْهَرُ سُقُوطُ الْعِصْمَةِ فِي حَقِّ الضَّمَانِ همدارنګه به د ضمان په حق كي هم د عصمت سقوط ښكاره كيږي لِأَنَّهُ مِنْ ضَرُورَاتِ سُقُوطِهَا فِي حَقِّ الْهَلَاكِ ځكه چي هغه د هلاک په حق كي د سقوط له ضرورياتو څخه دى لِانْتِفَاءِ الْمُمَاثَلَةِ د مماثلت [او مشابهت] د نشتوالي په وجه.

اللغات: ﴿غُـرْم﴾ جرمانه، تـاوان، ﴿يَتَمَلَّكُـه﴾ د تفعّل مضارع ده: د يـو شي مالک كېدل، مالک جوړيدل، ﴿مَيْتَة﴾ مردار سوى حيوان او څاروى (مړ سوى څاروى)، ﴿إِتْمَام﴾ د افعال مصدر دى: پوره كول، ﴿سُقُوط﴾ ساقطيدل، لويدل، ﴿مُمَاثَلَة﴾ يو شى د بل شي مثل كېدل، مشابهت، ورته والى.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د غله تر لاس پرېكولو وروسته به دا پوښتنه او پلټنه كيږي چي مسروق مال د ده سره موجود دى، كه نه؟ كه چيري موجود وي نو هغه مال به خپل مالک يعني مسروق منهٗ ته واپس كيږي، او كه چيري موجود نه وي، بلكي غله هغه هلاک كړى او ضايع كړى وي يا هغه په خپله هلاک سوى وي نو پر غله به د هغه ضمان نه واجبيږي، دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دى او همدا مشهور روايت دى، له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله روايت دا دى چي كه سارق هغه هلاک كړى وي نو پر هغه به ضمان واجبيږي. ليكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به په دواړو صورتونو كي پر هغه ضمان واجبيږي برابره ده مال په خپله هلاک سوى وي او كه غله هلاک كړى وي.

د امام شافعي دليل: دا دى چي قطعُ اليد او ضمان دواړه جلا، جلا حقونه دي او په دوو جلا، جلا سببونو سره ثابت دي، لهذا د يوه په وجه به بل حق نه ممتنع كيږي. د دې نور تفصيل دا دى چي قطعُ اليد د شريعت حق دى، ځكه چي شريعت د غلا نه كولو حكم كړى دى، ليكن د دې حكم پر مخالفت

كولو شريعت سارق ته دا سزا (قطعُ اليد) وركړه. د دې په خلاف ضمان د بنده حق دی او د ضمان د وجوب سبب دا دی چې انسان د بل چا له رضاء څخه بغير د هغه مال واخلي (غلا كړي). او ښكاره خبره ده چې دا دواړه شيان په دوو جلا، جلا سببونو سره ثابت دي. نو ځكه به دواړه مستقل بالذات وي او يو به د بل په وجه نه ممتنع كيږي. د دې مثال داسي دی لكه په حرم كي د بل چا ښكار وژل. دا دوه جلا، جلا جرمه دي. ځكه چې په حرم كي ښكار كول هم ممنوع (حرام) دی او د بل چا ښكار وژل هم ممنوع (حرام) دی. همدارنګه د ذمي مملوكه شراب چيښل هم دوه جلا، جلا جرمه دي. لنډه دا چې په دې دواړو صورتونو كي به د جزم د جلا كېدلو په وجه دوې جلا، جلا سزاوي واجبيږي. همدغسي به په دې مذكوره مسئله كي هم د جرم د جلا كېدلو په وجه سزاء جلا او مختلفه كيږي.

زموږ دليل: دا حديث دی "لا غرم على السارق بعد ما قطعت يمينه". په دې حديث كي په ښكاره الفاظو سره دا خبره ذكر سوې ده چې قطعُ اليد د غله كامله سزا ده او تر قطع وروسته به پر هغه ضمان او تاوان نه واجبيږي.

زموږ عقلي دليل دا دی چې د ضمان د اداء كولو صورت كي به د فقهي قاعدې مطابق سارق د غلا له وخت څخه د مسروق مال مالک وګرځي. لهذا تر قطع وروسته به پر هغه ضمان واجبېدل داسي وي لكه د خپل مال اخيستلو په وجه پر هغه ضمان واجبېدل حالانكي دا صحيح نه دي. نو په دغه حواله سره قطعُ اليد پر سارق باندي د ضمان په واجبېدلو كي شک او شبهه پيدا كړه. او د شبهې په وجه حدّ يعني قطعُ اليد منتفي كيږي. او دغه انتفاء د ضمان د وجوب په سبب لازميږي. نو ځكه موږ وايو چې ضمان به منتفي كيږي او پر غله به نه واجبيږي (مطلب دا چې كه ضمان واجب كړی سي نو په ناحقه توګه به قطعُ اليد واقع سي او منتفي به سي، نو ځكه به ضمان نه واجبيږي). د دې سلسلې يو دليل دا هم دی چې مسروق مال د بنده حق جوړ سو او معصوم پاته نه سو. ځكه كه موږ هغه معصوم ومنو. نو هغه مال به فی نفسه مباح وګرځي او د إباحت د شبهې په وجه به د قطعُ اليد حكم منتفي سي. لهذا دا مال به فی نفسه مباح نه ګرځي او د بنده د حق په وجه به معصوم نه وي. ها! د شريعت د حق په وجه به حرام وي لكه مړ سوی ښاروی چې د شريعت د حق په وجه حرام دی. او كوم شی چې د شريعت د حق په وجه حرام وي په هغه كي ضمان نه واجبيږي. لهذا په دې كي به هم ضمان نه واجبيږي.

إلّا أن العصمة إلخ: په دې عبارت سره د يو مقدّر سوال جواب وركوي. سوال دا دی چې كله ستاسو په قول د مسروق مال عصمت د الله وطرف ته منتقل سو نو د هلاكولو (او قصداً ضايع كولو) په صورت كي د هغه ضمان واجبېدل پكار نه دي حالانكي د حسن بن زياد په روايت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د استهلاک په صورت كي د هغه ضمان واجب سوی دی؟ د دې په جواب كي فرمايي چې د استهلاک په حق كي به د

عصمت د سقوط ظهور نه کیږي، ځکه چې استهلاک له سرقې ځخه علیحده او جلا فعل دی او څرنګه چې د قطع په حق کې د ضرورت پر بناء عصمت ساقط سوی دی لهذا دا سقوط به د قطعُ الید په وجه د استهلاک په حق کې سرایت نه کوي او استهلاک په صورت کې به سارق ضامن کیږي. او د استهلاک په صورت کې به د مباح فی نفسهٖ شبهه هم نه وي، ځکه چې دا شبهه فقط د قطع په سبب کې یعني په سرقه کې معتبره کیږي نه په غیر سبب کې (مطلب دا چې له سبب ځخه بغیر په بل شي کې به دغه شبهې لره اعتبار نه ورکول کیږي) او څرنګه چې استهلاک د قطعُ الید سبب نه دی، نو ځکه به په دې کې شبهه نه ثابتیږي. لهذا په دې حواله سره به هم د استهلاک په صورت کې پر سارق ضمان واجبیږي.

ووجه المشهور إلخ: د مشهور قول دلیل دا دی چې مسروق مال هلاکول په حقیقت کې د مقصود یعني د غلا پوره کول دي، نو ځکه به په هغه کې د مباح فی نفسهٖ کېدلو شبهه باقي پاته وي همدارنګه به د ضمان په حق کې هم د عصمت سقوط ښکاره کیږي؛ ځکه چې د مال د هلاکېدلو په صورت کې خو به یقیناً عصمت ساقطیږي، ځکه چې د مسروق مال او د ضمان په مینځ کې مماثلت او مشابهت معدوم دی. لنډه دا چې کله د استهلاک په صورت کې عصمت ساقط دی نو ښکاره خبره ده چې دا استهلاک به د ضمان مُوجِب نه وي. نو په دغه وجه د امام صاحب په مشهور روایت کې به هلاک او استهلاک دواړو کې ضمان واجب سوی نه دی.

د ډېرو غلاوو په جزاء کې د یوه حدّ جاري کولو بیان

وَمَنْ سَرَقَ سَرِقَاتٍ او څوک چې څو غلاوې وکړي فَقُطِعَ فِي إِحْدَاهَا او د یوې غلا په جزاء کې د هغه لاس پرېکول سي فَهُوَ لِجَمِيعِهَا نو دا به د ټولو غلاوو له طرفه کافي وي وَلَا يَضْمَنُ شَيْئًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به هغه د هیڅ شي نه ضامن کیږي وَقَالَا[*]: يَضْمَنُ كُلَّهَا إِلَّا الَّتِي قُطِعَ لَهَا صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې هغه به د ټولو غلاوو ضامن کیږي ما سوا له هغه غلا ځخه چې د هغې په عوض کې یې لاس پرېکول سوی وي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ: إِذَا حَضَرَ أَحَدُهُمْ د دې مسئلې معنیٰ دا ده: چې کله له مسروق منهم [مالکانو] ځخه یو سړی حاضر سي فَإِنْ حَضَرُوا جَمِيعًا وَقُطِعَتْ يَدُهُ لِخُصُومَتِهِمْ [لیکن] که ټوله مسروق منهم حاضر سي او د دوی د خصومت [دعویٰ] کولو په وجه د غله لاس پرېکړی سي لَا يَضْمَنُ شَيْئًا بِالِاتِّفَاقِ فِي السَّرِقَاتِ كُلِّهَا نو بالاتفاق به په ټولو غلاوو کې غل نه ضامن کیږي لَهُمَا: أَنَّ الْحَاضِرَ لَيْسَ بِنَائِبٍ عَنِ الْغَائِبِ د صاحبینو دلیل دا دی: چې حاضر

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۳۱)، وكذا في الهندية (ج:۲، ص:۱۸۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۷۱]

د غائب نائب نه دی وَلَابُدَّ مِنَ الْخُصُومَةِ لِتَظْهَرَ السَّرِقَةُ او د غلا د ښکاره کېدلو او ثجر ګند پدلو لپاره خصومت کول ضروري دي فَلَمْ تَظْهَرِ السَّرِقَةُ مِنَ الْغَائِبَيْنِ لهذا د غائبو مسروق منهم په حق کي غلا ښکاره نه سوه فَلَمْ يَقَعِ الْقَطْعُ لَهَا لهذا قطع د هغه غلاوو له طرفه واقع نه سوه فَبَقِيَتْ أَمْوَالُهُمْ مَعْصُومَةً نو د غائبينو أموال معصوم [او محترم] پاته سول وَلَهُ: أَنَّ الْوَاجِبَ بِالْكُلِّ قَطْعٌ وَاحِدٌ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالٰى د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د ټولو غلاوو له طرفه د الله د حق په توګه يوه قطع واجب ده لِأَنَّ مَبْنَى الْحُدُودِ عَلَى التَّدَاخُلِ ځکه چي د حدونو مدار پر تداخل دی وَالْخُصُومَةُ شَرْطٌ لِلظُّهُورِ عِنْدَ الْقَاضِيْ او د قاضي مخته د غلا د ښکاره کېدلو لپاره خصومت کول شرط دي فَإِذَا اسْتَوْفٰى فَالْمُسْتَوْفٰى كُلُّ الْوَاجِبِ لهذا كله چي يو وار قطعُ اليد حاصله سوه [يعني كله چي يو وار د غله لاس پرېکړی سو] نو ټوله واجب حاصل سو أَلَا يَرٰى أَنَّهُ يُرْجِعُ نَفْعُهُ إِلَى الْكُلِّ آيا هغه نه ګوري چي د دې قطع نفع د ټولو وطرف ته راجع کيږي فَيَقَعُ عَنِ الْكُلِّ نو ځکه به د ټولو له طرفه واقع کيږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا كَانَتِ النُّصُبُ كُلُّهَا لِوَاحِدٍ او پر همدغه اختلاف دي كله چي ټوله نصابونه د يوه سړي وي او هغه سړی [فقط] د يوه نصاب په هكله مخاصمه [او دعوی] وکړي.


اللغات: ﴿خُصُوْمَةٌ﴾ دعوی، تنازع. ﴿إِسْتَوْفٰى﴾ د استفعال ماضي ده: حاصلول، اخيستل، ترلاسه كول. ﴿الْمُسْتَوْفٰى﴾ د استفعال اسم مفعول دی: حاصل کړی سوی.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه يو سړی څو غلاوي وکړي او بيا د يوې غلا په جزاء کي د هغه لاس پرېکول سي، نو دا قطع به د ټولو غلاوو له طرفه كافي وي او دويم وار به د هغه لاس نه پرېکول کيږي او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر هغه د يوې غلا ضمان هم نه واجبيږي. لېكن د صاحبينو په نېز چي په کومه غلا کي د هغه لاس پرېکول سوی دی له هغې څخه بغير به نور د ټولو سرقاتو ضمان پر هغه واجبيږي، دا حکم په هغه صورت کي دی كله چي هر يو مسروق منه حاضر نه سي بلكي فقط يو مسروق منه حاضر سوی وی او په خپل خصومت او دعوی سره يې د غله لاس پرېکړی وي. او كه چيري ټوله مسروق منهم حاضر شوي وي او د دوی په خصومت سره د هغه لاس پرېکړی سوی وي نو بيا به بالإتفاق هغه غل د يوې سرقې هم نه ضامن کيږي او همدغه يو وار قطعُ اليد به د ټولو غلاوو له طرفه كافي وي: په مختلف فيه مسئله کي د صاحبينو دليل دا دی چي هغه د ډيرو خلكو مال غلا کړی

دی نو ځکه هر. هر مسروق منهٗ بذات خود خصم (مدعي) دی او ځرنګه چي حاضر د غائبينو له طرفه نائب او خصم نه سي جوړېدای، نو ځکه به د حاضر مخاصمه فقط د هغه د غلا سره متعلق وي او د حاضر ذ مخاصمه په وجه چي کومه قطع واجب سي هغه به فقط د حاضر د سرقې له طرفه کافي کيږي او له هري سرقې ځخه به نه کافي کيږي، نو ځکه به له يوې سرقې ځخه بغير نور د ټولو سرقاتو ضمان پر هغه واجبيږي.

ولہ أن الواجب إلخ د امام صاحب دليل دا دی چي په حُدودو کي تداخل کيږي. نو په دې وجه د ټولو سرقاتو سزا فقط يو وار قطعُ اليد ده کوم چي حقُ الله دی، او فقط يو وار قطع د هري سرقې له طرفه کافي ده لکه ځرنګه چي پر يوه ځای د ټولو مسروق منهم په خصومت کولو سره فقط يو وار قطع کافي کيږي. پاته سوه د هر مسروق منهٗ د خصومت کولو مسئله. نو داشي (يعني د هر يوه خصومت کول) شرط نه دي بلکي دا فقط د قاضي مخته د سرقې د ښکاره کېدلو لپاره شرط دي. او پاته سوه د قطعُ اليد د وجوب مسئله. نو هغه په نفس سرقه سره ثابتيږي. له همدې وجهي يو وار قطعُ اليد د ټولو سرقاتو له طرفه قطع شمارل کيږي او فقط په يوه وار قطعُ اليد سره د قطع نفع يعني انزجار حاصليږي (يعني فقط په يوه وار قطع سره غله ته زجر او تنبيه ورکول کيږي او هغه د آينده لپاره له داسي کار ځخه منع کيږي)، لهذا په دې حواله سره به هم فقط يوه قطع د ټولو له طرفه کافي کيږي.

وعلیٰ هٰذا الخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی که غل ديوه سړي ډېر سامانونه غلا کړي وي او هر. هر سامان د نصاب په اندازه وي (يعني د هر سامان قيمت د لسو درهمو په اندازه وي يا تر دې زيات وي)، او بيا د يوه سامان په عوض کي د هغه لاس پرېکول سي، نو دلته هم د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په مينځ کي دغه اختلاف دی، يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر دغه غله د يوه سامان (نصاب) ضمان هم واجب نه وي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چي په کوم سامان کي د هغه لاس پرېکول سوی دی له هغه ځخه بغير به نور د ټولو نصابونو ضمان پر هغه واجب وي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ مَا يُحْدِثُ السَّارِقُ فِي السَّرِقَةِ

(دا) باب د هغه مسئلو (په بیان کې) دی چې کله غل په غلا کې ترمیم (او تبدیلي) وکړي

له غلا کولو څخه وروسته په شي کې تبدیلي کول

وَمَنْ سَرَقَ ثَوْبًا او څوک چې دیو چا له کور څخه اجامه غلا کړي فَشَقَّهُ فِي الدَّارِ بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ أَخْرَجَهُ وَهُوَ يُسَاوِي عَشَرَةَ دَرَاهِمَ بیا (په هغه کور کې اجامه دوې ټوټې کړي [او] بیا یې دباندې را وباسي او هغه د لسو درهمو سره برابره وي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کیږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ●: أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چې د هغه لاس به نه پرېکول کیږي لِأَنَّ لَهُ فِيهِ سَبَبَ الْمِلْكِ وَهُوَ الْخَرْقُ الْفَاحِشُ ځکه چې په دې جامه کې د ملکیت سبب حاصل دی او هغه ډېر زیات ځیرل دي ایعني جامه دوې ټوټې کول دي ا فَإِنَّهُ يُوجِبُ الْقِيمَةَ وَتَمَلُّكَ الْمَضْمُونِ نو دا قیمت واجبوي او د مضمونه جامې مالک جوړېدل [واجبوي ا وَصَارَ كَالْمُشْتَرِي إِذَا سَرَقَ مَبِيعًا فِيهِ خِيَارٌ لِلْبَائِعِ او دا داسې سو لکه مشتري چې یو داسې مبیع غلا کړي چې په هغه کې بائع لره خیار وي وَلَهُمَا: أَنَّ الْأَخْذَ وُضِعَ سَبَبًا لِلضَّمَانِ لَا لِلْمِلْكِ د طرفینو دلیل دا دی: چې مال اخیستل د ضمان سبب دی نه د ملکیت وَإِنَّمَا الْمِلْكُ يَثْبُتُ ضَرُورَةَ أَدَاءِ الضَّمَانِ كَيْ لَا يَجْتَمِعَ الْبَدَلَانِ فِي مِلْكٍ وَاحِدٍ او ملکیت خو د ضمان اداء کولو د ضرورت په وجه ثابتیږي د دې لپاره چې دوه عوضه دیوه سړي په ملکیت کې جمع نه سي وَمِثْلُهُ لَا يُورِثُ الشُّبْهَةَ او داسې اخیستل " شبهه نه پیدا کوي كَنَفْسِ الْأَخْذِ لکه نفس "اخیستل "اچې مورث للشبهه نه دي ا وَكَمَا إِذَا سَرَقَ الْبَائِعُ مَعِيبًا بَاعَهُ او لکه څرنګه چې بائع یو معیوب شی پر یو چا خرڅ کړي او [بیا] هغه غلا کړي بِخِلَافِ مَا ذُكِرَ په خلاف د هغه صورت کله

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٣١). [القول الراجح ج:١، ص:٢٧٢]

چي د بائع لپاره خيار وي لِأَنَّ الْبَيْعَ مَوْضُوعٌ لِإِفَادَةِ الْمِلْكِ ځکه چي بيع د ملکيت د فايده کولو او ثابتولو لپاره وضع سوې ده وَهٰذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَا اخْتَارَ تَضْمِينَ النُّقْصَانِ وَأَخْذَ الثَّوْبِ او دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي د جامې مالک د نقصان ضمان اخيستل او جامه اخيستل (دواړه) اختيار کړي فَإِنِ اخْتَارَ تَضْمِينَ الْقِيمَةِ وَتَرْكَ الثَّوْبِ عَلَيْهِ لېکن که هغه د قيمت ضمان اخيستل او جامه غله ته پرېښوول اختيار کړي لَا يُقْطَعُ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق به د غله لاس نه پرېکول کېږي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ مُسْتَنِدًا إِلَى وَقْتِ الْأَخْذِ ځکه چي د "اخيستلو" د وخت و طرف ته په منسوب کېدلو سره غل د هغې (جامې) مالک سو فَصَارَ كَمَا إِذَا مَلَكَهُ بِالْهِبَةِ نو دا داسي سو لکه د هبه په ذريعه چي غل د هغې مالک سوی وي فَأَوْرَثَ شُبْهَةً لهذا دې شبهه پيدا کړه وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ النُّقْصَانُ فَاحِشًا او دا ټوله تفصيل په هغه صورت کي دی کله چي نقصان زيات وي فَإِنْ كَانَ يَسِيرًا لېکن که نقصان کم وي يُقْطَعُ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق به د غله لاس پرېکول کېږي لِانْعِدَامِ سَبَبِ الْمِلْكِ ځکه چي (په دې صورت کي) د ملکيت سبب نسته إِذْ لَيْسَ لَهُ اخْتِيَارُ تَضْمِينِ كُلِّ الْقِيمَةِ ځکه چي د مالک لپاره د ټوله قيمت د ضمان اخيستلو حق نسته وَإِنْ سَرَقَ شَاةً فَذَبَحَهَا ثُمَّ أَخْرَجَهَا او که يو شوک (پسه غلا کړي او هغه ذبح کړي بيا يې راوباسي لَمْ يُقْطَعْ نو د هغه لاس به نه پرېکول کېږي لِأَنَّ السَّرِقَةَ تَمَّتْ عَلَى اللَّحْمِ ځکه چي (د هغه) غلا پر غوښو پوره سوه وَلَا قَطْعَ فِيهِ او د غوښو په غلا سره د غله لاس نه پرېکول کېږي.

اللغات: ﴿شَقَّ﴾ د ماضي صيغه ده: څيرل. ﴿مَضْمُوْن﴾ د کوم شي ضمان چي اداء کړی سي. د کوم شي تاوان چي ورکول سي، هغه شي ته "مضمون" وايي. ﴿خَرْق فَاحِش﴾ بد څيرل. زيات څيرل.

﴿شَاة﴾ اسم جنس دی: پسه، بزه او داسي نور ټولو ته وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو شوک د يو چا کور ته ورسي او د هغه يو جامه غلا کړي بيا په هغه کور کي جامه څيري کړي او دوې حصې يې کړي. تر دې وروسته يې دباندي راوباسي او هغه تر څيرلو وروسته د لسو درهمو سره مساوي وي، نو د غله لاس به پرېکول کېږي. او که غله له کور څخه دباندي هغه جامه څيرلې وي نو بالاتفاق به د هغه لاس پرېکول کېږي. هـا! که چيري په کور کي تر څيرلو وروسته هغه جامه د لسو درهمو د قيمت سره مساوي نه وي. نو د غله لاس به نه پرېکول کېږي. (بناية ج: ۶، ص: ۴۶۵)

په دې مسئله کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي د هغه لاس به نه پرېکول کيږي، ځکه کله چي سارق دا جامه څيري کړه نو د څيرلو په وجه هغه د دې جامې د قيمت ضامن سو او کله چي سارق ضمان اداءِ کړي نو هغه به د دې جامې مالک جوړ سي (او جامه به د هغه مال وګرځي) او د خپل مال په غلا کولو سره د انسان لاس نه پرېکول کيږي، د دې مثال دا دی لکه زيد چي له خالد څخه يو شی رانيسي او خالد په هغه شي کي د ځان لپاره خيار شرط ولګوي او بيا د خيار په ورځو کي زيد (مشتري) هغه شی غلا کړي نو د زيد (سارق) لاس به نه پرېکول کيږي، ځکه چي د شراء په وجه زيد لره په دې مبيع شي کي د ملکيت سبب حاصل سو. همدغسي په دې مسئله کي هم چي کله پر سارق ضمان واجب سو، نو هغه لره په مسروق شي (جامه) کي د ملکيت سبب حاصل سو، نو ځکه به د هغه لاس نه پرېکول کيږي.

ولهما إلخ: د طرفينو دليل دا دی چي د غلا په توګه د مال په اخيستلو سره ضمان خو واجبيږي لېکن ملکيت نه ثابتيږي، او ملکيت خو د ضمان اداء کولو د ضرورت پر بناء ثابتيږي، ځکه که تر ضمان اداء کولو وروسته د سارق ملکيت ثابت نه سي نو بدل او مبدل منهٗ دواړه به د مسروق منهٗ (مالک) په ملکيت کي جمع سي او په داسي "اخيستلو" سره په قطعُ اليد کي هيڅ شبهه نه راځي او لکه څرنګه چي فقط د يو چا د مال په غلا کولو سره په قطعُ اليد کي شبهه نه راځي او لکه څرنګه چي د معيوب شي تر خرڅولو وروسته که بائع هغه غلا کړي نو د هغه په قطعُ اليد کي شبهه او تردّد نه راځي. همداسي به په دې مذکوره مسئله کي هم د سارقُ الثوب په قطعُ اليد کي هيڅ شبهه نه وي او د هغه لاس به پرېکول کيږي.

د دې په خلاف کوم صورت چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی يعني کله چي مشتري يو داسي شی غلا کړی چي په هغه شي کي د بائع لپاره خيارِ شرط وي نو دا صورت شبهه پيدا کوي، ځکه چي بيع د ملکيت د إفادې لپاره وضع سوې ده يعني د بيع په ذريعه په رانيول سوي شي کي د مشتري ملکيت ثابتيږي که څه هم د بائع د خيار په وجه د هغه ملکيت په پوره توګه نه ثابتيږي، لېکن څه غوندي خامخا ثابتيږي، او دا څه غوندي ثبوت د شبهې د پيدا کېدلو لپاره کافي دی. لهذا مورث للشبهه د غيرِ مورث للشبهه په تائيد کي وړاندي کول صحيح نه دي.

وهذا الخلاف إلخ: فرمايي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دغه اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي د جامې مالک پر دې خبره راضي سي چي زه د نقصان ضمان اخلم او څيرل سوې جامه هم قبلوم، لېکن که هغه د څيرل سوې جامې په اخيستلو راضي نه سي بلکي فقط د هغې

قيمت اخيستل وغواړي نو د هيڅچا په نيز به هم د سارق لاس نه پرېکول کيږي. او پر سارق به د دې جامې پوره قيمت واجب وي: ځکه چې په دې صورت کې به د "اخيستلو او غلا کولو" له وخت څخه سارق د دغه جامې مالک شمارل کيږي. او دا ملکيت شبهه پيدا کوي او په شبهې سره حدّ ساقطيږي. نو ځکه به په دې صورت کې له سارق څخه حدّ (قطعُ اليد) ساقطيږي. او دا داسې سو لکه تر غلا وروسته چې مالک هغه مسروق مال سارق ته هبه کړي نو په هغه صورت کې له سارق څخه حدّ ساقطيږي. همداسې به په دې کې مسئله هم له سارق څخه حدّ ساقطيږي.

وهذا كله إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې مخکني ټوله تفصيلات د هغه صورت سره متعلق دي کله چې نقصان فاحش او کثير وي. يعني د عين (جامې) يا د عين د منفعت يوه حصه فوت سوې وي. لېکن که نقصان معمولي او کم وي مثلاً ډېر لږ منفعت فوت سوی وي. نو بيا به بالاتفاق د سارق لاس پرېکول کيږي: ځکه چې اوس د سارق په حق کې د ملکيت سبب معدوم دی. ځکه چې په دې صورت کې مالک لره دا اختيار نسته چې له سارق څخه د پوره جامې قيمت واخلي. حالانکې سارق لره د پوره قيمت د ضمان ورکولو په وجه د ملکيت سبب حاصليږي او همداسې ملکيت شبهه پيدا کوي. لهذا کله چې دلته ملکيت معدوم سو نو شبهه هم معدومه سوه. او کله چې شبهه معدومه سوه نو د حدّ د وقوع او نفاذ لاره صفا سوه.

وإن سرق إلخ: مسئله دا ده که غل يو کور ته ورسي او پسه غلا کړي او په هغه کور کې پسه ذبح کړي بيا يې دباندې را وباسي. نو د هغه لاس به نه پرېکول کيږي: ځکه چې دلته سرقه پر غوښو واقع او پوره سوه. او د غوښو سرقه د حدّ مُوجب نه ده.

سره او سپين زر غلا کول او بيا دينار او درهم ځني جوړول (حکم او اختلاف)

> وَمَنْ سَرَقَ ذَهَبًا أَوْ فِضَّةً يَجِبُ فِيهِ الْقَطْعُ او که څوک دومره سره زر يا سپين زر غلا کړي چې په هغه کې قطعُ اليد واجبيږي فَصَنَعَهُ دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيرَ بيا سارق له هغه څخه دراهم يا دنانير جوړ کړي قُطِعَ فِيهِ نو په دې کې به د هغه لاس پرېکول کيږي وَيُرَدُّ الدَّرَاهِمُ وَالدَّنَانِيرُ إِلَى الْمَسْرُوقِ مِنْهُ او هغه دراهم او دنانير به مسروق منهٗ ته واپس کيږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ دا احکام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دي وَقَالَا ❁: لَا سَبِيلَ لِلْمَسْرُوقِ مِنْهُ عَلَيْهِمَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې پر دواړو د مسروق

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما في ذكر في الكنز (ج:٣، ص:١٨٢)، وكذا في شرح الوقاية (ج:٢، ص:١٩٢)، وكذا في فتح القدير (ج:٥، ص:١٧٥). [القول الراجح ج:١، ص:٤٧٣]

منه هیڅ حق نسته وَأَصْلُهُ فِي الْغَصْبِ د دې اصل په کتابُ الغصب کې دی فَهٰذِهِ صَنْعَةٌ مُتَقَوِّمَةٌ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لَهُ نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا جوړښت [او تبدیلي] متقومه ده. په خلاف د امام صاحب رَحِمَهُ الله ثُمَّ وُجُوبُ الْحَدِّ لَا يُشْكِلُ عَلَى قَوْلِهِ بیا د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول د حد وجوب څه مشکل نه دی لِأَنَّهُ لَمْ يَمْلِكْهُ ځکه چې سارق د مسروق مال مالک نه سو وَقِيلَ: عَلَى قَوْلِهِمَا لَا يَجِبُ او ویل سوي دي: چې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله پر قول قطعُ الید نه واجبیږي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ قَبْلَ الْقَطْعِ ځکه چې تر قطع مخکې سارق د هغه مالک سو وَقِيلَ: يَجِبُ او ویل سوي دي: چې قطعُ الید واجبیږي لِأَنَّهُ صَارَ بِالصَّنْعَةِ شَيْئًا آخَرَ ځکه چې د جوړښت [او تبدیلي] په وجه هغه مال په بل شي سره بدل سو فَلَمْ يَمْلِكْ عَيْنَهُ نو مالک د هغه د عین مالک نه سو.

اللغات: ﴿مَسْرُوْق مِنْهُ﴾ هغه کس چې مال څني غلا سوی وي، مراد څني د غلا سوي شي مالک دی. ﴿صَنْعَة﴾ د فتح اسمِ مصدر دی: جوړښت، کاریګري (په یو شي کي لاس وهل او تبدیلي پکښي راوستل). ﴿متقومة﴾ قیمت لرونکی، د قیمت قابل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د لسو درهمو په اندازه سره زر یا سپین زر غلا کړي او له هغه څخه دنانیر یا دراهم جوړ کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به د هغه لاس پرېکول کیږي او هغه دراهم یا دنانیر به مسروق منهٗ (مالک) ته واپس کیږي. او له صاحبینو رَحِمَهُمَا الله څخه د قطعُ الید په هکله دوه قوله نقل سوي دي او د دوی په نیز به دراهم او دنانیر مسروق منهٗ ته نه واپس کیږي. صاحب د هدایې فرمایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دا اختلاف په کتابُ الغصب کي د دوی پر خپل اختلاف مبني دی: نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز سره یا سپین زر په دینار یا درهم سره بدلول متقوّم دي او داسي تبدیلي له عینِ مسروق څخه د مالک حق ختموي. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز تر داسي تبدیلۍ وروسته هم د مالک حق په هغه عین کي باقي پاتیږي. نو په همدې وجه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دنانیر او دراهم مالک ته واپس کیږي. لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به مالک ته نه واپس کیږي.

او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به پر سارق حدّ جاري کیږي، ځکه چې هغه د مسروق مال مالک نه سو چې د ملکیت شک او شبهه پیدا سي او حدّ ساقط سي. له صاحبینو رَحِمَهُمَا الله څخه دوه قوله نقل سوي دي:

①... پر سارق به حدّ نه جاري کیږي، ځکه چې تر قطعُ الید مخکي په مسروق کي د تبدیلۍ او کاریګرۍ په وجه سارق د هغه مال (عین) مالک سو او په دې حواله سره په هغه مال کي د سارق د ملکیت شبهه او سبب پیدا سو.

②... دویم قول دا دی چې پر هغه به حدّ جاري کیږي، ځکه چې د صنعت او کاریګرۍ په وجه په مسروق مال کي زیاته تبدیلي راغله، نو په دې وجه سارق د عینِ مسروق مالک نه سو. بلکي د مصنوع (جوړ کړل سوو دراهمو یا دنانیرو) مالک سو، نو په عین کي د ملکیت د شبهي د نشتوالي په وجه به پر هغه حدّ جاري کیږي.

جامه غلا کول او رنګ ورکول (حکم او اختلاف)

فَإِنْ سَرَقَ ثَوْبًا فَصَبَغَهُ أَحْمَرَ او که [یو څوک] جامه غلا کړي او سور رنګ ورکړي قُطِعَ نو د غله لاس به پرېکول کیږي لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ الثَّوْبُ وَلَمْ يَضْمَنْ قِيمَةَ الثَّوْبِ او له غله څخه به هغه جامه نه اخیستل کیږي او نه به غل د جامې د قیمت ضامن کیږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيفَةَ وَأَبِيْ يُوسُفَ او دا حکم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: يُؤْخَذُ مِنْهُ الثَّوْبُ وَيُعْطٰى مَا زَادَ الصَّبْغُ فِيهِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چې له غله څخه به جامه اخیستل کیږي او په رنګولو سره چې د جامې څومره قمیت اضافه سوی دی هغه به غله ور ته ورکول کیږي اعْتِبَارًا بِالْغَصْبِ پر غصب باندي په قیاس کولو سره وَالْجَامِعُ بَيْنَهُمَا كَوْنُ الثَّوْبِ أَصْلًا قَائِمًا وَكَوْنُ الصِّبْغِ تَابِعًا او د دوی په مینځ کي جامع دا دی چې ثوب أصل دی او موجود دی او رنګ تابع دی وَلَهُمَا: أَنَّ الصِّبْغَ قَائِمٌ صُورَةً وَمَعْنًى او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې رنګ د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره موجود دی حَتّٰى لَوْ أَرَادَ أَخْذَهُ مَصْبُوغًا تر دې که د ثوب مالک د دې رنګول سوو جامو اخیستل وغواړي يَضْمَنُ مَا زَادَ الصِّبْغُ فِيهِ نو د رنګ په وجه چې د دې جامې په قیمت کي څومره اضافه راغلې ده هغه به د دې ضمان ورکوي

۞ القول الراجح: قول الشیخین رَحِمَهُمَا الله، کما ذکر فی رد المحتار (ج:۳، ص:۲۳۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۷۲] .

وَحَقُّ الْمَالِكِ فِي الثَّوْبِ قَائِمٌ صُورَةً لَا مَعْنًى او د مالک حق په جامه کي [فقط] د صورت په اعتبار سره موجود دی، نه د معنیٰ په اعتبار سره أَلَا تَرَى أَنَّهُ غَيْرُ مَضْمُونٍ عَلَى السَّارِقِ بِالْهَلَاكِ آیا ته نه ګوري! چي د هلاکت په وجه دا جامه پر غله باندي مضمونه نه ده [یعني که چیري د غله سره دا جامه هلاکه سي، نو پر هغه ضمان نه واجبیږي] فَرَجَّحْنَا جَانِبَ السَّارِقِ نو ځکه موږ د غله جهت ته ترجیح ورکړه بِخِلَافِ الْغَصْبِ په خلاف د غصب لِأَنَّ حَقَّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا قَائِمٌ صُورَةً وَمَعْنًى ځکه چي په دوی کي د هر یوه حق د صورت او معنیٰ دواړوه په اعتبار سره موجود دی فَاسْتَوَيَا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ نو په دې اعتبار مالک او غاصب دواړه سره برابر سول فَرَجَّحْنَا جَانِبَ الْمَالِكِ نو ځکه موږ د مالک جهت ته ترجیح ورکړه لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَإِنْ صَبَغَهُ أَسْوَدَ او که غل جامې ته تور رنګ ورکړي أُخِذَ مِنْهُ فِي الْمَذْهَبَيْنِ يَعْنِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو په دواړو مذهبونو کي یعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله او امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز به له هغه شخصه جامه اخیستل کیږي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ ❁ هٰذَا وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ لیکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا او اول صورت دواړه برابر دي لِأَنَّ السَّوَادَ زِيَادَةٌ عِنْدَهُ كَالْحُمْرَةِ ځکه چي تور والی هم د سُور والي په شیز زیاتوب [او اضافه] ده د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ زِيَادَةٌ أَيْضًا كَالْحُمْرَةِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز که څه هم تور والی د سور والي په شیر زیاتوب دی وَلٰكِنَّهُ لَا يَقْطَعُ حَقَّ الْمَالِكِ لیکن [بیا هم] له جامې څخه د مالک حق نه ختمیږي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ السَّوَادُ نُقْصَانٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز تور والی کمي [او عیب] دی فَلَا يُوجِبُ انْقِطَاعَ حَقِّ الْمَالِكِ لهذا دا به د مالک د حق ختمول نه ثابتوي.

اللغات: ﴿صَبَغَه﴾ د فتح ماضي ده: رنګول، رنګ ورکول. ﴿أَحْمَر﴾ سور رنګ. ﴿أَسْوَد﴾ تور رنګ.


تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که غل د یو چا جامه غلا کړي او هغې ته سور رنګ ورکړي نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به د غله لاس پرېکول کیږي لیکن هغه جامه به له غله څخه واپس نه اخیستل کیږي او نه به پر غله د هغه ضمان واجبیږي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز به هغه جامه له

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٣٢)، ولكن قال المفتي غلام قادر النعماني: قول أبي يوسف أوفق هذا الزمان، لأن الناس يلبسون السواد، فالسواد والحمرة سواء يعني لا يُردّ إلى المالك. [القول الراجح ج:١، ص:٤٧٥]

غله څخه واپس اخيستل کيږي. او د غله د رنګولو په وجه چې د جامې په قيمت کې څومره اضافه راغلې ده. د هغه اضافې په اندازه قيمت به غله ته واپس ورکول کيږي. لکه څرنګه چې يو څوک ديو چا جامه غصب کړي او هغې ته رنګ ورکړي نو هلته به هم دغه صورت اختيارېږي. او دلته ځکه سرقه او غصب يو پر بل قياس سوي دي چې په دواړو صورتونو کې ثوب أصل دی او قائم دی او رنګ تابع دی. او د تابع په وجه أصل نه فوتيږي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې رنګ ظاهراً هم موجود دی او معناً هم موجود دی په دې معنیٰ چې که مالک هغه رنګول سوې جامه اخيستل وغواړي نو مالک به د رنګ په وجه د اضافه سوي قيمت ضمان ورکوي. د دې په خلاف د مالک يعني د مسروقٌ منهُ حق په دې جامه کې صورتاً خو موجود دی لیکن معناً موجود نه دی. همدا وجه ده چې که دا جامه د غله سره هلاکه سي نو پر هغه ضمان نه واجبيږي. معلومه سوه چې په سرقه کې د غله وزن او ترازو له مالک څخه درونډ دی. نو په دې وجه موږ د غله جهت ته ترجيح ورکړه او له هغه څخه مو جامه اخيستل ممنوع وګرځول. او د غصب په مسئله کې د غاصب او مالک (مغصوب منهُ) دواړو حق سره برابر دی. او رنګ او ثوب دواړه صورتاً او معناً موجود دي. خو څرنګه چې ثوب أصل او رنګ تابع دی. نو ځکه موږ په غصب کې د أصل والا ته يعني مالک ته ترجيح ورکړه.

وإن صبغه أسو إلخ: د دې حاصل دا دی چې که سارق هغه جامې ته تور رنګ ورکړی وي. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به جامله له سارق څخه اخيستل کيږي. ليکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به نه ځني اخيستل کيږي. ځکه چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د سُور والي په څير تور والی هم زياتوب دی او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز که څه هم تور والی زياتوب دی ليکن هغه له جامې څخه د مالک حق نه منقطع کوي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تور رنګ فقط کمي او عيب دی لهذا د امام صاحب په نېز به په درجه اولیٰ هغه له جامې څخه د مالک حق نه منطقع کوي. نو ځکه به په دغه صورت کې د دې حضراتو په نېز رنګول سوې (توره) جامه خپل مالک ته واپس کيږي. فقط والله وعلمهٗ أتم



بَابُ قَطْعِ الطَّرِيْق

(دا) باب د ډاکه مارۍ (د احکامو په بیان کي) دی

تشريح: غلا ته "سرقه صغرىٰ" ويلي او ډاکه مارۍ ته "سرقه کبرىٰ" ويلي. او عموماً سرقه صغرىٰ زياته واقع کيږي. او د کثيرُ الوقوع شي احکام مخکي بيانيږي: نو په دې وجه صاحب د کتاب مخکي د سرقه صغرىٰ احکام بيان کړل. اوس د سرقه کبرىٰ احکام بيانوي.

د "قطعُ الطريق" تعريف او سزا

قَالَ: وَإِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمْتَنِعِيْنَ أَوْ وَاحِدٌ يَقْدِرُ عَلَى الْإِمْتِنَاعِ فرمايي: که يو جماعت [د لاري] منع کونکي [بندونکي] راووځي يا يو داسي سړی را ووځي کوم چي پر منع کولو او د لاري پر بندولو قدرت لري فَقَصَدُوا قَطْعَ الطَّرِيْقِ او دوی د لاري د شکولو [ډاکه مارۍ] اراده وکړي فَأُخِذُوا قَبْلَ أَنْ يَأْخُذُوا مَالًا وَيَقْتُلُوا نَفْسًا خو تر مال اخيستلو او د يو چا تر قتل کولو مخکي دوی ونيول سي حَبَسَهُمُ الْإِمَامُ حَتّٰى يُحْدِثُوا تَوْبَةً نو امام دي دوی قيد کړي تر دې چي دوی توبه وکړي وَإِنْ أَخَذُوا مَالَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ او که دوی د يو مسلمان يا ذمي مال اخيستی وي وَالْمَأْخُوْذُ إِذَا قُسِّمَ عَلٰى جَمَاعَتِهِمْ أَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فَصَاعِدًا أَوْ مَا تَبْلُغُ قِيْمَتُهُ ذٰلِكَ او اخيستل سوی مال دومره وي چي که د دې ډاکوګانو پر جماعت تقسيم کړی سي نو په دوی کي به هر يوه ته لس درهمه يا تر دې زيات ورسيږي يا دومره چي د هغه قيمت لسمو درهمو ته رسيږي قَطَعَ الْإِمَامُ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ نو امام دي د دوی راسته لاسونه او چپه پښې پرې کړي وَإِنْ قَتَلُوا وَلَمْ يَأْخُذُوا مَالًا او که دوی قتل کړی وي او مال يې اخيستی نه وي قَتَلَهُمُ الْإِمَامُ حَدًّا نو امام دي د حدّ په توګه دوی قتل کړي وَالْأَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهُ تَعَالٰى: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهُ [المائدة: ٣٣] او اصل په دې سلسله کي د الله تعالىٰ دا فرمان دی: "إنّما جزاء الذين... إلخ" وَالْمُرَادُ مِنْهُ وَاللهُ أَعْلَمُ التَّوْزِيْعُ عَلَى الْأَحْوَالِ او مراد له دې څخه (والله أعلم) د أحوالو مطابق د سزا تقسيم دی وَهِيَ أَرْبَعَةٌ: هٰذِهِ الثَّلَاثَةُ الْمَذْكُوْرَةُ او

هغه څلور سزاوي دي چي له هغوی څخه دري دغه [په متن کي] ذكر سوي سزاوي دي وَالرَّابِعَةُ نَذْكُرُهَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ او څلورمه به موږ انشاء الله ذكر كړو وَلِأَنَّ الْجِنَايَاتِ تَتَفَاوَتُ عَلَى الْأَحْوَالِ او ځكه چي د أحوالو د بدلېدلو په وجه جرمونه هم بدلیږي فَاللَّائِقُ تَغَلُّظُ الْحُكْمِ بِتَغَلُّظِهَا نو د سخت [او سنګين] جرم سزا به [هم] سخته [او درنه] وي أَمَّا الْحَبْسُ فِي الْأُولَىٰ فَلِأَنَّهُ الْمُرَادُ بِالنَّفْيِ الْمَذْكُورِ كوم چي په اول جنايت کي قيدول دي نو هغه ځکه دي چي [په پورتني آيت کي] له مذكوره نفي څخه "قيدول مراد دي لِأَنَّهُ نَفْيٌ عَنْ وَجْهِ الْأَرْضِ بِدَفْعِ شَرِّهِمْ عَنْ أَهْلِهَا ځكه چي له رويي زمين څخه نفي كول [شړل] د ځمكي والا څخه د دوی شر لیري کول دی وَيُعَزَّرُونَ أَيْضًا او دوی ته به سزا هم وركول كيږي لِمُبَاشَرَتِهِمْ مُنْكَرَ الْإِخَافَةِ ځكه چي دوی د بېرولو [او دمكي وركولو] ممنوع عمل كړی دی وَشَرَطَ الْقُدْرَةُ عَلَى الِامْتِنَاعِ لِأَنَّ الْمُحَارَبَةَ لَا تَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالْمَنْعَةِ او پر امتناع باندي د قدرت لرلو شرط ځكه امام قدوري لګولی دی چي له دې څخه بغير جنګ [او ډاكه ماري] نه ثابتيږي وَالْحَالَةُ الثَّانِيَةُ كَمَا بَيَّنَّاهَا او د دويم حالت حكم هغه دی کوم چي موږ بيان كړی لِمَا تَلَوْنَاهُ د هغه آيت په وجه كوم چي موږ تلاوت كړی وَشَرَطَ أَنْ يَكُونَ الْمَأْخُوذُ مَالَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ لِتَكُونَ الْعِصْمَةُ مُؤَبَّدَةً او امام قدوري دا شرط چي "اخيستل سوی مال به د مسلمان يا ذمي مال وي" ځكه لګولی دی چي [په هغه کي] په دائمي توګه عصمت ثابت سي وَلِهَٰذَا لَوْ قُطِعَ الطَّرِيقُ عَلَى الْمُسْتَأْمَنِ لَا يَجِبُ الْقَطْعُ همدا وجه ده كه چيري پر يو حرمي مستأمن باندي ډاكه ووهل سي نو قطعُ اليد نه واجبيږي وَشَرَطَ كَمَالَ النِّصَابِ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ كَيْ لَا يُسْتَبَاحَ طَرَفُهُ إِلَّا بِتَنَاوُلِهِ مَالَهُ خَطَرٌ او د هر هر ډاكو په حق كي يې د نصاب د پوره والي شرط د دې لپاره لګولی دی چي د قيمت او وزن والا شي په اخيستلو سره د هر ډاكو اندام [پرېكول] روا سي وَالْمُرَادُ قَطْعُ الْيَدِ الْيُمْنَىٰ وَالرِّجْلِ الْيُسْرَىٰ كَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَىٰ تَفْوِيتِ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ او له مِنْ خِلَافٍ څخه [مراد راسته لاس او چپه پښه پرېكول دي د دې لپاره چي قطع د منفعت د جنس د فوتولو سبب جوړه نه سي وَالْحَالَةُ الثَّالِثَةُ كَمَا بَيَّنَّاهَا او د دريم حالت حكم هغه دی کوم چي موږ بيان كړی لِمَا تَلَوْنَاهُ د هغه آيت كريمه په وجه كوم چي موږ تلاوت كړی وَيُقْتَلُونَ حَدًّا او

دا ټوله ډاکوګان به د حدّ په توګه قتل کيږي حَقًّا لَوْعَفَا الْأَوْلِيَاءُ عَنْهُمْ تر دې که د مقتول کس اولياء دوی معاف کړي لَايُلْتَفَتُ إِلٰى عَفْوِهِمْ نو د هغو معافي ته به نه کتل کيږي لِأَنَّهُ حَقُّ الشَّرْعِ ځکه چې دا سزا ايعني د حدّ په توګه قتل کول اد شريعت حق دی.

اللغات: ﴿مُمْتَنِعِيْنَ﴾ د افتعال جمع اسم فاعل دی: منع کونکي مراد ځني د لاري بندونکي او مقابله کونکي دي. ﴿قَطْعُ الطَّرِيْقِ﴾ د لاري شکول. ډاکه ماري. ډاکه وهل (ډاکه اچول). ﴿يُحْدِثُوْا﴾ د افعال مضارع ده: له نوي سره يو کار کول. ﴿تَغَلُّظ﴾ د تفعّل مصدر دی: سختېدل (درنېدل. سنګين کېدل). ﴿إِخَافَة﴾ د افعال مصدر دی: بېرول. ﴿لَا يُسْتَبَاح﴾ د استفعال مضارع مجهوله ده: مباح کېدل. روا کېدل. حلال کېدل. ﴿يُمْنٰى﴾ راسته. ﴿يُسْرٰى﴾ چپه. ﴿لَا يُلْتَفَت﴾ د افتعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: توجه کول. پاملرنه کول (کتل).

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی يا يو څو خلک د ډاکه ماري په نيت ځان مسلح کړي او له کور څخه راووځي او دوی پر مقابله کولو او د لاري پر بندولو قدرت لري. لېکن مخکې تر دې چې "دوی مال لوټ کړي يا يو څوک قتل کړي" امامُ المسلمين دوی ونيسي. نو امام ته پکار دي چې دوی بنديخانې ته واچوي تر دې چې دوی خپله اراده بدله کړي او د همېشه لپاره له ډاکه مارۍ څخه توبه وباسي. او که دې خلکو د يو مسلمان يا ذمي مال لوټ کړی وي او هغه مال چې پر دوی تقسيم کړی سي نو ټولو ته د نصاب په اندازه (يعني لس درهمه) رسيږي. نو اوس د دوی سزا دا ده چې امام دې د دوی راسته لاسونه او چپه پښې پرېکړي. او که د دې ډاکوګانو جرم دا وي چې فقط وژنه او قتل يې کړی وي. نو امام دې د حدّ په توګه دوی قتل کړي. او د سزاء دغه تبديلي په حقيقت کې د دوی د جرم او جنايت د بدلېدلو په وجه ده. او په دې سلسله کې د قرآن کريم دا آيت أصل او بنياد دی: "إِنَّمَا جَـزَاءُ الَّـذِيْنَ يُحَـارِبُوْنَ اللهَ وَرَسُـوْلَهُ وَيَسْـعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَـادًا أَنْ يُقَتَّلُـوْا أَوْ يُصَـلَّبُوْا أَوْ تُقَطَّـعَ أَيْـدِيْهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ". په دې آيت کريمه کې چې کوم "أَوْ" دی هغه د تقسيم لپاره دی او په دې آيت کې څلور سزاوي ذکر سوې دي: ① قتل. ② پانسي (په دار ځړول). ③ قطعُ اليد والرجل. ④ نفي (له ځمکې څخه شړل). او له دې څلورو څخه به د جنايت مطابق سزا جاري کيږي او څومره چې جرم غټ او سنګين وي هغومره به يې سزا هم سنګينه وي. نو په اول حالت کې يعني کله چې ډاکوګانو مال لوټ کړی وي او څوک يې قتل کړی نه وي نو د دوی سزا به حبس (قيدول) وي. ځکه چې په دې آيت کې له "أَوْ يُنْفَوْا

من الأرض" څخه حبس مراد دی، ځکه چي په قيدولو سره به د ټوله روېي زمين خلک د دوی له شر او فساد څخه په أمن سي (او که دوی قيد نه کړل سي بلکي له وطن څخه وشړل سي نو کېدای سي چي د ځمکي په بله ګوښه کي به دوی بيا دغه لاره اختيار کړي). د حبس او قيد سره به دوی ته مناسبه سزا هم ورکول کيږي، يعني د دوی سره په قيد او بند کي سختي کيږي چي په هغه کي به دوی ته سزا هم ورکول کيږي، ځکه چي دوی ښه وجهي د الله بندګان ېرولي دي او په وحشت کي يې د هغو ذ مبتلا کولو ناوړه حرکت کړی دی. لهذا د دې په وجه به يو څو ښېو او چلاخي خامخا وهل کيږي.

وشرط القدرة إلخ: امام قدوري رَحِمَهُ الله چي کوم د امتناع شرط لګولی دی، د هغه فايده دا ده چي د امتناع له قدرت څخه بغير دي خلګو ته ډاکوګان نه ويل کيږي، ځکه چي ډاکوګان په ډاګه او په عامه توګه لاره شکوي، او ښکاره خبره ده چي په چا کي د امتناع قدرت او طاقت نه وي هغه به دومره سر زوري نه کوي.

والحالة الثانية إلخ: فرمايي که چيري ډاکوګانو مال لوټ کړی وي او قتل يې نه وي کړی، نو د دې حکم هغه دی کوم چي مونږ بيان کړی، يعني د دوی راسته لاسونه او چپه پښې به پرېکول کيږي: دليل د مخکني آيت دا جزء دی " أو تقطع أيدهم وأرجلهم من خلاف ". او امام قدوري رَحِمَهُ الله د قطع لپاره د مسلمان يا د ذمي د مال اخيستلو شرط ځکه لګولی دی چي په هغه مال کي به په أبدي توګه عصمت (حفاظت او معصوم والی) ثابت وي، ځکه چي د کافر مال معصوم نه وي او د هغه غلا کول او لوټول د قطع مُوجِب هم نه وي لکه څرنګه چي د مستأمن حربي مثال په کتاب کي ذکر سو.

وشرط كمال النصاب إلخ: امام قدوري رَحِمَهُ الله دا شرط لګولی دی چي لوټ کړی سوی مال به دومره وي چي کله هغه په ډاکوګانو کي تقسيم کړی سي نو هر، هر ډاکو ته به د سرقې د نصاب په اندازه مال رسيږي، نو په داسي صورت کي به پر دوی حدّ (قطع من خلاف) جاري کيږي: ځکه که دا شرط نه ولګول سي نو د معمولي مال اخيستلو په عوض کي به د دوی اندام مباحُ القطع وګرځول سي او دا د سرقې د حدّ خلاف عمل دي (ځکه چي د سرقې حدّ فقط د دومره مال د اخيستلو په صورت کي واجبيږي چي هغه د سرقې د نصاب په اندازه وي). او له " مِنْ خِلَافٍ " څخه مراد دا دي چي د هر ډاکو راسته لاس او چپه پښه به پرېکول کيږي، ځکه که د يوه طرف لاس او پښه پرېکول سي نو په دې سره به بالکل د منفعت جنس فوت سي او هغه به بالکل شل وشوټ وګرځي کوم چي يو ډول هلاکول دي، حالانکي په دې حدّ سره "هلاکول" مقصود نه دي.

دريم حالت دا دی چې ډاکوګانو يو کس وژلی وي او مال يې لوټ کړی نه وي. نو په دې صورت کې به امام د حدّ په توګه دوی قتل کوي. د "حَدًّا" مطلب دا دی چې دا سزا د شريعت له طرفه ټاکل سوې ده او د شريعت د حق په توګه واجب سوې ده. دليل د پورتني آيت دا جزء دی " ويسعون فى الأرض فساداً أن يُقَتَّلُوا ". نو په دې وجه د مقتول اولياؤ ته دا حق نسته چې دا ډاکوګان معاف کړي.

د قطعُ الطريق د سزا څلورم قسم

وَالرَّابِعَةُ إِذَا قَتَلُوا وَأَخَذُوا الْمَالَ او څلورم صورت دا دی: چې ډاکوګانو قتل [هم] کړی وي او مال يې [هم] اخيستی وي فَالْإِمَامُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ وَقَتَلَهُمْ أَوْصَلَبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ وَإِنْ شَاءَ صَلَبَهُمْ نو اد شيخينو په نيز امام ته اختيار دی ① که وغواړي نو د دوی راسته لاسونه او راسته پښې دې پرېکړي او [بيا] دې دوی قتل يا پانسی کړي ② او که وغواړي نو [فقط] قتل دې يې کړي ③ او که وغواړي نو [فقط] پانسی دې يې کړي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: يُقْتَلُ أَوْيُصْلَبُ وَلَا يُقْطَعُ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې امام به يا دوی قتل کوي يا به يې پانسي کوي او قطع به نه کوي لِأَنَّهُ جِنَايَةٌ وَاحِدَةٌ ځکه چې دا [فقط] يو جرم دی فَلَا تُوجِبُ حَدَّيْنِ لهذا هغه به دوه حدونه نه واجبوي وَلِأَنَّ مَا دُونَ النَّفْسِ يَدْخُلُ فِي النَّفْسِ فِي بَابِ الْحَدِّ او ځکه چې د حدّ په باب کې مادون النفس په نفس کې داخليږي كَحَدِّ السَّرِقَةِ وَالرَّجْمِ لکه د سرقې او رجم په حدّ کې [چې تداخل کيږي] وَلَهُمَا: أَنَّ هَذِهِ عُقُوبَةٌ وَاحِدَةٌ تَغَلَّظَتْ لِتَغَلُّظِ سَبَبِهَا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې دا [قطع او قتل] يوه سزا ده کوم چې د خپل سبب [يعني د جرم] د سختېدلو په سخته سوې ده وَهُوَ تَفْوِيتُ الْأَمْنِ عَلَى التَّنَاهِي بِالْقَتْلِ وَأَخْذِ الْمَالِ او هغه سبب دا دی چې ډاکوګانو د قتل کولو او مال لوټولو په ذريعه په متناهي توګه أمن فوت کړی دی وَلِهَذَا كَانَ قَطْعُ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مَعًا فِي الْكُبْرَى حَدًّا وَاحِدًا او له همدې وجهي په ډاکه ماری کې پر يوه ځای د لاس او پښې پرېکول [فقط] يو حد شمارل سوی دی وَإِنْ كَانَا فِي الصُّغْرَى حَدَّيْنِ که څه هم په غلا کې دا دوه جلا حدونه [او سزاوي] دي

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر فى البحر الرائق (ج:۵، ص:۶۶)، وكذا فى الهندية (ج:۲، ص:۱۸۶). [القول الراجح ج:۱، ص: ۴۷۱]

وَالتَّدَاخُلُ فِي الْحُدُودِ لَا فِي حَدٍّ وَاحِدٍ او تداخل په څو حدّونو کې کيږي، نه په يوه حدّ کې ثُمَّ ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ التَّخْيِيرُ بَيْنَ الصَّلْبِ وَتَرْكِهِ بيا په قدوري امتن] کې د پانسۍ کولو او د پانسۍ پرېښوولو په هکله "اختيار ورکول" ذکر سوي دي وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ او همدا ظاهر روايت دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا يَتْرُكُهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې امام به پانسۍ کول نه پرېږدي لِأَنَّهُ مَنْصُوصٌ عَلَيْهِ ځکه چې د هغه په باره کې نص [آيت] وارد سوی دی ايعنې هغه په پورتني آيت کې موجود دي] وَالْمَقْصُودُ التَّشْهِيرُ لِيَعْتَبِرَ بِهِ غَيْرُهُ او د دې مقصد مشهوره کول دي چې نور خلک په دې سره عبرت واخلي وَنَحْنُ نَقُولُ: أَصْلُ التَّشْهِيرِ بِالْقَتْلِ وَالْمُبَالَغَةِ بِالصَّلْبِ او موږ وايو چې اصل تشهير خو په قتل سره حاصليږي او پانسۍ کول په تشهير کې د مبالغې لپاره وي فَيُخَيَّرُ فِيهِ نو ځکه به امام ته په دې کې اختيار ورکول کيږي ثُمَّ قَالَ: وَيُصْلَبُ حَيًّا وَيُبْعَجُ بَطْنُهُ بِرُمْحٍ إِلَى أَنْ يَمُوتَ بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله [دا] فرمايلي دي: چې داسي ډاکو به ژوندی پانسۍ کيږي او په نېزه سره به د هغه نس څيرل کيږي تر دې چې هغه مړ سي وَمِثْلُهُ عَنِ الْكَرْخِيِّ او له امام کرخي رَحِمَهُ الله څخه هم داسي روايت سوی دی وَعَنِ الطَّحَاوِيِّ: أَنَّهُ يُقْتَلُ ثُمَّ يُصْلَبُ تَوَقِّيًا عَنِ الْمُثْلَةِ او له امام طحاوي رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوی دی: چې هغه به تر قتل کولو وروسته پانسۍ کيږي، د دې لپاره چې له مُثله څخه وساتل سي وَجْهُ الْأَوَّلِ وَهُوَ الْأَصَحُّ: أَنَّ الصَّلْبَ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ أَبْلَغُ فِي الرَّدْعِ د اول قول (کوم چې صحيح دی) دليل دا دی: چې په دې طريقه سره پانسۍ کول په زجر [او عبرت کې] زيات مؤثر دي وَهُوَ الْمَقْصُودُ بِهِ او همدغه مقصود دي قَالَ: وَلَا يُصْلَبُ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فرمايي: چې تر درېو ورځو زيات به هغه نه پانسۍ کيږي [يعنې تر ۳ ورځو به زيات د پانسۍ پر تخته نه پرېښوول کيږي] لِأَنَّهُ يَتَغَيَّرُ بَعْدَهَا ځکه چې تر درېو وروسته په هغه کې تغيير راځي فَيَتَأَذَّى النَّاسُ بِهِ نو په هغه سره به خلکو ته تکليف ورسيږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يُتْرَكُ عَلَى خَشَبَةٍ حَتَّى يَتَقَطَّعَ فَيَسْقُطَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چې هغه به د پانسۍ پر تخته پرېښوول کيږي تر دې چې هغه ټوکره ټوکره سي او را ولوېږي لِيَعْتَبِرَ بِهِ غَيْرُهُ د دې لپاره چې نور خلک له هغه څخه عبرت

واخلي قُلْنَا: حَصَلَ الاِعْتِبَارُ بِمَا ذَكَرْنَاهُ موږ وايو: چې زموږ په ذكر سوي طريقه سره عبرت حاصل سو وَالنِّهَايَةُ غَيْرُ مَطْلُوبَةٍ او بالكل دآخري درجې عبرت مطلوب نه دی.

اللغات: ﴿صَلَّبَهُمْ﴾ د تفعيل ماضي ده: په دار ځړول، پانسی کول. ﴿تغلّظت﴾ د تفعل ماضي ده: سختېدل (جرم درنېدل، سنگين كېدل). ﴿يبعج﴾ په نېزه سره څيرل (په نېزه سره په نس كي وهل). ﴿رمح﴾ نېزه. ﴿ردع﴾ زجر وركول. تنبيه وركول. منع كول (مراد ځني خلكو ته عبرت او تنبيه وركول دي چې له داسي كار څخه دوی منع سي). ﴿خشبة﴾ تخته. ﴿يتقطع﴾ د تفعل مضارع ده: ټوكره ټوكره كېدل (پارچه پارچه كېدل). حصه حصه كېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د قطعُ الطريق څلورم قسم دا دی چې ډاكوگانو مال هم لوټ كړی وي او خلک يې هم قتل كړي وي. نو په دې صورت كي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دوی سزا تر قطع وروسته قتل كول يا پانسی كول دي. لېكن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به قطع نه وي. بلكي د دوی سزا به فقط قتل يا تصليب (پانسی كول) وي.

د امام محمد دليل: دا دی چې دلته د ډاكوگانو فعل يو جرم (جنايت واحده) دی. او په يوه جرم سره فقط يو حدّ واجبيږي، دويم دليل دا دی چې قطع د ما دون النفس سزا ده او قتل د نفس سزا ده. او د حدّ په باب كي مادون النفس په نفس كي داخليږي. د مثال په توگه كه پر يو سړي باندي د غلا حدّ (قطع اليد) لازم سي او بيا هغه د رجم مستحق هم وگرځي. نو په رجم كي به د غلا حدّ هم داخليږي. همداسي به دلته هم قطع په قتل يا تصليب كي داخليږي او عليحده به قطع نه نافذول كيږي.

د شيخينو دليل: دا دی چې د قطع سره. سره قتل كول يا پانسی كول په مجموعي توگه فقط يوه سزا ده. ځكه چې د جنايت او جرم د سختېدلو په وجه سزا هم سختيږي. او دلته د ډاكو جرم دا دی چې خلک يې قتل كړي دي او مال يې لوټ كړی دی او په دې سره يې بد أمني او بېره غوړلې ده. نو په دې وجه شريعت هم د هغه سزا عبرتناكه وگرځوله او د قطع سره يې قتل يا تصليب د هغه سزا وټاكله. او دا دوې سزاوي گڼل صحيح نه دي، ځكه چې په ډاكه ماري كي مِن خلاف لاس او پښه يو ځای پرېكول كيږي او دا فقط يوه سزا ده لېكن په غلا كي دا دوې سزاوي دي. او تداخل په دوو حدونو كي كيږي نه په يوه حدّ كي. لهذا دلته تداخل كول او قطع له سزا څخه ختمول صحيح نه دي.

ثم ذكر في الخ: فرمايي چې په متن كي امام ته د پانسی كولو يا قتل كول اختيار وركول سوی دی، همدا ظاهر روايت دی. لېكن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې امام به پانسی نه

پربږدي، ځکه چي دا سزا په آيت کي ذکر سوې ده (أَوْ يُصَلَّبُوْا). او د دې سزا مقصد دا دی چي د دې ډاکو سزا ښه مشهوره کړی سي چي نور خلګ له دې څخه عبرت واخلي. او څرنګه چي په پانسی کولو سره دا مقصد په ښه توګه حاصليږي نو ځکه به هغه نه پرېښوول کيږي. لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي أصل تشهير په قتل سره حاصليږي لېکن په پانسی کولو سره په تشهير کي فقط مبالغه راځي، نو ځکه به امام ته اختيار وي چي هغه پر أصل عمل کوي او که مبالغه کوي.

امام قدوري رَحِمَهُ الله د پانسی ترتيب داسي ښوولی دی چي دا ډاکو به ژوندی د پانسی په دار ځړول کيږي او په نېزه سره به د هغه نس څيرل کيږي تر دې چي هغه مړ سي. همدا له امام کرخي رَحِمَهُ الله څخه نقل سوې طريقه ده. او د امام طحاوي رَحِمَهُ الله په نېز د پانسی طريقه دا ده چي اول به ډاکو وژل کيږي بيا به هغه پانسي کيږي د دې لپاره چي مُثله لازمه نه سي، ځکه چي مُثله کول ممنوع دي. د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله په نېز د امام قدوري او امام کرخي رَحِمَهُمَا الله طريقه زياته غوره ده. او د هغې د غوره والي دليل دا دی چي په داسي پانسی کولو سره کما حقهٔ زجر او عبرت حاصليږي او همدا د پانسی مقصد دی.

ولايصلب إلخ: د دې حاصل دا دی چي ډاکو به تر دريو ورځو زيات د دار او پانسی پر تخته نه ځړول کيږي، ځکه چي تر دريو ورځو وروسته په هغه کي تغير او تبدّل راځي او د هغه د بدبويي په وجه به د خلګو ګزاره مشکله سي. له امام ابويوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوی دی چي ډاکو به تر هغه وخته پوري ځړول کيږي چي هغه ټوکړې ټوکړې سي او په خپله را ايله سي د دې لپاره چي خلګ عبرت څني واخلي. لېکن زموږ له طرفه هغه ته دا جواب ورکول سوی دی چي د دريو ورځو په ځړولو سره هم دا مقصد حاصليږي. او د عبرت لپاره همدومره کافي دي. لهذا د زيات عبرت ورکولو ضرورت نسته.

د لوټ کړی سوي مال حکم

قَالَ: وَإِذَا قُتِلَ الْقَاطِعُ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ فِي مَالٍ أَخَذَهُ فرمايي: کله چي ډاکو قتل کړی سي نو پر ده به هيڅ ضمان [او تاوان] نه وي په هغه مال کي کوم چي ده لوټ کړی وي اعْتِبَارًا بِالسَّرِقَةِ الصُّغْرَى په سرقه صغریٰ باندي په قياس کولو سره وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او موږ [مخکي] د دې بيان وکړی فَإِنْ بَاشَرَ الْقَتْلَ أَحَدُهُمْ بيا که په ډاکوګانو کي [فقط] يوه ډاکو کي د قتل کار کړی وي أُجْرِيَ الْحَدُّ عَلَيْهِمْ بِأَجْمَعِهِمْ نو پر دوی ټولو به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ جَزَاءُ الْمُحَارَبَةِ ځکه چي قتل د ډاکه ماری [او

لو ټماری (اسزا ده) وَهِيَ تَتَحَقَّقُ بِأَنْ يَكُونَ الْبَعْضُ رِدْءًا لِلْبَعْضِ او ډاکه ماري په دې توګه ثابتيږي چې ځيني د ځينو لپاره مدافعت کونکي (امدد کونکي) وي حَتَّى إِذَا زَلَّتْ أَقْدَامُهُمْ تر دې که د دې (ځينو) قدمونه ښوي سي (يعني شکست او ماته وخوري) انْحَازُوا إِلَيْهِمْ نو دوی د مدافعت کونکو سره جمع کيږي وَإِنَّمَا الشَّرْطُ الْقَتْلُ مِنْ وَاحِدٍ مِنْهُمْ او (ادلته) شرط دا دی چې په دوی کي د يوه له طرفه قتل موجود سي وَقَدْ تَحَقَّقَ او هغه موجود سو قَالَ: وَالْقَتْلُ وَإِنْ كَانَ بِعَصًا أَوْ بِحَجَرٍ أَوْ بِسَيْفٍ فَهُوَ سَوَاءٌ فرمايي: او قتل که څه هم په لکړه يا ډبره يا توره سره واقع سوی وي نو دا ټوله (په حکم کي) برابر دي لِأَنَّهُ يَقَعُ قَطْعًا لِلطَّرِيقِ بِقَطْعِ الْمَارَّةِ ځکه چې (محض) د مسافرانو په شکولو سره (هم) ډاکه ماري واقع کيږي وَإِنْ لَمْ يَقْتُلِ الْقَاطِعُ وَلَمْ يَأْخُذْ مَالًا وَقَدْ جَرَحَ او که ډاکو قتل نه وي کړی او نه يې مال اخيستی وي بلکي (يو څوک يې) زخمي کړی وي اُقْتُصَّ مِنْهُ فِيمَا فِيهِ الْقِصَاصُ نو د کومو زخمونو قصاص (او بدله) چې اخيستل کيږي د هغوی قصاص به اخيستل کيږي وَأُخِذَ الْأَرْشُ مِنْهُ فِيمَا فِيهِ الْأَرْشُ او په کومو زخمونو کي چې تاوان اخيستل کيږي په هغوی کي به تاوان اخيستل کيږي وَذَلِكَ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ او دا کار به اولياؤ ته پرېښوول کيږي لِأَنَّهُ لَا حَدَّ فِي هَذِهِ الْجِنَايَةِ ځکه چې په دغه جنايت کي خو حدّ سته نه فَظَهَرَ حَقُّ الْعَبْدِ نو (په دې کي) د بنده حق ښکاره سو (يعني کله چې په دغه جنايت کي حدّ نسته، نو په دې کي به د بنده حق وي) وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ او د بنده حق هغه دی کوم چې موږ ذکر کړی (يعني قصاص يا تاوان اخيستل) فَيَسْتَوْفِيهِ الْوَلِيُّ نو ځکه به هغه حق ولي اخلي وَإِنْ أَخَذَ مَالًا ثُمَّ جَرَحَ او که ډاکو اله يو چا څخه (مال واخلي (او) بيا يې زخمي کړي قُطِعَتْ يَدُهُ وَرِجْلُهُ نو د هغه لاس او پښه به پرېکول کيږي وَبَطَلَتِ الْجِرَاحَاتُ او د زخمونو عوض به باطليږي لِأَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ الْحَدُّ حَقًّا لِلّٰهِ ځکه کله چې حدّ د الله د حق په توګه واجب سو سَقَطَتْ عِصْمَةُ النَّفْسِ حَقًّا لِلْعَبْدِ نو د بنده د حق په توګه د نفس عصمت ساقط سو (يعني کله چې حدّ د الله تعالیٰ حق دی. نو د الله د حق مخته د بنده حق يعني د نفس عصمت ساقط سو) كَمَا تَسْقُطُ عِصْمَةُ الْمَالِ لکه څرنګه چې په مال کي عصمت ساقطيږي وَإِنْ أُخِذَ بَعْدَ مَا تَابَ وَقَدْ قَتَلَ عَمْدًا او که ډاکو تر توبې کولو وروسته ونيول سي حال دا چې هغه قصداً

قتل کړی وي فَإِنْ شَاءَ الْأَوْلِيَاءُ قَتَلُوهُ وَإِنْ شَاءُوا عَفَوْا عَنْهُ نو که [د مقتول] اولياء وغواړي نو هغه دې قتل کړي او که وغواړي نو معاف دې يې کړي لِأَنَّ الْحَدَّ فِي هَذِهِ الْجِنَايَةِ لَا يُقَامُ بَعْدَ التَّوْبَةِ ځکه چې په دې جنايت کې تر توبې وروسته حدّ نه جاري کيږي لِلِاسْتِثْنَاءِ الْمَذْكُورِ فِي النَّصِّ د هغه استثناء په وجه کوم چې په آيت کې ذکر سوې ده وَلِأَنَّ التَّوْبَةَ تَتَوَقَّفُ عَلَى رَدِّ الْمَالِ او ځکه چې توبه د مال پر واپس کولو موقوفه کيږي وَلَا قَطْعَ فِي مِثْلِهِ او تر مال واپس کولو وروسته قطع نسته فَظَهَرَ حَقُّ الْعَبْدِ فِي النَّفْسِ وَالْمَالِ لهذا په نفس او مال دواړو کې د بنده حق ښکاره سو حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْوَلِيُّ الْقِصَاصَ أَوْ يَعْفُوَ نو ځکه دې ولي قصاص واخلي يا دې معافي وکړي وَيَجِبُ الضَّمَانُ إِذَا هَلَكَ فِي يَدِهِ أَوْ اِسْتَهْلَكَ او که چيري مال د ډاکو په لاس کې هلاک سي يا يې هغه [قصداً] هلاک کړي نو [پر هغه] به ضمان واجبيږي.

اللغات: ﴿مُحَارَبَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: جنګ، مقابله. مراد ځني ډاکه ماري او لوټماري ده. ﴿رَدْء﴾ د فتح مصدر دی: دفع کول، مدافعت کول. مراد ځني مرسته او مدد کول دي. ﴿إِنْحَاز﴾ د انفعال ماضي ده: جمع کېدل، غونډېدل. ﴿الْقَاطِع﴾ ډاکو (ډاکه وهونکی) هغه کس چې په عامه توګه لاره بندوي او خلک شکوي. جمع: قُطَّاع.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري تر مال لوټولو او قتل کولو وروسته ډاکو قتل کړی سي. نو کوم مال چې هغه لوټ کړی وي د هغه مال ضمان او تاوان به پر هغه نه وي؛ ځکه چې تر حدّ جاري کولو وروسته د مال احترام او عصمت ساقطيږي. او څرنګه چې په غلا (سرقه صغریٰ) کې تر قطعُ اليد وروسته سارق د مسروق مال نه ضامن کيږي. همداسې به په ډاکه ماري کې هم هغه د دې نه ضامن کيږي.

فإن باشر الخ: فرمايي که په ډاکوګانو کې فقط يوه ډاکو قتل کړی وي نو هم به ټوله ډاکوګان د هغه په جزاء کې قتل کيږي؛ ځکه چې دا قتل د ډاکه مارۍ سزا ده. او په ډاکه مارۍ کې داسې کيږي چې يو ډاکو لوټماري او وژنه کوي او پاتې ډاکوګان د هغه مرسته يا مدافعت کوي. او څرنګه چې د حدّ وجوب شرط دا دی چې په ډاکوګانو کې د يوه له طرفه قتل موجود سي او دلته د يوه له طرفه قتل موجود سو نو ځکه به دا د هر يوه له طرفه قتل شمارل کيږي او د دې په جزاء کې به ټوله قتل کيږي. فرمايي برابره ده قتل که په توره سره واقع سي يا په لرګي. لکړه او ډبره سره واقع سي د ټولو حکم يو

دی. يعني فقط د قتل واقع کېدلو په صورت کي بيا د هيڅ ډاکو خير نسته (هغه که په هره طريقه سره واقع سي) بيا به هر ډاکو ته د قتل سزا ورکول کيږي، ځکه چي د مسافرانو په شکولو سره او د لاري په بندولو سره هم ډاکه ماري او لوټماري ثابتيږي. لهذا په کوم شي سره چي هم قتل واقع سي هغه به د حدّ مُوجِب وي.

وإن لم يقتل إلخ: مسئله دا ده که ډاکو هيڅوک قتل نه کړي او نه له چا څخه مال واخلي لېکن يو سړی زخمي کړي، نو د دې سزا دا ده چي په کومو زخمونو کي چي قصاص او بدله اخيستل کيږي په هغوی کي به له ډاکو څخه بدله اخيستل کيږي او د کومو زخمونو په عوض کي چي تاوان اخيستل کيږي د هغوی تاوان به ځني اخيستل کيږي (يعني ولي به يې ځني اخلي). مثلاً که ډاکو د هغه سړي غوږ پرېکړی وي، نو د دې په بدله کي به د ډاکو غوږ پرېکول کيږي. او که ډاکو د هغه پښه زخمي کړې وي نو له ډاکو څخه به د زخم تاوان او ضمان اخيستل کيږي: ځکه چي د زخمي کولو په هکله په شريعت کي هيڅ حدّ ټاکل سوی نه دی، بلکي د هغه په هکله د "وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ" [المائدة:۴۵] حکم وارد سوی دی، او څرنګه چي دا حقُ العبد دی، نو ځکه به د دې د اخيستلو او حاصلو حق د ولي لپاره وي.

وإن أخذ مالا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ډاکو اول مال ځني واخلي او بيا يې زخمي کړي، نو اوس د هغه سزا دا ده چي د هغه راسته لاس او چپه پښه به پرېکول کيږي او د زخمونو قصاص او بدله به نه ځني اخيستل کيږي: ځکه چي حدّ او ضمان دواړه په مجرم کي نه سي جمع کېدای. او بل دا چي کله حدّ د الله د حق په توګه ثابت دی نو د دې حق مخته به د بنده حق يعني د نفس عصمت او د هغه احترام ساقطيږي لکه څرنګه چي د حقُ الله مخته د مال احترام ساقطيږي او هغه لره هيڅ ارزښت او هميت نه وي.

وإن أخذ إلخ: مسئله دا ده که ډاکو عمداً يو څوک قتل کړي او بيا توبه وکړي، تر دې وروسته هغه ونيول سي، نو د مقتول اولياؤ لره دا اختيار سته چي که د دوی خوښه وي نو هغه دي قتل کړي او که خوښه يې وي نو هغه دي معاف کړي؛ ځکه چي د لوټمارۍ او ډاکه مارۍ په جرم کي تر توبې وروسته حدّ نه جاري کيږي، ځکه چي له دې آيت "إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ...إلخ" څخه وروسته سمدستي په بل آيت کي د توبه کونکو استثناء سوې ده او هغوی معاف کړی سوي دي. آيت دا دی "إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ" [المائدة:۳۴]. او په دې وجه هم چي رښتونې توبه هغه وخت ثابتيږي کله چي ډاکو لوټ کړی سوی وی مال واپس کړي، او له

مال واپس کولو شخصه وروسته پر هغه حدّ جاري کېدای نه سي. لهذا په دې حواله سره به هم په دې صورت کي حدّ ساقطيږي او د دې جرم سره به د بنده (ولي) حق متعلق کيږي او د مقتول اولياؤ لره به د قصاص اخيستلو يا د معافولو اختيار حاصليږي. او که چيري لوټ کړی سوی مال په خپله هلاک سي يا يې ډاکو قصداً هلاک کړي، په دې دواړو صورتونو کي به پر هغه د دې مال ضمان واجب وي.

له ډاکو شخه د حدّ ساقطېدلو صورت

وَإِنْ كَانَ مِنَ الْقُطَّاعِ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِ او که له ډاکوګانو شخه يو [نابالغه] بچی وي يا لېونی وي يا د مقطوع عليه ذی رحم محرم قريب وي سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْبَاقِينَ نو له پاته ډاکوګانو شخه به حدّ ساقطيږي فَالْمَذْكُورُ فِي الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَزُفَرَ د بچي او لېوني په هکله چي کوم حکم بيان سو هغه د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله قول دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ*: أَنَّهُ لَوْ بَاشَرَ الْعُقَلَاءُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخه دا روايت سوی دی: چي که عاقلانو [په خپله] ډاکه ماري کړې وي يُحَدُّ الْبَاقُونَ نو پاته ډاکوګانو [عاقلانو] ته به سزا ورکول کيږي وَعَلَى هٰذَا السَّرِقَةُ الصُّغْرٰى او د غلا هم دغه حکم دی لَهُ: أَنَّ الْمُبَاشِرَ أَصْلٌ وَالرِّدْءُ تَابِعٌ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مباشر [په خپله ډاکه وهونکی] أصل وي او مدافع [مددګار] تابع وي وَلَا خَلَلَ فِي مُبَاشَرَةِ الْعَاقِلِ او د عاقل په مباشرة [ډاکه وهلو] کي هيڅ خلل نسته وَلَا اعْتِبَارَ بِالْخَلَلِ فِي التَّبَعِ او د تابع خلل لره هيڅ اعتبار نسته وَفِي عَكْسِهِ يَنْعَكِسُ الْمَعْنٰى وَالْحُكْمُ او د دې په برعکس کي به حکم او معنیٰ بدليږي وَلَهُمَا: أَنَّهُ جِنَايَةٌ وَاحِدَةٌ قَامَتْ بِالْكُلِّ د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دا [فقط] يو جنايت دی کوم چي د ټولو [په مرسته] درېدلی [او وواقع سوی] دی فَإِذَا لَمْ يَقَعْ فِعْلُ بَعْضِهِمْ مُوجِبًا [لېکن] کله چي په دوی کي د ځيني ډاکوګانو فعل د حدّ موجب نه سو كَانَ فِعْلُ الْبَاقِينَ بَعْضَ الْعِلَّةِ نو د پاته ډاکوګانو فعل ناقص علت وګرځېدی وَبِهِ لَا يَثْبُتُ الْحُكْمُ او په ناقص علت سره حکم نه ثابتيږي فَصَارَ كَالْخَاطِئِ مَعَ الْعَامِدِ نو داسي سو لکه د عامد سره د خاطئ

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة وزفر رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۳۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۷۸]

يو ځاى كېدل وَأَمَّا ذُو الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ فَقَدْ قِيلَ: تَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ الْمَالُ مُشْتَرَكًا بَيْنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِمْ او كوم چې ذى رحم محرم قريب دى نو ويل سوي دي چې: د هغه تأويل دا دى چې كله مال د مقطوع عليهم په مينځ كي مشترک وي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مُطْلَقٌ [ليكن] صحيح دا ده چې دا حكم مطلق دى لِأَنَّ الْجِنَايَةَ وَاحِدَةٌ ځكه چې جنايت يو دى عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ لكه [مخكي] چې مونږ ذكر كړه فَالِامْتِنَاعُ فِي حَقِّ الْبَعْضِ يُوجِبُ الِامْتِنَاعَ فِي حَقِّ الْبَاقِينَ لهذا ديوه په حق كي به د حدّ منع كېدل [ساقطېدل] د پاته ډاكوګانو په حق كي د حدّ منع كېدل ثابتوي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِيهِمْ مُسْتَأْمَنٌ په خلاف د هغه صورت كله چې په دوى كي يو مستأمن حربي وي لِأَنَّ الِامْتِنَاعَ فِي حَقِّهِ لِخَلَلٍ فِي الْعِصْمَةِ ځكه چې د مستأمن په حق كي د حدّ امتناع د هغه په عصمت كي د خلل په وجه ده وَهُوَ يَخُصُّهُ او دا د مستأمن سره خاص دي أَمَّا هُنَا الِامْتِنَاعُ لِخَلَلٍ فِي الْحِرْزِ او كوم چې هلته ا د ذى رحم محرم په صورت كي ا امتناع ده نو هغه په حفاظت كي د خلل په وجه سره ده وَالْقَافِلَةُ حِرْزٌ وَاحِدٌ او قافله ټوله د حرز واحد [يوه محفوظه ځاى] په درجه كي ده.

اللغات: ﴿قُطَّاع﴾ جمع د قَاطِع: ډاكو ګان، ډاكه وهونكي. هغه ځله چې په اعلانيه توګه لاره بندوي او خلک شكوي. ﴿مَقْطُوْع عَلَيْهِ﴾ هغه كس چې ډاكه پر ووهل سي. هغه كس چې ډاكوګان يې لوټ كړي. جمع: مَقْطُوْع عَلَيْهِم. ﴿خَاطِئ﴾ په خطاء او غلطى سره كونكى. په هېره كونكى. ﴿عَامِد﴾ قصداً كونكى (په قصده كونكى). ﴿مُسْتَأْمِن﴾ هغه حربي كافر كوم چې أمان واخلي او دارُ الاسلام ته راسي. ﴿حَرْز﴾ د حاء په فتحه سره: حفاظت. حِرْز: د حاء په كسره سره: محفوظه ځاى.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه چيري د ډاكوګانو په جماعت كي نابالغه بچى وي يا مجنون او لېونى وي يا پر چا چې ډاكه وهل سوې وي هغه ديو ډاكو نږدې قريب (ذو رحمِ محرم) وي، نو په دې ټولو صورتونو كي چې ځرنګه له دې بچي يا مجنون يا ذو رحمِ محرم څخه حدّ ساقطيږي همداسي به له ټولو ډاكوګانو څخه هم حدّ ساقطيږي يعني فقط ديوه په حق كي به د حدّ سقوط د پاته ډاكوګانو په حق كي د حدّ سقوط لره مستلزم وي. دا د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله قول دى. د دې په خلاف له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى چې كه په دوى كي عاقله او بالغه ډاكوګانو هم

ډاکه وهلې وي نو د امام ابو يوسف په نيز به فقط له بچي يا مجنون يا ذی رحم محرم څخه حدّ ساقطيږي او له پاته عاقلو او بالغو ډاکوګانو څخه به حدّ نه ساقطيږي، همدا حکم د غلا (سرقه صغرىٰ) هم دی.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې مباشر (په خپله ډاکه وهونکی) أصل دی او مدافعين او معاونين ټوله د هغه تابع دي او کله چې عاقل او بالغ سړی ډاکه ووهي نو ښکاره خبره ده چې د هغه په فعل (ډاکه ماري) کي هيڅ خلل او شبهه نشته نو ځکه به د عاقلو او بالغو ډاکوګانو فعل د حدّ مُوجب وي. پاته سو نابالغ بچی او داسي نور، نو څرنګه چې هغو فعل (ډاکه ماري) نه ده کړې، بلکي هغوی تابعين دي. او که په تابع کي خلل راسي نو هغه د أصل (عاقلو او بالغو) پر حکم او د دوی پر واجب سوي حدّ باندي هيڅ أثر او اغېز نه کوي، نو په دې وجه به د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز پر أصل (عاقلو او بالغو ډاکوګانو) حدّ جاري کيږي او له تابع (صبیّ او مجنون) څخه به حدّ ساقطيږي.

دليل: د امام صاحب او امام زفر دليل دا دی چې دا ډاکه ماري يو جنايت دی او دا د مباشر او معاون دواړو په ګډه او مرسته سره ثابته سوې ده، لهذا د بالغينو سره په ډاکه وهلو کي صبی او مجنون او ذی رحم محرم هم شريکان دي، لېکن څرنګه چې د صبي او داسي نورو فعل په شريعت کي د حدّ مُوجِب نه دی، نو د صبي او داسي نورو په جلا کېدلو سره د پاته ډاکوګانو په فعل (ډاکه وهلو) کي نقص راغلی او د دوی فعل ناقص علت وګرځېدی، او حدّ په مکمل فعل او کامل علت سره ثابتيږي، نه په ناقص علت سره، نو ځکه موږ په دې مسئله کي له هر يوه څخه حدّ ساقط کړی دی. د دې مثال داسي دی لکه يو څوک چي قصداً بل سړی په غشي وويلي او په همدې وخت کي بل څوک خطاءً هغه سړی په غشي وويلي او هغه د دواړو په غشو سره مړ سي، نو څرنګه چې دلته پر خاطئ قصاص نه واجبيږي همداسي پر عامد هم قصاص نه واجبيږي، ځکه چې مر مىٰ إليه د دواړو په غشو سره مړ سوی دی او له يوه رامي څخه د قصاص ساقطېدلو په وجه د دويم رامي فعل کمزوری او ناقص سو، همدغسي به په پورتنۍ مسئله کي هم کله چې له يوه ډاکو څخه حدّ ساقط سو نو له پاته ډاکوګانو څخه به هم حدّ ساقطيږي.

وأما ذو الرحم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که ډاکوګان پر يوه قافله باندي چاپه ووهي او يو ډاکو د قافلې په خلکو کي د يوه سړي ذو رحمِ محرم هم وي، نو د قرابت د حق په وجه به له هغه ذو رحمِ محرم ډاکو څخه حدّ ساقطيږي او دا سقوط به د پاته ډاکوګانو په حق کي د حدّ سقوط لره هم مستلزم وي (يعني له دغه يوه ډاکو څخه د حدّ د سقوط په وجه به له نورو ډاکوګانو څخه هم حدّ ساقطيږي)، امام ابو بکر جصاص رازي رَحِمَهُ الله د دې تأويل داسي کړی دی چې د ذی رحم محرم په وجه به حدّ په هغه صورت کي ساقطيږي کله چې د قافلې د خلکو مالونه سره مشترک وي، ځکه چې په دې صورت کي به د ټولو مالونه ديوه

مال په درجه کي وي او د مأخوذ (لوټ کړی سوي مال) د يو والي په وجه به حدّ ساقطيږي. ليکن صاحب د هدايې فرمايي چي صحيح دا ده چي که د قافلې د خلکو مالونه مشترک وي او که نه وي په هر صورت کي به د ذو رحمِ محرم ډاکو په وجه له ټولو ډاکوګانو څخه حدّ ساقطيږي، ځکه چي د ټولو جنايت يو دی او د يوه په حق کي د حدّ سقوط د نورو په حق کي د حدّ سقوط لره مستلزم دی.

د دې په خلاف که د قافلې په خلکو کي يعني په مقطوع عليهم کي يو مستأمن حربي وي نو د هغه د مال په لوټولو او اخيستلو سره به ځکه له ډاکوګانو څخه حدّ ساقطيږي چي د مستأمن حربي مال محترم او محفوظ نه دی او دا خبره فقط د دې مستأمن حربي سره خاص ده او د قافلې په نورو خلکو کي دا خبره نسته. لهذا د مستأمن حربي د مال له اخيستلو څخه د حدّ سقوط به د قافلې د نورو خلکو له أموالو څخه د حدّ سقوط لره مستلزم نه وي. بلکي که په دې صورت کي ډاکوګان له مستأمن څخه بغير د نورو خلکو مال لوټ کړي نو پر دوی به حدّ جاري کيږي.

أما هنا الامتناع إلخ: او پاته سو په پورتنۍ مسئله کي د حدّ امتناع او سقوط (يعني کله چي يو ډاکو د قافلې په خلکو کي د يو سړي ذو رحمِ محرم وي)، نو هلته به ځکه له ټولو ډاکوګانو څخه حدّ ساقطيږي چي دا سقوط په حفاظت کي د خلل په وجه دی او دغه خلل فقط د ذو رحمِ محرم ډاکو د قريب سره خاص نه دی بلکي د قافلې ټولو خلکو لره عام دی، لهذا کله چي د يوه په وجه پر يوه باندي حدّ نه جاري کيږي نو د هغه يوه (ذی رحم محرم) په وجه به پر ټولو باندي حدّ نه جاري کيږي.

د حدّ ساقطېدلو په صورت کي د قصاص حکم

وَإِذَا سَقَطَ الْحَدُّ او کله چي حدّ ساقط سي صَارَ الْقَتْلُ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ نو د قتل کولو حق به أولياؤ لره وګرځي لِظُهُورِ حَقِّ الْعَبْدِ د بنده د حق ښکاره کېدلو په وجه عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ د هغه تفصيل مطابق کم چي موږ [مخکي] ذکر کړی فَإِنْ شَاءُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاءُوا عَفَوْا نو که اولياء وغواړي نو [ډاکوګان] دي قتل کړي او که وغواړي نو معاف دي يې کړي وَإِذَا قَطَعَ بَعْضُ الْقَافِلَةِ الطَّرِيقَ عَلَى الْبَعْضِ او کله چي د قافلې خلک ځيني پر ځينوي ډاکه ووهي لَمْ يَجِبِ الْحَدُّ نو پر ډاکه وهونکو [مباشرينو] به حدّ نه واجبيږي لِأَنَّ الْحِرْزَ وَاحِدٌ ځکه چي حرز يو دی فَصَارَتِ الْقَافِلَةُ كَدَارٍ وَاحِدَةٍ نو قافله د يوه کور په څير سوه وَمَنْ قَطَعَ الطَّرِيقَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فِي الْمِصْرِ أَوْ بَيْنَ الْكُوفَةِ وَالْحِيرَةِ او کوم سړی چي په ښار کي د شپې يا د ورځي ډاکه ووهي يا د "کوفه" او "حيره" په مينځ کي ډاکه ووهي فَلَيْسَ بِقَاطِعِ الطَّرِيقِ اسْتِحْسَانًا نو استحساناً به هغه ډاکو نه شمارل کيږي وَفِي الْقِيَاسِ يَكُونُ قَاطِعَ الطَّرِيقِ ليکن په قياس

کي هغه ډاکو شمارل کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دی لِوُجُودِهِ حَقِيقَةً ځکه چي حقيقتاً ډاکه ماري موجوده سو وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يَجِبُ الْحَدُّ إِذَا كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ وَإِنْ كَانَ بِقُرْبِهِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چي که ډاکه ماري له ښار څخه دباندي واقع سوې وي نو حدّ به واجبيږي که څه هم ښار ته نژدې وي لِأَنَّهُ لَا يَلْحَقُهُ الْغَوْثُ ځکه چي هلته مقطوع عليه ته هيڅ مرسته [او کومک] را رسېدلی نه سي وَعَنْهُ❁: إِنْ قَاتَلُوا نَهَارًا بِالسِّلَاحِ أَوْ لَيْلًا بِهِ أَوْ بِالْخَشَبِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی: چي که ډاکوګان د ورځي په اسلحه سره جنګ وکړي يا د شپې په اسلحه يا لکړو سره جنګ وکړي فَهُمْ قُطَّاعُ الطَّرِيقِ نو هغوی به ډاکوګان شمارل کيږي لِأَنَّ السِّلَاحَ لَا يَلْبَثُ ځکه چي اسلحه ځنډ [او درنګ] نه کوي [ابلکي په هغه ګړي خپل کار کوي] وَالْغَوْثُ يُبْطِئُ بِاللَّيَالِي او مرسته د شپې په ځنډ سره رسيږي وَنَحْنُ نَقُولُ: إِنَّ قَطْعَ الطَّرِيقِ بِقَطْعِ الْمَارَّةِ او موږ وايو: چي ډاکه ماري د تېرېدونکو [مسافرانو] په لوټولو سره ثابتيږي وَلَا يَتَحَقَّقُ ذَلِكَ فِي الْمِصْرِ وَبِقُرْبٍ مِنْهُ او دا شی په ښار کي او ښار ته په نژدې [حد] کي نه ثابتيږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ لُحُوقُ الْغَوْثِ ځکه چي [دغه ځايونو ته] د مرستي [ژر] رسېدل ښکاره دي إِلَّا أَنَّهُمْ يُؤْخَذُونَ بِرَدِّ الْمَالِ لېکن دا ډاکوګان به د مال واپس کولو لپاره نيول کيږي إِيصَالًا لِلْحَقِّ إِلَى الْمُسْتَحِقِّ د دې لپاره چي حق خپل مستحق ته ورسول سي وَيُؤَدَّبُونَ وَيُحْبَسُونَ او دوی ته به سزا ورکول کيږي او بنديخانې ته به اچول کيږي لِارْتِكَابِهِمُ الْجِنَايَةَ ځکه چي دوی جرم کړی دی وَلَوْ قَتَلُوا او که دغه ډاکوګانو قتل کړی وي فَالْأَمْرُ فِيهِ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ نو د دې معامله به اولياوو ته پرېښوول کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَمَنْ خَنَقَ رَجُلًا حَتَّى قَتَلَهُ او څوک چي يو سړی خپه کړي تر دې چي هغه قتل کړي فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د قاتل پر عاقله وو باندي ديت [واجب] وي وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْقَتْلِ بِالْمُثْقَلِ او دا په درانه [وزن لرونکي] شي سره د قتل کولو مسئله ده

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة: وفي شرح الطحاوي: الفتوىٰ على قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۵، ص:۱۸۵)، وكذا في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۳۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۷۹]

وَسَنُبَيِّنُ فِي بَابِ الدِّيَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او په بابُ الدیّات کي به موږ انشاء الله هغه بیان کړو وَإِنْ خَنَقَ فِي الْمِصْرِ غَيْرَ مَرَّةٍ او که [یو چا] په ښار کي څو ځله [خلک] خپه کړي وي [او قتل کړي یې وي] قُتِلَ بِهِ نو هغه به قتل کول کیږي لِأَنَّهُ صَارَ سَاعِيًا فِي الْأَرْضِ بِالْفَسَادِ ځکه چي هغه په ځمکه کي د فساد کوښښ کونکی [او د فساد خپرونکی] وګرځېدی فَيُدْفَعُ شَرُّهُ بِالْقَتْلِ نو د هغه شرارت به د قتل په ذریعه دفع کول کیږي.

اللغات: ﴿حِرْز﴾ محفوظ ځای، ﴿غَوْث﴾ مرسته، کومک، غاورسي، فریاد، ﴿مَارَّة﴾ جمع د مَارٌّ ده: پرلاره تېرېدونکی، ﴿لَا يَلْحَقُه﴾ د سمع له باب څخه د نفي صیغه ده: یو ځای کېدل، را رسېدل. ﴿يُؤَدَّبُون﴾ د تفعیل له باب څخه د جمع مذکر غائب مضارع مجهول صیغه ده: د دې باب خپله معنیٰ د "أدب ور زده کولو" ده: لېکن کله چي یې په صله کي مجرم ذکر سي نو بیا د "سزا ورکولو" په معنیٰ سره راځي (مصباح اللغات). ﴿جِنَايَة﴾ جرم، بدکار، ﴿خَنَقَ﴾ د نصر ماضي ده: غاړه خپه کول، ترستوني نیول، ﴿مُثَقَّل﴾ درونډ (درون)، وزني (وزن‌داره)، ﴿سَاعِي﴾ دفتح اسمِ فاعل دی: کوښښ کونکی، زیار ایستونکی.

تشریح: مسئله: دا ده چي کله د ډاکوګانو په جماعت کي د صبي یا د مقطوع علیه د ذو رحم محرم د موجود والي پر بناء له ټولو ډاکوګانو څخه حدّ ساقط سي نو اوس به د مقتولینو اولیاؤ ته له دوی څخه د قصاص اخیستلو حق وي؛ ځکه د حدّ د سقوط په وجه چي کله په دې معامله کي الهي حق ساقط سو نو په هغه کي د بنده حق (حقُ العبد) ښکاره سو. او د حقُ العبد د اخیستلو حق د مقتول اولیاؤ ته حاصل دی. لهذا که هغوی وغواړي نو ډاکوګان دي قتل کړي او که وغواړي نو معاف دي یې کړي.

وإذا قطع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د قافلې ځیني خلک پر ځینو حمله وکړي او د هغوی مال لوټ کړي، نو پر مجرمانو به حدّ نه جاري کیږي، ځکه چي دلته قاطع او مقطوع علیهم ټوله یو حرز دی او ټوله قافله دیوه کور په څېر ده. نو ګواکي هغوی خپل مال غلا کړی دی او د خپل مال په غلا کولو سره قطع نه واجبیږي، نو ځکه به دلته هم حدّ نه جاري کیږي.

ومن قطع إلخ: فرمایي که یو څوک په ښار کي ډاکه ووهي، برابره د ورځي دا کار وکړي یا د شپې، یا د کوفې او "حیره" په مینځ کي ډاکه ووهي (د کوفې او "حیره" په مینځ کي د یوه میل فاصله ده)، نو استحساناً به هغه ډاکو نه شمارل کیږي، لېکن قیاساً هغه ډاکو شمارل کیږي او پر هغه به حدّ جاري کیږي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی؛ د دې قول دلیل دا دی چي د هغه له طرفه حقیقتاً ډاکه ماري موجوده سوه نو ځکه به هغه ډاکو شمارل کیږي. له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په دې سلسله کي یو روایت دا دی چي که هغه له ښار څخه دباندي ډاکه وهلې وي نو پر هغه به حدّ واجبیږي که څه هم هغه ښار ته نژدې دا کار کړی وي، ځکه چي له ښار

شخه دباندې ډاکو ته ښه موقع په لاس ورځي او هلته مظلوم او مقطوع عليه کس ته کومک او مرسته نه را رسيږي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی چې که ډاکوګانو د ورځې په وسله سره جنګ کړی وي يا يې د شپې په وسله يا لکړو سره جنګ کړی وي، نو هغوی به ډاکوګان وي او د هغو دا فعل به ډاکه شمارل کيږي او د حد موجب به وي؛ ځکه چې يوځو د وسلې په وجه مظلوم او مقطوع عليه کس هيڅ نه سي کولای. او بل دا چې د شپې مرسته او کومک په ځنډ سره را راسيږي، لهذا په دې صورت کې به کما حقهٗ ډاکه ماري ثابته سي او ډاکوګان به د حد مستحقين وګرځي.

زموږ له طرفه هغه ته دا جواب ورکول سوی دی چې ډاکه ماري خو عموماً د مسافرانو او لارويانو په لوټولو سره ثابتيږي، او په ښار کې يا ښار ته نژدې په يو ځای کې د مسافرانو لوټول ممکن نه دي، ځکه چې په داسې ځايو کې د خلکو تګ راتګ زيات وي او مقطوع عليه ته ژر مرسته او تعاون رسيږي، لهذا په ښار کې او ښار ته په نژدې علاقه کې د مال لوټول به ډاکه ماري نه شمارل کيږي او پر داسې لوټونکو به حد نه جاري کيږي، لېکن دوی به نيول کيږي د دې لپاره چې د کومو خلکو مال يې اخيستی وي د هغو حق واپس ځني واخيستل سي، او دغه بدبختانو ته به سزا هم ورکول کيږي او جېل ته به هم اچول کيږي د دې لپاري چې آينده داسې شرمنده حرکت نه وکړي او د همېشه لپاره د لوټمارۍ څخه منع سي.

ولو قتلو إلخ: فرمايي که دغه ډاکوګانو يو شوک قتل کړی وي نو د قصاص معامله به اولياؤ ته سپارل کيږي: ځکه چې د حد ساقطېدلو په وجه په دې کي حقُ العبد ښکاره سو، او د حقُ العبد د اخيستلو حق د بنده اولياؤ ته يعني د مقتول اولياؤ ته حاصل وي، په لِمَا بَيَّنَّا سره صاحب د هدايې همدې طرف ته اشاره کړې ده او همدا مفتیٰ به دي. (بناية ج:۶، ص:۴۸۸)

ومن خنق رجلا إلخ: مسئله دا ده که يو سړی بل شوک خپه کړي او مړ يې کړي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د خانق او قاتل پر عاقله وو د مقتول ديت واجبيږي، دا په حقيقت کي په ثقيل او درانه شي سره د وژلو مسئله ده چې د هغه پوره تفصيل به انشاء الله په کتابُ الديات کي ذکر سي، او د هغه خلاصه دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز داسې قتل "قتلِ خطاء" دی، له همدې کبله د دې ديت عاقله اداء کوي لأن العواقل لا تعقل العمد. او که يو سړي په ښار کي څو خلک خپه کړي وي او د ده د خپه کولو په وجه هغه خلک مړه سوي وي، نو دغه وحشي درنده به نيول کيږي او د مرګ سزا به ورکول کيږي، ځکه چې هغه په ځمکه کي د فساد غوروونکی دی لهذا د هغه ختمول ډېر ضروري دي، د دې لپاره چې خلک د هغه له شر او فساد څخه وساتل سي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



كِتَابُ السِّيَرِ

(دا) کتاب د "سِیَر" (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: تر کتابُ الحدود وروسته فوراً د کتابُ السِیَر د بیانولو وجه دا ده چي د حدُونو او د سِیَر دواړو مقصد "تطهیر" دی یعني دنیا له فتنه او فساد څخه پاکول، لېکن څرنګه چي په "حدود" کي دادنیٰ درجې تطهیر دی او په سِیَر یعني په جهاد کي د اعلیٰ درجې تطهیر دی او قاعده دا ده چي ترقي له ادنیٰ څخه د اعلیٰ وطرف ته وي. نو په دې وجه صاحب د هدایې له ادنیٰ تطهیر څخه وروسته اوس د اعلیٰ تطهیر بیان کوي. د هدایې محشي علامه لکنوي رَحِمَهُ الله د دې وجه دا بیان کړې ده چي د حدُونو مقصد دنیا له فسق او فجور څخه پاکول دي او د سِیَر او مغازي یعني د جهاد مقصد دنیا له کفر او شرک څخه پاکول دي، همدارنګه ځیني حدود فقط حقّ العبد هم وي لېکن جهاد فقط حقُ الله دی. او حقوقُ العبد له حقوقُ الله څخه مخکي وي. لهذا په دې حوالو سره هم حدود له سِیَر څخه مخکي سوي دي. د سِیَر لغوي او اصطلاحي معنیٰ په کتاب کي ذکر سوې ده. (بنایه ج:۶، ص:۴۸۹)

د "سِیَر" لغوي او اصطلاحي معنیٰ

اَلسِّيَرُ جَمْعُ سِيْرَةٍ سِیَر جمع د سِیْرَةٌ ده وَهِيَ الطَّرِيْقَةُ فِي الْأُمُورِ او د هغه الغوي معنیٰ ده! د کارونو طریقه وَفِي الشَّرْعِ تَخْتَصُّ بِسِيَرِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي مَغَازِيهِ او په شریعت کي دا لفظ [سِیْـرَة] په غزاګانو کي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د طریقو سره خاص دی.

اللغات: ﴿مَغَازِي﴾ غزاګاني (غزوات)، جنګونه.

تشریح: د "سیرة" لغوي معنیٰ ده: طریقه، لاره، خوی او عادت. او د شریعت په اصطلاح کي "سیرة" هغه طریقې ته وایي کوم چي نبي کریم ﷺ په خپلو غزاګانو کي اختیار کړې وه. او څرنګه چي په دې کتاب (کتابُ السیر) کي د نبي کریم ﷺ او د صحابه کرامو او د غازي مسلمانانو أحوال او واقعات بیان سوي دي. نو په همدې مناسبت سره د دې کتاب نوم "کتابُ السیر" ایښوول سوی دی. (بنایة ج:۶، ص:۴۸۹)

د جهاد شرعي حيثيت او د هغه دلائل

قَالَ: اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ فرمايي: چې جهاد فرضِ كفايي دى إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِينَ كله چې د خلكو يو جماعت [دله] هغه اداء كړي نو له پاته خلكو څخه فرضيت ساقطيږي أَمَّا الْفَرْضِيَّةُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً [التوبة: ٣٦] كوم چې فرضيت دى نو ځكه چې الله تعالىٰ فرمايلي دي: تاسي ټوله [تمام] د مشركينو سره وجنګيږئ! لكه څرنګه چې هغوى ټوله ستاسي سره جنګيږي وَلِقَوْلِهِ عليه السلام[1]: اَلْجِهَادُ مَاضٍ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ او ځكه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: جهاد د قيامت تر ورځي پوري جاري دى وَأَرَادَ بِهِ فَرْضًا بَاقِيًا او په دې فرمان سره د نبي ﷺ مراد دا دى چې جهاد [تر قيامته پوري] باقي پاتېدونكى فرض دى وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ لِأَنَّهُ مَا فُرِضَ لِعَيْنِهِ او جهاد فرضِ كفايي ځكه دى چې هغه د خپل ذات په اعتبار سره فرض نه دى إِذْ هُوَ إِفْسَادٌ فِي نَفْسِهِ ځكه چې هغه په حقيقت كي خرابول [ويجاړول] دي وَإِنَّمَا فُرِضَ لِإِعْزَازِ دِينِ اللهِ وَدَفْعِ الشَّرِّ عَنِ الْعِبَادِ [بلكي] جهاد د الهي دين د لوړولو [او غالب ګرځولو] لپاره او له بندګانو څخه د شر دفع كولو لپاره فرض سوى دى فَإِذَا حَصَلَ الْمَقْصُودُ بِالْبَعْضِ لهذا كله چې په ځيني خلكو سره دا مقصود حاصل سي سَقَطَ عَنِ الْبَاقِينَ نو له پاته خلكو څخه به فرضيت ساقطيږي كَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَرَدِّ السَّلَامِ لكه د جنازې لمونځ او د سلام جواب وركول فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ ليكن كه هيڅوك هم جهاد اداء نه كړي أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ نو د جهاد پرېښولو په وجه به ټوله خلك ګنهكاره وي لِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْكُلِّ ځكه چې وجوب پر ټولو دى وَلِأَنَّ فِي اشْتِغَالِ الْكُلِّ بِهِ قَطْعَ مَادَّةِ الْجِهَادِ مِنَ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ او ځكه چې په جهاد كي د ټولو خلكو په مشغولېدلو سره د جهاد سامان يعني آسونه او اسلحه ختمول لازميږي فَيَجِبُ عَلَى الْكِفَايَةِ نو [په دې وجه] به جهاد د فرضِ كفايي په توګه واجب وي إِلَّا أَنْ يَكُونَ النَّفِيرُ عَامًّا ليكن كه عام جنګ [او نبنته] وي فَحِينَئِذٍ يَصِيرُ مِنْ فُرُوضِ الْأَعْيَانِ نو په دې صورت كي جهاد فرضِ عين ګرځي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: انْفِرُوا خِفَافًا

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجهاد، باب في الغزو مع ائمة الجور، رقم الحديث: ٢٥٣٢

وَثِقَالاً [التوبة: ۴۱] ځکه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: إِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّ ثِقَالًا.

اللغات: ﴿فریق﴾ ډله، جماعت، ګروپ. ﴿کافة﴾ ټوله. ﴿إفساد﴾ خرابول، وېجاړول. ﴿إعزاز﴾ د افعال مصدر دی: عزیز ګرځول، غالب ګرځول. ﴿کُراع﴾ مراد ځنې جهادي آسونه دي. ﴿سلاح﴾ اسلحه، وسله. ﴿نفیر﴾ وتل، نفیرِ عام، عام جنګ. صاحب د معجم الوسیط یې داسې تعریف کړی دی: "النفیر الْعَام: قیام عَامَّة النَّاس لِقِتَال الْعَدو" (یعني د دښمن سره د جنګ کولو لپاره د عام اُولس تیارېدل).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې جهاد پر عامو مسلمانانو "فرضِ کفایي" دی. او که چېرې د مسلمانانو یو جماعت جهاد وکړي او د جهاد حق اداء کړي نو له ټولو خلکو څخه د جهاد فرضیت ساقطیږي. لېکن په کوم ښار یا په کوم ملک (هیواد) کې چې کفارو پر مسلمانانو حمله کړې وي د هغه ښار او ملک پر ټولو خلک جهاد فرض دی؛ هسې خو د جهاد فرضیت په بې شمېره آیتونو سره ثابت دی خو صاحب د هدایې چې د جهاد د نفسِ فرضیت په هکله کوم دلیل وړاندې کړی دی هغه د قرآن کریم دا آیت دی: "فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَافَّةً". همدارنګه په دې حدیث سره هم د جهاد فرضیت ثابت دی "الجِهَادُ مَاضٍ إِلىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ". او د دې مراد او مقصد دا دی چې جهاد تر قیامته پورې پاتېدونکې او دوام کونکې فریضه ده.

د دې سلسلې عقلي دلیل دا دی چې د جهاد أصل او حقیقت إفساد دی. ځکه چې د جهاد سره خلکو ته تکلیف ورکول او ملکونه او ښارونه وېجاړول لازم دي. نو په دې وجه به دا فرض لعینه نه وي (یعني د خپل ذات په وجه به فرض نه وي)، بلکې فرض لغیره به وي. ځکه چې د جهاد په ذریعه الهي دین ته استحکام او إعزاز ورنصیب کیږي او له بندګانو څخه شرور او آفات لیرې کیږي. او کله چې د ځینې خلکو په جهاد کولو سره دا مقصد حاصلیږي نو ښکاره خبره ده چې پر هر کس باندې (فرداً فرداً) د جهاد فرض کولو څه ضرورت نسته. د دې مثال داسې دی لکه د جنازې لمونځ کول یا لکه پر یوه ځای په څو ناستو خلکو کې پر یوه سړي باندې د سلام جواب ورکول فرضِ کفایي دي. او پر هر کس باندې د جنازې لمونځ یا د سلام جواب ورکول فرض نه دي. همداسې جهاد کول او په جهاد کې مشغول اوسېدل هم پر هر یوه فرض نه دي. لېکن که هیڅ قوم او هیڅ یو جماعت دا فریضه اداء نه کړي نو ټوله به ګنهګاره او د سزا مستحق وي. ځکه چې د جهاد "نفسِ وجوب" خو پر هر یوه سته لېکن

"وجوبِ اداء" پر ټولو نسته، او د هيڅچا په جهاد نه کولو سره د "نفسِ وجوب" پرېښوول لازميږي، نو د ترکِ وجوب په وجه سره به ټوله خلک ګنهګاره وي.

ولأن في اشتغال الكل إلخ: د دې حاصل دا دی چې که ټوله خلک په جهاد کې مشغوله سي نو د جهاد سامان يعني اسلحې او آسونه به ټوله معدوم او نيستي سي او مجاهدين به په مشقت او تکليف کې مبتلا سي، نو په همدې وجه شريعت جهاد "فرضِ کفايي" ګرځولی دی. هاّ! که چيرې عام جنګ او نښته ومنبلي او کفار پر مسلمانانو باندې راجمع سي او د إمامُ المسلمين له طرفه د هر مسلمان وتل لازمي وګرځول سي، نو په دې صورت کې پر هر مسلمان جهاد فرضِ عين ګرځي (ځکه چې پر هر مسلمان د خپل ځان او مال حفاظت کول فرض کيږي) او په دې صورت کې پر ځوانانو او سپين ږيرو ټولو جهاد فرض کيږي د دې لپاره چې د مسلمانانو د کثرت او قوت په ليدلو سره کافران په خوف او بېره کې ولوېږي او پر دوی باندې د مسلمانانو رعب او هيبت پرېوځي. د دې حکم دليل د قرآن کريم دا آيت دی "اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا" يعني په تاسي کې دې سپک هم ووځي او درانه هم! يعني د نفيرِ عام په صورت کې به تاسي ټوله وځئ! او له وتلو څخه بغير خلاصون نسته. ځينې مفسرينو د "خِفَافًا وَّثِقَالًا" تفسير داسي کړی چې تاسي پياده او سپاره ټوله ووځئ!.

په مختلفه حالاتو کې د جهاد مختلفه احکام

وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: اَلْجِهَادُ وَاجِبٌ إِلَّا أَنَّ الْمُسْلِمِينَ فِي سَعَةٍ امام محمد رَحِمَهُ الله په جامعِ صغير کې فرمايلي دي: چې جهاد واجب دی خو مسلمانانو لره [په دې کې] ګنجائش سته حَتَّى يُحْتَاجَ إِلَيْهِمْ تر دې چې هغو ته حاجت پېښ سي فَأَوَّلُ هٰذَا الْكَلَامِ إِشَارَةٌ إِلَى الْوُجُوبِ عَلَى الْكِفَايَةِ وَآخِرُهُ إِلَى النَّفِيرِ الْعَامِّ د دې کلام په اوله حصه کې ودې ته اشاره ده چې جهاد فرضِ کفايي دی او په آخري حصه کې يې د نفيرِ عام طرف ته اشاره ده وَهٰذَا لِأَنَّ الْمَقْصُودَ عِنْدَ ذٰلِكَ لَا يَتَحَصَّلُ إِلَّا بِإِقَامَةِ الْكُلِّ او دا ځکه چې د نفيرِ عام په وخت کې د ټولو خلکو له جهاد څخه بغير مقصود حاصلېدای نه سي فَيَفْتَرِضُ عَلَى الْكُلِّ نو ځکه به پر ټولو جهاد فرض وي وَقِتَالُ الْكُفَّارِ وَاجِبٌ وَإِنْ لَمْ يَبْدَءُوا او د کفارو سره جنګ کول واجب دي که څه هم هغوی شروع [پېش قدمي] نه وکړي لِلْعُمُومَاتِ ځکه چې په آيتونو او حديثونو کې عموم دی وَلَا يَجِبُ الْجِهَادُ عَلَى صَبِيٍّ او پر بچي باندې جهاد واجب نه دی لِأَنَّ الصَّبِيَّ مَظِنَّةُ الْمَرْحَمَةِ ځکه چې بچی د رحم ځای دی ايعني د شفقت محل دی| وَلَا عَبْدٍ وَلَا امْرَأَةٍ او نه پر غلام او نه پر ښځې [جهاد واجب دی] لِتَقَدُّمِ حَقِّ الْمَوْلٰى وَالزَّوْجِ ځکه چې د

مالک او خاوند حق مخکي دی وَلَا أَعْمَى وَلَا مُقْعَدٍ وَلَا أَقْطَعَ او نه پر نابینا او نه پر شوټ او نه پر هغه کس [جهاد واجب دی] چي لاس یې پرېکړی سوي وي لِعَجْزِهِمْ ځکه چي دغه ټوله کسان اله جهاد کولو څخه] عاجز دي فَإِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ او كه دښمن پر يو ښار باندي حمله وكړي وَجَبَ عَلَى جَمِيعِ النَّاسِ الدَّفْعُ نو پر ټولو خلګو به دفاع کول [او جنګ ته راوتل] واجب وي تَخْرُجُ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا ښځه به د خپل خاوند له اجازې څخه بغير وځي وَالْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمَوْلَى او غلام به د خپل مالک له اجازې څخه بغیر [وځي] لِأَنَّهُ صَارَ فَرْضَ عَيْنٍ ځکه چي [اوس] جهاد فرضِ عين وګرځېدی وَمِلْكُ الْيَمِينِ وَرِقُّ النِّكَاحِ لَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ فُرُوضِ الْأَعْيَانِ او په فرضِ عين کي د ملکِ يمين او ملکِ نکاح أثر نه ښکاره کيږي كَمَا فِي الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ لکه په لمانځه او روژه کي بِخِلَافِ مَا قَبْلَ النَّفِيرِ په خلاف تر نفيرِ عام د مخکني حالت لِأَنَّ بِغَيْرِهِمَا مَقْنَعًا ځکه چي [په هغه حالت کي] له دې دواړو څخه بغیر هم کفايت سته [يعني تر نفيرِ عام مخکي له دوی څخه بغير نور مسلمانان د جهاد لپاره کافي وي او مقابله کولای سي] فَلَا ضَرُورَةَ إِلَى إِبْطَالِ حَقِّ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ لهذا د مالک او خاوند د حق باطلولو هيڅ ضرورت نسته وَيُكْرَهُ الْجُعْلُ مَا دَامَ لِلْمُسْلِمِينَ فَيْءٌ او تر څو چي د مسلمانانو سره [په بيتُ المال کي] مال وي تر هغه وخته پوري د جهاد لپاره څه اخيستل [چنده ټولول] مکروه دي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ الْأَجْرَ ځکه چي دا [د جهاد لپاره چنده ټولول] د أجرت سره مشابه دي وَلَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ او د دې [چندې] ضرورت [هم] نسته لِأَنَّ مَالَ بَيْتِ الْمَالِ مُعَدٌّ لِنَوَائِبِ الْمُسْلِمِينَ ځکه چي د بيتُ المال مال د مسلمانانو د پېښو [او آفاتو] د ليري کولو لپاره تيار سوی دی فَإِذَا لَمْ يَكُنْ [ليكن] كه چيري په بيتُ المال کي مال نه وي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُقَوِّيَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا نو بيا په دې کي هيڅ پروا نسته چي اد چندې کولو په ذريعه] ځيني و ځينو ته تقويه ورکړي لِأَنَّ فِيهِ دَفْعَ الضَّرَرِ الْأَعْلَى بِإِلْحَاقِ الْأَدْنَى ځکه چي په دې کي د ادنیٰ ضرر په زغملو [برداشت کولو] سره د أعلیٰ ضرر ليري کول دي يُؤَيِّدُهُ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَام أَخَذَ[1] دُرُوعًا مِنْ صَفْوَانَ د دې تأئيد په دې سره کيږي چي نبي ﷺ له صفوان بن أُميه څخه يو څو زغري واخيستې وَعُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُغْزِي الْأَعْزَبَ عَنْ ذِي الْحَلِيلَةِ او حضرت عمر ﷺ به بې واده [مُجرّد] سړی د واده لرونکي سړي له طرفه غزا ته استوی وَيُعْطِي الشَّاخِصَ فَرَسَ الْقَاعِدِ او [په غزا کي] تلونکي سړي ته به يې د ناست [نه تلونکي] سړي آس ورکوی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب البيوع، باب فى تضمين العارية، رقم الحديث: ۳۵۶۲.

اللغات: ﴿سعة﴾ گنجائش، پراخي. ﴿مظنة﴾ د گومان ځای، مقام، محل. ﴿مُقعد﴾ شل، شوټ (پر کونه ناست)، معذور. ﴿دَفع﴾ دفاع او مدافعت کول. ﴿مَقْنَع﴾ کفایت. ﴿نوائب﴾ جمع د نَائِبَةٌ ده: پېښه، واقعه، مصیبت. ﴿دروع﴾ جمع د دِرْعٌ ده: زغره. ﴿يُغزي﴾ د افعال مضارع ده: جهاد او غزا ته استول. ﴿أعزب﴾ بې: واده، هغه کس چي تر اوسه يې واده کړی نه وي. ﴿حليلة﴾ ښځه، ماينه. ﴿شاخص﴾ جنګېدونکی، جنګ او غزا ته تلونکی.

تشريح: د قدوري په حواله سره د جهاد د فرضيت او نوعيت تر بيانولو وروسته اوس صاحب د كتاب د جامع صغير په حواله سره د جهاد فرضيت بيانوي فرمايي چي جهاد خو واجب دی لېكن پر هر يوه باندي د دې وجوب نسته، بلكي په دې كي گنجائش سته يعني پر ټولو خلكو جهاد كول واجب نه دي. ها! كه چيري نفيرِ عام او عام جنگ ومنبلي او د امامُ المسلمين له طرفه د ټولو خلكو لپاره وتل لازمي وگرځول سي. نو په داسي صورت كي به دا گنجائش او رعايت ختميږي.

إلا أن المسلمين في سعة: په دې سره د جهاد د "فرضِ كفايي" كېدلو ثبوت بيان سوی دی او په "حتى يحتاج إليهم" سره د جهاد د "فرضِ عين" كېدلو ثبوت بيان سوی دی.

وقتال الكفار واجب إلخ: فرمايي چي د كفارو او مشركينو سره جهاد كول فرض او واجب دی كه څه هم د دوی له طرفه پر جنگ او قتال باندي پېش قدمي نه وسي، ځكه چي په قرآني آيتونو مثلاً په "أُقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ وَقَاتِلُوْهُمْ... إلخ" كي عموم دی، همدارنگه په نبوي احاديثو كي هم عموم دی، مثلاً "الجهاد ماض إلى يوم القيامة" او "أُمرتُ أن أُقاتل حتى يقولوا لا إله إلّا الله"، او دا عموم د دې خبري دليل دی چي د كفارو سره دي جنگ او قتال وكړی سي برابره ده د هغو له طرفه وړاندیتوب او پېش قدمي وسي او كه نه.

ولا يجب إلخ: د دې حاصل دا دی چي پر بچيانو، غلامانو او ښځو باندي جهاد فرض نه دی. ځكه چي اول خو بچي د شريعت په أحكامو مكلّف نه دي، او دويم دا چي هغه د شفقت محل دی او جنگ او جهاد ته د هغه ايستل د شفقت او اُلفت خلاف دي، او ښځه او غلام د خپل خاوند او مالک د خدمت لپاره وقف وي او په جهاد كي د دوی په وتلو سره د خاوندانو او مالكانو حقوق ضايع كيږي، او څرنگه چي دا حقوقُ العباد دي نو ځكه به هغه پر حقُ الله مخكي وي.

فإن هجم العدو إلخ: فرمايي كه چيري دښمن د مسلمانانو پر ملک حمله وكړي او نفيرِ عام واقع سي. نو په دې صورت كي پر هر يوه جهاد فرضِ عين گرځي تر دې چي ښځه به د خپل خاوند له رضا او اجازې څخه بغير وځي او غلام به د خپل مالک له رضا څخه بغير وځي، ځكه چي د فرضِ عين په اداء كولو كي د خاوند او مالک حق مانع نه گرځي لكه څرنگه چي لمونځ او روژه فرضِ عين دي او د دوی په اداء كولو كي د هيڅا حق مانع نه دی همداسي به د نفيرِ عام واقع كېدلو په صورت كي هم په جهاد كي له وتلو څخه د هيڅا حق مانع نه وي.

ها! كه چيرې نفيرِ عام نه وي نو په دې صورت كې به پر ښځې او غلام جهاد فرضِ عين نه وي. ځكه چې په دې صورت كې به له ښځې او غلام څخه بغير هم موجوده مسلمانان د مقابلې كولو لپاره كافي وي او د دوی په شركت نه كولو سره به د مسلمانانو په قوت كې كمي نه راځي. لهذا بېله څه وجهې به د خاوند او مالک حق نه باطلول كيږي.

ويكره الجعل إلخ: د دې حاصل دا دی چې كه په بيتُ المال كې مال موجود وي نو په هغه مال سره به جهاد كيږي او د جهاد لپاره به مخصوصه چنده نه كيږي؛ ځكه چې د جهاد لپاره چنده ټولول د أجرت اخيستلو سره مشابه دي. حالانكې جهاد خالص د الله تعالىٰ حق دی او په دې كې د أجرت گنجائش نسته. او په بيتُ المال كې د مال د موجودوالي په صورت كې د چندې ضرورت هم نسته. ځكه چې بيتُ المال د همدې لپاره جوړيږي چې د هغه مال په پېښېدونكو واقعاتو او آفاتو كې مسلمانانو ته په كار راسي. نو په دې وجه ترڅو چې په بيتُ المال كې مال وي تر هغه وخت پورې د جهاد لپاره چنده ټولول صحيح او مناسب نه دي. بلكې د فقهاؤ په نظر كې مكروه كار دی. ها! كه چيرې په بيتُ المال كې مال نه وي نو په دې صورت كې د چندې او داسې نورو په ذريعه يو د بل مرسته كول كېداى سي. ځكه چې چنده كول د ادنىٰ درجې ضرر دی او د كفارو سره جنګ او مقابله پرېښوول د اعلىٰ درجې ضرر دی. او قاعده دا ده چې " إِذَا اجْتَمَعَ مَفْسَدَتَانِ رُوْعِيَ أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا" (يعنې كله چې په يوه مسئله كې دوه ضررونه جمع سي نو هلته به سپک او أدنىٰ ضرر اختيارول كيږي). لهذا دلته به هم ادنىٰ شی يعنې "چنده ټولول" زغمل كيږي د دې لپاره چې د كفارو سره مقابله وسي او د هغو د شر او فساد مخ ونيول سي.

د دې تائيد د نبي كريم ﷺ په دې واقعه سره هم كيږي چې نبي ﷺ د حُنين په غزا كې له صفوان بن أُميه څخه يو څو زغرې په عاريت اخيستې وې. او د حضرت عمر ﷺ عادت دا وو چې بې واده (مجرّد) ځوانان به يې د واده لرونكو خلكو له طرفه په جهاد كې استول او كوم كس چې به جهاد ته تلی او د هغه سره به سپارلی نه وو نو نبي كريم ﷺ د نه تلونكي كس آس هغه ته وركوی. همدغه ته "جُعل" وايي. له دې څخه معلومه سوه چې د حاجت په اندازه د "جُعل" گنجائش سته. ها! بېله ضرورته مكروه دی. والله أعلم وعلمهٔ أتم



بَابُ كَيْفِيَّةِ الْقِتَالِ

(دا) باب د جنګ کولو د کيفيت (په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چې د جهاد اوله مرحله قتل او قتال دی. نو ځکه صاحب د هدايې له کتابُ السِيَر څخه متصلاً وروسته باب کيفية القِتال بيان کړی دی.

قِتَال: يو د بل سره جنګ کول. په اسلحه (وسله) سره د ځانو دفاع کول.

د جنګ ابتدائي احکام

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُوْنَ دَارَ الْحَرْبِ او کله چې مسلمانان دارُ الحرب ته داخل سي فَحَاصَرُوا مَدِيْنَةً أَوْ حِصْنًا او [هلته] يو ښار يا يوه کلا محاصره کړي دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ نو کافرانو ته دي د اسلام دعوت ورکړي لِمَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ[1] : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَا قَاتَلَ قَوْمًا حَتَّى دَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ ځکه چې ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا روايت کړی دی چې نبي کريم د اسلام له دعوت ورکولو څخه بغير د هيڅ قوم سره هم جنګ نه دي کړی فَإِنْ أَجَابُوا نو که کفار [اسلام] قبول کړي كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ نو مجاهدين دي د هغو له جنګ څخه منع سي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ ځکه چې مقصود حاصل سو وَقَدْ قَالَ ﷺ[2] : أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُوْلُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ او نبي ﷺ فرمايلي دي: ما ته د خلکو سره د جنګ کولو حکم سوی دی تر دې چې هغوی لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ووايي وَإِنِ امْتَنَعُوا دَعَوْهُمْ إِلَى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ او که کفار له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي نو هغوی ته دي د جزيې اداء کولو دعوت ورکړي بِهِ أَمَرَ[3] رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أُمَرَاءَ الْجُيُوْشِ په همدې سره نبي کريم ﷺ د لښکرونو أميرانو ته حکم کړی وو وَلِأَنَّهُ أَحَدُ مَا يَنْتَهِي بِهِ الْقِتَالُ او ځکه چې دا [جزيه] له هغو شيانو څخه ده چې په هغه سره جنګ ختميږي

[1] تخريج: أخرجه حاكم في المستدرك، كتاب الأيمان ج:١ ص:١٥.
[2] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الأيمان، باب الأمر بقتال الناس، رقم الحديث:٣٣.
[3] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجهاد، باب في دعاء المشركين، رقم الحديث:٢٦١٢.

ايعني د جزيې په اداء کولو سره د جنګ او قتال حکم ساقطيږي او کفار خلاصيږي ا عَلٰى مَا نَطَقَ بِهِ النَّصُّ لکه آيت چي د دې بيان کړی دی وَهٰذَا فِي حَقِّ مَنْ تُقْبَلُ مِنْهُ الْجِزْيَةُ او دا حکم د هغه کافرانو سره متعلق دی چي له هغو څخه جزيه قبلول کيږي وَمَنْ لَا تُقْبَلُ مِنْهُ كَالْمُرْتَدِّينَ وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَرَبِ لَا فَائِدَةَ فِي دُعَائِهِمْ إِلٰى قَبُوْلِ الْجِزْيَةِ او له چا څخه چي جزيه نه قبلول کيږي لکه مرتدين او بُت پرسته کافران نو هغوی ته د جزيې دعوت ورکول بې فايدې دي لِأَنَّهُ لَا يُقْبَلُ مِنْهُمْ إِلَّا الْإِسْلَامُ ځکه چي له اسلام څخه بغير بل هيڅ شی له هغو څخه نه قبلول کيږي قَالَ: اللّٰهُ تَعَالٰى تُقَاتِلُوْنَهُمْ أَوْ يُسْلِمُوْنَ [الفتح: ۱۶] الله تعالیٰ فرمايلي دي: تاسي به د هغوی سره جنګ کوئ! يا هغوی به اسلام راوړي اله دې څخه بغير د دوی لپاره بله هيڅ لاره نسته ا فَإِنْ بَذَلُوْهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِيْنَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ او که چيري کفار جزيه قبوله کړي نو د دوی لپاره به هغه احفاظت او ساتنه ا وي کوم چي د مسلمانانو لپاره وي او پر دوی به هغه اقوانين لازم ا وي کوم چي پر مسلمانانو لازم وي لِقَوْلِ عَلِيٍّ*: إِنَّمَا بَذَلُوا الْجِزْيَةَ لِيَكُوْنَ دِمَاؤُهُمْ كَدِمَائِنَا وَأَمْوَالُهُمْ كَأَمْوَالِنَا ځکه چي حضرت علي رضي الله عنه فرمايلي دي: چي دغه کافرانو د همدې لپاره جزيه قبوله کړې ده چي د دوی وينې زموږ د وينو په شان او د دوی مالونه زموږ د مالو په شان محفوظ سي وَالْمُرَادُ بِالْبَذْلِ الْقَبُوْلُ او له "بذل" څخه مراد "قبلول" دي وَكَذَا الْمُرَادُ بِالْإِعْطَاءِ الْمَذْكُوْرِ فِيْهِ فِي الْقُرْآنِ او په دې هکله چي په قرآن کريم کي "إعطاء" ذکر سوی دی له هغه څخه هم "قبلول" مراد دي.

اللغات: ﴿حاصروا﴾ د مفاعلې ماضي ده: محاصره کول. ﴿حِصْن﴾ قلعه، کلا. ﴿أَجَابُوْا﴾ د افعال ماضي ده: جواب ورکول، قبلول. ﴿جِزْيَة﴾ ماليه، ټکس، هغه ماليه چي يهود او نصارا يې اسلامي حکومت ته ورکوي او اسلامي حکومت د هغه په مقابله کي د دوی د ځانو او مالونو د حفاظت ذمه واري اخلي. ﴿كفّوا﴾ د نصر له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي معلوم صيغه ده: منع کېدل، درېدل. ﴿بذلوها﴾ د نصر ماضي ده: خرڅول، مصرفول، مراد ځني قبلول دي لکه څرنګه چي صاحب د هدايې فرمايلي دي.

* تخريج: رواه دار القطنى فى كتاب الحدود والديات ج:۳، ص:۱۰۶، رقم حديث: ۳۲۵۸.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله مسلمانان د کفارو سره د مقابلې او جنګ کولو لپاره ووځي او دارُالحرب ته ننوځي او يو ښار يا يوه قلعه (کلا) محاصر کړي. نو هغو ته پکار دي چې فوراً پر کافرانو حمله نه وکړي، بلکي مخکي دي هغو ته د اسلام دعوت ورکړي. که هغوی اسلام راوړي نو بيا دي قتل او قتال نه کوي، ځکه چې همدا د نبي کريم ﷺ طريقه وه. لکه څرنګه چې د ابن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا په حديث کې د دې وضاحت سوی دی. او په دې حديث "أُمِرتُ أن أُقاتِل النّاس...إلخ" کې د "لا إله إلا الله" تر ويلو پوري د قتال او جنګ کولو جواز ثابت دی. له دې څخه دا ثابتيږي چې د توحيد او رسالت تر اقرار کولو وروسته به د کفارو سره قتال نه کيږي. ځکه کله چې هغوی اسلام راوړي نو د جهاد مقصد يعني "إعلاء كلمة الله" او د "حق إظهار" حاصل سو. او أصل د مقصد حاصليدل دي. لهذا کله چې دا مقصد له جهاد او قتال څخه بغير حاصل سي نو بيله څه وجهې د وينې بيولو او خون وخرابه کولو څه ضرورت سته!؟

ها! که چيري کفار له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي نو بيا به له کفارو څخه د "جزيه" غوښتنه کيږي. که چيري کفار د جزيه په ورکولو راضي سي، نو هم به د هغوی سره قتال نه کيږي. ځکه چې په جزيه سره هم قتال ساقطيږي. لکه څرنګه چې د قرآن کريم په دې آيت کې ذکر سوي دي "قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ... حَتّٰى يُعۡطُوا الجِزْيَةَ". همدارنګه نبي کريم ﷺ به هم د لښکر أمير ته د جزيې د دعوت ورکولو حکم کوی. لېکن دا خبره مو بايد په ياد وي چې د جزيې د دعوت حکم د هغو کافرانو سره خاص دی کوم چې مرتد او بُت پرسته نه وي او چې له هغو څخه د جزيې اخيستل صحيح وي. همدا وجه ده چې مرتدينو او بت پرسته کافرانو ته به د جزيې وړانديينه او دعوت نه کيږي. بلکي که هغوی د اسلام دعوت قبول نه کړي نو سمدستي به جنګ او قتال ور سره شروع کيږي ځکه چې له هغوی څخه جزيه اخيستل صحيح نه دي. د هغوی په هکله خو قرآن کريم دا اعلان کړی دی "تُقَاتِلُوْنَهُمْ أَوْ يُسْلِمُوْن" چې يا به مجاهدين د دوی سره قتال کوي يا به دوی په اسلام سره پناه اخلي او اسلام به راوړي.

فإن بذلوها إلخ: فرمايي که چيري له بُت پرسته کُفارو او مرتدينو څخه بغير نور کفار د جزيې په ورکولو راضي سي او دا غوښتنه قبوله کړي، نو د مسلمانانو د ځانو او مالونو په څير به د دوی ځانونه او مالونه هم محفوظ او محترم ګرځي او کوم قوانين او ضوابط چې پر مسلمانانو لازم وي هغه به پر دوی هم لازم او جاري کيږي. لکه څرنګه چې د حضرت علي رضي الله عنه په فرمان کې د دې صراحت سوی دی.

والمراد إلخ: فرمايي چې له "بذل" څخه هم "قبلول" مرادا دي. او په دې آيت "حَتّٰى يُعۡطُوا الۡجِزۡيَةَ" کې له "إعطاء" څخه هم "قبلول" مراد دي.

د قتال د جواز لپاره د تبليغ مسئله

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُقَاتِلَ مَنْ لَمْ تَبْلُغْهُ الدَّعْوَةُ إِلَى الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ يَدْعُوَهُ او د هغه کفارو سره جنګ کول جائز نه دي چې هغو ته د اسلام دعوت رسېدلی نه وي تر دې چې مجاهدين هغو ته د اسلام دعوت ورکړي لِقَوْلِهِ [1] فِي وَصِيَّةِ أُمَرَاءِ الْأَجْنَادِ: فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ځکه چې د لښکرونو د أميرانو په وصيت کې نبي ﷺ فرمايلي دي: چې [تر ټولو مخکې] تاسې هغوی ته د دې خبرې د ګواهۍ ورکولو دعوت ورکړئ! چې له الله څخه بغير بل هيڅوک د عبادت وړ نه دی وَلِأَنَّهُمْ بِالدَّعْوَةِ يَعْلَمُونَ أَنَّا نُقَاتِلُهُمْ عَلَى الدِّينِ لَا عَلَى سَلْبِ الْأَمْوَالِ وَسَبْيِ الذَّرَارِيِّ او ځکه چې د دعوت ورکولو په صورت کې به کفار په دې پوه سي چې موږ د هغوی سره پر دين جنګېږو. نه د مالونو پر سلبولو او د ښځو پر قيدولو فَلَعَلَّهُمْ يُجِيبُونَ نو کېدای سي چې هغوی [اسلام] قبول کړي فَتُكْفَى مُؤْنَةُ الْقِتَالِ نو موږ به [هم] د جنګ له مشقت څخه خلاص سو وَلَوْ قَاتَلَهُمْ قَبْلَ الدَّعْوَةِ او که لښکر تر دعوت ورکولو مخکې د هغوی سره جنګ وکړي أَثِمَ نو [ټوله لښکر] ګنهکاره ګرځي لِلنَّهْيِ ځکه چې [داسې کول] ممنوع دي وَلَا غَرَامَةَ او [پر مسلمانانو] به ضمان نه وي لِعَدَمِ الْعَاصِمِ وَهُوَ الدِّينُ أَوِ الْإِحْرَازُ بِالدَّارِ ځکه چې [د کفارو په حق کې] ساتونکی شی يعني دين يا په دار الإسلام سره محفوظه کېدل معنوم دي فَصَارَ كَقَتْلِ النِّسْوَانِ وَالصِّبْيَانِ نو دا داسې سو لکه [د کفارو] ښځې او بچيان قتل کول وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَدْعُوَ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ او چا ته چې دعوت رسېدلی وي هغو ته [دويم ځل] دعوت ورکول مستحب دي مُبَالَغَةً فِي الْإِنْذَارِ د دې لپاره چې په إنذار کې مبالغه راسي وَلَا يَجِبُ ذَلِكَ ليکن [دا دويم ځل دعوت ورکول] واجب نه دي لِأَنَّهُ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَغَارَ [2] عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّونَ ځکه چې په صحيح روايت کې [ذکر سوي] دي چې نبي کريم ﷺ په داسې حال کې پر بنو مصطلق ناڅاپه حمله [چاپه] ووهله چې هغوی غافله وو وَعَهِدَ إِلَى أُسَامَةَ أَنْ يُغِيرَ عَلَى أُبْنَى صَبَاحًا او نبي کريم ﷺ حضرت أسامه ﵁ ته دا وړانديينه [پېشکويي] وکړه چې هغه پر "أُبنی" نومي ځای د سهار په وخت کې چاپه ووهي ثُمَّ يُحَرِّقَ [او ابيا يې وسوځي] وَالْغَارَةُ لَا تَكُونُ بِدَعْوَةٍ او چاپه وهل اغلچکي برید کول [تر دعوت ورکولو وروسته کېدای نه سي.

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الأيمان، باب الأمر بقتال الناس، رقم الحديث:٣٣.

[2] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الجهاد، باب التحريق بأرض العدو، رقم الحديث:٢٨٤٣.

اللغات: ﴿مُؤنة﴾ مشقت، تكليف. ﴿إحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول، خوندي کول. ﴿أغَارَ﴾ چاپه وهل (پټه او ناڅاپه حمله کول چې هغه ته زمونږ په اصطلاح غلچکي بريد وايي). ﴿عَاصِم﴾ له عِصْمَة څخه مشتق دی: حافظ، ساتونکی، د حفاظت شی. ﴿عَهِدَ﴾ د سمع ماضي ده: وعده کول، ژمنه کول. د دې باب په صله کې چې کله "إلٰى" راسي نو معنیٰ یې راځي: وصيت کول، وراندوينه (وړاندیینه). وړاندیز. پېشګويي، عرضه (يو چا ته مخکې ديوشي څرګندونه کول) (المعجم الوسيط). ﴿أُبْنٰى﴾ د حُبْلٰى پر وزن: په فلسطين کې ديو ځای نوم دی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کومو کافرانو ته د اسلام دعوت رسېدلی نه وي، له دعوت ورکولو څخه مخکې د هغو سره جنګ او قتال کول صحيح نه دي؛ ځکه چې نبي کريم ﷺ به د هر لښکر أمير او ذمه وار ته دا وصيت او نصيحت کوی چې تاسي اول کافرانو ته د اسلام دعوت ورکوئ! بيا د هغو سره قتال کوئ!. له دعوت ورکولو څخه وروسته به د قتال فايده دا وي چې کفار به په دې پوه سي چې مسلمانان فقط د دين د سر لوړی او د اسلام د سرفرازۍ لپاره زمونږ سره جنګيږي او مسلمانان زمونږ د مال او د أهل او عيال هيڅ حرص نه لري، نو کېدای سي چې هغوی د اسلام دعوت قبول کړي او مسلمانان هم د جنګ او قتال له تکليف او مشقت څخه خلاص سي، نو په دې وجه تر دعوت ورکولو وروسته د کفارو سره قتال او جهاد شروع کول پکار دي، او که چيرې له دعوت ورکولو څخه بغير اسلامي لښکر د کفارو سره قتال وکړي نو ټوله به ګنهګاره وي، ځکه چې هغوی يو ممنوع کار وکړی او ممنوع او منهي عنهٔ کار کول جرم دی. خو بيا هم د دې جرم په وجه به پر اسلامي لښکر او مجاهدينو هيڅ ضمان او تاوان لازم نه وي، ځکه چې کفار مباحُ الدم دي او د هغوی وينه معصومه نه ده، ځکه چې د هغو سره خو نه د إيمان او يقين سرمايه سته او نه هغو ته د دارُ الاسلام إحراز او حفاظت حاصل دی.

ويستحب أن يدعوا من بلغته إلخ: فرمايي چې کومو کافرانو ته دعوت رسېدلی وي د هغو سره تر قتال کولو مخکې دويم ځل هم د اسلام دعوت ورکول مستحب دي، د دې لپاره چې کما حقهٔ د تبليغ فريضه اداء کړی سي او په بشپړه توګه د إنذار مستحق وګرځي، لېکن داسي کول مستحب دي واجب او لازم نه دي؛ ځکه چې په صحيح روايت کې ذکر سوي دي چې نبي کريم ﷺ د بنو مصطلق د قبيلې پر يو ښاخ باندي چاپه ووهل او هغوی غافله وو يعني هغوی ته دعوت نه وو ورکول سوی، همدارنګه نبي کريم ﷺ حضرت أسامه ته دا وصيت وکړی چې هغه په فلسطين کې پر "أبنٰی" نومي ځای باندي چاپه ووهي او بيا يې وسوځي. نو په دې وصيت کې هم د دعوت يادونه سوې نه ده. له دې څخه معلومه سوه چې تر قتال مخکې چې کوم د دعوت ورکولو حکم دی هغه د اسلام په ابتدائي دور او زمانه کې وو، او وروسته دا حکم منسوخ سو. او بيا د چاپې وهلو عمل په پټه توګه سر ته رسول کيږي او ښکاره خبره ده چې له دعوت ورکولو څخه وروسته په پټه توګه حمله کول ناممکن دي.

له "جزیه" څخه تر انکار کولو وروسته عملي کړنلاره

قَالَ: فَإِنْ أَبَوْا ذٰلِكَ فرمايي: كه چيري كفار له هغه اجزيه وركولوا څخه انكار وكړي اسْتَعَانُوا بِاللهِ عَلَيْهِمْ وَحَارَبُوهُمْ نو مجاهدين دي د هغوى په خلاف اپر جنګ كولوا له الله تعالىٰ څخه مدد طلب كړي او جنګ دي ور سره وكړي لِقَوْلِهِ[1] الطَّيِّلاً فِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ ځكه چي نبي كريم ﷺ د سليمان بن بُريده ﷺ په حديث كي فرمايلي دي فَإِنْ أَبَوْا ذٰلِكَ فَادْعُهُمْ إِلٰى إِعْطَاءِ الْجِزْيَةِ.. إِلٰى أَنْ قَالَ: فَإِنْ أَبَوْهَا فَاسْتَعِنْ بِاللهِ عَلَيْهِمْ وَقَاتِلْهُمْ نو كه كفار له اسلام راوړلو څخه انكار وكړي نو تاسي هغو ته د جزيه وركولو دعوت وركړئ!... تر دي چي فرمايلي يې دي: كه چير هغوى له جزيه وركولو څخه انكار وكړي نو تاسي د هغوى په خلاف له الله تعالىٰ څخه مدد طلب كړئ! او جنګ ور سره وكړئ! وَلِأَنَّهُ تَعَالَىٰ هُوَ النَّاصِرُ لِأَوْلِيَائِهِ وَالْمُدَمِّرُ عَلٰى أَعْدَائِهِ او ځكه چي الله تعالىٰ د خپلو بندګانو مددګار دی او د خپلو دښمنانو هلاكونكی دی فَيُسْتَعَانُ بِهِ فِي كُلِّ الْأُمُورِ لهذا په ټولو اُمورو كي به له هغه څخه د مدد طلب كيږي وَنَصَبُوا عَلَيْهِمُ الْمَجَانِيقَ او مجاهدين كفارو ته منجنيقونه ودروي كَمَا نَصَبَ[2] رَسُولُ اللهِ الطَّيِّلاً عَلَى الطَّائِفِ لكه څرنګه چي نبي ﷺ د طائف خلكو ته منجنيق درولی وو وَحَرَّقُوهُمْ او هغوى دي وسوځي ايعني د هغوى كورو ته دي اُور واچوي الِأَنَّهُ[3] الطَّيِّلاً أَحْرَقَ الْبُوَيْرَةَ ځكه نبي كريم ﷺ "بويره" نومي ځای سوځلی وو قَالَ: وَأَرْسَلُوا عَلَيْهِمُ الْمَاءَ وَقَطَعُوا أَشْجَارَهُمْ وَأَفْسَدُوا زُرُوعَهُمْ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مجاهدين دي پر كافرانو اوبه ور ايله كړي او د هغوى درختي دي پرېكړي او د هغوى كښتونه دي وېجاړ كړي لِأَنَّ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ إِلْحَاقَ الْكَبْتِ وَالْغَيْظِ بِهِمْ وَكَسْرَةَ شَوْكَتِهِمْ وَتَفْرِيقَ جَمْعِهِمْ ځكه چي په دې ټولو كارونو سره به كفارو ته ذلالت او سخت غم ورسيږي او د هغوى شان وشوكت به مات سي او د هغوى جماعت به تيت پرک سي فَيَكُونُ مَشْرُوعًا نو ځكه به دا أفعال مشروع وي وَلَا بَأْسَ بِرَمْيِهِمْ وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْ تَاجِرٌ او په ډبرو [او غشو] سره د كفارو په ويشتلو كي هيڅ پروا نسته كه څه هم په كفارو كي مسلمان قيدي يا مسلمان تاجر وي لِأَنَّ فِي الرَّمْيِ دَفْعَ الضَّرَرِ الْعَامِّ بِالذَّبِّ عَنْ بَيْضَةِ الْإِسْلَامِ ځكه چي په ويشتلو كي د اسلام له حوزې څخه د عام ضرر ليري

---

[1] تخريج: قد مرّ تخريجه.

[2] تخريج: أخرجه ترمذى فى كتاب الأدب، باب ما جاء فى الأخذ من اللحية، رقم الحديث: ٢٨٦٢.

[3] تخريج: أخرجه مسلم فى كتاب الجهاد، رقم الحديث: ٢٩.

کول دي وَقَتْلُ الْأَسِيرِوَالتَّاجِرِضَرَرٌ خَاصٌّ او د مسلمان قيدي يا تاجر قتلول يو خاص ضرر دی وَلِأَنَّهُ قَلَّمَا يَخْلُوحِصْنٌ عَنْ مُسْلِمٍ او ځکه چي ډېر کم داسي کيږي چي اد کفّارو ا يو کلا دي له مسلمان څخه خالي وي فَلَوِامْتَنَعَ بِاعْتِبَارِهِ لَانْسَدَّ بَابُهُ لهذا که د مسلمان په وجه اد ډبرو او غشو ويشتل ا منع کړی سي نو د جهاد دروازه به بنده سي.

اللغات: ﴿أَبَوْا﴾ د فتح له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي صيغه ده: انکار کول. ﴿إستعانوا﴾ د استفعال له باب څخه مخکنی صيغه ده: د مد طلب کول، مرسته غوښتل. ﴿مُدمّر﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: هلاکونکی، بربادونکی. ﴿منجنيق﴾ د لويو ډبرو د غورځولو يوه آله ده چي پخوا به د هغې په ذريعه کلا نړول کېده او د هغې په ذريعه به کلا ته ډبري او اُور غورځول کېدی، مچوغنه، غټه مچلوغزه. لکه اوس چي د دې مقصد لپاره توپ او نوري درنې اسلحې استعماليږي. ﴿أرسلوا﴾ د افعال ماضي ده: استول. ايله کول (پرېښوول). ﴿كَبْت﴾ ذلّت (ذلالت). ﴿غيظ﴾ زړه کباوونکی غضب (مراد ځني سخت غم او تکليف دی). ﴿رَمْي﴾ د ضرب مصدر دی: ويشتل، غورځول. ﴿ذَبّ﴾ د نصر مصدر دی: ليري کول، منع کول. ﴿بَيْضَة﴾ حوزه، سيمه، علاقه، ديو ښار د سرحدونو مينځوی حصه. ﴿قَلَّمَا﴾ ډېر لږ واره (ډېر لږ کرته)، ډېر کم کېدل. ﴿لَانْسَدّ﴾ په شروع کي يې د جزاء "لام" دی، په اصل کي اِنْسَدَّ دی: بندېدل.

تشريح: په دې عبارت کي څو مسئلې ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله د مصنف د ترتيب مطابق ستاسي په مخ کي بيان سي: (۱)... اوله مسئله دا ده چي که کفار له جزيې څخه انکار وکړي نو مجاهدينو ته پکار دي چي له الله تعالیٰ څخه د کافرانو پر جنګ مرسته او تعاون طلب کړي او بيا دي د هغوی سره جنګ او قتال شروع کړي، ځکه چي د حضرت سليمان بن بريده ﷺ په حديث کي نبي ﷺ داسي فرمايلي دي "فَإِنْ أَبَوْهَا فَاسْتَعِنْ بِاللهِ عَلَيْهِ وَقَاتِلْهُمْ". د دې عقلي دليل دا دی چي الله تعالیٰ د مسلمانانو ناصر او مددګار دی او د کافرانو لپاره قهّار او جبّار دی او پر هر څه قادر دی، نو ځکه په ټولو کارونو کي له الله تعالیٰ څخه مرسته او مدد غوښتل پکار دي.

امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي مسلمانانو ته پکار دي چي پر کفارو د حملې کولو لپاره منجنيق ودروي او د هغوی کورو ته دي اُور واچوي، ځکه چي له نبي کريم ﷺ څخه د طائف خلکو ته منجنيق درول او د "بويره" نومي ځای د خُرما درختو ته اُور اچول ثابت دي.

(۲)... د مجاهدينو لپاره يو تعليم دا هم دی چي پر کفارو اُوبه ور ايله کړي او د هغوی درختي او کښتونه له بېخه وکاږي، ځکه چي د کفارو د أموالو په بربادولو سره به د هغوی شان وشوکت د خاورو سره خاوري سي او په هر اعتبار سره به هغوی کښته او ټيټ سي.

(۳)... دریمه مسئله دا ده چي که زمیني جنګ فایده نه وکړي نو بیا دي له غشو او ډبرو غورځولو او کاڼو اورولو څخه هم دریغ او منع نه کیږي، که څه هم په کفارو کي یو مسلمان قیدي یا یو مسلمان تاجر موجود وي، ځکه چي د ډبرو په باران سره د کفارو وژل او هغوی د ځمکي له سره ختمول د ضررِ عام لیري کول دي او ټوله اُمت مسلمه د کفارو له شر څخه ساتل دي، او د یوه مسلمان وژل ضرر خاص دی او مخکي تاسو دا قاعده وویل چي د ضررِ عام د لیري کولو لپاره به ضررِ خاص زغمل کیږي، لهذا د ډبرو او غشو په ویشتلو او غورځولو کي به د فردِ واحد رعایت نه کیږي.

او بیا خو د کفارو په کلاوو کي یو او دوه مسلمانان خامخا وي، اوس که د یوه او دوو په خاطر پر کفارو حمله نه وسي نو د جهاد دروازه به بنده سي او د کفارو همت به را پورته سي، لهذا د کفارو د همت او حوصلې ټیټولو لپاره پر هغو حمله کول ضروري دي.

که کفار د مسلمانانو بچیان یا قیدیان د ځان لپاره ډال وګرځوي (حکم)

وَإِنْ تَتَرَّسُوا بِصِبْيَانِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ بِالْأُسَارَى او که چیري کفار د مسلمانانو بچیان یا قیدیان د ځان لپاره ډال [سپر] وګرځوي لَمْ يَكُفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ نو هم دي مسلمانان د کفارو له ویشتلو څخه نه منع کیږي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَيَقْصِدُونَ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارَ او مجاهدین به په ویشتلو سره د کفارو نیت کوي لِأَنَّهُ إِنْ تَعَذَّرَ التَّمْيِيزُ فِعْلًا ځکه که څه هم د فعل په اعتبار سره توپیر کول مشکل دي فَلَقَدْ أَمْكَنَ قَصْدًا [یکن] د قصد [او نیت] په اعتبار سره توپیر کول ممکن دي وَالطَّاعَةُ بِحَسَبِ الطَّاقَةِ او طاعت د وس [او طاقت] مطابق واجب دی وَمَا أَصَابُوهُ مِنْهُمْ لَا دِيَةَ عَلَيْهِمْ او په مسلمانو بچیانو یا قیدیانو کي چي څوک زخمي سي پر مجاهدینو به د هغو دیت [واجب] نه وي وَلَا كَفَّارَةَ او نه به [د هغو] کفاره [پر مجاهدینو واجب وي] لِأَنَّ الْجِهَادَ فَرْضٌ ځکه چي جهاد فرض دی وَالْغَرَامَاتُ لَا تُقْرَنُ بِالْفُرُوضِ او تاوانونه [ضمانونه] د فرائضو سره نه متعلق کیږي بِخِلَافِ حَالَةِ الْمَخْمَصَةِ په خلاف د سختي لوږي د حالت لِأَنَّهُ لَا يَمْتَنِعُ مَخَافَةَ الضَّمَانِ ځکه چي [سخت وږی انسان] د ضمان له بیري اله خوراک کولو څخه [نه منع کیږي لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَاءِ نَفْسِهِ ځکه چي په دې کي خپل نفس ته ژوند ورکول [ژوندي ساتل] دي أَمَّا الْجِهَادُ فَمَبْنِيٌّ عَلَى إِتْلَافِ النَّفْسِ او کوم چي جهاد دی نو د هغه دارومدار د نفس پر هلاکولو دی فَيَمْتَنِعُ حَذَرَ الضَّمَانِ نو [مجاهد] به له ضمان څخه د ځان ساتلو په وجه اله جنګ کولو څخه [منع سي.

اللغات: ﴿تَتَرَّسُوا﴾ د تفعّل له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي معلوم صیغه ده: د ځان لپاره یو شی ډال ګرځول، سپر جوړول. ﴿غَرَامَات﴾ جرماني، تاوانونه. ﴿مَخْمَصَة﴾ سخته لوږه. صاحب د معجم الوسیط یې

دامې تعريف کړی دی: "المَخْمَصة: اِسْمٌ بِمَعْنى المَجَاعَة...إلخ" (المعجم الوسيط: ۲۵۶). ﴿حذر﴾ ځان ساتل (ځان کتل)، پرهېز کول.

تشريح: مسئله: دا ده که چیرې کفار د مسلمانانو بچیان یا د مسلمانانو قیدیان او بندیان د ځان لپاره ډال او د حفاظت ذریعه وګرځوي او خپل مخته یې ودروي، نو هم دې مجاهدین د کاڼو او ډبرو له ویشتلو څخه نه منع کیږي او د بچیانو او قیدیانو رعایت دې نه کوي، ځکه چې د دوی زخمي کېدل یا وژل کېدل ضررِ خاص دی او د کفارو ختمول ضررِ عام دی، او د ضررِ عام د ختمولو لپاره ضررِ خاص زغمل کیږي (لکه مخکې چې قاعده ذکر سوه) په لِمَا بَيَّنَّا سره همدې طرف ته اشاره سوې ده. لېکن مجاهدینو ته پکار دي چې د کاڼو غورځولو په وخت کې دي د دغه ظالمانو او جابرانو د وژلو نیت کوي او د مسلمانانو بچیان او قیدیان دي بالقصد نه وژني او نه دي د دوی د وژلو نیت کوي، ځکه چې د کفارو سره د دوی د اختلاط او یو ځای کېدلو په وجه که څه هم په ویشتلو کې د کفارو او د دوی تر مینځ توپیر کول مشکل دي خو د نیت او ارادې په اعتبار په دوی کې توپیر او امتیاز کول ممکن دي، او څرنګه چې بنده د خپل وس مطابق په اطاعت او فرمانبردای سره مخاطب او مکلف دی، لهذا د هغه په وس او طاقت کې چې څه وي، هغه به پوره کوي.

وما أصابوا منهم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د کاڼو او غشو د ویشتلو په وجه د مسلمانانو بچیان یا قیدیان زخمي کړل سي نو پر مجاهدینو به د هغه دِیت نه وي، یا که یو قتل سي نو پر مجاهدینو به د هغه کفاره نه وي؛ ځکه چې جهاد کول فرض دي او د فرائضو په اداء کولو کې تاوان او ضمان نه واجبیږي، ځکه چې فرائض اداء کول مأمور به دي. لېکن ضمان فقط عُدوان دی او منهي عنهُ دی، او په مأمور به او منهي عنهُ کې ښکاره فرق او تضاد سته، نو ځکه به دواړه نه سره جمع کیږي.

بخلاف حالة المخمصة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د مسلمانو قیدیانو یا بچیانو د زخمي کېدلو یا وژل کېدلو په صورت کې خو ضمان او کفاره نسته، لېکن که یو سړی د مخمصې او د سختې لوږې په حالت کې د بل چا مال د هغه له اجازې څخه بغیر وخوري، نو پر هغه (خوړونکي) به د دې مال ضمان واجب وي، ځکه چې داسې سړی د خپل ژوند د ساتلو په وجه د ضمان له بیرې څخه خوراک نه پرېږدي بلکې هر څومره ضمان ته تیاریږي، د دې په خلاف که د جهاد په صورت کې مور پر مجاهدینو باندې د قیدیانو یا بچیانو ضمان یا کفاره واجب کړو، نو د ضمان ورکولو له بیرې څخه به یو مجاهد هم د جهاد لپاره تیار نه سي، ځکه چې د جهاد دار ومدار د نفس پر هلاکولو دی. دا عبارت په أصل کې د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله د هغه قیاس جواب دی کوم چې هغه په دغه مسئله کې د مخمصې پر حالت باندې په قیاس کولو سره ضمان واجب ګرځولی دی.

د مسلمانانو د لښکر لپاره د ځان سره ښځې بېول یا قرآن اخیستل

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ وَالْمَصَاحِفِ مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ اِذَا كَانُوْا عَسْكَرًا عَظِيْمًا يُؤْمَنُ عَلَيْهِ فرمايي: چې د مجاهدینو سره د قرآن کریم په ایستلو کې هیڅ پروا نسته | په دې شرط | کله چې هغوی داسې غټ لښکر وي چې د شکست خوړلو خطره یې نه وي لِأَنَّ الْغَالِبَ هُوَ السَّلَامَةُ ځکه | د هغوی | سلامتي غالبه ده وَالْغَالِبُ كَالْمُتَحَقِّقِ او غالب شی د ثابت

سوي او متقين [شي په څير وي] وَيُكْرَهُ إِخْرَاجُ ذٰلِكَ فِي سَرِيَّةٍ لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا او په يو داسي سريه كي د دې ايستل مكروه دي چي د شكست خوړلو خطره يې وي لِأَنَّ فِيهِ تَعْرِيضَهُنَّ عَلَى الضَّيَاعِ وَالْفَضِيحَةِ وَتَعْرِيضَ الْمَصَاحِفِ عَلَى الِاسْتِخْفَافِ ځكه چي په دې كي ښځي پر ضياع او رسوايي باندي پېشول دي او قرآن كريم پر سپكاوي او بې حرمتي [باندي پېشول دي فَإِنَّهُمْ يَسْتَخِفُّونَ بِهَا مُغَايَظَةً لِلْمُسْلِمِينَ ځكه چي كفار به د مسلمانانو د قهرولو او ځورولو لپاره [خامخا] د دې سپكاوى كوى وَهُوَ التَّأْوِيلُ الصَّحِيحُ لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ او د نبي ﷺ د دې فرمان همدا صحيح تأويل دى: چي تاسي د دښمن ځمكي ته قرآن مه وړئ! وَلَوْ دَخَلَ مُسْلِمٌ إِلَيْهِمْ بِأَمَانٍ او كه يو مسلمان په أمان اخيستلو سره كفارو ته راسي لَا بَأْسَ بِأَنْ يَحْمِلَ مَعَهُ الْمُصْحَفَ إِذَا كَانُوا قَوْمًا يُوفُونَ بِالْعَهْدِ نو په دې كي هيڅ پروا نسته چي هغه د ځان سره قرآن واخلي [په دې شرط] كله چي هغوى داسي خلك وي چي [خپله] وعده پوره كوي لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَدَمُ التَّعَرُّضِ ځكه چي ښكاره همدا ده چي كفار به پر هغه تعرض او تجاوز] نه كوي وَالْعَجَائِزُ يَخْرُجْنَ فِي الْعَسْكَرِ الْعَظِيمِ لِإِقَامَةِ عَمَلٍ يَلِيقُ بِهِنَّ كَالطَّبْخِ وَالسَّقْيِ وَالْمُدَاوَاةِ او سپين سري ښځي په غټ لښكر كي وتلاى سي د خپل شان سره د مناسب كار كولو لپاره لكه پخول، اوبه وركول او درملنه كول فَأَمَّا الشَّوَابُّ فَمَقَامُهُنَّ فِي الْبُيُوتِ أَدْفَعُ لِلْفِتْنَةِ او كوم چي ځواني ښځي دي نو په كورو كي د هغوى پاتېدل ډېر د فتني ختمونكي دي وَلَا يُبَاشِرْنَ الْقِتَالَ او دا اسپين سري او ځواني] ښځي به جنګ هم نه كوي لِأَنَّهُ يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى ضَعْفِ الْمُسْلِمِينَ ځكه چي په دې سره د مسلمانانو پر كمزوري باندي دليل نيول كيږي إِلَّا عِنْدَ ضَرُورَةٍ مګر د ضرورت په وخت كي [جنګ كولاى سي] وَلَا يُسْتَحَبُّ إِخْرَاجُهُنَّ لِلْمُبَاضَعَةِ وَالْخِدْمَةِ او د جماع او خدمت لپاره هم د ښځو ايستل غوره نه دي فَإِنْ كَانُوا لَا بُدَّ مُخْرِجِينَ فَبِالْإِمَاءِ دُونَ الْحَرَائِرِ او كه [بيا هم] هغوى خامخا د ښځو ايستونكي وي ايعني د ښځو بيول ضروري وي انو مينځي دي بوځي، نه ښځي.

اللغات: ﴿عسكر﴾ غټ لښكر. ﴿سريّة﴾ د مجاهدينو كوچنۍ ډله. ﴿تعريض﴾ د تفعيل مصدر دى: پېشول وړاندي كول. ﴿تعرّض﴾ د تفعّل مصدر دى: تعرض كول، تجاوز او تېرى كول. ﴿عجائز﴾ جمع د عجوزةٌ ده: سپين سري ښځي. ﴿يليق﴾ د ضرب مضارع ده: لائق كېدل، مناسب كېدل. ﴿مباضعة﴾ كوروالى، جماع. ﴿إماء﴾ جمع د أمةٌ ده: مينځي (مينځياني).

تشريح: **مسئله**: دا ده كه چيري د مسلمانانو لښكر غټ وي او د شكست خوړلو خطره يې نه وي، نو مجاهدين د خپلو ځانو سره ښځي او قرآنونه اخيستلاى سي؛ ځكه چي د لښكر د غټوالي او ډېر والي په وجه د دوى د فتح طرف غالب دى، او غالب د متحقق او متيقن په څير وي، لهذا په دې صورت كي به د ښځو او قرآنونو بې

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجهاد، باب:۱۲۹، رقم الحديث: ۲۹۹۰

حرمتي نه کيږي، لېکن که د مسلمانانو يوه سريه او کوچنۍ ډله جنګ ته ځي، نو په دې صورت کې ښځې او قرآنونه اخيستل مکروه دي؛ ځکه په داسې صورت کې د دوی د شکست خوړلو او د کفارو له طرفه د ښځو او قرآن د بې حرمتۍ کولو خطره سته، ځکه چې کفار به د مسلمانانو د قهرولو او ځورولو لپاره خامخا د مسلمانانو په ښځو کار لري او د قرآن بې حُرمتي به کوي، لهذا غوره همدا ده چې په سريه او کوچنۍ ډله کې د ځان سره ښځې او قرآنونه نه واخلي. او د دې حديث "لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ" صحيح تأويل همدا دی چې په کوم ځای کې د قرآن د توهين او بې حرمتۍ خطره وي، هلته دې قرآن نه وړل کيږي.

ولو دخل مسلم إلخ: فرمايي که چيرې يو مسلمان له کفارو څخه أمان وغواړي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او کُفار د خپل عهد او وعدې پابند وي نو د دې مسلمان لپاره د ځان سره دارُ الحرب ته قرآن وړل صحيح دي، ځکه چې د أمان ورکولو په وجه غالب ګومان همدا دی چې کفار به په هغه هيڅ کار نه لري او د قرآن بې حرمتي به نه کوي.

والعجائز إلخ: مسئله دا ده چې د خوراک تيارلو، او مجاهدينو ته د اُوبو او دواء ورکولو په غرض سپينې سرې ښځې جهاد ته تللای سي، لېکن ځواني ښځې به له سخت ضرورت څخه نه د جنګ ميدان ته ور نژدې کيږي او نه به قتال کوي، بلکې په کورو کې به پاتيږي؛ ځکه چې د دوی لپاره په کور کې پاتېدل او دباندې نه وتل زيات غوره دي او له فتنې څخه زيات ليرې دي، همدا وجه ده چې فقهاؤ د جماع او خدمت لپاره هم د ځوانو ښځو د ايستلو اجازه نه ده ورکړې. هاّ! که چيرې د ښځو زيات ضرورت محسوس سي نو د ځان سره دې مينځې بوځي، لېکن آزادې ښځې به هيڅکله نه بيايي.

د ښځې او غلام لپاره د إذن (اجازت اخيستلو) مسئله

وَلَا تُقَاتِلُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَلَا الْعَبْدُ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ ښځه به د خپل خاوند او غلام به د خپل مال له اجازې څخه بغير جنګ نه کوي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی إِلَّا أَنْ يَهْجُمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ لِلضَّرُورَةِ مګر دا چې د ښمن پر يو ښار [او ملک] باندې حمله وکړي انو ښځه او غلام بېله اجازې هم قتال کولای سي ا د ضرورت په وجه وَيَنْبَغِي لِلْمُسْلِمِينَ أَنْ لَا يَغْدِرُوا وَلَا يَغُلُّوا وَلَا يُمَثِّلُوا او مسلمانانو ته پکار دي ايعني ضروري دي ا چې غدر اوعده خلافي ا، غلا او مُثله نه وکړي لِقَوْلِهِ عليه السلام[1]: لَا تَغُلُّوْا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تُمَثِّلُوا ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: تاسي مه غلا کوئ! او مه غدر کوئ! او مه مثله کوئ! وَالْغُلُولُ: السَّرِقَةُ مِنَ الْمَغْنَمِ د غلول معنیٰ ده: د غنيمت له مال څخه غلا کول وَالْغَدْرُ: الْخِيَانَةُ وَنَقْضُ الْعَهْدِ او د غدر معنیٰ ده: خيانت او وعده اژبه ا ماتول اوعده خلافي کول ا وَالْمُثْلَةُ الْمَرْوِيَّةُ فِي قِصَّةِ الْعُرَنِيِّينَ مَنْسُوخَةٌ بِالنَّهْيِ

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحدود، باب رقم:١٥.

تُقَاتِلُ فَلِمَ قُتِلَتْ؟ او كله چيرې نبي كريم ﷺ يوه قتل كړې سوې ښځه وليدله نو ويې فرمايل: افسوس! دا ښځه خو د جنګ كولو اقابله انه وه نو بيا ولې قتل كړې سوه؟ قَالَ: إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدُ هٰؤُلَاءِ مِمَّنْ لَهُ رَأْيٌ فِي الْحَرْبِ أَوْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ مَلِكَةً فرمايي: مګر دا چې له دغه كسانو څخه يو د جنګ په هكله رايه او تدبير الري يا ښځه مَلكه او مشره اوي لِتَعَدِّيْ ضَرَرِهَا إِلَى الْعِبَادِ ځكه چې د هغې ضرر به بندګانو ته متعدي امتجاوز ا وي وَكَذَا يُقْتَلُ مَنْ قَاتَلَ مِنْ هٰؤُلَاءِ همدارنګه له دوی څخه چې كوم يو جنګ وكړي نو هغه به هم قتل كيږي دَفْعًا لِشَرِّهِ د دې لپاره چې د هغه شر دفع سي وَلِأَنَّ الْقِتَالَ مُبِيحٌ حَقِيقَةً او ځكه چې جنګ كول حقيقتاً د قتل روا كونكي دي وَلَا يُقْتَلُ مَجْنُونًا او لېونی به اهم ا نه قتل كيږي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُخَاطَبٍ ځكه چې هغه ا د شريعت د احكامو ا مخاطب نه دی إِلَّا أَنْ يُقَاتِلَ مګر دا چې هغه جنګ وكړي فَيُقْتَلَ دَفْعًا لِشَرِّهِ نو د هغه د شر دفع كولو لپاره به هغه قتل كيږي غَيْرَ أَنَّ الصَّبِيَّ وَالْمَجْنُونَ يُقْتَلَانِ مَا دَامَا يُقَاتِلَانِ خو بچی او لېونی چې تر څو ک جنګ كوي [فقط] تر هغه وخته پورې به دوی قتل كيږي وَغَيْرُهُمَا لَا بَأْسَ بِقَتْلِهِ بَعْدَ الْأَسْرِ او له دوی څخه بغير د بل چا ايعني د ښځې، بچي او داسې نورو ا په قتل كولو كې تر قيدي كولو وروسته اهم ا هيڅ حرج نسته لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْعُقُوبَةِ ځكه چې هغه ايعني ښځه او داسې نور ا د سزا له أهل څخه دي لِتَوَجُّهِ الْخِطَابِ نَحْوَهُ ځكه چې د هغه وطرف ته ا د شريعت ا خطاب متوجّه دی وَإِنْ كَانَ يُجَنُّ وَيُفِيقُ او كه ايو څوک ا داسې وي چې كله لېونی كيږي او كله پرسد كيږي فَهُوَ فِي حَالِ إِفَاقَتِهِ كَالصَّحِيحِ نو د پرسدتيا په حالت كې به هغه د صحيح كس په څېر وي.

اللغات: ﴿**شيخ فاني**﴾ ډېر بوډا، ډېر ضعيفه سپين ږيری، ﴿**مقعد**﴾ شل. شوټ. فلج. هغه كس چې پښې يې كار نه كوي، ﴿**رأي**﴾ د مشورې وركولو وړتيا، تدبير، ﴿**تعدّی**﴾ د تفعّل مصدر دی: متجاوز كېدل. له حد څخه تېرېدل، ﴿**عقاب**﴾ سزا، ﴿**يُفيق**﴾ د افعال مضارع ده. أَفَاقَ يُفِيْقُ إِفَاقَةً: خپل اصلي حالت ته واپس كېدل، روغېدل (جوړېدل)، پرسد كېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې مجاهدينو ته پكار دي چې ښځه، بچی، شيخ فاني. شل (كوډ) او نابينا كس قتل نه كړي؛ ځكه چې زموږ په نېز قتلول د جنګ او نبنتې په وجه مباح دي. او په دې كسانو كې د يوه له طرفه هم جنګ او نبنته ثابتېدای نه سي، نو په دې وجه د دوی قتلول مباح نه دي. او د جنګ نه ثابتېدلو په علت سره د داسې سړي قتلول هم صحيح نه دي چې د هغه يو طرف (اړخ) وچ سوی وي يا د هغه يو لاس او پښه مِنْ خِلَافٍ پرېكړل سوي وي، د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله هم دغه مسلک دی. او د ښځو او بچيانو

په هكله د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هم دغه حكم دى (بنايه). لېكن امام شافعي رَحِمَهُ الله د شيخِ فاني. شل او نابينا قتل مباح ګرځوي، ځكه چي د هغه په نېز "علتِ مُبيحه" كفر دى او په دغه ټولو كسانو كي كفر موجود دى. خو د امام شافعي په خلاف زموږ بيان سوى دليل حجت دى چي مُبيح للقتل جنګ او حرب يا رايه في الحرب ده. او دا خبره په دې كسانو كي معدومه ده نو ځكه د دوى قتلول مباح نه دي. د ښځو او بچيانو د قتل د ناروابنت او نه مباح كېدلو نقلي دليل دا دوه حديثونه دي: ① "أن النبي ﷺ نهى عن قتل الصبيان والذراري". له ذراري څخه ښځي مراد دي، ځكه چي ښځه د ذريت او نسل سبب ده. او دغه حديث ته نژدې يو دا حديث هم دى كوم چي له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روايت سوى دى: "أن امرأة وُجِدت في بعض مغازي رسول الله ﷺ فنهى رسول الله ﷺ عن قتل النساء والصبيان. وفي لفظ الشيخين: فأنكر رسول الله ﷺ قتل النساء والصبيان". (بناية ج:٦، ص:٥١٠)

② دويم حديث دا دى: "حين رأى النبي ﷺ امرأة مقتولة. قال: هاه!. ما كانت لتقاتل. فلم قُتلت". په دې حديثونو سره دا خبره ثابته سوه چي د ښځو او بچيانو قتلول مباح نه دى. لېكن كه ښځه يا بچى صاحبُ الرأى وي او په جنګ كي له هغه څخه رايه او مشوره اخيستل كيږي. يا ښځه د خپل ښار او علاقې مشره او ملكه وي او دا خطره وي چي د هغې په حكم سره به د ښار او علاقې خلك د كفارو په صف كي ودرېږي او تعاون به ور سره وكړي، نو په دې صورت كي به د صاحبُ الرأى او د ښځي دواړو قتل كول مباح وي كه څه هم دوى بوډاتوب ته رسېدلي وي، ځكه چي صاحبُ الرأى كېدلو په وجه "دُريد بن صمّه" هم قتل كړى سو حالانكي هغه د (١٢٠) كالو بوډا وو (بنايه ج:٦). همدارنګه كه له دغه مذكوره كسانو څخه يو چالاكي او بيداري ښكاره كړي او د مسلمانانو په خلاف قتال شروع كړي نو د هغه غاړه به هم پرېكول كيږي چي د هغه شر او فساد ختم سي.

ولا يقتلوا مجنونا إلخ: فرمايي چي مجاهدين به لېونى او مجنون هم نه قتل كوي ځكه چي هغه خو بالكل په شرعي أحكامو مكلف نه دى. لېكن كه بچى يا مجنون په جنګ او قتال مصروف وي نو تر څو چي دوى قتال كوي تر هغه وخته پوري به د دوى وژل او قتلول مباح وي او كله چي دوى قيد كړل سي نو دا اباحت به ختميږي. د دې په خلاف له بچي او مجنون څخه بغير نور كافران به تر قيد كولو وروسته هم قتل كيږي. ځكه چي هغوى په شرعي أحكامو مخاطب او مكلَف دي او د عذاب او قتل مستحق ګرځېدلي دي، لهذا په هر حالت كي به هغوى قتلول كيږي. او كه يو مجنون په دې توګه وي چي كله د جنون او لېونتوب په حالت كي وي او كله بيا روغ او صحيح (پر سد) وي، نو د صحت په حالت كي به هغه د صحيح كافر په حكم كي وي او په دې حالت كي به د هغه قتلول مباح وي كه څه هم هغه په جنګ او قتال مصروف نه وي.

د جنګ په ميدان کي د خپل کافر قريب لټون کول او هغه قتل کول

وَيُكْرَهُ أَنْ يَبْتَدِئَ الرَّجُلُ أَبَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَيَقْتُلَهُ او مکروه دا چي سړی له خپل مشرک پلار شخه شروع وکړي او هغه قتل کړي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا [لقمان: ۱۵] ځکه الله تعالی فرمايلي دي: او د مور وپلار سره په دنيا کي ښه سلوک [چلند] کوه! وَلِأَنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِ إِحْيَاؤُهُ بِالْإِنْفَاقِ او ځکه چي پر زوی واجب دي په نفقه ورکولو سره د پلار ژوندي ساتل فَيُنَاقِضُهُ الْإِطْلَاقُ فِي إِفْنَائِهِ نو د پلار د ختمولو [قتل کولو] إطلاق به د هغه د احياء منافي وي فَإِنْ أَدْرَكَهُ امْتَنَعَ عَلَيْهِ حَتَّى يَقْتُلَهُ غَيْرُهُ بيا که زوی خپل پلار پيدا کړي اورسره مخامخ سي ا نو د هغه له قتل شخه دي منع سي تر دې چي بل شوک يې قتل کړي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ يَحْصُلُ بِغَيْرِهِ مِنْ غَيْرِ اقْتِحَامِهِ الْمَأْثَمَ ځکه چي مقصود په بل چا سره [هم] حاصليږي بغير له دې شخه چي زوی د ګناه ارتکاب وکړي وَإِنْ قَصَدَ الْأَبُ قَتْلَهُ بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُهُ دَفْعُهُ إِلَّا بِقَتْلِهِ او که پلار د زوی د قتل اراده وکړي په دې توګه چي له قتل کولو شخه بغير د زوی لپاره د هغه دفع کول ممکن نه وي لَا بَأْسَ بِهِ نو د پلار په قتل کولو کي هيڅ حرج نسته لِأَنَّ مَقْصُودَهُ الدَّفْعُ ځکه چي د زوی مقصود اله ځان شخه ا د ضرر دفع کول دي [مطلب دا چي د هر جنګ کونکي (مجاهد) مقصد د ځان دفاع کول وي] أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ شَهَرَ الْأَبُ الْمُسْلِمُ سَيْفَهُ عَلَى ابْنِهِ وَلَا يُمْكِنُهُ دَفْعُهُ إِلَّا بِقَتْلِهِ آيا ته نه ګورې! که چيري مسلمان پلار پر خپل زوی توره را وکاږي او له قتل کولو شخه بغير د زوی لپاره د هغه دفع کولو ممکن نه وي يَقْتُلُهُ نو زوی هغه قتل کولای سي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ اوس ا بيان کړی فَهٰذَا أَوْلَى لهذا په دې صورت کي خو به په طريقه اولیٰ د هغه قتل کول جائز وي. والله أعلم

اللغات: ﴿صَاحِبْهُمَا﴾ د مفاعلې له باب شخه د واحد مذکر أمرِ حاضر صيغه ده: ملګرتيا کول. سلوک او چلند کول. ﴿معروفًا﴾ په غوره طريقه سره. په ښه توګه. په نېکه طريقه سره. ﴿إفناء﴾ د افعال مصدر دی: فنا کول. ختمول. هلاکول. ﴿اقتحام﴾ د افتعال مصدر دی: ارتکاب (يو عمل کول). ﴿شهر﴾ د فتح ماضي ده. د دې باب په صله کي چي "سَيْف" ذکر سي نو معنی يې راځي: (پر يو چا) توره راپورته کول. توره پر راکښل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مجاهد لپاره دا پکار نه دي چې د جنګ په ډګر کي تر ټولو مخکي د خپل کافر یا مشرک پلار تلاش وکړي او هغه قتل کړي: ځکه چې په قرآن کريم کي د مشرک مور و پلار سره د ښه سلوک او غوره چلند کولو حکم سوی دی. الله تعالیٰ فرمایي: "وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا". او ښکاره خبره ده چې قتلول خو انتهائي او د آخري درجې بدي ده. نو ځکه به د زوی دا فعل مکروه وي. د دې عقلي دليل دا دی چې پر زوی باندي پلار ته نفقه ورکول او هغه ته ژوند ورکول لازم دي حالانکي قتلول د إنفاق او إحياء خلاف دي. ـ حواله سره به د هغه قتلول مکروه وي. او که زوی خپل پلار پیدا کړي یعني د ده او پلار تر مینځ ـ ـ لاره صفا سي نو هم دي د هغه له قتل څخه منع سي تر دې چې یو بل مجاهد یې قتل کړي، ځکه کله چې له زوی څخه بغير د بل مجاهد په ذريعه دا مقصود حاصلېدای سي نو زوی ته پکار دي چې تلوار نه وکړي او له دې ګناه څخه ځان وساتي. لېکن که قصه داسي وي چې پلار د خپل مسلمان او مجاهد زوی قتل کولو ته نژدې وي او د پلار له قتل کولو څخه بغير زوی د خپل ځان د خلاصولو لپاره بله لار نه ويني. نو په دې صورت کي به د زوی لپاره د پلار قتل کول مباح وي، ځکه چې هر کس د خپل ځان د ساتلو په فکر کي وي او له خپل ځان څخه دفاع کول (مدافعت) د ټولو مقصود وي. او د دغه مقصود د حاصلولو يوازيني لاره اوس قتل ده. لهذا د قتل په ذريعه به مدافعت کيږي. همدا وجه ده که يو مسلمان پلار پر خپل کافر زوی توره را وکاږي او د زوی لپاره دا ممکنه نه وي چې د پلار له قتل کولو څخه ځان وژغوري، نو په دې صورت کي دغه کافر زوی خپل مسلمان پلار قتل کولای سي. او ګورئ! کله چې کافر زوی مسلمان پلار قتل کولای سي نو مسلمان زوی لره به په طريقه اولیٰ دا حق او اجازه وي چې په داسي حالت او صورت کي خپل کافر پلار قتل کړي. والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْمُوَادَعَةِ وَمَنْ يَّجُوْزُ أَمَانُهٗ

(دا) باب د صلح کولو او د هغه کس (په بيان کې دی)
چې د هغه أمان جائز وي

تشريح: موادعة له ودع څخه مشتق دی چې د هغه معنیٰ ده: تَرْك، پرېښوول. څرنګه چې په صلح (روغه) کې مسلمانان او کفار دواړه په خپل مېنځ کې جنګ او قتال پرېږدي، نو په دې وجه صلح او مصالحت ته "موادعة" ويل سوي دي، او څرنګه چې "تَرْك" تر "وجود" وروسته وي، نو په دې وجه صاحب د کتاب د قتال له بيان څخه وروسته اوس د تَرْكُ القِتَال بيان کوي. (د أمان بيان به په را روان فصل کې ذکر سي)

د صلح (مصالحت) جواز او د جواز شرائط

وَإِذَا رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ او که امام د حربيانو سره يا د هغوی د يو جماعت سره صلح کول مناسب وګڼي وَكَانَ فِي ذٰلِكَ مَصْلَحَةٌ لِلْمُسْلِمِينَ او په دې صلح کې د مسلمانانو لپاره مصلحت [خير او ښېګڼه] وي فَلَا بَأْسَ بِهٖ نو په صلح کولو کې هيڅ پروا نسته لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ [الأنفال: ٦١] ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: که چيري کفار صلح [روغي] ته ميلان وکړي نو [اې نبي!] ته هم صلح ته ميلان وکړه! وَوَادَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] أَهْلَ مَكَّةَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلٰى أَنْ يَضَعَ الْحَرْبَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهُمْ عَشْرَ سِنِينَ او نبي کريم ﷺ د حديبيې په کال د مکې د کفارو سره په دې خبره صلح وکړه چې د نبي ﷺ او د هغوی په مېنځ کې به تر لسو کالو پوري جنګ بند [او ممنوع] وي وَلِأَنَّ الْمُوَادَعَةَ جِهَادٌ مَعْنًى او ځکه چې صلح کول د معنیٰ په اعتبار سره جهاد دی إِذَا كَانَ خَيْرًا لِلْمُسْلِمِينَ [په دې شرط] کله چې صلح کول د مسلمانانو لپاره خير وي ايعني کله چې په صلح کې د مسلمانانو خير او نفع وي] لِأَنَّ الْمَقْصُودَ وَهُوَ دَفْعُ

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فی كتاب الجهاد، باب فی صلح العدو، رقم الحديث: ٢٧٦٦.

الشَّرِّ حَاصِلٌ بِهِ ځکه چي په صلح سره هم مقصود يعني د "شر دفع کېدل" حاصليږي وَلَا يُقْتَصَرُ الْحُكْمُ عَلَى الْمُدَّةِ الْمَرْوِيَّةِ او کوم مودت چي [په حديث کي] روايت سوی دی پر هغه حکم موقوف نه دی لِتَعَدِّي الْمَعْنَى إِلَى مَا زَادَ عَلَيْهَا ځکه چي له هغه څخه د زائد مودت وطرف ته هم معنیٰ متعدي ده بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ خَيْرًا په خلاف د هغه صورت کله چي په صلح کي خير نه وي لِأَنَّهُ تَرْكُ الْجِهَادِ صُورَةً وَمَعْنًى ځکه چي [اوس] هغه د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره "د جهاد پرېښوول" دي وَإِنْ صَالَحَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ رَأَى نَقْضَ الصُّلْحِ أَنْفَعَ او که امام تر يو څو وخت پوري د کفارو سره صلح وکړي بيا امام د صلح ماتول زيات نفع مند وګڼي نَبَذَ إِلَيْهِمْ وَقَاتَلَهُمْ نو امام دي صلح ور ماته کړي [او په صلح ماتولو دي هغوی خبر کړي] بيا دي د هغوی سره جنګ وکړي اد "نبذ" معنیٰ ده "غورځول"، دلته يې معنیٰ دا ده "د ماتولو سره اطلاع ورکول" يعني د صلح ماتولو اطلاع دي کفارو ته ورکړي] لِأَنَّهُ ❷ الطَّيِّلا نَبَذَ الْمُوَادَعَةَ الَّتِي كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِ مَكَّةَ ځکه نبي ﷺ هغه صلح ماته کړه کوم چي د نبي ﷺ او د کفارو په مينځ کي سوې وه وَلِأَنَّ الْمَصْلَحَةَ لَمَّا تَبَدَّلَتْ كَانَ النَّبْذُ جِهَادًا او ځکه چي کله مصلحت بدل سي نو [د عهد او صلح] ماتول به جهاد وي وَإِيفَاءُ الْعَهْدِ تَرْكُ الْجِهَادِ صُورَةً وَمَعْنًى او د عهد پوره کول به د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره د جهاد پرېښوول وي فَلَا بُدَّ مِنَ النَّبْذِ تَحَرُّزًا عَنِ الْغَدْرِ لهذا د غداری [وعده خلافی] څخه د ځان ساتلو لپاره [د صلح] ماتولو خبر ورکول ضروري دي وَقَدْ قَالَ: الطَّيِّلا ❸: فِي الْعُهُودِ وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ او د عهدونو [وعدو] په هکله نبي ﷺ فرمايلي دي: چي هغوی دی پوره کيږي او وعده خلافي دي نه کيږي وَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ مُدَّةٍ يَبْلُغُ فِيهَا خَبَرُ النَّبْذِ إِلَى جَمِيعِهِمْ او د دومره مودت اعتبار کول ضروري دي چي په هغه کي [د صلح] ماتولو خبر ټولو کافرانو ته ورسيږي وَيَكْتَفِي فِي ذَلِكَ بِمُضِيِّ مُدَّةٍ يَتَمَكَّنُ مَلِكُهُمْ بَعْدَ عِلْمِهِ بِالنَّبْذِ مِنْ إِنْفَاذِ الْخَبَرِ إِلَى أَطْرَافِ مَمْلَكَتِهِ او په دې سلسله کي به د دومره مودت پر تېرېدلو اکتفاء کيږي چي د کفارو مشر [د

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب دلائل النبوة, باب غزوة ومؤتة.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجهاد، باب في الإمام يكون بينه وبين العدو.

صلح ا په ماتېدلو سره تر خبرېدلو وروسته د خپل مملکت په اطرفو کې د هغه خبر پر نافذولو اا و نشر کولو ا قادر وي لِأَنَّ بِذٰلِكَ يَنْتَهِي الْغَدْرُ ځکه چې په همدې سره غدر ختمېږي.

اللغات: **مصلحة** ښېګڼه، منفعت (نفع)، عهد. **جنحوا** د فتح ماضي ده: میل کول (میلان کول)، یو طرف ته کږېدل. **يَضَعَ** د فتح مضارع ده: ایښوول. مراد ځنې له جنګ څخه منع کېدل دي. **نَبَذَ** د ضرب ماضي ده: غورځول. کله چې یې په صله کې "عهد" راسي. نو د "ماتولو" په معنیٰ سره راځي. عرب وايي: نبذ العهد إلى العدو (مصباح اللغات). او دلته یې معنیٰ دا ده "عهد ماتول او د هغه اطلاع ورکول" (أثمار الهداية). **عهد** ژمنه، قول، وعده، تړون. **يتمكّن** د تفعّل مضارع ده: قدرت پیدا کول، قدرت لرل (قادر کېدل).

تشريح: **مسئله**: دا ده که چیرې امامُ المسلمین د کفارو سره یا د کفارو د یو جماعت سره په صلح کولو کې خیر او عافیت ووینې، نو هغه ته پکار دي چې صلح ور سره وکړي؛ ځکه چې په قرآن کریم کې هم نبي کریم ﷺ ته دا حکم سوی دی چې هغه د صلح او مصالحت وطرف ته میلان وکړي. همدارنګه د "حُدیبیه" په کال کې د مکې د کفارو سره د نبي کریم ﷺ صلح کول ثابت دي (چې هغه ته "صلح حدیبیه" وايي). لهذا صلح او مصالحت که چیرې أنفع او فایدمند وي نو هغه اختیارول پکار دي. ځکه چې د أنفع کېدلو په صورت کې صلح د معنیٰ او باطن په اعتبار سره جهاد کول دي. ځکه چې د جهاد په څیر په دې سره هم د "دفعُ الشر" والا مقصد حاصلیږي. او له نبي کریم ﷺ څخه تر لسو کالو پورې صلح کول نقل سوي دي خو دا (لس کاله) یو حتمي او آخري حد نه دی. بلکې د صلح مودت د امام د حال او د هغه د رایې مطابق کمېدلای او زیاتېدلای هم سي. او د موقع او حالاتو په اعتبار سره په هغه کې تغیّر او تبدّل هم کېدلای سي. لېکن که په صلح او مصالحت کې د مسلمانانو خېر او ښېګڼه نه وي نو بیا د امام لپاره صلح کول صحیح نه دي. ځکه چې دا صورتاً هم ترکُ الجهاد دی او معناً هم. ځکه کله چې په هغه کې هیڅ خیر نه وي نو ښکاره خبره ده چې د "دفعُ الشر" مقصد به هم حاصل نه سي.

وإن صالحهم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که امام د کفارو سره د یو مودت لپاره صلح وکړي. بیا یو څو ورځې وروسته د صلح او عهد په ماتولو کې د مسلمانانو خیر ووینې نو هغه ته پکار دي چې مخکې کفارو ته د عهد ماتولو اطلاع ورکړي تر دې وروسته دې صلح ختم کړي او جنګ دې شروع کړي. لکه څرنګه چې نبي کریم ﷺ د مکې د کفارو سره تړل سوی عهد او تړون د کفارو تر مخالفت کولو وروسته مات کړی یعني تر "صلح حدیبیه دوه کاله وروسته چې کله کفارو د خپل معاون او ملګری

قوم "بَنُوْ بَكْر" مدد وکړی او د مسلمانانو پر معاون قوم "بَنُوْ خُزَاعَه" يې حمله وکړه. نو تر دې وروسته نبي ﷺ هغه صلا او تړون مات کړی او پر کفارو يې حمله وکړه او مکه يې فتح کړه. له دې څخه معلومه سوه چې مصلحتاً د عهد او تړون ماتول جائز دي.

ولأن المصلحة إلخ: فرمايي چې کله مصلحت بدل سي نو په دې صورت کي به د عهد ماتول "جهاد" وي او د عهد پوره کول به د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره "ترکُ الجهاد" (د جهاد پرېښوول) وي، لهذا د مصلحت د بدلېدلو په صورت کي د صلح او عهد په ماتولو کي خير او عافيت دی. او په دې هکله مخکي اطلاع ورکول ضروري دي، د دې لپاره چې مسلمانانو ته د وعده خلافۍ او غدارۍ تهمت راجع نه سي، او موږ نبي کريم ﷺ له وعده خلافۍ څخه منع کړي يو او دا حکم يې راته کړی دی چې "وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ" (يعني حتی الإمکان عهد او وعده پوره کوئ! او وعده خلافي مه کوئ!).

ولا بد من اعتبار مدة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د عهد او صلح د ختمولو او پر کفارو د حملې کولو په مينځ کي دومره مودت ورکول ضروري دی چې په هغه مودت کي ټولو کافرانو ته د عهد ماتولو خبر ورسيږي او هر يو د صلح په ختمېدلو خبر سي، او که چيري دومره مودت ورکول سي چې فقط د کفارو مشرانو ته خبر ورسيږي او د هغو لپاره دا ممکن وي چې د خپل حکومت په أطرافو کي دا خبر نشر او خپور کړي، نو دا هم صحيح دي، ځکه چې په دې صورت کي به هم مسلمانانو ته د وعده خلافۍ تهمت او إلزام نه راجع کيږي او دا صورت به هم له فريب او غدارۍ څخه خالي وي.

که کفار د عهد او تړون مخالفت وکړي

قال: وَإِنْ بَدَءُوا بِخِيَانَةٍ قَاتَلَهُمْ فرمايي: او که چيري کفار په خيانت کولو شروع وکړي نو امام دي د هغوی سره جنګ وکړي وَلَمْ يَنْبِذْ إِلَيْهِمْ او هغوی ته دي [د صلح] ماتولو خبر نه ورکوي إِذَا كَانَ ذَلِكَ بِاتِّفَاقِهِمْ [په دې شرط] چې کله دا کار د کفارو په اتفاق سوی وي لِأَنَّهُمْ صَارُوا نَاقِضِينَ لِلْعَهْدِ ځکه چې هغوی د عهد ماتونکي وګرځېدل فَلَا حَاجَةَ إِلَى نَقْضِهِ لهذا [اوس دويم ځل] د عهد ماتولو هيڅ ضرورت نسته بِخِلَافِ مَا إِذَا دَخَلَ جَمَاعَةٌ مِنْهُمْ په خلاف د هغه صورت کله چې د کافرانو يو جماعت دارُ اسلام ته ننوځي فَقَطَعُوا الطَّرِيقَ او [هلته] ډاکه ماري [لوټ ماري] وکړي وَلَا مَنَعَةَ لَهُمْ حال دا چې هغوی لره دفاعي طاقت [مضبوط قوت] حاصل نه وي حَيْثُ لَا يَكُونُ هٰذَا نَقْضًا لِلْعَهْدِ نو دا به د عهد ماتول نه وي وَلَوْ كَانَتْ لَهُمْ مَنَعَةٌ وَقَاتَلُوا الْمُسْلِمِينَ عَلَانِيَةً [ليکن] که د دوی سره دفاعي

طاقت وي او په ډاګه د مسلمانانو سره جنګ وکړي يَكُونُ نَقْضًا لِلْعَهْدِ فِي حَقِّهِمْ دُونَ غَيْرِهِمْ نو دا به د جنګ کونکو [مقاتلينو] په حق کي د عهد ماتول وي، نه د نورو [کافرانو] په حق کي لِأَنَّهُ بِغَيْرِ إِذْنِ مَلِكِهِمْ ځکه چي دا فعل د دوی د باچا [مشر] له اجازې څخه بغير سوی دی فَفِعْلُهُمْ لَا يَلْزَمُ غَيْرَهُمْ لهذا د دوی فعل به د نورو [کافرانو] سره نه لازميږي حَتَّى لَوْ كَانَ بِإِذْنِ مَلِكِهِمْ صَارُوا نَاقِضِينَ لِلْعَهْدِ تر دې که چيري دا فعل د هغوی د مشر په اجازه سره وي نو هغوی به د عهد ماتونکي وګرځي لِأَنَّهُ بِاتِّفَاقِهِمْ مَعْنًى ځکه چي د معنیٰ په اعتبار سره [ټوله] کفار پر دې [عهد ماتولو] متفق دي.

اللغات: ﴿بدءوا﴾ د فتح ماضي ده: شروع کول، وړانديتوب کول. ﴿ناقضين﴾ د نصر اسمِ فاعل دی، نَقَضَ يَنْقُضُ نَقْضًا: پخه وعده ماتول (عهد ماتول)، ﴿منعة﴾ د مدافعت قوت. دفاعي طاقت. قوت او شوکت.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که کفار په خپله وعده خلافي وکړي او دا کار د دوی ټولو په رايه سره وسي، نو امام المسلمين ته پکار دي چي د عهد ماتولو له اطلاع ورکولو څخه بغير د هغو سره جنګ شروع کړي؛ ځکه کله چي هغوی په خپله د عهد په ماتولو کي وړانديتوب وکړي نو عهد او صلح به ماته سي او بيا به د هغه د ماتولو او کفارو ته د اطلاع ورکولو هيڅ ضرورت نه وي. د دې په خلاف که د کافرانو يو جماعت په دارُ الاسلام کي داخل سي او ډاګه ماري شروع کړي خو دغه جماعت ته هيڅ أهم قوت او شوکت حاصل نه وي، نو د هغو دا فعل به "د عهد ماتول" نه شمارل کيږي؛ ځکه چي د مسلمانانو عهد او تړون د دې جماعت سره نه دی. بلکي د جماعت د مشرانو او حاکمانو سره دی. او د دوی په ډاګه ماری سره مشران خبر هم نه دي، نو ځکه به دا "د عهد ماتول" نه وي.

ها! که چيري دا جماعت ستر قوت او شوکت لري او د مسلمانانو سره په ډاګه او علانيه توګه جنګ او قتال شروع کړي، نو د مقاتلينو په حق کي به دا "د عهد ماتول" وي او د غير مقاتلينو په حق کي به "د عهد ماتول" نه وي، ځکه چي د دې جماعت خلکو (مقاتلينو) د مشرانو له اجازې څخه بغير دا کار کړی دی خو څرنګه چي دې په علانيه توګه کړی دی نو ځکه به فقط د مقاتلينو سره دا فعل لازم وي او د نورو خلکو سره به نه لازميږي. ليکن که په دې فعل کي د مشرانو او حاکمانو اجازه هم شامله وي. نو دا فعل به "د عهد ماتول" وي ځکه اوس د معنیٰ په اعتبار سره په دې فعل کي ټول کفار متفق سول او د ټولو رايه پکښي شامله سوه. لهذا اوس به له اطلاع ورکولو څخه بغير پر دوی حمله کول جائز او مباح وي.

د مال په عوض کي صلح کول

وَإِذَا رَأَى الإِمَامُ مُوَادَعَةَ أَهْلِ الْحَرْبِ وَأَنْ يَأْخُذَ عَلَى ذَلِكَ مَالًا او که امام دا مناسب وګڼي چي د حربيانو سره صلح وکړي او له هغوی څخه مال واخلي ايعني د کفارو سره د مال په عوض کي صلح کول مناسب وګڼي ا فَلَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي هيڅ حرج نسته لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَتِ الْمُوَادَعَةُ بِغَيْرِ الْمَالِ فَكَذَا بِالْمَالِ ځکه کله چي له مال څخه بغير صلح کول جائز دي نو د مال په عوض کي به هم جائز وي لَكِنْ هَذَا إِذَا كَانَ بِالْمُسْلِمِينَ حَاجَةٌ ليکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي مسلمانانو ته د مال په عوض کي د صلح کولو ضرورت وي أَمَّا إِذَا لَمْ تَكُنْ ليکن که دا ضرورت نه وي لَا يَجُوزُ نو ا د مال په عوض کي صلح کول ا جائز نه دي لِمَا بَيَّنَّا مِنْ قَبْلُ د هغه ليل په وجه کوم چي موږ مخکي بيان کړی وَالْمَأْخُوذُ مِنَ الْمَالِ يُصْرَفُ مَصَارِفَ الْجِزْيَةِ او ا له کفارو څخه ا اخيستل سوی مال به د جزيې په مصارفو کي خرچول کيږي هَذَا إِذَا لَمْ يَنْزِلُوا بِسَاحَتِهِمْ بَلْ أَرْسَلُوا رَسُولًا دا حکم په هغه صورت کي دی چي کله مسلمانانو د هغوی ا د حرب ا ساحې ته راغلي نه وي بلکي قاصد ا استازی ا يې استولی وي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْجِزْيَةِ ځکه چي دا د جزيې په معنیٰ سره دي أَمَّا إِذَا أَحَاطَ الْجَيْشُ بِهِمْ ثُمَّ أَخَذُوا الْمَالَ ليکن که اسلامي لښکر پر کفارو احاطه کړې وي او له هغوی څخه يې ا جبراً ا مال اخيستی وي فَهُوَ غَنِيمَةٌ يُخَمِّسُهَا وَيُقَسِّمُ الْبَاقِيَ بَيْنَهُمْ نو ا په دې صورت کي ا به هغه اخيستل سوی مال غنيمت وي چي له هغه څخه به پنځمه حصه ايستل کيږي او پاته مال به په دوی ا مجاهدينو ا کي تقسيمول کيږي لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌ بِالْقَهْرِ مَعْنًى ځکه چي هغه د معنیٰ په اعتبار سره جبراً ا په زوره ا اخيستل سوی مال دی.

اللغات: ﴿موادعة﴾ مصالحت. د جنګ پر پرېښوولو صلح کول. ﴿يُصرف﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: خرچول. مصرفول. ﴿ساحة﴾ پراخه ځای (ميدان). ساحه. ﴿أحاط﴾ د افعال ماضي ده: احاطه کول. چار طرفه پر راګرځېدل. ګېره اچول. ﴿يُخمّس﴾ د تفعيل مضارع ده: يو شی پنځه ړکنه جوړول. پنځه حصې ګرځول. له مال څخه خُمس ايستل. ﴿بالقهر﴾ په غلبه سره. په زوره. په جبر (جبراً).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه بدون المال د کُفارو سره صلح کول جائز دي. همداسي د مال په عوض کي د هغو سره صلح کول جائز دي. په دې شرط چې مسلمانانو ته د مال ضرورت وي. لېکن که مسلمانانو ته د مال ضرورت نه وي نو بیا د مال په عوض کي صلح ورسره کول جائز نه دي: ځکه چې د جهاد مقصد د "الله نوم لوړول" دي نه "مال اخیستل". لهذا بېله ضرورته د مال په عوض کي صلح کول جائز نه دي. او د جواز په صورت کي چي له کفارو څخه کوم مال اخیستل کېږي هغه به د "جزيه" په مصارفو کي خرچول کېږي (یعني کوم حکم چې د جزیې دی. هغه د صلح د مال هم دی).

هذا إذا إلخ: فرمايي چي دغه د صلح مال به هغه وخت د جزيې په مصارفو کي خرچول کېږي کله چي مسلمانان د جنګ ډګر ته راغلي نه وي او د قاصد او استازي په ذريعه يې دا معامله کړې وي. نو په هغه صورت کي به دا مال د جزيې په حکم کي وي. لېکن که مجاهدين د جنګ میدان ته راغلي وي او کفار يې محاصره کړي وي او بیا کفارو مجبوراً د مال په عوض کي صلح کړې وي نو په دې صورت کي به هغه مال د غنیمت مال وي او له هغه څخه به یوه حصه ایستل کېږي او پاته څلور حصې به په مجاهدينو کي تقسیمول کېږي، ځکه چي دا مال له کفارو څخه جبراً او قهراً اخیستل سوی دی. نو دا د هغه مال سره مشابه سو کوم چي له کفارو څخه تر قتل او قتال وروسته اخیستل سوی وي چي هغه ته مال غنیمت وایي. او د مال غنیمت حکم همدا دی چي د هغه یوه حصه به د الله او رسول لپاره وي، او پاته څلور حصې به مجاهدینو ته ورکول کېږي، نو همداسي به دغه مال هم تقسیمول کېږي.

د مرتدينو سره صلح کول

وَأَمَّا الْمُرْتَدُّونَ فَيُوَادِعُهُمُ الْإِمَامُ حَتّٰى يَنْظُرَفِي أَمْرِهِمْ او کوم چي مرتد سوي خلک دي نو امام د هغو سره صلح کولای سي، تر دې چي مسلمانان د هغوی د معاملې [او حال] په هکله غور وکړي لِأَنَّ الْإِسْلَامَ مَرْجُوٌّ مِنْهُمْ ځکه چي له هغو څخه د اسلام راوړلو اُمید سته فَجَازَ تَأْخِيرُ قِتَالِهِمْ طَمَعًا فِي إِسْلَامِهِمْ لهذا د هغوی د اسلام راوړلو په طمع د هغوی قتال ځنډول جائز دي وَلَا يَأْخُذُ عَلَيْهِ مَالًا او مسلمانان به [د هغو سره] د صلح پر کولو مال نه اخلي لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ مِنْهُمْ ځکه چي له هغو څخه جزيه اخیستل جائز نه دي لِمَا نُبَيِّنُ د هغه دليل په وجه چي [وروسته] به يې مونږ بيان کړو وَلَوْ أَخَذَهُ لَمْ يَرُدَّهُ او که چيري امام [د صلح] مال واخلي نو هغه دي نه واپس کوي لِأَنَّهُ مَالٌ غَيْرُ مَعْصُومٍ ځکه چي دا غير محفوظ مال دی وَلَوْ حَاصَرَ الْعَدُوُّ الْمُسْلِمِينَ او که چيري دښمن مسلمانان

محاصره کړي وَطَلَبُوا الْمُوَادَعَةَ عَلَى مَالٍ يَدْفَعُهُ الْمُسْلِمُونَ إِلَيْهِمْ او هغوی د مال په عوض کي د صلح کولو مطالبه وکړي چي مسلمانان به يې هغوی ته ورکوي لَا يَفْعَلُهُ الْإِمَامُ نو امام دي دا صلح نه کوي لِمَا فِيهِ مِنْ إِعْطَاءِ الدَّنِيَّةِ وَإِلْحَاقِ الْمَذَلَّةِ بِأَهْلِ الْإِسْلَامِ ځکه چي په دې کي مسلمانانو ته رذالت [او عيب] ور په برخه کول دي او مسلمانان په ذلّت کي مبتلا کول دي ايعني دا د مسلمانانو لپاره د پزې پرېکېدل دي، ځينو شارحينو د "دنيئة" پر ځای "دية" ليکلي دي، يعني مسلمانان به ديت هم ورکوي. خو دا معنیٰ نامناسبه ښکاري] إِلَّا إِذَا خَافَ الْهَلَاكَ خو دا چي کله د هلاکت بېره وي لِأَنَّ دَفْعَ الْهَلَاكِ وَاجِبٌ بِأَيِّ طَرِيقٍ يُمْكِنُ ځکه چي د هلاکت دفع کول واجب دي هغه که په هره طريقه سره ممکن وي وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُبَاعَ السِّلَاحُ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ او مناسب نه دي چي پر حربيانو وسله خرڅه کړل سي وَلَا يُجَهَّزُ إِلَيْهِمْ او نه به د دوی وطرف ته [د تجارانو له طرفه] وسله وړل کيږي [د تجهيز أصل معنیٰ د "تيارولو" ده، خو دلته يې شارحينو د "وړلو" او "نقل کولو" معنیٰ کړې ده] لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ بَيْعِ السِّلَاحِ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَحَمْلِهِ إِلَيْهِمْ ځکه چي نبي کريم ﷺ پر حربيانو د وسلې له خرڅولو او د هغوی وطرف ته د وسلې له وړلو څخه منع کړې ده وَلِأَنَّ فِيهِ تَقْوِيَتَهُمْ عَلَى قِتَالِ الْمُسْلِمِينَ او ځکه چي په دې کي د مسلمانانو د جنګ په خلاف هغوی ته طاقت ورکول دي فَيُمْنَعُ مِنْ ذَلِكَ نو په دې وجه به دا ممنوع وي وَكَذَا الْكُرَاعُ او همدا حکم د [جنګي] آسونو هم دی ايعني پر حربيانو د جنګي آسونو او سپارليو خرڅول هم ممنوع دي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَكَذَلِكَ الْحَدِيدُ او همدا حکم د اوسپني هم دی لِأَنَّهُ أَصْلُ السِّلَاحِ ځکه چي اوسپنه د وسلې أصل [او بنياد] دی وَكَذَا بَعْدَ الْمُوَادَعَةِ او تر صلح [روغي] وروسته هم دغه حکم دی لِأَنَّهَا عَلَى شَرَفِ النَّقْضِ أَوِ الِانْقِضَاءِ ځکه صلح ماتېدلو ته نژدې وي يا د مودت پر ختمېدلو به صلح ماته سي فَكَانُوا حَرْبًا عَلَيْنَا نو دوی [کفار] به زموږ په خلاف جنګ کونکي وګرځي ايعني تر صلح ماتېدلو وروسته به دوی هغه وسلې، آسونه او داسي نور زموږ په خلاف استعمالوي، نو د نفع پر ځای به موږ ته نقصان را ورسيږي] وَهَذَا هُوَ الْقِيَاسُ فِي الطَّعَامِ

وَالثَّوْبِ او همدا د غلې او جامې په هکله د قياس تقاضا ده اچې پر کفارو به نه خرڅول کيږي ا إِلَّا أَنَّا عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ لېکن موږ په حديث سره د دې اشيانو اجازه ا معلومه کړې ده فَإِنَّهُ الطَّيْلاً أَمَرَ ثُمَامَةَ[1] أَنْ يَمِيرَ أَهْلَ مَكَّةَ ځکه چې نبي کريم ﷺ حضرت ثمامه ته حکم وکړی چې هغه د مکې کفارو ته غله ورکړې وَهُمْ حَرْبٌ عَلَيْهِ حالانکې هغوی ا په دې وخت کې ا د نبي ﷺ سره د جنګ په حالت کې وو.

اللغات: ﴿تقوية﴾ د تفعيل مصدر دی: طاقت ورکول، قوت وربخښل. ﴿کراع﴾ مراد ځنې جنګي سپارلۍ دي لکه آسونه او داسې نور. ﴿شرف﴾، کناره، غاړه، ژۍ (څنډه). ﴿انقضاء﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل، پوره کېدل. ﴿يَمِيرُ﴾ د ضرب مضارع ده: (بچيانو ته) غله او نفقه ورکول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که دېر خلک له اسلام څخه مرتد سي (العياذ بالله) او بيا پر يو علاقه باندې غلبه وکړي او هغه ته د دارُ الحرب شکل ورکړي، وروسته له مسلمانانو څخه د صلح غوښتنه وکړي نو امامُ المسلمين د دوی په حال کې تر غور او فکر کولو وروسته د دوی سره صلح کولای سي، ځکه چې له هغو څخه د اسلام راوړلو اُميد سته، لهذا په دې اُميد او حرص د هغو سره په قتال او جنګ کولو کې تأخير کېدای سي، لېکن د دې صلح په عوض کې مسلمانان له هغو څخه مال نه سي اخيستلای، ځکه چې د دې مال مصرِف (د خرچولو ځای) هغه دی کوم چې د جزيې مصرِف دی، حالانکې له مرتدينو څخه جزيه اخيستل کېدلای نه سي، د دې نور تفصيل به انشاء الله په بابُ الجزيه کې راسي. بيا هم که امام له مرتدينو څخه مال واخلي نو دا مال به بيا مرتدينو ته نه واپس کيږي، ځکه چې د ارتداد په وجه د دوی مال غيرِ محفوظ او غيرِ محترم وګرځېدی، لهذا د هغه په اخيستلو کې به هيڅ حرج نه وي.

ولوحاصر العدو إلخ: فرمايي که چيري کفار مسلمانان محاصره کړي او بيا له مسلمانانو څخه د مال په عوض کې د صلح کولو مطالبه وکړي، نو امام ته پکار دي چې د هغو سره د مال په عوض کې صلح نه وکړي، ځکه چې د مال په عوض کې په صلح کولو سره به د مسلمانانو کمزوري ثابته سي او هغوی به ټيټ معلوم سي او مسلمان قوم ته به ذلت او شرمندګي محسوسه سي، نو ځکه به د مال په عوض کې

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في دلائل النبوة، باب سرية نجد (ج:۴، ص:۸۰).

د هغو سره صلح نه کيږي. هو! که چيرې محاصره زوروره وي يا د مال نه ورکولو په صورت کې د مسلمانانو د هلاکت خطره وي، نو په دې صورت کې به د مال په عوض کې مجبوراً د صلح کولو اجازه وي. ځکه چې په هر حالت کې له مسلمانانو څخه هلاکت ليرې کول واجب دي هغه که د قتال په ذريعه ليرې کړی سي يا د مال په ذريعه.

ولاينبغي إلخ: د دې حاصل دا دی چې پر کافرانو وسله او د جنګ سامان خرڅول يا د هغو ملک او ښار ته وسله وړول او خرڅول صحيح نه دي؛ ځکه چې نبي کريم ﷺ له دې څخه منع کړې ده. او بل دا چې په دې سره حربيانو ته د وسلې او جنګي سامان په اعتبار سره تقويت ورکول کيږي کوم چې د "وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَان" په وجه ممنوع دي. همدا حکم د آس او اوسپني د خرڅلاو هم دی، ځکه چې آس هم د جنګ سامان دی او اوسپنه خو د وسلې أصلي ماده ده نو د دې شيانو خرڅول به هم د کفارو په حق کې د تقويت باعث وي. نو ځکه دا شيان هم پر کفارو خرڅول صحيح نه دي. او دا خرڅلاو چې څرنګه تر صلح او مصالحت مخکې صحيح نه دی همداسې تر صلح وروسته هم صحيح نه دی. ځکه چې د صلح هيڅ باور نسته او د صلح د ماتېدلو خطره هم سته. بلکې غالب دا دي چې د وسلې او سامان په ورکولو سره کفارو ته د "صلح او عهد ماتولو" لاره هوارېږي. او تر صلح ماتېدلو وروسته به کفار په هغه وسلو زموږ سره جنګيږي، لنډه دا چې په دې سره به مسلمانانو ته د نفع پر ځای نقصان ورسيږي.

وهذا هو القياس إلخ: فرمايي چې همدا د غلې او جامې په هکله د قياس تقاضا ده چې هغه پر حربيانو خرڅه نه کړل سي؛ ځکه چې په دې سره هغو ته تقويت حاصليږي. لېکن د حضرت ثمامه په هغه واقعه سره موږ دلته قياس پرېږدو چې کله حضرت ثمامه تر اسلام راوړلو وروسته د مکې کفارو ته د غلې نه ورکولو عهد وکړی نو نبي ﷺ هغه ته حکم وکړی چې "غله مه راګرځوه. هغه ور پرېږده". حالانکې د مکې ټوله کفار د نبي کريم ﷺ ښکاره او سخت ترين دښمنان ول. لېکن بيا هم نبي کريم ﷺ هغو ته د غلې ورکولو حکم او فرمان صادر کړی. له دې څخه معلومه سوه چې پر حربي کافرانو باندې د دې شيانو د خرڅولو اجازه سته.



فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ أُحْكَامِ الْأَمَانِ)

(دا) فصل (د أمان ورکولو د احکامو په بیان کي) دی

تشريح: په شروع کي صاحب د کِتاب رَحِمَهُ الله وفرمايل: باب الموادعة "ومن يجوز أمانه". نو ځکه يې اول د موادعة (صلح) أحکام بيان کړل. اوس په دې فصل کي د أمان احکام بيانوي.

أمان: صاحب د معجم الفقهاء د أمان اصطلاحي تعريف داسي ذکر کړی دی: "العهد للمحارب بعدم الاعتداء على نفسه وماله وعرضه ودينه". (يعني د حربي کافر سره د هغه د ځان، مال او د هغه د آبرو او د دين د حفاظت عهد او تړون کول). مطلب دا چي کله حربي کافر دار الاسلام ته راسي او دا غوښتنه وکړي چي دلته دي زما ځان، مال، آبرو او دين په أمن وي او څوک دي پر ما تجاوز او تېری نه کوي، او يو مسلمان د دې ذمه واري واخلي، نو همدې ته "أمان ورکول" وايي.

أمان او د هغه شرائط

إِذَا أَمَّنَ رَجُلٌ حُرٌّ أَوِ امْرَأَةٌ حُرَّةٌ كَافِرًا أَوْ جَمَاعَةً أَوْ أَهْلَ حِصْنٍ أَوْ مَدِينَةٍ او کله چي يو آزاد سړی يا آزاده ښځه يو کافر يا يو جماعت [اهلي] يا د يو قلعې يا د ښار خلکو [کفارو] ته أمان ورکړي صَحَّ أَمَانُهُمْ نو [د سړي او ښځي له طرفه] به هغوی ته [ورکول سوی] أمان صحيح وي وَلَمْ يَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قِتَالُهُمْ او په مسلمانانو کي به د هيچا لپاره هم د هغوی سره جنګ کول جائز نه وي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] او أصل په دې سلسله کي د نبي ﷺ دا فرمان دی اَلْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ د [ټولو] مسلمانانو وينه برابره [کفو] ده او په دوی کي به [هر مسلمان] د ادنیٰ [يوه مسلمان] د ذمه واری د پوره کولو کوښښ کوي [يعني که په مسلمانانو کي يو مسلمان هم د يو چا ذمه واري واخلي او يو چا ته أمان ورکړي نو پر هر مسلمان لازم دي چي د هغه خيال وساتي او هغه پوره کړي] أَيْ أَقَلُّهُمْ وَهُوَ الْوَاحِدُ [په دې سره صاحب د هدايې د "ادنیٰ" تعريف کوي] يعني [له ادنیٰ څخه مراد] أقلّ دی او هغه يو سړی [يو مسلمان] دی

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الديات، رقم الحديث: ۴۵۳۰.

وَلِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْقِتَالِ او ځکه چې هر مسلمان د جنګ کولو أهل دی فَيَخَافُونَهُ نو کفار به له هغه ځخه بیریږي إِذْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْمَنَعَةِ ځکه چې هغه [هر مسلمان] د مدافعت أهل دی [يعني د دفع کولو طاقت لري] فَيَتَحَقَّقُ الْأَمَانُ مِنْهُ نو ځکه له هغه ځخه أمان ورکول ثابتېدای سي لِمُلَاقَاتِهِ مَحَلَّهُ ځکه چې أمان د خپل محل سره متصل دی [يعني له چا ځخه چې کفار بیریږي نو هغه د أمان ورکولو محل دی، او د هغه له طرفه أمان ورکول "له خپل محل ځخه د أمان صادرېدل" دي نو ځکه به هر مسلمان ته د أمان ورکولو حق او اختيار وي او د هر مسلمان أمان ورکول به صحيح وي] ثُمَّ يَتَعَدَّى إِلَى غَيْرِهِ بيا هغه [د أمان ذمه واري] به د نورو [مسلمانانو] وطرفه ته متعدي کیږي وَلِأَنَّ سَبَبَهُ لَا يَتَجَزَّأُ وَهُوَ الْإِيمَانُ او ځکه چې د أمان سبب يعني إيمان نه متجزي کیږي وَكَذَا الْأَمَانُ لَا يَتَجَزَّأُ [نو] همداسي به أمان هم نه متجزي کیږي فَيَتَكَامَلُ كَوِلَايَةِ الْإِنْكَاحِ لهذا دا به [هم] د نکاح ورکولو د ولایت په شير کامل وي قال: إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي ذَلِكَ مَفْسَدَةٌ فرمايي: مګر دا چې په دې أمان کي يو خرابي وي فَيَنْبِذُ إِلَيْهِمْ نو [په دې صورت کي] به امام د دوی أمان ماتوي كَمَا إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ بِنَفْسِهِ ثُمَّ رَأَى الْمَصْلَحَةَ فِي النَّبْذِ لکه [په هغه صورت کي چې يې ماتولای سي] کله چې امام په خپله أمان ورکړی وي [او] بيا د هغه په ماتولو کي مصلحت ويني وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او [مخکي] مونږ د دې بيان وکړی وَلَوْ حَاصَرَ الْإِمَامُ حِصْنًا وَأَمَّنَ وَاحِدٌ مِنَ الْجَيْشِ وَفِيهِ مَفْسَدَةٌ او که چیري امام [د کفارو] يوه قلعه محاصره کړي او بيا د لښکر ځخه يو کس [هغو ته] أمان ورکړي حال دا چې په دې أمان کي خرابي وي يَنْبِذُ الْإِمَامُ نو [هم] به إمام دا أمان ختموي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې مونږ بيان کړی وَيُؤَدِّبُهُ الْإِمَامُ او إمام به هغه [أمان ورکونکي کس] ته سزا ورکوي لِافْتِيَاتِهِ عَلَى رَأْيِهِ ځکه چې هغه د امام پر رايه خپلي رايي ته ترجيح ورکړه بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِيهِ نَظَرٌ په خلاف د هغه صورت کله چې په دې أمان کي يو مصلحت وي لِأَنَّهُ رُبَّمَا تَفُوتُ الْمَصْلَحَةُ بِالتَّأْخِيرِ ځکه چې کله نا کله د تأخير په وجه مصلحت فوتيږي فَكَانَ مَعْذُورًا نو ځکه به أمان ورکونکی معذور وي.

اللغات: ﴿حصن﴾ قلعه، کلا. ﴿تتكافأ﴾ د تفاعل مضارع ده، له کفو ځخه مشتق دی: برابرېدل، ﴿منعة﴾ د مدافعت قوت، دفاعي طاقت. ﴿لا يتجزأ﴾ او لا يتجزّى: جزء جزء کېدل، حصه حصه

کېدل، ټوکره ټوکره کېدل. ﴿يُؤدّبه﴾ د تفعيل مضارع ده: أدب ورکول. کله چي دا باب د جرم او جنايت په بحث کي ذکر سي نو د "سزا ورکولو" په معنیٰ سره راځي (مصباح اللغات). ﴿إفتِيَات﴾ د افتعال مصدر دی: ترجيح ورکول، غوره ګڼل. ﴿نظر﴾ مصلحت، ښېګڼه (خير او نفع).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په مسلمانانو کي يو آزاد سړی يا آزاده ښځه يو کافر ته يا د کفارو يو جماعت ته أمان ورکړي، يا د يو ښار او قلعې والا (کفارو) ته أمان ورکړي، نو دا أمان صحيح او جائز دی، او که چيري په دې کي د مسلمانانو نفع وي نو د هيچا لپاره هم د دې أمان د ماتولو اجازه نسته او نه د أمان ورکړل سوو کافرانو سره جنګ او قتال کول صحيح دي، ځکه چي په حديث کي ذکر سوي دي "چي د ټولو مسلمانانو وينه برابره ده او که يو ادنیٰ سړی هم د يو چا ذمه واري واخلي نو پر هر مسلمان لازم دي چي هغه پوره کړي"، مطلب دا چي که يو ادنیٰ مسلمان هم يو چا ته أمان ورکړي او په هغه کي د مسلمانانو ضرر نه وي، نو د ټولو مسلمانانو لپاره د هغه أمان پوره کول ضروري دي.

ولأنه من أهل القتال إلخ: دا عقلي دليل دی او څه مشکل دی، حاصل يې دا دی چي هر مسلمان د قتال (جنګ کولو) طاقت او أهليت لري، نو ځکه به کفار له هغه شخصه بيرېږي، نو له يو چا شخصه چي خوف او بيره محسوسيږي، له هغه شخصه أمان هم ثابتېدای سي، نو ځکه هر مسلمان ته د أمان ورکولو حق سته، او کله چي کفارو ته د يوه مسلمان له طرفه أمان ورکول سي، نو هغه سرايت کوي او نشر کيږي او د نورو مسلمانانو ذمه واري هم ګرځي.

ولأن سببه إلخ: يو دليل دا هم دی چي د أمان ورکولو سبب ايمان دی (او ايمان په ټولو مسلمانانو کي سته)، او په ايمان کي تجزي نه سي کېدای لهذا په أمان کي به هم تجزي نه کيږي. او لکه څرنګه چي د نکاح او واده ورکولو په ولايت کي يو څو وليان منفرد او کامل شريک وي، همداسي به په أمان ورکولو کي هم هر مسلمان کامل او مکمل شريک وي او په دې کي به تقسيم او تجزي نه کيږي. لېکن که په أمان ورکولو کي د مسلمانانو ضرر وي نو إمام دي هغه ختم کړي او کفارو ته دي د هغه اطلاع ورکړي، ځکه چي امام د مسلمانانو په حق کي د خير او مصلحت قائمولو لپاره ټاکل کيږي. د ضرر او شر رسولو يا نشر کولو لپاره هغه نه مقرر کيږي، نو ځکه دي امام په أمان کي د ضرر ليدلو په صورت کي هغه ختم کړي. لکه کله چي امام په خپله أمان ورکړی وي نو د شر او ضرر ښکاره کېدلو په صورت کي هغه خپل ورکول سوی أمان هم ختمولای سي.

ولوحاصر الإمام إلخ: د دې حاصل دا دی چې که امام د کفارو يوه قلعه (کلا) محاصره کړي لېکن له مجاهدينو څخه يو مجاهد هغو ته أمان ورکړي او په دې أمان کي د مسلمانانو ضرر وي نو امام به دغه أمان هم ختموي او أمان ورکونکي ته به تأديبي سزا هم ورکوي. ځکه چې هغه خپلې رايې ته دامام پر رايه ترجيح ورکړې ده. لېکن که چيرې په دغه أمان کي د مسلمانانو فايده وي نو په دې صورت کي به هغه ته سزا نه ورکول کيږي، ځکه که په دې صورت کي هغه د امام د رايې انتظار وکړي نو کېدای سي چې د أمان په ځنډولو سره هغه فايده او مصلحت فوت سي. نو ځکه به په داسي صورت کي د هغه أمان معتبر وي او د امام پر رايه باندې خپلې رايې ته په ترجيح ورکولو کي به هغه معذوره ګڼل کيږي (او هيڅ سزا به نه ورکول کيږي).

د ذمي له طرفه د ورکول سوي أمان حکم

وَلَا يَجُوزُ أَمَانُ ذِمِّيٍّ او د ذمي أمان صحيح نه دی لِأَنَّهُ مُتَّهَمٌ بِهِمْ ځکه چې ذمي په کفارو سره متهم (تورن) دی وَكَذَا لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ همدارنګه پر مسلمانانو هغه ته ولايت هم حاصل نه دی قال: وَلَا أَسِيرٍ وَلَا تَاجِرٍ يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ فرمايي: او نه د قيدي أمان صحيح دی او نه د هغه تاجر أمان صحيح دی کوم چې کفارو ته (د تجارت په غرض) ځي لِأَنَّهُمَا مَقْهُورَانِ تَحْتَ أَيْدِيهِمْ ځکه چې دا دواړه د کافرانو تر لاس لاندې دي (يعني د هغوی په قبضه کي دي) فَلَا يَخَافُونَهُمَا لهذا کفار به له دوی څخه نه بيريږي وَالْأَمَانُ يَخْتَصُّ بِمَحَلِّ الْخَوْفِ حال دا چې أمان د خوف د محل سره خاص دی وَلِأَنَّهُمَا يُجْبَرَانِ عَلَيْهِ فِيهِ او ځکه چې دوی په أمان ورکولو کي مجبورول کېدای هم سي فَيَعْرَى الْأَمَانُ عَنِ الْمَصْلَحَةِ نو (د دوی) أمان به له مصلحت څخه خالي وي وَلِأَنَّهُمْ كُلَّمَا اشْتَدَّ الْأَمْرُ عَلَيْهِمْ يَجِدُونَ أَسِيرًا أَوْ تَاجِرًا فَيَتَخَلَّصُونَ بِأَمَانِهِ او بل دا چې هر کله پر کافرانو معامله سخته سي نو هغوی به يو قيدي يا تاجر پيدا کوي او د هغه په أمان سره به ځانونه خلاصوي فَلَا يَنْفَتِحُ لَنَا بَابُ الْفَتْحِ نو زموږ لپاره به د فتح دروازه نه خلاصيږي وَمَنْ أَسْلَمَ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَلَمْ يُهَاجِرْ إِلَيْنَا او کوم کس چې په دارُ الحرب کي اسلام راوړي او زموږ وطرف ته هجرت نه وکړي لَا يَصِحُّ أَمَانُهُ نو د هغه أمان به صحيح کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿أسير﴾ قيدي، بندي، ﴿مقهور﴾ مغلوب، مجبور، ﴿يتخلّصون﴾ د تفعّل مضارع ده: خلاصون ترلاسه کول (نجات موندل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري ذمي يو کافر ته أمان ورکړي نو د هغه أمان صحيح او معتبر نه دی؛ ځکه چي ذمي د کفارو سره په طرفداري او غمخواري کولو کي متهم دی او هغه ته پر مسلمانانو ولايت هم حاصل نه دی، نو په دې وجه د هغه ورکول سوی أمان صحيح او معتبر نه دی.

همدارنګه که يو مسلمان قيدي د کفارو په قبضه کي وي يا يو مسلمان تاجر د کفارو علاقې ته ځي راځي، نو د دوی ورکول سوی أمان هم معتبر نه دی؛ ځکه چي دا دواړه د کافرانو په لاس او قبضه کي دي، لهذا کفار به له دوی څخه رعب او ويره نه محسوسوي، حال دا چي أمان د خوف او بيري د محل سره خاص دی، لهذا کله چي خوف معدوم دی نو أمان به هم نه صحيح کيږي.

دويمه خبره دا ده چي کېدای سي دغه قيدي او تاجر به کفارو جبراً پر أمان مجبوره کړی وي نو د جبر په وجه به أمان له مصلحت څخه خالي وګرځي، او بل دا چي هر کله هم پر کفارو څه سختي راسي نو هغوی به پر قيديانو او تاجرانو فشار او دباؤ اچوي او مسلمانانو ته به د کفارو په خلاف د فتح او بري حاصلولو هيڅ موقع نه ترلاسه کيږي او په دې توګه به د جهاد سلسله ودريږي.

ومن أسلم إلخ: مسئله دا ده که يو کافر په دارُ الحرب کي اسلام راوړي . ليکن دارُ الاسلام ته هجرت نه وکړي، نو د هغه له طرفه ورکول سوی أمان هم صحيح نه دی. ځکه چي د کفارو په زړه کي له هغه څخه ويره نسته. حالانکي أمان د خوف او بيري د محل سره خاص دی.

د غلام له طرفه د ورکول سوی أمان حکم

وَلَا يَجُوزُ أَمَانُ الْعَبْدِ الْمَحْجُورِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د محجور غلام أمان جائز نه دی إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ مَوْلَاهُ فِي الْقِتَالِ مګر دا چي مالک هغه ته د قتال (جهاد کولو) اجازه ورکړې وي وَقَالَ [*] مُحَمَّدٌ: يَصِحُّ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي صحيح دی وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی وَأَبُو يُوسُفَ مَعَهُ فِي رِوَايَةٍ وَمَعَ أَبِي حَنِيفَةَ فِي رِوَايَةٍ او امام ابو يوسف په يوه روايت کي د امام محمد سره دی او په بل روايت کي د امام صاحب سره دی لِمُحَمَّدٍ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: أَمَانُ [1] الْعَبْدِ أَمَانٌ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل د نبي کريم ﷺ دا إرشاد دی: چي د غلام أمان هم أمان

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۵۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۸۰]

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ (ج:۹ ص:۱۶۰).

دی رَوَاهُ أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ دا [حديث] ابو موسی أشعري رضي الله عنه روايت کړی دی وَلِأَنَّهُ مُؤْمِنٌ مُمْتَنِعٌ او ځکه چي غلام مؤمن دی او د قوت خاوند دی فَيَصِحُّ أَمَانُهُ لهذا د هغه أمان به صحيح وي اعْتِبَارًا بِالْمَأْذُونِ لَهُ فِي الْقِتَالِ پر هغه غلام باندي په قياس کولو سره چي هغه ته د جنګ [جهاد] کولو اجازه ورکول سوې وي وَبِالْمُؤَبَّدِ مِنَ الْأَمَانِ او پر همېشني أمان باندي په قياس کولو سره فَالْإِيمَانُ لِكَوْنِهِ شَرْطًا لِلْعِبَادَةِ نو ايمان [په دې وجه شرط دی] ځکه چي ايمان د عبادت لپاره شرط دی وَالْجِهَادُ عِبَادَةٌ او جهاد هم يو عبادت دی وَالِامْتِنَاعُ لِتَحَقُّقِ إِزَالَةِ الْخَوْفِ بِهِ او امتناع ايعني د قوت خاوند کېدل په دې وجه شرط دی] ځکه چي د هغه په ذريعه د بيري ختمېدل ثابتېږي وَالتَّأْثِيرُ إِعْزَازُ الدِّينِ وَإِقَامَةُ الْمَصْلَحَةِ فِي حَقِّ جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ او د قياس علت جامعه د دين إعزاز او د مسلمانانو د جماعت په حق کي د مصلحت قائمول دي إِذِ الْكَلَامُ فِي مِثْلِ هَذِهِ الْحَالَةِ ځکه چي دا کلام د همداسي حالت سره متعلق دی وَإِنَّمَا لَا يَمْلِكُ الْمُسَايَفَةَ لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْطِيلِ مَنَافِعِ الْمَوْلَى او محجور غلام [په دې وجه] د جنګ کولو اختيار نه لري [او جهاد ته نه سي تللای] ځکه چي په دې کي د مالک منافع معطله کول [ضايع کول] دي وَلَا تَعْطِيلَ فِي مُجَرَّدِ الْقَوْلِ او فقط په خبره کولو [زباني وينا] سره منافع نه معطله کېږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ مَحْجُورٌ عَنِ الْقِتَالِ د امام صاحب دليل دا دی: چي غلام له قتال څخه منع سوی دی فَلَا يَصِحُّ أَمَانُهُ نو ځکه به د هغه أمان نه صحيح کېږي لِأَنَّهُمْ لَا يَخَافُونَهُ ځکه چي کفار له هغه څخه نه بېرېږي فَلَمْ يُلَاقِ الْأَمَانُ مَحَلَّهُ لهذا أمان د خپل محل سره متصل نه سو بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ لَهُ فِي الْقِتَالِ په خلاف د هغه غلام چي د قتل اجازه ورکول سوې دي لِأَنَّ الْخَوْفَ مِنْهُ مُتَحَقِّقٌ ځکه چي له هغه څخه [د کفارو] بېره ثابته ده وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا لَا يَمْلِكُ الْمُسَايَفَةَ لِمَا أَنَّهُ تَصَرُّفٌ فِي حَقِّ الْمَوْلَى عَلَى وَجْهٍ لَا يَعْرَى عَنِ احْتِمَالِ الضَّرَرِ فِي حَقِّهِ او ځکه چي هغه په دې وجه د جنګ کولو اختيار نه لري چي دا د مالک په حق کي تصرف کول دي په دې توګه چي دا تصرف د مالک په حق کي د ضرر له احتمال څخه خالي نه دی وَالْأَمَانُ نَوْعُ قِتَالٍ او [د هغه] أمان ورکول [هم] يو ډول جنګ کول دي وَفِيهِ مَا ذَكَرْنَاهُ او په دې کي هغه خرابي ده کوم چي موږ ذکر کړه لِأَنَّهُ قَدْ يُخْطِئُ

ځکه چي هغه امحجور غلام ا کله غلطي کوي بَلْ هُوَ الظَّاهِرُ بلکي د هغه غلطي کول واضح دي وَفِيهِ سَدُّ بَابِ الِاسْتِغْنَامِ او په دې کي د غنيمت حاصلولو دروازه بندول دي بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ په خلاف د هغه غلام چي د قتال اجازه ورکول سوې وي لِأَنَّهُ رَضِيَ بِهِ ځکه چي مالک د هغه په أمان سره راضي سوی دی وَالْخَطَأُ نَادِرٌ او له هغه شخه غلطي صادرېدل نادر دي لِمُبَاشَرَتِهِ الْقِتَالَ د قتال کولو په وجه ايعني ځکه چي هغه جنګ او جهاد کونکی دی او د جنګ سره مخامخ سوی دی ا وَبِخِلَافِ الْمُؤَبَّدِ او په خلاف د همېشني أمان ورکولو ايعني په خلاف د ذمي جوړولو ا لِأَنَّهُ خَلَفٌ عَنِ الْإِسْلَامِ ځکه چي هغه د اسلام قائم مقام دي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الدَّعْوَةِ إِلَيْهِ لهذا هغه به اسلام ته د دعوت ورکولو په درجه کي وي وَلِأَنَّهُ مُقَابَلٌ بِالْجِزْيَةِ او ځکه چي هغه اذمي جوړول ا د جزيې په مقابل کي دي وَلِأَنَّهُ مَفْرُوضٌ عِنْدَ مَسْأَلَتِهِمْ ذٰلِكَ او ځکه چي هغه د کفارو د غوښتني په وخت کي فرض دي وَإِسْقَاطُ الْفَرْضِ نَفْعٌ او اله خپلي غاړي شخه ا فرض ساقطول د نفع خبره ده فَافْتَرَقَا نو په دې دواړو کي فرق راغلی ايعني د محجور غلام په أمان وزکولو او د هغه په ذمي جوړولو کي فرق راغلی ا وَلَوْ أَمَّنَ الصَّبِيُّ وَهُوَ لَا يَعْقِلُ او که بچی أمان ورکړي حال دا چي هغه نه پوهيږي ايعني غيرِ عاقل وي ا لَا يَصِحُّ نو هغه صحيح نه دی كَالْمَجْنُونِ لکه د لېوني أمان چي صحيح نه دی وَإِنْ كَانَ يَعْقِلُ وَهُوَ مَحْجُورٌ عَنِ الْقِتَالِ او که چيري هغه پوهيږي خو له قتال شخه منع کړی سوي وي فَعَلَى الْخِلَافِ نو د هغه أمان پر اختلاف دی ايعني په دې صورت کي د هغه د أمان په صحيح کېدلو کي د امام صاحب او امام محمد اختلاف دی ا وَإِنْ كَانَ مَأْذُونًا لَهُ فِي الْقِتَالِ او که هغه ته د قتال اجازه ورکول سوې وي فَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَصِحُّ بِالِاتِّفَاقِ نو صحيح روايت دا دی چي بالاتفاق د هغه أمان صحيح دی.

اللغات: ﴿محجور﴾ د نصر اسمِ مفعول دی: هغه کس چي له يو شي شخه منع کړی سوی (هغه کس چي پابندي پر لګېدلې وي). ﴿ممتنع﴾ د افتعال اسمِ فاعل دی: منع کونکی، هغه کس چي د مدافعت او دفاع کولو قوت لري. ﴿إعزاز﴾ د افعال مصدر دی: عزيز ګرځول، غالب ګرځول، مراد ځني د دين لوړول او سرفرازه کول دي. ﴿تعطيل﴾ د تفعيل مصدر دی: بېکاره کول (ناکاره کول)، ضايع کول (بربادول). ﴿مُسايفة﴾ د مفاعلې مصدر دی: يو د بل سره په توره جنګ کول، مراد ځني جنګ او قتال کول دي. ﴿استغنام﴾ د استفعال مصدر- دی: غنيمت حاصلول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د محجور غلام أمان صحيح نه دی. هـا! که چيري مالک (مولیٰ) هغه ته د جنګ او جهاد کولو اجاز ورکړې وي (يعني مأذون فی القتال وي). نو بيا د هغه أمان صحيح کيږي. امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي د غلام أمان مطلقا صحيح دی هغه که مأذون وي يا محجور وي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی. د امام کرخي د روايت مطابق امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی. او د امام طحاوي د روايت مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی.

د امام محمد دليل: دا حديث دی "أمانُ العبدِ أمانٌ" يعني د غلام أمان هم معتبر او صحيح دي. عقلي دليل دا دی چي غلام هم مؤمن او د قوت خاوند دی لهذا د مأذون فی القتال غلام په شير به د ده أمان هم صحيح وي. او لکه څرنګه چي غلام يو کافر ته د ذمي جوړېدلو يعني د همېشه لپاره په دارُ الاسلام کي د پاتېدلو عهدنامه (تړون ليک) او أمان ورکړي نو د هغه أمان صحيح دی. همدغسي به د محجور غلام هم صحيح وي.

فالإيمان إلخ: فرمايي مونږ چي په عقلي دليل کي د غلام د مؤمن والي کوم شرط لګولی دی. د هغه وجه دا ده چي جهاد يو عبادت دی او د عبادت لپاره ايمان شرط دی. او دا شرط مو ځکه لګولی دی چي هغه به د قوت خاوند وي ځکه چي په دې (قوت) سره د خوف إزاله ثابتيږي يعني که أمان ورکونکی د قوت خاوند وي نو د هغه په أمان ورکولو سره به خوف او بېره ختمه سي. او پر مأذون غلام باندي د محجور غلام د قياسولو علت دا دی چي د دواړو په أمان کي د دين إعزاز او استحکام سته او د دواړو په فعل سره د مسلمانانو په حق کي مصلحت ثابتېدا سي. نو ځکه به د دواړو أمان صحيح وي.

وإنما لايملك إلخ: د دې حاصل دا دی چي د غلام أمان خو صحيح دی. لېکن غلام په خپله په جهاد کي پيش قدمي نه سي کولای. ځکه چي په جهاد کي د هغه په مشغولېدلو سره به د مالک منافع معطله وګرځي. حالانکي غلام فقط د مالک د خدمت لپاره وقف وي. او پاته سوه د أمان ورکولو مسئله نو أمان خو محض په ژبه او زبان سره ورکول کيږي. او په زباني وينا سره د مالک منافع نه معطله کيږي. لهذا په دې هکله اعتراض کول صحيح نه دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د أمان محل خوف دی او له محجور غلام څخه خوف او بېره ثابتېدای نه سي. يعني کفار له هغه څخه نه بيريږي. لهذا د هغه أمان به بې فايدې او غير معتبر وي. د دې په خلاف له مأذون غلام څخه خوف ثابتېدای سي. نو ځکه به د هغه أمان معتبر وي. د محجور غلام د

أمان نه صحيح کېدلو يو دليل دا هم دی چي دا غلام د مالک د حق په وجه د جهاد ميدان تللای نه سي. ځکه چي هغه ټوله وخت د مالک په خدمت کي مشغول اووسي. او په جهاد کي د هغه په مشغولېدلو سره به سراسر د مالک نقصان وي يا به د نقصان احتمال وي. ځکه چي هغه به يو غلطي وکړي او د محجور کېدلو په وجه د هغه په حق کي د غلطی کولو إمکان زيات دی ځکه چي ټوله عمر په خدمت کي د مشغولتيا په وجه به هغه ته هيڅ د تعليم او تربيې موقع پيدا سوې نه وي. او که چيري د هغه أمان صحيح سي نو بيا به قتال ممنوع وي او د مالک لپاره به په خپل غلام سره د جهاد کولو او د مال غنيمت حاصلولو لاره بنده وګرځي، او ښکاره خبره ده چي په دې کي هم د مالک سراسر نقصان دی. نو په دې وجه هم د هغه أمان ورکول صحيح نه دي. لهذا کله چي د مالک د ذاتي نقصان په وجه د محجور غلام أمان صحيح نه دی نو بيا به د مسلمانانو د جماعتي نقصان په وجه په درجه اولیٰ د هغه أمان صحيح نه وي.

د دې په خلاف د مأذون غلام مسئله ده. نو د هغه أمان ځکه صحيح دی چي مالک هغه ته د قتال په اجازه ورکولو سره د هغه په أمان ورکولو هم راضي سوی دی. او ځرنګه چي دغه غلام قتال کړی دی (او په دې هکله تربيه سوی دی) او د مأذون کېدلو په وجه د أمان ورکولو په راز او طرز واقف سوی دی. نو په دې وجه له هغه څخه خطاء او غلطي صادرېدل هم شاذ و نادر دي. لهذا د مأذون غلام د أمان پر صحت (صحيح کېدلو) باندي د محجور غلام أمان قياسول او هغه هم جائز ګرځول صحيح نه دي.

همدارنګه که محجور غلام يو کافر ته د ذمي جوړېدلو او په دارُ الاسلام کي د پاتېدلو اجازه او عهدنامه ورکړي نو دا صحيح دي. لېکن د دې پر صحت باندي د هغه د أمان صحت قياسول صحيح نه دي. ځکه چي دا عهد نامه د اسلام قائم مقام ده او دا اجازه په حقيقت کي د اسلام د دعوت ورکولو په څېر ده. او ځرنګه چي له دې ذمي څخه جزيه هم اخيستل کيږي نو ځکه په دې کي سراسر نفع سته. نقصان نسته. او بل دا چي کله يو کافر د ذمي جوړېدلو خواست او غوښتنه وکړي نو د هغه غوښتنه قبلول فرض او ضروري دي. او ضروري کار اداء کول او خپله غاړه خلاصول هم د نفع کار دی. نو په دې وجه د محجور غلام د أمان ورکولو او د محجور غلام له طرفه ذمي ته د عهدنامې ورکولو په مينځ کي فرق راغلی يعني د هغه أمان ورکول صحيح نه دي او د هغه لپاره ذمي ته عهدنامه ورکول صحيح دي. لهذا دا يو پر بل قياسول پکار نه دي.

ولوأمن الصبى إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو غلام بې شعوره بچی وي او هغه يو کافر ته أمان ورکړي. نو د مجنون په څېر د هغه أمان هم صحيح نه دی. او که هغه باشعوره وي لېکن محجور عن القتال وي. نو د هغه أمان مختلف فيه دی. يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز صحيح دی او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز صحيح نه دی. لېکن که هغه بچی مأذون فی القتال وي، نو صحيح روايت دا دی چي د ټولو په نېز د هغه أمان صحيح او جائز دی. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْغَنَائِمِ وَقِسْمَتِهَا

(دا) باب د غنیمتونو او دهغوی د تقسیمولو (په بیان کې) دی

تشریح: غنائم جمع د غنیمةٌ ده، او د دې معنیٰ ده: هغه مال کوم چې له کفارو څخه د جنګ کولو په ذریعه قهراً او غلبةً واخیستل سي. او "فئ" هغه مال ته وایې کوم چې له جنګ څخه بغیر څنې واخیستل سي. په غنیمت او فئ کې بل فرق دا هم دی چې د غنیمت یوه حصه د الله او د رسول لپاره وي لېکن فئ ټوله د مسلمانانو لپاره وي.

د فتح کړل سوو (مفتوحه) ځمکو احکام

وَإِذَا فَتَحَ الْإِمَامُ بَلْدَةً عَنْوَةً أَيْ قَهْرًا او کله چې امام یو ښار په غلبه یعني په زوره فتح کړي فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَسَمَهُ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ نو هغه ته اختیار دی که وغواړي نو هغه ښار دې د مسلمانانو په مینځ کې تقسیم کړي كَمَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ لکه څرنګه چې نبي کریم ﷺ په خیبر کې همداسې وکړه (او خیبر یې د صحابه وو په مینځ کې تقسیم کړی) وَإِنْ شَاءَ أَقَرَّ أَهْلَهُ عَلَيْهِ وَوَضَعَ عَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ وَعَلَى أَرَاضِيهِمُ الْخَرَاجَ او که امام وغواړي نو د ښار خلک دې پر خپل ځای پرېږدي او پر هغو دې جزیه او د هغو پر ځمکو دې خراج مقرر کړي كَذٰلِكَ فَعَلَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِسَوَادِ الْعِرَاقِ بِمُوَافَقَةِ مِنَ الصَّحَابَةِ الکه څرنګه چې) حضرت عمر رضي الله عنه د صحابه وو په موافقه د عراق د خلکو سره همداسې وکړه وَلَمْ يُحْمَدْ مَنْ خَالَفَهُ او چا چې د هغه مخالفت وکړی هغه ښه نه وګڼل سو (یعني هغه ته اعتبار نه ورکړی سو) وَفِي كُلٍّ مِنْ ذٰلِكَ قُدْوَةٌ او په دغه هر یوه کې اقتداء کېدای سي فَيَتَخَيَّرُ نو ځکه به امام ته اختیار وي وَقِيلَ: الْأَوْلَى هُوَ الْأَوَّلُ عِنْدَ حَاجَةِ الْغَانِمِينَ او ویل سوي دي: چې د غنیمت حاصلونکو (مجاهدینو) د ضرورت په وخت کې اول صورت غوره دی وَالثَّانِي عِنْدَ عَدَمِ الْحَاجَةِ او د ضرورت د نشتوالي په صورت کې دویم صورت غوره دی لِيَكُونَ عِدَّةً فِي الزَّمَانِ الثَّانِي د دې لپاره چې په بله زمانه کې په کار راسي وَهٰذَا فِي الْعَقَارِ او دا حکم په جایداد کې دی ایعني دا حکم د غیر منقوله شیانو سره

متعلق دی ا أَمَّا فِي الْمَنْقُولِ الْمُجَرَّدِ لَا يَجُوزُ الْمَنُّ بِالرَّدِّ عَلَيْهِمْ کوم چي د منقوله سامان حکم دی نو پر کفارو باندي د هغه په واپس کولو سره احسان کول جائز نه دي لِأَنَّهُ لَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ فِيهِ ځکه چي په دې هکله شريعت وارد سوی نه دی ايعني په شريعت کي په دې هکله هيڅ حکم بيان سوی نه دی ا وَفِي الْعَقَارِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په جايداد کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ فِي الْمَنِّ إِبْطَالَ حَقِّ الْغَانِمِينَ أَوْ مِلْكِهِمْ ځکه چي په احسان کولو کي د غانمينو امجاهدينو ا د حق يا د هغوی د ملکيت باطلول سته فَلَا يَجُوزُ مِنْ غَيْرِ بَدَلٍ يُعَادِلُهُ لهذا د يو مساوي او مقابل ا عوض څخه بغير دا احسان جائز نه دی وَالْخَرَاجُ غَيْرُ مُعَادِلٍ لِقِتْلِهِ او خراج د هغه د قتل سره مساوي نه دی بِخِلَافِ الرِّقَابِ په خلاف د کفارو د غاړو لِأَنَّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُبْطِلَ حَقَّهُمْ رَأْسًا بِالْقَتْلِ ځکه چي امام لره دا حق سته چي د هغوی په قتل کولو سره د غانمينو حق باطل کړي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف د حضرت عمر رضي الله عنه هغه عمل حجت دی کوم چي موږ بيان کړی وَلِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا او ځکه چي په داسي کولو کي مصلحت [او فايده] سته لِأَنَّهُمْ كَالْأَكَرَةِ الْعَامِلَةِ لِلْمُسْلِمِينَ الْعَالِمَةِ بِوُجُوهِ الزِّرَاعَةِ ځکه چي دغه کفار اکوم چي د ځمکو مالکان دي ا د مسلمانانو لپاره د کار کونکو بزګرانو [کښتګرانو] په څير دي [او] د کښتګرۍ په طريقو سره واقف ودي امطلب دا چي په دې کي د مسلمانانو مصلحت او فايده سته، ځکه چي دغه کفار د بزګرۍ په کار ښه پوهيږي نو دوی به زموږ لپاره بزګري او کښتګري کوي ا وَالْمُؤَنُ مُرْتَفِعَةٌ او له مسلمانانو څخه به [د کښتګرۍ] خرچې [هم] پورته سي مَعَ مَا أَنَّهُ يَحْظَى بِهِ الَّذِينَ يَأْتُونَ مِنْ بَعْدُ سره د دې چي له دې څخه به وروسته راتلونکو مسلمانانو [نسلونو] ته برخه [او حصه] هم حاصله سي وَالْخَرَاجُ وَإِنْ قَلَّ حَالًا او اله کفارو څخه اخيستل سوی ا خراج که څه هم فی الحاله کم دی فَقَدْ جَلَّ مَآلًا لِدَوَامِهِ ليکن د مستقبل په اعتبار سره د همېشه حاصلېدلو په وجه ډېر زيات دی وَإِنْ مَنَّ عَلَيْهِمْ بِالرِّقَابِ وَالْأَرَاضِي او که امام پر غاړو او ځمکو احسان وکړي ايعني کفار هم پرېږدي او ځمکي هم هغوی ته حواله کړي ا يَدْفَعُ إِلَيْهِمْ مِنَ الْمَنْقُولَاتِ بِقَدْرِ مَا يَتَهَيَّأُ لَهُمُ الْعَمَلُ نو له منقوله سامان څخه دي کفارو ته دومره حصه ورکړې چي په هغه سره د دوی لپاره کښتګري کول آسانه سي لِيَخْرُجَ عَنْ حَدِّ الْكَرَاهَةِ د دې لپاره چي دا فعل د کراهت له حدّ څخه ووځي.

اللغات: ﴿عنوة﴾ په زور او غلبه سره، دمټ په زور. ﴿قُدْوَة﴾ د دې لفظ دوې معناوې دي: ① اقتداء، لاربنوونه (رهنمايي)، ② مقتدا، لاروبنوونکی (رهنما)، پېشوا. دلته يې اوله معنیٰ مراد ده. ﴿غَانِم﴾ غنيمت حاصلونکی، مراد ځني مجاهد او غازي دی. ﴿عَقَار﴾ جايداد. هغه شيان چي له يوه ځای څخه بل ځای ته نقل کېدای نه سي، لکه ځمکه او داسي نور. ﴿يعادله﴾ د مفاعلې مضارع ده: برابرېدل، مساوي کېدل. ﴿أكَرَة﴾ جمع د آکِرٌ ده لکه طَلَبَه چي جمع د طَالِبٌ ده: کښتګر، بزګر.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که امامُ المسلمين په خپل لښکر سره قهراً او غلبةً د کافرانو يو ښار فتح کړي نو اوس هغه ته دوه اختياره دي: ① که وغواړي نو هغه ښار دي د غازيانو او مسلمانانو په مينځ کي تقسيم کړي ② او که وغواړي نو د هغه ښار استوګن (اوسېدونکي) دي پر خپل ځای پرېږدي او د هغو د ځانو په عوض کي دي پر هغو جزيه واجب کړي او د هغو په کښتونو کي دي خراج او ټکس متعين کړي: د اول اختيار دليل دا دی چي نبي کريم ﷺ د خيبر تر فتح کولو وروسته هغه په مسلمانانو کي تقسيم کړی. او د دويم اختيار دليل دا دی چي حضرت عمر ﷛ د عراق تر فتح کولو وروسته د هغه ځای اوسېدونکي پر خپلو ځمکو پرېښوول. او پر هغو يې جزيه او خراج متعين کړی، او له يو څو صحابه وو څخه بغير ټولو صحابه وو د حضرت عمر ﷛ دا عمل تسليم کړی او کومو خلکو چي دا تسليم نه کړی نو د هغوی نه تسليمول معتبر نه وګڼل سوه. لنډه دا چي دلته د امام لپاره دا دوه اختياره سته. او هر اختيار په دليل سره ثابت دی. لهذا امام چي کوم اختيار هم خپل کړي، هغه به صحيح وي.

وقيل: الأولىٰ إلخ: فرمايي چي ځيني حضراتو په دواړو اختيارونو کي د موافقت پيدا کولو په توګه ويلي دي چي که غازيانو ته د مال ضرورت وي نو اول صورت يعني په مجاهدينو کي د غنائمو تقسيمول غوره دي ځکه چي ضرورت خو په ممنوعاتو کي هم إباحت ثابتوي. او که غازيانو ته د مال ضرورت نه وي نو بيا دويم صورت يعني د مفتوحه علاقې خلک پر خپل ځای پرېښوول او له هغوی څخه خراج او جزيه اخيستل غوره دي. د دې لپاره چي د مسلمانانو د آبادۍ زياتېدلو په صورت کي دا علاقه دوی ته په کار راسي، لېکن دا دويم اختيار به فقط په غير منقوله جايدا مثلاً په ځمکه او مکان کي جاري کيږي او د منقوله جايداد مثلاً د سامان، آسونو او داسي نورو حکم دا دی چي هغوی به په مجاهدينو کي تقسيمول کيږي او دا شيان به د مفتوحه علاقې خلکو ته نه ورکول کيږي. ځکه چي د دوی په هکله د شريعت هيڅ حکم نه دي وارد سوی، نو ځکه به دا شيان فقط د محنت او جهاد کونکو لپاره وي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا صحيح نه دی چې د مفتوحه علاقې ځمکې يعنې غير منقوله جايداد د کفارو په قبضه کې پرېښوول سي؛ ځکه کله هغه علاقه فتح کړل سوه نو د هغې هر. هر شی د غانمينو حق جوړ سو. لهذا اوس د غانمينو په مېنځ کې د هغه تقسيمول ضروري دي. او هغه نه تقسيمول او کافرانو ته پرېښوول د غانمينو د حق او ملکيت باطلول (إبطال) دي. او ځرنګه دا إبطال له څه بدل او عوض څخه بغير دی نو ځکه صحيح نه دي. پاته سو دا اعتراض چې له دغه کفارو څخه چې کوم خراج اخيستل کېږي نو هغه د غانمينو د حق بدل جوړېدای سي. نو دا إبطال بالبدل دی. لهذا دا جائز کېدل پکار دي؟ لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه د دې جواب دا دی چې خراج د غانمينو د پوره حق او پوره محنت بدل نه دی او دلته خو د دوی ټوله محنت برباد ول کېږي لهذا د غه منّ او احسان جائز نه دی.

او که څوک دا اعتراض وکړي چې د مجاهدينو حق خو د کفارو د ذات سره هم متعلق دی حالانکې کفار په مجاهدينو کې نه تقسيمول کېږي او غلامان نه ګرځول کېږي. لهذا دا خبره کول چې "د مجاهدينو حق باطلېږي" صحيح نه ده؟ لېکن د امام شافعي له طرفه د دې جواب دا دی چې د مجاهدينو حق فقط د أموالو سره متعلق دی او د کفارو د ذات او رقاب (غاړو) سره متعلق نه دی. همدا وجه ده چې امام ته دا حق او اختيار سته چې هغه دغه کفار قتل کړي. لهذ کله چې امام ته د دوی د قتل حق سته نو هغه ته به د نه قتل کولو پر ځای د جزيې اخيستلو حق هم وي. لهذا په دې سره دليل نيول او پر موږ (شوافعو) اعتراض کول صحيح نه دي.

صاحب د هدايې فرمايي چې اورېدي او لنډې خبري به نه کوو. صفا خبره دا ده چې حضرت عمر رضي الله عنه داسې إحسان کړی دی نو ځکه به زموږ لپاره هم د دې إحسان او عمل اختيارول صحيح وي. او په دې سلسله کې له قياس څخه کار نه اخلو. او همدا د حضرت عمر رضي الله عنه عمل او إحسان د شوافعو په خلاف حجت او زموږ لپاره مضبوط طاقت دی.

او د دې إحسان (يعني کفارو ته د ځمکو پرېښوولو) عقلي دليل دا دی چې په دې کې د مسلمانانو لپاره مصلحت او فايده ده. ځکه چې د ځمکې مالکان (کفار) د کښت او کرنې په کار ښه پوهېږي. او موږ ته به د کښت خراج هم راکوي او غله به هم راته حاصلېږي او زموږ له طرفه به څه مصرف نه کېږي. او بل دا چې دا ځمکې به وروسته راتلونکو نسلونو ته پکار راسي. دا غټه فايده ده. او کوم خراج چې له دغه کفارو څخه اخيستل هغه که څه هم اوس کم دی. لېکن ځرنګه چې هغه همېشه ځنې اخيستل کېږي نو د همېشه په اعتبار سره هغه ډېر دی. نو دا هم يوه فايده ده.

وإنْ مَنّ عليهم: د دې حاصل دا دی چې که امامُ المسلمین د ځمکو او نفوسو دواړو په اعتبار سره پر کفارو احسان وکړي يعني هغوی قيد نه کړي او په مسلمانانو کي يې تقسيم نه کړي او ځمکي هم هغو ته د کښت او کرني په غرض حواله کړي. نو امام ته پکار دي چې په منقوله أموالو او سامانو کي د ضرورت مطابق هغو ته د زراعت او کښتګرۍ آلات او داسي نور ضروري شيان پرېږدي چې د کښت او کرني کار د هغو لپاره آسانه سي او په دې هکله هغوی د يو ستونزي سره مخامخ نه سي.

د دښمن د نارينه قيديانو أحكام

قال: وَهُوَفِي الْأُسَارٰى بِالْخِيَارِ فرمايي: چي په [كافرو] قيديانو كي امام ته اختيار دی إِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ كه وغواړي نو هغوی دي قتل كړي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَدْ قَتَلَ ځكه چي نبي كريم ﷺ [د مكې دفتح په ورځ] قتل كړي وو وَلِأَنَّ فِيهِ حَسْمَ مَادَّةِ الْفَسَادِ او ځكه چي په قتل كولو كي د فساد ماده [او جرړه] ختمول دي وَإِنْ شَاءَ اِسْتَرَقَّهُمْ او كه امام وغواړي نو هغوی دي غلامان جوړ كړي لِأَنَّ فِيهَا دَفْعَ شَرِّهِمْ ځكه چي په دې كي د دوی د شرّ دفع كول [هم] دي مَعَ وُفُورِ الْمَنْفَعَةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ او [په دې كي] د مسلمانانو لپاره زياته نفع [هم] ده وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ او كه وغواړي نو هغوی دي آزادي پرېږدي. د مسلمانانو لپاره د ذمي جوړولو په توګه [يعني هغوی دي آزاد پرېږدي او د مسلمانان ذميان دي يې وګرځوي، يعني جزيه دي پر مقرره كړي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړی إِلَّا فِي مُشْرِكِي الْعَرَبِ وَالْمُرْتَدِّينَ ليكن د عربو مشركينو كي او په مرتدينو كي [امام لره دغه دري اختياره نسته] عَلٰى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى لكه څرنګه چي [وروسته] به موږ د هغه بيان وكړو وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَرُدَّهُمْ إِلٰى دَارِ الْحَرْبِ او دا قيديان دارُ الحرب ته واپس استول جائز نه دي لِأَنَّ فِيهِ تَقْوِيَتَهُمْ عَلَى الْمُسْلِمِينَ ځكه چي په دې كي د مسلمانانو په خلاف كفارو ته قوت وركول دي فَإِنْ أَسْلَمُوا لَا يَقْتُلُهُمْ او كه هغوی اسلام راوړي نو امام به هغوی نه قتل كوي لِانْدِفَاعِ الشَّرِّ بِدُونِهِ ځكه چي له قتل څخه بغير [د هغوی] شرّ دفع سو وَلَهُ أَنْ يَسْتَرِقَّهُمْ او امام ته دا اختيار سته چي دغه مسلمان قيديان غلامان جوړ كړي تَوْفِيرًا لِلْمَنْفَعَةِ بَعْدَ انْعِقَادِ سَبَبِ الْمِلْكِ د دې لپاره چي د ملكيت د سبب تر منعقد كېدلو وروسته پوره فايده حاصله كړی سي بِخِلَافِ إِسْلَامِهِمْ قَبْلَ الْأَخْذِ په خلاف

تر نیول کېدلو او قیدي کېدلو ا مخکي د هغو د اسلام راوړلو لِأَنَّهٗ لَمْ يَنْعَقِدِ السَّبَبُ بَعْدُ ځکه چي ا په دې صورت کي ا تر اوسه د ملکیت سبب منعقد سوی نه دی وَلَا يُفَادٰى بِالْأُسَارٰى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د فدیې په عوض کي قیدیان نه پرېښوول کېږي وَقَالَا: يُفَادٰى بِهِمْ أُسَارَى الْمُسْلِمِينَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د مسلمانانو قیدیانو په عوض کي هغوی پرېښوول کېدای سي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ فِيهِ تَخْلِيصَ الْمُسْلِمِ ځکه چي په دې [صورت] کي د مسلمان خلاصول او د قيد څخه آزادول ا دي وَهُوَ أَوْلٰى مِنْ قَتْلِ الْكَافِرِ وَالِانْتِفَاعِ بِهِ او دا د کافر تر قتل کولو او له هغه څخه تر نفع اخيستلو زيات غوره دي وَلَهُ: أَنَّ فِيهِ مَعُونَةً لِلْكَفَرَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په دې کي د کفارو سره امداد او مرسته ا کول دي لِأَنَّهٗ يَعُودُ حَرْبًا عَلَيْنَا ځکه چي دغه قيدي به دوباره زموږ سره جنګ کونکی وګرځي [يعني هغه به له قيد څخه تر آزادېدلو وروسته بيا (دويم ځل) زموږ سره جنګ کولو ته تيار سي] وَدَفْعُ شَرِّ حَرْبِهِ خَيْرٌ مِنِ اسْتِنْقَاذِ الْأَسِيرِ الْمُسْلِمِ او د هغه د جنګ شر ليري کول د مسلمان قيدي له خلاصولو څخه غوره دي لِأَنَّهٗ إِذَا بَقِيَ فِي أَيْدِيهِمْ كَانَ ابْتِلَاءً فِي حَقِّهٖ غَيْرَ مُضَافٍ إِلَيْنَا ځکه کله چي مسلمان قيدي د کفارو په لاس کي پاته سي نو دا به [فقط] د هغه په حق کي نقصان وي او زموږ [د مسلمانانو] وطرف ته به هغه نقصان منسوب نه وي وَالْإِعَانَةُ بِدَفْعِ أَسِيرِهِمْ إِلَيْهِمْ مُضَافٌ إِلَيْنَا البکن [د قيدي په ورکولو سره د کفارو د مرسته کولو [نقصان] به زموږ وطرف ته منسوب وي ايعني په دې صورت کي به د ټولو مسلمانانو نقصان وي] أَمَّا الْمُفَادَاةُ بِمَالٍ يَأْخُذُهٗ مِنْهُمْ لَا يَجُوزُ فِي الْمَشْهُورِ مِنَ الْمَذْهَبِ کوم چي له کفارو څخه د مال اخيستلو په عوض کي [د قيديانو] پرېښوول دي نو د مشهور مطابق هغه جائز نه دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَفِي السِّيَرِ الْكَبِيرِ: أَنَّهٗ لَا بَأْسَ بِهٖ إِذَا كَانَ بِالْمُسْلِمِينَ حَاجَةٌ او په سير کبير کي [ذکر سوي] دي: چي که مسلمانانو ته د مال ضرورت وي نو [بيا] په دې کي هيڅ حرج نسته اِسْتِدْلَالًا بِأُسَارٰى بَدْرٍ د بدر پر قيديانو باندي په قياس

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۵۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۸۱]

کولو سره وَلَوْ كَانَ أَسْلَمَ الْأَسِيرُ فِي أَيْدِينَا او که کافر قیدي زموږ په قبضه کې اسلام راوړي لَا يُفَادَى بِمُسْلِمٍ أَسِيرٍ فِي أَيْدِيهِمْ نو دا اسلام راوړونکی قیدي به د هغه مسلمان قیدي په بدله کې نه پرېښوول کیږي کوم چې د کفارو په قبضه کې وي لِأَنَّهُ لَا يُفِيدُ ځکه چې دا فایده نه کوي ایعني په داسې کولو کې هیڅ فایده نشته ا إِلَّا إِذَا طَابَتْ نَفْسُهُ بِهِ وَهُوَ مَأْمُونٌ عَلَى إِسْلَامِهِ مګر دا چې هغه ااسلام راوړونکی قیدي ا په دې سره خوشحاله وي او هغه پر خپل أسلام مطمئن اخاطر جمع ا وي انو بیا په تبادله کولو کې هیڅ حرج نشته ا

اللغات: ﴿أُسارى﴾ جمع د أَسِيرٌ ده: قیدي، بندي. ﴿حسم﴾ غوځول، پرېکول. ﴿استرقهم﴾ د استفعال ماضي ده: غلام جوړول. ﴿وفور﴾ زیاتېدل، بشپړ کېدل (پوره کېدل). ﴿لا يُفادى﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: پرېښوول او فدیه ځنې اخیستل یعني د فدیې په عوض کې پرېښوول او آزادول. مطلق پرېښوولو او آزادولو (خوشي کولو) ته هم وایي (مصباح اللغات). ﴿تخلیص﴾ د تفعیل مصدر دی: خلاصول، خوشي کول (ایله کول)، آزادول. ﴿معونة﴾ امداد، مرسته. ﴿اعانة﴾ مدد کول، کومک او مرسته کول. ﴿طاب نفسه به﴾ په یو شي سره زړه خوشاله کېدل (خوشحاله کېدل).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د کفارو کوم نارینه قیدیان چې د مسلمانانو په قبضه کې راسي، نو د هغو په هکله امام ته درې اختیاره دي: ① یا دي امام هغوی ټوله قتل کړي او له شر او فساد څخه دي یې ځان خلاص کړي. لکه څرنګه چې د مکې د فتح په ورځ نبي کریم ﷺ یو څو مشرکان قتل کړل. او لکه د بدر په قیدیانو کې چې یې یو څو خلک قتل کړل. ② دویم اختیار دا دی چې امام دي دا قیدیان غلامان جوړ کړي. ځکه چې په غلام جوړولو سره به یوه فایده دا چې د دوی له شر څخه به حفاظت حاصل سي او دویمه فایده به دا وي چې هغوی به د اسلام او مسلمانانو په کار راسي. ③ او که امام وغواړي نو هغوی دي آزاد پرېږدي او ذمیان دي یې وګرځوي یعني جزیه دي پر مقرره کړي، لکه څرنګه چې حضرت عمر رضي الله عنه د عراق د خلکو سره دا طریقه او عمل اختیار کړی. په لِمَا بَيَّنَّا سره د حضرت عمر رضي الله عنه دغه عمل ته اشاره سوې ده.

لېکن د عربو مشرکانو او مرتدینو مسئله له دې اختیاراتو څخه مستثنیٰ ده: ځکه چې د هغو په هکله فقط دوې خبرې دي: ① یا به هغوی اسلام راوړي. ② که اسلام نه راوړي، نو هغوی به قتلول کیږي. د دې نور تفصیل به ررووسته راسي.

ولايجوز إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام لپاره کافر قیدیان دارُ الحرب ته واپس استول جائز نه دي: ځکه په داسي کولو سره به د مسلمانانو په مقابله کي کافران مضبوط وګرځي او دا به تعاون علی الإثم والعدوان وي کوم چې روایښت او جواز نه لري. او که تر قیدي کېدلو وروسته دغه کافر قیدیان اسلام راوړي نو اوس "د قتل والا اختیار" ساقطیږي: ځکه چې د قتل اختیار د فساد او شر د بنیاد ختمولو لپاره دی او دلته دا مقصد قبل القتل حاصل سو نو ځکه به اوس قتل کول صحیح نه وي. ها! "د غلام جوړولو اختیار" به باقي پاته وي، ځکه چې دغه کفار مخکي نیول سوي او قید کړل سوي دي او پر دوی د مجاهدینو ملکیت ثابت سوی دی. همدا وجه ده چې که له قیدي کېدلو څخه مخکي دوی اسلام راوړي نو بیا به دوی غلامان جوړول صحیح نه وي: ځکه چې په دوی کي د ملکیت سبب معدوم سو.

ولايفادیٰ إلخ: فرمایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مسلمانانو قیدیانو په تبادله کي کافر قیدیان آزادول (ایله کول) صحیح نه دي، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا صحیح دي. همدا د امام شافعي، امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمُ الله قول دی.

دلیل: د دې حضراتو دلیل دا دی چې د کافر د قتل کولو یا د غلام جوړولو او له هغه څخه د خدمت اخیستلو په مقابله کي یو مسلمان قیدي خلاصول او هغه د آزادۍ په نعمت سره نازول ډېر غوره دي نو ځکه دا تبادله صحیح او جائز ده.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې په دې تبادله سره یا د مال په عوض کي د کافر قیدي په آزادولو سره کفارو ته تقویت رسیږي، ځکه چې دا بدبخته به تر آزادېدلو وروسته بیا شرارت او فساد شروع کړي او زموږ په خلاف به بیا جنګ کولو ته تیار سي، لهذا د هغه د شر او د هغه د جنګ د ضرر لیري کول د مسلمان قیدي له آزادولو څخه غوره دي، او بل دا چې که موږ مسلمان قیدي آزاد نه کړو نو د هغه نقصان به فقط د هغه تر ذات پوري محدود وي لېکن د کافر قیدي په آزادولو سره چې کوم تقویت کفارو ته حاصلیږي هغه به د ټول مسلمان قوم لپاره نقصان وي، او دا خبره تسلیم سوې ده چې د جماعتي نقصان د ختمولو لپاره ذاتي نقصان زغمل کیږي، نو ځکه به دلته هم د مسلمان قیدي ذاتي نقصان ته نه کتل کیږي، بلکي د جماعتي نقصان په خاطر به د هغه په بدله کي هیڅ کافر قیدي نه آزادول کیږي. لکه څرنګه چې د مال په عوض کي د یو کافري قیدي آزادول جائز نه دي. همدا مشهور مذهب دی.

وفي السير الكبير إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله په سير كبير كي ليكلي دي چي كه مسلمانانو ته د مال ضرورت وي نو د مال په عوض كي د كافر قيدي په آزادولو كي هيڅ حرج نسته لكه د بدر ديوشو قيديانو سره چي همدا معامله وسوه. ليكن راجح قول دا دی چي دا صحيح نه دي. ځكه چي د بدر پر معامله الله ناراضه سو او فوراً دا د عذاب او عتاب آيت نازل سو "لَوْ لَا كِتَابٌ مِّنَ اللهِ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ" او نبي كريم ﷺ په هغه وخت كي وفرمايل چي "كه د الله عذاب نازل سوي واى نو له هغه څخه به فقط حضرت عمر ﷺ ژغورل سوي واى" ځكه چي هغه د قيديانو پر وژلو او ختمولو ټينګار كوى (بناية ج:٦، ص:٥٤٠). لهذا په دې واقعه سره دليل نيول صحيح نه دي.

ولو كان إلخ: د دې حاصل دا دی چي كه د مسلمانانو په قبضه كي موجوده كافر قيديان اسلام راوړي نو په دې صورت كي دغه نوي مسلمانان د هغو مسلمانانو قيديانو په عوض كي كفارو ته وركول صحيح نه دي كوم چي د هغو په قبضه كي دي: ځكه چي په دې كي هيڅ فايده نسته چي يو مسلمان د بل مسلمان په بدله كي آزاد كړی سي. ليكن كه نوی مسلمان قيدي په خپله دغه بدلون او تبادلې ته تيار وي او هغه ته دا باور او اطمينان چي دويم ځل به د كفر وطرف ته نه ځي. نو بيا په دې تبادله كي هيڅ حرج او پروا نسته.

كافر قيديان د احسان په توګه آزادول (حكم او اختلاف)

قال: وَلَا يَجُوزُ الْمَنُّ عَلَيْهِمْ أَيْ عَلَى الْأُسَارَى فرمايي: او پر هغوی يعني پر قيديانو احسان كول جائز نه دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله فَإِنَّهُ يَقُولُ[1]: مَنَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَى بَعْضِ الْأُسَارَى يَوْمَ بَدْرٍ هغه فرمايي: چي نبي كريم ﷺ د بدر په ورځ پر يو شو قيديانو احسان وكړی وَلَنَا: قَوْلُهُ تَعَالَى: فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ [التوبة: ٥] او زموږ دليل د الله تعالیٰ دا فرمان: اې مؤمنانو! [مشركان قتل كړئ! چيري چي هم تاسي هغوی پيدا كړئ! وَلِأَنَّهُ بِالْأَسْرِ وَالْقَسْرِ يَثْبُتُ حَقُّ الِاسْتِرْقَاقِ فِيهِ او ځكه چي د قيد او جبر په ذريعه په هغه كي د غلام جوړولو حق ثابتيږي فَلَا يَجُوزُ إِسْقَاطُهُ بِغَيْرِ مَنْفَعَةٍ وَعِوَضٍ لهذا له څه منفعت او عوض څخه بغير به د هغه ساقطول جائز نه وي وَمَا رَوَاهُ مَنْسُوخٌ بِمَا تَلَوْنَا او د امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت كړی سوی حديث په هغه آيت سره

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب فرض الخمس، باب:١٩، رقم الحديث:٣١٤٢.

منسوخ دی کوم چې موږ تلاوت کړی وَإِذَا أَرَادَ الْإِمَامُ الْعَوْدَ وَمَعَهُ مَوَاشٍ فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى نَقْلِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ او کله چې امام دارُ الاسلام ته ا د واپس راتللو اراده وکړي او د هغه سره څارویان اهم ا وي لېکن امام دارُ الاسلام ته د هغوی پر نقلولو قدرت پیدا نه کړي ذَبَحَهَا وَحَرَّقَهَا نو امام دې هغوی ذبح کړي او بیا ا دې هغوی وسوځوي وَلَا يَعْقِرُهَا وَلَا يَتْرُكُهَا او د هغوی پښې دې نه پرې کوي ایعنې نه دې یې زخمي کوي ا او نه دې یې ژوندي پرېږدي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَتْرُكُهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې هغوی دې ژوندي پرېږدي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: نَهَى❶ عَنْ ذَبْحِ الشَّاةِ إِلَّا لِمَأْكَلَةٍ ځکه چې نبي کریم ﷺ له خوړلو څخه بغیر د بل مقصد لپاره د پُسه له ذبح کولو څخه منع کړې ده وَلَنَا أَنَّ ذَبْحَ الْحَيَوَانِ يَجُوزُ لِغَرَضٍ صَحِيحٍ زموږ دلیل دا دی: چې د صحیح مقصد لپاره د حیوان ذبح کول جائز دي وَلَا غَرَضَ أَصَحُّ مِنْ كَسْرِ شَوْكَةِ الْأَعْدَاءِ او د دښمن د شان وشوکت له ختمولو څخه ابل ا زیات صحیح مقصد نشته ثُمَّ يُحَرِّقُ بِالنَّارِ بیا دې هغه په اُور سره وسوځول سي لِيَنْقَطِعَ مَنْفَعَتُهُ عَنِ الْكُفَّارِ د دې لپاره چې د هغه منفعت له کفارو څخه قطع [او ختم] سي فَصَارَ كَتَخْرِيبِ الْبُنْيَانِ نو داسي سو لکه د عمارتونو [ودانیو] ویجاړول بِخِلَافِ التَّحْرِيقِ قَبْلَ الذَّبْحِ په خلاف تر ذبح مخکې د سوځولو لِأَنَّهُ مَنْهِيٌّ عَنْهُ ځکه چې له هغه څخه منع سوې ده وَبِخِلَافِ الْعَقْرِ او په خلاف د پښې پرې کولو [او زخمي کولو] لِأَنَّهُ مُثْلَةٌ ځکه چې دا مثله کول دي وَتُحَرَّقُ الْأَسْلِحَةُ أَيْضًا او ا د دښمن ا وسلې به هم سوځول کیږي وَمَا لَا يَحْتَرِقُ مِنْهَا يُدْفَنُ فِي مَوْضِعٍ لَا يَقِفُ عَلَيْهِ الْكُفَّارُ او کومه وسله چې نه سوځل کیږي نو هغه دې په داسي ځای کي ښخه کړی سي چې کفار په هغه خبرېدای نه سي إِبْطَالًا لِلْمَنْفَعَةِ عَلَيْهِمْ د دې لپاره چې پر دوی باندې ا د هغه وسلې ا منفعت باطل کړی سي ا او د کفارو له نفع او فایدې څخه ووځي ا.

اللغات: ﴿مَنَّ﴾ د نصر ماضي ده: احسان کول، ښه کول. ﴿قسر﴾ جبر، غلبه، سختي کول. ﴿مَوَاش﴾ جمع د مَاشِيَةٌ ده: څارویان لکه اوښ، غویی، غوا او داسي نور. ﴿لا يعقرها﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صیغه ده: د اوښ یوه پښه پرې کول، دلته یې مطلب دا دی چې د څاروي پښه پرې کول سي یا زخمي کړی سي او همدغسي زخمي پرېښوول سي. صاحب د معجم الوسيط د عقر تعریف داسي کړی دی: "عَقَرَ

❶ تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه.

البَعِيْر: قَطَعَ إِحْدٰى قَوَائِمَهُ لِيَسْقُطَ وَيَتَمَكَّنُ مِنْ ذَبْحِه" او صاحب د مصباح وايي: "عَقَرَ الْبَعِيْرَ بِالسَّيْفِ عَقْرًا ضَرَبَ قَوَائِمَهُ بِهِ. لَا يُطْلَقُ الْعَقْرُ فِي غَيْرِ الْقَوَائِمِ". ﴿شاة﴾ پسه. بزه او داسي نورو ټولو ته وايي. ﴿تخريب﴾ د تفعيل مصدر دی: خرابول. ويجاړول. بربادول. ﴿بنيان﴾ عمارت. ودانۍ.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د اُسارىٰ او قيديانو په هکله چي مخکي امام ته کوم درې اختيارات ورکول سوه په هغوی کي پر يوه اختيار عمل کول ضروري دي او ژموږ په نېز په هغوی کي يو اختيار نه نافذول بلکي مفت او بېله عوضه د دغه قيديانو په آزادولو سره پر دوی احسان کول جائز نه دي. لېکن د شوافعو په نېز د دوی مُفت آزادول جائز دي.

دليل: د شوافعو دليل دا دی چي نبي کريم ﷺ د جنګ بدر پر موقع ځيني قيديان مفت آزاد کړل چي په هغوی کي د "ابو عزه جحمي" په نامه شاعر هم وو. لهذا د نبي ﷺ دا عمل د دې خبري دليل دی چي اُسارىٰ مفت پرېښوول کېدای سي.

زموږ دليل: دا دی چي په دې آيت "اُقْتُلُوْا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوْهُم" کي علی الإطلاق د کفارو او مشرکينو د قتل کولو حکم سوی دی. او بل دا چي په قيد او غلبه سره په دغه قيديانو کي د استرقاق او غلام جوړولو حق ثابت سو. لهذا مُفت او بېله عوضه د دې حق ساقطول صحيح نه دي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی سوی حديث د "اُقْتُلُوْا الْمُشْرِكِيْن... إلخ" په وجه منسوخ دي. ځکه چي دا د "سورةُ البراءة" آيت دی او "سورةُ البراءة" وروسته نازل سوی دی. لهذا دغه آيت د مذکوره حديث لپاره ناسخ دی.

وإذا أراد الإمام إلخ: مسئله دا ده چي کله امام او مجاهدين د يو ښار يا قلعې تر فتح کولو وروسته واپس دارُ الاسلام ته تلل وغواړي او د هغو سره د دارُ الحرب څارويان او حيوانان هم وي لېکن د هغوی بېول مشکل وي نو زموږ په نېز امام ته پکار دي چي هغه څارويان دَ کفارو د منفعت لپاره نه پرېږدي، بلکي هغه دي ذبح کړي او تر ذبح کولو وروسته دي يې وسوځي. لېکن د هغوی پښې دي نه پرېکوي او نه دي هغوی ژوندي پرېږدي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به دغه څارويان ژوندي پرېښوول کېږي.

دليل: د امام شافعي دليل دا دی چي په حديث کي له خوړلو څخه بغير د بل مقصد لپاره د پسه له ذبح کولو څخه منع سوې دي. لهذا د سوځولو په نيت سره د څارويانو ذبح کول صحيح نه دي.

زموږ دليل: دا دی چي د صحيح مقصد لپاره د څارويانو ذبح کول جائز دي. او دا معلومه خبره ده چي د دښمن د شان وشوکت د ختمولو او په غضب او غم کي د هغوی له مبتلا کولو څخه زيات صحيح

بل هیڅ مقصد کېدای نه سي. او څرنګه چي د سوځولو په ذریعه به له دغه څارویانو څخه د کفارو منفعت ختم سي او هغه به د دوی په هیڅ کار نه راځي، نو ځکه به دا عمل مفید وي. لکه څرنګه چي د عمارتونو او ودانیو د وېجاړولو په صورت کي هر شی وېجاړول کیږي او هیڅ د کار او نفع شی نه پرېښوول کیږي. لېکن تر ذبح مخکي د څارویانو سوځول جائزنه دي او نه یې پښې پرېکول جائز دي، ځکه چي له تعذیب بالنار او مُثله کولو څخه منع سوې ده.

وتحرق إلخ: فرمایي چي اسلحه (وسله) په اُور سوځل او د کافرانو د اسلحې ډېپو ته اُور اچول هم جائز دي. او د کومي اسلحې سوځول چي ممکن نه وي، نو هغه دي په یو پټ ځای کي پټه کړل سي چي هیڅوک په خبر نه سي او په هره توګه د کفارو له منفعت څخه وو ځي.

غنیمت به کله په مجاهدینو کي تقسیمول کیږي؟

وَلَا يُقَسِّمُ غَنِيمَةً فِي دَارِ الْحَرْبِ حَتَّى يُخْرِجَهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ او امام دي په دارُ الحرب کي د غنیمت مال نه تقسیموي تر دې چي هغه دارُ الاسلام ته راوړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ بِذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي په دې کي څه حرج نسته وَأَصْلُهُ: أَنَّ الْمِلْكَ لِلْغَانِمِينَ لَا يَثْبُتُ قَبْلَ الْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ عِنْدَنَا او د دې أصل [قاعده] دا ده: چي زموږ په نېز په دارُ الاسلام کي تر إحراز مخکي د غانمینو [مجاهدینو] لپاره ملکیت نه ثابتیږي وَعِنْدَهُ يَثْبُتُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز ثابتیږي وَيَنْبَنِي عَلَى هٰذَا الْأَصْلِ عِدَّةٌ مِنَ الْمَسَائِلِ ذَكَرْنَاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او پر دې أصل ډېري مسئلې مبني دي کوم چي موږ په کفایة المنتهي کي ذکر کړي دي لَهُ: أَنَّ سَبَبَ الْمِلْكِ الِاسْتِيلَاءُ إِذَا وَرَدَ عَلَى مَالٍ مُبَاحٍ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي د ملکیت سبب قبضه ده کله چي هغه پر مباح [روا] مال باندي واقع سي [یعني کله چي پر مباح مال قبضه واقع سي نو هغه قبضه د ملکیت سبب ګرځي] كَمَا فِي الصُّيُودِ لکه د ښکار په څارویو کي [چي په قبضه کولو سره ملکیت ثابتیږي] وَلَا مَعْنَى لِلِاسْتِيلَاءِ سِوَى إِثْبَاتِ الْيَدِ او د ید [قبضې] له ثابتېدلو څخه بغیر استیلاء لره هیڅ معنیٰ نسته وَقَدْ تَحَقَّقَ او دا استیلاء ثابته سوه وَلَنَا أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: نَهَى [1] عَنْ بَيْعِ الْغَنِيمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ زموږ دلیل دا دی: چي نبي

[1] تخریج: قال الزيلعي: هذا اللفظ غريب جدًا.

ﷺ په دارُ الحرب کې د غنیمت له بیع [اخرڅولو] څخه منع کړې ده وَالْخِلَافُ ثَابِتٌ فِيهِ او په دې کې اختلاف ثابت دی وَالْقِسْمَةُ بَيْعٌ مَعْنًى او تقسیمول هم د معنیٰ په اعتبار سره بیع ده فَتَدْخُلُ تَحْتَهُ لهذا تقسیم به تر بیع لاندې داخلیږي [مطلب دا چې تقسیم به هم په حکم کې د بیع په څیر وي] وَلِأَنَّ الِاسْتِيلَاءَ إِثْبَاتُ الْيَدِ الْحَافِظَةِ وَالنَّاقِلَةِ او ځکه چې استیلاء د حفاظت کونکي قبضې او د منتقل کونکي قبضې ثابتول دي وَالثَّانِي مُنْعَدِمٌ او [ادلته] دویم شی [یعني د ید ناقله اثبات] نسته لِقُدْرَتِهِمْ عَلَى الِاسْتِنْقَاذِ ځکه چې کفار [په دارُ الحرب کې له مسلمانانو څخه د مال] پر خلاصولو [او واپس اخیستلو] قدرت لري وَوُجُودُهُ ظَاهِرًا او د دې وجود [او ثبوت] ښکاره دی ثُمَّ قِيلَ: مَوْضِعُ الْخِلَافِ تَرَتُّبُ الْأَحْكَامِ عَلَى الْقِسْمَةِ إِذَا قَسَّمَ الْإِمَامُ لَا عَنْ اجْتِهَادٍ بیا ویل سوي دي: چې اختلاف [د غنیمت] پر تقسیم باندې د احکامو په مبني کېدلو کې دی. کله چې امام له اجتهاد څخه بغیر مال تقسیم کړی وي لِأَنَّ حُكْمَ الْمِلْكِ لَا يَثْبُتُ بِدُونِهِ ځکه چې د ملکیت حکم له ملکیت څخه بغیر نه ثابتیږي وَقِيلَ: اَلْكَرَاهَةُ وَهِيَ كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او ویل سوي دي: چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز کراهت "کراهت تنزیهي" دی فَإِنَّهُ قَالَ: "عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ لَا تَجُوزُ الْقِسْمَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ ځکه چې هغه [په سیر کبیر کې] ویلي دي چې: "د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په قول په دارُ الحرب کې [مالِ غنیمت] تقسیمول جائز نه دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْأَفْضَلُ أَنْ يُقَسِّمَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ" او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز افضل دا دي چې امام په دارُ الاسلام کې [مالِ غنیمت] تقسیم کړي" وَوَجْهُ الْكَرَاهَةِ أَنَّ دَلِيلَ الْبُطْلَانِ رَاجِحٌ او د کراهت وجه دا ده چې د باطلېدلو دلیل راجح دی إِلَّا أَنَّهُ تَقَاعَدَ عَنْ سَلْبِ الْجَوَازِ لیکن دا دلیل د جواز [او روابېنت] په سلبولو کې مؤثر [اغېزمن] نه دی فَلَا يَتَقَاعَدُ عَنْ إِيرَاثِ الْكَرَاهَةِ خو بیا هم په کراهت پیدا کولو مؤثر دی.

اللغات: ﴿غانمین﴾ د سمع له باب څخه جمع اسمِ فاعل دی. غَنِمَ يَغْنَمُ غُنْمًا: غنیمت حاصلول، غنیمت تر لاسه کول. له غَانِم څخه مراد مجاهد او غازي دی. ﴿إحراز﴾ محفوظه کول. خوندي کول، ذخیره کول. ﴿استیلاء﴾ د استفعال مصدر دی: غلبه کول. قبضه کول. قدرت پیدا کول.

﴿يَد﴾ لاس. مراد ځني قبضه ده. **﴿استنقاذ﴾** د استفعال مصدر دی: خلاصول. مراد ځني واپس اخيستل دي. **﴿تَرَتُّب﴾** د تفعل مصدر دی: استقرار کول. ثابتېدل. مرتب کېدل. مبني کېدل. **﴿تَقَاعَد﴾** د تفاعل ماضي ده. لغتپوهانو د دې لفظ څو معناوي کړي دي: اهتمام نه کول (پوره پابندي او کوښښ نه کول). همت د لاسه ورکول. حق نه اداء کول. اغېز نه کول (نه مؤثر کېدل). که دلته د "کښېنستلو" معنیٰ ځني واخيستل سي نو هم ورسره لګېدای سي. **﴿إيراث﴾** د افعال مصدر دی: شاته پرېښوول. ايراث الكراهة: مراد ځني د کراهت پيدا کول دي.

تشريح: د دې عبارت مسئله پر يو أصل او قاعدې باندي متفرع ده. قاعده دا ده چي زموږ په نېز دارُ الاسلام ته د "مال غنيمت" تر نقل کولو او محفوظه کولو مخکي په هغه کي د مجاهدينو ملکيت نه ثابتيږي لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز قبل الإحراز هم ملکيت ثابتيږي. نو په دې وجه زموږ په نېز قبل الإحراز والإخراج إلیٰ دار الإسلام (يعني په دارُ الحرب کي دننه) د مال غنيمت تقسيمول صحيح نه دي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز صحيح دي. پر همدغه قاعدې ډېري مسئلې متفرع دي کوم چي په كفاية المنتهي کي ذکر سوي دي او د اولي هدايې د" ۵۶۸ " صفحې په اوله حاشيه کي د دې مثالونه موجود دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي کله پر يو مباح مال د يو مسلمان قبضه راسي نو قابض د هغه مال مالک جوړيږي او دا قبضه د هغه په حق کي د ملکيت سبب ګرځي. او د استيلاء مطلب دا دی چي پر هغه مال قبضه ثابته سي. او څرنګه چي د غنيمت پر مال هم د مجاهدينو قبضه راځي لهذا مجاهدين به هم د هغه مالکان جوړيږي او په دارُ الحرب کي به دننه د دوی په مينځ کي مال غنيمت تقسيميږي.

زموږ دليل: دا دی چي نبي کريم ﷺ په دارُ الحرب کي د مال غنيمت له بيع څخه منع کړې ده او په بيع کي هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی. او څرنګه چي تقسيم هم د معنیٰ په اعتبار سره د بيع په څير دی ځکه چي په تقسيم کي د بيع په څير مُبادله کيږي. لهذا تقسيم به په بيع کي داخل وي او د بيع په څير به وي. او څرنګه چي بيع ممنوع نه ده. نو تقسيم به هم ممنوع وي.

عقلي دليل دا دی چي د استيلاء مطلب دی "د حفاظت قبضه" او "له يوه سړي څخه د بل سړي وطرف ته د منتقل کولو د قبضې اثبات". لېکن دلته د انتقال والا قبضه معدومه ده. ځکه چي په دارُ الحراب کي دننه کفارو ته د دې قدرت سته چي هغوی د مسلمانانو سره مقابله وکړي او مال واپس ځني واخلي. لهذا ظاهراً به هلته کفارو ته قوت حاصل وي نو ځکه به دا صورت (يعني د انتقال والا

قبضه) معدومه وي او په استيلاء سره به فقط "يدحافظه" ثابتيږي او "يد حافظه" د ملکيت سبب نه دی. او تر ملکيت ثابتېدلو مخکي د غنيمت مال تقسيمول صحيح نه دي.

ثم قيل إلخ: فرمايي چي د ځيني فقهاؤ رايه دا ده چي زمونږ او د شوافعو اختلاف تر تقسيم وروسته د انتفاع د جواز او عدم جواز په هکله دی يعني که چيري امام له اجتهاد څخه بغير په مجاهدينو کي د غنيمت مال تقسيم کړي نو زمونږ په نيز له هغه څخه د مجاهدينو انتفاع (نفع اخيستل) جائز نه دي. او د شوافعو په نيز جائز دي. ځکه چي د امام شافعي په نيز په دې مال کي د مجاهدينو ملکيت ثابت دی. لېکن زمونږ په نيز د هغو ملکيت ثابت نه دی نو ځکه دا تقسيم او انتفاع هم جائز نه ده.

د ځيني حضراتو رايه دا ده چي دا تقسيم مکروه دی او د دې کراهت "کراهتِ تنزيهي" دی. همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه ده. ځکه چي هغه د شيخينو قول په "لَا يَجُوْزُ" سره بيان کړی دی او په خپل نيزېي په دارُ الاسلام کي تقسيمول أفضل ګرځولي دي او خلافُ الأفضل کار کول مکروه دي. او د کراهت دليل دا دی چي د استيلاء او قبضې د نه پوره کېدلو په وجه د تقسيم د باطلېدلو دليل راجح دی. لېکن څرنګه چي دا دليل د جواز په ثابتولو او ختمولو کي مؤثر نه دی. ځکه چي د شوافعو په نيز تقسيم جائز دی او زمونږ په نيز که څه هم په عامو حالاتو کي تقسيم جائز نه دي خو که چيري غازيانو ته د سپارلۍ يا د جامو (کاليو) يا د غلې ضرورت وي نو قبل الإحراز زمونږ په نيز هم تقسيم جائز دی لهذا د عدمِ جواز د تقسيم دليل ډېر مظبوط او مؤکد نه دی. لېکن بيا هم د کراهت پيدا کولو لپاره کافي دی.

په "مالِ غنيمت" کي د مقاتلينو او معاونينو مساوات

قَالَ: وَالرِّدْءُ وَالْمُقَاتِلُ فِي الْعَسْكَرِ سَوَاءٌ فرمايي: چي په لښکر کي مدد کونکی او جنګ کونکی دواړه برابر دي لِاسْتِوَائِهِمْ فِي السَّبَبِ ځکه چي دوی ټوله په سبب کي سره برابر دي وَهُوَ الْمُجَاوَزَةُ أَوْ شُهُوْدُ الْوَقْعَةِ او هغه د جنګ [جهاد] په نيت سره تلل يا جنګ ته حاضرېدل دي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي معلوم سوي دي وَكَذٰلِكَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ لِمَرَضٍ أَوْ غَيْرِهِ او همدارنګه که د مرض يا بل عارض په وجه يو مجاهد جنګ نه وکړی سي انو د هغه هم دغه حکم دی ا لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَإِذَا لَحِقَهُمُ الْمَدَدُ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَبْلَ أَنْ يُخْرِجُوا الْغَنِيْمَةَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ او کله چي د مجاهدينو سره په دارُ الحرب کي يو څو معاونين يو ځای سي مخکي تر دې چي مجاهدين د غنيمت مال له دارُ الاسلام څخه وباسي شَارَكُوْهُمْ فِيْهَا نو دا معاونين به د هغوی سره د غنيمت په

مال کي شريک کيږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْقِتَالِ ليکن [د جنګ تر ختمېدلو وروسته [د يو ځای کېدلو په صورت] د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَهُوَ بِنَاءٌ عَلَى مَا مَهَّدْنَاهُ مِنَ الْأَصْلِ او دا اختلاف پر هغه أصل [قاعدې] مبني دی کوم چي موږ مخکي بيان کړی وَإِنَّمَا يَنْقَطِعُ حَقُّ الْمُشَارَكَةِ عِنْدَنَا بِالْإِحْرَازِ أَوْ بِقِسْمَةِ الْإِمَامِ فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْ بِبَيْعِهِ الْمَغَانِمَ فِيهَا او زموږ په نېز به ① په دارُ الاسلام کي په إحراز سره مشارکت [شراکت] ختميږي ② يا په دارُ الحرب کي د امام په تقسيمولو سره ③ يا په دارُ الحراب کي د "مالِ غنيمت" په خرڅولو سره لِأَنَّ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهَا يَتِمُّ الْمِلْكُ ځکه چي په دوی کي په هر يوه سره ملکيت پوره کيږي فَيَنْقَطِعُ حَقُّ شَرِكَةِ الْمَدَدِ نو ا په دوی سره ا به د معاونينو د شرکت حق ختميږي.

اللغات: ﴿ردء﴾ معاون. مرستيال. مددګار. ﴿مجاوزة﴾ د مفاعلې مصدر دی: تلل. سفر کول. ﴿شهود﴾ د سمع مصدر دی. شَهِدَ يَشْهَدُ شُهُوْدًا: حاضرېدل. موجودېدل. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول. خوندي کول. ذخيره کول (جمع کول). ﴿مهدنا﴾ د تفعيل ماضي ده: بستره هوارول (غوړول). سمول او برابرول. مراد ځني په "ترتيب سره بيانول" دي.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (١)... دامامُ المسلمين سره چي څومره خلک له دارُ الاسلام څخه د دارُ الحرب وطرف ته د قتال او جهاد لپاره وځي هغوی ټولو ته مجاهدين ويل کيږي. او د فتح په صورت کي چي د مالِ غنيمت څومره حاصل مقاتلينو ته ورکول کيږي هغومره به د دوی معاونينو ته هم ورکول کيږي: ځکه چي ټوله د فتح په سبب او د غنيمت د حصول په سبب کي برابر دي. او هغه سبب زموږ په نېز جنګ او قتال ته د امام سره تلل دي او د شوافعو په نېز جنګ او قتال کول دي. لهذا د ټولو په نېز د مقاتل او معاون کار برابر دی لهذا د دوی انعام به هم برابر وي.

همدارنګه که په وتونکو خلکو (مجاهدينو) کي يو کس مريض سي يا امام هغه په يو بل کار مصروف کړي چي د هغه په سبب دا کس په جنګ کي شريک نه سي نو د هغه حصه به هم د مقاتلينو سره برابره وي. ځکه چي مريض معذوره (عذر لرونکی) دی او په بل کار مصروفه کس د خپل کار په اعتبار سره مقاتل او مجاهد دی او په خپل محنت او کار کي د مقاتل سره مساوي دي لهذا د منفعت په حصول کي به هم هغه ته برابر حق ورکول کيږي.

(٢)... دويمه مسئله دا ده که مجاهدين جنګ وګټي او مال غنيمت را واخلي دارُ الاسلام ته روان سي ليکن دارُ الاسلام ته له رسېدلو څخه مخکي په دارُ الحرب کي دننه د مرستي او کومک په غرض نور

مجاهدين هغوی ته راسي نو دغه مجاهدين به هم په مالِ غنيمت کي د هغوی سره شريک وي. دا حکم زموږ په نېز دی. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي کوم معاونين د جنګ تر ختمېدلو او د مال غنيمت تر جمع کېدلو وروسته راسي نو په مالِ غنيمت کي به د دوی حصه نه وي. دا اختلاف په اصل کي پر دې قاعده متفرع دی چي: زموږ په نېز په دريو شيانو سره په مالِ غنيمت کي شراکت او مشارکت ختميږي: ① يو دا چي مالِ غنيمت دارُ الاسلام ته راوړل سي او هلته جمع کړی سي. ② دويم دا چي امام په دارُ الحرب کي دننه مالِ غنيمت تقسيم کړي. ③ دريم دا چي مالِ غنيمت خرڅ کړی سي. نو په دې دريو کي په هر فعل سره په مالِ غنيمت کي د مجاهدينو ملکيت پوره کيږي او د معاونينو او لاحقينو د شرکت او حصې امکان ختميږي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز تر فتح کولو او د کفارو تر ماتېدلو وروسته په مالِ غنيمت کي د مجاهدينو حق ثابتيږي او د معاونينو د شرکت امکان ختميږي. د همدغه قاعدې پر اختلاف د مسائلو اختلاف مبني دی.

په "مالِ غنيمت" کي د لښکر د دوکاندارانو حصه

قَالَ: وَلَا حَقَّ لِأَهْلِ سُوقِ الْعَسْكَرِ فِي الْغَنِيمَةِ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلُوا فرمايي: چي په غنيمت کي د لښکر د بازار والا [سوداګرانو] هيڅ حق نسته مګر دا چي هغوی جنګ وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ: يُسْهَمُ لَهُمْ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل يوه قول کي فرمايلي دي: چي دوی ته به هم حصه ورکول کيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: اَلْغَنِيمَةُ[1] لِمَنْ شَهِدَ الْوَقْعَةَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي غنيمت د هغه کس حق دی کوم چي جنګ ته حاضر سي [يعني په جنګ کي موجود وي] وَلِأَنَّهُ وُجِدَ الْجِهَادُ مَعْنًى بِتَكْثِيرِ السَّوَادِ او ځکه چي [د لښکر] د جماعت د ډېرولو په حواله سره [د أهلُ السوق له طرفه] هم معناً جهاد کول موجود سو وَلَنَا: أَنَّهُ لَمْ تُوجَدِ الْمُجَاوَزَةُ عَلَى قَصْدِ الْقِتَالِ زموږ دليل دا دی: چي [د دوی له طرفه] د جنګ په نيت سره وتل موجود نه سو فَانْعَدَمَ السَّبَبُ الظَّاهِرُ نو [د دوی په حق کي] ظاهري سبب معدوم سو فَيُعْتَبَرُ السَّبَبُ الْحَقِيقِيُّ لهذا د حقيقي سبب اعتبار به کيږي وَهُوَ الْقِتَالُ او هغه جنګ کول دي فَيُفِيدُ الِاسْتِحْقَاقَ عَلَى حَسَبِ حَالِهِ فَارِسًا أَوْ رَاجِلًا عِنْدَ الْقِتَالِ نو د جنګ کولو په صورت کي به هغه [سوداګر] د خپل حالت مطابق د شهسوار کېدلو يا پياده کېدلو په اعتبار سره د غنيمت

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ، رقم الحديث: ۱۷۹۵۳.

مستحق وي وَمَا رَوَاهُ مَوْقُوفٌ عَلَى عُمَرَ رضي الله عنه او د امام شافعي رَحِمَهُ الله روایت کړی سوی حدیث پر حضرت عمر موقوف دی أَوْ تَأْوِيلُهُ: أَنْ يَشْهَدَهَا عَلَى قَصْدِ الْقِتَالِ یا د هغه تأویل دا دی: چي کوم کس د جنګ کولو په اراده جنګ ته حاضر سي انو هغه ته به غنیمت ورکول کیږي!

اللغات: ﴿سوق﴾ بازار. ﴿يُسهَم﴾ د افعال مضارع ده: مجهوله ده: حصه مقرر کول (په مال کي د يو چالپاره حصه ټاکل)، حصه ورکول. ﴿سَوَاد﴾ د دې لفظ ډيري معناوي دي. دلته يې دغه دوې معناوي مراد کېدای سي: ① جماعت، ډله. ويل کيږي: سوادُ المسلمين: د مسلمانانو جماعت. ② شمېر، تعداد. ﴿فارس﴾ شهسور، شاهسوار (پر آس سپور).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي کوم خلک د لښکر سره د سوداګرۍ او دوکانداری په نيت ولاړ سي (او د ضرورت شيان د ځان سره واخلي او د جنګ په ډګر کي يې پر مجاهدينو خرڅوي) او د دوی مقصد جنګ او قتال نه وي. نو داسي سوداګرانو ته به د غنيمت په مال کي حصه نه ورکول کيږي. ها! که چيري دوی په عملي توګه په قتال کي شرکت وکړي نو بيا به په غنيمت کي حصه ورکول کيږي. دا حکم زموږ په نېز دی. همدا د امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمَا الله قول دی. او دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله يو قول هم دی (بنايه). د امام شافعي رَحِمَهُ الله دويم قول دا دی چي دوکاندارنو او سوداګرانو ته به هم په مال غنيمت کي حصه ورکول کيږي. د دې قول دليل دا حديث دی: "کوم کس چي هم د قتال او جنګ په وخت کي حاضر وي، هغه ته دي په مال غنيمت کي حصه ورکول سي". او سوداګر هم په دغه وخت کي حاضر وي. لهذا هغه ته به هم حصه ورکول کيږي. عقلي دليل دا دی چي که څه هم سوداګر په عملي توګه جنګ او قتال کړی نه دي ليکن هلته حاضر وو او د هغه په حاضر والي سره د مسلمانانو په جماعت کي اضافه راغله او په هغه سره د أفرادو ډېرښت ثابت سو. او د أفرادو په ډېرښت سره پر کافرانو رعب لوېږي. نو د معنیٰ په اعتبار سره هغه هم جهاد کونکی دی. لهذا هغه به هم د غنيمت مستحق وي.

زموږ دليل دا دی چي سوادګر د لښکر سره د خرڅلاو او سوداګرۍ په نيت ځي. او د هغه نيت د قتال نه وي. حالانکي د غنيمت ظاهري سبب د قتال په نيت سره وتل دي. لهذا کله چي ظاهري سبب د هغه په حق کي معدوم سو نو اوس د غنيمت د مستحق کېدلو لپاره د هغه په حق کي د حقيقي سبب موجودېدل يعني په عملي توګه قتال کول ضروري دي. او څرنګه دا سبب هم معدوم دی. نو ځکه به هغه د غنيمت مستحق نه وي. ها! کله چي دا سبب موجود سي نو د خپل حالت مطابق به هغه د غنيمت مستحق وي. مثلاً که د هغه سره آس (سپارلي) وي او پر آس د کفارو سره قتال وکړي نو هغه

به د دوو حصو مستحق وي او دوې حصې به ورکول کيږي او که چيرې پياده قتال وکړي نو ديوې حصې مستحق به وي.

پاته سو د امام شافعي رَحِمَهُ الله حديث نو هغه مرفوع نه دی، بلکي د حضرت عمر رضي الله عنه قول دی او پر هغه موقوف دی، يا د هغه تأويل دا دی چي د "الغنيمة لمن شهد الواقعة" مطلب دا دی چي "لمن شهد الواقعة على قصد القتال". والله أعلم بحقيقة الحال

د غنيمت مال دارُ الاسلام ته د رسولو لپاره غازيانو ته سپارل

وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِلْإِمَامِ حَمُولَةٌ تُحْمَلُ عَلَيْهَا الْغَنَائِمُ او که د امام سره بار وړونکې سپارلي نه وي چي پر هغې د غنيمت مالونه بار کړل سي قَسَّمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ قِسْمَةَ إِيدَاعٍ نو امام دي هغه غنائم د امانت په توګه په مجاهدينو کي تقسيم کړي لِيَحْمِلُوهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ چي مجاهدين هغه دارُ الاسلام ته يووسي ثُمَّ يَرْتَجِعُهَا مِنْهُمْ فَيَقْسِمُهَا بيا دي هغه غنائم له مجاهدينو څخه واپس واخلي او دوی په مينځ کي دي بيا تقسيم کړي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هَكَذَا ذُكِرَ فِي الْمُخْتَصَرِ ناتوانه بنده وايي: چي په مختصرُ القدوري کي همداسي ذکر سوي دي وَلَمْ يَشْتَرِطْ رِضَاهُمْ او امام قدوري د مجاهدينو رضامندي شرط کړې نه ده وَهُوَ رِوَايَةُ السِّيَرِ الْكَبِيرِ او همدا د سيرِ کبير روايت دی وَالْجُمْلَةُ فِي هَذَا: أَنَّ الْإِمَامَ إِذَا وَجَدَ فِي الْمَغْنَمِ حَمُولَةً د دې مسئلې حاصل دا دی: چي که امام په غنيمت کي د بار وړولو سپارلي پيدا کړي يَحْمِلُ الْغَنَائِمَ عَلَيْهَا نو غنائم دي پر هغې بار کړي لِأَنَّ الْحَمُولَةَ وَالْمَحْمُولَ مَالُهُمْ ځکه چي سپارلي او پر هغې بار کړی سوی مال ټوله د مجاهدينو دی وَكَذَا إِذَا كَانَ فِي بَيْتِ الْمَالِ فَضْلُ حَمُولَةٍ او همدارنګه که په بيتُ المال کي اضافي سپارلياني وي انو هغه دي را وغواړي لِأَنَّهُ مَالُ الْمُسْلِمِينَ ځکه چي بيتُ المال د مسلمانانو مال دی وَلَوْ كَانَ لِلْغَانِمِينَ أَوْ لِبَعْضِهِمْ او که چيرې د مجاهدينو سره يا په دوی کي د يوه سره سپارلي وي لَا يُجْبِرُهُمْ فِي رِوَايَةِ السِّيَرِ الصَّغِيرِ نو د سيرِ صغير د روايت مطابق امام هغوی نه سي مجبوره کولای لِأَنَّهُ ابْتِدَاءُ إِجَارَةٍ ځکه چي دا ابتداءً اجاره ده وَصَارَ كَمَا إِذَا نَفَقَتْ دَابَّتُهُ فِي مَفَازَةٍ نو داسي سو لکه په بيابان (دښت) کي چي د يو چا سپارلي هلاکه سي وَمَعَ رَفِيقِهِ فَضْلُ حَمُولَةٍ او د هغه د ملګري سره اضافي سپارلي وي انو هغه خپل ملګری پر دې نه سي مجبوره کولای

چي هغه د ده سامان پر خپله اضافي سپارلي باندي بار کړي! وَيُجْبِرُهُمْ فِي رِوَايَةِ السِّيَرِ الْكَبِيْرِ او د سير كبير د روايت مطابق امام هغوی اسپارلي لرونکي مجاهدين امجبوره کولای سي لِأَنَّهٗ دَفْعُ الضَّرَرِ الْعَامِّ بِتَحْمِيْلِ ضَرَرٍ خَاصٍّ ځکه چي دا د خاص ضرر په پورته کولو ازغملو اسره د عام ضرر ليري كول دي.

اللغات: ﴿**حمولة**﴾ بار وړونکی څاروی، بار وړونکې سپارلي (سورلي). ﴿**مفازة**﴾ بیابان. دښت. نا آباده علاقه. ﴿**تحميل**﴾ د تفعیل مصدر دی. متعدي باب دی: پورته کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که د امام سره د غنيمت په مالونو کي داسي څارویان (سپارلياني) نه وي چي پر هغوی له دارُ الحراب څخه دارُ الاسلام ته د غنيمت مالونه يووسي. نو امام ته پکار دي چي د امانت او وديعت په توګه د غنيمت مالونه په مجاهدينو کي تقسيم کړي چي مجاهدين هغه دارُ الاسلام ته ورسوي او بيا دي يې هلته واپس ځني واخلي او د خپل حالت مطابق دي هر مجاهد ته خپله حصه ورکړي. صاحب د هدايې فرمايي چي مجاهدينو ته د أمانت په توګه د مال ورکولو په هکله په قدوري کي د مجاهدينو د رضامندۍ شرط نه دي لګول سوی، او په سير كبير کي هم دغه شرط نه دي ذکر سوی.

صاحب د کتاب فرمايي چي د دې خلاصه دا ده چي که په غنيمت کي د بار وړلو سپارلۍ (سپارلياني) موجوده وي نو امام دي د غنيمت مالونه هم پر هغوی بار کړي. يا که چيري په بيتُ المال کي اضافي سپارلۍ وي نو هغه دي را واغوړي او پر هغوی دي غنائم بار کړي. ځکه چي بيتُ المال هم د مسلمانانو مال دی. لهذا د مسلمانانو په کار کي د هغه استعمالول صحيح او جائز دي. او که چيري د مجاهدينو سره سپارلۍ وي يا د يو مجاهد سره سپارلي وي، نو د امام لپاره دا جائز نه دي چي هغه د بار پر وړلو مجبوره کړي. دا د سيرِ صغير روايت دی. د جبر د نه جائز کېدلو وجه دا ده چي دا صورت ابتداءً د اجارې په شير دی او په اجاره کي رضا او اجازه شرط ده. د دې مثال داسي دی لکه په دښت کي چي د يو چا سپارلي هلاکه سي او د هغه د ملګري سره سپارلي وي نو هغه خپل ملګری پر دې نه سي مجبوره کولای چي سپارلي ځني واخلي او خپل سامان پر بار کړي. ها! که چيري د هغه ملګری راضي سي نو بيا يې ځني اخيستلای سي. لېکن د سيرِ كبير په روايت کي ذکر سوي دي چي امام د سپارلۍ له خاوند څخه د بار وړلو لپاره سپارلي اخيستلای سي او په دې هکله هغه مجبوره کولای سي. ځکه چي په دې صورت کي د ضررِ خاص په زغملو سره د ضررِ عام ليري كول دي (يعني د سپارلۍ په اخيستلو او د هغه مجاهد په مجبوره کولو سره له عامو مجاهدينو څخه ضرر ليري کيږي). او د ضررِ عام دليري کولو لپاره ضررِ خاص زغمل کېدای سي.

تر تقسیم مخکې د غنیمت مال خرڅول

وَلَايَجُوزُ بَيْعُ الْغَنَائِمِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ او تر قسیم مخکې په دارُ الحرب کې غنائم ا د غنیمت مالونه ا خرڅول جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ قَبْلَهَا ځکه چې تر تقسیم مخکې ملکیت نه ثابتیږي وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَقَدْ بَيَّنَّا الْأَصْلَ او موږ مخکې ا قاعده بیان کړه وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ فِي دَارِ الْحَرْبِ او له مجاهدینو څخه چې کوم کس په دارُ الحرب کې مړ سي فَلَاحَقَّ لَهُ فِي الْغَنِيمَةِ نو په غنیمت کې به د هغه لپاره حق نه وي وَمَنْ مَاتَ مِنْهُمْ بَعْدَ إِخْرَاجِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ او له مجاهدینو څخه چې کوم کس دارُ الاسلام ته د غنائمو تر نقل کېدلو وروسته مړ سي فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ نو د هغه حصه به د هغه د وارثانو لپاره وي لِأَنَّ الْإِرْثَ يَجْرِي فِي الْمِلْكِ ځکه چې وراثت په ملکیت کې جاري کیږي وَلَا مِلْكَ قَبْلَ الْإِحْرَازِ او تر إحراز مخکې ملکیت نه ثابتیږي وَإِنَّمَا الْمِلْكُ بَعْدَهُ [بلکې] ملکیت تر إحراز وروسته ثابتیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ بَعْدَ اسْتِقْرَارِ الْهَزِيمَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې کوم مجاهد د شکست تر ثابتېدلو [او یقیني کېدلو] وروسته مړ سي يُورَثُ نَصِيبُهُ نو د هغه حصه به میراث جوړیږي [او وارثانو ته به ورکول کیږي] لِقِيَامِ الْمِلْكِ فِيهِ عِنْدَهُ ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په هغه کې [د مړه سوي مجاهد] ملکیت ثابتیږي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او [مخکې] موږ د دې بیان وکړی.

اللغات: ﴿إخراج﴾ د افعال مصدر دی: ایستل، باسل. ﴿نصیب﴾ حصه، برخه. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول، ذخیره کول (دلته ځني مراد دارُ الاسلام ته د غنائمو وړل او هلته جمع کول دي). ﴿استقرار﴾ د استفعال مصدر دی: ثابتیدل. ﴿هزیمة﴾ شکست، ماته (ماتي).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې تر څو امامُ المسلمین په دارُ الحرب کې غنائم (د غنیمت مالونه) تقسیم نه کړي تر هغه وخته پوري غنائم خرڅول صحیح نه دي. ځکه چې زموږ په نېز تر تقسیم مخکې په هغه کې ملکیت نه ثابتیږي او له ملکیت څخه بغیر بیع صحیح نه ده.

لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز تر تقسیم مخکې د غنائمو خرڅول جائز دي. ځکه چې د هغه په نېز په استیلاء سره ملکیت پوره کیږي.

که چیرې په دارُ الحرب کې تر تقسیم مخکې یو مجاهد مړ سي نو له غنیمت څخه د هغه حق ختمیږي، لېکن که دارُ الاسلام ته د غنائمو تر نقل کېدلو وروسته یو مجاهد مړ سي نو هغه د غنیمت حقداره ګرځي او د هغه حصه به د هغه وارثانو ته ورکول کیږي. ځکه چې د إحراز په وجه په غنیمت کې د مړه سوي مجاهد حق او حصه ثابته سوه او د هغه ملکیت مؤکد او مضبوط سو. او ملکیت د استحقاق (حقداره کېدلو) سبب دی. لېکن په اول صورت کې یعني د قبل الإحراز په صورت کې ملکیت نه ثابتیږي، نو ځکه موږ په هغه صورت کې مړ سوی مجاهد د غنیمت مستحق شمارلی نه دی. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز که په داسې وخت کې یو مجاهد مړ سي چې د کافرانو شکست او ماته خوړل یقیني سي، نو هغه ته به حصه ورکول کیږي. ځکه چې د هغه په نېز د شکست تر ثابتېدلو او مؤکد کېدلو وروسته ملکیت ثابتیږي. او مخکې د هغه أصل بیان سو.

په دارُ الحرب کې (د کفارو) واښه او د خوراک شیان استعمالول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَعْلِفَ الْعَسْكَرُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَيَأْكُلُوا مَا وَجَدُوهُ مِنَ الطَّعَامِ فرمايي: او په دې کې هیڅ حرج نسته چې د لښکر والا [مجاهدین] څارویو ته واښه ورکړي او کوم خوراک چې پیدا کړي هغه وخوري قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: أَرْسَلَ وَلَمْ يُقَيِّدْهُ بِالْحَاجَةِ ناتوانه بنده وايي: چې امام قدوري رَحِمَهُ الله دا [حکم] مطلق بیان کړی دی او په حاجت سره یې مقید کړی نه دی وَقَدْ شَرَطَهَا فِي رِوَايَةٍ وَلَمْ يَشْتَرِطْهَا فِي أُخْرَى [حال دا چې] امام محمد رَحِمَهُ الله د سیر صغیر] په روایت کې حاجت شرط کړی دی لېکن د سیر کبیر] په روایت کې یې حاجت نه دې شرط کړی وَجْهُ الْأُولَى: أَنَّهُ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْغَانِمِينَ د اول روایت دلیل دا دی: چې هغه مال د مجاهدینو په مینځ کې مشترک دی فَلَا يُبَاحُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا لِحَاجَةٍ لهذا بېله ضرورته به له هغه څخه نفع اخیستل روا نه وي كَمَا فِي الثِّيَابِ وَالدَّوَابِّ لکه په جامو او سپرلیو کې [چې هم دغه حکم دی] وَجْهُ الْأُخْرَى: قَوْلُهُ عليه السلام [1] فِي طَعَامِ خَيْبَرَ: كُلُوهَا وَاعْلِفُوهَا وَلَا تَحْمِلُوهَا د دویم روایت دلیل د خیبر د خوراک په باره کې د نبي کریم ﷺ دا فرمان دی: تاسي هغه وخورئ! او څارویو ته یې هم ورکړئ [لېکن] هغه مه باروئ! [یعني د ځان سره یې مه وړئ!] وَلِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِ الْحَاجَةِ او ځکه چې د حکم مدار د حاجت پر دلیل دی وَهُوَ كَوْنُهُ فِي دَارِ

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في معرفة السنن، رقم الحديث: ٥٣٥٨.

الْحَرْبِ او هغه په دارُ الحرب کې د غازي کېدل اموجود بدل ا دي لِأَنَّ الْغَازِيَ لَا يَسْتَصْحِبُ قُوتَ نَفْسِهِ وَعَلَفَ ظَهْرِهِ مُدَّةَ مُقَامِهِ فِيهَا ځکه چې غازي په دارُ الحرب کې د پاتېدلو د مودت په اندازه د ځان سره خپله خوراکه او د حیوان خوراکه وړلای نه سي وَالْمِيرَةُ مُنْقَطِعَةٌ او اهلته ا غله اترلاسه کول ا ناشوني دي امطلب دا چې له دارُ الاسلام څخه هلته د غلې رسېدل ناممکن دي ا فَبَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْإِبَاحَةِ لِلْحَاجَةِ لهذا د حاجت پر بناء دا حکم پر أباحت پاته سو بِخِلَافِ السِّلَاحِ په خلاف د وسلې لِأَنَّهُ يَسْتَصْحِبُهُ ځکه چې غازي هغه د خپل ځان سره وړي فَانْعَدَمَ دَلِيلُ الْحَاجَةِ لهذا د حاجت دلیل معدوم سو وَقَدْ تَمَسُّ إِلَيْهِ الْحَاجَةُ او کله وسلې ته هم ضرورت پیښیږي فَتُعْتَبَرُ حَقِيقَتُهَا نو اهلته ا به د حقیقي حاجت اعتبار کیږي فَيَسْتَعْمِلُهُ ثُمَّ يَرُدُّهُ فِي الْمَغْنَمِ إِذَا اسْتَغْنَى عَنْهُ نو غازي به اد غنیمت وسله ا استعمالوي او کله چې له هغه څخه مستغني سي نو په غنیمت کې به یې ږدي وَالدَّابَّةُ مِثْلُ السِّلَاحِ او څاروی د وسلې په څیر دی ایعني د سپارلۍ حکم د وسلې د حکم په څیر دی ا وَالطَّعَامُ كَالْخُبْزِ وَاللَّحْمِ وَمَا يُسْتَعْمَلُ فِيهِ كَالسَّمْنِ وَالزَّيْتِ او طعام ایعني له طعام څخه مراد ا ډوډۍ، غوښې او هغه څه دي کوم چې په غوښو او کتغ ا کې استعمالیږي لکه غوړي او تېل.

اللغات: ﴿يعلف﴾ د ضرب مضارع ده: څارویانو ته خوراکه ورکول، واښه ورکول. ﴿دوابّ﴾ جمع د دَابَّةٌ ده: څاروی، سپارلۍ. ﴿يُدار﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: مدار کېدل. ﴿لا يستصحب﴾ د استفعال له باب څخه د نفي صیغه ده: د ځان ملګری کول، د ځان سره وړل. ﴿ميرة﴾ غله. ﴿سمن﴾ غوړي. ﴿زَيْت﴾ د زیتون تېل. مراد ځني مطلق تېل او روغن دي (کوم چې له تخمونو او مغزیاتو څخه را وځي).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که مجاهدین په دارُ الحرب کې یو ښار فتح کړي نو هلته د اوسېدلو په وخت کې خپلو څارویانو ته (د کفارو) واښه ورکولای سي او په خپله هم (د کفارو) مطعومات (د خوراک شیان) او داسې نور څه استعمالولای سي. او دا حکم په قدوري کې مطلق دی یعني په حاجت او ضرورت سره مقیّد نه دی. لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله په سیرِ صغیر کې د ضرورت پر بناء د دې اجازه ورکړې ده لېکن په سیرِ کبیر کې یې بلا ضرورته د دې شیانو د استعمالولو اجازه نه ده ورکړې بلکې د ضرورت شرط یې لګولی دی. د سیرِ صغیر د روایت دلیل دا دی چې تر فتح

وروسته د مفتوحه علاقې مال د مجاهدينو په مينځ کې مشترک ګرځي. لهذا بلا ضرورته به له هغه څخه فايده اخيستل جائز نه وي لکه څرنګه چې د جامو (کاليو) او سپارليو هم دغه حکم دی چې بلا ضرورته د هغوی استعمالول جائز نه دي همداسې به د وښو او مطعوماتو هم دغه حکم وي.

د سير کبير د روايت دليل د خيبر د مطعوماتو په هکله د نبي ﷺ دا فرمان دی "تاسې هغه وخورئ! او خپلو څارويو ته يې ورکړئ! ليکن د ځان سره يې مه وړئ!". په دې حديث کې په ښکاره توګه د پورتنې شيانو د استعمالولو اجازه ورکول سوې ده. فقط د هغوی له وړلو وبارولو څخه منع سوې ده.

د دې سلسلې عقلي دليل دا دی چې د حکم يعني د إباحت او جواز دار ومدار د حاجت پر دليل دی او په دار الحرب کې د مجاهدينو اوسېدل د حاجت او ضرورت واضح دليل دی. ځکه چې د مجاهدينو لپاره دا ممکنه نه ده چې د ځان سره دومره خوراکه او غله راوړي چې په دار الحرب کې د اوسېدلو او پاتېدلو تر وخته پوري د هغو او د څارويو لپاره کافي سي. لهذا په دار الحرب کې د هغو اوسېدل حاجت دی (او هلته د هغو او د څارويو لپاره خوراکې او غلې ته ضرورت سته). او بل دا چې دار الحرب ته د خوراکې او غلې راوړلو لارې هم بندې وي. نو ځکه به د دې شيانو استعمالول مباح وي.

د دې په خلاف د وسلې (اسلحې) مسئله ده نو د مجاهدينو لپاره د هغه استعمالول مباح نه دي. ځکه چې مجاهد د خپل ځان سره وسله وړلای سي او د ځان سره د وسلې وړل ممکن هم دي. لهذا په دې کې د حاجت دليل معدوم دی او کله چې د حاجت دليل معدوم دی نو ښکاره خبره ده چې د هغې استعمالول به هم ممنوع وي. او که چيري د يو مجاهد توره ماته سي يا ځني ورکه سي او هغه دې ته مجبوره سي چې له غنيمت څخه توره واخلي، نو دا د حاجت دليل نه. بلکې حقيقي حاجت او ضرورت دی. نو د دې حقيقي ضرورت پر بناء به مجاهد هغه استعمالوي او بيرته به يې په غنيمت کې ږدي.

والدابة مثل السلاح إلخ: فرمايي چې په پورتنی مسئله کې چې د وسلې کوم حکم ذکر سو هغه حکم د سپارلی (سورلی) هم دی. يعني په هغه کې به هم د حقيقي ضرورت اعتبار کيږي. او مخکې چې کوم د "طَعَام" لفظ ذکر سو. له هغه څخه بوږی، غوښې او هغه شيان مراد دي چې د غوښو او د کتغ (سالن) په تيارولو کې استعماليږي، لکه غوړي، مساله، تېل او داسې نور.

د دار الحرب د مباح (روا) شيانو بيان

قَالَ: وَيَسْتَعْمِلُوا الْحَطَبَ فرمايي: او مجاهدين لرګي ا د سوځولو بوټي ا استعمالولای سي وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ الطِّيْبَ او په ځيني نسخو کې ا ذکر سوي ا دي: چې خوشبويي ا استعمالولای سي ا وَيُدْهِنُوا بِالدُّهْنِ وَيُوقِحُوا بِهِ الدَّابَّةَ او تېل اروغن پر خپلو ځانوا لګولای سي ايعني ځان په مالش کولای

سي او د څاروي [سپارلی] پر پښو یې مړلای سي لِمَسَاسِ الْحَاجَةِ إِلَى جَمِيعِ ذٰلِكَ ځکه چي دغه ټولو شیانو ته ضرورت پېښیږي وَيُقَاتِلُوا بِمَا يَجِدُونَهُ مِنَ السِّلَاحِ او [د کفارو] کومه وسله چي مجاهدین پیدا کړي په هغه سره جنګ هم کولای سي كُلُّ ذٰلِكَ بِلَا قِسْمَةٍ [او] دا ټوله شیان له تقسیم څخه بغیر روا دي وَتَأْوِيلُهُ: إِذَا احْتَاجَ إِلَيْهِ او د دې تأویل دا دی: چي کله مجاهد د دې استعمالولو ته محتاج سي بِأَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ سِلَاحٌ په دې توګه چي د هغه سره وسله نه وي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او [مخکي] موږ د دې بیان وکړی وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعُوا مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ او جائز نه دي چي مجاهدین له دې [مال غنیمت] څخه یو شی خرڅ کړي او نه دي یې ذخیره کوي لِأَنَّ الْبَيْعَ يَتَرَتَّبُ عَلَى الْمِلْكِ ځکه چي بیع پر ملکیت مرتب کیږي وَلَا مِلْكَ او دلته ملکیت نسته عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه مخکي چي موږ دا [خبره] ذکر کړه وَإِنَّمَا هُوَ إِبَاحَةٌ او دا خو إباحت دی وَصَارَ كَالْمُبَاحِ لَهُ الطَّعَامُ او داسي سو لکه د یو چا لپاره چي طعام مباح کړی سوی وي وَقَوْلُهُ وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُمْ لَا يَبِيعُونَهُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْعُرُوضِ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "ولا يتموّلونه" ودې طرف ته اشاره ده چي هغوی به د سرو او سپینو زرو او د سامان په عوض کي د غنیمت مال نه خرڅوي لِأَنَّهُ لَا ضَرُورَةَ إِلَى ذٰلِكَ ځکه چي دې ته ضرورت نسته فَإِنْ بَاعَهُ أَحَدُهُمْ رَدَّ الثَّمَنَ إِلَى الْغَنِيمَةِ او که چیري یو مجاهد هغه خرڅ کړي نو مجاهد به د هغه قیمت د غنیمت مال ته واپس کوي لِأَنَّهُ بَدَلُ عَيْنٍ كَانَتْ لِلْجَمَاعَةِ ځکه چي هغه د داسي عین بدل دی کوم چي د ټوله جماعت [مجاهدینو] لپاره دی أَمَّا الثِّيَابُ وَالْمَتَاعُ فَيُكْرَهُ الِانْتِفَاعُ بِهَا قَبْلَ الْقِسْمَةِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ کوم چي جامې او سامان دی نو تر تقسیم مخکي له هغوی څخه بېله ضرورته فایده اخیستل مکروه دي لِلِاشْتِرَاكِ ځکه چي [په هغوی کي د مجاهدینو] شرکت دی إِلَّا أَنَّهُ يُقَسِّمُ الْإِمَامُ بَيْنَهُمْ فِي دَارِ الْحَرْبِ إِذَا احْتَاجُوا إِلَى الثِّيَابِ وَالدَّوَابِّ وَالْمَتَاعِ لیکن کله چي مجاهدین جامو، سپارلیو او سامان ته مجبوره سي نو امام په دارُ الحرب کي دا شیان د دوی په مینځ کي تقسیمولای سي لِأَنَّ الْمُحَرَّمَ يُسْتَبَاحُ لِلضَّرُورَةِ ځکه [کله] چي د ضرورت په وجه حرام شی مباح ګرځي فَالْمَكْرُوهُ أَوْلَى نو مکروه شی خو به په درجه اولیٰ مباح ګرځي وَهٰذَا لِأَنَّ

حَقِّ الْمَدَدِ مُحْتَمَلٌ او دا حکم په دې وجه دی چې د دې شیانو د مدد حق احتمالي دی وَحَاجَةُ هٰؤُلَاءِ مُتَيَقَّنٌ بِهَا او دې شیانو ته د مجاهدینو حاجت یقیني دی فَكَانَ أَوْلٰى بِالرِّعَايَةِ نو د ایقیني ا حاجت رعایت کول به غوره وي وَلَمْ يَذْكُرِ الْقِسْمَةَ فِي السِّلَاحِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په وسله کې د تقسیم یادونه کړې نه ده وَلَا فَرْقَ فِي الْحَقِيقَةِ او په حقیقت کې اد وسلې او جامې په مینځ کې ا هیڅ فرق نشته فَإِنَّهُ إِذَا احْتَاجَ وَاحِدٌ ځکه که چیرې یو مجاهد وسلې ته مجبوره شي يُبَاحُ لَهُ الِانْتِفَاعُ فِي الْفَصْلَيْنِ نو هغه ته په دواړو صورتونو کې ایعني له جامې او وسلې دواړو څخه ا نفع اخیستل روا کیږي وَإِنِ احْتَاجَ الْكُلُّ يُقَسِّمُ فِي الْفَصْلَيْنِ او که ټوله مجاهدین دې ته مجبوره شي نو امام جامه او وسله دواړه د دوی په مینځ کې تقسیمولای شي بِخِلَافِ مَا إِذَا احْتَاجُوا إِلَى السَّبْيِ په خلاف د هغه صورت کله چې مجاهدین قید کړل سوو ښځو ته محتاج شي حَيْثُ لَا يُقَسِّمُ نو امام به اهغه د دوی په مینځ کې ا نه تقسیموي لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَيْهِ فِي فُضُولِ الْحَوَائِجِ ځکه چې د دې حاجت له اضافي حاجاتو څخه دی ایعني له حوائج اصلیه وو څخه نه دی ا.

اللغات: ﴿حطب﴾ لرګي. د سوځولو بوټي او لرګي. ﴿دُهن﴾ روغن. تېل. ﴿یوقحوا﴾ د افعال مضارع ده: مراد ځنې د څاروي پر پښو او ښونګرو تېل مږل (مالش کول) دي. ﴿لا یتموّلونه﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صیغه ده: د ځان لپاره ذخیره کول. جمع کول. ﴿یُستباح﴾ د استفعال له باب څخه د مضارع مجهول صیغه ده: مباح ګرځول (روا ګرځول). ﴿سَبْي﴾ قیدي. مراد ځنې قیدي کړی سوې ښځه ده کوم چې د مینځې جوړولو قابل وي.

تشريح: **صورت دمسئلې**: دا دی که مجاهدین مجبوره سي نو په دار الحرب کې د غنیمت تر تقسیم مخکې هلته (د کفارو) لرګي. بوټي. تېل او خوشبویي استعمالولای سي. همدارنګه د هغه ځای (د کفارو) په وسله سره قتال هم کولای سي په دې شرط که د مجاهدینو سره وسله نه وي او دوی وسلې ته مجبوره وي. دلته دا خبره تاسي په یاد لرئ! چې په عبارت کې د "کل ذٰلک بلا قسمة" تعلق د طعام. علف. ثیاب او د داسې نورو ټولو سره دی لېکن د "وتأویله" تعلق فقط د "ویقاتلو بما یجدونه من السلاح" سره دی لکه څرنګه چې په پورتني عبارت کې په دې هکله پوره بحث سوی دی. (بنایة ج:۶. ص:۵۷۶)

ولايجوز إلخ: مسئله دا ده چي د غنيمت مال د سرو زرو او سپينو زرو په عوض کي خرڅول جائز نه دي او نه د يو بل سامان په عوض کي د هغه خرڅول جائز دي او نه د هغه ذخيره کول جائز دي: ځکه چي د بيع او تمول لپاره ملکيت ضروري دي، حال دا چي په دار الحرب کي قبل الإحراز والقسمة د مجاهدينو ملکيت معدوم دی، او کله چي ملکيت معدوم دی نو ښکاره خبره ده چي بيع به هم صحيح نه وي. پاته عبارت واضح دی.

وأما الثياب والمتاع إلخ: د دې حاصل دا دی چي د غازيانو لپاره بلا ضرورته د غنيمت له مال څخه جامې او داسي نور سامان استعمالول مکروه دي. ځکه چي دا ټوله مشترک مال دی او په دې کي د ټولو حق ستنه. او که چيري ټوله مجاهدين د جامو او سامان استعمالولو ته مجبوره سي نو امام د دوی په مينځ کي دا شيان تقسيمولای سي. ځکه ضرورت چي کله حرام شی مباح ګرځوي نو مکروه شی خو به په درجه اولیٰ مباح ګرځوي. دويمه خبره دا ده چي غازيان اوس دغه شيانو ته محتاجه دي او حاجت او ضرورت متيقن دی، او له دار الاسلام څخه د دې شيانو راغوښتل او بيا د هغوی را رسېدل محتمل دي (يعني په دې خبره کي احتمال دی چي د دار الأسلام له طرفه به دا شيان را واستول سي او بيا به هغه را ورسېدل سي). او د متقين مخته محتمل هيڅ حيثيت نه لري. لهذا پر متيقن يعني پر حقيقي ضرورت به عمل کيږي او دا شيان به په دار الحرب کي دننه مجاهدينو ته ورکول کيږي.

ولم يذكر القسمة إلخ: فرمايي چي امام محمد رَحِمَهُ الله په سير صغير کي د وسلې (اسلحې) په هکله دا نه دي ليکلي چي آيا د ضرورت په وخت کي هغه تقسيمول کېدای سي. که نه؟ لېکن حقيقت دا دی چي که مجاهد دې ته مجبوره سي نو له جامې او وسلې دواړو څخه فايده اخيستلای سي (يعني هغه ته له دواړو څخه فايده اخيستل جائز دي). او که ټوله مجاهدين دې ته مجبوره سي. نو امام د جامې په څير وسله هم د دوی په مينځ کي تقسيمولای سي (ځکه چي له دې دواړو څخه فايده اخيستل په حاجت اصليه کي داخل دي).

بخلاف ما إذا احتاجوا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د مجاهدينو له طرفه قيد کړل سوو ښځو ته د مجاهدينو ضرورت پيدا سي چي جماع ور سره وکړي. نو امام به هغه تر إحراز مخکي په مجاهدينو کي نه تقسيموي. ځکه چي قبل الإحراز په دې ښځو کي ملکيت معدوم دی. او بل دا چي جامه او وسله خو په حاجت اصليه کي داخل دي. او د ښځي سره جماع کول په حاجت اصليه کي داخل نه دي. نو ځکه به قبل الإحراز هغه د مجاهدينو په مينځ کي نه تقسيموي.

د دار الحرب مسلمانان

قَالَ: وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ فرمايي: او څوک چي له کفارو څخه اسلام راوړي مَعْنَاهُ فِي دَارِ الْحَرْبِ يعني په دارُ الحرب کي [اسلام راوړي] أَحْرَزَ بِإِسْلَامِهِ نَفْسَهُ نو هغه په اسلام راوړلو سره خپل ځان محفوظ کړی لِأَنَّ الْإِسْلَامَ يُنَافِي ابْتِدَاءَ الِاسْتِرْقَاقِ ځکه چي اسلام د غلام جوړولو [او د غلام جوړېدلو] منافي دی وَأَوْلَادَهُ الصِّغَارَ او هغه خپل کوچني [نابالغه] بچيان هم محفوظ کړل لِأَنَّهُمْ مُسْلِمُونَ بِإِسْلَامِهِ تَبَعًا ځکه چي کوچني بچيان د تابع په توګه د پلار په اسلام سره مسلمانان دي [يعني دوی د خپل پلار تابع کيږي او د هغه په اسلام راوړلو سره وجه مسلمانان شمارل کيږي] وَكُلَّ مَالٍ هُوَ فِي يَدِهِ او هغه [په خپل اسلام راوړلو] هر هغه مال هم محفوظ کړی کوم چي د هغه په قبضه کي دی لِقَوْلِهِ الْعَلِيّٰ [1]: مَنْ أَسْلَمَ عَلَى مَالٍ فَهُوَ لَهُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: کوم څوک چي په داسي حال کي اسلام راوړي چي د ده سره مال وي نو هغه مال به د ده وي وَلِأَنَّهُ سَبَقَتْ يَدُهُ الْحَقِيقِيَّةُ إِلَيْهِ يَدَ الظَّاهِرِينَ عَلَيْهِ او ځکه چي پر هغه مال د مجاهدينو له قبضې راتللو څخه مخکي د ده قبضه باقي ده أَوْ وَدِيعَةً فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ او هغه [په خپل اسلام راوړلو سره] خپل هغه مال هم محفوظ کړی کوم چي د يو مسلمان يا ذمي په قبضه کي د امانت په توګه [پروت] وي لِأَنَّهُ فِي يَدٍ صَحِيحَةٍ مُحْتَرَمَةٍ ځکه چي هغه [هم] په صحيح او محترمه قبضه کي دی وَيَدُهُ كَيَدِهِ او د مودَع قبضه د هغه انوي مسلمان] د قبضې په څير ده فَإِنْ ظَهَرْنَا عَلَى دَارِ الْحَرْبِ فَعَقَارُهُ فَيْءٌ او که چيري موږ [مسلمانان] پر دارُ الحرب غالب سو نو د هغه [نوي مسلمان] جايداد به "فئ" وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: هُوَ لَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه به [هم] د ده وي لِأَنَّهُ فِي يَدِهِ ځکه چي هغه [جايداد] د ده په قبضه کي دی فَصَارَ كَالْمَنْقُولِ نو هغه د منقول مال په څير سو وَلَنَا أَنَّ الْعَقَارَ فِي يَدِ أَهْلِ الدَّارِ وَسُلْطَانُهَا زموږ دليل دا دی چي جايداد د حربيانو او د هغوی د باچا په قبضه کي دی إِذَا هُوَ مِنْ جُمْلَةِ دَارِ الْحَرْبِ ځکه چي جايداد [هم] د دارُ الحرب له جملې څخه دی فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهِ حَقِيقَةً لهذا هغه حقيقتاً د ده په قبضه

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، رقم الحديث: ١٨٢٥.

کي نه دی وَقِيلَ: هٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ الْآخِرُ او ويل سوي دي: چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دی وَفِي قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ الْأَوَّلُ هُوَ كَغَيْرِهِ مِنَ الْأَمْوَالِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په اول قول کي جايداد هم د هغه انوي مسلمان ا د نورو منقوله أموالو په شير دی بِنَاءً عَلَى أَنَّ الْيَدَ حَقِيقَةً لَا تَثْبُتُ عَلَى الْعَقَارِ عِنْدَهُمَا وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَثْبُتُ دا اختلاف پر دې [قاعده] مبني دی چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په جايداد کي حقيقي قبضه نه ثابتيږي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز ثابتيږي وَزَوْجَتُهُ فَيْءٌ او د هغه انوي مسلمان ا ښځه به [هم] فئ وي لِأَنَّهَا كَافِرَةٌ حَرْبِيَّةٌ لَا تَتْبَعُهُ فِي الْإِسْلَامِ ځکه چي هغه حربيه کافره ده او په اسلام کي د خپل خاوند تابعداري نه کوي وَكَذَا حَمْلُهَا فَيْءٌ او همدارنګه د هغې حمل به [هم] فئ وي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ هُوَ يَقُولُ: إِنَّهُ مُسْلِمٌ تَبَعًا په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله. هغه فرمايي: چي حمل [د مور] په متابعت کي مسلمان دی كَالْمُنْفَصِلِ لکه جلا سوی بچی ايعني لکه هغه حمل (بچی) چي د متابعت په توګه مسلمان شمارل کيږي کوم چي پيدا سوی وي] وَلَنَا: أَنَّهُ جُزْؤُهَا زموږ دليل دا دی: چي حمل د خپل مور جزء دی فَيَرِقُّ بِرِقِّهَا لهذا د مور د رقيت [غلامتوب] په وجه به هغه هم غلام کيږي وَالْمُسْلِمُ مَحَلٌّ لِلتَّمَلُّكِ تَبَعًا لِغَيْرِهِ او مسلمان د بل چا د تابع په توګه د ملکيت محل ګرځي بِخِلَافِ الْمُنْفَصِلِ لِأَنَّهُ حُرٌّ په خلاف د منفصل. ځکه چي هغه آزاد وي لِانْعِدَامِ الْجُزْئِيَّةِ عِنْدَ ذٰلِكَ ځکه چي د انفصال په وخت کي جزئيت معدوم وي وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَيْءٌ او د هغه انوي مسلمان ا غټ [بالغ] بچيان به [هم] فئ وي لِأَنَّهُمْ كُفَّارٌ حَرْبِيُّونَ ځکه چي هغوی ټوله حربي کافران دي وَلَا تَبَعِيَّةَ او تبعيت معدوم دی وَمَنْ قَاتَلَ مِنْ عَبِيدِهِ فَيْءٌ او د هغه انوي مسلمان ا له غلامانو څخه چي کوم غلام قتال وکړي. هغه به [هم] فئ وي لِأَنَّهُ لَمَّا تَمَرَّدَ عَلَى مَوْلَاهُ ځکه کله چي هغه غلام خپل پر مالک سرکښي وکړه خَرَجَ مِنْ يَدِهِ فَصَارَ تَبَعًا لِأَهْلِ دَارِهِمْ نو د مالک له قبضې څخه ووتی او د حربيانو تابع سو وَمَا كَانَ مِنْ مَالِهِ فِي يَدِ حَرْبِيٍّ فَهُوَ فَيْءٌ او د هغه انوي مسلمان ا کوم مال چي د يو حربي په قبضه کي وي. هغه به [هم] فئ وي غَصْبًا كَانَ أَوْ وَدِيعَةً برابره ده د غصب په توګه ا د حربي په قبضه

کي اوي يا د امانت په توګه لِأَنَّ يَدَهُ لَيْسَتْ بِمُحْتَرَمَةٍ ځکه چي د حربي قبضه محترمه نه ده.

اللغات: ﴿أحرز﴾ د افعال ماضي ده: محفوظه کول، خوندي کول. ﴿استرقاق﴾ د استفعال مصدر دی: غلام جوړول. ﴿ظاهرين﴾ جمع د ظاهِر ده: مراد ځني غلبه کونکي (فاتحين) دي. ﴿يد﴾ لاس. مراد ځني قبضه ده. ﴿فيء﴾ غنيمت. ﴿منفصل﴾ جلا کېدونکی. مراد ځني پيدا سوي بچي دي (ځکه چي هغه له خپل مور څخه را جلا سي). ﴿تمرّد﴾ د تفعّل ماضي ده: سرکښي کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د دارُ الحرب تر فتح کولو وروسته له کفارو څخه يو څوک مسلمان سي نو د اسلام په وجه به د هغه ځان هم له قتل او مملوک کېدلو (غلام کېدلو) څخه ساتل کيږي او د هغه نابالغه أولاد به هم ساتل کيږي او د هغه مال به هم محفوظه کيږي برابره ده مال د ده په قبضه کي وي يا د يو مسلمان او ذمي سره د امانت په توګه پروت وي؛ د هغه د ځان محفوظه کولو دليل دا دی چي اسلام ابتداءً يو څوک د بل چا مملوک نه جوړوي، ځکه چي د مسلمانېدلو په وجه بنده د الله تعالیٰ کامل مملوک وي لهذا په هغه کي به د بنده ملکيت نه داخليږي. هاں! اسلام د بقاءً مملوک کېدلو منافي نه دی. او څرنګه چي د "الولد يتبع خير الأبوين دينًا" په وجه نابالغه أولاد د خپل پلار تابع کيږي، نو ځکه به د دې نوي مسلمان سړي په متابعت کي نابالغه أولاد د هغه تابع کيږي او هغه به هم مسلمانان وي او له قتل او مملوک کېدلو څخه به ساتل کيږي. پاته عبارت واضح دی.

فإن ظهرنا إلخ: د دې حاصل دا دی که چيري غازيان او مجاهدين پر دارُ الحرب غالب سي نو د دې نوي مسلمان عقار (جايداد) به "فيء" وي. يعني د غنيمت په مال کي به داخليږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به عقار د هغه (نوي مسلمان وي) او "فيء" به نه وي. وبهٖ قال مالک وأحمد (بنايه). د امام شافعي دليل دا دی چي هغه پر دغه عقار قابض دی. لهذا څرنګه چي هغه د خپل منقوله جايداد مالک دی همداسي به د غير منقوله جايد (عقار) هم مالک وي. زموږ دليل دا دی چي پر عقار د هغه قبضه نه ده، ځکه چي پر عقار خو د اهلُ الحرب او د حرب د باچا قبضه وي او دا عقار له دارُ الحرب څخه شمارل کيږي او څرنګه چي دارُ الحرب فيء دی. لهذا عقار (غير منقوله جايداد) به هم فيء وي.

وقيل: هذا إلخ: ځيني حضرات فرمايي چي د دغه نوي مسلمان عقار "فيء" ګرځول له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دی. او عقار د نوي مسلمان مملوک ګرځول د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول وو. او دا اختلاف په حقيقت کي پر دې أصل مبني دي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر عِقار حقيقي قبضه نه ثابتيږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر عقار هم حقيقي قبضه ثابتيږي.

وزوجته إلخ: فرمايي چې د دغه نوي مسلمان ښځه به هم فئ وي او که چیرې هغه حامله وي نو زموږ په نیز به د هغې حمل هم فئ وي. لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز به د هغې حمل فئ نه وي. بلکې څرنګه چې نابالغه بچی د پلار تابع کیږي او مسلمان شمارل کیږي، همداسې به حمل هم د پلار تابع کیږي او مسلمان به وي. زموږ دلیل دا دی چې حمل د مور تابع دی او د هغې جزء دی او څرنګه مور رقیقه (تر غلامي لاندې) ده. لهذا حمل به هم رقیق وي. او که موږ د امام شافعي رَحِمَهُ الله په څیر حمل د خپل پلار تابع وګرځوو او مسلمان یې ومنو نو بیا به هم رقیق وي، ځکه چې د بل چا په متابعت کې مسلمان مملوک او رقیق جوړیدای سي. د دې مثال دا دی لکه یو مسلمان چې د بل چا د مینځې سره نکاح وکړي نو که څه هم له دې نکاح څخه پیدا سوی بچی به د پلار په متابعت کې مسلمان وي لیکن د مور په وجه به هغه رقیق وي، همداسې به دا حمل هم د مور په وجه رقیق او فئ وي. ها! که چیرې حمل پیدا سوی وي او له مور څخه جلا سوی وي. نو اوس به هغه آزاد وي، فئ به نه وي، ځکه چې تر انفصال وروسته جزئیت ختم سو.

او د دې نوي مسلمان بالغ أولاد به فئ وي، ځکه چې هغوی ټوله حربي کافران دي، او د غټوالي او بالغوالي په وجه د هغو په حق کې تبعیت معدوم دی، او هغوی د خپل مسلمان پلار اتباع هم کړې نه ده (او اسلام یې نه دی راوړی). همدارنګه که د دې نوي مسلمان سړي یو غلام د مسلمانانو سره قتال وکړي نو هغه به هم فئ وي، ځکه چې دا غلام د خپل مالک د نافرمانۍ کولو په وجه د هغه له قبضې څخه ووتی او د أهلُ الحرب تابع سو. او څرنګه چې د دارُ الحرب کفار فئ دي، لهذا دا غلام به هم فئ وي. همدارنګه که د دې نوي مسلمان مال د یو حربي کافر په قبضه کې وي نو هغه به هم فئ وي، برابره ده هغه مال حربي غصب کړی وي یا حربي ته د امانت په توګه پروت وي، ځکه چې د حربي قبضه د حفاظت او احترام قابله نه ده. او د هغه قبضه د مسلمانانو د قبضې په څیر نه ده چې د هغه په وجه دې د حربي سره موجود مال محفوظ او محترم سي.

د نوي مسلمان د مغصوب مال حکم

وَمَا كَانَ غَصْبًا فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ او [د هغه نوي مسلمان] کوم مال چې د غصب په توګه د یو مسلمان یا ذمي په قبضه کې وي فَهُوَ فَيْءٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز فئ دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ✿: لَا يَكُونُ فَيْئًا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې هغه به فئ نه وي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: كَذَا ذَكَرَ الِاخْتِلَافُ فِي السِّيَرِ الْكَبِيرِ ناتوانه بنده وايي: چې امام محمد رَحِمَهُ الله په سیر کبیر کې هم داسې اختلاف بیان کړی دی وَذَكَرُوا فِي شُرُوحِ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ قَوْلَ أَبِي يُوسُفَ مَعَ مُحَمَّدٍ او شارحینو د جامع صغیر په شرح کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول د امام محمد رَحِمَهُ الله سره ذکر کړی دی لَهُمَا: أَنَّ

✿ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٥٥). [القول الراجح ج:١، ص:٢٨٢]

الْمَالَ تَابِعٌ لِلنَّفْسِ د صاحبينو دليل دا دى: چي مال د نفس تابع وي وَقَدْ صَارَتْ مَعْصُومَةً بِإِسْلَامِهِ او د اسلام راوړلو په وجه نفس معصوم سو فَيَتْبَعُهَا مَالُهُ فِيهَا لهذا مال به په معصوموالي كي د نفس تابع وي وَلَهُ: أَنَّهُ مَالٌ مُبَاحٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي دا يو مباح مال دى فَيُمْلَكُ بِالِاسْتِيلَاءِ نو په قبضه كولو سره به هغه مملوک جوړيږي وَالنَّفْسُ لَمْ تَصِرْ مَعْصُومَةً بِالْإِسْلَامِ او د اسلام راوړلو په وجه نفس معصوم نه سو أَلَا تَرَى أَنَّهَا لَيْسَتْ بِمُتَقَوِّمَةٍ آيا ته نه ګورې! چي نفس متقوّم نه دى إِلَّا أَنَّهُ مُحَرَّمُ التَّعَرُّضِ فِي الْأَصْلِ ليكن أصلاً پر هغه تعرّض [او تجاوز] كول حرام دي لِكَوْنِهِ مُكَلَّفًا ځكه چي هغه مكلف دى وَإِبَاحَةُ التَّعَرُّضِ بِعَارِضِ شَرِّهِ او تعرض كول د هغه د شرّ د عارض په وجه مباح وو وَقَدِ انْدَفَعَ بِالْإِسْلَامِ او [اوس] د اسلام په وجه د هغه شرّ ليري سو بِخِلَافِ الْمَالِ لِأَنَّهُ خُلِقَ عُرْضَةً لِلِامْتِهَانِ ځكه چي هغه [فقط] د خرچ كولو [خرچولو] لپاره پيدا سوى دى فَكَانَ مَحَلًّا لِلتَّمَلُّكِ نو ځكه به هغه د تملک محل وي وَلَيْسَتْ فِي يَدِهِ حُكْمًا او حكما [هم] دا مال د هغه [نوي مسلمان] په قبضه كي نه دى فَلَمْ تَثْبُتِ الْعِصْمَةُ لهذا [په دې مال كي] عصمت ثابت نه سو.

اللغات: ﴿فیء﴾ د غنيمت مال. ﴿معصومة﴾ محفوظ. ﴿استيلاء﴾ قبضه. غلبه. ﴿التعرّض﴾ د تفعّل مصدر دى: په يو شي پسې كېدل. طلب كول. كار په لرل. ﴿عُرضة﴾ هدف. نښانه. ﴿امتهان﴾ د افتعال مصدر دى: له يو شي څخه خدمت اخيستل (په يو كار كي مصرفول). مراد ځني د مال مصرفول او خرچول دي. ﴿التملک﴾ د تفعّل مصدر دى: د يو شي مالک كېدل. مالک جوړېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دې كه چيري د يو نوي مسلمان كس مال بل مسلمان غصب كړى وي يا يو ذمي غصب كړى وى او مال د غاصب په قبضه كي وي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به هغه "فئ" وي. ليكن د صاحبينو په نېز به "فئ" نه وي. بلكي د خپل مالک (صاحبُ المال) به وي.

د صاحبينو دليل: دا دى چي د انسان مال د هغه د نفس تابع كيږي او د اسلام راوړلو په وجه د نوي مسلمان نفس معصوم او محفوظه سو. لهذا د هغه مال به هم محفوظه كيږي او فئ به نه وي.

د امام صاحب دليل: دا دى چي مال په اصل كي مباح وي او څوک چي پر هغه قبضه او غلبه وكړي مال د هغه په ملكيت كي شمارل كيږي. نو ځكه اوس پر دغه مال د غاصب قبضه ده او دا مال د نوي مسلمان له قبضې څخه خارج دى. لهذا دا به د هغه نه وي بلكي فئ به وي. او پاته سو د نفس معصوم

شمارل او مال د هغه تابع او معصوم گرځول نو دا خبره موږ نه تسليموو. ځکه چي زموږ په نېز نفس د دومره درجې معصوم او محفوظ نه دی چي په بل شي کي عصمت (حفاظت) ثابت کړي. ځکه چي د دومره درجې عصمت په دارُ الاسلام سره ثابتيږي او دا مسئله د دارُ الحرب ده (يعني دغه نوي مسلمان په دارُ الحرب کي دننه اسلام راوړی دی) همدا وجه ده چي د دې نوي مسلمان نفس متقوّم نه دی او که يو مسلمان هغه قصداً يا خطاءً قتل کړي نو د هغه پر قاتل قصاص يا ديت نسته. خو څرنګه چي په نفسُ الأمر کي پر هغه تعرّض او تجاوز کول حرام دی ځکه چي هغه په احکامو مکلّف دی او له عصمت څخه بغير پر احکامو عمل کول ناممکن دي. لهذا په دې درجه کي موږ هغه معصوم منلی دی. او پر هغه تعرّض کول او د هغه قتلول په دې وجه مباح وو چي د هغه شر يعني کفر او حرب دفع سي. لېکن کله چي هغه اسلام راوړی نو دا إباحت هم ساقط سو او له تعرّض څخه د هغه نفس پاک سو.

د دې په خلاف د مال مسئله ده. نو مال خو فقط د خرچولو او صرفولو لپاره پيدا سوي دی. لهذا مال به په ملکيت کي د راتللو قابل وي. او څرنګه چي دا مال د صاحبُ المال يعني د نوي مسلمان په قبضه کي نه دی. بلکي د غاصب په قبضه کي دی او د هغه په حق کي د غاصب قبضه معتبره نه ده. لهذا په دې مال کي به معمولي غوندي عصمت هم نه ثابتيږي او هغه به فئ وي.

له دارُ الحرب څخه دباندي د غنيمت مال استعمالول

وَإِذَا خَرَجَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ او کله چي مسلمانان له دارُ الحرب څخه ووځي لَمْ يَجُزْ أَنْ يَعْلِفُوا مِنَ الْغَنِيمَةِ وَلَا يَأْكُلُوا مِنْهَا نو د دوی لپاره جائز نه دي چي د غنيمت له مال څخه خپلو څارويو ته وابنه [خوراکه] ورکړي. او نه دي [په خپله] د غنيمت له مال څخه خوراک کوي لِأَنَّ الضَّرُورَةَ قَدِ ارْتَفَعَتْ ځکه چي ضرورت ختم سو وَالْإِبَاحَةُ بِاعْتِبَارِهَا او اباحت [روايبنت] د ضرورت په اعتبار سره ثابت وو وَلِأَنَّ الْحَقَّ قَدْ تَأَكَّدَ او ځکه چي [د مجاهدينو] حق مضبوط [او مستحکم] سو حَتَّى يُوَرَّثَ نَصِيبُهُ همدا وجه ده [که اوس يو مجاهد مړ سي نو] د هغه حصه ميراث گرځي [او وارثانو ته به ورکول کيږي] وَلَا كَذٰلِكَ قَبْلَ الْإِخْرَاجِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ او [له دارُ الحرب څخه] دارُ الاسلام ته تر راوتلو مخکي حکم دا نه دی وَمَنْ فَضَلَ مَعَهُ عَلَفٌ أَوْ طَعَامٌ او د کوم کس [مجاهد] سره چي د څارويو وابنه يا خوراک اضافه پاته سي رَدَّهُ إِلَى الْغَنِيمَةِ نو هغه دي غنيمت ته واپس کړي [يعني

هغه دي د غنيمت په مال کي واپس کښيږدي ا مَعْنَاهُ: إِذَا لَمْ تُقْسَمْ د دې مطلب دا دی: چي کله غنيمت تقسيم سوی نه وي وَعَنِ الشَّافِعِيِّ مِثْلُ قَوْلِنَا او له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه زموږ د قول په څير روايت سوی دی وَعَنْهُ: أَنَّهُ لَا يَرُدُّ او له هغه څخه ادويم قول ا دا روايت سوی دی: چي امجاهد به پاته سوې خوراکه غنيمت ته ا نه واپس کوي اعْتِبَارًا بِالْمُتَلَصِّصِ پر غله باندي په قياس کولو سره وَلَنَا: أَنَّ الِاخْتِصَاصَ ضَرُورَةُ الْحَاجَةِ زموږ دليل دا دی: چي اختصاص د حاجت په وجه دی وَقَدْ زَالَتْ او حاجت ختم سو بِخِلَافِ الْمُتَلَصِّصِ په خلاف د غله لِأَنَّهُ كَانَ أَحَقَّ بِهِ قَبْلَ الْإِحْرَازِ ځکه چي هغه تر إحراز مخکي د دې حقداره وو فَكَذَا بَعْدَهُ لهذا تر إحراز وروسته به هم ا هغه د دې ا حقداره وي وَبَعْدَ الْقِسْمَةِ تَصَدَّقُوا بِهِ إِنْ كَانُوا أَغْنِيَاءَ او تر تقسيم وروسته که مجاهدين مالداره وي نو هغه [پاته سوې خوراکه] دي صدقه کړي وَانْتَفَعُوا بِهِ إِنْ كَانُوا مَحَاوِيجَ او که محتاجه وي نو ا په خپله ا دي له هغه څخه نفع واخلي لِأَنَّهُ صَارَ فِي حُكْمِ اللُّقَطَةِ ځکه چي هغه د لقطې په حکم کي سو لِتَعَذُّرِ الرَّدِّ عَلَى الْغَانِمِينَ ځکه چي پر مجاهدينو واپس کولو مشکل دي وَإِنْ كَانُوا انْتَفَعُوا بِهِ بَعْدَ الْإِحْرَازِ او که په دارُ الاسلام کي تر جمع کولو [او راوړلو] وروسته مجاهدينو له هغه څخه نفع اخيستې وي تُرَدُّ قِيمَتُهُ إِلَى الْمَغْنَمِ إِنْ كَانَ لَمْ يُقَسَّمْ نو د هغه قيمت به د غنيمت مال ته واپس کيږي که چيري د غنيمت مال تقسيم سوی نه وي وَإِنْ قُسِّمَتِ الْغَنِيمَةُ او که غنيمت تقسيم وی وي فَالْغَنِيُّ يَتَصَدَّقُ بِقِيمَتِهِ نو مالدار مجاهد به د هغه قيمت صدقه کوي وَالْفَقِيرُ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ او پر غريب مجاهد هيڅ شی نسته لِقِيَامِ الْقِيمَةِ مَقَامَ الْأَصْلِ ځکه چي قيمت د أصل قائم مقام دی فَأَخَذَ حُكْمَهُ نو قيمت د أصل حکم واخيستی ا يعني د قيمت حکم د أصل د حکم په څير سو ا.

اللغات: ﴿يعلفوا﴾ د ضرب مضارع ده: څاروي ته واښه ورکول، خوراکه ورکول. ﴿تأكّد﴾ د تفعّل ماضي ده: مضبوطېدل، پخېدل (ټينګېدل). ﴿فَضَلَ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي صيغه ده: باقي پاتېدل، اضافه کېدل، زياتېدل. ﴿متلصّص﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: غل. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول، ذخيره کول، جمع کول. ﴿محاويج﴾ دا جمع د مُحْوِجٌ ده کوم چي د افعال د باب

اسمِ فاعل دی. په اصل کې د دې جمع مُحْوِجُوْن راځي خو عرب يې "محاويج". استعمالوي لکه مفاطير او مفاليس. د مُحْوِجٌ معنیٰ ده: محتاج، غريب. (مصباح المنير). ﴿لقطة﴾ په لاره کې لوېدلی مال، په لاره کې غورځول سوی مال (هغه مال او سامان کوم چې په لاره کې پروت وي او مالک يې معلوم نه وي، که يو څوک لقطه پيدا کړي، نو د هغه حکم دا دی چې که پيدا کونکی مالدار وي، نو لقطه دې صدقه کړي، او که غريب وي، نو هغه دي په خپله استعمال کړي).

تشريح : صورت د مسئلې: دا دی چې د مجاهدينو لپاره د غنيمت له مال څخه د مطعوماتو او داسې نورو د استعمالولو اجازه په دارُ الحرب کې دننه سته، لېکن له دارُ الحرب څخه تر وتلو وروسته د دوی لپاره د غنيمت له مال څخه نه خپلو څارويو ته د واښه او خوراکه ورکولو اجازه سته او نه يې په خپله د خوړلو اجازه سته؛ ځکه چې دا اباحت او اجازه د ضرورت پر بناء ثابته وه، او ضرورت ختم سو، نو ځکه به اوس د دې استعمال اجازه نه وي. او بل دا چې د إحراز په وجه په دې غنيمت کې د مسلمانانو حق پوخ او مؤکّد سو او په دې کې اشتراک مضبوط سو، او که چيرې اوس يو مجاهد مړ سي نو د هغه حصه ميراث ګرځي، لهذا اوس خو به د دې استعمال بيخي صحيح نه وي. ها! څرنګه چې په دارُ الاسلام کې تر إحراز مخکې (يعني په دارُ الحرب کې دننه) حق او اشتراک دومره پوخ او مضبوط نه وي او هلته ضرورت او حاجت هم وي، نو ځکه به په هغه حالت کې د غنيمت له مال څخه د ضرورت شيان استعمالول مباح وي.

ومن فضل معه إلخ: فرمايي که چيرې په دارُ الحرب کې د غنيمت مال تقسيم سوی نه وی او مجاهدينو د خپل ځان يا د خپلو څارويو لپاره د خوراک څه شيان ساتلي وي او هغه تر اوسه پاته وي، نو هغوی ته پکار دي چې له دارُ الحرب څخه د وتلو په وخت کې هغه شيان د غنيمت په مال کې واپس کښېږدي، دا حکم زموږ په نېز دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې سلسله کې دوه قوله دي: ① يو قول يې زموږ د قول په څېر دی، ② دويم قول يې دا دی چې هغه دي نه واپس کوي، دا قول د غله (سارق) پر غلا باندي قياس دی، يعني که د امام له اجازې څخه بغير يو څوک له دارُ الحرب څخه مال غلا کړي نو پر هغه باندي لازم نه دي چې دا مال په غنيمت کې جمع کړي، همدغسې پاته سوې خوراکه او غله واپس کول هم پر غازيانو لازم نه دي.

ولنا أن الاختصاص إلخ: زموږ دليل دا دی چې د ځینې مجاهدینو لپاره د ضرورت او حاجت پر بناء دغه مشترک مال (مالِ غنیمت) مباحُ الاستعمال گرځول سوی وو (د اختصاص مطلب دا دی چې کوم مجاهدینو د مالِ غنیمت استعمالولو ته حاجت او ضرورت درلودی، د مالِ غنیمت اباحت د هغو سره خاص وو). او دا ضرورت اوس ختم سو، لهذا اباحت به هم ختمیږي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله قیاس (یعني دا د سارق پر مال قیاسول) صحیح نه دي، ځکه چې هغه تر إحرز مخکي هم د دې مال مستحق وو، لهذا تر إحراز وروسته به هم د دې مال مستحق هغه وي. حال دا چې په دې مسئله کي فقط تر إحراز وروسته ټوله مجاهدین په مالِ غنیمت کي په پوره توګه شریک ګرځي او د هغوی شرکت مضبوطیږي، لهذا منفرد مال پر مشترک مال قیاسول صحیح نه دي.

وبعد القسمة إلخ: پورتنی حکم او تفصیل خو د هغه صورت سره متعلق وو کله چې امام د غنیمت مال تقسیم کړی نه وي، لیکن که امام هغه د مجاهدینو په مینځ کي تقسیم کړی وي. او بیا د دوی سره څه خوراکه او غله اضافه پاته سي، نو که چیري مجاهد مالدار وي نو هغه دي صدقه کړي او که محتاج او تنګلاسی وي نو هغه دي په خپله استعمال کړي، ځکه چې دا مال د لقطې (غورځول سوي مال) په څیر سو. او څرنګه چې ټوله مجاهدین متفرق سوي او جلا سوي دي. لهذا هر یوه ته د هغه واپس کول مشکل دي. لهذا اوس آسانه لاره همدا ده چې یا هغه صدقه کړي یا یې د حاجت په صورت کي په خپله استعمال کړي. دا حکم د دارُ الحرب دی.

او که دارُ الاسلام ته تر راوړلو وروسته مجاهدین هغه پاته سوې غله او خوراکه استعمال کړي او غنیمت تر اوسه تقسیم سوی نه وي، نو په دې صورت کي به مجاهدین د دې غلې او سامان قیمت په مالِ غنیمت کي جمع کوي، ځکه چې دا غله مشترکه ده، او د ټولو مجاهدینو حق د هغه سره متعلق دی. او که چیري غنیمت تقسیم سوی وي، نو مالدار مجاهد به د هغه قیمت صدقه کوي او که چیري مجاهد محتاج او غریب وي نو پر هغه هیڅ شی نه لازمیږي، ځکه چې قیمت د "أصل" قائم مقام دی. او څرنګه چې د غریب مجاهد لپاره "أصل" مباحُ الاستعمال دی. لهذا د هغه قیمت به هم مباحُ الاستعمال وي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ الْقِسْمَةِ

(دا) فصل د (غنيمت) تقسيمولو د كيفيت (په بيان كې) دى

خُمس ايستل او د شهسوار د حصې بحث

قال: وَيُقَسِّمُ الْإِمَامُ الْغَنِيمَةَ فَيُخْرِجُ خُمُسَهَا فرمايي: او امام به غنيمت تقسيم كړي او له هغه څخه به خمس [پنځمه حصه] وباسي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَإِنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ [الأنفال: ٤١] ځكه الله تعالىٰ فرمايلي دي: نو [د غنيمت] يو خمس به د الله [او د رسول] لپاره وي اسْتَثْنَى الْخُمُسَ [په دې آيت كې] الله تعالىٰ د يوه خمس استثناء كړې ده وَيُقَسِّمُ الْأَرْبَعَةَ الْأَخْمَاسَ بَيْنَ الْغَانِمِينَ او پاته څلور خُمسونه به د مجاهدينو په مينځ كې تقسيموي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ❶ قَسَّمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ ځكه چې نبي كريم ﷺ هغه د مجاهدينو په مينځ كې تقسيم كړي وو ثُمَّ لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د شهسوار لپاره [يعني پر آس د جنګ كونكي مجاهد لپاره] دوې حصې دي او د پياده جنګ كونكي لپاره يوه حصه ده وَقَالَا✿: لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله فرمايلي دي: چې د فارس لپاره درې حصې دي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دى لِمَا رَوَى ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَسْهَمَ لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمًا د هغه حديث په وجه كوم چې له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت سوى دى: چې نبي كريم ﷺ فارس ته درې حصې وركړې او رَاجِل ته يې يوه حصه وركړه وَلِأَنَّ الِاسْتِحْقَاقَ بِالْغَنَاءِ او ځكه چې [د غنيمت] استحقاق د كفايت [او په كار راتللو] په اندازه وي [يعني چې هغه څومره اندازه په كار راځي او څومره كار كوي، د هغه په اندازه به د غنيمت مستحق وي] وَغِنَاؤُهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَمْثَالِ الرَّاجِلِ او فارس

● تخريج: أخرجه طبراني في معجمه.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٥٦)، وكذا في البحر الرائق (ج:٥، ص:٨٨) [القول الراجح ج:١، ص:٢٨٢]

د دريو پياده وو په اندازه كفايت كوي [يعني فارس د راجل په مقابله كي د دريو خلكو په څير كارو او د دريو كارونو لپاره په كار راځي] لِأَنَّهُ لِلْكَرِّ وَالْفَرِّ وَالثَّبَاتِ ځكه چي فارس د حمله كولو لپاره [هم] دى او د ځغستلو لپاره [هم] دى او [پر يوه ځاى] د درېدلو [هم] دى وَالرَّاجِلُ لِلثَّبَاتِ لَا غَيْرُ او راجل فقط پر يوه ځاى د درېدلو [او ثابت قدم پاتېدلو] لپاره دى. نه د بل شي لپاره وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ مَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام [2] أَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ وَالرَّاجِلَ سَهْمًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دى كوم چي له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت سوى دى: چي نبي كريم ﷺ فارس ته دوې حصې وركړې او راجل ته يې يوه حصه وركړه فَتَعَارَضَ فِعْلَاهُ نو د نبي كريم ﷺ دوه فعلونه متعارض سول فَيُرْجَعُ إِلَى قَوْلِهِ نو ځكه به د نبي كريم ﷺ د قول وطرفه ته رجوع كيږي وَقَدْ قَالَ: عليه السلام [3] : لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ او نبي ﷺ فرمايلي دي: چي د فارس لپاره دوې حصې دي او د راجل لپاره يوه حصه ده كَيْفَ وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام [4] قَسَّمَ لِلْفَارِسِ سَهْمَيْنِ او څرنګه صاحبين رَحِمَهُمَا الله د ابن عمر رضي الله عنه په حديث سره دليل نيولاى سي حال دا چي له هغه څخه دا روايت هم سوى دى: چي نبي كريم ﷺ فارس ته دوې حصې او راجل ته يوه حصه تقسيم كړه وَإِذَا تَعَارَضَتْ رِوَايَتَاهُ او كله چي د ابن عمر رضي الله عنه دوه روايتونه متعارض سول تُرَجَّحُ رِوَايَةُ غَيْرِهِ نو د بل راوي روايت به راجح كيږي وَلِأَنَّ الْكَرَّ وَالْفَرَّ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ او ځكه چي كَرّ او فرّ [دوړه] له يوه جنس څخه دي فَيَكُونُ غِنَاؤُهُ مِثْلَيْ غَنَاءِ الرَّاجِلِ لهذا د فارس كفايت [او كار] به د راجل له كار څخه دوچنده وي [مطلب د چي فارس د راجل په مقابله كي فقط د دوو كارونو لپاره

---

[2] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجهاد، باب سهام الفرس، رقم الحديث:٢٨٦٣.

[3] تخريج: ستر محقق صاحب د أثمار الهدايه فرمايي: چي دغه حديث د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه دى. بلكي د مجمع بن حارثه رضي الله عنه دى. نو په دې وجه شارحين په شك كي لوېدلي دي او ډېر اختلاف يې كړى دى. دا خبره تاسي په ياد لرئ! چي د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله عادت دا دى چي كله نا كله د حديث معنى ذكر كوي (يعني په خپلو الفاظو سره د هغه مفهوم او معنى ذكر كوي) نو ځيني حضرات دا فكر وكړي چي شايد دا حديث به ډېر غريب وي، لېكن هغه حديث بالكل په قطعي توګه په صحيح روايت سره ثابت وي. دغه حديث په ابوداؤد شريف كي داسي ذكر سوى دى: عن عمّه مجمع بن حارثة.....فأعطى الفارس سهمين وأعطى الراجل سهمًا. (ابو داؤد شريف، باب فيمن أسهم له سهما، ص:٣٩٨، رقم الحديث:٢٧٣٦).

[4] تخريج: أخرجه دار قطني في سننه رقم:١٩ ج٤ ص:٦١، رقم الحديث:٤١٣٨.

په كار راځي، نه د ډېرو كارونو لپاره] فَيَفْضُلُ عَلَيْهِ بِسَهْمٍ نو ځكه به فارس پر راجل يوه حصه زيات وي [يعني هغه به له راجل څخه فقط يوه حصه لوړ وي] وَلِأَنَّهُ تَعَذَّرَ اعْتِبَارُ مِقْدَارِ الزِّيَادَةِ او ځكه چې د زياتوب د مقدار اعتبار كول متعذر دي لِتَعَذُّرِ مَعْرِفَتِهِ ځكه چې د هغه معلومول [او شمارل] متعذر دي فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى سَبَبٍ ظَاهِرٍ لهذا د حكم مدار به پر ظاهري سبب وي وَلِلْفَارِسِ سَبَبَانِ: اَلنَّفْسُ وَالْفَرَسُ او د فارس په حق كې دوه ظاهري سببونه دي: ① د هغه نفس ② او د هغه آس وَلِلرَّاجِلِ سَبَبٌ وَاحِدٌ او د راجل په حق كې يو ظاهري سبب دى فَكَانَ اسْتِحْقَاقُهُ عَلَى ضِعْفِهِ لهذا د فارس استحقاق به پر راجل دوچنده وي [يعني فارس به له راجل څخه د دوچنده مال مستحق وي].

اللغات: ﴿خُمُس﴾ او خُمْس: پنځمه حصه. ﴿فارس﴾ پر آس سپور، شهسوار (شاهسوار)، مراد ځنې هغه مجاهد دى چې د كفارو سره پر آس جنګ كوي. ﴿راجل﴾ په پښو تلونكى، پياده تلونكى، مراد ځنې پياده جنګ كونكى مجاهد دى. ﴿أسْهَم﴾ د افعال ماضي ده: حصه وركول، د يو چا لپاره حصه مقرر كول (ټاكل). ﴿الغناء﴾ كفايت، كافي كېدل، په كار راتلل. ﴿الكَرّ﴾ د نصر اسم مصدر دى: (پر دښمن) راتاوېدل او حمله پر كوله. راګرځېدل او حمله پر كول (يعني پر دښمن آس رتاوول او ناڅاپه وار پر كول). ﴿الفَرّ﴾ د ضرب اسم مصدر دى: تښتېدل، مراد ځنې تېز ځغستل او منډه وهل دي. (صاحب د مصباح المنير وايي چې كله دا لفظ د "فارس" سره ذكر سي، نو بيا دا معنىٰ وركوي چې "شهسوار په دې غرض له دښمن څخه آس وځغلوي چې څه ليري يو دم د آس مخ را وګرځوي او بيرته په تېزه پر دښمن راسي او حمله پر وكړي. ج:۲، ص:۴۶۷). ﴿يُدار﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: مدار كېدل. ﴿ضِعف﴾ دوچنده.

تشريح: د مخكني باب "بابُ الغنائم" په ضمن كې دا خبره ذكر سوه چې د غنيمت مال په به پنځه حصې كيږي چې له هغو څخه به يوه حصه د الله او د رسول وي او پاته څلور حصې به په مجاهدينو كې تقسيمول كيږي، ځكه چې د قرآن كريم په دې آيت "وَاعْلَمُوْا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ" كې د يوه خمس استثناء سوې ده.

ثم للفارس إلخ: دا ډېره اختلافي مسئله ده، په دې كې د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله مشهور اختلاف دى چې د هغه حاصل دا دى چې دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به فارس ته يعني آس لرونكي

او پر آس جنګ کونکي مجاهد به ته دوې حصې ورکول کیږي او رَاجِل یعني پیاده جنګ کونکي ته به یوه حصه ورکول کیږي، لیکن د صاحبینو او د امام شافعي. امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نیز به فارس ته درې حصې ورکول کیږي او رَاجِل ته به یوه حصه ورکول کیږي.

د صاحبینو دلیل: د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حدیث دی نبي ﷺ فارس ته درې حاصې ورکړې او رَاجِل ته یې حصه ورکړې، او د نبي ﷺ دا عمل د دې خبرې دلیل دا دی چې فارس د دریو حصو حقدار دی.

د صاحبینو عقلي دلیل دا دی چې د مال غنیمت استحقاق د کفایت او کار په اعتبار سره دی (یعني جنګ کونکي [مجاهد] چې څومره کار کوي هغومره د غنیمت مستحق ګرځي)، او فارس د جنګ په ډګر کې د دریو کارونو لپاره په کار راځي: ① پر دښمن باندې د حمله کولو لپاره. ② د ځغستا (او منډه وهلو) لپاره (د "کر" او فرّ" تعریف په لغاتو کې ذکر سو)، ③ او که موقع او ضرورت وي نو پر یوه ځای د درېدلو (او ثابت قدم پاتېدلو) لپاره، او راجل فقط یو کار کوي، یعني په ثابت قدمۍ سره جنګ کوي (مطلب دا چې پر یوه ځای ولاړ وي جنګ کوي "کرّ" او "فرّ" نه سي کولای)، نو ګواکې د راجل په مقابله کې فارس د دریو خلګو په اندازه کار کوي، لهذا هغه ته به د دریو خلګو په اندازه حصه هم ورکول کیږي.

د امام صاحب دلیل: هغه حدیث دی کوم چې له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت سوی دی چې نبي کریم ﷺ فارس ته دوې حصې ورکړې او راجِل ته یې یوه حصه ورکړه. او څرنګه چې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په روایت کې فارس ته د "دریو حصو ورکول" ذکر سوي دي. نو د نبي ﷺ په فعل کې تعارض راغلی، او قاعده دا ده چې کله په فعل کې تعارض راسي نو د قول وطرف ته رجوع کیږي. او د نبي ﷺ له قول څخه دا ثابت دي چې "لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ". او بل دا چې د ابن ابی شیبه په روایت کې په خپله له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه نقل سوي دي چې نبي ﷺ فارس ته دوې حصې ورکړې، او قاعده دا ده چې کله د یوه راوي دوه روایتونه سره متعارض سي نو د بل راوي په روایت به عمل کیږي، لهذا د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حدیث سره د صاحبینو دلیل نیول او فارس د دریو حصو مستحق ګرځول صحیح نه دي.

ولأن الكرّ إلخ: د صاحبینو او نورو حضراتو د عقلي دلیل جواب دا دی چې "کرّ" یعني "حمله کول" او "ځغستل" دا دواړه کارونه یو شی او له یوه جنس څخه دي، ځکه چې عموماً د حمله کولو لپاره.. شاته او مخته تللو ضرورت پیښیږي (یعني د دې ضرورت پیښیږي چې انسان له دښمن آس څخه وځغلوي د دې لپاره چې دلیري خوا په تېزي سره پر دښمن آس را وځغلوي او ګذار پر وکړي). کنې د جنګ له ډګر څخه

ځغستل او د فرار لاره اختيارول خو بالکل جائز نه دي، لهذا "کَرّ" او "فَرّ" يو شی سو او د فارس دويم کار ثبات سو، نو د هغه کارونه دري نه دي بلکي دوه دي، لهذا په دې حواله سره به هم هغه ته دوې حصې ورکول کيږي دري حصې به نه ورکول کيږي، يعني د راجل په مقابله کي به هغه ته فقط يوه حصه زياته ورکول کيږي.

د امام صاحب عقلي دليل دا دی چي فارس د راجل په مقابله کي څومره زيات کار کوي دغه زياتوب معلومول او د هغه اعتبار کول ناممکن او ستونزمن دي، ځکه چي د هغه شمارل او اندازه کول مشکل دي، نو ځکه به د غنيمت د حکم دار ومدار پر ظاهري سبب وي، او ظاهري سبب د فارس په حق کي دوه دي (يعني د فارس په حق کي دوه ظاهري سببونه دي): ① د هغه نفس، ② د هغه آس. نو ځکه به هغه د دوو حصو حقداره وي، او د راجل په حق کي ظاهري فقط يو دی يعني نفس. نو ځکه به هغه فقط د يوې حصې حقداره وي.

شهسوار ته د خپلو آسونو په اندازه د حصې ورکولو مسئله

وَلَا يُسْهَمُ إِلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ فرمايي: او فقط د يوه آس حصه به ورکول کيږي [د طرفينو په نيز] وَقَالَ❀: أَبُويُوسُفَ: يُسْهِمُ لِفَرَسَيْنِ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي د دوو آسونو حصه به ورکول کيږي لِمَا رُوِيَ[1] أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَسْهَمَ لِفَرَسَيْنِ ځکه روايت سوی دی چي نبي کريم ﷺ د دوو آسونو حصه ورکړه وَلِأَنَّ الْوَاحِدَ قَدْ يَعْيَىٰ فَيَحْتَاجُ إِلَى الْآخَرِ او ځکه چي کله يو آس ستړی کيږي نو د دويم ضرورت پيدا کيږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْبَرَاءَ بْنَ أَوْسٍ قَادَ فَرَسَيْنِ فَلَمْ يُسْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[2] إِلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ د طرفينو دليل دا دی: چي حضرت براء بن اوس رضي الله عنه [جنګ ته] دوه آسونه راوستي وو لېکن نبي کريم هغه ته فقط د يوه آس حصه ورکړه وَلِأَنَّ الْقِتَالَ لَا يَتَحَقَّقُ بِفَرَسَيْنِ دَفْعَةً وَاحِدَةً او ځکه چي په يوه وار پر دوو آسونو قتال کول ثابتېدای نه سي فَلَا يَكُونُ السَّبَبُ الظَّاهِرُ مُفْضِيًا إِلَى الْقِتَالِ عَلَيْهِمَا لهذا پر دواړو آسونو به قتال کول د غنيمت د استحقاق ظاهري سبب نه وي فَيُسْهِمُ

❀ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في الهندية (ج:٢، ص:٢١٢)، وكذا في الخانية (ج:٢، ص:٢٦٣). [القول الراجح ج:١، ص:٤٨٥]

[1] تخريج: أخرجه دار قطني في سننه (رقم:١٦ ج:٤ ص:٥٩، رقم الحديث:٤١٣١).

[2] تخريج: د دې حديث په معنی سره يو حديث د عبدالله بن زبير په حواله سره په دار قطني کي ذکر سوی دی (دار قطني، ج:٤، ص:٦٢، رقم الحديث:٤١٤٣).

لِوَاحِدٍ نو ځکه به [فقط] د یوه آس حصه ورکول کیږي وَلِهٰذَا لَا يُسْهِمُ لِثَلَاثَةِ أَفْرَاسٍ همدا وجه ده چي د دريو آسونو حصه نه ورکول کیږي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى التَّنْفِيلِ او کوم حديث چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه د "نفل" پر ورکولو [یعني پر انعام ورکولو] محمول دی كَمَا أَعْطَى سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ سَهْمَيْنِ وَهُوَ رَاجِلٌ لکه څرنګه چي نبي کريم ﷺ حضرت سلمه بن الأکوع ﷺ ته دوې حصې ورکړې، حال دا چي هغه راجل [پیاده جهاد کونکی] وو وَالْبَرَاذِيْنُ وَالْعَتَاقُ سَوَاءٌ او عجمي [دېسي] آس او خالص عربي آس دواړه سره برابر دي لِأَنَّ الْإِرْهَابَ مُضَافٌ إِلَى جِنْسِ الْخَيْلِ فِي الْكِتَابِ ځکه چي په قرآن کريم کي "بېرول" د آس د جنس وطرف ته مضاف سوی دی قال: اللهُ تَعَالَى: وَمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ [الأنفال: ٦٠] الله تعالیٰ فرمایلي دي: او تاسي هغه آسونه تيار کړئ! چي د هغه په ذريعه تاسي د الله دښمنان او خپل دښمنان وبېروئ! وَاسْمُ الْخَيْلِ يُطْلَقُ عَلَى الْبَرَاذِيْنِ وَالْعَتَاقِ وَالْهَجِيْنِ وَالْمُقْرِفِ إِطْلَاقًا وَاحِدًا او د "خيل" لفظ پر عجمي آس. عربي آس، هجين او مقرف ټولو باندي په مساوي توګه ویل کیږي [یعني دغه ټولو آسونو ته "خيل" ویل کیږي] وَلِأَنَّ الْعَرَبِيَّ إِنْ كَانَ فِي الطَّلَبِ وَالْهَرَبِ أَقْوٰى او ځکه چي عربي آس که څه هم په حمله کولو او څغستلو کي قوي [پالوان] وي فَالْبِرْذَوْنُ أَصْبَرُ وَأَلْيَنُ عَطْفًا نو عجمي آس بيا زيات صبرناک وي او د هغه را تاوول [یعني د هغه مخ راګرځول] ډېر آسانه وي [او د هغه په طبيعت کي نرمي وي] فَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَنْفَعَةٌ مُعْتَبَرَةٌ نو له دوی څخه په هر یوه کي معتبر منفعت سته فَاسْتَوَيَا نو ځکه به دوی دواړه [په حکم کي] سره برابر وي.

اللغات: ﴿قَادَ﴾ د نصر ماضي ده. قاد الفرس: د مخ لخوا آس کشول. آس بېول. آس روانول. ﴿إِرْهَاب﴾ د افعال مصدر دی: بېرول. ډارول. ترهول. ﴿خَيْل﴾ آس. ﴿رباط﴾ تړل. ﴿أَلْيَن﴾ ډېر نرم (یعني دېسي آس ډېر نرم وي په طبيعت کي يې شوخي نه وي). ﴿عطفًا﴾ د ضرب مصدر دی: ګرځېدل. د سپارلي (آس) قيزه کشول او راګرځول (یعني د آس قيزه راکشول او د هغه مخ بل طرف ته اړول). ﴿براذين﴾ عجمي آس، ترکي آس. هغه آس چي په جنګ کي په کار راځي لېکن په قد کي لږ کوچني وي نو داسي آس ته براذين يعني عجمي يا ديسي آس وايي. او اوږده قد والا آس ته عتاق

يعني عربي او اصلي آس وايي. (أثمار الهداية)، ﴿هجين﴾ هغه آس چي له عجمي آس او عربي آسپي څخه پيدا سوی وي (يعني پلار يې عجمي وي او مور يې عربي وي)، ﴿مقرف﴾ هغه آس چي له عربي آس او عجمي آسپي څخه پيدا سوی وي (يعني پلار يې عربي وي او مور يې عجمي وي)، په مصباحُ اللغات کي د دې دوو لفظونو (هجين او مقرف) تعريف د دې برعکس سوی دی، خو زياتره قاموسونو يې همدغه تعريف کړی دی کوم چي موږ ذکر کړی.

تشريح : **صورت مسئلې** : دا دی چي فارس ته به فقط يوه حصه ورکول کيږي که څه هم د هغه سره دوه آسونه وي، دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی، همدا د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قول دی، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي که چيري فارس د ځان سره دوه آسونه را روان کړي وي او په جنګ کي يې شرکت کړی وي او په دوو آسونو سره هغه جهاد کوي، نو هغه ته به د دواړو آسونو حصه ورکول کيږي.

د امام ابو يوسف دليل : د عمرو بن محصن حديث دی چي په هغه کي ذکر سوي دي چي نبي کريم ﷺ عمرو بن محصن ته "چي د هغه سره دوه آسونه وو" څلور حصې ورکړې، ښکاره خبره ده چي که د دوو آسونو حصه ورکول صحيح نه واى، نو نبي ﷺ به هغه ته څلور حصې نه ورکولاى. د دې عقلي دليل دا دی چي کله نا کله يو آس ستړی کيږي او د دويم آس ضرورت پيښيږي، لهذا هغه ته به هم له غنيمت څخه حق ورکول کيږي.

د طرفينو دليل : دا دی چي حضرت براء بن أوس ﷺ د دوو آسونو سره د جهاد په ميدان کي وکړی، لېکن نبي کريم ﷺ هغه ته فقط د يوه آس حصه ورکړه، له دې څخه معلومه سوه چي فقط د يوه آس حصه به ورکول کيږي، نه د دوو.

د دوی عقلي دليل دا دی چي په يوه وار فقط په يوه آس سره جنګ او قتال کيږي. نه په دوو آسونو سره، او ستحقاق د قتال په وجه ثابتيږي، لهذا د دوو آسونو والا ته به دري حصې نه بلکي دوې حصې ورکول کيږي؛ ځکه چي انعام د کار په اندازه ورکول کيږي نه د شمېر او تعداد په اعتبار سره، همدا وجه ده که يو څوک دري يا څلور آسونه د ځان سره بوځي او په جنګ کي شرکت وکړي نو هغه ته به د تعداد په اعتبار سره حصه نه ورکول کيږي، بلکي فقط د يوه آس حصه به ورکول کيږي. پاته سو د عمرو بن محصن حديث کوم چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خپل دليل کي ذکر کړی دی. نو د هغه جواب دا دی چي نبي کريم ﷺ عمرو بن محصن ته انعام ورکړی همدا وجه ده چي د دوو آسونو په عوض کي يې څلور حصې ورکړې حالانکي هغه فقط د دوو حصو حقدار وو. او د انعام په توګه ورکول له نبي کريم ﷺ څخه ثابت هم دي، لکه څرنګه چي سلمه بن الأکوع ته نبي کريم ﷺ دوې

حصې ورکړې حالانکې هغه راجل وو او فقط د يوې حصې حقدار وو. لهذا په دې حديث سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل نيول صحيح نه دي.

والبرذين إلخ: فرمايي چې عجمي او عربي دواړه قسمه آسونه د غنيمت په استحقاق کې سره برابر دي؛ ځکه په دې آيت "وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللهِ...إلخ" کې چې کوم د إرهاب حکم جاري سوی دی دا إرهاب د مطلق خَيْل وطرف ته منسوب دی او په مطلق خَيل کې برازين او عتاق او داسې نور ټوله آسونه داخل دي. لهذا د غنيمت په استحقاق کې به هم ټوله داخل او برابر وي.

د دې سلسلې عقلي دليل دا دی چې که څه هم عربي آس په حمله کولو او په ځغستلو کې قوي او ماهر وي، نو عجمي او دېسې آس بيا زيات صبرناک وي او هغه د دښمن د وار په زغملو کې قوي وي او بل دا چې د هغه په طبيعت کې شوخي نه وي بلکې نرمي وي او د هغه راګرځول آسانه وي. لهذا دواړه آسونه په منفعت کې سره برابر دي. لهذا د منفعت په حصول يعني په غنيمت کې به هم دواړه سره برابر وي.

د شهسورا تفصيل او تعريف

وَمَنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ او کوم [مجاهد] چې دارُ الحرب ته په داسې حالت کې داخل سي چې پر آس سپور وي، بيا د هغه آس هلاک سي اسْتَحَقَّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ نو هغه به د شهسوارانو د حصې مستحق وي وَمَنْ دَخَلَ رَاجِلًا فَاشْتَرَى فَرَسًا او کوم [مجاهد] چې په داسې حالت کې [دارُ الحراب ته] داخل سي چې هغه پياده وي، بيا آس رانيسي اسْتَحَقَّ سَهْمَ رَاجِلٍ نو هغه به د راجل د حصې مستحق وي وَجَوَابُ الشَّافِعِيِّ عَلَى عَكْسِهِ فِي الْفَصْلَيْنِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو صورتونو کې حکم د دې برعکس دی وَهٰكَذَا رَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفَصْلِ الثَّانِي أَنَّهُ يَسْتَحِقُّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ او په دويم صورت کې ابن المبارک هم د دې برعکس روايت کړی دی چې هغه به د شهسوارانو د حصې مستحق وي وَالْحَاصِلُ: أَنَّ الْمُعْتَبَرَ عِنْدَنَا حَالَةُ الْمُجَاوَزَةِ وَعِنْدَهُ حَالَةُ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ خلاصه دا: چې زموږ په نيز [تر سرحد] د تېرېدلو [او قتال ته د تللو] حالت معتبر دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د جنګ د ختميدلو حالت معتبر دی. لَهُ: أَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْقَهْرُ وَالْقِتَالُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د غنيمت د استحقاق سبب غلبه او قتال دی فَيُعْتَبَرُ حَالُ الشَّخْصِ عِنْدَهُ لهذا د هر سړي په حق کې به د قتال د وخت حالت معتبر وي وَالْمُجَاوَزَةُ

وَسِيلَةٌ إِلَى السَّبَبِ كَالْخُرُوجِ مِنَ الْبَيْتِ او تېرېدل [او تلل] د استحقاق د سبب يو ذريعه ده لكه د كور څخه وتل وَتَعْلِيقِ الْأَحْكَامِ بِالْقِتَالِ يَدُلُّ عَلَى إِمْكَانِ الْوُقُوفِ عَلَيْهِ او پر قتال أحكام معلق كول په قتال د واقف كېدلو [خبرېدلو] دليل دى وَلَوْ تَعَذَّرَ أَوْ تَعَسَّرَ او كه چيري پر قتال واقف كېدل ناممكن سي يا ستونزمن [مشكل] سي تَعَلَّقَ بِشُهُودِ الْوَقْعَةِ نو [په دې صورت كي] به جنګ ته پر حاضرېدلو [شركت كولو] باندې أحكام متعلق كيږي لِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى الْقِتَالِ ځكه چي جنګ ته حاضرېدل قتال ته نژدې دي وَلَنَا: أَنَّ الْمُجَاوَزَةَ نَفْسَهَا قِتَالٌ زموږ دليل دا دى: چي [تر سرحد] تېرېدل [او قتال ته تلل] په خپله قتال دي لِأَنَّهُ يَلْحَقُهُمُ الْخَوْفُ بِهَا ځكه چي په مجاوزت سره كفارو ته ېېره رسيږي [يعني كله چي دښمن په دې خبر سي چي مجاهدين زموږ وطرف ته را روان دي او تر سرحد را تېر سول، نو په دې سره هغوی په سخته ېېره او رعب كي لوېږي] وَالْحَالُ بَعْدَهَا حَالَةُ الدَّوَامِ او تر مجاوزت وروسته د دوام حالت دى وَلَا مُعْتَبَرَ بِهَا او هغه حالت لره اعتبار نسته وَلِأَنَّ الْوُقُوفَ عَلَى حَقِيقَةِ الْقِتَالِ مُتَعَسِّرٌ او ځكه چي د قتال پر حقيقت واقف كېدل مشكل دي وَكَذَا عَلَى شُهُودِ الْوَقْعَةِ او همدارنګه جنګ ته پر حاضرېدلو [او په جنګ كي د مجاهد پر شركت كولو] واقف كېدل هم مشكل دي لِأَنَّهُ حَالَ الْتِقَاءِ الصَّفَّيْنِ ځكه چي هغه [د كفر او اسلا] د دوو صفونو د يو ځاى كېدلو [هنګامه يي] حالت وي [چي په هغه كي هر كس په قتال سره مصروف وي، نو په بل چا به څنګه خبر وي چي هغه جنګ ته حاضر سوی وو، كه نه!؟] فَتُقَامُ الْمُجَاوَزَةُ مَقَامَهُ لهذا مجاوزت به د قتال قائم مقام كيږي إِذْ هُوَ السَّبَبُ الْمُفْضِي إِلَيْهِ ظَاهِرًا إِذَا كَانَ عَلَى قَصْدِ الْقِتَالِ ځكه چي همدا مجاوزت د قتال ظاهري سبب دى [په دې شرط] كله چي د قتال په اراده سره وي [يعني په دې شرط چي تر سرحد تېرېدل او تلل د جنګ په نيت سره وي] فَيُعْتَبَرُ حَالُ الشَّخْصِ بِحَالَةِ الْمُجَاوَزَةِ فَارِسًا كَانَ أَوْ رَاجِلًا نو ځكه به د هر كس [مجاهد] په حق كي د مجاوزت د حالت اعتبار كيږي چي هغه [د مجاوزت په حالت كي] فارس وو او كه راجل وَلَوْ دَخَلَ فَارِسًا وَقَاتَلَ رَاجِلًا لِضِيقِ الْمَكَانِ او كه يو مجاهد د فارس والي په حالت كي [دار الحرب ته] داخل سي او د ځاى [او ميدان] د تنګوالي په وجه پياده قتال وكړي يَسْتَحِقُّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ بِالِاتِّفَاقِ نو هغه به بالاتفاق د شهسوارانو د حصې مستحق كيږي وَلَوْ دَخَلَ فَارِسًا ثُمَّ بَاعَ

فَرَسَهُ أَوْ وَهَبَ أَوْ أَجَّرَ أَوْ رَهَنَ او كه هغه د فارس والي په حالت كي داخل سي بيا هغه خپل آس خرڅ كړي يا يې هبه كړي يا يې په اُجرت [كرايه] وركړي يا يې [يو چا ته] په رهن كي وركړي فَفِي رِوَايَةِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ يَسْتَحِقُّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد په روايت كي به هغه د شهسوارانو د حصې مستحق كيږي اعْتِبَارًا لِلْمُجَاوَزَةِ د مجاوزت په اعتبار كولو سره [يعني دا حكم د مجاوزت پر اعتبار مبني دی] وَفِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ يَسْتَحِقُّ سَهْمَ الرَّجَّالَةِ او په ظاهر روايت كي به هغه د راجل د حصې مستحق كيږي لِأَنَّ الْإِقْدَامَ عَلَى هَذِهِ التَّصَرُّفَاتِ يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ مِنْ قَصْدِهِ بِالْمُجَاوَزَةِ الْقِتَالُ فَارِسًا ځكه چي پر دغه تصرّفاتو د هغه إقدام كول د دې خبري دليل دی چي [تر سرحد] په تېرېدلو او قتال ته په تللو اسره د هغه اراده د فارس والي په حالت كي قتال كول نه وو وَلَوْ بَاعَهُ بَعْدَ الْفَرَاغِ او كه هغه تر قتال وروسته آس خرڅ كړي لَمْ يَسْقُطْ سَهْمُ الْفُرْسَانِ نو اد هغه په حق كي] به د شهسوارانو حصه نه ساقطيږي وَكَذَا إِذَا بَاعَ فِي حَالَةِ الْقِتَالِ عِنْدَ الْبَعْضِ او همدارنګه د ځيني علماؤ په نيز [به دا حصه نه ساقطيږي] كله چي هغه د قتال په حالت كي آس خرڅ كړي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَسْقُطُ [ليكن] زياته صحيح دا ده: چي [د هغه] دا حصه به ساقطيږي لِأَنَّ الْبَيْعَ يَدُلُّ عَلَى أَنَّ غَرَضَهُ التِّجَارَةُ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ يَنْتَظِرُ عِزَّتَهُ ځكه چي خرڅول د دې خبري دليل دی چي د هغه مقصد په آس سره تجارت كول وو ليكن هغه [فقط] د آس ګرانوالي ته منتظر وو [يعني دې ته منتظر وو چي هر څوك زما څخه په ګران قيمت آس وغواړي نو زه به پر هغه آس خرڅ كړم]

اللغات: ﴿مجاوزة﴾ د مفاعلې مصدر دی: سفر كول (د يو كار په اراده يو خوا ته تلل). تېرېدل. تر سرحد تېرېدل (تر سرحد اوښتل. عبور كول. پوري وتل). ﴿انقضاء﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل. ﴿شهود﴾ د سمع مصدر دی: حاضرېدل. موجودېدل (مراد ځني په جنګ كي شركت كول دي). ﴿ضيق﴾ تنګي. تنګوالی (مراد ځني د ډير رش او ګڼه ګوڼي په وجه د جنګ ميدان تنګېدل دي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي مجاهد په كوم حالت كي د قتال په نيت د دارُ الاسلام تر سرحد تېر سي او په دارُ الحرب كي داخل سي، نو زموږ په نيز به د هغه حالت مطابق مجاهد د غنيمت مستحق وي. نو كه هغه پر آس باندي سپور وي او د جهاد او قتال كولو په غرض دارُ الحرب ته داخل

سي لېکن بيا د هغه آس هلاک سي او پياده قتال وکړي، نو هغه ته به د فارس حصه ورکول کيږي يعني له مال غنيمت څخه به دوې حصې ورکول کيږي. او که يو څوک پياده يعني له آس او سپارلي څخه بغير د دارُ الاسلام تر سرحد تېر سي او دارُ الحرب ته داخل سي، نو هغه ته به د راجل حصه يعني فقط يوه حصه ورکول کيږي که څه هم هغه وروسته په دارُ الحرب کي آس رانيسي او پر آس قتال وکړي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز حکم د دې بر عکس دئ همدا د امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمَا الله مسلک دی. يعني د دوی په نيز د قتال کولو حالت معتبر دی. نو په اول صورت کي به د دوی په نيز فارس ته د راجل حصه (يعني يوه حصه) ورکول کيږي، ځکه چي تر قتال مخکي د هغه آس مړ سو، او هغه پياده قتال وکړی. او په دويم صورت کي به راجل ته د فارس حصه ورکول کيږي. ځکه چي د قتال په دوران کي هغه فارس وو.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د مال غنيمت د مستحق کېدلو سبب قهر او قتال دی. لهذا د قتال په وخت کي چي د مجاهد کوم حالت وي د هغه اعتبار به کيږي. او پاته سو د مجاوزت او له سرحد څخه د تېرېدلو مسئله. نو مجاوزت د دې سبب وسيله ده. لکه د کور څخه وتل چي وسيله ده. او له کور څخه د وتلو حالت لره اعتبار نسته. لهذا مجاوزت لره به هم اعتبار نه وي. بلکي د قتال حالت لره به اعتبار وي. او قتال که څه هم مخفي أمر دی لېکن په هغه واقف کېدل (او خبرېدل) ممکن دي. ځکه چي شريعت پر قتال نور أحکام هم معلق کړي دي. مثلاً که يو بچی قتال وکړي نو هغه ته به "رَضخ" يعني لږ مال ورکول کيږي. لهذا د قتال د استحقاق سبب به هم فقط پر قتال موقوف وي. او که د هغه د قتال پته او خبر نه وي (چي آيا هغه قتال او جنګ کړی دی. که نه؟) نو کوم مجاهدين چي په جنګ کي شريک وي له هغو څخه به معلومات کيږي چي آيا فلانکی په قتال کي شريک وو او که نه؟ (يعني هغه جنګ وکړی. که نه؟) او که شريک وو نو هغه پر آس سپور وو او که پياده وو؟ (يعني فارس وو او که راجل؟)، لنډه دا چي د هغه د حالت صحيح خبر تر لاسه کول ممکن دي. نو ځکه به د هغه استحقاق د قتال پر حالت مبني وي.

زموږ دليل: دا دی چي د قتال په اراده سره تر سرحد تېرېدل او دارُ الحرب ته ننوتل په خپله قتال دی. ځکه چي د مسلمانانو د راتګ په خبر سره کفار په رعب کي لوېږي او پر هغوی لرزه جاري کيږي. او تر دې وروسته چي کوم حالت وي هغه د قتال د دوام حالت وي. او دوام لره اعتبار نسته. بلکي وجود لره اعتبار سته. او څرنګه چي په مجاوزت سره قتال په وجود کي راځي او ثابتيږي. نو ځکه به د استحقاق مدار پر مجاوزت وي او د مجاوزت د حالت اعتبار به کيږي.

او امام شافعي چي استحقاق پر قتال باندي مبني کوي، دا صحيح نه دي. ځکه چي حقيقتاً په قتال خبرېدل متعذر او ناممکن دي، ځکه چي د امام لپاره دا ممکن نه دي چي د هر. هر مجاهد د حالت

معاينه وکړي چي کوم يو قتال کوي او کوم يو يې نه کوي. همدارنګه له نور مجاهدينو (شر کاؤ) څخه هم د دې معلومات تر لاسه کول ممکن نه دي، ځکه چي د جنګ په حالت کي هر يو په خپل ځان اخته وي او ګډه امې وي او يوه ته هم د بل خبر نه وي. نو په همدې وجه موږ مجاوزت د قتال قائم مقام کړی او د مجاوزت د حالت اعتبار مو وکړی.

ولودخل فارسًا إلخ: دا عبارت واضح دی.

ولودخل فارسًا ثم باع إلخ: د دې مطلب دا دی چي که يو مجاهد د فارس والي په حالت کي دارُ الحرب ته داخل سي لېکن بيا هغه خپل آس خرڅ کړي يا يې هبه کړي يا يې په رهن او اجاره کي ورکړي. نو په دې باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد روايت دا دی چي هغه به فارس شمارل کيږي او د فارس حصه به ورکول کيږي. لېکن په ظاهر روايت کي به هغه ته د فارس حصه نه ورکول کيږي، ځکه چي د هغه خرڅول يا هبه کول يا داسي نور د دې خبري دليل دی چي هغه د جنګ کولو په نيت سره راغلی نه دی. همدا حکم به په هغه وخت کي هم وي کله چي د جنګ او قتال په دوران کي هغه خپل آس خرڅ کړي. ځکه چي دا کار به د هغه نيت د تجارت په نيت بدل کړي او دا به ښکاره کړي چي هغه د آس د ګران بيه کېدلو په انتظار په قتال کي مصروف وو او د هغه اصل مقصد تجارت کول وو. نه قتال کول. همدا صحيح او معتمد دي. که څه هم ځيني مشائخ فرمايي چي د قتال په دوران کي د آس د خرڅولو په صورت کي به هم هغه ته د فارس حصه ورکول کيږي. ها! که چيري له قتال ختمېدلو څخه وروسته يې هغه خرڅ کړي نو بيا به بېله شکه هغه ته د فارس حصه ورکول کيږي.

د غنيمت په مال کي د غلام، ښځي او بچي حصه

وَلَا يُسْهَمُ لِمَمْلُوكٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا صَبِيٍّ وَلَا ذِمِّيٍّ او غلام، ښځي، بچي او ذمي ته به [د غنيمت په مال کي] حصه نه ورکول کيږي وَلٰكِنْ يَرْضَخُ لَهُمْ عَلَىٰ حَسَبِ مَا يَرَى الْإِمَامُ لېکن امام به دوی ته څه [لږ] مال ورکوي څومره چي امام مناسب وګڼي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَام [1] كَانَ لَا يُسْهِمُ لِلنِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْعَبِيدِ وَكَانَ يَرْضَخُ لَهُمْ ځکه روايت سوی دی چي نبي کريم ﷺ به ښځو، بچيانو او غلامانو ته حصه نه ورکوله [بلکي] هغو ته به يې لږ مال ورکوی وَلَمَّا اسْتَعَانَ [2] عَلَيْهِ السَّلَام بِالْيَهُودِ عَلَى الْيَهُودِ او کله چي نبي

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الجهاد باب: ٥٠ رقم الحديث: ١٣٧

[2] تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب السنن الكبرىٰ ج: ٩ ص: ٦٤

ﷺ اد خيبر ا د يهودو په خلاف اد مديني ا له يهودو څخه مرسته وغوښتله لَمْ يُعْطِهِمْ شَيْئًا مِنَ الْغَنِيمَةِ نو هغو ته يې له غنيمت څخه هيڅ شى نه ورکړى يَعْنِي أَنَّهُ لَمْ يُسْهِمْ لَهُمْ يعني د هغو لپاره يې حصه مقرره نه کړه وَلِأَنَّ الْجِهَادَ عِبَادَةٌ وَالذِّمِّيُّ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الْعِبَادَةِ او ځکه چې جهاد عبادت دى او ذمي د عبادت أهل نه دى وَالصَّبِيُّ وَالْمَرْأَةُ عَاجِزَانِ عَنْهُ او بچى او ښځه له جهاد څخه عاجزه وي وَلِهٰذَا لَمْ يَلْحَقْهُمَا فَرْضُهُ له همدې کبله پر دوى جهاد فرض نه دى وَالْعَبْدُ لَا يُمَكِّنُهُ الْمَوْلٰى او غلام ته به خپل مالک ا پر جهاد ا قدرت ا او اجازه ا نه ورکوي وَلَهُ مَنْعُهُ او که اجازه ورکړي هم نو تر دې وروسته ا مالک ته اد غلام ا د منع کولو حق اهم ا سته إِلَّا أَنَّهُ يَرْضَخُ لَهُمْ تَحْرِيضًا عَلَى الْقِتَالِ مَعَ إِظْهَارِ انْحِطَاطِ رُتْبَتِهِمْ ليکن پر قتال باندې د هڅولو اآماده کولو ا لپاره او د هغه تر څنګ ا د دوى د مرتبې د ټيټوالي څرګندولو لپاره به دوى ته څه مال ورکول کيږي وَالْمُكَاتَبُ بِمَنْزِلَةِ الْعَبْدِ او مکاتب د غلام په درجه کې دى لِقِيَامِ الرِّقِّ ځکه چې په هغه کې ا هم ا غلامتوب موجود دى وَتَوَهُّمِ عَجْزِهِ او د هغه د عاجزه کېدلو وهم اهم ا سته ا يعني کېداى سي چې هغه د بدل کتابت له اداء کولو څخه عاجزه سي ا فَيَمْنَعُهُ الْمَوْلٰى عَنِ الْخُرُوجِ إِلَى الْقِتَالِ نو مالک به هغه جنګ ا جهاد ا ته له تللو څخه منع کړي ثُمَّ الْعَبْدُ إِنَّمَا يُرْضَخُ لَهُ إِذَا قَاتَلَ بيا به غلام ته هغه وخت څه مال ورکول کيږي کله چې هغه قتال وکړي لِأَنَّهُ دَخَلَ لِخِدْمَةِ الْمَوْلٰى ځکه چې هغه د مالک د خدمت لپاره ا دار الحرب ته ا داخل سو فَصَارَ كَالتَّاجِرِ نو هغه داسي سو لکه تاجر وَالْمَرْأَةُ يُرْضَخُ لَهَا إِذَا كَانَتْ تُدَاوِي الْجَرْحٰى وَتَقُومُ عَلَى الْمَرْضٰى او ښځي ته به هغه وخت څه مال ورکول کيږي کله چې هغې د زخميانو علاج ا او درملنه ا کړې وي او د مريضان خدمت يې کړې وي لِأَنَّهَا عَاجِزَةٌ عَنْ حَقِيقَةِ الْقِتَالِ ځکه چې هغه له حقيقي قتال کولو څخه عاجزه وي فَيُقَامُ هٰذَا النَّوْعُ مِنَ الْإِعَانَةِ مَقَامَ الْقِتَالِ نو اد هغې په حق کې ا به دا ډول مرسته د قتال قائم مقام کيږي بِخِلَافِ الْعَبْدِ لِأَنَّهُ قَادِرٌ عَلٰى حَقِيقَةِ الْقِتَالِ په خلاف د غلام. ځکه چې غلام پر حقيقي قتال کولو قادر وي وَالذِّمِّيُّ إِنَّمَا يُرْضَخُ لَهُ إِذَا قَاتَلَ أَوْ دَلَّ عَلَى الطَّرِيقِ وَلَمْ يُقَاتِلْ او ذمي ته به په هغه صورت کي څه مال ورکول کيږي کله چې هغه قتال کړى وي يا يې امجاهدينو ته ا د قتال

لاره (او ليکه) ور ښوولې وي. او قتال يې کړی نه وي لِأَنَّ فِيهِ مَنْفَعَةً لِلْمُسْلِمِينَ ځکه چي په دې کي د مسلمانانو منفعت دی إِلَّا أَنَّهُ يُزَادُ عَلَى السَّهْمِ فِي الدَّلَالَةِ إِذَا كَانَتْ فِيهِ مَنْفَعَةٌ عَظِيمَةٌ ليکن که د ذمي په لار ښوونه کي غټ منفعت (او فايده) وي نو هغه ته به (د مجاهد) له حصې څخه (هم) زيات مال ورکول کيږي وَلَا يَبْلُغُ بِهِ السَّهْمَ إِذَا قَاتَلَ ليکن که چيري هغه (فقط) قتال کړی وي نو هغه ته ورکونکی مال به (د مجاهد) حصې ته نه رسول کيږي (يعني ديوه مجاهد له حصې څخه به کم مال ورکول کيږي) لِأَنَّهُ جِهَادٌ ځکه چي دا جهاد دی وَالْأَوَّلُ لَيْسَ مِنْ عَمَلِهِ او اول (يعني لارښوونه) د جهاد له عمل څخه نه ده (يعني لارښوونه "جنګ او جهاد کول" نه دي) وَلَا يُسَوَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِ فِي حُكْمِ الْجِهَادِ او د جهاد په حکم کي به د مسلمان او ذمي په مينځ کي برابري نه کيږي.

اللغات: ﴿يرضخ﴾ د مضارع صيغه ده. له فتح او ضرب دواړو څخه راځي: له ډېر مال څخه لږ شی ورکول. ﴿تحريض﴾ د تفعيل مصدر دی: هڅول. آماده کول. ﴿انحطاط﴾ د انفعال مصدر دی: د انفعال مصدر دی: ټيټېدل. کښته کېدل. لاندې کېدل. ﴿جَرْحَى﴾ جمع د جَرِيحٌ ده: زخمي. ټپي. ﴿دَلَّ﴾ د نصر ماضي ده. د دې باب په صله کي چي "عَلَى" راسي. نو د "لارښوولو" معنىٰ ورکوي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري غلام. ښځه يا ښچی يا ذمي قتال وکړي. نو هغو ته به د عامو مجاهدينو په څير له "مال غنيمت" څخه حصه نه ورکول کيږي. بلکي "رضخ" يعني لږ مال به ورکول کيږي. ځکه چي همدا د نبي کريم ﷺ عادت او معمول وو. او يو ځل نبي کريم ﷺ د "خيبر د غزا" په وخت کي د مدينې له يهوديانو څخه د مدد غوښتنه وکړه او هغوی مدد وکړی. نو هغو ته هم نبي کريم ﷺ له "مال غنيمت" څخه حصه نه ورکړه. بلکي "رضخ" يې ورکړی. دا واقعه د دې خبري دليل ده چي ذمي ته به له مال غنيمت څخه حصه نه ورکول کيږي. د دې عقلي دليل دا دی چي جهاد کول عبادت دی او ذمي د عبادت أهل نه دی. او په ښځه او بچي کي د جهاد أهليت او صلاحيت نه سته. همدا وجه ده چي شريعت پر دوی جهاد فرض کړی نه دی. او کوم چي د غلام مسئله ده نو اول خو خپل مالک (مولیٰ) هغه ته اجازه نه ورکوي او که اجازه ورکړي هم. نو هم به يې وروسته (د خپل خدمت لپاره) له جهاد څخه منع کوي. لهذا د دې کسانو له طرفه به جهاد نه ثابتيږي. او کله چي دوی جهاد نه کوي نو ښکاره خبره ده چي د مال غنيمت حقداره به هم نه وي ليکن که جهاد وکړي او د جنګ په ميدان کي شرکت وکړي نو د دوی د اطمينان لپاره او پر جهاد باندي د هڅولو او آماده کولو لپاره لږ څه مال دوی ته ورکول کيږي.

والمكاتب إلخ: فرمايي چي د غنيمت د نه مستحق كېدلو په هكله چي كوم حكم د غلام دی هغه حكم د مكاتب هم دی، ځكه چي په هغه كي هم رقيت (غلامتوب) موجود دی. او بل دا چي كېداى سي هغه به د بدل كتابت له اداء كولو څخه عاجز سي او بيا به غلام وګرځي او مالک به هغه له جهاد كولو څخه را وګرځوي. لهذا د مالک په قبضه كي د موجود والي په حواله سره مكاتب هم د غلام په څېر دی. او څرنګه چي غلام ته له غنيمت څخه حصه نه وركول كيږي، همداسي به مكاتب ته هم نه وركول كيږي.

ثم العهد إلخ: له دې ځايه دا خبره بيان سوې ده چي ښځي، غلام او داسي نورو ته به "رضخ" هغه وخت وركول كيږي كله چي دوى قتال وكړي. د غلام په حق كي خو ظاهراً قتال كول شرط دي. او ښځه پر حقيقي قتال قادره نه ده نو ځكه د هغې په حق كي زخميانو ته درمل او دواء وركول او د مريضانو خدمت كول "قتال" شمارل سوی دی. همدا حكم د ذمي هم دی چي كه هغه قتال وكړي يا د حرب او قتال په هكله څه لارښوونه وكړي او په هغه كي د مسلمانانو فايده وي. نو بيا به ذمي ته "رضخ" وركول كيږي، كنې نه به وركول كيږي. او كه چيري ذمي يو داسي مشوره وركړي يا يو داسي تركيب او ترتيب وروښيي چي په هغه سره مسلمانان زياته نفع حاصله كړي نو په دې صورت كي به هغه ته د يوه مجاهد له حصې څخه زيات انعام وركول كيږي، ځكه چي د ذمي لارښوونه جهاد نه دی نو هغه ته له "سهم واحد" (يوې حصې) څخه په زيات مال وركولو كي هيڅ حرج نسته. ځكه چي د هغه په لارښوونه سره دومره نفع حاصله سوې ده. ها! كه چيري ذمي فقط قتال كړی وي او څه لارښوونه يې كړي نه وي نو په دې وخت كي به هغه ته "رضخ" وركول كيږي چي د هغه مقدار به له "سهم واحد" څخه كم وي، ځكه چي ذمي د مسلمان تابع دي، لهذا د هغه او د مسلمان حصه به نه سره برابرول كيږي.

د خُمس مصارف (خُمس به چا ته وركول كيږي؟)

وَأَمَّا الْخُمُسُ فَيُقْسَمُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ او پاته سو خُمس نو هغه به پر دريو حصو تقسيمول كيږي سَهْمٌ لِلْيَتَامَى وَسَهْمٌ لِلْمَسَاكِينِ وَسَهْمٌ لِابْنِ السَّبِيلِ ① يو حصه د يتيمانو لپاره. ② يوه حصه د مسكينانو لپاره. ③ او يوه حصه د مسافرانو لپاره يَدْخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي الْقُرْبَى فِيهِمْ وَيُقَدَّمُونَ او په دې كي به [د نبي كريم ﷺ] محتاجه قرابت والا [قريبان] داخليږي او هغوى به تر ټولو مخكي كول كيږي وَلَا يُدْفَعُ إِلَى أَغْنِيَائِهِمْ [ليكن] د هغو مالدارانو ته به نه وركول كيږي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: لَهُمْ خُمُسُ الْخُمُسِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي قرابت والا [ذوی القربیٰ] ته به د خمس پنځمه حصه

ورکول کیږي يَسْتَوِي فِيهِ غَنِيُّهُمْ وَفَقِيرُهُمْ او په هغه کي به د دوی مالدار او غريب (دواړه) برابر وي وَيُقَسَّمُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ او هغه خمس به د دوی په مينځ کي د "للذكر مثل حظ الأنثيين" مطابق تقسيمول کیږي وَيَكُونُ لِبَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ دُونَ غَيْرِهِمْ او دا به د بنو هاشم او بنو مطلب لپاره وي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَلِذِي الْقُرْبَى [الأنفال: ٤١] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بَيْنَ الْغَنِيِّ وَالْفَقِيرِ ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: "ولذی القربیٰ". د مالدار او غريب په مينځ کي له فرق کولو څخه بغير ايعني په دې آيت کي د مالدار او غريب هيڅ فرق سوی نه دی. بلکي مطلق حکم سوی دی) وَلَنَا: أَنَّ الْخُلَفَاءَ الْأَرْبَعَةَ الرَّاشِدِينَ قَسَّمُوهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ عَلَى نَحْوِ مَا قُلْنَاهُ زموږ دليل دا دی: چي څلورو خلفاء راشدينو دغه خمس د هغه طريقي مطابق پر درېو حصو تقسيم کړی دی کوم چي موږ ذکر کړه وَكَفَى بِهِمْ قُدْوَةً او په دوی پسي اقتداء کول (زموږ لپاره) کافي دي وَقَالَ: عليه السلام ❶: يَا مَعْشَرَ بَنِي هَاشِمٍ! إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَرِهَ لَكُمْ غُسَالَةَ النَّاسِ وَأَوْسَاخَهُمْ وَعَوَّضَكُمْ مِنْهَا بِخُمُسِ الْخُمُسِ اهمدارنګه (نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "اې بني هاشمو! الله ستاسي لپاره د خلکو خيري ناخوښه کړي دي او د هغه په عوض کي يې تاسي ته د غنيمت پنځمه حصه درکړې ده" وَالْعِوَضُ إِنَّمَا يَثْبُتُ فِي حَقِّ مَنْ يَثْبُتُ فِي حَقِّهِ الْمُعَوَّضُ او عوض د هغه کس په حق کي ثابتيږي کوم چي د معوض مستحق وي وَهُمُ الْفُقَرَاءُ او هغه فقيران دي ايعني د دې عوض مستحقين فقط فقيران دي) وَالنَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❷أَعْطَاهُمْ لِلنُّصْرَةِ او نبي کريم ﷺ بنو مطلب ته د مرستي (مدد) په وجه (خمس) ورکړی وو أَلَا تَرَى أَنَّهُ عليه السلام عَلَّلَ فَقَالَ: إِنَّهُمْ لَنْ يَزَالُوا مَعِي هَكَذَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَالْإِسْلَامِ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ آيا ته نه ګوري! چي نبي ﷺ د ورکولو علت هم بيان کړی او داسي يې وفرمايل چي: "دا خلک همېشه (په هره ږينه کي) داسي زما سره اوسېدلي دي په جاهليت کي (هم) او په اسلام کي (هم) او نبي کريم ﷺ خپلي ګوتي سره يو ځای کړې دَلَّ عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ مِنَ النَّصِّ قُرْبُ النُّصْرَةِ لَا قُرْبُ الْقَرَابَةِ د نبي ﷺ دا فرمان پر دې خبري دلالت کوي چي په آيت کي له قُرب څخه د مرستي (او مدد) نژدېکت مراد دی، نه د قرابت نژدېکت.

---

❶ تخريج: أخرجه الطبراني في معجمه.

❷ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الخراج في بيان مواضع قسم الخمس، رقم الحديث: ٢٩٨٠.

اللغات: ﴿ابن السبيل﴾ لاروی، مسافر. ﴿قُدوة﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① اقتداء، پيروي، ② مُقتدا، پېشوا، دلته يې اوله معنیٰ مراد ده. ﴿معشر﴾ جماعت، ډله. ﴿غُسالة﴾ هغه اُوبه چې يو شی په پرېولل سي او خږي او ناپاکه وګرځي، ناولي او خيرني اُوبه. ﴿أوساخ﴾ جمع د وَسَخ: خيره، چټلتيا، ناولتوب. ﴿شبّک﴾ د تفعيل ماضي ده: ګوتي سره يو ځای کول، د يوه لاس ګوتي د بل لاس په ګوتو کي دننه کول.

تشريح: په دې عبارت کي د هغه خُمس بيان سوی دی کوم چي د غنيمت په مال کي د ذوی القربیٰ او يتامیٰ لپاره ټاکل کيږي، نو زموږ په نيز به دغه خُمس درې حصې ګرځول کيږي چي له هغو څخه به يوه حصه د يتيمانو وي، يوه حصه به د مساکينو وي او يوه حصه به د مسافرانو وي او د نبي کريم ﷺ محتاجه قرابت والا (سيدان) به هم د دې دريو صنفونو سره د خُمس مستحق وي بلکي دوی به تر ټولو مخکي کول کيږي، ځکه چي د دوی سره د ګران پېغمبر ﷺ مبارک نسبت تړلی دی، او زموږ په نيز به د رسول الله ﷺ مالداره قرابت والا په دې خُمس کي نه شريکول کيږي او هغوی ته به له دې خمس څخه حصه نه ورکول کيږي.

لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به په هر صورت کي د نبي ﷺ قرابت والا په دې خُمس کي شريکول کيږي او حصه به ورکول کيږي هغه که محتاج وي او که مالدار وي، او دا تقسيم به د "لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ" مطابق وي يعني خلکو ته به دوې حصې ورکول کيږي او ښځو ته به يوه حصه ورکول کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي هغه آيت په کوم سره چي د ذوی القربیٰ لپاره د خمس استحقاق ثابت سوی دی، هغه د غني او فقير له تفصيل څخه خالي دی، آيت دا دی: وَاعْلَمُوْا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِی الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ. په دې آيت کي د غني او فقير تر مينځ هيڅ فرق ذکر سوی نه دی، نو ځکه موږ ته هم دا حق نسته چي غني له دغه خمس څخه بې برخي کړو، بلکي هغه به هم د خُمس مستحق وي.

زموږ دليل: دا دی چي کوم تقسيم موږ اختيار کړی دی هغه له خلفاء راشدينو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه روايت سوی دی، او د خلفاء راشدينو اقتداء کول زموږ لپاره کافي ده، همدارنګه نبي کريم ﷺ بنو هاشم د صدقې او زکاة له اخيستلو څخه منع کړي دي او د هغه پر ځای يې دوی ته د خمس اجازه ورکړې ده، يعني ګواکي خُمس د هغه چا لپاره صحيح دی چي د هغه لپاره معوّض يعني زکاة

اخيستل صحيح وي (لنډه دا چي د بنو هاشم او سيدانو لپاره د زكاة پر ځاى خمس تاكل سوى دى).
او دا ښكاره خبره ده چي د زكاة هغه خلک حقداره دي كوم چي فقراء او محتاجه وي. لهذا د خمس حقدار به هم د نبي كريم محتاجه قريبان وي. او څرنګه چي د نسبي شرافت او نبوي قرابت په وجه د بنو هاشمو فقراء له زكاة اخيستلو څخه منع سوي دي. لهذا كوم شى چي د زكاة عوض دى يعني خُمس د هغه مستحقين به هم فقط فقراء وي. نو ځكه د امام شافعي رَحِمَهُ الله لپاره په دې خُمس كي اغنياء شريكول صحيح نه دي.

پاته سو دا سوال چي نبي كريم ﷺ خو د بنو عبد المطلب سره بنو هاشم ته خمس وركړى. لېكن بنو عبد شمس او بنو نوفل ته يې نه وركړى. آخر د دې څه وجه ده؟ د دې جواب دا دى چي په آيت كي له "ذوى القربىٰ" څخه د نصرت او اعانت قرابت مراد دى او "قربُ القرابة" يعني نسبي قرابت مراد نه دى. همدا وجه ده چي نبي كريم ﷺ بنو هاشم ته له خُمس وركولو څخه وروسته وفرمايل چي دې خلكو همېشه زما اعانت او مرسته كړې ده او زه په بنو عبد المطلب او بنوهاشم كي هيڅ فرق نه احساسوم.

د خمس تقسيم

قَالَ: فَأَمَّا ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى فِي الْخُمُسِ فَإِنَّهُ لِافْتِتَاحِ الْكَلَامِ تَبَرُّكًا بِاسْمِهِ فرمايي: كوم چي په خمس كي د الله د نامه ذكر كېدل دي نو هغه د تبرّک په توګه د الله په نامه سره د شروع كولو لپاره دي وَسَهْمُ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سَقَطَ بِمَوْتِهِ كَمَا سَقَطَ الصَّفِيُّ او د نبي كريم ﷺ په وفات سره د هغوى ﷺ حصه ساقطه سوه لكه څرنګه چي "صفي" ساقط سو لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] كَانَ يَسْتَحِقُّهُ بِرِسَالَتِهِ وَلَا رَسُولَ بَعْدَهُ ځكه چي نبي كريم ﷺ د خپل رسول كېدلو په وجه د دې حصې مستحق وو. او تر هغوى وروسته بل هيڅ رسول نسته وَالصَّفِيُّ شَيْءٌ كَانَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَصْطَفِيهِ لِنَفْسِهِ مِنَ الْغَنِيمَةِ مِثْلَ دِرْعٍ أَوْ سَيْفٍ أَوْ جَارِيَةٍ او صفي هغه دى كوم چي به نبي ﷺ به له غنيمت څخه د خپل ځان لپاره انتخابوى لكه زغره. توره او مينځه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُصْرَفُ سَهْمُ الرَّسُولِ إِلَى الْخَلِيفَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د نبي كريم ﷺ حصه به [د هغه] خليفه ته وركول كيږي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا قَدَّمْنَاهُ لېكن [د هغه په خلاف زموږ هغه دليل حُجت دى كوم چي موږ مخكي بيان كړى وَسَهْمُ ذَوِي

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الخراج، باب ما جاء في سهم الخمس، رقم الحديث: ۲۹۹۱ .

الْقُرْبٰى كَانُوْا يَسْتَحِقُّوْنَهُ فِيْ زَمَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِالنُّصْرَةِ او ذوی القربیٰ ا قرابت والا به د نبي ﷺ په زمانه کي د مدد په وجه د حصي مستحقين وو لِمَا رَوَيْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ روايت کړی

قَالَ: وَبَعْدَهُ بِالْفَقْرِ فرمايي: چي د نبي ﷺ تر زمانې وروسته به د فقر اغربت ا په وجه هغوی د خپلي حصې مستحقين ګرځي قَالَ: الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللهُ: هٰذَا الَّذِي ذَكَرَهُ قَوْلُ الْكَرْخِيِّ ناتوانه بنده وايي (الله دي هغه وساتي): چي دغه قول کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی د امام خرکي رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ الطَّحَاوِيُّ: سَهْمُ الْفَقِيرِ مِنْهُمْ سَاقِطٌ أَيْضًا او امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ادنبي کريم ﷺ ا د غريب قرابت والا حصه هم ساقطه ده لِمَا رَوَيْنَا مِنَ الْإِجْمَاعِ د هغه اجماع په وجه کوم چي موږ روايت کړه وَلِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الصَّدَقَةِ نَظَرًا إِلَى الْمَصْرِفِ او ځکه چي د مصرف وطرف ته په نظر کولو سره په دې کي د صدقې معنیٰ موجوده ده فَيَحْرُمُ كَمَا يَحْرُمُ الْعُمَالَةَ نو د عاملانو په څير به دا هم حرام وي. وَجْهُ الْأَوَّلِ وَقِيلَ هُوَ الْأَصَحُّ: مَا رُوِيَ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَعْطَى الْفُقَرَاءَ مِنْهُمْ د اول قول (او ويل سوي دي چي همدغه زيات صحيح قول دی) دليل دا دی: چي حضرت عمر رضی الله عنه ادنبي کريم ﷺ اغريبو قريبانو ته له خمس څخه حصه ورکړه وَالْإِجْمَاعُ انْعَقَدَ عَلَى سُقُوطِ حَقِّ الْأَغْنِيَاءِ او إجماع دمالدارانو د حق پر ساقطېدلو منعقده سوې ده أَمَّا فُقَرَاؤُهُمْ فَيَدْخُلُونَ فِي الْأَصْنَافِ الثَّلَاثَةِ او کوم چي د ذوی غريبان دي، نو هغوی به اخامخا ا په دريو أصنافو کي داخليږي.

اللغات: ﴿صفي﴾ دغنيمت په مال کي د جنګ د مشر (قائد) ذاتي حصه. ﴿يصطفيه﴾ د افتعال مضارع ده: غوره کول. انتخابول. ﴿مصرِف﴾ د ضرب له باب څخه د اسم ظرف صيغه ده: هغه کس چي يو مال پر خرچ کول سي يعني زکاة يا داسي بل مال ورکول سي. دلته څني مراد هغه کس دی چي د خمس مال ورکول کيږي. جمع: مَصَارِف. ﴿عمالة﴾ جمع د عَامِلٌ: کار کونکی. مراد څني د زکاة عامل دی (کوم چي له خلکو څخه عُشر، زکاة او داسي نور راټولوي).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي په دې آيت "وَاعْلَمُوْا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتَامٰى وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ" کي چي د الله لپاره د خمس کوم ذکر

سوی دی. هغه د الله په نامه په شروع کولو سره د برکت حاصلولو لپاره دی (په لنډه توګه دا چې په دې آیت کې د الله نوم د برکت په توګه اخیستل سوی دی) او ظاهراً په خمس کې د الله هیڅ حصه نسته لأنهٔ غني. همدارنګه د نبي کریم ﷺ تر وفات وروسته د هغه "سهم" (حصه) هم ساقطه سوه. ځکه چې رسول الله ﷺ د خپل رسالت په وجه د "سهم" مستحق وو. او څرنګه چې له نبي کریم ﷺ څخه وروسته بل هیڅ رسول نسته. نو له همدې کبله اوس زموږ په نېز دا حصه ساقطه ده. او اوس به د نبي ﷺ خلفاؤ ته دا حصه نه ورکول کیږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به ورکول کیږي. خو دا صحیح نه دي. ځکه که دا صحیح وای نو خلفاء راشدینو به خُمس پر څلورو حصو تقسیمولای حالانکي هغو هم خُمس پر دريو حصو تقسیم کړی.

همدارنګه "صفي" هم د نبي ﷺ تر وفات وروسته ساقط سو. د صفي معنیٰ ده "غوره کول. خوښول. انتخابول". د دې مطلب دا دی چې کله به اول د غنیمت مال راغلی او په هغه کې به د نبي کریم ﷺ یو شی خوښ سو مثلاً زغره. توره. مینځه او داسي نور. نو هغه به یې د خپل ځان لپاره منتخب کوی. تر دې وروسته به یې غنیمت تقسیموی. دغه انتخاوبولو ته "صفي" وایي. څرنګه چې دا د رسول کېدلو په وجه د نبي ﷺ حق وو. او اوس هیڅ رسول نسته. نو له همدې کبله د صفي حق هم ساقط سو.

<u>وسهم ذوي القربي</u>: فرمایي چي د نبي ﷺ په ژوند کي د هغه قرابت والا (ذوي القربیٰ) د نصرت او اعانت پر بناء د خُمس مستحقین وو. او د نبي ﷺ تر وفات وروسته به هغوی د فقر او محتاجي په وجه د خمس مستحقین ګرځي. دا د امام کرخي رَحِمَهُ الله قول دی. او د امام طحاوي رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي د نبي ﷺ تر وفات وروسته د محتاجه قرابت والا حصه هم ساقطه سوه. ځکه چي خلفاء راشدینو به هم خُمس فقط پر دريو حصو تقسیموی. او په هغه کي به یې ذوي القربیٰ ته حصه نه ورکول. د دې سلسلې عقلي دلیل دا دی چي د مَصرِف وطرف ته په نظر کولو سره د خُمس دا حصه د صدقې په معنیٰ کي ده له همدې کبله د نبي ﷺ تر مرګ وروسته هاشمي ته له دې څخه حصه ورکول جائز نه دي که څه هم هغه محتاج وي. لکه کله چي یو عامل هاشمي وي نو د هغه لپاره هم له خُمس څخه د خپل عمل مزدوري اخیستل جائز نه دي. لېکن زیاته صحیح خبره دا ده چي د نبي ﷺ محتاجه قرابت والا ته له خمس څخه حصه ورکول جائز دي. ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه دوی ته حق او حصه ورکړې ده. او د دوی د حق د سقوط په هکله چي کومه اجماع سوې ده. هغه د مالدارانو سره خاص ده. او فقیران په هر حال کي د دې مستحق او حقداره دي او په أصناف ثلاثه وو یعني په یتامیٰ. مساکین او ابن السبیل کي داخل او شامل دي.

د امام له اجازت څخه بغیر په دارُ الحرب کې د لوټماری کونکو د غنیمت مسئله

وَإِذَا دَخَلَ الْوَاحِدُ أَوِ الِاثْنَانِ دَارَ الْحَرْبِ مُغِيرَيْنِ بِغَيْرِ إِذْنِ الْإِمَامِ او کله چې یو یا دوه خلک د امام له اجازت څخه بغیر د لوټماری کولو لپاره دارُ الحرب ته داخل سي فَأَخَذُوا شَيْئًا او هغوی یو شی واخلي ایعني یو مال لوټ کړي ا لَمْ يُخَمَّسْ نو له هغه مال څخه به خمس نه ایستل کیږي لِأَنَّ الْغَنِيمَةَ هُوَ الْمَأْخُوذُ قَهْرًا وَغَلَبَةً لَا اخْتِلَاسًا وَسَرِقَةً ځکه چې غنیمت هغه مال ته وایي کوم چې په زوره او غلبه سره اخیستل سوی وی. نه په چل کولو او غلا کولو سره وَالْخُمُسُ وَظِيفَتُهَا او خمس د غنیمت وظیفه ده ایعني خمس د غنیمت له مال څخه اخیستل کیږي ا وَلَوْ دَخَلَ الْوَاحِدُ أَوِ الِاثْنَانِ بِإِذْنِ الْإِمَامِ او که چیري اهغه ا یو یا دوه خلک د امام په اجات سره داخل سي فَفِيهِ رِوَايَتَانِ نو په دې باره کې دوه روایتونه دي. وَالْمَشْهُورُ أَنَّهُ يُخَمَّسُ او مشهور روایت دا دی چې له هغه څخه به خمس ایستل کیږي لِأَنَّهُ لَمَّا أَذِنَ لَهُمُ الْإِمَامُ ځکه کله چې امام هغو ته اجازه ورکړه فَقَدِ الْتَزَمَ نُصْرَتَهُمْ بِالْإِمْدَادِ نو امام اپر خپل ځان ا د امداد په ذریعه د دوی مرسته کول لازم کړه فَصَارَ كَالْمَنَعَةِ نو ادغه یو. دوه خلک ا داسې سو لکه قوت والا ایعني ګواکې دغه یوه. دوو خلګو ته هم دفاعي قوت حاصل سوا فَإِنْ دَخَلَتْ جَمَاعَةٌ لَهَا مَنَعَةٌ فَأَخَذُوا شَيْئًا او که چیري یو داسې جماعت چې هغه ته دفاعي قوت حاصل وي ادارُ الحرب ا ته داخل سي او یو شی واخلي خُمِّسَ نو له هغه څخه به خمس ایستل کیږي وَإِنْ لَمْ يَأْذَنْ لَهُمُ الْإِمَامُ که څه هم امام هغو ته اجازه ورکړې نه وي لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌ قَهْرًا وَغَلَبَةً ځکه چې دا مال په زور او غلبه سره اخیستل سوی دی فَكَانَ غَنِيمَةً لهذا هغه به غنیمت وي وَلِأَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الْإِمَامِ أَنْ يَنْصُرَهُمْ او ځکه چې پر امام د دوی مرسته کول ضروري دي إِذْ لَوْ خَذَلَهُمْ كَانَ فِيهِ وَهْنُ الْمُسْلِمِينَ ځکه که امام دوی مرسته نه وکړي نو په دې کې به د مسلمانانو کمزوري وي ایعني په دې سره به د مسلمانانو ضعف او کمزوري ښکاره سي ا بِخِلَافِ الْوَاحِدِ وَالِاثْنَيْنِ په خلاف د یوه او دوو خلکو لِأَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ نُصْرَتُهُمْ ځکه چې پر امام د هغو مرسته کول ضروري نه دي.

اللغات: ﴿مُغيرين﴾ د افعال جمع اسمِ فاعل دی: لوټماري کونکي، ډاکه وهونکي، چاپه وهونکي.
﴿اختلاس﴾ چل کول، له يو چا څخه د هغه د ناپامي په حالت کي ناڅاپه او په ډېره تېزي سره يو شی اخيستل. ﴿منعة﴾ د مدافعت قوت، دفاعي قوت. ﴿خذلهم﴾ د نصر ماضي ده: مدد پرېښوول، مرسته نه ور سره کول (مصباح اللغات). ﴿وهن﴾ کمزوري.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري يو يا دوه خلک د امام له اجازې څخه بغير په دارُ الحرب کي د لوټماری کولو په نيت ننوځي او بيا هلته يو څه مال حاصل کړي، نو له هغه څخه به خمس نه ايستل کيږي، ځکه چي خمس له غنيمت څخه ايستل کيږي. او دا د غنيمت مال نه دی. ځکه چي غنيمت هغه مال ته وايي کوم چي په قهر، زور او غلبه سره حاصل کړی سي نه په غلا او لوټماري سره. او څرنګه چي دا د لوټماری مال دی نو ځکه به له هغه څخه خُمس نه ايستل کيږي. او که چيري دا خلک د امام په اجازه سره داخل سوي وي، نو په دې صورت کي د خمس ايستلو په هکله دوه روايتونه دي: ① يو روايت دا دی چي له هغه څخه به خمس نه ايستل کيږي. ② دويم روايت دا دی چي ايستل کيږي به، ځکه چي امام هغو ته په اجازه ورکولو سره د هغوی د حمايت او نصرت اعلان وکړی او معناً هغو ته قوت حاصل سو. همدا وجه ده که (د مجاهدينو) داسي جماعت (ډله) کوم چي (د منع کولو) قوت لري دارُ الحرب ته ننوځي او هلته مال حاصل کړي نو له هغه څخه به خمس ايستل کيږي که څه هم د جماعت خلکو له امام څخه اجازه اخيستې نه وي، ځکه چي دوی په قهر او غلبه سره هغه مال حاصل کړی دی نو ځکه به هغه د غنيمت مال وي، او په دې وجه هم چي دغه جماعت ته قوت هم حاصل دی او د امام نصرت هم ور ته حاصل دی، ځکه که امام د دوی نصرت او مدد نه وکړي نو په مسلمانانو کي به انتشار پيدا سي او په دې سره به د مسلمانانو کمزوري ښکاره سي چي د هغه فايده به دښمن ته ورسيږي، نو د دې خرابی د مخنيوي لپاره به امام خامخا د دوی نصرت کوي. لېکن که چيري يو، دوه خلک وي نو پر امام د هغو نصرت کول ضروري نه دی، ځکه چي په داسي حرکت کولو سره به بيا هر يو د نصرت او حمايت په طمع او لالچ کي ګرېږ جوړوي او لوټماري به کوي.



فَصْلٌ فِي التَّنْفِيْلِ

(دا) فصل د نفل (يعني د زائد انعام ورکولو په بيان کي) دی

د امام له طرفه "د نفل" د بخشش کولو وعده

قال: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُنَفِّلَ الْإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ فرمايي: او په دې کي هيڅ حرج نسته چي د قتال [جنګ] په حالت کي امام تنفيل وکړي وَيُحَرِّضَ عَلَى الْقِتَالِ او [په دې سره] مجاهدين پر قتال وهڅوي فَيَقُولَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ او [مثلاً داسي] ووايي: "کوم مجاهد چي يو کافر قتل کړي نو د کافر سامان د هغه دی" وَيَقُولَ لِلسَّرِيَّةِ: قَدْ جَعَلْتُ لَكُمُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ ايا مثلاً [ا سريې والا ته [داسي] ووايي: "تر خُمس وروسته د غنيمت څلورمه حصه ما ستاسو لپاره [خاص] وګرځوله مَعْنَاهُ بَعْدَمَا رَفَعَ الْخُمُسَ يعني تر خمُس ايستلو وروسته لِأَنَّ التَّحْرِيضَ مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ ځکه چي [پر جنګ] هڅول مستحب دي قال: اللهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ [الأنفال: ٦٥] الله تعالىٰ فرمايلي دي: اې نبي! مسلمانان پر جنګ وهڅوه! وَهَذَا نَوْعُ تَحْرِيضٍ او دا [تنفيل] هم يو قسم هڅول دي ثُمَّ قَدْ يَكُونُ التَّنْفِيلُ بِمَا ذُكِرَ بيا تنفيل کله داسي کيږي لکه څرنګه چي [په متن کي] ذکر سو وَقَدْ يَكُونُ بِغَيْرِهِ او کله له هغه څخه بغير [په بله توګه] کيږي ايعني له هغه څخه بغير په بله طريقه سره هم تنفيل کېدای سي] إِلَّا أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يُنَفِّلَ بِكُلِّ الْمَأْخُوذِ لېکن د امام لپاره پکار نه دي چي د ټوله اخيستل سوي مال تنفيل وکړي لِأَنَّ فِيهِ إِبْطَالَ حَقِّ الْكُلِّ ځکه چي په دې کي د ټولو د حق باطلول دي فَإِنْ فَعَلَهُ مَعَ السَّرِيَّةِ جَازَ لېکن که د سريې والا سره داسي وکړي نو جائز دي لِأَنَّ التَّصَرُّفَ إِلَيْهِ ځکه چي تصرُف [فقط] امام ته حاصل دی وَقَدْ يَكُونُ الْمَصْلَحَةُ فِيهِ او کله نا کله په داسي کولو کي مصلحت [او خير] وي وَلَا يُنَفِّلُ بَعْدَ إِحْرَازِ الْغَنِيمَةِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ او په دارُ الاسلا کي د غنيمت تر جمع کولو وروسته امام تنفيل نه سي

کولای لِأَنَّ حَقَّ الْغَيْرِ قَدْ تَأَكَّدَ فِيهِ بِالْإِحْرَازِ ځکه چي د إحراز (جمع کولو) په وجه په دې مال کې د نورو حق پوخ (او مضبوط) سو قال: إِلَّا مِنَ الْخُمُسِ فرمايي: مګر له خمس څخه تنفيل کولای سي لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لِلْغَانِمِينَ فِي الْخُمُسِ ځکه چي په خُمس کې د مجاهدينو حق نسته.

اللغات: ﴿يُنَفِّل﴾ د تفعيل مضارع ده، نَفَّلَ يُنَفِّلُ تَنْفِيلًا: د اضافي انعام ورکولو وعده کول. ﴿يُحَرِّض﴾ د تفعيل مضارع ده: حَرَّضَ يُحَرِّضُ تَحْرِيضًا: هڅول، آماده کول، پارول، تشويقول، جنګ او جګړې ته تيارول. ﴿سَلَب﴾ (د لام په فتحه سره): سلب کړی سوی سامان. هغه سامان چي له يو چا څخه په زور سلب کړی سي، مراد ځني د مقتول وسله او سامان دی. ﴿سرية﴾ د مجاهدينو کوچنی ډله، کوچنی لښکر. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول (خوندي کول)، ذخيره کول (جمع کول)، ﴿غانمين﴾ جمع د غَانِمٌ ده: غنيمت حاصلونکي، مراد ځني غازي او مجاهد دی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که امام د قتال په دوارن کې پر جنګ د مجاهدينو د هڅولو لپاره هغو ته د "نفل" په توګه د څه انعام ورکولو اعلان وکړي، نو دا صحيح او جائز دی. مثلاً امام داسي ووايي: "کوم مجاهد چي کافر قتل کړي، د هغه مقتول کافر وسله او سامان هم د هغه مجاهد دی". يا مثلاً امام د يوې سريې مجاهدينو ته داسي ووايي: "کوم مال چي تاسي حاصل کړئ. تر خمس ايستلو وروسته هغه ټوله مال ستاسو دی". نو دغه تحريض بشکل التنفيل صحيح او جائز دی او د قرآن کريم په دې آيت سره ثابت دی "يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ" او د تنفيل په حواله سره چي کوم صورت موږ بيان کړی هغه هم د تحريض يو صورت دی بلکي أهم صورت يې دی. او تحريض فقط زموږ د دغه بيان سوي صورت سره خاص نه دی بلکي له دې څخه بغير په نورو طريقو سره هم تحريض کېدای سي، مثلاً امام داسي ووايي "که چيري په مال غنيمت کي سره زر او سپين زر لاس ته راسي نو هغه زه تاسي ته د "نفل" په توګه درکووم" او داسي نور. لنډه دا چي په دې باره کي هره طريقه صحيح ده.

خو امام ته پکار دي چي د ټوله مال غنيمت د تنفيل اعلان نه وکړي، ځکه چي په داسي کولو سره به د نورو مجاهدينو حق ضايع سي، او د يو چا حق ضايع کول او لاندي کول صحيح نه دی. ها! که چيري امام د سريې سره دا کار وکړي يعني د سريې مجاهدينو ته داسي ووايي: "په دغه جنګ کي چي کوم مال تاسي حاصل کړی هغه ستاسو دی". نو امام ته د داسي ويلو او کولو حق سته، ځکه چي د

تصرّف ولايت فقط امام ته حاصل دی. او ځيني وخت په داسي کولو کي مصلحت او خير هم وي. نو ځکه به امام ته د دې حق وي.

ولاينفل إلخ: فرمايي چي په دارُالاسلام کي د مالِ غنيمت تر جمع کولو وروسته امام تنفيل نه سي کولای؛ ځکه چي تر إحراز وروسته د دغه مال سره د هر مجاهد حق متعلق کيږي او د هر مجاهد حق پکښې مستحکم کيږي. همدارنګه تر إحراز وروسته قتال ختم سي حال دا چي تنفيل د تحريض على القتال لپاره دی. نو ځکه به تر إحراز وروسته د تنفيل هيڅ فايده نه وي. ها! له مال غنيمت څخه تر خمس ايستلو وروسته تنفيل کېدای سي. ځکه چي په خُمس کي د غازيانو او مجاهدينو حق نسته. نو ځکه به دا د هغو د حق إبطال نه وي.

د مقتول په سامان کي د قاتل استحقاق

وَإِذَا لَمْ يَجْعَلِ السَّلَبَ لِلْقَاتِلِ او که چيري امام د قتل کونکي (مجاهد) لپاره (د مقتول) سامان مقرر کړی نه وي فَهُوَمِنْ جُمْلَةِ الْغَنِيْمَةِ نو هغه سامان به د غنيمت له مجموعې څخه وي وَالْقَاتِلُ وَغَيْرُهُ فِي ذٰلِكَ سَوَاءٌ او قاتل او غير قاتل به په هغه کي برابر وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلسَّلَبُ لِلْقَاتِلِ إِذَا كَانَ مِنْ أَهْلِ أَنْ يُسْهَمَ لَهُ وَقَدْ قَتَلَهُ مُقْبِلًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي (د مقتول) سامان به د قاتل وي (په دې شرط) کله چي هغه د دې أهل وي چي (په غنيمت کي) حصه ورکول سي او هغه يو مخامخ حمله کونکي (کافر) قتل کړی وي لِقَوْلِهِ[1] عليه السلام: مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ ځکه چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چي يو څوک قتل کړي نو د مقتول سامان به د هغه وي وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ نَصْبُ شَرْعٍ او ښکاره دا ده چي دا د يو قانون مقرر کول دي (يعني ظاهري حالت دا دی چي په دې فرمان سره نبي ﷺ د همېشه لپاره يو قانون ښوولی او مقرر کړی دی) لِأَنَّهُ بَعَثَهُ لَهُ ځکه چي نبي کريم ﷺ د همدې (قانون مقرر کولو) لپاره رااستول سوی وو وَلِأَنَّ الْقَاتِلَ مُقْبِلًا أَكْثَرُ غَنَاءً او ځکه چي د مخامخ حمله کولو والا قتل کونکی (مسلمانانو ته) زيات نفع رسونکی دی (يعني کوم قاتل (مجاهد) چي داسي کافر قتل کړي کوم چي مخامخ حمله کونکي وي نو په دې سره هغه مسلمانانو ته زياته نفع ورسوله) فَيَخْتَصُّ بِسَلَبِهِ نو ځکه به دغه قاتل د هغه مقتول د سامان سره خاص کيږي إِظْهَارًا لِلتَّفَاوُتِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ د دې

---

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الجهاد باب في السلب يعطى القاتل، رقم الحديث:۲۷۱۷.

لپاره چي د ده او د نورو په مينځ کي فرق ښکاره کړی سي وَلَنَا: أَنَّهُ مَأْخُوذٌ بِقُوَّةِ الْجَيْشِ زموږ دليل دا دی: چي دا سامان د لښکر په زور سره اخيستل سوی دی فَيَكُونُ غَنِيمَةً نو ځکه به دا غنيمت وي فَيُقْسَمُ قِسْمَةَ الْغَنَائِمِ او د غنيمتونو په شير به تقسيمول کيږي كَمَا نَطَقَ بِهِ النَّصُّ لکه قرآني آيت چي د دې بيان کړی دی [مراد ځني دا آيت دی: وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ... (سورة الأنفال: ۴۱)] وَقَالَ عليه السلام: لِحَبِيبِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ: لَيْسَ لَكَ مِنْ سَلَبِ قَتِيلِكَ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُ إِمَامِكَ او نبي کريم ﷺ حبيب بني أبي سلمه رضي الله عنه ته وفرمايل چي: ستا لپاره [فقط] د مقتول هغه سامان دی چي د هغه [په درکولو] ستا امام خوشاله وي ايعني ته نقط د خپل مقتول هغه سامان اخيستلای سې کوم چي يې امام تا ته درکړي] وَمَا رَوَاهُ يَحْتَمِلُ نَصْبَ الشَّرْعِ وَيَحْتَمِلُ التَّنْفِيلَ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی سوی حديث د قانون مقرّر کولو [او ښوولو] احتمال [هم] لري او د نفل په توګه د ورکولو احتمال [هم] لري فَنَحْمِلُهُ عَلَى الثَّانِي لِمَا رَوَيْنَاهُ نو ځکه موږ د حضرت حبيب رضي الله عنه په حديث سره دغه روايت پر دويمه معنیٰ حمل کوو وَزِيَادَةُ الْغِنَاءِ لَا تُعْتَبَرُ فِي جِنْسٍ او د نفع زياتوب په يوه جنس کي معتبر نه دی وَاحِدٍ كَمَا ذَكَرْنَاهُ لکه مخکي چي موږ [دا خبره] ذکر کړه.

اللغات: ﴿جملة﴾ مجموعه، ﴿مُقبِل﴾ د افعال اسمِ فاعل دی: د مخ لخوا وار کونکی، مخامخ حمله کونکی، ﴿ما طابت به نفسه﴾ هغه څه چي د انسان زړه په خوشاله سي، دلته يې مطلب دا دی هغه څه کوم چي يې تا ته خپل امام په رضا او خوښي سره درکړي، ﴿قَتيل﴾ قتل کړی سوی (وژل سوی)، مقتول.

تشريح: **صورت دمسئلې**: دا دی چي زموږ په نيز به قاتل (غازي) ته په هغه صورت کي د مقتول وسله او سامان ورکول کيږي کله چي امام دا سې اعلان کړی وي چي "من قتل قتيلا فله سلبه". لېکن که د امام له طرفه دا اعلان نه وسي، نو زموږ په نيز به قاتل د مقتول د سامان حقدار نه وي، بلکي هغه سامان به په مال غنيمت کي شامليږي او ټوله مجاهدين به په هغه کي شريک وي. د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي که چيري قاتل د سهم او حصې مستحق وي او هغه مخامخ حمله کونکی کافر قتل کړی وي (يعني کافر د قاتل سره مخامخ جنګ او نښته کړې وي او بيا قاتل هغه قتل کړی وي، دا سې نه وي چي د کافر شا وي، يا د تيښتي په حال کي وي او قاتل قتل کړی وي) نو په دې صورت کي قاتل د هغه مقتول د سامان مستحق کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي په حديث کي په ښکاره توګه دا اعلان سوی دی "من قتل قتيلا فله سلبه"، په دې حديث سره امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې توګه دليل نيسي چي نبي کريم ﷺ په دې فرمان سره (د همېشه

لپاره) يوه قاعده او قانون ټاکلى دى چي قاتل به د مقتول د سامان مستحق وي. او څرنګه چي نبي ﷺ د شرعي قوانيو د ټاکلو او د خلکو د لارښوونې لپاره دنيا ته را استول سوى دى. لهذا په دې حواله سره دغه طرف ته نور تقويت حاصل سو.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دى چي کله قاتل يو داسي کافر قتل کړي کوم چي مخامخ پر مسلمانانو حمله کول غواړي نو ښکاره خبره ده چي قاتل د هغه له شر څخه د ډېرو مسلمانانو ځان او نفس وساتى، او د مسلمانانو ځان ساتل ډېر أهم کار دى او ډېره غټه نفع ده. نو په دې وجه به هم دغه قاتل (غازي) د هغه کافر مقتول د سامان مستحق وي، د دې لپاره چي د ده او د نورو قاتلانو (غازيانو) په مينځ کي فرق وسي.

ګواکي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به داسي قاتل ته د خپل شجاعت او مېړاني په وجه د مقتول سامان په انعام کي ورکول کيږي.

زموږ دليل: دا دى چي نبي کريم ﷺ حضرت حبيب بن سلمه رضي الله عنه ته داسي وفرمايل چي "ليس لک من سلب قتيلک إلا ما طابت به نفس إمامك" يعني د مقتول په سامان کي فقط ستاسي حق نسته يعني ټوله سامان ستاسي نه دى بلکي څومره چي ستاسو امام وغواړي بس! هغومره به تاسي اخلئ!. صاحب د بنايې ليکلي دي چي نبي کريم ﷺ دا إرشاد او فرمان مخامخ (براه راست) حضرت حبيب ته نه وو کړى. بلکي دا د حضرت معاذ رضي الله عنه فرمان دى، قصه داسي ده چي يو وار حضرت حبيب رضي الله عنه يو تاجر قتل کړى چي د هغه سره ډېر زيات مال وو، کله چي هغه مال راوړل سو نو حضرت حبيب رضي الله عنه وغوښتل چي ټوله مال واخلي. لېکن حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ورته وويل چي ورو ره!! ټوله مه اخله! نو حضرت حبيب وويل: "قال رسول الله ﷺ: من قتل قتيلا فله سلبه"، د دې په اورېدلو سره حضرت ابو عبيده وويل: "لم يكن ذلك للأبد" چي د نبي کريم ﷺ دا إرشاد د همېشه لپاره نه وو، نو په دې وخت کي حضرت معاذ رضي الله عنه حضرت حبيب رضي الله عنه ته وفرمايل: "ألا تتق الله وتأخذ ما طابت به نفس إمامك" چي اې حبيب! له الله څخه وېرېږه او څومره چي د امام خوښه وي هغه په رضا سره واخله!. او حضرت معاذ دا کلام تر نبي کريم ﷺ پوري مرفوع کړى او پر دې باندي هغو اتفاق وکړى(بنايه ج: ۶، ص: ۵۹۶). له دې څخه معلومه سوه چي د امام له مخکني اعلان څخه بغير قاتل د مقتول د پوره سامان نه حقداره کيږي.

پاته سو د امام شافعي رَحِمَهُ الله بيان سوى حديث نو په هغه کي دوه احتماله دي: (۱) هغه به قانون وي. (۲) يا هغه به د انعام او تنفيل په توګه وي، او څرنګه چي د حضرت معاذ رضي الله عنه په روايت سره د دې خبرې تائيد کيږي چي هغه د تنفيل په توګه دى. نو ځکه موږ هغه پر تنفيل محمول کوو. او بل دا چي که هغه قانون واى نو په هغه کي به د مخامخ حمله کونکي کافر قتل کول شرط نه واى، ځکه چي د شريعت قوانين عموماً عام وي. او بل دا چي فقط په قتال کولو کي زياته نفع رسول معتبر نه دي، ځکه چي زموږ په نېز "کر" او "فر"

دواړه يو شی دي او له يوه جنس څخه دي، نو کله چې ګرګ او فرز دواړه يو شی دي. نو د مُقبِل کافر او مُدبِر کافر قتل کول به هم يو شی وي او د انعام په حواله سره به په دوی کې هيڅ فرق نه کيږي.

د "سلب" تشريح او تعيين

وَالسَّلَبُ مَا عَلَى الْمَقْتُولِ مِنْ ثِيَابِهِ وَسِلَاحِهِ او سَلَب هغه جامه او وسله ده کوم چې د مقتول پر بدن وي وَمَرْكَبُهُ وَكَذَا مَا كَانَ عَلَى مَرْكَبِهِ مِنَ السَّرْجِ وَالْآلَةِ او [همدارنګه] د هغه سپارلي او هغه زين او آلات [قيزه] کوم چې پر سپارلي وي وَكَذَا مَا مَعَهُ عَلَى الدَّابَّةِ مِنْ مَالِهِ فِي حَقِيبَتِهِ أَوْ عَلَى وَسَطِهِ او همدارنګه هغه مال کوم چې د ده سره په تيلی [بسته] کې وي يا په هغه تيلی کې وي کوم چې د سپارلي پر مينځ [انس] تړل سوي وي وَمَا عَدَا ذٰلِكَ فَلَيْسَ بِسَلَبٍ او له دې څخه بغير نور شيان سَلَب نه دی وَمَا كَانَ مَعَ غُلَامِهِ عَلَى دَابَّةٍ أُخْرَى فَلَيْسَ بِسَلَبِهِ او کوم سامان چې د ده د غلام سره پر بله سپارلي وي نو هغه [هم] د ده سَلَب نه دی. ثُمَّ حُكْمُ التَّنْفِيلِ قَطْعُ حَقِّ الْبَاقِينَ بيا د تنفيل حکم دا دی: چې [له دې مال څخه] د نورو مجاهدينو حق قطع کيږي فَأَمَّا الْمِلْكُ فَإِنَّمَا يَثْبُتُ بَعْدَ الْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ او کوم چې ملکيت دی نو اد منفل لهٔ لپاره] هغه په دارُ الاسلام کي تر أحراز وروسته ثابتيږي لِمَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ د هغه دليل په وجه کوم چې مخکې تېر سو حَتّٰى لَوْ قَالَ الْإِمَامُ: مَنْ أَصَابَ جَارِيَةً فَهِيَ لَهُ تر دې که امام [داسي] ووايي: "کوم غازي چې مينځه ترلاسه کړي هغه مينځه د هغه ده" فَأَصَابَهَا مُسْلِمٌ وَاسْتَبْرَأَهَا بيا يو مجاهد يوه مينځه ترلاسه کړي او د هغې استبراء [هم] وکړي ايعني په حيض سره هغه پاکه هم کړي] لَمْ يَحِلَّ لَهُ وَطْؤُهَا وَكَذَا لَا يَبِيعُهَا نو د دې مجاهد لپاره د هغه مينځې سره وطي کول روا نه دي او نه د هغې خرڅول روا دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ: مُحَمَّدٌ ✿: لَهُ أَنْ يَطَأَهَا وَيَبِيعَهَا امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغې سره وطي کول هم روا دي او د هغې خرڅول هم روا دي لِأَنَّ التَّنْفِيلَ يَثْبُتُ بِهِ الْمِلْكُ عِنْدَهُ ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په تنفيل سره ملکيت ثابتيږي كَمَا يَثْبُتُ بِالْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَبِالشِّرَاءِ مِنَ الْحَرْبِيِّ لکه په دارُ الحرب کې د تقسيمولو او له حربي څخه د رانيولو په صورت کې چې ملکيت ثابتيږي وَوُجُوبُ الضَّمَانِ بِالْإِتْلَافِ قَدْ قِيلَ: عَلَى هٰذَا الِاخْتِلَافِ. او د هلاکولو په وجه د ضمان واجبېدلو په باره کې ويل سوي دي: چې هغه [هم] پر دغه اختلاف دي.

✿ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۶۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۸۵]

اللغات: ﴿مرکب﴾ سپارلي، سورلي، ﴿ما عدا ذالک﴾ له دې څخه بغير، له دې څخه بغير. ﴿حقيبة﴾ بسته، خلته، تېلۍ، صاحب د معجم الوسيط يې داسې تعريف کړی دی: خريطة يعلقها المسافر في الرحل للزاد (يعني هغه غټه خلته او کڅوړه کوم چې يې مسافر او مجاهد د سپارلي په کجاوه کې راځړوي او خوراک، جامې او داسې نور څه پکښې ږدي)، ﴿وسط﴾ دا هغه تېلۍ او کڅوړې ته وايي کوم چې يې مسافر او مجاهد د آس پر مينځ يعني د هغه پر نس راځړوي چې په هغه کې خپل سامان ږدي، ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظه کول، خوندي کول، ﴿إتلاف﴾ د افعال مصدر دی: هلاکول.

تشريح: مخکې چې کوم دا خبره ذکر سوه چې که امام د تنفيل اعلان وکړي نو قاتل د مقتول د سلب او سامان حقدار ه جوړېږي، په دې عبارت کې د هغه سلب تعيين او تفصيل بيان سوی دی، نو فرمايي چې د مقتول د بدن جامې، اسلحه، او نور مالونه کوم چې د مقتول په خلته (تېلۍ) کې محفوظ وي، همدارنګه د هغه آس، د آس زين او قيضه (قيزه) دا ټوله شيان په سلب کې داخل او شامل دي او منفل لهٗ (قاتل) د دې ټولو شيانو مستحق دی. له دې څخه بغير که چيرې د مقتول بله سپارلي وي او پر هغه باندې هم سامان وي چې هغه د مقتول د غلام په لاس کې وي (يعني د هغه غلام يې حفاظت کوي)، نو هغه سپارلي او داسې نور سلب نه دی. بيا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په تنفيل سره فقط په دارُ الحرب کې دا حکم ثابتېږي چې د دغه مقتول له سامان څخه د نورو مجاهدينو حق منطقع کيږي او د منفل لهٗ ملکيت په دارُ الاسلام کې ترإحراز وروسته ثابتيږي، لېکن د امام محمد او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ الله په نېز محض په تنفيل سره د مقتول په سلب کې د قاتل ملکيت ثابتيږي، نو که چيري امام د تنفيل داسې اعلان وکړي چې "هر مجاهد چې مينځه حاصله کړي هغه مينځه د هغه مجاهد ده" او بيا يو مجاهد يو کافر قتل کړي او د هغه مينځه ترلاسه کړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه مجاهد په دارُ الحرب کې د مينځې سره نه وطي کولای سي او نه يې خرڅولای سي، لېکن د امام محمد او ائمه ثلاثه وو په نېز دا دواړه شيان حلال او روا دي، ځکه چې د دوی په نېز په تنفيل سره ملکيت ثابت سو.

ووجوب الضمان إلخ: د دې حاصل دا دی چې که يو مجاهد د مقتول سلب او سامان حاصل کړي او بيا يو بل څوک هغه هلاک کړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به مُتلف (هلاکوکن) نه ضامن کيږي، ځکه چې قاتل مجاهد د هغه مالک نه دی، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به مُتلف د هغه ضامن کيږي، ځکه چې د امام محمد په نېز مجاهد د هغه مالک سو او په هغه کې د مجاهد ملکيت ثابت سو. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ اِسْتِیْلَاءِ الْکُفَّارِ

(دا) باب د کافرانو د غالبېدلو (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: مخکي تر دې د مسلمانانو د استیلاء په هکله بیان وسو، اوس له دې ځایه د کفارو د استیلاء بیان کیږي او ښکاره خبره ده چي د مسلمانانو أحکام له کفارو څخه مقدم او أفضل دي، نو په دې وجه یې هغه مخکي بیان کړل.

د کفارو په قبضه کي د راتلونکو أموالو حکم

وَإِذَا غَلَبَ التُّرْكُ عَلَى الرُّوْمِ او که چیري ترک والا [ترکیان] پر رومیانو غالب سي فَسَبَوْهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ او هغوی قید کړي او مالونه یې واخلي مَلَكُوْهَا نو هغوی د دې [مالونو] مالکان کیږي لِأَنَّ الِاسْتِيلَاءَ قَدْ تَحَقَّقَ فِي مَالٍ مُبَاحٍ ځکه چي په مباح مال کي غلبه ثابته سوه وَهُوَ السَّبَبُ او همدا غلبه د ملکیت سبب ده عَلَى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چي وروسته به موږ انشاء الله د دې بیان وکړو فَإِنْ غَلَبْنَا عَلَى التُّرْكِ حَلَّ لَنَا مَا نَجِدُهُ مِنْ ذٰلِكَ او که چیري موږ پر ترکیانو غالب سو نو زموږ لپاره هغه مالونه حلال ګرځي کوم چي یې موږ حاصل کړو اعْتِبَارًا بِسَائِرِ أَمْلَاكِهِمْ د هغوی پر نورو ملکیتونو باندي په قیاس کولو سره وَإِذَا غَلَبُوا عَلَى أَمْوَالِنَا وَالْعِيَاذُ بِاللهِ وَأَحْرَزُوهَا بِدَارِهِمْ او که هغوی زموږ پر مالونو غالب سي (العیاذ بالله) او [بیا] هغه مالونه په خپل ملک کي محفوظ کړي [یعني دارُ الحرب ته یې یووړي] مَلَكُوْهَا نو دوی د هغه مالکان کیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَمْلِكُوْنَهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د هغه نه مالکان کیږي لِأَنَّ الِاسْتِيلَاءَ مَحْظُوْرٌ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً ځکه چي [زموږ پر مالونو د کفارو] قبضه ممنوع ده ابتداءً هم او انتهاءً هم وَالْمَحْظُوْرُ لَا يَنْتَهِضُ سَبَبًا لِلْمِلْكِ او ممنوع د ملکیت سبب جوړېدلای نه سي عَلَى مَا عُرِفَ مِنْ قَاعِدَةِ الْخَصْمِ لکه څرنګه چي د خصم له قاعدې څخه معلومه سوې ده وَلَنَا أَنَّ الِاسْتِيلَاءَ وَرَدَ عَلَى مَالٍ مُبَاحٍ زموږ دلیل دا دی: چي [د کفارو] قبضه پر مباح مال واقع سوې ده فَيَنْعَقِدُ سَبَبًا لِلْمِلْكِ دَفْعًا لِحَاجَةِ الْمُكَلَّفِ لهذا د مکلف د حاجت دفع

كولو په خاطر به دا قبضه د ملكيت سبب جوړيږي كَاسْتِيلَائِنَا عَلَى أَمْوَالِهِمْ لكه زموږ قبضه چي د دوى پر مالونو [د ملكيت سبب جوړيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ الْعِصْمَةَ تَثْبُتُ عَلَى مُنَافَاةِ الدَّلِيلِ ضَرُورَةَ تَمَكُّنِ الْمَالِكِ مِنَ الِانْتِفَاعِ او دا حكم په دې وجه دى چي [د أموالو] عصمت ځكه ثابتيږي چي مالک د نفع پر حاصلولو قادر سي فَإِذَا زَالَتِ الْمُكْنَةُ [لېكن] كله چي د انتفاع قدرت زائل سي عَادَ مُبَاحًا كَمَا كَانَ نو هغه مال د مخكي په څير مباح وګرځي غَيْرَ أَنَّ الِاسْتِيلَاءَ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالْإِحْرَازِ بِالدَّارِ خو له إحراز بالدار څخه بغير پوره قبضه نه ثابتيږي لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنِ الِاقْتِدَارِ عَلَى الْمَحَلِّ حَالًا وَمَآلًا ځكه چي قبضه په حال او مآل [پاى] دواړو كي پر مقبوضه مال له قدرت لرلو څخه عبارت ده ايعني استيلاء او قبضه دې ته وايي چي په حال او مستقبل دواړو كي قابض د مقبوضه مال پر انتفاع قادر وي] وَالْمَحْظُورُ لِغَيْرِهِ إِذَا صَلُحَ سَبَبًا لِكَرَامَةٍ تَفُوقُ الْمِلْكَ وَهُوَ الثَّوَابُ الْآجِلُ فَمَا ظَنُّكَ بِالْمِلْكِ الْعَاجِلِ؟ او ممنوع لغيره چي كله د يو داسي كرامت [ستر والي] سبب وي كوم چي له ملكيت څخه بالا اغېز] وي چي هغه أخروي ثواب دى نو د اوسني ملكيت [دنياوي منفعت] په هكله ستا څه خيال دى؟

اللغات: ﴿تُرْک﴾ تركيان، د ترک والا. رُوْم: روميان. دلته له تُرک او روم څخه مراد دوه كفري ملكونه دي. ﴿سبوهم﴾ د ضرب ماضي ده. سَبٰى يَسْبِيًا سَبْيًا: دښمن قيدول. بندي كول. ﴿استيلاء﴾ د افتعال اسمِ مصدر دى: غلبه. قبضه. فتح. ﴿لا ينتهض﴾ د افتعال له باب څخه د نفي صيغه ده: ولاړېدل. پورته كېدل. دلته ځني مراد جوړېدل دي لاينتهض سببًا: يعني سبب نه جوړيږي (أحسن الهداية). ﴿خصم﴾ مخالف فريق. مدعي او مدعىٰ عليه دواړو ته ويل كيږي. ﴿مُكنة﴾ قدرت. طاقت. ﴿مَآل﴾ پاى. وروسته (مستقبل او راتلونكي وخت). ﴿آجل﴾ وروستنى. ځنډنى. مؤخر. ﴿عَاجِل﴾ بيړه كونكى. اوسنى.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى كه د تُرک خلک د رُوم پر خلكو غالب سي (يعني كه ديوه كافر ملک خلک د بل كافر ملک پر خلكو غالب راسي) او د هغوى مالونه لوټ كړي نو هغوى (تُركيان) د دې أموالو مالكان جوړيږي، ځكه چي قبضه او غلبه د مباح مال د ملكيت سبب ده او دلته قبضه او غلبه موجوده سو، نو ځكه به تركيان د روميانو د أموالو مالكان ګرځي. تر دې وروسته كه موږ پر تركيانو غالب راسو نو كوم مالونه چي هغوى له روميانو څخه اخيستي وي. هغه ټوله مالونه به زموږ لپاره حلال او صحيح وي. او كه خداى مه كړه! هغوى (تركيان يا روميان) پر موږ غالب سي او زموږ پر

أموالو قابض سي او دارُ الحرب ته یې نقل کړي نو زموږ په نېز به دوی د هغه أموالو مالکان جوړېږي.
لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د هغه مالکان نه جوړېږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د مسلمانانو أموال نعَمت دي. او کفار پر نعمت قابض کېدلای نه سي نه ابتداءً يعني په دارُ الاسلام کي او نه انتهاءً يعني دارُ الحرب ته تر نقل کولو وروسته. او کله چې د دوی غالب کېدل او قابض کېدل ممنوع دي نو ښکاره خبره ده چې دا ممنوع شی به د دوی په حق کي ملکيت نه فايده کوي (او دوی به زموږ د أموالو مالکان نه جوړېږي). لهذا نه خو به د دوی استيلاء صحيح وي او نه به د دوی ملکيت معتبر وي.

زموږ دليل: دا دی چې د کفارو دا قبضه پر مباح مال واقع سوې ده. د دې حاصل دا دی چې د مسلمانانو مال چې تر څو د مسلمانانو په قبضه کي وي (يعني چې تر څو دوی د خپل مال مالکان وي) تر هغه وخته پوري مال معصوم او قابل احترام وي. حالانکي د "خُلِقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا" له رویه په هغه وخت کي هم د مسلمانانو د أموالو مباح کېدل پکار دي. لېکن موږ د مالکانو د ضرورت او د هغه د انتفاع د حاجت په خاطر په هغه کي عصمت ثابت کړی او د نورو شرکت مو ختم کړی. لېکن کله چې کفارو پر دې مال غالب سول. نو د هغو د غالبېدلو په وجه په دې مال کي عصمت ختم سو او دا مال د "خُلِقَ لَكُم ... إلخ" په وجه مباح سو او ګواکي کفارو پر مباح مال قبضه وکړه. او د مباح قبضه ملکيت فايده کوي. نو ځکه به کفار زموږ د أموالو مالکان جوړېږي. لېکن د دوی دا قبضه به هغه وخت پوره او بشپړ کېږي کله چې هغوی دا مالونه دارُ الحرب ته نقل کړي. ځکه چې استيلاء دې ته وايي چې له مقبوضه مال څخه فی الحال او فی المآل دواړه ډوله نفع اخيستل ممکن وي. او د کفارو په حق کي دارُ الاسلام د فی الحال نفع اخيستلو (انتفاع) مقام دی او دارُ الحرب د فی المآل (يعني د مستقبل په اعتبار) سره د انتفاع مقام دی. او په ادارُ الاسلام کي د کفارو په استيلاء سره فی الحاله انتفاع ثابته سوه. او کله چې کفار دغه أموال دارُ الحرب ته نقل کړي نو فی المآله انتفاع به هم ثابته سي او استيلاء به کامله او بشپړ سي.

<u>**والمحظور لغيره إلخ**</u>: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي. حاصل يې دا دی چې امام شافعي رَحِمَهُ الله چې د کفارو استيلاء ممنوع ګرځوي او کفار د مسلمانانو د أموالو مالکان نه ګرځوي دا صحيح نه دي. ځکه چې ممنوع او محظور شی له ملکيت څخه هم د زيات غټ شي د ثبوت او حصول سبب جوړېدای سي (ملکيت خو هلته پر پرده!). مثلاً که يو څوک ديو چا ځمکه غصب کړي. او بيا په هغه ځمکه کي هغه (غاصب) لمونځ وکړي نو هغه ته د لمانځه ثواب حاصلېږي. حالانکي د ثواب تعلق د آخرت سره دی. نو کله چې په مغصوبه ځمکه کي لمونځ کول د ثواب

موجب دی حال دا چي غصب ممنوع او محظور دی. نو په محظور او ممنوع استیلاء سره خو به دنیاوي ملکیت او منفعت په طریقه اولیٰ سره حاصلیږي. په عبارت کي له "بِالْمِلْكِ الْعَاجِلِ" څخه دغه دنیاوي ملکیت مراد دی.

له حربیانو څخه د اموالو د واپس اخیستلو بیان

فَإِنْ ظَهَرَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُونَ فَوَجَدَهَا الْمَالِكُونَ قَبْلَ الْقِسْمَةِ بیا که مسلمانان پر هغو مالونو غالب سي او تر تقسیم مخکي مالکان خپل مالونه پیدا وکړي فَهِيَ لَهُمْ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو هغه مالونه به بېله عوضه د دوی وي وَإِنْ وَجَدُوهَا بَعْدَ الْقِسْمَةِ او که تر تقسیم وروسته مالکان خپل مالونه پیدا کړي أَخَذُوهَا بِالْقِيمَةِ إِنْ أَحَبُّوا نو هغه به دوی د قیمت په عوض کي اخلي که چیري د دوی خوښه وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] فِيهِ: إِنْ وَجَدْتَهُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهُوَ لَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْتَهُ بَعْدَ الْقِسْمَةِ فَهُوَ لَكَ بِالْقِيمَةِ ځکه په دې باره کي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: که چیري تر تقسیم مخکي ته هغه پیدا کړې نو هغه بېله قیمته ستا دی او که تر تقسیم وروسته یې پیدا کړې نو هغه د قیمت په عوض کي ستا دی وَلِأَنَّ الْمَالِكَ الْقَدِيمَ زَالَ مِلْكُهُ بِغَيْرِ رِضَاهُ او ځکه چي د پخواني مالک [یعني د اول مالک] ملکیت د هغه له رضاء څخه بغیر زائل سو فَكَانَ لَهُ حَقُّ الْأَخْذِ نَظَرًا لَهُ لهذا د هغه د مصلحت [او پر هغه د شفقت] په خاطر به هغه ته د اخیستلو حق وي إِلَّا أَنَّ فِي الْأَخْذِ بَعْدَ الْقِسْمَةِ ضَرَرًا بِالْمَأْخُوذِ مِنْهُ خو [څرنګه چي] تر تقسیم وروسته په اخیستلو کي د مأخوذ منهٗ تاوان دی بِإِزَالَةِ مِلْكِهِ الْخَاصِّ ځکه چي [په اخیستلو کي] د هغه د خاص ملکیت زائلول دي فَيَأْخُذُهُ بِالْقِيمَةِ نو ځکه به [اول مالک] هغه د قیمت په عوض کي اخلي لِيَعْتَدِلَ النَّظَرُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ چي په دواړو طرفونو کي مصلحت [او ښېګڼه] برابره سي [مطلب دا چي په دواړو طرفونو کي مصلحت ثابت سي او یو طرف هم تاواني نه سي] وَالشَّرِكَةُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ عَامَّةٌ او تر تقسیم مخکي [په دې مال کي] د عامو مجاهدینو شرکت وي فَيَقِلُّ الضَّرَرُ لهذا [په هغه صورت کي] به ضرر کم وي فَيَأْخُذُهُ بِغَيْرِ قِيمَةٍ نو ځکه به مالک له قیمت څخه بغیر هغه اخلي.

[1] تخريج: أخرجه دار قطنی فی سننه ج:۴ ص: ۱۱۴ ۱۱۵.

اللغات: ﴿ظهر﴾ د فتح ماضي ده، ښکاره کېدل، کله چې د دې باب په صله کې "عَلیٰ" راسي نو د "غالبېدلو" په معنیٰ سره راځي، ﴿مأخوذ منهٗ﴾ هغه کس چې مال ځنې واخيستل سي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيرې مسلمانان له کفارو څخه دوباره هغه مالونه واخلي کوم چې کفارو له مسلمانانو څخه سلب کړي وي، او تر اوسه هغه مالونه تقسيم سوي نه وي چې (مسلمانان) مالکان خپل مالونه په هغه مالونو کې پيدا کړي، نو هغه مالونه به خپل مالکان اخلي او د هغه په عوض کې به هيڅ قيمت نه ورکوي، او که مالونه تقسيم سوي وي، نو د مالکانو مالونه چې د چا لاس ته راغلي وي، مالکان به هغه ته قيمت ورکوي او خپل مال به ځني اخلي. له قيمت ورکولو څخه بغير به يې نه ځني اخلي؛ ځکه چې په داسي معامله کې نبي کريم ﷺ همدغه حکم کړی دی. عقلي دليل دا دی چې د قابض کېدلو او غالب کېدلو په وجه کفارو دغه مالونه . مالکانو له رضاء څخه بغير سلب کړي وو او دارُ الحرب ته يې نقل کړي وو، لهذا کله چې دا مالونه بيرته د مسلمانانو لاس ته راغلله نو خپل مالکان به د هغوی مستحق کيږي، ليکن که تر تقسيمولو وروسته هغه مالونه د بل چا په لاس کې راسي نو له هغه څخه په مُفت اخيستلو کې به هغه ته ضرر لاحق سي. نو په دې وجه مالک ته د قيمت په عوض کې د خپل مال دا اخيستلو اختيار سته. د دې لپاره چې مالک ته خپل مال حاصل سي او مأخوذ منهٗ ته د خپل حق په عوض کې قيمت حاصل سي او د دواړو له طرفه معامله برابره سي. او څرنګه چې تر شرکت مخکې په دې مال کې د عامو مجاهدينو حق وي او د هيچا سره دا مال خاص نه وي، نو ځکه به په دې صورت کې مالک له قيمت ورکولو څخه بغير (مُفت) هغه اخلي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرٌ فَاشْتَرٰى ذٰلِكَ وَأَخْرَجَهٗ إِلٰى دَارِ الْإِسْلَامِ او که يو مسلمان تاجر دارُ الحرب ته داخل سي او هغه مال رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راوړي فَمَالِكُهُ الْأَوَّلُ بِالْخِيَارِ نو د هغه مال اول مالک ته اختيار دی إِنْ شَاءَ أَخَذَهٗ بِالثَّمَنِ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِهٖ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهٗ که وغواړي نو د هغه ثمن په عوض کې دې يې رانيسي د کوم ثمن په عوض کې چې تاجر [مشتري] هغه رانيولی وي او که وغواړي نو هغه دې پرېږدي لِأَنَّهٗ يَتَضَرَّرُ بِالْأَخْذِ مَجَّانًا ځکه چې په مُفت [بېله] عوضه اخيستلو سره تاجر نقصان مند کيږي أَلَا تَرٰى أَنَّهٗ قَدْ دَفَعَ الْعِوَضَ بِمُقَابَلَتِهٖ آيا ته نه ګورې! چې تاجر د دې مال په بدله کې عوض ورکړی دی فَكَانَ اعْتِدَالُ النَّظَرِ فِيمَا قُلْنَاهُ نو د مصلحت اعتدال [برابر والی] به په هغه صورت کې وي کوم چې موږ ذکر کړی وَلَوِ اشْتَرَاهُ بِعَرَضٍ او که تاجر هغه مال د يو سامان په

عوض کي رانيولی وي يَأْخُذُهُ بِقِيمَةِ الْعَرَضِ نو مالک به د سامان د قيمت په عوض کي هغه مال اخلي وَلَوْوَهَبُوهُ لِمُسْلِمٍ او که کفارو يو مسلمان ته هغه مال هبه کړی وي يَأْخُذُهُ بِقِيمَتِهِ نو مالک به د خپل قيمت په عوض کي هغه مال اخلي (يعني د هبې په صورت کي به هم هغه د مال قيمت ورکوي، مُفت يې نه سي اخيستلای) لِأَنَّهُ ثَبَتَ لَهُ مِلْكٌ خَاصٌّ ځکه چي موهوب لهٔ لره خاص ملکيت ثابت سوی دی فَلَا يَزَالُ إِلَّا بِالْقِيمَةِ نو بېله قيمته (مُفت) به هغه نه زائليږي وَلَوْكَانَ مَغْنُومًا وَهُوَمِثْلِيٌّ او که هغه په غنيمت کي حاصل کړی سوی وي او مثلي مال وي يَأْخُذُهُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ نو تر تقسيم مخکي به مالک هغه (مُفت) اخلي وَلَا يَأْخُذُهُ بَعْدَهَا (ليکن) تر تقسيم وروسته به يې نه اخلي لِأَنَّ الْأَخْذَ بِالْمِثْلِ غَيْرُ مُفِيدٍ ځکه چي د مثلي شي په عوض کي (مثلي شی) اخيستل هيڅ فايده نه کوي (بلکي دا بی معنیٰ او بې فايدې سودا ده) وَكَذَا إِذَا كَانَ مَوْهُوبًا همدارنګه که هغه شی هبه کړی سوی وي لَا يَأْخُذُهُ نو (هم) دي مالک هغه نه اخلي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَكَذَا إِذَا كَانَ مُشْتَرًى بِمِثْلِهِ قَدْرًا وَوَصْفًا همدارنګه که هغه شی په مقدار او وصف کي په برابري سره رانيول سوی وي (نو هم دي يې نه اخلي).

اللغات: ﴿أخرجه﴾ د افعال ماضي ده: را ايستل (يعني له دارُ الحرب څخه يې را وباسي دارُ الاسلام ته يې راوړي). ﴿مجاناً﴾ مُفت، موت، بېله قيمته، بېله عوضه. ﴿عرض﴾ سامان. ﴿مثلي﴾ هغه شی چي مثل يې موجود وي، لکه سره زر، سپين زر، غلّه مثلاً اُوړه. وريجي دا مثلي شيان دي. يعني د اُوړو په بدله کي به هغومره اُوړه ورکول کيږي، کمي او زياتوب پکښي کېدای نه سي کنې سود پکښي راځي کوم چي حرام دی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله کفار د مسلمانانو مال سلب کړي او دارُ الحرب ته يې نقل کړي، تر دې وروسته يو مسلمان دارُ الحرب ته ولاړ سي او هغه مال رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راوړي، نو اوس د هغه مال اول مالک ته اختيار دی که وغواړي نو له رانيونکي تاجر څخه دي په خپل قيمت هغه واخلي (يعني په کوم قيمت چي تاجر هغه رانيولی دی). او که وغواړي نو هغه دي پرېږدي، يعني که د قيمت په عوض کي يې اخلي نو صحيح ده کنې مُفت دي يې نه اخلي؛ ځکه چي تاجر هغه مال په ثمن او قيمت په عوض کي رانيولی دی لهذا که له تاجر څخه مفت دغه مال واخيستل سي، نو په دې کي د تاجر ضرر او تاوان دی. او چا ته ضرر رسول صحيح نه دي. او که

چيري تاجر د سامان په عوض کي هغه مال رانيولی وي، نو اول مالک به د هغه سامان د قيمت په عوض کي خپل مال ځني اخلي، همدارنګه که کفار هغه مال يو مسلمان ته هبه کړي کړي، نو اول مالک به موهوب لهٗ ته د هغه قيمت ورکوي او بيا به يې ځني اخلي، ځکه چي د مشتري او موهوب لهٗ لپاره په دې مال کي خاص ملکيت ثابت سوی دی. لهذا دا ملکيت به مُفت (بېله عوضه) نه ساقطيږي.

ولوكان مغنومًا إلخ: د دې حاصل دا دی که چيري د اول مالک مال په "مال غنيمت" کي مسلمانانو ته حاصل وی او هغه مال مثلي وي يعني د هغه مثل موجود وي، د مثال په توګه د خالد يو من اُوړه کفارو سلب کړه او دارُ الحرب ته يې نقل کړه، او بيا مسلمانانو غنيمت حاصل کړی او په غنيمت کي يې هغه يو من اُوړه هم راوړل، نو تر تقسيم مخکي به خالد خپل اُوړه مفت اخلي. ليکن که دا اُوړه تقسيم سوي وه او د زيد په حصه کي راغلي وه، نو ځرنګه چي اُوړه مثلي شی دی، يعني د اُوړو په بدله کي به اُوړه ورکوي، نو ځکه دا هيڅ فايده نه کوي، يعني که اوس خالد خپل اُوړه اخيستل وغواړي نو د هغه په عوض کي به زيد ته يو من اُوړه ورکوي، حالانکي په دې کي د خالد هيڅ فايده نسته. نو ځکه غوره دا ده چي خالد خپل اُوړه واپس نه واخلي.

وكذا إذا كان موهوبًا إلخ: د دې حاصل دا دی که د خالد مثلي شی مثلاً يو من اُوړه کفارو سلب کړه. وروسته کفارو دا اُوړه مثلاً زيد ته هبه کړه، او بيا خالد وغوښتل چي له زيد (موهوب لهٗ) څخه خپل اُوړه واخلي، نو ځرنګه چي اُوړه مثلي شی دی، نو ځکه به خالد زيد ته يو من اُوړه ورکوي. او د يو من اُوړو په بدله کي يو من اُوړه کول هيڅ فايده نه کوي، نو غوره همدا ده چي خالد دي هغه نه اخلي.

وكذا إذا كان مشترًى بمثله إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د خالد يو من اُوړه کفارو سلب کړه، او بيا زيد له کفارو څخه د يو من اُوړو په عوض کي هغه يو من اُوړه رانيول (يعني زيد کفارو ته د قيمت پر ځای يو من اوړه ورکړه، او هغه د خالد اُوړه يې ځني رانيول)، او دارُ الاسلام ته يې راوړه، نو اوس دا هيڅ فايده نه کوي چي خالد د خپل يو من اُوړو په عوض کي هغه ته يو من اُوړه ورکړي، نو ځکه غوره دا ده چي خالد دي هغه واپس نه اخلي. (قَدْرًا: دمقدار په اعتبار سره. يعني زيد کفارو ته د هغه يو من په اُوړو کي يو من اوړه ورکړي وي، وَصْفًا: د وصف په اعتبار سره، مثلاً د خالد اُوړه د أعلیٰ درجې اُوړه وه، او زيد هم کفارو ته د اعلیٰ درجې اُوړه ورکړي وي).

د پورتنی مسئلې یو بل صورت

قَالَ: فَإِنْ أَسَرُوا عَبْدًا فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ وَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فرمایي: که چیرې کفار یو مسلمان غلام قید کړي او یو سړی هغه رانیسي او دارُ الاسلام ته یې راولي فَفُقِئَتْ عَيْنُهُ بیا د غلام سرګه ویستل سي ایعني بیا یو شوک د غلام پر سترګه واري وکړي او د هغه سترګه وباسي، یا یې سترګه ور ړنده کړي] وَأَخَذَ أَرْشَهَا او مشتري د هغه تاوان واخلي فَإِنَّ الْمَوْلَى يَأْخُذُهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي أُخِذَ بِهِ مِنَ الْعَدُوِّ نو مالک به دا غلام په هغه ثمن [قیمت] سره اخلي په کوم ثمن سره چې مشتري هغه له کفارو څخه رانیولی وو أَمَّا الْأَخْذُ بِالثَّمَنِ فَلِمَا قُلْنَا کوم چې د ثمن په عوض کې اخیستل دي نو د هغه دلیل په وجه دي کوم چې موږ بیان کړی وَلَا يَأْخُذُ الْأَرْشَ او مالک به أرش [تاوان] نه خلي لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيهِ صَحِيحٌ ځکه چې [د سترګې د تاوان اخیستلو په وخت کې] په دې غلام کې د مشتري ملکیت صحیح وو فَلَوْ أَخَذَهُ نو [اوس] که چیرې مالک له مشتري څخه هغه تاوان واخلي أَخَذَهُ بِمِثْلِهِ نو د هغه د مثل په عوض کې به یې اخلي [یعني د هغه تاوان په مثل به مالک هم مشتري ته تاوان ورکوي] وَهُوَ لَا يُفِيدُ او دا فایده نه کوي [ځکه چې مثل ورکول او بیرته مثل څني اخیستل بې معنیٰ کار او بې فایدې سودا ده] وَلَا يُحَطُّ شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ او له ثمن څخه به هیڅ شی نه کمول کیږي لِأَنَّ الْأَوْصَافَ لَا يُقَابِلُهَا شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ ځکه چې د أوصافو په مقابله کې ثمن [قیمت] نه راځي بِخِلَافِ الشُّفْعَةِ په خلاف د شفعې لِأَنَّ الصَّفْقَةَ لَمَّا تَحَوَّلَتْ إِلَى الشَّفِيعِ ځکه کله چې صفقه [معامله] د شفعې وطرف ته بدله [او منتقله] سوه صَارَ الْمُشْتَرَى فِي يَدِ الْمُشْتَرِي بِمَنْزِلَةِ الْمُشْتَرَى شِرَاءً فَاسِدًا نو رانیول سوی شی د مشتري په قبضه کې د هغه شي په څیر سو کوم چې په شراء فاسد سره رانیول سوي وي وَالْأَوْصَافُ تُضْمَنُ فِيهِ او په شراء فاسد کې د أوصافو [هم] ضمان واجبیږي كَمَا فِي الْغَصْبِ لکه په غصب کې اچې ضمان واجبیږي] أَمَّا هٰهُنَا الْمِلْكُ صَحِيحٌ لیکن دلته [په دې مسئله کې] ملکیت صحیح دی فَافْتَرَقَا لهذا دواړې مسئلې سره جلا سوې [یعني په دواړو کې فرق راغلی] وَإِنْ أَسَرُوا عَبْدًا فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ او که کفار یو غلام قید کړي بیا یو مسلمان هغه د زرو درهمو په عوض کې رانیسي فَأَسَرُوهُ ثَانِيًا وَأَدْخَلُوهُ دَارَ الْحَرْبِ بیا کفار هغه دویم وار قید کړي او دارُ الحرب ته یې بوځي فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ آخَرُ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ بیا دویم سړی هغه د زرو درهمو په عوض کې رانیسي فَلَيْسَ لِلْمَوْلَى الْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنَ الثَّانِي بِالثَّمَنِ نو اول مالک ته

دا حق نسته چې هغه يې له دويم مشتري څخه د ثمن په عوض کي واخلي لِأَنَّ الْأَسْرَ مَا وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ ځکه چې اد غلام ا قيدول ااو نيول ا د هغه پر ملکيت نه دي واقع سوي وَلِلْمُشْتَرِي الْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنَ الثَّانِي بِالثَّمَنِ او اول مشتري ته به دا حق وي چې هغه اغلام ا له دويم مشتري څخه د ثمن په عوض کي واخلي لِأَنَّ الْأَسْرَ وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ ځکه چې قيدول د هغه پر ملکيت واقع سوي دي ثُمَّ يَأْخُذُهُ الْمَالِكُ الْقَدِيمُ بِالثَّمَنَيْنِ إِنْ شَاءَ بيا که اول مالک وغواړي نو هغه دي د دوو زرو درهمو په عوض کي واخلي لِأَنَّهُ قَامَ عَلَيْهِ بِالثَّمَنَيْنِ ځکه چې اول مشتري ته دا غلام د دوو زرو په عوض کي ولاړ دی فَيَأْخُذُهُ بِهِمَا لهذا مالک به د دوو زرو په عوض کي هغه اخلي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْمَأْسُورُ مِنْهُ الثَّانِي غَائِبًا او همدارنګه له کوم مشتري څخه چې دويم وار غلام نيول سوی دی ايعني اول مشتري ا که هغه غائب وي لَيْسَ لِلْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ نو اول مالک ته دا حق نسته چې له دويم مشتري څخه هغه واخلي اعْتِبَارًا بِحَالِ حَضْرَتِهِ د هغه د حضور اموجو والي ا پر حالت باندي په قياس کولو سره.

اللغات: ﴿أسروا﴾ د ضرب ماضي ده: أَسَرَ يَأْسِرُ أَسْرًا: قيدول، نيول، ﴿فُقِئَتْ﴾ د فتح له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده: د يو چا سترګه ايستل (باسل)، سترګه ښيرل، ﴿أرش﴾ تاوان، جرمانه، ﴿صفقة﴾ عقد، معامله، ﴿تحوّلت﴾ د تفعّل ماضي ده: اوښتل بدلېدل، ﴿حضرة﴾ حضور (حاضر والی)، موجوديت (موجود والی).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري کفار د يو مسلمان غلام ونيسي او قيد يې کړي، بيا يو بل مسلمان دارُ الحرب ته ولاړ سي او له کفارو څخه هغه غلام رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راولي، بيا د هغه مسلمان مشتري (رانيونکي) په قبضه کي يو څوک دا غلام پر سترګه ووهي او سترګه يې ور وباسي، او مشتري له مجرم څخه تاوان واخلي، نو اوس که چيري اول مالک دغه غلام له مشتري څخه اخيستل وغواړي، نو مشتري چې په څومره قيمت سره غلام رانيولی وي په هغومره قيمت دي يې مالک له مشتري څخه رانيسي او د غلام تاوان دي نه ځني اخلي؛ ځکه چې دا تاوان خو مشتري په خپل صحيح ملکيت کي حاصل کړی دی (او له مجرم څخه يې اخيستی دی)، لهذا اوس که چيري مالک له مشتري څخه تاوان واخلي نو بيرته به هغومره قيمت مشتري ته ورکوي او په دې کي هيڅ فايده نسته، او دا به هم نه کوي چې د سترګي په عوض کي له قيمت څخه څه پيسې (روپۍ) کمي کړي، ځکه چې سترګه وصف ده او د وصف په عوض او مقابله کي ثمن (قيمت) نه راځي.

د دې په خلاف په شفعه کي د وصف په عوض کي ثمن وي (يعني هلته د وصف په عوض کي ثمن راځي)، ځکه چې له مشتري څخه د شفيع وطرف ته د صفقې د مستقل کېدلو او بدلېدلو په وجه رانيول سوی شی د "شراء فاسد" په درجه کي دی، او په "شراءِ فاسد" کي د وصف په عوض کي ثمن راځي، لکه څرنګه

چي له مغصوب مال څخه يو شی يا يوه حصه هلاکه سي يا د مغصوب مال يو وصف فوت سي نو د هغه هم ضمان واجبيږي، ځکه چي په شراء فاسد سره خو نه د مشتري ملکيت ثابتيږي او نه په غصب سره د غاصب ملکيت ثابتيږي، لېکن په شراء صحيح سره د مشتري ملکيت ثابتيږي، نو ځکه به په دې صورت کې د وصف ضمان نه واجبيږي.

وإن أسروا إلخ: د دې حاصل دا دی که چیرې کفار يو غلام قيد کړي، بيا يو سړی هغه د زرو درهمو په عوض کې رانيسي، تر دې وروسته دوباره کفار هغه قيد کړي او هغه دارُ الحرب ته بوځي، او بيا له اول مشتري څخه بغير يو بل څوک هغه رانيسي، نو د دې غلام مالک ته به دا حق نه وي چي هغه دويم مشتري ته ثمن (قيمت) ورکړي او غلام ځني رانيسي، ځکه چي دا غلام د اول مشتري په ملکيت کې نيول سوی او قيد کړی سوی دی، نه د دويم مشتري په ملکيت کې، نو په دې وجه دويم مشتري لره د هغه د خرڅولو حق نسته، ها! لېکن د دې طريقه به دا وي چي له دويم مشتري څخه دې اول مشتري هغه غلام د يو زر درهمو په عوض کې رانيسي، بيا دې يې مالک له اول مشتري څخه د دوو زرو درهمو په عوض کې رانيسي؛ ځکه چي اول مشتري هغه يو وار له کفارو څخه د زر درهمو په عوض کې رانيوی او دويم وار يې له دويم مشتري څخه يو زر درهمو په عوض کې رانيوی، گواکي هغه د دوو زرو په عوض کې دا غلام رانيولی دی، نو په دې وجه به مالک ته د دوو زرو په عوض کې د دې غلام د اخيستلو او رانيول اختيار وي که خوښه يې په همدې قيمت دې غلام واخلي، کنې نه دې يې اخلي. همدارنگه که هغه کس چي له هغه څخه دوباره غلام نيول سوی وي يعني اول مشتري غائب وي، نو هم مالک له دويم مشتري څخه د زرو درهمو په عوض کې هغه غلام نه سي رانيولای، ځکه چي مالک د اول مشتري په حضور او موجود والي کې هم له دويم مشتري څخه د زرو درهمو په عوض کې هغه غلام نه سي رانيولای، لهذا د هغه په غائبوالي کې به يې هم نه سي رانيولای.

کفار د تسلط په ذريعه زموږ د کومو شيانو مالک کېدای نه سي؟

وَلَا يَمْلِكُ عَلَيْنَا أَهْلُ الْحَرْبِ بِالْغَلَبَةِ مُدَبَّرِينَا وَأُمَّهَاتِ أَوْلَادِنَا وَمُكَاتَبِينَا وَأَحْرَارَنَا او کفار پر موږ باندي په غلبه کولو سره زموږ د مدبرو غلامانو، أم ولد مينځو، د مکاتبو غلامانو او زموږ د آزادو خلکو مالک کېدلای نه سي **وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ جَمِيعَ ذَٰلِكَ** لېکن [موږ پر دوی باندي [د غلبه کولو په صورت کې] د دې ټولو مالک کېدلای سو **لِأَنَّ السَّبَبَ إِنَّمَا يُفِيدُ الْمِلْكَ فِي مَحَلِّهِ** ځکه چي د ملکيت سبب په خپل محل کې ملکيت فايده کوي **وَالْمَحَلُّ الْمَالُ الْمُبَاحُ** او محل مباح [روا] مال دی **وَالْحُرُّ مَعْصُومٌ بِنَفْسِهِ** او آزاد بذات خود معصوم وي **وَكَذَا مَنْ سِوَاهُ** او همدارنگه له هغه څخه بغير نور [يعني مکاتب او داسي نور] هم معصوم دي **لِأَنَّهُ تَثْبُتُ الْحُرِّيَّةُ فِيهِ مِنْ وَجْهٍ** ځکه په هغه [يعني په مکاتب او داسي نورو] کې [هم] په يوه اعتبار سره آزادي ثابتيږي

بِخِلَافِ رِقَابِهِمْ په خلاف د كفارو د رقبو ايعني په خلاف د كفارو د مكاتبينو...او أموالوا لِأَنَّ الشَّرْعَ أَسْقَطَ عِصْمَتَهُمْ جَزَاءً عَلَى جِنَايَتِهِمْ وَجَعَلَهُمْ أَرِقَّاءَ ځكه چي شريعت د دوی د جرم په سزا كي د دوی عصمت ساقط كړی دی او هغوی يې رقيق [غلامان] جوړ كړي دي وَلَا جِنَايَةَ مِنْ هَؤُلَاءِ او د مسلمانانو له طرفه هيڅ جرم نسته وَإِذَا أَبَقَ عَبْدٌ لِمُسْلِمٍ او كه چيري د يو مسلمان غلام وتښتي فَدَخَلَ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوهُ او كفارو ته ولاړ سي [ا بيا] كفار هغه ونيسي لَمْ يَمْلِكُوهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز كفار د هغه نه مالك كيږي وَقَالَا ❁ : يَمْلِكُونَهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي كفار د هغه مالك كيږي لِأَنَّ الْعِصْمَةَ لِحَقِّ الْمَالِكِ لِقِيَامِ يَدِهِ ځكه چي د مالك د قبضي د موجود والي په وجه د هغه د حق په توګه [په غلام كي] عصمت موجود دی [يعني غلام ځكه معصوم وي چي پر هغه باندي د مالك قبضه موجود وي] وَقَدْ زَالَتْ حال دا چي [اوس] د مالك قبضه ختمه سوه وَلِهَذَا لَوْ أَخَذُوهُ مِنْ دَارِ الْإِسْلَامِ مَلَكُوهُ همدا وجه ده كه كفار له دارُ الاسلام څخه هغه ونيسي [او دارُ الحرب ته يې بوځي] نو [هم] كفار د هغه مالكان كيږي وَلَهُ: أَنَّهُ ظَهَرَتْ يَدُهُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْخُرُوجِ مِنْ دَارِنَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي له دارُ الاسلام څخه د دې غلام د وتلو په وجه پر خپل ذات باندي هغه ته اختيار حاصل سو لِأَنَّ سُقُوطَ اعْتِبَارِهَا لِتَحَقُّقِ يَدِ الْمَوْلَى عَلَيْهِ ځكه چي د هغه د اختياراتو سقوط پر هغه باندي د مالك د قبضې د ثبوت په وجه وو تَمْكِينًا لَهُ مِنَ الِانْتِفَاعِ د دې لپاره چي مالك له هغه څخه نفع حاصله كړی سي وَقَدْ زَالَتْ يَدُ الْمَوْلَى او [د غلام په نيول كېدلو سره] د مالك قبضه ختمه سوه فَظَهَرَتْ يَدُهُ عَلَى نَفْسِهِ نو په دې وجه پر خپل نفس د هغه خپل اختيار ښكاره [او ثابت] سو وَصَارَ مَعْصُومًا بِنَفْسِهِ او هغه په خپله معصوم وګرځېدی فَلَمْ يَبْقَ مَحِلًّا لِلْمِلْكِ لهذا د ملكيت محل پاته نه سو بِخِلَافِ الْمُتَرَدِّدِ په خلاف د مترَدّد [يعني هغه غلام كوم چي په دارُ الاسلام كي ګرځي راګرځي او دارُ الحرب ته تښتېدلی نه وي] لِأَنَّ يَدَ الْمَوْلَى بَاقِيَةٌ عَلَيْهِ ځكه چي پر هغه [اوس هم] د مالك قبضه باقي ده لِقِيَامِ يَدِ أَهْلِ الدَّارِ ځكه چي [پر هغه] د دارُ الاسلام د خلكو قبضه موجوده ده فَمَنَعَ ظُهُورَ يَدِهِ نو دغه قبضې د غلام د اختيار ښكاره كېدل منع كړه [مطلب چي دغه قبضه د دې مترَدّد غلام د اختياراتو له ظهور

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الخانية (ج:٤، ص:٤٦٤)، وكذا في الدر المنتقى (ج:١، ص:٦٦٢). [القول الراجح ج:١، ص:٤٨٧]

او ثبوت څخه مانع ده] وَإِذَا لَمْ يَثْبُتِ الْمِلْكُ لَهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او كله چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د كفارو لپاره ملكيت نه ثابتيږي يَأْخُذُهُ الْمَالِكُ الْقَدِيمُ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو اول مالک به هغه غلام بېله عوضه اُمفت] اخلي مَوْهُوبًا كَانَ أَوْ مُشْتَرًى أَوْ مَغْنُومًا قَبْلَ الْقِسْمَةِ برابره ده هغه غلام كه هبه كړی سوی وي يا رانيول سوی وي يا تر تقسيم مخكي په غنيمت كي حاصل سوی وي وَبَعْدَ الْقِسْمَةِ يُؤَدَّى عِوَضُهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ او تر تقسيم وروسته به د هغه عوض له بيتُ المال څخه اداء كول كيږي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ إِعَادَةُ الْقِسْمَةِ لِتَفَرُّقِ الْغَانِمِينَ وَتَعَذُّرِ اجْتِمَاعِهِمْ ځكه چي د غنيمت اخيستونكو [مجاهدينو] د متفرق كېدلو او د هغو د اجتماع د مشكل والي په وجه [اوس] د تقسيم راگرځول ممكن نه دي وَلَيْسَ لَهُ عَلَى الْمَالِكِ جُعْلُ الْآبِقِ او د غلام د راوستونكي [تاجر يا مسلمان] لپاره پر مالک [د غلام راوستلو] مزدوري لازم نه ده لِأَنَّهُ عَامِلٌ لِنَفْسِهِ ځكه چي هغه د خپل ځان لپاره كار كونكی دی [يعني هغه د خپل ځان لپاره غلام را وستی دی] إِذْ فِي زَعْمِهِ أَنَّهُ مِلْكُهُ ځكه چي د هغه گومان دا دی چي دا غلام زما ملكيت دی [يعني د هغه خيال دا دی چي دا زما غلام دی، او په همدې نيت سره يې راوستی دی]

اللغات: ﴿يملك﴾ د ضرب مضارع ده: د يو شي مالک كېدل، مالک جوړېدل. ﴿معصوم﴾ محفوظ. ﴿أرقاء﴾ جمع د رَقِيقٌ ده: مملوک، غلام. ﴿تمكين﴾ د تفعيل مصدر دی: قدرت وركول. ﴿مغنوم﴾ په غنيمت كي حاصل سوی مال. ﴿تفرُّق﴾ د تفعّل مصدر دی: متفرق كېدل، جلا جلا كېدل، سره بېلېدل. ﴿جعل﴾ أجرت او مزدوري.

تشريح: په دې عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... كه چيري كفار پر مسلمانانو غالب سي، نو هغوی د مسلمانانو د أموالو مالک جوړېدای سي، لېكن د مسلمانانو د ذات او د مسلمانانو د مدبر او مكاتب غلامانو او د أم ولد مينځو مالک نه سي جوړېدای؛ ځكه كه څه هم استيلاء د ملكيت سبب ده، لېكن دا سبب په خپل محل كي ملكيت فايده كوي، او محل مباح مال دی، لېكن له مسلمانانو څخه آزاد خلک، او مكاتبين، مدبّرين او داسي نور د ملكيت محل نه دي؛ ځكه چي آزاد خو بذات خود محترم او معصوم وي، او په مكاتب او داسي نورو كي من وجه حُريت ثابت سوی وي، لهذا په دې حواله سره په مكاتب او داسي نورو كي هم عصمت وي او إباحت نه وي، لهذا دوی به هم مملوک كېدلای نه سي.

د دې په خلاف كه چيري مورږ مسلمانان پر كفارو غالب سو نو مورږ د هغو د أموالو هم مالک جوړيږو او د هغوی د نفوسو هم مالک جوړيږو؛ ځكه چي هغوی له توحيد او رسالت څخه د انكار كولو په وجه ډېر غټ ظلم كړی دی او الله تعالیٰ هغوی ته د دې ظلم دا سزاء وركړې ده چي په داسي حالت كي يې هغوی رقيق وگرځول او رقيق مملوک وي، نو ځكه به هغوی ټوله مملوک گرځي (يعني زمورږ تر ملكيت به لاندي وي). او

ځرنګه چې مسلمانانو او د دوی مکاتبينو او داسي نورو هيڅ جنايت کړی نه دي. نو ځکه به هغوی رقيق او مملوک نه ګرځي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که چيري د يو مسلمان سړي مسلمان غلام وتښتي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او کفار هغه ونيسي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به کفار د هغه مالک نه ګرځي (يعني مالکان يې نه جوړيږي). ليکن د صاحبينو په نيز به کفار د هغه مالک ګرځي: ځکه چې دا غلام د خپل مالک په ملکيت او مالک کېدلو سره معصوم وو، ليکن د کفارو په قبضه کي د راتللو په وجه د غلام د مالک ملکيت ختم سو، نو د غلام عصمت هم ساقط سو، لهذا هغه اوس مباح وګرځېدی، او مباح مملوک کېدای سي، لهذا هغه به مملوک ګرځي (او کفار به د هغه مالک جوړيږي)، همدا وجه ده که کفار هغه په دارُ الاسلام کي ونيسي او دارُ الحرب ته يې راولي نو هم د مالک د حق ساقطېدلو په وجه هغه د کفارو مملوک ګرځي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دئ چي تر څو دا غلام په دارُ الاسلام کي وو تر هغه وخته پوري د خپل مالک قبضه پر هغه باقي وه، او د مالک د حق او د مالک د انتفاع په وجه مورږ د هغه پر ذات د هغه خپل اختيارات او تصرّفات ساقط کړل، ليکن کله چي هغه له دارُ الاسلام څخه ووتی نو د مالک له ملکيت څخه هم ووتی او پر خپل ذات هغه ته اختيارات حاصل سول (يعني خود مختاره سو) او هغه په خپله معصوم او محترم وګرځېدی او د ملکيت محل پاته نه سو، او کله چي د ملکيت محل پاته نه سو، نو ښکاره خبره ده چي کفار د هغه مالک جوړېدای نه سي.

د دې په خلاف هغه غلام کوم چي له مالک څخه تښتېدلی وي خو په دارُ الاسلام کې ګرځي راګرځي او دارُ الحرب ته تللی نه وي، نو هغه به خود مختاره نه وي؛ ځکه که څه هم ظاهراً هغه د مالک په قبضه کې نه دی، ليکن په دارُ الاسلام کي د موجودېدلو په وجه معناً پر هغه د مالک قبضه موجوده ده، نو په دې وجه هـ ـه خود مختاره کېدای نه سي.

وإذا لم إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله (د امام صاحب په نيز) پر پورتني غلام د کفارو ملکيت ثابتېدای نه سي نو آخر به د هغه پايله څه وي، آيا په دارُ الحرب کي به هسي پرېښوول کيږي، نو فرمايي چي خبره داسي نه ده. بلکي د يو چا په ذريعه به دا غلام له دارُ الحرب څخه دارُ الاسلام ته راوستل کيږي او د هغه مالک ته به بېله عوضه (مُفت) ورکول کيږي، برابره ده کفارو هغه يو چا ته هبه کړی وي يا يو چا هغه رانيولی وي يا يې په مالِ غنيمت کي ترلاسه کړی وی نو تر تقسيم مخکي معامله به بالکل مُفته او بېله عوضه وي، ليکن تر تقسيم وروسته چي د چا په حصه کي دا غلام راغلی وي، نو هغه ته به له بيتُ المال څخه د غلام عوض ورکول کيږي او غلام به خپل مالک ته سپارل کيږي، يعني د دې غلام د واپس اخيستلو لپاره به مالک يوه روپۍ هم نه خرچوي، بلکي د هغه عوض به بيتُ المال ورکوي او تقسيم به هم له سره نه راګرځول کيږي. ځکه چي د مجاهدينو د متفرق کېدلو په وجه به د هغو را جمع کول ستونزمن او مشکل وي.

وليس له إلخ: د دې حاصل دا دی چې کوم تاجر يا مسلمان دغه غلام له دارُ الحرب ځخه راوستلی وي، هغه د دې حق نه لري چې د غلام له مالک ځخه اُجرت او مزدوري واخلي (يعني هغه سړی د دې حق نه لري چې د غلام مالک ته ووايي: "دغه غلام خو ما له دارُ الحرب ځخه راوستی دی نو زما حقُ الزحمه او مزدوري راکړه")، ځکه چې هغه خو په دې نيت غلام راوستی دی چې دا غلام تر دې وروسته زما دی. نو د خپل نيت په وجه هغه سړی عامل لنفسهٖ دی، يعني د خپل ځان لپاره عامل (کار کوونکی) دی، د مالک لپاره عامل نه دی، او عامل لنفسهٖ لره دا حق نسته چې له بل چا ځخه اُجرت او مزدوري واخلي.

د پورتنی مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ نَدَّ بَعِيرٌ إِلَيْهِمْ او که چيرې يو اوښ [د دارُ الحرب] د کفارو وطرف ته وتښتي **فَأَخَذُوهُ** او کفار هغه ونيسي **مَلَكُوهُ** نو دوی د هغه مالک کيږي لِتَحَقُّقِ الِاسْتِيلَاءِ ځکه چې قبضه ثابته سوه إِذْ لَا يَدَ لِلْعَجْمَاءِ لِتَظْهَرَ عِنْدَ الْخُرُوجِ مِنْ دَارِنَا ځکه چې ځناروي لره ذاتي اختيار نسته چې له دارُ الاسلام ځخه د وتلو په وخت کي ښکاره سي بِخِلَافِ الْعَبْدِ په خلاف د غلام [ځکه چې هغه لره ذاتي اختيارات سته] عَلَىٰ مَا ذَكَرْنَا لکه [مخکي] چې موږ ذکر کړه **وَإِنِ اشْتَرَاهُ رَجُلٌ وَأَدْخَلَهُ دَارَ الْإِسْلَامِ** او که يو ځوک هغه اوښ رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راولي **فَصَاحِبُهُ يَأْخُذُهُ بِالثَّمَنِ إِنْ شَاءَ** نو د اوښ مالک به هغه د ثمن په عوض کي اخلي که خوښه يې وي [مُفت يې نه سي اخيستلای] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی **فَإِنْ أَبَقَ عَبْدٌ إِلَيْهِمْ وَذَهَبَ مَعَهُ بِفَرَسٍ وَمَتَاعٍ** او که [زموږ] يو غلام د کفارو وطرف ته وتښتيږي او د خپل ځان سره آس او سامان هم يوسي **فَأَخَذَ الْمُشْرِكُونَ ذٰلِكَ كُلَّهُ** او مشرکين هغه ټوله شيان ونيسي **وَاشْتَرَىٰ رَجُلٌ ذٰلِكَ كُلَّهُ وَأَخْرَجَهُ إِلَىٰ دَارِ الْإِسْلَامِ** او [بيا] يو سړی هغه ټوله رانيسي او دارُالاسلام ته يې راوړي **فَإِنَّ الْمَوْلَىٰ يَأْخُذُ الْعَبْدَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَالْفَرَسَ وَالْمَتَاعَ بِالثَّمَنِ** نو مالک به غلام بېله عوضه اخلي او آس او سامان به د ثمن په عوض کي اخلي **وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی **وَقَالَا**[*]: **يَأْخُذُ الْعَبْدَ وَمَا مَعَهُ بِالثَّمَنِ إِنْ شَاءَ** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې مالک به غلام او د هغه سره موجوده شيان [ټوله] د ثمن په عوض کي اخلي که خوښه يې وي اِعْتِبَارًا لِحَالَةِ الِاجْتِمَاعِ بِحَالَةِ الِانْفِرَادِ پر "حالت انفراد" باندي د "حالت اجتماع" په قياسولو سره وَقَدْ بَيَّنَّا الْحُكْمَ فِي كُلِّ فَرْدٍ او موږ [مخکي] د هر فرد حکم

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٦٦٩). [القول الراجح ج:١، ص:٢٨٨]

بيان کړی وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ او که چیرې يو حربي دارُ الاسلام ته په أمان سره داخل سي وَاشْتَرٰى عَبْدًا مُسْلِمًا وَأَدْخَلَهُ دَارَ الْحَرْبِ او يو مسلمان غلام رانيسي او هغه دارُ الحرب ته بوځي عَتَقَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه غلام آزاديږي وَقَالَا*: لَا يُعْتَقُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي نه آزاديږي لِأَنَّ الْإِزَالَةَ كَانَتْ مُسْتَحَقَّةً بِطَرِيقٍ مُعَيَّنٍ وَهُوَ الْبَيْعُ ځکه چي د حربي ملکيت زائلول د يوې معيني طريقې يعني د بيع په ذريعه ممکن وو وَقَدِ انْقَطَعَتْ وِلَايَةُ الْجَبْرِ عَلَيْهِ حالانکي [اوس] پر هغه د مجبوره کولو ولايت قطع سو [يعني کله چي هغه دارُ الحرب ته ولاړی نو اوس مسلمانان هغه پر بيع مجبوره کولای نه سي] فَبَقِيَ فِي يَدِهِ عَبْدًا نو ځکه هغه د ده [حربي] په قبضه کي [هم] غلام پاته سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ تَخْلِيصَ الْمُسْلِمِ عَنْ ذُلِّ الْكَافِرِ وَاجِبٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مسلمان د کفارو له ذلت څخه خلاصول واجب دي فَيُقَامُ الشَّرْطُ وَهُوَ تَبَايُنُ الدَّارَيْنِ مَقَامَ الْعِلَّةِ وَهُوَ الْإِعْتَاقُ لهذا شرط يعني "د دارُ الاسلام او دارُ الحرب جلا کېدل" په د علت يعني د إعتاق قائم مقام کيږي تَخْلِيصًا لَهُ د دې لپاره چي هغه غلام خلاص کړی سي كَمَا يُقَامُ مُضِيُّ ثَلَاثِ حِيَضٍ مَقَامَ التَّفْرِيقِ فِيمَا إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ فِي دَارِ الْحَرْبِ لکه د دريو حيضو تېرېدل چي د تفريق قائم مقام کيږي په هغه صورت کي کله چي له خاوند او ښځي څخه يو په دارُ الحرب کي اسلام راوړي.

اللغات: ﴿نذ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي صيغه ده: د اوبښ تُرېدل، ترهېدل، بېرېدل او تښتېدل. ﴿عجماء﴾ ځاروی، حيوان (د دې لفظ خپله معنیٰ ده: گونگی، بې ژبې، ځرنگه چي ځاروی هم څه ويلای نه سي، نو ځکه هغه ته عجماء وايي)، جمع: عجماوات، ﴿تباين﴾ د تفاعل مصدر دی: جلا کېدل، عليحده کېدل، بېلېدل، ﴿إعتاق﴾ د افعال مصدر دی: آزادول، ﴿تخليص﴾ د تفعيل مصدر دی: خلاصول، نجات ورکول، خوشي کول، ﴿مُضيّ﴾ د ضرب مصدر دی: تېرېدل.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله د مصنف د ترتيب مطابق ستاسي مخته ذکر سي: (۱)... اوله مسئله دا ده چي که د يو مسلمان اوبښ وتړېږي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او کفار هغه په خپله قبضه کي واخلي، نو کفار د دې مالک جوړېږي؛ ځکه چي اوبښ مال دی او پر مال د هغو قبضه هم راغله کوم چي ملکيت فايده کوي، او بل دا چي د اوبښ لپاره د غلام په څېر

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٦٩). [القول الراجح ج:١، ص:٢٨٩]

ذاتي اختيارات هم نسته چې له دارُ اسلام څخه د وتلو په وجه هغه خود مختاره وشمارل سي. لهذا بېله اختلافه به هغه مملوک ګرځي. او که يو څوک هغه غلام له کفارو څخه رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راولي، او د هغه مالک د خپل غلام غوښتنه وکړي، نو مالک ته به اختيار وي که وغواړي نو د ثمن په عوض کې دي هغه واخلي، کنې هغه دي پرېږدي. يعني مُفت (بېله عوضه) يې نه سي اخيستلای.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که د يو مسلمان غلام د آس او څه سامان سره وتښتيږي دارُ الحرب ته ولاړ سي، او کفار هغه ونيسي، بيا يو کس هغه د سامان سره رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راولي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به مالک ته دا غلام مُفت ورکول کيږي (يعني مالک به د هغه په عوض کې ثمن نه ورکوي). خو د آس او سامان ثمن به ورکوي. لېکن د صاحبينو په نېز که مالک وغواړي نو غلام، آس او سامان ټوله دې د ثمن په عوض کې واخلي، کنې مُفت هيڅ شی اخيستلای نه سي. يعني هغه ته فقط د ثمن په عوض کې د دې شيانو د اخيستلو حق سته. لکه کله چې فقط آس وتريږي او دارُ الحرب ته ولاړ سي يا فقط غلام ولاړ سي نو مالک ته به فقط د ثمن په عوض کې د هغه د اخيستلو حق وي مفت يې نه سي اخيستلای، همدارنګه کله چې د هغه له ملکيت څخه دېر سامانونه ووځي، نو مالک ته به د ثمن په عوض کې د هغو د اخيستلو حق وي (يعني د ټولو ثمن او قيمت به ورکوي) مفت يې نه سي اخيستلای. ګواکي صاحبينو رَحِمَهُمَا الله حالت اجماع پر حالت انفراد باندي قياس کړی دی.

(۳)... دريمه مسئله دا ده که يو حربي کافر أمان واخلي او دارُ الاسلام ته راسي او دلته يو مسلمان غلام رانيسي او دارُ الحرب ته يې بوځي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه غلام آزاديږي. او د صاحبينو په نېز نه آزاديږي. د صاحبينو دليل دا دی چې له دې غلام څخه په يو مُعيّنه طريقه سره يعني د بيع په ذريعه د کافر ملکيت زائلول واجب وو، په دې توګه چې کافر حربي د هغه پر خرڅولو مجبور کړي سوي وای، لېکن کله چې داسې ته وسوه او هغه کافر له دارُ الاسلام څخه دا غلام دارُ الحرب ته نقل کړي چې د هغه په وجه د جبر ولايت هم ختم سو، نو ځکه دا غلام د مخکي په څېر د هغه حربي مشتري سره غلام پاته سو او آزاد نه سو.

<u>ولأبي حنيفة إلخ</u>: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د دې آيت "لَنْ يَّجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا" [سورة النساء:۱۴۱] په وجه مسلمان د کافر له قبضې څخه خلاصول ضروري دي او څرنګه چې په دې مسئله کې پر کافر جبر کول ممکن نه دي ځکه چې هغه دارُ الحرب ته تللی دی، نو په دې وجه به تباينُ الدارين د إعتاق قائم مقام ګرځول کيږي او له هغه کافر حربي څخه به مسلمان

غلام خلاصول کيږي او تر تخليص وروسته به هغه آزاد شمارل کيږي. او شرط د علت قائم مقام ګرځول په شريعت کي جاري دي (او د دې ډېر مثالونه سته)، مثلاً که له زَوجينو څخه يو (يعني يا خاوند يا ښځه) په دارُ الحرب کي اسلام راوړي نو د دوی په مينځ کي خو تفريق کول واجب دی. لېکن څرنګه چي د دارُ الحرب په وجه جبر على التفريق ممکن نه دی. نو په دې وجه به دلته د درېو حيضونو تېرېدل د تفريق قائم مقام ګرځول کيږي، همداسي په دې مسئله کي تباينُ الدارين د إعتاق قائم مقام ګرځول سوی دی.

د حربي کافر د مسلمان غلام حکم

وَإِذَا أَسْلَمَ عَبْدٌ لِحَرْبِيٍّ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا او که چيري د يو حربي کافر غلام اسلام راوړي بيا زموږ وطرف ته راسي [يعني دارُ الاسلام ته راسي] أَوْ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ يا پر دارُ الحرب [د مسلمانانو له طرفه] قبضه وسي فَهُوَ حُرٌّ نو هغه غلام آزاد دی وَكَذٰلِكَ إِذَا خَرَجَ عَبِيدُهُمْ إِلَى عَسْكَرِ الْمُسْلِمِينَ هدارنګه که د کفارو غلامان د مسلمانانو لښکر ته راسي فَهُمْ أَحْرَارٌ نو هغوی [ټوله] آزاد دي لِمَا رُوِيَ أَنَّ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الطَّائِفِ أَسْلَمُوا وَخَرَجُوا[1] إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ ځکه چي روايت سوی دی چي د طائف له غلامانو څخه يو څو غلامانو اسلام راوړی او نبي کريم ﷺ ته راغلل فَقَضَى بِعِتْقِهِمْ وَقَالَ: هُمْ عُتَقَاءُ اللهِ نو نبي کريم ﷺ د دوی د آزاد والي فيصله وکړه او ويې فرمايل: دوی د الله تعالیٰ [له طرفه] آزاد کړل سوي دي وَلِأَنَّهُ أَحْرَزَ نَفْسَهُ بِالْخُرُوجِ إِلَيْنَا مُرَاغِمًا لِمَوْلَاهُ أَوْ بِالِالْتِحَاقِ بِمَنَعَةِ الْمُسْلِمِينَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى الدَّارِ او په دې وجه [هم] چي دغه غلام د خپل مالک په پرېښوولو سره [او] زموږ وطرف ته د راوتلو په وجه يا د مسلمانانو د لښکر سره (کله چي هغه پر دارُ الحرب غالب سي) د يوځای کېدلو په وجه خپل ځان محفوظ کړی وَاعْتِبَارُ يَدِهِ أَوْلَى مِنْ اعْتِبَارِ يَدِ الْمُسْلِمِينَ او د ده قبضې ته اعتبار ورکول د مسلمانانو قبضې ته له اعتبار ورکولو څخه غوره دي لِأَنَّهَا أَسْبَقُ ثُبُوتًا عَلَى نَفْسِهِ ځکه چي تر ټولو مخکي پر خپل ځان د ده قبضه ثابته سوې ده فَالْحَاجَةُ فِي حَقِّهِ إِلَى زِيَادَةِ تَوْكِيدِ نو د ده په حق کي [فقط] د قبضې مؤکد کولو [مضبوطولو] ته ضرورت سته وَفِي حَقِّهِمْ إِلَى إِثْبَاتِ الْيَدِ ابْتِدَاءً او د

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في المراسيل، رقم الحديث: ٣٣١.

مسلمانانو په حق کې د ابتداءً قبضې ثابتولو ته ضرورت سته فَلِهٰذَا كَانَ أَوْلٰى نو ځکه به د غلام قبضه غوره [او معتبره] وي.

اللغات: ﴿قُضِيَ﴾ د ضرب ماضي ده: فيصله كول، ﴿أحرز﴾ د افعال ماضي ده: محفوظه كول (محفوظول)، خوندي كول، ﴿مُراغِم﴾ د مفاعلې اسم فاعل دی: پرېښوونکی، ﴿يد﴾ لاس، مراد ځنې قبضه او قدرت دی، ﴿مَنَعَة﴾ (د نون په فتحه سره) جمع د مَانِعٌ ده: منع كونكي، سپاهي، له مَنَعَةٌ څخه مراد اسلامي سپاهيان او لښكر دی، ﴿أسبق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مخكې، تر ټولو مخكې.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه چيرې د يو حربي غلام مسلمان سي بيا هغه دارُ الاسلام ته راسي يا پر دارُ الحرب د مسلمانانو قبضه راسي نو په دې دواړو صورتونو كې به هغه غلام آزاديږي، همدا حكم د هغو ټولو غلامانو دی كوم چې اسلام راوړي او دارُ الاسلام ته راسي يا پر دارُ الحرب باندې د قبضې په صورت كې اسلامي لښكر ته راسي او د هغه سره يو ځای سي: ځكه د طائف ځينو غلامانو چې اسلام راوړی او د نبي ﷺ په خدمت كې حاضر سول، د هغوسره نبي ﷺ همدغسې معامله وكړه، او دا زموږ لپاره سند او دليل دی.

عقلي دليل دا دی چې كله دې غلامانو خپل مالكان پرېښوول او زموږ (د دارُ الاسلام) وطرف ته راغلل، نو هغوی خپل ځانونه محفوظ كړل او د دوی پر ذات د دوی خپله قبضه راغله يعني دوی په تصرّف كې خود مختاره سول، او څرنګه چې پر خپل ذات د دوی ذاتي قبضه د مسلمانانو له قبضې څخه مخكې او مُقدّمه ده او د غلامانو په حق كې د نور تأكيد ضرورت سته يعني دغه قبضه به نوره مضبوطول كيږي او د مسلمانانو په حق كې د ابتداءً قبضې ثابتولو ته ضرورت سته، او دا ښكاره خبره ده چې د چا په حق كې قبضه مخكې ثابته وي نو د هغه قبضې پاتېدل او د هغه قبضې مؤكدول (مضبوطول) له ابتداءً قبضې ثابتولو څخه أولىٰ او غوره دي، نو په دې وجه به د غلام په حق كې د هغه خپله قبضه معتبره وي او هغه به آزاد وي. والله أعلم وعلمهُ أتم



بَابُ الْمُسْتَأْمِنِ

(دا) باب د أمان د طلب کونکی (په بیان کی) دی

تشريح: دلته، له مستأمن څخه هغه مسلمان مراد دی کوم چي دارُالحرب ته ولاړ سي او له حربیانو څخه أمان طلب کړي؛ له بابُ الاستیلاء څخه وروسته د بابُ المستأمن د بیانولو وجه دا ده چي استیلاء قهراً او غلبةً وي لېکن أمن او أمان له قهر (غلبې) څخه بغیر وي. نو په دې وجه تر قهر وروسته أمان بیانیږي. او د اسلام د ستر توب او شرافت په خاطر د مسلمان مستأمن بحث او بیان له حربي مستأمن څخه مخکي سوی دی. (بناية ج:۶، ص:۶۱۸)

دارُ الحرب ته د داخلېدونکي مسلمان لپاره حکم

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرًا او که چیري مسلمان د تاجر په توګه [یعني د تجارت په نیت] دارُالحرب ته داخل سي فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَتَعَرَّضَ لِشَيْءٍ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلَا مِنْ دِمَائِهِمْ نو هغه ته روا نه دي چي د کفارو په أموالو تعرّض [او تجاوز] وکړي لِأَنَّهُ ضَمِنَ أَنْ لَا يَتَعَرَّضَ لَهُمْ بِالِاسْتِيمَانِ ځکه چي هغه د أمان په غوښتولو سره د دې خبري ذمه واري اخیستې ده چي هغه به په کفارو تعرض نه کوي فَالتَّعَرُّضُ بَعْدَ ذَٰلِكَ يَكُونُ غَدْرًا لهذا تر دې وروسته به تعرض کول غدر [او د عهد ماتول] وي وَالْغَدْرُ حَرَامٌ او غدر حرام دی إِلَّا إِذَا غَدَرَ بِهِمْ مَلِكُهُمْ فَأَخَذَ أَمْوَالَهُمْ أَوْ حَبَسَهُمْ لېکن که د کفارو باچا د مسلمانانو تاجرانو سره غدر وکړي او د دوی مالونه واخلي یا دوی قیدیان کړي أَوْ فَعَلَ غَيْرُهُ بِعِلْمِ الْمَلِكِ وَلَمْ يَمْنَعْهُ یا له باچا څخه بغیر بل کس دا کار وکړي [او] باچا په خبر وي [لېکن] هغه منع نه کړي لِأَنَّهُمْ هُمُ الَّذِينَ نَقَضُوا الْعَهْدَ ځکه چي [په دې صورت کي] کفارو په خپله عهد مات کړی بِخِلَافِ الْأَسِيرِ په خلاف د قیدي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَأْمَنٍ ځکه چي هغه د أمان طلب کونکی [غوښتونکی] نه دی فَيُبَاحُ لَهُ التَّعَرُّضُ وَإِنْ أَطْلَقُوهُ طَوْعًا نو ځکه به د هغه لپاره تعرض کول روا وي که څه هم کفارو هغه په خپله خوښی سره ایله کړی وي فَإِنْ غَدَرَ بِهِمْ أَعْنِي التَّاجِرَ فَأَخَذَ شَيْئًا

وَخَرَجَ بِهِ او که مسلمان يعني تاجر د کفارو سره غدر وکړي او يو شي واخلي او (دار الاسلام ته) ېې يووسي مَلَكَهُ مِلْكًا مَحْظُورًا نو هغه د ممنوع ملک په توګه د دې شي مالک کيږي لِوُرُوْدِ الِاسْتِيْلَاءِ عَلٰى مَالٍ مُبَاحٍ ځکه چې پر مباح مال قبضه واقع سوې ده إِلَّا أَنَّهُ حَصَلَ بِسَبَبِ الْغَدْرِ ځکه چې دا مال (شی) د غدر په سبب سره حاصل سوی دی فَأَوْجَبَ ذٰلِكَ خُبْثًا فِيهِ نو غدر په هغه کې بدي (مردارتوب) پيدا کړی (يعني د غدر په وجه هغه مال د ده لپاره ناروا وګرځېدی) فَيُؤْمَرُ بِالتَّصَدُّقِ بِهِ لهذا هغه ته به د دې مال د صدقه کولو حکم کيږي وَهٰذَا لِأَنَّ الْحَظْرَ لِغَيْرِهِ لَا يَمْنَعُ انْعِقَادَ السَّبَبِ او دا (حکم) په دې وجه دی چې ممانعت لغيره د سبب له انعقاد څخه مانع نه دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه مخکې چې مونږ د دې بيان وکړی.

اللغات: ﴿يتعرض﴾ د تفعّل مضارع ده: په يو شي پسې کېدل، کار په لرل (کار په درلودل)، دخل اندازي کول، مقاومت او مقابله کول، مراد ځني تجاوز او تېری کول دي. ﴿ضمن﴾ د سمع ماضي ده: ضامن کېدل، ذمه واري اخيستل. ﴿غَدْر﴾ مصدر دی، له ضرب، نصر او سمع ټولو څخه راځي. قول او ژبه ماتول، عهد ماتول (وعده خلافي کول)، غداري کول، خيانت او دوکه بازي کول. ﴿محظور﴾ د ضرب له باب څخه اسمِ مفعول دی: ممنوع، منع سوی دی، حَظْر: ممانعت، منع کول، بنديز لګول. ﴿استيلاء﴾ د استفعال مصدر دی: قبضه کول، غلبه کول. ﴿خُبث﴾ ناولتوب، مردارتوب، ګندګي، خرابي، بدي. ﴿التصدّق﴾ د تفعّل مصدر دی: صدقه کول، خيراتول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو مسلمان تاجر أمان طلب کړي دارُ الحرب ته ولاړ سي، نو د هغه لپاره د کفارو په أموالو او نفوسو کې دخل کول او په هغوی کار درلودل (تعرّض او تجاوز کول) جائز نه دي؛ ځکه چې استيمان د دې منافي دی، او تعرّض کول غداري (وعده خلافي) او دوکه بازه دي، او غداري حرامه ده. هاکه چيرې په خپله د کفارو د باچا له طرفه د مسلمانو تاجرانو سره غداري وسي او مسلمانان لوټ کړي يا يې قيد کړي يا له باچا څخه بغير يو بل حربي دا کار وکړي او باچا په هغه خبر وي، خو بيا يې هم منع نه کړي، نو په دې صورت کې به دغه تاجرانو لره هم د تعرض او کاروايي کولو حق وي؛ ځکه چې شروع د کافرانو له طرفه راغله يعني کفارو په خپله په غداري شروع وکړه. لهذا اوس به هغو ته د خپلې غدارۍ سزا ورکول کيږي. او که چيرې کفار په دارُ الاسلام کې يو مسلمان قيد کړي دارُ الحرب ته يې بوځي نو د هغه لپاره تعرّض کول مباح دي که څه هم کفارو هغه په دارُ

الحرب کي ایله کړی وي، ځکه چي هغه مستأمن نه دی یعني هغه أمان طلب کړی نه دی او د هیڅ شي عهد او وعده یې کړې نه ده (نو په دې صورت کي د هغه تعرّض غدر او دوکه بازي نه وي).

او که مسلمان تاجر په غداري شروع وکړي او د کفارو مال لوټ کړي او قبضه پر وکړي، نو که څه هم د قبضه کولو په وجه به دا تاجر د هغه مال مالک وي، لېکن دا ملکیت به ممنوع وي، ځکه چي تاجر په غلطه طریقه سره یعني د غدر په ذریعه دا مال حاصل کړی دی، نو د غدر په وجه په هغه کي خُبث پیدا سو، لهذا دې تاجر ته به د هغه مال د صدقه کولو حکم کیږي، خو پر هغه مال به د تاجر قبضه ثابتیږي، ځکه چي دلته د تاجر د ملکیت ممانعت لغیره دی (یعني د خپل ذات په وجه نه دی، بلکي د بل شي په وجه [یعني د غدر په وجه] د هغه ملکیت ممنوع دی)، او ممانعت لغیره د سبب له انعقاد څخه یعني له استیلاء او قبضې څخه مانع نه دی.

له دارُ الحرب څخه د قرض یا د غصب مال راوړل

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ او که یو مسلمان دارُ الحرب ته په أمان سره داخل سي فَأَدَانَهُ حَرْبِيٌّ أَوْ أَدَانَ هُوَ حَرْبِيًّا [بیا] یو حربي هغه ته قرض [پور] ورکړي یا هغه یو حربي ته قرض ورکړي أَوْ غَصَبَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ یا په مسلمان او حربي کي یو د خپل ملګري [یعني یو د بل] مال غصب کړي ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا بیا یې دارُ الاسلام ته راوړي وَاسْتَأْمَنَ الْحَرْبِيُّ او حربي هم أمان طلب کړي لَمْ يُقْضَ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ بِشَيْءٍ نو په دوی کي به د یوه لپاره [هم] د هغه د ملګري په خلاف د هیڅ شي فیصله نه کیږي أَمَّا الْإِدَانَةُ فَلِأَنَّ الْقَضَاءَ يَعْتَمِدُ الْوِلَايَةَ کوم چي قرض ورکول دي نو هغه په دې وجه چي د قاضي د قضاء [فیصلې] مدار پر ولایت دی وَلَا وِلَايَةَ وَقْتَ الْإِدَانَةِ أَصْلًا او د قرض ورکولو په وخت کي ولایت [بالکل] نسته وَلَا وَقْتَ الْقَضَاءِ عَلَى الْمُسْتَأْمَنِ او نه د قضاء په وخت کي پر مستأمن د قاضي ولایت حاصل دی لِأَنَّهُ مَا الْتَزَمَ حُكْمَ الْإِسْلَامِ فِيمَا مَضَى مِنْ أَفْعَالِهِ ځکه چي مستأمن حربي په خپلو تېرو [پخوانیو] کارو کي د اسلامي حکم التزام نه دی کړی وَإِنَّمَا الْتَزَمَ ذَلِكَ فِي الْمُسْتَقْبَلِ بلکي هغه خو په راتلونکې زمانه کي د دې التزام کړی دی وَأَمَّا الْغَصْبُ فَلِأَنَّهُ صَارَ مِلْكًا لِلَّذِي غَصَبَهُ وَاسْتَوْلَى عَلَيْهِ او کوم چي غصبول دي نو ځکه چي مال د هغه سړي ملکیت [مملوک] وګرځېدی چي هغه دا مال غصب کړی او قبضه یې پر وکړه [یعني مغصوب مال د غصبونکي او

قبضه کونکي ملکيت وګرځېدی او هغه د مال مالک سو| لِمُصَادَفَتِهِ مَالًا غَيْرَ مَعْصُومٍ ځکه چي قبضه پر غيرِ معصوم [مباح] مال باندي واقع سوه عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ د دې بيان وکړی وَكَذٰلِكَ لَوْ كَانَا حَرْبِيَّيْنِ فَعَلَا ذٰلِكَ ثُمَّ خَرَجَا مُسْتَأْمَنَيْنِ او همدارنګه کله چي دوه حربيان داسي کار وکړي بيا [دارُ الاسلام ته] راسي په داسي حال کي چي دواړه أمان غوښتونکي وي [يعني دواړه أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَوْ خَرَجَا مُسْلِمَيْنِ او که دوی په داسي حال کي [دارُ الاسلام ته] راسي چي دواړه مسلمانان وي [يعني دواړه اسلام راوړي دارُ الاسلام ته راسي] قُضِيَ بِالدَّيْنِ بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کي به د قرض په هکله فيصله کيږي وَلَمْ يُقْضَ بِالْغَصْبِ او د غصب په هکله به فيصله نه کيږي أَمَّا الْمُدَايَنَةُ فَلِأَنَّهَا وَقَعَتْ صَحِيحَةً کوم چي د قرض معامله ده نو ځکه به د هغه په هکله فيصله کيږي چي د قرض معامله صحيح واقع سوې وه لِوُقُوعِهَا بِالتَّرَاضِي ځکه چي هغه د دواړو په رضا سره واقع سوې وه وَالْوِلَايَةُ ثَابِتَةٌ حَالَةَ الْقَضَاءِ او د قاضي د قضاء په وخت کي ولايت ثابت دی لِالْتِزَامِهِمَا الْأَحْكَامَ بِالْإِسْلَامِ ځکه چي [په دې وخت کي] دوی په اسلام راوړلو سره د اسلامي أحکامو التزام وکړی وَأَمَّا الْغَصْبُ فَلِمَا بَيَّنَّا او کوم چي غصب دی نو د هغه دليل په وجه به د غصب په هکله فيصله نه کيږي کوم چي موږ بيان کړی أَنَّهُ مَلَكَهُ [او هغه دا] چي غاصب د دې [مغصوب] مال مالک سو وَلَا خُبْثَ فِي مِلْكِ الْحَرْبِيِّ حَتّٰى يُؤْمَرَ بِالرَّدِّ او د حربي په ملکيت کي هيڅ بدي نسته چي هغه ته [اوس] د واپس کولو حکم وسي.

اللغات: ﴿أدان﴾ د مفاعلې ماضي ده: قرض ورکول. د قرض معامله کول. ﴿يعتمد﴾ د افتعال مضارع ده: اعتماد کول. تېک لګول (مراد ځني مدار کېدل او بنياد کېدل دي. أحسنُ الهداية). ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر خپل ځان لازمول. په خپله غاړه اخيستل. ﴿خبث﴾ مردار توب. ګندګي. بدي. خرابي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو مسلمان دارُ الحرب ته ولاړ سي أمان طلب کړي او هلته يو حربي ده ته قرض ورکړي يا دا مسلمان په خپله يو حربي ته قرض ورکړي. يا هغه د حربي مال غصب

کړي یا یې حربي څني غصب کړي، بیا دا مسلمان دارُ الاسلام ته راسي او هغه حربي هم أمان واخلي او دارُ الاسلام ته راسي نو د قرض او غصب په دواړو صورتونو کي به په دارُ لاسلام کي نه د مسلمان لپاره پر حربي د ضمان (تاوان) فیصله کیږي او نه به د حربي لپاره پر مسلمان د ضمان فیصله کیږي: ځکه چي د قاضي د قضاء (فیصلې) مدار د قاضي پر ولایت وي، او پر قرض باندي د قاضي فیصله د معاملې کولو په وخت کي صادریږي، حال دا چي د معاملې کولو په وخت کي دوی دواړه په دارُ الحرب کي وه، او په دارُ الحرب کي نه پر مسلما د قاضي ولایت حاصل وو او نه پر حربي مستأمن د قاضي ولایت حاصل وو، ځکه چي حربي د أمان په اخیستلو سره د مستقبل او را رواني زمانې په افعالو کي د اسلامي احکامو التزام کړی دی. او کوم افعال چي هغه په تېره زمانه کي د أمان تر طلب مخکي کړي دي، هغه لره هیڅ اعتبار نسته. نو ځکه به په دارُ الاسلام کي د دوی پر قرض هیڅ فیصله نه کیږي، او پر غصب به یې هم هیڅ فیصله نه کیږي، ځکه چي غاصب په غصب کولو او پر مغصوب مال باندي په قبضه کولو سره د هغه مالک جوړیږي او دا مال مباح مال دی نو پر هغه د غاصب قبضه هم ثابتیږي، لهذا کله چي په دارُ الحرب کي دا معامله وسوه او هلته قبضه هم ثابته سو. نو اوس به په دارُ الاسلام کي د دوی په خلاف هیڅ کاروایي نه کیږي، دوی پوه سول او خپل کار یې پو سنوه.

او که دوو حربي کافرانو په دارُ الحرب کي همدغه کار کړی وي، بیا هغوی أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي نو په دې صورت کي به هم د هغو په خلاف هیڅ کاروایي نه کیږي. ځکه په کوم ځای کي او په کوم وخت کي چي هغو دا کار کړی دی هلته او په هغه وخت کي د قاضي ولایت معلوم دی.

ولا قضاء بدون الولایة: ها! که چي دا دواړه حربیان اسلام راوړي دارُ الاسلام ته راسي او بیا په دارُ الاسلام کي قاضي ته خپله معامله او مسئله پېش کړي او د انصاف غوښتنه وکړي. نو د قرض په صورت کي به قاضي مقروض ته دا حکم کوي چي قرض غوښتونکي ته خپل قرض ورکړي: ځکه چي د قرض معامله دوی په خپل رضا او خوښی سره کړې وه. نو هغه صحیح وه. او اوس پر دوی د قاضي ولایت هم ثابت دی. لهذا د قرض په هکله خو به د قاضي فرمان او فیصله جاري کیږي. لېکن د غصب په باره کي به اوس هم هیڅ فیصله نه کیږي، ځکه چي غاصب مخکي د مغصوب شي مالک سوی دی او د هغه په ملکیت کي هیڅ خرابي او بدي نسته یعني هغه په غداری او وعده خلافی سره هغه مال حاصل کړی نه دی چي هغه د مال پر واپس کولو مجبور کړی سي، نو په دې وجه به د غصب په صورت کي هیڅ فیصله نه کیږي.

له کوم حربي څخه چې مال غصب سوی وي د هغه مسلمانېدل او دارُ الاسلام ته راتلل

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ او که چیري مسلمان په أمان سره دارُ الحرب ته داخل سي فَغَصَبَ حَرْبِيًّا او د يو حربي مال غصب کړي ثُمَّ خَرَجَا مُسْلِمَيْنِ بیا دوی په داسي حال کي [دارُ الاسلام ته] راسي چي دواړه مسلمانان وي أُمِرَ بِرَدِّ الْغَصْبِ وَلَمْ يُقْضَ عَلَيْهِ نو غاصب ته به [دیانتاً] د مغصوب مال د واپس کولو حکم کیږي لېکن پر هغه به [د قاضي له طرفه] فیصله نه کیږي أَمَّا عَدَمُ الْقَضَاءِ فَلِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مَلَكَهُ کوم چي فیصله نه کول دي نو د هغه دلیل په وجه [به فیصله نه کیږي] کوم چي موږ ذکر کړی چي غاصب د مغصوب مال مالک سو وَأَمَّا الْأَمْرُ بِالرَّدِّ وَمُرَادُهُ الْفَتْوَى بِهِ فَلِأَنَّهُ فَسَدَ الْمِلْكُ او کوم چي واپس کول دي (او په دې سره د امام محمد رَحِمَهُ الله مراد فتویٰ ده) نو ځکه چي [د دې مسلمان] ملکیت فاسد سو لِمَا يُقَارِنُهُ مِنَ الْمُحَرَّمِ وَهُوَ نَقْضُ الْعَهْدِ ځکه چي [د هغه] ملکیت د حرام کار سره متصل دی او هغه دعهد ماتول [او وعده خلافي کول] دي.

اللغات: ﴿أُمِر﴾ د نصر له باب څخه د ماضي مجهول صیغه ده: أمر کول، حکم کول. ﴿رَدّ﴾ د نصر مصدر دی: واپس کول (بیرته ورکول). ﴿یقارن﴾ د مفاعلې له باب څخه د مضارع معلوم صیغه ده: متصل کېدل، یو ځای کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که یو مسلمان أمان واخلي دارُ الحرب ته ولاړ سي نو د هغه لپاره د حربیانو په مال تعرض کول (او په هغه کي دخل او تجاوز کول) حرام دي، لېکن که هغه د یو حربي مال غصب کړي بیا هغه حربي مسلمان سي یا أمن واخلي او د دغه مسلمان غاصب سره دارُ الاسلام ته راسي، نو دیانتاً به غاصب ته ویل کیږي چي ورور! د دې نوي مسلمان حربي مال هغه ته واپس کړه!، ځکه چي تا په غدر (او وعده خلافي) سره هغه مال حاصل کړی دی او غدر حرام دی، لهذا په دې مال کي ستا ملکیت فاسد سو، نو ځکه ښه خبره دا ده چي ته هغه ته خپل مال واپس کړه، خو بیا هم قاضي په واپس کولو کي پر هغه زور او جبر نه سي کولای، ځکه چي د حربي مال غیر معصوم او مباح وي، نو غاصب د هغه په غصب کولو سره دومره غټ جرم نه کړی دي چي قاضي هغه ته سزا ورکړي او په دې هکله هغه مجبوره کړي. ها! په مینه او نرمۍ سره به مال څني اخیستل کیږي او نوي مسلمان حربي ته به ورکول کیږي، د دې لپاره چي د نوي مسلمان حربي زړه خوشاله سي او د اسلام په لمن کي هغه په هره توګه خپل ځان محفوظ وګڼي او مطمئن سي.

ومراده الفتوىٰ به: یعني د متن په "أُمِرَ بِرَدٍّ" کي له "رَدّ" څخه د امام محمد رَحِمَهُ الله مراد فتویٰ ورکول دي، یعني د هغه مراد او مطلب دا دی چي د "واپس کولو" فتویٰ به نه ورکول کیږي لېکن دیانتاً به هغه ته د واپس کولو حکم کیږي.

په دارُ الحرب کي مسلمان قتلول

وَإِذَا دَخَلَ مُسْلِمَانِ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ او که چیري دوه مسلمانان په أمان سره دارُ الحرب ته داخل سي فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً او په دوی کي یو په قصد یا خطاء سره خپل ملګری قتل کړي فَعَلَى الْقَاتِلِ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ نو پر قاتل به په خپل مال کي دیت واجب وي وَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ او په قتلِ خطاء کي به پر هغه کفاره [هم] واجب وي أَمَّا الْكَفَّارَةُ فَلِإِطْلَاقِ الْكِتَابِ کوم چي د کفارې وجوب دی نو ځکه چي کتابُ الله [آیت] مطلق دی وَأَمَّا الدِّيَةُ فَلِأَنَّ الْعِصْمَةَ الثَّابِتَةَ بِالْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الدُّخُولِ بِالْأَمَانِ او کوم چي د دیت وجوب دی نو ځکه چي په إحراز بدار الاسلام سره ثابت سوی عصمت په أمان اخیستلو سره د عارضي دخول په وجه نه باطلیږي وَإِنَّمَا لَا يَجِبُ الْقِصَاصُ لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ اسْتِيفَاؤُهُ إِلَّا بِمَنَعَةٍ او قیاس ځکه نه واجبیږي چي له طاقت [دفاعي قوت] څخه بغیر د قصاص اخیستل ممکن نه دي وَلَا مَنَعَةَ دُونَ الْإِمَامِ وَجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ او له امام او جماعهٔ المسلمین څخه بغیر طاقت حاصلېدای نه سي وَلَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فِي دَارِ الْحَرْبِ او دا [امام او جماعة المسلمین] په دارُ الحرب کي موجود نه دي وَإِنَّمَا تَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي الْعَمْدِ لِأَنَّ الْعَوَاقِلَ لَا تَعْقِلُ الْعَمْدَ او د قتلِ عمد په صورت کي دیت ځکه د قاتل په خپل مال کي واجبیږي چي عاقله د قتلِ عمد دیت نه ورکوي وَفِي الْخَطَإِ لِأَنَّهُ لَا قُدْرَةَ لَهُمْ عَلَى الصِّيَانَةِ مَعَ تَبَايُنِ الدَّارَيْنِ او د قتلِ خطاء په صورت کي [ځکه د قاتل په خپل مال کي دیت واجبیږي] چي د دارَینو د تباین سره عاقله پر حفاظت قدرت نه لري وَالْوُجُوبُ عَلَيْهِمْ عَلَى اعْتِبَارِ تَرْكِهَا او پر عاقله وو به د دیت وجوب د حفاظت پرېښوولو په وجه وي وَإِنْ كَانَا أَسِيرَيْنِ فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ أَوْ قَتَلَ مُسْلِمٌ تَاجِرٌ أَسِيرًا او که هغوی دواړه [مسلمانان] قیدیان وي او په هغوی کي یو خپل ملګری قتل کړي یا یو مسلمان تاجر یو قیدي قتل کړي فَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ نو پر قاتل هیڅ شی واجب نه دی إِلَّا الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په قتلِ خطاء کي کفاره واجب ده وَقَالَا ❁: فِي الْأَسِيرَيْنِ

❁ القول الراجح: قول أبي حنیفة رَحِمَهُ الله، کما ذکر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٧٢). [القول الراجح ج:١، ص:٤٩٠]

الدِّيَةُ فِي الْخَطَإِ وَالْعَمْدِ او صاحبين فرمايي: چي د قتلِ خطاء او عمد په دواړو صورتونو کي په دواړو قيديانو کي [پر قاتل] ديت واجب دی. لِأَنَّ الْعِصْمَةَ لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الْأَسْرِ كَمَا لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الِاسْتِئْمَانِ ځکه چي د قيد په عارض سره عصمت نه ختميږي لکه څرنګه چي د استيمان په عارض سره عصمت نه ختميږي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ د دې بيان وکړی وَامْتِنَاعُ الْقِصَاصِ لِعَدَمِ الْمَنَعَةِ او د قصاص منع کېدل د طاقت [دفاعي قوت] د نشتوالي په وجه دي وَيَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ او دا ديت به د قاتل په مال کي واجب وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ بِالْأَسْرِ صَارَ تَبَعًا لَهُمْ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د قيدېدلو په وجه قيدي د حربيانو تابع سو لِصَيْرُورَتِهِ مَقْهُورًا فِي أَيْدِيهِمْ ځکه چي هغه د دوی په قبضه کي مغلوب وګرځېدی وَلِهَذَا يَصِيرُ مُقِيمًا بِإِقَامَتِهِمْ وَمُسَافِرًا بِسَفَرِهِمْ همدا وجه ده چي [اوس] هغه د دوی په مقيم کېدلو سره مقيم ګرځي او د دوی په مسافر کېدلو سره مسافر ګرځي فَيَبْطُلُ بِهِ الْإِحْرَازُ أَصْلًا نو په دې سره إحرز بالکل باطليږي وَصَارَ كَالْمُسْلِمِ الَّذِي لَمْ يُهَاجِرْ إِلَيْنَا او دا د هغه مسلمان په څير سو چي هغه زموږ [د دارُ الاسلام] وطرف ته هجرت نه وکړي وَخَصَّ الْخَطَأَ بِالْكَفَّارَةِ او امام قدوري رَحِمَهُ الله قتلِ خطاء د کفارې سره خاص کړی دی لِأَنَّهُ لَا كَفَّارَةَ فِي الْعَمْدِ عِنْدَنَا ځکه چي زموږ په نېز په قتلِ عمد کي کفاره نسته.

اللغات: ﴿مَنَعة﴾ د مدافعت قوت، دفاعي طاقت، ﴿عواقل﴾ جمع د عاقلةٌ ده: (د قاتل) خاندان والا، قبيلې والا، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: حاصلول، ترلاسه کول، اخيستل، ﴿صيانة﴾ حفاظت، ﴿أَسْر﴾ د ضرب مصدر دی: قيدول (قيدي کول)، ﴿صيرورة﴾ د ضرب مصدر دی: ګرځېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري دوه مسلمانان أمان واخلي دارُ الحرب ته ولاړ سي او هلته په دوی کي يو مسلمان بل مسلمان قتل کړي برابره ده عمداً يې قتل کړي يا خطاءً، په دواړو صورتونو کي به پر قاتل په خپل مال کي ديت واجب وي، او د خطاءً په صورت کي به د ديت سره کفاره هم پر واجب وي؛ د کفارې د وجوب دليل دا آيت دی: "وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ...إلخ" [سورة النساء: ٩٢]، په دې آيت کي د مطلق قتلِ خطاء په جزاء کي ديت واجب سوی دی، نو ځکه به د قتلِ خطاء په صورت کي ديت واجبيږي، او د عمد په صورت کي به هم ديت واجبيږي او قصاص به نه واجبيږي، ځکه

چې د قصاص اخیستلو لپاره د طاقت او قوت ضرورت وي، او په دارُ الحرب کې نه امامُ المسلمین وي او نه د مسلمانانو یو ګوند او جماعت وي، نو په دې وجه هلته قصاص واجبول بې نفع او بې فایدې دي. ها! د مسلمان د خون او وینې د احترام او ساتلو لپاره به پر قاتل دیت واجب وي (چې د مسلمان وینه هدر او ضایع نه سي او قاتل موت جوت خلاص نه سي)، ځکه چې په دارُ الحرب کې د مسلمان د عارضي أمان په اخیستلو سره د هغه دائمي عصمت ساقط سوی نه دی بلکې دا عصمت پاته دي او د همدغه عصمت په وجه به پر قاتل دیت واجب وي او دا به د قاتل په مال کې واجب وي، ځکه چې عاقله د قتلِ عمد دیت نه ورکوي. او عاقله که څه هم د قتلِ خطاء دیت وَرکوي لېکن په دې مسئله کې به د قتلِ خطاء دیت هم عاقله نه ورکوي. بلکې قاتل به یې ورکوي، ځکه چې پر عاقله وو باندې د صیانت او حفاظت د پرېښولو په وجه دیت واجبیږي او صیانت پرېښوول په دارُ الاسلام کې ثابتیږي حال دا چې دلته قتل په دارُ الحرب کې واقع سوی دی او په دارُ الحرب کې عاقله پر صیانت قدرت نه لري، نو ګواکې د دارُ الحرب په قتل کې د دوی له طرفه د صیانت پرېښوول موجود نه سو، نو ځکه به دوی به د هغه دیت هم نه ورکوي.

وإن كان أسيرين إلخ: مسئله دا ده که چیرې کفار په دارُ الاسلام کې دوه خلک ونیسي. قیدیان یې کړي او دارُ الحرب ته یې نقل کړي، بیا هلته یوه قیدي هغه بل قیدي قتل کړي، یا مسلمان تاجر یو مسلمان قیدي قتل کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر قاتل هیڅ شی واجب نه وي لېکن که چیرې قتلِ خطاء وي نو پر قاتل به کفاره واجب وي. صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي که چیرې یوه قیدي بل قیدي قتل کړی وي نو د قتلِ عمد او خطاء په دواړو صورتونو کې به پر قاتل دیت واجب وي؛ ځکه چې مقتول مسلمان دی او د هغه عصمت دائمي دی، لهذا په عارضي قید سره به د هغه عصمت نه ساقطیږي لکه څرنګه چې په عارضي استیمان سره عصمت نه ساقطیږي او څرنګه چې دا دارُ الحرب معامله ده او هلته اسلامي قوت او جماعت معلوم دی، نو ځکه به پر هغه قصاص واجب نه وي خو دیّت به خامخا پر واجب وي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب دلیل دا دی چې د نیولو او قیدېدلو په وجه هغه مسلمان د کفارو په قبضه کې دی او د هغو تر لاس لاندې دی او په هر اعتبار سره د هغو تابع دی، همدا وجه ده چې دا مسلمان د هغو کفارو په مقیموالي سره مقیم شمارل کیږي او د هغو په مسافر کېدلو سره مسافر شمارل کیږي او په داسې مضبوط تبعیت سره إحراز بالکل ختمیږي او کله چې إحراز ختم او باطل سو نو عصمت هم ساقط سو. او کله چې عصمت نسته نو دیت به څرنګه واجب سي (ځکه چې دیت خو د معصوم، محترم او محفوظ نفس د قتلولو په وجه واجبیږي). د دې مثال داسې دی لکه یو کافر چې په دارُ الحرب کې مسلمان سي لېکن له هغه ځای څخه دارُ الاسلام ته را نه سي نو د هغه په حق کې هم مکمل عصمت نه ثابتیږي او هغه به د کفارو په قبضه کې مقهور (او د هغو تر لاس لاندې) ګڼل کیږي، همداسې د دغه قیدي هم دغه حکم دی.

وخص الكفارة إلخ: فرمایي چې دلته فقط د قتلِ خطاء په صورت کې کفاره واجب سوې ده. د هغه وجه دا ده چې په قتل عمد کې زموږ په نېز کفاره نسته. فقط والله أعلم وعلمه أتمّ

فَصْلٌ (فِي بَيَانِ أَحْكَامِ الْمُسْتَأْمِنِ مِنَ الْحَرْبِ)

(دا) فصل (د مستأمن حربي د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: مخکي موږ دا خبره وکړه چې د مستأمن حربي أحکام تر مسلمان مستأمن وروسته بيان سوي دي. اوس له دې ځای څخه د هغه بيان دی.

حربي ته به څومره مودت أمان ورکول کيږي؟

قَالَ: وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ إِلَيْنَا مُسْتَأْمَنًا فرمايي: که چيري يو حربي زموږ [د دارُ الاسلام] وطرف ته په داسي حال کي راسي چې أمان غوښتونکی وي لَمْ يُمَكَّنْ أَنْ يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً نو د دې موقع [او قدرت] به نه ورکول کيږي چې په دارُ الاسلام کي د يوه [پوره] کال لپاره پاته سي وَيَقُولُ لَهُ الْإِمَامُ: إِنْ أَقَمْتَ تَمَامَ السَّنَةِ وَضَعْتُ عَلَيْكَ الْجِزْيَةَ او امام به هغه ته وايي: که چيري ته [دلته] ټوله کال پاته سي نو زه به پر تا جزيه کښېږدم [مقرره کړم] وَالْأَصْلُ: أَنَّ الْحَرْبِيَّ لَا يُمَكَّنُ مِنْ إِقَامَةٍ دَائِمَةٍ فِي دَارِنَا إِلَّا بِالِاسْتِرْقَاقِ أَوْ الْجِزْيَةِ او قاعده دا ده: چې له غلام جوړولو يا له جزيه مقرر کولو څخه بغير به د دائمي پاتېدلو موقع نه ورکول کيږي لِأَنَّهُ يَصِيرُ عَيْنًا لَهُمْ وَعَوْنًا عَلَيْنَا ځکه چې [د دې په وجه] به هغه د حربيانو جاسوس جوړ سي او زموږ په خلاف [د هغو] مدد گار جوړ سي فَيَلْتَحِقُ الْمَضَرَّةُ بِالْمُسْلِمِينَ نو [د هغه په وجه] به مسلمانانو ته ضرر ورسيږي وَيُمَكَّنُ مِنَ الْإِقَامَةِ الْيَسِيرَةِ البکن [هغه ته به د معمولي [لږ] مودت لپاره د پاتېدلو موقع ورکول کيږي لِأَنَّ فِي مَنْعِهَا قَطْعَ الْمِيرَةِ وَالْجَلَبِ وَسَدَّ بَابِ التِّجَارَةِ ځکه چې د لږ مودت په منع کولو سره د غلې او مال تر لاسه کولو [اننده] ختميږي او د تجارت [کاروبار] کولو دروازه بندي کيږي فَفَصَلْنَا بَيْنَهُمَا بِسَنَةٍ نو ځکه موږ د ډېر او لږ مودت په مينځ کي په يوه کال سره فاصله کړې ده لِأَنَّهَا مُدَّةٌ تَجِبُ فِيهَا الْجِزْيَةُ ځکه چې يو کال داسي مودت دی چې په هغه کي جزيه واجبيږي فَتَكُونُ الْإِقَامَةُ لِمَصْلَحَةِ الْجِزْيَةِ لهذا [يو کال د حربي]

پاتېدل به د جزيې د مصلحت لپاره وي ثُمَّ إِنْ رَجَعَ بَعْدَ مَقَالَةِ الْإِمَامِ قَبْلَ تَمَامِ السَّنَةِ إِلَى وَطَنِهِ بيا كه چيري هغه د امام تر خبري وروسته تر يوه كال پوره كېدلو مخكي دارُ الحرب ته ولاړ سي فَلَا سَبِيلَ عَلَيْهِ نو پر هغه به [د جزيې لازمولو] هيڅ لاره نه وي وَإِذَا مَكَثَ سَنَةً فَهُوَ ذِمِّيٌّ او كه چيري هغه يو كال پاته سي نو ذمي به وي لِأَنَّهُ لَمَّا أَقَامَ سَنَةً بَعْدَ تَقَدُّمِ الْإِمَامِ إِلَيْهِ ځكه كله چي هغه يو كال پاته سو وروسته تر دې چي امام هغه ته مخكي [خبره] وكړه [چي كه ته دلته ټوله كال پاته سې نو زه به پر تا جزيه مقرر كړم] صَارَ مُلْتَزِمًا الْجِزْيَةَ نو هغه پر خپل ځان د جزيې لازمونكى سو فَيَصِيرُ ذِمِّيًّا نو ځكه به هغه ذمي ګرځي وَلِلْإِمَامِ أَنْ يُوَقِّتَ فِي ذٰلِكَ مَا دُونَ السَّنَةِ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرَيْنِ او امام ته دا اختيار سته چي په دې هكله تر يوه كال كم مودت لكه يوه مياشته. دوې مياشتي [او داسي نور] وټاكي وَإِذَا أَقَامَهَا بَعْدَ مَقَالَةِ الْإِمَامِ يَصِيرُ ذِمِّيًّا او كه چيري هغه د امام تر خبري وروسته ټوله كال پاته سي نو [هم] به ذمي ګرځي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړى ثُمَّ لَا يُتْرَكُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ بيا به هغه دې ته نه پرېښوول كيږي چي دارُ الحرب ته واپس ولاړ سي لِأَنَّ عَقْدَ الذِّمَّةِ لَا يُنْقَضُ ځكه چي د ذمي والي عقد ماتېدلاى نه سي كَيْفَ وَأَنَّ فِيهِ قَطْعَ الْجِزْيَةِ وَجَعْلَ وَلَدِهِ حَرْبًا عَلَيْنَا څرنګه به مات كړى سي حال دا چي په دې كي د جزيې قطع كېدل او زموږ په خلاف د هغه د أولاد حربي كېدل سته وَفِيهِ مَضَرَّةٌ بِالْمُسْلِمِينَ او په دې كي د مسلمانانو [ښكاره] نقصان دى.

اللغات: ﴿مستأمن﴾ د استفعال اسمِ فاعل دى: د أمان طلب كونكى، أمان غوښتونكى، أمان اخيستونكى، ﴿أقمت﴾ د افعال ماضي ده: اقامت كول، پاتېدل، يو ځاى خپل وطن ګرځول، ﴿استرقاق﴾ د استفعال مصدر دى: غلام جوړول، ﴿عين﴾ جاسوس، ﴿عون﴾ مددګار، مرستيال، ﴿ميرة﴾ غله، ﴿جَلَب﴾ صاحب د مصباح اللغات د دې لفظ معنیٰ داسي كړې ده: هغه مال كوم چي له يو ښار څخه بل ښار ته راوړل سي، ﴿مُلتزِم﴾ د افتعال اسمِ فاعل دى: پر ځان لازمونكى، په خپله غاړه اخيستونكى (ذمه واري قبلونكى).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي له جزيې اخيستلو يا له غلام جوړلو څخه بغير به حربي ته په دارُ الاسلام كي د اوسېدلو لپاره ديوه كال وېزه (اجازت نامه) نه وركول كيږي. ها! هغه ته مياشت، دوې مياشتي په دارُ الاسلام كي د اوسېدلو اجازه وركول كېداى سي: ځكه كه چيري هغه ټوله كال په

دارُ لاسلام کي اووسيږي، نو د مسلمانانو په رازونو او چالونو به خبر سي او جاسوسي به وکړي او زموږ په خلاف به د کفارو مرسته وکړي او مسلمانانو ته به نقصان ورسوي. نو ځکه د به د ټوله کال لپاره د اوسېدلو اجازه نه ورکول کيږي، لېکن له يوه کال څخه د کم مودت لپاره به هغه ته اقامتي وېزه ورکول کيږي، ځکه که هغه له دې څخه هم منع کړی سي نو بيا به د غلې او مالونو د ابستولو او ترلاسه کولو او د تجارت او کاروبار کولو لاره بنده سي. او که چيري هغه د ټوله کال لپاره اوسېدل غواړي نو هغه به جزيه ورکوي يا به د غلامۍ طوق غاړي ته اچوي.

وإن رجع إلخ: د دې حاصل دا دی چي امام به حربي ته دا خبره کړې وي چي وروره! د پوره کال اوسېدلو په صورت کي به ته جزيه اداء کوې او هغه به دا خبره منظور کړې وي. لېکن بيا تر کال پوره کېدلو مخکي هغه خپل وطن ته ولاړ سي، نو اوس به پر هغه جزيه نه واجبيږي. ها! که چيري هغه يو کال په دارُ الاسلام کي اووسيږي نو بيا به هغه ذمي ګرځول کيږي او پر هغه به جزيه واجبيږي او د هغه لپاره به دارُ الحرب ته د واپس تللو اجازه نه وي، ځکه چي هغه د پوره کال په اوسېدلو سره ذمي وګرځېدی او هغه په خپل فعل او اوسېدلو سره په خپله د جزيې التزام وکړی. "عقد ذمه" ماتېدلای نه سي، ځکه چي د هغه په ماتولو کي د مسلمانانو نقصان دی، نو په دې وجه به هغه حربي اوس دارُ الحرب ته هم واپس تللای نه سي.

که حربي په دارُ الاسلام کي ځمکه رانيسي (حکم)

فَإِنْ دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ او که چيري يو حربي په أمان سره دارُ الاسلام ته راسي وَاشْتَرَى أَرْضَ خَرَاجٍ او هغه يوه خراجي ځمکه رانيسي فَإِذَا وُضِعَ عَلَيْهِ الْخَرَاجُ نو کله چي پر هغه خراج کښېښنول سي [يعني کله چي پر دې حربي خراج لازم سي] فَهُوَ ذِمِّيٌّ نو [له هغه وخت څخه] به هغه ذمي وي لِأَنَّ خَرَاجَ الْأَرْضِ بِمَنْزِلَةِ خَرَاجِ الرَّأْسِ ځکه چي د ځمکي خراج د فرد [انسان] د خراج په درجه کي دی فَإِذَا الْتَزَمَهُ صَارَ مُلْتَزِمًا الْمَقَامَ فِي دَارِنَا او کله چي هغه پر ځان خراج لازم کړی نو هغه په دارُ اسلام کي پاتېدل پر ځان لازم کړه أَمَّا بِمُجَرَّدِ الشِّرَاءِ لَا يَصِيرُ ذِمِّيًّا لېکن محض د ځمکي په رانيولو سره به هغه ذمي نه ګرځي لِأَنَّهُ قَدْ يَشْتَرِيهَا لِلتِّجَارَةِ ځکه چي کله هغه د تجارت لپاره هم ځمکه رانيسي وَإِذَا لَزِمَهُ خَرَاجُ الْأَرْضِ فَبَعْدَ ذٰلِكَ تَلْزَمُهُ الْجِزْيَةُ لِسَنَةٍ مُسْتَقْبَلَةٍ او کله چي د ځمکي خراج پر هغه لازم سو نو تر دې وروسته به پر هغه د راروان کال لپاره جزيه لازم وي لِأَنَّهُ يَصِيرُ ذِمِّيًّا بِلُزُومِ

الْخَرَاجِ ځکه چې د خراج په لازمېدلو سره به هغه ذمي وګرځي فَتُعْتَبَرُ الْمُدَّةُ مِنْ وَقْتِ وُجُوبِهِ لهذا د جزیې د وجوب له وخت څخه به د هغه د ذمي والي مودت معتبر وي وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ: فَإِذَا وُضِعَ عَلَيْهِ الْخَرَاجُ فَهُوَ ذِمِّيٌّ تَصْرِيحٌ بِشَرْطِ الْوَضْعِ او په متن [جامع صغير] کې د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: " فإذا وُضع عليه الخراج فهو ذمى" د خراج ایښولو [مقرر کولو] د شرطېدلو صراحت دی فَيَتَخَرَّجُ عَلَيْهِ أَحْكَامٌ جَمَّةٌ نو پر دې شرط به [د دغه مسئلې په هکله] د ډېرو أحکامو تخریج کیږي فَلَا يُغْفَلُ عَنْهُ لهذا له دې څخه دې غفلت نه کیږي [یعني دا په یاد ساتل پکار دي] وَإِذَا دَخَلَتْ حَرْبِيَّةٌ بِأَمَانٍ فَتَزَوَّجَتْ ذِمِّيًّا او کله چې یوه حربي ښځه په امان سره [دارُ الاسلام ته] داخله سي صَارَتْ ذِمِّيَّةً نو هغه ذمیه ګرځي لِأَنَّهَا الْتَزَمَتْ الْمُقَامَ تَبَعًا لِلزَّوْجِ ځکه چې هغې د خپل خاوند په متابعت کې پر خپل ځان [په دارُ الاسلام کې] پاتېدل لازم کړه وَإِذَا دَخَلَ حَرْبِيٌّ بِأَمَانٍ فَتَزَوَّجَ ذِمِّيَّةً او که چیري یو حربي په أمان سره [دارُ الاسلام ته] راسي او دیوې ذمي ښځي سره نکاح وکړي لَمْ يَصِرْ ذِمِّيًّا نو هغه ذمي نه ګرځي لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَيَرْجِعَ إِلَى بَلَدِهِ ځکه چې د هغه لپاره دا ممکن دي چې خپلي ښځي ته طلاق ورکړي او خپل ښار ته واپس ولاړ سي فَلَمْ يَكُنْ مُلْتَزِمًا الْمُقَامَ نو هغه [په دارُ الاسلام کې] د پاتېدلو لازمونکی نه سو.

اللغات: **﴿تصریح﴾** د تفعیل مصدر دی: وضاحت کول، په ښکاره توګه ذکر کول. **﴿مقام﴾** مصدر میمي دی: پاتېدل، اقامت کول، یو ځای خپل وطن ګرځول.

تشریح: **مسئله**: دا ده که چیري یو حربي أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي او دلته هغه یوه خراجي ځمکه رانیسي نو کله چې پر هغه خراج لازم سي یعني په کوم وخت چې هغه په دې ځمکه کي کښتګري وکړي (یا د کښتګرۍ وخت راسي) نو له هغه وخت څخه به دا حربي ذمي شمارل کیږي: ځکه چې د ځمکي خراج د انسان د ذات د خراج په څېر دی، لهذا کله چې هغه پر ځان د ځمکي خراج لازم کړي (یعني کله چې پر هغه خراج لازم سي) نو دلالتاً به هغه په خپله هم په دارُ الاسلام کي اوسېدونکی شمارل کیږي او له همدغه وخت څخه به هغه ذمي ګرځول کیږي او پر هغه به درا روان کال جزیه واجب وي، یعني د هغه د ذمي کېدلو دار ومدار د هغه د خراج پر التزام دی. نو محض د ځمکي په رانیولو سره به هیڅ حربي ذمي نه ګرځول کیږي ځکه چې کله نا کله ځمکه د تجارت په نیت سره هم رانیول کیږي لهذا د هغه د ذمي کېدلو لپاره په إقامت او تجارت کي فرق کول ضروري

دي او دا فرق د خراج په التزام يعني په کښتګرۍ، زراعت او داسي نورو سره حاصليږي. نو په دې وجه موږ د هغه ذمي والي د خراج پر التزام منحصر کړی دی. او په متن کي له دې جملې "فإذا وضع عليه الخراج" څخه همدغه مراد دي، او پر همدې به د ډيرو أحکام تخريج هم کيږي. مثلاً تر دې وروسته به هغه دارُ الحرب ته تللای نه سي، او د مسلمان لپاره به په هغه تعرّض کول حرام وي. او داسي نور. (بنايه ج:۶، ص:۶۲۷)

وإذا دخلت إلخ: که چيري يوه حربي ښځه أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي او دلته د يو ذمي سره نکاح وکړي نو هغه به ذميه ګرځي. ځکه چي په نکاح کولو سره هغې خپل ځان د خاوند تابع وګرځوی او د خاوند سره يې په دارُ الاسلام کي د اوسېدلو عهد او تړون وکړی. د دې په خلاف که چيري يو حربي دارُ الاسلام ته راسي د يوې ذمي ښځي سره نکاح وکړي نو هغه به ذمي نه ګرځي، ځکه چي شريعت نارينه حاکم او متبوع جوړ کړی دی او ښځه يې تابع جوړه کړې ده. نو په دې وجه به دا حربي د خپلي ذمي ښځي نه تابع کيږي او نه به د هغې په وجه په دارُ الاسلام کي پر هغه اوسېدل لازم وي. بلکي کله چي هغه وغواړي نو هغې ته به طلاق ورکړي او غوټه به په شا کړي دارُ الحرب ته به ولاړ سي. نو په دې وجه موږ هغه ذمي ګرځولای نه سو.

که حربي په دارُ الاسلام کي يو چا ته په قرض يا په امانت مال ورکړی وي (حکم)

وَلَوْ أَنَّ حَرْبِيًّا دَخَلَ دَارَنَا بِأَمَانٍ او که چيري يو حرابي په أمان سره دارُ الاسلام ته راسي ثُمَّ عَادَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ بيا دارُ الحرب ته واپس ولاړ سي وَتَرَكَ وَدِيعَةً عِنْدَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ أَوْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِمْ او د يو مسلمان يا ذمي سره يو امانت پرېښی دي يا د دوی په پر ذمه يو قرض پرېښی دي فَقَدْ صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالْعَوْدِ نو د واپس تللو په وجه د هغه وينه مباح [روا] وګرځېده لِأَنَّهُ أَبْطَلَ أَمَانَهُ ځکه چي هغه خپل أمان باطل کړی وَمَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ مِنْ مَالِهِ عَلَى خَطَرٍ او په دارُ الاسلام کي چي د هغه کوم مال دی هغه متردّد دی فَإِنْ أُسِرَ أَوْ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ فَقُتِلَ نو که هغه [حربي] قيد کړی سي يا پر دارُ الحرب اد مسلمانانو] قبضه راسي بيا هغه قتل کړی سي سَقَطَتْ دُيُونُهُ نو د هغه قرضونه ساقطيږي وَصَارَتْ الْوَدِيعَةُ فَيْئًا او د هغه أمانت فئ ګرځي أَمَّا الْوَدِيعَةُ فَلِأَنَّهَا فِي يَدِهِ تَقْدِيرًا کوم چي امانت دی نو هغه تقديراً [معنا] اده [حربي] په قبضه کي دی لِأَنَّ يَدَ الْمُودَعِ كَيَدِهِ ځکه چي د مودعَ قبضه د ده د قبضې په شير ده فَيَصِيرُ فَيْئًا تَبَعًا لِنَفْسِهِ نو دده په تبع کي به أمانت فئ وګرځي وَأَمَّا الدَّيْنُ فَلِأَنَّ

إِثْبَاتَ الْيَدِ عَلَيْهِ بِوَاسِطَةِ الْمُطَالَبَةِ او کوم چې قرض دی نو اهغه به ځکه ساقطيږي ا چې پر هغه د حربي قبضه د مطالبې په ذريعه ثابتيږي وَقَدْ سَقَطَتْ حال دا چې [د حربي] د مطالبې حق ساقط سو وَيَدُ مَنْ عَلَيْهِ أَسْبَقُ إِلَيْهِ مِنْ يَدِ الْعَامَّةِ او کوم سړی چې پر دې [قرض او امانت] قابض دی د هغه قبضه د عوامو له قبضې څخه مخکې ده فَيَخْتَصُّ بِهِ نو ځکه به دا [قرض او امانت] د هغه سره خاص کيږي وَإِنْ قُتِلَ وَلَمْ يُظْهَرْ عَلَى الدَّارِ او که حربي قتل کړی سي لېکن پر دارُ الحرب [د مسلمانانو له طرفه] قبضه نه وسي فَالْقَرْضُ الْوَدِيعَةُ لِوَرَثَتِهِ نو قرض او امانت به د هغه د وارثانو لپاره وي وَكَذٰلِكَ إِذَا مَاتَ او همدارنګه که هغه مړ سي [نو هم دغه حکم دی] لِأَنَّ نَفْسَهُ لَمْ تَصِرْ مَغْنُومَةً ځکه چې د دې حربي نفس غنيمت نه وګرځېدی فَكَذٰلِكَ مَالُهُ نو همداسې به د ده مال هم [غنيمت نه ګرځي] وَهٰذَا لِأَنَّ حُكْمَ الْأَمَانِ بَاقٍ فِي مَالِهِ او دا حکم په دې وجه دی چې د دې حربي په مال کې د أمان حکم باقي پاته دی فَيُرَدُّ عَلَيْهِ أَوْ عَلَى وَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِهِ نو ځکه به هغه مال ده ته واپس کيږي يا تر ده وروسته به د ده وارثانو ته واپس کيږي.

اللغات: ﴿وديعة﴾ امانت، هغه شی يا مال کوم چې يو چا ته امانتاً کښېښول سي. ﴿ظهر﴾ د فتح له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده، د دې باب په صله کې چې "علیٰ" راسي، نو د "غالبېدلو" او "قبضه کولو" په معنیٰ سره راځي، ﴿يد﴾ قبضه، قدرت.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري يو حربي أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي او دلته هغه خپل مال يو مسلمان يا ذمي ته د امانت په توګه کښېږدي يا هغه ته يې په قرض ورکړي او بيا دا ټوله پرېږدي او دارُ الحرب ته ولاړ سي، نو اوس هغه د مخکې په څېر حربي ګرځي او د هغه أمان به باطليږي او د مخکې په څېر به هغه مباحُ الدم وي. او پاته سوه د هغه د مال مسئله (يعني د هغه د قرض او امانت مسئله)، نو د هغه د مال حکم متردّد او مشکوک دی. ځکه که چيري دا حربي د مسلمانانو له طرفه ونيول سي، يا پر دارُ الحرب د مسلمانانو قبضه راسي او هغه قتل کړی سي نو د هغه ټوله مخکنی قرضونه ساقطيږي او د هغه أمانت فئ ګرځي؛ ځکه چې هغه مال معناً اوس هم د دې حربي په قبضه کې دی. ځکه چې د مودَع (امانت ساتونکي) قبضه د امانت د مالک (صاحبُ الوديعه) د قبضې په څېر وي. او څرنګه چې صاحبُ الوديعه يعني حربي د نيول کېدلو او قيدېدلو په وجه فئ ګرځېدلی دی لهذا د هغه مال به هم د هغه په متابعت کې فئ ګرځي. او د هغه قرض به ځکه ساقطيږي چې پر

قرض اوس د هغه قبضه د مطالبې کولو په ذريعه ثابتيږي (يعني دا حربي هغه وخت د خپل مال او قرض حقداره ګرځي کله چې هغه د قرض مطالبه وکړي). حالانکې دارُ الحرب ته د تللو په وجه د ده لپاره د مطالبې کولو حق نسته (او دا حق ځني ساقط سو). نو په دې وجه به له هغه مال (قرض) څخه هم د ده حق ساقطيږي او د هغه مال مستحق به مديون وي، ځکه چې پر هغه مال د مديون قبضه د ټولو خلکو له قبضې څخه مخکي وي. نو ځکه به مديون تر ټولو زيات د هغه حقداره وي.

او که چيري دا حربي قتل کړی سي. يا په خپله مړ سي او پر دارُ الحرب د مسلمانانو قبضه راغلې نه وي. نو د هغه د قرض او امانت مال به د هغه د وارثانو وي؛ ځکه کله چې د هغه نفس مغنوم نه سو نو ښکاره خبره ده چې د هغه مال به هم نه مغنوم کيږي او د هغه په مال کي به أمان باقي پاته وي او د هغه په ژوند کي به دا مال هغه ته ورکول کيږي او د هغه تر مرګ وروسته به وارثانو ته ورکول کيږي.

له جنګ څخه بغير د حاصل سوي مال حکم

قَالَ: وَمَا أَوْجَفَ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ مِنْ أَمْوَالِ أَهْلِ الْحَرْبِ بِغَيْرِ قِتَالٍ فرمايي: او د کفارو هغه أموال کوم چي مسلمانانو له جنګ څخه بغير محض په پېش قدمي کولو سره حاصل کړي وي يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ نو هغه به د مسلمانانو په مصلحتونو [ښېګڼو] کي خرچول کيږي كَمَا يُصْرَفُ الْخَرَاجُ لکه څرنګه چي خراج خرچول کيږي قَالُوا: هُوَ مِثْلُ الْأَرَاضِي الَّتِي أَجْلَوْا أَهْلَهَا عَنْهَا مشائخو فرمايلي دي: چي دغه مالونه د هغه ځمکو په څير دي چي مجاهدينو له هغوی څخه خپل خلک [مالکان] ايستلي وي وَالْجِزْيَةِ وَلَا خُمُسَ فِي ذَلِكَ او په هغه کي خُمس نسته. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: فِيهِمَا الْخُمُسُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دې دواړو کي به خمس وي اعْتِبَارًا بِالْغَنِيمَةِ په غنيمت باندي په قياس کولو سره وَلَنَا مَا رُوِيَ [1] أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ او زموږ دليل دا روايت دی چي نبي کريم ﷺ جزيه واخيستل وَكَذَا عُمَرُ وَمُعَاذٌ او همدارنګه حضرت عمر او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هم جزيه واخيستل وَوُضِعَ فِي بَيْتِ الْمَالِ وَلَمْ يُخَمَّسْ او هغه په بيتُ المال کي کښېښول سوه او له هغې څخه خمس نه واخيستل سو وَلِأَنَّهُ مَالٌ مَأْخُوذٌ بِقُوَّةِ الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ قِتَالٍ او ځکه چي دا مال له جنګ کولو څخه بغير د مسلمانانو په قوت سره اخيستل سوی احاصل سوی ا دی بِخِلَافِ الْغَنِيمَةِ په خلاف د غنيمت لِأَنَّهُ مَمْلُوكٌ بِمُبَاشَرَةِ الْغَانِمِينَ وَبِقُوَّةِ الْمُسْلِمِينَ ځکه چي

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الخراج باب في تدوين العطاء رقم الحديث: ٢٩٦١

غنيمت د مجاهدينو په محنت او د مسلمانانو په قوت [دواړو] سره حاصل سوی وي فَاسْتَحَقَّ الْخُمُسَ بِمَعْنًى وَاسْتَحَقَّهُ الْغَانِمُونَ بِمَعْنًى نو ځکه د يوې معنیٰ په اعتبار سره بيتُ المال د خمس مستحق سو او د بلې معنیٰ په اعتبار سره مجاهدين د خمس مستحق سول وَفِي هٰذَا السَّبَبِ وَاحِدٌ او په دغه مال کې سبب يو دی وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ او دا يو سبب هغه دی کوم چې موږ ذکر کړی [يعني د مسلمانانو قوت] فَلَا مَعْنٰى لِإِيجَابِ الْخُمُسِ لهذا د خمس واجبولو لره هيڅ [وجه او] مطلب نسته.

اللغات: ﴿أوجف﴾ د افعال ماضي ده: آس تېز ځغلول، حرکت ورکول. دلته ځني مراد وړانديتوب او پېش قدمي کول دي (يعني په وړانديتوب او پېش قدمي سره د مالونو حاصلول). ﴿أَجْلَوا﴾ د افعال ماضي ده: أَجْلٰى يُجْلِيْ إِجْلَاءً: يو څوک له خپلې ځمکې څخه باسل، پسې اخيستل. ﴿يُصرف﴾ د ضرب له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده: مصرفول، خرڅول. ﴿إيجاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې هغه مالونه کوم چې پر مسلمانان له جنګ او قتال کولو څخه بغير محض د بېرولو او دمکي ورکولو په ذريعه له کفارو څخه حاصل کړي، نو هغه مالونه به د خراج د خرچولو (مصرفولو) په څېر د مسلمانانو په مصالحو (ښېګڼو) يعني د پُل په جوړولو، د نهر او والي په کښلو او د قاضيانو په تنخا او داسي نورو کې مصرفول کيږي. زموږ په نېز دغه مالونه د هغه ځمکو په څېر دي چې له هغوی څخه مسلمانان خپل مالکان برطرفه کړي او هغه ځمکې په خپله قبضه کې واخلي، او د دې مالونو حيثيت د جزيې په څېر دی، همدا وجه ده چې زموږ په نېز په دې مالونو کې خُمس نسته، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز چې څرنګه له غنيمت څخه خمس اخيستل کيږي، همداسي به له دغه مالونو څخه خمس اخيستل کيږي، او له مذکوره ځمکو څخه به هم خمس اخيستل کيږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل هغه روايت دی چې په هغه کې داسي ذکر سوي دي چې نبي کريم ﷺ د "نجران" له عيسايانو څخه او د "هجر" له مجوسيانو څخه جزيه واخيستل، همدارنګه حضرت عمر رضي الله عنه له أهل السواد څخه او حضرت معاذ رضي الله عنه له أهل يمن څخه جزيه اخيستې وه، او د دې حضراتو په واقعاتو کې له جزيې څخه بغير د بل شي يعني د خمس او د داسي نورو د اخيستلو يادونه سوې نه ده، نو دا د دې خبري ښکاره دليل دی چې په داسي مالونو کې خمس نسته، او د نبوي حديث او د صحابي

د عمل په مقابله کې قياس هيڅ حيثيت نه لري. لهذا امام شافعي رَحِمَهُ الله چې دا مالونه د غنيمت پر مال قياسوي، دا صحيح نه دي.

په دې هکله عقلي دليل دا دی چې دا مالونه له قتال څخه بغير محض د مسلمانانو په قوت او رعب سره حاصل سوي دي. لېکن د غنيمت په حصول کې د مجاهدينو محنت هم شامل وي او د مسلمانانو قوت هم پکښې شامل وي. نو د قوت وطرف ته په نظر کولو سره د غنيمت خُمس بيتُ المال ته ورکول کيږي او محنت ته په نظر کولو سره د هغه څلور حصې مجاهدينو ته ورکول کيږي. لېکن کوم مال چې له قتال څخه بغير حاصل کړی سي د هغه لپاره فقط يو سبب دی يعني د مسلمانانو طاقت او قوت، نو په دې وجه په هغه کې خمس نه سي واجب کېدلا سي. ځکه چې په يوه سبب سره په يوه شي کې دوه حکمونه ثابتېدلای نه سي.

د اسلام راوړونکي حربي د دارُ الحرب د مال او داسي نورو حکم

وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ او که چيري يو حربي په أمان سره دارُ الاسلام ته راسي وَلَهُ اِمْرَأَةٌ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَأَوْلَادٌ صِغَارٌ وَكِبَارٌ وَمَالٌ أَوْدَعَ بَعْضَهُ ذِمِّيًّا وَبَعْضَهُ حَرْبِيًّا وَبَعْضَهُ مُسْلِمًا او په دارُ الحرب کې د هغه ښځه وي، د هغه کوچني [نابالغه] بچيان وي او مال وي چې له هغه څخه ده څه مال يو ذمي ته په امانت ورکړی وي او څه يې يو حربي ته او څه يې يو مسلمان ته په امانت ورکړی وي فَأَسْلَمَ هٰهُنَا او هغه حربي دلته [په دارُ الاسلام کې] اسلام راوړي ثُمَّ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ بيا پر دارُ الحرب [د مسلمانانو له طرفه] قبضه وسي فَذٰلِكَ كُلُّهُ فَيْءٌ نو دغه ټوله شيان به فئ وي أَمَّا الْمَرْأَةُ وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَظَاهِرٌ کوم چې د ده او غټ [بالغه] بچيان دي نو [د هغوی فئ کېدل] ښکاره دي لِأَنَّهُمْ حَرْبِيُّونَ كِبَارٌ وَلَيْسُوا بِأَتْبَاعٍ ځکه چې هغوی [ټوله] بالغ حربيان دي او تابع نه دي وَكَذٰلِكَ مَا فِي بَطْنِهَا لَوْكَانَتْ حَامِلًا همدارنګه که چيري [د ده] ښځه حامله وي نو د هغې په نس کې موجود حمل هم [فئ دی] لِمَا قُلْنَا مِنْ قَبْلُ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ مخکې ذکر کړی وَأَمَّا أَوْلَادُهُ الصِّغَارُ فَلِأَنَّ الصَّغِيرَ إِنَّمَا يَصِيرُ مُسْلِمًا تَبَعًا لِإِسْلَامِ أَبِيهِ إِذَا كَانَ فِي يَدِهِ وَتَحْتَ وِلَايَتِهِ او کوم چې د ده کوچني بچيان دي نو [هغوی به ځکه فئ وي] چې کوچنی بچی هغه وخت د خپل پلار د اسلام په متابعت کې مسلمان ګرځي کله چې هغه د پلار په قبضه کې وي او د هغه تر ولايت لاندي وي وَمَعَ تَبَايُنِ الدَّارَيْنِ لَا يَتَحَقَّقُ ذٰلِكَ او د تباينُ الدارين سره دا [قبضه او ولايت] ثابتېدای نه سي وَكَذَا أَمْوَالُهُ لَا تَصِيرُ مُحْرَزَةً

بِإِحْرَازِهِ نَفْسَهُ همدارنګه د ده مالونه هم د ده د خپل ذات په محرز کولو (محفوظ کولو) سره محرز کېدای نه سي لِاخْتِلَافِ الدَّارَيْنِ د دارَينو د اختلاف په وجه فَبَقِيَ الْكُلُّ فَيْئًا وَغَنِيمَةً نو ځکه ټوله فئ او غنيمت پاته سول وَإِنْ أَسْلَمَ فِي دَارِ الْحَرْبِ ثُمَّ جَاءَ او که حربي په دراحراب کي اسلام راوړي بيا (دار الاسلام ته) راسي فَظُهِرَ عَلَى الدَّارِ بيا پر دار الاسلام (د مسلمانانو له طرفه) قبضه وسي فَأَوْلَادُهُ الصِّغَارُ أَحْرَارٌ مُسْلِمُونَ تَبَعًا لِأَبِيهِمْ نو د ده کوچني بچيان به د خپل پلار د متابعت په توګه آزاد او مسلمانان وي لِأَنَّهُمْ كَانُوا تَحْتَ وِلَايَتِهِ حِينَ أَسْلَمَ ځکه چي د پلار د اسلام راوړولو په وخت کي هغوی ټول د ده تر ولايت لاندي وه إِذْ الدَّارُ وَاحِدَةٌ ځکه چي دار يو دی (يعني پلار او بچيان ټول په دارُ الحرب کي وه) وَمَا كَانَ مِنْ مَالٍ أَوْدَعَهُ مُسْلِمًا أَوْ ذِمِّيًّا او هغه مال کوم چي ده مسلمان يا ذمي ته په امانت ورکړی وي فَهُوَ لَهُ نو هغه به د ده وي لِأَنَّهُ فِي يَدٍ مُحْتَرَمَةٍ ځکه چي هغه مال په داسي قبضه کي دی کوم چي د احترام (او حفاظت) قابل ده وَيَدُهُ كَيَدِهِ او د مسلمان يا ذمي قبضه د ده د خپلي قبضې په شان ده وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَيْءٌ او له دې څخه بغير نور څه به فئ وي أَمَّا الْمَرْأَةُ وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَلِمَا قُلْنَا کوم چي ښځه او د ده بالغ بچيان دي نو د هغه دليل په وجه (به فئ وي) کوم چي مونږ بيان کړی وَأَمَّا الْمَالُ الَّذِي فِي يَدِ الْحَرْبِيِّ فَلِأَنَّهُ لَمْ يَصِرْ مَعْصُومًا او پاته سو هغه مال کوم چي د حربي په قبضه کي دی نو په دې وجه به (فئ وي) چي هغه معصوم (محترم) نه وګرځېدی لِأَنَّ يَدَ الْحَرْبِيِّ لَيْسَتْ يَدًا مُحْتَرَمَةً ځکه چي د حربي قبضې د احترام (او حفاظت) قابل نه ده.

اللغات: ﴿أودع﴾ د افعال ماضي ده: په امانت ايښوول، امانتاً ورکول. ﴿فئ﴾ غنيمت، دا هغه غنيمت ته وايي کوم چي له جنګ کولو څخه بغير د مسلمانانو په قبضه کي راسي. ﴿تباين﴾ د تفاعل مصدر دی: جلا کېدل، عيلحده کېدل، مختلف کېدل. ﴿محرزة﴾ محفوظ کړی سوی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري يو حربي أمان واخلي دارُ الاسلام ته راسي او دلته هغه اسلام راوړي حال دا چي په دارُ الحربي کي د ده حربيه ښځه او د ده کوچني او غټ بچيان هم موجود وي، او د ده سره مالونه وي چي له هغه څخه ده څه مال ذمي ته د امانت په توګه ايښی وي، څه يې حربي ته او څه يې يو مسلمان ته د امانت په توګه ايښی وي. اوس که چيري په دې صورت کي پر دارُ الحرب د مسلمانانو قبضه راسي نو د ده ښځه، بچيان او د ده تمام مالونه به فئ او غنيمت ګرځي او پر هغو به د ده (نوي مسلمان) لپاره هيڅ حق نه وي.

ځکه چې د ده ښځه او بالغ بچیانو خو خُود مختاره دي او د ده تابع نه دي بلکې د مخکې په څېر حربیان دي. او کله چې مسلمانان پر دارُ الحرب قبضه وکړي نو په هغه وخت کې حربیان فئ او غنیمت ګرځي، نو ځکه به دغه کسان هم فئ او غنیمت ګرځي لکه څرنګه چې نور مالونه غنیمت ګرځي. همدارنګه که د دغه حربي ښځه حامله وي نو حمل به هم د هغې په متابعت کې فئ ګرځي، ځکه چې حمل د مور جزء دی. لهذا کله چې کُل فئ دی نو جزء به هم فئ وي.

پاته سو د دې نوي مسلمان حربي د کوچني (نابالغه) بچیانو مسئله. نو کوچني بچیان به په هغه صورت کې د خپل مسلمان پلار تابع کېږي او مسلمانان به شمارل کېږي کله چې هغوی د پلار په قبضه کې وي او د پلار تر نګرانۍ او ساتنې لاندې وي، حالانکې دلته د تباینُ الدارین په وجه هغوی د پلار په قبضه او ساتنه کې نه دي، نو ځکه به هغوی د ده په متابعت کې مسلمانان نه وي او فئ به ګرځي. او همدا حکم به د دې نوي مسلمان حربي د مالونو هم وي چې د تباینُ الدار په وجه به فقط دغه مُحرز او محفوظ او د ده أموال به محرز نه وي او ټوله به فئ او غنیمت ګرځي.

د دې په خلاف که چیرې دغه حربي په دارُ الحرب کې اسلام راوړي او دارُ الاسلام ته راسي او صورت د مسئلې همدغه وي، بیا پر دارُ الحرب د مسلمانانو قبضه راسي، نو په دې صورت کې به د هغه نابالغه بچیان د خپل پلار تابع کېږي او مسلمانان او آزاد شمارل کېږي؛ ځکه کله چې د دوی پلار اسلام راوړی نو په هغه وخت کې دوی ټوله د پلار په قبضه او ساتنه کې وه ځکه چې پلار هم په دارُ الحرب کې وو او په دارُ الحرب کې هغه اسلام راوړی، لهذا د اتحادُ الدار په وجه به دوی د پلار تابع کېږي او مسلمانان به وي، فئ او غنیمت به نه وي، همدارنګه دغه حربي چې مسلمان یا ذمي ته کوم مال د امانت په توګه ایښی وي هغه به هم د ده وي ځکه چې د اتحادُ الدار په وجه د ده مال هم محترم دی او په محترمه قبضه کې هم دی. نو د ده د نفس په څېر به د ده مال هم معصوم او محفوظ وي، لېکن ده چې کوم مال حربي ته ایښی وي نو هغه به د ده نه وي او هغه به فئ وي. ځکه چې د حربي قبضه محترمه نه ده. همدارنګه د ده ښځه او بالغ بچیان هم به فئ وي. ځکه چې هغوی ټوله حربیان دي او د خپل مسلمان خاوند یا پلار تابع نه دي.

د اسلام راوړونکي حربي قتل کول

وَإِذَا أَسْلَمَ الْحَرْبِيُّ فِي دَارِ الْحَرْبِ او که یو حربي په دارُ الحرب کې اسلام راوړي فَقَتَلَهُ مُسْلِمٌ عَمْدًا أَوْ خَطَأً بیا یو مسلمان هغه قصداً یا خطاءً قتل کړي وَلَهُ وَرَثَةٌ مُسْلِمُونَ هُنَاكَ او هلته [په دارُ الحرب کې] د هغه مسلمانان وارثان وي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ إِلَّا الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ نو پر قاتل په قتلِ خطاء کې له کفارې څخه بغیر بل هیڅ شی واجب نه وي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ الدِّيَةُ فِي الْخَطَإِ وَالْقِصَاصُ فِي الْعَمْدِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې په قتلِ خطاء کې دیت واجبیږي او په قتلِ عمد کې قصاص لِأَنَّهُ أَرَاقَ دَمًا مَعْصُومًا لِوُجُودِ الْعَاصِمِ وَهُوَ الْإِسْلَامُ ځکه چې قاتل داسې وینه بیولې ده چې هغه د عاصم [ساتونکي] یعني د اسلام په وجه معصومه

ده لِكَوْنِهِ مُسْتَجْلِبًا لِلْكَرَامَةِ ځکه چي اسلام د شرافت استر توب ا راوستونکی دی ايعني د اسلام د عظمت او د ستر والي سبب جوړېدونکی دی ا وَهَذَا لِأَنَّ الْعِصْمَةَ أَصْلُهَا الْمُؤَثِّمَةُ او دا احکم ا ځکه دی چي عصمت په أصل کي اقاتل ا گنهکار گرځوي لِحُصُولِ أَصْلِ الزَّجْرِ بِهَا ځکه چي په عصمت سره زجر حاصلیږي وَهِيَ ثَابِتَةٌ إِجْمَاعًا او ا په دغه نوي مسلمان حربي کي ا دا عصمت بالاتفاق ثابت دی وَالْمُقَوِّمَةُ كَمَالٌ فِيهِ او د عصمت مقوِّم کېدل د زجر کمال دی ايعني عصمت متقوِّمه کامل زجر دی ا لِكَمَالِ الِامْتِنَاعِ بِهِ ځکه چي په هغه سره کامله امتناع حاصلیږي فَيَكُونُ وَصْفًا فِيهِ لهذا دا کمال اکامل کېدل ا به په دې أصل کي وصف وي فَتَتَعَلَّقُ بِمَا عُلِّقَ بِهِ الْأَصْلُ نو د کوم شي سره چي اصل متعلق دی د هغه سره به وصف اهم ا متعلق وي ايعني دواړه به د اسلام سره متعلق وي ا وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى: فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ [النساء: ٩٢] زموږ دليل د الله تعالىٰ دا إرشاد دی: نو که چيري مقتول له يو داسي قوم څخه وي کوم چي ستاسي دښمن وي حالانکي هغه امقتول ا مسلمان وي نو اد قاتل جزاء ا يو مسلمان غلام آزادول دي جَعَلَ التَّحْرِيرَ كُلَّ الْمُوجَبِ الله تعالىٰ ا په دې آيت کي ا د غلام آزادول پوره جزاء اسزاء ا گرځولې ده رُجُوعًا إِلَى حَرْفِ الْفَاءِ د فاء د حرف وطرف ته په نظر کولو سره أَوْ إِلَى كَوْنِهِ كُلَّ الْمَذْكُورِ يا ځکه چي کومه ذکر سوې ده هغه پوره جزاء اسزا ا ده فَيَنْتَفِي غَيْرُهُ لهذا له هغه څخه بغير ابل شی ا به منتفي کیږي وَلِأَنَّ الْعِصْمَةَ الْمُؤَثِّمَةَ بِالْآدَمِيَّةِ او ځکه چي عصمت اقاتل ا د انسان کېدلو په وجه سره گنهکار گرځوي لِأَنَّ الْآدَمِيَّ خُلِقَ مُتَحَمِّلًا أَعْبَاءَ التَّكْلِيفِ ځکه چي انسان د شريعت د أحکامو د زغملو اداء کولو ا لپاره پيدا سوی دی وَالْقِيَامُ بِهَا بِحُرْمَةِ التَّعَرُّضِ او د تعرّض حرام کېدل هم د أحکامو په زغملو اداء کولو ا کي شامل دي وَالْأَمْوَالُ تَابِعَةٌ لَهَا او مالونه د آدميت انسان کېدلو ا تابع دي أَمَّا الْمُقَوِّمَةُ فَالْأَصْلُ فِيهَا الْأَمْوَالُ او کوم چي عصمتِ مقومه دی نو أصل په هغه کي أموال وي ايعني عصمت ځکه متقوّم کیږي چي په هغه کي أموال أصل وي ا لِأَنَّ التَّقَوُّمَ يُؤْذِنُ بِجَبْرِ الْفَائِتِ ځکه چي متقوّم کېدل د فوت سوي شي د تلافی ورکولو خبري ورکوي وَذَلِكَ فِي الْأَمْوَالِ دُونَ النُّفُوسِ او دا په أموالو کي کېدای سي. نه په نفوسو کي لِأَنَّ مِنْ شَرْطِهِ التَّمَاثُلَ ځکه چي د تلافی لپاره تماثل امثل کېدل ا شرط دي وَهُوَ فِي الْمَالِ دُونَ النَّفْسِ او تماثل په مال کي کېدای سي. نه په نفوسو کي فَكَانَتِ النُّفُوسُ تَابِعَةً نو ځکه به نفوس اد أموالو ا تابع وي

ثُمَّ الْعِصْمَةُ الْمُقَوِّمَةُ فِي الْأَمْوَالِ بِالْإِحْرَازِ بِالدَّارِ بيا د أموالو عصمت مقومه د دارُ الاسلام په إحراز سره ثابتيږي لِأَنَّ الْعِزَّةَ بِالْمَنَعَةِ ځکه چي عزت په قوت سره حاصليږي فَكَذٰلِكَ فِي النُّفُوسِ او د نفوسو به هم دغه حکم وي إِلَّا أَنَّ الشَّرْعَ أَسْقَطَ اعْتِبَارَ مَنَعَةِ الْكَفَرَةِ لېكن شريعت د كفارو د طاقت اعتبار ساقط كړى دى لِمَا أَنَّهُ أَوْجَبَ إِبْطَالَهَا ځکه چي شريعت د كفارو د قوت باطلول [ختمول] واجب كړي دي وَالْمُرْتَدُّ وَالْمُسْتَأْمَنُ فِي دَارِنَا مِنْ أَهْلِ دَارِهِمْ حُكْمًا او په دارُ الاسلام كي مرتد او مستأمن د حربيانو په حكم كي دي لِقَصْدِهِمَا الِانْتِقَالَ إِلَيْهَا ځکه چي دوى دواړه دارُ الحرب ته د واپس تللو اراده لري.

اللغات: ﴿أراق﴾ د افعال ماضي ده: بيول. ﴿عاصم﴾ د ضرب اسمِ فاعل دى: حفاظت كونكى، ساتونكى. ﴿مستجلب﴾ د استفعال اسمِ فاعل دى: حاصلونكى، راكشونكى، سبب جوړېدونكى (مصباح اللغات). ﴿مؤثمة﴾ د افعال اسمِ فاعل دى: گنهگارونكى، گنهگار گرځونكى (گنهگار جوړونكى). ﴿امتناع﴾ د افتعال مصدر دى: منع كېدل. ﴿تحرير﴾ د تفعيل مصدر دى: آزادول. ﴿رقبه﴾ غاړه، مملوک ذات، مراد ځني غلام دى. ﴿مُوجَب﴾ د افعال له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: واجب سوى شى، مراد ځني جزاء او سزا ده (ځکه چي هغه د شريعت له طرفه پر بنده واجب سوې وي) ﴿أعباء﴾ جمع د عِبْءٌ ده: بوج، بار. ﴿جبر﴾ جبران، د تاوان تلافي كول، د نقصان بدله وركول (د فوت سوي شي د نقصان عوض وركول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى كه چيري حربي په دارُ الحرب كي اسلام راوړي او بيا يو مسلمان هغه (په دارُ الحرب كي) عمداً يا خطاءً قتل كړي، نو په دې صورت كي به زموږ په نېز پر قاتل نه قصاص واجب وي او نه ديت، لېكن د قتلِ خطاء په صورت كي به پر هغه كفاره واجب وي، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دى چي كه قاتل هغه عمداً قتل كړى وي نو پر هغه به قصاص واجب وي، او كه خطاءً يې قتل كړى وي نو ديت به پر واجب وي وبه قال مالک وأحمد رَحِمَهُمَا الله. (بناية)

د امام شافعي دليل: دا دى چي قاتل يو معصوم يعني مسلمان نفس قتل كړى دى، او د نفسِ معصومه عصمت قاتل مجرم او گنهگار گرځوي، ځكه چي په عصمت سره زجر حاصليږي، يعني د مقتول مسلمان كېدل او معصوم كېدل د هغه خوف او دهشت (بيري) لپاره كافي دي چي د هغه په بدله كي به قاتل قتلول كيږي، او بيا دا چي كله د دې عصمت سره دا خبره هم متصله ده چي دغه قتل د ديت او مال مُوجب دى نو په دغه وصف سره دا عصمت په هر اعتبار سره كامل او مكمل وگرځېدى، او د داسي أصل عصمت تعلق د اسلام سره دى نو همداسي به د وصف تعلق هم د اسلام سره وي، او څرنگه چي دلته مقتول مسلمان دى، نو ځكه به د قتلِ عمد په صورت كي ر قاتل قصاص واجب وي او د قتلِ خطاء په صورت كي به ديت پر واجب وي.

زموږ دليل: دا آيت كريمه دى: "فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ... إلخ". په دې آيت سره موږ په دې توګه دليل نيسو چې په دې كي الله تعالىٰ د هغه مسلمان د قتل جزاء او سزا بيان كړې ده كوم چې د كفارو سره وي يعني په دارُ الحرب كي وي او يو مسلمان هغه قتل كړي، نو د هغه جزاء يو غلام آزادول دي، او څرنګه چې په دې آيت كي د عمد او خطاء هيڅ قيد نسته، نو ځكه به په دواړو صوتونو كي حكم يو وي او تحريرُ الرقبه يعني كفاره به پوره جزاء وي، ځكه چې په "فَتَحْرِيرُ" كي "فاء" ذكر سوې ده. او د فاء حرف د "فَالْجَزاءُ" قائم مقام دى، او جزاء هغه سزا ته وايي كوم چې كافي او كامله وي، نو معلومه سوه چې تحريرُ الرقبه د دغه مقتول پوره سزا ده.

او د دې خبري بل دليل چې "تحريرُ الرقبه پوره جزاء ده" دا دى چې د شريعت مقصد دلته حكم بيانول او له خپل جرم څخه د مجرم بري كول دي، او ښكاره خبره ده چې كه موږ تحريرُ الرقبه پوره جزاء نه ومنو، نو د دې مطلب به دا وي چې دلته (په دې آيت كي) شريعت واضح حكم نه دى بيان كړى حالانكي دا زموږ د يقين او عقيدې خلاف خبره ده، لهذا په دې حواله سره به هم تحريرُ الرقبه د دغه مقتول پوره سزا وي او له دې څخه بغير به بل شى نه واجبيږي.

ولأن العصمة إلخ: دا زموږ عقلي دليل دى او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب هم دى، حاصل يې دا دى چې د نفس معصومه عصمت د اسلام په وجه قاتل مجرم او ګنهګار نه ګرځوي، بلكي د انسانيت او آدميت (انسان كېدلو) په وجه يې مجرم ګرځوي، ځكه چې انسان د شريعت په أحكامو باندي د عمل كولو لپاره پيدا سوى دى، او أصلاً الله تعالىٰ د هر انسان وينه او نفس معصوم او محفوظ ګرځولى دى، لېكن په كافرانو كي د خپل كفر په وجه الله تعالىٰ د دوى عصمت باطل كړى دى، خو كله چې كافر له خپل كفر څخه توبه وكړي او مسلمان سي نو هغه د خپل أصل فطرت او خلقت مطابق معصومُ الدم وګرځي. او أموال د آدميت تابع وي، يعني اصلاً خو هغې مباح وي لېكن د انسان د خپل ضرورت په وجه د تبعيت په توګه په هغوى كي هم عصمت راځي، لهذا د اسلام په وجه نفس او مال معصوم ګرځول صحيح نه دي، او د اسلام پر بناء عصمت متقوّم ګرځول هم صحيح نه دي، ځكه چې په متقوم كېدلو كي أموال أصل وي، ځكه چې دمتقوم كېدلو مطلب دا دى چې د قتل په وجه چې كوم نقصان راغلى دى (او كوم شى فوت سوى دى) په مال سره د هغه تلافي وكړى سي، او د تلافي لپاره په جابر (تلافي كونكي) او په فائت (فوتېدونكى) كي تماثل ضروري دي، او دا تماثل به په مال كي مستحق وي، نه په نفوسو كي، لهذا د ديت او أموالو په معامله كي به أموال أصل وي او نفوس به د هغوى تابع وي، په دې سره دا خبره هم ښكاره سوه چې "عصمت مؤثمه" جلا شى دى او "عصمتِ متقوّمه" جلا شى دى، او متقوّمه د مؤثمه كامل وصف نه دى لكه څرنګه چې شوافع وايي. (عنايه)

ثم العصمة إلخ: د دې حاصل دا دى چې په أموالو كي چې كوم عصمتِ متقومه دى يعني د كوم نفس ديت چې وركول كېږي په دارُ الاسلام كي د هغه موجودېدل ضروري دي، ځكه چې تقوّم او عزت په طاقت او قوت سره

حاصليږي، او حال دا چي دلته (په دغه مسئله کي) قتل په دارُ الحرب کي واقع سوی دی او په دارُ الحرب کي د قتلِ عمد په صورت کي هم قصاص نه واجبیږي، ځکه چي هلته د قتلِ عمد صورت کي عصمت مؤثمه محرز نه دی، او د دارُ الحرب طاقت او قوت لره هيڅ اعتبار نسته، ځکه چي شريعت د هغه قوت د ختمولو او بربادولو حکم کړی دی او هغه یې بالکل غیرِ معتبر ګرځولی دی. همدارنګه که په دارُ الاسلام کي يو مرتد وي يا يو مستأمن حربي وي نو د دارُالاسلام په وجه به هغه محرز نه وي او نه به د هغه أموال متقوم وي. بلکي هغه به دحربيانو په حکم کي وي، او که يو مسلمان هغه قتل کړي او د هغه أموال ضايع کړي نو پر هغه به ديت نه واجبیږي؛ ځکه چي هغه دارُ الحرب ته د واپس تللو اراده کړې ده او دارُ الاسلام پر هغه سم نه لګیږي (او دارُ الاسلام سايه خوند نه ورکوي)، لهذا د هغه په قتلولو سره به پر مسلمان هيڅ أثر او اغېز نه پرېوځي.

د هغه مقتول ديت چي د هغه هيڅ وارث نه وي

وَمَنْ قَتَلَ مُسْلِمًا خَطَأً لَا وَلِيَّ لَهُ او که يو څوک داسي مسلمان خطاءً قتل کړي چي هغه هيڅ ولي نه لري أَوْ قَتَلَ حَرْبِيًّا دَخَلَ إِلَيْنَا بِأَمَانٍ فَأَسْلَمَ يا داسي حربي قتل کړي کوم چي په أمان سره دارُ الاسلام ته راغلی وي بيا يې اسلام راوړی وي فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ لِلْإِمَامِ نو د قاتل پر عاقله وو به د امام لپاره ديت واجب وي [يعني د قاتل عاقله به د مقتول ديت امام ته ورکوي] وَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ او پر قاتل به کفاره واجب وي لِأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً خَطَأً ځکه چي هغه يو معصوم نفس خطاءً قتل کړی دی فَيُعْتَبَرُ بِسَائِرِ النُّفُوسِ الْمَعْصُومَةِ لهذا دا به پر نورو معصومو نفوسو قياسول کيږي وَمَعْنَى قَوْلِهِ لِلْإِمَامِ أَنَّ حَقَّ الْأَخْذِ لَهُ او د ماتن د دې قول "لِلْإِمَامِ" مطلب دا دی چي د ديت اخيستلو حق امام لره دی لِأَنَّهُ لَا وَارِثَ لَهُ ځکه چي د دې مقتول هيڅ وارث نسته وَإِنْ كَانَ عَمْدًا او که چيري قتلِ عمد وي فَإِنْ شَاءَ الْإِمَامُ قَتَلَهُ نو که [په قتلِ عمد کي] امام وغواړي نو قاتل دي قتل کړي وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الدِّيَةَ او که وغواړي نو ديت دي [ځني] واخلي لِأَنَّ النَّفْسَ مَعْصُومَةٌ ځکه چي نفس معصوم دی وَالْقَتْلُ عَمْدٌ وَالْوَلِيُّ مَعْلُومٌ او قتل عمد دی او ولي متعين دی وَهُوَ الْعَامَّةُ أَوِ السُّلْطَانُ او هغه عوام دي يا باچا [امام] دی قَالَ: عليه السلام[1]: اَلسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ نبي ﷺ فرمايلي دي: باچا د هغه کس ولي دی کوم چي ولي نه لري وَقَوْلُهُ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الدِّيَةَ مَعْنَاهُ بِطَرِيقِ الصُّلْحِ او د ماتن د دې قول "وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الدِّيَةَ" مطلب دا دی چي امام د صلح [او مصلحت] په توګه ديت اخيستلای سي لِأَنَّ مُوجِبَ الْعَمْدِ وَهُوَ الْقَوَدُ عَيْنًا ځکه چي د قتلِ عمد موجب أصلاً قصاص دی وَهُوَ الْقَوَدُ

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب النكاح، باب فى الولى رقم الحديث:٢٠٨٣.

عَيْنًا وَهٰذَا لِأَنَّ الدِّيَةَ أَنْفَعُ فِي هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ مِنَ الْقَوَدِ. او دا ځکه چي په دې مسئله کي ديت د مسلمانانو لپاره له قصاص څخه زيات نفع مند دی فَلِهٰذَا كَانَ لَهُ وِلَايَةُ الصُّلْحِ عَلَى الْمَالِ نو په دې وجه به امام ته د مال په عوض کي د صلح کولو حق حاصل وي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَعْفُوَ لېکن هغه ته به د معافولو حق نه وي لِأَنَّ الْحَقَّ لِلْعَامَّةِ ځکه چي أصل حق خو د عوامو دی وَوِلَايَتُهُ نَظَرِيَّةٌ او د امام ولايت پر شفقت مبني وي وَلَيْسَ مِنَ النَّظَرِ إِسْقَاطُ حَقِّهِمْ مِنْ غَيْرِ عِوَضٍ او دا شفقت نه دی چي د عوامو حق بېله عوضه [مُفت] ساقط کړی سي.

اللغات: ﴿عاقلة﴾ د مقتول قبيلې والاې، خاندان والا، ﴿قود﴾ قصاص، ﴿نظرية﴾ پر مصلحت او شفقت مبني.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري يو مسلمان خطاءً يو داسي مسلمان قتل کړي چي د هغه هيڅ وارث او ولي نه وي يا يو داسې حربي قتل کړي کوم چي په أمان سره دارُ الاسلام ته راغلی وي او اسلام يې راوړی وي، نو په دې صورت کي د قاتل سزا دا ده چي د قاتل عاقله دي امام ته د مقتول ديت ورکړي او قاتل دي د قتل کفاره اداء کړي، ځکه چي قاتل يو معصوم نفس خطاءً قتل کړی دی، لهذا څرنګه چي د نورو معصومو نفوسو په خطاءً قتلولو سره ديت او کفاره واجبېږي همداسي به د دې قتل په وجه هم ديت او کفاره دواړه واجبېږي، لکه څرنګه چي په دې آيت "ومن قتل مؤمناً خطأً فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلّمة إلى أهله" کي د داسي قتل همدغه سزا بيان سوې ده.

او که چيري دا قتل عمداً وي نو امام ته به دوه اختياره وي: ① يا دي قاتل قتل کړي، ② يا دي پر ديت صلح اومصالحت ورسره وکړي او ديت دي ځني واخلي، ځکه چي په قتلِ عمد کي د مقتول اولياؤ ته هم دغه دوه اختياره حاصل وي، او دلته د مقتول لپاره هيڅ ولي نسته، نو د دې حديث "السلطانُ وَلِيُّ من لا وَلِيَّ له" په وجه به امام د دغه مقتول ولي او امام ته به دغه دواړه اختياره حاصل وي. لېکن که امام د قتل پر ځای ديت اختيار کړي نو دا ډېره غوره ده، د دې لپاره چي هغه مال په بيتُ المال کي جمع سي او د مسلمانان په کار راسي، خو امام ته به دا حق هيڅکله نه وي چي مُفت او بېله عوضه قاتل معاف کړي، ځکه چي امام د همدې لپاره د ټولو عوامو له طرفه نماينده جوړ سوی دی چي د هغه ولايت پر شفقت او رعايت باندي مبني دی، حالانکي بېله عوضه او مفت د عوامو حق ساقطول شفقت نه دی بلکي عداوت دی، لهذا امام خو به د صلح على المال حق لري لېکن د قاتل د معافولو حق او اختيار به نه لري. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ

(دا) باب د عشر او خراج (د أحكامو په بيان كي) دى

تشريح: مخكي تر دې د مستأمن حربي د ذمي والي أحكام او مسئلې بيان سوې. اوس له دې ځايه پر هغه د لاز مېدونكي عُشر او خراج أحكام بيانيږي. خو ځرنګه چي په عُشر كي د عبادت معنىٰ سته دى نو په دې وجه هغه تر خراج مخكي بيانيږي.

ښكاره دې وي چي د "عُشر" لغوي معنىٰ ده "أَحَدُ الْأَجْزَاءِ الْعَشَرَةِ" (له لسو حصو څخه يوه حصه، يعني لسمه حصه. مراد ځني هغه زكاة دى كوم چي د ځمكي د حاصلاتو په عوض كي د ځمكي له مالك څخه اخيستل كيږي)، او خَرَاج د "راء" په فتحه او كسره دواړه سره ويل كېدا سي. د خراج معنىٰ ده: د ځمكي محصول. مراد ځني هغه ټيكس او محصول دى كوم چي پر مفتوحه ځمكو اخيستل كيږي (يعني هغه ځمكي چي مسلمانان يې فتح كړي او بيا يې د مسلمانانو په مينځ كي تقسيم نه كړي بلكي د ځمكو پر مالكانو (ذميانو) محصول كښېږدي. يا دا چي له فتح كولو څخه بغير د ځمكو د مالكانو سره پر محصول او ټيكس باندي صلح وكړي نو دې ته هم خراج وايي). همدارنګه خراج هغه مال او محصول ته هم وايي كوم چي د ذميانو پر ذات ايښوول كيږي چي هغه ته په عامه اصطلاح جزيه وايي (معجم لغة الفقهاء). دلته ځني مراد اوله معنىٰ ده: جزيه به په را روان باب كي بيان سي.

د عربو ټوله ځمكه عشري ده

قَالَ: أَرْضُ الْعَرَبِ كُلُّهَا أَرْضُ عُشْرٍ فرمايي: چي د عربو ټوله ځمكه عُشري ځمكه ده وَهِيَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى أَقْصَى حَجَرٍ بِالْيَمَنِ بِمَهْرَةَ إِلَى حَدِّ الشَّامِ او د عربو ځمكه له "عذيب" څخه واخله د يمن تر "حجر" پوري ده (حجر په يمن كي د يو ځاى نوم دى) او له مهر څخه واخله د شام تر حدّ پوري ده وَالسَّوَادُ أَرْضُ خَرَاجٍ او د عراق ځمكه خراجي ده وَهُوَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى عَقَبَةِ حُلْوَانَ او هغه له عُذيب څخه تر عقبه حلوان پوري دي وَمِنَ الثَّعْلَبِيَّةِ وَيُقَالُ مِنَ الْعَلْثِ إِلَى عَبَّادَانَ او له ثعلبه څخه او ويل سوي دي: چي له علث څخه تر عبادان پوري ده (يعني له ثعلبه يا علث څخه تر عبادان پوري ده) لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَالْخُلَفَاءَ الرَّاشِدِينَ لَمْ يَأْخُذُوا الْخَرَاجَ مِنْ أَرَاضِي الْعَرَبِ ځكه چي نبي كريم ﷺ او

خلفاء راشدینو د عربو له ځمکو څخه خراج نه دي اخیستی وَلِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْفَيْءِ او ځکه چي خراج د فئ په درجه کي دي فَلَا يَثْبُتُ فِي أَرَاضِيهِمْ كَمَا لَا يَثْبُتُ فِي رِقَابِهِمْ نو ځکه به د عربو په ځمکو کي خراج نه ثابتیږي لکه څرنګه چي د دوی په ذات کي نه ثابتیږي وَهَذَا لِأَنَّ وَضْعَ الْخَرَاجِ مِنْ شَرْطِهِ أَنْ يُقَرَّ أَهْلُهَا عَلَى الْكُفْرِ او دا [حکم] ځکه دی چي د خراج له شرائطو څخه دا دي چي د خراجي ځمکي والا به پر خپل کفر باقي پرېښوول کیږي ایعني مسلمانان چي له کومو خلکو څخه خراج اخلي، هغوی به پر اسلام راوړلو نه مجبوره کوي، دا د خراج اخیستلو لپاره شرط دی] كَمَا فِي سَوَادِ الْعِرَاقِ لکه څرنګه چي د عراق په ځمکه کي [داسي] سوي دي وَمُشْرِكُو الْعَرَبِ لَا يُقْبَلُ مِنْهُمْ إِلَّا الْإِسْلَامُ أَوْ السَّيْفُ حال دا چي د عرب له مشرکینو څخه به فقط اسلام قبلول کیږي یا په توره سره به فیصله کیږي وَعُمَرُ حِينَ فَتَحَ السَّوَادَ وَضَعَ الْخَرَاجَ عَلَيْهَا بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ او حضرت عمر ﷺ چي کله د عراق ځمکه فتح کړه نو د صحابه وو په حضور کي يې پرهغه ځمکي خراج مقرر کړی وَوَضَعَ عَلَى مِصْرَ حِينَ افْتَتَحَهَا عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ او همدارنګه کله چي عمرو بن العاص ﷺ مصر فتح کړی نو پر مصر [هم] حضرت عمر ﷺ خراج مقرر کړی وَكَذَا اجْتَمَعَتِ الصَّحَابَةُ عَلَى وَضْعِ الْخَرَاجِ عَلَى الشَّامِ همدارنګه پر شام باندي د خراج پر مقرر کولو [هم] صحابه وو اتفاق وکړی قَالَ: وَأَرْضُ السَّوَادِ مَمْلُوكَةٌ لِأَهْلِهَا فرمايي: چي د عراق ځمکه د خپلو خلکو په ملکیت کي ده يَجُوزُ بَيْعُهُمْ لَهَا وَتَصَرُّفُهُمْ فِيهَا د دوی لپاره د هغې خرڅول او په هغې کي تصرف کول [تېوله] جائز دي لِأَنَّ الْإِمَامَ إِذَا فَتَحَ أَرْضًا عَنْوَةً وَقَهْرًا ځکه امام چي کله په زور او غلبه سره یو ځمکه فتح کړي لَهُ أَنْ يُقِرَّ أَهْلَهَا عَلَيْهَا وَيَضَعَ عَلَيْهَا وَعَلَى رُءُوسِهِمُ الْخَرَاجَ نو هغه ته دا اختیار وي چي د هغه ځمکي خلک [مالکان] پر خپله ځمکه باقي پرېږدي او د دوی پر ځمکه او پر دوی خراج مقرر کړي فَتَبْقَى الْأَرَاضِي مَمْلُوكَةً لِأَهْلِهَا نو [تر دې وروسته] به هغه ځمکه د خپلو خلکو په ملکیت کي پاتیږي وَقَدْ قَدَّمْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او مخکي موږ د دې بیان وکړی.

اللغات: ﴿أقصٰى﴾ آخري. نهائي. ﴿عذيب﴾ دا يو د ځاى نوم دى كوم چې د عراق سره دى. او د عراق حاجيان به د دې ځاى سره تېرېدل. ﴿حجر﴾ دا په يمن كي د يو ځاى نوم دى. ﴿سواد﴾ مراد ځني ځمكه ده. سواد په اصل كي تور والي ته وايي. په پخوا زمانه كي به د عراق په ځمكه كي ډېره كښت او كرنه كېدل. او د عراق ټوله ځمكه به شنه او زرغونه ښكارېده. نو په دې وجه به د عراق ځمكي ته سواد (توره) يعني زرغونه ځمكه ويل كېدل. ﴿فيء﴾ هغه غنيمت كوم چي له جنګ څخه بغير د مسلمانانو په قبضه كي راسي. ﴿رِقاب﴾ جمع د رَقَبَةٌ غاړه. مراد ځني ذات او ځان دى. ﴿وضع﴾ د فتح ماضي ده: ايښول. مراد ځني مقرر كول او ټاكل دي. ﴿عنوة﴾ په زوره. د مُټ په زور. په غلبه سره. ﴿يُقِرّ﴾ د افعال له باب څخه د مضارع صيغه ده. د دې باب ډېري معناوي دي. دلته يې معنیٰ ده: پاته كول. باقي ساتل (باقي پرېښوول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى چې د عربو ټوله ځمكه عُشري ده. او د عربو ځمكه له "عُذيب" څخه واخله د يمن تر "حجر" نامي مقام پوري ده. دا په عرض (بره) سره د عربو د ځمكي مقدار دى. او د عربو د ځمكي طُول (اوږدول) له "مهره" څخه واخله د شام تر سرحده پوري دى. دا ټوله ځمكه عربي او عُشري ځمكه ده. د دې په مقابل كي د عراق ټوله ځمكه خراجي ده كوم چي عرضاً له "عُذيب" څخه واخله تر "عقبه حلوان" پوري ده او په طولاً له "علث" څخه واخله تر "عبادان" پوري ده: د عربو د ځمكي د عشري كېدلو اول دليل دا دى چې نبي كريم ﷺ او خلفاء راشدينو هيڅ كله هم د عربو له ځمكي څخه خراج اخيستى نه دى. كه چيري د عربو ځمكه خراجي وي نو يو وخت نه وخت به خامخا له هغې څخه خراج اخيستل كېداى. نو د عربو له ځمكي څخه د نبي كريم ﷺ او صحابه وو خراج نه اخيستل د دې خبري ښكاره دليل دى چي دا ځمكه خراجي نه ده.

د دې دوېم دليل دا دى چي خراج د فئ او غنيمت په درجه كي دى. او د عربو په ذات كي فئ ثابت نه دى. ځكه چي په نفوسو او ذواتو كي د فئ ثابتولو مطلب دا دى چي هغوى به پر خپل كفر باقي پرېښوول كيږي. حالانكي د عربو د مشركينو په هكله دا اختيار نسته چي هغوى به پر خپل كفر پرېښوول كيږي. بلكي يا هغوى به اسلام راوړي يا به قتلول كيږي او هيڅكله به هم پر كفر نه پرېښوول كيږي. نو په دې وجه د عربي مشركينو په نفوسو (ذواتو) كي خراج ثابتېدلاى نه سي او د نفوسو په څير به د هغو په ځمكه كي هم خراج نه وي.

او د عراق د ځمكي د خراجي كېدلو دليل دا دى چي كله د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په دور كي سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه عراق فتح كړى نو حضرت عمر رضي الله عنه د عراق پر ځمكو خراج و ټاكى او له يو څو صحابه وو څخه بغير نور ټولو صحابه وو پر دې اتفاق وكړى. همدارنګه كله چي حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه مصر فتح كړى نو هلته هم حضرت عمر رضي الله عنه خراج مقرر كړى او پر شام باندي هم د

صحابه وو په اتفاق سره خراج مقرر کړی سو. د حضرت عمر رضی الله عنه او د صحابه وو دا عمل د دې خبرې ښکاره دليل دا دی چې له عربو څخه بغير د نورو ځايونو پر ځمکو خراج مقرر کول صحيح او جائز دي.

قال: وأرض السواد إلخ: فرمايي چې د عراق ځمکه د خپلو اوسېدونکو په ملکيت کې ده. او د هغو لپاره خپلې ځمکې خرڅول او په هغه کې تصرّف کول دا ټوله جائز دي. ځکه کله چې امام غلبةً او قهراً يو ځمکه فتح کړي نو هغه ته دا اختيار وي چې د هغه ځای اوسېدونکي پر خپلو ځايو پرېږدي او د دوی پر ځمکو او نفوسو خراج مقرر کړي او هغه ځمکې د دوی په ملکيت کې باقي پرېږدي. لکه په "باب قسمة الغنائم" کې چې د حضرت عمر رضی الله عنه د عمل په حواله سره د دې تفصيل ذکر سو.

ځمکه کله عشري جوړيږي؟

قال: وَكُلُّ أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا أَوْ فُتِحَتْ عَنْوَةً وَقُسِّمَتْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ فرمايي: او هر هغه ځمکه چې د هغې [اوسېدونکي] خلک اسلام راوړي يا هغه په زور [او غلبه سره] فتح کړی سي او د مجاهدينو په مينځ کې تقسيم کړی سي فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ نو هغه عشري ځمکه ده لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى ابْتِدَاءِ التَّوْظِيفِ عَلَى الْمُسْلِمِ ځکه چې په هغه ځمکه کې ابتداءً پر مسلمان باندې د وظيفې [محصول] مقررولو ته ضرورت سته وَالْعُشْرُ أَلْيَقُ بِهِ او د مسلمان سره عشر زيات لائق [مناسب] دی لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى الْعِبَادَةِ ځکه چې په عشر کې د عبادت معنیٰ سته وَكَذَا هُوَ أَخَفُّ همدارنګه عُشر سپک هم دی حَيْثُ يَتَعَلَّقُ بِنَفْسِ الْخَارِجِ ځکه چې هغه فقط [د ځمکې] د پيداوار سره تعلق لري وَكُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهَا او هر هغه ځمکه کوم چې په زور [او غلبه سره] فتح کړی سي او خپل خلک [مالکان] پر هغه باقي پرېښوول سي فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ نو هغه خراجي ځمکه ده وَكَذَا إِذَا صَالَحَهُمْ همدارنګه که [امام] د کفارو سره [د محصول پر اخيستلو] صلح وکړي انو داسې ځمکه هم خراجي ده] لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى ابْتِدَاءِ التَّوْظِيفِ عَلَى الْكَافِرِ ځکه چې [په دې صورت کې] ابتداءً پر کافر د وظيفې مقررولو ته ضرورت سته وَالْخَرَاجُ أَلْيَقُ بِهِ او د کافر سره خراج زيات لائق دی وَمَكَّةُ مَخْصُوصَةٌ مِنْ هٰذَا او مکه مکرمه له دې حکم څخه عليحده ده فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم [1] فَتَحَهَا عَنْوَةً

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الجهاد، باب فتح مكة، رقم الحديث: ٨٤ .

وَتَرَكَهَا لِأَهْلِهَا وَلَمْ يُوَظِّفِ الْخَرَاجَ ځکه چي رسول الله ﷺ هغه په زور او غلبه سره فتح کړه او د مکې خلک يې اپر خپلو ځمکو پرېښوول او اپر هغو يې خراج نه وټاکی وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: كُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَوَصَلَ إِلَيْهَا مَاءُ الْأَنْهَارِ او په جامع صغير کي اذکر سوي دي: چي هر هغه ځمکه کوم چي غلبة فتح کړی سي او هغې ته د نهرونو اوبه رسيږي ايعني د نهر په اوبو سره اوبول کيږي ا فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ نو هغه خراجي ځمکه ده وَمَا لَمْ يَصِلْ إِلَيْهَا مَاءُ الْأَنْهَارِ وَاسْتُخْرِجَ مِنْهَا عَيْنٌ او کومي ځمکي ته چي اوبه نه رسيږي ابلکي ا هلته ته چينه را ايستل سوې وي فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ نو هغه عشري ځمکه ده لِأَنَّ الْعُشْرَ يَتَعَلَّقُ بِالْأَرْضِ النَّامِيَةِ ځکه چي عشر د نما کونکي اوده کونکي ا ځمکي سره تعلق لري ايعني عشر د ځمکي د پيداوار او حاصلاتو سره تعلق لري ا وَنَمَاؤُهَا بِمَائِهَا او د ځمکي نماء د هغې په اوبو سره وي فَيُعْتَبَرُ السَّقْيُ بِمَاءِ الْعُشْرِ أَوْ بِمَاءِ الْخَرَاجِ لهذا په عشري اوبو يا خراجي اوبو سره اوبه کولو ته به اعتبار ورکول کيږي.

اللغات: ﴿غانمين﴾ جمع د غَانِمٌ ده: غنيمت حاصلونکی. مراد ځني غازيان او مجاهدين دي. ﴿توظيف﴾ د تفعيل مصدر دی: وظيفه مقررول (ټاکل). مراد ځني محصول مقررول دي. ﴿أليق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات لائق، زيات مناسب. ﴿الخارج﴾ پيداوار. حاصلات. فصل (له ځمکي څخه راوتونکې فصل او غله). ﴿أنهار﴾ جمع د نَهرٌ ده: لويه واله (غټه واله). ﴿ناميه﴾ نماء کونکې، وده کونکې. ﴿نماء﴾ وده، لويدنه. نمو.

تشريح: **مسئله**: دا ده که چيري ديوې ځمکي اوسېدونکي خلک اسلام راوړي يا ځمکه په زور او غلبه سره فتح کړی سي او د مجاهدينو په مينځ کي تقسيم کړی سي نو هغه ځمکه عُشري ګرځي. ځکه چي د ځمکي محصول به تر ټولو مخکي پر مسلمانانو لازمول کيږي او د مسلمانانو د حالت سره عُشر مطابق دی. ځکه چي په عشر کي د عبادت معنیٰ موجوده ده او بل دا چي عُشر أخف او آسانه هم دی، ځکه چي د عُشر تعلق د پيداوار (حاصلاتو) سره دی او که چيري پيداوار نه وي (يعني ځمکه فصل او غله نه وکړي) نو عشر نه واجبيږي.

او کومه ځمکه چي په زور او غلبه سره فتح کړی سي يا د هغه ځمکي د اوسېدونکو سره صلح وسي او په دواړو صورتونو کي هغوی پر خپله ځمکه پرېښوول سي نو هغه به خراجي ځمکه وي.

ځکه چي په دې صورت کي د ځمکي محصول تر ټولو مخکي پر کافرانو لازمول کیږي او کفار د خراج قابل دي، ځکه چي په خراج کي د عقوبت معنیٰ سته او په هغه کي تغلیظ او سختي هم وي، ځکه که چیري پیداوار نه وي نو هم به کفار خراج ورکوي.

او له دې حکم څخه مکه مکره علیحده او جلا ده، ځکه چي نبي کریم ﷺ مکه مبارکه په زور او غلبه سره فتح کړه او د مکې خلکو ته یې پر خپلو ځمکو د اوسېدلو اجازه ورکړه، لېکن بیا هم نبي کریم ﷺ پر هغو خراج مقرر نه کړی، دا فقط د مکې مبارکي "بلد الأمین" خصوصیت دی، لهذا پر دې به نوري ځمکي نه قیاسول کیږي.

وفي الجامع الصغير إلخ: فرمايي چي په جامع صغیر کي امام محمد رَحِمَهُ الله دا قانون ذکر کړی دی چي کومه ځمکه چي په زور او غلبه سره فتح کړی سي او هغه ځمکه د نهرونو په اُوبو سره اوبول کیږي نو هغه خراجي ځمکه ده او که چیري هغه د نهرونو په اوبو سره نه اوبول کیږي بلکي په هغه ځمکه کي څاګان کیندل‌سوي وي یا چینې را ایستل سوي وي او د هغوی په اوبو سره اوبول کیږي نو هغه عشري ځمکه ده: د دې قانون دلیل دا دی چي د عُشر تعلق د "نامي" (نماء کونکي) ځمکي سره دی، او د ځمکي د پیداوار او نماء مدار د ځمکي پر اوبو دی، لهذا د ځمکي په عشري کېدلو او خراجي کېدلو کي به د اوبو اعتبار کیږي.

د شاړي او نا آبادي ځمکي آبادول

> قَالَ: **وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا** فرمايي: او کوم څوک چي شاړه [ویرانه] ځمکه ژوندۍ کړي **فَهِيَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ مُعْتَبَرَةٌ بِحَيِّزِهَا** ❁ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله به نېز به د هغې اعتبار په څنګ والا ځمکي سره کیږي [یعني کومه ځمکه چي هغې ته څرمه او نژدې وي، پر هغې به قیاسول کیږي] **فَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ وَمَعْنَاهُ بِقُرْبِهِ** نو که هغه خراجي ځمکي ته نژدې وي **فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ** نو هغه به خراجي وي **وَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْعُشْرِ** او که عشري ځمکي ته نژدې وي **فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ** نو هغه به عشري ځمکه وي **وَالْبَصْرَةُ عِنْدَهُ عُشْرِيَّةٌ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ** او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وإن أحيا مواتا يعتبر قربه عند أبي يوسف رَحِمَهُ الله لأن ما قارب الشيء يعطى له حكمه، ويعتبر ماؤه عند محمد رَحِمَهُ الله، وبالأول يفتى، وهذا في حق المسلم أما الكافر فالخراج مطلقا اتفاقا (الدر المنتقى ج:١، ص:٦٧٤)، وكذا في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٨٢). [القول الراجح ج:١، ص:٢٩١]

صحابه وو د اجماع په وجه د بصرې ټوله ځمکې عشري دي لِأَنَّ حَيِّزَ الشَّيْءِ يُعْطَى لَهُ حُكْمُهُ ځکه چې د شي حيز ته د هغه شي حکم ورکول کيږي كَفِنَاءِ الدَّارِ يُعْطَى لَهُ حُكْمُ الدَّارِ لکه د کور فناء ته چې د کور حکم ورکول کيږي حَتَّى يَجُوزَ لِصَاحِبِهَا الِانْتِفَاعُ بِهِ همدا وجه ده چې د کور د مالک لپاره د کور له فناء څخه نفع اخيستل جائز دي وَكَذَا لَا يَجُوزُ أَخْذُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ او همدارنګه آبادي ته چې کومه ځمکه نژدې وي له هغې څخه اخيستل جائز نه وي وَكَانَ الْقِيَاسُ فِي الْبَصْرَةِ أَنْ تَكُونَ خَرَاجِيَّةً او د بصرې په هکله قياس داوو چې هغه دې خراجي واى لِأَنَّهَا مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ ځکه چې هغه خراجي ځمکې ته نژدې ده إِلَّا أَنَّ الصَّحَابَةَ وَظَّفُوا عَلَيْهَا الْعُشْرَ لېکن صحابه وو پر هغې خراج مقرر کړى فَتُرِكَ الْقِيَاسُ لِإِجْمَاعِهِمْ نو د صحابه وو د اجماع په وجه قياس پرېښوول سو وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ أَحْيَاهَا بِبِئْرٍ حَفَرَهَا أَوْ بِعَيْنٍ اسْتَخْرَجَهَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: که چيري [يو څوک] شاړه ځمکه د څاه په اوبو سره ژوندۍ کړي کوم چې ده کيندلې وي يا يې د چينې په اوبو سره ژوندۍ کړي کوم چې ده را ايستلې وي أَوْ مَاءِ دِجْلَةَ أَوِ الْفُرَاتِ أَوِ الْأَنْهَارِ الْعِظَامِ الَّتِي لَا يَمْلِكُهَا أَحَدٌ او يا يې د دجلې او فرات يا يې د هغو غټو نهرونو په اوبو سره ژوند کړي چې هيڅوک د هغه مالک نه وي [يعني چې هغه د هيچا په ملکيت کې نه وي] فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ نو هغه به عشري ځمکه وي وَكَذَا إِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ السَّمَاءِ همدارنګه که هغه يې په آسماني اوبو سره ژوندۍ کړي [نو هم به هغه عشري ځمکه وي] وَإِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ الْأَنْهَارِ الَّتِي احْتَفَرَهَا الْأَعَاجِمُ مِثْلَ نَهْرِ الْمَلِكِ وَنَهْرِ يَزْدَجَرْدَ او که د هغو نهرونو په اوبو سره يې اوبه کړي کوم چې عجمو کيندلي وي لکه نهرِ ملک او نهرِ يزدجرد فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ نو هغه به خراجي ځمکه وي لِمَا ذَكَرْنَا مِنِ اعْتِبَارِ الْمَاءِ د هغه دليل په وجه کوم چې د اوبو معتبر والي په هکله موږ بيان کړى إِذْ هُوَ السَّبَبُ لِلنَّمَاءِ ځکه چې همدا اُوبه د ځمکې سبب دي وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ تَوْظِيفُ الْخَرَاجِ ابْتِدَاءً عَلَى الْمُسْلِمِ كَرْهًا او ځکه چې له شروع څخه پر يو مسلمان په زوره خراج مقرر کول ممکن نه دي فَيُعْتَبَرُ فِي ذَلِكَ الْمَاءُ نو ځکه به په دې سلسله کې اوبو لره اعتبار ورکول کيږي لِأَنَّ السَّقْيَ بِمَاءِ الْخَرَاجِ دَلَالَةُ الْتِزَامِهِ ځکه چې په خراجي اوبو سره اوبه کول د خراج د التزام دليل دى.

اللغات: ﴿أَحْيَا﴾ او أَحْيٰى: د افعال ماضي ده: ژوندى كول. مراد ځني د كښت او كرني قابل جوړول او آبادول دي. ﴿موات﴾ شاړه ځمكه، مړه او ناآباده ځمكه، بنجر. ﴿حَيِّز﴾ پر وزن د فَيْعِل دى او حَيْز هم ول كېداى سي: مكان، ځاى، ګوښه، څنګ (طرف). ﴿فناء﴾ د كور حويلي (غولي) ته هم وايي. او د كور أطرافو ته هم وايي، دلته ځني مراد هغه ځمكه ده كوم چي د كور په اطرافو كي خالي پرېښوول سوې وي. ﴿كَرهاً﴾ په زوره، په ناخوښى.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه چيري يو سړى شاړه او مړه ځمكه د كښت او كرني (كښتګرى) قابله جوړه كړي نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به د داسي ځمكي د عشري كېدلو او خراجي كېدلو فيصله د هغې د محلُ الوقوع مطابق كيږي. يعني كه چيري هغه عشري ځمكي ته نژدې وي (يعني څنګ يې ته عَشري ځمكه وي) نو هغه به عَشري ځمكه وي او كه خراجي ځمكي ته نژدې وي نو خراجي ځمكه به وي، ځكه چي د شي حيز او قُرب ته د هغه شي حكم وركول كيږي. لكه څرنګه چي د كور فناء ته د حيز او قُرب په وجه د كور حكم وركول كيږي. له همدې كبله د كور مالك لره د كور له فناء څخه نفع اخيستل جائز وي. همدارنګه كومه ځمكه چي آبادي علاقې او آباد كلي ته نژدې وي، نو د چا لپاره دا جائز نه وي چي هغه د كښت او كرني قابله جوړه كړي او له هغه څخه شى واخلي. ځكه كومه ځمكه چي آبادى ته نژدې نو له هغه څخه فقط د آبادى والا نفع اخيستلاى سي.

والبصرة عنده إلخ: فرمايي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د بصرې ټولي ځمكي عشري دي. ځكه چي صحابه وو د بصرې له خلكو څخه فقط عُشر اخيستى دى، نه خراج. حالانكي د قياس تقاضا دا ده چي د بصرې ځمكي دي خراجي واى ځكه چي هغه د خراجي ځمكو سره نژدې دي. لېكن د دې باوجود د صحابه وو د عمل او د هغوى د اتفاق په وجه موږ قياس پرې ايښى دى او د بصرې ځمكي مو عُشري ګرځولي دي.

وقال محمد إلخ: فرمايي: چي د شاړي ځمكي تر آبادولو وروسته د هغې په عشري كېدلو او خراجي كېدلو كي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د ځمكي اوبو لره اعتبار دى. نو كه يو چا په شاړه ځمكه كي څاه كيندلې وي يا يې چينه را ايستلې وي او د هغه په اوبو سره ځمكه اوبوي يا د دجلې او فرات په اوبو سره يې اُوبوي يا يې د غټو نهرونو په اُوبو سره اوبوي كوم چي د هيچا په ملكيت كي نه وي يا يې په باراني اُوبو سره اوبوي نو په دې ټولو صورتونو كي به هغه عشري ځمكه وي. د دې په خلاف كه چيري يو څوك خپله ځمكه د عجمي باچاهانو په كيندل سوو نهرونو سره مثلاً په نهرِ نوشيروان يا

نهر یزدجرد سره اوبوي نو هغه ځمکه به خراجي وي، ځکه چي د عُشر تعلق د نما کونکي ځمکي سره دی. او د نماء دار ومدار پر اُوبو دی لهذا د عشر او خراج دار ومدار به هم پر اُوبو وي.

د عشر او خراج په سلسله کي د اوبو د معتبر والي یو دلیل دا هم دی چي که چیري مونږ ابتداءً پر یو مسلمان په زوره په شاړه ځمکه کي خراج لازم کړو، نو په دې سره به د مسلمان زړه مات سي او د آینده لپاره به د هیڅ شاړه ځمکه نه آبادوي، نو په دې وجه غوره همدا ده چي د عشر او خراج فیصله پر اوبو منحصره کړی سي، نو په هغه ځمکه کي به خراج لازمول کیږي کوم چي یې سړی په خراجي اوبو سره اوبوي او په خراجي اوبو سره یې د کښت او کرني قابله جوړوي، ځکه چي په خراجي اوبو سره اوبه کول او د ځمکي آبادول د دې خبري دلیل دی چي هغه سړی پر خپل ځان خراج لازموي.

د خراج او محصولاتو تشریح

قال: وَالْخَرَاجُ الَّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ عَلَى أَهْلِ السَّوَادِ مِنْ كُلِّ جَرِيبٍ يَبْلُغُهُ الْمَاءُ قَفِيزٌ هَاشِمِيٌّ فرمايي: او هغه خراج [محصول] کوم چي حضرت عمر رضي الله عنه د عراق پر خلکو مقرر کړی وو هغه په هر داسي جریب کي چي هغه ته اوبه رسیږي یو هاشمي قفیز وو وَهُوَ الصَّاعُ وَدِرْهَمٌ او هاشمي قفیز یو صاع او یو درهم دی وَمِنْ جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ. او د سبزیجاتو په یوه جریب کي یې پنځه درهمه مقرر کړي وه وَمِنْ جَرِيبِ الْكَرْمِ الْمُتَّصِلِ وَالنَّخِيلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ او د ګڼو انګورو او ګڼو خرماوو په یوه جریب کي یې لس درهمه مقرر کړي وه وَهَذَا هُوَ الْمَنْقُولُ عَنْ عُمَرَ همدا له حضرت عمر رضي الله عنه څخه نقل سوي دي فَإِنَّهُ بَعَثَ عُثْمَانَ بْنَ حُنَيْفٍ حَتَّى يَمْسَحَ سَوَادَ الْعِرَاقِ ځکه چي هغه عثمان بن حنیف واستوای چي د عراق ځمکه اندازه کړي [یعني جریب یې کړي] وَجَعَلَ حُذَيْفَةَ مُشْرِفًا عَلَيْهِ او حضرت حذیفه یې پر هغه د نګران په توګه مقرر کړی [یعني د هغه سره د نګران په توګه واستوی] فَمَسَحَ فَبَلَغَ سِتًّا وَثَلَاثِينَ أَلْفَ أَلْفِ جَرِيبٍ بیا عثمان بن حنیف د عراق ځمکه اندازه کړه نو هغه دریو کروړو او شپیتو لکو (۳۶۰۰۰۰۰۰) جریبو ته ورسېده وَوَضَعَ عَلَى ذَلِكَ مَا قُلْنَا او ابیا یې [زموږ د ذکر سوي حساب مطابق پر هغه خراج مقرر کړی وَكَانَ ذَلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ او دا کار د صحابه وو په حضور کي له څه انکار څخه بغیر وسو فَكَانَ إِجْمَاعًا مِنْهُمْ نو ځکه دا د دوی له طرفه إجماع سوه وَلِأَنَّ الْمُؤَنَ مُتَفَاوِتَةٌ او ځکه چي [د کښتګرۍ په کارونو کي] خرچې

[الکښتونه] متفاوت [بېل بېل] وي فَالْكَرْمُ أَخَفُّهَا مُؤْنَةً نو انګور ډېر سپک [الړ] مؤنت والا وي وَالْمَزَارِعُ أَكْثَرُهَا مُؤْنَةً او [دغلې] کښتونه [کېتی] زيات مؤنت والا وي وَالرُّطَبُ بَيْنَهُمَا او سبزيجات د دوی په مينځ کي [أوسط مؤنت والا] وي وَالْوَظِيفَةُ تَتَفَاوَتُ بِتَفَاوُتِهَا او د مؤنة په متفاوت کېدلو سره په محصول کي [هم] تفاوت راځي فَجُعِلَ الْوَاجِبُ فِي الْكَرْمِ أَعْلَاهَا نو په دې وجه په انګورو کي تر ټولو زيات محصول مقرر کړی سوی دی وَفِي الزَّرْعِ أَدْنَاهَا او [دغلې] په کښت کي تر ټولو کم محصول مقرر کړی سوی دی وَفِي الرُّطَبَةِ أَوْسَطَهَا او په سبزيجاتو کي د مينځوي درجې محصول مقرر کړی سوی دی قَالَ: وَمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَصْنَافِ كَالزَّعْفَرَانِ وَالْبُسْتَانِ وَغَيْرِهِ يُوضَعُ عَلَيْهَا بِحَسَبِ الطَّاقَةِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: او له دې څخه بغير چي د کښت او کرني نور کوم أقسام دي لکه د زعفرانو کښت [کېتی] او باغ او داسي نور نو پر هغوی به د طاقت په اندازه محصول مقررول کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ تَوْظِيفُ عُمَرَ ځکه چي په هغه کي له حضرت عمر ﷺ څخه د محصول مقررول ثابت نه دي وَقَدْ اعْتَبَرَ الطَّاقَةَ فِي ذَلِكَ او حضرت عمر ﷺ [د نورو کښتونو او باغونو] په سلسله کي د طاقت اعتبار کړی دی فَنَعْتَبِرُهَا فِيمَا لَا تَوْظِيفَ فِيهِ لهذ چيري چي توظيف نه وي نو هلته به هم موږ د ځمکي د طاقت اعتبار کوو قَالُوا: وَنِهَايَةُ الطَّاقَةِ أَنْ يَبْلُغَ الْوَاجِبُ نِصْفَ الْخَارِجِ لَا يُزَادُ عَلَيْهِ مشائخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي د طاقت انتهاء دا ده چي واجب مقدار د پيداوار نيمايي [انصف] ته ورسيږي او پر هغه زيات نه کړی سي لِأَنَّ التَّنْصِيفَ عَيْنُ الْإِنْصَافِ ځکه چي نصف ټاکل عين انصاف دی لِمَا كَانَ لَنَا أَنْ نُقَسِّمَ الْكُلَّ بَيْنَ الْغَانِمِينَ ځکه چي موږ ته دا حق [هم] وو چي ټوله ځمکه مو په مجاهدينو کي تقسيم کړي وای وَالْبُسْتَانُ كُلُّ أَرْضٍ يَحُوطُهَا حَائِطٌ وَفِيهَا نَخِيلٌ مُتَفَرِّقَةٌ وَأَشْجَارٌ أُخَرُ او بُستان هر هغه ځمکه ده چي پر هغې [چار طرفه] دېوال راګرځېدلی وي او په هغې کي د خُرما درختې او نوري درختې وي وَفِي دِيَارِنَا وَظَّفُوا مِنَ الدَّرَاهِمِ فِي الْأَرَاضِي كُلِّهَا او زموږ په علاقو کي [عاملين] په دراهمو سره محصول اخلي وَتُرِكَ كَذَلِكَ او پورته بيان سوې طريقه پرېښول سوې ده لِأَنَّ التَّقْدِيرَ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ بِقَدْرِ الطَّاقَةِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ كَانَ ځکه چي کوم مقدار مقرر سوی دی هغه دا دی چي د طاقت په اندازه وي [برابره ده] هغه که له هر جنس څخه وي.

اللغات: ﴿جريب﴾ د دې تفصيل به په تشريح كې ذكر سي. ﴿قفيز﴾ پيمانه. ﴿كرم﴾ انگور. صاحب د مصباحُ اللغات وايي چې دا د انگورو باغ او عام گڼ باغ ته هم وايي. ﴿المتصل﴾ سره يو ځاى سوى. مراد ځني گڼ باغ دى. ﴿نخيل﴾ د خرما درختنه. ﴿يمسح﴾ د فتح مضارع ده: مساحت معلومول. كچه او اندازه معلومول. مراد ځني جريبول دي (جريب كشي كول). ﴿مُؤَن﴾ جمع د مُؤْنَةٌ ده: خرچه. لگښت. مشقت. بوج او تكيف. ﴿تنصيف﴾ د تفعيل مصدر دى: نيمول. نيمايي كول. نصف مقررول. نيمايي ټاكل.

تشريح: د عبارت له تشريح څخه مخكې بايد تاسي د دې دوو الفاظو معنىٰ په ياد ولرئ!: ① ... جريب.

په الدر المختار كې ليكلي دي چې جريب هغه مقدار ته وايي چې د كسرىٰ د لاس مطابق د هغه اوږدول هم شپېته (۶۰) لاسه وي او د هغه بر (عرض) هم (۶۰) لاسه وي. او (۶۰) چې په (۶۰) كې ضرب كړى سي نو مجموعه د (۳۶۰۰) مربع لاسو څمكه يو جريب كيږي. (رد المحتار. مطلب فى خراج المقاسمة. كتاب الجهاد. ج:۶. ص: ۲۹۲). (د اوسنى زماني په حساب سره د كسرىٰ لاس (۵۳.۳۵ سنتي متره) كيږي. يعني تقريباً درو پنځوس (۵۳) سنتي متره كيږي. او د عام سړي لاس (۴۵.۷۲ سنتي متره) كيږي).

﴿د اوسنى زماني په مقدار سره د جريب او ايكړ تفصيل﴾

جريب	اوږدول	ضرب	بر (عرض)	برابر	مربع فوټ يا گز
يو جريب	۶۰ لاسه	×	۶۰ لاسه	=	۳۶۰۰ مربع لاسه كيږي
يو جريب	۱۰۵ فوټه	×	۱۰۵ فوټه	=	۱۱۰۲۵ مربع فوټه كيږي
يو جريب	۳۵ گزه	×	۳۵ گزه	=	۱۲۲۵ مربع گزه كيږي
يو جريب	۳۲.۰۰۴ ميټره	×	۳۲.۰۰۴ ميټره	=	۱۰۲۴.۲۵ مربع ميټره كيږي
يعني د پاكستاني ميټر په حساب سره يو جريب تقريبا (۱۰۲۴) ميټره كيږي. ميټر تر گز لږ څه غټ دى.					

﴿ايكړ﴾

ايكړ تر جريب غټ دى. د گز او ميټر په حساب سره د هغه اندازه په لاندي توگه ده:

ايكړ	اوږدول	ضرب	بر (عرض)	برا	مربع فوټ يا گز
يو ايكړ	۶۹.۵۷ گزه	×	۶۹.۵۷ گزه	=	۴۸۴۰ مربع گزه كيږي
يو ايكړ	۶۳.۶۱۴ ميټره	×	۶۳.۶۱۴ ميټره	=	۴۰۴۶.۸۵۶ مربع ميټره كيږي

(۲)... رطبة: د دې لفظ اصل معنیٰ ده: لوند او نرم. دلته ترکاري او سبزیجات ځني مراد دي لکه توری، بینډۍ، رومیان، بادرنګ او داسي نور.

صورت د مسئلې: دا دی چي حضرت عمر ﷺ د عراق پر خلکو د جریب په اعتبار سره محصول او خراج مقرر کړی وو، او په کوم جریب کي چي به کښتګري کېدل او هغه ته به خراجي اوبه رسېدلې. په هغه کي یې یو هاشمي قفیز محصول مقرر کړی وو (د خراج ـ اوبو تفصیل مخکي تېر سو). د هاشمي قفیز مقدار یو صاع او یو درهم وو. او د "رطبه" (سبزیجاتو) له کښت څخه به یې پر یوه جریب پنځه درهمه اخیستل او د انګور او خرماوو پر ګڼو باغاتو به یې لس درهمه اخیستل. او د دې کار لپاره هغه عثمان بن حنیف ﷺ عراق ته واستوی او عثمان بن حنیف ﷺ د عراق د ځمکي جریب کشي وکړه (یعني د عراق ځمکه یې جریب کړه) نو هغه ټوله درې کروړه شپېته لکه (۳۶۰۰۰۰۰۰) جریبه ځمکه سوه. او په همدې حساب سره یې هلته محصول مقرر کړی. او د حضرت عمر ﷺ دا کار د ټولو صحابه وو په حضور کي وسو او پر دې هیچا نکیر نه وکړی. نو ځکه دې د اجماع شکل اختیار کړی.

د دې سلسلې عقلي دلیل دا دی چي محصول او خراج د مؤنة په اعتبار سره اخیستل کیږي او د هغه طریقه دا وي چي په کوم کښت او کېتۍ کي چي مؤنة او محنت زیات وي په هغه کي کم محصول واجبیږي او په کوم کښت کي چي مؤنة کم وي په هغه کي زیات محصول واجبیږي. او که غور وسي نو معلومه به سي چي د انګورو په کښت کي زیات مؤنة وي نو په دې وجه د انګورو محصول تر ټولو زیات دی یعني په یوه جریب کي لس درهمه دی او د غلې (مثلاً د غنمو او داسي نورو) په کښت کي مؤنة او محنت ډېر زیات وي. نو ځکه د هغه محصول تر ټولو کم وي یعني په یوه جریب کي یو صاع او یو درهم دی. او په سبزیجاتو "رطبة" کي مؤنة د مینځوی درجې وي. یعني له انګورو څخه زیات او له غلې څخه کم. نو ځکه په هغه کي د مینځوی درجې محصول واجب سوی دی چي د هغه مقدار پنځه درهمه دي.

قال وما سوی ذلك إلخ: فرمایي: له پورتني دریو قسمونو څخه بغیر چي د کښت نور کوم قسمونه دي لکه د زعفرانو کښت او کېتۍ، د مېوو باغات او داسي نور. نو په هغوی کي به د ځمکي د طاقت یعني د پیداوار په اعتبار سره محصول مقررول کیږي. ځکه چي د هغوی په هکله له حضرت عمر ﷺ هیڅ توظیف نقل سوې نه دی. او هغه هم په دغه شیانو کي د طاقت او پیداوار په اعتبار سره محصول ټاکلی دی. لهذا موږ به هم په دې سلسله کي د هغه تقلید او پیروي کوو. او دا خبره په یاد لرئ! چي د طاقت آخري درجه دا ده چي د محصول مقدار د نیمايي پیداوار (نصف الخارج) سره برابر کړی سي ...

له هغه څخه زیات نه سي. ځکه چي تر نصف او نیمايي پوري اخیستل انصاف دي او له هغه څخه زیات اخیستل تعدیٰ او تجاوز دی. تر نصف پوري اخیستل په دې وجه انصاف دی چي کله موږ ته دا حق ستهٔ چي هغه ټوله (خراجي) ځمکه د مجاهدینو په مینځ کي تقسیم کړو او مالکانو (کفارو) ته هیڅ شی نه ورکړو نو موږ ته به په طریقه اولیٰ د نصف اخیستلو حق هم وي او دا به زموږ له طرفه پر هغو احسان هم چي نصف هغو ته پرېږدو.

وفي دیارنا إلخ: صاحب د هدایې فرمايي چي زموږ د مرغینان په علاقه او هغې ته په شرمه علاقو کي له پیداوار څخه د محصول اخیستلو رواج بالکل متروک او ختم سوی دی او اوس په هر ډول ځمکو کي د دراهمو او د نغدو روپو اخیستل رواج سوي دي هغه که عشري ځمکه وي یا خراجي ځمکه وي. ځکه چي أصل شی خو د طاقت او پیداوار په اندازه ورکول دي برابره ده هغه که له هر جنس څخه وي.

فایده: د علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله استوګنځی د مرغینان علاقه وه کوم چي په "فرغانه" کي واقع وه. او فرغانه اوس د اُزبکستان په حصه کي راغلې ده.

امام ته د محصول کمولو اختیار

قال: **فَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُضِعَ عَلَيْهَا** فرمايي: که چیري ځمکه د هغه محصول طاقت ابرداشت انه لري کوم چي پر هغې مقرر کړی سوي وي **نَقَصَهُمُ الْإِمَامُ** نو امام دي محصول کم کړي **وَالنُّقْصَانُ عِنْدَ قِلَّةِ الرِّيْعِ جَائِزٌ بِالْإِجْمَاعِ** او د پیداوار د کموالي په صورت کي محصول کمول بالاتفاق جائز دي **أَلَا تَرَى إِلَىٰ قَوْلِ عُمَرَ: لَعَلَّكُمَا حَمَّلْتُمَا الْأَرْضَ مَا لَا تُطِيقُ** آیا ته د حضرت عمر ﷺ دې فرمان ته نه ګورې اچي هغه حذیفه او عثمان بن حُنیف رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته وویل ا: شاید تاسي به پر ځمکي دومره محصول اچولی وي چي ځمکي به د هغه طاقت او برداشت انه درلود **فَقَالَا: لَا بَلْ حَمَّلْنَاهَا مَا تُطِيقُ وَلَوْ زِدْنَا لَأَطَاقَتْ** نو هغوی وویل: چي نه! بلکي موږ د هغې د طاقت مطابق محصول پر واچوی او که چیري موږ تر دې زیات محصول پر مقرر کړي وای نو هم به ځمکي برداشت کړي وای **وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَىٰ جَوَازِ النُّقْصَانِ** دا قول د محصول کمولو پر جواز اروایت ا دلالت کوي **وَأَمَّا الزِّيَادَةُ عِنْدَ زِيَادَةِ الرِّيْعِ يَجُوزُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ** او د پیداوار د زیاتوالي په صورت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په محصول کي اضافه کول جائز دي **اعْتِبَارًا بِالنُّقْصَانِ** د محصول پر کمي باندي په قیاس کولو سره **وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَجُوزُ** الیکن ا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي **لِأَنَّ عُمَرَ لَمْ يَزِدْ حِينَ أُخْبِرَ بِزِيَادَةِ الطَّاقَةِ** ځکه کله ... ي حضرت عمر ﷺ، ته د محصول د زیاتوالي خبر ورکول سو نو هغه په محصول

کي اضافه نه وکړه **وَإِنْ غَلَبَ عَلَى أَرْضِ الْخَرَاجِ الْمَاءُ أَوِ انْقَطَعَ الْمَاءُ عَنْهَا أَوِ اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ** او که چيري پر خراجي ځمکه اوبه غالبي سي ایعني اوبه یې لاندي کړي) یا له هغې څخه اوبه قطع سي یا یو آفت کښت اکېتی) تباه کړي **فَلَا خَرَاجَ عَلَيْهِ** نو پر هغه ځمکي خراج نسته لِأَنَّهُ فَاتَ التَّمَكُّنُ مِنَ الزِّرَاعَةِ وَهُوَ النَّمَاءُ التَّقْدِيرِيُّ الْمُعْتَبَرُ فِي الْخَرَاجِ ځکه چي د کښت قدرت (او طاقت) ختم سو او هغه نماء تقديري ده کوم چي په خراج کي معتبره ده وَفِيمَا إِذَا اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَاتَ النَّمَاءُ التَّقْدِيرِيُّ فِي بَعْضِ الْحَوْلِ او په هغه صورت کي "کله چي يو آفت کښت تباه کړي" نماءِ تقديري د کال په ځيني حصه کي فوت سوه وَكَوْنُهُ نَامِيًا فِي جَمِيعِ الْحَوْلِ شَرْطٌ كَمَا فِي مَالِ الزَّكَاةِ حال دا چي هغه ټوله کال نامي کېدل اد خراج د وجوب لپاره) شرط دي لکه څرنګه چي په زکاة دي أَوْ يُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى الْحَقِيقَةِ عِنْدَ خُرُوجِ الْخَارِجِ يا د پيداوار د ښکاره کېدلو په صورت کي به د حکم مدار پر حقيقي نماء اېښوول کيږي.

اللغات: ﴿لم تُطِق﴾ د افعال له باب څخه د جحد صيغه ده. أَطَاقَ يُطِيقُ إِطَاقَةً: طاقت لرل. برداشت کول. زغمل. ﴿ريع﴾ غلا. پيداوار. ﴿حملتما﴾ د تفعيل له باب څخه د تثنيه مذکر مخاطب ماضي صيغه ده: پر يو شي بار اچول. ﴿اصطلم﴾ د افتعال ماضي ده: تباه کول. بربادول. پوپنا کول. ﴿تمكّن﴾ د تفعل مصدر دی: قدرت ورکول. قدرت او طاقت. ﴿يُدار﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: مدار کېدل. مدار اېښوول (يو شی پر بل شي موقوف کول. مبني کول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که چيري د ځمکي پيداوار کم وي او پر هغې اېښول سوی (مقرر سوی) محصول او خراج ډېر وي چي ځمکه هغه زغملای نه سي، نو په دې صورت کي د امام لپاره محصول کمول جائز او صحيح دي؛ دليل دا دی چي حضرت عمر رضي الله عنه و حضرت حذيفه او حضرت عثمان بن حنيف رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته وفرمايل: "لعلکما حملتما الأرض ما لاتطيق فقالا: لا بل حملناها ما تطيق. ولو زدناها لأطاقت". په دې قول کي "ولو زدناها لأطاقت" د دې خبري دليل دا دی چي حضرت حذيفه او حضرت عثمان کم محصول مقرر کړی وو او که هغو له هغه څخه زيات محصول مقرر کړي وای نو هم به صحيح وای. معلومه سوه چي محصول کمول جائز دي. لهذا کله چي د پيداوار د زياتوالي په صورت کي کمي جائز ده نو د پيداوار د کموالي په صورت کي خو په درجه اولیٰ محصول کمول جائز دي.

وأما الزيادة إلخ: د دې حاصل دا دی چي که پيداوار له توقع او اُميد څخه زيات سي (يعني څومره چي د مالک اُميد وي ځمکه تر هغه زيات پيداوار وکړي)، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي څرنګه د پيداوار د کموالي په صورت کي محصول کمول جائز دي همدارنګه د پيداوار د زياتوالي په صورت کي محصول اضافه کول

هم صحيح دي. لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز اضافه کول صحيح نه دي. ځکه چي کله حضرت عثمان بن حنيف او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا و حضرت عمر ﷺ ته په عراق کي د پيداوار د زياتوالي خبر ورکړی. نو حضرت عمر ﷺ په محصول کي اضافه نه وکړه. له دې څخه معلومه سوه چي اضافه کول جائز نه دي.

وإن غلب إلخ: د دې حاصل دا دی چي که پر خراجي ځمکه اوبه راسي او له اوبو څخه ډکه سي يا بالکل وچه سي يا په يو آسماني آفت سره کښت او فصل تباه سي او هيڅ پيداوار هم نه وسي. نو په داسي صورت کي به پر هغه ځمکي خراج او محصول لازم نه وي: ځکه چي د دې عوارضو په وجه د کښت قدرت ختم سو. حالانکي همدا کښت د ځمکي تقديري نماء ده او په خراج کي اعتبار نماء لره دی. لهذا کله چي کښت او زراعت ختم سو نو نماء هم ختمه سوه. او کله چي نماء معدوم ده نو ښکاره خبره ده چي خراج به هم معدوم وي. او که چيري کښت د آسماني آفت په وجه تباه سوی وي نو په دې صورت کي که څه هم د کال په څه حصه کي تقديري نماء فوت ده خو بيا هم په دې څه غوندي فوتېدلو سره خراج ساقطيږي. ځکه چي د خراج د وجوب لپاره ټوله کال د نماءِ تقديري موجودېدل شرط دي لکه څرنګه چي د زکاة په مال کي حولانِ حول شرط دي.

أو يدار الحكم إلخ: د دې حاصل دا دی چي په دې مسئله کي د خراج سقوط په دې توګه هم بيانېدلای سي چي نماءِ تقديري د نماءِ حقيقي يعني د پيداوار په حکم کي ده. لېکن کله چي پيداوار ښکاره سو نو بيا نماءِ تقديري ختمه سوه او حکم د نماءِ حقيقي سره متعلق سو او کله چي کښت په آسماني آفت سره هلاک سو. نو ښکاره خبره ده چي نماء هم هلاکه سوه او د خراج معامله ساقطه سوه.

د کښت او کرني پرېښوولو په صورت کي د خراج نه ساقطېدلو بيان

قال: وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فرمايي: او که د ځمکي مالک خپله [خراجي] ځمکه بې کاره پرېږدي فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ نو پر هغه به خراج لازم وي لِأَنَّ التَّمَكُّنَ كَانَ ثَابِتًا وَهُوَ الَّذِي فَوَّتَهُ ځکه چي هغه ته [پر کښت او کرني] قدرت حاصل وو او هغه [قصداً] هغه فوت کړی قَالُوا: مَنِ انْتَقَلَ إِلَى أَخَسِّ الْأَمْرَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَعَلَيْهِ خَرَاجُ الْأَعْلَى مشائخو فرمايلي دي: چي کوم کس بېله عذره په دوو کارونو کي د لاندي درجې [ټيټ] کار وطرف ته ميلان وکړي نو پر هغه به د لوړي درجې خراج لازم وي لِأَنَّهُ هُوَ الَّذِي ضَيَّعَ الزِّيَادَةَ ځکه چي هغه زياتوب ضايع کړی وَهَذَا يُعْرَفُ وَلَا يُفْتَى بِهِ او دا [فقط] پېژندل پکار دي لېکن [پر دې به فتوی نه

ورکول کیږي کَیْ لَا یَتَجَرَّأَ الظَّلَمَةُ عَلٰی أَخْذِ أَمْوَالِ النَّاسِ د دې لپاره چې ظالمان د خلکو د مالونو په اخیستلو کې جرائت نه وکړي وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ أَهْلِ الْخَرَاجِ او که له خراج ورکونکو خلکو څخه یو څوک اسلام راوړي أُخِذَ مِنْهُ الْخَرَاجُ عَلٰی حَالِهِ نو له هغه څخه به د مخکښي حالت په څېر خراج اخیستل کیږي لِأَنَّ فِیهِ مَعْنَی الْمُؤْنَةِ ځکه چې په خراج کې د مؤنة معنیٰ سته فَیُعْتَبَرُ مُؤْنَةً فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ لهذا د بقاء په حالت کې به هغه مؤنة ګڼل کیږي فَأَمْکَنَ إِبْقَاؤُهُ عَلَی الْمُسْلِمِ نو د مسلمان پر ذمه به د هغه [خراج] باقي پاته کول ممکن وي وَیَجُوزُ أَنْ یَشْتَرِيَ الْمُسْلِمُ أَرْضَ الْخَرَاجِ مِنَ الذِّمِّيِّ او د مسلمان لپاره جائز دي چې له ذمي څخه خراجي ځمکه رانیسي وَیُؤْخَذَ مِنْهُ الْخَرَاجُ او له دې مسلمان څخه به خراج اخیستل کیږي لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَقَدْ صَحَّ أَنَّ الصَّحَابَةَ اشْتَرَوْا أَرَاضِيَ الْخَرَاجِ وَکَانُوا یُؤَدُّونَ خَرَاجَهَا او په صحیح روایت کې [ذکر سوی] دي چې صحابه وو خراجي ځمکي رانیولې او هغوی به د هغه ځمکو خراج اداء کوی فَدَلَّ عَلٰی جَوَازِ الشِّرَاءِ وَأَخْذِ الْخَرَاجِ وَأَدَائِهِ لِلْمُسْلِمِ مِنْ غَیْرِ کَرَاهَةٍ نو د صحابه وو دا فعل پر دې دلالت کوي [یعني د دې خبرې دلیل دی] چې [د مسلمان لپاره] خراجي ځمکه رانیول. او له هغه څخه خراج اخیستل، او دا خراج مسلمان ته ورکول بېله کراهته جائز دي.

اللغات: ﴿عطلها﴾ د تفعیل ماضي ده: بېکاره پرېښوول، شنډول (بې حاصله پرېښوول). ﴿أخس﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: خسیس، کمتر، د کمي درجې والا، رذیل، سپک.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو مالک په خراجي ځمکه کې کښت او کرنه (زراعت) نه وکړي او هغه شاړه پرېږدي نو پر هغه به هم خراج واجب وي، او د زراعت پرېښوولو په وجه به خراج نه ساقطیږي. ځکه چې دا د هغه سړي یو بد معاشي او لوچکي ده چې کښت او کرل نه کوي. لهذا شریعت هغه پر خپل دغه حرکت نه معافوي او د ځمکي محصول به ځني اخیستل کیږي.

مشائخ فرمایي چې که دیو چا په ځمکه کې د زعفران راشنه کولو او پیدا کولو صلاحیت وي او هغه زعفران نه وکري او بېله عذره بانجڼ، رومیان یا داسي بله سبزي وکري. نو هم به هغه مجرم وي او پر هغه به د ځمکي د طاقت او صلاحیت په حساب سره د زعفران خراج لازم وي. صاحب د هدایې فرمایي چې په دې سره فقط علماؤ ته ځان خبرول او معلومات ورکول پکار دي، لېکن د دې فتویٰ به نه ورکول کیږي. کنې ظالمان حاکمان به د ځمکي له مالک څخه په دې حیله د زعفرانو خراج اخلي چې ستا ځمکه خو د زعفران را شنه کولو قابله ده تا زعفران ولي کرلي نه دي؟

ومن أسلم من أهل إلخ: د دې حاصل دا دی چې که له خراج ورکونکو خلکو څخه یو څوک مسلمان سي نو له هغه څخه به د مخکي په څېر خراج اخیستل کیږي او د اسلام په وجه به له هغه څخه خراج نه ساقطیږي:

ځکه چې د عشر په شان خراج هم مؤنة دی لهذا د بقاء په حالت کې به هم هغه مؤنة شمارل کیږي یعني پر مسلمان که څه هم ابتداءً خراج واجبدلای نه سي لېکن بقاءً هغه خراج ورکولای سي. ځکه چې بقاء له ابتداء څخه زیاته سپکه او آسانه ده.

همدارنګه د مسلمان لپاره له ذمي څخه خراجي ځمکه رانیول جائز دي. او تر رانیولو وروسته چې څرنګه له ذمي څخه خراج اخیستل کیږي همداسي به له دغه رانیونکي مسلمان څخه هم خراج اخیستل کیږي.

ځکه چې په دې کې د مؤنة معنیٰ سته نو د ځمکي محصول به په هر صورت کې ورکول کیږي.

د دې یو واضح دلیل د صحابه وو عمل هم دی چې هغو خراجي ځمکي رانیولي وې او د هغه خراج به یې ورکوی، لکه څرنګه چې په روایاتو کې د حضرت ابن مسعود، حضرت خباب بن الأرت او حضرت حسین بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په هکله د خراجي ځمکو د رانیولو او د خراج اداء کولو واقعات موجود دي. همدارنګه عامر بن عتبه بن فرقد سلمي وحضرت عمر ﷺ ته وویل: "إني اشتریتُ أرضاً بالسواد. فقال عمر ﷺ: أنت فیها بمنزلة صاحبها". یعني ما په عراق کې ځمکه رانیولې ده. نو حضرت عمر ﷺ ورته وفرمایل چې څرنګه د هغه ځمکي پر مالک خراج لازم وو، ته به هم هغسي خراج اداء کوې. له دې څخه معلومه سوه چې د مسلمان لپاره خراجي ځمکه رانیول صحیح دي او تر دې وروسته به هغه هم خراج اداء کوي.

عشر او خراج سره جمع کول

وَلَا عُشْرَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ او د خراجي ځمکي په پیداوار کې عشر نسته وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې عشر او خراج به دواړه سره جمع کیږي [یعني دواړه به اخیستل کیږي] لِأَنَّهُمَا حَقَّانِ مُخْتَلِفَانِ وَجَبَا فِي مَحَلَّيْنِ بِسَبَبَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ ځکه چې دواړه جلا [بېلا بېل] حقونه دي کوم چې په دوو جلا سببونو سره په دوو محلونو کې واجب سوي دي فَلَا يَتَنَافَيَانِ لهذا یو به د بل منافي نه وي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: لَا يَجْتَمِعُ عُشْرٌ وَخَرَاجٌ فِي أَرْضِ مُسْلِمٍ زموږ دلیل د نبي ﷺ دا إرشاد دی: چې: د یو مسلمان په ځمکه کې عشر او خراج جمع کېدلای نه سي وَلِأَنَّ أَحَدًا مِنْ أَئِمَّةِ الْعَدْلِ وَالْجَوْرِ لَمْ يَجْمَعْ بَيْنَهُمَا او ځکه چې [د مسلمانانو] له امامانو څخه یوه امام هم (هغه که عادل وي، که ظالم) دا دواړه سره جمع کړي نه دي وَكَفَى بِإِجْمَاعِهِمْ حُجَّةً او د دوی اجماع د حجت لپاره کافي ده وَلِأَنَّ الْخَرَاجَ يَجِبُ فِي أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً قَهْرًا او ځکه چې خراج په داسي ځمکه

[1] تخریج: أخرجه ابن أبي شیبة في مصنفه باب أواخر الزكاة.

کي واجبيږي کوم چي په زور او غلبه سره فتح کړی سوې وي وَالْعُشْرُ فِي أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا طَوْعًا او عشر په هغه ځمکه کي واجبيږي چي د هغې خلګو په رضا سره اسلام راوړی وي وَالْوَصْفَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي أَرْضٍ وَاحِدَةٍ او دا دوه وصفونه [قهر او طوع] په يوه ځمکه کي جمع کېدای نه سي وَسَبَبُ الْحَقَّيْنِ وَاحِدٌ وَهُوَ الْأَرْضُ النَّامِيَةُ او د دواړو حقونو سبب يو دی او هغه نما کونکې ځمکه ده إِلَّا أَنَّهُ يُعْتَبَرُ فِي الْعُشْرِ تَحْقِيقًا وَفِي الْخَرَاجِ تَقْدِيرًا خو په عشر کي دا سبب حقيقتاً معتبر دی او په خراج کي تقديراً معتبر دی وَلِهٰذَا يُضَافَانِ إِلَى الْأَرْضِ همدا وجه ده چي دوی دواړه [عشر او خراج] د ځمکي وطرف ته منسوب کيږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الزَّكَاةُ مَعَ أَحَدِهِمَا او پر همدغه اختلاف د عشر يا خراج سره د زکاة جمع کول دي وَلَا يَتَكَرَّرُ الْخَرَاجُ بِتَكَرُّرِ الْخَارِجِ فِي سَنَةٍ او په يوه کال کي د پيداوار په مکرر کولو سره خراج نه مکرر کيږي لِأَنَّ عُمَرَ لَمْ يُوَظِّفْهُ مُكَرَّرًا ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه هغه مکرر نه دي ټاکلی بِخِلَافِ الْعُشْرِ په خلاف د عشر لِأَنَّهُ لَا يَتَحَقَّقُ عُشْرًا إِلَّا بِوُجُوبِهِ فِي كُلِّ خَارِجٍ ځکه چي عشر [فقط] هغه وخت ثابتيږي کله چي په هر پيداوار کي عشر واجب سي.

اللغات: ﴿طوعاً﴾ په رضا او خوښي سره. ﴿نامية﴾ وده کونکې. ﴿لم يوظفه﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: وظيفه او محصول مقرر کول. ټاکل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زموږ په نېز عشر او خراج جمع کول صحيح او جائز نه دي. بلکي له خراجي ځمکي څخه به فقط خراج اخيستل کيږي او له عشري ځمکي څخه به فقط عشر اخيستل کيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز عشر او خراج دواړه جمع کېدای سي په دې کي هيڅ حرج نشته.

د امام شافعي دليل: دا دی چي عشر او خراج دواړه دوه مختلف او بېلابېل حقونه دي په دې توګه چي په يوه کي (په عشر کي) د عبادت معنیٰ سته او په بل کي د عقوبت معنیٰ سته او دا دواړه په دوو مختلفه سببونو سره په دوو مختلفه ځايونو (محلونو) کي واجب دي، ځکه چي د عشر د وجوب سبب نماء حقيقي ده او د خراج د وجوب سبب قدرة على الزراعه دی. او بل دا چي خراج د ځمکي د مالک پر ذمه واجبيږي او د عشر تعلق د خارج يعني د پيداوار سره وي. لنډه دا چي دا دواړه په هره توګه يو له بل څخه مختلف او جلا دي، نو په دې وجه د دوی په اجتماع کي هيڅ منافات نشته.

زموږ دليل: دا حديث دی: "لا يجتمع عشر وخراج في أرض مسلم" چي د مسلمان په ځمکه کي عشر او خراج دواړه جمع کېدای نه سي، له دې حديث څخه معلومه سوه چي عشر او خراج دواړه په يوه ځمکه کي جمع کېدای نه سي، او قاعده دا ده چي کله په يو مسئله کي صريح نص موجود وي نو په هغه کي به له قياس څخه کار نه اخيستل کيږي، لهذا د دې نص په مقابله کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل بې حيثيته دی.

زموږ عقلي دليل دا دی چي د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسه پوري يوه امام هم عشر او خراج سره جمع کړي نه دي هغه که عادل امام وي او که ظالم، او د هغو دا فعل زموږ لپاره قوي حجت دی. زموږ دريم دليل دا دی چي خراج په غلبةً او قهراً فتح کړل سوي ځمکه کي واجبيږي لېکن عشر د هغه ځمکي محصول دی چي د هغې اوسېدونکو په رضا سره اسلام راوړی وي. او ښکاره خبره ده چي غلبةً او طوعاً يو ځای سره جمع کېدای نه سي نو عشر او خراج به څرنګه يو ځای سره جمع کړی سي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چي "دواړه په دوو مختلفه سببونو سره واجبيږي" صحيح نه ده، بلکي دواړه په يوه سبب سره واجبيږي او هغه سبب د ځمکي نماء ده خو په عشر کي دا سبب حقيقتاً معتبر دی او په خراج کي تقديراً معتبر دی لېکن أصلاً د دواړو سبب يو دی همدا وجه ده چي د عشر او خراج دواړو نسبت د ځمکي وطرف ته کيږي او "عشر الأرض" او "خراج الأرض" ويل کيږي.

وعلى هذا الخلاف إلخ: فرمايي چي زموږ او د شوافعو چي کوم اختلاف د عشر او خراج په اجتماع او عدمِ اجتماع کي دی هغه اختلاف د عشر يا خراج سره د زکاة په اجتماع او عدمِ اجتماع کي هم دی. نو که يو څوک د تجارت په نيت سره عشري يا خراجي ځمکه رانيسي نو زموږ به په نېز په هغې کي زکاة نه واجبيږي.

ولا يتكرر الخراج إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په يوه کال کي دوه واره په خراجي ځمکه کي پيداوار وسي نو دوه واره به خراج نه واجبيږي، ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه مکرر خراج نه دی مقرر کړی، او څرنګه چي په دې سلسله کي حضرت عمر ﷺ أصلُ الاصول دی لهذا کله چي له هغه څخه تکرار ثابت نه دی نو بل به هيڅوا ته هم د تکرار حق نه وي. د دې په خلاف که چيري په عشري ځمکه کي د کاله دوه واره پيداوار وسي نو له هغه څخه به دوه واره عشر اخيستل کيږي. ځکه چي د عشر تعلق د خارج (پيداوار) سره دی نو د هغه وجوب به هم د خارج په حساب سره وي او د خارج مطابق به عشر واجبيږي. والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْجِزْيَةِ

(دا) باب د جزيې (د أحکامو په بيان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې د ځمکې د خراج بيان وسو او س له دې ځايه د ذات او رأس خراج يعني د جزيې بيان کيږي. او د ځمکې د خراج د مُقدّم کولو وجه دا ده چې د ځمکې د خراج او عشر دواړو سَبب يو دی او په عشر کې د قربت او عبادت معنیٰ سته او قربت له عقوبت څخه مخکې وي. نو په دې وجه صاحب د کتاب د ځمکې خراج د رأس او ذات له خراج څخه مخکې بيان کړی دی.

د "جزيـة" لغوي معني ده: بدله، جمع يې جُزٰی راځي لکه د لحيـة جمع چې لُحٰی راځي. او د "جزية" اصطلاحي معنیٰ ده: هغه مال کوم چې له ذمي څخه د هغه د ذات په بدله کې اخيستل کيږي.

د جزيې اقسام او د مقدار بيان

وَهِيَ عَلٰى ضَرْبَيْنِ: جِزْيَةٌ تُوضَعُ بِالتَّرَاضِي وَالصُّلْحِ جزيه پر دوه قسمه ده: ① هغه جزيه کوم چې ايو د بل] په رضا او صلح سره مقرره کړی سي فَتَتَقَدَّرُ بِحَسَبِ مَا يَقَعُ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ نو دا به په هغه مقدار سره اندازه کيږي چې پر هغه اتفاق واقع سي [مطلب دا چې د دې مقدار به هغه وي کوم چې په اتفاق او تراضي سره ويا کل سي] كَمَا صَالَحَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَهْلَ نَجْرَانَ عَلٰى أَلْفٍ وَمِائَتَيْ حُلَّةٍ [1] لکه څرنگه چې رسول الله ﷺ د نجران د خلکو سره پر دوونس سوو (۱۲۰۰) جوړو [جامو] باندې صلح وکړه وَلِأَنَّ الْمُوجِبَ هُوَ التَّرَاضِي او ځکه چې د مال واجبونکی شی [يو د بل] رضا ده فَلَا يَجُوزُ التَّعَدِّي إِلٰى غَيْرِ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ لهذا پر کوم مقدار چې اتفاق واقع سوی وي تر هغه به تجاوز کول جائز نه وي وَجِزْيَةٌ يَبْتَدِئُ الْإِمَامُ وَضْعَهَا إِذَا غَلَبَ الْإِمَامُ عَلَى الْكُفَّارِ وَأَقَرَّهُمْ عَلٰى أَمْلَاكِهِمْ ② او دويم قسم هغه جزيه ده کوم چې يې امام [پر کفارو] ابتداءً مقرره کړي [په هغه وخت کې] کله چې امام پر کفارو غالب سي او هغوی پر خپلو ملکيتونو باقي پريږدي فَيَضَعُ عَلَى الْغَنِيِّ الظَّاهِرِ الْغِنٰى فِي كُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا يَأْخُذُ مِنْهُمْ فِي كُلِّ شَهْرٍ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ نو د کوم مالدار مالداري چې ښکاره وي

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الخراج، باب في أخذ الجزية، رقم الحديث: ۳۰۴۱

امام به پر هغه په هر کال کي اته ځلوېښت [۴۸] درهمه مقرر کوي او له هغو [مالدارانو] څخه به هره میاشت څلور درهمه اخلي وَعَلَى وَسَطِ الْحَالِ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمَيْنِ او پر مینځوي درې والا به څلورویښت [۲۴] درهمه مقرر کوي، په هره میاشت کي دوه درهمه وَعَلَى الْفَقِيرِ الْمُعْتَمِلِ اِثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمًا او پر کار کونکي [کزاره کېدونکي] غریب به دوولس [۱۲] درهمه مقرر کوي، په هره میاشت کي یو درهم وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا [تفصیل] زموږ په نېز دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَضَعُ عَلَى كُلِّ حَالِمٍ دِينَارًا أَوْ مَا يَعْدِلُ الدِّينَارَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي امام به پر هر بالغ یو دینار یا دیوه دینار سره برابر مال به مقرر کوي وَالْغَنِيُّ وَالْفَقِيرُ فِي ذٰلِكَ سَوَاءٌ او مالدار او غریب دواړه په دې کي برابر دي [یعني په دې کي به د مالدار او غریب تر مینځ فرق نه کیږي] لِقَوْلِهِ عليه السلام لِمُعَاذٍ❷: خُذْ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ وَحَالِمَةٍ دِينَارًا أَوْ عِدْلَهُ مَعَافِرَ ځکه چي نبي کريم ﷺ حضرت معاذ ته وفرمایل: چي له هر بالغ سړي او بالغي ښځه څخه یو دینار یا د هغه سره برابر یمني جامه ځني اخله! مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ [دا حدیث] له څه فرق [او تفصیل] څخه بغیر [وارد سوی] دی وَلِأَنَّ الْجِزْيَةَ إِنَّمَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْقَتْلِ او ځکه چي جزیه د قتل په عوض کي واجبیږي حَتّٰى لَا تَجِبَ عَلَى مَنْ لَا يَجُوزُ قَتْلُهُ بِسَبَبِ الْكُفْرِ كَالذَّرَارِيِّ وَالنِّسْوَانِ همدا وجه ده چي پر هغه کس نه واجبیږي چي د کفر په وجه د هغه قتلول جائز نه وي لکه نابالغه بچیان او ښځي وَهٰذَا الْمَعْنٰى يَنْتَظِمُ الْفَقِيرَ وَالْغَنِيَّ او دا معنیٰ فقیر او غني دواړو ته شاملیږي وَمَذْهَبُنَا مَنْقُولٌ عَنْ عُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيٍّ او زموږ مذهب له حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه نقل سوی دی وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِمْ أَحَدٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ او له مهاجرینو او انصارو څخه هیچا پر دې نکیر کړی نه دی [یعني هیچا په دې باره کي منع او انکار کړی نه دی] وَلِأَنَّهُ وَجَبَ نُصْرَةً لِلْمُقَاتِلَةِ او په دې وجه [هم] چي جزیه د مجاهدینو د نصرت [امداد] لپاره واجب سوې ده فَتَجِبُ عَلَى التَّفَاوُتِ بِمَنْزِلَةِ خَرَاجِ الْأَرْضِ لهذا د ځمکي د خراج په څیر به جزیه [هم] په تفاوت سره واجبیږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ وَجَبَ بَدَلًا عَنِ النُّصْرَةِ بِالنَّفْسِ وَالْمَالِ او په

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الزكاة، رقم الحديث:١٥٧٦.

دې وجه [هم] چې جزيه د ځان او مال د نصرت په بدل کې واجب سوې ده وَذٰلِكَ يَتَفَاوَتُ بِكَثْرَةِ الْوَفْرِ وَقِلَّتِهِ او دا شی دمال په کموالي او زياتوالي سره متفاوت کيږي. فَكَذَا مَا هُوَ بَدَلُهُ لهذا د هغه بدل [عوض] به هم متفاوت کيږي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلٰى أَنَّهُ كَانَ ذٰلِكَ صُلْحًا او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه پر صلح محمول دی وَلِهٰذَا أَمَرَهُ بِالْأَخْذِ مِنَ الْحَالِمَةِ همدا وجه ده چې [په هغه کې] نبي کريم ﷺ حضرت معاذ ته له بالغي ښځي ښځه د جزيې اخيستلو حکم کړی دی وَإِنْ كَانَتْ لَا يُؤْخَذُ مِنْهَا الْجِزْيَةُ حال دا چې له ښځي ښځه جزيه نه اخيستل کيږي.

اللغات: ﴿تُوضَعُ﴾ د فتح مضارع مجهوله ده: ايښوول، مقرر کول (ټاکل). ﴿تراضی﴾ د تفاعل مصدر دی: خپل مينځوي رضامندي، يو د بل رضا کېدل، يو تر بله رضا کېدل (په خپل مينځ کې د خلکو پر يو شي رضا کېدل). ﴿حُلَّة﴾ جوړه، نوې جامه (کپړه). ﴿التعدّی﴾ د تفعّل مصدر دی: تجاوز کول، تر حدّ تېرېدل. ﴿حَالِم﴾ بالغ. ﴿معافر﴾ يمني جامه (کپړه، ټوکر). ديمن جامه. ﴿ذراری﴾ کوچني بچيان. ﴿نصرة﴾ مدد، مرسته، امداد. ﴿وفر﴾ پوره کېدل، ډېرېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې جزيه پر دوه قسمه ده: (۱) اول قسم هغه جزيه ده کوم چې په صلح او مصالحت سره پر مسلمانانو او کافرانو وټاکل سي. د دې حکم دا دی چې پر څومره مقدار صلح سوې وي هغومره مقدار به واجب وي او تر هغه زيات مقدار به اخيستل جائز نه وي. لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ د نجران د خلکو سره د جامو په (۱۲۰۰) جوړو صلح کړې وه. (۲) دويم قسم هغه جزيه ده کوم چې امامُ المسلمين قهراً او غلبةً يو ځمکه فتح کړي او د هغه ځای پر خلکو جزيه لازم کړي. زموږ په نېز د دې تفصيل دا دی چې امام به له مالدار کس څخه په هره مياشته کې څلور (۴) درهمه اخلي کوم چې د کاله (۴۸) دراهم کيږي او له متوسط کس څخه به هره مياشته دوه (۲) درهمه اخلي او له کزاره کېدونکي غريب څخه به هره مياشته يو (۱) درهم اخلي.

د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به امام په دغه دويم قسم کې پر هر بالغ سړي او ښځي باندې يو دينار مقرر کوي هغه که مالدار يا غريب وي يا ديوه دينار په اندازه جامې يا بل سامان به پر مقرر کوي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی چې نبي کريم ﷺ حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه ته وفرمايل: "خُذْ مِن حَالِمٍ أو حَالِمَةٍ دينارًا أو عدله معافر" (اې معاذ! له هري بالغ سړي او بالغي ښځي ښځه يو دينار اخله! يا ديوه دينار سره برابر يمني جامه [کپړه] ځني اخله!). په دې حديث کې په ښکاره توګه پر

بالغ سړي او بالغې ښځې يو دينار واجب سوی دی او د غني او فقير هيڅ تفصيل پکښې ذکر سوی نه دی، نو ځکه به له تفصيل او فرق څخه بغير به پر ټولو يو دينار لازم وي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چې جزيه د قتل عوض ده يعني د جزيې په وجه کفار او ذميان له قتل څخه ساتل کيږي او په دغه سبب او بدل کې غني او فقير دواړه برابر دي. نو ځکه به پر دواړو په مساوي توګه يو دينار لازم وي.

زموږ دليل: ومذهبنا إلخ: زموږ دليل دا دی چې حضرت عمر رضی الله عنه په همدغه تفصيل سره پر غني، متوسطُ الحال او فقير باندې جزيه مقرر کړې وه، او تر هغه وروسته حضرت عثمان او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په همدغه طريقه عمل کړی وو، او يوه صحابي به هم پر دې نکير نه وو کړی چې د هغه په وجه دا عمل د إجماع شکل اختيار کړی، او إجماع له شرعي حجتونو څخه يو قوي حجت دی.

زموږ عقلي دليل دا دی چې جزيه د مجاهدينو د نصرت او امداد لپاره ټاکل کيږي. لهذا څرنګه چې خراج د مجاهدينو د نصرت لپاره ټاکل کيږي او هغه په متفرقه توګه مقررول کيږي همداسې به جزيه هم په متفرقه توګه مقررول کيږي. په متفرق توګه د جزيې د مقرر کولو يو دليل دا دی چې کوم کفار د مسلمانانو تر حکم او قبضه لاندې وي پر هغو د مسلمانانو نصرت کول واجب دي. لېکن کله چې کافر په ذهني توګه د دارُ الحرب وطرف ته ميلان کوي او په خپل ځان او مال سره د مسلمانانو مدد نه کوي، نو له هغه څخه اخيستل سوې جزيه د هغه د ځان او مال بدل ده. او په ځان سره او مال سره د مدد کولو صورتونه مختلف او بدل دي نو ځکه به د جزيې وجوب هم د حالاتو مطابق بدلول کيږي او غريب او مالدار ټولو ته به په يوه نظر سره نه کتل کيږي بلکې پر هر يوه به د خپل حال مطابق جزيه ټاکل کيږي.

پاته سو هغه حديث کوم چې امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل دليل کې پېش کړی دی. نو هغه د جزيې د اول قسم يعني د صلح د صورت سره متعلق دی. ځکه چې په هغه حديث کې له ښځې څخه هم د جزيه اخيستلو حکم ذکر سوی دی حالانکې له ښځې څخه جزيه نه اخيستل کيږي. او زموږ بحث او کلام د جزيې د دويم قسم په هکله دی، لهذا په دې دويم قسم کې په هغه حديث سره دليل نيول صحيح نه دي.

له اهل کتاب او مجوسيانو څخه جزيه اخيستل

قَالَ: وَتُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمَجُوْسِ فرمايي: چي پر اهلِ کتابو او مجوسو به هم جزيه مقررول کيږي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ [التوبة: ۲۹] ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: چي د اهلِ کتابو سره [وجنګيږئ!] تر دي چي هغوی جزيه درکړي وَوَضَعَ [1] رَسُولُ اللهِ ﷺ الْجِزْيَةَ عَلَى الْمَجُوسِ [همدارنګه] نبي کريم ﷺ پر مجوسو جزيه مقرره کړې ده قَالَ: وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَجَمِ فرمايي: چي د عجمو پر بُت پرستو به هم جزيه مقررول کيږي وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَقُولُ: إِنَّ الْقِتَالَ وَاجِبٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَقَاتِلُوهُمْ [البقرة: ۱۹۳] هغه فرمايي: چي [د کفارو سره] جنګ کول واجب دي، ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: او تاسي د هغوی سره وجنګيږئ! إِلَّا أَنَّا عَرَفْنَا جَوَازَ تَرْكِهِ فِي حَقِّ أَهْلِ الْكِتَابِ بِالْكِتَابِ وَفِي حَقِّ الْمَجُوسِ بِالْخَبَرِ لېکن موږ د اهلِ کتابو په حق کي د قتال پرېښوولو جواز [روايښت] په کتابُ الله سره او د مجوسو په حق کي د هغه جواز په حديث سره معلوم کړی دی فَبَقِيَ مَنْ وَرَاءَهُمْ عَلَى الْأَصْلِ نو ځکه له دوی څخه بغير د نورو په حق کي حکم پر خپل أصل [قتال کولو] پاته سو وَلَنَا: أَنَّهُ يَجُوزُ اِسْتِرْقَاقُهُمْ زموږ دليل دا دی: چي د دوی [بُت پرسته] غلامان جوړول جائز دي فَيَجُوزُ ضَرْبُ الْجِزْيَةِ عَلَيْهِمْ لهذا پر دوی به جزيه ټاکل [هم] صحيح وي إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَشْتَمِلُ عَلَى سَلْبِ النَّفْسِ مِنْهُمْ ځکه چي په دې دواړو [استرقاق او ضرب الجزيه] کي هر کار د دوی د ذات پر سلبولو مشتمل دی فَإِنَّهُ يَكْتَسِبُ وَيُؤَدِّي إِلَى الْمُسْلِمِينَ ځکه چي کافر مال ګټي او مسلمانانو ته يې ورکوي وَنَفَقَتُهُ فِي كَسْبِهِ او د هغه نفقه [هم] په ګټل سوي مال کي وي.

اللغات: ﴿عبدة﴾ جمع د عَابِدٌ ده: عبادت کونکي، أوثان جمع د وَثَنٌ ده: بُت، عبدةُ الأثاون: د بُتانو عبادت کونکي، بُت پرستان، آتش پرسته. ﴿استرقاق﴾ د استفعال مصدر دی: غلام جوړول، غلام ګرځول. ﴿ضرب﴾ د ضرب مصدر دی، د دې باب ډيري معناوي دي، دلته يې معنىٰ ده: "مقرر کول" او "ټاکل". ﴿سلب﴾ د نصر مصدر دی: سلبول، په زوره اخيستل، بې برخي کول. ﴿کسب﴾ ګټه، ګټل سوی مال.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجزية، باب الجزية، رقم الحديث: ۳۱۵۷.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د کفارو په شير له مجوسو او اهلِ کتابو څخه هم جزيه اخيستل صحيح او جائز دي؛ له اهل کتاب څخه د جزيې اخيستلو دليل د قرآن کريم دا آيت دی: "حتى يُعطوا الجزية عن يدٍ وهم صاغرون"، او له مجوسو څخه د جزيې اخيستلو دليل د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه دا روايت دی: "أن رسول الله ﷺ أخذها (أي الجزية) من مجوس هَجَر" يعني نبي کريم ﷺ د "هجر" له مجوسو څخه جزيه واخيستل.

همدارنګه له د عجمو له بتٌ پرستو څخه جزيه اخيستل هم زموږ په نېز جائز دي. لېکن د امام شافعي رحمه الله په نېز له هغو څخه جزيه اخيستل جائز نه دي؛ د امام شافعي دليل د قرآن کريم دا آيت دی: "وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ... إلخ". ځرنګه چې دا آيتِ کريمه عام دی او په دې کې د هر، هر کافر سره د قتال کولو حکم ثابت دی لېکن کوم کفار چې په بل نص سره مستثنیٰ ګرځول سي دي هغوی به مستثنیٰ وي او مجوس او اهلِ کتاب په قرآن او حديث سره مستثنیٰ سوي دي (ځکه په قرآن کي ذکر سوه چې "حتى يُعطوا الجزية" يعني له اهلِ کتابو څخه جزيه اخيستل کېدای سی، او په حديث کي ذکر سوه چې نبي کريم ﷺ د "هجر" له مجوسو څخه جزيه واخيستل)، نو ځکه دا دواړه جماعتونه له قتال څخه مستثنیٰ سوي او وتلي دي. نو اوس فقط بُت پرستان پاته سول او هغوی له قتال څخه مستثنیٰ سوي نه دي (ځکه چې د هغو د جزيې په باره کي هيڅ آيت او حديث ذکر سوی نه دی) لهذا د دوی په حق کي به أصل حکم يعني قتال کول باقي پاته وي. نو ځکه به د دوی سره فقط جنګ او قتال کيږي او جزيه به نه څني اخيستل کيږي.

زموږ دليل دا دی چې بُت پرسته خلک غلامان ګرځول صحيح دي لهذا پر دوی به جزيه مقرر کول هم صحيح وي. ځکه ځرنګه چې په غلام ګرځولو سره د دوی ذات او منفعت سلبيږي همداسي په جزيه مقرر کولو سره هم د دوی ذات او منفعت سلبيږي ځکه کافر چې څه ګټي هغه مسلمانانو ته ورکوي او ځرنګه چې په هغه کي د ده خرڅه او نفقه هم شامله وي نو په دې حواله سره د هغه ټوله څه سلبيږي او ځرنګه چې يو غلام خپل مال مالک ته سپاري دي بالکل همداسي د بُت پرستو معامله هم وي. نو ځکه به پر دوی جزيه لازمول هم جائز وي.

د عربو پر مشرکينو او پر مرتدينو د جزيې حکم

وَإِنْ ظُهِرَ عَلَيْهِمْ قَبْلَ ذٰلِكَ او که چيري تر جزيې لازمولو مخکي د عجمو پر بُت پرستو [د مسلمانانو] غلبه راسي فَهُمْ وَنِسَاؤُهُمْ وَصِبْيَانُهُمْ فَيْءٌ نو دوی او د دوی ښځي او بچيان به ټوله فئ وي لِجَوَازِ اسْتِرْقَاقِهِمْ ځکه چې دوی غلامان جوړول جائز دي وَلَا تُوضَعُ عَلَى عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَرَبِ وَلَا الْمُرْتَدِّينَ او د عربو پر بُت پرستو او مرتدينو به جزيه نه مقررول کيږي لِأَنَّ كُفْرَهُمَا قَدْ تَغَلَّظَ ځکه

چي د هغو کفر سخت [او سنګين] سو أَمَّا مُشْرِكُو الْعَرَبِ فَلِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَشَأَ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ کوم چي د عربو مشرکين [بُت پرستان] دي نو ځکه چي نبي ﷺ د دوی په مينځ کي را پورته سوی دی وَالْقُرْآنُ نَزَلَ بِلُغَتِهِمْ او قران د دوی په ژبه نازل سوی دی فَالْمُعْجِزَةُ فِي حَقِّهِمْ أَظْهَرُ لهذا د دوی په حق کي معجزه ډېره ښکاره ده وَأَمَّا الْمُرْتَدُّ فَلِأَنَّهُ كَفَرَ بِرَبِّهِ بَعْدَمَا هُدِيَ لِلْإِسْلَامِ وَوَقَفَ عَلَى مَحَاسِنِهِ او کوم چي مرتد دی نو ځکه چي هغه د خپل رب انکار وکړی وروسته تر دې چي هغه ته د اسلام هدايت وسو او د اسلام په ښېګڼو خبر سو فَلَا يُقْبَلُ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ إِلَّا الْإِسْلَامُ أَوِ السَّيْفُ نو ځکه به له دواړو ډلو څخه فقط إسلام يا توره قبلول کيږي زِيَادَةً فِي الْعُقُوبَةِ د دې لپاره چي [د دوی] سزا هم سخته سي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ يُسْتَرَقُّ مُشْرِكُو الْعَرَبِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د عربو مشرکين غلامان جوړېدلای سي وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا [ليکن] د امام شافعي جواب هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی وَإِذَا ظُهِرَ عَلَيْهِمْ او کله چي پر دوی [يعني د عربو پر مشرکينو او مرتدينو. د مسلمانانو] غلبه راسي فَنِسَاؤُهُمْ وَصِبْيَانُهُمْ فَيْءٌ نو د دوی ښځي او بچيان به فئ [غنيمت] وي لِأَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اِسْتَرَقَّ نِسْوَانَ بَنِي حَنِيفَةَ وَصِبْيَانَهُمْ لَمَّا ارْتَدُّوا وَقَسَّمَهُمْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ ځکه کله چي بنو حنيفه مرتد سول نو ابو بکر صديق رضي الله عنه د هغو ښځي او بچيان غلامان جوړ کړل او هغوی يې په مجاهدينو کي تقسيم کړل وَمَنْ لَمْ يُسْلِمْ مِنْ رِجَالِهِمْ او د دوی [مشرکينو او مرتدينو] له خلکو څه چي څوک اسلام نه راوړي قُتِلَ نو هغه به قتلول کيږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَا جِزْيَةَ عَلَى امْرَأَةٍ وَلَا صَبِيٍّ او پر ښځي او بچي جزيه نسته لِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْقَتْلِ أَوْ عَنِ الْقِتَالِ ځکه چي جزيه د قتل يا جنګ کولو په عوض کي واجب سوې ده وَهُمَا لَا يُقْتَلَانِ وَلَا يُقَاتِلَانِ او ښځه او بچی خو نه قتلول کېدای سي او نه دوی جنګ کولای سي لِعَدَمِ الْأَهْلِيَّةِ ځکه چي [په دوی کي] أهليت نسته.

اللغات: ﴿ظُهِرَ﴾ د فتح ماضي مجهوله ده: د دې باب په صله کي چي "علیٰ" ذکر سي نو د "غالبېدلو" او "قبضه کولو" په معنیٰ سره راځي. ﴿فَيْءٌ﴾ غنيمت. ﴿تغلظ﴾ د تفعّل ماضي ده: سختېدل. ﴿هُدِيَ﴾ د ضرب ماضي ده: هدايت کېدل، هدايت کول، لاربښوونه کول. ﴿وقف﴾ د ضرب ماضي ده. د دې باب په صله کي چي "عَلیٰ" راسي نو د "واقف کېدلو" او "خبرېدلو" په معنیٰ سره راځي.

تشريح: صورت دمسئلې: دا دى كه چيرې د عجمو پر بُت پرستو باندې له جزيې ټاكلو څخه مخكې مسلمانان پر دوى غالب سي نو د دوى ښځې او بچيان به ټوله غنيمت وي: ځكه كله چې دوى غلامان گرځول (يعني له دوى څخه غلامان جوړول) جائز دي نو دوى فئ او غنيمت گرځول هم جائز دي.

او د عربو پر بُت پرستو او مرتدينو جزيه مقررول صحيح نه دي. برابره ده مرتدين كه عرب وي او كه عجم وي، ځكه چې د عربو د مشركينو او مرتدينو دواړو كفر سخت او ډېر بد دى. د عربو د مشركينو كفر خو په دې وجه ډېر بد او ناوړه دى چې نبي كريم ﷺ په دوى كې را استول سوى او را پورته سوى دى، او قرآن كې د دوى په ژبه نازل سوى دى. نو د دوى په حق كې د نورو په نسبت نبوي او قرآني معجزه ډېره ښكاره او څرگنده ده. لهذا د دې باوجود اسلام نه راوړل او شرک كول ډېر غټ جرم دى، همدارنگه مرتد چې كله يو ځل اسلام راوړي. هدايت او لارښوونه حاصله كړي او د اسلام په ښېگڼو خبر سي، لېكن د دې باوجود له اسلام څخه منكر سي او مرتد وگرځي، نو دا هم يو غټ جرم دى، نو ځكه به د دې خلكو سزا هم سخته وي او له دوى څخه به يا اسلام قبلول كيږي يا به قتلول كيږي.

وعند الشافعي إلخ: فرمايي: چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د عربو مشركين هم غلامان جوړېدلاى سي، لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف زموږ دليل حجت دى چې د دوى كفر سخت او زيات بد دى.

وإذا ظهر إلخ: پاته عبارت واضح دى.

پر معذوره كسانو او بوډاگانو د جزيې حكم

قَالَ: وَلَا زَمِنٍ وَلَا أَعْمٰى فرمايي: چې پر شل او نابينا به [هم] جزيه نه مقررول كيږي وَكَذَا الْمَفْلُوجُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ او همدارنگه پر فلج [گوزڼ وهلي] او ډېر بوډا [به هم جزيه نه مقررول كيږي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چې موږ بيان كړى. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁: أَنَّهُ تَجِبُ إِذَا كَانَ لَهُ مَالٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى: چې كه د هغه سره مال وي نو جزيه به پر واجبيږي لِأَنَّهُ يُقْتَلُ فِي الْجُمْلَةِ إِذَا كَانَ لَهُ رَأْيٌ ځكه كه چيري هغه لره [په جنگ] كې رايه وي [يعني په جنگ كې مشوره وركولاى سي] نو هغه به قتلول كيږي [نو ځكه به جزيه هم ځني اخيستل كيږي] وَلَا عَلٰى فَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ او پر هغه فقير به [هم] جزيه نه مقررول كيږي كوم چې كار نه كوي [او گزاره يې نه كيږي] خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لَهُ إِطْلَاقُ حَدِيثِ مُعَاذٍ د هغه دليل د حضرت معاذ

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٢٩٢). [القول الراجح ج:١، ص:٢٩٣]

رضي الله عنه د حديث إطلاق دی [يعني هغه فرمايي چي د حضرت معاذ حديث مطلق دی] وَلَنَا: أَنَّ عُثْمَانَ رضي الله عنه لَمْ يُوَظِّفْهَا عَلَى فَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ او زموږ دليل دا دی: چي حضرت عثمان پر غير معتمل فقير جزيه مقرره نه کړه وَكَانَ ذَٰلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ او دا کار د صحابه وو په حضور [موجودگي] کي وسو وَلِأَنَّ خَرَاجَ الْأَرْضِ لَا يُوَظَّفُ عَلَى أَرْضٍ لَا طَاقَةَ لَهَا او ځکه چي د ځمکي خراج پر هغه ځمکي نه مقررول کيږي کوم چي [د کښت او کرني] طاقت نه لري فَكَذَا هٰذَا الْخَرَاجُ نو همداسي به دا خراج هم وي [يعني دا به هم پر قدرت نه لرونکي سړي نه واجبيږي] وَالْحَدِيثُ مَحْمُولٌ عَلَى الْمُعْتَمِلِ او د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث پر کار کونکي [گزاره کېدونکي] فقير محمول دی وَلَا تُوضَعُ عَلَى الْمَمْلُوكِ وَالْمُكَاتَبِ وَالْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ او پر مملوک، مکاتب، مدبر او أُم ولد به جزيه نه مقررول کيږي لِأَنَّهُ بَدَلٌ عَنِ الْقَتْلِ فِي حَقِّهِمْ ځکه چي جزيه د دوی په حق کي د قتل عوض ده وَعَنِ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا او زموږ په حق کي د نصرت عوض ده وَعَلَى اعْتِبَارِ الثَّانِي لَا تَجِبُ او پر دويم اعتبار [پر دوی] جزيه واجبېدلای نه سي فَلَا تَجِبُ بِالشَّكِّ لهذا د شک په وجه سره به جزيه نه واجبيږي وَلَا يُؤَدِّي عَنْهُمْ مَوَالِيهِمْ او د دوی له طرفه به خپل مالکان [هم] جزيه نه اداء کوي لِأَنَّهُمْ تَحَمَّلُوا الزِّيَادَةَ بِسَبَبِهِمْ ځکه چي د دې غلامانو په وجه به دوی د زيات بوج اخيستونکي سي [يعني د غلامانو په وجه به پر مالکانو زيات بوج لازم سي] وَلَا تُوضَعُ عَلَى الرُّهْبَانِ الَّذِينَ لَا يُخَالِطُونَ النَّاسَ او پر هغه راهبانو به هم جزيه نه مقررول کيږي کوم چي د خلکو سره گډون نه کوي [يعني د خلکو سره هيڅ تعلق او اړيکي نه ساتي] كَذَا ذَكَرَ هٰهُنَا دلته امام قدوري رَحِمَهُ الله داسي ذکر کړي دي وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ تُوضَعُ عَلَيْهِمْ إِنْ كَانُوا يَقْدِرُونَ عَلَى الْعَمَلِ او امام محمد رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله نقل کړي دي چي که دوی [راهبان] پر کار کولو قادر وي نو جزيه به پر مقررول کيږي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دی وَجْهُ الْوَضْعِ عَلَيْهِمْ: أَنَّ الْقُدْرَةَ عَلَى الْعَمَلِ هُوَ الَّذِي ضَيَّعَهَا پر دوی [راهبانو] د جزيې مقررولو وجه دا ده: چي هغه په خپله د کار کولو قدرت [او صلاحيت] ضايع کړی دی فَصَارَ كَتَعْطِيلِ الْأَرْضِ الْخَرَاجِيَّةِ نو دا داسي سو لکه خراجي ځمکه بې کاره پرېښوول وَوَجْهُ الْوَضْعِ

عَنۡهُمۡ: أَنَّهُ لَا قَتۡلَ عَلَيۡهِمۡ إِذَا كَانُوا لَا يُخَالِطُونَ النَّاسَ او له دوی څخه د جزيې ساقطېدلو وجه دا ده: چې که هغوی د خلګو سره ګډون نه کوي نو پر هغوی قتل نسته (يعني که چيري هغوی د خپلو کفارو سره تعلق نه ساتي، نو نه به قتلول کيږي) وَالۡجِزۡيَةُ فِي حَقِّهِمۡ لِإِسۡقَاطِ الۡقَتۡلِ او جزيه د دوی په حق کي د قتل ساقطولو په وجه واجبيږي (مطلب دا چي موږ ځکه له کفارو څخه جزيه اخلو چي هغوی د قتل مستحقين دی. ليکن موږ له هغو څخه د دې جزيې په عوض کي قتل ساقط کړی دی او هغه مو معاف کړي دي. لهذا کوم کفار چي د قتل مستحق نه وي يعني مخالطت نه کونکي راهبان، نو پر هغوی به څرنګه جزيه واجب کړی سي!) وَلَا بُدَّ أَنۡ يَكُونَ الۡمُعۡتَمِلُ صَحِيحًا او د معتمل فقير صحيح کېدل (روغوالی) ضروري دی وَيَكۡتَفِي بِصِحَّتِهِ فِي أَكۡثَرِ السَّنَةِ او د کال په زياتره په حصه کي به د هغه پر صحيت (روغتيا) اکتفاء کيږي.

اللغات: ﴿زَمِن﴾ شل. هغه کس چي پښې يا لاسونه يې کار نه کوي، معذور. ﴿مفلوج﴾ هغه کس چي د فالج (ګوزڼ) په ناروغۍ مبتلا وي. ګوزڼ وهلی. ﴿رأی﴾ د مشورې ورکولو صلاحيت (ورتيا). ﴿غير معتمل﴾ ناکارنده. نه کار کونکی. مراد ځني هغه غريب دئ چي ګزاره يې نه کيږي (أحسن الهداية). ﴿رهبان﴾ جمع د رَاهِب ده: د اهلِ کتابو عابد، زاهد، دنيا پرېښوونکی. له خلګو څخه ګوښه کېدونکی، کوښه ناست. ﴿لا يخالطون﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي صيغه ده: ګډون کول، ګډ ژوند کول، مراد ځني تعلق او اړيکي ختمول دي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي پر شل او شوټ، فلج، نابينا او ډېر بوډا باندي جزيه نسته؛ ځکه چي دغه کسان له قتل او قتال څخه عاجز دي. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که په دې کسانو کي ديوه سره مال وي نو پر هغه به جزيه لازم وي، ځکه چي هغه که څه هم قتال نه سي کولای ليکن د قتال په حواله سره مشوره ورکولای سي او د هغه مال هم په کار راتلای سي. نو ځکه به پر هغه جزيه واجب وي. زموږ په نېز پر غيرِ معتمل فقير (يعني پر هغه فقير چي کار نه کوي او هيڅ ګزاره يې نه کيږي) هم جزيه نسته. ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه جزيه سته؛ د هغه دليل د حضرت معاذ رضي الله عنه د حديث إطلاق دی چي په هغه که له څه تخصيص او تفصيل څخه بغير د "خذ من كل حالم دينارا" حکم وارد سوی دی. او غيرِ متعمل فقير هم په "حالم" کي داخل دی. نو ځکه به پر هغه هم جزيه واجب وي.

زموږ دليل دا دی چي عثمان بن حنيف ﷜ د عراق پر غير متعملو فقيرانو جزيه واجب نه کړه او دا عمل د صحابه وو او د حضرت عمر ﷜ د خلافت په زمانه کي وسو او هيچا هم پر غيرِ معتمل فقير د جزيي مقررولو خبره نه وکړه، او بل دا چي جزيه او خراج دواړه قريبُ المعنیٰ دي او کومه ځمکه چي د کښت او کرني طاقت نه لري او شيان پکښي راشنه کېدلای نه سي نو په هغه ځمکه کي خراج نه واجبيږي نو همداسي به جزيه هم پر هغه کس نه واجبيږي کوم چي د جزيې اداء کولو طاقت نه لري.

او د حضرت معاذ ﷜ په حديث سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل نيول صحيح نه دي، ځکه چي په هغه کي له فقير څخه معتمل فقير مراد دی.

ولايوضع إلخ: پر مملوک، مکاتب او داسي نورو باندي هم جزيه نشته؛ ځکه چي پر ذميانو د جزيې وجوب د هغوی د نه قتلولو او زموږ د مدد نه کولو په عوض او بدله کي دی، يعني پر ذميانو د جزيې د وجوب دوې وجهي او دوه طرفونه دي: ① يو دا چي موږ هغوی پر خپل کفر پرېږدو او نه يې قتل کوو، نو د دغه نه قتلولو په عوض کي به هغوی موږ ته جزيه راکوي، ② او بل دا چي هغوی زموږ نصرت او مدد نه کوي، نو د دې په بدل کي به موږ ته جزيه راکوي، او څرنګه چي مملوک او مدبر زموږ مدد نه سي کولای (ځکه چي هغوی د خپل مالک تر ولکه او قبضه لاندي وي)، نو د مدد نه کولو وجه او طرفه په هغو کي ثابتېدلای نه سي لهذا د مدد نه کولو په حواله سره خو پر هغو جزيه نه سي واجب کېدلای، پاته سو د قتل د عوض طرف، نو فقط د دې يوه طرف په وجه هم موږ پر هغو جزيه نه سو واجبولای. او د مملوک، مکاتب او داسي نورو له طرفه خپل مالک (مولیٰ) هم جزيه نه سي ور کولای، ځکه چي دا داسي دي لکه پر مالک دوه واره جزيه واجبول، او له يوه صنف څخه دوه واره جزيه اخيستل صحيح نه دي، ځکه چي دا سخت بوج او تکليف دی.

او پر هغو رَاهبانو کوم چي د خلګو سره هيڅ تعلق او اړيکي نه ساتي، پر هغو جزيه نشته. دا د قدوري حکم دی، لېکن له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د امام محمد رَحِمَهُ الله روايت دا دی چي که راهبان پر کار کولو قادر وي نو پر هغو به هم جزيه لازم وي، ځکه چي د قدرة علی العمل باوجود کار نه کول د هغو لوچکي او نامردي ده او د هغو له طرفه تعدیٰ ده، لهذا څرنګه چي په خراجي ځمکه کي د کښت او زراعت د طاقت باوجود يو څوک پر هغې کښت او کرنه ونه کړي نو پر هغه ځمکي خراج واجبيږي همداسي به د قدرة علی العمل باوجود که څوک کار نه کوي نو پر هغه به هم جزيه لازم وي.

او امام قدري رَحِمَهُ الله چي پر راهبانو جزيه نه ده مقرر کړي، د هغه دليل دا دی چي جزيه د نه قتلولو

عوض ده، لېکن څرنګه چې داړيکو او تعلق نه ساتلو په وجه پر راهبانو قتل نسته نو ښکاره خبره ده چې پر هغو به جزيه هم نه وي.

او پر معتمل فقير به جزيه هغه وخت واجبيږي کله چې هغه روغ رمټ او صحيح سالم وي همدارنګه که هغه د کال په زياتره حصه کې صحيح سالم وي نو دا هم پر هغه باندې د جزيې د وجوب لپاره کافي دي، يعني په دې صورت کې به هم پر هغه جزيه واجبيږي.

د جزيه ورکونکي کس مړ کېدل يا اسلام راوړل

وَمَنْ أَسْلَمَ وَعَلَيْهِ جِزْيَةٌ او کوم کس چې اسلام راوړي په داسې حال کې چې پر هغه جزيه واجب وي سَقَطَتْ عَنْهُ نو له هغه څخه جزيه ساقطيږي وَكَذٰلِكَ إِذَا مَاتَ كَافِرًا او همدارنګه که هغه د کفر په حالت کې مړ سي [نو هم جزيه ځنې ساقطيږي] خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِيهِمَا د امام شافعي رَحِمَهُ الله په دواړو صورتونو کې اختلاف دی لَهُ: أَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْعِصْمَةِ أَوْ عَنِ السُّكْنٰى د امام شافعي دليل دا دی: چې جزيه خو د نفس د حفاظت يا د سکونت [استوګې] په عوض کې واجب سوې ده وَقَدْ وَصَلَ إِلَيْهِ الْمُعَوَّضُ او هغه ته معوّض رسېدلی دی فَلَا يَسْقُطُ عَنْهُ الْعِوَضُ بِهٰذَا الْعَارِضِ لهذا د دې عارض په وجه به له هغه څخه عوض نه ساقطيږي كَمَا فِي الْأُجْرَةِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ لکه په أجرت او صلح عن دم العمد کې چې [تاکل سوی مال له هغه څخه نه ساقطيږي] وَلَنَا: قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: لَيْسَ عَلٰى مُسْلِمٍ جِزْيَةٌ زموږ دليل د نبي ﷺ دا إرشا دی چې: پر مسلمان جزيه نسته وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ عُقُوبَةً عَلَى الْكُفْرِ او ځکه چې جزيه پر کفر د سزا په توګه واجب سوې ده وَلِهٰذَا تُسَمّٰى جِزْيَةً له همدې کبله جزيه ورته وايي وَهِيَ وَالْجَزَاءُ وَاحِدٌ او جزيه او جزاء [سزا] دواړه يو شی دی وَعُقُوبَةُ الْكُفْرِ تَسْقُطُ بِالْإِسْلَامِ او د کفر سزا د اسلام په وجه سره ساقطيږي وَلَا تُقَامُ بَعْدَ الْمَوْتِ او تر مرګ وروسته سزا جاري کېدای نه سي وَلِأَنَّ شَرْعَ الْعُقُوبَةِ فِي الدُّنْيَا لَا يَكُونُ إِلَّا لِدَفْعِ الشَّرِّ او ځکه چې په دنيا کې سزا فقط [د کافر] د شر ختمولو لپاره مشروع سوې ده وَقَدِ انْدَفَعَ بِالْمَوْتِ وَالْإِسْلَامِ حال دا چې په مرګ او اسلام سره [د هغه] شر ختم سو وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا او ځکه چې جزيه زموږ په

---

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الخراج باب في الذمي، رقم الحديث:٣٠٥٣ .

حق كي د نصرت د عوض په توګه واجب سوې ده ایعني څرنګه چي ذمیان زموږ (د مسلمانانو) امداد نه كوي، نو په دې وجه هم پر هغو جزيه واجب سوې ده. لكه مخكې چي په دې هكله بحث وسوا وَقَدْ قَدَرَ عَلَيْهَا بِنَفْسِهِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ او تر اسلام راوړلو وروسته هغه په خپله پر نصرت قادر سو وَالْعِصْمَةُ تَثْبُتُ بِكَوْنِهِ آدَمِيًّا او عصمت [حفاظت] خو د هغه د انسان كېدلو په وجه ثابت دی وَالذِّمِّيُّ يَسْكُنُ مِلْكَ نَفْسِهِ او ذمي د خپل ځان په ملكيت كي اوسيږي فَلَا مَعْنَى لِإِيجَابِ بَدَلِ الْعِصْمَةِ وَالسُّكْنَى لهذا د عصمت او سكونت په عوض كي د جزيې واجبولو لره هيڅ مطلب [او وجه] نسته.

اللغات: ﴿عصمة﴾ حفاظت، ساتنه. ﴿سكنى﴾ استوګنه، استوګه (اوسېدنه). سكونت. ﴿مُعوَّض﴾ د تفعيل له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: د كوم شي په بدله كي چي عوض وركول سي، هغه شي ته "معوّض" وايي. ﴿اندفع﴾ د انفعال ماضي ده: ليري كېدل. ختمېدل. ﴿إيجاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه يو سړی ذمي وي او پر هغه جزيه واجب وي. بيا اسلام راوړي. يا د كفر په حالت كي مړ سي، نو زموږ په دې دواړو صورتونو كي له هغه څخه جزيه ساقطيږي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نه د هغه د اسلام راوړلو په وجه جزيه ساقطيږي او نه د هغه د مړ كېدلو په وجه جزيه ساقطيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي جزيه د ذمي د نفس او ځان د حفاظت (عصمت) يا په دارُ الاسلام كي د هغه د سكونت (اوسېدلو) د عوض او بدل په توګه وجب ده. او كله چي ذمي دارُ الاسلام ته راسي نو هغه ته خپل معوّض حاصليږي يعني د هغه ځان هم محفوظه كيږي او هغه ته سكونت او استوګه هم حاصليږي، لهذا كله چي هغه ته د عوض په بدله كي معوّض حاصل سو نو د مرګ يا د اسلام د پېښېدلو په وجه به دا عوض نه ساقطيږي، لكه څرنګه چي ذمي په أجرت (كرايه) يو شی واخلي او له هغه څخه نفع حاصله كړي يا عمداً ناحقه قتل وكړي او د قتل په عوض كي پر مال صلح وكړي، نو د هغه په مړاګ يا اسلام راوړلو سره په أجرت يا صلح كي تاكل سوی مال نه ساقطيږي. همداسي به په دې مسئله كي هم د مرګ يا اسلام په وجه له ذمي څخه جزيه نه ساقطيږي.

زموږ دليل: دا حديث دی "ليس على مسلم جزية" يعني پر مسلمان جزيه نسته. او څرنګه چي پر مسلمان ابتداءً جزيه لازمول كېدای نه سي نو ځكه به له دې حديث څخه خامخا دا مراديږي چي كه ذمي اسلام راوړي نو پر هغه جزيه نسته. دويم دليل دا دی چي جزيه پر كفر باندي د باقي پاتېدلو سزا

ده حالانکي تر اسلام راوړلو وروسته د کفر سزا ختميږي "لأن الاسلام يهدم ما كان قبله". او تر مرګ وروسته هم پر چا سزا جاري کېداى نه سي، همدارنګه په دنيا کي پر کافر ځکه سزا مقررول کيږي چي د هغه شر دفع سي. او څرنګه چي د مرګ يا اسلام وجه دا شرط ختم سو او د جزيې د إيجاب مقصد حاصل سو. نو ځکه اوس د هغې د وجوب په باقي پرېښوولو کي هيڅ فايده نسته (نو ځکه به د هغې وجوب ساقطول کيږي او تر مرګ يا اسلام وروسته به جزيه نه واجبيږي).

د جزيې د اسقاط بل دليل دا دى چي پر ذمي د جزيې وجوب زموږ په حق کي د مدد او نصرت بدل دى. او د اسلام راوړلو په وجه ذمي او مَن كَانَتْ عَلَيْهِ الْجِزْيَةُ په خپله پر نصرت قادر سو. لهذا اوس به کار د أصل (نصرت) سره وي، نه د بدل سره: (ځکه پر اوبو چي انسان قادر سي، نو بيا د تيمم هيڅ ضرورت او روايښت نسته).

والعصمة إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي. حاصل يې دا دى چي جزيې ته د عصمت (حفاظت) بدل ويل صحيح نه دي. ځکه چي عصمت او سکونت په جزيه سره نه ثابتيږي. بلکي د آدميت او انسانيت په وجه ثابتيږي (يعني ذمي د انسان کېدلو په وجه په خپله محفوظ دى). همدرنګه ذمي په خپل ذاتي ملکيت کي استوګه او سکونت کوي (نه د بل چا په ملکيت کي)، لهذا جزيه د عصمت او سکونت بدل ګرځول صحيح نه دي.

په جزيه کي د تداخل بيان (او د علماؤ اختلاف)

وَإِنِ اجْتَمَعَتْ عَلَيْهِ الْحَوْلَانِ او که چيري پر يو ذمي د دوو کالو [جزيه] جمع سي تَدَاخَلَتْ نو په دواړو جزيو کي به تداخل کيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَمَنْ لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ خَرَاجُ رَأْسِهِ حَتّٰى مَضَتِ السَّنَةُ وَجَاءَتْ سَنَةٌ أُخْرٰى او په جامع صغير کي [ذکر سوي] دي: چي له کوم ذمي شخصه چي جزيه نه واخيستل سي تر دې چي کال تېر سي او بل کال راسي لَمْ يُؤْخَذْ نو له هغه شخصه به [د تېر سوي کال] جزيه نه اخيستل کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ◆: يُؤْخَذُ مِنْهُ او شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: له چي هغه شخصه به [د تېر سوي کال] جزيه [هم] اخيستل کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دى. وَإِنْ مَاتَ عِنْدَ تَمَامِ

◆ القول الراجح: قول أبى حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن نجيم المصرى رَحِمَهُ الله : والأصح أنه إذا دخلت السنة الثانية سقطت جزية السنة الأولى، لأن الوجوب بابتداء الحول...إلخ (البحر الرائق ج:٢، ص:٥٩٦)، وكذا في الدر المختار (ج:٣، ص:٢٩٥). [القول الراجح ج: ١، ص:٢٩٤]

السَّنَةِ او كه د كال پوره كېدلو سره هغه مړ سي [يعني كه تر كال پوره كېدلو وروسته هغه ذمي مړ سي] لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو له هغه څخه به د دوى ټولو په قول كي جزيه نه اخيستل كيږي وَكَذٰلِكَ إِنْ مَاتَ فِي بَعْضِ السَّنَةِ او همدارنګه كه هغه د كال په يو حصه كي [يعني د كال په دوران كي] مړ سي [نو هم به جزيه نه څني اخيستل كيږي] أَمَّا مَسْأَلَةُ الْمَوْتِ فَقَدْ ذَكَرْنَاهَا كوم چي د مرګ مسئله ده نو هغه موږ [مخكي] ذكر كړه وَقِيلَ: خَرَاجُ الْأَرْضِ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ او ويل سوي دي چي د ځمكي خراج هم پر دغه اختلاف دى وَقِيلَ: لَا تَدَاخُلَ فِيهِ بِالِاتِّفَاقِ او ويل سوي دي: چي د ځمكي په خراج كي به بالاتفاق [د ټولو په نيز] تداخل نه كيږي لَهُمَا: فِي الْخِلَافِيَّةِ أَنَّ الْخَرَاجَ وَجَبَ عِوَضًا په مختلف فيه مسئله كي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي خراج د عوض په توګه واجب سوى دى وَالْأَعْوَاضُ إِذَا اجْتَمَعَتْ وَأَمْكَنَ اسْتِيفَاؤُهَا او عوضونه چي كله سره جمع سي او د هغوى حاصلول [اخيستل] ممكن وي تُسْتَوْفَى نو هغوى به اخيستل كيږي وَقَدْ أَمْكَنَ فِيمَا نَحْنُ فِيهِ بَعْدَ تَوَالِي السِّنِينَ او په كومه مسئله كي چي موږ يو په هغه كي له څو پرلپسې كالو څخه وروسته هم [د جزيې] اخيستل ممكن دي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَسْلَمَ په خلاف د هغه صورت كله چي ذمي مسلمان سي لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ اسْتِيفَاؤُهُ ځكه چي [په هغه وخت كي] د هغه [جزيې] اخيستل مشكل وګرځي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهَا وَجَبَتْ عُقُوبَةً عَلَى الْإِصْرَارِ عَلَى الْكُفْرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي جزيه پر كفر باندي د ټينګار كولو [ټينګ پاتېدلو] په وجه د سزا په توګه واجب سوې ده عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لكه [مخكي] چي موږ د دې بيان وكړى وَلِهٰذَا لَا يُقْبَلُ مِنْهُ لَوْ بَعَثَ عَلَى يَدِ نَائِبِهِ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَاتِ همدا وجه ده كه چيري ذمي د خپل نائب په لاس [جزيه] وراستوي نو په صحيح روايت كي به له هغه څخه [جزيه] نه قبلول كيږي بَلْ يُكَلَّفُ أَنْ يَأْتِيَ بِهِ بِنَفْسِهِ فَيُعْطِيَ قَائِمًا وَالْقَابِضُ مِنْهُ قَاعِدٌ بلكي هغه به په دې مكلف كيږي چي خپله يې راوړي او [او امام ته دي يې] په ولاړي وركړي او امام دي يې په ناسته څني واخلي وَفِي رِوَايَةٍ: يَأْخُذُ بِتَلْبِيبِهِ وَيَهُزُّهُ هَزًّا وَيَقُولُ: أَعْطِ الْجِزْيَةَ يَا ذِمِّيُّ او په يوه روايت كي دي: چي امام دي هغه تر ګرېوان ونيسي او ودي يې ښوروي او داسي دي

ورته ووايي: اې ذمي! جزيه راكړه! وَقِيْلَ: عَدُوَّالله او يو قول دا دى: چې [داسې دي ورته ووايي] اې د الله دښمنه! فَثَبَتَ أَنَّهُ عُقُوبَةٌ نو ثابته سوه چي جزيه يو سزا ده وَالْعُقُوبَاتُ إِذَا اجْتَمَعَتْ تَدَاخَلَتْ كَالْحُدُودِ او سزاگاني چي كله سره جمع سي نو په هغوى كي تداخل كيږي لكه په حدونو كي [چي تداخل كيږي] وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْقَتْلِ فِي حَقِّهِمْ وَعَنِ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا او ځكه چي جزيه د ذميانو په حق كي د قتل د عوض په توگه واجب سوې ده او زموږ په حق كي د نصرت د عوض په توگه واجب سوې ده [يعني جزيه د ذميانو په حق كي د قتل عوض ده او زموږ په حق كي د نصرت عوض ده] كَمَا ذَكَرْنَا لكه [مخكي] چي موږ [دا خبره] ذكر كړه لَكِنْ فِي الْمُسْتَقْبَلِ لَا فِي الْمَاضِي لېكن دا د مستقبل لپاره دي نه د ماضي لپاره [يعني د قتل او نصرت تعلق د مستقبل سره دى، نه د ماضي سره] لِأَنَّ الْقَتْلَ إِنَّمَا يُسْتَوْفَى لِحِرَابٍ قَائِمٍ فِي الْحَالِ لَا لِحِرَابٍ مَاضٍ ځكه چي قتل په هغه جنگ كي كيږي كوم چي في الحاله موجود [شروع] وي، نه په تېر سوي جنگ كي [يعني جنگ چي كله تېر سي نو په هغه كي قتل كېداى نه سي، ځكه چي د ماضي دنده خو ختمه سوه] وَكَذَا النُّصْرَةُ فِي الْمُسْتَقْبَلِ همدارنگه نصرت هم د مستقبل سره متعلق دى لِأَنَّ الْمَاضِيَ وَقَعَتِ الْغُنْيَةُ عَنْهُ ځكه چي له ماضي څخه خو استغنا واقع سوه [يعني ځكه چي د ماضي دنده ختمه سوه، او له ماضي څخه استغناء او بې پروايي كيږي] ثُمَّ قَوْلُ مُحَمَّدٍ فِي الْجِزْيَةِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ وَجَاءَتْ سَنَةٌ أُخْرَى حَمَلَهُ بَعْضُ الْمَشَايِخِ عَلَى الْمُضِيِّ مَجَازًا بيا په جامع صغير كي د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: "وجاءت سنة أخرى" ځيني مشائخو [د دويم كال] پر تېرېدلو محمول كړى دى وَقَالَ: الْوُجُوبُ بِآخِرِ السَّنَةِ او فرمايلي يې دي: چي [د جزيې] وجوب د كال په آخري حصه كي كيږي فَلَا بُدَّ مِنَ الْمُضِيِّ لِيَتَحَقَّقَ الِاجْتِمَاعُ فَتَتَدَاخَلَ لهذا د كال تېرېدل ضروري دي چي اجتماع ثابته سي او تداخل وكړى سي وَعِنْدَ الْبَعْضِ هُوَ مُجْرًى عَلَى حَقِيقَتِهِ او د ځيني مشائخو په نېز هغه پر خپل حقيقت محمول دى وَالْوُجُوبُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بِأَوَّلِ الْحَوْلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د كال په اوله حصه [شروع] كي وجوب كيږي [يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د كال په شروع كېدلو سره جزيه واجبيږي] فَيَتَحَقَّقُ الِاجْتِمَاعُ بِمُجَرَّدِ الْمَجِيءِ لهذا محض [د دويم كال] په راتللو سره به اجتماع ثابته سي

وَالْأَصَحُّ: أَنَّ الْوُجُوبَ عِنْدَنَا فِي ابْتِدَاءِ الْحَوْلِ وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ فِي آخِرِهِ اعْتِبَارًا بِالزَّكَاةِ او صحيح خبره دا ده: چي زموږ په نيز وجوب د کال په شروع کې دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د کال په آخر کي دی، پر زکاة باندي په قياسولو سره وَلَنَا: أَنَّ مَا وَجَبَ بَدَلًا عَنْهُ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا فِي الْمُسْتَقْبَلِ او زموږ دليل دا دی: چي کوم شی د قتل په عوض کي واجب سوی دی [يعني جزيه] هغه فقط په مستقبل کي ثابتيږي عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ لکه موږ چي دا [خبره] ثابته کړه فَتَعَذَّرَ إِيجَابُهُ بَعْدَ مُضِيِّ الْحَوْلِ لهذ تر کال تېرېدلو وروسته د هغه واجبول مشکل دي فَأَوْجَبْنَاهُ فِي أَوَّلِهِ نو ځکه موږ د کال په اوله حصه [شروع] کي هغه واجب کړه.

اللغات: ﴿حول﴾ يو کال. ﴿تداخلت﴾ د تفاعل ماضي ده: يو په بل کي داخلېدل. يو تر بله سره ننوتل. ﴿خراج رأس﴾ د سر محصول. مراد ځني جزيه ده. ﴿أعواض﴾ جمع د عِوَض ده: بدل. هغه شی کوم چي يو چا ته د يو شي په بدله کي ورکول سي. ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: حاصلول. ترلاسه کول. اخيستل. ﴿توالي﴾ د تفاعل مصدر دی: پرلپسې کېدل (پرلپسې والی). ﴿تعذر﴾ د تفعّل ماضي ده: مشکل کېدل. ناممکن کېدل. ﴿تلبيب﴾ گرېوان. جمع: تلابيب. ﴿يهزّه﴾ د نصر مضارع ده: په زروه ښورول. ﴿مستقبل﴾ حال او استقبال دواړو ته وايي (يعني اوسنۍ زمانه او را روانه زمانه [راتلونکې زمانه]).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري يو ذمي د يوه کال جزيه نه ورکړي تر دې چي هغه کال تېر سي او بل کال راسي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د دويم کال په راتلو سره په دواړو جزيو کي تداخل کيږي او پر هغه به فقط يوه جزيه واجب وي، لېکن د صاحبينو او د امام شافعي ﷺ په نيز چي کله دويم کال راسي او ختم سي نو په هغه وخت کي به پر هغه ذمي د دواړو کالو جزيه واجب وي يعني د دې حضراتو په نيز به تداخل نه کيږي، او که چيري ذمي د کال تر پوره کېدلو وروسته مړ سي نو زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله ټولو په نيز به له هغه څخه جزيه نه اخيستل کيږي. د ځيني علماؤ رايه دا ده چي د خراج مسئله هم پر دغه اختلاف ده. يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به په خراج کي هم تداخل کيږي لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به تداخل نه کيږي، او د ځيني حضراتو رايه دا ده چي په خراج کي به د يوه امام په نيز هم تداخل نه کيږي.

لهما إن الخلافية إلخ: په مختلف فيه مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي جزيه د عوض په توگه واجب سوې ده (لکه مخکي چي موږ وويل)، او أعواض که چيري ډېر جمع سي او د هغو اخيستل ممکن وي (يعني پر يوه ځای د أعواضو اخيستل او ترلاسه کول ممکن وي) نو هغوی به اخيستل کيږي او په هغوی کي به تداخل نه کيږي. او څرنگه په دې مسئله کي (له ذمي څخه) د دوو کالو جزيه اخيستل ممکن دي. نو ځکه به د هر، هر کال جزيه اخيستل کيږي، ها! که چيري ذمي مسلمان سي نو بيا به له هغه څخه جزيه نه اخيستل

کیږي، ځکه چي د مسلمان تعظیم او احترام کول واجب دي، حال دا چي جزیه څني اخیستل د هغه توهین او سپکاوی دی.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي جزیه په کفر باندي د پاتېدلو او پر کفر د ټینګار کولو سزا ده (همدا وجه ده چي جزیه به فقط له ذمي څخه اخیستل کیږي او د هغه د نائب یا قاصد د لاس څخه به نه اخیستل کیږي)، او د سزا ګانو حکم دا دی چي که ډیري سزاګاني جمع سي نو په هغوی کي تداخل کیږي لکه څرنګه چي په حدّونو کي تداخل کیږي چي که یو سړی پر ډیرو خلکو تهمت ولګوي او پر هغه ډېر د قذف حدّونه واجب سي نو پر هغه به فقط یو حدّ جاري کیږي او په حدّونو کي به تداخل کیږي، او څرنګه چي جزیه هم سزا ده نو د جزیو د جمع کېدلو په وخت کي به هم تداخل کیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دویم دلیل دا دی چي جزیه د ذمیانو په حق کي د نه قتلولو عوض ده او زموږ په حق کي د نصرت نه کولو عوض او بدل ده یعني هغوی زموږ نصرت او مدد نه کوي او موږ جزیه څني اخلو او هغوی نه قتل کوو، او د قتل او نصرت تعلق د مستقبل سره دی نه د تیري سوي زماني (ماضي) سره، ځکه چي په وخت تېرېدلو سره په ماضي کي له واقع سوي فعل څخه استغناء او بې پروایي منځ ته راځي، لهذا په دې حواله سره به هم د تېرسوي وخت په جزیو کي تداخل کیږي.

ثم قول محمد إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله چي په جامع صغیر کي کوم قول ذکر کړی دی یعني "وجاءت سنة أُخرى"، له دې څخه د ځیني مشائخو په نیز د دویم کال تېرېدل مراد دي او د ځینو په نېز د دویم کال راتلل مراد دی او همدا د أحناف په نېز صحیح هم دي چي د جزیې نفسِ وجوب د کال په اوله حصه کي دی (یعني د کال په شروع کي جزیه واجبیږي)، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا وجوب د کال په آخري حصه کي دی لکه په زکاة کي چي هم د کال په آخري حصه کي وجوب راځي. زموږ دلیل دا دی چي جزیه بدل عن القتل والنصرة ده، او بدل فقط په مستقبل کي ثابتیږي، ځکه چي تر کال تېرېدلو وروسته بیرته هغه کال ماضي جوړیږي حال دا چي له ماضي څخه استغناء او بې پروایي کیږي، نو ځکه موږ په مستقبل کي هغه واجب کړې ده او د مستقبل تحقق او ثبوت د کال له شروع څخه کیږي. او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي هغه پر زکاة قیاسوي دا صحیح نه دي، ځکه چي د زکاة لپاره حولانِ حول شرط دی، او حول (کال) پر څلورو فصلونو او موسمونو مشتمل وي، نو ځکه زکاة مجبوراً او د ضرورت پر بناء د کال په آخري حصه کي واجب سوی دی. والله أعلم



فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ مَا يَجُوْزُ لَهُمْ أَنْ يَّفْعَلُوْا)

(دا) فصل (په بيان کې د هغو کارو دی کوم چې [د سکنۍ په هکله] ذميانو لره جائز) دي

په دارُ الاسلام کي کليسا او داسي نور جوړول

وَلَا يَجُوزُ إِحْدَاثُ بِيعَةٍ وَلَا كَنِيسَةٍ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ او په دارُ الاسلام کي ګرجا او کليسا جوړول جائز نه دي لِقَوْلِهِ الطَّيِّئَةِ [1] : لَا خِصَاءَ فِي الْإِسْلَامِ وَلَا كَنِيسَةَ ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: په اسلام کي خسي کېدل او کليسا نسته وَالْمُرَادُ إِحْدَاثُهَا او له دې څخه مراد له نوي سره د کليسا جوړول دي وَإِنْ انْهَدَمَتِ الْبِيَعُ وَالْكَنَائِسُ الْقَدِيمَةُ او که چيري ګرجا او پخوانۍ کليسا ونړيږي أَعَادُوهَا نو ذميان هغه دويم ځل [دوباره] جوړولای سي لِأَنَّ الْأَبْنِيَةَ لَا تَبْقَى دَائِمًا ځکه چي عمارتونه [ودانۍ] همېشه نه پاتيږي وَلَمَّا أَقَرَّهُمُ الْإِمَامُ فَقَدْ عَهِدَ إِلَيْهِمُ الْإِعَادَةَ او کله چي امام ذميانو ته [په دارُ الاسلام کي] د اوسېدلو اختيار ورکړي نو هغه [ګواکي] د دوی سره [د کليسا او داسي نورو] د دوباره جوړولو عهد هم وکړی إِلَّا أَنَّهُمْ لَا يُمَكَّنُونَ مِنْ نَقْلِهَا خو ذميانو ته به د کليسا [او داسي نورو] د نقل کولو قدرت [اجازه] نه ورکول کيږي لِأَنَّهُ إِحْدَاثٌ فِي الْحَقِيقَةِ ځکه چي نقل کول په حقيقت کي له نوي سره جوړول دي وَالصَّوْمَعَةُ لِلتَّخَلِّي فِيهَا بِمَنْزِلَةِ الْبِيعَةِ او صومعه [ديره] کوم چي د ګوښه ناستي لپاره وي هغه د ګرجې [او کليسا] په درجه کي ده بِخِلَافِ مَوْضِعِ الصَّلَاةِ فِي الْبَيْتِ په خلاف د هغه ځای کوم چي په کور کي د لمانځه لپاره [جوړ کړی سي] لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلسُّكْنَى ځکه چي هغه د استوګي [او مسکن] تابع دی وَهَذَا فِي الْأَمْصَارِ دُونَ الْقُرَى او دا [أحکام] په ښارونو کي دي، نه په أطرافو کي [قرٰی جمع د قرية ده، قرية هغه کلي ته وايي کوم چي د ښار په أطرافو يعني د صحرا په سيمه کي

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب السنن الكبرىٰ ج:١ ص:٤١

وي، چې هغه ته زموږ په اصطلاح أطراف يا صحرا وايي] لِأَنَّ الْأَمْصَارَ هِيَ الَّتِي تُقَامُ فِيهَا الشَّعَائِرُ ځکه چې ديني شعائر په ښارونو کي ترسره کيږي فَلَا تُعَارَضُ بِإِظْهَارِ مَا يُخَالِفُهَا لهذا په أطرافو کي د دې [کليسا او داسي نورو] ځرګندول [او جوړول] به د ديني شعارئو مخالف نه وي وَقِيلَ: فِي دِيَارِنَا يُمْنَعُونَ مِنْ ذٰلِكَ فِي الْقُرٰى أَيْضًا او ويل سوي دي: چې زموږ په علاقو کي به هم ذميان په أطرافو کي له دې کار څخه منع کول کيږي لِأَنَّ فِيهَا بَعْضَ الشَّعَائِرِ ځکه چې په أطرافو کي [هم] ځيني شعائر موجود وي وَالْمَرْوِيُّ عَنْ صَاحِبِ الْمَذْهَبِ فِي قُرَى الْكُوفَةِ او د مذهب له خاوند [يعني له امام صاحب رَحِمَهُ الله] څخه روايت سوی دی چې د کوفې په أطرافو کي جائز دي لِأَنَّ أَكْثَرَ أَهْلِهَا أَهْلُ الذِّمَّةِ ځکه چې د هغه زياتره اوسېدونکي ذميان دي وَفِي أَرْضِ الْعَرَبِ يُمْنَعُونَ مِنْ ذٰلِكَ فِي أَمْصَارِهَا وَقُرَاهَا او د عربو په ځمکه کي به ذميان له دې کار څخه په ښارونو او أطرافو دواړو کي منع کول کيږي لِقَوْلِهِ الطَّيِّلا: لَا يَجْتَمِعُ دِينَانِ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ [❷] ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: د عربو په جزيره [ځمکه] کي دوه دينونه سره يوځای کېدای نه سي.

اللغات: ﴿إحداث﴾ دا افعال مصدر دی: نوي جوړول، نوي پيدا کول. ﴿بيعة﴾ د عيسايانو او يهوديانو معبد (عبادتځی)، د کفارو معبد. ﴿كنيسة﴾ کليسا، د عيسايانو معبد (لغتپوهانو په دې کي اختلاف کړی دی، ځيني لغتپوهانو يې د دې برعکس معنیٰ کړې ده). ﴿صومعه﴾ هغه کوچنۍ حجره کوم چې يې راهب په يو ګوښه ځای کي د ځانله عبادت کولو لپاره جوړوي. ديره. ﴿خصاء﴾ خصي کېدل، خسي کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې په دارُ الاسلام کي کوم ذميان اوسيږي د هغو لپاره په دارُ الاسلام کي کنيسه او بيعه جوړول جائز نه دي؛ ځکه چې په حديث کي په ښکاره توګه دا خبره ذکر سوې ده چې په اسلام کي نه خسي کول جائز دي او نه کنيسه جوړل جائز دي؛ او په حديث کي د خصاء او کنيسه حکم ځکه يو ځای بيان سوی دی چې له نبي کريم ﷺ څخه دوو خلکو پر يوه ځای د خصاء او کنيسه په هکله پوښتنه وکړه، او نبي کريم ﷺ هم غالباً پر يوه ځای دواړو ته جواب

---

❷ تخريج: مصنف عبد الرزاق، باب إجلاء اليهود من المدينة ج:٦، ص:٤٤، رقم: ٢٧٨٢.

ورکړي. (بناية ج: ۶، ص: ۶۸۳)، ها! که چيري له مخکې څخه د يهوديانو او عسيايانو معبد (عبادتځی) موجود وي او نړېدلی وي نو د هغه بيا جوړول (ترميمول) او لاس پکښې وهل جائز دي: ځکه چې دا ښکاره خبره ده چې هيڅ ودانۍ او عمارت د همېشه لپاره پر خپل حال نه پاتېږي او په هغه کې خامخام جوړښت او ترميم ته ضرورت پيښېږي، او بل دا چې کله امام ذميانو ته په دار الاسلام کې د اوسېدلو اجازه ورکړي نو د اجازې په ضمن کې دا عهد (او تړون) هم راځي چې هغو ته به خپل پخواني معبدونه ورکول کيږي "لأنا أمرنا بترکهم وما يدينون". خو د نويو معبدونو د جوړښت اجازه به نه ورکول کيږي او نه به دا اجازه ورکول کيږي چې پخوانی معبد بل ځای ته نقل کړي. ځکه چې نقل هم په حقيقت کې إحداث دی. او په حديث کې له إحداث څخه منع سوې ده..

والصومعه: فرمايي هغه عبادتځای کوم چې يې راهبان له خلکو څخه د ګوښه کېدلو او ځانله عبادت کولو لپاره جوړوي د هغه حکم هم د کنيسه او بيعه د حکم په څېر دی يعني له نوي سره د هغه جوړول جائز نه دي لېکن ترميم پکښې کېدای سي. همدارنګه که يو ذمي په خپل کور کې د لمانځه او عبادت لپاره يو ځای متعين او جوړ کړي نو دا هم جائز دي: ځکه چې دا د هغه د خپل مکان او مسکن تابع دي، او هغه ته په خپل مکان کې د هر څه جوړولو اختيار سته.

وهذا في الأمصار إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې د ممانعت دا حکم د ښارونو سره متعلق دی او د ښار په أطرافو کې د دې هيڅ ممانعت نسته، ځکه چې په ښارو کې اسلامي شعائر موجود وي. لهذا د ښار په أطرافو او د صحرا په سيمو کې به ذميان له کنيسه او بيعه جوړولو څخه نه منع کيږي. لېکن د علامه شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې زموږ په علاقو کې به ذميان په أطرافو کې هم له دې کار څخه منع کيږي. ځکه چې په أطرافو کې هم اسلامي شعائر مثلاً أذان، د جماعت لمونځ او داسي نور موجود وي. لېکن له امام صاحب څخه رَحِمَهُ الله روايت سوی دی چې د کوفې په أطرافو کې به ذميان له دې څخه نه منع کيږي. ځکه چې د کوفې په أطرافو کې ذميان زياتره آباد دي او هلته مسلمانان کم دي او اسلامي شعائر هم کې دی. لهذا هلته د دې کار په جائز ګرځولو کې هيڅ حرج نسته. ها! د عربو په ځمکه کې به هيڅ ځای هم د دې اجازه نه ورکول کيږي هغه که ښار وي او که أطراف. ځکه په حديث کې ذکر سوي دي: "لا يجتمع دينان في جزيرة العرب".

په دارُ الاسلام کې د ذمیانو د اوسېدلو طور او طریقې

قال: وَيُؤْخَذُ أَهْلُ الذِّمَّةِ بِالتَّمَيُّزِ عَنِ الْمُسْلِمِينَ فِي زِيِّهِمْ وَمَرَاكِبِهِمْ وَسُرُوجِهِمْ وَقَلَانِسِهِمْ فرمايي: چې ذميانو ته به دا حکم کيږي [او بنديز به پر لګول کيږي] چې هغوی په خپل طرز [کړه وړه] او په خپلو سپارليو، په خپلو زينانو او په خپلو خوليو کې له مسلمانانو څخه توپير [او امتياز] راولي فَلَا يَرْكَبُونَ الْخَيْلَ وَلَا يَعْمَلُونَ بِالسِّلَاحِ نو هغوی دې پر آسونو نه سپريږي او نه دې وسله استعمالوي [يعني نه دې وسله ګرځوي] وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَيُؤْخَذُ أَهْلُ الذِّمَّةِ بِإِظْهَارِ الْكُسْتِيجَاتِ وَالرُّكُوبِ عَلَى السُّرُوجِ الَّتِي هِيَ كَهَيْئَةِ الْأُكُفِ او په جامع صغير کې دي: چې ذميانو ته به دا حکم کيږي چې خپلې پټياني وترې او پر هغه زينانو سپاره سي کوم چې د ځل په څېر وي وَإِنَّمَا يُؤْخَذُونَ بِذَلِكَ إِظْهَارًا لِلصَّغَارِ عَلَيْهِمْ وَصِيَانَةً لِضَعَفَةِ الْمُسْلِمِينَ او دوی ته به ځکه د دې حکم کيږي چې پر دوی خپل ټيټوالی [ذلت] څرګند سي [يعني دوی ته خپل رذالت ښکاره سي] او چې کمزوري مسلمانان له هغو څخه محفوظ سي وَلِأَنَّ الْمُسْلِمَ يُكْرَمُ وَالذِّمِّيَّ يُهَانُ او ځکه چې د مسلمان إکرام [عزت] کيږي او د ذمي سپکاوی کيږي وَلَا يُبْتَدَأُ بِالسَّلَامِ وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ الطَّرِيقُ او په سلام سره به [ذمي ته] شروع نه کيږي او پر هغه به لاره تنګول کيږي فَلَوْ لَمْ تَكُنْ عَلَامَةٌ مُمَيِّزَةٌ فَلَعَلَّهُ يُعَامَلُ مُعَامَلَةَ الْمُسْلِمِينَ لهذا که يو توپير کونکی علامت [نښاني] نه وي نو کېداى سي چې د ذمي سره هم د مسلمانانو په څېر معامله [او چلند] وسي وَذَلِكَ لَا يَجُوزُ حالانکې دا جائز نه دي وَالْعَلَامَةُ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ خَيْطًا غَلِيظًا مِنَ الصُّوفِ يَشُدُّهُ عَلَى وَسَطِهِ دُونَ الزُّنَّارِ مِنَ الْإِبْرَيْسَمِ او علامت دا دی چې ذمي پر خپل مينځ [يعني پر خپله ملا] له ورۍ څخه جوړ يو پنډ تار وتړي لېکن هغه به د وريښمو مزی نه وي فَإِنَّهُ جَفَاءٌ فِي حَقِّ أَهْلِ الْإِسْلَامِ ځکه چې دا د مسلمانانو په حق کې ظلم دی وَيَجِبُ أَنْ يَتَمَيَّزَ نِسَاؤُهُمْ عَنْ نِسَائِنَا فِي الطُّرُقَاتِ وَالْحَمَّامَاتِ او دا هم ضروري دي چې د ذميانو ښځې به د مسلمانانو ښځو د لارو او غسلخانو څخه جلا [او ليرې] اوو سي وَيُجْعَلُ عَلَى دُورِهِمْ عَلَامَاتٌ كَيْ لَا يَقِفَ عَلَيْهَا سَائِلٌ يَدْعُو لَهُمْ بِالْمَغْفِرَةِ او د ذميانو پر کورو به نښانياني کېښل کيږي [يعني د هغو کورونه به نښاني کيږي] د دې لپاره چې يو غوښتونکی [فقير] د هغو پر دروازه نه ودرېږي چې هغو ته د بخښنې دعاء وکړي

قَالُوا: الْأَحَقُّ أَنْ لَا يُتْرَكُوا أَنْ يَرْكَبُوا إِلَّا لِلضَّرُورَةِ مشائخو فرمايلي دي: غوره دا ده چي بېله ضرورت ته دي هغو ته د سپرېدلو اجازه نه ورکول کيږي وَإِذَا رَكِبُوا لِلضَّرُورَةِ فَلْيَنْزِلُوا فِي مَجَامِعِ الْمُسْلِمِينَ او کله چي د ضرورت په وجه هغوی سپاره سي نو چيري چي د مسلمانان مجمع وي هلته دي شوه کيږي فَإِنْ لَزِمَتْهُ ضَرُورَةٌ اتَّخَذُوا سُرُوجًا بِالصِّفَةِ الَّتِي تَقَدَّمَتْ او که چيري [اسپرېدلو ته] لازمي ضرورت وي نو هغوی دي د ځل په څير زينونه جوړ کړي وَيُمْنَعُونَ مِنْ لِبَاسٍ يَخْتَصُّ بِهِ أَهْلُ الْعِلْمِ وَالزُّهْدِ وَالشَّرَفِ او هغوی به له داسي کاليو څخه منع کيږي کوم چي د علماء، بزرگانو او د شريفو خلکو سره خاص وي.

اللغات: ﴿زِيّ﴾ شکل، طرز، کړه وړه. ﴿سروج﴾ جمع د سرج ده: زين. ﴿قلانس﴾ جمع د قلنسوة ده: خولۍ، رخچينه. ﴿أُكُف﴾ د خره او غاطري ځل. ﴿کستيجات﴾ جمع د کُسْتِيْجَةٌ ده: د کوتي په څير پنډه پټۍ (مزی) کوم چي به ذميانو د خپلو کاليو د پاسه تړی، مذهبي علامتي تار. ﴿غليظ﴾ پنډ. ﴿زنار﴾ هغه تار او پټۍ کوم چي يې هندوان او داسې نور د نکتايۍ په څير پر خپلو غاړو ځړوي.

تشريح: په دې ټوله عبارت کي دا مسئله ذکر سوې ده چي ذميان به په دارُ الاسلام کي په کوم طرز او طريقه سره اوسيږي او تر کومو اُصولو او قوانينو لاندي به ژوند تېروې. نور عبارت واضح او ښرگند دی، تشريح ته ضرورت نه لري، او مشکل الفاظ د "اللغات" په ضمن کي تشريح سول.

د ذمي د جرائمو سزا

وَمَنِ امْتَنَعَ مِنَ الْجِزْيَةِ او کوم ذمي چي له جزيې څخه انکار وکړي أَوْ قَتَلَ مُسْلِمًا يا يو مسلمان قتل کړي أَوْ سَبَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ يا نبي کريم ﷺ ته ښکنځا وکړي أَوْ زَنَى بِمُسْلِمَةٍ يا د مسلماني ښځي سره زنا وکړي لَمْ يُنْتَقَضْ عَهْدُهُ نو د هغه عهد به نه ماتيږي [يعني د هغه أمان به نه ختميږي] لِأَنَّ الْغَايَةَ الَّتِي يَنْتَهِي بِهَا الْقِتَالُ الْتِزَامُ الْجِزْيَةِ لَا أَدَاؤُهَا ځکه هغه غايت چي په هغه سره قتال منع کيږي پر ځان د جزيې لازمول دي، نه د جزيې اداء کول وَالِالْتِزَامُ بَاقٍ او التزام [اوس هم] پاته دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: سَبُّ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَكُونُ نَقْضًا امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نبي کريم ﷺ ته ښکنځا کول د عهد ماتول دي لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا يَنْقُضُ إِيمَانَهُ ځکه که چيري ښکنځا کونکی يو مسلمان

وي نو د هغه ايمان ختميږي فَكَذَا يَنْقُضُ أَمَانَهُ نو همداسي به د ذمي عهد هم [په سبّ او شتم سره] ختميږي إِذْ عَقْدُ الذِّمَّةِ خَلَفٌ عَنْهُ ځکه چي عند ذمه د ايمان خيفه [بدل] دی وَلَنَا: أَنَّ سَبَّ النَّبِيِّ ﷺ كُفْرٌ مِنْهُ زمونږ دليل دا دی: چي نبي کريم ﷺ ته ښکنځا کول کفر دی وَالْكُفْرُ الْمُقَارِنُ لَا يَمْنَعُهُ فَالطَّارِئُ لَا يَرْفَعُهُ او هغه کفر کوم چي د عقد ذمه [او عهد] سره متصل وو هغه د ده له ذمي والي څخه مانع نه دی نو طاري [اوسنی] کفر به هم د هغه عقد ذمه [او عهد] نه ماتوي قال: وَلَا يُنْتَقَضُ الْعَهْدُ إِلَّا أَنْ يَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوْ يَغْلِبُوا عَلَى مَوْضِعٍ فَيُحَارِبُونَنَا فرمايي: چي د ذمي عهد به نه ماتيږي مګر دا چي هغه دارُ الحرب ته ولاړ سي يا ذميان پر يو ځای غلبه [او قبضه] وکړي او زمونږ سره جنګ شروع کړي لِأَنَّهُمْ صَارُوا حَرْبًا عَلَيْنَا ځکه چي [په دې صورت کي] هغوی زمونږ په خلاف جنګ کونکي وګرځېدل فَيُعَرَّى عَقْدُ الذِّمَّةِ عَنِ الْفَائِدَةِ وَهُوَ دَفْعُ شَرِّ الْحِرَابِ نو عقد ذمه به له خپلي فايدې څخه خالي سي چي هغه د جنګ شر ختمول دي وَإِذَا نَقَضَ الذِّمِّيُّ الْعَهْدَ او کله چي ذمي عهد مات کړي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُرْتَدِّ نو هغه به د مرتد په درجه کي وي مَعْنَاهُ فِي الْحُكْمِ بِمَوْتِهِ بِاللَّحَاقِ يعني هغه به د مرتد په حکم کي وي چي دارُ الحرب ته په تللو سره به د هغه د مرګ فيصله کيږي لِأَنَّهُ الْتَحَقَ بِالْأَمْوَاتِ ځکه چي هغه د مړو سره يو ځای سو وَكَذَا فِي حُكْمِ مَا حَمَلَهُ مِنْ مَالِهِ همدارنګه هغه چي کوم مال د ځان سره يووسي هغه به هم د مرتد د مال په حکم کي وي إِلَّا أَنَّهُ لَوْ أُسِرَ يُسْتَرَقُّ بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ لېکن که هغه قيد کړی سي نو غلام به ګرځول کيږي، په خلاف د مرتد.

اللغات: ﴿امتنع﴾ د افتعال ماضي ده: منع کېدل، انکار کول. ﴿سبّ﴾ ښکنځا، ښکنځل، بد ورد. ﴿عهد﴾ وعده، تړون، قول، ژمنه، عهد او پيمان. ﴿الغاية﴾ آخري خبره، انتهاء. ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول، په خپله غاړه اخيستل. ﴿يسترق﴾ د استفعال له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده: غلام جوړول، غلام ګرځول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو ذمي له جزيې ورکولو څخه انکار وکړي يا يو مسلمان قتل کړي يا نعوذ بالله نبي کريم ﷺ ته ښکنځا او بد ورد ووايي يا د يوې مسلماني ښځي سره زنا وکړي، نو د دې جرائمو په وجه به د هغه عقد ذمه نه ماتيږي او د هغه أمان به نه ختميږي، بلکي باقي به پاته وي: ځکه چي عهد په جنګ کولو سره ماتيږي (چي ذمي د مسلمانانو سره جنګ شروع کړي)، يا هغه د أمان پ

وخت کي يو شرط لګولی وي او د هغه مخالفت وکړي، نو په دې سره عهد ماتيږي. او دلته هغه داسي نه دي کړي؛ لېکن د دې جرمو سزا به ورکول کيږي، مثلاً که جزيه نه اداء کوي نو جزيه به ځني اخيستل کيږي، او د مسلمان د قتل په بدله کي به هغه هم قتل کيږي، او نبي ﷺ ته د ښکنځا کولو په وجه به هغه مباحُ الدم ګرځي، او د مسلماني ښځي سره د زنا کولو په وجه به هغه د حدّ زنا مستحق وي.

لأن الغاية دا عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چي له قتال څخه چي کوم شی مانع هغه دی هغه د جزيې لازمول دي نه د جزيې اداء کول، يعني د مسلمانانو له طرفه د ذمي سره جنګ کول او د هغه قتلول په دې وجه منع سوي وو چي هغه د جزيې ورکول قبول کړي، او هغه د جزيې ورکول قبول کړه که څه هم نه يې ورکوي او انکار ځني وي، نو ځکه به اوس د هغه عهد نه ماتيږي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په نورو جرائمو سره به د هغه عهد نه ماتيږي. لېکن که هغه بدبخته نبي کريم ﷺ ته بد ورد ووايي نو د هغه عهد به د هغه پر مخ وهل کيږي، ځکه که يو مسلمان داسي ناوړه حرکت کوي نو د هغه ايمان سلبيږي، لهذا کله چي يو کافر ذمي داسي ګستاخي وکړي نو د هغه به هم عهد او أمان ختميږي؛ ځکه چي عقد ذمه د ايمان بدل دی. زموږ دليل دا دی چي نبي کريم ﷺ ته بد ورد ويل کفر دی، حالانکي د ذمي کفر د عقد ذمه له جواز څخه مانع نه دی ځکه چي هغه د همدغه کفر په حالت کي ذمي جوړيږي (يعني د عقد ذمه د کفر سره خاص دی)، نو کله چي ابتدائي کفر له ذميت څخه مانع نه دی نو طاري (او باقي) کفر به د عقد ذمه ختمونکی نه وي "لأن البقاء أسهل من الابتداء".

قال: ولاينقض إلخ: فرمايي که چيري ذمي دارُ الحرب ته ولاړ سي يا ذميان پر يو ځای قبضه وکړي او پر مسلمانانو حمله وکړي نو د دوی عهد وأمان ختميږي، ځکه چي په داسي کولو سره به هغوی زموږ په خلاف جنګ کونکي وګرځي او د عقد ذمه مقصد او د هغه منفعت يعني "دفع شرّ الحراب" به فوت سي.

او تر عهد ماتولو وروسته به د ذمي نفس او د هغه مال د مرتد د نفس او مال په حکم کي وي، ځکه چي هغه دارُ الحرب ته ولاړی او د کفارو سره يو ځای سو کوم چي يو ډول مړه دي، او که چيري د هغه ښځه په دارُ الاسلام کي وي نو د مرتد د ښځي په څير هغه هم بائنه ګرځي. همدارنګه که مسلمانان پر دارُ الحرب غالب سو نو د هغه أموال به غنيمت وي، لېکن د دې ذمي او مرتد په مينځ کي به فرق دا وي چي ذمي به تر قيدولو وروسته غلام ګرځول کيږي لېکن مرتد غلام نه سي جوړېدای. بلکي هغه ته به فقط دوه اختياره وي: ① يا به اسلام قبلوي ② يا به قتل ته ځان تياروي.



فَصْلٌ (فِيْ أَحْكَامِ نَصَارىٰ بَنِيْ تَغْلَبَ)

(دا) فصل (د بنو تغلب د نصارىٰ وو د أحکامو په بيان کې) دی

تشريح: د بنو تغلب أحکامو له نورو نصارىٰ وو څخه مختلف دي، نو په دې وجه د هغوی أحکام په جلا فصل کې بيانيږي.

د بنو تغلب د جزيې مقدار

وَنَصَارىٰ بَنِي تَغْلِبَ يُؤْخَذُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ مِنَ الزَّكَاةِ او د بنو تغلب د نصارىٰ وو له مالونو څخه به هغومره دوچنده اخيستل کيږي څومره چې له مسلمانانو څخه په زکاة کې اخيستل کيږي [زموږ د جمهورو علماؤ په نيز] لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَالَحَهُمْ عَلَى ذٰلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ ځکه چې حضرت عمر ﷺ د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په حضور کې پر همدغه مقدار د هغو سره صلح کړې وه وَيُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْ صِبْيَانِهِمْ او د هغو له ښځو څخه به [هم] اخيستل کيږي [لېکن] د هغو له کوچنيانو څخه به نه اخيستل کيږي لِأَنَّ الصُّلْحَ وَقَعَ عَلَى الصَّدَقَةِ الْمُضَاعَفَةِ ځکه چې صلح پر دوچنده صدقه واقع سوې وه وَالصَّدَقَةُ تَجِبُ عَلَيْهِنَّ دُوْنَ الصِّبْيَانِ او صدقه [فقط] پر ښځو واجبيږي، نه پر کوچنيانو فَكَذَا الْمُضَاعَفُ لهذا مضاعف [دوچنده مال] به هم [فقط] پر ښځو واجبيږي. وَقَالَ: زُفَرُ ❁: لَا يُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ أَيْضًا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغو له ښځو څخه به هم نه اخيستل کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ جِزْيَةٌ فِي الْحَقِيقَةِ ځکه چې دا په حقيقت کې جزيه ده عَلَى مَا قَالَ عُمَرُ: هٰذِهِ جِزْيَةٌ فَسَمُّوهَا مَا شِئْتُمْ لکه څرنګه چې حضرت عمر ﷺ فرمايلي وو: دا جزيه ده! تاسي چې کوم نوم غواړئ! هغه پر کښېږدئ! وَلِهٰذَا تُصْرَفُ مَصَارِفَ الْجِزْيَةِ همدا وجه ده چې هغه د جزيې په مصارفو کې خرچول کيږي وَلَا جِزْيَةَ عَلَى النِّسْوَانِ او پر ښځو جزيه نسته وَلَنَا: أَنَّهُ مَالٌ وَجَبَ بِهِ الصُّلْحُ زموږ دليل دا دی:

❁ القول الراجح: قول الجمهور، كما ذكر في الدر المختار (ج:٣، ص:٣٠٦). [القول الراجح ج:١، ص:٤٩٥]

چي دا يو داسي مال دی کوم چي د صلحي په ذريعه واجب سوی دی وَالْمَرْأَةُ مِنْ أَهْلِ وُجُوبِ مِثْلِهِ عَلَيْهَا او ښځه د دې خبري أهل ده چي پر هغې داسي مال واجب کړی سي وَالْمَصْرِفُ مَصَالِحُ الْمُسْلِمِينَ او [د دې مال] مصرف د مسلمانانو مصالح دي [يعني دا مال به د مسلمانانو د ښېګڼي په کارو کي خرڅول کيږي] لِأَنَّهُ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ ځکه چي دا د بيتُ المال مال دی وَذٰلِكَ لَا يَخْتَصُّ بِالْجِزْيَةِ او دا مصرف د جزيې سره خاص نه دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يُرَاعَى فِيهِ شَرَائِطُهَا آيا ته نه ګورې! چي په دې کي د جزيې د شرطونو رعايت نه کيږي.

اللغات: ﴿ضعف﴾ دوچنده، ﴿محضر﴾ حضور، موجوديت (موجودګي)، ﴿ستوها﴾ د تفعيل له باب څخه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: نوم ايښوول، نومول. ﴿تُصرف﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: صرفول، خرڅول. ﴿مصالح﴾ جمع د مصلحة ده: د ښېګڼي کارونه.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د بنو تغلب له نصارىٰ وو څخه چي کومه جزيه اخيستل کيږي، د هغه مقدار به د زکاة له مال څخه دوچنده وي، يعني له هغو څخه به په هرو سلو درهمو کي پنځه درهمه اخيستل کيږي؛ ځکه کله چي حضرت عمر ﷜ د بنو تغلب پر نصارىٰ وو جزيه لازم کړه، نو هغوی له دې څخه انکار وکړی او ويې ويل چي تاسو زموږ څخه د زکاة په اندازه مال واخلئ!، نو حضرت عمر ﷜ وفرمايل: "لا آخُذُ الصّدقة من مشرك" (زه له مشرک څخه صدقه نه اخلم). نو په دې وخت کي نعمان بن زرعه ﷜ وويل: اې اميرالمؤمنين! "خُذ منهم الصدقة بإسم الجزية" (يعني له هغو څخه د جزيې په نامه صدقه واخله!)، نو حضرت عمر ﷜ پر هغو د صدقې دوچنده مال مقرر کړی(بنايه)، او دا مال به د هغو له ښځو څخه هم اخيستل کيږي ليکن له بچيانو څخه به يې نه اخيستل کيږي، ځکه چي صلح پر دوچنده صدقه واقع سوې وه او صدقه پر ښځو واجب ده ليکن بچيان له دې وجوب څخه مستثنىٰ دي.

د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به له ښځو څخه هم جزيه نه اخيستل کيږي، ځکه چي دا په حقيقت کي جزيه ده او پر ښځو جزيه نسته. همدا وجه ده چي دا مال د جزيې په مصارفو کي خرڅول کيږي.

زموږ دليل دا دی چي دا د صلحي په نتيجه کي حاصلېدونکی مال دی او د صلحي مال پر ښځو هم واجبيږي. او دا خبره چي "دا مال د جزيې په مصارفو کي خرڅول کيږي" صحيح نه ده، ځکه

چې دا مال د مسلمانانو په فايدو او مصالحو کې خرچول کيږي، او دا مصالح د جزيې د أموالو سره خاص نه دي، بلکې په دوی کې هر ډول أموال مثلاً خراج او داسې نور ټول وي، همدا وجه ده چې دا مال د نائب په ذريعه هم اخيستل کيږي او په دې کې دا هم شرط نه دی چې ورکونکی (معطي) به پې په ولاړې ورکوي حالانکې په جزيه کې د دې شرطونو رعايت کيږي، له دې څخه هم معلومه سوه چې دا د صلحې مال دی، د جزيې مال نه دی.

د بنو تغلب د آزاد کړل سوو غلامانو حکم

وَيُوضَعُ عَلَى مَوْلَى التَّغْلِبِيِّ الْخَرَاجُ أَيْ الْجِزْيَةُ وَخَرَاجُ الْأَرْضِ بِمَنْزِلَةِ مَوْلَى الْقُرَشِيِّ او د هاشمي آزاد کړی سوي غلام په څير به د بنو تلغب پر آزاد کړی سوي غلام هم جزيه او خراج مقررول کيږي وَقَالَ: زُفَرُ ●: يُضَاعَفُ لِقَوْلِهِ عليه السلام: إِنَّ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې له هغه څخه به دوچنده اخيستل کيږي، ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: چې د يو قوم آزاد کړی سوی غلام له هغو څخه دی أَلَا تَرَى أَنَّ مَوْلَى الْهَاشِمِيِّ يَلْحَقُ بِهِ فِي حَقِّ حُرْمَةِ الصَّدَقَةِ آيا ته نه ګورې! چې د صدقې د حُرمت په حق کې د هاشمي آزاد کړی سوی غلام د هاشمي سره يو ځای کيږي وَلَنَا: أَنَّ هٰذَا تَخْفِيفٌ وَالْمَوْلَى لَا يَلْحَقُ بِالْأَصْلِ فِيهِ زموږ دليل دا دی: چې دا تخفيف دی او آزاد کړی سوی غلام به په تخفيف کې د أصل سره نه يو ځای کيږي وَلِهٰذَا تُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى مَوْلَى الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ نَصْرَانِيًّا همدا وجه ده که چيرې د مسلمان آزاد کړی سوی غلام نصراني وي نو پر هغه جزيه مقررول کيږي بِخِلَافِ حُرْمَةِ الصَّدَقَةِ لِأَنَّ الْحُرُمَاتِ تَثْبُتُ بِالشُّبُهَاتِ په خلاف د صدقې د حرام کېدلو، ځکه چې په شبهاتو سره [هم] حرمتونه ثابتيږي فَأُلْحِقَ الْمَوْلَى بِالْهَاشِمِيِّ فِي حَقِّهِ لهذا د حرمت په حق کې به د هاشمي مولیٰ د هاشمي سره يوځای کيږي وَلَا يَلْزَمُ مَوْلَى الْغَنِيِّ او د مالدار کس پر آزادي کړی سوي غلام اعتراض نه سي واردېدلای حَيْثُ لَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ لِأَنَّ الْغَنِيَّ مِنْ أَهْلِهَا ځکه چې پر هغه په دې وجه صدقه اخيستل حرام نه دي چې [په بنيادي توګه] په مالدار کس کې [هم] د صدقې اخيستلو أهليت وي وَإِنَّمَا الْغِنَى مَانِعٌ [فقط د هغه] مالداري له اخيستلو څخه مانع وي وَلَمْ يُوجَدْ فِي

● القول الراجح: قول الجمهور، كما ذكر في فتح القدير (ج:٥، ص:٣٠٥)، وكذا في الدر المختار (ج:٣، ص:٣٠٦). [القول الراجح ج:١، ص:٢٩٦]

حَقِّ الْمَوْلَىٰ او [دهغه] د آزاد کړی سوي غلام په حق کي دا خبره نسته أَمَّا الْهَاشِمِيُّ فَلَيْسَ بِأَهْلٍ لِهَذِهِ الصِّلَةِ أَصْلًا کوم چي هاشمي دی نو هغه بالکل د دې عطيې مستحق نه دی لِأَنَّهُ صِيْنَ لِشَرَفِهِ وَكَرَامَتِهِ عَنْ أَوْسَاخِ النَّاسِ ځکه چي هغه د خپل شرافت او ستر والي په وجه د خلکو له خيرو څخه ساتل سوی دی فَأُلْحِقَ بِهِ مَوْلَاهُ لهذا د هغه آزاد کړی سوی غلام هم د هغه سره لاحق کړی سو.

اللغات: ﴿مولىٰ﴾ ① آزاد کړی سوی غلام ② مالک. دلته ځني مراد اوله معنىٰ ده. ﴿صِين﴾ د نصر له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي مجهول صيغه ده: ساتل. ژغورل. حفاظت کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زموږ په نيز به د بنو تغلب د نصارىٰ وو پر آزاد کړی سوي غلامانو هم جزيه او د هغو په ځمکو کي خراج مقررول کيږي. خو د أصل يعني د بنو تغلب په څير به د هغو له غلامانو څخه دوچنده نه اخيستل کيږي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز به له تغلبي غلامانو څخه هم د بنو تغلب په څير دوچنده اخيستل کيږي. ځکه چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي "د قوم آزاد کړی سوي غلامان هم له هغه قوم څخه وي" يعني کوم أحکام او مسائل چي د قوم وي هغه أحکام د قوم د مواليو هم دي. او څرنګه چي له بنو تغلب څخه دوچنده اخيستل کيږي لهذا د هغو له مواليو څخه به هم دوچنده اخيستل کيږي لکه پر هاشمي کس چي صدقه حرامه ده نو د هغه د آزاد کړی سوي غلام لپاره هم صدقه اخيستل حرام دي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي په حقيقت کي له بنو تغلب څخه دوچنده اخيستل د هغو په حق کي تخفيف فى الذلة دی. يعني په دوچنده مال ورکولو کي د جزيې او خراج په نسبت ذلت او رسوايي کمه ده. لهذا دا تخفيف به د هغو د مواليو په حق کي نه ثابتيږي. لکه څرنګه چي پر مسلمان کس جزيه نسته لېکن که دا مسلمان کس يو نصراني غلام لري نو پر هغه جزيه لازم ده او د مسلمان مالک په حق کي چي جزيه معدوم ده. دا انعدام د هغه د غلام په حق کي مؤثر نه دی.

د دې په خلاف د صدقې د حُرمت مسئله ده نو د هاشمي پر مولىٰ (آزاد کړی سوي غلام) ځکه صدقه حرام ده چي په هاشمي کي خو بالکل د صدقې اخيستلو صلاحيت نسته او د خپل شرافت او ستروالي په وجه هغه په هيڅ حالت کي هم صدقه نه سي اخيستلای او څرنګه چي د هاشمي په غلام کي هم څه نا څه د هاشميت أثر او بوی راځي نو د دغه شبهې او أثر په وجه د هاشمي مولىٰ د صدقې په حرمت کي د هاشمي سره لاحق سوی دی.

مثلاً که يو سړی مالدار وي نو ښکاره خبره ده چې د هغه لپاره صدقه اخيستل حرام دي. لېکن دا حرمت د هغه د مولىٰ (آزاد کړی سوي غلام) په حق کې مؤثر نه دی او د هغه لپاره صدقه اخيستل حلال دي که چيرې هغه غريب وي، ځکه چې د هغه په أصل يعني په مالدار کې فى الجمله د صدقې اخيستلو صلاحيت موجود دی، فقط د غنىٰ د عارض په وجه د هغه لپاره صدقه حرام سوې ده. او څرنګه چې دا عارض د هغه په مولىٰ کې موجود نه دی، نو ځکه به د هغه د مولىٰ په حق کې صدقه اخيستل حلال او روا وي.

د خراج، جزيې او د حربيانو د هداياوو مصارف


قَالَ: وَمَا جَبَاهُ الْإِمَامُ مِنَ الْخَرَاجِ وَمِنْ أَمْوَالِ بَنِي تَغْلِبَ وَمَا أَهْدَاهُ أَهْلُ الْحَرْبِ إِلَى الْإِمَامِ وَالْجِزْيَةُ فرمايي: او امام چې له خراج او د بنو تغلب له مالونو څخه کوم مال جمع کړي او هغه مال کوم چې يې حربيان امام ته هديه کړي او جزيه تُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ كَسَدِّ الثُّغُورِ وَبِنَاءِ الْقَنَاطِرِ وَالْجُسُورِ دا به ټوله د مسلمانانو په مصلحتونو کې خرچول کيږي لکه سرحدونه مظبوطول، پلونه جوړول وَيُعْطَى قُضَاةُ الْمُسْلِمِينَ وَعُمَّالُهُمْ وَعُلَمَاؤُهُمْ مِنْهُ مَا يَكْفِيهِمْ او له هغه څخه به د مسلمانانو قاضيانو ته او عاملانو او علماؤ ته دومره مال ورکول کيږي کوم چې د هغو لپاره کافي وي وَيُدْفَعُ مِنْهُ أَرْزَاقُ الْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيهِمْ او له هغه مال څخه به مجاهدينو او د هغو بچيانو ته هم روزينه ورکول کيږي لِأَنَّهُ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ ځکه چې دا د بيتُ المال مال دی فَإِنَّهُ وَصَلَ إِلَى الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ قِتَالٍ ځکه چې دا له جنګ کولو څخه بغير مسلمانانو ته رسېدلی دی وَهُوَ مُعَدٌّ لِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ او بيتُ المال د مسلمانانو د مصالحو لپاره تيار سوی دی وَهَؤُلَاءِ عَمَلَتُهُمْ او دا خلک د مسلمانانو عمله [کار کونکي] دي وَنَفَقَةُ الذَّرَارِيِّ عَلَى الْآبَاءِ او د بچيانو نفقه پر خپلو پلرونو ده فَلَوْ لَمْ يُعْطَوْا كِفَايَتَهُمْ لَاحْتَاجُوا إِلَى الِاكْتِسَابِ نو که چيرې هغو ته د کفايت په اندازه مال نه ورکول سي نو هغوی به مال ګټلو [او مزدورۍ کولو] ته محتاج سي فَلَا يَتَفَرَّغُونَ لِلْقِتَالِ لهذا هغوی به جنګ کولو ته نه فارغيږي وَمَنْ مَاتَ فِي نِصْفِ السَّنَةِ او [له قاضيانو او داسي نورو څخه چې] کوم کس د کال په مينځ کې مړ سي فَلَا شَيْءَ لَهُ مِنَ الْعَطَاءِ نو له عطيې څخه به هغه ته هيڅ شی نه ورکول کيږي لِأَنَّهُ نَوْعُ صِلَةٍ وَلَيْسَ

بِدَيْنٍ ځکه چې هغه يو ډول صله ده او قرض نه دی وَلِهٰذَا سُمِّيَ عَطَاءً له همدې کبله هغه ته عطاء وايي فَلَا يَمْلِكُ قَبْلَ الْقَبْضِ لهذا تر قبضې مخکې به هيڅوک د هغه نه مالک کيږي وَيَسْقُطُ بِالْمَوْتِ او د مستحق په مرګ سره به ساقطيږي وَأَهْلُ الْعَطَاءِ فِي زَمَانِنَا مِثْلُ الْقَاضِي وَالْمُدَرِّسِ وَالْمُفْتِي وَاللّٰهُ أَعْلَمُ او د عطيې ورکولو أهل [حقداره] زموږ په زمانه کې قاضي، مدرس او مفتي دي، او الله ښه خبر لرونکی دی.

اللغات: ﴿جباه﴾ د ماضي صيغه ده، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي. جبیٰ يَجْبُوْ جَبًا وَجَبْوًا: خراج او محصول جمع کول. ﴿سدّ﴾ د نصر مصدر دی: بندول، مظبوطول. ﴿ثغور﴾ جمع د ثَغْرٌ ده: سرحد، وېش، پوله (باډر). ﴿قناطير﴾ جمع د قَنْطَرَةٌ ده: پُل، لوړ او غټ عمارت (ودانی). ﴿جسور﴾ جمع د جَسْرٌ او جِسْرٌ ده: پُل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د خراج، جزيې او د حربيانو د هديې کوم مالونه چې د امام سره جمع سي، امام ته پکار دي چې هغه ټوله أموال د مسلمانانو په مصالحو يعني د سرحدونو په مضبوطوالي او په پُل او داسې نورو ضروري تعميراتو کې خرچ کړي، او له هغه مالونو څخه دې قاضيانو، عاملانو او علماؤ ته تنخا ورکړي او مجاهدينو او د هغو أهل او عيال ته دې هم نفقه ځنې ورکړي، ځکه چې دا د بيتُ المال مال دی، او بيتُ المال د مسلمانانو په مصالحو او د هغو په مصائبو کې د کارولو لپاره جوړيږي، او څرنګه چې دا خلګ يعني قاضيان او داسې نور د مسلمانانو د تنظيم او ترقۍ لپاره کار کوي نو ځکه به د هغو روزينه او تنخا د مسلمانانو له مال يعني له بيتُ المال څخه ورکول کيږي. او څرنګه چې د أولاد نفقه د پلار پر ذمه وي نو په دې وجه امام ته پکار دي چې هر کس ته دومره مال ورکړي چې د هغه د ذاتي خرچې او د هغه د أهل او عيال د خرچې او ضرورياتو لپاره کافي سي او هغه د خپلو بچيانو د نفقې په فکر کې د کار او مزدوري کولو په هکله سوچ نه وکړي، ځکه که په دوی کې يو کس له خپل کار او دندې څخه منع سي نو د دې نقصان به خاص مسلمانانو ته ورسيږي.

ومن مات إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه قاضيانو او عاملانو ته د کال په آخر کې د ټوله کال تنخا ورکول کيږي، نو که له دوی څخه يو څوک د کال په مينځ کې مړ سي نو د هغه استحقاق ساقطيږي؛ ځکه چې دا عطيه ده قرض نه دی، او د عطيې حکم دا دی چې له قبضې څخه مخکې هيڅوک د عطيې مالک نه جوړيږي. او کوم کس چې مړ سي نو ښکاره خبره ده چې هغه قبضه نه ده کولای، نو ځکه به د کال په مينځ کې په مړه کېدلو سره استحقاق ختميږي، ها! که چيرې هغه د کال په آخر کې مړ سي نو په دې صورت کې د هغه وارث او قريب ته د هغه حصه ورکول کېدای سي. او په دې زمانه کې مفتي، قاضي او مُدرس هم په أهل عطاء کې شامل او داخل دي، لهذا د هغو به هم پوره خيال ساتل کيږي. والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ

(دا) باب له اسلام څخه د ګرځېدونکو خلګو (د أحکامو په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تـر دې د أصلي کفر أحکام بيان سول. اوس د طاري (او اوسني) کفر أحکام بيانيږي. ځکه چي طاري له أصلي څخه وروسته وي.

د مرتد أحکام

قال: وَإِذَا ارْتَدَّ الْمُسْلِمُ عَنِ الْإِسْلَامِ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ فرمايي: که چيري يو مسلمان (نعوذ بالله) له اسلام څخه وګرځيږي عُرِضَ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ نو پر هغه دي اسلام پيش کړی سي فَإِنْ كَانَتْ لَهُ شُبْهَةٌ كُشِفَتْ عَنْهُ او که هغه يوه شبهه لري نو هغه دي ځني ليري کړی سي لِأَنَّهُ عَسَاهُ اعْتَرَتْهُ شُبْهَةٌ فَتُزَاحُ ځکه کېدای سي چي هغه ته يو شبهه پېښه سوې وي نو هغه به [ځني] ليري کيږي وَفِيهِ دَفْعُ شَرِّهِ بِأَحْسَنِ الْأَمْرَيْنِ او په داسي کولو سره په دوو طريقو کي په غوره طريقه سره د هغه شر دفع کول دي إِلَّا أَنَّ الْعَرْضَ عَلَى مَا قَالُوا غَيْرُ وَاجِبٍ خو د مشائخو رَحِمَهُمُ الله د قول مطابق پر هغه اسلام پېشول واجب نه دي لِأَنَّ الدَّعْوَةَ بَلَغَتْهُ ځکه چي هغه ته د اسلام دعوت رسېدلی دی قال: وَيُحْبَسُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فرمايي: چي مرتد به درې ورځي قيدول کيږي فَإِنْ أَسْلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ که هغه اسلام راوړي [نو صحيح ده] کنې هغه به قتل کيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: الْمُرْتَدُّ يُعْرَضُ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا او په جامع صغير کي دي: چي پر مرتد به اسلام پېشول کيږي برابره ده هغه آزاد وي، که غلام وي فَإِنْ أَبَى قُتِلَ که هغه انکار وکړي نو هغه به قتل کيږي وَتَأْوِيلُ الْأَوَّلِ: أَنَّهُ يَسْتَمْهِلُ فَيُمْهَلُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ د اول قول تأويل دا دی: چي که مرتد مهلت وغواړي نو هغه ته به درې ورځي مهلت ورکول کيږي لِأَنَّهَا مُدَّةٌ ضُرِبَتْ لِإِبْلَاءِ الْأَعْذَارِ ځکه چي د عذرونو د پېشولو [او د هغوی د قبلولو] لپاره همدغه مودت ټاکل سوی دی وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ أَنْ يُؤَجِّلَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ طَلَبَ ذٰلِكَ أَوْ لَمْ يَطْلُبْ او له

شیخینو رَحِمَهُمَا الله څخه روایت سوی دی: چې تر دریو ورځو پورې مرتد ته مهلت ورکول مستحب دي برابره ده هغه مهلت وغواړي، که یې نه وغواړي وَعَنِ الشَّافِعِيِّ: أَنَّ عَلَى الْإِمَامِ أَنْ يُؤَجِّلَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ او له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چې پر امام لازم دي چې مرتد ته درې ورځې مهلت ورکړي وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَقْتُلَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ او تر دې مخکې د هغه قتل کول د امام لپاره روا نه دي لِأَنَّ ارْتِدَادَ الْمُسْلِمِ يَكُونُ عَنْ شُبْهَةٍ ظَاهِرًا ځکه چې د مسلمان مرتد کېدل په ظاهره د شبهې په وجه وي فَلَا بُدَّ مِنْ مُدَّةٍ يُمْكِنُهُ التَّأَمُّلُ لهذا دومره مودت [ورکول] ضروري دي چې د مرتد لپاره [په هغه مودت کې] غور او فکر کول ممکن وي فَقَدَّرْنَاهَا بِالثَّلَاثَةِ نو موږ هغه مودت په دریو ورځو سره اندازه کړی وَلَنَا قَوْله تَعَالَىٰ: فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ [التوبة: ٥] مِنْ غَيْرِ قَيْدِ الْإِمْهَالِ زموږ دليل د الله تعالیٰ دا فرمان دی: فاقتلوا المشرکین په دې آیت کې د مهلت ورکولو قید نسته وَكَذَا قَوْلُهُ الطَّيِّبِينَ❶: مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ او همدارنګه ﷺ دا إرشاد دی: څوک چې خپل دین بدل کړي نو تاسې هغه قتل کړئ! وَلِأَنَّهُ كَافِرٌ حَرْبِيٌّ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ او ځکه چې هغه داسې حربي کافر دی کوم ته چې د اسلام دعوت رسېدلی دی فَيُقْتَلُ لِلْحَالِ مِنْ غَيْرِ اسْتِمْهَالٍ لهذا هغه به له څه مهلت ورکولو څخه بغیر سمدستي [فورا] قتل کیږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ تَأْخِيرُ الْوَاجِبِ لِأَمْرٍ مَوْهُومٍ او دا [حکم] ځکه دی چې د شکمن کار په وجه واجب شی ځنډول جائز نه دي [او د مرتد اسلام راوړل موهوم او شکمن دي] وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْعَبْدِ لِإِطْلَاقِ الدَّلَائِلِ او د دلائلو د مطلقوالي په وجه په آزاد او غلام کې هیڅ فرق نسته وَكَيْفِيَّةُ تَوْبَتِهِ: أَنْ يَتَبَرَّأَ عَنِ الْأَدْيَانِ كُلِّهَا سِوَى الْإِسْلَامِ او د مرتد د توبې طریقه دا ده: چې له اسلام څخه بغیر نور له ټولو أدیانو څخه بېزاري ښکاره کړي [چې زه له اسلام څخه بغیر بل له هر دین څخه بېزاره یم] لِأَنَّهُ لَا دِينَ لَهُ ځکه چې [فی الحاله] هغه لره هیڅ دین نسته وَلَوْ تَبَرَّأَ عَمَّا انْتَقَلَ إِلَيْهِ او مرتد چې د کوم دین وطرف ته نقل سوی [او مائل سوی] وي که چیري [فقط] له هغه څخه بېزاري ښکاره کړي كَفَاهُ نو [هم] کافي دي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ ځکه چې مقصود حاصل سو.

❶ تخريج: أخرجه البخاری في كتاب الجهاد، باب لا يعذب بعذاب الله رقم الحديث: ٣٠١٧.

اللغات: ﴿ارتدّ﴾ د افتعال ماضي ده: كرځېدل، اوښتل، مرتد كېدل. ﴿عُرض﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده: پېشول، وړاندې كول. ﴿كُشفت﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده. ښكاره كول، لځول، د دې باب په صله كې چې "عَنْ" راسي، نو معنىٰ يې راځي: د يو شي پر ښكاره كولو مجبوره كول، حل كول، يعني د هغه شبهه دې حلّ كړى سي او د شبهې لېرې كولو دې كوښښ وسي. ﴿اعترته﴾ د افتعال ماضي ده: واردېدل، پېښېدل. ﴿فتُزاح﴾ د مؤنث غائب مضارع مجهول صيغه ده: لېرې كول. ﴿إبلاء﴾ د افعال مصدر دى: إبلاء دې ته چې د يو چا مخته عذر پېش كړى سي او هغه يې قبول كړي. يعني د يو چا مخته عذر پېشول او د هغه قبلول. له خپل ځان څخه د ملامتىٰ لېرې كولو لپاره عذر بيانول (مصباح اللغات). ﴿يوجّله﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع صيغه ده: وخت وركول، مودت ټاكل. ﴿إمهال﴾ د افعال مصدر دى: مهلت وركول. ﴿يبترّأ﴾ د تفعّل مضارع ده: بېزاره كېدل، د ناتعلقىٰ اعلان كول.

تشريح: د عبارت مطلب واضح دى چې په عامه توګه په دينِ اسلام كې د يو شبهې په وجه مسلمان مرتد كېږي، نو په دې وجه د مرتد تر وژلو مخكې د هغه شكوك او شبهات لېرې كول ضروري دي چې هغه مطمئن سي او دوباره اسلام راوړي، له همدې كبله د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مرتد ته درې ورځې مهلت وركول (إمهال) مستحب دي، لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز إمهال واجب دى: زموږ دليل دا دى چې د قرآن كريم دا آيت "فاقتلوا المشركين" د إمهال له قيد څخه خالي دى او په دې كې فوراً (بېله ځنډه) د مشركينو د وژلو حكم سوى دى. همدارنګه په دې حديث "من بدّل دينه فاقتلوه" كې هم فوراً د مرتد د وژلو حكم وارد سوى دى. لهذا مرتد ته مهلت وركول خو به مستحب وي لېكن واجب او لازم به نه وي.

د مرتد د توبې طريقه دا ده چې هغه له دينِ اسلام څخه بغير نور له ټولو أديانو څخه توبه وكړي او له ټولو څخه بېزاري او برائت ښكاره كړي. او كه مرتد فقط له هغه دين څخه بېزاري او برائت ښكاره كړي د كوم دين وطرف ته چې هغه مائل سوى وو نو دا هم صحيح دي. او په دې سره هم د هغه توبه او برائت ثابتېږي: ځكه چې مقصود حاصل سو او د هغه ارتداد ختم سو.

پر مرتد له اسلام پېشولو څخه مخكې هغه قتل كول

قال: فَإِنْ قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبْلَ عَرْضِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ فرمايي: كه پر مرتد له اسلام پېشولو څخه مخكې يو قاتل هغه قتل كړي كُرِهَ وَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ نو دا مكروه دي [لېكن] پر قاتل به هيڅ ضمان نه وي وَمَعْنَى الْكَرَاهِيَةِ هٰهُنَا تَرْكُ الْمُسْتَحَبِّ او دلته مكروه والى د مستحب پرېښوولو په معني سره دى

وَانْتِفَاءُ الضَّمَانِ لِأَنَّ الْكُفْرَ مُبِيحٌ لِلْقَتْلِ او ضمان په دې وجه نسته چي كفر قتل مباح (روا) ګرځوي وَالْعَرْضُ بَعْدَ بُلُوغِ الدَّعْوَةِ غَيْرُ وَاجِبٍ او تر دعوت رسېدلو وروسته اسلا پېشول واجب نه دي وَأَمَّا الْمُرْتَدَّةُ فَلَا تُقْتَلُ او كوم چي مرتده ښځه ده نو هغه به نه قتل كيږي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ تُقْتَلُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه به (هم) قتل كيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چي موږ روايت كړی وَلِأَنَّ رِدَّةَ الرَّجُلِ مُبِيحَةٌ لِلْقَتْلِ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ جِنَايَةٌ مُغَلَّظَةٌ او ځكه چي د سړي ارتداد د جرم د سختېدلو په حيثيت سره قتل روا ګرځوي فَتُنَاطُ بِهَا عُقُوبَةٌ مُغَلَّظَةٌ لهذا د دې جرم سره به سخته سزا هم متعلق كيږي وَرِدَّةُ الْمَرْأَةِ تُشَارِكُهَا فِيهَا او د ښځي ارتداد (هم) په دې جرم كي شريک دي فَتُشَارِكُهَا فِي مُوجِبِهَا لهذا هغه به د دې جرم په سزا كي (هم) شريک كيږي وَلَنَا: أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَام نَهَى عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ زموږ دليل دا دی: چي نبي كريم ﷺ د ښځو له قتلولو څخه منع كړې ده وَلِأَنَّ الْأَصْلَ تَأْخِيرُ الْأَجْزِيَةِ إِلَى دَارِ الْآخِرَةِ او په دې وجه (هم) چي د آخرت لپاره سزاګاني مؤخر كول أصل دي إِذْ تَعْجِيلُهَا يُخِلُّ بِمَعْنَى الِابْتِلَاءِ ځكه چي ژر سزا وركول د ابتلاء (او ازمايښت) په معنىٰ كي نقص (كمښت) راولي (يعني په دنيا كيَ په سزا وركولو سره سزا كميږي) وَإِنَّمَا عُدِلَ عَنْهُ دَفْعًا لِشَرٍّ نَاجِزٍ وَهُوَ الْحِرَابُ ليكن له دې أصل څخه په دې مقصد إعراض سوی دی چي فی الحاله پيدا كېدونكی شر يعني جنګ ختم سي وَلَا يَتَوَجَّهُ ذَلِكَ مِنَ النِّسَاءِ او له ښځو څخه د جنګ توقع نه كيږي لِعَدَمِ صَلَاحِيَةِ الْبِنْيَةِ ځكه چي (په ښځو كي) د جنګ كولو صلاحيت نه وي بِخِلَافِ الرِّجَالِ په خلاف د خلكو فَصَارَتِ الْمُرْتَدَّةُ كَالْأَصْلِيَّةِ لهذا مرتده ښځه د أصليه كافري په څير سوه قَالَ: وَلَكِنْ تُحْبَسُ حَتَّى تُسْلِمَ فرمايي: ليكن مرتده ښځه به قيدول كيږي تر دې چي هغه اسلام راوړي لِأَنَّهَا امْتَنَعَتْ عَنْ إِيفَاءِ حَقِّ اللهِ تَعَالَى بَعْدَ الْإِقْرَارِ ځكه چي هغې د حقَ الله تر اقرار كولو وروسته د هغه له پوره كولو څخه منع سوه فَتُجْبَرُ عَلَى إِيفَائِهِ بِالْحَبْسِ لهذا د قيد په ذريعه به هغه د حقَ الله پر پوره كولو مجبورول كيږي كَمَا فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لكه څرنګه چي په حقوقَ العبد كي (هم) دغه حكم دی (وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَتُجْبَرُ الْمَرْأَةُ عَلَى الْإِسْلَامِ حُرَّةً كَانَتْ أَوْ أَمَةً او په جامع صغير كي

دي: چې مرتده ښځه به د اسلام پر راوړلو مجبوروول کېږي برابره ده هغه آزاده وي. که مينځه وي **وَالْأَمَةُ يُجْبِرُهَا مَوْلَاهَا** او مينځه به خپل مالک مجبوره کوي **أَمَّا الْجَبْرُ فَلِمَا ذَكَرْنَا** کوم چې مجبوره کول دي نو په هغه وجه دي کوم چې موږ بيان کړه **وَمِنَ الْمَوْلَى لِمَا فِيهِ مِنَ الْجَمْعِ بَيْنَ الْحَقَّيْنِ** او [مينځه به] مالک څکه مجبوره کوي چې په دې کې د دواړو حقونو جمع کېدل [او رعايت] دی **وَيُرْوٰى: تُضْرَبُ فِي كُلِّ أَيَّامٍ مُبَالَغَةً فِي الْحَمْلِ عَلَى الْإِسْلَامِ** او روايت سوی دی: چې مينځه به هره ورځ وهل کېږي د دې لپاره چې پر اسلام په [د هغې] په آماده کولو کې مبالغه وسي.

اللغات: ﴿مبيح﴾ د افعال اسم فاعل دی: روا کونکی، حلال ګرځونکی. ﴿جناية﴾ جرم. ﴿مغلّظة﴾ سخت، سنګين (درون). ﴿تناط﴾ د مضارع مجهول صيغه ده: متعلق کېدل، مدار کېدل (أحسن الهدايه). ﴿تعجيل﴾ د تفعيل مصدر دی: تلوار کول، يو کار ژر کول. ﴿ناجز﴾ ژر کېدونکی (ژر پوره کېدونکی)، حاضر (اوسنی)، موجود.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نيز پر مرتد اسلام پېشول مستحب دي واجب نه دي، له همدې کبله که يو څوک قبل العرض مرتد قتل کړي نو پر هغه به ضمان واجب نه وي، ځکه چې د مرتد کفر د هغه قتل مباح او روا وګرځوی، هاا تر اسلام پېشولو مخکې د هغه قتلول مکروه او نامناسب کار دی. او که چېرې يوه ښځه مرتده سي نو زموږ په نيز به هغه نه قتلول کېږي لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به هغه هم قتلول کېږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې په دې حديث: "من بدّل دينه فاقتلوه" کې د "مَنْ" کلمه عامه ده کوم چې نر او ښځې دواړو ته شامله ده. او عقلي دليل يې دا دی چې ارتداد يو مغلظ او سخت جنايت دی نو مرتد د خپل جرم د سختوالي په وجه د سختې سزا يعني د قتل موجب دی. او ښځه په نفسِ ارتداد او نفسِ جنايت کې د هغه شريکه ده. لهذا کله چې د ښځې جنايت هم مغلظ او سخت دی. نو ښکاره خبره ده چې د هغې سزا به هم سخته اوي هغه به هم قتلول کېږي.

زموږ دليل: دا دی چې نبي کريم ﷺ د ښځو له قتلولو څخه منع کړې ده. نو په دې وجه د ښځو قتلول جائز نه دي، او بيا دارُ الآخرة د سزا کور (دارُ الجزاء) دی او سزاګاني مؤخّر کول أصل دي نو په دې وجه به هم ښځې ته په دنيا کې د خپل ارتداد سزا نه ورکول کېږي. او همدا أصل د سړي په هکله هم دی، لېکن د سړي د شريعني د جنګ ختمولو او دفع کولو په خاطر د هغه په حق کې له دغه أصل څخه اعراض سوی دی او هغه ته په دنيا کې سزا ورکول سوې ده. او څرنګه چې په ښځو کې د جنګ او قتال صلاحيت نسته نو ځکه د هغوی په حق کې دغه أصل پر خپل مخکني حالت پاته دی. او مرتده

ښځه د کافري ښځي په څير ده ځرنګه چي کافره ښځه نه قتلول کيږي نو مرتده ښځه به هم نه قتلول کيږي. ها! هغه به قيدول کيږي تر دې چي اسلام راوړي. ځکه چي هغې تر يو ځل اسلام راوړلو او د حقوقُ الله تر اقرار کولو وروسته اوس د حقوقُ الله له إيفاء او پوره کولو څخه مخ واړوی. لهذا ځرنګه چي د حقوقُ العباد مثلاً د قرض او داسي نورو د اداء کولو لپاره مديون سړی او مديونه ښځه قيدول کيږي همداسي به د حقوقُ الله د اداء کولو لپاره هم مرتده ښځه قيدول کيږي.

په جامعِ صغير کي هم دغه حکم ذکر سوی دی، او په هغه کي دا اضافه هم سوې ده چي مرتده ښځه که چيري مينځه وي، نو د اسلام راوړلو لپاره دي خپل مالک (مولیٰ) پر هغې دباو او فشار واچوي د دې لپاره چي د حقُ الله رعايت هم وسي او په خپله د مالک حق يعني استخدام هم هغه ته حاصل سي. له همدې وجهي په ځيني رواياتو کي ذکر سوي دي چي د اسلام راوړلو لپاره مالک خپله مينځه وهلای او ډبولای هم سي. د دې لپاره چي کما حقهٗ جبر ثابت سي او هغه مرتده مينځه بيا په اسلام سره ځان مشرّفه کړي.

د مرتد ملکيت زائلېدل

قال: وَيَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ أَمْوَالِهِ بِرِدَّتِهِ زَوَالًا مُرَاعًى فرمايي: چي د ارتداد په وجه له خپلو مالونو څخه د مرتد ملکيت د موقوف زوال په څير زائليږي فَإِنْ أَسْلَمَ عَادَتْ عَلَى حَالِهَا نو که هغه اسلام راوړي نو ملکيت خپل حال ته را وګرځي قَالُوا: هٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ مشائخو فرمايلي دي: چي دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَعِنْدَهُمَا ●: لَا يَزُولُ مِلْكُهُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مرتد ملکيت نه زائليږي لِأَنَّهُ مُكَلَّفٌ مُحْتَاجٌ ځکه چي هغه [هم] مکلف او محتاج وي فَإِلَى أَنْ يُقْتَلَ يَبْقَى مِلْكُهُ لهذا د هغه تر قتلېدلو پوري به د هغه ملکيت باقي پاتيږي كَالْمَحْكُومِ عَلَيْهِ بِالرَّجْمِ وَالْقِصَاصِ لکه هغه کس چي پر هغه د رجم يا قصاص فيصله سوې وي وَلَهُ: أَنَّهُ حَرْبِيٌّ مَقْهُورٌ تَحْتَ أَيْدِينَا حَتَّى يُقْتَلَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي هغه يو داسي حربي دی کوم چي زموږ تر لاسو لاندي مغلوب دی. تر دې چي هغه قتل کړی سي وَلَا قَتْلَ إِلَّا بِالْحِرَابِ او له جنګ کولو څخه بغير قتل نسته وَهٰذَا يُوجِبُ زَوَالَ مِلْكِهِ وَمَالِكِيَّتِهِ او د هغه حربي کې د هغه د ملکيت او مالکيت زوال ثابتوي غَيْرَ أَنَّهُ مَدْعُوٌّ إِلَى الْإِسْلَامِ بِالْإِجْبَارِ عَلَيْهِ خو په مجبوره کولو سره به هغه د اسلام وطرف

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۳۲۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۷]

ته رابلل کیږي وَيُرْجى عَوْدُهُ إِلَيْهِ او د اسلام وطرف ته د هغه واپس راتلل متوقع دي فَتَوَقَّفْنَا فِي أَمْرِهِ نو ځکه موږ د هغه په معامله کې توقف وکړی فَإِنْ أَسْلَمَ جُعِلَ الْعَارِضُ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ فِي حَقِّ هٰذَا الْحُكْمِ نو که چیرې هغه اسلام راوړي نو مذکوره عارض [ارتداد] به د ملکیت د زوال په حق کې معدوم ګرځول کیږي وَصَارَ كَأَنْ لَمْ يَزَلْ مُسْلِمًا وَلَمْ يَعْمَلِ السَّبَبُ او داسي به ګڼل کیږي لکه هغه چي له همیشه څخه مسلمان وو او هغه بالکل [د ملکیت د زوال] سبب اختیار کړی نه دی وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلٰى رِدَّتِهِ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ وَحُكِمَ بِلَحَاقِهِ او که چیرې هغه مړ سي یا د مرتد والي په حالت کې قتل کړی سی یا دارُ الحرب ته ولاړسي او دارُ الحرب ته د هغه د تللو فیصله وسي [یعني قاضي د هغه د تللو حکم وکړي] اِسْتَقَرَّ كُفْرُهُ نو [په دې صورت کې] به د هغه کفر مضبوط استحکام اسي فَيَعْمَلُ السَّبَبُ عَمَلَهُ نو سبب به خپل عمل وکړي [او خپل أثر به ښکاره کړي] وَزَالَ مِلْكُهُ او د هغه ملکیت به زائل سي.

اللغات: ﴿مقهور﴾ د فتح د باب اسمِ مفعول دی: مغلوب، مجبور. ﴿حِرَاب﴾ د مفاعلي مصدر دی: جنګ کول. ﴿لَحِقَ﴾ د سمع ماضي ده: ور سره یو ځای کېدل. ﴿استقر﴾ د استفعال ماضي ده: ثابتېدل، مضبوطېدل (ټینګېدل، کلکېدل).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله یو سړی مرتد سي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه ملکیت موقوفاً زائلیږي یعني که چیرې هغه اسلام راوړي نو د هغه ملکیت بیرته فعاله کیږي. لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه ملکیت بالکل نه زائلیږي، ځکه چي هغه په أحکامو مکلّف دی او مال او ملکیت ته محتاج دی لهذا تر څو چي قتل سوي نه وي تر هغه وخته به یې ملکیت باقي پاتیږي، لکه پر یو سړي چي د رجم یا قصاص فیصله وسي نو د هغه ملکیت هم تر هغه وخته پوري پاتیږي تر څو چي رجم سوي یا قتل سوی نه وي، همداسي به په دې مسئله کې د مرتد تر قتلېدلو پوري د هغه ملکیت باقي پاتیږي.

وله أنه إلخ: د امام صاحب دلیل دا دی چي دا مرتد اوس حربي کافر ګرځېدلی دی او زموږ یعني د مسلمانانو تر لاس لاندې او مغلوب دی او د هغه ارتداد د هغه د قتل موجب دی. همدارنګه د هغه حربي کېدل د هغه د ملکیت او مالکیت د زوال سبب دی په دې توګه چي په دغه ډول مغلوبېدلو سره انسان مملوک ګرځي او کوم کس چي مملوک وي د هغه مالکیت ختمیږي او کله چي مالکیت ختم سي نو ملکیت هم ختمیږي. نو په دې وجه د همیشه لپاره د هغه ملکیت ختمېدل او زائلېدل پکار

دي. خو ځرنګه چې هغه د اسلام په محاسنو او ښېګڼو خبر سوی دی او دویم ځل د هغه اسلام راوړل ممکن او متوقع دي نو په همدې وجه موږ د هغه ملکیت موقوفاً زائل ګرځولی دی او پر هغه به اسلام پېشوو. که چیري هغه اسلام راوړي نو د هغه ملکیت به د مخکې ځیر فعاله کیږي او داسې به ګڼل کیږي چې هغه بالکل مرتد سوی نه دی. او که چیري هغه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي یا مړ سي یا دارُ الحرب ته ولاړسي او قاضي د هغه د تللو فیصله وکړي چې هغه دارُ الحرب ته ولاړی نو په دې صورت کې به د هغه ارتداد او کفر مضبوط ګرځي او د هغه ملکیت به راتلیږي.

د مرتد تر قتل وروسته د هغه د مال حکم

قال: وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ فرمايي: او که مرتد مړ سي یا د خپل ارتداد په حالت کې قتل کړی سي انْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي إِسْلَامِهِ إِلَى وَرَثَتِهِ الْمُسْلِمِينَ نو هغه چې د اسلام په حالت کې کوم مال ګټلی وي، هغه به د ده د وارثانو وطرف ته منتقل کیږي وَكَانَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْئًا او هغه مال کوم چې ده د ارتداد په حالت کې ګټلی وي، هغه به فيئ وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ●: كِلَاهُمَا لِوَرَثَتِهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې دواړه مالونه به د هغه د وارثانو وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: كِلَاهُمَا فَيْءٌ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دواړه مالونه به فيئ وي لِأَنَّهُ مَاتَ كَافِرًا ځکه چې هغه د کفر په حالت کې مړ سوی دی وَالْمُسْلِمُ لَا يَرِثُ الْكَافِرَ او مسلمان د کافر وارث کېدلای نه سي ثُمَّ هُوَ مَالُ حَرْبِيٍّ لَا أَمَانَ لَهُ بیا هغه د داسې حربي مال دی کوم ته چې أمان حاصل نه دی فَيَكُونُ فَيْئًا نو ځکه به هغه فئ وي وَلَهُمَا: أَنَّ مِلْكَهُ فِي الْكَسْبَيْنِ بَعْدَ الرِّدَّةِ بَاقٍ زموږ دلیل دا دي چې تر ارتداد وروسته [هم] په دواړو ګټو [یعني په دواړو ګټل سوو مالونو] کې ملکیت پاته دی عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکې] چې موږ د دې بیان وکړی فَيَنْتَقِلُ بِمَوْتِهِ إِلَى وَرَثَتِهِ لهذا د هغه په مرګ سره به دا ملکیت د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل کیږي وَيَسْتَنِدُ إِلَى مَا قُبَيْلَ رِدَّتِهِ او دا انتقال به د هغه له مرتد کېدلو څخه لږ څه مخکې وخت ته منسوب کیږي [یعني ګواکې د هغه تر ارتداد لږ څه مخکې د هغه ملکیت د وارثانو وطرف ته منتقل سو. لکه د مړي ملکیت چې تر مرګ لږ څخه مخکې (د ځکندن په حالت کې) وارثانو ته

● القول الراجح: قول ابی حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۳۲۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰۹/۸]

نقل كيږي] إِذِ الرِّدَّةُ سَبَبُ الْمَوْتِ ځكه چي همدغه ارتداد [د هغه] د مرګ سبب دی فَيَكُونُ تَوْرِيثَ الْمُسْلِمِ مِنَ الْمُسْلِمِ نو دا به مسلمان د مسلمان وارث جوړېدل وي [يعني دا به له مسلمان څخه د مسلمان وراثت حاصلول وي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يُمْكِنُ الِاسْتِنَادُ فِي كَسْبِ الْإِسْلَامِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د اسلام والا په ګټه [ګټل سوي مال] كي استناد ممكن دی لِوُجُودِهِ قَبْلَ الرِّدَّةِ ځكه چي دا ګټه تر ارتداد مخكي موجوده ده [يعني د اسلام په حالت كي ګټل سوی مال تر ارتداد مخكي ګټل سوی دی] وَلَا يُمْكِنُ الِاسْتِنَادُ فِي كَسْبِ الرِّدَّةِ لېكن په ارتداد والا ګټه كي استناد ممكن نه دی لِعَدَمِهِ قَبْلَهَا ځكه چي تر ارتداد مخكي دا ګټه معدومه ده وَمِنْ شَرْطِهِ وُجُودُهُ حالانكي د استناد لپاره تر ارتداد مخكي د ګټي موجودېدل شرط دي ثُمَّ إِنَّمَا يَرِثُهُ مَنْ كَانَ وَارِثًا لَهُ حَالَةَ الرِّدَّةِ وَبَقِيَ وَارِثًا إِلَى وَقْتِ مَوْتِهِ بيا به هغه سړی د دې مرتد وارث كيږي كوم چي د ارتداد په حالت كي د ده وارث وي او د ده تر مرګه پوري يې وارث پاته سوی وي فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ اعْتِبَارًا لِلِاسْتِنَادِ دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی كوم چي د استناد پر اعتبار مبني دی وَعَنْهُ: أَنَّهُ يَرِثُهُ مَنْ كَانَ وَارِثًا لَهُ عِنْدَ الرِّدَّةِ له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت دا دی: چي كوم سړی د ارتداد په وخت كي د ده [مرتد] وارث وي، نو هغه به د ده وارث كيږي وَلَا يَبْطُلُ اسْتِحْقَاقُهُ بِمَوْتِهِ او د وارث په مرګ سره به د وارث [خپل] استحقاق نه باطليږي بَلْ يَخْلُفُهُ وَارِثُهُ بلكي د هغه وارث به [يعني د وارث وارث به] د هغه نائب كيږي لِأَنَّ الرِّدَّةَ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتِ ځكه چي ارتداد د مرګ په درجه كي دی وَعَنْهُ: أَنَّهُ يُعْتَبَرُ وُجُودُ الْوَارِثِ عِنْدَ الْمَوْتِ له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دريم روايت دا دی: چي د مرتد د مرګ په وخت كي د وارث موجودېدل معتبر دی لِأَنَّ الْحَادِثَ بَعْدَ انْعِقَادِ السَّبَبِ قَبْلَ تَمَامِهِ كَالْحَادِثِ قَبْلَ انْعِقَادِهِ ځكه چي د سبب تر منعقدېدلو وروسته [او] د هغه تر پوره كېدلو مخكي پيدا كېدونكی وارث داسي دی لكه د سبب تر منعقدېدلو مخكي پيدا سوی بِمَنْزِلَةِ الْوَلَدِ الْحَادِثِ مِنَ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ لكه پر مبيعه مېنځي باندي له قبضې كولو څخه مخكي پيدا كېدونكی بچی وَتَرِثُهُ امْرَأَتُهُ الْمُسْلِمَةُ إِذَا مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ او كه چيري مرتد د خپل ارتداد

په حالت كي مړ سي يا قتل كړى سي او د ده مسلمانه ښځه د ده په عدت كي وي نو هغه به د ده وارثه كيږي لِأَنَّهُ يَصِيرُ فَارًّا وَإِنْ كَانَ صَحِيحًا وَقْتَ الرِّدَّةِ ځكه چي دا سړى به فارّ وګرځيږي كه څه هم دارتداد په وخت كي روغ [سالم] وي وَالْمُرْتَدَّةُ كَسْبُهَا لِوَرَثَتِهَا او د مرتده ښځي ګټه [ګټل سوى مال] به د هغي د وارثانو وي لِأَنَّهُ لَا حِرَابَ مِنْهَا ځكه چي د هغې له طرفه جنګ [قتال] نه صادريږي فَلَمْ يُوجَدْ سَبَبُ الْفَيْءِ لهذا د فيئ سبب موجود [او ثابت] نه سو بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ په خلاف د مرتد سړي. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَيَرِثُهَا زَوْجُهَا الْمُسْلِمُ إِنِ ارْتَدَّتْ وَهِيَ مَرِيضَةٌ او كه چيري يوه ښځه مرتده سي او هغه مريضه [ناروغه] وي نو د هغې مسلمان خاوند به د هغې وارث كيږي لِقَصْدِهَا إِبْطَالَ حَقِّهِ ځكه چي ښځي د هغه د حق باطلولو اراده كړې ده وَإِنْ كَانَتْ صَحِيحَةً او كه هغه روغه وي لَا يَرِثُهَا نو خاوند به د هغې نه وارث كيږي لِأَنَّهَا لَا تُقْتَلُ ځكه ښځه نه قتلول كيږي فَلَمْ يَتَعَلَّقْ حَقُّهُ بِمَالِهَا بِالرِّدَّةِ لهذا [د ښځي] په مرتد كېدلو سره د هغې د مال سره د خاوند حق متعلق نه سو بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ په خلاف د مرتد سړي.

اللغات: ﴿فيء﴾ غنيمت، هغه مال كوم چي له جنګ كولو څخه بغير حاصل كړى سي. او امام ته د خپلي رايي مطابق د هغه د صرفولو اختيار وي. ﴿قُبيـل﴾ د قَبْلٌ تصـغير دى: لږ څه مخكي. ﴿توريث﴾ د تفعيل مصدر دى: وارث جوړول. ﴿فارّ﴾ تېښتېدونكى. ځان خلاصونكى (هغه خاوند چي د ښځي له ميراث څخه ځان خلاصوي).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه مرتد مړ سي يا دارتداد په حالت كي قتل كړى سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د اسلام په حالت كي د هغه ګټل سوى مال به د هغه د مسلمانانو وارثانو وي. او دارتداد په حالت كي ګټل سوى مال به يې فيئ وي. د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به د هغه دواړه قسمه مالونه وارثانو ته وركول كيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به د هغه دواړه قسمه مالونه فيئ وي.

د امام شافعي دليل: دا دى چي دا سړى مرتد سو او د كفر په حالت كي مړ سو. او مسلمان د كافر وارث كېدلاى نه سي. همدارنګه دغه مرتد ته أمان هم نه دى حاصل. ځكه چي هغه حربي كافر دى او د حربي مال فيئ وي لهذا د هغه مال به هم فيئ وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د اسلام او ارتداد په دواړو حالتونو کي چي هغه کوم مال ګټلی دی په هغه کي د ده ملکيت موجود دی لهذا د هغه په مرګ يعني د هغه په مرتد کېدلو سره به دا ملکيت د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي او څرنګه چي د هغه ارتداد د هغه مرګ دی نو ځکه به تر ارتداد لږ څه مخکي دا ملکيت د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي لکه څرنګه چي تر مرګ لږ څخه مخکي د نزع او ځکندن په حالت کي د مړي د أموالو سره د وارثانو حق متعلق کيږي همداسي به دلته هم تر ارتداد لږ څه مخکي ملکيت د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي او څرنګه چي په هغه حالت کي (يعني تر ارتداد لږ څه مخکي) مورث مسلمان دی او د هغه وارثان هم مسلمانان دي. لهذا مسلمان به د مسلمان وارث وګرځي او دا صحيح دي.

د امام صاحب دليل: هم هغه دی کوم چي د صاحبينو دليل دی. لېکن فرق يې دا دی چي د مرتد د وارثانو وطرف ته د مرتد هغه ګټل سوی مال منتقل کېدای سي کوم چي هغه د اسلام په حالت کي ګټلی وي. ځکه چي د اسلام په حالت کي ګټل سوي مال له ارتداد او د ارتداد له شبهې څخه خالي وي ځکه چي تر ارتداد مخکي هغه نه دي ګټل سوی حالانکي د نقل او إسناد لپاره تر ارتداد مخکي کَسب او ګټل شرط دي او هغه دلته نسته له همدې کبله موږ تر ارتداد وروسته ګټل سوی مال د هغه د وارثانو وطرف ته نه دي منتقل کړی بلکي هغه مو فيئ او غنيمت ګرځولی دی.

ثم إنما يرثه إلخ: اوس پاته سوه دا خبره چي د هغه وارث به څوک وي؟ نو په دې سلسله کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه درې روايتونه نقل سوي دي: .

①... اول روايت کوم چي د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله دی. دا دی چي کوم سړی د ارتداد په حالت کي د مرتد وارث وي يعني آزاد او مسلمان وي او د مرتد تر مرګه پوري پر دغه وصف قائم وي نو هغه به د مرتد وارث وي: ځکه چي د هغه وارث کېدل به په إستناد سره ثابت وي او د مستند لپاره دا ضروري دي چي هغه به هماغه وصف ته منسوب وي په کوم وصف سره چي هغه ثابت سوی وو او څرنګه چي وارث د وارثت په وخت کي (يعني د وارث کېدلو په وخت کي) حُرّ او مسلمان وو. نو په دې وجه د إستناد په حالت کي هم د هغه حُرّ کېدل او مسلمان کېدل ضروري دي.

②... دويم روايت د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی. او هغه دا دی چي د ارتداد په حالت کي چي کوم سړی د هغه وارث وو. د مرګ په حالت کي به هم هغه د ده وارث وي. او که چيري دغه وارث مړ سي نو د ده استحقاق به نه باطليږي بلکي د دې وارث وارث به د هغه مرتد (مورث) وارث وي. ځکه چي ارتداد هم د مرګ په درجه کي دی او که چيري د مورث تر مرګ وروسته يو وارث مړ سي نو د هغه نائب د مورث وارث کيږي همداسي به دلته هم د مړ سوي وارث نائب د خپل د أصل مورث وارث کيږي.

(٣) له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دريم روايت دامام محمد رَحِمَهُ الله دی او همدا أصحُ الروايات دی. د دې حاصل دا دی چې د مرتد د مرګ په وخت کې د وارث موجود ېدل معتبر دي برابره ده هغه وارث که د ارتداد په وخت کې موجود وي او که نه وي، ځکه چې د سبب تر انعقاد (منعقد کېدلو) وروسته او د هغه له پوره کېدلو څخه مخکې چې کوم شی په وجود کې راسي هغه داسي دی لکه تر سبب مخکې پيدا سوی شی، مثلاً که يو څوک مېنځه رانيسي او تر قبضه کولو مخکې له هغې مېنځې څخه بچی پيدا سوی وي نو هغه بچی له بيع څخه مخکې شمارل کېږي او د بچي په عوض کې به هم پر مشتري ثمن لازم وي، ځکه چې دا بچی د حادث قبل انعقاد السبب په څير دی.

وترثه إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مرتد مړ سي يا د ارتداد په حالت کې هغه قتل کړی سي او د هغه مسلمانه ښځه د هغه په عدت کې وي نو دا ښځه به د هغه وارثه کېږي، ځکه هغه (مرتد) فارّ دی يعني له ميراث څخه د ښځې محرومونکی دی، لهذا څرنګه چې د هغه د مريض والي په حالت کې ښځه د هغه وارثه کېږي همداسي به د هغه د روغوالي په صورت کې هم ښځه د هغه وارثه کېږي.

او که چېرې ښځه مرتده سوې وي نو د هغې ګټل سوی مال به د هغې وارثانو ته ورکول کېږي، ځکه چې د ښځې له طرفه جنګ او قتال کول بالکل ممکن نه دي لهذا هغه به حربيه نه وي. او د هغې مال به هم فيئ نه وي، لېکن د مرتد سړي بعد الارتداد والا ګټل سوی مال به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز فيئ وي ځکه چې د هغه له طرفه جنګ او قتال متوقع دی او هغه حربي دی. اوس که چېرې دا ښځه تر مريضه وي نو د هغې مسلمان خاوند به د هغې وارث کېږي، ځکه چې د مريض والي په صورت کې به دا فايده وي او په ارتداد سره به دا ښځه د خپل خاوند حق باطلونکې وي. لېکن که دا ښځه روغه وي نو خاوند به د هغې نه وارث کېږي، ځکه چې اوس دا فايده نسته او هغه به قتلول کېږي هم نه، لهذا د هغې په ارتداد سره د خاوند حق د هغې د مال سره متعلق نه سو نو ځکه به خاوند د هغې نه وارث کېږي. د دې په خلاف نارينه مرتد د قتل مستحق کېږي او د هغه په ارتداد سره د وارثانو حق د هغه د مال سره متعلق کېږي نو ځکه به د مرتد سړي وارثان د هغه وارث کېږي.

دارُ الحرب ته د مرتد تلل

قَالَ: وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا فرمايي: که [يو سړی] د مرتد والي په حالت کې دارُ الحرب ته ولاړ سي وَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِلَحَاقِهِ او حاکم دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله صادره کړي عَتَقَ مُدَبَّرُوهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ نو د هغه مدبر غلامان او اُم ولد مېنځې ټوله آزاديږي وَحَلَّتْ الدُّيُونُ الَّتِي عَلَيْهِ او د هغه ميعادي قرضونه فوراً واجبُ الاداء ګرځي وَنُقِلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ إِلَى وَرَثَتِهِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ او

د اسلام په حالت کې د هغه ګټل سوی مال د هغه د وارثانو وطرف منتقل کیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَبْقَى مَالُهُ مَوْقُوفًا كَمَا كَانَ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغه مال د مخکې په څير موقوف پاتیږي لِأَنَّهُ نَوْعُ غَيْبَةٍ ځکه چې دارُ الحرب ته تلل يو قسم غیبوبت [غائب والی] دی فَأَشْبَهَ الْغَيْبَةَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ نو دا د دارُ الاسلام د غیبوبت سره مشابه سو وَلَنَا: أَنَّهُ صَارَ مُرْتَدًّا بِاللَّحَاقِ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ زموږ دليل دا دی: چې د حربيانو سره د يو ځای کېدلو په وجه دا سړی مرتد وګرځېدی وَهُمْ أَمْوَاتٌ فِي حَقِّ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ او حربيان د اسلامي أحکامو په حق کې د مړو په څير دي لِانْقِطَاعِ وِلَايَةِ الْإِلْزَامِ ځکه چې [پر هغو] د يو شي لازمولو ولايت ختم سوی دی كَمَا هِيَ مُنْقَطِعَةٌ عَنِ الْمَوْتَى لکه څرنګه چې له مړي څخه ختم سوی دی فَصَارَ كَالْمَوْتِ نو مرتد د مړه په څير سو إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَقِرُّ لَحَاقُهُ إِلَّا بِقَضَاءِ الْقَاضِي خو د قاضي له فيصلې څخه بغير به [دارُ الحرب ته] د هغه تلل [او تبنتېدل] نه مضبوطیږي لِاحْتِمَالِ الْعَوْدِ إِلَيْنَا ځکه چې زموږ وطرف ته [د هغه] د واپس راتللو احتمال سته فَلَا بُدَّ مِنَ الْقَضَاءِ نو ځکه [د هغه د لحاق] فيصله ضروري ده وَإِذَا تَقَرَّرَ مَوْتُهُ ثَبَتَتِ الْأَحْكَامُ الْمُتَعَلِّقَةُ بِهِ وَهِيَ مَا ذَكَرْنَاهَا او کله چې د هغه مرګ [مړ والی] مستحکم سو نو د مړه سره متعلق أحکام به ثابتیږي يعني هغه أحکام کوم چې موږ ذکر کړل كَمَا فِي الْمَوْتِ الْحَقِيقِيِّ لکه په حقيقي مړه کې [چې داسې کیږي] ثُمَّ يُعْتَبَرُ كَوْنُهُ وَارِثًا عِنْدَ لَحَاقِهِ فِي قَوْلِ مُحَمَّدٍ بيا به د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کې [دارُ الحرب ته] د هغه د تللو [ارسېدلو] په وخت کې د وارث کېدلو اعتبار کیږي لِأَنَّ اللَّحَاقَ هُوَ السَّبَبُ ځکه چې تلل [ارسېدل] د ميراث سبب دی وَالْقَضَاءُ لِتَقَرُّرِهِ بِقَطْعِ الِاحْتِمَالِ او فيصله کول د هغه [الحاق] د مضبوطېدلو لپاره دي چې [د مرتد] د واپس کېدلو احتمال ختم سي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ✽: وَقْتَ الْقَضَاءِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د قضا [فيصلې] په وخت کې [به د وارث کېدلو اعتبار کیږي] لِأَنَّهُ يَصِيرُ مَوْتًا بِالْقَضَاءِ ځکه چې هغه [الحاق] د قاضي په فيصله سره مرګ ګرځي وَالْمُرْتَدَّةُ إِذَا لَحِقَتْ بِدَارِ الْحَرْبِ او که يوه مرتده ښځه دارُ الحرب ته ولاړه

✽ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما ذكر فی رد المحتار (ج:٣، ص:٣٢٩). [القول الراجح ج:١، ص:٥٠٠]

سي فَهِيَ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ نو هغه هم پر دغه اختلاف دي.

اللغات: ﴿لحق﴾ د سمع ماضي ده: يو ځای کېدل. مراد ځني دارُ الحرب ته تلل او د حربيانو سره يو ځای کېدل دي، ﴿لا يستقر﴾ د استفعال له باب څخه د نفي صيغه ده: ثابتېدل، مضبوطېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي د هغه د تللو فيصله وکړي نو اوس هغه د مړو (أمواتو) په څېر ګرځي او د هغه ټوله مدبر غلامان او أم ولد مينځي آزاديږي، او پر هغه چي کوم ميعادي قرضونه وي د هغوی ميعاد (ميـاد) ختميږي او هغه فی الحاله واجبُ الاداء ګرځي همدارنګه هغه چي د اسلام په حالت کي کوم مال ګټلی وي هغه ټوله د ده د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي. دا حکم زموږ په نېز دی. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د هغه مال محفوظ پاتيږي لکه څرنګه چي دارُ الحرب ته له تللو څخه مخکي د هغه مال محفوظ وو، ځکه چي دارُ الحرب ته د هغه تلل يو قسم غيبوبت دی او په غيبوبت سره انسان مړ نه ګرځي (يعني په غيبوبت سره انسان مړ نه شمارل کيږي) لکه څرنګه چي يو شوک په دارُ الاسلام کي غائب سي نو ښکاره خبره ده چي پر هغه د مړه حکم نه لګول کيږي، همداسي به دلته هم (د شوافعو په نېز) پر هغه مرتد د مړه حکم نه لګول کيږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي په مرتد کېدلو او د حربيانو سره د يو ځای کېدلو په وجه هغه مړ (ميّت) وګرځېدی، ځکه چي حربيان د اسلامي أحکامو په حق کي مړه (أموات) دي او د مړو په څېر پر هغو هم د يو حکم لازمولو ولايت نسته (يعني څرنګه چي شوک پر ميّت حکم نه سي لازمولی. همداسي پر دغه کفارو هم حکم نه سي لازمولی)، خو څرنګه چي د دې مرتد د واپس راتللو احتمال سته نو ځکه به د قاضي له قضاء (فيصلې) څخه مخکي د هغه ارتداد او لحاق بدار الحرب مضبوط نه وي. لېکن کله چي قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله وکړي نو د مړو (حربيانو) سره به هغه هم مړ شمارل کيږي او کوم أحکام چي بيان سول "يعني مدبر غلامان او اُم ولد مينځي آزادېدل او قرضونه فی الحاله واجبُ الاداء ګرځېدل" هغه ټوله به د ده په حق کي هم ثابتيږي.

ثم يعتبر کونه إلخ: د دې حاصل دا دی چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دارُ الحرب ته د دې مرتد د رسېدلو په وخت کي چي د ده کوم وارثان وي فقط هغوی به د ده وارثان شمارل کيږي او وروسته وارث لره به اعتبار نه ورکول کيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز چي دارُ الحرب ته د هغه تر تللو وروسته او د قاضي تر قضا مخکي د هغه کوم وارثان وي هغوی ټوله به د ده د مرګ په وخت کي د ده

وارثان شمارل کیږي؛ د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي مرتد کېدل او دارُ الحرب ته د هغه رسېدل (لحاق بدار الحرب) د میراث سبب دی لهذا همدغه لحاق به د وارث کېدلو سبب هم وي. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي د میراث سبب د هغه د مرګ حکم دی او لحاق د قاضي په قضاء سره مرګ ګرځي لهذا د وارث کېدلو او نه کېدلو مدار به هم پر هغه وخت (یعني د قاضي پر قضاء) وي. د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دغه اختلاف په مرتده ښځه کي هم دی.

د مرتد قرضونه (پورونه)

وَتُقْضَى الدُّيُونُ الَّتِي لَزِمَتْهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ او پر مرتد چي د اسلام په حالت کي څومره قرضونه لازم سوي وي دا قرضونه به له هغه مال څخه اداء کیږي کوم چي مرتد د اسلام په حالت کي ګټلی وي وَمَا لَزِمَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ مِنَ الدُّيُونِ تُقْضَى مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ او کوم قرضونه چي د ارتداد په حالت کي پر هغه لازم سوي وي هغوی به له هغه مال څخه اداء کیږي کوم چي مرتد د ارتداد په حالت کي ګټلی وي قَالَ: الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هَذِهِ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ ناتوانه بنده وايي: چي دا له امام څخه یو روایت دی وَعَنْهُ: أَنَّهُ يُبْدَأُ بِكَسْبِ الْإِسْلَامِ او له هغه څخه [د حسن بن زیاد] روایت دا دی: چي د اسلام والا په ګټي [ګټل سوي مال] سره به پیل کیږي وَإِنْ لَمْ يَفِ بِذَلِكَ يُقْضَى مِنْ كَسْبِ الرِّدَّةِ او که دا ګټه د قرضونو لپاره ناکافي سي نو له ارتداد والا ګټي څخه به اداء کیږي وَعَنْهُ❁ عَلَى عَكْسِهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د دې برعکس روایت [هم] سوی دی وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّ الْمُسْتَحَقَّ بِالسَّبَبَيْنِ مُخْتَلِفٌ د اول روایت دلیل دا دی: چي پر هغه واجب سوی قرض د دوو جلا، جلا سببونو په وجه مختلف دی وَحُصُولُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْكَسْبَيْنِ بِاعْتِبَارِ السَّبَبِ الَّذِي وَجَبَ بِهِ الدَّيْنُ او له دې دواړو ګټو څخه هره ګټه [ګټل سوی مال] په هغه سبب سره حاصل دی په کوم سبب سره چي پر هغه دین واجب سوی دی فَيُقْضَى كُلُّ دَيْنٍ مِنَ الْكَسْبِ الْمُكْتَسَبِ فِي تِلْكَ الْحَالَةِ لهذا هر قرض به له هغه ګټي څخه اداء کیږي کوم چي په هغه حالت کي ګټل سوې وي

❁ القول الراجح: رواية الحسن بن زياد رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة الكاساني رَحِمَهُ الله : والصحيح رواية الحسن، لأن دين الإنسان يقضى من ماله لا من مال غيره (بدائع الصنائع ج:٧، ص:٣٩)، وكذا في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٣٩). [القول الراجح ج:١، ص:٥٠١]

لِيَكُونَ الْغُرْمُ بِالْغُنْمِ د دې لپاره چي نقصان د نفع په عوض كي راسي ايعني چي معامله برابره وګرځي.

الغرم بالغنم: دا يو محاوره ده، مطلب يې دا دی چي غنيمت يعني نفع چي څرنګه حاصله سوې وي تاوان به يې هغسي اداء كيږي. يعني په كوم حالت كي چي مال ګټل سوی دی. په دغه ګټل سوي مال سره دي د هغه حالت قرض اداء كړی سي ا وَجْهُ الثَّانِي: أَنَّ كَسْبَ الْإِسْلَامِ مِلْكُهُ د دويم روايت دليل دا دی: چي د اسلام ګټه اګټل سوی مال ا د هغه ملكيت دی حَتَّى يَخْلُفَهُ الْوَارِثُ فِيهِ همدا وجه ده چي وارث په هغه كي د ده نائب كيږي وَمِنْ شَرْطِ هٰذِهِ الْخِلَافَةِ الْفَرَاغُ عَنْ حَقِّ الْمُوَرِّثِ او د وارث د نائب كېدلو لپاره د مورث له حق څخه د ملكيت فارغېدل شرط دي فَيُقَدَّمُ بِالدَّيْنِ عَلَيْهِ لهذا قرض به تر ميراث مخكي كول كيږي أَمَّا كَسْبُ الرِّدَّةِ فَلَيْسَ بِمَمْلُوكٍ لَهُ كوم چي د ارتداد والا ګټه ده نو هغه د مرتد په ملكيت كي نه ده لِبُطْلَانِ أَهْلِيَّةِ الْمِلْكِ بِالرِّدَّةِ عِنْدَهُ ځكه چي د امام صاحب رحمه الله په نېز په ارتداد سره د ملكيت أهليت باطليږي فَلَا يُقْضَى دَيْنُهُ مِنْهُ لهذا له دغي ګټي څخه به د هغه قرض نه اداء كيږي إِلَّا إِذَا تَعَذَّرَ قَضَاؤُهُ مِنْ مَحَلٍّ آخَرَ لېكن كه چيري له اسلام والا ګټي څخه د قرض اداء كول مشكل وي فَحِينَئِذٍ يُقْضَى مِنْهُ نو په دې وخت كي به له ارتداد والا ګټي څخه اداء كيږي كَالذِّمِّيِّ إِذَا مَاتَ وَلَا وَارِثَ لَهُ لكه يو ذمي چي مړ سي او د هغه هيڅ وارث نه وي يَكُونُ مَالُهُ لِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ نو د هغه مال به د عامو مسلمانانو وي وَلَوْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يُقْضَى مِنْهُ او كه پر هغه اذمي ا قرض باندي وي نو له هغه مال څخه به اداء كيږي كَذٰلِكَ هٰهُنَا همداسي به دلته هم كيږي وَجْهُ الثَّالِثِ: أَنَّ كَسْبَ الْإِسْلَامِ حَقُّ الْوَرَثَةِ وَكَسْبَ الرِّدَّةِ خَالِصُ حَقِّهِ د دريم روايت دليل دا دی: چي د اسلام والا ګټه د وارثانو حق ده او د ارتداد والا ګټه د هغه خپل حق ده فَكَانَ قَضَاءُ الدَّيْنِ مِنْهُ أَوْلَى لهذا د هغه له خپلي ګټي څخه د قرض اداء كول به غوره وي إِلَّا إِذَا تَعَذَّرَ بِأَنْ لَمْ يَفِ بِهِ لېكن كله چي اداء مشكل سي په دې توګه چي د ارتداد والا مال د قرض لپاره ناكافي سي فَحِينَئِذٍ يُقْضَى مِنْ كَسْبِ الْإِسْلَامِ نو په دې وخت كي به له اسلام والا ګټي څخه قرض اداء كيږي تَقْدِيمًا لِحَقِّهِ ځكه چي اد هغه ا د قرض اداء كول له ميراث څخه مخكي دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: تُقْضَى دُيُونُهُ مِنَ الْكَسْبَيْنِ

او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د هغه قرضونه به له دواړو ګټو څخه اداء کيږي لِأَنَّهُمَا جَمِيعًا مِلْكُهُ ځکه چي دواړه ګټي د هغه خپل ملکيت دی حَتَّى يَجْرِيَ الْإِرْثُ فِيهِمَا همدا وجه ده چي په دواړو کي ميراث جاري کيږي. والله أعلم

اللغات: ﴿ديون﴾ جمع د دَيْن ده: قرض، پور. ﴿لم يف﴾ د ضرب له باب څخه د جحد صيغه ده: پوره کېدل. ﴿كَسْب﴾ ګټه، مراد ځني ګټل سوی مال دی. ﴿غنم﴾ غنيمت، نفع. ﴿تعذر﴾ د تفعل ماضي ده: مشکل کېدل، ناممکن کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيرې پر مرتد قرضونه (پوروونه) باندي وي نو هغه قرضونه به پر دوو حصو تقسيمول کيږي او د اسلام په حالت کي چي پر هغه کوم قرضونه لازم سوي وي هغوی به د مرتد له هغه مال څخه اداء کيږي کوم چي مرتد د اسلام په حالت کي ګټلی وی او کوم قرضونه چي د ارتداد په حالت کي پر لازم سوي وي هغوی به له هغه مال څخه اداء کيږي کوم چي يې د ارتداد په حالت کي ګټلی وي. دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د امام زفر رَحِمَهُ الله روايت دی. او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد روايت دا دی چي اول به د حالت اسلام والا له ګټي څخه قرضونه اداء کيږي (يعني اول به د مرتد له هغه مال څخه قرضونه اداء کيږي کوم چي يې د اسلام په حالت کي ګټلی وي) او که چيري د اسلام په حالت کي ګټل سوی مال د قرضونو لپاره ناکافي سي نو د بيا به د حالت ارتداد والا له ګټي څخه قرضونه اداء کيږي. او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دريم روايت کوم چي د امام ابو يوسف دی. دا دی چي د حالت ارتداد والا له ګټي څخه به د قرض اداء کول شروع کيږي. دا ټوله دري روايات سول.

د اول روايت دليل: دا دی چي دواړه ګټل سوي مالونه يو له بل څخه جلا دي يعني يو د اسلام په حالت کي حاصل سوی دی او بل د ارتداد په حالت کي. او د دې دواړو حالتونو قرضه هم په جلا جلا سبب سره ثابته ده، لهذا د هر حالت قرض به د هغه حالت په ګټل سوي مال سره اداء کيږي د دې لپاره چي د قرض ادا ينه د ګټي (ګټل سوي مال) سره برابره سي.

د دويم روايت دليل: دا دی چي د اسلام په حالت کي چي هغه کوم مال ګټلی دی هغه د ده په ملکيت کي دی له همدې کبله به د هغه وارثان د دې مال مالکان (او په دغه مال کي د هغه نائبان) کيږي او د دې خلافت او نيابت لپاره شرط دا دی چي دا ملکيت د مورث له حق څخه يعني له قرض او داسي نورو څخه فارغ وي نو ځکه به د وراثت والا پر خلافت باندي قرض مخکي کول کيږي. پاته سو د ارتداد په حالت کي ګټل سوی مال نو هغه د ده مملوک نه دی ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز

په ارتداد سره د ملکيت أهليت او صلاحيت ختميږي نو په دې وجه به د حالت ارتداد والا له ګټې شخه د هغه قرضونه نه اداء کيږي، ها! که چيري د حالت اسلام والا له ګټې څخه قرضونه اداء نه سي نو بيا به د حالت ارتداد والا له ګټې څخه هغه اداء کيږي.

د دريم روايت دليل: دا دی چي د حالت اسلام والا ګټه د وارثانو حق دی لیکن د حالت ارتداد والا ګټه د مرتد خپل حق دی، لهذا د مرتد له خپل مال څخه به د هغه قرضونه اداء کيږي، لیکن که چيري د حالت ارتداد والا ګټه د قرضونو لپاره ناکافي وي نو د حالت اسلام والا له ګټې څخه به هغه اداء کيږي. د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د هغه له دواړو ګټو څخه د هغه قرضونه اداء کيږي ځکه چي هغه د دواړو ګټو مالک دی او په دواړو کي وراثت جاري دی لهذا له دواړو ګټو څخه د قرضو په اداء کولو کي هيڅ حرج او پرېشاني نسته.

د مرتدوالي د حالت تصرّفات

قَالَ: وَمَا بَاعَهُ أَوِ اشْتَرَاهُ أَوْ أَعْتَقَهُ أَوْ وَهَبَهُ أَوْ رَهَنَهُ أَوْ تَصَرَّفَ فِيهِ مِنْ أَمْوَالِهِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فرمايي: او مرتد چي د خپل ارتداد په حالت کي کوم مال خرڅ کړي يا يې رانيسي يا يې آزاد کړي يا يې هبه کړي يا يې په رهن کي کښيږدي يا په خپلو مالونو کي يو تصرف وکړي فَهُوَ مَوْقُوفٌ نو د هغه تصرف به موقوف وي فَإِنْ أَسْلَمَ صَحَّتْ عُقُودُهُ نو که هغه اسلام راوړي نو د هغه دا عقدونه [او تصرّفات] به صحيح کيږي .وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ او که هغه مړ سي يا قتل کړی سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي بَطَلَتْ نو د هغه عقدونه به باطليږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَ ● أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُ مَا صَنَعَ فِي الْوَجْهَيْنِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي به د هغه تصرفات جائز وي اِعْلَمْ! أَنَّ تَصَرُّفَاتِ الْمُرْتَدِّ عَلَى أَقْسَامٍ پوه سه! چي د مرتد تصرفات پر څو قسمه دي نَافِذٌ بِالِاتِّفَاقِ كَالِاسْتِيلَادِ وَالطَّلَاقِ (۱) اول هغه کوم چي بالاتفاق نافذيږي لکه اُم ولد جوړول او طلاق ورکول لِأَنَّهُ لَا يَفْتَقِرُ إِلَى حَقِيقَةِ الْمِلْكِ وَتَمَامِ الْوِلَايَةِ ځکه چي دا تصرّفات حقيقي ملکيت او د ولايت پوره والي ته محتاج نه وي وَبَاطِلٌ بِالِاتِّفَاقِ كَالنِّكَاحِ وَالذَّبِيحَةِ (۲) دويم هغه تصرفات دي کوم چي بالاتفاق باطليږي لکه نکاح او ذبيحه

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۳۳۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۰۲]

ايعني د مسلماني ښځي سره نکاح کول او ښاروی ذبح کول. نو د مرتد دا تصرفات بالاتفاق باطل دي ا لِأَنَّهُ يَعْتَمِدُ الْمِلَّةَ وَلَا مِلَّةَ لَهُ ځکه چي د دې تصرفاتو د صحت مدار پر ملت اسلام ا دی او مرتد لره ملت نسته ايعني مرتد مسلمان نه دی. نو ځکه د هغه دا تصرفات باطل دي ا وَمَوْقُوفٌ بِالِاتِّفَاقِ كَالْمُفَاوَضَةِ دريم هغه تصرفات دي کوم چي بالاتفاق موقوف دي لکه شرکت مفاوضه لِأَنَّهَا تَعْتَمِدُ الْمُسَاوَاةَ ځکه چي د شرکت مفاوضه مدار پر مساوات امذهبي برابر والي ا دی وَلَا مُسَاوَاةَ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْمُرْتَدِّ مَا لَمْ يُسْلِمْ او د مسلمان او مرتد په مينځ کي مساوات نسته تر څو چي مرتد اسلام نه راوړي وَمُخْتَلَفٌ فِي تَوَقُّفِهِ ④ او څلورم هغه تصرفات دي چي د هغوی په موقوف کېدلو کي اختلاف دی وَهُوَ مَا عَدَدْنَاهُ او دا هماغه تصرفات دي کوم چي موږ شمار کړل لَهُمَا: أَنَّ الصِّحَّةَ تَعْتَمِدُ الْأَهْلِيَّةَ د صاحبينو دليل: دا دی چي د دې تصرفاتو د صحت دار ومدار د متصرف پر اهليت دی وَالنَّفَاذَ يَعْتَمِدُ الْمِلْكَ او د نفاذ مدار پر ملکيت دی وَلَا خَفَاءَ فِي وُجُودِ الْأَهْلِيَّةِ او د أهليت په موجودېدلو کي هيڅ پټوالی نسته ايعني د مرتد په أهليت کي هيڅ شبهه نسته. هغه بالکل أهل دی ا لِكَوْنِهِ مُخَاطَبًا ځکه چي متصرف امرتدا په شرعي أحکامو مخاطب دی وَكَذَا الْمِلْكُ همدارنګه د هغه ملکيت هم موجود دی لِقِيَامِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ځکه چي ملکيت د هغه تر مرګ مخکي پاته دی ايعني د هغه تر مرګه پوري پاته دی ا عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ د دې بيان وکړی وَلِهَذَا لَوْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ بَعْدَ الرِّدَّةِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ امْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ همدا وجه ده که د هغه تر مرتد کېدلو وروسته د هغه له مسلماني ښځي څه په شپږو مياشتو کي ادننه ا يو بچی پيدا سي يَرِثُهُ نو هغه بچی به د دې مرتد وارث کيږي وَلَوْ مَاتَ وَلَدُهُ بَعْدَ الرِّدَّةِ قَبْلَ الْمَوْتِ او که چيري تر ارتداد وروسته د مرتد له مرګ څخه مخکي د هغه بچی مړ سي لَا يَرِثُهُ نو هغه به د مرتد نه وارث کيږي فَتَصِحُّ تَصَرُّفَاتُهُ نو ځکه به اتر مرګ مخکي ا د هغه تصرفات صحيح کيږي إِلَّا أَنَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ تَصِحُّ كَمَا تَصِحُّ مِنَ الصَّحِيحِ خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د هغه تصرفات داسي صحيح کيږي لکه څرنګه چي د روغ سړي تصرفات صحيح کيږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَوْدُهُ إِلَى الْإِسْلَامِ ځکه چي

اسلام ته د هغه واپس راتلل ښكاره دي إِذِ الشُّبْهَةُ تُزَاحُ ځكه چي اغالب ګومان دا دی چي له هغه څخه به اشبهه ليري كړى سي فَلَا يُقْتَلُ نو هغه به نه قتل كيږي وَصَارَ كَالْمُرْتَدَّةِ او هغه داسي سو لكه مرتده ښځه وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَصِحُّ كَمَا تَصِحُّ مِنَ الْمَرِيضِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به د مرتد تصرفات داسي صحيح كيږي لكه څرنګه چي د مريض تصرفات صحيح كيږي لِأَنَّ مَنِ انْتَحَلَ إِلَى نِحْلَةٍ لَا سِيَّمَا مُعْرِضًا عَمَّا نَشَأَ عَلَيْهِ قَلَّمَا يَتْرُكُهُ ځكه كوم سړى چي د بل مذهب وطرف ته نقل سي "خصوصاً په هغه صورت كله چي دئ له هغه مذهب څخه اعراض كونكى وي پر كوم مذهب چي دئ پيدا سوى وي" نو داسي كس ډېر كم دا بل مذهب پرېږدي ايعني ډېر كم داسي كيږي چي هغه دا دويم مذهب هم پرېږدي ا فَيُفْضِي إِلَى الْقَتْلِ ظَاهِرًا او په ښكاره هغه قتل ته رسوي ايعني غالب ګومان همدا دی چي داسي كس به قتل كړى سی ا بِخِلَافِ الْمُرْتَدَّةِ لِأَنَّهَا لَا تُقْتَلُ په خلاف د مرتدي ښځي. ځكه چي هغه نه قتل كيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ حَرْبِيٌّ مَقْهُورٌ تَحْتَ أَيْدِينَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي هغه داسي حربي دی كوم چي زموږ تر لاسو لاندي مغلوب دی عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ فِي تَوَقُّفِ الْمِلْكِ لكه امخكي اچي د هغه د ملكيت د موقوف كېدلو په هكله موږ د دې بيان وكړى وَتَوَقُّفُ التَّصَرُّفَاتِ بِنَاءً عَلَيْهِ او د تصرفاتو موقوف كېدل د ملكيت پر موقوف كېدلو مبني دی وَصَارَ كَالْحَرْبِيِّ يَدْخُلُ دَارَنَا بِغَيْرِ أَمَانٍ او دا مرتد د هغه حربي په څېر سو كوم چي له أمان څخه بغير زموږ دارُ الاسلام ته راسي فَيُؤْخَذُ وَيُقْهَرُ نو ځكه به هغه نيول كيږي او ازموږ تر لاس لاندي به ا مغلوب وي وَتَتَوَقَّفُ تَصَرُّفَاتُهُ او د هغه تصرفات به موقوف كيږي لِتَوَقُّفِ حَالِهِ ځكه چي د هغه حال موقوف دی فَكَذَا الْمُرْتَدُّ نو همداسي به مرتد هم وي وَاسْتِحْقَاقُهُ الْقَتْلَ لِبُطْلَانِ سَبَبِ الْعِصْمَةِ فِي الْفَصْلَيْنِ او مرتد ځكه د قتل مستحق دی چي په دواړو صوْرتونو كي د عصمت سبب باطل دی فَأَوْجَبَ خَلَلًا فِي الْأَهْلِيَّةِ نو هغه ادمرتدا په أهليت كي خلل پيدا كړی بِخِلَافِ الزَّانِي وَقَاتِلِ الْعَمْدِ په خلاف د زناكا كونكي او قصداً قتل كونكي لِأَنَّ الِاسْتِحْقَاقَ فِي ذَلِكَ جَزَاءٌ عَلَى الْجِنَايَةِ ځكه چي په دوی كي د قتل استحقاق د جرم د سزا په توګه وي وَبِخِلَافِ الْمَرْأَةِ او په خلاف د ښځي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ

حَرْبِيَّةً ځکه چي ښځه جلګ کونکې نه وي وَلِهٰذَا لَا تُقْتَلُ او له همدې کبله هغه نه قتل کيږي.

اللغات: ﴿رِدَّة﴾ ارتداد، مرتد کېدل. ﴿عقود﴾ معاملات. ﴿تعتمد﴾ د افتعال مضارع ده: اعتماد کول، مبني کېدل. ﴿انتحل﴾ د افتعال ماضي ده: نسبت اختيارول، منتقل کېدل. ﴿نحلة﴾ مذهب، عقيده (مراد ځني له اسلام څخه بغير بل دين دی). ﴿يفضي﴾ د افعال مضارع ده: رسول، سبب جوړېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د ارتداد په حالت کي چي مرتد کوم تصرّفات کوي مثلاً خرڅول او رانيول (بيع او شراء)، هبه کول، غلام آزادول او داسي نور، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د هغه دا تصرفات موقوف کيږي که چيري هغه اسلام راوړي نو د هغه دا عقود او تصرّفات به نافذيږي او که هغه مړی سي يا سي قتل کړی سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي نو دا ټوله تصرّفات به باطليږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په دواړو صورتونو کي د هغه تصرّفات صحيح کيږي برابره ده هغه که د اسلام په حالت کي دا تصرّفات کړي وي او که د ارتداد په حالت کي او د بعد القتل والموت په دواړو صورتونو کي به د هغه تصرفات جائز او صحيح وي. اصل خبره دا ده چي د مرتد تصرفات ټوله پر څلور قسمه دي: ① هغه تصرفات کوم چي بالاتفاق نافذيږي لکه مرتد چي يو مينځه اُم ولد جوړه کړي يا د عدت په دوران کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو د هغه دا فعلونه د ټولو په نېز نافذيږي. ځکه چي د اُم ولد جوړولو او د طلاق ورکولو لپاره نه د حقيقي ملکيت ضرورت پکار دی او نه مکمل ولايت. له همدې کبله فقهاؤ د غلام طلاق صحيح ګرځولی دی حالانکي په غلام کي هيڅ ولايت هم نسته.

(۲) دويم قسم هغه تصرفات دي کوم چي بالاتفاق باطل دي. او دا له ترجمې څخه واضح دي. (۳) دريم هغه تصرفات دي کوم چي بالاتفاق موقوف دي. لکه مرتد چي د يو مسلمان سره د کاروبارو کولو په وخت کي شرکتِ مفاوضه وکړي نو دا شرکت مفاوضه به موقوف پاته وي که چيري هغه اسلا راوړي نو مفاوضه به صحيح کيږي او که د ارتداد په حالت کي هغه مړ سي يا قتل کړی سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي نو مفاوضه باطليږي او د دې بُطلان وجه دا ده چي د مفاوضې د صحت لپاره مساوات بين الشريکين ضروري دی حالانکي په مسلمان او مرتد کي هيڅ مساوات نسته. ځکه چي په اسلام او کفر کي ښکاره تضاد دی. (۴) څلورم قسم هغه تصرفات دي کوم چي مختلف فيه دي او په عبارت کي بيان سوي دي.

د صاحبينو دليل: دا دى چې د تصرف د صحت (صحيح كېدلو) دار ومدار د تصرف پر أهليت دى او دې تصرف نافذېدل د متصرّف پر ملكيت موقوف دي او دلته (په دې مسئله كې) د متصرف په أهليت كې هيڅ شبهه نشته، ځكه چې هغه په شرعي أحكامو مخاطب دى له همدې كبله د ارتداد په وجه پر هغه قتل واجب دى، همدارنګه كوم شى چې د تصرف نافذېدلو لپاره ضروري دى هغه په دغه مرتد كې موجود دى يعني د ده تر مرګه پورې د ده ملكيت باقي پاتـه دى همدا وجه كه د ده تر ارتداد وروسته د ده مسلمانځه په شپږو مياشتو كې دننه بچى وزېږوي نو هغه بچى به د ده وارث وي او كه چيرې تر ارتداد وروسته او تر مرګ مخكې د ده يو بچى مړ سي نو هغه به د خپل دغه مرتد پلار نه وارث كېږي، ځكه چې د مرتد ملكيت تر مرګه پوري باقي دى او دا بچى د هغه تر مرګ مخكې مړ سوى دى فلا ير ثـه، له دې څخه دا خبره معلومه سوه چې قبل الموت به د مرتد تصرفات صحيح كېږي او كله چې تصرفات صحيح كېږي نو د اسلام تصرفات به يې داسي صحيح وي لكه د روغ سړي تصرفات چې صحيح كېږي يعني دا تصرفات به د متصرف مرتد په ټوله مال كې صحيح وي، ځكه چې ظاهري حالت همدا دى چې هغه به بيرته د اسلام وطرف ته را وګرځي ځكه چې غالب ګومان همدا دى چې د هغه شبهه به ليري كړى سي. او څرنګه چې مرتده ښځه نه قتلول كېږي همداسي به دغه مرتد هم نه قتلول كېږي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به دا تصرفات د مريض د تصرفاتو په څير صحيح كېږي يعني د هغه د مال له دريمې حصې څخه به نافذيږي. ځكه كله چې يو څوک پريوه مذهب او عقيدې پيدا سي او په هغه كې راغـتې سي او بيا دئ هغه مذهب پريږدي دويم مذهب اختيار كړي نو تر دې وروسته داسي ډېر كم كېږي چې هغه به دا دويم مذهب هم پريږدي، لهذا د دغه مرتد دوباره اسلام راوړل مشكل دي او د ده پايله او انجام قتل دى. نو ځكه به د ميت (مرتد) له طرفه به فقط د مال په دريمه حصه كي د هغه تصرفات نافذيږي.

د امام صاحب دليل: دا دى چې له ارتداد څخه بغير مرتد حربي كېږي او څرنګه چې دئ زموږ تر لاس لاندي او مغلوب دى. لهذا د ده تصرفات به هم د هغه حربي په څير موقوف وي كوم چې له أمان اخيستلو څخه بغير دارُ الاسلام ته راسي او زموږ تر لاس لاندي مغلوب وګرځي. ځكه چې د ده ملكيت موقوف پاتيږي حالانكي د تصرفاتو صحت د ملكيت پر صحيت موقوف دى. لهذا كله چې د ده ملكيت موقوف دى نو ښكاره خبره ده چې د ده تصرّفات به هم موقوف وي.

پاتـه سو د دې مرتد د استحقاقُ القتل سوال؟ نو د هغه جواب دا دى چې د عصمت د سبب يعني له اسلام څخه د ګرځېدلو په وجه يا د حربي كېدلو په وجه د هغه عصمت او حفاظت معدوم سو او د عصمت په معدوم كېدلو سره د هغه په أهليت او صلاحيت كې خلل او نقص راغلى او كله چې د هغه په أهليت كي ګډېږ دى نو ښكاره خبره ده چې د هغه په تصرفاتو كي به هم ګډېږ وي يعني صحيح

کيږي او نافذيږي به نه. او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله چي هغه پر مرتده ښځه قياسوي دا صحيح نه دي. ځکه چي ښځه نه حربيه کيږي او ښځه قتلول کيږي هم نه. همدارنګه زاني او عمداً قتل کونکي په دې وجه د قصاص مستحق کيږي چي قصاص او قتل د دوی د جرم او جنايت سزا ده. لهذا پر هغو باندي هم مرتد قياسول صحيح نه دي.

د مرتد اسلام راوړل او له دارُ الحرب څخه واپس راتلل

فَإِنْ عَادَ الْمُرْتَدُّ بَعْدَ الْحُكْمِ بِلَحَاقِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ مُسْلِمًا بيا که مرتد وروسته تر دې "چي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله وسي" دارُ الاسلام ته راسي فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِنْ مَالِهِ بِعَيْنِهِ نو هغه چي خپل کوم مال بعينه د خپلو وارثانو سره پيدا کړي أَخَذَهُ نو هغه دي اخلي او وخلي لِأَنَّ الْوَارِثَ إِنَّمَا يَخْلُفُهُ فِيهِ لِاسْتِغْنَائِهِ ځکه چي وارث هغه وخت د دې مال وارث کيږي کله چي مرتد له هغه څخه مستغني وي (يعني مرتد هغه مال ته محتاج نه وي) وَإِذَا عَادَ مُسْلِمًا احْتَاجَ إِلَيْهِ او کله چي هغه د مسلمانوالي په حالت کي (دارُ الاسلام ته) واپس راسي نو هغه (خپله) د دې مال ته محتاج سي فَيُقَدَّمُ عَلَيْهِ نو ځکه به هغه تر وارث مخکي کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَزَالَهُ الْوَارِثُ عَنْ مِلْكِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي وارث دا مال له خپل ملکيت څخه ايستلی وي وَبِخِلَافِ أُمَّهَاتِ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرِيهِ او په خلاف د هغه د اُم ولد مينځو او مدبرو غلامانو لِأَنَّ الْقَضَاءَ قَدْ صَحَّ بِدَلِيلٍ مُصَحِّحٍ ځکه چي د هغو په هکله په مصحح دليل سره صحيح فيصله سوې ده فَلَا يُنْقَضُ لهذا دا صحيح فيصله به نه ماتيږي وَلَوْ جَاءَ مُسْلِمًا قَبْلَ أَنْ يَقْضِيَ الْقَاضِي بِذَلِكَ او که هغه د مسلمانوالي په حالت کي راسي مخکي تر دې چي قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله وکړي انو د هغه ټوله أملاک به پر خپل حال پاته وي) فَكَأَنَّهُ لَمْ يَزَلْ مُسْلِمًا ځکه چي (په دې صورت کي) به هغه داسي وي لکه له همېشه څخه چي مسلمان وو (او بالکل مرتد سوی نه وو) لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿لحاق﴾ د سمع مصدر دی: يو ځای کېدل. مراد ځني دارُ الحرب ته تلل او د حربيانو سره يو ځای کېدل دي. ﴿يد﴾ لاس. مراد ځني قبضه ده. ﴿استغناء﴾ د استفعال مصدر دی: بې پروا کېدل (يو شي ته احتياج نه لرل).

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی که یو سړی مرتد سي دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فیصله وکړي. بیا هغه مسلمان سي دویم ځل دارُ الاسلام ته راسي . نو د دې صورت حکم دا دی چې په دارُ الاسلام کي چې د وارثانو سره د هغه کوم مالونه بعینهٖ موجود وي هغه به دا مالونه له وارثانو څخه واپس اخلي؛ ځکه چې وارث په هغه صورت کي د دې اسلام راوړونکي مرتد د مال مستحق کیږي کله چې هغه مال ته محتاج نه وي. حالانکي د اسلام په حالت کي دارُ الاسلام ته په واپس راتللو سره هغه په خپله مال ته محتاج سو. نو د هغه حاجت او ضرورت به د وارث له حاجت څخه مخکي کیږي. لیکن که چیري وارث هغه مال په خپل - اجت کي مصرف کړی وي نو له هغه مال څخه د اسلام راوړونکي مرتد حق ختمیږي. همدارنګه د ده هغه مدبر غلامان او داسي کوم چي آزاد کړی سوي وي هغه هم آزاد پاتیږي او بیا به غلامان نه جوړیږي، ځکه چې د هغو په هکله د قاضي فیصله په صحیح دلیل سره صادره سوې وه. لهذا اوس به هغه فیصله نه ماتیږي. ها! که چیري مرتد دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فیصله نه وکړي بیا هغه مسلمان سي دار الاسلام ته واپس راسي نو د هغه ملکیتونه (أملاک) به د مخکي په څیر پر خپل حال پاتیږي او هیڅ شی به د هغه له ملکیت څخه نه زائلیږي، ځکه چې په دې صورت کي به هغه له همېشه څخه مسلمان ګڼل کیږي او د هغه ارتداد به معدوم شمارل کیږي.

د ارتداد په حالت کي د کافري مینځي سره وطي کول

وَإِذَا وَطِئَ الْمُرْتَدُّ جَارِيَةً نَصْرَانِيَّةً كَانَتْ لَهُ فِي حَالَةِ الْإِسْلَامِ او که چیري مرتد د داسي نصراني مینځي سره وطي وکړي کوم چې د اسلام په حالت کي د ده مینځه وي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ اِرْتَدَّ بیا هغه مینځه د ده د مرتد کېدلو له وخت څخه تر شپږو میاشتو په زیات مودت کي بچی وزېږوي فَادَّعَاهُ او مرتد د بچي دعویٰ وکړي فَهِيَ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ وَالْوَلَدُ حُرٌّ وَهُوَ ابْنُهُ نو هغه مینځه به د ده اُم ولد وي او بچی به آزاد وي او د ده زوی به وي وَلَا يَرِثُهُ لیکن ا بچی به د ده نه وارث کیږي وَإِنْ كَانَتِ الْجَارِيَةُ مُسْلِمَةً او که مینځه مسلمانه وي وَرِثَهُ الِابْنُ إِنْ مَاتَ عَلَى الرِّدَّةِ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ نو که چیري مرتد پر ارتداد مړ سوی وي یا دارُ الحرب. ته تللی وي نو زوی به د هغه وارث کیږي أَمَّا صِحَّةُ الِاسْتِيلَادِ فَلِمَا قُلْنَا کوم چې د اُم ولد جوړولو صحیح کېدل دي نو د هغه دلیل په وجه دي کوم چې مو بیان کړی وَأَمَّا الْإِرْثُ فَلِأَنَّ الْأُمَّ إِذَا كَانَتْ نَصْرَانِيَّةً وَالْوَلَدُ تَبَعٌ لَهُ او کوم چې د زوي وارث کېدل

دي نو ځکه چي کله مور نصراني وي نو بچی به د خپل مرتد پلار تابع وي لِقُرْبِهِ إِلَى الْإِسْلَامِ ځکه چي [په دې صورت کي] پلار اسلام ته زيات نژدې دی لِلْجَبْرِ عَلَيْهِ ځکه چي هغه به پر اسلام راوړلو مجبورول کيږي فَصَارَ فِي حُكْمِ الْمُرْتَدِّ نو دا بچی هم د مرتد په حکم کي سو وَالْمُرْتَدُّ لَا يَرِثُ الْمُرْتَدَّ او مرتد د مرتد وارث کېدلای نه سي أَمَّا إِذَا كَانَتْ مُسْلِمَةً لېکن که هغه مينځه مسلمانه وي فَالْوَلَدُ مُسْلِمٌ تَبَعًا لَهَا نو بچی به د هغې په متابعت کي مسلمان وي لِأَنَّهَا خَيْرُهُمَا دِينًا ځکه چي [په دې صورت کي] مور د دين په اعتبار سره غوره ده وَالْمُسْلِمُ يَرِثُ الْمُرْتَدَّ او مسلمان د مرتد وارث کېدلای سي وَإِذَا لَحِقَ الْمُرْتَدُّ بِمَالِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ او که چيري مرتد د خپل مال سره دارُ الحرب ته ولاړ سي ثُمَّ ظُهِرَ عَلَى ذَٰلِكَ الْمَالِ بيا پر هغه مال [د مجاهدينو] غلبه وسي فَهُوَ فَيْءٌ نو هغه به فيئ وي فَإِنْ لَحِقَ ثُمَّ رَجَعَ وَأَخَذَ مَالًا وَأَلْحَقَهُ بِدَارِ الْحَرْبِ او که مرتد دارُ الحرب ته ولاړ سي بيا واپس راسي او مال واخلي او دارُ الحرب ته يې يووسي فَظُهِرَ عَلَى ذَٰلِكَ الْمَالِ بيا پر هغه مال [د مجاهدينو] غلبه وسي فَوَجَدَتْهُ الْوَرَثَةُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ او د مرتد وارثان هغه د غنيمت تر تقسيم مخکي پيدا کړي رُدَّ عَلَيْهِمْ نو هغه مال به هغو ته واپس کيږي لِأَنَّ الْأَوَّلَ مَالٌ لَمْ يَجْرِ فِيهِ الْإِرْثُ ځکه چي اول مال يو داسي مال دی چي په هغه کي وارثت جاري نه دی وَالثَّانِي انْتَقَلَ إِلَى الْوَرَثَةِ او دويم مال د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل سو بِقَضَاءِ الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ ځکه چي قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله وکړه فَكَانَ الْوَارِثُ مَالِكًا قَدِيمًا لهذا وارثانو به پخواني حقداره وي.

اللغات: ﴿ظُهِر﴾ د فتح ماضي مجهوله ده، د دې باب په صله کي چي "عَلیٰ" ذکر سي نو د "غالبېدلو" او "قبضه کولو" په معنیٰ سره راځي. ﴿فيء﴾ د غنيمت مال. ﴿ألحقه﴾ د افعال ماضي ده: ور سره يو ځای کول، مراد ځني د مال وړل دي. ﴿رُدّ﴾ د نصر ماضي مجهوله ده: واپس کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د اسلام په زمانه کي د مرتد يوه نصرانيه مينځه وي او مرتد هغې مينځي سره وطي وکړي، بيا هغه مينځه د دې مرتد د ارتداد له وخت څخه تر شپږو مياشتو په زيات مودت کي بچی وزېږوي او مرتد د هغه دعویٰ وکړي. نو مينځه به د ده (مرتد) أم ولد کيږي او هغه بچی به د ده زوی کيږي او آزاد به وي لېکن د خپل پلار به نه وارث کيږي، ها! که چيري مينځي

اسلام راوړی وي او مرتد د ارتداد په حالت کې مړ سوی وي یا دارُ الحرب ته تللی وي نو په دې صورت هغه پیدا سوی بچی د خپل پلار وارث کیږي؛ صاحب د هدایې دلیل بیانوي فرمایې چې د مرتد استیلاد صحیح دی (یعني دا صحیح دي چې مرتد یوه مینځه اُم ولد جوړه کړي). ځکه چې د استیلاد لپاره نه حقیقي ملکیت ضروري وي او نه د ولایت بشپړ تیا (تمامیت) ضروري وي. او د مور د نصراني والي په صورت کې به ځکه بچی د خپل مرتد پلار نه وارث کیږي چې بچی به د خپل پلار تابع وي، ځکه چې پلار به پر دوباره اسلام راوړلو مجبوره کیږي او هغه به اسلام ته زیات نژدې وي. نو د پلار په متابعت کې به هغه بچی هم د مرتد په حکم کې وي، او مرتد د مرتد وارث کېدلای نه سي.

او د مور د مسلمانوالي په صورت کې به د "الولد یتبع خیر الأبوین" په وجه بچی د خپلې مور تابع کیږي او مسلمان به وي. او مسلمان د مرتد وارث کېدلای سي. لهذا په دې صورت کې د بچي د خپل پلار په وارث کېدلو کې هیڅ شبهه نسته.

وإذا لحق المرتد إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مرتد خپل مال د ځان سره دارُ الحرب ته یوسي، بیا پر هغه مال د مجاهدینو غلبه او قبضه راسي نو هغه مال به فیئ وي. ځکه چې د ارتداد او لحاق بدار الحرب په وجه هغه مرتد حربي وګرځېدی او د حربي مال فیئ وي. او که چیرې مرتد یوازې دارُ الحرب ته ولاړ سي بیا واپس راسي او دویم وار د ځان سره سامان دارُ الحرب ته یوسي او بیا پر هغه مال د مجاهدینو قبضه راسي او له تقسیم څخه مخکې هغه مال د مرتد وارثانو ته ورسیږي، نو هغه به فقط د وارثانو حق وي (بل چا ته به نه ورکول کیږي)، ځکه کله چې قاضي دارُ الحرب ته د مرتد د تللو فیصله وکړه نو د مرتد مال د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل سو او وارثان د هغه مال پخواني مالکان سول (یعني د هغه مال اول حقداره وګرځېدل) او د مجاهدینو تر غلبې وروسته هغه مال بیرته وارثانو ته ورسېدی نو همدغه پخواني مالکان به د هغه زیات حقداره وي. لهذا فقط هغو ته به مال ورکول کیږي.

که زوی د خپل مرتد پلار غلام مکاتب جوړ کړي (حکم)

وَإِذَا لَحِقَ الْمُرْتَدُّ بِدَارِ الْحَرْبِ او که چیرې مرتد دارُ الحرب ته ولاړ سي **وَلَهُ عَبْدٌ فَقُضِيَ بِهِ لِابْنِهِ** او د ده یو غلام وي چې د هغه په هکله د ده د زوی لپاره فیصله وسي [یعني قاضي دا فیصله وکړي چې دا غلام د مرتد د زوی دی] **وَكَاتَبَهُ الِابْنُ** او زوی هغه مکاتب جوړ کړي **ثُمَّ جَاءَ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمًا** بیا مرتد د مسلمانوالي په حالت کې راسي **فَالْكِتَابَةُ جَائِزَةٌ وَالْمُكَاتَبَةُ وَالْوَلَاءُ لِلْمُرْتَدِّ الَّذِي أَسْلَمَ** نو مکاتبت [مکاتب جوړول] به جائز وي او د کتابت مال او د مکاتب ولاء دغه مرتد ته ورکول کیږي کوم چې مسلمان سوی دی **لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى بُطْلَانِ الْكِتَابَةِ** ځکه چې د مکاتبت د باطلولو هیڅ صورت نسته

لِنُفُوذِهَا بِدَلِيلٍ مُنْفَذٍ ځکه چې هغه په نافذونکي دليل سره نافذ سوی دی فَجَعَلْنَا الْوَارِثَ الَّذِي هُوَ خَلَفُهُ كَالْوَكِيلِ مِنْ جِهَتِهِ نو ځکه موږ هغه وارث کوم چې د مرتد نائب دی د هغهٔ له طرفه وکيل جوړ کړی وَحُقُوقُ الْعَقْدِ فِيهِ تَرْجِعُ إِلَى الْمُوَكِّلِ او په عقد کتابت کې د عقد حقوق د مؤکل وطرف ته راجع کيږي وَالْوَلَاءُ لِمَنْ يَقَعُ الْعِتْقُ عَنْهُ او ولاء هغه کس ته حاصليږي چې د هغه له طرفه آزادي واقع سوې وي وَإِذَا قَتَلَ الْمُرْتَدُّ رَجُلًا خَطَأً او که چيرې مرتد خطاءً يو سړی قتل کړي ثُمَّ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ بيا هغه دار الحرب ته ولاړ سي يا د ارتداد په حالت کې قتل کړی سي فَالدِّيَةُ فِي مَالٍ اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ خَاصَّةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به ديت فقط په هغه مال کې وي کوم چې هغه [مرتد] د اسلام په حالت کې گټلی وي وَقَالَا: الدِّيَةُ فِيمَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالَةِ الْإِسْلَامِ وَالرِّدَّةِ جَمِيعًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې ديت به په هغه ټوله مال کې وي کوم چې هغه د اسلام او ارتداد په دواړو حالتونو کې گټلی وي لِأَنَّ الْعَوَاقِلَ لَا تَعْقِلُ الْمُرْتَدَّ ځکه چې عاقله د مرتد ديت نه ورکوي لِانْعِدَامِ النُّصْرَةِ ځکه چې نصرت معدوم وي فَتَكُونُ فِي مَالِهِ لهذا ديت به [فقط] د هغه په مال کې وي وَعِنْدَهُمَا الْكَسْبَانِ جَمِيعًا مَالُهُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دواړې گټې د هغه خپل مال [او ملکيت] دي لِنُفُوذِ تَصَرُّفَاتِهِ فِي الْحَالَيْنِ ځکه چې په دواړو حالتونو کې د هغه تصرفات نافذيږي وَلِهَذَا يَجْرِي الْإِرْثُ فِيهِمَا عِنْدَهُمَا له همدې کبله د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دواړو گټو کې وراثت جاري کيږي وَعِنْدَهُ مَالُهُ الْمُكْتَسَبُ فِي الْإِسْلَامِ او د امام صاحب په نيز د مرتد مال هغه دی کوم چې هغه د اسلام په حالت کې گټلی وي لِنَفَاذِ تَصَرُّفِهِ فِيهِ دُونَ الْمَكْسُوبِ فِي الرِّدَّةِ ځکه چې [د امام صاحب په نيز] د مرتد تصرفات په هغه مال کې نافذيږي، نه د حالت ارتداد په گټه کې لِتَوَقُّفِ تَصَرُّفِهِ ځکه چې په هغه گټه کې د ده تصرف موقوف وي وَلِهَذَا كَانَ الْأَوَّلُ مِيرَاثًا عَنْهُ وَالثَّانِي فَيْئًا عِنْدَهُ له همدې کبله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د حالت اسلام والا گټه ميراث کيږي او د حالت ارتداد والا گټه فيئ کيږي.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۳۳۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰۳]

اللغات: ﴿كاتبه﴾ دمفاعلې ماضي ده: د مكاتبت معامله كول. مكاتب جوړول. ﴿ولاء﴾ د آزاد كړې سوي غلام ميراث.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه يو سړی مرتد سي دارُ الحرب ته ولاړ سي او د دې مرتد سړي يو غلام وي چي د هغه په باره قاضي دا فيصله وكړي چي تر دې وروسته دا غلام د مرتد د زوی دی. او زوی هغه غلام مكاتب جوړ كړي. تر دې وروسته مرتد اسلام راوړي او دارُ الاسلام ته وا پس راسي. نو د هغه د زوی مكاتبت به جائز وي. خو د عقد كتابت د بدل اداء كولو په صورت كي به د مكاتب غلام ولاء د هغه مخكني مالک يعني دغه اسلام راوړونكي مرتد ته وركول كيږي. ځكه چي په دې مسئله كي بدلِ كتابت باطل نه سو. ځكه چي د ده زوی د قاضي په قضاء سره د غلام مالک سوی دی. نو ځكه موږ د صحت د صورت په اختيارولو سره د ده وارث زوی د ده وكيل گرځولی دی او څرنگه چي په عقد كتابت كي عقد د مؤكل وطرف ته راجع كيږي نو ځكه به د كتابت بدل (عوض) او د مكاتب ولاء همدغه مؤكل يعني "اسلام راوړونكي مرتد" ته وركول كيږي. ځكه چي آزادي د ده له طرفه واقع سوې او دا خو مشهوره خبره ده چي "الولاء للمُعتِق".

وإذا قتل المرتد إلخ: فرمايي: كه چيري مرتد خطاءً يو څوک قتل كړي بيا هغه دارُ الحرب ته ولاړ سي يا د ارتداد په حالت كي قتل كړی سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د ده په هغه مال كي ديت واجبيږي كوم چي ده د اسلام په حالت كي گټلی وي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نه نيز به د اسلام او ارتداد په دواړو گټو كي ديت واجبيږي: د صاحبينو دليل دا دی چي د دواړو حالتونو گټې د هغه ملكيت دی ځكه چي په دواړو كي د هغه تصرفات نافذيږي او په دواړو كي ميراث هم جاري دی. لهذا له دواړو گټو څخه به ديت هم اداء كيږي. او څرنگه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز فقط د حالت اسلام والا په گټه كي د مرتد تصرفات نافذيږي او فقط په هغه كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ميراث جاري كيږي. لهذا فقط د حالت اسلام والا گټه به د هغه مال وي او له هغه څخه به ديت اداء كيږي. پاته سو د حالت ارتداد والا گټه نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه د مرتد نه ده. ځكه چي په هغه كي د ده تصرفات موقوف پاته وي. او هغه گټه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ميراث هم نه گرځي بلكې فيئ به وي. نو په همدې وجه به له هغه څخه ديت هم نه اداء كيږي. او په دواړو صورتونو كي د قاتل له مال څخه د ديت اداء كولو وجه دا ده چي په مرتد او مسلمان كي خپل مينځوی نصرت معلوم دی (يعني مسلمان د مرتد نصرت او مدد نه سي كولای) نو په دې وجه به دلته عاقله د هغه ديت نه اداء كوي.

د ارتداد او دیت يوه مسئله

وَإِذَا قُطِعَتْ يَدُ الْمُسْلِمِ عَمَدًا او که چیري د يو مسلمان لاس قصداً پرېکړی سي فَارْتَدَّ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ بيا نعوذ بالله هغه مرتد سي ثُمَّ مَاتَ عَلَى رِدَّتِهِ مِنْ ذٰلِكَ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بيا د هغه قطع او زخم په وجه مړ سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي ثُمَّ جَاءَ مُسْلِمًا فَمَاتَ مِنْ ذٰلِكَ بيا د مسلمانوالي په حالت کي راسي او د هغه قطع په وجه مړ سي فَعَلَى الْقَاطِعِ نِصْفُ الدِّيَةِ فِي مَالِهِ لِلْوَرَثَةِ نو پر قاطع [پرېکونکي] به په خپل مال کي [د میّت] د وارثانو لپاره نیم دیت واجب وي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ السِّرَايَةَ حَلَّتْ مَحَلًّا غَيْرَ مَعْصُومٍ کوم چي اول صورت دی نو ځکه چي قطع په داسي محل کي سرايت کړی وو کوم چي د حفاظت قابل نه وو فَأُهْدِرَتْ نو ځکه د هغه وينه [او خون] هدر [او بې ضمانه] سو بِخِلَافِ مَا إِذَا قُطِعَتْ يَدُ الْمُرْتَدِّ ثُمَّ أَسْلَمَ فَمَاتَ مِنْ ذٰلِكَ په خلاف د هغه صورت کله چي د مرتد لاس پرېکړی سي بيا هغه مسلمان سي او د هغه قطع په وجه مړ سي [نو پر قاطع هيڅ شی نه واجبيږي] لِأَنَّ الْإِهْدَارَ لَا يَلْحَقُهُ الِاعْتِبَارُ ځکه چي [په هغه صورت کي] إهدار لره هيڅ اعتبار نه وي أَمَّا الْمُعْتَبَرُ قَدْ يُهْدَرُ بِالْإِبْرَاءِ فَكَذَا بِالرِّدَّةِ کوم چي معتبر قصاص دی نو هغه په معافولو سره ساقطيږي نو همداسي به په ارتداد سره هم قصاص ساقطيږي وَأَمَّا الثَّانِي وَهُوَ مَا إِذَا لَحِقَ وَمَعْنَاهُ إِذَا قُضِيَ بِلَحَاقِهِ فَلِأَنَّهُ صَارَ مَيِّتًا تَقْدِيرًا او کوم چي دويم صورت دی يعني کله چي هغه دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي د هغه د تللو فيصله وکړي نو [د هغه قصاص به ځکه باطليږي] چي هغه په تقديري اعتبار سره مړ وګرځېدی وَالْمَوْتُ يَقْطَعُ السِّرَايَةَ او مرګ سرايت قطع کوي [يعني مرګ د زخم أثر له سرايت کولو څخه منع کوي] وَإِسْلَامُهُ حَيَاةٌ حَادِثَةٌ فِي التَّقْدِيرِ او د هغه اسلام راوړل تقديراً [د معنیٰ په اعتبار سره] نوی ژوند دی [يعني لکه هغه چي نوي ژوندی سو] فَلَا يَعُودُ حُكْمُ الْجِنَايَةِ الْأُولَى لهذا [په دې نوي ژوند کي] به د اول جرم حکم نه راګرځي فَإِذَا لَمْ يَقْضِ الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ او که چيري قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله کړې نه وي فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِي نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى نو دا [مسئله] پر هغه اختلاف ده چي هغه به موږ انشاء الله [څه وروسته] بيان کړو.

اللغات: ﴿سراية﴾ د ضرب مصدر دی: أثر او اغېز كول، سرايت كول، (په بدن كي د زخم أثر غوړېدل او نشر كېدل)، ﴿أهدرت﴾ د افعال ماضي ده: وينه ضايع كول (خون ضايع كول)، بېله بدلې او بېله ضمانه پرېښوول. بربادول، باطلول. ﴿يُهدر﴾ د مضارع مجهوله صيغه ده: هدر كېدل، خون او وينه ضايع كېدل (پالتو كېدل). بې بدلې پاتېدل. ﴿إبراء﴾ د افعال مصدر دی: بري كول، معاف كول (بخښل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو څوک قصداً د يو مسلمان لاس پرېكړي بيا دا مقطوع بدبخته مرتد سي او د ارتداد په حالت كي مړ سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي، لېكن څو وخت وروسته بېرته اسلام راوړي او واپس راسي او بيا د هغه مخكني زخم په وجه مړ سي نو اوس به پر قاطع د نفس ديت نه وي بلكي پر هغه به د لاس ديت واجب وي كوم چي د نفس د ديت نصف كيږي؛ په اول يعني د ارتداد والا په صورت كي د نفس د ديت نه واجبېدلو وجه دا ده چي كه څه هم مقطوع د اسلام په حالت كي زخمي سوی دی لېكن دغه زخم چي كله په هغه كي سرايت كړی دی په هغه وخت كي دئ مرتد وو او زخم په غير محترم او غير محفوظ مقام كي سرايت كړی دی نو ځكه به د هغه عوض او ديت نه واجبيږي، ځكه چي عوض د هغه محل لپاره واجبيږي كوم چي محترم وي. د دې په خلاف كه چيري د مرتد لاس پرېكړی سي بيا هغه مسلمان سي او د هغه مخكني زخم په وجه مړ سي نو پر قاطع به هيڅ ضمان واجب نه وي نه به د نفس ديت پر واجب وي او نه به د لاس ديت پر واجب وي؛ ځكه په كوم وخت كي چي د ده (مرتد) لاس پرېكړی سو په هغه وخت كي ده لره هيڅ اعتبار نه وو او په هغه وخت كي ديت واجب نه وو، لهذا تر اسلام راوړلو وروسته به هم هغه لره هيڅ اعتبار نه وي او وروسته به هم ديت نه واجبيږي.

او په دويم صورت يعني دارُ الحرب ته د تللو په صورت كي د نفس د ديت نه واجبېدلو وجه دا ده چي دارُ الحرب ته د تللو په وجه هغه مرتد معناً د مړه په شان سو او مرگ د زخم له سرايت څخه مانع دی او دوباره د هغه اسلام راوړل داسي دي لكه دوباره نوي ژوندی كېدل، نو ځكه به په دې نوي ژوند كي مخكني زخم لره هيڅ أثر او اعتبار نه وي او په مخكني زخم سره د مړه كېدلو په وجه به پر قاطع د نفس ديت واجب نه وي. او كه چيري قاضي دارُ الحرب ته د دې مرتد د تللو فيصله نه وي كړې نو د هغه حكم به په راتلونكي عبارت كي ذكر سي.

د پورتني مسئلې يو بل صورت

قال: فَإِنْ لَمْ يَلْحَقْ وَأَسْلَمَ ثُمَّ مَاتَ فرمايي: كه مرتد دارُ الحرب ته ولاړ نه سي او اسلام راوړي بيا مړ سي فَعَلَيْهِ الدِّيَةُ كَامِلَةً نو پر هغه به پوره ديت واجب وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ دا حكم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ: مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ ۞: فِي جَمِيعِ ذَلِكَ نِصْفُ الدِّيَةِ امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دې ټولو صورتونو كي به نيم ديت واجب وي لِأَنَّ اعْتِرَاضَ الرِّدَّةِ أَهْدَرَ

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:٥، ص:١٣٧). [انوار الراجح ج:١، ص:٥٠٥]

النِّهَايَةِ ځکه چي ارتداد سرايت باطل کړی ايعني د ارتداد پېښېدلو په وجه سرايت باطل سوا فَلَا يَنْقَلِبُ بِالْإِسْلَامِ إِلَى الضَّمَانِ لهذا په اسلام راوړلو سره به دا إهدار په ضمان سره نه بدليږي كَمَا إِذَا قُطِعَ يَدُ مُرْتَدٍّ فَأَسْلَمَ لکه د يو مرتد لاس چي پرېکړی سي بيا هغه مسلمان سي وَلَهُمَا: أَنَّ الْجِنَايَةَ وَرَدَتْ عَلَى مَحَلٍّ مَعْصُومٍ وَتَمَّتْ فِيهِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي جرم په محترم امحفوظا محل کي واقع سوی دی او په هغه کي پوره سوی دی فَيَجِبُ ضَمَانُ النَّفْسِ نو ځکه به د نفس ضمان واجبيږي كَمَا إِذَا لَمْ تَتَخَلَّلِ الرِّدَّةُ لکه کله چي ارتداد مُخل نه سي ايعني په دې دوران کي ارتداد پېښ نه سي! وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِقِيَامِ الْعِصْمَةِ فِي حَالِ بَقَاءِ الْجِنَايَةِ او دا ځکه چي د جرم د بقاء په حالت کي د عصمت [او حفاظت] موجود والي لره هيڅ اعتبار نسته وَإِنَّمَا الْمُعْتَبَرُ قِيَامُهَا فِي حَالِ انْعِقَادِ السَّبَبِ وَفِي حَالِ ثُبُوتِ الْحُكْمِ بلکي د سبب د منعقد کېدلو او د حکم د ثابتېدلو په وخت کي د عصمت موجود والی معتبر دی وَحَالَةُ الْبَقَاءِ بِمَعْزِلٍ مِنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ او د بقاء حالت له دې ټولو څخه جلا دی وَصَارَ كَقِيَامِ الْمِلْكِ فِي حَالِ بَقَاءِ الْيَمِينِ او دا داسي دی لکه د يمين د بقاء په حالت کي د ملکيت پاتېدل اموجود والی! وَإِذَا ارْتَدَّ الْمُكَاتَبُ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ وَاكْتَسَبَ مَالًا او که چيري مکاتب مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړسي او [هلته] مال وګټي فَأُخِذَ بِمَالِهِ وَأَبَى أَنْ يُسْلِمَ فَقُتِلَ بيا هغه د خپل مال سره ونيول سي او هغه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي. بيا قتل کړی سي فَإِنَّهُ يُوَفَّى مَوْلَاهُ مُكَاتَبَتَهُ نو [د هغه له مال څخه] به مالک ته د مالک د کتابت مال ورپوره کيږي وَمَا بَقِيَ فَلِوَرَثَتِهِ او کوم مال چي باقي پاته سي نو هغه به د ده د وارثانو وي وَهٰذَا ظَاهِرٌ عَلَى أَصْلِهِمَا او دا خو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر أصل ښکاره دي لِأَنَّ كَسْبَ الرِّدَّةِ مِلْكُهُ إِذَا كَانَ حُرًّا ځکه که چيري مرتد آزاد وي نو د هغه ګټه [د صاحبينو په نېز] د هغه خپل ملکيت دی فَكَذَا إِذَا كَانَ مُكَاتَبًا لهذا کله چي هغه مکاتب وي نو هم به ګټه د هغه ملکيت وي وَأَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فَلِأَنَّ الْمُكَاتَبَ إِنَّمَا يَمْلِكُ أَكْسَابَهُ بِالْكِتَابَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا حکم په دې وجه دی چي مکاتب د عقد کتابت په وجه د خپلي ګټي مالک کيږي وَالْكِتَابَةُ لَا تَتَوَقَّفُ بِالرِّدَّةِ او د هغه په مرتد کېدلو سره کتابت نه موقوف

کيږي فَكَذَا أَكْسَابُهُ نو همداسي به د هغه ګټه هم نه موقوفه کيږي أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يَتَوَقَّفُ تَصَرُّفُهُ بِالْأَقْوَى وَهُوَ الرِّقُّ آيا ته نه ګورې! چې د هغه تصرّف په ډېر قوي شي يعني په رقيت [غلامتوب] سره نه موقوف کيږي فَكَذَا بِالْأَدْنَى بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَى لهذا په أدنىٰ شي [ارتداد] سره به په طريقه اولىٰ نه موقوف کيږي.

اللغات: ﴿اعتراض﴾ د افتعال مصدر دی: په مينځ کې راتلل. پيښيدل ﴿معزل﴾ ګوښه والی. جلا والی. ﴿کَسْب﴾ ګټه. ګټل سوی مال.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيرې "مقطوعُ اليد مرتد" دارُ الحرب ته ولاړ نه سي. يا ولاړ سي لېکن قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله نه وکړي بيا هغه مسلمان سي او تر اسلام راوړلو وروسته د قطعُ اليد په وجه مړ سي. نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر قاطع د هغه پوره ديت واجب وي. لېکن د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز به په ټولو صوتوکو کې فقط نيم ديت واجب وي: د دې حضراتو دليل دا دی چې د مقطوع ارتداد د زخم سرايت او أثر ختم کړی. لهذا د هغه په مسلمانېدلو سره به دغه إهدار په ضمان سره نه بدليږي. نو ځکه به د نفس ديت نه واجبيږي. بلکي په ټولو صورتونو کې به نيم ديت يعني د لاس ديت واجب وي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې کله د مقطوع لاس پرېکړی سو په هغه وخت کې دئ مسلمان وو او جنايت پر محترم او معصوم محل باندې واقع سو او د اسلام په حالت کې د هغه زخم په وجه دئ مړ هم سو نو ځکه به د نفس ديت واجب وي. لکه کله چې په مينځ کې ارتداد واقع نه سي نو په هغه صورت کې هم پر قاطع د نفس ديت واجبيږي همداسي به په دې مسئله کې هم پر هغه کامل ديت واجب وي.

او څرنګه چې په دې مسئله کې مقطوع د قطعُ اليد په وخت کې مسلمان دی او د هغه عصمت کامل دی. لهذا د دې وخت د جنايت جزاء او سزا به هم کامله وي او پر قاطع به پوره ديت واجب وي. د دې مثال داسي دي لکه څرنګه چې د يمين د بقاء په حالت کې د ملکيت باقي پاتېدل ضروري نه دي. بلکي که د يمين د منعقد کېدلو په وخت کې (يعني د قسم اخيستلو په وخت کې) ملکيت باقي وي نو يمين صحيح کيږي. مثلاً که يو څوک خپلې ښځې ته ووايي "إن دخلتِ الدار فأنتِ طالقٌ" نو څرنګه چې د يمين په وخت کې هغه د ده ښځه ده نو ځکه يمين صحيح دی. او که تر دې وروسته دئ هغه ښځې ته طلاق بائن ورکړي او له خپل ملکيت څخه يې وباسي او بيا دوباره نکاح سره ورکړي، تر دې وروسته دا ښځه کور ته داخله سي نو هم هغه طلاقيږي.

وإذا الخ: فرمايي كه چيري يو مكاتب مرتد سي دارُ الحرب ته ولاړ سي او هلته مال وګټي بيا امام هغه د خپل مال سره ونيسي او پر هغه اسلام پېش كړي، لېكن هغه له اسلام راوړلو څخه انكار وكړي. نو امام دي هغه قتل كړي او د هغه سره چي كوم مال دى، په هغه مال سره دي د ده عقد كتابت اداء كړي او كوم مال چي باقي پاته سي نو هغه دي د ده وارثانو ته وركړې. د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز خو دې صحيح كېدل ظاهر او څرګند دى ځكه چي د صاحبينو په نېز مرتد د حالت ارتداد والا د ګټې مالك دى او عقد كتابت چي كله په مرګ سره نه باطلېږي نو په ارتداد سره به په طريقه اولىٰ نه باطلېږي.

او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې د صحيح كېدلو وجه دا ده چي د عقد كتابت په وجه مكاتب د خپلي ګټې مالك كېږي ځكه چي د ارتداد په وجه په عقد كتابت كي هېڅ خرابي نه راځي. لهذا د مكاتب په ګټه كي به هم د ارتداد په وجه هيڅ خرابي نه راځي او د هغه له ګټې څخه به بدل كتابت هم اداء كېږي او پاته ګټه به د هغه وارثانو ته وركول كېږي. همدارنګه كله چي د رقيت په وجه د مرتد تصرفات نه موقوف كېږي نو د ارتداد په وجه خو به په طريقه اولىٰ نه موقوف كېږي. ځكه چي د مانعيت په حواله سره رقيت له ارتداد څخه زيات قوي دى.

خاوند او ښځه يو ځاى مرتد كېدل او دارُ الحرب ته تلل

وَإِذَا ارْتَدَّ الرَّجُلُ وَامْرَأَتُهُ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ او كه چيري سړى او ښځه دواړه (نعوذ بالله) مرتد سي **وَلَحِقَا بِدَارِ الْحَرْبِ** او دواړه درُ الحرب ته ولاړ سي **فَحَبِلَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَوَلَدَتْ وَلَدًا** او ښځه په دارُ الحرب كي حامله [بلاربه] سي او بچى وزېږوي **وَوُلِدَ لِوَلَدِهِمَا وَلَدٌ** او د دوى د بچي [هم] بچى پيدا سي **فَظُهِرَ عَلَيْهِمْ جَمِيعًا** بيا پر دوى ټولو [د مجاهدينو] غلبه وسي **فَالْوَلَدَانِ فَيْءٌ** نو دواړه بچيان به فيئ وي **لِأَنَّ الْمُرْتَدَّةَ تُسْتَرَقُّ فَيَتْبَعُهَا وَلَدُهَا** ځكه چي مرتده ښځه به مينځه ګرځول كېږي نو د هغې بچى به د هغې تابع كېږي **وَيُجْبَرُ الْوَلَدُ الْأَوَّلُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَلَا يُجْبَرُ وَلَدُ الْوَلَدِ** او اول بچى به پر اسلام راوړولو مجبورول كېږي [لېكن] د بچي بچى [لمسى] به نه مجبورول كېږي **وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُجْبَرُ تَبَعًا لِلْجَدِّ** او حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت كړى دى چي د نيكه په متابعت كي به لمسى هم مجبورول كېږي **وَأَصْلُهُ التَّبَعِيَّةُ فِي الْإِسْلَامِ** او د دې روايت اصل په اسلام كي تابع كېدل دى ايعني آيا لمسى په مسلمان كېدلو كي د خپل نيكه تابع كېږي. كه نه؟! **وَهِيَ**

رَابِعَةٌ أَرْبَعُ مَسَائِلَ كُلُّهَا عَلَى الرِّوَايَتَيْنِ او دا له هغو څلورو مسئلو څخه څلورمه مسئله ده کوم چي هره یوه پر دوو روایتونو ده [یعني په هر یوه کي دوه روایتونه دي] وَالثَّانِيَةُ صَدَقَةُ الْفِطْرِ او دویمه مسئله د صدقه فطر [سرسایې] ده [یعني نیکه به د غریب لمسي له طرفه صدقه فطر اداء کوي، که نه؟] وَالثَّالِثَةُ جَرُّ الْوَلَاءِ او دریمه مسئله د ولاء راکشولو ده [یعني نیکه ته به د لمسي ولاء حاصلیږي. که نه؟] وَالْأُخْرَى الْوَصِيَّةُ لِلْقَرَابَةِ او څلورمه مسئله د قرابت لپاره د وصیت کولو ده.

اللغات: ﴿جرّ﴾ د نصر مصدر دی: کشول (را کشول). ﴿ولاء﴾ د آزاد کړی سوي غلام میراث.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که چیري خاوند او ښځه یو ځای مرتد سي دارُ الحرب ته ولاړ سي او ښځه هلته یو بچی وزیږوي بیا دا بچی غټ سي او واده وکړي او د ده ښځه هم بچی وزیږوي. بیا مجاهدین پر دارُ الحرب غالب سي، نو په دې صورت کي به د دوی بچی او لمسی دواړه فيئ او غنیمت وي، ځکه چي مرتده ښځه خو به مینځه جوړول کیږي او څرنګه چي په رقیت او حُریت کي بچی د مور تابع کیږي لهذا د خپلي مور په متابعت کي به هغه هم فيئ وي. او د دوی زوی به پر اسلام مجبورول کیږي، ځکه چي پلار مرتد دی او پر مرتد اسلام پېښول کېدا سي لهذا د پلار په متابعت کي به پر زوی هم اسلام پېښول کیږي. لېکن د زوی، زوی یعني لمسی پر اسلام راوړلو مجبورول کېدای نه سي ځکه چي لمسی د نیکه نه تابع کیږي، دا ظاهر روایت دی. او حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا بیان کړی دی چي د نیکه په متابعت کي به پر لمسي هم اسلام پېښول کیږي. او د دې اختلاف وجه دا ده چي په ظاهر روایت کي د مسلمان کېدلو لپاره د نیکه تبعیت لره هیڅ اعتبار نسته لېکن د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله په نیز دا تبعیت معتبرَ دی.

صاحب د هدایې فرمایي چي دا له هغو څلورو مسئلو څخه یو مسئله ده چي په هغوی کي د ظاهرُ الروایه او د حسن بن زیاد دوه جلا، جلا روایتونه دي. (۲) دویمه مسئله د صدقه فطر (سرسایې) ده. یعني که دیو بچي پلار غریب وي او د هغه نیکه مالدار وي نو ظاهر په روایت کي پر نیکه د هغه صدقه فطر واجب نه ده او د حسن بن زیاد په نیز واجب ده. (۳) دریمه مسئله دا ده چي که پلار د یو چا غلام وي او نیکه د لمسي مالک جوړ سي چي د هغه په وجه لمسی آزاد سي. نو په ظاهر روایت کي نیکه د لمسي د ولاء نه حقداره کیږي، او د حسن بن زیاد په نیز هغه د لمسي د ولاء حقداره کیږي. (۴) څلورمه مسئله دا ده چي که یو څوک د خپلو قریبانو لپاره وصیت وکړي نو د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله په نیز په هغه وصیت کي د پلار سره نیکه هم داخلیږي. لېکن په ظاهر روایت کي نیکه نه پکښي داخلیږي.

د بچي مرتد کېدل

قال: وَارْتِدَادُ الصَّبِيِّ الَّذِي يَعْقِلُ ارْتِدَادٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ فرمايي: چي د انابالغ ا پوهېدونکي بچي ارتداد د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ارتداد دی ايعني د صاحبينو په نېز د هغه مرتد کېدل معتبر دي ا وَيُجْبَرُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَلَا يُقْتَلُ او هغه به اهم ا پر اسلام راوړلو مجبورول کيږي الېکن ا هغه به نه قتل کيږي وَإِسْلَامُهُ إِسْلَامٌ او د هغه اسلام اهم ا اسلام دی ايعني د هغه اسلام راوړل هم معتبر دي ا لَا يَرِثُ أَبَوَيْهِ إِنْ كَانَا كَافِرَيْنِ اهمدا وجه ده ا که چيري د هغه مور وپلار کافران وي نو هغه د دوی نه وارث کيږي وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ ●: ارْتِدَادُهُ لَيْسَ بِارْتِدَادٍ وَإِسْلَامُهُ إِسْلَامٌ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه مرتد کېدل معتبر نه دي الېکن ا د هغه اسلام راوړل معتبر دي وَقَالَ: زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: إِسْلَامُهُ لَيْسَ بِإِسْلَامٍ وَارْتِدَادُهُ لَيْسَ بِارْتِدَادٍ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي نه د هغه اسلام راوړل معتبر دي او نه د هغه مرتد کېدل معتبر دي لَهُمَا فِي الْإِسْلَامِ: أَنَّهُ تَبَعٌ لِأَبَوَيْهِ فِيهِ د اسلام په هکله د دې حضراتو دليل دا دی: چي په اسلام راوړلو کي هغه د خپل مور وپلار تابع دی فَلَا يُجْعَلُ أَصْلًا لهذا ا په اسلام راوړلو کي ا به هغه أصل نه ګرځول کيږي وَلِأَنَّهُ يَلْزَمُهُ أَحْكَامًا تَشُوبُهَا الْمَضَرَّةُ او ځکه اکه د هغه اسلام راوړل معتبر ومنل سي نو ا پر هغه به داسي أحکام لازم سي چي په هغوی کي به نقصان ګډ وي ايعني هغه به د بچي لپاره نقصان مند وي ا فَلَا يُؤَهَّلُ لَهُ نو په دې وجه به اهم ا هغه د اسلام راوړلو أهل نه ګرځول کيږي وَلَنَا فِيهِ: أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَسْلَمَ فِي صِبَاهُ وَصَحَّحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِسْلَامَهُ او د اسلام راوړلو په هکله زمونږ دليل دا دی: چي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په کوچنيوالي کي اسلام راوړی او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه اسلام صحيح وګرځوی وَافْتِخَارُهُ بِذَلِكَ مَشْهُورٌ او په کوچنيوالي کي د اسلام راوړلو په هکله د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فخر کول مشهور دي الکه څرنګه چي هغه په ځينو أشعارو کي هم د دې يادونه کړې ده ا وَلِأَنَّهُ أَتَى بِحَقِيقَةِ الْإِسْلَامِ او

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في الملتقى (ج:١، ص:٦٩٥)، وكذا في ... (ج:٢، ص:٣٣٠). [القول الراجح ج:١، ص:٥٠٦]

ځکه چي بچی هم حقیقتاً اسلام راوړي وَهِيَ التَّصْدِيقُ وَالْإِقْرَارُ مَعَهُ او هغه تصديق كول او اقرار كول دي ايعني حقيقتاً اسلام دا دی: په زړه سره تصديق كول او په ژبه سره اقرار كول ا لِأَنَّ الْإِقْرَارَ عَنْ طَوْعٍ دَلِيلٌ عَلَى الِاعْتِقَادِ ځكه چي په خوښۍ ااو رضاا سره اقرار كول د هغه پر اعتقاد دليل دی عَلَى مَا عُرِفَ لكه څرنګه چي دا معلوم دي وَالْحَقَائِقُ لَا تُرَدُّ او حقيقتونه احقيقتاً ايمان ا رد كېدلای نه سي وَمَا يَتَعَلَّقُ بِهِ سَعَادَةٌ أَبَدِيَّةٌ وَنَجَاةٌ عُقْبَاوِيَّةٌ او د اسلام سره متعلق كېدونكي شی دائمي سعادت انېكبختي ا ده او اُخروي نجات دی وَهِيَ مِنْ أَجَلِّ الْمَنَافِعِ او دا ډېره غټه نفع ده وَهُوَ الْحُكْمُ الْأَصْلِيُّ او همدا أصلي حكم دی ثُمَّ يَبْتَنِي عَلَيْهِ غَيْرُهَا بيا له هغه څخه بغير نور شيان اهم ا پر هغه مبني دي فَلَا يُبَالِي بِشَوْبِهِ لهذا په دې هكله به د نقصان په راتلو سره پروا نه كيږي وَلَهُمَا فِي الرِّدَّةِ: أَنَّهَا مَضَرَّةٌ مَحْضَةٌ او د ارتداد په هكله د دې حضراتو دليل دا دی: چي هغه محض نقصان دی ايو ذره نفع هم پكښې نسته ا بِخِلَافِ الْإِسْلَامِ عَلَى أَصْلِ أَبِي يُوسُفَ په خلاف د اسلام. د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ پر أصل لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ أَعْلَى الْمَنَافِعِ ځكه چي د اسلام سره ډېري غټي نفعي متعلق كيږي عَلَى مَا مَرَّ لكه ااوس ا چي تېر سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ فِيهَا: أَنَّهَا مَوْجُودَةٌ حَقِيقَةً د ارتداد په هكله د طرفينو رَحِمَهُمَا اللهُ دليل دا دی: چي هغه حقيقتاً موجود دی وَلَا مَرَدَّ لِلْحَقِيقَةِ او حقيقت رد كېدلای نه سي كَمَا قُلْنَا فِي الْإِسْلَامِ لكه د اسلام په هكله چي موږ ااوس ا وويل إِلَّا أَنَّهُ يُجْبَرُ عَلَى الْإِسْلَامِ لېكن هغه به پر اسلام مجبورول كيږي لِمَا فِيهِ مِنَ النَّفْعِ لَهُ ځكه چي په دې كي د هغه نفع ده وَلَا يُقْتَلُ او هغه به نه قتل كيږي لِأَنَّهُ عُقُوبَةٌ ځكه چي قتل سزا ده وَالْعُقُوبَاتُ مَوْضُوعَةٌ عَنِ الصِّبْيَانِ مَرْحَمَةً عَلَيْهِمْ او پر بچيانو د رحم ااو شفقت ا كولو په خاطر له هغو څخه سزاګاني ساقطه سوي دي وَهَذَا فِي الصَّبِيِّ الَّذِي يَعْقِلُ او دا حكم د هغه بچي په باره كي دی كوم چي پوهيږي وَمَنْ لَا يَعْقِلُ مِنَ الصِّبْيَانِ لَا يَصِحُّ ارْتِدَادُهُ او كوم بچيان چي نه پوهيږي نو د هغو ارتداد صحيح نه دی لِأَنَّ إِقْرَارَهُ لَا يَدُلُّ عَلَى تَغْيِيرِ الْعَقِيدَةِ ځكه چي د هغه اقرار د عقيدې پر بدلولو دلالت نه كوي وَكَذَا الْمَجْنُونُ وَالسَّكْرَانُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ او همدا حكم د لېوني او د هغه نشه سړي دی كوم چي ا په شي ا نه پوهيږي ااو عقل يې نشې لاندي كړی وي ا.

اللغات: ﴿يشوبه﴾ د نصر مضارع ده: ګډېدل. ور سره يوځاى كېدل. ﴿يؤهّل﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده؛ أهل ګرځول. ﴿صبا﴾ كوچنيوالى (د كوچنيتوب وخت). ﴿طوع﴾ رضا. خوښي. ﴿لا يُبالى﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: پروا كول. ﴿سكران﴾ په نشه كي ډوب. نشه سړى.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د پوهېدونكي (عاقل) بچي ارتداد هم مقبول او متعبر دى او د هغه اسلام هم معتبر دى. نو كه هغه مرتد سي نو پر اسلام راوړلو به هغه مجبورول كيږي او كه هغه مسلمان وي نو د خپل كافر مور و پلار به نه وارث كيږي. د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د بچي ارتداد خو معتبر نه دى ليكن د هغه اسلام مقبول او متعبر دى. ليكن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز نه د هغه ارتداد معتبر دى او نه يې اسلام معتبر دى.

دليل: د اسلام د نه معتبر كېدلو په هكله د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى چي بچى په دين او مذهب كي د خپل پلار تابع كيږي. حال دا چي د هغه مور و پلار كافران دي لهذا د هغوى په متابعت كي به دا بچى هم كافر وي. او كه چيري مور د بچي اسلام معتبر ومنو نو تابع به أصل وګرځي حالانكي په أصليت او تبعيت كي منافات دى. همدارنګه كه چيري مور د هغه اسلام معتبر ومنو نو هغه ته به نقصان او ضرر ورسيږي يعني هغه به د خپل مور و پلار له ميراث څخه محروم سي لهذا په دې حواله سره به هم د هغه اسلام معتبر نه وي.

زمونږ دليل: د بچي د اسلام د معتبريت او مقبوليت په هكله زمونږ دليل د حضرت علي رضي الله عنه اسلام دى چي هغه په كوچنيوالي كي اسلام قبول كړى او نبي كريم ﷺ د هغه اسلام صحيح وګرځوى. او په كوچنيوالي كي پر ايمان راوړلو به حضرت علي رضي الله عنه همېشه فخر كوى. نو دا ټوله د دې خبري دليل دى چي د بچي اسلام مقبول او معتبر دى.


عقلي دليل دا دى چي د بالغ په څير پوهېدونكى (عاقل) بچى هم حقيقتاً اسلام راوړي يعني هغه هم په زړه سره تصديق كوي او په ژبه سره اقرار كوي او څرنګه چي دا تصديق او اقرار هغه په خپله خوښي او رضا سره كوي نو ځكه به دا هم معتبر او مقبول وي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چي "كه چي د بچي اسلام معتبر ومنل سي نو هغه ته به نقصان ورسيږي" دا مونږ نه تسليموو. ځكه چي د هغه نقصان يعني "له ميراث څخه محرومېدل" د دنيا سره متعلق دي حال دا چي د هغه په عوض كي بچي

ته دائمي سعادت او د آخرت له عذاب څخه خلاصون حاصليږي چي تر دې بل هيڅ غټه نفع نسته. او همدا د مؤمن مسلمان د ژوند مقصد او هدف دی او پر دې باندي نور منافع مبني کيږي. لهذا د دومره غټي نفعي په مقابله کي به په معمولي نقصان هيڅ پروا نه کيږي او د هغه اسلام به معتبر وي.

د بچي د ارتداد د نه معتبر کېدلو دليل دا دی چي په ارتداد کي سراسر نقصان دی. او د نقصان والا کار د بچي په حق کي نه معتبر کيږي نو ځکه به د هغه ارتداد هم معتبر نه وي. د ارتداد په سلسله کي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د امام شافعي رَحِمَهُ الله سره دی او د اسلام په هکله کي هغه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله سره دی.

د بچي د ارتداد د معتبر کېدلو په هکله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي ارتداد حقيقتاً موجوديږي او حقيقت هيڅوک ردولای نه سي نو ځکه به د بچي ارتداد خو معتبر وي لېکن هغه به پر اسلام راوړلو مجبورول کيږي. ځکه که هغه اسلام راوړي نو د هغه دنيا او آخرت به دواړه سم سي. لېکن که هغه له اسلام څخه انکار وکړي نو هغه به نه قتلول کيږي. ځکه چي قتل يو غټه سزا ده او بچی د معمولي سزا هم لائق نه دی. غټه سزا خو هلته پر پرده!.

وهذا فى الصبى إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي دا اختلاف د پوهېدونکي بچي په هکله دی. لېکن د ناپوه بچي ارتداد بالکل صحيح نه دی. ځکه نا پوه بچی د اسلام او کفر تر مينځ توپير نه سي کولای. لهذا که هغه زر واره هم اقرار وکړي نو د هغه اقرار به د عقيدې د تغيير دليل نه وي. همدا د حکم د لېوني او د ډېر نشه سړي هم دی کوم چي په خپل حال کي نه وي او په هيڅ نه پوهيږي. يعني د دې کسانو ارتداد هم معتبر نه دی. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْبُغَاةِ

(دا) باب د سرکښانو (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: د مرتدینو له أحکامو څخه وروسته د بابُ البغاة بیانولو وجه دا ده چې څرنګه له اسلام څخه تر انکار وروسته مرتدین قتل کیږي همدارنګه که باغیان په حمله کولو پیل وکړي نو هغوی به هم قتل کیږي. نو په دې وجه دا دواړه بابونه پرلپسې بیان سوي دي. لیکن څرنګه چې له مرتدینو څخه د اسلام أمید او توقع هم کیږي نو په دې وجه د هغو أحکام د باغیانو له أحکامو څخه بیان سول.

ښکاره دې وي چې بُغاة جمع د بَاغِي ده لکه قُضَاة چې جمع د قَاضِي ده. د دې لفظ لغوي معنیٰ ده طلب کول لکه په قرآن کې چې ذکر سوي دي "ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ" [سورة الکهف: ۶۴]. او بغاوت سرکښي او نافرماني ته وايي. او د "بُغاة" اصطلاحي معنیٰ ده: هغه خلک کوم چې د عادل او پرحق امام له اطاعت څخه ووځي او د هغه حکم او فرمان نه مني.

د باغیانو سره تر جنګ مخکې د مذاکراتو حکم

وَإِذَا تَغَلَّبَ قَوْمٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى بَلَدٍ او که چیري یو مسلمان قوم په زور پر یو ښار غلبه وکړي وَخَرَجُوا مِنْ طَاعَةِ الْإِمَامِ او د امام له اطاعت څخه ووځي دَعَاهُمْ إِلَى الْعَوْدِ إِلَى الْجَمَاعَةِ نو امام دې هغو ته [د مسلمانانو] د جماعت سره دیو ځای کېدلو دعوت ورکړي وَكَشَفَ عَنْ شُبْهَتِهِمْ او د هغو شبهه دې لیري لِأَنَّ عَلِيًّا فَعَلَ كَذٰلِكَ بِأَهْلِ حَرُورَاءَ قَبْلَ قِتَالِهِمْ ځکه چې حضرت علي ﷺ د "حروراء" د خلکو سره تر جنګ کولو مخکې همداسې معامله وکړه وَلِأَنَّهُ أَهْوَنُ الْأَمْرَيْنِ او ځکه چې دا له دوو کارو څخه آسانه [او نفع مند] کار دی وَلَعَلَّ الشَّرَّ يَنْدَفِعُ بِهِ او کېدای سي چې په دې سره شر ختم سي فَيَبْدَأُ بِهِ نو ځکه به امام په دې سره شروع کوي.

اللغات: ﴿أهون﴾ د اسم تفیل صیغه ده: زیات سپک. زیاته آسانه. ﴿یبدأ﴾ د فتح مضارع ده: شروع کول. پیل کول.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو قوم له عادل امام څخه بغاوت وكړي او د مسلمانانو له جماعت څخه جلا سي او پر يو ښار يا علاقې باندي قابض او غالب سي، نو امام ته پكار دی چي د هغو سره تر جنګ كولو مخكي د اسلامي جماعت سره د يو ځای كېدلو دعوت ور كړي او كه د اسلام يا جماعةُ المسلمين په مكله هغو ته يو شبهه وي نو هغه دي ځني ليري كړي، ځكه چي د حروراء د خلكو سره همدغه معامله سوې وه. لهذا موږ ته هغسي كول پكار دي. او كېدای سي چي د خبرو اترو او مذاكراتو په ذريعه معامله حل سي او له قتل او قتال څخه نجات حاصل سي. لهذا په دې حواله سره به هم دعوت او مذاكرات له قتال څخه مخكي كول كيږي. د حروراء د خلكو قصه مشهوره ده او د هدايي د ٦٠٨ صفحې په دريمه حاشيه كي په تفصيل سره ذكر سوې ده.

د باغيانو سره به كله جنګ شروع كيږي؟

وَلَا يَبْدَأُ بِقِتَالٍ حَتّٰى يَبْدَءُوهُ او امام به د هغو سره په قتل اجنګ كولوا شروع نه كوي تر دي چي هغوی قتال شروع كړي فَإِنْ بَدَءُوهُ قَاتَلَهُمْ حَتّٰى يُفَرِّقَ جَمْعَهُمْ نو كه هغوی قتال شروع كړي نو امام دي د هغو سره قتال وكړي تر دې چي د هغو جماعت منتشر اأو تيت پرک ا كړي. قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هٰكَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ فِي مُخْتَصَرِهِ ناتوانه بنده وايي: چي همداسي امام قدوري رَحِمَهُ الله په خپل مختصر امختصرُ القدوريا كي ذكر كړي دي وَذَكَرَ الْإِمَامُ الْمَعْرُوفُ بِخُوَاهَرْ زَادَهْ أَنَّ عِنْدَنَا يَجُوزُ أَنْ يَبْدَأَ بِقِتَالِهِمْ إِذَا تَعَسْكَرُوا وَاجْتَمَعُوا او د خواهر زاده په نامه سره مشهور امام ذكر كړي دي: چي كه باغيان خپل لښكر جوړ كړي او اد قتال لپارها جمع سي نو د امام لپاره د هغو سره په قتال كولو شروع كول جائز دي. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ حَتّٰى يَبْدَءُوا بِالْقِتَالِ حَقِيقَةً او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه دي تر دې چي هغوی حقيقتا ارښتياا په قتال كولو شروع وكړي لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ قَتْلُ الْمُسْلِمِ إِلَّا دَفْعًا ځكه چي د مسلمان قتلول جائز نه دي مګر اله ځان څخه ا د دفع كولو لپاره وَهُمْ مُسْلِمُونَ او باغيان اهم ا مسلمانان دي بِخِلَافِ الْكَافِرِ په خلاف د كافر لِأَنَّ نَفْسَ الْكُفْرِ مُبِيحٌ عِنْدَهُ ځكه چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نفسِ كفر اد قتل ا روا كونكی دی وَلَنَا: أَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى الدَّلِيلِ زموږ دليل دا دی: چي د حكم دار ومدار پر دليل وي وَهُوَ الِاجْتِمَاعُ وَالِامْتِنَاعُ او ادلته ا دليل د باغيانو جمع كېدل او د امام له اطاعت څخه انكار كول دي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَوْ تُنْتَظَرُ الْإِمَامُ حَقِيقَةَ

قِتَالِهِمْ او دا ځکه که چیري امام د هغو حقیقتاً قتال کولو ته انتظار وکړي رُبَّمَا لَا يُمْكِنُهُ الدَّفْعُ نو ځیني وخت د امام لپاره [د هغو] دفع کول ناممکن وګرځي فَيُدَارُ عَلَى الدَّلِيلِ ضَرُورَةَ دَفْعِ شَرِّهِمْ لهذا د هغوی د شر [او فساد] دفع کولو د ضرورت په خاطرر به د حکم مدار پر دلیل وي وَإِذَا بَلَغَهُ أَنَّهُمْ يَشْتَرُونَ السِّلَاحَ وَيَتَأَهَّبُونَ لِلْقِتَالِ او که چیري امام ته دا خبر ورسیږي چي باغیان وسله رانسي او جنګ ته تیاري کوي يَنْبَغِي أَنْ يَأْخُذَهُمْ وَيَحْبِسَهُمْ حَتَّى يُقْلِعُوا عَنْ ذَلِكَ وَيُحْدِثُوا تَوْبَةً نو امام ته پکار دی چي هغوی ونیسي او قیدیې کړي تر دې چي هغوی له دې څخه منع سي او توبه وکړي دَفْعًا لِلشَّرِّ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ د دې لپاره چي حتی الإمکان د هغو شر دفع سي وَالْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ مِنْ لُزُومِ الْبَيْتِ مَحْمُولٌ عَلَى حَالِ عَدَمِ الْإِمَامِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه چي کوم دا خبره نقل سوې ده چي [کله فتنه عامه سي نو] په کورو کي کښېنستل پکار دي دا پر هغه صورت محمول دی کله چي امام نه وي أَمَّا إِعَانَةُ الْإِمَامِ الْحَقِّ فَمِنَ الْوَاجِبِ عِنْدَ الْغَنَاءِ وَالْقُدْرَةِ کوم چي د برحق امام تعاون کول دي نو د طاقت او قدرت په وخت کي هغه واجب دی.

اللغات: ﴿يفرّق﴾ د تفعیل مضارع ده: جلا کول، منتشر کول، خواره واره کول. ﴿تعسكروا﴾ د تفعلل ماضي ده: لښکر تیارول، لښکر جوړول. ﴿يقلعوا﴾ د افعال مضارع ده: منع کېدل، پرېښوول، لیري کېدل. ﴿غناء﴾ قدرت، استطاعت.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي تر څو باغیان په قتال شروع نه وکړي تر هغه وخته به امام د هغو سره قتال نه کوي، لېکن که هغوی په قتال شروع وکړي نو امام ته پکار دي چي د هغو سره قتال وکړي، په قدوري کي هم دغه حکم ذکر سوی دی. لېکن شیخُ الاسلام خواهر زاده لیکلي دي چي که باغیان لښکر جوړ کړي او د قتال لپاره جمع سي نو هم د هغو سره قتال کول واجب دي. د دې په خلاف د شوافعو په نېز به تر هغه وخته پوري د هغو سره قتال نه کیږي تر څو چي هغوی حقیقي جنګ شروع نه کړي، ځکه چي د مسلمان قتلول جائز نه دي او دا خلک هم مسلمانان دي. لهذا تر څو چي هغوی حقیقتاً قتال نه وکړي تر هغه وخته به قتال نه ور سره کیږي.

ولنا إلخ: زموږ دلیل دا دی چي د حکم دار ومدار د قتال پر دلیل دی. نه پر حقیقتاً قتال. او د قتال دلیل پر یوه ځای د باغیانو جمع کېدل دي او د عادل او برحق امام له اطاعت څخه وتل دي. او دا کارونه تر حقیقتاً قتال مخکي د هغو له طرفه موجودیږي. لهذا د حقیقتاً قتال انتظار به نه کیږي. ځکه چي په

دې انتظار کې ځيني وخت باغيان دومره زور واخلي چې د هغو مخ راګرځول او په قابو کې راوستل مشکل وي، لهذا کله چې هم دا معلومه سي چې باغيان يو په ځای کې جمع سوي دي او د جنګ لپاره تياري کوي نو پر هغو به حمله کول جائز وي.

که امام ته دا خبر ورسيږي چې باغيان وسله رانيسي او د قتال تياري کوي. نو امام ته پکار دي چې هغوی ونيسي او قيد يې کړي د دې لپاره چې توبه وکړي او له خپل دغه حرکت څخه منع سي او په دې توګه د هغو شر او فساد ختم سي.

والمروی إلخ: د دې حاصل دا دی چې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو قول دا نقل سوی دی چې کله په مسلمانانو کې فتنه وغورېږي نو هغو ته پکار دي چې په خپلو کورو کې کښېني. دا قول پر هغه صورت محمول دی کله چې په مسلمانانو کې امام نه وي لېکن که چيري عادل او برحق امام موجود وي او د هغه له طرفه دا اعلان وسي چې تاسي د فتنې ختمولو او د مقابله کولو لپاره له کورو څخه را ووځی! نو په دې صورت کې پر هر کس د خپل طاقت مطابق په هغه کې حصه اخيستل واجب دي، ځکه چې قرآن کريم په ښکاره لفظو سره دا اعلان کړی دی: "فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ إِلٰى أَمْرِ الله". [سورة الحجرات: ۹]

د باغيانو سره د مدد کونکو حکم

فَإِنْ كَانَتْ لَهُمْ فِئَةٌ أُجْهِزَ عَلٰى جَرِيحِهِمْ او که چيري د باغيانو يو مددګاره ډله وي نو د هغو زخميان دي قتل کړی سي وَأُتْبِعَ مُوَلِّيهِمْ دَفْعًا لِشَرِّهِمْ او د هغو په تښتېدونکو دي [مجاهدين] پسې سي [او هغوی دي هم قتل کړي] چې د هغو شر دفع کړی سي كَيْ لَا يَلْحَقُوا بِهِمْ د دې لپاره چې هغوی د باغيانو سره يو ځای نه سي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ او که د باغيانو مدد کونکې ډله نه وي لَمْ يُجْهَزْ عَلٰى جَرِيحِهِمْ وَلَمْ يُتْبَعْ مُوَلِّيهِمْ نو د هغو زخميان دي نه قتل کيږي او نه دي د هغو په تښتېدونکو [مجاهدين] پسې کيږي لِانْدِفَاعِ الشَّرِّ دُونَهُ ځکه چې له دې څخه بغير [يعني له قتلولو څخه بغير] د هغو شر ختم سو وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ ذٰلِكَ فِي الْحَالَيْنِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو حالتونو کې دا جائز نه دي لِأَنَّ الْقِتَالَ إِذَا تَرَكُوهُ لَمْ يَبْقَ قَتْلُهُمْ دَفْعًا ځکه کله چې باغيان قتال پرېږدي نو د هغو قتلول به د دفع لپاره نه وي وَجَوَابُهُ مَا ذَكَرْنَاهُ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ دَلِيلُهُ لَا حَقِيقَتُهُ او د دې جواب هغه دی کوم چې موږ [مخکې] بيان کړې چې معتبر د قتال دليل دی نه حقيقتاً قتال کول

وَلَا يُسْبٰى لَهُمْ ذُرِّيَّةٌ وَلَا يُقْسَمُ لَهُمْ مَالٌ او د هغو ښځې او بچيان دې نه قيدول کيږي او نه دې د هغو مال تقسيمول کيږي لِقَوْلِ عَلِيٍّ يَوْمَ الْجَمَلِ: وَلَا يُقْتَلُ أَسِيرٌ وَلَا يُكْشَفُ سِتْرٌ وَلَا يُؤْخَذُ مَالٌ ځکه چې د "جمل" د جنګ په ورځ حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: چې نه دې اد هغوا قيدي قتلول کيږي او نه دې د يوې ښځې بې پردګي کيږي او نه دې څه مال اخيستل کيږي وَهُوَ الْقُدْوَةُ فِي هٰذَا الْبَابِ او هم هغه په دې باب کې ازموږ مقتدا اپيشوا ا دی وَقَوْلُهُ فِي الْأَسِيرِ تَأْوِيلُهُ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ او د قيدي په هکله د هغه د قول تأويل دا دی چې دا په هغه صورت کې دی کله چې د باغيانو يو مددګاره ډله نه وي فَإِنْ كَانَتْ يَقْتُلُ الْإِمَامُ الْأَسِيرَ ليکن که د هغو يو مددګاره ډله وي نو امام دې قيدي قتل کړي وَإِنْ شَاءَ حَبَسَهُ او که امام وغواړي نو هغه دې قيدي وساتي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَلِأَنَّهُمْ مُسْلِمُونَ او ځکه چې دا خلک اباغيان ا مسلمانان دي وَالْإِسْلَامُ يَعْصِمُ النَّفْسَ وَالْمَالَ او اسلام د ځان او مال حفاظت کوي وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحِهِمْ إِنِ احْتَاجَ الْمُسْلِمُونَ إِلَيْهِ او په دې کې هيڅ پروا نسته چې مسلمانان د باغيانو په وسله د هغو سره جنګ وکړي کله چې مسلمانان دې ته مجبوره سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا جائز نه دي وَالْكُرَاعُ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ او د هغو جنګي سپارلۍ الکه آس او داسې نورا استعمالول هم پر دغه اختلاف دي لَهُ: أَنَّهُ مَالُ مُسْلِمٍ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې دا د مسلمان مال دی فَلَا يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا بِرِضَاهُ لهذا د هغه له خوښۍ څخه بغير له دې مال څخه فايده اخيستل جائز نه دي وَلَنَا: أَنَّ عَلِيًّا قَسَمَ السِّلَاحَ فِيمَا بَيْنَ أَصْحَابِهِ بِالْبَصْرَةِ زموږ دليل دا دی: چې حضرت علي رضي الله عنه په بصره کې د مجاهدينو په مينځ کې مال تقسيم کړی وَكَانَتْ قِسْمَتُهُ لِلْحَاجَةِ او دا تقسيم د ضرورت پر بناء وو ايعني صحابه هغه مال ته مجبور وه ا لَا لِلتَّمْلِيكِ ادا تقسيم ا د مالک جوړولو لپاره نه وو وَلِأَنَّ لِلْإِمَامِ أَنْ يَفْعَلَ ذٰلِكَ فِي مَالِ الْعَادِلِ عِنْدَ الْحَاجَةِ او په دې وجه هم چې د ضرورت په وخت کې د امام لپاره د عادل سړي په مال کې هم داسې تقسيم کول صحيح دي اله عادل څخه مراد هغه مسلمان دی کوم چې باغي نه وي ا فَفِي مَالِ الْبَاغِي أَوْلٰى نو د باغي په مال کې به په طريقه اولیٰ هغه ته اختيار وي وَالْمَعْنٰى فِيهِ إِلْحَاقُ الضَّرَرِ الْأَدْنٰى لِدَفْعِ الْأَعْلٰى او د دې وجه دا ده چې د غټ ضرر ليرې

کولو لپاره به ادنیٰ ضرر برداشت کیږي او دلته له باغیانو څخه وسله اخیستل کوچنی ضرر دی او د مسلمانانو مجاهدینو ضرورت نه پوره کېدل او هغوی د قتل په خطره کي لوېدل غټ ضرر دی. نو ځکه به هغه کوچنی ضرر برداشت کیږي او له باغیانو څخه به وسله اخیستل کیږي چي مسلمانان مجبوره پاته نه سي ا **وَيَحْبِسُ الْإِمَامُ أَمْوَالَهُمْ** او امام به د دوی أموال را کرځوي **فَلَا يَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ وَلَا يُقَسِّمُهَا** او امام به هغه نه دوی ته واپس ورکوي او نه به یې تقسیموي **حَتَّىٰ يَتُوبُوا فَيَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ** تر دې چي هغوی توبه وکړي نو ابیا ا به امام هغو ته خپل مالونه ورکوي **أَمَّا عَدَمُ الْقِسْمَةِ فَلِمَا بَيَّنَّاهُ** کوم چي نه تقسیمول دي نو د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی **وَأَمَّا الْحَبْسُ فَلِدَفْعِ شَرِّهِمْ بِكَسْرِ شَوْكَتِهِمْ** او کوم چي د مال راګرځول دي نو د دې لپاره چي د هغو د شان وشوکت په ماتولو سره د هغو شر ا او فساد ا دفع کړی سي **وَلِهَٰذَا يَحْبِسُهَا عَنْهُمْ وَإِنْ كَانَ لَا يَحْتَاجُ إِلَيْهَا** او له همدې کبله به امام د هغو أموال راګرځوي که څه هم امام هغه ته ضرورت نه لري **إِلَّا أَنَّهُ يَبِيعُ الْكُرَاعَ** خو امام به جنګي سپارلی خرڅوي ا او د هغوی قیمت به خوندي کوي ا **لِأَنَّ حَبْسَ الثَّمَنِ أَنْظَرُ وَأَيْسَرُ** ځکه چي د قیمت راګرځول د مصلحت مطابق هم دي او آسانه هم دي **وَأَمَّا الرَّدُّ بَعْدَ التَّوْبَةِ فَلِانْدِفَاعِ الضَّرُورَةِ** او کوم چي ا د باغیانو ا تر توبې وروسته د أموالو واپس کول دي نو هغه د ضرورت ختمېدلو په وجه دي أیعني اوس د مال راګرځولو ته ضرورت پاته نه سوي ا **وَلَا اسْتِغْنَامَ فِيهَا** او دا مال غنیمت هم نه سي جوړېدلای.

اللغات: ﴿فئة﴾ مدد ګار جماعت (مرسته کونکې ډله). ﴿أجهز﴾ د افعال له باب څخه د ماضي مجهول صیغه ده: مراد ځني قتلول دي. ﴿اتبع﴾ مخکني صیغه ده: په یو چا پسې کېدل او د هغه طلب کول. ﴿مولّيهم﴾ دا په أصل کي مُوَلِّيِنَ دی "نون" د اضافت په وجه حذف سوی دی. جمع د مُوَلِّ ده: شا اړونکی، مراد ځني تښتېدونکی دی. ﴿اندفاع﴾ د انفعال مصدر دی: لیري کېدل. ﴿لا يسبي﴾ د ضرب له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: قیدول. بندي کول. ﴿يحبس﴾ د ضرب له باب څخه د مضارع صیغه ده: بندي کول. منع کول. راګرځول. ﴿كراع﴾ جنګي سپارلی لکه آسونه او داسي نور. ﴿أنظر﴾ زیات مصلحت والا (زیات فایده من). ﴿أيسر﴾ زیات آسانه ﴿اغتنام﴾ د افتعال مصدر دی: غنیمت جوړول.

تشريح : **صورت د مسئلې** : دا دى كه چيري د باغيانو يو مددګار او حمايت كونكى جماعت وي او هغوى د باغيانو سره په ګډه د مسلمانانو په خلاف قتال كوي. نو په هغو كي چي كوم خلک زخميان سي مسلمانانو ته پكار دي چي هغوى قتل كړي او كوم خلک چي وتښتي په هغو دي پسې سي او هغوى دي هم قتل كړي چي دويم وار بيا د باغيانو سره شريک نيسي او د هغو مدد نه وكړي. ها! كه چيري د هغو يو مددګار جماعت نه وي نو دا كار به نه كيږي او بې ځايه به وينه نه بيول كيږي: ځكه چي اوس له قتل او داسي نورو څخه بغير هم شر دفع سو. لهذا پېله څه وجهي د وينو بيولو هيڅ ضرورت نسته. د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دى چي برابره ده د باغيانو حمايتي جماعت وي كه نه وي په هر صورت كي نه د هغو زخيمان قتلول جائز دي او نه د هغو په تښتېدونكو پسې كېدل جائز دي. ځكه چي د هغو سره جنګ او قتال كول د مدافعت لپاره مباح دى حالانكي كله چي هغو قتال پرېښووى نو اوس د هغو سره قتال كول د دفع او مدافعت لپاره نه سو. نو ځكه به مباح نه وي. لېكن زموږ له طرفه د دې جواب هغه دى كوم چي موږ مخكي بيان كړى چي د باغيانو په حق كي د قتال د إباحت لپاره د قتال دليل معتبر دى نه حقيقي قتال. او د هغو خپل ځان ته ډله جوړول او د برحق امام له اطاعت څخه وتل د قتال دليل دى. نو ځكه به د هغو قتل او قتال مباح وي.

ولا يُسبىٰ لهم إلخ : د دې حاصل دا دى چي كه مجاهدين پر باغيانو غالب سي نو په دې صورت كي به امام د هغو ذريت يعني ښځي او بچيان نه قيدوي او غلامان به يې نه جوړوي. او نه به د هغو مالونه په مجاهدينو كي تقسيموي: ځكه چي د "جمل" د جنګ په ورځ حضرت علي ﷺ له دې كارو څخه منع وكړه حتى چي د قيديانو له قتل څخه يې هم منع وكړه نو ځكه فقهاؤ د هغه دا قول پر هغه صورت محمول كړى دى كله چي د باغيانو سره يو حمايتي او مددګار جماعت نه وي. لېكن كه د هغو يو مددګار جماعت وي نو امام ته به اختيار وي كه وغواړي نو د هغو قيديان دي قتل كړي چي له شر او فساد څخه يې خلک محفوظ سي.

ولا بأس إلخ : فرمايي كه چيري مسلمانان ضرورت مند وي نو له باغيانو څخه وسله او سامان سلبول او په هغه وسله د دوى سره جنګ كول هيڅ پروا نه لري. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د مسلمانانو لپاره داسې كول جائز نه دي. همدا حال د هغو د جنګي سپارليو هم دى يعني زموږ په نېز د هغوى استعمالول جائز دي: زموږ دليل دا دى چي حضرت علي ﷺ په بصره كي د ضرورت او احتياج په وجه په مجاهدينو كي وسله تقسيم كړه. او بل دا چي امام ته دا حق سته چي د ضرورت په وخت كي د عادل سړي أموال تقسيم كړي نو باغي بيا تر چا غوره دى د هغه مال خو به په طريقه اولىٰ تقسيمول كيږي. ځكه چي دا قاعده خو ډېره مشهوره ده چي د غټ ضرر د ختمولو لپاره به كوچنى ضرر زغمل كيږي.

ويحبس الإمام إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله امام د باغیانو أموال را وګرځوي او قبضه پر وکړي نو امام به هغه نه باغیانو ته واپس کوي او نه به یې په مجاهدینو کي تقسیموي. ها! کله چي هغوی توبه وکړي نو بیا به یې هغو ته واپس کوي، ځکه چي د توبې کولو په وجه د حبس او راګرځولو ضرورت ختم سو او ځرنګه چي دا أموال غنیمت جوړېدای نه سي. نو ځکه اوس خپلو مالکانو ته د هغوی په واپس کولو کي هیڅ حرج نسته. او له دې ځخه بغیر چي کوم جنګي سپارل دي (یعني آسونه او داسي نور) امام ته پکار دي چي هغوی خرڅ کړي او د هغوی قیمت د ځان سره وساتي. ځکه چي د ځارویو په حفاظت کي پرېشاني او ستونزه سته، لېکن د قیمت په ساتلو کي هیڅ ستونزه نسته.

د باغیانو اخیستل سوی خراج او عشر

قَالَ: وَمَا جَبَاهُ أَهْلُ الْبَغْيِ مِنَ الْبِلَادِ الَّتِي غَلَبُوا عَلَيْهَا مِنَ الْخَرَاجِ وَالْعُشْرِ فرمایي: او کوم خراج او عشر چي باغیان له هغه علاقو ځخه جمع کړي چي پر هغوی باغیان غالب سوي وي لَمْ يَأْخُذْهُ الْإِمَامُ ثَانِيًا نو امام به [له هغوی ځخه] دویم وار عشر او خراج نه اخلي لِأَنَّ وِلَايَةَ الْأَخْذِ لَهُ بِاعْتِبَارِ الْحِمَايَةِ ځکه چي امام لره د اخیستلو ولایت د حفاظت په وجه حاصل دی وَلَمْ يَحْمِهِمْ حالانکي امام د هغو حفاظت نه وکړی سو فَإِنْ كَانُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ او که باغیانو هغه مال د هغه په مصرف کي خرڅ کړی وي [یعني خراج او عشر یې د خراج او عشر په مصرف کي خرڅ کړی وي] أَجْزَأَ مَنْ أُخِذَ مِنْهُ نو له کومو خلکو ځخه چي دا مال اخیستل سوی وی د هغو له طرفه به کافي وي لِوُصُولِ الْحَقِّ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ ځکه چي حق خپل مستحق ته رسېدلی دی وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ او که باغیانو هغه مال د هغه په مصرف کي نه وي خرڅ کړی فَعَلَى أَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى أَنْ يُعِيدُوا ذٰلِكَ نو پر هر مال لرونکي [صاحبُ المال] به فیما بینه وبین الله هغه دویم وار ورکول لازم وي لِأَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ ځکه چي هغه خپل مستحق ته رسېدلی نه دي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: قَالُوا لَا إِعَادَةَ عَلَيْهِمْ فِي الْخَرَاجِ مشائخو فرمایلي دي: چي په خراج کي پر هغو اعاده نسته لِأَنَّهُمْ مُقَاتِلَةٌ ځکه چي باغیان هم یو ډول جنګ کونکي [مجاهدین] دي فَكَانُوا مَصَارِفَ وَإِنْ كَانُوا أَغْنِيَاءَ نو هغوی به هم د خراج مصرف وي که څه هم هغوی مالدار وي وَفِي الْعُشْرِ إِنْ كَانُوا فُقَرَاءَ فَكَذٰلِكَ او که چیري هغوی غریبان

وي نو په عشر کي به هم دغه حکم وي لِأَنَّهُ حَقُّ الْفُقَرَاءِ ځکه چي عشر د غريبانو حق دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الزَّكَاةِ او په کتاب الزکاة کي موږ دا بيان کړی دی وَفِي الْمُسْتَقْبَلِ يَأْخُذُهُ الْإِمَامُ او په مستقبل [را روان وخت] کي به [د هغه علاقي له خلکو څخه] امام خراج او عشر اخلي لِأَنَّهُ يَحْمِيهِمْ فِيهِ ځکه چي په مستقبل کي امام د هغو حفاظت کوي لِظُهُورِ وِلَايَتِهِ ځکه چي د امام ولايت ښکاره او غالب [سو يعني هغه علاقه او د هغې أهل اوس د امام تر قبضه او غلبه لاندي راغلی. نو ځکه به په مستقبل کي امام له هغو څخه خراج او عشر اخلي] وَمَنْ قَتَلَ رَجُلًا وَهُمَا مِنْ عَسْكَرِ أَهْلِ الْبَغْيِ او څوک چي يو سړی قتل کړي او دوی [قاتل او مقتول] دواړه د باغيانو د لښکر څخه وي ثُمَّ ظُهِرَ عَلَيْهِمْ بيا بر باغيانو [د مسلمانانو] غلبه وسي فَلَيْسَ عَلَيْهِمْ شَيْءٌ نو پر هغو [يعني پر قاتل] به هيڅ شی واجب نه وي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لِإِمَامِ الْعَدْلِ حِينَ الْقَتْلِ ځکه چي د قتل په وخت کي پر هغو د عادل امام ولايت نه وو فَلَمْ يَنْعَقِدْ مُوجِبًا لهذا هغه قتل د قصاص موجب [واجبونکی] نه سو كَالْقَتْلِ فِي دَارِ الْحَرْبِ لکه د دار الحرب قتل وَإِنْ غَلَبُوا عَلَى مِصْرٍ او که باغيان پر يو ښار غالب سي فَقَتَلَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ عَمْدًا بيا د ښار له خلکو څخه يو سړی بل ښاري سړی قصداً قتل کړي ثُمَّ ظُهِرَ عَلَى الْمِصْرِ بيا پر ښار [د مسلمانانو] غلبه وسي فَإِنَّهُ يُقْتَصُّ مِنْهُ نو له قاتل څخه به قصاص اخيستل کيږي وَتَأْوِيلُهُ: إِذَا لَمْ يَجْرِ عَلَى أَهْلِهِ أَحْكَامُهُمْ وَأُزْعِجُوا قَبْلَ ذَلِكَ او د دې تأويل دا دی: چي کله پر ښار د باغيانو فرمان جاري سوی نه وی او اله قبضې کولو څخه [مخکي باغيان اله هغه ښار څخه] ليري کړی سوي وي وَفِي ذَلِكَ لَمْ تَنْقَطِعْ وِلَايَةُ الْإِمَامِ نو په داسي صورت کي اله هغه ښار څخه [د امام ولايت ختم نه سو فَيَجِبُ الْقِصَاصُ نو ځکه به قصاص واجبيږي.

اللغات: ﴿جباه﴾ د ماضي صيغه ده؛ له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: خراج او محصول جمع کول. ﴿حماية﴾ حفاظت. ﴿صرفوه﴾ د ضرب ماضي ده: صرفول. خرچول. مصرفول. ﴿مُقَاتِلَة﴾ (د تاء په کسره سره) د مُقَاتِلٌ جمع ده: د جنګ کونکو جماعت. فوج. مجاهدين. ﴿موجب﴾ د افعال اسم فاعل دی: واجبونکی. سبب. ﴿ازعجوا﴾ د افعال له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي مجهول صيغه ده: ليري کول. شړل (پسي اخيستل).

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که چیرې باغیان د مسلمانانو پر یو علاقه قبضه وکړي او له خلکو څخه خراج او عشر واخلي، تر دې وروسته که امام المسلمین پر هغه علاقې غالب سي نو له هغو خلکو څخه دویم وار د هغه کال عشر او خراج اخیستل صحیح نه دي: ځکه چې امام ته د حفاظت کولو په وجه د عشر او خراج د اخیستلو حق حاصل دی. حالانکې پر هغه علاقې د باغیانو د غالبېدلو په وجه د امام له طرفه د علاقې د خلکو حفاظت او صیانت نه وسو. بیا که چیرې باغیانو هغه خراج او عشر په صحیح مصرف کې (یعني د عشر او خراج په خپل مصرف کې) خرچ کړی وي نو ورکونکي خلک به د هغه کال له عشر او خراج څخه بريُ الذمه وي (او غاړې به یې خلاصې وي) لېکن که باغیانو هغه په صحیح مصرف کې خرچ کړی نه وي نو په دې صورت کې دیانتاً یعنې فیما بینهم و بین الله دویم وار عشر او خراج ځنې اخیستل واجب دي. لېکن قضاءً واجب نه دي. صاحب د هدایې د مشائخو په حواله سره فرمایي چې له هغو څخه به دویم وار نه اخیستل کیږي. ځکه چې خراج په خپل مصرف کې صرف سوی دی ځکه چې باغیان هم یو ډول مجاهدین دي . او مجاهدین د خراج مصرف دي. لهذا که چیرې باغیانو خراج په خپلو ذاتي ضروریاتو کې صرف کړی وي نو هم به ورکونکي خلک بريُ الذمه وي. هغه که باغیان مالدار وي یا غریب وي.

او که باغیان غریب او محتاجه وي نو د عشر به هم دغه حکم وي. ځکه چې عشر د غریبانو حق دی نو ګواکې هغه حق خپل مستحق ته حاصل سو. دا فیصله خو د سږ کال (رواں کال) ده. لېکن له را رواں کال څخه به امام د هغه علاقې له خلکو څخه د خراج او عشر اخیستلو کار شروع کوي. ځکه چې په را رواں وخت کې د هغو حفاظت امام کوي.

ومن قتل رجلا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که یو باغي بل باغي قتل کړي او بیا مسلمانان پر هغو غالب سي نو پر قاتل نه قصاص سته او نه دیت. ځکه چې د قتل په وخت کې قاتل او مقتول دواړه د عادل امام له ولایت څخه خارج وو لهذا دا قتل د قصاص موجب واقع سوی نه وو. نو څرنګه چې د دارُ الحرب قتل د قصاص موجب نه دی، همداسې دا قتل هم د قصاص موجب نه دی.

که باغیان پر یو ښار غلبه وکړي لېکن تر اوسه پر ښار د باغیانو پوره قبضه راغلې نه وي چې له هغه ښار څخه دوی پسې واخیستل سي او په دې دوران کې د هغه ښار یو سړی بل سړی قتل کړي او بیا مسلمانان پر هغه ښار قبضه وکړي، نو له قاتل څخه به قصاص اخیستل کیږي. ځکه کله چې پر هغه ښار د باغیانو پوره قبضه نه راغله نو هغه د عادل امام له ولایت څخه خارج سو او قتل د عادل امام په ولایت کې واقع سو. نو ځکه به دا قتل د قصاص موجب وي.

د باغيانو سره په جنګ کې د قاتل او مقتول د وارث جوړېدل بيان

وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْعَدْلِ بَاغِيًا فرمايي: که له عالانو خلکو څخه يو سړی اله باغيانو څخه ا يو باغي قتل کړي اله أهل العدل څخه مراد هغه مسلمانان دي کوم چې باغيان نه وي ا فَإِنَّهُ يَرِثُهُ نو هم به قاتل د مقتول وارث کيږي فَإِنْ قَتَلَهُ الْبَاغِي او که باغي عادل قتل کړي وَقَالَ: قَدْ كُنْتُ عَلَى حَقٍّ وَأَنَا الْآنَ عَلَى حَقٍّ او داسي ووايي: چې زه پر حق وم او اوس هم پر حق يم وَرِثَهُ نو هغه به د مقتول وارث کيږي وَإِنْ قَالَ: قَتَلْتُهُ وَأَنَا أَعْلَمُ أَنِّي عَلَى الْبَاطِلِ او که داسي ووايي: ما هغه په داسي حال کې قتل کړی چې زه په دې خبر وم چې زه پر حق نه يم لَمْ يَرِثْهُ نو هغه به د مقتول نه وارث کيږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ ۞ : لَا يَرِثُ الْبَاغِي فِي الْوَجْهَيْنِ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې به باغي د عادل مقتول نه وارث کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی وَأَصْلُهُ: أَنَّ الْعَادِلَ إِذَا أَتْلَفَ نَفْسَ الْبَاغِي أَوْ مَالَهُ لَا يَضْمَنُ وَلَا يَأْثَمُ او د دې اصل دا دی چې کله عادل سړی د باغي نفس يا د هغه مال هلاک کړي نو هغه به نه ضامن کيږي او نه به ګنهګاره کيږي لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِقِتَالِهِمْ دَفْعًا لِشَرِّهِمْ ځکه چې د باغيانو د شرّ ليرې کولو لپاره عادل سړي ته د هغو سره د جنګ کولو ااو قتلولو ا حکم سوی دی وَالْبَاغِي إِذَا قَتَلَ الْعَادِلَ لَا يَجِبُ الضَّمَانُ عِنْدَنَا وَيَأْثَمُ او باغي که چيري عادل قتل کړي نو زموږ په نېز به پر هغه ضمان نه واجبيږي البکن ا هغه به ګنهګاره وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي الْقَدِيمِ: إِنَّهُ يَجِبُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل پخواني [اول] قول کې فرمايلي دي: چې پر هغه به ضمان واجبيږي وَعَلَى هَذَا الْخِلَافُ إِذَا تَابَ الْمُرْتَدُّ وَقَدْ أَتْلَفَ نَفْسًا أَوْ مَالًا او پر همدغه اختلاف دي کله چې مرتد توبه وکړي حال دا چې هغه د ارتداد په حالت کې ادیو چا ا نفس يا مال هلاک کړی وي لَهُ: أَنَّهُ أَتْلَفَ مَالًا مَعْصُومًا أَوْ قَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې هغه محفوظ مال يا محفوظ نفس هلاک کړی فَيَجِبُ الضَّمَانُ نو [په دې وجه] به پر هغه ضمان واجبيږي

۞ القول الراجح: قول الطرفين رحمهماالله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٢٢). [القول الراجح ج:١، ص:٥٠٧]

اِعْتِبَارًا بِمَا قَبْلَ الْمَنْعَةِ د طاقت له حصول څخه پر مخکښې حالت باندې په قياس کولو سره وَلَنَا اِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ او زموږ دليل د صحابه وو إجماع ده کوم چې امام زهري روايت کړې ده وَلِأَنَّهُ أَتْلَفَ عَنْ تَأْوِيلٍ فَاسِدٍ او ځکه چې هغه د فاسد تأويل په وجه (مال يا نفس) هلاک کړی وَالْفَاسِدُ مِنْهُ مُلْحَقٌ بِالصَّحِيحِ إِذَا ضُمَّتْ إِلَيْهِ الْمَنْعَةُ فِي حَقِّ الدَّفْعِ او کله چې د باغي سره طاقت موجود وي نو د ضمان د دفع کېدلو په حق کې فاسد تأويل هم د صحيح تأويل سره ملحق کيږي كَمَا فِي مَنْعَةِ أَهْلِ الْحَرْبِ وَتَأْوِيلِهِمْ لکه د حربيانو د قوت او د هغو د تأويل چې هم دغه حکم دی وَهَذَا لِأَنَّ الْأَحْكَامَ لَا بُدَّ فِيهَا مِنَ الْإِلْزَامِ أَوِ الِالْتِزَامِ او دا حکم ځکه دی چې د شرعي أحکامو لپاره الزام يا التزام ضروري دی وَلَا الْتِزَامَ او باغي التزام نه کوي لِاعْتِقَادِ الْإِبَاحَةِ عَنْ تَأْوِيلٍ ځکه چې هغه په خپل فاسد تأويل سره (د عادل نفس او مال) مباح ګڼي وَلَا إِلْزَامَ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ او پر باغي (د امام له طرفه هم) هيڅ حکم نه لازمول کيږي. ځکه چې پر هغه د امام ولايت نه وي لِوُجُودِ الْمَنْعَةِ ځکه چې طاقت موجود وي ايعني ځکه چې باغي ته قوت حاصل وي) وَالْوِلَايَةُ بَاقِيَةٌ قَبْلَ الْمَنْعَةِ او (د امام) ولايت خو تر طاقت مخکې پاته وي (انه وروسته) وَعِنْدَ عَدَمِ التَّأْوِيلِ ثَبَتَ الِالْتِزَامُ اعْتِقَادًا او د تأويل د نشتوالي په صورت کې اعتقاداً التزام ثابتيږي بِخِلَافِ الْإِثْمِ لِأَنَّهُ لَا مَنْعَةَ فِي حَقِّ الشَّارِعِ په خلاف د ګناه. ځکه چې د شريعت په حق کې طاقت لره هيڅ اعتبار نه وي إِذَا ثَبَتَ هَذَا فَنَقُولُ: قَتْلُ الْعَادِلِ الْبَاغِيَ قَتْلٌ بِحَقٍّ کله چې دا ثابته سوه نو موږ وايو: چې د عادل سړي لپاره د باغي قتل کول دا برحق قتل دی (يعني که عادل سړی باغي قتل کړي نو دا په ناحقه قتل نه دی بلکې پرحق قتل دی) فَلَا يَمْنَعُ الْإِرْثَ نو ځکه به دا قتل وراثت نه منع کوي (يعني وراثت لره به مانع نه وي) وَلِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَتْلِ الْبَاغِي الْعَادِلَ: أَنَّ التَّأْوِيلَ الْفَاسِدَ إِنَّمَا يُعْتَبَرُ فِي حَقِّ الدَّفْعِ او په دې هکله "چې باغي عادل سړی قتل کړي" د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې فاسد تأويل د ضمان دفع کېدلو په حق کې معتبر دی وَالْحَاجَةُ هٰهُنَا إِلَى اسْتِحْقَاقِ الْإِرْثِ حالانکې دلته د وراثت د استحقاق ثابتولو ته ضرورت سته فَلَا يَكُونُ التَّأْوِيلُ مُعْتَبَرًا فِي حَقِّ الْإِرْثِ نو ځکه به د وراثت په حق کې فاسد تأويل

معتبر نه وي وَلَهُمَا فِيهِ: أَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى دَفْعِ الْحِرْمَانِ أَيْضًا او په دې کې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چې دلته د حرمان دفع کولو ته هم ضرورت سته إِذِ الْقَرَابَةُ سَبَبُ الْإِرْثِ ځکه چې قرابت د وراثت سبب دى فَيُعْتَبَرُ الْفَاسِدُ فِيهِ لهذا د حرمان په دفع کولو کې به هم فاسد تأويل ته اعتبار ورکول کيږي إِلَّا أَنَّ مِنْ شَرْطِهِ بَقَاءَهُ عَلَى دِيَانَتِهِ لېکن د دې اعتبار شرط دا دى: چې هغه [باغي] به پر خپل ديانت [او تأويل] باقي پاته وي فَإِذَا قَالَ: كُنْتُ عَلَى الْبَاطِلِ همدا وجه ده که هغه ووايي: چې زه پر باطل وم [او له خپل ديانت او تأويل څخه واوړي] لَمْ يُوجَدِ الدَّافِعُ نو [په دې صورت کې] دافع موجود نه سو فَوَجَبَ الضَّمَانُ نو ځکه به ضمان واجب وي.

اللغات: ﴿أتلف﴾ د افعال ماضي ده: بربادول، هلاکول. ﴿منفعة﴾ د مدافعت قوت (له ځان څخه د دفاع کولو قوت)، دفاعي طاقت. ﴿إلزام﴾ د افعال مصدر دی، متعدي باب دی، يعني پر چا يو شی لازمول. ﴿التزام﴾ د افتعال مصدر دی، لازمي باب دی، يعني په خپله ذمه يو شی اخيستل (يو کار په غاړه اخيستل). پر ځان لازمول. ﴿حِرمان﴾ محروم کېدل (محرومېدل)، مراد ځني له ميراث څخه محرومېدل دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که عادل سړی يو باغي قتل کړي (او دوی يو د بل قريب وي) نو عادل قاتل به د هغه باغي مقتول وارث کيږي، د دې په خلاف که باغي يو عادل قتل کړي او داسي ووايي: چې زه تر قتل مخکي هم پر حق وم او اوس هم پر حق يم. نو هغه باغي به هم د مقتول عادل وارث کيږي. لېکن که قاتل ووايي: چې ما ته معلومه وه چې زه پر حق نه وم بيا مي هم هغه قتل کړی. نو قاتل به د هغه مقتول نه وارث کيږي. دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی. د امام ابو يوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز باغي قاتل بالکل د عادل مقتول نه وارث کيږي برابره ده هغه "أنا على الحق" ووايي يا "إني أعلم أنا على الباطل" ووايي.

صاحب د هدايې فرمايي چې د دې اختلاف اصل دا دی چې که عادل د يو باغي نفس او د هغه مال هلاک کړي نو پر عادل به نه ضمان وي او نه به هغه گنهکاره وي، ځکه چې عادل سړی د باغيانو د شر ليري کولو لپاره د هغو پر قتل او قتال مأمور دی. همدارنګه که باغي يو عادل قتل کړي نو زموږ په نيز خو به پر هغه ضمان نه وي لېکن هغه به گنهکار وي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله اول قول دا دی چې باغي به ضامن وي. ځکه چې هغه د محترم او معصوم نفس هلاکونکی دی. همدارنګه که يو مرتد د ارتداد په حالت کې د يو چا نفس يا مال هلاک کړی وي بيا هغه توبه وکړي، نو زموږ په نيز به هغه د مخکني جرم ضامن نه وي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به ضامن وي.

په دې مسئله کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې باغي په حقيقت کې يو محترم او معصوم نفس قتل کړی دی او که چېرې هغه د طاقت او قوت له حصول څخه مخکې يو معصوم نفس قتل کړي وای نو پر هغه به ضمان واجب وای لهذا بعد حصول المنعة يعني په دغه مسئله کې به هم د قتل په وجه پر هغه ضمان واجب وي.

د ضمان نه واجبېدلو په هکله زموږ نقلي دليل د صحابه وو اجماع ده. د هغه تفصيل دا دی چې سلميان بن هشام امام زهري رَحِمَهُ الله ته يو خط وليکی چې يوه ښځه له خپل خاوند څخه وتښتېده او د خوارجو سره يو ځای سوه او وې ويل چې زما قوم مشرک دا او هلته يې نکاح وکړه بيا يې توبه وکړه او واپس راغله. نو د دې څه حکم دی؟ نو امام زهري رَحِمَهُ الله د دې خط په جواب کې دا حکم وليکی: "أما بعد: فإن الفتنة الأولىٰ ثارت وأصحاب رسول الله ﷺ ممن شهد بدرا كثير، فاجتمع رأيهم على أن لا يقيموا على أحد حدًّا في فرج استحلوه بالقرآن ولا قصاص في دم استحلوه بتأويل القرآن... إلخ" (بناية ج: ۶، ص: ۷۴۸). يعني کله چې د خوارجو اوله فتنه را پورته سوه په هغه وخت کې ډېر بدري صحابه موجود ول، په هغه وخت کې د هغو فيصله پر دې خبره وسوه چې که خوارج په قرآني تأويل سره ښځه حلاله وګڼي نو پر هغو به حدّ نه جاري کېږي، همدارنګه که هغوی په يو قرآني تأويل سره يو سړی حلال او مباحُ الدم وګڼي او هغه قتل کړي نو پر هغو به قصاص واجب نه وي. او څرنګه چې د دې مسئلې په اول جزء کې باغي د "قد كنت على حق، وأنا الآن على الحق" په تأويل سره قتل کړی دی نو په دې وجه زموږ په نېز پر هغه قصاص او ضمان نسته او هغه د ميراث مستحق هم دی. او د باغي تأويل که څه هم فاسد دی، لېکن د طاقت او قوت په وخت کې د ضمان دفع کولو په هکله دا تأويل د صحيح تأويل سره ملحق دی، لکه کله چې د جنګ په دوران کې حربيان يو څو مسلمانان قتل کړي يا د مسلمانانو مالونه چور کړي بيا هغه حربيان هم اسلام راوړي نو پر هغو قصاص يا ضمان نسته، همدغسې پر باغيانو هم زموږ په نېز ضمان نسته. او پر باغيانو په دې وجه هم ضمان نسته چې ضمان يو شرعي حکم دی او د شرعي حکم لپاره د امام له طرفه الزام يا په رضا سره د هغه التزام ضروري دی او د باغي په حق کې الزام او التزام دواړه نسته. الزام خو ځکه نسته چې دا باغي په خپل طاقت او قوت سره د امام د له ولايت څخه خارج دی. او التزام ځکه نسته چې هغه په خپل فاسد تأويل سره د مسلمان او عادل کس مال او نفس مباح ګڼلی دی. او تأويل دا دی چې باغي (خارجي) د قرآن کريم د دې آيت "وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَإِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا... إلخ" (سورة الجن: ۲۳) په خاطر هر عادل سړی عاصي او ګنهکار ګڼي (يعني باغي دې آيت ته په کتلو سره پر بل مسلمان [عادل] د ګنهکاره خيال کوي) او دا تأويل کوي چې عادل د کتاب (قرآن) پر موجب عمل نه کوي نو په دې وجه هغه مباحُ الدم دی.

والولاية إلخ: د دې حاصل دا دی چې امام شافعي رَحِمَهُ الله چې بعد المنعة د باغي قتل پر قبل المنعة قياسوي. دا صحيح نه دي، ځکه چې قبل المنعة باغي د امام په ولايت کې وي او پر هغه الزام متحقق او ثابت وي. نو ځکه

به په قبل المنعة والا قتل کي پر هغه ضمان واجب وي، لېکن په بعد المنعة والا قتل کي به پر هغه ضمان يا قصاص نه وي. همدارنګه که د هغه له طرفه تأويل سوی نه وی يا باطل تأويل سوی وي نو هم به پر هغه ضمان وي، ځکه چي په دې صورت کي به اعتقاداً پر هغه التزام ثابت وي. او په هر صورت کي به هغه ګنهګاره وي برابره ده پر هغه ضمان وي او که نه وي يعني په يوه صورت کي هم هغه له ګناه څخه نه خلاصيږي. ځکه چي ګناه د شريعت حق دی او د شريعت په معامله کي منعة يا عدم منعة لره هيڅ اعتبار نه وي.

په دې ټولو تفصيلاتو سره دا خبره ښکاره سوه چي د عادل لپاره د باغي قتلول برحق دي همدا وجه ده چي تر قتل وروسته هم عادل د باغي مقتول ميراث حاصلوي (يعني تر قتل وروسته هم عادل د باغي وارث کيږي). ځکه چي برحق قتل له ميراث څخه د محرومېدلو (حرمان) سبب دی نه بلکي فقط ناحقه قتل د حرمان سبب دی.

که چيري باغي عادل قتل کړي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز هغه په هيڅ صورت کي د مقتول نه وارث کيږي يعني که تأويل وکړي او که يې نه وکړي، ځکه چي فاسد تأويل که څه هم د ضمان دفع کېدلو په حق کي معتبر دی، لېکن د ميراث ثابتولو په باره کي معتبر نه دی. او دلته د قاتل په حق کي د ميراث د استحقاق او اثبات ضرورت سته نو ځکه به د هغه تأويل دلته معتبر او مؤثر نه وي. په دې سلسله کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي د باغي (باغي) تأويل دلته هم دافع دی او هغه د حرمان دافع دی يعني د قرابت په وجه د خپل مورث د ميراث مستحق دی لېکن قتل د ميراث دافع دی. لهذا د هغه تأويل به د حرمان دافع ګرځول کيږي او هغه ته به ميراث ورکول کيږي. لېکن شرط دا دی چي هغه به پر خپل تأويل ولاړ او مُصر (ټينګار کونکی) وي له همدې کبله په متن کي تر "قد کنت علیٰ حق" وروسته د "وأنا الآن علیٰ حق" شرط لګېدلی دی.

او که چيري هغه "وأنا أعلم أني علی الباطل" ووايي نو د هغه په حق کي د حرمان دافع نه موجوديږي لهذا هغه به له ميراث څخه محروم وي او د مقتول ضمان به هم ورکوي.

پر فتنه ګرو (خوارجو او داسي نورو) وسله خرڅول

قال: وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ وَفِي عَسَاكِرِهِمْ فرمايي: چي پر فتنه ګرو او د هغو په لښکرونو کي وسله خرڅول مکروه دي لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ عَلَى الْمَعْصِيَةِ ځکه چي دا د ګناه پر کار مرسته کول دي وَلَيْسَ بِبَيْعِهِ بِالْكُوفَةِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَمَنْ لَمْ يُعْرَفْ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ بَأْسٌ الېکن! په دې کي څه حرج نسته چي په کوفه کي د کوفې پر خلکو او پر هغه کس کوم چي له فتنه ګرنو څخه نه معلوميږي وسله خرڅه کړی سي لِأَنَّ الْغَلَبَةَ فِي الْأَمْصَارِ لِأَهْلِ السِّلَاحِ ځکه چي په ښارونو کي وسله لرونکي (اسلحه داره) خلک زيات وي وَإِنَّمَا يُكْرَهُ بَيْعُ نَفْسِ السِّلَاحِ او خاص د وسلې خرڅول مکروه دي لَا بَيْعُ مَا لَا يُقَاتَلُ بِهِ إِلَّا بِصَنْعَةٍ او د هغه شي خرڅول مکروه نه دي چي له جوړښت (او کاريګری) څخه بغير په هغه سره جنګ نه سي کېدلای ايعني د

اوسپني او داسي نورو خرڅول مکروه نه دي، ځکه که له اوسپني څخه وسله جوړه نه کړی سي، نو محض په اوسپنه سره جنګ نه سي کېدلای! أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُكْرَهُ بَيْعُ الْمَعَازِفِ وَلَا يُكْرَهُ بَيْعُ الْخَشَبِ آيا نه ګوري! چي د موسيقی د آلاتو خرڅول مکروه دي لېکن د لرګيو (او تختو) خرڅول مکروه نه دي وَعَلَى هٰذَا الْخَمْرُ مَعَ الْعِنَبِ او پر همدغه حکم د شرابو او انګورو بيع هم ده.

اللغات: ﴿سلاح﴾ وسله، اسلحه. ﴿اعانة﴾ د افعال مصدر دی: امداد، مرسته کول. ﴿صنعة﴾ جوړښت (جوړول)، کاريګري. ﴿معازف﴾ د ساز او موسيقی آلات (د سرور آلات، لکه ډول، رباب، شپېلۍ او داسي نور).

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د مسلمان لپاره پر خوارجو او د هغو په لښکر ځای کي وسله (اسلحه) خرڅول مکروه دي، ځکه چي دا اِعانة علی المعصية دی، او په قرآن کي موږ ته د اعانة علی الاطاعة حکم سوی دی او له اعانة علی المعصية څخه منع سوي يو الله تعالیٰ فرمايلي دي: "تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ". [سورة المائدة: ٢]

که يو څوک په کوفه کي د کوفې پر خلکو وسله خرڅوي يا يې پر يو داسي سړي خرڅوي چي خرڅونکی هغه نه پېژني (چي باغي او خراجي دی که عادل دی) نو په دې بيع کي هيڅ حرج نسته، ځکه چي په ښار کي بې شمېره وسله لرونکي (اسلحه داره) خلک ګرځي او هر وسله لرونکی خارجي يا باغي نه وي، همدارنګه خارجي او باغي ښکاره وي او معلوميږي. لهذا پر داسي خلکو په وسله خرڅولو کي هيڅ حرج نسته. او د کراهت تعلق د نفس وسلې سره دی، د هغو شيانو سره کراهت هيڅ تعلق نه لري چي له هغوی څخه وسله جوړيږي لکه اوسپنه او داسي نور، ځکه چي له جوړولو څخه بغير په اوسپنه سره جنګ نه سي کېدلای، همدا وجه ده چي د موسيقی د آلاتو (لکه رباب او داسي نورو) بيع مکروه ده لېکن د کومو لرګيو څخه چي هغه جوړيږي د هغه بيع صحيح ده، همدارنګه د انګورو بيع جائز ده لېکن د شرابو بيع حرام ده، ځکه چي د معصيت تعلق د شراب او رباب سره دی نه د انګور او لرګيو سره، همداسي په دې مسئله کي هم معصيت د نفس سلاح سره متعلق دی، نه د اوسپني او داسي نورو سره. فقط والله أعلم وعلمه أتم



كِتَابُ اللَّقِيطِ

(دا) كتاب د لقيط (د أحكامو په بيان كي) دى

تشريح: تر كتابُ السيرٌ وروسته د كتابُ اللقيط د بيانولو وجه دا ده چي د مجاهد په څير د لقيط نفس هم په خطره كي وي، خو څرنګه چي د جهاد مشروعيت او فضيلت په قرآن او احديث سره ثابت دى او جهاد أفضل الأعمال باعتبار الأحول ګرځول سوى دى. نو ځكه د هغه بيان د لقيط تر بيان مخكي سوي دى.

د لقيط لغوي او اصطلاحي معنى: د لقيط لغوي معنى ده: له ځمكي څخه را پورته كړى سوى بچى (يعني هغه بچى چي يو ځاى پروت وي او يو څوك هغه را پورته كړى او د ځان سره يې واخلي)، او د لقيط شرعي معنى ده: هغه بچى كوم چي مور وپلار د لوږي او غربت له بيري څخه يا د زنا له تهمت څخه د ځان ساتلو په وجه په لاره كي غورځولى وي.

د غورځول سوي بچي حكم

اَللَّقِيطُ سُمِّيَ بِهِ بِاعْتِبَارِ مَآلِهِ لقيط ته د انجام [وروستني حالت] په اعتبار سره لقيط ويل سوي دي لِمَا أَنَّهُ يُلْتَقَطُ ځكه چي هغه [له ځمكي څخه] را پورته كول كيږي وَالِالْتِقَاطُ مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ او اد غورځول سوي بچي] را پورته كول مستحب دي لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَائِهِ ځكه چي په دې كي هغه ته ژوندورکول دي وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ ضَيَاعُهُ فَوَاجِبٌ او كه د سړي غالب ګومان دا وي چي هغه به ضايع سي نو د هغه را پورته كول واجب دي قَالَ: اَللَّقِيطُ حُرٌّ فرمايي: چي لقيط [غورځول سوى بچي] آزاد دى لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي بَنِي آدَمَ إِنَّمَا هُوَ الْحُرِّيَّةُ ځكه چي أصل د آدم په زامنو [انسانانو] كي آزادي ده وَكَذَا الدَّارُ دَارُ الْأَحْرَارِ او همدارنګه دارُ الاسلام د آزادو خلكو كور [استوګنځى] دى وَلِأَنَّ الْحُكْمَ لِلْغَالِبِ او په دې وجه [هم] چي حكم غالب لره وي وَنَفَقَتُهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ او د لقيط نفقه به له بيت المال څخه وركول كيږي هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ همدا له حضرت عمر او حضرت علي رضي الله

عَنْهُمَا څخه روايت سوي دي وَلِأَنَّهُ مُسْلِمٌ عَاجِزٌ عَنِ التَّكَسُّبِ او ځکه چي لقيط [هم] داسي مسلمان دی کوم چي له کسب او کار کولو څخه عاجز دی وَلَا مَالَ لَهُ وَلَا قَرَابَةَ او د هغه سره نه څه مال سته او نه يې يو قريب سته فَأَشْبَهَ الْمُقْعَدَ الَّذِي لَا مَالَ لَهُ نو لقيط د هغه شوټ سره مشابه سو چي د هغه سره مال نه وي وَلِأَنَّ مِيرَاثَهُ لِبَيْتِ الْمَالِ او ځکه چي د لقيط ميراث د بيتُ المال دی وَالْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ او ګټه په تاوان سره ده [يعني څوک چي ګټه او نفع (ميراث) حاصلوي نو هغه به ضمان او تاوان (نفقه) هم ورکوي] وَلِهٰذَا كَانَتْ جِنَايَتُهُ فِيهِ همدا وجه ده چي د لقيط د جرم ضمان هم په بيتُ المال کي واجبيږي وَالْمُلْتَقِطُ مُتَبَرِّعٌ فِي الْإِنْفَاقِ عَلَيْهِ او پر لقيط باندي د مال په خرچولو کي ملتقط احسان کونکی دی [يعني ملتقط چي لقيط ته کومه نفقه او خرچه ورکوي، دا د هغه له طرفه احسان دی. لهذا ملتقط وروسته هغه د لقيط څخه نه سي اخيستلای] لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ ځکه چي پر لقيط د ملتقط ولايت نسته إِلَّا أَنْ يَأْمُرَهُ الْقَاضِي بِهِ لِيَكُونَ دَيْنًا عَلَيْهِ خو دا چي قاضي ملتقط ته پر لقيط د انفاق [خرچولو] حکم وکړي د دي لپاره چي دا انفاق پر هغه قرض وګرځي لِعُمُومِ الْوِلَايَةِ ځکه چي د قاضي ولايت عام دی.

اللغات: ﴿لقيط﴾ راپورته کړی سوی (را اخيستل سوی)، مراد څني هغه بچی دی کوم چي په يو ځای او لاره کي غورځول سوی وي، داسي بچي ته مُلْتَقَط هم وايي، او د دې بچي راپورته کونکي (را اخيستونکي) ته مُلْتَقِط وايي (د تاء په کسره سره). ﴿مآل﴾ انجام، پای، آخر، وروستنی حالت . ﴿إحياء﴾ د افعال مصدر دی: ژوندي کول، ژوند وربخښل. ﴿نفقة﴾ د خوراک، څښاک او داسي نورو ضروريا تو خرچه. ﴿مُقعد﴾ پر کونه ناست، ډېر شوټ (شل وشوټ). ﴿إنفاق﴾ د افعال مصدر دی: خرچول، نفقه او خرچه ورکول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي لقيط خو أصلاً طريح يعني د مطروح (غورځول سوي) په معنیٰ سره وي لېکن څرنګه چي هغه عموماً د لاري څخه راپورته کول کيږي (را اخيستل کيږي) نو ځکه د مآل (وروستني حالت) په اعتبار سره هغه ته لقيط ويل کيږي. التقاط (د بچي راپورته کول او را اخيستل) مستحب دي لېکن که چيري د بچي د هلاکت او د هغه د ضياع ډېره وي نو په داسي صورت کي التقاط واجب دی، ځکه چي په دې کي د بچي إحياء ده او إحياء مستحسن کار دی. په قرآن کي ذکر سوي دي: "وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا". [سورة المائدة: ٣٢]

لقيط حُرّ او آزاد دی. ځکه چي بنو آدم (انسانان) حُر الأصل وي همدا وجه ده چي زموږ مور وپلار يعني حضرت آدم او حواء عليهما السلام هم آزاد وو. او بل دا چي دارُ الاسلام د آزادو خلکو ملک دی او د هغه زياتره اوسېدونکي آزاد وي. لهذا د هغو په متابعت کي به لقيط هم آزاد وي. او که چيري د لقيط سره مال نه وي نو د هغه نفقه به له بيتُ المال څخه ورکول کيږي. ځکه چي له حضرت عمر او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه لقيط ته له بيتُ المال څخه خرچه ورکول ثابت او منقول دي. دويمه خبره دا ده چي لقيط هم مسلمان دی او له کار کولو څخه عاجز دی. لهذا څرنګه چي مسلمان شل وشوټ ته نفقه ورکول کيږي همداسي به لقيط ته هم نفقه ورکول. ځکه که لقيط مړ سي او مال پريږدي نو د هغه مال او ميراث هم بيتُ المال ته ورکول کيږي لهذا د هغه نفقه به هم بيتُ المال ورکوي. ځکه چي د "الغُرْمُ بِالْغُنْم" قاعده ډېره مشهوره ده. له همدې کبله به د لقيط د جنايت ضمان هم بيتُ المال ورکوي. او مُلتقط چي د لقيط په پرورش او پالنه کي کوم مال خرچوي ملتقط په هغه کي متبرع او محسن دی. ځکه چي پر لقيط د ملتقط هيڅ ولايت نسته. لهذا ملتقط تر بلوغت وروسته د لقيط څخه هغه مال نه سي اخيستلای او نه يې له بيتُ المال څخه اخيستلای سي. ها! که قاضي ملتقط ته پر لقيط د مال خرچولو حکم کړی وي او داسي يې ورته ويلي وي چي "ته د لقيط تر بلوغت وروسته ته له هغه څخه خپل حساب او قرض واخله!". نو په دې صورت کي چي ملتقط کوم مال پر لقيط مصرف کړی وي هغه به د لقيط پر ذمه قرض وي او وروسته به هغه خپل دغه قرض د لقيط څخه اخلي. ځکه چي د قاضي ولايت عام وي.

د لقيط زيات حقدار به څوک وي؟

قال: فَإِنْ الْتَقَطَهُ رَجُلٌ فرمايي: که يو سړی لقيط راپورته کړي لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْهُ نو بل چا ته دا حق نسته چي له ملتقط [ارا پورته کونکي] څخه هغه واخلي لِأَنَّهُ ثَبَتَ حَقُّ الْحِفْظِ لَهُ ځکه چي [د لقيط] د حفاظت حق هغه ته حاصل سو لِسَبْقِ يَدِهِ ځکه چي اول هغه [پر لقيط] قبضه وکړه فَإِنِ ادَّعَى مُدَّعٍ أَنَّهُ ابْنُهُ او که يو دعوی کونکي دعوی وکړي چي دا لقيط زما زوی دی فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ نو د هغه قول به معتبر وي مَعْنَاهُ: إِذَا لَمْ يَدَّعِ الْمُلْتَقِطُ نَسَبَهُ د دې مطلب دا دی: چي کله ملتقط د لقيط د نسب دعوی نه وکړي وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يُقْبَلَ قَوْلُهُ او قياس دا دی: چي د مدعي قول [دعوی] دي نه قبليږي لِأَنَّهُ يَتَضَمَّنُ إِبْطَالَ حَقِّ الْمُلْتَقِطِ ځکه چي دا دعوی د

متلقط د حق باطلولو لره شامله ده وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّهُ إِقْرَارٌ لِلصَّبِيِّ بِمَا يَنْفَعُهُ د استحسان دليل دا دی: چې دا د بچي [القيط] په حق کې د هغه شي اقرار کول دي کوم چې د بچي لپاره نفع مند دي لِأَنَّهُ يَتَشَرَّفُ بِالنَّسَبِ وَيُعَيَّرُ بِعَدَمِهِ ځکه چې په نسب ثابتېدلو سره هغه عزتمن [معزز] ګڼل کيږي او د نسب په نشتوالي سره هغه ته پېغور ورکول کيږي ايعني د نسب نه ثابتېدلو په صورت کې به هغه ته پېغور ورکول کيږي] ثُمَّ قِيلَ: يَصِحُّ فِي حَقِّهِ دُونَ إِبْطَالِ يَدِ الْمُلْتَقِطِ بيا يو قول دا دی: چې دا دعوىٰ به فقط د نسب په ثبوت کې صحيح وي او د ملتقط د قبضې په باطلولو کې به معتبره نه وي وَقِيلَ: يَبْتَنِي عَلَيْهِ بُطْلَانُ يَدِهِ دويم قول دا دی: چې د ملتقط د قبضې باطلېدل به هم پر هغه مبني وي وَلَوْ ادَّعَاهُ الْمُلْتَقِطُ او که چيرې ملتقط [د لقيط] د نسب دعوىٰ وکړي قِيلَ: يَصِحُّ قِيَاسًا وَاسْتِحْسَانًا نو يو قول دا دی: چې د قياس او استحسان دواړو په اعتبار سره د هغه دعوىٰ صحيح کيږي. وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ عَلَى الْقِيَاسِ وَالِاسْتِحْسَانُ او صحيح خبره دا ده چې هغه د قياس په اعتبار سره نه صحيح کيږي. فقط د استحسان په اعتبار سره صحيح کيږي وَقَدْ عُرِفَ فِي الْأَصْلِ او په مبسوط کې دا معلوم سوي دي [يعني دا خبره په مبسوط کې هم ذکر سوې ده] وَإِنِ ادَّعَاهُ اثْنَانِ وَوَصَفَ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً فِي جَسَدِهِ او که دوه خلک [د لقيط] د نسب دعوىٰ وکړي او په دوی کې يو سړی د لقيط په بدن کې يو علامت هم بيان کړي فَهُوَ أَوْلَى بِهِ نو هغه [علامت بيانونکي] به د لقيط زيات حقداره وي لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ ځکه چې ظاهري حال د هغه په حق کې ګواهي ورکونکی دی لِمُوَافَقَةِ الْعَلَامَةِ كَلَامَهُ ځکه چې علامت د هغه د خبري موافق دی وَإِنْ لَمْ يَصِفْ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً او که په دوی کې يو هم علامت بيان نه کړي فَهُوَ ابْنُهُمَا نو لقيط به د دوی دواړو زوی وي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي السَّبَبِ ځکه چې په سبب [دعوىٰ] کې دواړه برابر دي وَلَوْ سَبَقَتْ دَعْوَةُ أَحَدِهِمَا او که په دوی کې د يوه سړي دعوىٰ مخکې وي فَهُوَ ابْنُهُ نو لقيط به د هغه زوی وي. لِأَنَّهُ ثَبَتَ فِي زَمَانٍ لَا مُنَازِعَ لَهُ فِيهِ ځکه چې د هغه حق په داسي زمانه کې ثابت سوی دی چې په هغه زمانه کې د ده هيڅ مخالف [او دعوىٰ کونکي] نسته إِلَّا إِذَا أَقَامَ الْآخَرُ الْبَيِّنَةَ خو دا چې دويم کس بيّنه [ګواهي] پېش کړي لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ أَقْوَى ځکه چې بيّنه زياته قوي ده.

اللغات: ﴿سَبْق﴾ مصدر دی، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: وړاندیتوب کول، مخکې کېدل. ﴿یتشرّف﴾ د تفعّل مضارع معلومه ده: عزتمن کېدل، عزتمن ګڼل. ﴿یُعیّر﴾ د تفعیل مضارع مجهوله ده: پېغور ورکول. ﴿جسد﴾ جسم، بدن. ﴿أقام﴾ د افعال ماضي ده: درول، مراد ځني ګواهان درول (حاضرول) دي.

تشریح: د عبارت مطلب له ترجمې څخه هم ښکاره دی خو په لنډه توګه یې خلاصه دا ده چې نقط ملتقط به د لقیط زیات حقدار وي. لېکن که یو څوک د لقیط د نسب دعویٰ وکړي او ملتقط خاموش پاته سي یعني هغه دعویٰ نه وکړي نو استحساناً به د مدعي دعویٰ معتبره وي. ځکه چي د نسب په ثبوت سره به هغه بچي (لقیط) ته شرف او عزت حاصل سي او د معدومُ النسب کېدلو په صورت کي به هغه ته عار او پېغور ورکول کیږي. پاته عبارت واضح دی.

که چیري دوه خلک د لقیط په هکله دا دعویٰ وکړي چي هغه زما زوی دی او په دوی کي یو سړی علامت (نبناني) هم بیان کړی مثلاً ووایي چي د دې بچي په راسته طرف کي داغ (مربی) دی. او دا علامت صحیح ثابت سي. نو د علامت بیانونکي دعویٰ به معتبره وي. ځکه چي ظاهري حالت د هغه په حق کي ګواهي ورکوي ځکه چي د هغه کلام صحیح وختی. او قاعده دا ده چي "أن من ساعده الظاهر فالقول قوله" یعني ظاهري حالت چي د چا موافق وي نو خبره به هم د هغه معتبره وي. او که چیري دوی دواړه علامت بیان نه کړي نو دواړه به د لقیط حقداره وي لېکن که د یوه دعویٰ مخکي وي نو هغه ته به ترجیح ورکول کیږي. همدارنګه که په دوی کي یو سړی وروسته دعویٰ وکړي لېکن بیّنه او ګواهي هم پېش کړي. نو اوس به د ګواهۍ او بیّنه په وجه د هغه دعویٰ ثابتیږي او لقیط به د هغه وي. ځکه چي د بیّنه او ګواهۍ مخته د هیڅا خبره نه چلیږي. ځکه چي هغه زیات قوي حجت دی.

د لقیط په باره کي د ذمي د نسب دعویٰ کول

وَإِذَا وُجِدَ فِي مِصْرٍ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَاهُمْ او که د مسلمانانو په یو ښار کي یا د مسلمانانو په یو کلي (أطرافي علاقه) کي لقیط پیدا سي فَادَّعَى ذِمِّيٌّ أَنَّهُ ابْنُهُ بیا یو ذمي دعویٰ وکړي چي هغه زما زوی دی ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ مُسْلِمًا نو د ذمي سره به د هغه لقیط نسب ثابتیږي او هغه به مسلمان وي وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی لِأَنَّ دَعْوَاهُ تَضَمَّنُ النَّسَبَ وَهُوَ نَافِعٌ لِلصَّغِيرِ

ځکه چې د ذمي دعوىٰ نسب لره شامليږي او دا د بچي القيط ا لپاره نفع مند دي وَإِبْطَالُ الْإِسْلَامِ الثَّابِتِ بِالدَّارِ وَهُوَ يَضُرُّهُ او د ذمي دعوىٰ د اسلام باطلولو لره [هم] شامليږي کوم چې په دارُ الاسلام سره ثابت دی او دا د هغه لپاره مُضر دي فَصَحَّتْ دَعْوَتُهُ فِيمَا يَنْفَعُهُ دُونَ مَا يَضُرُّهُ لهذا کوم شی چې د بچي لپاره نفع مند دي په هغه کي به د ذمي دعوىٰ صحيح کيږي او کوم چې شی چې د بچي لپاره مُضر دي په هغه کي به نه صحيح کيږي وَإِنْ وُجِدَ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى أَهْلِ الذِّمَّةِ أَوْ فِي بِيعَةٍ أَوْ كَنِيسَةٍ او که چيري د ذميانو په يو کلي يا په يو گرجا او کليسا کي لقيط پيدا سي كَانَ ذِمِّيًّا نو هغه به ذمي وي وَهَذَا الْجَوَابُ فِيمَا إِذَا كَانَ الْوَاجِدُ ذِمِّيًّا رِوَايَةً وَاحِدَةً او همدا حکم په هغه صورت کي هم دی کله چي پيدا کونکی ذمي وي وَإِنْ كَانَ الْوَاجِدُ مُسْلِمًا فِي هَذَا الْمَكَانِ أَوْ ذِمِّيًّا فِي مَكَانِ الْمُسْلِمِينَ او که چيري پيدا کونکی مسلمان وي د ذميانو په علاقه کي يا ذمي وي د مسلمانانو په علاقه کي اخْتَلَفَتِ الرِّوَايَةُ فِيهِ نو په دې سلسله کي روايات مختلف دي فَفِي رِوَايَةِ كِتَابِ اللَّقِيطِ اُعْتُبِرَ الْمَكَانُ [د مبسوط] د کتابُ اللقيط په روايت کي مکان [علاقې] ته اعتبار ورکول سوی دی لِسَبْقِهِ ځکه چي مکان مخکي دی وَفِي كِتَابِ الدَّعْوَى فِي بَعْضِ النُّسَخِ اُعْتُبِرَ الْوَاجِدُ او [د مبسوط] د ځينو نسخو په کتابُ الدعوىٰ کي پيدا کونکي ته اعتبار ورکول سوی دی وَهُوَ رِوَايَةُ ابْنِ سَمَاعَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ او همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د محمد بن سماعه روايت دی لِقُوَّةِ الْيَدِ ځکه چي قبضه قوي وي أَلَا تَرَى أَنَّ تَبَعِيَّةَ الْأَبَوَيْنِ فَوْقَ تَبَعِيَّةِ الدَّارِ آيا ته نه گورې! چي د مور و پلار تبعيت د دارُ الاسلام له تبعيت څخه لوړ وي حَتَّى إِذَا سُبِيَ مَعَ الصَّغِيرِ أَحَدُهُمَا همدا وجه که له مور و پلار څخه يو د بچي سره [په دارُ الاسلام کي] قيد کړی سي يُعْتَبَرُ كَافِرًا نو [بيا هم] بچی کافر شمارل کيږي وَفِي بَعْضِ نُسَخِهِ اُعْتُبِرَ الْإِسْلَامُ او د مبسوط په ځينو نسخو کي اسلام ته اعتبار ورکول سوی دی نَظَرًا لِلصَّغِيرِ پر کوچني د شفقت کولو لپاره [او د هغه د مصلحت او فايدې لپاره].

اللغات: ﴿قرية﴾ قصبه. له ښار څخه بهر د أطرافو علاقه چي په هغه کي خلک آباد وي. د أطرافو کلی. ﴿بيعة﴾ د عيسايانو معبد (عبادتځی). د کفارو معبد. ﴿كنيسة﴾ د يهودو او عيسايانو معبد. کليسا. ﴿سَبْق﴾ مصدر دی. له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: وړانديتوب کول. مخکي کېدل.

تشريح : مسئله : دا ده كه په يو مسلمان ښار يا مسلمانه قريه كي يو لقيط پيدا سي او يو ذمي دا دعوىٰ وكړي چي دا زما زوى دى نو استحساناً به له دې ذمي سره د هغه لقيط نسب خو ثابتيږي ليكن هغه به ذمي نه وي. بلكي مسلمان به وي. ځكه چي د دې ذمي دعوىٰ پر دوو شيانو مشتمله ده: ① د ځان سره د بچي نسب ثابتول (ثبوت النسب). ② په دارُ الاسلام كي د بچي د موجود والي په وجه د هغه مسلمانوالى باطلول. او په دوى كي اول شى يعني د نسب ثبوت د لقيط په حق كي مفيد دى نو ځكه به په دې هكله د ذمي دعوىٰ معتبره وي. ليكن په دويم شي يعني د اسلام د إبطال په هكله به د هغه دعوىٰ مقبوله او معتبره نه وي او هغه بچى (لقيط) به مسلمان وي. ځكه كه د اسلام د إبطال په هكله دعوىٰ معتبره ومنل سي نو په دې كي د بچي زيات ضرر دى.

د دې په خلاف كه چيري د ذميانو په يو كلي او قريه كي يا په بيعه او كليسا كي لقيط پيدا سي نو هغه به ذمي وي همدارنګه كه لقيط يو ذمي پيدا كړى وي نو هم به هغه ذمي وي. او كه چيري يو مسلمان د ذميانو په علاقه كي يا په بيعه او كليسا كي لقيط پيدا كړي، يا يو ذمي د مسلمانانو په علاقه كي لقيط پيدا كړي. نو په دې هكله روايات مختلف دي. د مبسوط په كتابُ اللقيط كي ذكر سوي دي چي په كوم ځاى كي لقيط پيدا سي هغه ته به اعتبار وركول كيږي. يعني كه د ذميانو په علاقه كي پيدا سي نو هغه ذمي دى كه څه هم واجد (پيدا كونكى) مسلمان وي او كه د مسلمانانو په علاقه كي پيدا سي نو هغه به مسلمان وي كه څه هم واجد ذمي وي. او د مبسوط د ځينو نسخو په كتابُ الدعوىٰ كي ذكر سوي دي چي واجد (پيدا كونكي) ته به اعتبار وركول كيږي. كه واجد مسلمان وي نو لقيط به مسلمان وي او كه واجد ذمي وي نو لقيط به ذمي وي، همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د محمد بن سماعه روايت دى. د دې روايت دليل دا دى چي پيدا كونكى پر هغه لقيط قابض وي (يعني لقيط د هغه په قبضه كي وي). او د حكم په ثابتولو كي قبضې لره دخل او اعتبار سته. همدا وجه ده كه يو بچى د خپل مور و پلار سره وي نو هغه د دوى پيروي كونكى او تابع منل كيږي برابره ده دوى په دارُ الاسلام كي وي يا په دارُ الكفر كي وي. همدارنګه كه د بچي سره په مور و پلار كي يو قيد كړى سي مثلاً پلار ذمي وي او بيا هغه او بچى دواړه په دارُ الاسلام كي قيد كړى سي. نو د دارُ الاسلام په وجه بچى مسلمان نه شمارل كيږي بلكي د پلار په متابعت كي بچى هم كافر شمارل كيږي. لنډه دا چي دا ثابته سوه چي اعتبار قبضې لره دى. نو ځكه به قابض (واجد) ته اعتبار وركول كيږي.

او د مبسوط د ځينو نسخو په كتابُ الدعوىٰ كي ذكر سوي دي چي په هر حال كي به بچى مسلمان ګرځول كيږي برابره ده هغه كه هر ځاى پيدا سي او كه هر څوك يې پيدا كړي؛ ځكه چي دا د بچي (لقيط) په حق كي شفقت دى چي هغه مسلمان وګرځول سي او كه ذمي وګرځول سي نو دا د هغه په حق كي نقصان او ضرر دى. او د بچي په حق كي فقط د شفقت كار او أمر معتبر وي، لهذا په هر حال كي به هغه مسلمان منل كيږي.

د لقيط په باره کي د غلام كېدلو دعویٰ كول

وَمَنِ ادَّعَى أَنَّ اللَّقِيطَ عَبْدُهُ او كوم سړی چي دا دعویٰ وكړي چي لقيط د هغه غلام دی لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ نو د هغه دعویٰ به نه قبليږي لِأَنَّهُ حُرٌّ ظَاهِرًا ځكه چي د ظاهري حال په اعتبار سره لقيط آزاد دی إِلَّا أَنْ يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ عَبْدُهُ خو دا چي (مُدعي) پر دې خبره بيّنه پېش كړي چي لقيط د هغه غلام دی فَإِنِ ادَّعَى عَبْدٌ أَنَّهُ ابْنُهُ او كه يو غلام دا دعویٰ وكړي چي لقيط د هغه زوی دی ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د هغه غلام سره به د لقيط نسب ثابتيږي لِأَنَّهُ يَنْفَعُهُ ځكه چي د نسب ثبوت د لقيط لپاره نفع مند دی وَكَانَ حُرًّا او هغه به آزاد وي لِأَنَّ الْمَمْلُوكَ قَدْ تَلِدُ لَهُ الْحُرَّةُ ځكه چي د غلام لپاره ځيني وخت آزاده ښځه بچی زېږوي ايعني ځيني وخت د غلام ښځه آزاده وي. او دا تاسي ته معلومه ده چي د آزادي ښځي به هم آزاد وي) فَلَا تَبْطُلُ الْحُرِّيَّةُ الظَّاهِرَةُ بِالشَّكِّ لهذا د شک په وجه به ظاهري حُريت (آزادي) نه باطليږي وَالْحُرُّ فِي دَعْوَتِهِ اللَّقِيطَ أَوْلَى مِنَ الْعَبْدِ وَالْمُسْلِمُ أَوْلَى مِنَ الذِّمِّيِّ او د لقيط په دعویٰ كولو كي به آزاد تر غلام زيات غوره (او د هغه مستحق) وي او مسلمان به تر ذمي زيات غوره وي تَرْجِيحًا لِمَا هُوَ الْأَنْظَرُ فِي حَقِّهِ هغه شي ته په ترجيح وركولو سره كوم چي د بچي په حق كي زيات مصلحت (او شفقت) والا دی وَإِنْ وُجِدَ مَعَ اللَّقِيطِ مَالٌ مَشْدُودٌ عَلَيْهِ او كه چيري د لقيط سره پر هغه باندي تړل سوی مال موجود وي فَهُوَ لَهُ اعْتِبَارًا لِلظَّاهِرِ نو د ظاهري حال په اعتبار كولو سره به هغه مال هم د لقيط وي وَكَذَا إِذَا كَانَ مَشْدُودًا عَلَى دَابَّةٍ وَهُوَ عَلَيْهَا او همدارنګه كه مال پر يو سپارلۍ باندي تړل سوی وي او لقيط پر هغه سپارلۍ (ايښول سوی) وي. (نو هم به مال د لقيط وي) لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي (اوس) موږ ذكر كړی ثُمَّ يَصْرِفُهُ الْوَاجِدُ إِلَيْهِ بِأَمْرِ الْقَاضِي بيا به پيدا كونكی (ملتقط) د قاضي په حكم سره هغه مال پر لقيط صرفوي (خرچوي) لِأَنَّهُ مَالٌ ضَائِعٌ ځكه چي دا ضايع كېدونكی مال دی وَلِلْقَاضِي وِلَايَةُ صَرْفِ مِثْلِهِ إِلَيْهِ او قاضي ته پر لقيط د داسي مال د صرفولو ولايت سته وَقِيلَ: يَصْرِفُهُ بِغَيْرِ أَمْرِ الْقَاضِي او ويل سوي دي: چي واجد د قاضي له حكم څخه بغير هغه مال پر لقيط صرفولای سي لِأَنَّهُ لِلَّقِيطِ ظَاهِرًا ځكه چي په ښكاره هغه د لقيط مال دی وَلَهُ وِلَايَةُ

الْإِنْفَاقِ وَشِرَاءُ مَا لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ كَالطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ او واجد لره پر لقيط د خرچولو حق سته او كوم شيان چي د لقيط لپاره ضروري دي د هغه د رانيولو حق هم ورته سته لكه خوراك او جامې لِأَنَّهُ مِنَ الْإِنْفَاقِ ځكه چي دا ټوله [پر لقيط] د خرچولو شيان دي [او د هغه له نفقې او خرچې څخه دي] وَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُ الْمُلْتَقِطِ او د ملتقط لپاره د لقيط نكاح كول جائز نه دي لِانْعِدَامِ سَبَبِ الْوِلَايَةِ مِنَ الْقَرَابَةِ وَالْمِلْكِ وَالسَّلْطَنَةِ ځكه چي د ولايت سبب يعني قرابت، ملكيت او حاكميت د ملتقط په حق كي [نسته. [مطلب دا چي د نكاح كولو او واده وركولو حق درېو كسانو ته حاصل وي: (١) قريب ته. (٢) مالک او مولیٰ ته. (٣) د ملك حاكم او باچا ته. او ملتقط په دوی كي يو هم نه دی، نو ځكه به هغه ته دا حق نه وي چي لقيط ته واده ور وكړي].

اللغات: ﴿أنظر﴾ زيات مصلحت والا (زيات فايده من)، زيات شفقت والا. ﴿صرف﴾ د ضرب مصدر دی: خرچول، صرفول، مصرفول (لګول). ﴿كسوة﴾ جامې، كالي. ﴿انفاق﴾ د افعال مصدر دی: خرچول، نفقه او خرچه وركول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو څوک دا دعوىٰ وكړي چي دا لقيط زما غلام دی نو محض په دعوىٰ سره به لقيط د هغه نه غلام كيږي: ځكه چي لقيط حُر الأصل دی ځكه چي هغه هم په بنو آدم كي داخل دی او په تمام بنو آدم كي حُريت أصل دی. ها! كه چيري مُدعي پر خپله دعوىٰ بيِّنه پېش كړي نو د هغه دعوىٰ به معتبره وي. همدارنګه كه يو غلام دا دعوىٰ وكړي چي دا لقيط زما زوی دی نو د هغه غلام سره به د لقيط نسب ثابتيږي، ځكه چي د نسب په ثبوت كي د لقيط نفع او فايده ده نو ځكه به د هغه سره د لقيط نسب ثابتيږي. ليكن لقيط به آزاد وي. ځكه چي داسي كېدای سي چي له غلام څخه دې آزاد بچی پيدا سي هغه په دې توګه چي د غلام ښځه آزاده وي. نو دا ضروري نه دی چي د غلام بچی به خامخا غلام وي. لهذا د بچي ظاهري حُريت كوم چي اوس هغه ته حاصل دی دا به د دې شك په وجه نه زائليږي چي شايد د هغه مور به مملوكه (مينځه) وي.

والحر في دعوته إلخ: د دې حاصل دا دی چي كه آزاد سړی هم د لقيط د نسب دعوىٰ وكړي او غلام يې هم وكړي يا يو مسلمان او ذمي دواړه د لقيط د نسب دعوىٰ وكړي. نو آزاد او مسلمان له غلام او ذمي څخه زيات حقداره او اولیٰ دي. ځكه چي حريت او اسلام د لقيط په حق كي له عبديت او ذميت څخه غوره او أنفع دی او په دې كي د بچي لپاره زيات شفقت دی.

وإن وجد مع اللقيط إلخ: فرمايي كه چيري د لقيط سره مال هم موجود وي يعني پر لقيط تړل سوی وي يا مال او لقيط دواړه پر يو سپارلي باندي (مثلاً پر اُوبښ باندي) ايښول سوی وي نو هغه مال به د دې لقيط وي، ځکه کله چي هغه مال د ده سره دی نو ښکاره خبره ده چي پر هغه فقط د لقيط قبضه ده او قبضه د ملکيت دليل ده، نو ځکه به لقيط د هغه مالک وي، بيا چي کوم کس لقيط پيدا کړي هغه به د قاضي په حکم او اجازه سره دا مال د لقيط په ضرورياتو کي صرفوي، ځکه چي د لقيط په څير دا مال هم ضياع او هلاکت ته نژدې دی، او څرنګه چي قاضي ته پر داسي خلکو د داسي أموالو د صرف ولايت حاصل دی نو ځکه به هغه واجد ته د صرفولو (خرچولو) حکم کوي چي دغه مال له ضياع څخه محفوظ سي.

د ځيني حضراتو رايه دا ده چي واجد د قاضي له حکم او اجازې څخه بغير هم هغه مال پر لقيط صرفولای سي: ځکه چي هغه د لقيط خپل مال دی او لقيط په خپلو ضرورياتو کي د هغه صرفولو ته محتاج هم دی، لېکن څرنګه چي هغه په خپله پر صرفولو او د ضرورياتو پر رانيولو قادر نه دی، نو ځکه به د هغه له طرفه ملتقط دا کارونه کوي. لېکن د ملتقط لپاره د لقيط نکاح کول او واده ور کول جائز نه دي، ځکه چي د نکاح لپاره ولايت ضروري دی او د ولايت مدار پر قرابت، ملکيت او حاکميت باندي دی، حالانکي د ملتقط په حق کي دا شيان معدوم دي، نو ځکه به ملتقط لره د نکاح کولو ولايت حاصل نه وي او د هغه لپاره به لقيط ته نکاح او واده ور کول صحيح نه وي.

د لقيط په مال کي تصرّف کول

قال: وَلَا تَصَرُّفُهُ فِي مَالِ الْمُلْتَقِطِ او د پيدا کونکي [واجد] لپاره دا پوره ته کړی سوي بچي [لقيط] په مال کي [تجارتي] تصرّف کول جائز نه دي اعْتِبَارًا بِالْأُمِّ پر مور په قياس کولو سره وَهَذَا لِأَنَّ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ لِتَثْمِيرِ الْمَالِ او دا ځکه چي تصرف د مال زياتولو لپاره وي وَذَلِكَ يَتَحَقَّقُ بِالرَّأْيِ الْكَامِلِ وَالشَّفَقَةِ الْوَافِرَةِ او تثمير په کامله رايه او بشپړ شفقت سره ثابتېدای سي وَالْمَوْجُودُ فِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَحَدُهُمَا حالانکي له دوی [واجد او اُم] څخه په هر يوه کي فقط يو شی موجود دی قَالَ: وَيَجُوزُ أَنْ يَقْبِضَ لَهُ الْهِبَةَ فرمايي: او جائز دي چي ملتقط [واجد] د لقيط لپاره پر هبه قبضه وکړي لِأَنَّهُ نَفْعٌ مَحْضٌ ځکه چي هبه محض [سراسر] نفع ده وَلِهَذَا يَمْلِكُهُ الصَّغِيرُ بِنَفْسِهِ إِذَا كَانَ عَاقِلًا همدا وجه ده که کوچنی عاقل وي نو هغه په خپله پر هبې د قبضه کولو ملکيت لري وَتَمْلِكُهُ الْأُمُّ

وَوَصِيُّهَا او د هغه مور او د مور وصي هم د دې ملكيت لري قال: وَيُسَلِّمُهُ فِي صَنَاعَةٍ فرمايي: چې ملتقط لقيط يو كسب [پيشې] ته ورسپارلى سي [مطلب دا چې د ملتقط لپاره جائز دي چې لقيط په يو كسب او پېشه لګيا كړي د دې لپاره چې هغه هُنر او كسب زده كړي] لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ تَثْقِيفِهِ وَحِفْظِ حَالِهِ ځكه چې دا د لقيط د برابرولو [غوره جوړولو] او د هغه د حالت د حفاظت كولو له باب څخه دي قال: وَيُؤَاجِرُهُ فرمايي: او ملتقط هغه په اُجرت [هم] وركولاى سي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهٰذَا رِوَايَةُ الْقُدُورِيِّ فِي مُخْتَصَرِهِ ناتوانه بنده فرمايي: چې دا په مختصرُ القدوري كې د امام قدور رَحِمَهُ الله روايت دى وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: لَا يَجُوزُ أَنْ يُؤَاجِرَهُ او په جامع صغير كې دي: چې د ملتقط لپاره لقيط په اُجرت وركول جائز نه دي ذَكَرَهُ فِي الْكَرَاهِيَةِ امام محمد رَحِمَهُ الله دا په كتابُ الكراهية كې ذكر كړي دي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح دي وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّهُ يَرْجِعُ إِلَى تَثْقِيفِهِ د اول قول [يعني د امام قدوري د روايت] دليل دا دى: چې په اُجرت وركول هم د لقيط برابرولو ته رجوع كوي [يعني په دې سره هم لقيط غوره جوړيږي] وَوَجْهُ الثَّانِي: أَنَّهُ لَا يَمْلِكُ إِتْلَافَ مَنَافِعِهِ او د دويم [يعني د جامع صغير د] قول دليل دا دى: چې ملتقط د لقيط د منافعو د ضايع كولو ملكيت نه لري فَأَشْبَهَ الْعَمَّ نو ملتقط د اكا سره مشابه سو بِخِلَافِ الْأُمِّ په خلاف د مور لِأَنَّهَا تَمْلِكُهُ ځكه چې مور د دې ملكيت لري عَلَى مَا نَذْكُرُهُ فِي الْكَرَاهِيَةِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چې د دې بيان به موږ انشاء الله په كتابُ الكراهية كې وكړو.

اللغات: **﴿تشمير﴾** د تفعيل مصدر دى: اضافه كول. زياتول. **﴿وافرة﴾** بشپړ. پوره. **﴿تثقيف﴾** د تفعيل مصدر دى: سمول (برابرول)، غوره جوړول. **﴿صناعة﴾** (د صاد په فتحه او كسره دواړو سره ويل كېداى سي): كاريګري، كسب، پېشه. **﴿يواجره﴾** د مفاعلې مضارع ده: په اُجرت وركول (په كرايه وركول)، مزدوري په كول. **﴿إتلاف﴾** د افعال مصدر دى: برباد ول. ضايع كول (تلفول).

تشريح: په دې عبارت كې څلور مسئلې ذكر سوي دي:

(١)... ملتقط (واجد) د لقيط په مال كې تجارتي تصرّفات نه سي كولاى لكه څرنګه چې يې د لقيط مور نه سي كولاى: ځكه چې دا تصرف په مال كې د اضافه كولو په نيت سره كيږي او مال په كامله رايه او مكمل شفقت سره زياتيږي، حالانكې په ملتقط او مور كې فقط يو شى موجود دى،

ځکه چي د ملتقط رايه کامله ده خو شفقت يې ناقص دی او د مور شفقت کامل دی خو رايه يې ناقصه ده، حال دا چي د تجارتي تصرّفاتو لپاره کاملُ الرأی او کاملُ الشفقة کېدل ضروري دي او دا شيان په دوی کي معدوم دی نو ځکه به دوی ته د دغه تصرف اختيار نه وي.

(۲)... د ملتقط لپاره د لقيط په نامه سره راتلونکي تحفې قبلول او پر هغوی قبضه کول جائز دي. ځکه چي په دې کي د لقيط سراسر نفع ده، او ملتقط لره د لقيط په هکله د هر نفع مند کار کولو اختيار او جواز حاصل دی. همدا وجه ده چي که بچی (لقيط) باشعوره وي نو هغه د خپل ولي له اجازې څخه بغير د نفع مند شي د اخيستلو مالک دی او د هغه مور او د مور وصي ته هم دا اختيار سته. لهذا ملتقط ته به هم دا اختيار ور کول کيږي.

(۳)... د متلقط لپاره دا هم جائز دي چي بچي (لقيط) ته هنر او کار ور وښيي او صناعت او کاريګري ور زده کړي، ځکه چي په دې کي هم د لقيط خير او نفع ده او په دې سره د هغه مستقبل ځلانده ګرځي.

(۴)... د امام قدوري رَحِمَهُ الله د روايت مطابق ملتقط پر أجرت او مزدورۍ لقيط لګولای سي، لېکن د جامع صغير د کتابُ الکراهية مطابق د ملتقط لپاره دا جائز نه دي. د امام قدوري رَحِمَهُ الله دليل هغه دی کوم چي د هنر او کار ښوولو په هکله د لقيط د خير او نفع په حواله سره ذکر سو. او د جامعِ صغير د قول دليل دا دی چي که په لقيط محنت او مزدوري وکړی سي نو د هغه صلاحيت او قوت به ختم سي او ملتقط ته دا حق نسته چي هغه د لقيط صلاحيت او منافع ختم کړي، لهذا هغه ته به په لقيط سره د محنت او مزدورۍ کولو حق هم نه وي، لکه څرنګه چي يو اکا ته په خپل واره د محنت او مزدورۍ کولو حق نسته همداسي ملتقط ته هم دا حق نسته، د دې په خلاف مور ته دا حق سته چي خپل کوچني بچيان پر مزدورۍ او أجرت ولګوي. او د جامعِ صغير والا قول زيات صحيح دي، او د قدوري د قول او دليل جواب دا دی چي إجاره او مزدوري پر هنر او کاريګرۍ قياسول صحيح نه دي. ځکه چي په دې دواړو کي ډېر فرق دی. والله أعلم وعلمهُ أتم



كِتَابُ اللُّقَطَةِ

(دا) كتاب د لقطې (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: مخكې تر دې د لقيط احكام بيان سول. او اوس د لقطې احكام بيانيږي. څرنګه چې د لقيط تعلق د انسان سره دى. نو د انسان د كرامت او ستروالي په خاطر كتابُ اللقيط د لقطې له بحث څخه مخكې بيان سوى دى.

ښكاره دې وي چې "لُقَطَة" پر وزن د "لُقَمَة" هغه مال ته وايي كوم چې په عامه لاره او عام ځاى كې پروت وي او يو څوک هغه د حفاظت په نيت سره را واخلي. (بناية ج:۶. ص:۷۶۵)

د لقطې حكم

قَالَ: اللُّقَطَةُ أَمَانَةٌ إِذَا أَشْهَدَ الْمُلْتَقِطُ أَنَّهُ يَأْخُذُهَا لِيَحْفَظَهَا وَيَرُدَّهَا عَلَى صَاحِبِهَا فرمايي: لقطه د ملتقط سره امانت ده [په دې شرط] كله چې ملتقط پر دې خبره ګواه حاضر كړي چې هغه د لقطې د حفاظت او خپل مالک ته د هغې د واپس كولو په نيت سره هغه اخلي ايعني كله چې سړى د لقطې مال واخلي او ګواه ودروي چې دا زه د حفاظت لپاره اخلم، نو هغه مال به د ده په لاس كې امانت وي. د دې مطلب دا دى چې كه دا مال د اخيستونكي (ملتقط) په لاس كې هلاک سي نو پر هغه به ضمان نه واجبيږي] لِأَنَّ الْأَخْذَ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ مَأْذُونٌ فِيهِ شَرْعًا ځكه چې په دې نيت سره اخيستل شرعاً مأذون دي [يعني په شريعت كې د دې اجازه وركول سوې ده] بَلْ هُوَ الْأَفْضَلُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ بلكې دا د زياتره علماؤ په نيز أفضل دي وَهُوَ الْوَاجِبُ إِذَا خَافَ الضَّيَاعَ او دا [د مال را اخيستل] واجب دى كله چې هغه د مال پر ضايع كېدلو وېرېږي عَلَى مَا قَالُوا لكه څرنګه چې علماؤ فرمايلي دي وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ لَا تَكُونُ مَضْمُونَةً عَلَيْهِ او كله چې حكم دا دى نو لقطه به پر ملتقط نه مضمون كيږي [يعني كله چې د لقطې مال امانت دى، نو د لقطې ضمان به پر ملتقط نه واجبيږي، يعني كه لقطه هلاكه سي او بيا مالک حاضر سي نو مالک ته به دا حق نه وي چې د ملتقط څخه د هغه ضمان او تاوان واخلي] وَكَذٰلِكَ إِذَا تَصَادَقَا أَنَّهُ أَخَذَهَا لِلْمَالِكِ او همدارنګه كله چې مالک او ملتقط پر دې خبره اتفاق وكړي چې هغه د مالک لپاره لقطه اخيستې وه [يعني كه ملتقط د اخيستلو په وخت ګواه حاضر كړى نه وي، لېكن مالک او ملتقط دواړه تصديق وكړي چې ملتقط ما ته د راكولو په

نيت دا شي را اخيستی وو، نو په داسي صورت کي به هم لقطه امانت وي! لِأَنَّ تَصَادُقَهُمَا حُجَّةٌ فِي حَقِّهِمَا ځکه چي د دوی اتفاق د دوی په حق کي حجت دی [مطلب دا چي د مالک له طرفه د ملتقط تصديق کېدل حجت دی او د ګواه جوړولو په څير دی] فَصَارَ كَالْبَيِّنَةِ نو دا د بينې په څير سو [يعني د ګواه جوړولو په څير سو] وَلَوْ أَقَرَّ أَنَّهُ أَخَذَهَا لِنَفْسِهِ او که ملتقط دا اقرار وکړي چي هغه خپل ځان لپاره لقطه را اخيستې وه يَضْمَنُ بِالْإِجْمَاعِ نو هغه به بالاتفاق ضامن کيږي لِأَنَّهُ أَخَذَ مَالَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ وَبِغَيْرِ إِذْنِ الشَّرْعِ ځکه چي هغه د بل چا مال د هغه او د شريعت له اجازې څخه بغير واخيستی وَإِنْ لَمْ يُشْهِدِ الشُّهُودُ عَلَيْهِ وَقَالَ الْآخِذُ: أَخَذْتُهُ لِلْمَالِكِ وَكَذَّبَهُ الْمَالِكُ او که اخيستونکی [د را اخيستلو په وخت کي] پر هغه ګواهان حاضر نه کړي او ووايي: ما د مالک لپاره هغه [مال] را اخيستی وو او مالک د هغه تکذيب وکړي يَضْمَنُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به هغه ضامن کيږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❁: لَا يَضْمَنُ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نه به ضامن کيږي وَالْقَوْلُ قَوْلُهُ او قول به د ملتقط [اخيستونکي] معتبر وي لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ ځکه چي ظاهري حال د هغه په حق کي ګواه دی [يعني ظاهري حال د دې ګواهي ورکوي چي هغه د ورکولو په نيت سره مال را اخيستی دی] لِاخْتِيَارِهِ الْحِسْبَةَ دُونَ الْمَعْصِيَةِ ځکه چي هغه نېک کار کړی دی، نه د ګناه کار وَلَهُمَا: أَنَّهُ أَقَرَّ بِسَبَبِ الضَّمَانِ وَهُوَ أَخْذُ مَالِ الْغَيْرِ وَادَّعَى مَا يُبَرِّئُهُ وَهُوَ الْأَخْذُ لِمَالِكِهِ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي ملتقط په خپله د ضمان د سبب اقرار وکړی (چي هغه د بل چا مال اخيستل دي) او هغه داسي دعوی هم وکړه کوم چي هغه له ضمان څخه بري کړي (چي هغه د خپل ځان لپاره د مال را اخيستل دي) وَفِيهِ وَقَعَ الشَّكُّ فَلَا يَبْرَأُ لهذا د هغه په خبره کي شک واقع سو. نو ځکه به هغه نه بري کيږي [او ضمان به پر واجبيږي] وَمَا ذَكَرَ مِنَ الظَّاهِرِ يُعَارِضُهُ مِثْلُهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چي کوم د "ظاهري حال" يادونه کړې ده د هغه په شان [بل] ظاهري حال د هغه معارض دی لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنْ يَكُونَ الْمُتَصَرِّفُ عَامِلًا لِنَفْسِهِ ځکه چي ښکاره دا ده چي تصرف کونکی [اخيستونکی] د

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۳۵۰)، وكذا في البحر الرائق (ج:۵، ص:۱۵۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۰۷]

خپل ځان لپاره کار کوي [په دې سره امام ابو یوسف ته جواب ورکوي. هغه وويل چې ظاهري حال دا دی چې هغه د ورکولو په نيت سره مال را اخيستی دی، نو فرمايي چې بل ظاهري حال دا هم چې هغه به د خپل ځان لپاره مال را اخيستی وي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل مضبوط نه سو] وَيَكْفِيهِ فِي الْإِشْهَادِ أَنْ يَقُولَ: مَنْ سَمِعْتُمُوهُ يُنْشِدُ لُقَطَةً فَدُلُّوهُ عَلَيَّ او د ملتقط د إشهاد لپاره دا کافي دي چې هغه داسې ووايي: [اې خلکو!] که تاسي څوک ووينئ! چې هغه د خپلې لقطې پوښتنه [او پلټنه] کوي نو هغه ته زما نوم ور وښه وياست! [يعني که ملتقط فقط دغه خبره او اعلان وکړي، نو دا به ګڼل کيږي چې هغه ګواهان حاضر کړل، او په دې سره د لقطې مال د هغه سره امانت ګرځي] وَاحِدَةً كَانَتِ اللُّقَطَةُ أَوْ أَكْثَرَ برابره ده لقطه يوه وي، يا زياتې وي لِأَنَّهُ اسْمُ جِنْسٍ ځکه چې "لُقَطَةٌ" اسم جنس دی.

اللغات: ﴿أشهد﴾ د افعال ماضي ده، أَشْهَدَ يُشْهِدُ إِشْهَادًا: يو څوک پر خپله خبره ګواه جوړول، ګواه حاضرول، ګواه درول. ﴿مأذون﴾ د سمع اسمِ مفعول دی: اجازه ورکړی سوی. ﴿تصادقا﴾ د تفاعل ماضي ده: يو د بل تصديق کول. ﴿حسبة﴾ د ثواب او نېکۍ کار. ﴿يُنشِد﴾ د افعال مضارع ده: په ورک شي پسې پوښتنه کول، د ورک شي اعلان کول. ﴿سمعتموه﴾ د سمع له باب څخه د جمع مذکر مخاطب ماضي صيغه ده: اورېدل. ﴿دُلُّوه﴾ د نصر له باب څخه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: دلالت کول، لارښوونه کول.

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سو.

د لقطې لپاره د تشهير حکم

قَالَ: فَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ عَرَّفَهَا أَيَّامًا فرمايي: که چيري لقطه د لسو درهمو څخه کمه وي نو ملتقط دې يو څو ورځې د هغې تشهير وکړي [يعني د لقطې په باره کې دې خلک خبر کړي او هغه دې مشهوره کړي چې دا د چا ده؟] وَإِنْ كَانَتْ عَشَرَةً فَصَاعِدًا عَرَّفَهَا حَوْلًا او که لقطه د لسو درهمو وي يا تر دې زياته وي نو ټوله کال دې د هغې تشهير وکړي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهَذِهِ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ ناتوانه بنده فرمايي: چې دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دی وَقَوْلُهُ أَيَّامًا مَعْنَاهُ عَلَى حَسَبِ مَا يَرَى الْإِمَامُ او د امام قدوري د دې قول "أيامًا" مطلب دا دی چې د امام د رايې مطابق دې متلقط تشهير وکړي [يعني څومره ورځې چې امام وښيي، ملتقط دې هغومره ورځې د لقطې تشهير وکړي] وَقَدَّرَهُ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ بِالْحَوْلِ مِنْ غَيْرِ تَفْصِيلٍ بَيْنَ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کې په يوه کال سره د دې اندازه کړې ده او په قليل او کثير کې يې هيڅ فرق نه دی کړی

[يعني كه څه هم لقطه د لسو درهمو څخه كمه وي، نو هم به يو كال د هغې تشهير كوي] وَهُوَقَوْلُ مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ او همدا د امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قول دى لِقَوْلِهِ الْعَلِيْلا ❶: "مَنِ الْتَقَطَ شَيْئًا فَلْيُعَرِّفْهُ سَنَةً" مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ ځكه چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: كوم څوك چې يو شى را پورته كړي نو هغه ته پكار دي چې يو كال يې تشهير وكړي" دا فرمان له څه تفصيل څخه بغير وارد سوى دى وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّ التَّقْدِيرَ بِالْحَوْلِ وَرَدَ فِي لُقَطَةٍ كَانَتْ مِائَةَ دِينَارٍ تُسَاوِي أَلْفَ دِرْهَمٍ د اول قول ايعني كه لقطه د لسو درهمو څخه كمه وي، نو يو څو ورځي به د هغې تشهير كوي، نه يو كال] دليل دا دى: چې په يوه كال سره اندازه كول د هغه لقطې په هكله وارد سوي وه كوم چې د سلو دينارو وه [او اسل ديناره د زرو درهمو سره برابر دي [حديث په حاشيه كي ذكر سو] وَالْعَشَرَةُ وَمَا فَوْقَهَا فِي مَعْنَى الْأَلْفِ فِي تَعَلُّقِ الْقَطْعِ بِهِ فِي السَّرِقَةِ وَتَعَلُّقِ اسْتِحْلَالِ الْفَرْجِ بِهِ او لس درهمه او تر هغه زيات د زرو درهمو په معنى كي دي [ځكه چې] د غلا په صورت كي د هغه سره [يعني د لسو درهمو سره] قطعُ اليد متعلق ده او د هغه سره د ښځي د فرج حلالوالى متعلق دى ايعني كه څوك لس درهمه غلا كړي نو د هغه لاس پرېكول كيږي، او په لسو درهمو سره د ښځي فرج حلال كېداى سي، همدارنګه كه زر درهمه غلا كړي نو هم د هغه لاس پرېكول كيږي....] وَلَيْسَتْ فِي مَعْنَاهَا فِي حَقِّ تَعَلُّقِ الزَّكَاةِ همدا وجه ده چي لس درهمه وما فوقها [د مال سره] د زكاة متعلق كېدلو په حق كي د زرو [ألف] په معنىٰ كي نه دي ايعني په زر درهمه كي خو زكاة واجبيږي، لېكن په لسو درهمو كي نه واجبيږي] فَأَوْجَبْنَا التَّعْرِيفَ بِالْحَوْلِ احْتِيَاطًا نو ځكه موږ احتياطاً تر يوه كال پوري تشهيرول واجب وګرځول ايعني په دې وجه موږ احتياطاً لس درهمه د زرو درهمو سره برابر كړه او په لسو درهمو كي مو هم د يوه كال تشهيرولو حكم وكړى، لېكن د لسو څخه كم دارهم په هيڅ اعتبار سره هم د زرو درهمو په څير نه دي، نو ځكه موږ په هغه كي فقط د يو څو مناسبو ورځو د تشهيرولو حكم وكړى] وَمَا دُونَ الْعَشَرَةِ لَيْسَ فِي مَعْنَى الْأَلْفِ بِوَجْهٍ مَا او د لسو څخه كم درهمونه په هيڅ اعتبار سره هم د زرو په معنىٰ كي نه دي فَفَوَّضْنَا إِلَى رَأْيِ الْمُبْتَلَى بِهِ نو ځكه موږ هغه د مبتلىٰ بهٖ رايي ته حواله كړه وَقِيلَ:

---

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في سننه ج:۴ ص:۱۸۲ رقم الحديث: ۳۵ وبخاري في كتاب الخصومات باب ضالة الإبل رقم الحديث:۲۴۲۷. حديث دا دى: عن أبي بن كعب قال: أخذتُ صرة مائة دينار، فأتيتُ رسول الله ﷺ فقال: عرّفها حولًا...إلخ. (يعني ما يوه خلته پيدا كړه چې په هغې كي سل ديناره وه، او د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم، نو نبي ﷺ وفرمايل: چې يو كال د هغې تشهير وكړه!).

اَلصَّحِيحُ أَنَّ شَيْئًا مِنْ هٰذِهِ الْمَقَادِيرِ لَيْسَ بِلَازِمٍ او يو قول دا دی: چي له دې مقدارونو څخه يو مقدار هم لازم او ضروري نه دی وَيُفَوَّضُ إِلٰى رَأْيِ الْمُلْتَقِطِ او هغه به د ملتقط (اخيستونکي) رايي ته سپارل کيږي يُعَرِّفُهَا إِلٰى أَنْ يَغْلِبَ عَلٰى ظَنِّهِ أَنَّ صَاحِبَهَا لَا يَطْلُبُهَا بَعْدَ ذٰلِكَ هغه به دومره ورځي د لقطې تشهير کوي چي د هغه غالب ګومان سي چي تر دې وروسته به د لقطې مالک د خپلي لقطې پلټنه (او پوښتنه) نه کوي ثُمَّ يَتَصَدَّقُ بِهَا بيا دې ملتقط هغه صدقه کړي وَإِنْ كَانَتِ اللُّقَطَةُ شَيْئًا لَا يَبْقٰى او که لقطه يو داسي شی وي چي نه پاتيږي (ابلکي ژر خرابيږي) عَرَّفَهُ حَتّٰى إِذَا خَافَ أَنْ يَفْسُدَ تَصَدَّقَ بِهِ نو ملتقط دې د هغه تشهير کوي تر دې چي هغه محسوس کړي چي اوس به دا شی خراب سي نو (بيا) دې هغه صدقه کړي وَيَنْبَغِي أَنْ يُعَرِّفَهَا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي أَصَابَهَا او پکار دي چي ملتقط په هغه ځای کي د لقطې تشهير وکړي چيري چي يې لقطه پيدا کړې وي وَفِي الْجَامِعِ او د خلکو د جمع کېدلو په ځای کي هم د هغه تشهير کول پکار دي (لکه بازار، جامع مسجد او داسي نور) فَإِنَّ ذٰلِكَ أَقْرَبُ إِلَى الْوُصُولِ إِلٰى صَاحِبِهَا ځکه چي په دې طريقه سره مالک ته لقطه رسېدل زيات ممکن دي وَإِنْ كَانَتِ اللُّقَطَةُ شَيْئًا يُعْلَمُ أَنَّ صَاحِبَهَا لَا يَطْلُبُهَا كَالنَّوَاةِ وَقُشُورِ الرُّمَّانِ او که لقطه يو داسي معمولي شی وي چي د هغه په هکله دا معلومه وي چي مالک به د هغه پلټنه نه کوي لکه د خُرما تاکي او د انارو پوستکي يَكُونُ إِلْقَاؤُهُ إِبَاحَةً نو د هغه غورځول به د اباحت دليل وي (مطلب دا چي داسي معمولي غورځول سوی شی د هر چا لپاره مباح دی) حَتّٰى جَازَ الْاِنْتِفَاعُ بِهِ مِنْ غَيْرِ تَعْرِيفٍ تر دې چي له تشهير څخه بغير به له دې شي څخه نفع اخيستل جائز وي وَلٰكِنَّهُ مُبْقًى عَلٰى مِلْكِ مَالِكِهِ خو دا شی به د خپل مالک پر ملکيت قائم وي (يعني دا شی که څه هم معمولي دی، خو بيا به هم د خپل اصلي مالک په ملکيت کي پاته وي) لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنَ الْمَجْهُولِ لَا يَصِحُّ ځکه چي د نامعلوم کس له طرفه تمليک صحيح نه دي (يعني قاعده دا ده چي د مجهول مالک له طرفه يو څوک مالک جوړول کېدای نه دي، نو ځکه به دا شی د معمولي والي باوجود د هغه په ملکيت کي پاته وي).

اللغات: ﴿عرفها﴾ د تفعيل ماضي ده، عَرَّفَ يُعَرِّفُ تَعْرِيفًا: ور پېژندل، تشهير کول (مشهورول)، اعلان کول. ﴿استحلال﴾ د استفعال مصدر دی: حلالول (حلال ګرځول)، ﴿يتصدّق﴾ د تفعل مضارع دي: صدقه کول، خيراتول. ﴿أصاب﴾ د دې باب ډيري معناوي دي، دلته يې معنیٰ ده: پيدا کول او اخيستل. ﴿تمليک﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک جوړول.

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا تَصَدَّقَ بِهَا فرمايي: كه چيرې د لقطې مالک راسي انو ملتقط دې هغه ته خپله لقطه ورکړي ا کنې هغه دې صدقه کړي إِيصَالًا لِلْحَقِّ إِلَى الْمُسْتَحِقِّ د دې لپاره چې حق خپل مستحق ته ورسيږي امطلب دا چې مالک ته د دې ثواب ورسيږي او د فقير ضرورت پوره سي ا وَهُوَ وَاجِبٌ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ او دا كار د امكان په اندازه واجب دی وَذٰلِكَ بِإِيصَالِ عَيْنِهَا عِنْدَ الظَّفَرِ بِصَاحِبِهَا او هغه دا چې كله د لقطې مالک پيدا کړي نو هغه ته دې عين لقطه ورکړي وَإِيصَالِ الْعِوَضِ وَهُوَ الثَّوَابُ عَلَى اعْتِبَارِ إِجَازَةِ التَّصَدُّقِ بِهَا او [كه مالک پيدا نه سي نو] هغه ته دې عوض يعني ثواب ورسول سي په دې اُميد چې مالک به هغه ته د صدقه كولو اجازه ورکړي وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا رَجَاءَ الظُّفْرِ بِصَاحِبِهَا او كه ملتقط وغواړي نو د مالک د پيدا كولو تر وخته پوري دې هغه د ځان سره وساتي قَالَ: فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا يَعْنِي بَعْدَ مَا تَصَدَّقَ بِهَا بيا كه تر صدقه كولو وروسته د لقطې مالک راسي فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَمْضَى الصَّدَقَةَ وَلَهُ ثَوَابُهَا نو هغه ته اختيار دی. كه وغواړي نو صدقه دې نافذ کړي او د صدقې ثواب دې حاصل کړي لِأَنَّ التَّصَدُّقَ وَإِنْ حَصَلَ بِإِذْنِ الشَّرْعِ لَمْ يَحْصُلْ بِإِذْنِهِ ځكه كه څه هم صدقه د شريعت په اجازه سره سوې ده ليكن د هغه په اجازه سره نه ده سوې فَيَتَوَقَّفُ عَلَى إِجَازَتِهِ لهذا د صداقې نفاذ به د هغه پر اجازه موقوف وي وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ لِلْفَقِيرِ قَبْلَ الْإِجَازَةِ او د هغه تر اجازې مخكې [هم] د فقير ملكيت ثابتيږي [د دې جملې پوره مطلب به په تشريح كې بيان سي] فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلَى قِيَامِ الْمَحَلِّ نو د ملكيت ثبوت به د صدقې پر محل نه موقوف كيږي بِخِلَافِ بَيْعِ الْفُضُولِيِّ په خلاف د بيع فضولي لِثُبُوتِهِ بَعْدَ الْإِجَازَةِ فِيهِ ځكه چې په هغه كې [فقط] تر اجازې وروسته ملكيت ثابتيږي وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمُلْتَقِطُ او كه وغواړي نو له ملتقط څخه دې ضمان [تاوان] واخلي لِأَنَّهُ سَلَّمَ مَالَهُ إِلَى غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ ځكه چې ملتقط د مالک له اجازې څخه بغير د هغه مال بل چا ته سپارلی دی إِلَّا أَنَّهُ بِإِبَاحَةٍ مِنْ جِهَةِ الشَّرْعِ او كه څه هم ملتقط ته د شريعت له طرفه اباحت حاصل دی وَهٰذَا لَا يُنَافِي الضَّمَانَ حَقًّا لِلْعَبْدِ ليكن دا اباحت د بنده په حق

کي د ضمان منافي نه دی كَمَا فِي تَنَاوُلِ مَالِ الْغَيْرِ حَالَةَ الْمَخْمَصَةِ لکه د سختئ لوږې په حالت کي چي د بل چا مال خوړل د ضمان منافي نه دي وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمِسْكِينَ إِذَا هَلَكَ فِي يَدِهِ او که وغواړي نو له مسکين څخه دي ضمان واخلي که چيري لقطه د مسکين په لاس کي هلاک سوې وي ايعني د مسکين د لاس څخه وتلې وي ا لِأَنَّهُ قَبَضَ مَالَهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ ځکه چي مسکين د مالک له اجازې څخه بغير د هغه پر مال قبضه کړې ده وَإِنْ كَانَ قَائِمًا أَخَذَهُ او که لقطه ا د مسکين سره ا موجود وي نو مالک دي هغه ځني واخلي لِأَنَّهُ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ ځکه چي هغه بعينه خپل مال پيدا کړی ايعني ځکه چي دا خاص د مالک خپل شی دی ا.

اللغات. ﴿إيصال﴾ د افعال مصدر دی: رسول. ﴿ظفر﴾ د سمع ماضي ده: کاميابېدل. بريالئ کېدل. مراد ځني د مالک په پيدا کېدلو کي د ملتقط کاميابېدل دي. ﴿أمسكها﴾ د افعال ماضي ده: نيول. راګرځول. ﴿أمضى﴾ د افعال ماضي ده: جاري کول. نافذول. ﴿مخمصة﴾ سخته لوږه.

تشريح: والملك يثبت إلخ: په دې عبارت سره د فقير د مالک کېدلو او د بيع فضولي په مينځ کي يو فرق بيانوي. صورت يې دا دی چي که تر صدقه کولو وروسته د لقطې مالک راسي. او په هغه وخت کي د فقير د لاس څخه لقطه وتلې او ختمه سوې وي (مثلاً هغه خوړلې وي او داسي نور). نو آيا اوس به دا فقير د مالک په اجازه سره د هغه لقطې مالک کيږي. که نه؟ نو د دې جواب ورکوي چي هو! که د لقمې تر ختمېدلو وروسته مالک اجازه ورکړې نو هم به فقير د لقطې مالک جوړيږي.

د دې په خلاف بيع فضولي يعني که زيد د خالد له اجازې څخه بغير د هغه پُسه پر عمر خرڅ کړي. نو دا بيع به هغه وخت جائز وي او هغه وخت به عمر د پُسه مالک کيږي "کله چي خالد (مالک) د بيع اجازه ورکړي او پُسه د عمر په لاس کي موجود وي". لېکن که پُسه د عمر د لاس څخه وتلی وي او خالد اجازه ورکړې نو بيع نه صحيح کيږي. ځکه چي د بيع فضولي د جواز لپاره د مبيع موجودېدل ضروري دي. لېکن د فقير د مالک کېدلو لپاره د صدقه کړی سوي شي (لقطې) موجودېدل ضروري نه دي. د دواړو په مينځ کي همدا فرق دی. پاته عبارت واضح دی.

د خارويو لقطه

قَالَ: وَيَجُوزُ الِالْتِقَاطُ فِي الشَّاةِ وَالْبَقَرِ وَالْبَعِيرِ فرمايي: چې پسه، غوا او اوښ هم د لقطې په توګه اخيستل [او نيول] جائز دي وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: إِذَا وُجِدَ الْبَعِيرُ وَالْبَقَرُ فِي الصَّحْرَاءِ امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې که اوښ او غوا په صحراء [بيابان] کې پيدا سي فَالتَّرْكُ أَفْضَلُ نو [د هغوی] پرېښوول افضل دي وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ الْفَرَسُ او آس هم پر دغه اختلاف دی لَهُمَا: أَنَّ الْأَصْلَ فِي أَخْذِ مَالِ الْغَيْرِ الْحُرْمَةُ د دې حضراتو دليل دا دی: چې د بل چا د مال په اخيستلو کې حرمت أصل دی وَالْإِبَاحَةُ مَخَافَةَ الضَّيَاعِ او اباحت [روايښت] د ضايع کېدلو د بيري په وجه ثابتيږي وَإِذَا كَانَ مَعَهَا مَا تَدْفَعُ عَنْ نَفْسِهَا او کله چې په خپله د لقطې سره دومره قوت وي چې هغه له خپل ځان څخه دفاع کولای سي يَقِلُّ الضَّيَاعُ نو د ضياع خطره کمه وي وَلَكِنَّهُ يُتَوَهَّمُ لېکن د ضياع وهم کيږي [يعني که څه هم د ضياع خطره کمه وي خو بيا هم د ضياع وهم خامخا پاته وي] فَيُقْضَى بِالْكَرَاهَةِ وَالنَّدْبُ إِلَى التَّرْكِ نو ځکه به د هغه اخيستل [نيول] مکروه ګرځول کيږي او د هغه پرېښوول به اولیٰ [او افضل] ګرځول کيږي وَلَنَا: أَنَّهَا لُقَطَةٌ يُتَوَهَّمُ ضَيَاعُهَا زموږ دليل دا دی: چې اوښ [او داسي نور] هم داسي لقطه ده چې د هغې د ضياع وهم کيږي [يعني د هغې د ضياع وهم پاته دی] فَيُسْتَحَبُّ أَخْذُهَا وَتَعْرِيفُهَا صِيَانَةً لِأَمْوَالِ النَّاسِ لهذا د خلکو د أموالو د ساتلو په خاطر به د هغې اخيستل او تشهيرول مستحب وي كَمَا فِي الشَّاةِ لکه په پسه کي چې هم دغه حکم دی فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُلْتَقِطُ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْحَاكِمِ بيا که ملتقط د قاضي له حکم څخه بغير پر دغه لقطې څه خرڅ وکړي [يعني په خپل مال هغه ته خوراکه او داسي نور رانيسي] فَهُوَ مُتَبَرِّعٌ نو هغه به [په دې کي] احسان کونکی وي [يعني دا به هغه له طرفه احسان وي، لهذا که مالک پيدا سي نو د ملتقط لپاره به جائز نه وي چې له هغه څخه د دې مال او عوض غوښتنه وکړي، ځکه چې دا د ملتقط له طرفه احسان دی] لِقُصُورِ وِلَايَتِهِ عَنْ ذِمَّةِ الْمَالِكِ ځکه چې پر مالک د ملتقط ولايت کم دی [مطلب دا چې پر مالک هغه ته ولايت حاصل نه دی] وَإِنْ أَنْفَقَ بِأَمْرِهِ او که ملتقط د قاضي په حکم سره خرڅ وکړي كَانَ ذَلِكَ دَيْنًا عَلَى صَاحِبِهَا نو دا خرڅه به د لقطې پر مالک قرض وي لِأَنَّ لِلْقَاضِي وِلَايَةً فِي مَالِ الْغَائِبِ نَظَرًا لَهُ ځکه چې

قاضي ته د شفقت [او مصلحت] پر بناء د غائب په مال کي ولايت حاصل دی وَقَدْ يَكُونُ النَّظَرُ فِي الْإِنْفَاقِ او کله په خرچولو کي [هم] شفقت [او مصلحت] وي عَلَى مَا نُبَيِّنُ چي وروسته به مونږ د دي بيان وکړو.

اللغات: ﴿شاة﴾ پسه، بزه او داسي نورو ته وايي. ﴿يُقْضَى﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: فيصله کول. ﴿أنفق﴾ د افعال ماضي ده: خرچول، خرچه او نفقه ورکول. ﴿قصور﴾ کوتاهي، کموالی. ﴿نظر﴾ مصلحت (ښيګڼه، ښه والی، فايده)، شفقت.

تشريح: صورت د مسئلې او عبارت واضح دی.

د څاريو د لقطې خرچه

وَإِذَا رُفِعَ ذَلِكَ إِلَى الْحَاكِمِ او کله چي دا معامله د قاضي مخته پېش کړی سي [مثلاً يو څوک غوا د لقطې په توګه ونيسي او قاضي ته مسئله پېش کړي] نَظَرَ فِيهِ نو قاضي دي په هغه کي غور وکړي فَإِنْ كَانَ لِلْبَهِيمَةِ مَنْفَعَةٌ که چيري د څاروي لپاره يو منفعت وي [مثلاً غوا شيدې کولای سي، يا مثلاً خار باز وړلای سي] آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا نو قاضي دي څاروی په أجرت ورکړي او د هغه أجرت دي پر هغه خرچ کړي [مطلب دا چي قاضي دي هغه سړي ته حکم وکړي چي خر په أجرت ورکوه!، يا مثلاً شيدې خرڅوه! او د هغه پيسې پر څاروي مصرفوه!] او کله چي مالک راسي، نو هغه ته خپل څاروی حواله کړه! [لِأَنَّ فِيهِ إِبْقَاءَ الْعَيْنِ عَلَى مِلْكِهِ مِنْ غَيْرِ إِلْزَامِ الدَّيْنِ عَلَيْهِ ځکه چي په داسي کولو کي پر مالک د قرض لازمولو څخه بغير د هغه په ملکيت کي د عَين [غوا او داسي نورو] باقي ساتل دي وَكَذَلِكَ يُفْعَلُ بِالْعَبْدِ الْآبِقِ او د تښتېدلي غلام سره به هم داسي کيږي [يعني هغه به په أجرت او مزدوری ورکول کيږي او د أجرت پيسې به پر هغه خرچول کيږي، تر دې چي مالک راسي] وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا مَنْفَعَةٌ وَخَافَ أَنْ تَسْتَغْرِقَ النَّفَقَةُ قِيمَتَهَا او که د څاروي هيڅ منفعت نه وي او دا ېېره وي چي نفقه به د هغه ټوله قيمت ونيسي [او د مالک لپاره به د څاروي اخيستلو پر ځای د نفقې زيات خرچ او قرض اداء کول لازم وي] بَاعَهَا وَأَمَرَ بِحِفْظِ ثَمَنِهَا نو قاضي دي هغه څاروی خرڅ کړي او د هغه د قيمت ساتلو حکم دي وکړي إِبْقَاءً لَهُ مَعْنًى عِنْدَ تَعَذُّرِ إِبْقَائِهِ صُورَةً د دې لپاره چي صورتاً د څاروي د ابقاء د مشکلوالي په

وجه معناً هغه باقي وساتل سي وَإِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ الْإِنْفَاقَ عَلَيْهَا او كه پر لقطې خرڅ كول انفقه وركول ا زيات مناسب وي أَذِنَ فِي ذٰلِكَ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَى مَالِكِهَا نو قاضي دي د انفاق اجازه وركړي او نفقه دي د لقطې پر مالک قرض وګرځوي لِأَنَّهُ نَصَبَ نَاظِرًا ځكه چي قاضي د مُشفق په حيثيت مقرر سوى دى [مطلب دا چي قاضي د دې لپاره متعين سوى دى چي د يو چا په حق كي د شفقت او مصلحت فيصله وكړي] وَفِي هٰذَا نَظَرٌ مِنَ الْجَانِبَيْنِ او په داسي كولو كي د دواړو طرفو لپاره شفقت [او مصلحت] دى [ځكه چي مالک ته به خپل شى حاصل سي او ملتقط ته به خپل قرض (يعني خرڅ كړى سوى مال) حاصل سي] قَالُوا: إِنَّمَا يَأْمُرُ بِالْإِنْفَاقِ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ عَلَى قَدْرِ مَا يَرَى مشائخو فرمايلي دي: چي قاضي به دوې يا درې ورځي د انفاق [خرڅولو] حكم كوي څرنګه چي هغه مناسب وګڼي رَجَاءَ أَنْ يَظْهَرَ مَالِكُهَا په دې اُميد چي [په دې مودت كي به] د لقطې مالک ښكاره سي فَإِذَا لَمْ يَظْهَرْ يَأْمُرُ بِبَيْعِهَا لېكن كه هغه ښكاره نه سي نو قاضي به د لقطې د خرڅولو حكم كوي لِأَنَّ دَارَّةَ النَّفَقَةِ مُسْتَأْصِلَةٌ ځكه چي مستقل خرڅه وركول [لقطه] له منځه وړي [او پر مالک به د لقطې اخيستلو پر ځاى زيات قرض وركول لازم وي] فَلَا نَظَرَ فِي الْإِنْفَاقِ مُدَّةً مَدِيدَةً لهذا تر ډېر وخته په خرڅه وركولو كي هيڅ شفقت [او مصلحت] نسته قَالَ: وَفِي الْأَصْلِ شَرَطَ إِقَامَةَ الْبَيِّنَةِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كي د ګواهۍ پېشولو شرط لګولى دى وَهُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح دي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ غَصْبًا فِي يَدِهِ ځكه كېداى سي چي لقطه به د ملتقط په قبضه كي غصب وي فَلَا يَأْمُرُ فِيهِ بِالْإِنْفَاقِ او په غصب كي قاضي د انفاق حكم كولاى نه سي وَإِنَّمَا يَأْمُرُ بِهِ فِي الْوَدِيعَةِ [ځكه] دا حكم خو قاضي فقط د امانت په صورت كي كولاى سي فَلَا بُدَّ مِنَ الْبَيِّنَةِ لِكَشْفِ الْحَالِ لهذا د حالت [او معاملې] څرګندولو لپاره ګواهي پېشول ضروري دي وَلَيْسَتِ الْبَيِّنَةُ تُقَامُ لِلْقَضَاءِ او د قاضي د فيصلې لپاره دي بينه نه پېشول كېږي [مطلب دا چي دلته دا ګواهي د حالت معلومولو او څرګندولو لپاره ده، نه د فيصلې لپاره] وَإِنْ قَالَ: لَا بَيِّنَةَ لِي او كه هغه ووايي: چي زما سره بينه نسته يَقُولُ الْقَاضِي لَهُ: أَنْفِقْ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فِيمَا قُلْتَ حَتَّى تَرْجِعَ عَلَى

الْمَالِكِ إِنْ كَانَ صَادِقًا نو قاضي دي هغه ته ووايي: كه چيري ته په خپل قول كي رېښتونى يې! نو پر هغه خرڅ كوه! تر دې چي ته پر مالك رجوع وكړي [يعني هغه خرڅ او قرض به ته بيرته له مالك څخه واخلې] كه چيري ته [ملتقط] په خپل قول كي رېښتونى وې! وَلَا يَرْجِعُ إِنْ كَانَ غَاصِبًا او كه چيري ته [ملتقط] غاصب وې نو پر مالك به رجوع نه كوې [خلاصه دا چي كه ملتقط ووايي چي زما سره د لقطې د اخيستلو (التقاط) په وخت كي ګواهان نه وو او س هم ګواهان نه لرم، نو قاضي دي هغه ته دا ووايي چي ته پر لقطه خرڅ كوه كه چيري ستا أمين والى او ملتقط والى ثابت سي نو تا ته به له مالك څخه د خرڅ او قرض اخيستلو اختيار وې او كه ته غاصب ثابت سوې نو لقطه به هغه ته واپس كوې!] وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ: وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَى صَاحِبِهَا إِشَارَةٌ إِلَى او په قدوري [متن] كي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول: "وجعل النفقة دينا على صاحبها" و دې خبري ته اشاره ده أَنَّهُ إِنَّمَا يَرْجِعُ عَلَى الْمَالِكِ بَعْدَ مَا حَضَرَ وَلَمْ تُبَعِ اللُّقَطَةُ إِذَا شَرَطَ الْقَاضِي الرُّجُوعَ عَلَى الْمَالِكِ چي ملتقط د مالك تر حاضرېدلو وروسته هغه وخت پر مالك رجوع كولاى سي كله چي لقطه خرڅه كړى سوې نه وي او قاضي پر مالك د رجوع كولو شرط لګولى وي [يعني لقطه به موجوده وي او قاضي به د فيصلې په وخت كي ملتقط ته دا ويلي دي چي ته دا خرڅ او نفقه له مالك څخه واپس واخله، يعني ستا دا خرڅ د مالك پر ذمه قرض دى، لېكن كه قاضي فقط د انفاق حكم ورته كړى وى او دا واپس اخيستلو خبره يې نه وي كړې، نو ملتقط ته به دا حق نه وي چي له مالك څخه خرڅ (خرڅ كړى سوى مال) واخلي] وَهَذِهِ رِوَايَةٌ وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا روايت أصح دى.

اللغات: ﴿بهيمة﴾ څاروى، ﴿آجرها﴾ د افعال ماضي ده: په كرايه وركول. ﴿إبقاء﴾ د افعال مصدر دى: پاته كول، باقي ساتل. ﴿تستغرق﴾ د استفعال مضارع ده: غرقېدل. ﴿ناظر﴾ مشفق، د مصلحت رعايت كونكى. ﴿مستأصلة﴾ د استفعال مؤنث اسم فاعل دى: له بېخه كښونكى، له منځه وړونكى (ختمونكى).

تشريح: عبارت واضح دى. مشكل ځايونه په عبارت كي تشريح سول.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَإِذَا حَضَرَ يَعْنِي الْمَالِكُ فرمايي: او كه چيري مالك حاضر سي فَلِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَمْنَعَهَا مِنْهُ حَتَّى يُحْضِرَ النَّفَقَةَ نو ملتقط ته دا حق سته چي د لقطې څاروى له مالك څخه منع كړي تر دې چي مالك د نفقې مال حاضر كړي لِأَنَّهُ حَيِيَ بِنَفَقَتِهِ ځكه هغه څاروى د ملتقط په نفقه سره ژوند پاته سوى دى فَصَارَ كَأَنَّهُ اسْتَفَادَ الْمِلْكَ مِنْ جِهَتِهِ نو داسي سو ګواكي مالك د ملتقط له طرفه د ملكيت مالك

سوی دی [يعنې ګواکې ملتقط پر مالک لقطه (څاروی) خرڅ کړی] فَأَشْبَهَ الْمَبِيعَ نو دا مبيع سره مشابه سو وَأَقْرَبُ مِنْ ذٰلِكَ رَادُّ الْآبِقِ او د تښتېدلي غلام واپس کونکی [او نيونکی] هم دې ته نژدې دی فَإِنَّ لَهُ الْحَبْسَ لِاسْتِيفَاءِ الْجُعْلِ نو هغه ته به هم د خرڅې تر اخيستلو پوري [د غلام] راګرځولو حق حاصل وي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې [اوس] موږ ذکر کړی ثُمَّ لَا يَسْقُطُ دَيْنُ النَّفَقَةِ بِهَلَاكِهِ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ قَبْلَ الْحَبْسِ بيا تر راګرځولو مخکې د ملتقط په قبضه کې د څاروي په هلاکېدلو سره به د نفقې قرض نه ساقطيږي [يعنې که ملتقط پر څاروي څه خرچه وکړه. او بيا هغه د خرچ اخيستلو لپاره تر اوسه له مالک څخه څاروی راګرځولی نه وو چې په دې وخت کې څاروی هلاک سو، نو د هلاکېدلو باوجود ملتقط له مالک څخه هغه مال اخيستلای سي کوم چې يې پر څاروي خرچ کړی وي] وَيَسْقُطُ إِذَا هَلَكَ بَعْدَ الْحَبْسِ او که چيري تر را ګرځولو وروسته هغه هلاک سي نو قرض ساقطيږي لِأَنَّهُ يَصِيرُ بِالْحَبْسِ شَبِيهَ الرَّهْنِ ځکه چې د راګرځولو په وجه دا د رهن سره مشابه سو.

اللغات: ﴿رادّ﴾ د نصر اسمِ فاعل دی: واپس کونکی (واپس راوستونکی)، مراد ځني د تښتېدلي غلام نيونکی او اخيستونکی دی، ﴿نفقة﴾ خرچه، ﴿حبس﴾ قيدول. راګرځول. منع کول (مراد ځني د خرچ اخيستلو په نيت له مالک څخه لقطه راګرځول دي. يعنې چې ملتقط مالک ته ووايي: تر څو چې تا ما ته د خرچې او نفقې مال راکړی نه وي، تر هغه وخته زه تا ته لقطه نه درکوم).

تشريح: عبارت واضح دی.

د حل او حرم لقطه

قَالَ: وَلُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ سَوَاءٌ فرمايي: او د حِل او حرم دواړو لقطه برابره ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجِبُ التَّعْرِيفُ فِي لُقَطَةِ الْحَرَمِ إِلَى أَنْ يَجِيءَ صَاحِبُهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د حرم د لقطې تشهير کول واجب دي تر دې چې د لقطې مالک راسي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي الْحَرَمِ [1]: وَلَا يَحِلُّ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ ځکه د حرم په هکله نبي ﷺ فرمايلي دي: چې د حرم لقطه فقط د هغه کس لپاره حلاله ده کوم چې

[1] تخريج: أخرجه البخاري في باب كيف تعرف لقطة أهل مكة، رقم الحديث:٢٤٣٣.

د لقطې په باره کې پوښتنه [او اعلان] کوي [يعني لقطه فقط د خپل مالک لپاره حلاله ده] وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: اِعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً او زموږ دليل دا دی [چې نبي ﷺ ته يو أعرابي راغلی او پوښتنه يې ځني وکړه: چې که زه لقطه (مثلاً دراهم) پيدا کړم، نو څه وکړم. نو نبي ﷺ وفرمايل: چې ته د لقطې خلته او ربنکی ځان ته معلوم کړه! او بيا يو کال د هغه تشهير کوه! [يعني مثلاً که ته خلته پيدا کړې چې په هغه کې دارهم وي، نو ته د هغه يو کال تشهير کوه او د خلتې شکل او ربنکی وپېژنه! ځکه که مالک راسي نو ته به له هغه څخه د علامت په توګه د خلتې د رنګ او ربنکی پوښتنه کوې!] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ دا فرمان له څه تفصيل څخه بغير وارد سوی دی [يعني په دې حديث کې د حِل او حرم تر مينځ هيڅ فرق سوی نه دی] وَلِأَنَّهَا لُقَطَةٌ او ځکه چې هغه هم لقطه ده وَفِي التَّصَدُّقِ بَعْدَ مُدَّةِ التَّعْرِيفِ إِبْقَاءُ مِلْكِ الْمَالِكِ مِنْ وَجْهٍ او د تشهير تر مودت وروسته د هغه په صدقه کولو کې من وجه د مالک د ملکيت ابقاء ده فَيَمْلِكُهُ كَمَا فِي سَائِرِهَا لهذا د نورو لقطو په څير به ملتقط د هغه هم مالک کيږي وَتَأْوِيلُ مَا رُوِيَ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ الِالْتِقَاطُ إِلَّا لِلتَّعْرِيفِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت کړی سوي حديث تاويل دا دی چې فقط د تشهير کولو لپاره د [بل چا مال] را اخيستل حلال دي وَالتَّخْصِيصُ بِالْحَرَمِ لِبَيَانِ أَنَّهُ لَا يَسْقُطُ التَّعْرِيفُ فِيهِ او د حرم تخصيص په دې وجه دی چې دا ښکاره سي چې د حرم په لقطه کې هم تشهير ساقط نه دی لِمَكَانِ أَنَّهُ لِلْغُرَبَاءِ ظَاهِرًا ځکه چې حرم په ښکاره د مسافرانو ځای دی [يعني خلک به دا وهم کوي چې حرم خو د مسافرانو ځای دی او خلک ځي راځي لهذا په حرم کې د تشهير هيڅ فايده نسته، نو نبي کريم ﷺ دا اعلان وکړی چې د حرم په لقطه کې هم تشهير واجب دی او ساقط نه دی].

اللغات: ﴿حِل﴾ غيرِ حرم، د حرم شريف له علاقې څخه بغير نور ټولو علاقو ته "حِل" وايي. ﴿تعريف﴾ تشهير کول، اعلان کول. ﴿منشد﴾ د افعال له باب څخه د اسمِ فاعل صيغه ده: هغه کس کوم چې د خپل ورک سوي شي په باره کې اعلان او پوښتنه کوي. ﴿عفاص﴾ دا به هغه خلتې (تېلی) ته ويل کېده کوم چې به له څرمني يا بل شي څخه جوړه وه او شپانه به خپله توښه پکښې ساتل. او عفاص سرپوښ ته هم وايي، خو دلته يې اوله معنیٰ مراد ده ﴿وکاء﴾ هغه تار او ربنکی چې په هغه سره د خلتې خوله يا داسي بل شی تړل کيږي. ﴿غرباء﴾ جمع د غريب ده: پرديس، مسافر.

تشريح: عبارت واضح دی.

---

[1] تخريجه: أخرجه البخاري في باب ضالة الابل، رقم الحديث:۲۴۲۷.

د لقطې د مالک کېدلو دعویٰ کول

وَإِذَا حَضَرَ رَجُلٌ فَادَّعَى اللُّقَطَةَ او که چیرې يو سړی حاضر سي او د لقطې دعویٰ وکړي لَمْ تُدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ نو تر څو چې هغه ګواهي پېش نه کړي تر هغه وخته به لقطه هغه ته نه ورکول کیږي فَإِنْ أَعْطَى عَلَامَتَهَا او که هغه [د لقطې] يو علامت بيان کړي حَلَّ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَيْهِ نو د ملتقط لپاره هغه لقطه ورکول حلال دي وَلَا يُجْبَرُ عَلَى ذَلِكَ فِي الْقَضَاءِ ليکن قضاءً به ملتقط پر دې نه مجبورول کیږي وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: يُجْبَرُ امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې هغه به مجبورول کیږي وَالْعَلَامَةُ مِثْلُ أَنْ يُسَمِّيَ وَزْنَ الدَّرَاهِمِ وَعَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا وَوِعَاءَهَا او علامت دا دی: چې مثلاً د دراهمو، وزن، د هغوی شمېر، د هغوی [د خلتې] تار [ربنکی] او د هغوی د محفوظه کېدلو شی [خلته] وښيي لَهُمَا: أَنَّ صَاحِبَ الْيَدِ يُنَازِعُهُ فِي الْيَدِ وَلَا يُنَازِعُهُ فِي الْمِلْكِ د دې حضراتو دليل دا دی: چې ملتقط د قبضې په هکله د مالک سره منازعت [او مخالفت] کوي او د ملکيت په هکله منازعت نه ور سره کوي فَيُشْتَرَطُ الْوَصْفُ لهذا د لقطې د وصف بيانول به شرط وي لِوُجُودِ الْمُنَازَعَةِ مِنْ وَجْهٍ ځکه چې من وجه منازعت موجود دی وَلَا تُشْتَرَطُ إِقَامَةُ الْبَيِّنَةِ او بيّنه پېشول به شرط نه وي لِعَدَمِ الْمُنَازَعَةِ مِنْ وَجْهٍ ځکه چې من وجه منازعت معدوم دی وَلَنَا أَنَّ الْيَدَ حَقٌّ مَقْصُودٌ كَالْمِلْكِ زموږ دليل دا دی: چې د ملکيت په څير قبضه هم مقصود حق دی فَلَا يَسْتَحِقُّ إِلَّا بِحُجَّةٍ وَهُوَ الْبَيِّنَةُ لهذا د حجت يعني د بيّنې له پېشولو څخه بغير به هغه د دې مستحق نه وي اِعْتِبَارًا بِالْمِلْكِ پر ملکيت باندې په قياس کولو سره إِلَّا أَنَّهُ يَحِلُّ لَهُ الدَّفْعُ عِنْدَ إِصَابَةِ الْعَلَامَةِ خو ابيا هم [د علامت بيانولو په صورت کې به د ملتقط لپاره ورکول حلال وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام[1]: فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: که چيرې د لقطې مالک راسي او هغه د لقطې خلته [تېلۍ] او د هغه شمېر بيان کړي نو ته! لقطه هغه ته ورکړه! وَهَذَا لِلْإِبَاحَةِ او دا حکم د اباحت [روايښت] لپاره دی عَمَلًا بِالْمَشْهُورِ پر مشهور حديث باندې په عمل کولو سره وَهُوَ

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب اللقطة باب معرفة العفاص والوكاء رقم الحديث:٥

قَوْلُهُ عليه السلام: اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي او هغه [مشهور حديث] د نبي ﷺ دا فرمان دی: چې بینه پېشول پر مدعي لازم دي وَيَأْخُذُ مِنْهُ كَفِيلًا إِذَا كَانَ يَدْفَعُهُ إِلَيْهِ اسْتِيثَاقًا او ملتقط چې کله مالک ته لقطه ورکړې نو د اطمینان [او احتیاط] په توګه دي له مالک څخه یو کفیل واخلي وَهَذَا بِلَا خِلَافٍ او په دې کې هیڅ اختلاف نسته لِأَنَّهُ يَأْخُذُ الْكَفِيلَ لِنَفْسِهِ ځکه چې ملتقط د خپل ذات لپاره کفیل غواړي بِخِلَافِ التَّكْفِيلِ لِوَارِثٍ غَائِبٍ عِنْدَهُ په خلاف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د غائب وارث لپاره د کفیل اخیستلو [یعني د هغه په نېز دا صحیح نه دي] وَإِذَا صُدِّقَ قِيلَ: لَا يُجْبَرُ عَلَى الدَّفْعِ او که چیرې ملتقط د مالک تصدیق وکړي نو یو قول دا دی: چې هغه به مالک ته [د لقطې] پر ورکولو نه مجبورول کیږي كَالْوَكِيلِ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ إِذَا صَدَّقَهُ لکه وکیل بقبض الوديعة کله چې مودَع [امانت ساتونکی] د هغه تصدیق وکړي [نو مودَع هم هغه ته پر ودیعت [امانت] ورکولو نه مجبورول کیږي، همداسي به دا هم وي] وَقِيلَ: يُجْبَرُ او یو قول دا دی: چې هغه به مالک ته د لقطې پر ورکولو مجبورول کیږي لِأَنَّ الْمَالِكَ هٰهُنَا غَيْرُ ظَاهِرٍ ځکه چې مالک دلته ښکاره نه دی وَالْمُودِعُ مَالِكٌ ظَاهِرًا او امانت ورکونکی ښکاره مالک دی وَلَا يَتَصَدَّقُ بِاللُّقَطَةِ عَلَى غَنِيٍّ او ملتقط به پر مالدار سړي لقطه نه صدقه کوي لِأَنَّ الْمَأْمُورَ بِهِ هُوَ التَّصَدُّقُ ځکه د کوم شي حکم چې سوی دی هغه صدقه کول دي لِقَوْلِهِ عليه السلام: فَإِنْ لَمْ يَأْتِ يَعْنِي صَاحِبَهَا فَلْيَتَصَدَّقْ بِهِ ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمايلي دي: نو که د لقطې مالک را نه سي نو ملتقط دي هغه صدقه کړي وَالصَّدَقَةُ لَا تَكُونُ عَلَى غَنِيٍّ او پر مالدار باندي صدقه نه کیږي فَأَشْبَهَ الصَّدَقَةَ الْمَفْرُوضَةَ نو دا د فرضي صدقې [زكاة] سره مشابه سو.

اللغات: ﴿ينازعه﴾ د مفاعلې مضارع ده: جنګ کول، مخالفت کول، دعوه کول. ﴿وعاء﴾ هغه څه چې په هغه کي یو شی ساتل کیږي، لکه لوښی، خلته (تېلۍ)، دلته ځني مراد د پیسو ساتلو خلته ده (چې اوس د هغه پر ځای بټوه استعمالیږي). ﴿استيثاق﴾ د استفعال مصدر دی: اطمینان پیدا کول، وثيقه اخیستل. ﴿وديعة﴾ امانت. ﴿مُوْدِع﴾ هغه کس چې بل چا ته یې امانت اېښی وي (امانت ورکونکی). مُودَع: هغه کس چې امانت ورته اېښوول سوی وي (امانت ساتونکی).

تشريح: عبارت واضح دی.

د مالدار لپاره د لقطې څخه نفع اخيستل

وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ غَنِيًّا او كه ملتقط مالدار وي لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا نو هغه ته جائز نه دي چي د لقطې څخه نفع واخلي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز دي لِقَوْلِهِ عليه السلام فِي حَدِيثِ أُبَيٍّ رضي الله عنه: فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِلَّا فَانْتَفِعْ بِهَا ځکه چي د أبي بن كعب رضي الله عنه په حديث كي نبي ﷺ فرمايلي دي: كه چيري د لقطې مالک راسي نو ته هغه ته لقطه ورکړه! کنې په خپله د لقطې څخه نفع واخله! وَكَانَ مِنَ الْمَيَاسِيرِ او أبي بن كعب له مالدارانو څخه وو وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا يُبَاحُ لِلْفَقِيرِ حَمْلًا لَهُ عَلَى رَفْعِهَا صِيَانَةً لَهَا او ځکه چي د غريب لپاره په دې وجه لقطه روا وي چي هغه لقطه راپورته کړي د هغې حفاظت وکړي وَالْغَنِيُّ يُشَارِكُهُ فِيهِ او په دې معنیٰ کي مالدار كس [هم] د هغه سره شريک دی وَلَنَا: أَنَّهُ مَالُ الْغَيْرِ زموږ دليل دا دی: چي دا د بل چا مال دی فَلَا يُبَاحُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا بِرِضَاهُ لهذا د هغه له ضا څخه بغير به له دې څخه نفع اخيستل جائز نه وي لِإِطْلَاقِ النُّصُوصِ ځکه نصوص مطلق دي وَالْإِبَاحَةُ لِلْفَقِيرِ لِمَا رَوَيْنَاهُ أَوْ بِالْإِجْمَاعِ او د غريب لپاره اباحت [روايښت] د هغه حديث په وجه دی کوم چي موږ روايت کړی يا د اجماع په وجه دی فَيَبْقَى مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْلِ نو له غريب څخه بغير د بل كس [مالدار] حکم به پر أصل [ممانعت] پاته وي وَالْغَنِيُّ مَحْمُولٌ عَلَى الْأَخْذِ لِاحْتِمَالِ افْتِقَارِهِ فِي مُدَّةِ التَّعْرِيفِ او مالدار پر داسي را اخيستلو [راپورته کولو] حمل کړی سوی دی چي کېدای سي د تعريف [تشهير] په مودت کي به هغه محتاج سي [يعني مالدار به په دې اُميد لقطه را اخلي چي شايد هغه به د اعلان او تشهير کولو په مودت کي غريب سي] وَالْفَقِيرُ قَدْ يَتَوَانَى لِاحْتِمَالِ اسْتِغْنَائِهِ فِيهَا او فقير هم کله [د هغه په حفاظت کي] سستي کوي چي شايد هغه به په دې مودت کي مالدار سي وَانْتِفَاعُ أُبَيٍّ رضي الله عنه كَانَ بِإِذْنِ الْإِمَامِ او د أبي بن كعب رضي الله عنه انتفاع د امام په اجازه سره وه وَهُوَ جَائِزٌ بِإِذْنِهِ او د امام په اجازه سره انتفاع [زموږ په نېز هم] جائز ده وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ فَقِيرًا او كه ملتقط غريب وي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا نو په دې کي هيڅ پروا نسته چي هغه د لقطې څخه نفع واخلي لِمَا فِيهِ مِنْ تَحْقِيقِ النَّظَرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چي په دې کي له دواړو طرفونو څخه شفقت [او مصلحت] ثابتيږي وَلِهَذَا جَازَ الدَّفْعُ إِلَى فَقِيرٍ غَيْرِهِ او له همدې وجهي له ملتقط څخه بغير بل غريب ته لقطه ورکول جائز دي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْفَقِيرُ أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ أَوْ زَوْجَتَهُ همدارنګه که د ملتقط پلار يا زوی يا ښځه فقيره وي انو هم هغو ته د لقطې څخه نفع اخيستل جائز دي! وَإِنْ كَانَ هُوَ غَنِيًّا که څه هم ملتقط مالدار وي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿**ملتقط**﴾ دلوېدلي شي راپورته کونکی. ﴿**افتقار**﴾ د افتعال مصدر دی: محتاجه کېدل. غریب کېدل. ﴿**تعريف**﴾ تشهیر کول (مشهورول). دورک سوي شي اعلان کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده که چیري متلقط مالدار وي. نو زموږ په نیز هغه ته دا جائز نه دي چي د لقطي څخه نفع او فایده واخلي. لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز جائز دي؛ ځکه چي حضرت أبی بن کعب ﷺ ته د دې حکم سوی وو چي د لقطې څخه فایده واخلي حالانکي اُبی بن کعب ﷺ مالدار وو. د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دلیل دا دی چي د غریب لپاره په همدې مقصد انتفاع جائز وي چي لقطه را پورته کړي او حفاظت یې وکړي او دا مقصد له مالدار څخه هم متحقق کېدای سي، نو ځکه به د انتفاع په حکم کي غریب او مالدار دواړه برابر وي.

ولنا إلخ: زموږ دلیل دا دی، چي وروره! لقطه د بل چا مال دی او د بل چا له اجازې څخه بغیر د هغه له مال څخه نفع اخیستل جائز نه دي، ځکه چي د قرآن کریم په دې آیت "وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ" او په "لَا تَعْتَدُوٓا۟" او داسي نورو نصوصو کي علی الإطلاق د بل چا د مال پر استعمالولو بندیز لګول سوی دی. لهذا په دې بندیز کي به مالدار او غریب دواړه برابر وي. لېکن څرنګه چي "صدقه کولو والا حدیث" ته په کتني سره د غریب لپاره د صدقې جواز په وجه د هغه استعمالول مباح ګرځول سوي دي. لهذا دا اباحت به فقط د غریب په حق کي ثابت وي او د غني په حق کي به د ممانعت او بندیز حکم پر خپل أصل پاته وي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چي "د را پورته کولو په مقصد کي غریب او مالدار دواړه برابر دي" دا صحیح نه ده. ځکه چي مالک هغه په دې وجه راپورته کوي چي شاید د تعریف او تشهیر په مودت کيّ به زه غریب سم او دې مال ته به مجبوره سم. یا غریب کله په دې وجه د لقطې په حفاظت کي سستي کوي چي شاید د تعریف په مودت کي به زه مالدار سم. لهذا د لقطې په را پورته کولو کي خو به دواړه برابر وي. لېکن د لقطې څخه نفع اخیستل به فقط د غریب سره خاص وي. همدارنګه د أبی بن کعب ﷺ په حدیث سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل نیول صحیح نه دي، ځکه چي د أبی بن کعب لپاره د انتفاع جواز د امام (نبي کریم ﷺ) په اجازه سره وو او د أبی بن کعب سره خاص وو. او د امام په اجازه سره خو موږ هم د انتفاع د جواز قائل یو. لېکن په دې حدیث سره علی الإطلاق انتفاع جائز ګرځول صحیح نه دي.

که چیري ملتقط غریب او فقیر وي نو هغه ته د لقطي څخه نفع اخیستل جائز دي. ځکه چي په دې کي د ملتقط غریب هم فایده ده او د مالک هم فایده ده چي هغه ته به ثواب حاصل سي. همدا وجه ده چي له ملتقط څخه بغیر بل غریب ته لقطه ورکول او د بل غریب لپاره له هغه څخه نفع اخیستل جائز دي. همدارنګه که د ملتقط پلار یا د هغه زوی یا ښځه غریبه وي نو د هغو لپاره هم د لقطي څخه نفع اخیستل جائز دي که څه هم ملتقط مالدار وي. ځکه چي په دې کي د دواړو طرفونو لپاره مصلحت او فایده ده. والله أعلم وعلمهٔ أتم.



كِتَابُ الْإِبَاقِ

(دا) كتاب د غلام تښتېدلو (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: إبَاق مصدر دى، د سمع، ضرب او نصر ټولو بابونو څخه راځي او د دې معنىٰ ده: تښتېدل. آبِق هغه غلام ته وايي كوم چې له خپل مالك (مولىٰ) څخه سركښي كوي او قصداً تښتي. او په تېښته اموخته وي.

د آبق او ضالّ تعريف او احكام

الْآبِقُ أَخْذُهُ أَفْضَلُ فِي حَقِّ مَنْ يَقْوَىٰ عَلَيْهِ د تښتېدلي غلام نيول د هغه كس په حق كې غوره دي كوم چې د هغه پر حفاظت كولو قدرت لري لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَائِهِ ځكه چې په داسې كولو كې د مالك حق ژوندى كول [باقي ساتل] دي وَأَمَّا الضَّالُّ فَقَدْ قِيلَ: كَذٰلِكَ وَقَدْ قِيلَ: تَرْكُهُ أَفْضَلُ او كوم چې بې لارې غلام دى [يعني هغه غلام چې لار ځني وركه وي] نو يو قول دا دى: چې د هغه حكم هم دا ډول دى [يعني د آبق په څېر دى] او بل قول دا دى: چې د ضالّ غلام پرېښوول غوره دي لِأَنَّهُ لَا يَبْرَحُ مَكَانَهُ ځكه چې هغه له خپل ځاى څخه لېرې نه ځي فَيَجِدُهُ الْمَالِكُ نو مالك به [په آسانۍ سره] هغه پيدا كړي وَلَا كَذٰلِكَ الْآبِقُ او آبق داسې نه دى ثُمَّ آخِذُ الْآبِقِ يَأْتِي بِهِ إِلَى السُّلْطَانِ بيا د آبق نيونكى دې هغه باچا [او حاكم] ته راولي لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ حِفْظِهِ بِنَفْسِهِ ځكه چې نيونكى په خپله د هغه د حفاظت كولو قدرت نه لري بِخِلَافِ اللُّقَطَةِ په خلاف د لقطې ثُمَّ إِذَا رُفِعَ الْآبِقُ إِلَيْهِ بيا چې كله باچا ته آبق پېش كړى سي يَحْبِسُهُ نو باچا دې هغه قيد كړي وَلَوْ رُفِعَ الضَّالُّ او كه باچا ته ضالّ غلام پېش كړى سي لَا يَحْبِسُهُ نو هغه دې نه قيدوي لِأَنَّهُ لَا يُؤْمَنُ عَلَى الْآبِقِ الْإِبَاقُ ثَانِيًا بِخِلَافِ الضَّالِّ ځكه چې د آبق غلام د دوباره تښتېدلو بېره [او خطره] پاته وي. په خلاف د ضال غلام [يعني پر آبق غلام هېڅ بروسه نشته. هر وخت د هغه د تښتېدلو خطره وي. او په ضال غلام كې د دې امكان نسته] قَالَ: وَمَنْ رَدَّ الْآبِقَ عَلَىٰ مَوْلَاهُ مِنْ مَسِيرَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا فرمايي: كوم كس چې آبق غلام د درېو ورځو يا تر دې له زياتې

مسافې څخه خپل مالک ته راولي فَلَهُ عَلَيْهِ جُعْلُهُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا نو د راوستونکي لپاره به پر مالک څلوېښت [۴۰] درهمه حقُ الزحمه [خرڅ] واجب وي وَإِنْ رَدَّهُ لِأَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ او که تر دې له کمې مسافې څخه يې راولي فَبِحِسَابِهِ نو د هغه په حساب سره به جُعل [حقُ الزحمه] واجب وي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحساني حکم دی وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يَكُونَ لَهُ شَيْءٌ إِلَّا بِالشَّرْطِ او قياس دا دی: چې له شرط څخه بغير دې د راوستونکي لپاره هيڅ شی نه وي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ بِمَنَافِعِهِ ځکه چې راوستونکی په خپلو منافعو سره احسان کونکی دی [يعني هغه چې کومه نفع مالک ته رسولې ده، دا د هغه له طرفه احسان دی، او د احسان کونکي لپاره پر مالک هيڅ شی نه واجبېږي، ځکه چې احسان او تبرّع "بېله عوضه" وي] فَأَشْبَهَ الْعَبْدَ الضَّالَّ نو دا د ضال غلام په څېر سو وَلَنَا: أَنَّ الصَّحَابَةَ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ اِتَّفَقُوا عَلَى وُجُوبِ أَصْلِ الْجُعْلِ زموږ دليل دا دی: چې صحابه [خو] پر أصل حقُ الزحمه [خرڅ] متفق وو إِلَّا أَنَّ مِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ أَرْبَعِينَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ مَا دُونَهَا لېکن له هغو څخه ځينو څلوېښت درهمه واجب کړي دي او ځينو تر دې کم واجب کړي دي فَأَوْجَبْنَا الْأَرْبَعِينَ فِي مَسِيرَةِ السَّفَرِ وَمَا دُونَهَا فِيمَا دُونَهُ تَوْفِيقًا وَتَلْفِيقًا بَيْنَهُمَا نو ځکه موږ په دواړو کې د موافقت پيدا کولو لپاره د سفر په مسافه کې [خو] څلوېښت درهمه واجب کړل او له هغه څخه په کمه مسافه کې مو کم واجب کړل وَلِأَنَّ إِيجَابَ الْجُعْلِ أَصْلُهُ حَامِلٌ عَلَى الرَّدِّ او ځکه چې د جُعل د إيجاب اصل مقصد انسان [د غلام] پر راوستلو آماده کول [هڅول] دي [او خلکو ته د دې کار شوق او رغبت ورکول دي] إِذِ الْحِسْبَةُ نَادِرَةٌ ځکه چې د ثواب په نيت داسې کار کول شاذ ونادر دي فَتَحْصُلُ صِيَانَةُ أَمْوَالِ النَّاسِ لهذا [په جعل سره به] د خلکو د أموالو حفاظت حاصل سي وَالتَّقْدِيرُ بِالسَّمْعِ او [د څلوېښتو درهمو] اندازه کول [متعيّنول] پر سماع موقوف دي وَلَا سَمْعَ فِي الضَّالِّ او د ضال غلام په هکله هيڅ سماع نسته فَامْتَنَعَ نو په دې وجه په ضال کې دا تقدير منع دی وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى صِيَانَةِ الضَّالِّ دُونَهَا إِلَى صِيَانَةِ الْآبِقِ او ځکه چې د آبق د حفاظت په مقابله کې د ضال حفاظت کم [آسانه] دی لِأَنَّهُ لَا يَتَوَارَى وَالْآبِقُ يَخْتَفِي ځکه چې ضالّ نه پټېږي حالانکې آبق پټېږي [او غلی کېږي] وَيُقَدَّرُ الرَّضْخُ فِي الرَّدِّ عَمَّا دُونَ السَّفَرِ بِاصْطِلَاحِهِمَا او د سفر تر مودت له کمې مسافې څخه د

واپس راوستلو په عوض کي به د مالک او رادّ په اتفاق سره عطیه [حقُ الزحمه] ټاکل کیږي أَوْ يُفَوَّضُ إِلَى رَأْيِ الْقَاضِي یا دا ټاکل به د قاضي رايي ته سپارل کیږي وَقِيلَ: تُقَسَّمُ الْأَرْبَعُونَ عَلَى الْأَيَّامِ الثَّلَاثَةِ او یو قول دا دی: چي څلوېښت درهمه به پر دریو ورځو تقسیمول کیږي إِذْ هِيَ أَقَلُّ مُدَّةِ السَّفَرِ ځکه چي درې ورځي د سفر د مودت کمه اندازه ده.

اللغات: ﴿آبق﴾ تښتېدونکی غلام (په تېښته اموخته غلام)، ﴿إحياء﴾ د افعال مصدر دی: ژوندی کول، ﴿ضالّ﴾ ګمراه، بې لاري. هغه غلام چي لار ځني ورکه وي. ﴿لا يبرح﴾ د فتح مصدر دی: له خپل ځای څخه لیري کېدل، جلا کېدل. ﴿مسيرة﴾ تګ، مسافه (واټن). فاصله. ﴿جُعل﴾ د تښتېدلي غلام د واپس راوستلو حقُ الزحمه، اُجرت (مزدوري)، خرچ، ﴿حِسبة﴾ ثواب. جزا (مراد ځني د ثواب اُمید ساتل او د ثواب نیت کول دي)، ﴿رضخ﴾ لږ عطیه. (مراد ځني حقُ الزحمه او اُجرت دی).

تشريح: د آبق تعریف تاسي ته معلوم سو او ضال هغه غلام ته وایي چي لاره ځني ورکه سي او د خپل کور طرف او درک ځني هېر سي، آبق نیول او خپل مالک ته حواله کول أفضل دي او د ضالّ د نیولو په هکله دوه قولونه دي: (١) هغه هم نیول أفضل دي، (٢) د هغه نه نیول أفضل دي، ځکه چي هغه خو په خپله د کور او منزل په تلاش کي دی او د هغه د تېښتي امکان هم نسته لېکن د آبق او تښتېدونکی غلام په هکله همېشه د تېښتي امکان وي.

قال: ومن ردّ إلخ: مسئله دا دي که یو سړی د دریو ورځو له مسافې څخه یا تر دې له زیاتي مسافې څخه مالک (مولیٰ) ته نیول سوی غلام راولي، نو راوستونکي ته به څلوېښت (٤٠) درهمه خرچ ورکول کیږي چي هغه به د غلام له مالک څخه اخیستل کیږي، او که تر دې له کمي مسافې څخه یې راولي نو د هغه مسافې مطابق به حقُ الزحمه ورکول کیږي، دا استحساني حکم دی، د قیاس تقاضا دا ده چي که مالک د دې غلام د راوستونکي لپاره د انعام یا داسي بل شي شرط لګولی وي نو په دې صورت کي خو به هغه ته حقُ الزحمه ورکول کیږي او که چیري د مالک له طرفه یو داسي شرط نه وي نو راوستونکی به متبرّع وي او هغه ته به هیڅ شی نه ورکول کیږي لکه څرنګه چي د ضالّ غلام راوستونکی چي د هیڅ شي حق نه لري، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی.

ولنا إلخ: زموږ دلیل دا دی چي صحابه وو د واپس راوستونکي لپاره د أصل جُعل (حقُ الزحمه) پر وجوب متفق دي لېکن د جُعل په مقدار کي د هغو اختلاف دی، حضرت عمر، حضرت معاویه او

حضرت بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُمْ څلوېښت درهمه جُعل واجب کړی دی. او له حضرت علي او حضرت عمرو بن دینار رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا څخه دلسو درهمو إیجاب روایت سوی دی. او موږ د دواړو فریقو په قول کي د تطبیق کولو لپاره دا فیصله وکړه چي هغه راوستونکي ته به څلوېښت درهمه ورکول کیږي کوم چي د سفر د مودت (دریو ورځو) په اندازه یا تر دې له زیات لیري ځای څخه آبق غلام واپس راولي. او تر دې له کمي مسافې څخه راوستونکي ته به کم ورکول کیږي.

زموږ دویم دلیل دا دی چي په دې زمانه کي د ثواب په نیت آبق غلام او داسي نور راوستل انتهائي شاذ ونادر دي. نو په دې وجه راوستونکي ته انعام او حقُ الزحمه ورکول غوره دي. د دې لپاره چي خلک داسي کار ته رغبت وکړي او مالونه له ضیاع څخه وساتل سي.

والتقدیر بالسمع إلخ: د دې حاصل دا دی چي امام شافعي رَحِمَهُ الله چي آبق پر ضالّ قیاسوي دا صحیح نه دي. ځکه چي د آبق په هکله د څلوېښتو درهمه اندازه په سماع سره ثابته سوې ده او د ضالّ په هکله هیڅ سماع روایت سوې نه ده. نو په دې وجه آبق پر ضالّ قیاسول صحیح نه دي او په دې وجه هم صحیح نه دي چي د ضالّ په نسبت د آبق حفاظت زیات ضروري دی. ځکه چي آبق پټ او غلی اووسي او نیول یې مشکل وي حالانکي ضالّ پټ نه اووسي لهذا په دې حواله سره هم یو د بل مشابه ګرځول صحیح نه دي.

ویقدر الرضخ إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د سفر تر مودت یعني تر دریو ورځو له کمي مسافې څخه یو څوک آبق راولي نو د هغه جُعل او حقُ الزحمه به د مالک او رادّ (واپس راوستونکي) په اتفاق سره ټاکل کیږي یا به یې قاضي د خپلي رایي مطابق ټاکي. یا به څلوېښت درهمه به پر دریو ورځو تقسیمول کیږي او د هري ورځي د مسافې په مقابله کي به تقریبا دیارلس (۱۳.۳۳) ورکول کیږي.

د واپس راوستونکي أجرت

قَالَ: وَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ فرمایي: که د غلام قیمت له څلوېښتو درهمو څخه کم وي يُقْضَى لَهُ بِقِيمَتِهِ إِلَّا دِرْهَمًا نو د واپس راوستونکي [رادّ] لپاره به له یوه درهم څخه بغیر د غلام په ټوله قیمت سره فیصله کیږي [مطلب دا چي رادّ ته به (۳۹) درهمه ورکول کیږي] قَالَ: وَهَذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: چي دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ۞: لَهُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د هغه لپاره به څلوېښت درهمه وي لِأَنَّ التَّقْدِيرَ بِهَا ثَبَتَ بِالنَّصِّ ځکه چي د څلوېښتو درهمو تقدیر په نص سره ثابت سوی دی فَلَا يَنْقُصُ

۞ القول الراجح: قول أبی یوسف رَحِمَهُ الله، کما ذکر فی رد المحتار (ج:۳، ص:۳۵۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۰۹]

عَنْهَا لهذا په هغه کي به کمي نه کيږي وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ الصُّلْحُ عَلَى الزِّيَادَةِ همدا وجه ده چي اد مالک او رادّ لپاره ا له څلوېښتو درهمو څخه پر زياتو صلح کول جائز نه دي بِخِلَافِ الصُّلْحِ عَلَى الْأَقَلِّ په خلاف پر کمو درهمو د صلح کولو لِأَنَّهُ حَطٌّ مِنْهُ ځکه چي دا د رادّ له طرفه کمول دي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْمَقْصُودَ حَمْلُ الْغَيْرِ عَلَى الرَّدِّ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د جعل مقصود ا د غلام ا پر واپس راوستلو د بل چا آماده کول [هڅول] دي ايعني له جعل څخه مقصود د دې کار "ردّ" وطرف ته د خلکو تشويقول دي چي خلک هم پر دې کار آماده سي ا لِيَحْيَا مَالُ الْمَالِكِ د دې لپاره چي د مالک مال باقي پاته سي فَيَنْقُصُ دِرْهَمٌ لِيَسْلَمَ لَهُ شَيْءٌ نو يو درهم به کمول کيږي د دې لپاره چي مالک ته هم څه شی پاته سي تَحْقِيقًا لِلْفَائِدَةِ د فايدې ثابتولو لپاره وَأُمُّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرُ فِي هٰذَا بِمَنْزِلَةِ الْقِنِّ إِذَا كَانَ الرَّدُّ فِي حَيَاةِ الْمَوْلَى او أُمِ ولد او مدبر په دې حکم کي د خالص غلام په څير دي. په دې شرط چي "ردّ" (واپس راوستل) د غلام په ژوند کي وي لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَاءِ مِلْكِهِ ځکه چي په دې ردّ کي د مالک د ملکيت ژوندی کول [باقي ساتل] دي وَلَوْ رُدَّ بَعْدَ مَمَاتِهِ او که د مالک تر مرګ وروسته [مدبر يا اُمِ ولد] راوستل سي لَا جُعْلَ فِيهِمَا نو په دوی دواړو کي به جُعل نه وي لِأَنَّهُمَا يُعْتَقَانِ بِالْمَوْتِ ځکه چي دوی دواړه د مالک په مرګ سره آزاديږي بِخِلَافِ الْقِنِّ په خلاف د خالص غلام [کوم چي مُدبر او داسي نور نه وي] وَلَوْ كَانَ الرَّادُّ أَبَا الْمَوْلَى أَوِ ابْنَهُ وَهُوَ فِي عِيَالِهِ او که چيري واپس را ستونکی د مالک پلار يا د هغه زوی وي او هغه د همدې مالک له کورنۍ څخه وي أَوْ أَحَدَ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ يا له خاوند او ښځي څخه يو د بل لپاره د غلام راوستونکی وي فَلَا جُعْلَ نو [په دې صورت کي هم] جعل نسته لِأَنَّ هٰؤُلَاءِ يَتَبَرَّعُونَ بِالرَّدِّ عَادَةً ځکه چي دغه کسان عموماً په ردّ کي تبرّع کوي ايعني د احسان په توګه آبق غلام راولي] وَلَا يَتَنَاوَلُهُمْ إِطْلَاقُ الْكِتَابِ او د کتاب اطلاق دوی ته شامل نه دی.

اللغات: ﴿حطّ﴾ د نصر مصدر دی: کښته کېدل. کمول. ﴿ردّ﴾ دا هم د نصر مصدر دی: واپس کول. مراد څني د آبق غلام راوستل دی. ﴿قِن﴾ خالص غلام (کوم چي مدبر او داسي نور نه وي). ﴿لِيَسْلَم﴾ د سمع مضارع ده. د دې په صله کي چي "لَهُ" راسي نو د "مخصوص کېدلو" (خاص کېدلو) په معنیٰ سره راځي. يعني يو درهم به کمول کيږي د دې لپاره چي د مالک لپاره هم څه شی (يو درهم) مخصوص سي.

تشريح: مسئله: دا ده که چيرې د واپس راوستل سوي غلام قيمت تر څلوېښتو درهمو کم وي نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به رادّ (واپس راوستونکي) ته (۳۹) درهمه ورکول کيږي او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز به پوره څلوېښت درهمه ورکول کيږي، ځکه چي د أَرْبَعُوْن تقدير په نص سره ثابت دی، لهذا په دې کي به نه کمي کيږي او نه به زياتوب کيږي، اوس که مالک او رادّ له څلوېښتو درهمو څخه پر زياتو صلح وکړي نو زياتوب به معتبر نه وي، ها! له دې څخه پر کمو صلح کول جائز دي. ځکه چي دا صاحبُ الحق يعني د رادّ له طرفه حطّ او کمي ده او هغه په خپله د خپل حق پر ساقطولو راضي دی.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د جُعل ورکول مقصد دا دی چي نور خلک هم داسي کار ته رغبت وکړي د دې لپاره چي د أموالو حفاظت وسي. نو ځکه غوره همدا ده چي له څلوېښتو څخه يو درهم کم کړی سي د دې لپاره چي مالک ته هم څه پاته سي او په دواړو طرفونو کي شفقت او مصلحت ثابت سي.

وأما أم الولد إلخ: د دې حاصل دا دی چي که أُم ولد يا مدبر غلام تښتېدلی وي او بيا هغه د مالک په ژوند کي واپس راوستل سي، نو هغوی به د قِن او غلام په حکم کي وي، ځکه چي په دې کي د مالک د ملکيت احياء ده، ليکن که د مالک تر مرګ وروسته هغوی واپس راوستل سي نو په هغوی کي به جُعل نه وي او راوستونکي ته به جُعل حقُ الزحمه نه ورکول کيږي، ځکه چي د مالک په مرګ سره هغوی دواړه آزاديږي او پر مملوک د مالک ملکيت نه پاتيږي. او که د مالک پلار يا زوی هغه راوستی وي او زوی د مالک په تربيه کي وي يا له خاوند او ښځي څخه يوه د بل آبق غلام راوستی وي، نو په دوی کي به هيڅ ته هم ته جُعل نه ورکول کيږي، ځکه چي عموماً دا خلک دا احسان په توګه دا کار کوي، او د عوض او بدلې پروا نه کوي. نو په دې وجه به د "عليه جُعله أربعون...إلخ" په اطلاق کي دوی شامل او داخل نه وي.

د واپس راوستونکي شرعي حيثيت

قَالَ: **وَإِنْ أَبَقَ مِنَ الَّذِي رَدَّهُ** فرمايي: که غلام له واپس راوستونکي [رادّ] څخه وتښتي **فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ** نو پر هغه هيڅ ضمان نسته **لِأَنَّهُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ** ځکه چي آبق غلام د هغه په قبضه کي امانت دی **لٰكِنَّ هٰذَا إِذَا أَشْهَدَ** ليکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي رادّ ګواه جوړ کړي وي **وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي اللُّقَطَةِ** او په کتابُ اللقطة کي مونږ د دې بيان وکړی **قَالَ: وَذُكِرَ فِي بَعْضِ النُّسَخِ أَنَّهُ لَا شَيْءَ لَهُ وَهُوَ صَحِيحٌ أَيْضًا** صاحب د هدايې فرمايي: چي د قدوري په بعضي نسخو کي چي دا ذکر سوي دي

چې د راد لپاره به هيڅ شی نه وي [يعني راد ته به جُعل نه ورکول کيږي] دا هم صحيح دي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْبَائِعِ مِنَ الْمَالِكِ ځکه چې هغه پر مالک د خرڅونکي په معنیٰ سره دی [يعني گواکي هغه پر مالک آبق غلام خرڅوي] وَلِهٰذَا كَانَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْآبِقَ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَ الْجُعْلَ همدا وجه ده چې راد ته دا حق سته چې آبق [تر هغه وخته] راوګرځوي تر دې چې اله مالک څخه [جُعل واخلي بِمَنْزِلَةِ الْبَائِعِ بِحَبْسِ الْمَبِيعِ لِاسْتِيفَاءِ الثَّمَنِ لکه بائع چې د ثمن اخيستلو لپاره مبيع را ګرځولای سي وَكَذَا إِذَا مَاتَ فِي يَدِهِ او همدارنګه که غلام د راد په قبضه کي مړ سي لَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو هم پر هغه هيڅ ضمان نسته لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی قَالَ: وَلَوْ أَعْتَقَهُ الْمَوْلٰى كَمَا لَقِيَهُ فرمايي: که چيري مالک آبق غلام آزاد کړي ځرنګه چې هغه ووينې [يعني که دآبق د ليدلو په وخت کي سمدستي مالک هغه زاد کړي] صَارَ قَابِضًا بِالْإِعْتَاقِ نو د آزادولو په وجه به هغه قبضه کونکی شمارل کيږي كَمَا فِي الْعَبْدِ الْمُشْتَرٰى لکه په رانيول سوي غلام کي [چې هم دغه حکم دی] وَكَانَ إِذَا بَاعَهُ مِنَ الرَّادِّ او همدارنګه کله چې مالک پر راد آبق غلام خرڅ کړي لِسَلَامَةِ الْبَدَلِ لَهُ ځکه چې د هغه لپاره بدل محفوظ [او مخصوص] دی وَالرَّدُّ وَإِنْ كَانَ لَهُ حُكْمُ الْبَيْعِ لٰكِنَّهُ بَيْعٌ مِنْ وَجْهٍ او د غلام] واپس راوستل که څه هم د بيع په حکم کي دي لېکن دا [فقط] په يوه اعتبار سره بيع ده فَلَا يَدْخُلُ تَحْتَ النَّهْيِ الْوَارِدِ عَنْ بَيْعٍ مَا لَمْ يُقْبَضْ لهذا دا به تر هغه نهي لاندي نه داخليږي کوم چې تر قبضې مخکي د يو شي د خرڅولو په هکله وارد سوي دي [يعني په حديث کي ذکر سوي دي چې قبل القبض مبيع خرڅول جائز نه دي، لېکن دلته په دې وجه د مالک لپاره دا جائز چې "دآبق غلام تر قبضه کولو مخکي هغه پر راد خرڅ کړي" چې دا معامله من کل وجه بيع نه ده، بلکې من وجه بيع ده] فَجَازَ نو ځکه به دا [معامله] جائز وي.

اللغات: ﴿يستوفي﴾ د استفعال مضارع ده: خپل حق اخيستل، حاصلول. ﴿لقيه﴾ د سمع ماضي ده: ملاقات کول، ليدل، استقبال کول. ﴿رادّ﴾ د نصر اسم فاعل دی: واپس کونکی (واپس راوستونکی)، مراد ځني د غلام راوستونکی دی.

تشريح: صورت د مسئلې خو آسانه دی چې آبق غلام د راد په قبضه کي امانت دی او که په امانت کي تعدیٰ نه وسي نو د هغه د هلاکېدلو په صورت کي پر مودَع ضمان نه واجبيږي. لهذا که چيري آبق غلام له راد څخه وتښتي يا د هغه په بقضه کي مړ سي نو پر هغه به ضمان نه واجبيږي. په دې شرط

چې راد به هغه غلام د نیولو په وخت کې پر دې خبره ګواه جوړ کړي وي چې زه تا مالک ته د واپس بېولو په نیت سره نیسم. او پر نیولو او راوستلو چې کوم خرڅ سوی وي هغه به هم راد ته نه ورکول کیږي (کله چې اله راد څخه غلام ولاړ سي)، ځکه چې راد د بائع په معنیٰ سره دی (یعني ګواکې هغه پر مالک آبق غلام خرڅوي) او بائع چې تر څو مشتري ته مبیع ور کړې نه وي تر هغه وخته پوري د ثمن نه مستحق کیږي همداسي راد چې تر څو مالک ته آبق غلام حواله نه کړي نو هغه به هم د جعل مستحق نه وي.

قال إلخ: د دې حاصل دا دی چې که راد مالک ته غلام راولي او مالک یې تر قبضه کولو مخکې آزاد کړي نو په دې إعتاق سره به مالک قابض شمارل کیږي او پر هغه به د راد جُعل واجب وي لکه څرنګه چې مشتري یو غلام رانیسي او تر قبضې مخکې یې آزاد کړي نو د إعتاق په وجه به هغه هم قابض شمارل کیږي او پر هغه به د دې غلام ثمن واجب وي. او که چیري مالک هغه غلام پر راد خرڅ کړي نو هم جائز دي. ځکه راد چې د کوم جُعل مستحق دی هغه د مالک سره دی لهذا هغه به ثمن ګرځول کیږي او بیع به صحیح وي. او ردّ (واپس راوستل) که څه هم د بیع په معنیٰ سره دی خو څرنګه چې دا من وجه د بیع په معنیٰ سره دی نو په دې وجه له قبل القبض څخه چې د بیع کوم ممانعت وارد سوی دی په هغه ممانعت کې به دا صورت او معامله داخله نه وي. ځکه چې د ممانعت تعلق د هغه معاملې سره دی کوم چې من کل وجه د بیع په معنیٰ سره وي.

د غلام نیولو په وخت کې د ګواه جوړلو بیان

قَالَ: وَيَنْبَغِي إِذَا أَخَذَهُ أَنْ يُشْهِدَ أَنَّهُ يَأْخُذُهُ لِيَرُدَّهُ فرمايي: چې کله یو سړی آبق غلام ونیسي نو هغه ته پکار دي چې پر دې خبره ګواه جوړ کړي چې هغه دا غلام [مالک ته] د واپس کولو [بېولو] لپاره نیسي فَالْإِشْهَادُ حَتْمٌ فِيهِ عَلَيْهِ عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ﴿۞﴾ نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د نیونکي [آخذ] لپاره إشهاد لازم [واجب] دی [لیکن د امام ابو یوسف او ائمه ثلاثه وو په نېز واجب نه دی] حَتَّى لَوْ رَدَّهُ مَنْ لَمْ يُشْهِدْ وَقْتَ الْأَخْذِ تر دې که یو داسې سړی غلام [مالک ته] واپس کړي چې هغه نیولو په وخت کې ګواه جوړ کړی نه وي لَا جُعْلَ لَهُ عِنْدَهُمَا نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه لپاره جعل [حق الزحمه] نسته لِأَنَّ تَرْكَ الْإِشْهَادِ أَمَارَةٌ أَنَّهُ أَخَذَهُ لِنَفْسِهِ ځکه چې د إشهاد پرېښول د دې

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:٥، ص:١٦٢). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٠]

خبري نښه او دليل دی چې هغه د خپل ځان لپاره غلام نيولی دی وَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَاهُ مِنَ الْآخِذِ أَوِ اتَّهَبَهُ أَوْ وَرِثَهُ فَرَدَّهُ عَلَى مَوْلَاهُ او داسي سو لکه راډ چې له نيونکي شخه دا غلام رانيسي يا يې په هبه يا وارثت کي حاصل کړي بيا يې مالک ته واپس کړي لَا جُعْلَ لَهُ نو په دې صورت کي به اهم اد هغه لپاره جُعل نه وي لِأَنَّهُ رَدَّهُ لِنَفْسِهِ ځکه چې هغه د خپل ځان لپاره واپس کړی دی امطلب دا چې هغه د دې لپاره مالک ته غلام راوستی دی چې خپله يې ځني واخلي ا إِلَّا إِذَا أَشْهَدَ أَنَّهُ اشْتَرَاهُ لِيَرُدَّهُ خو دا چې هغه راډ [مشتري] پر دې خبره ګواه جوړ کړي چې هغه مالک ته د واپس کولو لپاره دا غلام رانيولی دی فَيَكُونُ لَهُ الْجُعْلُ نو د هغه لپاره به [هم] جُعل وي وَهُوَ مُتَبَرِّعٌ فِي أَدَاءِ الثَّمَنِ او هغه به د ثمن په اداء کولو کي احسان کونکی وي.

اللغات: ﴿يُشهِد﴾ د افعال مضارع ده. أَشْهَدَ يُشْهِدُ إِشْهَادًا: يو شوک پر خپله خبره ګواه جوړول. ګواه کول. ﴿أمارة﴾ علامت، نښه (نښاني). ﴿اتهبه﴾ د افتعال ماضي ده: د هبې او تحفې په توګه حاصلول.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې که د غلام واپس راوستونکی (راډ) د نيولو په وخت کي پر دې خبره ګواه جوړ نه کړي چې زه غلام مالک ته د بېولو او هغه ته د ورکولو لپاره نيسم. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به هغه د جُعل مستحق نه وي، ځکه چې "تركُ الإشهاد" د دې خبري دليل دی چې د هغه په زړه کي غلا پټه ده او هغه د خپل ځان لپاره غلام نيسي. لکه شرنګه چې يو سړی له آخذ شخه دا غلام رانيسي يا يې په هبه او ميراث کي ترلاسه کړي او بيا يې مالک ته واپس راولي نو هغه هم د جُعل مستحق نه دی، ځکه چې دغه سړی مالک ته د ورکولو لپاره غلام راوستلی او واپس کړی نه دی بلکي يا خو له مالک شخه يې د اخيستلو لپاره راوستی دی يا د دې لپاره يې راوستی دی چې غلام په رانيولو سره چې هغه کوم ضمان واجب سوی دی د هغه د ليري کولو لپاره مالک ته دا خبره ورښکاره کوي چې وروره! ستا غلام ما واخيستی. هو! که چيري د رانيولو په وخت کي دا سړی هم غلام يا بل شوک پر دې خبره ګواه جوړ کړي چې زه مالک ته د ورکولو لپاره دا غلام رانيسم. نو بيا به هغه هم د غلام واپس کولو په وخت کي د جُعل مستحق وي. لېکن په رانيولو کي چې هغه کوم ثمن ورکړی وي د هغه مستحق به نه وي او د هغه ثمن په هکله به دئ متبرع او مُحسن ګرځول کيږي.

د واپس راوستونکي أجرت به پر چا وي؟

وَإِنْ كَانَ الْآبِقُ رَهْنًا او كه آبق غلام رهن وي فَالْجُعْلُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ نو جُعل به پر مُرتهن وي لِأَنَّهُ أَحْيَا مَالِيَّتَهُ بِالرَّدِّ ځكه چي راډ په واپس كولو سره د مرتهن ماليت [او ملكيت] ژوندى كړى [له ماليت څخه هغه مال مراد دى كوم چي مرتهن و راهن ته په قرض وركړى وي] وَهِيَ حَقُّهُ او دا ماليت د مرتهن حق دى إِذِ الِاسْتِيفَاءُ مِنْهَا ځكه چي له همدې ماليت څخه به د مرتهن حق وركول كيږي وَالْجُعْلُ بِمُقَابَلَةِ إِحْيَاءِ الْمَالِيَّةِ او جعل د ماليت دژوندي كولو [باقي ساتلو] په مقابله كي وي فَيَكُونُ عَلَيْهِ لهذا دا جُعل به پر مرتهن وي وَالرَّدُّ فِي حَيَاةِ الرَّاهِنِ وَبَعْدَهُ سَوَاءٌ او د راهن په ژوند كي او تر هغه وروسته [په دواړو وختو كي] واپس كول برابر دي لِأَنَّ الرَّهْنَ لَا يَبْطُلُ بِالْمَوْتِ ځكه چي د راهن په مرګ سره رهن نه باطليږي وَهَذَا إِذَا كَانَتْ قِيمَتُهُ مِثْلَ الدَّيْنِ أَوْ أَقَلَّ مِنْهُ دا [حكم] په هغه صورت كي دى كله چي د مرهون غلام قيمت د قرض په څير يا تر هغه كم وي فَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ [ليكن] كه د هغه قيمت له قرض څخه زيات وي فَبِقَدْرِ الدَّيْنِ عَلَيْهِ وَالْبَاقِي عَلَى الرَّاهِنِ نو د قرض په اندازه جُعل به پر مرتهن وي او پاته جُعل به پر راهن وي لِأَنَّ حَقَّهُ بِالْقَدْرِ الْمَضْمُونِ ځكه چي د مرتهن حق په مضمونه اندازه سره وي [مطلب دا چي د مرتهن حق د قرض په اندازه وي] فَصَارَ كَثَمَنِ الدَّوَاءِ وَتَخْلِيصُهُ عَنِ الْجِنَايَةِ بِالْفِدَاءِ نو داسي سو لكه د دواء [او علاج] قيمت او له جنايت څخه د غلام خلاصولو فديه [جرمانه] وَإِنْ كَانَ مَدْيُونًا فَعَلَى الْمَوْلَى إِنِ اخْتَارَ قَضَاءَ الدَّيْنِ او كه هغه غلام مديون وي نو جُعل به پر مالك وي [په دې شرط] كه چيري مالك د قرض اداء كول اختيار كړي [او د قرض په اداء كولو راضي سي] وَإِنْ بِيعَ بُدِئَ بِالْجُعْلِ وَالْبَاقِي لِلْغُرَمَاءِ او كه چيري غلام خرڅ كړى سي نو اول به جُعل اداء كيږي او پاته ثمن به د قرض غوښتونكو لپاره وي لِأَنَّهُ مُؤْنَةُ الْمِلْكِ ځكه چي جُعل د ملكيت خرچه [صرفه] ده وَالْمِلْكُ فِيهِ كَالْمَوْقُوفِ او په دې غلام كي ملكيت د موقوف په څير دى [يعني ملكيت پكښي موقوف دى] فَتَجِبُ عَلَى مَنْ يَسْتَقِرُّ لَهُ لهذا د چا لپاره چي ملكيت ثابت سي جعل به [هم] پر هغه واجب وي وَإِنْ كَانَ جَانِيًا او كه آبق غلام جنايتكار وي [يعني جرم او جنايت

وکړي، مثلاً قتلِ خطاء وکړي] فَعَلَى الْمَوْلَى إِنِ اخْتَارَ الْفِدَاءَ نو جُعل به پر مالک وي که چیرې هغه فدیه ورکول اختیار کړي لِعَوْدِ الْمَنْفَعَةِ إِلَيْهِ ځکه چې د "ردّ" منفعت د هغه وطرف ته راجع کیږي وَعَلَى الْأَوْلِيَاءِ إِنِ اخْتَارَ الدَّفْعَ او که چیرې مالک په جنایت کې د غلام ورکول اختیار کړي نو جُعل به اد مقتول] پر اولیاء وي لِعَوْدِهَا إِلَيْهِمْ ځکه چې اوس منفعت د هغو وطرف ته راجع کیږي وَإِنْ كَانَ مَوْهُوبًا او که آبق هبه کړی سوي وي فَعَلَى الْمَوْهُوبِ لَهُ نو چا ته چې آبق هبه کړی سوي وي جُعل به پر هغه وي وَإِنْ رَجَعَ الْوَاهِبُ فِي هِبَتِهِ بَعْدَ الرَّدِّ که څه هم تر "ردّ" وروسته هبه کونکي خپله هبه واپس اخیستې وي لِأَنَّ الْمَنْفَعَةَ لِلْوَاهِبِ مَا حَصَلَتْ بِالرَّدِّ بَلْ بِتَرْكِ الْمَوْهُوبِ لَهُ التَّصَرُّفَ فِيهِ بَعْدَ الرَّدِّ ځکه چې په "ردّ" سره واهب ته هیڅ فایده حاصله نه سوه بلکې د هغه فایده به هغه وخت وي کله چې موهوب لهُ تر "ردّ" وروسته په هغه کې تصرّف پریږدي وَإِنْ كَانَ لِصَبِيٍّ فَالْجُعْلُ فِي مَالِهِ او که آبق غلام د یو بچي وي نو جُعل به د هغه په مال کې وي لِأَنَّهُ مُؤْنَةُ مِلْكِهِ ځکه چې جُعل د هغه د ملکیت خرچ دی وَإِنْ رَدَّهُ وَصِيُّهُ فَلَا جُعْلَ لَهُ او که د بچي وصي هغه [آبق غلام] واپس کړي [راولي] نو د وصي لپاره به جُعل نه وي لِأَنَّهُ هُوَ الَّذِي يَتَوَلَّى الرَّدَّ فِيهِ ځکه چې د غلام واپس کول [رواستل] فقط د وصي ذمه واري ده.

اللغات: ﴿مرتهن﴾ چا ته چې رهن اېښول سوي وي، مثلاً که زید پنځه سوه درهمه له خالد څخه په قرض واخلي او زید د قرض په بدله کې هغه ته غلام په رهن (گروي) کې کښېږدي، نو زید راهن سو او عمر مرتهن سو، او غلام رهن او مرهون سو. ﴿جُعل﴾ حقُ الزحمه، معاوضه، اُجرت. ﴿الردّ﴾ واپس کول، مراد ځني د آبق غلام راوستل دي. ﴿استیفاء﴾ د استفعال مصدر دی: حق اخیستل، حاصلول (ترلاسه کول). ﴿تخلیص﴾ د تفعیل مصدر دی: خلاصول، نجات ورکول. ﴿جناية﴾ جرم. ﴿فداء﴾ فدیه، تاوان، ضمان، جرمانه. ﴿مؤنة﴾ مشقت، خرڅه (خرچ، صرفه).

تشریح: په دې عبارت کې څو مسئلې بیان سوي دي او ټولې آسانه دي. مثلاً که آبق غلام مرهون وي نو د هغه د واپس راوستونکي جُعل به پر مرتهن وي، ځکه چې د دې غلام سره د مرتهن حق تړلی دی او دا غلام د هغه د مال حق دی لهذا جُعل به هم پر هغه وي، برابره ده غلام د راهن په ژوند کې واپس کړی سي یا د هغه تر مرگ وروسته واپس کړی سي په هر صورت کې به د غلام جُعل پر مرتهن وي، په دې شرط چې د غلام قیمت به د مرتهن د قرض سره برابر وي یا له هغه څخه به کم وي، لېکن که د

هغه قيمت د مرتهن له قرض څخه زيات وي مثلاً قرض پنځه سوه درهمه وي او د غلام قيمت شپږ سوه درهمه وي نو د قرض په اندازه جُعل به پر مرتهن وي او پاتـه جعل بـه پـر راهـن وي. ځكه چي د مرتهن حق په مرهون كي د هغه د حق او حصې په اندازه مضمون دی لهـذا داسي سو لكـه مرهون غلام چي د مرتهن سره مريض سي يا غلام يو جنايت او جرم وكړي نو د غلام پـه عـلاج كـي يـا لـه جنايت څخه د هغه په خلاصولو كي چي څومره خرچه وسي نو هغه به هم پر مرتهن د خپـل قـرض او حصې په اندازه واجب وي او باقي به پر راهن واجب وي. همداسي به دلتـه هـم جُعل پـر مرتهن فقط د خپلي حصې په اندازه واجب وي.

وإن كان مديونا إلخ: فرمايي چي كه آبق غلام مديون (مقروض) وي او مالك د هغه قرض اداء كول وغواړي نو پر مالك به جعل واجب وي او كه مالك د قرض له اداء كولو څخه انكار وكړي او د غلام خرڅولو نوبت راسي نو د هغه له ثمن څخه به مخكي جُعل اداء كيږي بيا به پاته ثمن غرماؤ (قرض غوښتونكو) ته وركول كيږي ځكه چي جُعل د ملكيت صرفه او خرچه ده او د دې غلام ملكيت تر اوسه موقوف دی د مالك هم كېدای سي او كه مالك د هغه قرض وركول نه غواړي نو د غرماؤ هم كېدای سي لهذا چا ته چي ملكيت حاصل سي جُعل به هم پر هغه وي.

او كه آبق غلام جنايت وكړي او مالك د هغه فديه وركول وغواړي نو پر مالك به جُعل وي او كه مالك په جنايت كي غلام وركول وغواړي نو د مقتول پر اولياؤ به جُعل وي. ځكه چي په اول صورت كي به د غلام منفعت مالك ته حاصل وي او په دويم صورت كي به د هغه منفعت د مقتول اولياؤ ته حاصل وي. همدارنګه كه آبق غلام يو چا ته هبه كړی سوی وي نو د هغه د راد جُعل به پر واهب نه وي بلكي پر موهوب لهٗ به وي كه څه هم له ردّ (واپس كولو) څخه وروسته واهب خپله هبه واپس واخلي، ځكه چي د ردّ په وخت كي دا غلام د موهوب لهٗ په قبضه كي وو او په ردّ سره واهب ته هيڅ فايده حاصله نه سوه. نو ګواكي دا جُعل د موهوب لهٗ د ملكيت خرچه سوه فلذا يجب عليه.

كه چيري د آبق غلام مالك يو نابالغه بچی وي نو د هغه بچي په مال كي به جُعل وي. ځكه چي داد هغه د ملكيت صرفه او خرچه ده. ها! كه چيري راد د بچي وصي وي نو وصي به د هيڅ شي مستحق نه وي. ځكه چي د دې غلام نيول او بچي ته حواله كول د وصي ذمي واري ده. لهذا وصي د دې غلام په واپس كولو سره خپله فريضه اداء كړه نو ريې هيڅ مهرانه كړې نه ده چي انعام وركول سي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



كِتَابُ الْمَفْقُودِ

(دا) کتاب د مفقود (د احکامو په بیان کي) دی

تشريح : "مفقود" هغه سړي ته وايي چي د ژوند او مرګ هيڅ پته يې نه وي.

د مفقودُ الخبر احکام

إِذَا غَابَ الرَّجُلُ فَلَمْ يُعْرَفْ لَهُ مَوْضِعٌ وَلَا يُعْلَمُ أَحَيٌّ هُوَ أَمْ مَيِّتٌ که يو سړی غائب سي او د هغه هيڅ ټکانه معلومه نه وي او دا [هم] معلومه نه وي چي آيا هغه ژوندی دی يا مړ دی!؟ نَصَبَ الْقَاضِي مَنْ يَحْفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيْهِ وَيَسْتَوْفِي حَقَّهُ نو قاضي دي يو سړی متعين کړي چي هغه د ده د مال حفاظت وکړي او پر هغه نګراني وکړي او د ده حق [له خلکو څخه] واخلي لِأَنَّ الْقَاضِيَ نُصِبَ نَاظِرًا لِكُلِّ عَاجِزٍ عَنِ النَّظَرِ لِنَفْسِهِ ځکه چي قاضي د هر هغه کس لپاره نګران [محافظ] مقرر سوی دی کوم چي د خپل ځان [او خپلو ضروریاتو] له نګرانی څخه عاجز وي وَالْمَفْقُودُ بِهَذِهِ الصِّفَةِ او مفقود هم په دې توګه دی وَصَارَ كَالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ او مفقود د بچي او لېوني په حکم کي سو وَفِي نَصْبِ الْحَافِظِ لِمَالِهِ وَالْقَائِمِ عَلَيْهِ نَظَرٌ لَهُ او د مفقود د مال لپاره د ساتونکي [محافظ] او نګران په مقرر کولو کي پر هغه شفقت دی وَقَوْلُهُ يَسْتَوْفِي حَقَّهُ لِإِخْفَاءِ أَنَّهُ يَقْبِضُ غَلَّاتِهِ وَالدَّيْنَ الَّذِي أَقَرَّ بِهِ غَرِيمٌ مِنْ غُرَمَائِهِ او د ماتن دا قول "يستوفی حقه" د دې خبري د وضاحت لپاره دی چي هغه نګران دي د مفقود پر غلو قبضه کوي او پر هغه قرض دي قبضه کوي چي د مفقود له قرض اخيستونکو [پور وړو] څخه يو د هغه اقرار وکړي لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ ځکه چي دا هم په حفاظت کي داخل دي وَيُخَاصِمُ فِي دَيْنٍ وَجَبَ بِعَقْدِهِ او دا نګران به په داسي قرض کي هم مخاصمت [دعوی] کوي کوم چي په خپله د ده په عقد سره واجب سوي وي لِأَنَّهُ أَصِيلٌ فِي حُقُوقِهِ ځکه چي نګران په خپلو حقوقو کي أصل ذمه وار وي وَلَا يُخَاصِمُ فِي الَّذِي تَوَلَّاهُ الْمَفْقُودُ او په هغه قرض کي مخاصمت نه سي کولای چي مفقود د هغه ذمه

واري اخيستې وه [يعني چي مفقود د هغه ذمه وار وي] وَلَا فِي نَصِيبٍ لَهُ فِي عَقَارٍ أَوْ عُرُوضٍ فِي يَدِ رَجُلٍ او نه په جايداد كي د مفقود د حصې په هكله او د داسي سامان په هكله مخاصمت كولاى سي كوم چي د يو سړي په قبضه كي وي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَالِكٍ وَلَا نَائِبٍ عَنْهُ ځكه چي نګران خو نه د هغه مالک دى او نه د مفقود له طرفه نائب دى إِنَّمَا هُوَ وَكِيلٌ بِالْقَبْضِ مِنْ جِهَةِ الْقَاضِي هغه خو د قاضي له طرفه وكيل بالقبض دى وَأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْخُصُومَةَ بِلَا خِلَافٍ او د قاضي وكيل بالقبض بيله اختلافه د خصومت [دعوىٰ كولو] ملكيت نه لري إِنَّمَا الْخِلَافُ فِي الْوَكِيلِ بِالْقَبْضِ مِنْ جِهَةِ الْمَالِكِ فِي الدَّيْنِ اختلاف خو د هغه وكيل په باره كي دى كوم چي د مالک له طرفه پر قرض د قبضه كولو وكيل وي وَإِذَا كَانَ كَذَٰلِكَ يَتَضَمَّنُ الْحُكْمَ بِهِ قَضَاءً عَلَى الْغَائِبِ او كله چي معامله داسي ده نو د دې حكم به قضاء على الغائب ته شامل وي وَأَنَّهُ لَا يَجُوزُ حالانكي قضاء على الغائب جائز نه ده إِلَّا إِذَا رَآهُ الْقَاضِي وَقَضَى بِهِ خو دا چي كه قاضي هغه مناسب وګڼي او د هغه فيصله وكړي [نو صحيح دي] لِأَنَّهُ مُجْتَهَدٌ فِيهِ ځكه چي دا معامله مجتهد فيه ده [مطلب دا چي په دې كي قاضي په خپل اجتهاد سره فيصله كولاى سي] ثُمَّ مَا كَانَ يُخَافُ عَلَيْهِ الْفَسَادَ بيا هغه شى چي د هغه د خرابېدلو بېره وي يَبِيعُهُ الْقَاضِي نو قاضي به هغه خرڅوي لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ حِفْظُ صُورَتِهِ ځكه چي صورتاً پر هغه د دې حفاظت [ساتل] ناممكن دي فَيَنْظُرُ لَهُ بِحِفْظِ الْمَعْنَى لهذا معناً به د دې حفاظت كوي [او معناً حفاظت دا دى چي دا خرڅ كړى سي او ثمن يې محفوظ كړى سي] وَلَا يَبِيعُ مَا لَا يُخَافُ عَلَيْهِ الْفَسَادُ فِي نَفَقَةٍ وَلَا غَيْرِهَا او د كوم شي د خرابېدلو بېره چي نه وي هغه به په نفقه او داسي نورو كي نه خرڅوي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْغَائِبِ إِلَّا فِي حِفْظِ مَالِهِ ځكه چي قاضي ته پر غائب فقط د هغه د مال ساتلو [حفاظت كولو] په هكله ولايت حاصل دى فَلَا يَسُوغُ لَهُ تَرْكُ حِفْظِ الصُّورَةِ لهذا [په دې صورت كي به] د هغه لپاره د صورتاً حفاظت پرېښوول جائز نه وي وَهُوَ مُمْكِنٌ [ځكه چي] صورتاً حفاظت كول ممكن دي

اللغات: ﴿نصب﴾ د ماضي صيغه ده، له ضرب او نصر دواړو ځخه راځي. او له تفعيل څخه هم كېداى سي: مقرر كول، متعينول، ټاكل. ﴿يقوم عليه﴾ د نصر مضارع ده، د دې باب په صله كي چي "عَلَى" راسي نو د "نګراني او نګهباني كولو" او "پام كولو" په معنىٰ سره راځي. ﴿ناظر﴾ د مصلحت

رعايت كونكى. ﴿غلّات﴾ جمع د غلّة ده: غله، پيداوار، له فصل څخه ترلاسه كړى سوې خوراكه، لكه غنم او داسي نور. ﴿إخفاء﴾ د افعال مصدر دى: پټول، د "سرپوښ ليري كولو" او "پردې ليري كولو" په معنىٰ سره هم راځي (مصباح اللغات). ﴿غريم﴾ قرض اخيستونكى (قرضدا) پور وړى. ﴿يخاصم﴾ د مفاعلې مضارع ده. خَاصَمَ يُخَاصِمُ مُخَاصَمَةً: جنګ او جګړه كول. دعوىٰ كول (د قاضي مخته يو معامله پېشول او خپل حق غوښتل)، ﴿لا يسوغ﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: ګنجائش كېدل، جائز كېدل. (أحسن الهداية)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه ديو سړي هيڅ درك او ټكانه معلومه نه وي او د هغه د ژوند او مرګ هيڅ پته نه وي نو قاضي دي د داسي مفقود (غائب) د مال د حفاظت او ساتني لپاره يو نګران (ساتونكى) مقرر كړى چي هغه به د مفقود د مال حفاظت كوي او د هغه حقوق به له خلكو څخه اخلي لكه څرنګه چي قاضي د كوچني (صغير) او لېوني په مال كي داسي محافظ او نګران متعين كوي. دا نګران به د مفقود پر پيداوار (غلو) قبضه كوي او د مفقود له غرماؤ چي څوک پر خپل ځان د مفقود د قرض اقرر وكړي پر هغه قرض به قبضه كوي. او د ده په عقد او معامله سره چي كوم قرض واجب سي د هغه په هكله خو دئ (نګران) مخاصمت كولاى سي، لېكن د مفقود په عقد او معامله سره چي كوم قرض واجب سوى وي همدارنګه د مفقود د ځمكي او جايداد په هكله چي كومه معامله وي د هغه په هكله دئ مخاصمت منه سي كولاى، ځكه چي د مخاصمت لپاره ملكيت يا نيابت ضروري دى او په محافظ او نګران كي دا دواړه شيان معدوم دي او نګران خو فقط د قاضي له طرفه وكيل بالقبض وي نو ځكه به هغه ته د دې حق نه وي. ځكه چي وكيل بالقبض من جهة المالک د مخاصمت مالک نه وي او كه چيري موږ هغه د مخاصمت مالک وګرځوو نو دا به قضاء على الغائب وي او قضاء على الغائب جائز نه ده. ها! كه چيري قاضي په دې كي مصحلت ووينې نو دا حكم نافذولاى سي ځكه چي په دې كي د اجتهاد ګنجائش سته.

ثم ما كان إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه د مفقود په مال كي خرابېدونكي شيان مثلاً مېوه او داسي نور وي نو قاضي دي هغه خرڅ كړي او د هغوى ثمن دي وساتي. ځكه كله چي صورتاً د هغوى حفاظت ناممكن دى نو په ثمن ساتلو سره دي معناً د هغوى حفاظت وسي، لېكن د كومو شيانو د خرابېدلو بېره چي نه وي قاضي هغه نه سي خرڅولاى. ځكه چي د هغه شيانو په باقي ساتلو كي شفقت او مصلحت دى او په خرڅولو كي يې هيڅ شفقت نسته.

د مفقود کوم قريبان د نفقې حق لري؟

قَالَ: وَيُنْفِقُ عَلٰى زَوْجَتِهٖ وَأَوْلَادِهٖ مِنْ مَالِهٖ فرمايي: چي نګران [محافظ] به د مفقود له مال ځخه د هغه د ښځي او بچيانو نفقه ورکوي وَلَيْسَ هٰذَا الْحُكْمُ مَقْصُوْرًا عَلَى الْأَوْلَادِ بَلْ يَعُمُّ جَمِيْعَ قَرَابَةِ الْوِلَادِ او دا حکم [فقط] پر بچيانو منحصر نه دی بلکي تمام ولادتي [پيدايشي] قريبانو ته عام دی وَالْأَصْلُ: أَنَّ كُلَّ مَنْ يَسْتَحِقُّ النَّفَقَةَ فِيْ مَالِهٖ حَالَ حَضْرَتِهٖ بِغَيْرِ قَضَاءِ الْقَاضِيْ او قاعده دا ده: چي هر هغه کس کوم چي د مفقود د موجودوالي [حضور] په وخت کي د قاضي له قضاء ځخه بغير د مفقود په مال کي د نفقې مستحق وي يُنْفِقُ عَلَيْهِ مِنْ مَالِهٖ عِنْدَ غَيْبَتِهٖ هغه ته به د مفقود په غائبوالي کي [هم] د مفقود له مال ځخه نفقه ورکول کيږي لِأَنَّ الْقَضَاءَ حِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ إِعَانَةً ځکه چي په دې صورت کي به د قاضي فيصله فقط د مرستي [همکارۍ] کولو په توګه وي وَكُلُّ مَنْ لَا يَسْتَحِقُّهَا فِيْ حَضْرَتِهٖ إِلَّا بِالْقَضَاءِ او هر هغه کس کوم چي د مفقود په موجودوالي کي د قاضي له قضاء ځخه بغير د نفقې مستحق نه وي لَا يُنْفِقُ عَلَيْهِ مِنْ مَالِهٖ فِيْ غَيْبَتِهٖ نو دا نګران به هغه ته د مفقود په غائبوالي کي [هم] نفقه نه ورکوي لِأَنَّ النَّفَقَةَ حِيْنَئِذٍ تَجِبُ بِالْقَضَاءِ ځکه چي په دې وخت کي به نفقه د قاضي په قضاء [فيصلې] سره واجبيږي وَالْقَضَاءُ عَلَى الْغَائِبِ مُمْتَنِعٌ او پر غائب سړي [د قاضي] فيصله کول ممنوع دي فَمِنَ الْأَوَّلِ الْأَوْلَادُ الصِّغَارُ وَالْإِنَاثُ مِنَ الْكِبَارِ وَالزَّمِنُ مِنَ الذُّكُوْرِ الْكِبَارِ له اول قسم ځخه نابالغه بچيان دي، بالغي نجوني دي او بالغه شوتان [شلان] دي وَمِنَ الثَّانِي الْأَخُ وَالْأُخْتُ وَالْخَالُ وَالْخَالَةُ او له دويم قسم ځخه ورور، خور، ماما او خاله دي وَقَوْلُهُ مِنْ مَالِهٖ مُرَادُهُ الدَّرَاهِمُ وَالدَّنَانِيْرُ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله له دې قول "مِن مالِه" ځخه دراهم او دنانير مراد دي لِأَنَّ حَقَّهُمْ فِي الْمَطْعُوْمِ وَالْمَلْبُوْسِ ځکه چي د مستحقينو حق په خوراک او جامې کي دی فَإِذَا لَمْ يَكُنْ ذٰلِكَ فِيْ مَالِهٖ يُحْتَاجُ إِلَى الْقَضَاءِ بِالْقِيْمَةِ [لیکن] کله چي د مفقود په مال کي مطعوم او ملبوس نه وي نو د قيمت فيصلې کولو ته به ضرورت وي وَهِيَ النَّقْدَانِ او قيمت دوه نغد مالونه دي [يعني دراهم او دنانير] وَالتِّبْرُ بِمَنْزِلَتِهِمَا فِيْ هٰذَا الْحُكْمِ او د سرو او سپينو زرو ټوټې انه جوړه کړی سوې سکه] په دې حکم کي د

دراهمو او دنانيرو په درجه كي ده لِأَنَّهُ يَصْلُحُ قِيمَةً كَالْمَضْرُوبِ ځکه چي د جوړي کړی سوې سکې په ځير تبر هم قيمت جوړېدای سي وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ فِي يَدِ الْقَاضِي او دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دا مال د قاضي په قبضه کي وي فَإِنْ كَانَتْ وَدِيعَةً أَوْ دَيْنًا لېکن که د مفقود مال امانت يا قرض وي [يعني ديو چا سره دامانت يا قرض په توگه موجود وي] يُنْفِقُ عَلَيْهِمْ مِنْهُمَا إِذَا كَانَ الْمُودَعُ وَالْمَدْيُونُ مُقِرَّيْنَ بِالدَّيْنِ وَالْوَدِيعَةِ وَالنِّكَاحِ وَالنَّسَبِ نو له هغه امانت او قرض ځخه به د مفقود ښځي بچيانو [او نورو] ته نفقه ورکول کيږي [په دې شرط] که چيري چيري مودَع او مقروض د امانت او قرض او د نکاح او نسب اقرار کونکي وي [يعني د امانت او قرض اقرار هم کوي او د دې اقرار هم کوي چي دا ښځه او بچيان د مفقود ښځه او بچيان دي] وَهٰذَا إِذَا لَمْ يَكُونَا ظَاهِرَيْنِ عِنْدَ الْقَاضِي [لېکن] دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي امانت او قرض [او نکاح او نسب] د قاضي سره ښکاره نه وي [يعني قاضي ته د دې علم او خبر نه وي] فَإِنْ كَانَا ظَاهِرَيْنِ فَلَا حَاجَةَ إِلَى الْإِقْرَارِ او که چيري ښکار وي نو بيا د مودَع او مقروض اقرار ته هيڅ ضرورت نسته وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا ظَاهِرًا يُشْتَرَطُ الْإِقْرَارُ بِمَا لَيْسَ بِظَاهِرٍ او که په دوی کي يو ظاهر وي نو د غير ظاهر په هکله به اقرار شرط وي هٰذَا هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح دي فَإِنْ دَفَعَ الْمُودَعُ بِنَفْسِهِ أَوْ مَنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ بِغَيْرِ أَمْرِ الْقَاضِي نو که مودَع يا مقروض د قاضي له حکم ځخه بغير هغو ته نفقه ورکړي يَضْمَنُ الْمُودَعُ وَلَا يَبْرَأُ الْمَدْيُونُ نو مودَع به ضامن کيږي او مقروض به له قرض ځخه نه بري کيږي لِأَنَّهُ مَا أَدَّى إِلَى صَاحِبِ الْحَقِّ وَلَا إِلَى نَائِبِهِ ځکه چي هغه نه د حق خاوند [مفقود] ته قرض اداء کړی دی او نه يې د هغه نائب ته بِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ بِأَمْرِ الْقَاضِي په خلاف د هغه صورت کله چي [مودَع او مديون] د قاضي په حکم سره نفقه ورکړې وي لِأَنَّ الْقَاضِي نَائِبٌ عَنْهُ ځکه چي قاضي د مفقود نائب دی وَإِنْ كَانَ الْمُودَعُ وَالْمَدْيُونُ جَاحِدَيْنِ أَصْلًا أَوْ كَانَا جَاحِدَيْنِ الزَّوْجِيَّةَ وَالنَّسَبَ او که مودَع او مقروض د امانت او قرض منکر وي يا د زوجيت [نکاح] او نسب منکر وي لَمْ يَنْتَصِبْ أَحَدٌ مِنْ مُسْتَحِقِّي النَّفَقَةِ خَصْمًا فِي ذٰلِكَ نو د نفقې له مستحقينو ځخه هيڅوک هم په دې سلسله کي خصم [مُدعي] کېدلای نه سي لِأَنَّ مَا يَدَّعِيهِ لِلْغَائِبِ لَمْ يَتَعَيَّنْ سَبَبًا

لِثُبُوتِ حَقِّهِ وَهُوَ النَّفَقَةُ ځکه دا خصم چي د غائب لپاره د کوم شي دعویٰ کوي هغه به د ده د حق يعني د نفقې د ثابتېدلو لپاره سبب نه وي لِأَنَّهَا كَمَا تَجِبُ فِي هٰذَا الْمَالِ ځکه څرنګه چي په دې مال [امانت او قرض] کي نفقه واجبېدای سي تَجِبُ فِي مَالٍ آخَرَ لِلْمَفْقُودِ همداسي د مفقود په بل مال کي هم واجبېدای سي.

اللغات: ﴿ينفق﴾ د افعال مضارع ده: خرچول. نفقه او خرچه ورکول. ﴿مقصور﴾ منحصر. محدود. ﴿حضرة﴾ حضور. موجود والی (موجودګي). ﴿إعانة﴾ د افعال مصدر دی: مرسته او همکاري کول. امداد (مدد کول). ﴿ممتنع﴾ د افتعال اسم فاعل دی: ممنوع. ناممکن. ﴿زمنی﴾ زَمِن ته منسوب دی: شوټ او شل. معذوره. ﴿مطعوم﴾ د خوراک شی. د خوراک سامان. ﴿تِبْر﴾ خالص سره او سپين زره (د سرو او سپينو زرو ټوکړه. ټوټه). هغه سره او سپين زره چي تر اوسه سکّه ځني جوړه سوې نه وي. ﴿مضروب﴾ له سرو او سپينو زرو څخه جوړ کړی سوې سکّه چي د حکومت له طرفه مُهر پر وهل سوی وي. يعني دينار او درهم. ﴿جاحدين﴾ د فتح له باب څخه د جمع اسم فاعل صيغه ده. جَحَدَ يَجْحَدُ جَحْدًا و جُحُوْدًا: انکار کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کوم کسان د مفقود د موجود والي په وخت کي د قاضي له قضاء څخه بغير د ولادتي قرابت په وجه د هغه په مال کي د نفقې مستحق وي مثلاً د هغه نابالغه بچيان. بالغه نجوني او بالغه معذورين. دغه کسان به د مفقود په غائبوالي کي هم د هغه په مال کي د نفقې مستحق وي او د قاضي له طرفه متعين سوی نګران به دوی ته د مفقود له مال څخه نفقه ورکوي. او کوم کسان چي د مفقود د موجود والي په وخت کي د قاضي له قضاء څخه بغير د نفقې مستحق نه وي لکه ورور. خور. خاله. ماما او داسي نور. نو هغوی به د مفقود د غائبوالي په وخت کي هم د نفقې مستحق نه وي. ځکه که چيري قاضي هغو ته د نفقې ورکولو حکم وکړي نو دا به قضاء على الغائب وي. او قضاء على الغائب جائز نه ده.

په نفقه کې خوراک او جامې (کالي) داخل دي که چيري د مفقود په أموالو کي مطعوم او ملبوس وي نو صحيح ده يعني هغه به ورکول کيږي او که نه وي نو د هغوی قيمت يعني دراهم او دنانير به ورکول کيږي په دې شرط چي د مفقود دغه أموال د قاضي په قبضه کي وي او که چيري دا أموال ديو چا سره د امانت يا قرض په توګه وي او قاضي ته معلومه وي چي د مفقود أموال د فلانکي او فلانکي سره موجود دي نو له هغه أموالو څخه به مستحقينو ته نفقه ورکول کيږي او په دې صورت کي به د

مودَع او مديون د اقرار ضرورت نه وي. ها! که چيري قاضي ته معلومه نه وي چي د مفقود أموال د دوی سره موجود دي نو د دوی (مودَع او مديون) اقرار به ضروري وي. نو که هغوی اقرار وکړي چي زموږ سره د مفقود مال سته او فلانۍ ښځه د هغه ماينه (زوجه) ده او دا د هغه بچيان دي نو له دې مال څخه به هغو ته نفقه ورکول کيږي، او که چيري قاضي ته د دې دواړو يعني د مال او مستحقينو خبر نه وي نو د دې لپاره به هم د مودَع او مديون اقرار ضروري وي او د دوی تر اقرار وروسته به فيصله کيږي.

قوله دفع المودَع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مودَع يا مديون د قاضي له حکم څخه بغير د مفقود ښځي او بچيانو ته نفقه ورکړي نو مودَع به د هغومره مال ضامن وي او مديون به له دين څخه بري نه وي؛ ځکه چي دوی خو نه صاحبُ الحق يعني مفقود ته خپل حق ورکړی دی او نه يې د هغه نائب ته ورکړی دی او ګواکي د بل په مال کي يې تصرّف کړی دی کوم چي د ضمان موجب دی. ها! که چيري يې د قاضي په حکم سره ورکړی وي نو ضمان نه پر واجبيږي. ځکه چي د قاضي ولايت عام دی او هغه د مفقود نائب دی.

او که چيري مودَع يا مديون له أصل يعني له امانت او قرض څخه انکار کوي يا وايي چي دا ښځه او بچيان د مفقود نه دي. نو په دې کسانو کي هيڅوک هم د مودَع يا مديون خصم کېدلای نه سي (يعني پر مودَع يا مديون دعویٰ نه سي کولای)، ځکه که خصم جوړ سي او دعویٰ وکړي نو هغه به پر غائب د نفقې دعویٰ وکړي حالانکي دا دعویٰ معتبره نه ده. ځکه څرنګه چي په امانت او قرض کي نفقه واجب ده همداسي په نورو مالونو کي هم واجب ده او دا وجوب فقط په امانت او قرض کي منحصر نه دی لهذا قاضي به دغه کسانو (ښځي، بچيانو او داسي نورو) ته وايي چي د مفقود په کوم مال کي چي انکار نه وي تاسي له هغه څخه نفقه واخلئ! او دلته (په امانت او قرض کي) انکار او جنجال دی نو ځکه دلته نفقه پر پرېږدئ!.

د مفقود د ښځي احکام

قَالَ: وَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ فرمايي: چي د مفقود او د هغه د ښځي په مينځ کي به تفريق نه کيږي وَقَالَ مَالِكٌ: إِذَا مَضٰى أَرْبَعُ سِنِيْنَ يُفَرِّقُ الْقَاضِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کله څلور کاله تېر سي نو قاضي دي د دوی په مينځ کي تفريق وکړي وَتَعْتَدُّ عِدَّةَ الْوَفَاةِ ثُمَّ تَتَزَوَّجُ مَنْ شَاءَتْ او ښځه دي اتر تفريق وروسته د خاوندا د وفات عدت تېر کړي بيا چي د چا سره وغواړي د هغه سره دي نکاح وکړي لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هٰكَذَا قَضٰى فِي الَّذِي اسْتَهْوَاهُ الْجِنُّ بِالْمَدِيْنَةِ ځکه په مدينه منوره کي چي کوم کس پېريانو پورته کړی وو د هغه په هکله حضرت عمر رضي الله عنه همدغسي فيصله وکړه وَكَفٰى بِهِ إِمَامًا او ازموږ لپاره ا د هغه پېشوا کېدل کافي دي وَلِأَنَّهُ مَنَعَ حَقَّهَا بِالْغَيْبَةِ او ځکه چي مفقود په غائبېدلو سره د ښځي حق منع کړی فَيُفَرِّقُ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا بَعْدَ مُضِيِّ

مُدَّةِ لهذا تر مودت تېرېدلو وروسته به قاضي د دوی په مينځ کي تفريق کوي اعْتِبَارًا بِالْإِيلَاءِ وَالْعِنَّةِ پر ايلاء او عِنة باندي په قياس کولو سره وَبَعْدَ هٰذَا الِاعْتِبَارِ أَخْذُ الْمِقْدَارِ مِنْهُمَا الْأَرْبَعَ مِنَ الْإِيلَاءِ وَالسِّنِينَ مِنَ الْعِنَّةِ او تر دې قياس وروسته دي له ايلاء کونکي [مُولي] او عنين څخه د دې مودت مقدار را واخيستل سي نو له ايلاء څخه دي "څلور" را واخيستل سي او له عنة څخه دي "كال" را واخيستل سي عَمَلًا بِالشَّبَهَيْنِ د دې لپاره چي پر دواړو مشابهتونو عمل وسي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي امْرَأَةِ الْمَفْقُودِ ❶: أَنَّهَا امْرَأَتُهُ حَتَّى يَأْتِيَهَا الْبَيَانُ زموږ دليل د مفقود د ښځي په هکله د نبي ﷺ دا فرمان دی: چي دا ښځه د مفقود ښځه ده تر دې چي هغې ته يو بيان راسي ايعني تر دې چي د خاوند د مرګ يا د طلاق خبره واضحه سي] وَقَوْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيهَا: هِيَ امْرَأَةٌ أُبْتُلِيَتْ فَلْتَصْبِرْ حَتَّى يَسْتَبِينَ مَوْتٌ أَوْ طَلَاقٌ او اهمدارنګه زموږ دليل [د مفقود د ښځي په هکله د حضرت علي رضي الله عنه دا قول دی: چي دا ښځه په يو مصيبت مبتلا سوې ده هغې ته پکار دي چي صبر وکړي تر دې چي د هغې د خاوند مرګ يا د هغه له طرفه طلاق واضح سي خَرَجَ بَيَانًا لِلْبَيَانِ الْمَذْكُورِ فِي الْمَرْفُوعِ د حضرت علي دا قول د هغه "البيان" لپاره د بيان په توګه صادر سوی دی کوم چي په حديث مرفوع کي ذکر سو ايعني په پورتني حديث کي چي کوم د "البيان" لفظ ذکر سو، د حضرت علي رضي الله عنه په قول کي د هغه وضاحت سوی دی] وَلِأَنَّ النِّكَاحَ عُرِفَ ثُبُوتُهُ او ځکه چي نکاح په يقيني توګه ثابته ده وَالْغَيْبَةَ لَا تُوجِبُ الْفُرْقَةَ او غائبوالی فرقت نه واجبوي وَالْمَوْتُ فِي حَيِّزِ الِاحْتِمَالِ او د مفقود مرګ د احتمال په ځای کي دی ايعني د هغه مړ کېدل محتمل دي] فَلَا يُزَالُ النِّكَاحُ بِالشَّكِّ لهذا د شک په وجه به نکاح نه زائليږي وَعُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رَجَعَ إِلَى قَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رضي الله عنه [وروسته] د حضرت علي رضي الله عنه د قول وطرف ته رجوع وکړه وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْإِيلَاءِ او پر ايلاء هغه قياسول صحيح نه دي لِأَنَّهُ كَانَ طَلَاقًا مُعَجَّلًا ځکه چي ايلاء [د جاهليت په زمانه کي] معجّل طلاق وو فَاعْتُبِرَ فِي الشَّرْعِ مُؤَجَّلًا لېکن په شريعت کي هغه مؤجل وګرځېدی فَكَانَ مُوجِبًا لِلْفُرْقَةِ نو په دې وجه به ايلاء د فرقت موجب وي وَلَا بِالْعِنَّةِ او هغه پر عنة قياسول هم صحيح نه دي لِأَنَّ الْغَيْبَةَ تُعَقِّبُ الْأَوْبَةَ ځکه چي غائبوالی تر ځان وروسته

---

❶ تخريج: اخرجه دار قطني في سننه ج:٣، ص:٣١٢.

واپس والی راولي ايعني د سړي دغائبوالي په صورت کي د هغه د واپس راتللو اُميد پاته وي ا وَالعِنَّةُ قَلَّمَا تَنْحَلُّ بَعْدَ اسْتِمْرَارِهَا سَنَةً لیکن که د عنة مرض ټوله کال جاري وي نو د هغه د روغوالي اُميد ډېر کم پاتیږي.

اللغات: ﴿لا يفرّق﴾ د تفعیل له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: سره جلا کول، بېلول. مراد ځني د خاوند او ښځي په مینځ کي نکاح ختمول دي. ﴿استهواه﴾ د استفعال ماضي ده: حیرانول (لالهانده کول). بې هوښه کول. شارحینو د دې لفظ معنیٰ په "پورته کولو" او "وړلو سره" کړي دي، یعني هغه کس کوم چي پېریانو پورته کړی او وړی وو. ﴿عنة﴾ نامردي، پر جماع قدرت نه لرل، چي داسي کس ته "عنین" وایي. ﴿أوْبَة﴾ د نصر له باب څخه اسم مرة دی: رجوع کول، واپس رجوع کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي تر څو د مفقود د مرګ پته معلومه نه سي یا دا معلومه نه سي چي هغه خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی تر هغه وخته به زموږ په نیز د مفقود او د هغه د ښځي په مینځ کي تفریق نه کیږي. امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چي که د مفقود د غائبېدلو له وخت څخه څلور کاله تېر سي نو قاضي دي د هغه او د ښځي په مینځ کي تفریق وکړي او ښځه چي تر عدت وروسته د کوم سړي سره نکاح وغواړي د هغه سره دي نکاح وکړي.

د امام مالک دلیل: دا دی چي په مدینه منوره کي یو سړی پېریانو پورته کړی وو او د هغه ښځه حضرت عمر ﷺ ته راغله او دا معامله یې هغه ته ذکر کړه، نو حضرت عمر ﷺ هغې ته وویل چي څلور کاله وروسته راسه!، څلور کاله وروسته هغه بیا راغله، نو حضرت عمر ﷺ د هغې له قوم څخه پوښتنه وکړه او د هغو تر تصدیق وروسته یې هغه ښځي ته د عدت تېرولو او دویم ځای د نکاح کولو حکم وکړی (د هدایې په صفحه: ۶۶۲، دویمه حاشیه کي د دې پوره وضاحت موجود دی، وهکذا في البنایة ج: ۶، ص: ۸۱۲) او د حضرت عمر لپاره دا فیصله د حجت او دلیل لپاره کافي ده.

د امام مالک عقلي دلیل دا دی چي د عنین او ایلاء کونکي (مُولي) په څېر مفقود هم د خپلي ښځي حق ضایع کړی دی، لهذا څرنګه چي د ایلاکونکي او عنین او د دوی د ښځو په مینځ کي تر یو مودت وروسته تفریق کیږي همداسي به د مفقود او د هغه د ښځي په مینځ کي تر یو مودت یعني تر څلورو کالو وروسته تفریق کیږي. او د څلورو کالو مقدار به د مُولي او عنین دواړو له مجموعې څخه را اخیستل کیږي یعني د مُولي له څلورو میاشتو څخه به "څلور" (أربع) را اخیستل کیږي او د عنین له یوه کال څخه به "کال" را اخیستل کیږي، او په دې توګه په دواړو مشابهتونو باندي په عمل کولو سره به تر څلورو کالو وروسته د مفقود او ښځي په مینځ کي تفریق کیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي د مفقود د ښځي په هکله نبي کریم ﷺ دا فرمایلي دي چي "هغه د مفقود ښځه ده تر ګو چي هغې ته یو بیان راسي" (یعني تر څو چي هغې ته د مفقود د مرګ یا د هغه له طرفه د طلاق خبر راغلی نه وي تر هغه وخته دا د مفقود ښځه ده)، او له حضرت علي ﷺ څخه هم دا روایت سوی دی چي "د مفقود

ښځه په مصيبت مبتلا سوې ده هغې ته صبر کول پکار دي تر دې چې د مفقود د مرګ پته معلومه سي يا د هغه له طرفه طلاق ورکول ثابت سي". لهذا تر څو چې د مفقود معامله ښکاره نه سي تر هغه وخته به د هغه او ښځې په مېنځ کې تفريق نه کيږي، او ځکه چې نکاح په يقيني توګه ثابته ده او غيبوبت د فُرقت موجب نه دی، همدارنګه د مفقود مړ کېدل هم يقيني نه دي بلکې فقط احتمال يې سته. او په يقين سره ثابت سوی شی د شک په وجه سره نه زائليږي د فقهې دا مشهوره قاعده ده "اليقين لا يزول بالشک".

او امام مالک چې د حضرت عمر رضي الله عنه په فرمان سره دليل نيسي، دا صحيح نه دي، ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه د قول وطرف ته رجوع وکړه. او پر ايلاء او عنين هم قياس کول صحيح نه دي. ځکه چې ايلاء د جاهليت په زمانه کي طلاق معجّل وو نو شريعت هم هغه طلاق وګرځوی لېکن معجّل يې د څلورو مياشتو په تأجيل سره مؤجّل کړی او طلاق د فرقت موجب دی حالانکې د مفقود غيبوبت د فرقت موجب نه دی او د هغه له طرفه طلاق هم واقع سوی نه دی.

او کوم چې د عِنّة معامله ده نو که چيري عنين تر يوه کاله پوري په دې مرض مبتلا وي نو د هغه د روغېدلو امکان ختميږي حالانکې د مفقود او غائب د واپس راتللو امکان باقي پاته وي. نو پر غيرِ مُتوقع کار به د مُتوقع کار قياسول څرنګه صحيح وي! .

څومره مودت به مفقود ته انتظار کيږي؟

قَالَ: وَإِذَا تَمَّ لَهُ مِائَةٌ وَعِشْرُونَ سَنَةً مِنْ يَوْمِ وُلِدَ فرمايي: که چيري د پيدايښت له ورځې څخه د مفقود يو سل وشل [۱۲۰] کاله پوره سي حَكَمْنَا بِمَوْتِهِ نو موږ به د هغه د مرګ فيصله کوو قَالَ: وَهَذِهِ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد روايت دی وَفِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ ❁ يُقَدَّرُ بِمَوْتِ الْأَقْرَانِ او په ظاهر د مذهب کي به [د مفقود] د همزولو په مرګ سره د هغه مرګ اندازه کيږي وَفِي الْمَرْوِيِّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ بِمِائَةِ سَنَةٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په نقل سوي روايت کي په سلو [۱۰۰] کالو سره د هغه مرګ اندازه کړی سوی دی وَقَدَّرَهُ بَعْضُهُمْ بِتِسْعِينَ او ځيني حضراتو په نوي [۹۰] کالو سره اندازه کړی دی وَالْأَقْيَسُ أَنْ لَا يُقَدَّرَ بِشَيْءٍ او قياس دا دی چي په هيڅ مودت سره اندازه نه کړی سي وَالْأَرْفَقُ أَنْ

❁ القول الراجح: په دې سلسله کي مفتیٰ به قول د امام مالک رَحِمَهُ الله دی کوم چي په تېر عبارت کي بيان سو چي په څلور کالو سره به اندازه کيږي، يعني څلور کاله وروسته به د مفقود او ښځي په مينځ کي تفريق کيږي. ..(الخ)، کما قال العلامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله : لو أفتیٰ به في موضع الضرورة أی علی مذهب مالک في المفقود لا بأس به علی ما أظن (رد المحتار ج:۳، ص:۳۶۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۱۱]

يُقَدَّرَ بِتِسْعِينَ او زيات آسانه دا ده ايعني آساني او نرمي په دې كې ده ا چې په نوي ا ۹۰ ا كالو سره هغه اندازه كړى سي وَإِذَا حُكِمَ بِمَوْتِهِ او كله چې د مفقود د مرګ فيصله وسي اِعْتَدَّتْ امْرَأَتُهُ عِدَّةَ الْوَفَاةِ مِنْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ نو له هغه وخت څخه دې د مفقود ښځه د وفات عدت تېر كړي وَقُسِّمَ مَالُهُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ الْمَوْجُودِينَ فِي ذٰلِكَ الْوَقْتِ او په هغه وخت كې چې د مفقود كوم وارثان موجود وي د هغو په مينځ كې دې د مفقود مال تقسيم كړى سي كَأَنَّهُ مَاتَ فِي ذٰلِكَ الْوَقْتِ مُعَايَنَةً ګواكې په هغه وخت كې دا مفقود [د هغو] د سترګو مخته مړ سوى دى إِذِ الْحُكْمِيُّ مُعْتَبَرٌ بِالْحَقِيقِيِّ ځكه چې حكمي مرګ پر حقيقي مرګ قياس كړى سوى دى وَمَنْ مَاتَ قَبْلَ ذٰلِكَ او كوم كس چې تر هغه وخت مخكې مړ سوى وي لَمْ يَرِثْ مِنْهُ نو هغه به د مفقود نه وارث كيږي لِأَنَّهُ لَمْ يُحْكَمْ بِمَوْتِهِ فِيهَا ځكه چې د مفقود والي په وخت كې د مفقود د مرګ فيصله نه وه سوې فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَتْ حَيَاتُهُ مَعْلُومَةً نو داسې سو لكه د هغه د ژوند درك چې معلوم وي وَلَا يَرِثُ الْمَفْقُودُ أَحَدًا مَاتَ فِي حَالِ فَقْدِهِ او مفقود به هم د خپل داسې مورث نه وارث كيږي كوم چې د ده د ورك والي په وخت كې مړ سوى وي لِأَنَّ بَقَاءَهُ حَيًّا فِي ذٰلِكَ الْوَقْتِ بِاسْتِصْحَابِ الْحَالِ ځكه چې په هغه وخت كې د مفقود ژوندى كېدل د استصحابُ الحال په وجه دي وَهُوَ لَا يَصْلُحُ حُجَّةً فِي الِاسْتِحْقَاقِ او استصحابُ الحال د وراثت د مستحق كېدلو لپاره حجت نه سي جوړېداى.

اللغات: ﴿أقيس﴾ د قياس زيات مطابق. ﴿أرفق﴾ زيات نرمي والا. زيات آسانه. ﴿معاينة﴾ د مفاعلې مصدر دى: په خپله ليدل. ﴿فقد﴾ د ضرب مصدر دى: وركېدل. نيستي كېدل (مراد ځني غائبېدل دي). ﴿استصحابُ الحال﴾ دا يو محاوره ده. مطلب يې دا دى چې مخكې كوم حالت روان او جاري وي هغه حالت اوس هم فرضول (منل). مثلاً مفقود د ژوند په حالت كې غائب سو. نو د دې مخكني ژوند په وجه وروسته هم هغه ژوندى شمارل او منل دې ته "استحصاب الحال" وايي.

تشريح: سوال دا دى چې كه د مفقود هيڅ پته او ټكانه معلونه وي نو تر څو به د هغه انتظار كيږي؟ او د هغه د ژوند او مرګ په هكله به كله فيصله كيږي؟ د دې جواب دا دى چې په دې سلسله كې درې روايتونه دي: ① اول روايت كوم چې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه حسن بن زياد نقل كړى دى. دا دى چې د مفقود له پيداينښت څخه واخله په كومه ورځ چې د هغه عمر يو سل وشل (۱۲۰) كاله سي

(يعني د هغه عمر ۱۲۰ کالو ته ورسيږي) په هغه ورځ به د مفقود د مرګ فيصله کيږي. ② ظاهرُ المذهب دا دی چي د مفقود عمر به د هغه د همعصرو او همزولو خلګو د عمر سره اندازه کيږي او د هغه د مرګ فيصله به کيږي، ③ دريم روايت دا دی چي کله د هغه د غائبېدلو له وخت څخه نوي (۹۰) کاله تېر سي نو د هغه د مرګ فيصله به کيږي، همدا دريم مقدار أصح او أرفق للناس دی (بنايه ج:۶، ص:۸۱۷)، او کله چي د مفقود د مرګ فيصله وسي، نو له هغه ورځي څخه دي د مفقود ښځه د وفات عدت شروع کړي، او په هغه وخت کي چي د مفقود کوم وارثان موجود وي د هغو په مېنځ کي دي د مفقود أموال تقسيم کړی سي لکه څرنګه چي په حقيقي مرګ کي هم دغه صورت اختيارول کيږي.

ومن مات إلخ: فرمايي چي د مفقود د مرګ له فيصلې کولو څخه مخکي چي د هغه کوم وارثان مړه سوي وي هغوی به اوس د مفقود نه وارث کيږي او مفقود به هم د هغو نه وارث کيږي: دا خلک خو به ځکه د مفقود نه وارث کيږي چي د مفقود د غائبوالي (ورک والي) په دوران کي د هغه د مرګ فيصله سوې نه وه او هغه ژوندی وو. لېکن څرنګه چي د هغه د ژوند فيصله د استصحابُ الحال په وجه ده. او استصحابُ الحال زموږ په نېز د "دفع" لپاره حجت جوړېدای سي لېکن د "استحقاق" لپاره حجت نه سي جوړېدای، نو هغسي موږ دلته هم وکړه چي د مفقود د مرګ له فيصلې څخه مخکي مړه سوي وارثان مو د مفقود له ميراث څخه دفع کړل او د هغو له ميراث څخه مو د مفقود استحقاق ختم کړی.

د مفقود وصيت موقوف کېدل

وَكَذٰلِكَ لَوْ أَوْصٰى لِلْمَفْقُودِ وَمَاتَ الْمُوْصِيْ او همدارنګه که د مفقود لپاره څه وصيت سوی وي او وصيت کونکی مړ سوی وي [نو وصيت به صحيح نه وي] ثُمَّ الْأَصْلُ: أَنَّهُ لَوْكَانَ مَعَ الْمَفْقُودِ وَارِثٌ لَايُحْجَبُ بِهِ وَلٰكِنَّهُ يُنْتَقَصُ حَقُّهُ بِهِ بيا قاعده دا ده: چي که د مفقود سره يو داسي وارث وي کوم چي د مفقود په وجه له وراثت څخه نه محروميږي لېکن د مفقود په وجه د هغه حصه کميږي [لکه د مفقود خور] يُعْطٰى أَقَلَّ النَّصِيبَيْنِ وَيُوقَفُ الْبَاقِيْ نو هغه وارث ته به په دوو حصو کي کمه حصه ورکول کيږي او پاته مال به موقوف ساتل کيږي وَإِنْ كَانَ مَعَهُ وَارِثٌ يُحْجَبُ بِهِ او که د مفقود سره داسي وارث وي کوم چي د مفقود په وجه محروميږي [لکه د مفقود زوی او لور] لَا يُعْطٰى أَصْلًا نو هغه وارث ته به بالکل [هيڅ ميراث] نه ورکول کيږي بَيَانُهُ: رَجُلٌ مَاتَ عَنِ ابْنَتَيْنِ وَابْنٍ مَفْقُودٍ وَابْنِ ابْنٍ وَبِنْتِ ابْنٍ د دې وضاحت دا دی: چي [مثلاً] يو سړی مړ سو [او] دوې لوڼي، يو مفقود، يو لمسی او يوه لمسۍ

يې پرېښوول وَالْمَالُ فِي يَدِ الْأَجْنَبِيِّ او دهغه مال د يو أجنبي په قبضه كې وو وَتَصَادَقُوا عَلَى فَقْدِ الِابْنِ او دې خلكو ايعني أجنبي او وارثانوا هم اد مړيا د زوى پر ورک والي اتفاق وكړى وَطَلَبَتِ الِابْنَتَانِ الْمِيرَاثَ او ادمړيا دوو لوڼو د ميراث مطالبه وكړه تُعْطَيَانِ النِّصْفَ نو هغو ته به د ټوله مال نصف وركول كيږي لِأَنَّهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ ځكه چې نصف متيقن دى وَيُوقَفُ النِّصْفُ الْآخَرُ او بل اپاته ا نصب به موقوف كيږي وَلَا يُعْطَى وَلَدَ الِابْنِ او د زوى بچيانو المسيانوا ته به هيڅ شى نه وركول كيږي لِأَنَّهُمْ يُحْجَبُونَ بِالْمَفْقُودِ وَلَوْ كَانَ حَيًّا ځكه چې د مفقود په وجه هغوى محروميږي كه چيرې مفقود ژوندى وي امطلب دا چې كه چيرې مفقود ژوندى واى نو لمسيانو ته به هيڅ حق نه حاصلېداى ا فَلَا يَسْتَحِقُّونَ الْمِيرَاثَ بِالشَّكِّ لهذا د شک وجه به هغوى د ميراث نه مستحق كيږي وَلَا يُنْزَعُ مِنْ يَدِ الْأَجْنَبِيِّ إِلَّا إِذَا ظَهَرَتْ مِنْهُ خِيَانَةٌ او هغه مال به د أجنبي له قبضې څخه نه كښل كيږي خو دا چې د هغه له طرفه خيانت ښكاره سي وَنَظِيرُ هَذَا الْحَمْلُ او د مفقود مثال "حمل" دى فَإِنَّهُ يُوقَفُ لَهُ مِيرَاثُ ابْنٍ وَاحِدٍ عَلَى مَا عَلَيْهِ الْفَتْوَى ځكه چې د حمل لپاره هم د يوه زوى ميراث موقوف كيږي لكه څرنگه چې پر دې فتوىٰ ده وَلَوْ كَانَ مَعَهُ وَارِثٌ آخَرُ إِنْ كَانَ لَا يَسْقُطُ بِحَالٍ وَلَا يَتَغَيَّرُ بِالْحَمْلِ او كه د حمل سره بل داسي وارث هم وي چې د هغه حصه په هيڅ حال كي نه ساقطيږي او د حمل په وجه د هغه په حصه كي تغيّر وتبدّل نه راځي يُعْطَى كُلَّ نَصِيبَهُ نو هغه ته به خپل پوره حصه وركول كيږي وَإِنْ كَانَ مِمَّنْ يَسْقُطُ بِالْحَمْلِ او كه هغه داسي وراث وي چې د حمل په وجه د هغه حصه ساقطيږي لَا يُعْطَى نو هغه ته به هيڅ شى نه وركول كيږي وَإِنْ كَانَ مِمَّنْ يَتَغَيَّرُ بِهِ او كه هغه داسي وارث چې د هغه حصه د حمل په وجه بدليږي اكمي او زياتوب پكښې راځي ا يُعْطَى الْأَقَلَّ نو هغه ته به أقلّ ايعني په دوو حصه كي كمه حصه ا وركول كيږي لِلتَّيَقُّنِ بِهِ ځكه چې أقل متيقن وي كَمَا فِي الْمَفْقُودِ لكه څرنگه چې په مفقود كي اهم داسي كيږي ا وَقَدْ شَرَحْنَاهُ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي بِأَتَمَّ مِنْ هَذَا او دا امسئله ا موږ په كفاية المنتهي كي تر دې هم په زيات تفصيل سره بيان كړې ده.

اللغات: ﴿لا يُحجَب﴾ د نصر له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: پټېدل. مراد ځني محرومېدل او منع كېدل. ﴿تصادقوا﴾ د تفاعل ماضي ده: يو د بل تصديق كول. مراد ځني پر يو خبره اتفاق كول دي. ﴿لا يُنزَع﴾ د فتح له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: كښل، كاږل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی څرنګه چې د مفقود د ژوند او مرګ تر فيصلې مخكې د هغه وراثت موقوف پاتېږي همداسې د هغه د وصيت حكم هم موقوف پاتېږي. ځكه چې وصيت ميراث خور ده. نو كه يو چا د مفقود لپاره د يو شي وصيت كړی وي ليكن د مفقود تر حال ښكاره كېدلو مخكې هغه مړ سي نو وصيت به موقوف وي او كله چې د هغه حال ښكاره سي په هغه وخت كې به پر وصيت عمل كيږي.

صاحب د هدايې فرمايي چې د مفقود د وارث كېدلو په هكله قاعده دا ده چې كه چيري د مفقود سره يو قوي او مضبوط وارث وي كوم كي چې د دې مفقود په وجه له ميراث څخه نه محروميږي مثلاً د ده خوندي د ده سره د پلار په وراثت كي شريكي وي او د ده حالت معلوم نه وي نو داسې وارث ته به أقلُ النصيبين يعني په دوو حصو كي چې د هغه كومه لږ مقدار والا حصه جوړيږي هغه به وركول كيږي او كه يو وارث داسې وي چې هغه د مفقود په وجه محروميږي مثلاً د مفقود سره د پلار په وراثت كي د مفقود زوی او لور هم وي نو هغو ته به هيڅ نه وركول كيږي، ځكه چې د زوی په موجود والي كي لمسي او لمسۍ ته هيڅ نه حاصليږي.

د دې مثال دا دی چې زيد مړ سو، او تر شا يې دا كسان پرېښوول: دوې لوڼې، يو مفقود زوی، يو لمسی او يوه لمسۍ (يعني د مفقود يو زوی او يوه لور)، او د زيد مال د يو أجنبي سړي سره وو. نو هغه أجنبي او د زيد نورو وارثانو پر دې خبره اتفاق وكړی چې د ميّت (زيد) زوی مفقود دی (يعني ټولو د هغه مفقود والی تسليم كړی)، نو د لوڼو د ميراث پر مطالبه به قاضي لوڼو ته د ټوله ميراث نصف وركړې ځكه چې نصف أقل دی او متعيّن دی، ځكه كه مفقود (زوی) مړ وشمارل سي نو د لوڼو حصه به دوه ثلثه وي او كه هغه ژوندی وشمارل سي نو هغو ته به نصف حاصليږي او څرنګه چې نصف له دوو ثلثو څخه كم دی (او كم متعين او متيقن وي)، نو د متيقن كېدلو په وجه به همدا (نصف) وركول كيږي او پاته نصف به ساتل كيږي او له هغه پاته نصف څخه به د ميت (زيد) لمسي او لمسۍ ته حصه نه وركول كيږي، ځكه كه چيري مفقود ژوندی وي نو هغه به د دې نصف مستحق وي او د هغه په وجه به دا لمسی او لمسۍ محروميږي او څرنګه چې د هغه پته او ټكانه معلومه نه ده او د ژوند او مرګ درك يې هم معلوم نه دی لهذا د هغه د بچيانو (لمسي او لمسۍ) د ميراث په مستحق كېدلو كي شك دی او په شك سره استحقاق نه ثابتيږي. نو ځكه به دا كسان (لمسی او لمسۍ) د خپل مفقود پلار وجه د خپل مړه سوي نيكه (زيد) له ميراث څخه محروم پاتيږي.

او کوم نصف چي باقي پاته سوی وي هغه به د أجنبي سره پرېښوول کیږي؛ ځکه چي میّت هغه أمين ګڼلی دی او پر هغه يې اعتماد کړی دی، لهذا تر څو چي د دې أجنبي له طرفه يو خيانت ښکاره نه سي هغه مال به له ده څخه نه اخيستل کیږي. په پورتنۍ مسئله کي چي په دې الفاظو "والمال في يد الأجنبي" او "تصادقوا على فقد الإبن" سره چي کوم قيدونه لګېدلي دي. په دوی کي د اول قيد "والمال في يد الأجنبي" فايده دا ده چي که مال د أجنبي سره نه وي بلکي د ميت د لوڼو سره وي نو له هغه څخه د لوڼو تر حصې ورکولو وروسته دي قاضي باقي مال بير ته د لوڼو سره پرېږدي او داسي دي نه کوي چي هغه باقي مال ځني واخلي او د خپل ځان يا د بل چا سره يې کښېږدي، او د "تصادقوا" د قيد فايده دا ده چي که أجنبي او وارثان د زوی پر مفقود والي متفق نه وي بلکي أجنبي دا اقرار وکړي چي مفقود د خپل پلار تر مرګ مخکي مړ سوی دی نو په دې صورت کي به د ميّت دوو لوڼو ته د نصف پر ځای دوه ثلثه ورکول کيږي. (بناية ج:۶، ص:۸۲۰)

ونظيرهذا الحمل إلخ: فرمايي چي څرنګه د مفقود په وجه نيم ميراث را اګر ځول کيږي او موقوف کيږي همدسي به د حمل په وجه هم د يوه نر بچي (زوی) ميراث را ګرځول کيږي، يعني که يو سړی مړ سي او د هغه ښځه حامله وي نو د حمل په وجه به د مفتیٰ به قول مطابق د يوه نر بچي ميراث موقوف کيږي، او که چيري د حمل سره يو داسي وارث وي چي هغه د حمل په وجه محرومېدونکی او ساقطېدونکی نه وي لکه زوی او نيکه، نو د مفقود د خوند په څير به هغه ته هم له ميراث څخه خپله حصه ورکول کيږي، او که هغه داسي وارث وي د حمل په وجه محروميږي لکه د ميّت لمسی او د ميّت ورور، نو هغه ته به هيڅ شی نه ورکول کيږي، او که د وارث حصه د حمل په وجه کميږي او زياتيږي لکه د حمل د مړ والي په صورت کي چي مور د ثُلث مستحقه ده او د حمل د ژوندی والي په صورت کي هغه د سُدس مستحقه ده، نو هغې ته به أقل يعني سُدس ورکول کيږي، ځکه چي أقلّ متيقن وي. صاحب د هدايې فرمايي چي د دې مسئلې نور وضاحت او تفصيل په كفايةُ المنتهي کي ذکر سوی دی. فقط والله أعلم



كِتَابُ الشَّرِكَةُ

(دا) كتاب د نكاح (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: مخكې تر دې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله كتابُ المفقود بيان كړى، او اوس كتابُ الشركة بيانوي، كتابُ الشركة يې ځكه د كتابُ المفقود سره متصل بيان كړى دى چې څرنګه د مفقود مال د حاضرينو سره امانت وي هم دارنګه د شركت مال هم د دواړو شريكانو په مينځ كې امانت وي، او د علمو أموالو په څير د مفقود په مال كې هم اشتراك وي.

شِرْكَة او شَرِكَة د سمع د باب مصدر دى په معنىٰ سره د "شريک کېدلو". په يو شي كې د دوو خلكو يا څو خلكو شريكېدلو ته "شركت" وايي.

الشَّرِكَةُ جَائِزَةٌ شركت كول جائز دي لِأَنَّهُ ﷺ بُعِثَ وَالنَّاسُ يَتَعَامَلُونَ بِهَا ځكه كله چې نبي كريم ﷺ [أمت ته] وليږلى سو نو په هغه زمانه كې د خلكو د شركت معامله كول فَقَرَّرَهُمْ عَلَيْهِ نو نبي كريم ﷺ هغوى پر دې باقي پرېښوول.

اللغات: ﴿بُعِثَ﴾ د فتح له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده: استول، لېږل. ﴿قرّرنا﴾ د تفعيل ماضي ده: باقي ساتل، باقي پرېښوول.

د شركت دوه بنيادي قسمونه او د هغوى تعريفات

قَالَ: الشَّرِكَةُ ضَرْبَانِ: شَرِكَةُ أَمْلَاكٍ وَشَرِكَةُ عُقُودٍ فرمايي: شركت پر دوه قسمه دى: ① د ملكيتونو شركت، ② د عقدونو [معاملاتو] شركت فَشَرِكَةُ الْأَمْلَاكِ: الْعَيْنُ يَرِثُهَا رَجُلَانِ أَوْ يَشْتَرِيَانِهَا شركت أملاك دا دى: چې دوه خلك د يو شي وارثان سي يا دواړه يو شى [په ګډه] رانيسي فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ نو په دوى دواړو كې ديوه لپاره د بل په حصه كې د هغه له اجازت څخه بغير تصرّف كول جائز نه دي وَكُلٌّ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ كَالْأَجْنَبِيِّ او په دوى كې هر يو د خپل ملګري په حصه كې د پردي سړي په څير دى وَهَذِهِ الشَّرِكَةُ تَتَحَقَّقُ فِي غَيْرِ الْمَذْكُورِ فِي الْكِتَابِ او دا شركت په قدوري [متن] كې له ذكر كړى سوي صورت [وراثت او شراء] څخه بغير

[په بل طريقه سره] هم ثابتيږي كَمَا إِذَا اتَّهَبَ رَجُلَانِ عَيْنًا أَوْ مَلَكَاهَا بِالِاسْتِيلَاءِ لكه دوه خلک چي يو شی په هبه کي حاصل کړي يا په غلبه سره [په زوره] د يو شي مالکان سي أَوِ اخْتَلَطَ مَالُهُمَا مِنْ غَيْرِ صُنْعِ أَحَدِهِمَا أَوْ بِخَلْطِهِمَا خَلْطًا يَمْنَعُ التَّمْيِيزَ رَأْسًا أَوْ إِلَّا بِحَرَجٍ يا [مثلاً] د دوو خلکو مال (د يوه له فعل څخه بغير يا د دواړو په ګډولو) داسي سره ګډ سي چي د مالونو په مينځ کي توپير کول اسره جلال کول] ناممکن وي يا ممکن وي خو په تکليف سره وَيَجُوزُ بَيْعُ أَحَدِهِمَا نَصِيبَهُ مِنْ شَرِيكِهِ فِي جَمِيعِ الصُّوَرِ وَمِنْ غَيْرِ شَرِيكِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ او په ټولو صورتونو کي له دواړو شريکانو څخه د هر يوه لپاره پر بل شريک خپله حصه خرڅول جائز دي او د شريک له اجازت څخه بغير پر بل چا [هم] خرڅول جائز دي إِلَّا فِي صُورَةِ الْخَلْطِ وَالِاخْتِلَاطِ فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ليکن د ګډولو او ګډيدلو په صورت کي [فقط] د شريک په اجازت سره جائز دي وَقَدْ بَيَّنَّا الْفَرْقَ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او په كفاية المنتهي کي موږ فرق بيان کړی دی وَالضَّرْبُ الثَّانِي شَرِكَةُ الْعُقُودِ او دويم قسم شرکت عقود دی وَرُكْنُهَا الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ او د هغه رکن إيجاب وقبول دی وَهُوَ: أَنْ يَقُولَ أَحَدُهُمَا: شَارَكْتُكَ فِي كَذَا وَكَذَا وَيَقُولُ الْآخَرُ: قَبِلْتُ او هغه دا دی: چي په دوو خلکو کي يو سړی داسي ووايي: ما ستا سره په فلاني او فلاني شي کي شرکت وکړی ايعني ستا سره په فلاني شي يا فلاني کار کي شرکت کوم] او دويم سړی ووايي: چي ما قبول کړی وَشَرْطُهُ: أَنْ يَكُونَ التَّصَرُّفُ الْمَعْقُودُ عَلَيْهِ عَقْدَ الشَّرِكَةِ قَابِلًا لِلْوَكَالَةِ او د هغه شرط دا دی: چي پر کوم شي د شرکت عقد واقع سوی وي هغه به د وکالت قابل وي لِيَكُونَ مَا يُسْتَفَادُ بِالتَّصَرُّفِ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا د دې لپاره چي په تصرّف سره حاصليدونکی مال د دوی په مينځ کي مشترک سي فَيَتَحَقَّقُ حُكْمُهُ الْمَطْلُوبُ مِنْهُ او د شرکت مطلوب [او مقصد] حاصل سي.

اللغات: ﴿اتّهب﴾ د افتعال ماضي ده: د هبې په توګه حاصلول (ترلاسه کول). په هديه کي حاصلول. ﴿الاستيلاء﴾ د افتعال اسم مصدر دی: غلبه. قبضه. ﴿صنع﴾ د فتح مصدر دی: کول (يو کار کول). جوړول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي شرکت پر دوه قسمه دی: ① شرکت أملاک. شرکت عقود.

(١)... شرکت أملاک دا دی چي مثلاً دوه ورونه په مشترکه توګه د يو شي وارثان سي. يا مثلاً دوه خلک په ګډه يو شی رانيسي. يا دوو خلکو ته په مشترکه توګه يو شی هديه کړی سي. يا دوه خلک

په زوره (قهراً) له كفارو څخه يو شی واخلي او په مشتركه توګه پر هغه قابض سي. يا دوو خلكو مال داسي سره ګډ سي چي د هغه تر مينځ امتياز او توپير كول مشكل سي. مثلاً ديوه سړي غنم دبل سړي په غنمو ګډ سي. يا ديوه غنم دبل په اُوربشو ګډ سي او په ډېر تكليف دواړه سره جلا كيږي. نو دا ټوله صورتونه په "شركت أملاک" كي داخل دي. د دې صورتونو حكم دا دی چي يو شريک دبل شريک له اجازت او رضا څخه بغير په مشترک مال كي تصرّف نه سي كولای. لېكن يو شريک پر بل شريک خپله حصه خرڅولای سي. او له شريک څخه بغېر پر بل دريم سړي هم خپله حصه خرڅولای سي برابره ده له خپل شريک څخه اجازت واخلي يا يې نه واخلي. لېكن د خلط ملط او ګډېدلو په صورت كي يو شريک دبل شريک له اجازې څخه بغير پر دريم سړي خپله حصه نه سي خرڅولای. ځكه چي د اختلاط او خلط والي په صورت كي هر. هر شريک د هرې دانې مالک دی او ښكاره خبره ده چي كله بائع پر دريم سړي خپله حصه خرڅه كړي نو هغه به مشتري ته د خپل شريک د حصې او ملكيت وركونكی وګرځي. حالانكي دبل شريک له اجازت څخه بغير د هغه په مال كي تصرّف كول جائز نه دي. نو ځكه مورږ د خلط والي په صورت كي دبل شريک اجازت او رضا ضروري ګرځولې ده.

د دې په خلاف كه چيري په شراء، وراثت يا هبه سره دوو خلكو ته په مشتركه توګه يو مال حاصل سوی وي نو هغه مال به بالكل له ابتداء څخه د دوی په مينځ كي مشترک وي او خرڅونكی شريک به د خپلې حصې خرڅونكی وي، ځكه څرنګه چي د هغه حصه په خرڅ كړی سوي مال كي ستا همداسي په پاته سوي مال كي هم ستا او كه هغه په خرڅولو سره د دويم شريک په مشتركه حصه كي تصرف كوي نو د دويم شريک د حصې په پرېښوولو سره خپل مشترک مال هم هغه ته وركوي. لهذا د دواړو حصې برابري دي او يوه شريک ته هم له بل څخه دا جازت اخيستلو ضرورت نسته. همدا هغه فرق دی كوم چي په كفايةُ المنتهي كي ذكر سوی دی. (أحسن الهداية)

(٢)... د شركت دويم قسم شركت عقود دی. يعني په عقد او معامله كي دوه يا څو خلک شريكېدل. دا قسم په ايجاب او قبول سره منعقَد كيږي. خو شرط دا دی چي پر كوم شي چي عقد (معامله) واقع سوی وي هغه به د وكالت لائق وي، د دې لپاره چي په عقد سره حاصلېدونكې نفع د دوی په مينځ كي مشتركه كړی سي. صاحب د كتاب په دې شرط "قابل للوكالة" سره د لرګيو او بوټو او د ښكار كولو له عقد څخه احتراز كړی دی. ځكه چي په دې صورتونو كي فقط د فاعل او مباشر ملكيت ثابتيږي او په هغه كي اشتراک نه راځي (د مباشر معنیٰ ده "په خپله كار كونكی" يعني كوم شريک چي په خپله بوټي ټولوي يا ښكار كوي. فقط د هغه ملكيت پكښې ثابتيږي او اشتراک نه پكښې راځي). (بنايه)

د "شرکتِ عقود" أقسام او د "شرکتِ مفاوضه" تعریف

ثُمَّ هِيَ أَرْبَعَةُ أَوْجُهٍ: مُفَاوَضَةٌ وَعِنَانٌ وَشَرِكَةُ الصَّنَائِعِ وَشَرِكَةُ الْوُجُوهِ بیا شرکتِ عقود پر څلور قسمه دي: ① شرکتِ مفاوضه ② شرکتِ عنان ③ شرکتِ صنائع ④ شرکتِ وجوه فَأَمَّا شَرِكَةُ الْمُفَاوَضَةِ فَهِيَ أَنْ يَشْتَرِكَ الرَّجُلَانِ فَيَتَسَاوَيَانِ فِي مَالِهِمَا وَتَصَرُّفِهِمَا وَدَيْنِهِمَا شرکتِ مفاوضه دا دي چې دوه خلک شرکت وکړي او دواړه په مال کې او په تصرّف کې او په قرض کې برابر وي لِأَنَّهَا شَرِكَةٌ عَامَّةٌ فِي جَمِيعِ التِّجَارَاتِ ځکه چې دا شرکت په ټولو تجاراتو کې عام دی يُفَوِّضُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَمْرَ الشَّرِكَةِ إِلَى صَاحِبِهِ عَلَى الْإِطْلَاقِ [او] هر شریک علی الإطلاق د شرکت معامله خپل ملګري ته حواله کوي إِذْ هِيَ مِنَ الْمُسَاوَاةِ ځکه چې مفاوضه د برابر والي په معنیٰ سره ده قَالَ قَائِلُهُمْ: "لَا يُصْلِحُ النَّاسُ فَوْضَى لَا سَرَاةَ لَهُمْ يو شاعر ویلي دي: "کله چې خلک ټوله برابر وي او د هغو لپاره هيڅ مشر نه وي نو داسي خلک سمېدلای نه سي ايعني کوم قوم چې يو هوښيار مشر او سردار نه لري هغه ترقي نه سي کولای، ځکه چې د دې قوم د شخړو او لانجو د حل کولو لپاره او د صلحي او روغي لپاره به څوک نه وي. او ځکه چې د چا مشر معلوم نه وي نو په هغه کې به څرنګه سمون راسي] وَلَا سَرَاةَ إِذَا جُهَّالُهُمْ سَادُوا" او که جاهلان د خلکو مشران جوړ سي نو دا مشران نه دي [مطلب دا چې که د قوم مشر جاهل وي نو داسي دی لکه هغوی چې مشر نه لري، ځکه چې جاهل مشر پر مشر نه شمارل کيږي، لکه څرنګه چې ویل کيږي: چې مشر يې غمبر وي نو اختر به يې ماځيګر وي] أَيْ مُتَسَاوِينَ له فَوْضَى څخه مراد متساويين [برابر خلک] دي [نو معلومه سوه چې مفاوضه د مساوات په معنیٰ سره ده] فَلَا بُدَّ مِنْ تَحْقِيقِ الْمُسَاوَاةِ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً لهذا په ابتداء او انتهاء دواړو کې د مساوات ثابتېدل ضروري دي وَذَلِكَ فِي الْمَالِ وَالْمُرَادُ بِهِ مَا تَصِحُّ الشَّرِكَةُ فِيهِ او دا مساوات به په داسي مال کې وي چې په هغه کې شرکت صحیح کيږي وَلَا يُعْتَبَرُ التَّفَاضُلُ فِيمَا لَا يَصِحُّ الشَّرِكَةُ فِيهِ او په کوم مال کې چې شرکت نه صحیح کيږي په هغه کې د تفاضل اعتبار نه کيږي وَكَذَا فِي التَّصَرُّفِ همدارنګه په تصرّف کې هم مساوات ضروري دي لِأَنَّهُ لَوْ مَلَكَ أَحَدُهُمَا تَصَرُّفًا لَا يَمْلِكُ الْآخَرُ ځکه که يو شريک د داسي تصرّف مالک سي چې دويم شريک د هغه مالک نه وي لَفَاتَ التَّسَاوِي نو مساوات به فوت سي وَكَذَلِكَ فِي الدَّيْنِ همدارنګه د قرض په معامله کې هم

مساوات ضروري دی لِمَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى د هغه دليل په وجه چي هغه به موږ انشاء الله بيان کړو وَهٰذِهِ الشِّرْكَةُ جَائِزَةٌ عِنْدَنَا اسْتِحْسَانًا او دا شرکت زموږ په نېز استحساناً جائز دی وَفِي الْقِيَاسِ لَا تَجُوزُ او قياساً جائز نه دی وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دی وَقَالَ مَالِكٌ: لَا أَعْرِفُ مَا الْمُفَاوَضَةُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زه بالکل مفاوضه پېژنم نه! وَجْهُ الْقِيَاسِ: أَنَّهَا تَضَمَّنَتِ الْوَكَالَةَ بِمَجْهُولِ الْجِنْسِ وَالْكَفَالَةَ بِمَجْهُولٍ د قياس دليل دا دی: چي عقد مفاوضه مجهولُ الجنس وکالت ته او مجهول کفالت ته متضمن [شامل] دی [يعني په عقد مفاوضه کي اوس [ابتداءً] دا خبره معلومه نه ده چي څه شي رانيسي او څه کار کوي!؟] وَكُلُّ ذٰلِكَ بِانْفِرَادِهِ فَاسِدٌ حالانکي داسي وکالت او کفالت په انفرادي توګه فاسد دی [يعني يوازي مجهول وکالت او يوازي مجهول کفالت هم فاسد دی، لهذا چي دواړه سره يو ځای وي نو هم به فاسد وي] وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ قَوْلُهُ ﷺ [1]: فَاوِضُوا فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ د استحسان دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: تاسي عقدِ مفاوضه کوئ! ځکه چي په دې کي غټ برکت دی وَكَذَا النَّاسُ يُعَامِلُونَهَا مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ همدارنګه خلک له څه نکير [بنديز او ممانعت] څخه بغير په خپل مينځ کي عقدِ مفاوضه کوی وَبِهِ يُتْرَكُ الْقِيَاسُ او په داسي تعامُل سره قياس پرېښوول کيږي وَالْجَهَالَةُ مُتَحَمَّلَةٌ تَبَعًا او د وکالت او کفالت والا جهالت تبعاً برداشت کړی سوی دی [يعني په وکالت او کفالت کي چي کوم جهالت دی هغه د تابع په توګه دی. يعني تابع دی أصل نه دی، نو ځکه به هغه برداشت کيږي او څه پروا به نه په کيږي] كَمَا فِي الْمُضَارَبَةِ لکه څرنګه چي په مضاربت کي برداشت کړی سوی دی وَلَا تَنْعَقِدُ إِلَّا بِلَفْظَةِ الْمُفَاوَضَةِ او شرکت مفاوضه فقط د "مفاوضه" په لفظ سره منعقد کيږي لِبُعْدِ شَرَائِطِهَا عَنْ عِلْمِ الْعَوَامِّ ځکه چي د شرکت مفاوضه شرطونه د عوامو له علم څخه ليري وي [يعني عوام د دې په شرائطو نا خبر وي] حَتّٰى لَوْ بَيَّنَا جَمِيعَ مَا تَقْتَضِيهِ تر دې که دواړه شريکان د ټولو ضروري شرطونو وضاحت وکړي تَجُوزُ نو جائز دي [مطلب دا چي که يو شريک د مفاوضې لفظ نه وواېي خو د مفاوضې شرطونه بيان کړي، نو بيا هم مفاوضه منعقد کيږي. ځکه چي اعتبار معنیٰ لره دی او معنیٰ بيان کړی سوه] لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْمَعْنٰى ځکه چي [أصلاً] اعتبار معنیٰ لره دی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب التجارات باب الشركة والمضاربة رقم الحديث: ۲۲۸۹

اللغات: ﴿أوجه﴾ جمع د "وَجْهٌ" ده: صورتونه، قسمونه. ﴿يتساويا﴾ د تفاعل مضارع ده: برابرېدل. ﴿مساواة﴾ د مفاعلې مصدر دی: برابرېدل، يو شی د بل شي مثل کېدل، برابر والی، برابري. ﴿فَوْضى﴾ برابر، مساوي، سره يو شی، لکه څرنګه چي ويل کيږي: قَوْمٌ فَوْضى: دا هغه قوم ته وايي چي ټوله سره برابر وي او هيڅ مشر او رئيس نه لري. او ويل کيږي مَالٌ فَوْضى بينهما: يعني دا مال د دوی په مينځ کي په مساوي توګه سره ګډ دی. هر يو يې استعمالولای سي. ﴿سَراة﴾ جمع د سَرِيٌّ ده: رئيس، سردار، مشر. سَرَاةٌ په أصل کي سَرَيَةٌ پر وزن د فَعَلَةٌ وو (لکه طَلَبَةٌ) بيا ياء په الف سره بدله سوه سَرَاةٌ سو. سَرِيٌّ پر وزن د فَعِيلٌ دی. او د فعيل جمع پر وزن د فَعَلَة نه راځي، بس فقط دغه سَرِيٌّ دی چي جمع يې سَرَاةٌ راغلې ده په عربي کي د دې بل مثال نسته. صاحب د مصباح وايي: "وَالسَّرِيُّ: الرَّئِيْسُ. وَالْجَمْعُ سَرَاةٌ. وَهُوَ جَمْعٌ عَزِيزٌ لَا يَكَادُ يُوجَدُ لَهُ نَظِيرٌ. لِأَنَّهُ لَا يُجْمَعُ فَعِيْلٌ عَلٰى فَعَلَةٍ". ﴿سادوا﴾ د نصر ماضي ده: سردار کېدل، مشر کېدل. ﴿تفاضل﴾ د تفاعل مصدر دی: يو له بل څخه زياتېدل، اضافه کېدل. ﴿بُعْد﴾ ليري والی. ﴿تضمنت﴾ د تفعل ماضي ده: مشتمل کېدل، شاملېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د شرکت عقود څلور اقسام بيان سوي دي: ① مفاوضه. ② عنان. ③ شرکت صنائع. ④ شرکت وجوه. په دوی کي اول شرکت مفاوضه بيان سوی دی. شرکت مفاوضه دا دی چي دوه خلک په خپل مينځ کي د إيجاب او قبول په ذريعه په دې توګه د شرکت عقد وکړي چي هغوی دواړه به په مال کي هم مساوي (برابر) وي او په تصرف او دَين کي به هم برابر وي. ځکه چي شرکت مفاوضه عام دی او د تجارت ټولو صورتونو ته شامل او داخل دی او په دواړو شريکانو کي هر هر شريک على الإطلاق (بدون القيد) خپل ملګري (شريک) ته پوره اختيار ورکوي. ځکه چي د مفاوضه معنىٰ همدا ده "مساوات او برابري". لکه څرنګه چي د عربو يو شاعر مفاوضه د مساوات او برابري په معنىٰ سره استعمال کړې ده. او برابري هغه وخت ثابتيږي کله چي پر يوه شريک هم هيڅ قيد او پابندي نه وي او هريو په تصرف کي آزاد وي. او د شرکت مفاوضه د وقوع او تحقق لپاره دا ضروري دي چي مال به د شرکت قابل وي. يعني په کوم مال کي چي عقد مفاوضه وسي هغه به دارهم او دنانير وي. عُروض او عقار به نه وي. ځکه چي په عُروض او عقار کي شرکت نه صحيح کيږي. ځکه چي په هغه کي په کمي بيشي (کمښت او زياتوب) سره عقد فاسديږي.

د عقد مفاوضه د صحت لپاره دا هم ضروري دي چي په دواړو شريکانو کي به د تصرف أهليت وي. او د قرض او داسي نورو په معامله کي هم برابري ضروري ده. او د شرکت مفاوضه جواز استحساناً دی. لېکن قياس د دې شرکت د جواز منکر دی. امام شافعي رَحِمَهُ الله هم د قياس سره دی. او امام مالک

خو بالكل د شركتِ مفاوضه د وجود انكار كړی دی؛ د قياس دليل دا دی چي شركت مفاوضه د مجهولُ الجنس وكالت او د مجهول كفالت ته شامل وي حالانكي په انفرادي توګه د مجهول وكالت هم فاسد دی او كفالت يې هم فاسد دی، لهذا كله چي په انفرادي توګه دا فاسد دي نو د عقد مفاوضه په ضمن كي به هم فاسد وي او د دې په وجه به عقدِ مفاوضه هم فاسد وي، ځكه كوم شی چي فاسد لره متضمن او شامل وي، هغه هم فاسد وي.

د استحسان دليل دا حديث دی: "فَاوِضُوْا فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ" (يعني تاسي عقد مفاوضه كوئ، ځكه چي په دې كي زيات بركت دی)، په دې حديث سره په ښكاره توګه دا خبره ثابتيږي چي عقدِ مفاوضه صحيح او جائز دی، په فتحُ القدير او بنايه كي ذكر سوي دي چي دا حديث غريب دی او د دې مضمونٌ سره نه لګيږي خو د دغه حديث په معنیٰ سره په ابن ماجه كي د صالح بن صُهيب په حواله سره دا حديث ذكر سوی دی: "ثلاثٌ فيهنّ البركة: البيعُ إلى أجل، والمفاوضة، واختلاط البُرّ للشعير للبيت لا للبيع" (يعني په دريو شيانو كي بركت دی: په ميعادي (مياډي) بيع كي، په عقدِ مفاوضه كي، او د كور لپاره د غنمو او اُوربشو په ګډولو كي، نه د خرڅولو لپاره). د شركت مفاوضه د جواز دليل دا دی چي په خلكو كي د عقدِ مفاوضه تعامل جاري وو كه چيري دا ممنوع وای نو د اُمّت فقهاؤ او علماؤ به هيڅ كله هم د دې جواز زغملي نه وای، نو د داسي تعامل په وجه به قياس پرېښوول كيږي. او په دې كي چي د وكالت بالمجهول او كفالت بالمجهول په حواله سره چي كوم جهالت وي هغه تبعاً وي قصداً نه وي، او داسي كېدای سي چي يو شی دي قصداً صحيح نه وي لېكن تبعاً دي صحيح وي، لكه عقد مضاربت چي كه څه هم "د مجهول شي د رانيولو لپاره د وكيل پر جوړولو" متضمن او مشتمل وي لېكن دا تضمن تبعاً وي نو ځكه مضاربت صحيح دیَ. حالانكي قصداً او أصلاً توكيل بشراء المجهول فاسد دی، همداسي عقدِ مفاوضه هم تبعاً وكالت بالمجهول ته د متضمن كېدلو په وجه صحيح دی.

ولا تنعقد إلخ: فرمايي څرنګه چي زياتره خلك د مفاوضې له أحكامو او مسائلو څخه نا واقف دي نو ځكه به دا عقد فقط د "مفاوضه" په لفظ سره صحيح كيږي، ها! كه چيري متفاوضان د دې معاني او مفهوم د خلكو مخته واضح كړي نو بيا به په نورو الفاظو سره هم دا عقد منعقد كيږي.

شركتِ مفاوضه او د شريكينو مذهب

قَالَ: فَيَجُوزُ بَيْنَ الْحُرَّيْنِ الْكَبِيرَيْنِ مُسْلِمَيْنِ أَوْ ذِمِّيَّيْنِ فرمايي: عقدِ مفاوضه د دوو بالغو، آزادو مسلمانانو يا ذميانو په مينځ كي جائز دی لِتَحَقُّقِ التَّسَاوِيْ ځكه چي (په دوی كي) مساوات موجود دي وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا كِتَابِيًّا وَالْآخَرُ مَجُوسِيًّا او كه يو (شريک) كتابي وي او بل مجوسي تَجُوزُ أَيْضًا نو هم جائز دی لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړی وَلَا تَجُوزُ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ

وَلَا بَيْنَ الصَّبِيِّ وَالْبَالِغِ او د آزاد او غلام او د بچي او بالغ په مينځ کي عقد مفاوضه جائز نه دی لِانْعِدَامِ الْمُسَاوَاةِ ځکه چي [په دوی کي] مساوات معدوم دی لِأَنَّ الْحُرَّ الْبَالِغَ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ وَالْكَفَالَةَ ځکه چي آزاد او بالغ د تصرّف او کفالت ملکيت لري وَالْمَمْلُوكُ لَا يَمْلِكُ وَاحِدًا مِنْهُمَا إِلَّا بِإِذْنِ الْمَوْلَى او مملوک [غلام] د خپل مالک له اجازت څخه بغير په دې دواړو کي د يوه شي ملکيت هم نه لري وَالصَّبِيُّ لَا يَمْلِكُ الْكَفَالَةَ وَلَا يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ إِلَّا بِإِذْنِ الْوَلِيِّ او بچی هم نه د کفالت ملکيت لري او نه د ولي له اجازت څخه بغير د تصرّف ملکيت لري قَالَ: وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ فرمايي: چي د مسلمان او کافر په مينځ کي هم عقد مفاوضه جائز نه دی وَهَذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ*: يَجُوزُ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز دی لِلتَّسَاوِي بَيْنَهُمَا فِي الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ ځکه چي د دوی په مينځ کي په وکالت او کفالت کي مساوات وي وَلَا مُعْتَبَرَ بِزِيَادَةِ تَصَرُّفٍ يَمْلِكُهُ أَحَدُهُمَا او د تصرف هغه زياتوب لره هيڅ اعتبار نسته چي په دوی کي يو [شريک] د هغه مالک وي كَالْمُفَاوَضَةِ بَيْنَ الشَّفْعَوِيِّ وَالْحَنَفِيِّ فَإِنَّهَا جَائِزَةٌ لکه د شافعي مسلکه او د حنفي مسلکه سړي په مينځ کي چي مفاوضه جائز ده وَيَتَفَاوَتَانِ فِي التَّصَرُّفِ فِي مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ که څه هم دوی دواړه په داسي ذبيحه کي په تصرّف کولو کي يو له بل څخه مختلف دي چي پر هغې بسم الله ويل سوې نه وي إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ خو [د مسلمان او کافر په مينځ کي عقد مفاوضه] مکروه دی لِأَنَّ الذِّمِّيَّ لَا يَهْتَدِي إِلَى الْجَائِزِ مِنَ الْعُقُودِ ځکه چي ذمي د جائزو عقودو وطرف ته هدايت نه مومي [مطلب دا چي ذمي ته د جائزو عقودو هدايت حاصل نه وي] وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَا تَسَاوِيَ فِي التَّصَرُّفِ د طرفينو دليل دا دی: چي په تصرف کي مساوات ضروري نه دی فَإِنَّ الذِّمِّيَّ لَوِ اشْتَرَى بِرَأْسِ الْمَالِ خُمُورًا أَوْ خَنَازِيرَ ځکه که ذمي د شرکت په مال سره شراب يا خنزير رانيسي صَحَّ نو صحيح دي وَلَوِ اشْتَرَاهَا مُسْلِمٌ او که يو مسلمان يې رانيسي لَا يَصِحُّ نو صحيح نه دي وَلَا يَجُوزُ بَيْنَ

---

* القول الراجح قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٧٠). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٢]

الْعَبْدَيْنِ وَلَا بَيْنَ الصَّبِيَّيْنِ وَلَا بَيْنَ الْمُكَاتَبَيْنِ او د دوو غلامانو، دوو بچیانو او دوو مکاتبینو په مینځ کي عقد مفاوضه جائز نه دی لِانْعِدَامِ صِحَّةِ الْكَفَالَةِ ځکه چي په دوی کي د کفالت صفت معدوم دی وَفِي كُلِّ مَوْضِعٍ لَمْ تَصِحَّ الْمُفَاوَضَةُ لِفَقْدِ شَرْطِهَا وَلَا يُشْتَرَطُ ذٰلِكَ فِي الْعِنَانِ كَانَ عِنَانًا او هر هغه ځای چیري چي د شرط د فقدان په وجه مفاوضه صحیح نه وي او هغه شرط په عنان کي مشروط نه وي نو عقد به عنان وي لِاسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِ الْعِنَانِ ځکه چي په هغه کي دعنان شرطونه جمع دي إِذْ هُوَ قَدْ يَكُونُ خَاصًّا وَقَدْ يَكُونُ عَامًّا ځکه چي شرکت عنان کله خاص وي او کله عام وي.

اللغات: ﴿التساوی﴾ د تفاعل مصدر دی: یو د بل سره برابرېدل (یو تربله برابرېدل) ﴿خمور﴾ جمع د خَمْرٌ ده: شراب.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د دوو آزادو، بالغو مسلمانانو او ذمیانو په مینځ کي عقد مفاوضه جائز دی. ځکه چي په دوی کي مساوات موجود دی، همدارنګه که یوشریک کتابي وي او بل مجوسي وي نو د دوی په مینځ کي هم عقد مفاوضه جائز دی، ځکه چي ټوله کفر یو ملت (ملة واحده) دی او په مجوسي او کتابي کي مساوات موجود دی. ها! په آزاد او غلام کي او په بالغ او نابالغ کي عقد مفاوضه صحیح نه دی، ځکه چي په دوی کي مساوات معدوم دی. ځکه چي آزاد او بالغ د تصرف او کفالت دواړو مالک دی او غلام د مالک له اجازت څخه بغیر د هیڅ شي هم مالک نه دی، لهذا په دې حواله سره په دوی کي مساوات معدوم دی، او کله چي مساوات معدوم دی نو ښکاره خبره ده چي مفاوضه به هم معدومه وي ځکه چي همدا مفاوضه مساوات دی.

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مسلمان او کافر په مینځ کي عقد مفاوضه صحیح نه دی. لیکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز صحیح دی: ځکه چي په کفالت او وکالت کي د مسلمان او کافر په مینځ کي مساوات دی او په تصرف کي فوقیت او اختلاف لره اعتبار نسته. د دې مثال دا دی لکه یو سړی چي قصداً د ښاروي ذبح کولو په وخت کي تسمیه (بسم الله) نه ووایي نو د شافعي سړي په نېز هغه ښاروی حلال دی لیکن د حنفي سړي په نېز حلال نه دی. خو د دې اختلاف باوجود د شافعي او حنفي په مینځ کي عقد مفاوضه جائز دی، لهذا د مسلمان او کافر په مینځ کي چي په تصرف کي څه اختلاف دی، هغه لره هم اعتبار نسته. لنډه دا چي ځرنګه د حنفي او شافعي په مینځ کي عقد مفاوضه جائز دی همداسي د مسلمان او کافر په مینځ کي هم جائز دی خو مکروه دی. ځکه چي ذمي د جائزو حقوقو کوښښ نه کوي او ځیني ځایونه د شریعت مطابق کار نه کوي.

د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى چې د مسلمان او كافر په تصرف کې مساوات نشته. ځکه که ذمي په راسُ المال او أصل مال سره شراب او خنزير رانيسي نو صحيح دي. ليکن د مسلمانانو لپاره د دې رانيول صحيح نه ده. لنډه دا چې د مفاوضې د صحت لپاره مساوات فی التصرف ضروري دی حالانکي په مسلمان او كافر كې د تصرف په حواله سره مساوات معدوم دى نو په دې وجه دا عقد جائز نه دی.

ولايجو إلخ: فرمايي چې په دوو غلامانو، دوو بچيانو او دوو مكاتبو غلامانو کې هم عقد مفاوضه صحيح نه دی. ځکه چې عقد مفاوضه كفالت لره متضمن وي حالانکي له غلام، بچي او مكاتب څخه كفالت نه صحيح کيږي (يعني دا کسان كفيل نه سي جوړېدای). او که چيري دا کسان د كفالت له شرط څخه بغير عقد مفاوضه وکړي نو دا عقد له مفاوضه څخه عنان گرځي. ځکه چې عقد عنان کله خاص وي او کله عام وي ليکن عقد مفاوضه فقط عام وي. او نه خاص کيږي.

د "عقد مفاوضه" د شريکانو شرعي حيثيت

قَالَ: وَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ فرمايي: او عقد مفاوضه پر وكالت او كفالت منعقد کيږي أَمَّا الْوَكَالَةُ فَلِتَحَقُّقِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الشِّرْكَةُ فِي الْمَالِ پر وكالت (خو) به ځکه منعقد کيږي چې په وكالت سره د هغه مقصد يعني "په مال كې شركت" حاصل سي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه (مخکې) چې موږ د دې بيان وکړی وَأَمَّا الْكَفَالَةُ فَلِتَحَقُّقِ الْمُسَاوَاةِ فِيمَا هُوَ مِنْ مَوَاجِبِ التِّجَارَاتِ او پر كفاله ځکه به دا عقد منعقد کيږي چې د تجارت (كاروبار) په لوازماتو کي مساوات ثابت سي وَهُوَ تَوَجُّهُ الْمُطَالَبَةِ نَحْوَهُمَا جَمِيعًا او هغه دواړو شريکانو ته د مطالبې متوجه کېدل دي (يعني د كفالت مطلب دا دی چې د قرض مطالبه پر دواړو وي) قَالَ: وَمَا يَشْتَرِيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَكُونُ عَلَى الشِّرْكَةِ إِلَّا طَعَامَ أَهْلِهِ وَكِسْوَتَهُمْ وَكَذَا كِسْوَتُهُ وَكَذَا الْإِدَامُ فرمايي: او له شريکينو څخه چې هر شريک هم يو شی رانيسي هغه به د دوی په مينځ کې مشترک وي ماسوا د هغه د آل او اولاد له خوراک او د هغوی له جامو (كاليو) څخه او همدارنګه ماسوا د هغه له خپلو جامو او سالن (اكتغ) څخه لِأَنَّ مُقْتَضَى الْعَقْدِ الْمُسَاوَاةُ ځکه چې عقد مفاوضه تقاضا مساوات دی (يعني عقد مفاوضه د مساوات متقاضي دی) وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا قَائِمٌ مَقَامَ صَاحِبِهِ فِي التَّصَرُّفِ او په شريکينو کې هر يو شريک په تصرف کې د خپل ملګري قائم مقام دی وَلَكِنَّ شِرَاءَ أَحَدِهِمَا كَشِرَائِهِمَا او د يوه شريک شراء (رانيول) د دواړو د شراء قائم مقام ده إِلَّا مَا

اسْتِثْنَاءُهُ فِي الْكِتَابِ ماسوا له هغه شيانو څخه كوم چي يې په متن كي مستثنیٰ كړل وَهُوَ اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی لِأَنَّهُ مُسْتَثْنًى عَنِ الْمُفَاوَضَةِ لِلضَّرُورَةِ ځكه چي دا شيان د ضرورت پر بناء له مفاوضې څخه مستثنیٰ گرځول سوي دي فَإِنَّ الْحَاجَةَ الرَّاتِبَةَ مَعْلُومَةُ الْوُقُوعِ ځكه چي د ورځني ضروریاتو [خواک او داسي نورو] واقع كېدل معلوم دي وَلَا يُمْكِنُ إِيجَابُهُ عَلَى صَاحِبِهِ وَلَا التَّصَرُّفُ مِنْ مَالِهِ او دا [شيانو] پر خپل ملگري [شريک] لازمول او د هغه له مال څخه پوره كول ممكن نه دي وَلَا بُدَّ مِنَ الشِّرَاءِ فَيَخْتَصُّ بِهِ ضَرُورَةً او [څرنگه] چي [د دې شيانو] رانيول ضروري دی نو ځكه به د ضرورت پر بناء دوی خاص وي وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَكُونَ عَلَى الشَّرِكَةِ او قياس دا دی: چي دوی دي هم مشترک وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړی وَلِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَ بِالثَّمَنِ أَيُّهُمَا شَاءَ او بائع [اخرڅونكي] ته دا حق سته چي په دې دواړو شريكانو كي له هر يوه څخه وغواړي ثمن واخلي الْمُشْتَرِي بِالْأَصَالَةِ وَصَاحِبُهُ بِالْكَفَالَةِ له مشتري څخه د أصيل كېدلو په وجه اود هغه له ملگري [دويم شريک] څخه د كفيل كېدلو په وجه وَيَرْجِعُ الْكَفِيلُ عَلَى الْمُشْتَرِي بِحِصَّتِهِ مِمَّا أَدَّى بيا به كفيل [دويم شريک] له مشتري شريک د خپلې حصې په اندازه اداء كړی سوی قيمت اخلي لِأَنَّهُ قَضَى دَيْنًا عَلَيْهِ مِنْ مَالٍ مُشْتَرَكٍ بَيْنَهُمَا ځكه چي كفيل له مشترک څخه مال څخه د مشتري قرض [ثمن] اداء كړی دی قَالَ: وَمَا يَلْزَمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الدُّيُونِ بَدَلًا عَمَّا يَصِحُّ فِيهِ الِاشْتِرَاكُ فَالْآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ فرمايي: چي په كوم عقد [معامله] كي چي شركت صحيح وي د هغه په عوض كي چي پر هر شريک كوم قرض لازم سي نو دويم شريک به د هغه ضامن وي تَحْقِيقًا لِلْمُسَاوَاةِ د دې لپاره چي مساوات ثابت سي فَمِمَّا يَصِحُّ الِاشْتِرَاكُ فِيهِ: الشِّرَاءُ وَالْبَيْعُ وَالِاسْتِئْجَارُ نو هغه عقود چي په هغوی كي شركت صحيح كيږي دا دي: رانيول. په أجرت اخيستل [په كرايه نيول] وَمِنَ الْقِسْمِ الْآخَرِ الْجِنَايَةُ وَالنِّكَاحُ وَالْخُلْعُ وَالصُّلْحُ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ وَعَنِ النَّفَقَةِ او له دويم قسم څخه ايعني هغه عقود چي شركت نه پكښي صحيح كيږي هغه] د شريک جرم كول دي. نكاح كول دي. خلع كول دي. په قصداً قتل كي صلح كول دي. او د ښځي د نفقې په باره كي صلح كول دي.

اللغات: ﴿مواجب﴾ جمع د مُوْجِب ده: سبب، لازمي وجه. ﴿كسوة﴾ جامې، كالي (ملبوسات). ﴿إدام﴾ سالن، كتغ، ﴿راتبة﴾ دژوند او معمول، ورځني، همېشني. ﴿جناية﴾ جرم.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د عقد مفاوضې له دواړو شريكانو څخه به هر شريک د خپل شريک له طرفه وكيل هم وي او كفيل به هم وي، وكيل كېدل خو ځكه ضروري دي چي د شركت فی المال تر ثبوت وروسته شركت فی الربح هم ثابت سي، او كفيل كېدل ځكه ضروري دي چي كه چيري په دې تجارت كي نقصان يا قرض وسي نو هغه پر دواړو لازم سي او له دواړو څخه په مساوي توګه د هغه مطالبه وكړی سي.

قال وما يشتريه إلخ: د دې حاصل دا دی چي په دواړو شريكانو كي چي هر شريک د تجارت په نيت سره يو شی رانيسي هغه به د دوی په مينځ كي مشترک وي، لېكن د ژوند ضروريات او ورځني ضروري شيان به مشترک نه وي، نو كوم شريک چي د خپل ځان او أهل وعيال لپاره د خوراک او څښاک شيان رانيسي هغه به مشترک نه وي، ځكه چي ضرورتاً هغوی له مفاوضې څخه مستثنیٰ كړ ځول سوي دي، او د هغوی ضرورت هره ورځ پيښېږي او دا ضرورت واضح دی. لهذا د دې شيانو سره به مشتري خاص وي او بل يو به د هغه سره په دې كي نه شريک كيږي، دا حكم پر استحسان مبني دی، كنې د قياس تقاضا دا ده چي دا شيان دي هم مشترک وي، ځكه چي عقد مفاوضه د مساوات تقاضا كوي او مساوات په هغه صورت كي ثابتيږي كله چي شركت موجود سي.

وللبائع إلخ: فرمايي چي كه څه هم د ژوند ضروريات به په متفاوضينو كي مشترک نه وي، لېكن دويم شريک به د مشتري له طرفه كفيل وي، او بائع ته به اختيار وي كه وغواړي نو له مشتري يعني له أصيل څخه دي ثمن واخلي او كه وغواړي نو له دويم شريک يعني له كفيل څخه دي يې واخلي. او كه كفيل يې وركړې نو هغه دي له مشتري څخه د هغه د حصې په اندازه اداء كړی سوی ثمن واخلي. ځكه چي دغه كفيل د مشتري قرض (ثمن) له مشترک مال څخه اداء كړی دی حالانكي مبيع مشتركه نه ده. همدا حكم د هغه قرض هم دی چي هغه په دې دواړو شريكانو كي پر يوه شريک لازم سي او د داسي عقد په عوض كي لازم سي چي په هغه كي اشتراک صحيح وي لكه بيع او شراء. استيجار او داسي نور. نو دا قرض به پر دواړو لازم وي د دې لپاره چي مساوات ثابت سي. لېكن په كومو عقودو كي چي اشتراک صحيح نه وي لكه د جنايت ضمان (جرمانه)، د نكاح كولو مهر. بدلِ خلع او بدلِ صلح او داسي نور، نو په هغه كي به دويم شريک د مباشر (فاعل) شريک نه وي.

په مفاوضه کې د يوه شريک کفاله قبلول

قَالَ: وَلَوْكَفَلَ أَحَدُهُمَا بِمَالٍ عَنْ أَجْنَبِيٍّ فرمايي: که چيرې له دواړو شريکانو څخه يو شريک د أجنبي سړي له طرفه د مال کفالت وکړي لَزِمَ صَاحِبَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه پر ملګري هم هغه مال لازميږي وَقَالَا ۞: لَا يَلْزَمُهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې نه پر لازميږي لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ ځکه چې دا [کفاله] تبرّع ده وَلِهَذَا لَا يَصِحُّ مِنَ الصَّبِيِّ وَالْعَبْدِ الْمَأْذُونِ وَالْمُكَاتَبِ همدا وجه ده چې دبچي، مأذون غلام او مکاتب له طرفه کفاله نه صحيح کيږي وَلَوْصَدَرَ مِنَ الْمَرِيضِ او که چيرې [د مرضُ الموت] مريض کفاله وکړي يَصِحُّ مِنَ الثُّلُثِ نو د هغه د مال له دريمې حصې څخه صحيح کيږي وَصَارَ كَالْإِقْرَاضِ وَالْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ او دا د قرض ورکولو [قرض اداء کولو] او د نفس د کفالت کولو په څير سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَمُعَاوَضَةٌ بَقَاءً د امام صاحب دليل دا دی: چې دا [کفاله] ابتداءً تبرع ده او بقاءً معاوضه ده لِأَنَّهُ يَسْتَوْجِبُ الضَّمَانَ بِمَا يُؤَدِّي عَلَى الْمَكْفُولِ عَنْهُ إِذَا كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِهِ ځکه که چيرې کفاله د مکفول عنه په حکم سره وي نو پر مکفول عنه به د هغه له طرفه اداء کړې سوی ضمان واجب وي فَبِالنَّظَرِ إِلَى الْبَقَاءِ تَتَضَمَّنُهُ الْمُفَاوَضَةُ لهذا د بقاء وطرف ته په نظر کولو سره هغه لره مفاوضه شامليږي وَبِالنَّظَرِ إِلَى الِابْتِدَاءِ لَمْ تَصِحَّ مِمَّنْ ذَكَرَهُ او د ابتداء ايعني د تبرّع] وطرف په نظر کولو سره د بچې، غلام او مکاتب له طرفه دا نه صحيح کيږي وَتَصِحُّ مِنَ الثُّلُثِ مِنَ الْمَرِيضِ او د مريض د مال له دريمې حصې څخه صحيح کيږي بِخِلَافِ الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ په خلاف د کفاله بالنفس لِأَنَّهَا تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً ځکه چې کفاله بالنفس په ابتداء کې هم تبرّع ده او په انتهاء کې هم تبرّع ده وَأَمَّا الْإِقْرَاضُ او کوم چې د قرض ورکول دي ايعني د أجنبي له طرفه قرض اداء کول] فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يَلْزَمُ صَاحِبَهُ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چې دا هم د شريک پر ملګري لازميږي وَلَوْسُلِّمَ فَهُوَ إِعَارَةٌ او که دا تسليم کړی سي چې دا د هغه پر ملګري نه لازميږي نو دا به إعاره وي فَيَكُونُ لِمِثْلِهَا حُكْمُ عَيْنِهَا لَا حُكْمُ الْبَدَلِ او د دې مثل ته به د عين

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٧١). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٢]

حکم حاصل وي. نه د بدل حَتَّى لَا يَصِحَّ فِيهِ الْأَجَلُ تر دې چې په هغه کې به ميعاد [وخت ټاکل] صحيح نه وي فَلَا يَتَحَقَّقُ مُعَاوَضَةً لهذا هغه به د معاوضې په توګه ثابت نه سي وَلَوْ كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ او که چيري دا کفاله د مکفول عنه [أجنبي] له حکم څخه بغير وي لَمْ تَلْزَمْ صَاحِبَهُ فِي الصَّحِيحِ نو د صحيح قول مطابق د شريک [کفيل] پر ملګري نه لازميږي لِانْعِدَامِ مَعْنَى الْمُفَاوَضَةِ ځکه چي [په دې صورت کې] د مفاوضې معنیٰ معدومه ده وَمُطْلَقُ الْجَوَابِ فِي الْكِتَابِ مَحْمُولٌ عَلَى الْمُقَيَّدِ او د متن مطلق حکم پر مقيد محمول دی وَضَمَانُ الْغَصْبِ وَالِاسْتِهْلَاكِ بِمَنْزِلَةِ الْكَفَالَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د غصب او استهلاک ضمان د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د کفالت په درجه کي دی لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةٌ انْتِهَاءً ځکه چي هغه انتهاءً معاوضه ده.

اللغات: ﴿**کفل**﴾ د تفعيل ماضي ده: ضمانت اخيستل. ذمه واري اخيستل. کفاله بالمال: په خپله غاړه د يو چا د مال ذمه واري اخيستل (د يو چا د مال ذمه وار کېدل). ﴿**مأذون**﴾ اجازه ورکړی سوی، هغه غلام ته وايي چي د مالک له طرفه د تجارت او کاروبار کولو اجازه ورکول سوې وي. ﴿**مکفول عنه**﴾ د کوم سړي له طرفه چي شريک کفيل او ذمه وار جوړ سوي وي هغه ته مکفول عنه وايي. ﴿**کفاله بالنفس**﴾ د قاضي مخته د يو چا د حاضرولو ذمه واري اخيستل (مثلاً زيد قتل وکړي او قاضي د هغه طلب وکړي او خالد ذمه واري واخلي چي زه به هغه ستا مخته حاضروم. دې ته کفاله بالنفس وايي. دا په ابتداء او انتهاء دواړو کي تبرّع او احسان دی. ځکه چي په دې خالد ته هيڅ مال او پيسې نه حاصليږي).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که د عقد مفاوضې له دواړو شريکانو څخه يو شريک د يو داسي اجنبي له طرفه کفاله بالمال قبوله کړي کوم چي د دوی سره په کاروبار کي شريک نه وي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به پر دويم شريک هم دا کفاله لازم وي. لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به لازم نه وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دا عقد تبرّع او احسان دی. همدا وجه ده چي د بچي. غلام او مکاتب له طرفه د دې عقد قبوليت نه صحيح کيږي (يعني دوی کفاله نه سي قبلولای). همدارنګه که يو مريض دا عقد قبول وکړي نو د هغه د مال له دريمي حصې څخه معتبر کيږي. لهذا کوم شريک چي دا قبول کړي نو دا کفاله به د هغه تر ذات پورې محدوده وي او له هغه څخه به د دويم شريک وطرف ته نه

متعدي کيږي، او لکه څرنګه چي يو شريک د يو اجنبي قرض اداء کړي يا کفاله بالنفس قبوله کړي نو دويم شريک په هغه کي نه شريک کيږي، همداسي به دلته هم دغه کفاله بالمال پر دويم شريک نه لازميږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د دې کفالت دوه حيثيته دي: ① دا ابتداءً تبرع ده. ځکه چي نقط يو شريک هغه قبلوي، ② ليکن انتهاءً دا معاوضه او مفاوضه ده، ځکه کله چي موږ دويم شريک په دغه کفاله کي شريک کړو نو هغه او کفيل شريک به له مکفول عنه څخه دومره مال (پيسې) اخلي کوم چي دوی مکفول عنه ته ورکړی وي په دې شرط چي کفاله د مکفول عنه په حکم سره وي. اوس چي د ابتداء وطرف ته وکتل سي نو دا تبرّع ده او د انتهاء وطرف ته چي وکتل سي نو معاوضه او مفاوضه ده.

لهذا په "الاعتبار بالخواتم" باندي عمل کولو سره موږ دا معاوضه وګرځول او پر دويم شريک مو لازم کړه. پاته سوه د کفاله بالنفس مسئله؛ نو هغه د ابتداء او انتهاء په دواړو حالتونو کي تبرّع ده او په هغه کي کفيل له مکفول عنه څخه هيڅ شي واپس نه سي اخيستلای نو په دې وجه هغه کفاله پر دويم شريک نه لازميږي. او پاته سوه د قرض مسئله؛ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد په روايت کي دا هم پر دويم شريک لازميږي، لهذا په دې دوو مسئلو سره د امام صاحب په خلاف دليل نيول صحيح نه وي.

او که چيري موږ دا تسليم کړو چي د قرض اداء کول پر دويم شريک نه لازميږي نو بيا هم دا مفاوضه نه ده بلکي إعاره ده او مکفول عنه چي کفيل ته کوم مال واپس کوي هغه عين دی. بدل نه دی او په هغه کي ميعاد صحيح نه دی، نو په دې وجه به په هغه کي د معاوضې معنیٰ ثابته نه وي، او ښکاره خبره ده چي کله د معاوضې معنیٰ پکښې نه وي نو شرکت به هم ثابت نه وي.

او که چيري دا کفاله د مکفول عنه په حکم سره نه وي نو بيا خو دا سراسر احسان دی او د هيچا په نيز هم پر دويم شريک نه لازميږي، ځکه چي اوس بالکل د مفاوضې معنیٰ معدومه ده. او په متن کي چي کوم د "لزم صاحبه" حکم دی هغه لزوم په مکفول عنه سره مقيّد دی.

وضمان الغصب إلخ: که يو څوک د بل څامال غصب کړي يا يې هلاک کړي او يو شريک د هغه ذمې واري قبوله کړي او ضمان يې ورکړي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به دا هم د کفالت په حکم کي وي او پر دويم شريک به لازم وي، ځکه که څه هم دا ابتداءً تبرّع ده ليکن انتهاءً معاوضه ده. او په مخکني مسئله کي امام صاحب رَحِمَهُ الله د انتهاء اعتبار کړی دی لهذا دلته به هم د انتهاء اعتبار کيږي.

د یوه مفاوض شریک په مال کي اضافه راتلل


قَالَ: فَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَا لَا يَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ أَوْ وَهَبَ لَهُ وَوَصَلَ إِلَى يَدِهِ فرمايي: كه له دواړو شريكانو څخه يو د داسي مال وارث سي چي په هغه كي شركت نه صحيح كيږي يا يوه شريك ته مال هبه كړى سي او د هغه لاس ته ورسيږي بَطَلَتِ الْمُفَاوَضَةُ وَصَارَتْ عِنَانًا نو مفاوضه باطليږي او هغه شركت عنان ګرځي لِفَوَاتِ الْمُسَاوَاةِ فِيمَا يَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ ځكه چي په رأسُ المال كي مساوات نوت سو إِذْ هِيَ شَرْطٌ فِيهِ ابْتِدَاءً وَبَقَاءً حالانكي په دې عقد كي ابتداء او بقاءً مساوات ضروري دى وَهَذَا لِأَنَّ الْآخَرَ لَا يُشَارِكُهُ فِيمَا أَصَابَهُ او د دې [بطلان] يوه وجه دا [هم] ده چي كوم شريك ته دا مال رسېدلى دى په هغه كي دويم شريك د ده سره نه شريك كيږي لِانْعِدَامِ السَّبَبِ فِي حَقِّهِ ځكه چي د هغه په حق كي د شركت سبب معدوم دى [يعني د دويم شريك په حق كي وراثت او هبه نسته] إِلَّا أَنَّهَا تَنْقَلِبُ عِنَانًا لِلْإِمْكَانِ خو دا شركت به شركت عنان ګرځي فَإِنَّ الْمُسَاوَاةَ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهِ ځكه چي په عنان كي مساوات شرط نه دى وَلِدَوَامِهِ حُكْمُ الِابْتِدَاءِ او د هغه دوام [بقاء] ته د ابتداء حكم حاصل دى لِكَوْنِهِ غَيْرَ لَازِمٍ ځكه چي عنان غير لازم عقد دى فَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا عَرَضًا او كه له دواړو شريكانو څخه يو د څه سامان وارث سي فَهُوَ لَهُ وَلَا تَفْسُدُ الْمُفَاوَضَةُ نو هغه به د ده وي او عقد مفاوضه به نه باطليږي وَكَذَا الْعَقَارُ او همدا حكم د جايداد هم دى لِأَنَّهُ لَا تَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ ځكه چي په هغه كي شركت نه صحيح كيږي فَلَا تُشْتَرَطُ الْمُسَاوَاةُ فِيهِ لهذا په هغه كي به مساوات هم شرط نه وي.

اللغات: ﴿عرض﴾ سامان (له نغد مال [نقودو] څخه بغير نور شيان). ﴿عقار﴾ هر هغه ملكيت كوم چي ثابتُ الأصل وي يعني بل ځاى ته نه نقل كيږي لكه ځمكه، كور چي هغه ته جايداد وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه د عقد مفاوضې له دواړو شريكانو څخه يوه شريك ته په وراثت كي يو داسي مال حاصل سي چي په هغه كي شركت نه صحيح كيږي يا يوه شريك ته څه مال هديه كړى سي او هغه پر مال قبضه هم وكړي نو دوى په مينځ كي چي كوم عقد مفاوضه وو هغه باطليږي او دا شركت په شركت عنان بدليږي، ځكه چي په رأسُ المال كي مساوات فوت سو حالانكي په دې عقد كي په ابتداء او بقاء دواړو كي مساوات ضروري وو. او هغه معدوم سو. همدارنګه كوم شريك ته چي هبه يا وراثت حاصل سوى دى هغه يوازي د دې مال مالك دى او په دې

كي د دويم شريک هيڅ حق نسته، ځکه چې د هغه په حق کې د شرکت سبب نسته. نو په دې حواله سره به هم فقط وارث يا موهوب لهٗ شريک د دغه نوي حاصل کړې سوي مال سره خاص وي او مساوات به نه وي نو ځکه به شرکت مفاوضه باطليږي. لېکن دا به عنان ګرځي. ځکه چې په عنان کې مساوات ضروري نه دي او څرنګه چې عنان غير لازم عقد دی او د هغه د بقاء او ابتداء حکم يو ډول دی. نو په دې وجه په هغه کې که ابتداءً مساوات وي او که نه وي د شرکت پر صحت به هيڅ أثر نه پرېوځي.

که يو شريک د څه سامان يا د څه جايداد وارث سي او په هغه کې شرکت صحيح نه وي نو دا شی (سامان يا جايداد) به فقط د هغه مملوک وي (يعني د هغه په ملکيت کې به وي) او د دې په وجه به عقد مفاوضه نه فاسديږي: ځکه کله چې په دغه شي کې شرکت صحيح نه دی نو ښکاره خبره ده چې مساوات به هم پکښې شرط نه وي او کله چې مساوات شرط نه دی نو د مساوات د نشتوالي په وجه به د عقد پر صحت أثر هم نه پرېوځي.



فَصْلٌ

(دا) فصل (د هغه مالونو په بيان کې دی کوم چې په شرکت کې رأسُ المال جوړېدای سي)

د "شرکت مفاوضه" أموال

وَلَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ او شرکت مفاوضه [فقط] په دراهمو، دنانيرو او رائجُ الوقت پيسو سره منعقد کيږي وَقَالَ مَالِكٌ: تَجُوزُ بِالْعُرُوضِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ أَيْضًا إِذَا كَانَ الْجِنْسُ وَاحِدًا امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په سامان، کيلي او وزني شيانو سره هم شرکت مفاوضه منعقد کيږي [په دې شرط] کله چې [د کيلي او وزني شيانو] جنس يو وي لِأَنَّهَا عُقِدَتْ عَلَى رَأْسِ مَالٍ مَعْلُومٍ ځکه چې دا شرکت هم پر معلوم او متعين رأسُ المال منعقد سو فَأَشْبَهَ النُّقُودَ لهذا دا شيان [هم] د نقودو [نغدو] سره مشابه سول بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ په خلاف د مضاربت لِأَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَاهَا ځکه چې قياس له مضاربت څخه [يعني د مضاربت له جواز څخه] انکار کوي لِمَا

فِيهَا مِنْ رِبْحِ مَالَمْ يُضْمَنْ ځکه چي په مضاربت کي له داسي مال څخه نفع اخيستل کيږي کوم چي نه مضمون کيږي ايعني د مضاربت مال داسي مال دی چي د هغه ضمان نه واجبيږي. يعني که له مضارب څخه هلاک سي نو پر هغه ضمان نه واجبيږي. دا په ياد لرئ! چي د کوم مال ضمان چي واجبيږي هغه ته مضمون مال وايي او د کوم مال ضمان چي نه واجبيږي هغه ته غير مضمون مال وي ا فَتَقْتَصِرُ عَلَى مَوْرِدِ الشَّرْعِ لهذا د مضاربت جواز به د شريعت پر مورد منحصر وي وَلَنَا: أَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى رِبْحِ مَالَمْ يُضْمَنْ زموږ دليل دا دی چي اپه سامان. کيلي او وزني شيانو کي د عقد شرکت جواز ا په داسي مال سره د نفع حاصلولو سبب دی کوم چي مضمون نه دی لِأَنَّهُ إِذَا بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا رَأْسَ مَالِهِ وَتَفَاضَلَ الثَّمَنَانِ ځکه کله چي له دواړو شريکانو څخه هر شريک خپل رأسُ المال خرڅ کړي او د دواړو په ثمن کي کمي او زياتوب وي امطلب دا چي د يوه شريک ثمن له بل څخه زيات وي ا فَمَا يَسْتَحِقُّهُ أَحَدُهُمَا مِنَ الزِّيَادَةِ فِي مَالِ صَاحِبِهِ رِبْحُ مَالَمْ يَمْلِكْ وَمَالَمْ يُضْمَنْ نو په دوی دواړو کي چي يو شريک د خپل ملګري په مال کي د کوم زياتوب مستحق وي هغه به د داسي مال نفع وي چي دا شريک به نه د هغه ملکيت لري او نه به د هغه ضامن کيږي ايعني هغه مال به نه د ده مملوک وي او نه به هغه مضمون وي ا بِخِلَافِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ په خلاف د دراهمو او دنانيرو لِأَنَّ ثَمَنَ مَا يَشْتَرِيهِ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چي ا په هغه کي به ا د رانيول سي شي ثمن د مشتري پر ذمه وي إِذْ هِيَ لَا تَتَعَيَّنُ ځکه چي أثمان انقود ا نه متعين کيږي فَكَانَ رِبْحُ مَا ضَمِنَ لهذا دا به د داسي مال وي نفع کوم چي مضمون دی ايعني دا به د مضمون مال نفع وي ا وَلِأَنَّ أَوَّلَ التَّصَرُّفِ فِي الْعُرُوضِ الْبَيْعُ وَفِي النُّقُودِ الشِّرَاءُ او ځکه چي په سامان کي اول تصرّف بيع ده او په نقودو کي اول تصرّف شراء ده وَبَيْعُ أَحَدِهِمَا مَالَهُ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ شَرِيكًا فِي ثَمَنِهِ لَا يَجُوزُ او د يوه شريک پر دې شرط مال خرڅول چي دويم شريک به په ثمن کي د هغه شريک وي جائز نه دي وَشِرَاءُ أَحَدِهِمَا شَيْئًا بِمَالِهِ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْمَبِيعُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ جَائِزٌ الېکن ا په خپل مال سره د يوه شريک پر دې شرط يو شی خرڅول چي مبيع به د هغه او د هغه د ملګري په مينځ کي مشترکه وي جائز دي وَأَمَّا الْفُلُوسُ النَّافِقَةُ فَلِأَنَّهَا تَرُوجُ رَوَاجَ الْأَثْمَانِ او رائج فلوس اپيسې ا د أثمانو په څېر رواج دي ايعني د أثمانو په څېر چليږي ا فَالْتَحَقَتْ بِهَا نو ځکه دوی اپه حکم کي ا د أثمانو سره يو ځای سو قَالُوا: هٰذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ مشائخو فرمايلي دي: چي دا د امام محمد رحمه الله قول دی لِأَنَّهَا

مُلْحَقَةٌ بِالنُّقُودِ عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نيز فلوس [په حکم کي] د نغدو سره يوځاى کړى سوي دي حَتَّى لَا تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ تر دي چي دوى [فلوس] په متعين کولو سره نه متعين کيږي وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ اثْنَيْنِ بِوَاحِدٍ بِأَعْيَانِهَا او دوه متعين فلوس د يوه متعين فلوس په عوض کي خرڅول جائز نه دي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي معلوم سوي دي أَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ۞ لَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَالْمُضَارَبَةُ بِهَا ليکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په فلوسو سره شرکت او مضاربت کول جائز نه دي لِأَنَّ ثَمَنِيَّتَهَا تَتَبَدَّلُ سَاعَةً فَسَاعَةً ځکه چي د دوى ثمن کېدل ګړي په ګړي بدليږي وَتَصِيرُ سِلَعًا او دوى سامان ګرځي وَرُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ مِثْلُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو قول د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څير روايت سوى دى وَالْأَوَّلُ أَقْيَسُ وَأَظْهَرُ ليکن د امام ابو يوسف [اول قول د قياس زيات موافق او زيات ښکاره دى وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ صِحَّةُ الْمُضَارَبَةِ بِهَا او له امام صاحب څخه يو روايت دا دى چي په فلوسو سره مضاربت صحيح دى.

اللغات: ﴿فلوس﴾ روپۍ، پيسې، ﴿نافقة﴾ رائجُ الوقت. هغه پيسې کوم چي په اوس وخت کي رواج وي، ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: له نغدو څخه بغير نور شيان. سامان. ﴿النقود﴾ جمع د نقد ده: نغدي (نغد مال لکه دراهم، دنانير، افغانۍ، کلداري او داسي نور)، ﴿ربح﴾ نفع، ګټه، منافع، ﴿سِلَع﴾ سامان.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي زموږ په نيز فقط په دراهمو، دنانيرو او په هغه سکو او پيسو سره شرکت مفاوضه صحيح دى کوم چي رائج وي (يعني خلک رانيول او خرڅول په کوي). او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز له دې څخه بغير پر عروضو (سامانونو) او پر کيلي او وزني شيانو سره هم شرکت مفاوضه منعقد کيږي، په دې شرط چي هغه له يوه جنس (جنسِ واحد) څخه وي. ځکه چي د نقودو په څير دا هم معلوم او متعين رأسُ المال دى. او پر معلوم رأسُ المال شرکت مفاوضه کول صحيح کيږي لهذا پر عروضو او کيلي او وزني شيانو به هم صحيح کيږي. ليکن پر عروضو يا کيلي او وزني شيانو به عقد مضاربت نه صحيح کيږي، ځکه چي د عقد مضاربت صحت د دراهمو او دنانيرو (نقودو) سره خاص دى. او قياس په عروضو او داسي نورو کي د مضاربت د جواز منکر دى. ځکه په

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن عابدين: قوله: والفلوس النافقة أي الرائجة...والجواز بها هو الصحيح، لأنها أثمان باصطلاح الكل، فلا تبطل ما لم يصطلح على ضده (رد المحتار ج:٣، ص:٣٧٢). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٥]

مضاربت کې چې کوم مال وي هغه د مضارب په قبضه کې امانت وي او نه مضمون کيږي (يعني که د مضارب په قبضه کې هلاک سي نو پر مضارب ضمان نه واجبيږي) نو له هغه مال څخه حاصلېدونکې نفع د غيرِ مضمون مال نفع ده لهذا د ربُ المال لپاره د هغه اخيستل صحيح نه دي. لېکن شريعت د نقودو يعني د دراهمو او دنانيرو په عوض کې مضاربت جائز گرځولای دی لهـا دا جواز به فقط د نقودو سره خاص وي او د عروضو او داسې نورو وطرف ته به نه متعدي کيږي.

ولنا أنه يؤدي إلخ: زموږ دليل دا دی چې که موږ پر عروضو او داسې نورو (يعني کيلي او وزني شيانو) عقد شرکت جائز وگرځوو نو دا به "په غيرِ مضمون مال سره نفع حاصلولو" ته متضمن وي په دې توگه چې کله دواړه شريکان خپل رأسُ المال په زيات ثمن سره خرڅ کړي او ديوه ثمن د بل له ثمن څخه زيات وي نو د زيات ثمن حاصلونکي به د شرکت په مال سره د داسې زياتوب مستحق وگرځي چې هغه نه د ده په ملکيت کې دی او نه هغه مال پر ده مضمون دی او ربح ما لم يضمن جائز نه ده. نو په دې وجه به پر عروضو د عقدِ شرکت انعقاد هم جائز نه وي. ها! پر نقودو (دراهمو او دنانيرو) جائز دی، ځکه چې نقود او أثمان په متعينولو سره نه متعين کيږي. لهذا په دوی کې به د هر هر شريک ثمن د هغه پر ذمه واجب وي او ما وجب في الذمه مضمون کيږي. نو ځکه به په دې صورت کې حاصلېدونکی مال د مضمون مال له قبيلې څخه وي او عقد شرکت به صحيح به وي.

د دې سلسلې دويم دليل دا دی چې په عروضو کې اول تصرف د بيع وي لېکن په نقودو کې اول تصرف د شراء وي او که أحدُ الشريکين پر دې شرط خپل مال خرڅ کړي چې دويم شريک به په ثمن کې زما سره شريک وي نو جائز نه دي. ځکه چې دا شرکت د وکالت مقتضي دی او په عروضو کې داسې توکيل جائز نه دی کوم چې شرکت لره متضمن وي. لهذا کله چې په عروضو کې شرکت نه وي نو ښکاره خبره ده چې په ثمن کې به هم شرکت نه وي. او د شرکت د نشتوالي وجه دا هم ده چې وکيل بالبيع أمين وي. اوس که دا وکيل د خپل ځان لپاره د نفع (ربح) شرط ولگوي نو دا به ربح ما لم يضمن وي (ځکه چې مبيع پر أمانت ساتونکي [أمين] نه مضمون کيږي) او ربح ما لم يضمن جائز نه ده. لېکن که يو شريک په خپل مال سره يو شی رانيسي او خپل ملگری په مبيع کې شريک کړي نو صحيح دي، ځکه چې وکيل بالشراء د ثمن ضامن کيږي او ځکه چې له مبيع څخه د نفع اخيستلو شرط لگول صحيح دي نو دا به د ربح ما ضمن له قبيلې څخه وي او جائز به وي.

وأما الفلوس النافقة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دارهمو او دنانيرو په څير په رائجُ الوقت فلوسو (پيسو) سره هم عقدِ مفاوضه او عقدِ مضاربه صحيح دی. او دا فلوس د

هغه په نېږ د نقودو سره ملحق دي. همدا وجه ده چې د دراهمو او دنانيرو په څېر دا هم په متعينولو سره نه متعين کيږي او يو متعين فلوس د دوو متعينو فلوسو په عوض کې خرڅول صحيح نه دي. لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېږ د فلوسو په عوض کې شرکت او مضاربت صحيح نه دی. ځکه چې د فلوسو ثمنيت حتمي او يقيني نه دی او هر وخت په دوی کې ترميم کيږي تر دې چې په ځينې وختونو کې د دوی ثمنيت بالکل ختميږي او سامان ګرځي او زموږ په نېږ پر سامان مفاوضه او مضاربت کول صحيح نه دي لهذا پر فلوسو به هم دا عقود صحيح نه وي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو قول د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر نقل سوی دی (يعني په يوه قول کې د هغه په نېږ هم په فلوسو سره دا عقدونه صحيح دي). لېکن د هغه اول قول کوم چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذکر سوی دی. أصح او أظهر دی.

له پورتنی مسئلي څخه استثناء

قَالَ: وَلَا تَجُوزُ الشِّرْكَةُ بِمَا سِوَى ذٰلِكَ فرمايي: او له دې مالونو څه بغير په نورو سره شرکت مفاوضه جائز نه دی إِلَّا أَنْ يَتَعَامَلَ النَّاسُ بِالتِّبْرِ وَالنُّقْرَةِ خو دا چې خلک د سروزو او سپينو زرو په ټوټه سره [د شرکت] معامله کوي [تبر او نقره د سرو او سپينو زره هغه ټوټه ته وايي چې په هغې لاس وهل سو نه وي. يعني دينار او درهم ځني تيار سوي نه وي] فَتَصِحُّ الشِّرْكَةُ بِهِمَا نو په دې دواړو سره به هم شرکت صحيح کيږي هٰكَذَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ همداسې په قدري کې ذکر سوي دي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَا تَكُونُ الْمُفَاوَضَةُ بِمَثَاقِيلِ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ او په جامع صغير کې ذکر سوي دي: چې د سرو او سپينو زرو په مثقالونو [يعني په ټوټو] سره به شرکت مفاوضه نه منعقد کيږي وَمُرَادُهُ التِّبْرُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله مراد تبر دی فَعَلَى هٰذِهِ الرِّوَايَةِ التِّبْرُ سِلْعَةٌ تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ نو د دې روايت مطابق تبر يو سامان دی کوم چې په متعينولو سره متعين کيږي فَلَا تَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ فِي الْمُضَارَبَاتِ وَالشَّرِكَاتِ نو هغه به په عقد شرکت او مضاربت کې د رأس المال جوړېدلو لائق نه وي. وَذَكَرَ فِي كِتَابِ الصَّرْفِ أَنَّ النُّقْرَةَ لَا تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ او امام محمد رَحِمَهُ الله [د جامع صغير] په کتاب الصرف کې ذکر کړي دي چې نقره په متعينولو سره نه متعين کيږي حَتَّى لَا يَنْفَسِخُ الْعَقْدُ بِهَا بِهَلَاكِهِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ همدا وجه ده چې له ورسپارلو څخه مخکې د هغه په هلاکېدلو سره عقد نه فسخ کيږي

فَعَلىٰ تِلْكَ الرِّوَايَةِ تَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ فِيهِمَا نو د دې روايت مطابق نقره او تبر په شركت او مضاربت كي رأسُ المال جوړېداى سي وَهٰذَا لِمَا عُرِفَ أَنَّهُمَا خُلِقَا ثَمَنَيْنِ فِي الْأَصْلِ او دا ځكه چي سره زر او سپين زر په أصل كي ثمن پيدا سوي دي إِلَّا أَنَّ الْأَوَّلَ أَصَحُّ لېكن اد جامع صغير ا اول روايت زيات صحيح دى لِأَنَّهَا وَإِنْ خُلِقَتْ لِلتِّجَارَةِ فِي الْأَصْلِ لٰكِنَّ الثَّمَنِيَّةَ تَخْتَصُّ بِالضَّرْبِ الْمَخْصُوصِ ځكه چي سره او سپين زره كه څه هم په أصل كي د تجارت لپاره پيدا سوي دي لېكن د دوى ثمنيت په مخصوصه طريقه د تيارولو اجوړولو ا سره خاص دى ايعني دوى په هغه وخت كي ثمن ګرځي كله چي دينار او درهم ځني تيار سي ا لِأَنَّ عِنْدَ ذٰلِكَ لَا يُصْرَفُ إِلىٰ شَيْءٍ آخَرَ ظَاهِرًا ځكه چي په هغه وخت كي په ظاهره دوى د بل شي وطرف ته نه سي ګرځول كېداى إِلَّا أَنْ يَجْرِيَ التَّعَامُلُ بِاسْتِعْمَالِهِمَا ثَمَنًا خو دا چي د غيرِ مضروب والي انا تيار والي ا په حالت كي د ثمن په توګه د دوى د استعمالولو تعامل جاري وي فَنَزَلَ التَّعَامُلُ بِمَنْزِلَةِ الضَّرْبِ نو تعامل به د تيارولو اجوړولو ا قائم مقام ګرځول كيږي فَيَكُونُ ثَمَنًا نو دوى به اهم ا ثمن كيږي وَيَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ او د رأسُ المال جوړېدلو قابل به وي ثُمَّ قَوْلُهُ "وَلَا تَجُوزُ بِمَا سِوىٰ ذٰلِكَ" يَتَنَاوَلُ الْمَكِيلَ وَالْمَوْزُونَ وَالْعَدَدِيَّ الْمُتَقَارِبَ بيا د امام قدوي رَحِمَهُ الله دا قول "چي عقدِ مفاوضه له دې مالونو څخه بغير په نورو سره جائز نه دى" دا قول كيلي. وزني او عدديِ متقارب اټولو ا ته شامليږي وَلَا خِلَافَ فِيهِ بَيْنَنَا قَبْلَ الْخَلْطِ او تر ګډولو مخكي په دې كي زموږ په مينځ كي اختلاف نسته وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا رِبْحُ مَتَاعِهِ او په دواړو شريكانو كي د هر شريك لپاره به د هغه د خپل سامان نفع وي وَعَلَيْهِ وَضِيعَتُهُ او پر هر شريك به د خپل سامان تاوان اهم ا وي امطلب دا چي هر شريك به د خپل نفع او نقصان ذمه وار وي ا وَإِنْ خَلَطَا ثُمَّ اشْتَرَكَا او كه دوى دواړه مال سره ګډ كړي بيا عقدِ شركت وكړي فَكَذٰلِكَ فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ نو هم دغه حكم دى د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په قول كي وَالشَّرِكَةُ شَرِكَةُ مِلْكٍ لَا شَرِكَةُ عَقْدٍ او دا شركت به شركت ملك وي. شركت عقد به نه وي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَصِحُّ شَرِكَةُ الْعَقْدِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به شركت صحيح كيږي وَثَمَرَةُ الْاِخْتِلَافِ تَظْهَرُ عِنْدَ التَّسَاوِي فِي الْمَالَيْنِ وَاشْتِرَاطِ

التَّفَاضُلِ فِي الرِّبْحِ او د اختلاف ثمره به په دواړو مالونو كي د برابر والي په وخت كي او په نفع كي د كمي او زيا توب د شرط لګولو په صورت كي ښكاره كيږي فَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ مَا قَالَهُ أَبُويُوسُفَ نو ظاهر روايت هغه دى كوم چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وويل لِأَنَّهُ يَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ بَعْدَ الْخَلْطِ كَمَا تَعَيَّنَ قَبْلَهُ ځكه چي تر ګډولو وروسته هم دا مال په متعينولو سره متعين كيږي لكه څرنګه چي تر ګډولو مخكي متعين كيږي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّهَا ثَمَنٌ مِنْ وَجْهٍ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي كيلي او وزني شى من وجه ثمن دى حَتّٰى جَازَ الْبَيْعُ بِهَا دَيْنًا فِي الذِّمَّةِ همدا وجه ده چي هغه [كيلي او وزني شى] پر خپله ذمه قرض ګرځول او د هغه په عوض كي بيع كول جائز دي وَمَبِيعٌ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ يَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ او [كيلي او وزني شى] منْ وجه مبيع هم دى په دې حيثيت سره چي هغه په متعينولو سره متعين كيږي فَعَمِلْنَا بِالشَّبَهَيْنِ بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْحَالَيْنِ لهذا د دواړو حالتونو وطرف ته په اضافت كولو سره موږ په دواړو مشابهتونو عمل وكړى بِخِلَافِ الْعُرُوضِ په خلاف د سامانونو لِأَنَّهَا لَيْسَتْ ثَمَنًا بِحَالٍ ځكه چي هغوى په هيڅ حالت كي هم أثمان نه دي وَلَوِ اخْتَلَفَا جِنْسًا كَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّيْتِ وَالسَّمْنِ او كه چيري كيلي او وزني شيان مختلفُ الجنس وي لكه غنم او اُوربشي. د زيتون تېل او غوړي فَخُلِطَا او بيا دواړه سره ګډ كړى سي لَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ بِهَا بِالِاتِّفَاقِ نو په هغوى سره به بالاتفاق شركت نه منعقد كيږي وَالْفَرْقُ لِمُحَمَّدٍ أَنَّ الْمَخْلُوطَ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ د امام محمد رَحِمَهُ الله لپاره د فرق دليل دا دى چي د يوه جنس مخلوط [ګډ كړى سوي] شيان له ذواتُ الأمثال څخه وي وَمِنْ جِنْسَيْنِ مِنْ ذَوَاتِ الْقِيَمِ او د دوو جنسونو مخلوط شيان له ذواتُ القيم څخه وي فَتَتَمَكَّنُ الْجَهَالَةُ كَمَا فِي الْعُرُوضِ لهذا د سامان په څير به هغوى كي هم جهالت پيدا سو وَإِذَا لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ او كله چي شركت صحيح نه سو فَحُكْمُ الْخَلْطِ قَدْ بَيَّنَّاهُ فِي كِتَابِ الْقَضَاءِ نو په كتابُ القضاء كي موږ د خلط [ګډولو] حكم بيان كړى دى.

اللغات: ﴿تِبر﴾ د سرو زرو ټوټه (ټوكره). ناتيار كړى سوي سره زره چي تر اوسه په غالب او سانچه كي جوړ سوي نه وي، يعني دينار څني جوړ سوى نه وي، ﴿نُقرة﴾ د سپينو زرو ټوټه. ناتيار كړى

سوي سپين زر. چي تر اوسه درهم ځني جوړ سوي نه وي. ﴿ضَرْبٌ﴾ د ضرب مصدر دی. د دې باب ډېري معناوي دي. دلته یې معنیٰ ده: له سرو او سپینو زرو څخه سکه تیارول (یعني په خپل مخصوص غالب کي اچول او دینار او درهم ځني جوړول). ﴿ربح﴾ نفع، منافع. ﴿وضیعة﴾ نقصان (تاوان). ﴿زیت﴾ د زیتون تېل (روغن). ﴿سمن﴾ غوړي.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي له دراهمو او دنانیرو څخه بغیر د سرو زرو یا سپنو زرو پر ټوټه (ټوکره) باندي عقد مفاوضه کول جائز نه دي، لېکن که په یو ښار او علاقه کي تِبر او نقره د ثمن حیثیت حاصل وي او د هغه ځای خلک په دې سره هم معاملات کوي نو په هغه ځای کي به په دې شیانو (تبر او نقره) سره هم عقد مفاوضه جائز وي. دا د مختصرُ القدوري مضمون دی. د جامعِ صغیر د روایت مطابق تبر او نقره سامان دی او د عروضو په څیر په مضاربت او مفاوضه کي هغه هم د رأسُ المال جوړېدلو لائق نه دي. لېکن د جامعِ صغیر په کتابُ الصرف کي دا حکم ذکر سوی دی چي نقره په متعینولو سره نه متعین کیږي او که دا د ثمن په عوض کي ورکول سي او د مبیع له تسلیمولو څخه مخکي دا هلاک سي نو د دې په هلاکېدلو سره عقد هم نه فسخ کیږي. د دې روایت مطابق نقره په مفاوضه او مضاربت کي رأسُ المال جوړېدای سي. او په دې دواړو روایتونو کي اول روایت أصح او معتبر دی. ځکه چي نقره او تبر که څه هم د تجارت لپاره پیدا سوي دي خو بیا هم په دوی کي هغه وخت ثمنیت راځي کله چي دوی په مخصوصه طریقه سره جوړ کړی سی او وتراشل سي کاریګري پکښي وسي او د ثمنیت قابل جوړ کړی سي (چي هغه ته مضروب یا دراهم او دنانیر وایي) خو که چیري دا غیرِ مضروب وي نو بیا به د عروضو په حکم کي وي او د عروضو په څیر به پر دوی هم عقد شرکت او مضاربت نه صحیح کیږي. ها! که چیري په یو ځای کي د غیرِ مضروب تبر او نقره د ثمن کېدلو رواج وي، نو د رواج په وجه به دوی د مضروب قائم مقام وي او ثمن به وي او پر دوی به مفاوضه او مضاربت کول صحیح وي.

ثم قوله ولایجوز الخ: فرمایي په متن کي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله دا فرمایلي دي "ولا یجوز بما سوی ذلک" په هغه کي د تبر او نقره سره کیلي او وزني شیان او عددیّ متقارب شیان ټوله داخل دي. او که چیري د دوو خلکو دا مال (یعني کیلي او وزني شیان او داسي نور) سره ګډ سوی نه وي نو زموږ په نېز بالاتفاق پر هغه مال مضاربت او مفاوضه کول جائز نه دي او هر هر شریک به د خپل مال د نفع او نقصان ذمه وار وي. او که چیري دواړو شریکانو خپل دغه مال سره ګډ کړی وي او بیا عقد مفاوضه وکړي نو

هم به د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا عقد مفاوضه نه وي او هر هر شريک به د خپل مال د نفع او نقصان ذمه وار وي او دا شرکت به فقط د ملکيت شرکت وي چي محض د دوی ملکيت سره مخلوط دی لېکن د دوی نفع به مخلوط نه وي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به دا شرکت "د عقد شرکت" وي او که چيري د أحدُ الشريکين لپاره د زياتي نفع شرط ولګول سي نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به جائز وي لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به جائز نه وي. ځکه کيلي او وزني شيان چي څرنګه قبل الخلط متعين کېدای سي همداسي بعد الخلط هم متعين کېدای سي او متعين کېدونکی شی د مفاوضې او مضاربت رأسُ المال جوړېدلای نه سي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د کيلي او وزني شيانو دوه حيثيته ده: ①... دا من وجه ثمن دي، مثلاً که يو سړی د غنمو يا د هګيو يا د اُوسپني يعني په عددي متقارب کيلي او وزني شيانو کي د يو شي په عوض کي بل شی رانيسي او بيا دا سړی په هغه وخت کي بائع ته دا شی (يعني غنم يا هګی يا اُوسپنه) نه ورکړي بلکي دا وعده ور سره وکړي چي وروسته يې درکوم (يعني پر ځان يې قرض کړي). نو دا شی به د ثمن په درجه کي وي او د مشتري پر ذمه به د ثمن په توګه واجب وي. ②... او کيلي او وزني شيان من وجه مبيع دي، ځکه چي دوی په متعينولو سره متعين کيږي. لهذا موږ د قبل الخلط او بعد الخلط د دواړو حالتونو اعتبار وکړی او قبل الخلط مو دوی د عُروضو مشابه وګرځول او د دوی په عوض کي مو عقد شرکت باطل وګرځوی او د بعد الخلط والا د حالت په اعتبار کولو سره مو دوی د أثمانو مشابه وګرځول او د دوی په عوض کي مو شرکت او مضاربت صحيح وګرځوی.

ولو اختلفا إلخ: فرمايي که کيلي او وزني شيان مختلفُ الجنس وي مثلاً د يوه شريک د غنم وي او د بل شريک د اُوربشي وي يا د يوه شريک د زيتون تېل وي او د بل د غوړي وي او بيا دواړه خپل سامانونه سره ګډ (مخلوط) کړي نو په دې سره بالاتفاق شرکت نه منعقد کيږي (نه ثابتيږي). دا نه منعقد کېدل د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز خو ښکاره دي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په دې مخلوط من جنسين او په مخلوط من جنس واحد کي فرق دا دی چي مخلوط من جنس واحد له ذواتُ الأمثال څخه وي او که يو څوک هغه ضايع او هلاک کړي نو پر ضايع کونکي د هغه مثل واجبيږي او مخلوط من جنسين له ذواتُ القيم څخه وي او په دې کي د رأسُ المال د تقسيم په وخت کي له شريکينو څخه هر شريک ته خپله حصه نه رسيږي او په هغه کي جهالت راځي او مساوات ختميږي. نو په دې وجه په مخلوط من جنسين شي سره عقد شرکت او مضاربت نه ثابتيږي او دې صورت ته "خلط" ويل کيږي او د خلط او مخلوط حکم موږ په كتابُ القضاء کي بيان کړی. او له كتابُ القضاء

ځخه د جامع صغير يا د كفاية المنتهي كتابُ القضاء مراد دی والله أعلم بحقيقة الحال. (بناية ج:۶. ص:۸۵۲)

په سامان او عروضو كي شركت مفاوضه

قَالَ: وَإِذَا أَرَادَ الشَّرِكَةَ بِالْعُرُوضِ فرمايي: كه [دوه خلك] په سامان سره شركت كول وغواړي بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَ مَالِهِ بِنِصْفِ مَالِ الْآخَرِ نو هريو دي خپل نصف. نيمايي [مال د بل د نصف مال په عوض كي خرڅ كړي ثُمَّ عَقَدَ الشَّرِكَةَ بيا دي عقد شركت وكړي قَالَ: وَهَذِهِ الشَّرِكَةُ مِلْكٌ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا شركت ملك دی [يعني د ملكيت شركت دی] لِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْعُرُوضَ لَا تَصْلُحُ رَأْسَ مَالِ الشَّرِكَةِ د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړی چي عروض د شركت رأسُ المال جوړېدلای نه سي وَتَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ قِيمَةُ مَتَاعِهِمَا عَلَى السَّوَاءِ او د دې تأويل دا دی چي دا [حكم] په هغه صورت كي دی كله چي د دوی د سامان قيمت برابر وي وَلَوْ كَانَ بَيْنَهُمَا تَفَاوُتٌ او كه د سامان په قيمت كي تفاوت [توپير] وي يَبِيعُ صَاحِبُ الْأَقَلِّ بِقَدْرِ مَا تَثْبُتُ بِهِ الشَّرِكَةُ نو كم قيمت والا دي په هغه مقدار سره خپل سامان خرڅ كړي چي په هغه سره شركت ثابت سي.

اللغات: ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان. ﴿تفاوت﴾ توپير. فرق.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په سامان او اسبابو كي عقد شركت صحيح نه دی. لېكن كه يو سړی په دې كي شركت كول وغواړي نو د هغه لپاره حيله دا ده چي په دواړو شريكانو كي دي هر شريک خپل نصف (نيمايي) سامان د بل شريک د نصف سامان په عوض كي خرڅ كړي (مطلب دا چي دواړه شريكان دي په خپل مينځ كي د نصف سامان سوادسره وكړي. هر شريک دي بل شريک ته خپل نصف سامان وركړي او د هغه نصف سامان دي ځني واخلي) د دې لپاره چي د هريوه نصف سامان پر بل شريک مضمون سي او دواړو ته ربح ما ضمن حاصل سي. لېكن دا حكم په هغه صورت كي دی كله چي د دواړو خلكو د سامان قيمت برابر وي او كه د دواړو د سامان قيمت برابر نه وي او په هغه كي كمي او زياتوب وي مثلاً زيد او خالد دواړو سل. سل كېلو غنم راوړه او د شركت اراده يې

وکړه او د زيد د غنمو قيمت کم وو او د خالد د غنمو قيمت زيات وو. نو زيد دي خپل غنم پر خالد په زيات قيمت خرڅ کړي خو په دومره حساب سره دي يې پر خرڅ کړي چې د دواړو قيمت برابر سي.

د "شرکت عنان" تعريف

قَالَ: وَأَمَّا شِرْكَةُ الْعِنَانِ فَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ دُونَ الْكَفَالَةِ فرمايي: او کوم چې شرکت عنان دی نو هغه پر وکالت منعقد کيږي، نه پر کفالت وَهِيَ: أَنْ يَشْتَرِكَ اثْنَانِ فِي نَوْعِ بَزٍّ أَوْ طَعَامٍ أَوْ يَشْتَرِكَانِ فِي عُمُومِ التِّجَارَاتِ وَلَا يَذْكُرَانِ الْكَفَالَةَ او شرکت عنان دا دی: چې دوه خلک په يو ډول کپړه [ټوکرا] يا غله کي شرکت کي وکړي يا په عام تجارت کي شرکت وکړي او کفاله ذکر نه کړي وَانْعِقَادُهُ عَلَى الْوَكَالَةِ لِتَحَقُّقِ مَقْصُودِهِ او دا [شرکت عنان] ځکه پر وکالت منعقد کيږي چې [په وکالت سره] د دې مقصود حاصليږي كَمَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چې موږ د دې بيان وکړی وَلَا تَنْعَقِدُ عَلَى الْكَفَالَةِ او دا شرکت پر کفاله نه منعقد کيږي لِأَنَّ اللَّفْظَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْأَعْرَاضِ ځکه چې د عنان لفظ له إعراض څخه مشتق دی يُقَالُ: "عَنَّ لَهُ" أَيْ أَعْرَضَ لکه څرنګه چې ويل کيږي: "عَنَّ لَهُ" يعني هغه إعراض وکړی وَهَذَا لَا يُنْبِئُ عَنِ الْكَفَالَةِ او دا معنیٰ د کفالت خبر نه ورکوي [يعني په دې لفظ کي د کفالت معنیٰ نسته] وَحُكْمُ التَّصَرُّفِ لَا يَثْبُتُ بِخِلَافِ مُقْتَضَى اللَّفْظِ او د لفظ د متقضیٰ په خلاف حکم نه ثابتيږي وَيَصِحُّ التَّفَاضُلُ فِي الْمَالِ او [د يو شريک] په مال کي کمي و زياتوب [کمي بيشي] صحيح ده [يعني په شرکت عنان کي دا صحيح دي چې د يوه شريک مال له بل شريک څخه زيات وي] لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه چې دې ته ضرورت سته وَلَيْسَ مِنْ قَضِيَّةِ اللَّفْظِ الْمُسَاوَاةُ او مساوات د عنان د لفظ تقاضا نه ده.

اللغات: ﴿بزّ﴾ جامه. کپړه. ټوکر. ﴿إعراض﴾ د افعال مصدر دی: مخ اړول. توجه نه کول. (پام لرنه نه کول). ﴿قضية﴾ مقتضیٰ. تقاضا.

تشريح: په دې عبارت کي د شرکت عقود دويم قسم "شرکت عنان" بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې شرکت عنان پر وکالت منعقد کيږي پر کفالت نه منعقد کيږي يعني دواړه شريکان يو د بل وکيل کيږي. ځکه چې په دې کي يو شريک د بل شريک په مال کي تصرف کوي کوم چې له وکالت څخه بغير نه ثابتيږي. لېکن يو د بل کفيل نه کيږي. ځکه چې د عنان معنیٰ ده "اعراض کول" او په

كفالت كې د اعراض معنیٰ نسته او قاعده دا ده چې د لفظ د مقتضا په خلاف د هغه حكم نه ثابتيږي (يعني لفظ چې د كوم شي تقاضا كوي د هغه خلاف حكم نه ثابتيږي). لهذا په دې حواله سره به شركت عنان له كفالت څخه خالي وي. او كه چيرې په شركت عنان كې ديوه شريک مال له بل شريک څخه زيات وي نو هيڅ پروا نه لري او په دې تفاضل سره د عنان پر صحت هيڅ أثر نه پرېوځي. ځكه چې په شركت عنان كې په رأسُ المال كې مساوات شرط نه دی.

په "شركت عنان" كې د يوه شريک لپاره د زياتي نفع شرط لګول

وَيَصِحُّ أَنْ يَتَسَاوَيَا فِي الْمَالِ وَيَتَفَاضَلَا فِي الرِّبْحِ او دا [هم] صحيح دي چې دواړه شريكان په مال كې برابر وي او په نفع كې يو له بل څخه زيات وي [يعني د ګټې په حصول كې يو شريک كم وي او بل زيات وي] وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې جائز نه دي لِأَنَّ التَّفَاضُلَ فِيهِ يُؤَدِّي إِلَى رِبْحِ مَا لَمْ يُضْمَنْ ځكه چې په نفع كې تفاضل د ربح ما لم يضمن سبب جوړيږي فَإِنَّ الْمَالَ إِذَا كَانَ نِصْفَيْنِ وَالرِّبْحَ أَثْلَاثًا ځكه كه مال نيم، نيم وي او نفع درې حصې وي [يعني د يوه شريک لپاره دوې حصې وي او د بل شريک لپاره فقط يوه حصه وي] فَصَاحِبُ الزِّيَادَةِ يَسْتَحِقُّهَا بِلَا ضَمَانٍ نو زياتي حصې والا به له څه ضمان څخه بغير د دې زياتوب مستحق وي إِذِ الضَّمَانُ بِقَدْرِ رَأْسِ الْمَالِ حالانكې ضمان د رأسُ المال په اندازه واجبيږي وَلِأَنَّ الشَّرِكَةَ عِنْدَهُمَا فِي الرِّبْحِ لِلشَّرِكَةِ فِي الْأَصْلِ او ځكه چې د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز د نفع شركت په أصل [رأسُ المال] كې د شركت په وجه وي وَلِهَذَا يَشْتَرِطَانِ الْخَلْطَ له همدې كبله دا حضرات د خلط [ګډولو] شرط لګوي فَصَارَ رِبْحُ الْمَالِ بِمَنْزِلَةِ نَمَاءِ الْأَعْيَانِ نو د مال نفع د عَين [او أصل] د زياتوب په شير سوه فَيَسْتَحِقُّ بِقَدْرِ الْمِلْكِ فِي الْأَصْلِ لهذا هر شريک به په أصل مال كې د خپل ملكيت په اندازه د نفع مستحق وي وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: اَلرِّبْحُ عَلَى مَا شَرَطَا وَالْوَضِيعَةُ عَلَى قَدْرِ الْمَالَيْنِ زموږ دليل د نبي كريم ﷺ دا إرشاد دی: چې نفع به د دواړو شريكانو د شرط مطابق وي او نقصان به د دواړو مالونو په اندازه وي وَلَمْ يُفَصِّلْ په دې إرشاد كې نبي ﷺ د تفاضل او تساوي تر مينځ هيڅ فرق كړی

[1] تخريج: صاحب د هدايې فرمايي چې دا أصلاً د حضرت علي رضي الله عنه قول دی كوم چې په مصنف عبد الرزاق كې ذكر سوی دی. (تحفة الفقهاء/ ...: ج:۸، ص:۱۹۱، رقم:۱۵۱۶۶)

نه دي وَلِأَنَّ الرِّبْحَ كَمَا يُسْتَحَقُّ بِالْمَالِ يُسْتَحَقُّ بِالْعَمَلِ او ځکه څرنګه چې شریک د مال په وجه د نفعې مستحق کیږي همداسې د کار په وجه هم د نفعې مستحق کیږي كَمَا فِي الْمُضَارَبَةِ لکه څرنګه چې په مضاربت کې اهم داسې کیږي ا وَقَدْ يَكُونُ أَحَدُهُمَا أَحْذَقَ وَأَهْدَى وَأَكْثَرَ عَمَلًا وَأَقْوَى او کله یو شریک په کاروبا کې زیات ماهر او زیات واقف او زیات کار کونکی او زیات قوي وي فَلَا يَرْضَى بِالْمُسَاوَاةِ نو هغه د مساوي نفعې په اخیستلو نه راضي کیږي فَمَسَّتِ الْحَاجَةُ إِلَى التَّفَاضُلِ نو ځکه تفاضل ته ضرورت محسوس سو بِخِلَافِ اشْتِرَاطِ جَمِيعِ الرِّبْحِ لِأَحَدِهِمَا په خلاف د یوه شریک لپاره د ټولې نفعې په شرط لګولو کې لِأَنَّهُ يُخْرِجُ الْعَقْدَ بِهِ مِنَ الشَّرِكَةِ وَمِنَ الْمُضَارَبَةِ أَيْضًا ځکه چې د داسې شرط په وجه عقد له شرکت کېدلو څخه وځي او له مضاربت کېدلو څخه هم وځي إِلَى قَرْضٍ بِاشْتِرَاطِهِ لِلْعَامِلِ أَوْ إِلَى بِضَاعَةٍ بِاشْتِرَاطِهِ لِرَبِّ الْمَالِ اځکه ا که چیرې د کار کونکي شریک لپاره ټوله نفع شرط وي نو دا عقد به قرض وګرځي او که د ربُ المال اد مالې والا الپاره ټوله نفع شرط وي نو دا به بضاعت وګرځي ایعني دا به داسې وي لکه ربُ المال کې چې له عامل څخه مُفت او بېله عوضه کار اخلي ا

وَهَذَا الْعَقْدُ يُشْبِهُ الْمُضَارَبَةَ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ يَعْمَلُ فِي مَالِ الشَّرِيكِ او دا عقد د مضاربت سره مشابه دی په دې حیثیت سره چې یو شریک د بل شریک په مال سره کار کوي وَيُشْبِهُ الشَّرِكَةَ اسْمًا وَعَمَلًا او ادا عقد ا د نوم او کار په اعتبار سره د شرکت سره مشابه دی فَإِنَّهُمَا يَعْمَلَانِ ځکه چې اد دې عقد ا دواړه شریکان کار کوي فَعَمِلْنَا بِشَبَهِ الْمُضَارَبَةِ وَقُلْنَا يَصِحُّ اشْتِرَاطُ الرِّبْحِ مِنْ غَيْرِ ضَمَانٍ نو ځکه موږ د مضاربت په مشابهت باندې عمل وکړی او ومو ویل: چې بغیر له ضمان څخه د نفع شرط لګول صحیح دي وَبِشَبَهِ الشَّرِكَةِ حَتَّى لَا تَبْطُلُ بِاشْتِرَاطِ الْعَمَلِ عَلَيْهِمَا او د شرکت په مشابهت مو هم عمل وکړی. تر دې چې پر دواړو شریکانو د عمل په شرطېدلو سره به دا عقد نه باطلیږي.

اللغات: ﴿خَلْط﴾ د ضرب مصدر دی: ګډول. ﴿نماء﴾ د نصر اسمِ مصدر دی: وده. اضافه. زیاتېدنه. ﴿وضيعة﴾ نقصان. تاوان. ﴿أحذق﴾ زیات ماهر. ﴿أهدیٰ﴾ په لاره زیات واقف (خبر). ﴿بضاعة﴾ سرمایه. دولت. مراد ځنې په عامل مُفت (بېله عوضه) کار کول دي (په تشریح کې به يې وضاحت وسي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که دواړه شريکان په مال کې برابر وي لېکن په نفع (ګټه) کې مساوات او برابري نه وي بلکې په دوی کې ديوه لپاره دزياتې نفعې شرط لګول سوی وي نو زموږ په نېز دا صحيح دي. لېکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز صحيح نه دي.

دليل: د دې حضراتو يو دليل دا دی چې د نفعې زياتوب ربح ما لم يضمن لره متضمن دی او ربح ما لم يضمن جائز نه ده. دويم دليل دا دی چې د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د أصل رأس المال د شرکت په تناسب سره په نفع کې شرکت ثابتيږي. همدا وجه ده چې د دوی په نېز د دواړو شريکانو مال سره ګډېدل (مخلوط کېدل) شرط دي او د مال نفع په حقيقت کې د عَين او د رأسُ المال د اضافې په څير ده. لهٰذا په أصل (رأس المال) کې چې د کوم شريک څومره ملکيت وي په هغه حساب سره به هغه ته نفع هم ورکول کيږي.

زموږ دليل: د نبي کريم ﷺ دا إرشاد دی: "الربح علىٰ ما شرطا... إلخ" (يعني دواړو شريکانو ته به نفع په هغه اعتبار سره ورکول کيږي کوم چې دوی شرط کړی وي. لېکن د دواړو شريکانو نقصان به د دوی د رأسَ المال په اندازه وي). له دې څخه معلومه سوه چې په نفع کې د زياتوب شرط لګول صحيح دي، ځکه چې نبي کريم ﷺ مطلق د "علىٰ ما شرطا" حکم بيان کړی دی. او د تفاضل او تساوي هيڅ شرط يې نه دي لګولی.

زموږ دويم دليل دا دی چې د نفع استحقاق چې څرنګه په مال سره کيږي همداسې په عمل او کار سره هم کيږي. او کله معامله داسې وي چې په شريکانو کې يو شريک زيات هوښيار وي يعني په کاروبار کې زيات ماهر وي او هغه زياته نفع غواړي او په مساوي نفع نه راضي کيږي او په هغه صورت کې د شرکت باقي ساتلو لپاره له تفاضل څخه بغير بله هيڅ لاره نه وي. لهٰذا په دې حواله سره به هم تفاضل جائز وي. لېکن که چيرې ديو شريک لپاره د ټولې نفعې (ګټې) شرط لګول سوی وي. نو دا جائز نه دي، ځکه چې په دې صورت کې به عقد نه شرکت وي او نه مضاربت (يعني ديوه شريک لپاره د ټولې ګټې د شرط لګولو په وجه عقد نه شرکت پاتيږي او نه مضاربت). ځکه چې په شرکت او مضاربت کې فقط يوه فرد ته ټوله نفع نه ورکول کيږي. بلکې په دوی کې نفع مشترکه وي. اوس که چيرې موږ د عامل شريک لپاره د ټولې نفعې شرط ولګوو نو دا عقد به قرض وګرځي يعني ګواکې عامل شريک له دويم شريک څخه قرض اخلي. کار په کوي او ټوله نفع په خپله اخلي. او که د ربُ المال لپاره د ټولې نفعې شرط ولګول سي نو دا به بضاعة وي يعني دا به داسې وي لکه ربُ المال چې د عامل څخه مفت (موت) کار اخلي او بېله څه عوضه په هغه خپله سرمايه ډېروي. او عقد شرکت په قرض او بضاعت بدلول صحيح نه دي. نو په دې وجه ديوه شريک لپاره د ټولې نفع شرط لګول

صحيح نه دي. او د شرکت عنان دوه حيثيته دي: (١)... يو دا چي هغه د مضاربت سره مشابه دی. ځکه چي په هغه کي يو شريک د بل شريک په مال سره کار کوي لکه څرنګه چي مضارب د رب المال په مال سره کار کوي. (٢)... بل دا چي هغه د شرکت مفاوضه سره هم مشابه دی. ځکه چي د هغه نوم "شرکت عنان" دی. او د مفاوضې په څير د شرکت عنان دواړه شريکان هم کار کوي: او موږ په دواړو مشابهتونو باندي عمل وکړی. نو د مضاربت په مشابهت باندي په عمل کولو سره موږ وويل چي څرنګه مضارب د ربح ما لم يضمن مستحق کيږي همداسي د عنان يو شريک هم د تفاضل په شرط سره د ربح ما لم يضمن مستحق کيدای سي. او د شرکت مفاوضه په مشابهت باندي په عمل کولو سره موږ وويل چي څرنګه په مفاوضه کي دواړه شريکان کار کوي همداسي به د عنان دواړه شريکان هم کار کوي. او د دواړو د کار په شرط به دا شرکت نه باطليږي (يعني که په عنان کي دا شرط ولګول سي چي دواړه شريکان به کار کوي. نو په دې سره به دا شرکت نه باطليږي. ځکه چي دا شرکت د "شرکت مفاوضه" سره هم مشابه دی).

د شرکت عنان په هکله يو څو مسئلې

قَالَ: وَيَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِبَعْضِ مَالِهِ دُونَ الْبَعْضِ فرمايي: او د هر شريک لپاره دا جائز دي چي خپل څه مال په شرکت کي ولګوي او څه نه ولګوي لِأَنَّ الْمُسَاوَاةَ فِي الْمَالِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهِ ځکه چي په شرکت عنان کي مساوات في المال شرط نه دی إِذْ اللَّفْظُ لَا يَقْتَضِيهِ ځکه چي د عنان لفظ د مساوات تقاضا نه کوي وَلَا يَصِحُّ إِلَّا بِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْمُفَاوَضَةَ تَصِحُّ بِهِ او شرکت عنان فقط په هغو شيانو سره صحيح کيږي کوم چي موږ بيان کړل چي په هغوی سره مفاوضه صحيح کيږي لِلْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِكَا وَمِنْ جِهَةِ أَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَمِنَ الْآخَرِ دَرَاهِمُ وَكَذَا مِنْ أَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ بِيضٌ وَمِنَ الْآخَرِ سُودٌ او په شرکت عنان کي دا هم جائز دي چي د يوه شريک له طرفه دنانير وي او د بل شريک له طرفه دراهم وي همدارنګه دا هم صحيح دي چي په دوی کي د يوه له طرفه سپين دراهم وي او د بل شريک له طرفه تور دراهم وي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دا جائز نه دي وَهَذَا بِنَاءً عَلَى اشْتِرَاطِ الْخَلْطِ وَعَدَمِهِ او دا اختلاف د مال ګډولو پر شرطېدلو يا نه شرطېدلو دی فَإِنَّ عِنْدَهُمَا شَرْطٌ ځکه چي د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز خلط [د مال سره ګډول] شرط دي وَلَا

يَتَحَقَّقُ ذٰلِكَ فِي مُخْتَلِفَيِ الْجِنْسِ حال دا چي په دوو مختلفُ الجنس مالونو کي خلط نه ثابتيږي وَسَنُبَيِّنُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او وروسته به موږ انشاء الله د دې بيان وکړو قَالَ: وَمَا اشْتَرَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلشَّرِكَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الْآخَرِ او له شريکانو څخه چي هر يو د شرکت لپاره کوم شی رانيسي د ثمن مطالبه به له هغه څخه کيږي، نه له بل شريک څخه لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ يَتَضَمَّنُ الْوَكَالَةَ دُونَ الْكَفَالَةِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي دا عقد فقط وکالت لره متضمن دی. نه کفالت لره وَالْوَكِيلُ هُوَ الْأَصْلُ فِي الْحُقُوقِ او د مطالبې په حقوقو کي فقط وکيل أصل دی قَالَ: ثُمَّ يَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ فرمايي: بيا به مشتري له خپل شريک څخه د هغه د حصې په اندازه ثمن واپس اخلي مَعْنَاهُ إِذَا أَدَّى مِنْ مَالِ نَفْسِهِ يعني کله چي مشتري شريک له خپل مال څخه [ثمن] اداء کړی وي لِأَنَّهُ وَكِيلٌ مِنْ جِهَتِهِ فِي حِصَّتِهِ ځکه چي دئ [مشتري] د خپل شريک په حصه کي د هغه له طرفه وکيل دی فَإِذَا نَقَدَ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ رَجَعَ عَلَيْهِ لهذا کله چي دئ له خپل مال څخه [د خپل شريک له طرفه] نغد ثمن اداء کړي نو دئ به پر هغه رجوع کوي فَإِنْ كَانَ لَا يُعْرَفُ ذٰلِكَ إِلَّا بِقَوْلِهِ او که رانيول [شراء] داسي وي چي فقط د مشتري له قول څخه معلوميږي فَعَلَيْهِ الْحُجَّةُ نو پر هغه به بيّنه پېشول لازم وي لِأَنَّهُ يَدَّعِي وُجُوبَ الْمَالِ فِي ذِمَّةِ الْآخَرِ ځکه چي دغه مشتري د دويم شريک [يعني د خپل شريک] پر ذمه د مال د وجوب دعوىٰ کوي وَهُوَ يُنْكِرُ او هغه د دې انکار کوي وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ مَعَ يَمِينِهِ او قول د منکر معتبر وي د هغه د قسم سره.

اللغات: ﴿بِيض﴾ جمع د أَبْيَض ده: سپين، ﴿سُوْد﴾ جمع د أَسْوَد ده: تور. ﴿يتضمّن﴾ د تفعّل مضارع ده: ضمناً شامليدل، مشتمل کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې بيان سوي دي:

(١)... اوله مسئله دا ده چي د شرکت عنان لپاره دا ضروري نه دي چي هر شريک خپل ټوله مال په دې کي ولګوي، بلکي که څه مال ولګول سي او څه د ځان سره وساتل سي نو دا هم صحيح او جائز دي. او دا هم ضروري نه دي چي د هر شريک مال به د بل شريک د مال سره برابر وي: ځکه چي په شرکت عنان

کي مساوات شرط نه دی او د "عنان" لفظ د مساوات تقاضا هم نه کوي. او څرنګه چي په دراهمو، دنانیرو او فلوسو سره عقد مفاوضه صحیح دي همداسي په دې نقودو او فلوسو سره شرکت عنان هم صحیح دی.

(۲)... دویمه مسئله دا ده چي که له شریکینو څخه د یوه شریک مال دنانیر وي او د بل شریک مال دراهم وي یا د یوه شریک د سپین دراهم وي او د بل د تور درهم وي، نو هم صحیح او جائز دي. لیکن د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نیز جائز نه دي، ځکه چي د دوی په نیز د شرکت د صحت (صحیح کیدلو) لپاره د مال مخلوط والی شرط دی او په مختلفُ الجنس شیانو کي خلط ممکن نه دی. نو په دې وجه د دوی په نیز دا شرط دي چي د دواړو شریکانو مال به یو ډول او یو قسم وي.

(۳)... دریمه مسئله دا ده که چیري یو شریک په مشترکه توګه یو شی رانیسي نو بائع به له مشتري (رانیونکي شریک) څخه د ثمن مطالبه کوي له دویم عاقد (دویم شریک) څخه یې نه سي کولای. ځکه چي شرکت عنان فقط پر وکالت مشتمل وي، نه پر کفالت. لهذا یو شریک د وکیل په توګه د دویم شریک له طرفه رانیول (شراء) خو کولای سي لیکن د ثمن مطالبه به فقط له مشتري څخه کیږي. ها! بیا به دا مشتري له دویم شریک څخه د هغه د حصې ثمن واپس اخلي: ځکه چي دئ د خپل شریک له طرفه د هغه په حصه کي وکیل دی او وکیل لره دا حق سته چي له مؤکل څخه ثمن واخلي.

فإن کان لا یعرف إلخ: د دې حاصل دا دی چي که "رانیول" فقط د مشتري له قول څخه معلوم سي (او د هغه لپاره هیڅ ظاهري ثبوت نه وي). مثلاً مشتري شریک داسي ووایي چي ما په زرو درهمو یو غلام رانیوی او له خپل مال څخه مي د هغه ثمن (قیمت) ورکړی او غلام مړ سو. نو ښکاره خبره ده چي دلته "رانیول" فقط د مشتري له قول څخه ښکاره کیږي (او د هغه لپاره څه ظاهري ثبوت نسته). نو په دغسي صورت کي له دویم شریک څخه د ثمن اخیستلو لپاره پر مشتري حجت او بینه پېشول لازم دي، او که هغه بینه پېش نه کړی سي، نو د دویم شریک قول به د قسم سره معتبر وي. ځکه چي هغه د مشتري د دعوې منکر دی او د منکر قول د یمین سره معتبر وي. لکه څرنګه چي ویل سوي دي: "البینة علی المدعی والیمین علی من أنکر".

د شریکینو د مال هلاکېدل

قَالَ: وَإِذَا هَلَكَ مَالُ الشَّرِكَةِ أَوْ أَحَدُ الْمَالَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَا شَيْئًا فرمایي: که چیري د شرکت په مال سره د یو شي تر رانیولو مخکي د شرکت ټوله مال هلاک سي یا د یوه شریک مال هلاک سي بَطَلَتْ الشَّرِكَةُ نو شرکت باطلیږي لِأَنَّ الْمَعْقُودَ عَلَيْهِ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ الْمَالُ ځکه چي په عقد شرکت کي مال معقود علیه وي فَإِنَّهُ يَتَعَيَّنُ فِيهِ او هغه مال په دې عقد کي متعین کیږي كَمَا فِي الْهِبَةِ وَالْوَصِيَّةِ لکه

څرنګه چې په هبه او وصيت کې [متعين کيږي] وَبِهَلَاكِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ يَبْطُلُ الْعَقْدُ او د معقود عليه په هلاکېدلو سره عقد باطليږي كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه څرنګه چې په بيع کې [د معقود عليه (مبيع) په هلاکېدلو سره بيع باطليږي] بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ وَالْوَكَالَةِ الْمُفْرَدَةِ په خلاف د مضاربت او وکالت مفرده لِأَنَّهُ لَا يَتَعَيَّنُ الثَّمَنَانِ فِيهِمَا بِالتَّعْيِينِ ځکه چې په دې دواړو عقدونو کې په متعينولو سره ثمن نه متعين کيږي وَإِنَّمَا يَتَعَيَّنَانِ بِالْقَبْضِ بلکې په قبضه سره ثمن متعين کيږي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې معلوم سوي دي وَهَذَا ظَاهِرٌ فِيمَا إِذَا هَلَكَ الْمَالَانِ او دا [د شرکت باطلېدل] د دواړو مالونو د هلاکېدلو په صورت کې ښکاره دي وَكَذَا إِذَا هَلَكَ أَحَدُهُمَا او همدارنګه کله چې د يوه شريک مال هلاک سي [نو شرکت به ځکه باطليږي] لِأَنَّهُ مَا رَضِيَ بِشَرِكَةِ صَاحِبِهِ فِي مَالِهِ إِلَّا لِيُشْرِكَهُ فِي مَالِهِ ځکه د کوم شريک مال چې هلاک سوی نه دی هغه په خپل مال کې [فقط] په دې وجه د خپل شريک په شريکولو راضي وو چې هغه دئ په خپل مال کې شريک کړي فَإِذَا فَاتَ ذَلِكَ لَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِشَرِكَتِهِ لېکن کله چې د هغه شريک مال فوت سو نو دا شريک به [په خپل مال کې] د هغه پر شرکت راضي نه وي فَيَبْطُلُ الْعَقْدُ نو ځکه به عقد باطليږي لِعَدَمِ فَائِدَتِهِ ځکه چې [اوس] د هغه په صحيح کېدو کې هيڅ فايده نسته وَأَيُّهُمَا هَلَكَ مِنْ مَالِ صَاحِبِهِ إِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ فَظَاهِرٌ او په دواړو کې چې کوم مال هلاک سي که چيري د مالک په قبضه کې هلاک سي نو ښکاره ده [چې هغه به نه مضمون کيږي] وَكَذَا إِذَا كَانَ هَلَكَ فِي يَدِ الْآخَرِ همدارنګه که د بل شريک په قبضه کې هلاک سي [نو هم به نه مضمون کيږي] لِأَنَّهُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ ځکه چې دا مال د هغه په لاس کې امانت دی بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْخَلْطِ په خلاف تر خلط [ګډولو] وروسته حَيْثُ يَهْلِكُ عَلَى الشَّرِكَةِ ځکه چې په دې صورت کې به هلاکت پر شرکت وي لِأَنَّهُ لَا يَتَمَيَّزُ ځکه چې [تر خلط وروسته دواړه مالونه] سره جلا کېدای نه سي فَيُجْعَلُ الْهَلَاكُ مِنَ الْمَالَيْنِ لهذا هلاکت به له دواړو مالونو څخه شمارل کيږي فَإِنِ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ قَبْلَ الشِّرَاءِ او که چيري يو شريک په خپل مال سره يو شی رانيسي او د دويم شريک له رانيولو څخه مخکې د هغه مال هلاک سي فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا عَلَى مَا

شَرْطًا نو رانيول سوى شى به د دوى په مينځ كي د دوى د شرط مطابق مشترک وي لِأَنَّ الْمِلْكَ حِينَ وَقَعَ وَقَعَ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا ځکه کله چي په رانيول سوي شي کي ملکيت واقع سو نو [په هغه وخت کي] ملکيت مشترک واقع سو لِقِيَامِ الشَّرِكَةِ وَقْتَ الشِّرَاءِ ځکه چي د شراء [رانيولو] په وخت کي شرکت پاته وو فَلَا يَتَغَيَّرُ الْحُكْمُ بِهَلَاكِ مَالِ الْآخَرِ بَعْدَ ذٰلِكَ لهذا تر شراء وروسته به د بل شريک د مال په هلاکېدلو سره حکم نه بدليږي ثُمَّ الشَّرِكَةُ شَرِكَةُ عَقْدٍ عِنْدَ مُحَمَّدٍ بيا د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به دا شرکت "شرکت عقد" وي خِلَافًا لِلْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ په خلاف د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله حَتّٰى أَنَّ أَيَّهُمَا بَاعَ جَازَ بَيْعُهُ حتىٰ په دوى کي چي کوم شريک هم رانيول سوى شى خرڅ کړي نو د هغه بيع به جائز وي لِأَنَّ الشَّرِكَةَ قَدْ تَمَّتْ فِي الْمُشْتَرَى ځکه چي په رانيول سوي شي کي شرکت بشپړ [مکمّل] سو فَلَا يَنْتَقِضُ بِهَلَاكِ الْمَالِ بَعْدَ تَمَامِهَا لهذا د شرکت تر بشپړ تيا وروسته به د مال په هلاکېدلو سره شرکت نه ماتيږي.

اللغات: ﴿معقود عليه﴾ پر کوم شي چي عقد (معامله) وکړى سي. ﴿لا يتميز﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: جلا کېدل، بېلېدل، عليحده کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى که دوه خلک شرکت سره وکړي خو تر اوسه يې د شرکت په مال سره يو شى رانيولى نه وي چي په دې دوارن کي د دواړو مال يا د يوه شريک مال هلاک سي، نو عقد شرکت باطليږي، ځکه چي په عقد شرکت کي معقود عليه مال وي او مال په متعينولو سره متعين کيږي، لهذا د مال په هلاکېدلو سره به عقد هم باطليږي، لکه څرنګه چي د مال په هلاکېدلو سره بيع باطليږي. د دې په خلاف مضاربت او وکالت مفرده دى يعني هغه وکالت کوم چي مستقل وي او د عقد مفاوضه او داسي نورو په ضمن کي ثابت نه وي. په دې (وکالت مفرده او مضاربت کي) د مال په هلاکېدلو سره هيڅ فرق نه راځي او دوى نه باطليږي، ځکه چي په دوى کي په متعينولو سره ثمن نه متعين کيږي، بلکي په قبضه کولو سره متعين کيږي.

وهذا ظاهر إلخ: فرمايي چي که د دواړو شريکانو مال هلاک سوى وي نو د شرکت بُطلان خو ښکاره دى. او که د يوه شريک مال هلاک سوى وي نو په دې وجه به شرکت باطليږي چي هر شريک په خپل مال کي دويم شريک په دې مقصد او په دې وجه شريک کوي چي ته به ستا په مال کي ما هم شريک کوې! اوس ښکاره خبره ده چي د کوم شريک مال ضائع سوى او هلاک سوى وي دويم شريک هغه په

خپل مال کي نه شريک کوي، ځکه چي دا دويم شريک د هغه په مال کي شريک نه سو نو په دې وجه به دا دويم شريک په دې راضي نه وي چي هغه په خپل مال کي شريک کړي. لهذا شرکت به باطل سي. او که هلاکېدونکی مال د صاحبُ المال په قبضه کي هلاک سي نو ښکاره خبره ده چي مضمون به نه وي، ځکه چي د هر شريک سره د دويم شريک مال امانت وي او امانت مال نه مضمون کيږي. لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي د دواړو مالونه مخلوط (سره ګډ کړل سوي) نه وي. خو که چيري د دواړو مال مخلوط وي نو د مال هلاکت به مشترک وي: ځکه چي تر مخلوطېدلو وروسته په هغوی کي امتياز او توپير کول مشکل وي.

وإن اشترى: د دې حاصل دا دی چي که يو شريک په خپل مال سره يو شی رانيسي او د دويم شريک تر شراء (رانيولو) مخکي د هغه مال هلاک سي نو هم به رانيول سوی شی د دوی په مينځ کي مشترک وي، ځکه چي د رانيولو په وخت کي رانيول سوی شی مشترک وو (او په هغه کي د دويم شريک شرکت ثابت وو). لهذا وروسته به د دويم شريک د مال په هلاکېدلو سره د دغه ثابت سوي شرکت په حکم کي هيڅ تغيّر او تبدّل نه کيږي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به دا شرکت "شرکتِ عقد" وي. لېکن د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله په نېز به دا "شرکتِ ملک" وي او د أحدُ الشريکَين لپاره به د هغه شي خرڅول جائز وي.

په مخکني مسئله کي د رانيول سوي سامان حکم

قَالَ: وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّةٍ مِنْ ثَمَنِهِ فرمايي: او مشتري به له خپل شريک څخه د هغه د حصې په اندازه ثمن واپس اخلي لِأَنَّهُ اشْتَرَى نِصْفَهُ بِوَكَالَتِهِ وَنَقَدَ الثَّمَنَ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ ځکه چي هغه د خپل شريک په وکالت سره نصف مشترىٰ [د رانيول سوي شي نيمه حصه] رانيولې ده او له خپل مال څخه يې نغد ثمن اداء کړی دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او [مخکي] مورږ د دې بيان وکړی هَذَا إِذَا اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِأَحَدِ الْمَالَيْنِ أَوَّلًا ثُمَّ هَلَكَ مَالُ الْآخَرِ دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي أحدُ الشريکَين په دواړو مالونو کي په يوه مال سره اول يو شی رانيسي. بيا د بل شريک مال هلاک سي أَمَّا إِذَا هَلَكَ مَالُ أَحَدِهِمَا ثُمَّ اشْتَرَى الْآخَرُ بِمَالِ الْآخَرِ لېکن که [مخکي] په دوی کي د يوه شريک مال هلاک سي. بيا بل شريک په خپل مال سره يو شی رانيسي إِنْ صَرَّحَا بِالْوَكَالَةِ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ نو که چيري دوی په عقد شرکت کي د وکالت صراحت کړی وي ايمني د عقد شرکت په وخت کي يې په صراحت سره د وکالت

خبره ذكر كړې وي ا فَالْمُشْتَرَى مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا نو رانيول سوی شی به د دوی په مينځ کې د دوی د شرط مطابق مشترک وي لِأَنَّ الشَّرِكَةَ إِنْ بَطَلَتْ فَالْوَكَالَةُ الْمُصَرَّحُ بِهَا قَائِمَةٌ ځکه شرکت که څه هم باطل سو لېکن ذکر کړی سوی وکالت خو موجود دی فَكَانَ مُشْتَرَكًا بِحُكْمِ الْوَكَالَةِ نو د وکالت په حکم سره به هغه د دوی په مينځ کي مشترک وي وَيَكُونُ شَرِكَةَ مِلْكٍ او دا شرکت به د ملکيت شرکت وي وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ او مشتري به له خپل شريک څخه د هغه د حصې ثمن واپس اخلي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَإِنْ ذَكَرَا مُجَرَّدَ الشَّرِكَةِ وَلَمْ يَنُصَّا عَلَى الْوَكَالَةِ فِيهَا او که دواړو شريکانو فقط د شرکت يادونه کړې وي او په هغه کي يې د وکالت صراحت کړی نه وي كَانَ الْمُشْتَرَى لِلَّذِي اشْتَرَاهُ خَاصَّةً نو رانيول سوی شی به فقط د مشتري وي لِأَنَّ الْوُقُوعَ عَلَى الشَّرِكَةِ حُكْمُ الْوَكَالَةِ الَّتِي تَضَمَّنَتْهَا الشَّرِكَةُ ځکه چي په رانيول سوی شي کي هغه وخت شرکت واقع کيږي کله چي عقد شرکت وکالت لره متضمن وي فَإِذَا بَطَلَتْ لېکن کله چي شرکت باطل سو يَبْطُلُ مَا فِي ضِمْنِهَا نو کوم شی چي د شرکت په ضمن کي دی هغه به هم باطليږي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَرَّحَ بِالْوَكَالَةِ په خلاف د هغه صورت کله چي يې د وکالت صرحت کړی وي لِأَنَّهَا مَقْصُودَةٌ ځکه چي [په هغه صورت کي] وکالت مقصود وي.

اللغات: ﴿صرّحا﴾ د تفعيل ماضي ده: صراحت کول. يو خبره په ښکاره الفاظو سره بيانول. (په خوله بيانول). ﴿تضمّنت﴾ د تفعل ماضي ده: ضمناً شامليدل. مشتمل کېدل (مشتمليدل). ﴿مجرّد﴾ محض. خالي. فقط.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په مخکنی مسئله کي چي کله يو شريک په خپل مال سره په مشترکه توګه يو شی رانيسي او بيا د دويم شريک تر شراء مخکي د هغه (دويم شريک) مال هلاک سي. نو رانيول سوی شی به د دواړو په مينځ کي مشترک وي. او مشتري به له خپل ملګري (دويم شريک) څخه د هغه د حصې ثمن واپس اخلي. لېکن که په دواړو شريکانو کي د يوه شريک تر شراء مخکي د أَحَدُ الشَّرِيكَيْن (يوه شريک) مال هلاک سي او بيا دويم شريک په خپل مال سره يو شی رانيسي. نو دا شی به هغه وخت د دوی په مينځ کي مشترک کيږي کله چي دواړو شريکانو په عقد شرکت کي د وکالت صراحت کړی وي. ځکه چي تر شراء مخکي د أَحَدُ الشَّرِيكَيْن د مال په

هلا کېدلو سره خو شرکت باطليږي او فقط د وکالت په وجه به رانيول سوي شی د دوی په مینځ کي مشترک وي، او په دې صورت کې به هم مشتري له خپل ملګري (دويم شريک) څخه د هغه د حصې په اندازه ثمن واپس اخلي. او که چيري دواړو شريکانو په عقد شرکت کي د وکالت صراحت کړی نه وي بلکي د شرکت يادونه يې کړې وي، نو رانيول سوی شی به فقط د مشتري وي او په دې کي به د دويم شريک هيڅ شرکت نه وي، ځکه چي د دويم شريک شرکت په هغه صورت کي ثابتيږي کله چي په عقد شرکت کي وکالت شامل وي، لهذا کله چي دلته په عقد کي وکالت شامل او ثابت نه دی. نو رانيول سوی شی به هم د مشتري لپاره خاص وي.

د شرکت لپاره د مال ګډولو شرط

قَالَ: وَيَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَإِنْ لَمْ يَخْلِطَا الْمَالَ فرمايي: او شرکت جائز دی که څه هم شريکانو مال سره ګډ کړی نه وي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ [لېکن] امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [له خلط څخه بغير شرکت] جائز نه دی لِأَنَّ الرِّبْحَ فَرْعُ الْمَالِ ځکه چي نفع د مال فرع ده وَلَا يَقَعُ الْفَرْعُ عَلَى الشَّرِكَةِ إِلَّا بَعْدَ الشَّرِكَةِ فِي الْأَصْلِ او په أصل کي له شرکت څخه بغير په فرع کي شرکت نه واقع کيږي وَأَنَّهُ بِالْخَلْطِ او په أصل کي په خلط سره شرکت ثابتيږي وَهَذَا لِأَنَّ الْمَحَلَّ هُوَ الْمَالُ او دا حکم ځکه دی چي د شرکت محل مال دی وَلِهَذَا يُضَافُ إِلَيْهِ همدا وجه ده چي عقد د مال وطرف ته منسوب کيږي وَيُشْتَرَطُ تَعْيِينُ رَأْسِ الْمَالِ او د رأسُ المال تعيين شرط دی بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ په خلاف د مضاربت لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِشَرِكَةٍ ځکه چي هغه شرکت نه دی وَإِنَّمَا هُوَ يَعْمَلُ لِرَبِّ الْمَالِ [ځکه] مضارب خو د ربُ المال لپاره کار کوي فَيَسْتَحِقُّ الرِّبْحَ عَلَى عَمَلِهِ بيا پر خپل کار د مزدورۍ مستحق کيږي [يعني بيا د خپل عمل په عوض کي مزدوري ورکول کيږي] أَمَّا هَهُنَا بِخِلَافِهِ لېکن دلته حالت د هغه په خلاف دی وَهَذَا أَصْلٌ كَبِيرٌ لَهُمَا او دا د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله غتې [قوي] أصل دی حَتَّى يُعْتَبَرَ اتِّحَادُ الْجِنْسِ وَيُشْتَرَطُ الْخَلْطُ همدا وجه ده چي [د دوی په نېز] د جنس يو والي ضروري دي او خلط شرط دی وَلَا يَجُوزُ التَّفَاضُلُ فِي الرِّبْحِ مَعَ التَّسَاوِي فِي الْمَالِ او په مال کي د برابر والي په صورت کي په نفع کي کمي وزياتوب [کمي بيشي] جائز نه ده وَلَا يَجُوزُ شِرْكَةُ التَّقَبُّلِ وَالْأَعْمَالِ لِانْعِدَامِ الْمَالِ او د مال د نشتوالي په وجه شرکت تقبل و أعمال [شرکت صنائع]

جائز نه دي وَلَنَا: أَنَّ الشَّرِكَةَ فِي الرِّبْحِ مُسْتَنِدَةٌ إِلَى الْعَقْدِ دُونَ الْمَالِ زموږ دليل دا دی: چي د نفع شرکت د عقد وطرف ته منسوب دی، نه د مال وطرف ته لِأَنَّ الْعَقْدَ يُسَمَّى شَرِكَةً ځکه چي همدې عقد ته شرکت ويل کيږي فَلَا بُدَّ مِنْ تَحَقُّقِ مَعْنَى هٰذَا الِاسْمِ فِيهِ لهذا په عقد کي د دغه نوم معنیٰ ثابتېدل ضروري دي فَلَمْ يَكُنِ الْخَلْطُ شَرْطًا نو ځکه به ګډول شرط نه وي وَلِأَنَّ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ لَا يَتَعَيَّنَانِ او ځکه چي دراهم او دنانير نه متعين کيږي فَلَا يُسْتَفَادُ الرِّبْحُ بِرَأْسِ الْمَالِ لهذا په رأس المال سره نفع حاصلېدای نه سي وَإِنَّمَا يُسْتَفَادُ بِالتَّصَرُّفِ بلکي نفع خو په تصرّف سره حاصليږي لِأَنَّهُ فِي النِّصْفِ أَصِيلٌ وَفِي النِّصْفِ وَكِيلٌ ځکه چي هر شريک په نصف [نيمايي] مال کي أصيل وي او په نصف مال کي وکيل وي وَإِذَا تَحَقَّقَتِ الشَّرِكَةُ فِي التَّصَرُّفِ بِدُونِ الْخَلْطِ او کله چي له خلط څخه بغير په تصرف کي شرکت ثابت سو تَحَقَّقَتْ فِي الْمُسْتَفَادِ بِهِ وَهُوَ الرِّبْحُ بِدُونِهِ نو په تصرّف سره په حاصل کړی سوي شي يعني په نفع کي به هم له خلط څخه بغير شرکت ثابتيږي وَصَارَ كَالْمُضَارَبَةِ او دا د مضاربت په څير سو فَلَا يُشْتَرَطُ اتِّحَادُ الْجِنْسِ وَالتَّسَاوِي فِي الرِّبْحِ لهذا د جنس يو والی او په نفع کی برابر والی به شرط نه وي وَتَصِحُّ شَرِكَةُ التَّقَبُّلِ او شرکت تقبّل به صحيح وي.

اللغات: ﴿فرع﴾ ښاخ، څانګه. جمع: فُرُوْع. ﴿خَلْط﴾ د ضرب مصدر دی: ګډول. ﴿تساوی﴾ د تفاعل مصدر دی: يو د بل سره برابرېدل، خپل مينځوی برابر والی. ﴿مستندة﴾ د استفعال اسم فاعل دی: منسوب. ﴿لا يستفاد﴾ د استفعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: حاصلول. ﴿مُستفاد﴾ د استفعال اسم مفعول دی: حاصل کړی سوی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زموږ په نيز د مال له ګډولو (مخلوط کولو) څخه بغير هم عقد شرکت صحيح او جائز دی، ليکن د امام او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز له خلط (ګډولو) څخه بغير شرکت جائز نه دی.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي په مشترکه توګه په تجارت کولو سره چي کومه نفع حاصليږي هغه د مال فرع ده او دا معلومه خبره ده چي که په أصل او مال کي شرکت نه وي نو فرع به هم مشترکه نه وي، او په أصل کي اشتراک په خلط او ګډولو سره راځي. نو په دې وجه زموږ (د شوافعو) په نيز شرکت صحيح نه دی. او د دې خبري دليل "چي نفع د مال فرع ده" دا دی چي د شرکت او نفعي محل

مال دی همدا وجه ده چې دا عقد د مال وطرف ته منسوب کیږي او "عقد شرکة المال" ورته ویل کیږي. نو په دې وجه به د نفعې د حصول او د عقد د جواز مدار پر مال وي او د عقد د صحت لپاره به د مال مشترک کېدل ضروري وي. د دې په خلاف د مضاربت معامله ده. نو په مضاربت کې خلط شرط نه دی او له اختلاط څخه بغیر هم مضاربت جائز دی. ځکه چې په مضاربت کې خو له سره بالکل شرکت نشته. ځکه مضارب د ربُ المال لپاره کار کوي او خپله مزدوري اخلي.

صاحب د هدایې فرمایي چې نفع د مال فرع کېدل د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قوي أصل دی په همدې وجه د دې حضراتو په نیز د مال مخلوط کېدل او له یوه جنس څخه کېدل ضروري دي. ځکه چې د مختلفُ الجنس کېدلو په صورت کې به خلط ممکن نه وي. او د دې حضراتو په نیز که د دواړو شریکانو مال برابر وي نو په نفع کې به هم مساوات شرط وي. او څرنګه چې په شرکت تقبّل (شرکت صنائع) کې مال نشته. نو په دې وجه د دوی په نیز د شرکت دغه قسم صحیح نه دي.

زموږ دلیل: په دې سلسله کې زموږ دلیل دا دی چې د نفع د شرکت تعلق د عقد سره دی. د مال سره نه دی؛ ځکه چې د دغه عقد نوم شرکت دی. دویمه خبره دا ده چې دراهم او دنانیر په عقودو کې په متیعّنولو سره نه متعین کیږي، لهذا د هغوی په ذریعه حاصلېدونکې نفع به د عقد سره متعلق وي او د مال سره به متعلق نه وي. او عقد "عقد شرکت" دی. نو د عقد په وجه به په نفع کې هم شرکت وي. او څرنګه چې په عقد شرکت کې له مال ګډولو (خلط) څخه بغیر د تصرف په ذریعه د دواړو خلګو (شریکانو) شرکت صحیح دی. لهذا په نفع کې به هم د دواړو شرکت صحیح وي. او کله چې په أصل یعنې په عقد کې د خلط ضرورت محسوس نه سو نو په عقد سره چې کومه نفع حاصلیږي په هغه کې به هم د خلط ضرورت نه وي. او له خلط څخه بغیر به په عقد کې هم شرکت ثابتیږي او په نفع کې هم.

د شرکت په هکله یو څو مسئلې

قَالَ: وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ إِذَا شُرِطَ لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ مُسَمَّاةٌ مِنَ الرِّبْحِ فرمایي: او عقد شرکت جائز نه دی کله چې د أحدُ الشریکَین لپاره له نفعې څخه د څو متعیّنو [مخصوصو] دراهمو شرط ولګول سي لِأَنَّهُ شَرْطٌ يُوجِبُ انْقِطَاعَ الشَّرِكَةِ ځکه چې دا یو داسې شرط دی کوم چې شرکت ختموي فَعَسَاهُ لَا يَخْرُجُ إِلَّا قَدْرَ الْمُسَمَّى لِأَحَدِهِمَا او کېدای سي چې فقط هغه دراهم [په نفع کې] راووځي کوم چې د أحدُ الشریکَین لپاره متعین کړ سوي وي وَنَظِيرُهُ فِي الْمُزَارَعَةِ او د دې مثال په مزارعت کې موجود دی قَالَ: وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَفَاوِضَيْنِ وَشَرِيكَيِ الْعِنَانِ أَنْ يُبْضِعَ الْمَالَ فرمایي: چې په دواړو مفاوضه کونکو او د عنان په دواړو شریکانو کې هر شریک ته دا حق سته چې خپل مال په بضاعت ورکړي

لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ ځکه چې په عقد شرکت کې په بضاعت مال ورکول عادت [او رواج] دی وَلِأَنَّ لَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ عَلَى الْعَمَلِ او ځکه چې شریک ته دا اختیار هم سته چې د کار کولو لپاره په أجرت یو مزدور [أجیر] ونیسي وَالتَّحْصِيلُ بِغَيْرِ عِوَضٍ دُونَهُ او بېله عوضه [بېله أجرته] د نفع حاصلول له دې ځخه هم کم [او سپک] دي [یعني یو دلیل دا هم دی چې د شریک لپاره دا جائز دي چې د کار لپاره یو عامل په أجرت ونیسي، او په بضاعت کې شریک مُفت او بېله عوضه له عامل ځخه کار اخلي کوم چې له أجرت ځخه هم کم دي، نو ځکه به شریک دا کار هم کولای سي] فَيَمْلِكُهُ نو ځکه به شریک د دې [بضاعت] ملکیت هم لري وَكَذَا لَهُ أَنْ يُودِعَهُ همدارنګه د شریک لپاره دا هم جائز دي چې د شرکت مال [یو چا ته] په امانت کښېږدي لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ ځکه چې دا هم عادت دي وَلَا يَجِدُ التَّاجِرُ مِنْهُ بُدًّا او د تاجر لپاره له دې ځخه هیڅ چاره نسته قَالَ: وَيَدْفَعُهُ مُضَارَبَةً فرمایي: او شریک په مضاربت هم مال ورکولای سي لِأَنَّهَا دُونَ الشَّرِكَةِ ځکه چې مضاربت له شرکت ځخه د کمې درجې دی فَيَتَضَمَّنُهَا نو ځکه به شرکت مضاربت لره شامل وي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ ذَٰلِكَ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه روایت سوی دی: چې د شریک لپاره په مضاربت مال ورکول جائز نه دي لِأَنَّهُ نَوْعُ شَرِكَةٍ ځکه چې مضاربت هم یو ډول شرکت دی وَالْأَصَحُّ هُوَ الْأَوَّلُ او زیات صحیح اول قول دی وَهُوَ رِوَايَةُ الْأَصْلِ او هغه د مبسوط روایت دی لِأَنَّ الشَّرِكَةَ غَيْرُ مَقْصُودَةٍ وَإِنَّمَا الْمَقْصُودُ تَحْصِيلُ الرِّبْحِ ځکه چې په مضاربت سره شرکت مقصود نه وي بلکې نفع حاصلول مقصود وي كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَهُ بِأَجْرٍ [او دا داسې دی] لکه یو ځوک چې په أجرت ونیسي بَلْ أَوْلَىٰ بلکې مضاربت خو په درجه اولیٰ جائز دی لِأَنَّهُ تَحْصِيلٌ بِدُونِ ضَمَانٍ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چې دا پر خپله ذمه د یو شي د لازمولو ځخه بغیر نفع حاصلول دي بِخِلَافِ الشَّرِكَةِ حَيْثُ لَا يَمْلِكُهَا په خلاف د شرکت. ځکه چې شریک د هغه ملکیت نه لري لِأَنَّ الشَّيْءَ لَا يَسْتَتْبِعُ مِثْلَهُ ځکه چې شی د خپل همځیره [هم مثله] شي د تابع په توګه نه ثابتیږي قَالَ: وَيُوَكِّلُ مَنْ يَتَصَرَّفُ فِيهِ فرمایي: او هر شریک یو ځوک وکیل [هم] جوړولای سي چې هغه د شرکت په مال کې تصرّف [تجارت] وکړي لِأَنَّ التَّوْكِيلَ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ مِنْ تَوَابِعِ التِّجَارَةِ ځکه

چي د خرڅولو او رانيولو لپاره وکيل جوړول د تجارت د لوازماتو څخه دي وَالشِّرْكَةُ انْعَقَدَتْ لِلتِّجَارَةِ او عقدِ شرکت د تجارت لپاره منعقد کيږي بِخِلَافِ الْوَكِيلِ بِالشِّرَاءِ په خلاف د وکيل بالشراء [يعني هغه وکيل کوم چي ديو شي پر رانيولو وکيل جوړ سوی وي] حَيْثُ لَا يَمْلِكُ أَنْ يُوَكِّلَ غَيْرَهُ ځکه هغه د دې ملکيت نه لري چي بل څوک وکيل جوړ کړي لِأَنَّهُ عَقْدٌ خَاصٌّ طُلِبَ مِنْهُ تَحْصِيلَ الْعَيْنِ ځکه چي دا يو خاص عقد دی چي په هغه سره د عَين حاصلول مقصود دي فَلَا يَسْتَتْبِعُ مِثْلَهُ لهذا هغه به د خپل همځيره شي د تابع په توګه نه ثابتيږي قَالَ: وَيَدُهُ فِي الْمَالِ يَدُ أَمَانَةٍ فرمايي: او د شريک په مال کي د شريک قبضه د امانت قبضه ده [مطلب دا چي د هر شريک په قبضه کي د بل شريک مال امانت دی] لِأَنَّهُ قَبَضَ الْمَالَ بِإِذْنِ الْمَالِكِ لَا عَلَى وَجْهِ الْبَدَلِ وَالْوَثِيقَةِ ځکه چي شريک د مالک په اجازت سره بې له څه عوضه او بې له وثيقې د هغه پر مال قبضه کړې ده فَصَارَ كَالْوَدِيعَةِ نو دا د امانت په څير سو.

اللغات: ﴿مُسمّاة﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دی: مقرر، متعيّن، ټاکل سوی. ﴿انقطاع﴾ د انفعال مصدر دی: قطع کېدل، پرېکېدل (شکېدل)، ختمېدل. ﴿نظير﴾ مثل، مشابه، مثال. ﴿يبضع﴾ د افعال مضارع ده: سرمايه جوړول، د بضاعت په توګه ورکول، د کاروبار لپاره ورکول. يعني يو چا ته په دې مقصد مال ورکول چي ته په دې مال کار او ګټه وکړه، او بيا د دې په بدله کي هغه ته عوض نه ورکول. دې ته "په بضاعت ورکول" وايي. ﴿وثيقة﴾ هغه شی چي معامله په مضبوطه سي، اقرار نامه، سند، دستاويز.

تشريح: په دې عبارت کي پنځه مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که چيري د أحدُ الشريکَين (يوه شريک) لپاره له نفعي څخه ديو څو متعيّن دراهمو شرط ولګول سي نو شرکت باطليږي (مثلاً يو شريک دا شرط ولګوي چي له نفعي [ګټي] څخه به پنځوس درهمه اول ما ته راکول کيږي او بيا به پاته نفع نصف، نصف تقسيمول کيږي، داسي شرکت باطل دی)، ځکه کېدای سي چي کله فقط متعين دراهم په نفع کي راووځي (مثلاً ټوله نفع به فقط پنځو درهمه وي) او دويم شريک به بالکل محروم سي، نو په دې وجه به دا شرکت باطليږي. لکه د مزارعت او بزګرۍ کولو په صورت کي چي د مالک لپاره د داسي شرط په لګولو سره مزارعت باطليږي.

(۲)... د مفاوضې او عنان هر شریک ته دا جائز دي چي بل سړي ته د بضاعت په توګه مال ورکړي: ځکه چي په عقدِ شرکتِ کي د بضاعت رواج او عادت دی، او بل دا چي کله مالک او شریک ته دا حق سته چي یو څوک په اُجرت ونیسي او کار او ګټه په وکړي، نو هغه ته به په طریقه اولیٰ دا حق هم وي چي بېله عوضه په یو چا بضاعت وکړي. او هر شریک ته دا هم جائز دي چي بل سړي ته د امانت (ودیعت) په توګه مال ورکړي، ځکه چي په تجارت کي د دغه ټولو شیانو ضرورت پیښیږي.

(۳)... دریمه مسئله دا ده چي هر شریک ته دا حق هم سته چي خپل مال په مضاربت ورکړي، ځکه چي مضاربت له شرکت څخه کمتر (د لاندي درجې) وي، ځکه په شرکت کي چي کوم نقصان وسي هغه پر هر شریک لازمیږي. لیکن د مضاربت نقصان پر مضارب نه لازمیږي بلکي فقط پر ربُ المال لازمیږي. او کله چي په شرکت کي د مال ورکول جائز دي نو په مضاربت کي به هم د مال ورکول جائز وي، دا د مبسوط روایت دی او همدا أصح دی، ځکه چي د مضاربت په توګه په مال ورکولو کي شرکت مقصود نه وي بلکي د نفعي (ګټي) حصول مقصود وي، او څرنګه چي د مضاربت په صورت کي که مضارب نفع حاصله نه کړي نو پر ربُ المال د هغه مزدوري (حقُ الزحمه) نه لازمیږي، حال دا چي د استیجار په صورت کي یعني په اُجرت او کرایه باندي د مزدور (أجیر) د نیولو په صورت کي که نفع وي یا نه وي په هر صورت کي به مالک مزدور ته خپله مزدوري ورکوي، نو په دې حواله سره مضاربت له استیجار څخه آسانه او سپک دی او استیجار جائز دی نو مضاربت به په طریقه اولیٰ جائز وي. خو یوه شریک ته دا حق او اختیار نسته چي له خپل ملګري (دویم شریک) څخه بغیر د یو بل چا سره عقدِ شرکت وکړي: ځکه چي یو شی د خپل هَمْ مثله دویم شي نه تابع کیږي یعني د هغه د تابع په توګه نه ثابتیږي، مطلب دا چي شرکت پرېښوول او هماغه شرکت اختیارول صحیح نه دي.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده چي هر شریک ته په عقدِ شرکت کي د تجارت کولو لپاره د وکیل جوړولو حق هم سته: ځکه چي د بیع او شراء لپاره وکیل جوړول د تجارت د لوازماتو څخه دي، او د شرکت مقصد هم تجارت دی، نو په دې وجه توکیل (وکیل جوړول) صحیح دي. لیکن که یو څوک وکیل بالشراء وي، نو د مؤکل له اجازت څخه بغیر هغه بل څوک وکیل نه سي جوړولای، ځکه چي توکیل بالشراء خاص عقد دی او په هغه سره د متعیَن شي تحصیل مقصود وي، او وکیل چي بل څوک وکیل جوړ کړي نو دا استتباع بمثله دی، حالانکي حکم دا دی چي "الشئ لا یستتبع بمثله".

(۵)... پنځمه مسئله دا ده چي د هر شریک سره چي د بل شریک کوم مال وي هغه د امانت په توګه دی، یعني د هلاکېدلو په صورت کي نه مضمون کیږي، لکه څرنګه چي د ودیعت (امانت) مال نه مضمون کیږي.

د "شركت صنائع" بيان

قَالَ: وَأَمَّا شِرْكَةُ الصَّنَائِعِ وَيُسَمَّى شِرْكَةَ التَّقَبُّلِ فرمايي: كوم چي شركتِ صنائع دى چي هغه ته "شركتِ تقبّل" ويل كيږي كَالْخَيَّاطِيْنِ وَالصَّبَّاغِيْنِ يَشْتَرِكَانِ عَلٰى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ وَيَكُوْنَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا لكه دوه خياطان [درزيان] او دوه رنګريزان چي پر دې خبره شركت وكړي چي دوى دواړه به كار كوي او ګټه به د دوى په مينځ كي مشتركه وي فَيَجُوْزُ ذٰلِكَ نو دا جائز دي وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا حكم زموږ په نېز دى وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوْزُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي جائز نه دى لِأَنَّ هٰذِهِ شِرْكَةٌ لَا تُفِيْدُ مَقْصُوْدَهَا وَهُوَ التَّثْمِيْرُ ځكه چي دا يو داسي شركت دى كوم چي د شركت مقصود نه فايده كوي [يعني د شركت مقصود نه پكښي حاصليږي] او مقصود د مال زياتول [نفع حاصلول] دي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ ځكه چي د رأسُ المال وجود ضروري دى وَهٰذَا لِأَنَّ الشِّرْكَةَ فِي الرِّبْحِ تَبْتَنِيْ عَلَى الشِّرْكَةِ فِي الْمَالِ عَلٰى أَصْلِهِمَا او دا حكم ځكه دى چي د دې حضراتو پر أصل شركت فى الربح په شركت فى المال باندي مبني دى عَلٰى مَا قَرَّرْنَاهُ لكه [مخكي] چي موږ د دې بيان وكړى وَلَنَا: أَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنْهُ التَّحْصِيْلُ زموږ دليل دا دى: چي په عقد شركت سره د مال [نفع] حاصلول مقصود دي وَهُوَ مُمْكِنٌ بِالتَّوْكِيْلِ او دا مقصود په توكيل [وكيل جوړولو] سره ممكن دى لِأَنَّهُ لَمَّا كَانَ وَكِيْلًا فِي النِّصْفِ أَصِيْلًا فِي النِّصْفِ ځكه كله چي هر شريك په نصف كي وكيل دى او په نصف كي أصيل دى تَحَقَّقَتِ الشِّرْكَةُ فِي الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ نو په حاصل كړى سوي مال كي شركت ثابت سو وَلَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ اِتِّحَادُ الْعَمَلِ وَالْمَكَانِ او په شركت كي د كار او مقام يو والى شرط نه دى خِلَافًا لِمَالِكٍ وَزُفَرَ فِيْهِمَا په دې دواړو كي د امام مالک او امام زفر رَحِمَهُمَا الله اختلاف دى لِأَنَّ الْمَعْنَى الْمُجَوِّزَ لِلشِّرْكَةِ وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ لَا يَتَفَاوَتُ ځكه چي د شركت جائز ګرځونكي معنىٰ كوم چي موږ ذكر كړه [يعني نفع حاصلول] نه متفاوت كيږي وَلَوْ شَرَطَا الْعَمَلَ نِصْفَيْنِ وَالْمَالَ أَثْلَاثًا او كه دواړه شريكان د نيم. نيم كار كولو او په نفع كي د دريو حصو شرط ولګوي [يعني دا شرط ولګوي چي كار به دواړه نيم په نيمه كوو. او نفع به د يوه لپاره دوې حصې (دوه ثلثه) وي او د بل لپاره به يوه حصه وي] جَازَ نو

هم جائز دي وَفِي الْقِيَاسِ: لَا يَجُوزُ او قياس دا دی: چي جائز نه دي لِأَنَّ الضَّمَانَ بِقَدْرِ الْعَمَلِ ځکه چي ضمان (بدله) د کار په اندازه سره وي فَالزِّيَادَةُ عَلَيْهِ رِبْحُ مَالَمْ يُضْمَنْ لهذا تر کار زيات ضمان به "ربح ما لم يضمن" وي فَلَمْ يَجُزِ الْعَقْدُ نو ځکه به عقد نه جائز کيږي لِتَأْدِيَتِهِ إِلَيْهِ ځکه چي همدا عقد د ربح (نفع) سبب جوړيږي وَصَارَ كَشَرِكَةِ الْوُجُوهِ او دا د شرکت وجوه په څير سو وَلٰكِنَّا نَقُولُ: مَا يَأْخُذُهُ لَا يَأْخُذُهُ رِبْحًا ليکن موږ وايو: چي کوم څه (زياتوب) چي هغه اخلي هغه د نفعي په توګه نه اخلي لِأَنَّ الرِّبْحَ عِنْدَ اتِّحَادِ الْجِنْسِ ځکه چي نفع د جنس د يو والي په صورت کي وي وَقَدِ اخْتَلَفَ حالانکي (دلته) أصل او نفع سره مختلف دي لِأَنَّ رَأْسَ الْمَالِ عَمَلٌ وَالرِّبْحَ مَالٌ ځکه چي رأسُ المال کار دی او نفع مال دی فَكَانَ بَدَلَ الْعَمَلِ لهذا هغه چي کوم څه اخيستي دي هغه د کار عوض دی وَالْعَمَلُ يُتَقَوَّمُ بِالتَّقْوِيمِ او عمل په تقويم سره متقوّم کيږي (يعني پر کار چي قيمت ولګول سي نو هغه هم متقوم (قيمت والا) ګرځي) فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ مَا قُوِّمَ بِهِ لهذا په کوم مقدار سره چي د هغه قيمت لګول سوی وي په هغه مقدار سره به ثابتيږي فَلَا يَحْرُمُ نو زياتوب به حرام نه وي بِخِلَافِ شَرِكَةِ الْوُجُوهِ په خلاف د شرکت وجوه لِأَنَّ جِنْسَ الْمَالِ مُتَّفِقٌ ځکه چي په هغه کي جنس متفق وي وَالرِّبْحُ يَتَحَقَّقُ فِي الْجِنْسِ الْمُتَّفِقِ او نفع په متفق کي جنس کي ثابتيږي وَرِبْحُ مَالَمْ يُضْمَنْ لَا يَجُوزُ إِلَّا فِي الْمُضَارَبَةِ او "ربح مالم يضمن" صرف په مضاربت کي جائز ده.

اللغات: ﴿خيّاط﴾ درزي، ګنډونکی، د جامو او کاليو جوړونکی. ﴿صبّاغ﴾ رنګريز، هغه څوک چي جامې او ټوکران رنګوي. ﴿تثمير﴾ د تفعيل مصدر دی: اضافه کول، زياتول، ډېرول. ﴿تبتني﴾ د افتعال مضارع ده: مبني کېدل. ﴿تقويم﴾ د تفعيل مصدر دی: قيمت لګول (قيمت او بيه پر اېښوول).

تشريح: په دې عبارت کي د شرکت دريم قسم يعني "شرکت صنائع" بيان سوی دی. شرکت صنائع دا دی چي دوه کاريګر (کسبګر) خلک پر دې خبره شرکت وکړي چي دواړه به په ګډه کار کوو او کومه نفع (ګټه) چي حاصله سي هغه به زموږ په مينځ کي مشترکه وي. نو زموږ (د احنافو) په نيز دا شرکت جائز دی. ليکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دی.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې په دغه شرکت سره د شرکت مقصود يعني "د نفع حصول" نه حاصليږي. ځکه چې د ربح (نفع) د حصول لپاره د رأسُ المال موجودېدل ضروري دي او دلته رأسُ المال معدوم دی. او د دې حضراتو په نيز شرکت في الربح په شرکت في المال باندې مبني دی. او ځرنګه چې دلته شرکت في المال معدوم دی، نو ځکه به شرکت في الربح هم معدوم وي.

زمونږ دليل: دا دی چې د عقدِ شرکت مقصد د نفعې حصول دی او دا حصول په دې توګه متحقق کيږي چې يو شريک بل شريک وکيل جوړ کړي (او دلته هم يو شريک بل شريک وکيل جوړوي). ځکه چې هر شريک په نصف کې وکيل وي او په نصف کې أصيل وي. او د وکالت په حواله سره شرکت متحقق کيږي. او د شرکت د تحقق او ثبوت لپاره د کار او مقام يو والي (اتحاد) ضروري نه دی، ځکه چې د شرکت جائز کونکی شی يعني تحصيلُ الربح د کار او مقام په مختلف کېدلو سره نه مختلف کيږي. لهذا کله چې دلته أصل مقصود حاصليږي نو بيا به د رأسُ المال په موجود والي او نشتوالي سره د شرکت په صحت کې هيڅ فرق او نقصان نه راځي.

ولوشرط إلخ: د دې حاصل دا دی چې که دواړه شريکان دا شرط ولګوي چې موږ به دواړه برابر کار کوو لېکن په نفع (ګټه) کې به د يوه لپاره دوې حصې وي او د بل لپاره به يوه حصه وي. نو دا استحساناً جائز دي. لېکن قياساً جائز نه دي، د قياس دليل دا دی چې نقصان او نفع د عمل په اندازه ورکول کيږي او ځرنګه چې دلته عمل نصف دی. لهذا ربح (نفع) هم نصف ورکول پکار دي. او له نصف څخه زائد اخيستل ربح ما لم يضمن ده او ربح ما لم يضمن جائز نه ده. او لکه ځرنګه چې په شرکة في الوجوه کې تفاضل في الربح جائز نه دی، همداسې په دې مسئله کې هم تفاضل في الربح جائز نه دی.

د استحسان دليل دا دی چې په دې مسئله کې چې دواړه شريکان کوم څه اخلي هغه نفع (ګټه) نه ده بلکې د دوی د کار او عمل أجرت دی. او د کار أجرت له تاکل سوي حساب څخه کم يا زيات هم اخيستل کېدای سي؛ ځکه چې دلته عمل رأسُ المال دی او أجرت مال دی او په دې دواړو کې اختلاف دی. حالانکې په شرکتِ وجوه کې د مال جنس متفق او متحد وي او په متفقُ الجنس کې نفع متحقق کيږي. او په متفقُ الجنس کې (د ځان لپاره) د زياتې نفعې (ګټې) شرط لګول جائز وي. لېکن په شرکتِ صنائع کې جنس مختلف دی. او د جنس د اختلاف په صورت کې تفاضل جائز دی. لکه ځرنګه چې د مضاربت په صورت کې ربح ما لم يضمن هم جائز ده.

د شرکت صنائع نتيجه

قَالَ: وَمَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ فرمايي: او په شريکينو کي چي هر شريک کوم کار هم قبول کړي يَلْزَمُهُ وَيَلْزَمُ شَرِيكَهُ هغه به پر ده او د ده پر شريک لازم وي حَتَّى إِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُطَالَبُ بِالْعَمَلِ تر دې چي په دوی کي به له هر يوه څخه د عمل مطالبه کيږي وَيُطَالِبُ بِالْأَجْرِ او هر شريک به د اُجرت مطالبه کوي وَيَبْرَأُ الدَّافِعُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ او اُجرت ورکونکي به يوه شريک ته د اُجرت په ورکولو سره بري کيږي وَهَذَا ظَاهِرٌ فِي الْمُفَاوَضَةِ په مفاوضه کي خو دا ښکاره دي وَفِي غَيْرِهَا اسْتِحْسَانٌ او له مفاوضې څخه بغير په بل صورت کي استحساناً جائز دي وَالْقِيَاسُ خِلَافُ ذَلِكَ لېکن قياس د دې مخالف دی لِأَنَّ الشَّرِكَةَ وَقَعَتْ مُطْلَقَةً ځکه چي دا شرکت مطلق واقع سوی دی وَالْكَفَالَةُ مُقْتَضَى الْمُفَاوَضَةِ او کفالت د مفاوضې مقتضیٰ ده [يعني په مفاوضه کي کفاله هم وي] وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ هَذِهِ الشَّرِكَةَ مُقْتَضِيَةٌ لِلضَّمَانِ د استحسان دليل دا دی: چي دا شرکت د ضمان تقاضا کونکی دی أَلَا تَرَى أَنَّ مَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ مَضْمُونٌ عَلَى الْآخَرِ آيا ته نه ګورې! چي په دوی کي هر شريک يو کار قبل کړي هغه به پر بل شريک مضمون وي وَلِهَذَا يَسْتَحِقُّ الْأَجْرَ بِسَبَبِ نَفَاذِ تَقَبُّلِهِ عَلَيْهِ او له همدې کبله د يوه شريک د کار قبلول پر دويم شريک باندي د نافذېدلو په وجه دويم شريک د اُجرت مستحق کيږي [يعني همدا وجه ده چي پر يوه شريک د کار لازمېدلو په وجه دويم شريک هم د اُجرت اخيستلو مستحق کيږي] فَجَرَى مَجْرَى الْمُفَاوَضَةِ فِي ضَمَانِ الْعَمَلِ وَاقْتِضَاءِ الْبَدَلِ لهذا د کار په ضما' او د عوض په تقاضا کولو [مطالبه کولو] کي به دا عقد د مفاوضې قائم مقام وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله زموږ په نيز شرکت صنائع جائز دی نو له شريکينو څخه چي کوم شريک هم کار قبول کړي هغه به پر دويم شريک هم لازم وي او له دواړو شريکانو څخه به د هغه کار مطالبه کيږي. همدارنګه د هر شريک لپاره به د هغه کار د اُجرت مطالبه کول صحيح وي. دا ټوله شيان خو په عقد مفاوضه کي ښکاره دي. يعني که د تقبّل شرکت د مفاوضې او مساوات په توګه وي نو بيا خو ښکاره ده چي دواړه شريکان به په هر شي کي شريک وي. لېکن که مطلق شرکت تقبّل وي او په هغه کي د مفاوضې شرط نه وي. نو په هغه صورت کي استحساناً مساوات ثابتيږي. قياساً نه ثابتيږي: د قياس دليل دا دی چي په مطلق شرکت کي کفاله نه وي او له کفالې څخه بغير مساوات نه

ثابتیږي. د استحسان دلیل دا دی چي د مفاوضې له صراحت څخه بغیر هم په دغه شرکت کي ضمان او مساوات ثابتیږي. همدا وجه ده چي دیوه شریک قبول کړی سوی کار پر دویم شریک لازمیږي او د کار تر قبلولو وروسته دویم شریک د أجرت مستحق کیږي (یعني که فقط یو شریک کار قبول کړي نو دویم شریک د هغه کار د أجرت مطالبه کولای سي)، لهذا د مفاوضې له صراحت څخه بغیر به هم دا شرکت "د کار د ضمان او أجرت د مطالبې په حواله سره" د شرکتِ مفاوضه په درجه کي وي. او په دواړو کي به مساوات ثابت وي.

د شرکتِ وجوه أحکام

قَالَ: وَأَمَّا شِرْكَةُ الْوُجُوهِ فَالرَّجُلَانِ يَشْتَرِكَانِ وَلَا مَالَ لَهُمَا عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا فرمايي: او شرکتِ وجوه دا دی چي دوه داسي خلک کوم چي مال نه لري پر دې خبره شرکت وکړي چي دوی به په خپل وجاهت [اعتبار او تعلقاتو] سره [په قرض] رانیول او خرڅول کوي فَتَصِحُّ الشِّرْكَةُ عَلَى هٰذَا نو په دې توګه شرکت کول صحیح دي سُمِّيَتْ بِهِ لِأَنَّهُ لَا يَشْتَرِي بِالنَّسِيئَةِ إِلَّا مَنْ كَانَ لَهُ وَجَاهَةٌ عِنْدَ النَّاسِ او دې ته شرکتِ وجوه ځکه وایي چي په قرض هغه سړی شی رانیولای سي کوم چي د خلکو په نیز عزت [اعتبار او رسوخ] لري وَإِنَّمَا تَصِحُّ مُفَاوَضَةً لِأَنَّهُ يُمْكِنُ تَحْقِيقُ الْكَفَالَةِ وَالْوَكَالَةِ فِي الْأَبْدَالِ او دا شرکت د مفاوضې په توګه ځکه صحیح دی چي په عوضونو [یعني په أثمانو] کي کفالت او وکالت ثابتول ممکن دي وَإِذَا أُطْلِقَتْ تَكُونُ عِنَانًا او که چیري دغه شرکت مطلق کړی سي نو دا به شرکتِ عنان وګرځي لِأَنَّ مُطْلَقَهُ يَنْصَرِفُ إِلَيْهِ ځکه چي مطلق شرکت د عنان وطرف ته ګرځول کیږي وَهِيَ جَائِزَةٌ عِنْدَنَا او دا شرکت زموږ په نیز جائز دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله وَالْوَجْهُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ مَا قَدَّمْنَاهُ فِي شِرْكَةِ التَّقَبُّلِ او د دواړو طرفونو دلیلونه په شرکتِ تقبّل کي موږ بیان کړل قَالَ: وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَكِيلُ الْآخَرِ فِيمَا يَشْتَرِيهِ فرمایي: او له شریکینو څخه به هر شریک د دویم شریک وکیل وي په هغه شي کي کوم چي یې هر شریک رانیسي لِأَنَّ التَّصَرُّفَ عَلَى الْغَيْرِ لَا يَجُوزُ إِلَّا بِوَكَالَةٍ أَوْ بِوِلَايَةٍ ځکه چي له وکالت یا ولایت څخه بغیر پر بل چا تصرّف جائز نه دی وَلَا وِلَايَةَ او دلته ولایت نسته فَتَعَيَّنَ الْوَكَالَةُ نو ځکه وکالت متعین دی فَإِنْ شَرَطَا أَنَّ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ وَالرِّبْحَ كَذٰلِكَ بیا که دواړه شریکان دا شرط ولګوي چي رانیول سوی

شی به د دوی په مينځ کي نيم، نيم وي او نفع [ګټه] به هم نيمه. نيمه وي يَجُوزُ نو جائز دي وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَفَاضَلَا فِيهِ لېکن په نفع کي کمي وزياتوب [کمي بيشي] کول جائز نه دي [يعني دا جائز نه دي چي يو شريک زياته نفع واخلي او بل کمه واخلي] وَإِنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا او که دا شرط ولګوي چي رانيول سوی شی به د دوی په مينځ کي د دريو حصو په حساب سره وي فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ نو نفع به هم داسي وي [يعني که دوی دا شرط ولګوي چي ديوه شريک رانيول سوی شی به يو ثلث (يوه دريمه حصه) وي او د بل شريک رانيول سوی شی به دوه ثلثه وي، نو نفع به هم په دغه تناسب سره هريوه ته ورکول کيږي، يعني د کوم شريک رانيول سوی شی چي يو ثلث وي هغه ته به يو ثلث نفع ورکول کيږي، او د کوم شريک شی چي دوه ثلثه وي هغه ته به دوه ثلثه نفع ورکول کيږي، له دې څخه د کم او زيات شرط لګول جائز نه دي] وَهَذَا لِأَنَّ الرِّبْحَ لَا يُسْتَحَقُّ إِلَّا بِالْمَالِ أَوِ الْعَمَلِ أَوْ بِالضَّمَانِ ځکه چي د نفعي [ګټي] استحقاق خو يا په مال سره وي يا په کار سره وي يا په ضمان [ذمه وارۍ] سره وي فَرَبُّ الْمَالِ يَسْتَحِقُّهُ بِالْمَالِ نو ربُ المال د مال په وجه د نفعي مستحق کيږي وَالْمُضَارِبُ يَسْتَحِقُّهُ بِالْعَمَلِ او مضارب د کار په وجه د نفعي مستحق کيږي وَالْأُسْتَاذُ الَّذِي يُلْقِي الْعَمَلَ عَلَى التِّلْمِيذِ بِالنِّصْفِ بِالضَّمَانِ او هغه استاذ [ذمه وار] کوم چي د نصف ورکولو په عوض کي پر شاګرد [مزدور] کار اچوي هغه د ضمان [ذمه وارۍ] په وجه د نفعي مستحق کيږي [يعني ځيني خلک د ذمه وارۍ اخيستلو په ذريعه د نفع مستحق کيږي، او هغه په دې توګه چي يو ټيکه دار (ذمه وار) د يو کار ذمه واري واخلي (يعني يو ټيکه ووهي) او کار په مزدورانو کوي، او نصف أجرت مزدورانو ته ورکوي او پاته نيم أجرت په خپله اخلي، نو دا ټيکه دار د ضمان او ذمه وارۍ په ذريعه د نفعي مستحق کيږي] وَلَا يُسْتَحَقُّ بِمَا سِوَاهَا او له دې صورتونو څخه بغير په يو بل صورت سره د نفعي استحقاق نه ثابتيږي أَلَا تَرَى أَنَّ مَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ: تَصَرَّفْ فِي مَالِكَ عَلَى أَنَّ لِي رِبْحَهُ آيا ته نه ګوري! چي که يو څوک بل چا ته ووايي: ته په خپل مال سره تجارت کوه! د دې لپاره چي د هغه نفع [ګټه] به زما وي لَمْ يَجُزْ نو دا جائز نه دي لِعَدَمِ هَذِهِ الْمَعَانِي ځکه چي دغه اسباب [صورتونه] معدوم دي وَاسْتِحْقَاقُ الرِّبْحِ فِي شَرِكَةِ الْوُجُوهِ بِالضَّمَانِ او په شرکت وجوه کي د نفعي استحقاق په ضمان سره وي عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه امخکي [چي موږ ادې] بيان وکړی وَالضَّمَانُ عَلَى قَدْرِ الْمِلْكِ فِي الْمُشْتَرَى او ضمان په رانيول سوي شي کي د ملکيت په اندازه ثابتيږي وَكَانَ الرِّبْحُ الزَّائِدُ عَلَيْهِ رِبْحَ مَا لَمْ يُضْمَنْ او پر هغه زايده نفع [يعني تر هغه زياته نفع

اخيستل ابه "ربح مالم يضمن" وي فَلَا يَصِحُّ اشْتِرَاطُهُ إِلَّا فِي الْمُضَارَبَةِ لهذا د "ربح مالم يضمن" شرط لګول صحيح نه دي، مګر په مضاربت کي وَالْوُجُوهُ لَيْسَتْ فِي مَعْنَاهَا او شرکت وجوه د مضاربت په معنیٰ سره نه دی بِخِلَافِ الْعِنَانِ په خلاف د شرکت عنان لِأَنَّهُ فِي مَعْنَاهَا مِنْ حَيْثُ أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَعْمَلُ فِي مَالِ صَاحِبِهِ ځکه چي هغه د مضاربت په معنیٰ سره دی په دې حيثيت سره چي په شرکت عنان کي هر شريک د خپل ملګري په مال سره کار کوي فَيُلْحَقُ بِهَا نو ځکه به شرکت عنان ا په حکم کي ا د مضاربت سره يو ځای کيږي. والله أعلم

اللغات: ﴿وجوه﴾ جمع د وَجْهٌ ده. د دې لفظ ډيري معناوي دي. دلته يې معنیٰ ده: وجاهت (عزت او رعب) يعني اعتبار او رسوخ. شناخت او پېژندګلوي (تعلقات). ﴿نسيئة﴾ پور. قرض. ﴿يلقي﴾ د افعال مضارع ده: اچول. ﴿ربح﴾ نفع. ګټه. منافع.

تشريح: په دې عبارت کي شرکت وجوه بيان سوی دی. د شرکت وجوه تعريف دا دی چي دوه داسي خلک چي د هغو سره مال نه وي پر دې شرط شرکت وکړي چي په ما او تا کي به هريو په خپل وجاهت او په خپلو تعلقاتو سره د خلګو مالونه په قرض رانيسو او هغه به خرڅوو او کومه ګټه او نفع چي وسي هغه به د هريوه لپاره نصف، نصف يا د شراء مطابق وي. نو زموږ په نېز دا شرکت صحيح دی، لېکن د شوافعو په نېز صحيح نه دی، ځکه چي د هغو په نېز د نفع شرکت د مال پر شرکت مبني دی او دلته مال نسته. نو په دې وجه دا شرکت صحيح نه دی، لېکن زموږ په نېز د شرکت صحت پر عقد مبني دی او دلته عقد موجود دی. په "والوجه من الجانبين" سره همدې طرف ته صاحب د کتاب اشاره کړې ده.

والمفاوضة إلخ: فرمايي چي دا شرکت د مفاوضې په توګه ځکه صحيح دی چي په مفاوضه کي کفالت او وکالت وي او په دې شرکت کي که څه هم ابتداءً کفالت نه وي خو بقاءً يعني په ثمن او مبيع کي کفالت وي.

قال وكل واحد إلخ: د دې حاصل دا دی چي په دواړو شريکانو کي چي هر شريک کوم شی رانيسي په هغه کي به رانيونکی شريک د دويم شريک وکيل وي او نفع به د دوی د خپل مينځوي شرط مطابق په دوی کي تقسيمول کيږي. او د يوه شريک لپاره هم د زياتي نفعي (ګټي) د اخيستلو شرط لګول صحيح نه دي، ځکه چي په دې شرکت کي د نفعي استحقاق د ضمان په وجه سره او د ضمان په اعتبار سره حاصليږي. او ضمان په رانيول سوي شي کي د حصې او ملکيت په تناسب سره واجبيږي. نو په دې وجه به د زياتي نفعي د اخيستلو شرط "ربح مالم يضمن" لره متضمن وي او ربح مالم يضمن جائز نه ده. ځکه چي هغه په مضاربت کي جائز ده او شرکت وجوه د مضاربت په معنیٰ سره نه دی (يعني په شرکت وجوه کي د مضاربت هيڅ معنیٰ نسته). والله أعلم بالصواب

فَصْلٌ فِي الشَّرِكَةِ الْفَاسِدَةِ

(دا) فصل په (بيان د) فاسد شرکت کي دی

په ښکار کولو يا د بوټو (لرګيو) په جمع کولو کي شرکت کول

وَلَا يَجُوزُ الشَّرِكَةُ فِي الِاحْتِطَابِ وَالِاصْطِيَادِ او د بوټو (لرګيو) په جمع کولو او ښکار کولو کي شرکت جائز نه دی وَمَا اصْطَادَهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَوِ احْتَطَبَهُ او په دواړو کي چي هر يو ښکار وکړي يا بوټي جمع کړي (ټول کړي) فَهُوَ لَهُ دُونَ صَاحِبِهِ نو دا به (فقط) د هغه وي. نه د هغه د ملګري وَعَلَى هٰذَا الِاشْتِرَاكُ فِي أَخْذِ كُلِّ شَيْءٍ مُبَاحٍ او په هر مباح (روا) شي کي د شرکت کولو همدغه حکم دی لِأَنَّ الشَّرِكَةَ مُتَضَمِّنَةٌ مَعْنَى الْوَكَالَةِ ځکه چي شرکت د وکالت معنیٰ لره متضمن وي وَالتَّوْكِيلُ فِي أَخْذِ الْمَالِ الْمُبَاحِ بَاطِلٌ او د مباح مال (مباح شي) د اخيستلو لپاره وکيل جوړول باطل دي لِأَنَّ أَمْرَ الْمُوَكِّلِ بِهِ غَيْرُ صَحِيحٍ ځکه چي په مباح شي (او مباح کار) سره د مؤکل حکم کول صحيح نه دي وَالْوَكِيلُ يَمْلِكُهُ بِدُونِ أَمْرِهِ او وکيل د مؤکل له حکم څخه بغير هم د هغه ملکيت لري (يعني وکيل د مؤکل له حکم څخه بغير هم مباح شی اخيستلای سي) فَلَا يَصْلُحُ نَائِبًا عَنْهُ لهذا (په مباح شي کي او وکيل د مؤکل له طرفه نائب نه سي جوړېدلای وَإِنَّمَا يَثْبُتُ الْمِلْكُ لَهُمَا بِالْأَخْذِ وَإِحْرَازِ الْمُبَاحِ او د دواړو ملکيت به د مباح شي په اخيستلو او جمع کولو سره ثابتيږي فَإِنْ أَخَذَاهُ مَعًا نو که دوه خلک پر يوه ځای مباح شی واخلي (مثلاً دواړه په يوه وار ښکار ونيسي) فَهُوَ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ نو هغه به د دوی په مينځ کي نيم، نيم وي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي سَبَبِ الِاسْتِحْقَاقِ ځکه چي دوی دواړه د استحقاق په سبب کي برابر دي وَإِنْ أَخَذَهُ أَحَدُهُمَا وَلَمْ يَعْمَلِ الْآخَرُ شَيْئًا او که په دوی کي يو هغه واخلي او دويم هيڅ کار نه وکړي فَهُوَ لِلْعَامِلِ نو هغه به د کار کونکي وي وَإِنْ عَمِلَ أَحَدُهُمَا وَأَعَانَهُ الْآخَرُ فِي عَمَلِهِ بِأَنْ قَلَعَهُ

أَحَدُهُمَا وَجَمَعَهُ الْآخَرُ أَوْ قَلَعَهُ وَجَمَعَهُ وَحَمَلَهُ الْآخَرُ او که په دوی کي يو کار وکړي او دويم په کار کي د هغه سره مدد امرسته ا وکړي په دې توګه چي يو بوټي وکاږي او دويم يې سره جمع کړي يا يو بوټي وکاږي او سره جمع يې کړي او دويم هغه را پورته کړي ااو د خرڅلاو ځای ته يې راوړي ا فَلِلْمُعِينِ أَجْرُ الْمِثْلِ بَالِغًا مَا بَلَغَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله به نېز به مدد کونکي امرستيال ا ته مثلي اُجرت ورکول کيږي هغه که هر څو ته ورسيږي ايعني که څه هم مثلي اُجرت د هغه شي تر نيم قيمت زيات سي ا وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ [*] لَا يُجَاوَزُ بِهِ نِصْفُ ثَمَنِ ذٰلِكَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به د هغه شي تر نيم قيمت زيات اُجرت نه ورکول کيږي وَقَدْ عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ او دا اختلاف په خپل ځای کي پېژندل سوی ابيان سوی ا دی.

اللغات: ﴿احتطاب﴾ د افتعال مصدر دی: بوټي او لرګي ټولول (جمع کول). ﴿اصطياد﴾ دا هم د افتعال مصدر دی: ښکار کول. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: ذخيره کول (جمع کول). محفوظول (خوندي کول، محفوظ ځای ته نقل کول). ﴿استواء﴾ د استفعال مصدر دی: برابرېدل. ﴿أعان﴾ د افعال ماضي ده: مدد کول. مرسته او تعاون کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د بوټو (لرګيو) په را ټولولو او د ښکار او داسي نورو په کولو کي شرکت کول جائز نه دي. يعني داسي نه سي کېدای چي يو سړی بوټي ټول کړي يا ښکار وکړي او بل سړی محض د زباني شرکت پر بناء د هغه سره په دې کي شريک سي. دا صحيح نه دی. بلکي بوټي به فقط د ټولونکي (جمع کونکي) وي او ښکار به فقط د ښکاري وي. د هر مباح (روا) شي د را اخيستلو همدغه حکم دی، ځکه چي شرکت د وکالت معنیٰ لره متضمن دی، حال دا چي د مباح مال د را اخيستلو لپاره وکيل جوړول صحيح نه دي، ځکه چي بغير له وکالت څخه هم مباح مال را اخيستل جائز دي.

او که چيري دوه خلک په ګډه بوټي ټول کړي يا ښکار ونيسي، نو دا شی به د دوی په مينځ کي نيم، نيم وي، ځکه چي دواړو په ګډه هغه حاصل کړی دی، لېکن که فقط يو سړی هغه حاصل کړي او بل سړی د هغه سره هيڅ تعاون او مرسته نه وکړي، نو فقط حاصلونکی سړی به د هغه شي مالک او مستحق وي. ها! که چيري بل سړی په هغه کي تعاون ور سره وکړي. مثلاً يو سړی پر ښکار واري وکړي او بل سړی هغه ونيسي. يا يو سړی بوټي را وکاږي او بل سړی هغه سره جمع کړي. نو تعاون

[*] القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، کما ذکر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٨٣). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٧]

کونکی (مرستیال) ته به أجرت مثلي ورکول کیږي. یعني پر داسي تعاون چي په هغه ځای کي ځومره أجرت ورکول کیږي هغه به معاون ته هم ورکول کیږي که څه هم دا أجرت د هغه شي تر نیم قیمت زیات سي په کوم شي کي چي معاون تعاون کړی وي. دا حکم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دئ. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز به معاون ته أجرت خو ورکول کیږي لېکن په کوم شي کي چي یې تعاون کړی وي د هغه شي تر نیم قیمت به زیات أجرت نه ورکول کیږي.

د شرکت فاسده یو مثال او د شرکت فاسدېدلو صورتونه

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَكَا وَلِأَحَدِهِمَا بَغْلٌ وَلِلْآخَرِ رَاوِيَةٌ يَسْتَقِي عَلَيْهِمَا الْمَاءَ فرمایي: او که دوه خلګ [داسي] شرکت وکړي چي په هغوی کي به د یوه لپاره غاتره وي او د بل لپاره به ژی وي چي پر دواړو به اوبه راخلي [یعني ژی به ډکوي او پر غاتره به یې راوړي او پر خلکو به یې خرڅوي] فَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا او ګټه به د دوی په مینځ کي مشرکه وي لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ نو داسي شرکت صحیح نه دي وَالْكَسْبُ كُلُّهُ لِلَّذِي اسْتَقَى او ټوله نفع به د اوبو د را اخیستونکي لپاره وي الأصول: اوبه یو مباح شی دی. نو کوم یو چي پر اوبو قبضه کړې وي، یعني له ځاځخه یې را اخیستي وي او ژی یې په ډک کړی وی. نو اوبه به د هغه وي او د هغه ملکیت به وي. لهذا ګټه به هم د هغه وي. او دویم سړی به د هغه د مزدور (أجیر) په توګه وي. او هغه ته به خپل أجرت ورکوي [وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الرَّاوِيَةِ إِنْ كَانَ الْعَامِلُ صَاحِبَ الْبَغْلِ او پر هغه به د ژي أجرت مثلي واجب وي که چیري غاتري والا کار کونکی وي [یعني د اوبو را اخیستونکی او د ژي ډکونکی وي] وَإِنْ كَانَ صَاحِبَ الرَّاوِيَةِ فَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الْبَغْلِ او که کار کونکی د ژي والا وي نو پر هغه به د غاتري أجرت مثلي واجب وي أَمَّا فَسَادُ الشَّرِكَةِ فَلِانْعِقَادِهَا عَلَى إِحْرَازِ الْمُبَاحِ وَهُوَ الْمَاءُ کوم چي د شرکت فاسدېدل دي نو هغه ځکه چي شرکت د مباح مال یعني د اوبو پر جمع کولو منعقد سوی دی وَأَمَّا وُجُوبُ الْأَجْرِ فَلِأَنَّ الْمُبَاحَ إِذَا صَارَ مِلْكًا لِلْمُحْرِزِ وَهُوَ الْمُسْتَقِي او أجرت ځکه واجب دی چي کله مباح مال د جمع کونکي یعني د اوبو را اخیستونکي ملکیت وګرځېدی فَقَدِ اسْتَوْفَى مَنَافِعَ مِلْكِ الْغَيْرِ وَهُوَ الْبَغْلُ أَوِ الرَّاوِيَةُ بِعَقْدٍ فَاسِدٍ نو هغه په فاسد عقد سره د بل چا [دویم شریک] د ملکیت منافع حاصل کړل او ملکیت غاتره یا ژی دی فَيَلْزَمُهُ أَجْرُهُ نو ځکه به پر ده د هغه أجرت لازم وي وَكُلُّ شَرِكَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبْحُ فِيهِمَا عَلَى قَدْرِ الْمَالِ او په هر شرکت فاسده کي به نفع د مال په اندازه وي

وَيَبْطُلُ شَرْطُ التَّفَاضُلِ او ا په هغه کي ا به د تفاضل شرط باطل وي لِأَنَّ الرِّبْحَ فِيهِ تَابِعٌ لِلْمَالِ ځکه چي په شرکت فاسده کي نفع د مال تابع وي فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ لهذا نفع به د مال په اندازه ټاکل کيږي كَمَا أَنَّ الرِّبْحَ تَابِعٌ لِلْبَذْرِ فِي الْمُزَارَعَةِ لکه په مزارعت ا او کښت ا کي چي پيداوار افصل ا د تخم تابع کيږي وَالزِّيَادَةُ إِنَّمَا تُسْتَحَقُّ بِالتَّسْمِيَةِ او د نفعي زياتوب په متعينولو سره مستحق ګرځي ا يعني د نفعي زياتوب په تعيين سره ثابتيږي ا وَقَدْ فَسَدَتْ حالانکي شرکت فاسد سو فَبَقِيَ الِاسْتِحْقَاقُ عَلَى قَدْرِ رَأْسِ الْمَالِ لهذا ا اوس ا د رأسُ المال په اندازه استحقاق ا مستحق کېدل ا باقي پاته سو وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَوِ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ او که له دواړو شريکانو څخه يو شريک مړ سي يا مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ سي بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ نو شرکت باطليږي لِأَنَّهَا تَتَضَمَّنُ الْوَكَالَةَ ځکه چي شرکت وکالت لره متضمن وي وَلَا بُدَّ مِنْهَا او د شرکت لپاره وکالت ضروري دي لِيَتَحَقَّقَ الشَّرِكَةُ د دې لپاره چي شرکت ثابت سي عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سو وَالْوَكَالَةُ تَبْطُلُ بِالْمَوْتِ وَكَذَا بِالِالْتِحَاقِ مُرْتَدًّا او په مرګ سره همدارنګه دارُ الحرب ته په تللو سره وکالت باطليږي إِذَا قَضَى الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ ا په دې شرط ا کله چي قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله کړې وي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتِ ځکه چي دارُ الحرب ته تلل د مرګ په درجه کي دي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ د دې بيان وکړی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا عَلِمَ الشَّرِيكُ بِمَوْتِ صَاحِبِهِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ او په دې کي هيڅ فرق نسته چي شريک د خپل ملګري په مرګ خبر وي. يا خبر نه وي لِأَنَّهُ عَزْلٌ حُكْمِيٌّ ځکه چي دا حکمي عزل دی ا يعني دا په حکمي توګه معزولول دي ا فَإِذَا بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ نو کله چي وکالت باطل سي نو شرکت هم به باطليږي بِخِلَافِ مَا إِذَا فَسَخَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ الشَّرِكَةَ په خلاف د هغه صورت کله چي يو شريک شرکت فسخ کړي حَيْثُ يَتَوَقَّفُ عَلَى عِلْمِ الْآخَرِ نو ا په دې صورت کي ا دا ا فسخ ا د دويم شريک پر خبرتيا موقوفه کيږي لِأَنَّهُ عَزْلٌ قَصْدِيٌّ ځکه چي دا قصدي عزل دی ا يعني دا قصداً معزولول دي ا.


اللغات: ﴿راوية﴾ غټ ژی، هغه څرمني خلته چي پخوا به د اُوبو محفوظه کولو لپاره استعمالېده. ﴿استقٰ﴾ د استفعال مصدر دی: د اوبو طلب کول. له څاه، تالاب او داسي نورو ځخه اوبه را اخيستل (راکښل)، مراد ځني د اُوبو را اخيستل او ژی په ډکول دي. ﴿إحراز﴾ د افعال مصدر دی: جمع کول. محفوظه کول (خوندي کول). ﴿استوفٰی﴾ د استفعال ماضي ده: حق اخيستل. حاصلول. ﴿ريع﴾ فصل، پيداوار. غله. ﴿عزل﴾ د ضرب مصدر دی: معزوله کول (معزولول). له کار او دندني څخه ليري کول (برطرفه کول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که چيري دوه خلک په خپل مينځ کي داسي شرکت (شراکت) وکړي چي غاتره (يا مثلاً خر) به د يوه سړي وي او ژی به د بل سړي وي او دواړه به پر غاتري اوبه راوړي بيا به يې خرڅوي او کومه نفع (ګټه) چي وسي هغه به د دوی په مينځ کي مشرکه وي. نو داسي شرکت صحيح نه دی، ځکه چي دا شرکت پر مباح مال يعني پر اُوبو او د اُوبو پر جمع او راوړلو (إحرازُ الماء) باندي منعقد سوی دی. او په مباحاتو کي شرکت باطل دی. او ټوله نفع (ګټه) به د ژي ډکونکي ته ورکول کيږي. يعني که فقط غاتري والا ژی ډک کړی وي نو هغه به ټوله نفع اخلي او د ژي والا ته به د خپل ژي اُجرت مثلي ورکوي. او که ژي والا ژی ډک کړی وي. نو غاتري والا ته به د غاتري اُجرت مثلي ورکوي؛ ځکه چي دلته عامل د فاسد عقد په ذريعه د خپل ملګري د ملکيت منافع حاصل کړل. نو ځکه به پر هغه خامخا اُجرت واجب وي.

وكل شركة إلخ: فرمايي چي په هر شرکت فاسده کي شريکينو ته حاصلېدونکې نفع به د دوی د رأسُ المال مطابق ورکول کيږي. مثلاً د يوه شريک دوه سوه روپۍ رأسُ المال وي او د بل شريک سل روپۍ رأسُ المال وي. نو د نفع تقسيم به أثلاثاً وي (يعني ۲۰۰ والا ته به دوې حصې ورکول کيږي. او ۱۰۰ والا ته به يوه حصه ورکول کيږي) او د کمي و زياتوب شرط به باطل وي. ځکه چي په شرکت فاسده کي نفع د مال تابع کيږي لکه څرنګه چي د کښت پيداوار (فصل او غله) د کښت د تخم تابع کيږي. او د تفاضل استحقاق په شرط او تعيين سره کيږي. او د شرط صحت د شرکت پر صحت موقوف وي (يعني که شرکت صحيح وي نو شرط صحيح کيږي. کني نه صحيح کيږي). لهٰذا په شرکت فاسده کي د شرکت فاسدېدلو په وجه شرط هم فاسديږي. نو په دې وجه به د نفعي د تقسيم ټوله دار ومدار پر رأسُ المال وي.

وإذا مات إلخ: د دې حاصل دا دی چي که أحدُ الشريکَين مړ سي يا مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله هم وکړي، نو شرکت باطليږي؛ ځکه چي شرکت وکالت لره متضمن وي او په مرګ او لحاق بدار الحرب سره وکالت باطليږي. نو ځکه به په دې شيانو سره شرکت هم باطليږي. برابره ده دويم شريک د خپل شريک په مرګ او په لحاق خبر وي او که نه وي په

هر صورت کي شرکت باطليږي، ځکه دا حکمي عزل دی، او عزل حکمي د معزولتيا پر علم او خبر موقوف نه وي، هاا که چيري عزل قصدي وي مثلاً يو شريک شرکت فسخ کړي نو تر څو چي دويم شريک په فسخ خبر نه سي، تر هغه وخته پوري فسخ نه ثابتيږي، ځکه که موږ په دې صورت کي د دويم شريک له خبرېدلو څخه بغير فسخ صادره کړو نو هغه ته به ضرر او نقصان ورسيږي حالانکي د "لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ" دستور او قاعده مشهور ده.





د شريک له طرفه زکاة ورکول

وَلَيْسَ لِأَحَدِ الشَّرِيكَيْنِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاةَ مَالِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ او په دواړو شريکانو کي يوه ته دا حق نسته چي د بل شريک له اجازت څخه بغير د هغه د مال زکاة اداء کړي لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ جِنْسِ التِّجَارَةِ ځکه چي دا د تجارت له جنس څخه نه دي فَإِنْ أَذِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِصَاحِبِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاتَهُ او که هر شريک خپل ملګري ته د خپل زکاة اداء کولو اجازه ورکړې وي [يعني هر شريک بل ته دا اجازه ورکړې چي ته زما زکاة اداء کولای سې!] فَأَدَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بيا په دوی کي هر يو زکاة اداء کړي فَالثَّانِي ضَامِنٌ عَلِمَ بِأَدَاءِ الْأَوَّلِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ نو دويم [يعني وروسته اداء کونکي] به ضامن وي برابره ده هغه د اول په اداء کولو خبر وي او که نه وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا❁: لَا يَضْمَنُ إِذَا لَمْ يَعْلَمْ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که دويم ته معلومه نه وي نو هغه به نه ضامن کيږي وَهَذَا إِذَا أَدَّيَا عَلَى التَّعَاقُبِ او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي دوی يو تر

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله قول المتون، كما ذكر في التنوير (ج:٣، ص:٢٨٥). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٧]

بل وروسته اداء کړی وي أَمَّا إِذَا أَدَّيَا مَعًا لېکن که دوی یو ځای اداء کړی وي ضَمِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نَصِيبَ صَاحِبِهِ نو په دوی کي به هر یو د خپل ملګري د حصې ضامن وي وَعَلَى هَذَا الِاخْتِلَافِ الْمَأْمُورُ بِأَدَاءِ الزَّكَاةِ إِذَا تَصَدَّقَ عَلَى الْفَقِيرِ بَعْدَمَا أَدَّى الْآمِرُ بِنَفْسِهِ او پر همدغه اختلاف هغه سړی دی چي د زکاة اداء کولو حکم ورته سوی وي. کله چي هغه فقير ته (د زکاة مال) صدقه کړي وروسته تر دې چي حکم کونکي يې په خپله اداء کړي لَهُمَا: أَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالتَّمْلِيكِ مِنَ الْفَقِيرِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دا سړی د فقير پر مالک جوړولو مأمور دی وَقَدْ أَتَى بِهِ او هغه دا کار وکړی. فَلَا يَضْمَنُ لِلْمُوَكِّلِ نو ځکه به هغه د مؤکل نه ضامن کيږي (یعني د مؤکل لپاره به پر هغه ضمان واجب نه وي) وَهَذَا لِأَنَّ فِي وُسْعِهِ التَّمْلِيكَ لَا وُقُوعَهُ زَكَاةً او دا ځکه چي د هغه په وس کي (فقط) مالک جوړول دي. نه زکاة واقع کول لِتَعَلُّقِهِ بِنِيَّةِ الْمُوَكِّلِ ځکه چي دا د مؤکل (آمر) د نيت سره تعلق لري وَإِنَّمَا يُطْلَبُ مِنْهُ مَا فِي وُسْعِهِ او له انسان څخه د هغه شي مطالبه کيږي کوم چي د ده په وس کي وي وَصَارَ كَالْمَأْمُورِ بِذَبْحِ دَمِ الْإِحْصَارِ إِذَا ذَبَحَ بَعْدَمَا زَالَ الْإِحْصَارُ وَحَجَّ الْآمِرُ او دا د هغه سړي په څير سو چي د "دمِ إحصار" ذبح کولو حکم ورته سوی وي. او هغه إحصار تر ختمېدلو او د حکم کونکي تر حج کولو وروسته "دمِ إحصار" ذبح کړي لَمْ يَضْمَنِ الْمَأْمُورُ عَلِمَ أَوْ لَا نو (په دې صورت کي هم) هغه نه ضامن کيږي برابره ده هغه (د إحصار په ختمېدلو) خبر وي او که نه وي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ مَأْمُورٌ بِأَدَاءِ الزَّكَاةِ د امام صاحب دليل دا دی: چي وکيل ته د زکاة اداء کولو حکم سوی دی وَالْمُؤَدَّى لَمْ يَقَعْ زَكَاةً او کوم څه چي وکيل اداء کړي دي هغه زکاة واقع سوی نه دی فَصَارَ مُخَالِفًا نو وکيل د مؤکل (آمر) د حکم مخالفت کونکي سو وَهَذَا لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْأَمْرِ إِخْرَاجُ نَفْسِهِ عَنْ عُهْدَةِ الْوَاجِبِ او دا ځکه چي په وکيل جوړولو سره د مؤکل مقصد خپل ځان د واجب له ذمه وارۍ څخه خلاصول دي (مطلب دا چي د هغه مقصد خپله غاړه خلاصول دي) لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ لَا يَلْتَزِمُ الضَّرَرَ إِلَّا لِدَفْعِ الضَّرَرِ ځکه چي ښکاره همدا ده چي هغه فقط اله خپل ځان څخه (د ضرر لیري کولو لپاره پر ځان ضرر لازموي وَهَذَا الْمَقْصُودُ حَصَلَ بِأَدَائِهِ وَعَرِيَ أَدَاءُ الْمَأْمُورِ عَنْهُ او دا مقصود په خپله د مؤکل

په اداء کولو سره حاصل سو او د مأمور او وکیل [اداء له دې مقصود څخه خالي سوه فَصَارَ مَعْزُولًا عَلِمَ أَوْلَمْ يَعْلَمْ نو ځکه به هغه معزول وي [يعني ګواکي هغه د زکاة اداء کولو له کار څخه برطرفه کړی سوی دی] برابره ده هغه [د مؤکل په اداء کولو] خبر وي او که نه وي لِأَنَّهُ عَزْلٌ حُكْمِيٌّ ځکه چې دا حکمي معزولول دي وَأَمَّا دَمُ الْإِحْصَارِ فَقَدْ قِيلَ: هُوَعَلَى هٰذَا الاِخْتِلَافِ او کوم چې دم إحصار دی نو یو قول دا دی: چې هغه هم پر دغه اختلاف دی وَقِيلَ: بَيْنَهُمَا فَرْقٌ او بل قول دا دی: چې د دوی په مینځ کې فرق دی وَوَجْهُهُ: أَنَّ الدَّمَ لَيْسَ بِوَاجِبٍ عَلَيْهِ او د فرق وجه دا ده: چې پر محصر قرباني کول واجب نه دی فَإِنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يَصْبِرَحَتّٰى يَزُولَ الْإِحْصَارُ ځکه چې هغه لره صبر کول ممکن دي تر دې چې إحصار ختم سي وَفِي مَسْأَلَتِنَا الْأَدَاءُ وَاجِبٌ او زموږ په دې مسئله کې زکاة اداء کول واجب دي فَاعْتُبِرَ الْإِسْقَاطُ مَقْصُودًا فِيهِ دُونَ دَمِ الْإِحْصَارِ لهذا په دې کې به إسقاط د مقصود په توګه معتبر وي، نه په دم إحصار کې [مطلب دا چې د زکاة ساقطول مقصود دي، او د دم إحصار ساقطول مقصود نه دي].

اللغات: ﴿أذن﴾ د سمع ماضي ده: اجازه ورکول (اجازت رکول). ﴿التعاقب﴾ د تفاعل مصدر دی: یو تر بل وروسته کېدل. ﴿تمليك﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک کول (یو څوک د یو شي مالک جوړول). ﴿إحصار﴾ د افعال مصدر دی: له حج څخه منع کېدل (يعني چې حج کونکی له حج کولو څخه منع کړی سي). ﴿عهدة﴾ ذمه واري (ذمه داري). ﴿إسقاط﴾ د افعال مصدر دی: ساقطول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د شرکت مفاوضه او شرکت عنان په دواړو شریکانو کې د هر شریک لپاره د بل شریک له اجازت څخه بغیر د هغه د مال زکاة ورکول صحیح نه دي: ځکه چې زکاة اداء کول د تجارت سره متعلق نه دی، او أحدُ الشريكَين ته د بل شریک په مال کې فقط د تجارتي تصرّف حق سته، د زکاة اداء کولو حق هغه ته نسته. ها! که چیري هر شریک بل ته د خپل مال د زکاة ورکولو اجازه ورکړې وي او بیا قصه دا پېښه سي چې یو وار په خپله مالک زکاة اداء کړي. او دویم وار يې د هغه له طرفه شریک اداء کړي، نو دا دویم وار اداء کونکي شریک به د اداء کړی سوي مال ضامن وي (يعني څومره زکاة چې يې ایستلی وي هغه به بیرته شریک (مالک) ته ورکوي) برابره ده اداء کونکی شریک په دې خبر وي او که نه وي چې له دغه مال څخه زکاة ایستل سوی دی. دا حکم دا امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې که بل شریک په دې خبر نه وي. نو هغه به

نه ضامن کیږي. په فتحُ القدیر کي ذکر سوي دي چي که په خبر هم وي، نو هم د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه نه ضامن کیږي. برابره ده دواړو یو تر بل وروسته اداء کړی وي او که یو ځای (معاً) یې اداء کړی وي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دیو ځای (معا!) اداء کولو په صورت کي هر شریک د خپل ملګري د حصې ضامن وي.

همدارنګه که یو شریک دویم شریک ته د خپل مال د زکاة اداء کولو أمر وکړي او وکیل یې جوړ کړي او بیا دغه آمر (مؤکل) په خپله (بذات خود) زکاة اداء کړي او تر دې وروسته وکیل د زکاة مال یو فقیر ته صدقه کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه ضامن کیږي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه ضامن کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي وکیل فقط په دې مأمور دی چي یو فقیر (د زکاة د مال) مالک جوړ کړي او وکیل خپل کار وکړی. لهذا د مؤکل د بذات خود زکاة اداء کولو په وجه به هغه نه ضامن کیږي. ځکه چي په دې کي د مؤکل غلطي ده. نه د وکیل. او بل دا چي د وکیل په وس کي صرف فقیر ته مال ورکول او د هغه مالک جوړول دي. نه د زکاة واقع کول. او د "لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا" په وجه له انسان څخه فقط د هغه شي مطالبه کیږي کوم چي د هغه په وس کي وي. او دلته چي د وکیل په وس کي څه وه هغه یې وکړه. نو په دې وجه به پر هغه ضمان واجب نه وي. لکه کله چي یو حاجي مُحصَر سي او هغه د "دمِ إحصار" د ذبح کولو لپاره یو څوک خپل وکیل جوړ کړي، بیا د إحصار تر ختمېدلو او له حج څخه د مؤکل (حاجي) تر فارغېدلو وروسته وکیل دمِ إحصار ذبح کړي. نو هم به وکیل د هغه نه ضامن کیږي. برابره ده وکیل په إحصار ختمېدلو او د مؤکل په حج کولو خبر وي او که نه وي. همداسي به دلته هم وکیل نه ضامن کیږي. برابره ده هغه د مؤکل په فعل خبر وي او که نه وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي دلته مؤکل (آمر) وکیل ته د مال بربادولو حکم نه دی کړی بلکي د زکاة اداء کولو او د خپلي غاړي خلاصولو حکم یې ورته کړی دی. حالانکي کله چي مؤکل په خپله زکاة اداء کړی نو د هغه مقصود یعني "فراغُ الذمه" (غاړه خلاصېدل) حاصل سو. لهذا د وکیل فعل (اداء کول) د مؤکل له مقصود څخه خالي دي. نو ځکه به وکیل معزول شمارل کیږي. او دا به عزل حکمي وي او د عزل حکمي لپاره دا ضروري نه دي چي وکیل به په عزل خبر او واقف وي. لنډه دا چي کله د وکیل فعل د مؤکل له مقصود څخه خالي دی نو ځکه به هغه لره اعتبار نه وي او پر وکیل به ضمان واجب وي.

وأما دم إلخ: فرمایي صاحبین رَحِمَهُمَا الله چي دغه مسئله پر دم إحصار قیاسوي، دا صحیح نه دي، ځکه چي د یوه قول مطابق د دمِ إحصار مسئله هم د امام صاحب او صاحبینو په مینځ کي مختلف فیه

ده، لهذا په دې سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په خلاف دليل نيول صحيح نه دي. او که چيري دا خبره مونږ تسليم کړو چې دا مسئله متفق عليها ده يعني د دم إحصار په مسئله کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم پر وکيل (مأمور) باندې ضمان نشته، نو د دې جواب دا دی چې پر مُحصر قرباني واجب نه ده او د هغه لپاره د إحصار تر ختمېدلو پورې صبر کول ممکن او متوقع دي. لېکن د زکاة په مسئله کې زکاة اداء کول واجب دي او په زکاة کې "اسقاط الذمة" معتبر دی. او په دم إحصار کې إسقاط معتبر نه دی، نو په دې حواله سره په دواړو کې فرق دی، لهذا يوه مسئله پر بلې قياسول صحيح نه دي.

که په شرکت مفاوضه کې يو شريک د ځان لپاره مينځه رانيسي (حکم او اختلاف)

قَالَ: وَإِذَا أَذِنَ أَحَدُ الْمُتَفَاوِضَيْنِ لِصَاحِبِهِ أَنْ يَشْتَرِيَ جَارِيَةً فَيَطَأَهَا فرمايي: که يو مفاوضه کونکي شريک خپل ملګري ته دا اجازه ورکړي چې دې مينځه رانيسي او د هغې سره وطي وکړي فَفَعَلَ او دې [همداسې] وکړي فَهِيَ لَهُ بِغَيْرِ شَيْءٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به هغه مينځه له څه عوض [ضمان] څخه بغير د ده وي وَقَالَا[*]: يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې اجازه ورکونکي به له هغه څخه نصف ثمن اخلي لِأَنَّهُ أَدَّى دَيْنًا عَلَيْهِ خَاصَّةً مِنْ مَالٍ مُشْتَرَكٍ ځکه چې مشتري له مشترک مال څخه داسې قرض اداء کړی دی کوم چې فقط پر مشتري واجب دی فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ بِنَصِيبِهِ نو ځکه به د مشتري ملګری له هغه څخه خپله حصه واپس اخلي كَمَا فِي شِرَاءِ الطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ لکه څرنګه چې اد خپل أهل وعيال لپاره [د غلې او جامې په رانيولو کې [هم دغه حکم دی] وَهَذَا لِأَنَّ الْمِلْكَ وَاقِعٌ لَهُ خَاصَّةً او دا ځکه چې ملکيت فقط مشتري ته حاصل سوی دی وَالثَّمَنُ بِمُقَابَلَةِ الْمِلْكِ او ثمن د ملکيت په مقابله کې واجبيږي وَلَهُ: أَنَّ الْجَارِيَةَ دَخَلَتْ فِي الشَّرِكَةِ عَلَى الْبَتَاتِ جَرْيًا عَلَى مُقْتَضَى الشَّرِكَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د شرکت په مقتضیٰ باندې په عمل کولو سره دا مينځه يقيناً په شرکت کې داخله سوې ده [يعني دا مينځه يقيناً په مشترکه توګه د دواړو شريکانو مملوکه سوې ده] إِذْ هُمَا لَا يَمْلِكَانِ تَغْيِيرَهُ ځکه چې دوی دواړه [شريکان] د شرکت د مقتضیٰ بدلولو ملکيت [اختيار] نه لري فَأَشْبَهَ حَالَ

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٣٠٥). [القول الراجح ج:١، ص:٥١٩]

عَدَمِ الْإِذْنِ نو دا د اجازه نه ورکولو د حالت سره مشابه سو غَيْرَ أَنَّ الْإِذْنَ يَتَضَمَّنُ هِبَةَ نَصِيبِهِ مِنْهُ خو ابيا هم [اجازه ورکول د هغه] اجازه ورکونکي شريک [له طرفه د خپلي حصي هبه کولو لره متضمن دي ايعني ګواکي هغه خپله حصه مشتري شريک ته هبه کړه] لِأَنَّ الْوَطْءَ لَا يَحِلُّ إِلَّا بِالْمِلْكِ ځکه چي له ملکيت څخه بغير وطي نه روا کيږي وَلَا وَجْهَ إِلَى إِثْبَاتِهِ بِالْبَيْعِ او د بيع په ذريعه د ملکيت ثابتولو هيڅ صورت نسته لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مُخَالِفٌ مُقْتَضَى الشَّرِكَةِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي دا د شرکت د متقضیٰ خلاف دي فَأَثْبَتْنَاهُ بِالْهِبَةِ الثَّابِتَةِ فِي ضِمْنِ الْإِذْنِ لهذا موږ د اجازت په ضمن کې د ثابتېدونکي هبې په ذريعه ملکيت ثابت کړی بِخِلَافِ الطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ په خلاف د غلې او جامې لِأَنَّ ذَلِكَ مُسْتَثْنًى عَنْهَا لِلضَّرُورَةِ ځکه چي د ضرورت په وجه دا شيان له شرکت څخه مستثنیٰ دي فَيَقَعُ الْمِلْكُ لَهُ خَاصَّةً بِنَفْسِ الْعَقْدِ لهذا په دوی کي به په نفس عقد سره مشري ته ملکيت حاصليږي فَكَانَ مُؤَدِّيًا دَيْنًا عَلَيْهِ مِنْ مَالِ الشَّرِكَةِ نو مشتري به د شرکت له مال څخه د خپل قرض اداء کونکی وي وَفِي مَسْأَلَتِنَا قَضَى دَيْنًا عَلَيْهِمَا او زموږ په دې مسئله کي مشتري داسي قرض [ثمن] اداء کړی دی کوم چي پر دواړو شريکانو لازم دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی دی وَلِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَ بِالثَّمَنِ أَيَّهُمَا شَاءَ او بائع لره دا اختيار سته چي ثمن واخلي له هر هغه شريک څخه کوم چي بائع وغواړي بِالِاتِّفَاقِ دا [حکم] بالاتفاق دی لِأَنَّهُ دَيْنٌ وَجَبَ بِسَبَبِ التِّجَارَةِ ځکه چي دا داسي قرض دی کوم چي د تجارت په سبب واجب سوی دی وَالْمُفَاوَضَةُ تَضَمَّنَتِ الْكَفَالَةَ او مفاوضه کفالې لره متضمنه وي فَصَارَ كَالطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ نو دا د غلې او جامې په څير سوه.

اللغات: ﴿طعام﴾ د دې لفظ څو معناوي دي، دلته يې معنیٰ ده: غله. د أهل وعيال خوراکه. ﴿کسوة﴾ جامې. کالي (کپړې). ﴿على البتات﴾ په قطعي توګه. په يقيني توګه (يقيناً).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په شرکت مفاوضه کي يو شريک بل شريک ته د دې اجازه ورکړي چي مينځه رانيسي او جماع ور سره وکړي. او بيا هغه يوه مينځه رانيسي او له مشترک مال څخه د هغې ثمن اداء کړي او د هغې سره وطي وکړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا مينځه د مشتري او واطي مملوک وي (يعني فقط د هغه په ملکيت کي به وي) او د امام صاحب په نېز به پر هغه د دويم شريک لپاره هيڅ ضمان واجب نه وي. لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به دويم شريک (کوم

چي اجازه ور کړې ده) له مشتري څخه نيم ثمن واپس اخلي. ځکه چي مشتري له مشترک مال څخه خپل قرض اداء کړی دی او د دې قرض يعني د ثمن مکمّل عوض او نفع هم هغه ته رسېدلې ده. نو په دې وجه به دويم شريک له هغه څخه د خپلې حصې ثمن واپس اخلي. لکه څرنګه چي يو شريک د خپل أهل وعيال لپاره په مشترک مال سره غلّه يا جامې (طعام يا کسوة) رانيسي. نو دويم شريک له هغه څخه نيم ثمن واپس اخلي.

وله إن الجارية إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي کله دواړه شريکان د شرکت مفاوضه په توګه سره مشترک دي. نو ښکاره خبره ده چي دغه رانيول سوې مينځه په مشترکه توګه د دوی په ملکيت کي داخله سوه. ځکه چي شرکت مفاوضه د مساوات تقاضا کوي او شريکين د دې مساوات د ختمولو ملکيت نه لري. او دا معامله د عدم رجوع په هکله د اجازت نه ورکولو سره مشابه سوه. لېکن څرنګه چي د مشتري لپاره وطي فقط د دويم شريک په اجازه سره حلال او روا دي. نو د دويم شريک له طرفه اجازه ورکول به هبه کولو لره متضمن وي او دا به ويل کيږي چي دويم شريک مشتري ته د شراء او وطي په اجازه ورکولو سره خپله حصه هغه ته هبه کړه. او په هبه کي رجوع نه کيږي. نو په دې وجه به دويم شريک له مشتري څخه هيڅ شی واپس نه اخلي. او مينځه به هغه ته مُفت (بېله عوضه) ورکول کيږي. او په دې مسئله کي د مشتري لپاره د وطي د حلّت يوازينی لار همدا ده. ځکه چي مورږ د بيع په ذريعه د مشتري لپاره ملکيت نه سو ثابتولای او دا نه سو ويلای چي هغه تړوله مينځه صرف د خپل ځان لپاره رانيولې ده. ځکه چي دا د عقد شرکت په خلاف دي.

او دا مسئله د طعام او کِسوة پر مسئلې قياسول هم صحيح نه دي. ځکه چي طعام او کسوة ضرورتاً له عقد شرکت او اشتراک څخه مستثنیٰ دي. او په طعام او کسوة کي صرف د مشتري ملکيت ثابتيږي او مشتري له مشترک مال څخه د دې ثمن اداء کوي. نو ځکه به د هغه ملګری (دويم شريک) له هغه څخه د خپلې حصې ثمن واپس اخلي. لېکن په دغه مسئله کي مشتري دا سي قرض اداء کوي کوم چي پر دواړو شريکانو لازم دی (يعني پر مشتري هم لازم دی او د هغه پر بل شريک هم لازم دی). نو ځکه به هغه ته له خپل ملګري څخه د واپس اخيستلو حق نه وي. او بائع لره به له هر شريک څخه د ثمن اخيستلو اختيار وي (يعني بائع چي له کوم شريک څخه وغواړي، خپل ثمن اخيستلای سي)؛ ځکه چي دا ثمن د تجارت په وجه واجب سوی دی او دا شرکت "شرکت مفاوضه" دی. نو ځکه به دا شرکت کفالې لره متضمن وي او ثمن به هم پر دواړو واجب وي. او کله چي ثمن پر دواړو واجب دی. نو د هغه مطالبه به هم له دواړو څخه کيږي. فقط والله أعلم



كِتَابُ الْوَقْفِ

(دا) كتاب د وقف (د احكامو په بيان كي) دی

تشريح: له كتابُ الشركة څخه وروسته د كتابُ الوقف بيانولو وجه دا ده چي په شركت او وقف دواړو كي أصل او رأسُ المال (په خپل ملكيت كښ) باقي پرېښوول كيږي او د هغه منافع حاصلول كيږي، لېكن په شركت كي أصل ملكيت د انسان په ملكيت (قبضه) كي باقي وي لېكن په وقف كي د زياتره حضراتو په نيز دا ملكيت د واقف له ملكيت (قبضې) څخه وځي، نو په دې وجه شركت پر وقف مخكي كړی سو.

د وقف لغوي او اصطلاحي معنــی: د وقف لغوي معنیٰ ده: منع كول (راګرځول)، درېدل. او د شريعت په اصطلاح كي د وقف تعريف دا دی چي مالک عَين (يعني يو شی) په خپل ملكيت كي باقي وساتي او د هغه منافع صدقه كړي. (څرنګه چي په وقف كي واقف څمكه، جايداد يا بل شی د غريبانو لپاره راګرځوي، نو ځكه دې ته وقف وايي). (أثمارُ الهداية)

د وقف شرعي حيثيت

قَالَ: أَبُوحَنِيفَةَ: لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنِ الْوَقْفِ إِلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له موقوف شي څخه د واقف ملكيت نه ختميږي مكر دا چي حاكم د دې فيصله وكړي اچي موقوف شی د واقف له ملكيت څخه ووتی ا أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ فَيَقُولَ: إِذَا مِتُّ فَقَدْ وَقَفْتُ دَارِي عَلَىٰ كَذَا يا واقف هغه پر خپل مرګ معلق كړي او داسي ووايي: چي كله زه مړ سم نو زما كور د فلانكي لپاره وقف دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَزُولُ مِلْكُهُ بِمُجَرَّدِ الْقَوْلِ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي محض اد وقف كولوا په قول سره د هغه ملكيت ختميږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَزُولُ حَتَّى يَجْعَلَ لِلْوَقْفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ إِلَيْهِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي اد واقف ملكيت تر هغه وخته ا نه ختميږي تر دې چي واقف يو څوک د موقوف شي متولي اسرپرست ا جوړ كړي او شی هغه ته وسپاري قَالَ: الْوَقْفُ لُغَةً هُوَ الْحَبْسُ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د وقف لغوي معنیٰ ده: منع كول

ارا ګرځول) يَقُولُ: وَقَفْتُ الدَّابَّةَ وَأَوْقَفْتُهَا بِمَعْنًى وايي: وقفتُ الدّابةَ او أوقفتُها دا دواړه په يوه معنیٰ سره دي اځکه چي د دواړو معنیٰ دا ده: "ما سپارلي راوګرځوله. يعني له تګ کولو څخه مي منع کړه"ا وَهُوَفِي الشَّرْعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ: حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى مِلْكِ الْوَاقِفِ وَالتَّصَدُّقُ بِالْمَنْفَعَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د وقف شرعي معنیٰ ده: عَين اموقوف شیا د واقف په ملکيت کي راګرځول اباقي ساتل) او د هغه منفعت امنافع) صدقه کول بِمَنْزِلَةِ الْعَارِيَّةِ د عاريت په شير ايعني لکه په عاريت کي چي هم داسي کيږي) ثُمَّ قِيلَ: الْمَنْفَعَةُ مَعْدُومَةٌ بيا ويل سوي دي ايعني پر دې اعتراض سوی دی): چي منفعت خو اوس معدوم دی فَالتَّصَدُّقُ بِالْمَعْدُومِ لَا يَصِحُّ او معدوم شی صدقه کول صحيح نه دي فَلَا يَجُوزُ الْوَقْفُ أَصْلًا عِنْدَهُ لهذا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به بالکل وقف صحيح نه وي وَهُوَ الْمَلْفُوظُ فِي الْأَصْلِ او همدا په مبسوط کي ذکر سوي دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ جَائِزٌ عِنْدَهُ إِلَّا أَنَّهُ غَيْرُ لَازِمٍ اخو) زياته صحيح خبره دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وقف جائز دی، ليکن لازم نه دی بِمَنْزِلَةِ الْعَارِيَّةِ د عاريت په شير ايعني لکه عاريت چي جائز دی. ليکن لازم نه دی) وَعِنْدَهُمَا: حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى حُكْمِ مِلْكِ اللهِ تَعَالَى او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د وقف شرعي معنیٰ ده: عَين اموقوف شی) د الله تعالیٰ د ملکيت په حکم کي راګرځول اباقي ساتل) فَيَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنْهُ إِلَى اللهِ تَعَالَى عَلَى وَجْهٍ تَعُودُ مَنْفَعَتُهُ إِلَى الْعِبَادِ نو له موقوف شي به څخه د واقف ملکيت ختميږي د الله تعالیٰ وطرف ته به منتقل کيږي. په دې توګه چي د هغه نفع به بندګانو ته رسيږي فَيَلْزَمُ وَلَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ لهذا اد صاحبينو په نيز) به هغه لازم وي. او هغه به نه خرڅول کيږي او نه به اچا ته) هبه کيږي او نه به ميراث کيږي ايعني نه به په ميراث کي ورکول کيږي) وَاللَّفْظُ يَنْتَظِمُهُمَا او د وقف لفظ دغو دواړو معناوو املکيت ختميدلو او نه ختميدلو) ته شامل دی وَالتَّرْجِيحُ بِالدَّلِيلِ او ترجيح به په دليل سره وي لَهُمَا قَوْلُ النَّبِيِّ ﷺ [1] لِعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حِينَ أَرَادَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِأَرْضٍ لَهُ تُدْعَى ثَمْغًا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي کله حضرت عمر رضي الله عنه

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الوصايا، باب وما للوصيّ، رقم الحديث: ٢٧٦٤.

وغوښتل چي په خيبر كي خپله د "ثَمْغ" په نامه ځمكه صدقه كړي نو نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل "تَصَدَّقْ بِأَصْلِهَا لَا يُبَاعُ وَلَا يُورَثُ وَلَا يُوهَبُ" چي ته أصل ځمكه صدقه كړه د دې لپاره چي ادويم وار] خرڅه نه كړى سي او نه ميراث كړى سي او نه هبه كړى سي وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ مَاسَّةٌ إِلَى أَنْ يَلْزَمَ الْوَقْفُ مِنْهُ او ځكه چي واقف ته هم د دې ضرورت وي چي د هغه له طرفه وقف لازم سي لِيَصِلَ ثَوَابُهُ إِلَيْهِ عَلَى الدَّوَامِ د دې لپاره چي هغه ته همېشه د وقف ثواب رسيږي وَقَدْ أَمْكَنَ دَفْعُ حَاجَتِهِ بِإِسْقَاطِ الْمِلْكِ وَجَعْلِهِ لِلَّهِ تَعَالَى او د هغه دا ضرورت پوره كول په دې توګه ممكن دي چي د هغه له ذات څخه ملكيت ساقط كړى سي او د الله تعالىٰ لپاره ثابت كړى سي إِذْ لَهُ نَظِيرٌ فِي الشَّرْعِ وَهُوَ الْمَسْجِدُ ځكه چي په شريعت كي د دې مثال موجود دى او هغه مسجد دى فَيُجْعَلُ كَذَلِكَ لهذا وقف به همداسي ګرځول كيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ عليه السلام [2]: لَا حَبْسَ عَنْ فَرَائِضِ اللهِ تَعَالَى د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دى: چي د الله په فرائضو كي حبس نسته وَعَنْ شُرَيْحٍ [3]: جَاءَ مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِبَيْعِ الْحَبِيسِ او له حضرت شريح څخه روايت سوى دى: چي نبي كريم ﷺ حبس خرڅ كړى أيعني د نبي ﷺ په زمانه كي چي خلكو د بُت په نامه كوم څارويان راګرځولي او وقف كړي ول، هغه يې خرڅ كړل] وَلِأَنَّ الْمِلْكَ بَاقٍ فِيهِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ زِرَاعَةً وَسُكْنَى وَغَيْرَ ذَلِكَ او ځكه چي په موقوف شي كي د واقف ملكيت باقي پاته وي په دې دليل چي د كښتګرۍ او استوګني او داسي نورو په اعتبار سره د واقف لپاره له موقوفه ځمكي څخه نفع اخيستل جائز دي وَالْمِلْكُ فِيهِ لِلْوَاقِفِ او د هغه ملكيت [فقط] د واقف وي أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ فِيهِ بِصَرْفِ غَلَّاتِهِ إِلَى مَصَارِفِهَا وَنَصْبِ الْقُوَّامِ فِيهَا آيا ته نه ګورې! چي واقف لره دا ولايت [اختيار] سته چي د موقوفه ځمكي غلې په خپلو مصارفو كي صرف كړي او په هغوى كي أيعني د غلو لپاره] نګران متعين كړي إِلَّا أَنَّهُ يَتَصَدَّقُ بِمَنَافِعِهِ خو [څرنګه چي] واقف د موقوف شي منافع

---

[2] تخريج: أخرجه دار قطني في سننه، باب في الفرائض ج:٢ ص:٦٨.

[3] تخريج: حضرت شريح رَحِمَهُ الله تابعي دى. او د هغه دا قول په سنن بيهقي كي ذكر سوى دى (باب من قال: لا حبس عن فرائض الله ج:٦، ص:٢٦٩، رقم: ١١٩٠).

صدقه کوي فَصَارَ شَبِيهَ الْعَارِيَةِ نو ځکه دا د عاريت سره مشابه سو [عاريت دې ته وايي چې يو شی له مالک څخه د خواست او امانت په توګه وغوښتل سي. او مالک هغه شي ور کړي. نو هغه شی د مالک په ملکيت کې پاته وي. او له هغه څخه فقط د نفع اخيستلو اجازه وي. نو امام صاحب رحمة الله عليه فرمايي چې وقف هم داسي دی] وَلِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى التَّصَدُّقِ بِالْغَلَّةِ دَائِمًا او ځکه چې واقف د همېشه لپاره [د موقوفه ځمکې] د غلې صدقه کولو ته محتاج دی وَلَا تَصَدُّقَ عَنْهُ إِلَّا بِالْبَقَاءِ عَلَى مِلْكِهِ او د هغه له طرفه صدقه کول ممکن نه دي مګر د هغه په ملکيت کې د موقوف شي په پاتېدلو سره وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ أَنْ يُزَالَ مِلْكُهُ لَا إِلَى مَالِكٍ او د نا مالک [غير مالک] وطرف ته د هغه ملکيت زائلول ممکن هم نه دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مَشْرُوعٍ مَعَ بَقَائِهِ ځکه چې دا د ملکيت د بقاء سره دا مشروع نه دي [يعني دا مشروع نه دي چې يو شی دي باقي وي او د هغه مالک دي نه وي] كَالسَّائِبَةِ لکه سائبه شاروی چې صحيح نه دی [سائبه هغه شاروي (اوښ) ته وايي کوم چې د بُت په نامه پرېښوول سي (وقف کړی سي) چې أصل مالک هم د هغه مالک پاته نه سي او بل څوک هم د هغه مالک نه وي لکه د نبوت په زمانه کې چې به خلکو همداسي کول. نو شارع (نبي ﷺ) هغوی له دې څخه منع کړل] بِخِلَافِ الْإِعْتَاقِ په خلاف د غلام آزادولو لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ ځکه چې هغه [ګواکي] ضايع کول دی [دا د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چې که يو څوک غلام آزاد کړي نو د هغه له ملکيت څخه هم غلام وځي او د بل چا په ملکيت کې هم نه داخلېږي. نو دا څرنګه جائز دي؟ د جواب حاصل دا دی چې جائز دا نه دي چې يو شي دي موجود وي او هغه دي د يو چا په ملکيت کې نه وي. او غلام آزادول ګواکي د هغه غلامتوب هلاکول او ضايع کول دي. نو ځکه هغه جائز دي] وَبِخِلَافِ الْمَسْجِدِ لِأَنَّهُ جُعِلَ خَالِصًا لِلَّهِ تَعَالَى او په خلاف د مسجد. ځکه چې مسجد خالص د الله تعالیٰ لپاره جوړېږي وَلِهَذَا لَا يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ همدا وجه ده چې له هغه څخه نفع اخيستل جائز نه دي وَهُهُنَا لَمْ يَنْقَطِعْ حَقُّ الْعَبْدِ عَنْهُ او دلته [په وقف کې] [له موقوف شي څخه د واقف ملکيت نه ختمېږي فَلَمْ يَصِرْ خَالِصًا لِلَّهِ تَعَالَى لهذا واقف خالص د الله لپاره نه سو قَالَ فِي الْكِتَابِ: "لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ إِلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ" وَهَذَا فِي حُكْمِ الْحَاكِمِ صَحِيحٌ امام قدوري چې په متن کې وويل: "لا يزول ملک الواقف...الخ" دا د حاکم د فيصلې په باره کې صحيح دي لِأَنَّهُ قَضَاءٌ فِي مُجْتَهَدٍ فِيهِ ځکه

چي دا په مجتهد فيه (اختلافي) مسئله كي فيصله كول دي أَمَّا فِي تَعْلِيقِهِ بِالْمَوْتِ فَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَزُولُ مِلْكُهُ لېكن په مرګ باندي د وقف معلق كولو په صورت كي صحيح خبره دا ده چي د واقف ملكيت نه ختمېږي إِلَّا أَنَّهُ تَصَدَّقَ بِمَنَافِعِهِ مُؤَبَّدًا لېكن هغه د همېشه لپاره د هغه منافع صدقه كړي فَيَصِيرُ بِمَنْزِلَةِ الْوَصِيَّةِ بِالْمَنَافِعِ مُؤَبَّدًا لهذا دا به د همېشه لپاره د منافعو د وصيت كولو په درجه كي وي فَيَلْزَمُ نو ځكه به (د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت كي هم) وقف لازم وي وَالْمُرَادُ بِالْحَاكِمِ الْمُوَلَّى او له حاكم څخه هغه سړى مراد دى چي د باچا (امامُ المسلمين) له طرفه د قضاء ولايت وركول سوى وي فَأَمَّا الْمُحَكَّمُ فَفِيهِ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ پاته سو هغه حاكم (فيصله كونكى) كوم چي خلكو منتخب كړى وي. نو د هغه په حكم كي د مشائخو اختلاف دى وَلَوْ وَقَفَ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ او كه يو څوك خپل د مرګ په مرض كي وقف وكړي قَالَ الطَّحَاوِيُّ: هُوَ بِمَنْزِلَةِ الْوَصِيَّةِ بَعْدَ الْمَوْتِ نو امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا تر مرګ وروسته د وصيت كولو په څېر دي وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او صحيح دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا وقف لازم نه دى وَعِنْدَهُمَا يَلْزَمُهُ إِلَّا أَنَّهُ يُعْتَبَرُ مِنَ الثُّلُثِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز لازم دى. لېكن (د ميت د مال) له دريمي حصې څخه به د هغه اعتبار كېږي (نافذېږي) وَالْوَقْفُ فِي الصِّحَّةِ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ او د روغتيا په حالت كي به له ټوله مال څخه وقف معتبر كېږي (نافذېږي) وَإِذَا كَانَ الْمِلْكُ يَزُولُ عِنْدَهُمَا يَزُولُ بِالْقَوْلِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ او كله چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ملكيت ختمېږي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز محض په قول (وَقَفْتُ ويلو) سره هم ملكيت ختمېږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دى بِمَنْزِلَةِ الْإِعْتَاقِ لِأَنَّهُ إِسْقَاطُ الْمِلْكِ ځكه چي د إعتاق په څېر وقف هم د ملكيت ساقطول دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا بُدَّ مِنَ التَّسْلِيمِ إِلَى الْمُتَوَلِّي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د ملكيت د ختمېدلو لپاره متولي (موقوف عليه) ته سپارل ضروري دي لِأَنَّهُ حَقُّ اللهِ تَعَالَى ځكه چي وقف د الله تعالىٰ حق دى وَإِنَّمَا يَثْبُتُ فِيهِ فِي ضِمْنِ التَّسْلِيمِ إِلَى الْعَبْدِ او بنده ته په سپارلو سره ضمناً په هغه كي د الله تعالىٰ ملكيت ثابتېږي لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنَ اللهِ تَعَالَى "وَهُوَ مَالِكُ الْأَشْيَاءِ" لَا

يَتَحَقَّقُ مَقْصُودًا لهذا الله تعالیٰ بالقصد مالک جوړول "حال دا چي هغه د ټولو شيانو مالک دی" صحيح نه دي وَقَدْ يَكُونُ تَبَعًا لِغَيْرِهِ بلکي د بل چا په تبع کي ايعني د بنده په واسطه سره ا به د الله تعالیٰ لپاره ملکيت ثابتيږي فَيَأْخُذُ حُكْمَهُ او هغه به د تمليک حکم اخلي فَيَنْزِلُ مَنْزِلَةَ الزَّكَاةِ وَالصَّدَقَةِ نو وقف کول به د زکاة او صدقې په څير وي.

اللغات: ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: منع کول. راګرځول. بندول. صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: حَبَسَهُ: مَنَعَهُ. و أَمْسَكَهُ. وسَجَنَهُ. ﴿ينتظمها﴾ د افتعال مضارع ده: شامليدل. مشتمليدل. ﴿غلّة﴾ دانې، حبوب. پيداوار (له کښت څخه حاصلي کړی سوي دانې لکه غنم او داسي نور)، مراد ځني د موقوف شي منافع دي. ﴿إتلاف﴾ د افعال مصدر دی: ضايع کول. هلاکول. بربادول. ضايع کول. ﴿مُوَلّی﴾ د تفعيل له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده. هغه کس چي باچا هغه والي او حاکم (فيصله کونکی) جوړ کړی وي. ولّی يُوَلِّي تَوْلِيَةً: والي جوړول. يو څوک والي ټاکل. ولايت ور سپارل. ﴿مُحكّم﴾ د تفعيل له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: هغه کس چي مدعي او مدعي عليه حَکَم (فيصله کونکی) جوړ کړی وي. ﴿مؤبّد﴾ هميشنی. دائمي.

تشريح: د عبارت مطلب له ترجمې څخه ښکاره دی او آسانه هم دی. د وقف په سلسله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله أصح او معتمد قول دا دی چي وقف خو جائز او صحيح دی لېکن لازم نه دی. يعني ديو شي له وقف کولو څخه وروسته له موقوف (وقف کړی سوي شي) څخه د واقف حق او ملکيت نه ختميږي بلکي باقي پاتيږي. او د واقف لپاره د امام صاحب په نېز د هغه خرڅول. هبه کول او په ميراث کي ورکول صحيح دي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز وقف صحيح هم دی او لازم هم دی. يعني د دوی په نېز له موقوف شي څخه د واقف ملکيت په بشپړه توګه ختميږي. او د واقف لپاره د موقوف شي خرڅول. هبه کول او په ميراث کي ورکول صحيح نه دي. د دواړو فريقو دلائل په عبارت کي موجود دي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله په دليل کي د دې حديث "لا حبس عن فرائض الله" مطلب دا دی چي کله انسان مړ سي نو د هغه هيڅ مال هم له ميراث کېدلو څخه منع کېدای نه سي او د هغه هر مال په ميراث کي تقسيمول کېدای سي (مطلب دا چي د هغه هر مال ميراث ګرځي) او وقف هم د هغه مال دی. لهذا دا به هم په ميراث کي تقسيمول کيږي. لېکن شيخ الاسلام رَحِمَهُ الله په خپل مبسوط کي په

دې حديث سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل نيول (استدلال) صحيح ګڼلي نه دي. ځکه چې اول خو دا حديث د وقف سره متعلق نه دی او دويمه خبره دا ده چې کله په وقف کولو سره موقوف مال د واقف له ملکيت څخه وځي نو ښکاره خبره ده چې هغه به ميراث هم نه ګرځي. او که موږ په دې حديث سره د امام صاحب استدلال صحيح وګڼو نو دا به فقط د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره متعلق وي او د دې حکم به عام نه وي. همدارنګه د حضرت شُريح رَحِمَهُ الله د حديث پس منظر دا دی چې کفارو به ګران بيه اوښان او څاروبان (وصيله، سائبه، بحيره او حام) د بُتانو په نامه راګرځول (وقف کول) او د هغوی له خرڅولو او رانيولو څخه به يې اعراض کوی. نو نبي کريم ﷺ له دې څخه منع وکړه او دا معامله يې بالکل ختم کړه. او محبوسه او موقوفه څاروان يې خرڅ کړل او اُمت ته يې دا وښوول چې په اسلام کې د سائبه، وصيله او داسې نورو هيڅ حقيقت نسته (لکه څرنګه چې د قرآن کريم په دې آيت کې هم د دغو څاريو يادونه سوې ده: "مَا جَعَلَ اللهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ...إلخ" (سورة العائدة: ١٠٣)). لهذا د نبي کريم ﷺ دا عمل د جاهليت د زمانې د راج ختمولو لپاره وو. نه د موقوف شي (څاروي) د خرڅولو لپاره. لهذا په دې حديث سره هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل نيول صحيح نه دي. له همدې کبله زياتره فقهاؤ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول ته ترجيح ورکړې ده او د شيخ الاسلام خواهر زاد او داسې نورو مشائخو په نيز هم د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول محقق، مختار او مفتیٰ به دی. (بنايه ج: ۶، ص: ۸۹۰ - ۸۹۵)

قال في الكتاب: لايزول ملك الوقف إلخ: تر دې عبارت لاندې صاحب د هدايې فرمايلي دي: "وهٰذا في حكم الحاكم صحيح" د دې مطلب دا دی چې که يو سړی يو شی وقف کړي او متولي (موقوف عليه) ته يې وسپاري. بيا واقف له متولي څخه موقوف شی واپس اخيستل وغواړي او متولي له دې څخه انکار وکړي. او دواړه په دعویٰ حاکم ته راسي، بيا حاکم د دې وقف د لازمېدلو فيصله وکړي (يعني دا فيصله وکړي چې موقوف شي د واقف له ملکيت څخه ووتی. او په هغه کې د واقف هيڅ ملکيت نسته). نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم دا وقف لازميږي. خو شرط دا دی چې حاکم به د وخت د باچا (امامُ المسلمين) له طرفه ټاکل سوی وي. لېکن تعليق بالموت والا وقف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز نه لازميږي خو بيا هم له هغه څخه چې کوم منافع حاصليږي هغه به د همېشه لپاره صدقه کول کيږي.

د مرضُ الموت وقف هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز نه لازميږي. ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز لازميږي او د مال له دريمي حصې څخه به نافذيږي. پاتـه سوه د وقف د لزوم مسئله. نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د "وَقَفْتُ" په ويلو سره پر وقف لازميږي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د وقف د لزوم لپاره متولي ته د موقوف شي سپارل ضروري دي (يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز وقف هغه وخت لازميږي کله چي واقف موقوف عليه ته موقوف شی وسپاري)؛ ځکه چي د وقف مالک د الله تعالیٰ ذات دی او الله تعالیٰ د ټوله جهان خالق او مالک دی. لهذا براه راست (بیله واسطې) هغوی مالک جوړول صحيح نه دي. نو څرنګه چي په صدقه او زکاة کي د فقير په واسطه سره د الله لپاره ملکيت ثابتيږي. همداسي به په وقف کي د موقوف عليه په واسطه سره د الله لپاره ملکيت ثابتيږي.

د واقف له ملکيت څخه د موقوف شي وتل

قَالَ: وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ عَلَى اخْتِلَافِهِمْ وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَإِذَا اسْتُحِقَّ مَكَانَ قَوْلِهِ إِذَا صَحَّ فرمايي: او کله چي د مشائخو د اختلاف باوجود وقف صحيح دی (او په ځيني نسخو کي د "وإذا صحّ" پر ځای "وإذا استحقّ" دی) خَرَجَ مِنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ وَلَمْ يَدْخُلْ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ نو موقوف شی به د موقوف له ملکيت څخه وځي [ليکن] د موقوف عليه [متولي] په ملکيت کي به نه داخليږي لِأَنَّهُ لَوْ دَخَلَ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ لَا يَتَوَقَّفُ عَلَيْهِ ځکه که د موقوف عليه په ملکيت کي داخل سي نو پر هغه به موقوف نه سي بَلْ يَنْفُذُ بَيْعُهُ كَسَائِرِ أَمْلَاكِهِ بلکي په هغه کي به د موقوف عليه [متولي] بيع نافذيږي لکه د هغه په نورو ملکيتونو کي چي نافذيږي وَلِأَنَّهُ لَوْ مَلَكَهُ لَمَا انْتَقَلَ عَنْهُ بِشَرْطِ الْمَالِكِ الْأَوَّلِ كَسَائِرِ أَمْلَاكِهِ او ځکه که موقوف عليه مالک کېدای نو د اول مالک [واقف] په شرط سره به هغه شی له موقوف عليه څخه [د بل چا ملکيت ته] نه منتقل کېدای لکه څرنګه چي د هغه نور ملکيت نه منتقل کيږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: قَوْلُهُ "خَرَجَ عَنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ" يَجِبُ أَنْ يَكُونَ قَوْلُهُمَا عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي سَبَقَ تَقْرِيرُهُ صاحب ذ هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د امام قدوري دا قول "خرج عن ملك الواقف" به د صاحبينو پر قول وي د هغه اختلاف په وجه کوم چي مخکي تېر سو.

اللغات: ﴿لا يتوقّف﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: موقوف کېدل. ﴿سائر﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ټول. نور (باقي. پاته).

تشريح : صورت د مسئلې : دا دې چي کله زموږ د امامانو په مينځ کي د وقف د لزوم او عدم لزوم د اختلاف باوجود وقف جائز او صحيح دی، نو اوس د دې حکم دا دی چي موقوف شی خو به د واقف له ملکيت څخه وځي، لېکن د موقوف عليه په ملکيت کي به نه داخليږي؛ ځکه که د موقوف عليه په ملکيت کي داخلېدلای نو هغه ته به د موقوف شي د خرڅولو حق او اختيار هم وای لکه څرنګه چي د خپلو مملوکه شيانو د خرڅولو حق هغه ته سته، حال دا چي هغه ته د موقوف شي د خرڅولو حق نسته. دويمه خبره دا ده که واقف داسي ويلي وي چي "دا شی د فلانکي موقوف عليه لپاره تر هغه کال وقف دی او تر کال وروسته د فلانکي سړي لپاره وقف دی" نو تر کال وروسته هغه شی په خپله د موقوف عليه له ملکيت څخه وځي. حالانکي که موقوف عليه د موقوف شي مالک وای نو هغه به د ده له ملکيت څخه نه وتلای، معلومه سوه چي موقوف عليه د وقف نه مالک کيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا خبره "خرج عن ملك الوقف" د صاحبينو پر قول خو صحيح ده، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول خو يا صحيح نه ده، او که صحيح سي نو د حاکم د حکم او فيصلې په قيد سره صحيح ده.

د مشترک شي وقف

قَالَ: **وَوَقْفُ الْمُشَاعِ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِيْ يُوسُفَ** فرمايي: او د مشترک شي وقف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز دی لِأَنَّ الْقِسْمَةَ مِنْ تَمَامِ الْقَبْضِ ځکه چي تقسيمول د قبضې له بشپړتيا څخه دي وَالْقَبْضُ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر مشترک شي قبضه شرط نه ده فَكَذَا تَتِمَّتُهُ لهذا د هغه تتمه [او لوازمات] به هم شرط نه وي **وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَجُوزُ** امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مشترک شي وقف جائز نه دی لِأَنَّ أَصْلَ الْقَبْضِ عِنْدَهُ شَرْطٌ ځکه چي د هغه په نېز پر أصل قبضه شرط ده فَكَذَا مَا يَتِمُّ بِهِ لهذا د هغه پر مُتمِّم به هم قبضه شرط وي وَهَذَا فِيمَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ دا اختلاف په هغه شي کي دی کوم چي د تقسيم قابل [لائق] وي [يعني تقسيمېدلای سي] وَأَمَّا فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ لېکن کوم شی چي د تقسيم قابل نه وي فَيَجُوزُ مَعَ الشُّيُوعِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ أَيْضًا نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د اشتراک [مشترک والي] باوجود د هغه وقف جائز دی لِأَنَّهُ يَعْتَبِرُهُ بِالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ الْمُنَفَّذَةِ ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله هغه پر سپارل سوي هبه او صدقه باندي قياسوي إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ وَالْمَقْبَرَةِ لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د مسجد او هديرې [قبرستان]

استثناء کړې ده فَإِنَّهُ لَا يَتِمُّ مَعَ الشُّيُوعِ فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ أَيْضًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو كوم شى چي د تقسيم قابل نه وي په هغه كي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د اشتراک سره وقف جائز نه دى لِأَنَّ بَقَاءَ الشَّرِكَةِ يَمْنَعُ الْخُلُوصَ لِلَّهِ تَعَالَى ځکه چي د شرکت بقاء د الله لپاره خالص کېدل مانع کوي وَلِأَنَّ الْمُهَايَاةَ فِيهِمَا فِي غَايَةِ الْقُبْحِ او ځکه چي په مسجد او هديره کي نوبت تاكل ډېر بد دي بِأَنْ يُقْبَرَ فِيهِ الْمَوْتَى سَنَةً وَيُزْرَعَ سَنَةً وَيُصَلَّى فِيهِ فِي وَقْتٍ وَيُتَّخَذَ إِصْطَبْلًا فِي وَقْتٍ په دې توګه چي يو كال په هغه [موقوفه ځمکه] کي مړي ښخول کيږي او يو كال کښتګري پکښي کيږي او يو وخت په هغه کي لمونځ کيږي او بل وخت غوجل پکښي جوړيږي بِخِلَافِ الْوَقْفِ په خلاف د وقف لِإِمْكَانِ الِاسْتِغْلَالِ وَقِسْمَةِ الْغَلَّةِ ځکه چي [له موقوفه ځمکي څخه] غله حاصلول او [بيا] غله تقسيمول ممكن دي وَلَوْ وَقَفَهُ الْكُلَّ ثُمَّ اُسْتُحِقَّ جُزْءٌ مِنْهُ او كه يو څوک يو شى [مثلاً ځمکه] وقف کړي بيا د هغه يوه حصه [د بل چا] مستحقه ثابته سي [يعني وروسته ثابته سي چي په هغه موقوف شي كي يوه حصه د بل چا ده] بَطَلَ فِي الْبَاقِي عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به په پاته حصه كي وقف باطليږي لِأَنَّ الشُّيُوعَ مُقَارِنٌ ځکه چي اشتراک مقارن وو كَمَا فِي الْهِبَةِ لكه څرنګه چي په هبه كي اهم دغه حكم دى [بِخِلَافِ مَا إِذَا رَجَعَ الْوَاهِبُ فِي الْبَعْضِ په خلاف د هغه صورت كله چي واهب [د موهوب شي] څه حصه واپس واخلي أَوْ رَجَعَ الْوَارِثُ فِي الثُّلُثَيْنِ بَعْدَ مَوْتِ الْمَرِيضِ وَقَدْ وَهَبَ أَوْ وَقَفَ فِي مَرَضِهِ يا د مريض تر مرګ وروسته وارثان دوې حصې واپس واخلي حال دا چي مريض په خپل مرضُ الموت كي اهغه شى ټوله] هبه کړی يا وقف کړى وي وَفِي الْمَالِ ضِيقٌ او [د هغه] په مال كي تنګي وي لِأَنَّ الشُّيُوعَ فِي ذَلِكَ طَارِئٌ ځکه چي په دې کي اشتراک طاري دى [يعني ځکه چي په دې صورت كي اشتراک وروسته راغلى دى] وَلَوْ اُسْتُحِقَّ جُزْءٌ مُمَيَّزٌ بِعَيْنِهِ او كه يو داسي حصه مستحقه ثابته سي كوم چي معينه او جلا وي لَمْ يَبْطُلْ فِي الْبَاقِي نو په پاته حصه كي به وقف نه باطليږي لِعَدَمِ الشُّيُوعِ ځکه چي شيوع معدوم دى وَلِهَذَا جَازَ فِي الِابْتِدَاءِ همدا وجه ده چي ابتداءً هم د هغه [معيني حصې] وقف جائز دى وَعَلَى هَذَا الْهِبَةُ وَالصَّدَقَةُ الْمَمْلُوكَةُ او د هبې او مملوكه صدقي هم دغه حكم دى.

اللغات: ﴿مُشاع﴾ د ضرب اسم مفعول دی: غوړول سوی (نشر کړی سوی). مشترک. ﴿تمام﴾ د ضرب مصدر دی: پوره کېدل. بشپړېدل. ﴿منفذة﴾ د تفعیل له باب څخه د مؤنث اسم مفعول صیغه ده: نافذه کړی سوې. مراد ځني سپارل سوې صدقه ده یعني هغه صدقه کوم چي فقیر ته وسپارل سي. ﴿مهایاة﴾ د مفاعلې مصدر دی: په نوبت نوبت یو کار کول. نفع په وار او نوبت تقسیمول چي یوه ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي او بل ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي. ﴿قبح﴾ بدي. ګندګي. ﴿استغلال﴾ د استفعال مصدر دی: له ځمکي څخه غله اخیستل. غله حاصلول. ﴿مقارن﴾ د مفاعلې اسم فاعل دی: ور سره یو ځای سوی (متصل). ﴿ضیق﴾ تنګي. ﴿طاري﴾ وروسته راغلی. وروسته ثابت سوی. (أثمار الهداية)

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مُشاع شي یعني د مشترک او قابلِ تقسیم شي وقف کول جائز دي؛ ځکه چي د هغه په نېز محض د "وقفتُ" په ویلو سره وقف صحیح کیږي او د وقف د صحت لپاره د هغه په نېز موقوف علیه (متولي) ته موقوف شی سپارل شرط نه دي. له همدې کبله د هغه په نېز پر أصل یعني پر وقف کړی سوي شي قبضه کول هم شرط نه دي. نو په دې وجه د مشاع تقسیم هم شرط نه دی. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مشاع او مشترک شي وقف صحیح نه دی. ځکه چي د دوی په نېز وقف هغه وخت پوره کیږي کله چي موقوف علیه ته موقوف شی وسپارل سي. همدا وجه ده چي دوی په نېز پر موقوف شي قبضه کول شرط دي. او څرنګه چي د مُشاع شي له تقسیمولو څخه بغیر پوره قبضه ثابتېدای نه سي. نو ځکه به د وقف د صحت لپاره تقسیم هم شرط وي. لېکن دا اختلاف په هغو شیانو کي دی کوم چي قابلِ تقسیم وي (یعني تقسیم قبلوي). او هغه شیان کوم چي قابلِ تقسیم نه وي. په هغوی کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د اشتراک او شیوع د موجود والي باوجود وقف جائز دی. ځکه کله چي په هغوی کي تقسیم ممکن نه دی نو څرنګه به تقسیم پکښې شرط کړی سي. او څرنګه چي یو څوک ناقابل تقسیم مُشاع (مشترک شی) هبه یا صدقه کړي نو صحیح دي. همداسي به د ناقابلِ تقسیم مُشاع شي وقف هم صحیح وي.

إلا في المسجد والمقبرة إلخ: دا استثناء د متن د شروع یعني د "و وقف المُشاع جائز... إلخ" سره متعلق ده. حاصل یې دا دی چي که یو سړی د مسجد او هدیرې (قبرستان) لپاره مشاعه او مشترکه ځمکه وقف کړي. نو دا وقف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم صحیح نه دی که څه هم هغه ځمکه قابلِ

تقسيم نه وي. ځکه چې د مسجد او هديرې وقف د الله تعالىٰ لپاره خاص وي او شرکت د خصوص منافي دی، ځکه چې د مشترکې ځمکې د وقف کولو مطلب به دا وي چې يو کال واقف په دې ځمکه کې مړي ښخوي او مسجد پکښې جوړوي او دويم کال دويم شريک په دې ځمکه کښته وکرنه کوي او غوجل او ګورم پکښې جوړوي، او ښکاره خبره ده چې دا ډېره ناوړه خبره ده او د مسجد او هديرې د احترام خلاف کار دی، نو ځکه د دې شيانو لپاره مشترکه ځمکه وقف کول جائز نه دي. ها! له دې څخه بغير د خير او ښېګڼې په يو بل کار کې د هغې وقف کول جائز دي، ځکه داسې کېدای سي چې د هغې منافع تقسيم کړی سي او د وقف حصه د وقف په مصارفو کې صرف کړی سي او شريک ته د هغه خپله حصه ورکول سي.

ولو وقف الكل إلخ: د دې حاصل دا دی که يو سړی ځمکه وقف کړي بيا د هغې ځکمې يوه حصه د بل چا مستحقه وخيږي (يعني تر وقف وروسته ثابته سي چې د موقوفه ځمکې يوه حصه د بل چا ده).

نو په دې صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز ټوله وقف باطلېږي، ځکه چې په دې ځمکه کې له مخکې څخه شيوع (شراکت) وو او د مستحق سړي حق د وقف په وخت کې هم موجود وو. لهذا پر موقوفه ځمکه د واقف پوره قبضه نه وه بلکې دا ځمکه د هغه او د بل سړي په مينځ کې مشترکه وه. نو څرنګه چې د يو شي د هبه کولو په وخت کې هغه شی مشترک وي نو هبه باطلېږي. همداسې که د وقف په وخت کې هغه مشترک وي نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز وقف باطلېږي. ها! که چيري په هبه کې طاري شيوع وي يعني د هبې په وخت کې شيوع نه وي، بلکې واهب څه حصه واپس واخلي. يا مثلاً يو څوک په مرضُ الموت کې خپل ټوله مال هبه يا وقف کړی او تر مرګ وروسته د هغه وارثان له دغه مال څخه دوې حصې واخلي او فقط په يوه حصه کې د هبې يا وقف اجازت ورکړي، او له دې څخه بغير د مړي نور مال نه وي، نو دې ته طاري شيوع وايي او په دې سره هبه يا وقف نه باطلېږي. همدارنګه که د موهوبه يا موقوفه ځمکې په يو معيّنه حصه کې د بل چا استحقاق ثابت سي نو په پاته حصه کې وقف او هبه نه باطلېږي، ځکه چې د مستحقې حصې د متعيّن والي او جلا والي په وجه شيوع معدوم دی. همدا وجه ده که چيري په شروع او ابتداء کې يو شريک خپله حصه وقف يا هبه کړي او دويم شريک يې وقف يا هبه نه کړي او د دواړو حصې يو تر بله سره جلا او معتيني وي (يعني د هر شريک حصه له بل شريک څخه عليحده او معلومه وي) نو وقف او هبه صحيح دي. او د مملوکه صدقې هم دغه حکم دی. له مملوکه څخه "مُسَلَّمَةً إِلَى الفَقِيرِ" مراد دی.

د وقف د پوره کېدلو شرط

قَالَ: وَلَا يَتِمُّ الْوَقْفُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ حَتَّى يَجْعَلَ آخِرَهُ بِجِهَةٍ لَا تَنْقَطِعُ أَبَدًا فرمايي: د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وقف په هغه صورت کې پوره کيږي کله چې د هغه په آخر کې دا وښوول سي چې د دې مصرف به هغه وي کوم چې همېشه ختمېدونکی نه وي ايعني هغه وخت وقف پوره کيږي کله چې واقف ووايي چې "دا د همېشه لپاره وقف دي" او په داسي ځای کې يې وقف وکړي کوم چې د همېشه لپاره د وقف مصرف وي لکه مساجد، مقابر او داسي نور ا وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إِذَا سَمَّى فِيهِ جِهَةً تَنْقَطِعُ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که داسي مصرف متعين کړی سي کوم چې ختمېدونکی وي جَازَ نو هم جائز دي وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ او تر دې وروسته به وقف د فقراؤ لپاره وي وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ که څه هم واقف د هغو تعيين نه وکړي لَهُمَا: أَنَّ مُوجَبَ الْوَقْفِ زَوَالُ الْمِلْكِ بِدُونِ التَّمْلِيكِ د طرفينو دليل دا دی: چې د وقف موجب د ملکيت زوال دی له تمليک څخه بغير ا يعني برابره ده د واقف ملکيت ختم سي. او که ختم نه سي ا وَأَنَّهُ يَتَأَبَّدُ كَالْعِتْقِ او هغه د عتق په شير همېشه پاتيږي فَإِذَا كَانَتِ الْجِهَةُ يُتَوَهَّمُ انْقِطَاعُهَا بيا که د وقف مصرف داسي وي چې د هغه ختمېدل موهوم ا شکمن ا وي لَا يَتَوَفَّرُ عَلَيْهِ مُقْتَضَاهُ نو په دې سره به د وقف مقصد کما حقهٗ نه پوره کيږي فَلِهَذَا كَانَ التَّوْقِيتُ مُبْطِلًا لَهُ كَالتَّوْقِيتِ فِي الْبَيْعِ لهذا توقيت به هغه باطلوي لکه په بيع کې چې توقيت هغه باطلوي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ التَّقَرُّبُ إِلَى اللهِ تَعَالَى د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د وقف مقصد د الله تقرّب ا او ثواب ا حاصلول دي وَهُوَ مُوَفَّرٌ عَلَيْهِ او په وقف سره دا مقصد په پوره توګه حاصليږي لِأَنَّ التَّقَرُّبَ تَارَةً يَكُونُ فِي الصَّرْفِ إِلَى جِهَةٍ تَنْقَطِعُ ځکه چې کله نا کله تقرب په ختمېدونکي مصرف کې په وقف کولو سره حاصليږي وَمَرَّةً بِالصَّرْفِ إِلَى جِهَةٍ تَتَأَبَّدُ او کله په دائمي مصرف کې په وقف کولو سره تقرّب حاصليږي فَيَصِحُّ فِي الْوَجْهَيْنِ لهذا په دواړو صورتونو کې به وقف صحيح وي وَقِيلَ: إِنَّ التَّأْبِيدَ شَرْطٌ بِالْإِجْمَاعِ يو قول دا دی: چې تأبيد بالاتفاق شرط دی إِلَّا أَنَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يُشْتَرَطُ ذِكْرُ التَّأْبِيدِ لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز تأبيد ذکر کول شرط نه دي لِأَنَّ لَفْظَةَ الْوَقْفِ وَالصَّدَقَةِ مُنْبِئَةٌ عَنْهُ ځکه چې د وقف لفظ او د صدقې لفظ ا په خپله اد

تأبيد خبر ورکوي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ إِزَالَةُ الْمِلْكِ بِدُونِ التَّمْلِيكِ كَالْعِتْقِ دهغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي وقف له تمليک څخه بغير دمکيت زائلول دي. لکه عتق وَلِهٰذَا قَالَ: فِي الْكِتَابِ فِي بَيَانِ قَوْلِهِ "وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ" له همدې کبله امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کي د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله د قول په بيان کي ويلي دي: "وصار بعدها للفقراء وإن لم يسمهم" وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ ذِكْرُ التَّأْبِيدِ شَرْطٌ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز تأبيد ذکر کول شرط دي لِأَنَّ هٰذَا صَدَقَةٌ بِالْمَنْفَعَةِ أَوْ بِالْغَلَّةِ ځکه چي دا د منفعت يا غلې صدقه ده وَذٰلِكَ قَدْ يَكُونُ مُؤَقَّتًا وَقَدْ يَكُونُ مُؤَبَّدًا او دا کله مؤقت [ديو څو وخت لپاره] وي او کله مؤبد [همېشني] وي فَمُطْلَقُهُ لَا يَنْصَرِفُ إِلَى التَّأْبِيدِ لهذا مطلق وقف به د تأبيد وطرف ته نه راجع کيږي فَلَا بُدَّ مِنَ التَّنْصِيصِ نو ځکه به د تأبيد صراحت کول ضروري وي

اللغات: ﴿جهة﴾ طرف، خوا، صاحب د أحسنُ الهدايې د دې لفظ معنیٰ په "مصرف" سره کړې ده. مصرف د اسم ظرف صيغه ده معنیٰ يې ده "د صرفولو ځای" لکه چي ويل کيږي چي "فقراء او داسي نور د زکاة مصرف دي" يعني زکاة به په دوی کي مصرفيږي، نو امام قدوري فرمايي چي د وقف مصرف به دائمي او همېشنی وي.... ﴿لم يسمهم﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: ذکر کول، متعين کول (ټاکل، معلومول)، ﴿يتأبّد﴾ د تفعّل مضارع ده: ابدي کېدل (همېشني کېدل). ﴿توقيت﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت مقرر کول (وخت ټاکل)، ﴿تقرّب﴾ د تفعّل مصدر دی: قرب او نژدېکت حاصلول (مراد ځني ثواب حاصلول دي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وقف په هغه صورت کي پوره کيږي کله چي د هغه مصرف دائمي او ابدي وي مثلاً د مساجدو، مقابرو، فقراؤ او مساکينو لپاره وقف کړی سوي وي، او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز وقف په هر حال کي صحيح دي برابره ده د هغه مصرف دائمي وي يا وقتي وي (يعني د مؤقت وخت لپاره وي)، او د وقتي کېدلو په صورت کي به تر وخت ختمېدلو وروسته هغه د فقراؤ او مساکينو وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي د وقف موجب دا دی چي له موقوف شي څخه د واقف ملکيت ختم سي برابره ده هغه د بل چا په ملکيت کي داخل سي او که نه سي، او د ملکيت زوال دائمي او ابدي وي لهذا

وقف به هم دائمي او ابدي وي. او كه چيري په غير دائمي او ختمېدونكي مصرف كي وقف وكړي سي نو كما حقهٗ به د هغه مقصد حاصل نه سي، نو په دې وجه موږ د مؤقت او ټاكلي وخت لپاره (مثلاً د پنځو. لسو كالو لپاره) وقف باطل ګرځولى دى لكه څرنګه چي په بيع كي توقيت باطل دى.

د امام ابو يوسف: دليل دا دى چي د وقف مقصد الهي تقرب او د ثواب حصول دى. او دا مقصد په مؤبد او مؤقت دواړو كي حاصليږي. لهذا وقتي او ابدي دواړه وقفونه صحيح دي. د ځيني فقهاؤ رايه دا ده چي تأبيد خو د ټولو په نېز شرط دى ليكن دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تأبيد صراحت كولو (يعني په ښكاره الفاظو سره ذكر كول) شرط نه دي: ځكه كله چي د وقف موجب د ملكيت ختمول او زائلول دي. نو ښكاره خبره ده چي په هغه كي به په خپله تأبيد وي لكه څرنګه چي په عتق كي بغير له صراحت څخه تأبيد موجود دى. امام محمد رَحِمَهُ الله د تأبيد صراحت كول ضروري ګرځولي دي: ځكه چي وقف د منافعو صدقه كول دي او صدقه مؤقت او مؤبد دواړه قسمه كېداى سي. لهذا ترڅو چي د تأبيد صراحت نه وكړى سي تر هغه وخته پوري به تأبيد نه ثابتيږي.

د منقوله أموالو د وقف كولو حكم

قَالَ: **وَيَجُوزُ وَقْفُ الْعَقَارِ** فرمايي: چي د غير منقوله جايداد وقف جائز دى لِأَنَّ جَمَاعَةً مِنَ الصَّحَابَةِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ وَقَفُوهُ ځكه چي د صحابه وو يو جماعت عقار وقف كړى دى **وَلَا يَجُوزُ وَقْفُ مَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ** او د هغه شيانو وقف جائز نه دى كوم چي نقل كيږي او له يوه ځاى څخه بل ځاى ته وړل كيږي قَالَ: وَهٰذَا عَلَى الْإِرْسَالِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا د مطلقاً ناجائز والي قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دى **وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إِذَا وَقَفَ ضَيْعَةً بِبَقَرِهَا وَأَكَرَتِهَا وَهُمْ عَبِيدُهُ** امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي كه يو سړى ځمكه د غويي او بزګرانو سره وقف وكړي او هغه بزګران د واقف غلامان وي **جَازَ** نو جائز دي وَكَذَا سَائِرُ آلَاتِ الْحِرَاثَةِ او د كښتكرۍ د نورو آلاتو هم دغه حكم دى لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْأَرْضِ فِي تَحْصِيلِ مَا هُوَ الْمَقْصُودُ ځكه چي د مقصود اعلي١ په حاصلولو كي دا د ځمكي تابع دي وَقَدْ يَثْبُتُ مِنَ الْحُكْمِ تَبَعًا مَا لَا يَثْبُتُ مَقْصُودًا او كله داسي شى د تابع په توګه ثابتيږي كوم چي د مقصود په توګه نه ثابتيږي كَالشِّرْبِ فِي الْبَيْعِ وَالْبِنَاءِ فِي الْوَقْفِ لكه د ځمكي په خرڅولو كي اوبه ايعني د اوبو لښتى ا او د ځمكي په وقف كولو كي ودانۍ امثلاً

ډېوالونه او داسي نور ا وَمُحَمَّدٌ مَعَهُ فِيهِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په دې حکم کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَ إِفْرَادُ بَعْضِ الْمَنْقُولِ بِالْوَقْفِ عِنْدَهُ ځکه کله چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز ځانله اتنها ا د ځيني منقولاتو وقف جائز دی فَلَأَنْ يَجُوزَ الْوَقْفُ فِيهِ تَبَعًا أَوْلَىٰ نو د غير منقول د تابع په توګه به په طريقه اولیٰ سره په هغه کي وقف جائز وي.

اللغات: ﴿عقار﴾ غيرِ منقوله ملکيت، غيرِ منقوله جايداد. ثابتُ الأصل ملکيت (کوم چي له يو ځای څخه بل ځای ته نه نقل کيږي. لکه ځمکه او کور). ﴿يحوّل﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده: اړول، بدلول. له يوه ځای څخه بل ځای ته وړل. ﴿ضيعة﴾ ځمکه، جايداد. ﴿بقر﴾ غوبی (غوايي). ﴿أَكَرَة﴾ جمع د آکِرٌ ده لکه طَلَبَة چي جمع د طَالِبٌ ده: کښتګر، بزګر، په کښت کي کار کونکی مزدور. ﴿حراثة﴾ کښتګري (کښت او کرنه کول). ﴿الشِّرْب﴾ د چينبلو اُوبه، د اُوبو حصه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د غيرِ منقوله جايداد وقف خو بالاتفاق جائز دی. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د منقول شي وقف مطلقاً جائز نه دی هغه که د تابع په توګه وي يا د مقصود په توګه وي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که يو څوک خپله ځمکه د بزګرانو او يېوي کونکي غويانو سره وقف کړي، نو صحيح دي، او د کښتګری د آلاتو هم دغه حکم دی: ځکه چي أصل مقصود يعني غله او پيداوار له ځمکي څخه حاصليږي او آلات د مقصود په تحصيل کي تابع دي. لهذا د أصل په تابع ګرځولو سره به د منقول وقف هم صحيح وي. او ځيني وخت داسي کيږي چي يو شي مقصوداً او مستقلاً نه جائز کيږي مګر تبعاً جائز کيږي. مثلاً داسي لبنتی يوازي (تنها) خرڅول چي په هغه سره ځمکه اوبول کيږي جائز نه دي، لېکن د أصل يعني د ځمکي سره د هغه خرڅول جائز دي. همدارنګه يوازي ډېوالونه وقف کول جائز نه دي لېکن د ځمکي په متابعت کي د هغوی وقف کول صحيح دي. نو همداسي به د غيرِ منقول په متابعت کي (يعني د غيرِ منقول د تابع په توګه) د منقول شي وقف کول هم صحيح وي. د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه هم دغه ده. ځکه وروسته به ذکرسي چي په کومو منقولي شيانو کي د خلکو تعامل جاري وي نو د هغوی وقف کول د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز جائز دی. لهذا کله چي د امام محمد په نېز يوازي (تنها) د هغوی وقف کول جائز دي نو د تابع په توګه به په طريقه اولیٰ جائز وي. په دې اعتبار سره هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره سو.

آسونه او وسله (اسلحه) وقف كول

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجُوزُ حَبْسُ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ وَمَعْنَاهُ وَقْفُهُ فِي سَبِيلِ اللهِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې آس او وسله راګرځول يعني د الله په لار كې وقف كول جائز دي وَأَبُويُوسُفَ مَعَهُ فِيهِ عَلَى مَا قَالُوا او په دې سلسله كې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم د هغه سره دی، لكه څرنګه چې مشائخو فرمايلي دي وَهُوَ اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجُوزَ او قياس دا دی چې د دې شيانو وقف دې جائز نه وي لِمَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ د هغه دليل په وجه كوم چې مونږ مخكې بيان كړی دی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ الْآثَارُ الْمَشْهُورَةُ فِيهِ د استحسان دليل هغه آثار دي كوم چې د داسې وقف د جواز په هكله [منقول او] مشهور دي مِنْهَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: وَأَمَّا خَالِدٌ فَقَدْ حَبَسَ أَدْرُعًا وَأَفْرَاسًا لَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى وَطَلْحَةُ حَبَسَ دُرُوعَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى له هغوی څخه يو د نبي كريم ﷺ دا فرمان دی: چې خالد خپلې زغرې او خپل آسونه د الله په لار كې وقف كړل او طلحه خپلې زغرې د الله په لار كې وقف كړې وَيُرْوَى أَكْرَاعَهُ او په يوه روايت كې "أكراعه" روايت سوي دي [كوم چې جمع د "كُرَاع" ده] وَالْكُرَاعُ: الْخَيْلُ او له كراع څخه آس مرا دی وَيَدْخُلُ فِي حُكْمِهِ الْإِبِلُ او اوښ هم د "خَيْل" (آس) په حكم كې داخل دی لِأَنَّ الْعَرَبَ يُجَاهِدُونَ عَلَيْهَا ځكه چې عرب پر اوښانو هم جهاد كوي وَكَذَا السِّلَاحُ يُحْمَلُ عَلَيْهَا او همدارنګه پر اوښانو وسله [هم] باروول كيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ يَجُوزُ وَقْفُ مَا فِيهِ تَعَامُلٌ مِنَ الْمَنْقُولَاتِ له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی: چې په كومو منقولاتو كې چې د معاملې كولو رواج وي د هغوی وقف جائز دی كَالْفَأْسِ وَالْمَرِّ وَالْقَدُومِ وَالْمِنْشَارِ وَالْجِنَازَةِ وَثِيَابِهَا وَالْقُدُورِ وَالْمَرَاجِلِ وَالْمَصَاحِفِ لكه تبر، تېشه، كُلنګ، آره، تابوت او د تابوت كپړې، دېګونه، كتټوي [كټوياڼ] وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَجُوزُ ليكن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دي لِأَنَّ الْقِيَاسَ إِنَّمَا يُتْرَكُ بِالنَّصِّ ځكه چې قياس د نص په وجه پرېښوول كيږي وَالنَّصُّ

---

[1] تخريج: أخرجه بخاري ومسلم بمعناه (بخاري، ص:١٩٨، رقم:١٤٦٨، وكذا في ص:٤٨٥، رقم:٢٧٦٩. ومسلم ص:٣١٦، رقم: ٩٨٣/٢٢٧٧)

وَزْدَلِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ او نص [فقط] د آسونو او اسلحې په هكله وارد سوى دى فَيُقْتَصَرُ عَلَيْهِ لهذا نص به [فقط] پر هغه منحصر كيږي وَمُحَمَّدٌ يَقُولُ: الْقِيَاسُ قَدْ يُتْرَكُ بِالتَّعَامُلِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي كله نا كله قياس د تعامل په وجه پرېښوول كيږي كَمَا فِي الِاسْتِصْنَاعِ لكه څرنګه چي په استصناع كي كيږي وَقَدْ وُجِدَ التَّعَامُلُ فِي هَذِهِ الْأَشْيَاءِ او د دې شيانو په وقف كي تعامل جاري دى وَعَنْ نَصِيرِ بْنِ يَحْيَى أَنَّهُ وَقَفَ كُتُبَهُ إِلْحَاقًا لَهَا بِالْمَصَاحِفِ او له نصير بن يحيىٰ څخه روايت سوى دى چي هغه خپل كتابونه وقف كړل، په قرآن شريف باندي په قياس كولو سره وَهَذَا صَحِيحٌ او دا صحيح دي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ يُمْسَكُ لِلدِّينِ تَعْلِيمًا وَتَعَلُّمًا وَقِرَاءَةً ځكه چي قرآن او ديني كتابونه هر يو د ښوولو، زده كولو او لوستلو لپاره وقف كيږي وَأَكْثَرُ فُقَهَاءِ الْأَمْصَارِ عَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ او د ښارونو زياتره فقهاء د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول عمل كوي وَمَا لَا تَعَامُلَ فِيهِ لَا يَجُوزُ عِنْدَنَا وَقْفُهُ او په كومو منقولاتو كيٰ چي تعامل نه وي زموږ په نېز د هغوي وقف كول جائز نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: كُلُّ مَا يُمْكِنُ الِانْتِفَاعُ بِهِ مَعَ بَقَاءِ أَصْلِهِ وَيَجُوزُ بَيْعُهُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: هر هغه شي چي له هغه څخه نفع اخيستل او د هغه أصل باقي پاتېدل ممكن وي او د هغه خرڅول جائز وي يَجُوزُ وَقْفُهُ نو د هغه وقف كول هم جائز دى لِأَنَّهُ يُمْكِنُ الِانْتِفَاعُ بِهِ ځكه چي له هغه څخه نفع اخيستل ممكن دي فَأَشْبَهَ الْعَقَارَ وَالْكُرَاعَ وَالسِّلَاحَ نو دا د جايداد، آس او وسلې سره مشابه سو وَلَنَا: أَنَّ الْوَقْفَ فِيهِ لَا يَتَأَبَّدُ مِنْهُ زموږ دليل دا دى: چي په دې كي وقف أبدي نه وي [او د وقف أبدي كېدل ضروري دي] عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لكه مخكي چي موږ د دې بيان وكړى فَصَارَ كَالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ نو دا داسي سو لكه دراهم او دنانير بِخِلَافِ الْعَقَارِ په خلاف د جايداد وَلَا مُعَارِضَ مِنْ حَيْثُ السَّمْعُ وَلَا مِنْ حَيْثُ التَّعَامُلُ او دلته هيڅ معارض نسته نه د حديث او أثر په اعتبار سره او نه د تعامل په اعتبار سره فَبَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْقِيَاسِ لهذا حكم پر أصل قياس باقي پاته سو وَهَذَا لِأَنَّ الْعَقَارَ يَتَأَبَّدُ او دا ځكه چي جايداد أبدي وي [يعني همېشه باقي پاتېږي] وَالْجِهَادُ سَنَامُ الدِّينِ او جهاد دين أعلىٰ ركن دى فَكَانَ مَعْنَى الْقُرْبَةِ فِيهِمَا أَقْوَى نو په كراع او سلاح كي به د قربت معنىٰ قوي وي فَلَا يَكُونُ غَيْرُهُمَا فِي

مَعْنَاهُمَا لهذا له دوې ځخه بغير نور شيان به د دوی په معنیٰ سره نه وي.

اللغات: ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: منع کول، راګرځول، مراد ځني وقف کول دي. ﴿كُراع﴾ جنګي سپارلي (هغه سپارلي چي جنګ پر کېدای سي)، آس، اوښ او داسي نور. ﴿سلاح﴾ اسلحه، وسله. ﴿ادرع﴾ جمع د دِرْعٌ ده: زغره. ﴿فأس﴾ تبر، تبرزين. ﴿مرّ﴾ تېشه. ﴿قدوم﴾ کُلنګ (دوه سري کهی). ﴿منشار﴾ آره. ﴿جنازة﴾ تابوت. ﴿قُدور﴾ جمع د قِدْرٌ: دېګ. ﴿مراجل﴾ جمع د مِرْجَلٌ ده: ګټو (کټوی). خاورين دېګی. ﴿استصناع﴾ د جوړولو طلب کول، ديو شي جوړولو امر کول (د جوړولو فرمايش کول). مثلاً يو څوک نجار ته امر وکړي چي دومره اندازه ټېبل راجوړ کړه. نو دې ته "استصناع" وايي. په استصناع کي مبيع مجهول وي ځکه چي اوس ټېبل موجود نه دی، خو د خلګو د تعامل په وجه استصناع جائز ګرځول سوې ده. لهذا په کومو منقولي شيانو کي چي تعامل وي د هغوی وقف به هم جائز وي (دا د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دی). ﴿سنام﴾ د اوښ بُوک، مراد ځني أعلیٰ او لوړ رکن دی (يعني جهاد د اسلام أعلیٰ او أهمه حصه ده).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي وسله او آسونه د الله په لار کي وقف کول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز استحساناً جائز دي، لېکن قياساً جائز نه دي؛ ځکه چي د دې شيانو په وقف کي تأبيد معدوم وي. د استحسان دليل دا دی چي له خالد بن وليد او طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ځخه د زغرو او آسونو وقف کول ثابت دي "ولم ينكر عليه النبي ﷺ" او د نبي کريم ﷺ انکار نه کول په دغه شيانو کي د وقف جائز کېدلو واضح دليل دی. او د اوښ هم دغه حکم دی، ځکه چي عرب پر اوښانو هم جهاد کوي او پر هغوی د جهاد سامان باروي.

وعن محمد إلخ: مسئله دا ده چي په کومو منقولي شيانو کي چي د تعامل او معاملې رواج جاري وي لکه تبر، تېشه او داسي نور، نو د هغوی وقف د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز جائز دی، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دی؛ ځکه چي قياس په هغوی کي د وقف د جواز انکار کوي. او قياس د نص په وجه پرېښوول کيږي. او څرنګه چي نص فقط د کراع او سلاح په هکله وارد سوی دی. لهذا فقط پر همدوی به نص منحصر کيږي. او له دوی څخه بغير په نورو شيانو کي به قياس پر خپل أصل باقي پاتيږي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د تعامل په وجه سره هم کله قياس پرېښوول کيږي لکه په استصناع کي چي د خلګو د تعامل په وجه قياس پرېښوول سوی دی او هغه جائز ګرځول سوی دی.

او په دې شيانو کي هم تعامل جاري دی. نو ځکه به په دوی کي وقف صحيح وي. په رواياتو کي ذکر سوي دي چي د حسن بن زياد شاګرد "نصير بن يحيی" په قرآن شريف باندي په قياس کولو سره خپل ديني کتابونه وقف کړل او مشائخو د هغه د دې فعل ستاينه وکړه او پر همدې يې فتوی ورکړه: ځکه چي د قرآن شريف په څېر ديني کتابونه هم د لوستلو او ښوولو (ور زده کولو) لپاره وقف کيږي. او د قرآن کريم وقف جائز دی. لهذا د ديني کتابونو وقف به هم جائز وي. او په کومو شيانو کي چي تعامل نه وي. په هغوی کي زموږ په نيز وقف جائز نه دی.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د کوم شي أصل باقي پرېښوول او له هغه څخه نفع اخيستل ممکن وي او د هغه خرڅول جائز وي. نو د هغه وقف به هم جائز وي. لکه د کراع او وسلې وقف چي جائز دی. زموږ دليل دا دی چي د وقف د صحت لپاره تأبيد شرط دی او په منقولاتو کي عموماً تأبيد نه وي. لهذا د هغوی وقف به هم جائز نه وي. لکه څرنګه چي د دراهمو او دنانيرو وقف جائز نه دی. د دې په خلاف په عقار کي تأبيد موجود دی. لهذا منقولات پر عقار قياسول صحيح نه دي. همدارنګه پر کراع او وسلې هم منقولات قياسول صحيح نه دي، ځکه چي په کراع او سلاح کي خلافُ القياس په نص سره د وقف جواز ثابت دی. لهذا پر دوی به نور شيان نه قياسول کيږي. ځکه قاعده دا ده چي "ما ثبت علی خلاف القياس فغيره لا يُقاس عليه". او په کومو شيانو کي چي د وقف جواز په تعامل سره ثابت وي پر هغوی هم داسي شی قياسول صحيح نه دي چي په هغه کي تعامل معدوم وي. او بل دا چي په وسله او آسونو سره جهاد کيږي او جهاد د اسلام اعلیٰ رکن دی. نو په کراع او سلاح کي چي په کومه اندازه د قربت معنیٰ سته هغه په نورو منقولاتو کي نسته. نو په دې وجه د کراع او سلاح وقف جائز دی. او له دوی څخه بغير د نور منقولاتو (چي په هغوی کي تعامل نه وي) وقف جائز نه دی.

تر وقف پوره کېدلو وروسته د بيع او داسي نورو حکم

قال: **وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ** فرمايي: او کله چي وقف صحيح سي [يعني کله چي وقف لازم سي] **لَمْ يَجُزْ بَيْعُهُ وَلَا تَمْلِيكُهُ** نو د هغه خرڅول او د يو چا په ملکيت کي ورکول جائز نه دي **إِلَّا أَنْ يَكُونَ مُشَاعًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فَيَطْلُبُ الشَّرِيكُ الْقِسْمَةَ فَيَصِحُّ مُقَاسَمَتُهُ** خو دا چي هغه وقف مُشترک وي نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دويم شريک د تقسيم مطالبه کولای سي او د هغه تقسيم کول او وېش [به] صحيح وي **أَمَّا امْتِنَاعُ التَّمْلِيكِ فَلِمَا بَيَّنَّا** کوم چي د تمليک ممنوع کېدل دي نو د هغه دليل په

وجه دي كوم چي موږ امخكي ا بيان كړى وَأَمَّا جَوَازُ الْقِسْمَةِ فَلِأَنَّهَا تَمْيِيزٌ وَإِفْرَازٌ او كوم چي د تقسيم جائز كېدل دى نو ځكه چي تقسيم بېلول او جلا كول دي ايعني خپله حصه د بل چا له حصې څخه جلا كول دي ا غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّ الْغَالِبَ فِي غَيْرِ الْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ مَعْنَى الْمُبَادَلَةِ آخري پای یې دا دی ايعني په تقسيم سره به فقط دا خرابي منځ ته راسي ا چي له كيلي او وزني شي څخه بغير په نورو شيانو كي به د مبادلې معنیٰ غالبه وي إِلَّا أَنَّ فِي الْوَقْفِ جَعَلْنَا الْغَالِبَ مَعْنَى الْإِفْرَازِ نَظَرًا لِلْوَقْفِ لېكن د وقف وطرف ته په كتلو [او پر واقف د شفقت كولو ا په خاطر موږ په وقف كي د إفراز معنیٰ غالبه كړه فَلَمْ تَكُنْ بَيْعًا وَتَمْلِيكًا لهذا دا به بيع او تمليك نه وي ثُمَّ إِنْ وَقَفَ نَصِيبَهُ مِنْ عَقَارٍ مُشْتَرَكٍ فَهُوَ الَّذِي يُقَاسِمُ شَرِيكَهُ بيا كه ايو څوک ا له مشترک عقار څخه خپله حصه وقف كړي نو همدا واقف به په خپل شريک سره تقسيم كوي [او خپله حصه به په جلا كوي ا لِأَنَّ الْوِلَايَةَ لِلْوَاقِفِ وَبَعْدَ الْمَوْتِ إِلَى وَصِيِّهِ ځكه چي [پر وقف ا فقط واقف لره ولايت وي او د واقف تر مرګ وروسته د هغه وصي [ولي ا لره ولايت وي وَإِنْ وَقَفَ نِصْفَ عَقَارٍ خَالِصٍ لَهُ او كه ايو څوک ا د داسي ځمكي نيمه حصه وقف وكړي كوم چي د هغه لپاره خالص [غير مشترک ا وي فَالَّذِي يُقَاسِمُهُ الْقَاضِي نو [په دې صورت كي ا به قاضي په واقف تقسيم كوي أَوْ يَبِيعُ نَصِيبَهُ الْبَاقِيَ مِنْ رَجُلٍ ثُمَّ يُقَاسِمُهُ الْمُشْتَرِي ثُمَّ يَشْتَرِي ذَلِكَ مِنْهُ يا به واقف خپله پاته حصه پر يو سړي خرڅوي چي بيا به هغه [مشتري ا په واقف تقسيم كوي [او ا بيا به واقف له مشتري څخه [خپله حصه ا رانيسي لِأَنَّ الْوَاحِدَ لَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مُقَاسِمًا وَمُقَاسَمًا ځكه چي دا جائز نه دي چي فقط يو سړى دي هم تقسيم كونكى وي او هم تقسيم كړى سوى وَلَوْ كَانَ فِي الْقِسْمَةِ فَضْلُ دَرَاهِمَ او كه په تقسيم كي څه اضافي دراهم وي إِنْ أَعْطَى الْوَاقِفُ لَا يَجُوزُ نو كه مشتري واقف ته هغه دراهم ور كړي. دا جائز نه دي لِامْتِنَاعِ بَيْعِ الْوَقْفِ ځكه چي د وقف [موقوف شي ا خرڅول ممنوع دي وَإِنْ أَعْطَى الْوَاقِفُ جَازَ او كه واقف يې مشتري ته ور كړي، نو جائز دي وَيَكُونُ بِقَدْرِ الدَّرَاهِمِ شِرَاءً او هغه به د شراء په اعتبار سره د دراهمو په اندازه وي. ايعني د دې مطلب به دا وي چي واقف څه حصه په دراهمو سره رانيوله او هغه يې وقف كړه ا.

اللغات: ﴿تمليك﴾ د تفعيل مصدر دی: مالک جوړول. ﴿مقاسمة﴾ د مفاعلې مصدر دی: وېشنه. تقسيم کول (پتهواري). تقسيمول او خپله حصه اخستل. ﴿إفراز﴾ د افعال مصدر دی: د بل چا له مال څخه خپل مال جلا کول (عليحده کول). ﴿فضل﴾ اضافي. زيات (زايد).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د وقف تر صحيح کېدلو او لازمېدلو وروسته د هغه خرڅول يا په يو بله طريقه سره هغه د يو چا په ملکيت کې ورکول جائز نه دي. لېکن که چيرې وقف د مُشاع او مشترک شي وي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د غير واقف د مطالبه کولو په صورت کې د هغه تقسيمول صحيح او جائز دي؛ ځکه چې په وقف کړی سوي (موقوف شي) کې د هغه هم حق او حصه سته. او فقط په تقسيم سره هغه ته خپله حصه ورکول ممکن دي. نو په دې وجه د مُشاع شي تقسيم جائز دی. لېکن يو څوک د هغه مالک جوړول جائز نه دي؛ ځکه مخکې د حضرت عمر ﷺ د صدقه کولو په هکله دا حديث "تصدق بأصله لا يُباع ولا يُورث ولا يُوهب" ذکر سو. کوم چې د دې خبرې دليل دی چې تر وقف کولو وروسته د وقف تمليک ممنوع دی.

د وقف (موقوف شي) په تقسيمولو سره به فقط دا خرابي منځ ته راسي چې که چيرې وقف د غيرِ کَيلي او غيرِ وزني شي وي (يعني موقوف شی غيرِ مکيلي او غيرِ موزوني وي)، نو د هغه تقسيم به د "مُبادله" په معنیٰ سره وي. او مبادله په بيع کې کيږي، لهذا دا تقسيم به من وجه بيع وي. حالانکې د وقف بيع صحيح نه ده؟ د دې جواب دا دی چې که څه هم تقسيم د مبادلې په معنیٰ سره دی، لېکن په وقف کې پر واقف د رحم او شفقت کولو په خاطر د واقف د تصرف صحيح کولو لپاره موږ د إفراز او عليحده کولو معنیٰ غالب وګرځول، او په إفراز کې د تقسيم معنیٰ نسته. لهذا دا تقسيم به بيع او تمليک نه وي. نو ځکه به صحيح وي.

ثم إن وقف إلخ: د دې حاصل دا دی که يو څوک له مشترک عقار (غيرِ منقوله جايداد) څخه خپله حصه وقف وکړي، نو واقف به په خپل شريک سره د ځمکې او خپلې حصې تقسيم کوي. قاضي به د دې تقسيم نه کوي؛ ځکه چې پر موقوف شي فقط واقف ته ولايت حاصل دی او تر واقف وروسته به د هغه وصي ته دا ولايت حاصل وي لهذا قاضي به دا تقسيم نه کوي. د دې په خلاف که يو څوک د غيرِ مشترک عقار نيمه حصه وقف کړي نو په دې صورت کې به د دغه نيمې حصې تقسيم قاضي په واقف سره کوي يا د دې صورت به دا وي چې واقف خپله پاته (مابقي) حصه پر يو سړي خرڅه کړي او بيا دا سړی په واقف سره هغه تقسيم کړي؛ ځکه که چيرې پر واقف تقسيم لازم کړی

سي نو شخص واحد به هم مُقاسم سي او هم به مُقاسم سي (يعني هم به په خپله تقسيم كونكى وګرځي او هم به په بل چا تقسيم كونكى وګرځي). حالانكي دا صحيح نه دي. (أحسن الهداية)

ولوكان في القسمة إلخ: فرمايي چي كه په وېش او تقسيم كي يو طرف ته دارهم وي. مثلا په دواړو شريكانو كي د يوه شريک حصه غوره وي، او د دويم شريک په حصه كي څه نقص او كمي وي. او د هغه له طرفه دارهم ورتاكل سي. نو واقف ته د هغه دارهمو اخيستل جائز نه دي. ځكه كه واقف دراهم واخلي نو هغه به د دې په مقابله كي د وقف (موقوفه ځمكي) څه حصه وركوي، حالانكي د وقف بيع ممنوع ده. نو په دې وجه دواقف لپاره د دې دراهمو اخيستل جائز نه دي. ها! كه واقف دا دراهم مشتري ته حواله كړي او بيا مشتري د دې دراهمو په عوض كي څه عقار واقف ته وركړي او واقف هغه واخلي بيا يې وقف كړي نو دا صحيح او جائز دي.

د موقوف شي منافع به چيري صرفول كيږي؟

قَالَ: وَالْوَاجِبُ أَنْ يَبْتَدِأَ مِنْ اِرْتِفَاعِ الْوَقْفِ بِعِمَارَتِهِ فرمايي: چي د وقف منافع به تر ټولو مخكي د هغه په تعمير [ودانولو او مرمت كولو] كي صرفول كيږي شَرَطَ ذٰلِكَ الْوَاقِفُ أَوْ لَمْ يَشْتَرِطْ برابره ده واقف د دې شرط لګولى وي او كه نه وي لِأَنَّ قَصْدَ الْوَاقِفِ صَرْفُ الْغَلَّةِ مُؤَبَّدًا ځكه چي د واقف مقصد دا دى چي د وقف پيداوار [منافع] همېشه صرف كړى سي وَلَا تَبْقٰى دَائِمَةً إِلَّا بِالْعِمَارَةِ او پيداوار فقط په تعميرولو [ودانولو] سره همېشه پاتيږي فَيَثْبُتُ شَرْطُ الْعِمَارَةِ اقْتِضَاءً لهذا اقتضاءً به تعميرول شرط وي وَلِأَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ او ځكه چي نفع د ضمان [خرچ] په مقابله كي وي [يعني څوک چي له يو شي څخه نفع اخلي نو د دې شي خرچ او مصرف هم پر هغه لازم وي] وَصَارَ كَنَفَقَةِ الْعَبْدِ الْمُوْصٰى بِخِدْمَتِهِ فَإِنَّهَا عَلَى الْمُوْصٰى لَهُ بِهَا او دا داسي سو لكه د خدمت لپاره د وصيت كړى سوي غلام نفقه چي پر مؤصىٰ لهٗ بالخدمت باندي واجبيږي ثُمَّ إِنْ كَانَ الْوَقْفُ عَلَى الْفُقَرَاءِ وَلَا يُظْفَرُ بِهِمْ بيا كه وقف پر فقيرانو سوى وي [او هغوى دومره ډېر وي] چي له هغو څخه [د تعمير] خرچ اخيستل كېدلاى نه سي وَأَقْرَبُ أَمْوَالِهِمْ هٰذِهِ الْغَلَّةُ او هغو ته زيات نژدې د همدغه وقف پيداوار [ګټه] وي فَيَجِبُ فِيهَا نو په هغه [پيداوار] سره به تعميرول واجب وي وَلَوْ كَانَ الْوَقْفُ عَلٰى رَجُلٍ بِعَيْنِهِ وَآخِرُهٗ لِلْفُقَرَاءِ او كه وقف پر يو معيّن [معلوم] سړي سوى وي او تر هغه وروسته د فقيرانو لپاره وي فَهُوَ فِي مَالِهِ أَيْ مَالِهِ شَاءَ فِي حَالِ حَيَاتِهِ نو د وقف تعمير [تعميرول] به د هغه سړي

په مال كي واجب وي برابره ده كه هغه سړى له خپل هر مال څخه وغواړي په خپل ژوند كي دي تعمير وكړي وَلَا يُؤْخَذُ مِنَ الْغَلَّةِ او فقط د وقف له پيداوار [ګټي] څخه دي د تعمير خرچه نه اخيستل كيږي لِأَنَّهُ مُعَيَّنٌ يُمْكِنُ مُطَالَبَتُهُ ځكه چي دا وقف د يو معيّن سړي لپاره دى او له هغه څخه د تعمير مطالبه كول ممكن دي وَإِنَّمَا يَسْتَحِقُّ الْعِمَارَةَ عَلَيْهِ بِقَدْرِ مَا يَبْقَى الْمَوْقُوفُ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي وَقَفَهُ او په وقف كي به دومره اندازه تعمير كيږي چي په هغه سره وقف پر خپل هغه حالت پاته سي په كوم حالت كي چي واقف هغه وقف كړى وو وَإِنْ خَرِبَ يُبْنَى عَلَى ذَلِكَ الْوَصْفِ او كه هغه خراب سي نو پر هغه [مخكني] صفت [او حالت] به هغه جوړول كيږي لِأَنَّهَا بِصِفَتِهَا صَارَتْ غَلَّتُهَا مَصْرُوفَةً إِلَى الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ ځكه چي په هماغه صفت سره د هغه پيداوار [ګټه] پر موقوف عليه [متولي] باندي د صرفولو لپاره وقف كړى سوې وه فَأَمَّا الزِّيَادَةُ عَلَى ذَلِكَ فَلَيْسَتْ بِمُسْتَحَقَّةٍ عَلَيْهِ لهذا تر دې زيات تعميرول به پر موقوف عليه واجب نه وي وَالْغَلَّةُ مُسْتَحَقَّةٌ او [فقط] موقوف عليه د هغه د پيداوار [ګټي] مستحق دى فَلَا يَجُوزُ صَرْفُهَا إِلَى شَيْءٍ آخَرَ إِلَّا بِرِضَاهُ لهذا د هغه له رضا څخه بغير دغه پيداوار په بل شي كي صرفول [خرچول] جائز نه دي وَلَوْ كَانَ الْوَقْفُ عَلَى الْفُقَرَاءِ او كه وقف د فقراؤ لپاره وي فَكَذَلِكَ عِنْدَ الْبَعْضِ نو د ځيني مشائخو په نيز هم دغه حكم دى وَعِنْدَ الْآخَرِينَ يَجُوزُ ذَلِكَ او د نورو مشائخو په نيز په تعيمر كي زياتوب كول جائز دي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ لېكن اول قول زيات صحيح دى لِأَنَّ الصَّرْفَ إِلَى الْعِمَارَةِ ضَرُورَةُ إِبْقَاءِ الْوَقْفِ ځكه چي په تعمير كي پيداوار [او ګټه] صرفول د وقف د باقي ساتلو د ضرورت په وجه دي وَلَا ضَرُورَةَ فِي الزِّيَادَةِ او په زياتوب كولو كي هيڅ ضرورت نسته.

اللغات: ﴿ارتفاع﴾ نفع. ګټه. آمدن. منافع. ﴿عمارة﴾ ودانول. تعميرول (تعمير). جوړول. ﴿الغلة﴾ پيداوار. له ځمكي څخه ترلاسه كړى سوې نفع (حاصلات). مراد ځني د موقوف شي ګټه او منافع دي. ﴿خراج بالضمان﴾ ګټه په تاوان سره ده. دا يو محاوره ده. مطلب يې دا دى چي كوم څوك له يو شي څخه فايده او نفع اخلي د هغه شي خرچ او مصرف هم پر ده لازميږي (لكه پښتو كي چي هم ځيني وخت د دې مقصد لپاره داسي ويل كيږي چي "ګټه په تاوان سره ده"). ﴿لا يظفر﴾ د

سمع له باب څخه د نفي صيغه ده: كاميابېدل، برى ترلاسه كول، غالبېدل، د يو شي حاصلول (ترلاسه كول). ﴿إبقاء﴾ د افعال مصدر دى: باقي ساتل (خوندي ساتل، باقي پرېښوول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي د وقف په پيداوار او منافعو سره به تر ټولو مخكي د هغه د تعمير او جوړولو كار شروع كيږي، برابره ده واقف د دې شرط لګولى وي او كه نه وي: ځكه چي د واقف مقصد دا وي چي د هغه وقف همېشه باقي پاته سي او د دې صورت همدغه دى. دويمه خبره دا ده چي كله د موقوف عليه منافع موقوف عليه ته حاصليږي نو ښكاره خبره ده چي د وقف د تعمير خرچ به هم پر هغه وي چي دا به د وقف له ګټې او منافعو څخه پوره كول كيږي. لكه د يو سړي لپاره چي يو څوك وصيت وكړي چي زما دغه غلام به د هغه خدمت كوي، نو ښكاره خبره ده چي د دې غلام خرچه به هم پر هغه سړي (مخدوم) لازمه وي، همداسې به دلته هم د وقف د تعمير خرچه پر موقوف عليه لازمه وي.

ثم إن كان إلخ: فرمايي كه چيري وقف پر غريبانو سوى وى او دا ناممكنه وي چي ټوله غريبان سره جمع كړل سي او له هغو څخه د تعمير لپاره خرچ واخيستل سي، نو د همدې وقف په پيداوار او منافعو سره به تعمير كيږي، ها! كه چيري وقف پر يو معيّن سړي وي، نو بيا د وقف په پيداوار سره تعمير ضروري نه دي، بلكي دا سړى په خپل بل مال سره هم تعمير كولاى سي او بيا چي كله د وقف پيداوار او منافع حاصل كړي نو له هغه څخه به حساب اخلي، ځكه چي د وقف پيداوار هم د هغه دى او خپل مال هم د هغه دى. مطلب دا چي دواړه د هغه مالونه دي. لهذا هغه ته به اختيار وي چي په كوم مال سره وغواړي په هغه سره دې تعيمر وكړي. او په تعمير كي د زيات خرچ كولو ضرورت نسته. بلكي په كوم حالت او صفت سره چي واقف وقف كړى وي د هغه مطابق به موقوف عليه تعمير كوي او له بې ځايه اسراف څخه به پوره ځان ساتي.

ولو كان الوقف على الفقراء إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه وقف پر يو معين سړي نه وي. بلكي پر غريبانو وي، نو د ځينو مشائخو په نېز حكم دا دى چي په دې صورت كي به هم د ضرورت په اندازه تعمير كيږي او زيات تعمير جائز نه دي، لېكن د ځيني حضراتو په نېز په دې صورت كي هم زيات تعمير او خرچ كول صحيح او جائز دى، لېكن د عدم جواز والا قول أصح دى. ځكه چي په تعمير كي د وقف پيداوار او منافع خرچول د وقف د باقي ساتلو د ضرورت په وجه دي. او ښكاره خبره ده چي د زيات تعمير هيڅ ضرورت نسته، نو په دې وجه له ضرورت څخه زيات خرچ كول جائز نه دي.

د خپل اولاد لپاره د وقف کړی سوي کور تعمير (جوړول) به د چا پر ذمه وي؟

قَالَ: فَإِنْ وَقَفَ دَارًا عَلَى سُكْنَى وَلَدِهِ فرمايي: او که ايو څوک [د خپل اولاد د استوګنې لپاره يو کور وقف کړي فَالْعِمَارَةُ عَلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى نو د هغه کور تعمير [تعميرول] به د هغه چا پر ذمه وي کوم چې په هغه کې اوسيږي لِأَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ ځکه چې نفع د ضمان په مقابله کې وي عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو فَصَارَ كَنَفَقَةِ الْعَبْدِ الْمُوصَى بِخِدْمَتِهِ نو داسې سو لکه د موصی بالخدمت غلام نفقه فَإِنِ امْتَنَعَ مِنْ ذَلِكَ او که موقوف عليه له تعمير څخه انکار وکړي أَوْ كَانَ فَقِيرًا يا دئ غريب وي آجَرَهَا الْحَاكِمُ وَعَمَّرَهَا بِأُجْرَتِهَا نو حاکم دې هغه [کور] ده ته په اُجرت [کرايه] ورکړي او د هغه په اُجرت سره دې کور تعمير کړي وَإِذَا عَمَّرَهَا او کله چې کور تعمير کړي [يعني جوړ او برابر يې کړي] رَدَّهَا إِلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى نو هغه دې [بيرته] صاحبُ السکنیٰ ته واپس کړي لِأَنَّ فِي ذَلِكَ رِعَايَةَ الْحَقَّيْنِ حَقِّ الْوَاقِفِ وَحَقِّ صَاحِبِ السُّكْنَى ځکه چې په داسې کولو کې د واقف او صاحبُ السکنیٰ دواړو رعايت سته لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يُعَمِّرْهَا ځکه که حاکم هغه تعمير نه کړي تَفُوتُ السُّكْنَى أَصْلًا نو بالکل به استوګنه فوت سي وَالْأَوَّلُ أَوْلَى لهذا تعميرول غوره دي وَلَا يُجْبَرُ الْمُمْتَنِعُ عَلَى الْعِمَارَةِ او انکار کونکي به پر تعمير نه مجبورول کيږي لِمَا فِيهِ مِنْ إِتْلَافِ مَالِهِ ځکه چې په دې سره د هغه مال ضايع کيږي فَأَشْبَهَ امْتِنَاعَ صَاحِبِ الْبَذْرِ فِي الْمُزَارَعَةِ نو دا په کښتګرۍ کې د تُخم والا د انکار کولو سره مشابه سو فَلَا يَكُونُ امْتِنَاعُهُ رِضًا مِنْهُ بِبُطْلَانِ حَقِّهِ لهذا د هغه انکار کول به د خپل حق په بُطلان راضي کېدل نه وي لِأَنَّهُ فِي حَيِّزِ التَّرَدُّدِ ځکه چې اوس هغه د شک په ځای کې دی [يعني د هغه انکار په شک کې دی چې په کومه وجه هغه انکار کوي] وَلَا تَصِحُّ إِجَارَةُ مَنْ لَهُ السُّكْنَى او د صاحبُ السکنیٰ لپاره [موقوف کور] په اُجرت ورکول صحيح نه دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مَالِكٍ ځکه چې هغه [د موقوف کور] مالک نه دی.

اللغات: ﴿سكنى﴾ استوګنه، استوګه، اوسېدل. ﴿عمارة﴾ تعميرول (ودانول، جوړول او مرمت کول).

﴿آجرها﴾ د افعال ماضي ده. آجَرَ يُؤْجِرُ إِجَارَةً: په اُجرت ورکول، په کرايه ورکول. ﴿حيز﴾ په عربي کې د دې لفظ اعراب داسې دي: حَيِّز او حَيْز: مقام، يو شي ته څرمه ځای (مصباح اللغات). ﴿التردد﴾ د تفعّل اسم مصدر دی: شک، غيريقيني کيفيت (زړه نا زړه توب).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو شوک خپل کور د خپلو بچیانو د استوګنې لپاره وقف کړي نو څوک چي په هغه کور کي اوسیږي پر هغه به د کور تعمیر لازم وي. ځکه چي فقط هغه له کور څخه نفع او فایده اخلي. لهذا په "الخراج بالضمان" باندې په عمل کولو سره به تعمیر پر هغه لازم وي. او که هغه له تعمیر څخه انکار وکړي یا غریب وي او د هغه سره د تعمیر خرچه نه وي. نو قاضي به هغه کور په کرایه ورکوي او د هغه په کرایه سره به تعمیر کوي. او کله چي د تعمیر کار پوره سي نو صاحبُ السکنیٰ ته به یې حواله کوي: ځکه چي په تعمیر نه کولو سره به استوګنه بالکل فوت سي او د واقف مقصد به حاصل نه سي. لهذا د انکار کولو په صورت کي به د حاکم لپاره تعمیرول ضروري وي.

ولایُجبر الممتنع الخ: د دې حاصل دا دی چي که صاحب السکنیٰ له تعمیر څخه انکار وکړي نو هغه به پر تعمیر نه مجبورول کیږي: ځکه چي په جبر کولو سره به د هغه د مال بربادول لازم سي. لهذا څرنګه چي صاحب البذر د تخم له کرلو څخه انکار وکړي نو هغه نه مجبورول کیږي همداسي به دغه منکر هم نه مجبورول کیږي. او د هغه انکار به د خپل حق پر بطلان د راضي کېدلو دلیل هم نه وي: ځکه چي د هغه انکار د شک په دائره کي دی دا هم کېدای سي چي هغه د خرچ د نشتوالي په وجه انکار کوي او دا هم کیدای سي چي هغه د قاضي د تعمیرولو په امید سره انکار کوي. لهذا د شک په وجه به د هغه حق نه باطلیږي. او که چیري صاحبُ السکنیٰ دا کور په کرایه ورکول وغواړي. نو د هغه لپاره دا صحیح نه دي: ځکه چي هغه د دې کور مالک نه دی.

له وقف څخه مات سوي سامان حکم

قَالَ: وَمَا انْهَدَمَ مِنْ بِنَاءِ الْوَقْفِ وَآلَتِهِ فرمایي: او کوم څه چي د وقف له عمارت ایعني له بام. دېوال او داسي نورو څخه ا او د وقف له آلاتو څخه را ولویږي صَرَفَهُ الْحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الْوَقْفِ إِنْ احْتَاجَ إِلَيْهِ نو حاکم دي هغه سامان د وقف په تعمیرولو کي صرف کړي که چیري هغه ته ضرورت وي وَإِنْ اسْتَغْنَى عَنْهُ أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحْتَاجَ إِلَى عِمَارَتِهِ او که هغه ته ضرورت نه وي نو حاکم دي یې راوګرځوي تر دې چي د هغه تعمیرولو ته ضرورت پیدا سي فَيَصْرِفَهُ فِيهَا نو ابیا ا دي په تعمیر کي هغه صرف کړي لِأَنَّهُ لَابُدَّ مِنَ الْعِمَارَةِ لِيَبْقَى عَلَى التَّأْبِيدِ ځکه چي په دائمي توګه د وقف پاتېدلو لپاره تعمیر اتعمیرول ا ضروري دي فَيَحْصُلَ مَقْصُودُ الْوَاقِفِ د دې لپاره چي د واقف مقصود حاصل سي فَإِنْ مَسَّتِ الْحَاجَةُ إِلَيْهِ فِي الْحَالِ بیا که هغه ارا لوېدلي سامان ا ته حالاً اسمدستي ا ضرورت پیدا

سي صَرَفَهَا فِيهَا وَإِلَّا أَمْسَكَهَا نو هغه دې په تعمير کې صرف کړي کنې هغه دې راوګرځوي حَتَّى لَا يَتَعَذَّرَ عَلَيْهِ ذٰلِكَ أَوَانَ الْحَاجَةِ تر دې چې د ضرورت په وخت کې پر ده تعمير مشکل نه سي فَيَبْطُلُ الْمَقْصُودُ نو مقصود به باطل سي وَإِنْ تَعَذَّرَ إِعَادَةُ عَيْنِهِ إِلَى مَوْضِعِهِ او که هغه بعينه خپل ځای ته واپس کول (او په خپل ځای کې لګول) ناممکن وي بِيْعَ وَصُرِفَ ثَمَنُهُ إِلَى الْمَرَمَّةِ نو هغه دې خرڅ کړی سي او د هغه ثمن دې په مرمت (ترميم او جوړښت) کې صرف کړی سي صَرْفًا لِلْبَدَلِ إِلَى مَصْرِفِ الْمُبْدَلِ د دې لپاره چې د مُبدل پر ځای بدل صرف کړی سي وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَقْسِمَهُ يَعْنِي النَّقْضَ بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ او جائز نه دي چې مات سوی (را لوېدلی) سامان د وقف په مستحقينو کې صرف کړي لِأَنَّهُ جُزْءٌ مِنَ الْعَيْنِ ځکه چې سامان د عين وقف حصه ده وَلَا حَقَّ لِلْمَوْقُوفِ عَلَيْهِمْ فِيهِ او په دې کې د موقوف عليهم هيڅ حق نسته وَإِنَّمَا حَقُّهُمْ فِي الْمَنَافِعِ (ځکه) د دوی حق خو (فقط) په منافعو کې سته وَالْعَيْنُ حَقُّ اللهِ تَعَالَى او عين د الله تعالىٰ حق دی فَلَا يُصْرَفُ إِلَيْهِمْ غَيْرُ حَقِّهِمْ لهذا هغو ته به له خپل حق څخه بغير (د وقف) بل شی نه ورکول کيږي.

اللغات: ﴿انهدم﴾ د انفعال ماضي ده: نړېدل. رالوېدل. ﴿بناء﴾ عمارت. ودانۍ. ﴿أمسك﴾ د افعال ماضي ده: راګرځول (مراد ځني خوندي کول دي). ﴿لا يتعذر﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: مشکل کېدل. ناممکن کېدل. ﴿نُقْض﴾ د عمارت او بناء هغه حصه کوم چې ماته سي (را ولوېږي). جمع يې: أنقاض ده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که چېري د وقف عمارت (بناء) ماته سي يا د وقف له بناء څخه يو شی را ايله سي او په تعمير کې هغه ته ضرورت وي. نو حاکم او قاضي ته پکار دي چې دوباره د هغه مرمت او اصلاح کړي او هغه سامان په عمارت کې ولګوي. او که ضرورت نه وي. نو هغه دې خوندي وساتي د دې لپاره چې د ضرورت پيښېدلو په وخت کې هغه استعمال کړی سي: ځکه چې د واقف د مقصود پوره کولو لپاره خو يو ورځ نه يو ورځ د تعمير ضرورت پيښېږي. نو ځکه غوره همدا ده چې هغه خوندي او محفوظ وساتل سي د دې لپاره چې وروسته يوه ستونزه پيدا نه سي.

او که بعينه هغه سامان په خپل ځای کې لګول ناممکن وي نو هغه دې خرڅ کړی سي او د هغه ثمن دې په مرمت او تعمير کې ولګول سي. د دې لپاره چې د مُبدل پر ځای بدل په کار ولګول سي.

لېکن هغه سامان به په موقوف عليهم کي نه تقسيمول کيږي (بلکي هغه به خامخا په يو شي نه يو شي کي صرفول کيږي). ځکه چي هغه سامان دعين حصه ده. او عين د الله تعالیٰ دی. لهذا دالله تعالیٰ حق به په بندګانو (موقوف عليهم) کي تقسيمول صحيح نه وي.

په وقف کي د خپل ځان لپاره شرط لګول

قَالَ: وَإِذَا جَعَلَ الْوَاقِفُ غَلَّةَ الْوَقْفِ لِنَفْسِهِ فرمايي: او که واقف د وقف پيداوار (منافع) د خپل ځان لپاره خاص وګرځوي أَوْ جَعَلَ الْوِلَايَةَ إِلَيْهِ يا د وقف ولايت د ځان لپاره خاص وګرځوي جَازَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي قَالَ: ذَكَرَ فَصْلَيْنِ: شَرْطَ الْغَلَّةِ لِنَفْسِهِ وَجَعْلَ الْوِلَايَةِ إِلَيْهِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي امام قدوري رَحِمَهُ الله دوې جلا مسئلې بيان کړي دي: ① د خپل ځان لپاره د پيداوار شرط لګول ② او د ځان لپاره ولايت خاصول أَمَّا الْأَوَّلُ فَهُوَ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ کوم چي اوله مسئله ده نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز ده وَلَا يَجُوزُ عَلَى قِيَاسِ قَوْلِ مُحَمَّدٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول پر قياس جائز نه ده وَهُوَ قَوْلُ هِلَالٍ الرَّازِيّ او همدا د "هلال رازي" قول دی وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِيُّ او همدا خبره امام شافعي رَحِمَهُ الله کړې ده وَقِيلَ: إِنَّ الِاخْتِلَافَ بَيْنَهُمَا بِنَاءٌ عَلَى الِاخْتِلَافِ فِي اشْتِرَاطِ الْقَبْضِ وَالْإِفْرَازِ او يو قول دا دی: چي د دې حضراتو په مېنځ کي چي کوم اختلاف دی دا پر هغه اختلاف مبني دی کوم چي د متولي د قبضې د شرط والي او د إفراز کولو په هکله د دوی اختلاف دی وَقِيلَ: هِيَ مَسْأَلَةٌ مُبْتَدَأَةٌ دويم قول دا دی: چي دا نوې (مستقله) مسئله ده وَالْخِلَافُ فِيمَا إِذَا شَرَطَ الْبَعْضَ لِنَفْسِهِ فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ مَوْتِهِ لِلْفُقَرَاءِ وَفِيمَا إِذَا شَرَطَ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ مَوْتِهِ لِلْفُقَرَاءِ سَوَاءٌ او دا اختلاف برابر دی په هغه صورت کي کله چي په خپل ژوند کي څه منافع د خپل ځان لپاره شرط کړي او تر خپل مرګ وروسته يې د فقيرانو لپاره وقف کړي او په هغه صورت کي کله چي په خپل ژوند کي ټوله منافع د ځان لپاره شرط کړي او تر مرګ وروسته يې د فقيرانو لپاره وقف کړي ايعني په دې دواړو صورتونو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله اختلاف دی) وَلَوْ وَقَفَ وَشَرَطَ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِأُمَّهَاتِ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرِيهِ مَا دَامُوا أَحْيَاءً فَإِذَا مَاتُوا فَهُوَ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ او که څوک وقف وکړي او دا شرط ولګوي چي (د وقف) څه يا ټوله منافع د هغه د اُمّ ولد

مینځو او د هغه د مدبرو غلامانو لپاره دي تر څو چي هغوی ژوندي وي او د هغوی تر مرګ وروسته د غريبانو او مسكينانو لپاره دي فَقَدْ قِيلَ: يَجُوزُ بِالِاتِّفَاقِ نو يو قول دا دی: چي دا بالاتفاق جائز دي وَقَدْ قِيلَ: هُوَ عَلَى الْخِلَافِ أَيْضًا او بل قول دا دی چي دا هم مختلف فيه دي وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح دي لِأَنَّ اشْتِرَاطَهُ لَهُمْ فِي حَيَاتِهِ كَاشْتِرَاطِهِ لِنَفْسِهِ ځكه چي په خپل ژوند كي د ام ولد مينځو او مدبرينو لپاره شرط لګول داسي دي لكه د خپل ځان لپاره شرط لګول وَجْهُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ: أَنَّ الْوَقْفَ تَبَرُّعٌ عَلَى وَجْهِ التَّمْلِيكِ بِالطَّرِيقِ الَّذِي قَدَّمْنَاهُ د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول دليل دا دی: چي وقف په حقيقت كي د تقرّب [او ثواب حاصلولو] په نيت سره د مالك جوړولو په توګه احسان كول دي فَاشْتِرَاطُهُ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ يُبْطِلُهُ لهذا د خپل ځان لپاره د څه يا ټوله وقف شرط لګول به وقف باطل كړي لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنْ نَفْسِهِ لَا يَتَحَقَّقُ ځكه چي [په خپل مال سره] خپل ځان مالك جوړول نه متحقق كيږي [يا مطلب دا چي د خپل ځان په مالك جوړولو سره تبرّع نه ثابتيږي] فَصَارَ كَالصَّدَقَةِ الْمُنَفَّذَةِ وَشَرْطِ بَعْضِ بُقْعَةِ الْمَسْجِدِ لِنَفْسِهِ نو دا داسي سو لكه [فقير ته] سپارل سوي صدقه او لكه د ځان لپاره د مسجد د يوې حصې شرط لګول [صدقه منفذه دې ته وايي چي صدقه كونكی فقير ته صدقه وسپاري او بيا د ځان لپاره د صدقې څه حصه شرط كړي چي دومره به زما وي] وَلِأَبِي يُوسُفَ مَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ صَدَقَتِهِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا روايت دی چي نبي كريم ﷺ به د خپلي صدقې له مال څخه خوراك كوی وَالْمُرَادُ مِنْهَا صَدَقَتُهُ الْمَوْقُوفَةُ او له دې څخه موقوفه صدقه [وقف] مراد دی وَلَا يَحِلُّ الْأَكْلُ مِنْهَا إِلَّا بِالشَّرْطِ حالانكي له شرط څخه بغير د وقف له مال څخه خوراك كول روا نه دي فَدَلَّ عَلَى صِحَّتِهِ لهذا دا حديث د شرط پر صحيح كېدلو دليل دی وَلِأَنَّ الْوَقْفَ إِزَالَةُ الْمِلْكِ إِلَى اللهِ تَعَالَى عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ او ځكه چي وقف د قربت په نيت د الله لپاره د ملكيت زائلولو نوم دی عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لكه [مخكي] چي مونږ د دې بيان وكړی فَإِذَا شَرَطَ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ اوس كه چيري واقف څه يا ټوله وقف [منافع] د خپل ځان لپاره شرط كړي فَقَدْ جَعَلَ مَا صَارَ مَمْلُوكًا لِلَّهِ تَعَالَى لِنَفْسِهِ نو هغه د الله تعالىٰ مملوك د خپل

ځان لپاره خاص کړی لِأَنَّهُ يَجْعَلُ مِلْكَ نَفْسِهِ لِنَفْسِهِ او داسي نه ده چي هغه خپل ذاتي ملکيت د ځان لپاره خاص کړی وَهٰذَا جَائِزٌ او دا جائز دي كَمَا إِذَا بَنَى خَانًا لکه یو څوک چي مسافرخانه اکاروانسرای اجوړ کړي أَوْ سِقَايَةً یا د اوبو چیښلو ځای اسبیل اجوړ کړي أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً یا خپله ځمکه هدیره وګرځوي وَشَرَطَ أَنْ يَنْزِلَهُ أَوْ يَشْرَبَ مِنْهُ أَوْ يُدْفَنَ فِيهِ او دا شرط ولګوي چي زه به هم ا په مسافر خانه کي پاتېږم یا له سبیل څخه به اوبه چیښم یا په هدیره کي به ښخول کیږم انو دا جائز دي ا وَلِأَنَّ مَقْصُودَهُ الْقُرْبَةُ او ځکه چي د واقف مقصود الهي قربت ا ثواب حاصلول ا دي وَفِي الصَّرْفِ إِلَى نَفْسِهِ ذٰلِكَ او په خپل ځان باندي په صرفولو سره هم دا مقصود حاصلیږي قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى نَفْسِهِ صَدَقَةٌ نبي کريم ﷺ فرمایلي دي: چي پر خپل ځان د سړي خرچه کول اخپل ځان ته نفقه ورکول ا صدقه ده وَلَوْ شَرَطَ الْوَاقِفُ أَنْ يَسْتَبْدِلَ بِهِ أَرْضًا أُخْرَى إِذَا شَاءَ ذٰلِكَ او که واقف دا شرط ولګوي چي کله هغه وغواړي نو موقوفه ځمکه به په بلي ځمکي بدلوي ايعني که دا شرط ولګوي چي کله زما خوښه سوه نو دا موقوفه ځمکه به په بلي ځمکي سره بدلوم ا فَهُوَ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نيز دا جائز دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْوَقْفُ جَائِزٌ وَالشَّرْطُ بَاطِلٌ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نيز وقف جائز دی او شرط باطل دی وَلَوْ شَرَطَ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ فِي الْوَقْفِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ او که واقف په وقف کي د خپل ځان لپاره د دریو ورځو شرط ولګوي جَازَ الْوَقْفُ وَالشَّرْطُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نيز وقف او شرط دواړه جائز دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْوَقْفُ بَاطِلٌ او د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نيز وقف باطل دی وَهٰذَا بِنَاءً عَلَى مَا ذَكَرْنَا او دا اختلاف پر هغه اختلاف مبني دی کوم موږ بيان کړی وَأَمَّا فَصْلُ الْوِلَايَةِ فَقَدْ نَصَّ فِيهِ عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ او د ولايت تفصيل دا دی چي امام قدوري په هغه کي دا صراحت کړی دی چي دا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ قول دی ايعني د هغه په نيز جائز دی ا وَهُوَ قَوْلُ هِلَالٍ أَيْضًا او همدا د هلال رازي قول دی وَهُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ او همدا ظاهر د مذهب هم دی وَذَكَرَ هِلَالٌ فِي وَقْفِهِ وَقَالَ أَقْوَامٌ: إِنْ شَرَطَ الْوَاقِفُ الْوِلَايَةَ لِنَفْسِهِ الکه څرنګه چي ا هلال "رازي" په خپل کتابُ الوقف کي ذکر کړي دي: چي ځيني قومونو ايعني ځيني مشائخو ا ويلي دي: چي که واقف د خپل ځان لپاره د ولايت شرط ولګوي كَانَتْ لَهُ

وِلَايَةٌ نو ولايت به د هغه وي وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطْ او كه دا شرط نه ولكوي لَمْ تَكُنْ لَهُ الْوِلَايَةُ نو ولايت به د هغه نه وي قَالَ: مَشَايِخُنَا: اَلْأَشْبَهُ أَنْ يَكُونَ هٰذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ زموږ مشائخو فرمايلي دي: چي زيات نه غوره دا معلوميږي چي دا دي د امام محمد رَحِمَهُ الله قول وي لِأَنَّ مِنْ أَصْلِهِ: أَنَّ التَّسْلِيمَ إِلَى الْقَيِّمِ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْوَقْفِ ځكه چي د هغه أصل دا دى: چي موقوف شى و سرپرست امتولي اته سپارل اد هغه په نيز ا د وقف د صحيح كېدلو لپاره شرط دي فَإِذَا سَلَّمَ لَمْ يَبْقَ لَهُ وِلَايَةٌ فِيهِ لهذا كله چي واقف موقوف شى متولي ته وسپاري نو په هغه كي د ده ولايت ختم سي وَلَنَا: أَنَّ الْمُتَوَلِّيَ إِنَّمَا يَسْتَفِيدُ الْوِلَايَةَ مِنْ جِهَتِهِ بِشَرْطِهِ زموږ دليل دا دى: چي متولي صرف د واقف له طرفه ولايت حاصلوي فَيَسْتَحِيلُ أَنْ لَا يَكُونَ لَهُ الْوِلَايَةُ وَغَيْرُهُ يَسْتَفِيدُ الْوِلَايَةَ مِنْهُ او دا محال انامكن ا دي چي په خپله واقف لره ولايت نه وي او بل كس له هغه څخه ولايت حاصل كړي وَلِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَى هٰذَا الْوَقْفِ او ځكه چي واقف تر ټولو خلكو زيات دغه وقف ته زيات نژدې دى فَيَكُونُ أَوْلَى بِوِلَايَتِهِ لهذا افقط ا واقف به د هغه د ولايت زيات مستحق وي كَمَنِ اتَّخَذَ مَسْجِدًا لكه يو شوك چي مسجد جوړ كړي يَكُونُ أَوْلَى بِعِمَارَتِهِ وَنَصْبِ الْمُؤَذِّنِ فِيهِ نو افقط ا هغه به د مسجد د تعميرولو امرمت كولو ا او په هغه كي د مؤذن ټاكلو زيات حقدار وي وَكَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا او لكه يو شوك چي يو غلام آزاد كړي كَانَ الْوَلَاءُ لَهُ نو د مُعتَق غلام ولاء به افقط ا د آزادونكي وي لِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ ځكه چي آزادونكى تر ټولو خلكو مُعتَق غلام ته زيات نژدې دى وَلَوْ أَنَّ الْوَاقِفَ شَرَطَ وِلَايَتَهُ لِنَفْسِهِ او كه واقف د خپل ځان لپاره د ولايت شرط ولګوي وَكَانَ الْوَاقِفُ غَيْرَ مَأْمُونٍ عَلَى الْوَقْفِ او د وقف په باره كي هغه قابل اعتماد نه وي او دا خطره وي چي هغه به په خپله وقف استعمالوي ا فَلِلْقَاضِي أَنْ يَنْزِعَهَا مِنْ يَدِهِ نَظَرًا لِلْفُقَرَاءِ نو قاضي ته دا حق سته چي پر غريبانو د شفقت كولو په خاطر د هغه د لاس څخه ولايت وكاږي كَمَا لَهُ أَنْ يُخْرِجَ الْوَصِيَّ نَظَرًا لِلصِّغَارِ لكه څرنګه چي قاضي ته دا حق سته چي هغه پر كوچنيانو د شفقت كولو په خاطر وصي اد كوچنيانو له مال څخه ا وباسي وَكَذَا إِذَا شَرَطَ أَنْ لَيْسَ لِلسُّلْطَانِ وَلَا لِقَاضٍ أَنْ يُخْرِجَهَا مِنْ يَدِهِ وَيُوَلِّيَهَا غَيْرَهُ او همدارنګه كه واقف دا شرط ولګوي

چي باچا او قاضي ته دا حق نسته چي هغه وقف زما د لاس [قبضې] ځخه وباسي او بل څوک د هغه ولي جوړ کړي لِأَنَّهُ شَرْطٌ مُخَالِفٌ لِحُكْمِ الشَّرْعِ ځکه چي دا د شریعت د حکم مخالف شرط دی ایعني د واقف دا شرط د شریعت خلاف دی] فَبَطَلَ نو ځکه به باطلیږي.

اللغات: ﴿غلّة﴾ غله، پیداوار. مراد ځني د موقوف شي منافع دي. ﴿ولاية﴾ سرپرست کېدل (مشر کېدل). د ساتلو ذمه وار کېدل. ﴿إفراز﴾ د افعال مصدر دی: علیحده کول. جلا کول. ﴿خان﴾ د دې لفظ ډېري معناوي دي، دلته يې معنیٰ ده: مسافر خانه. کاروانسرای. هغه سرای او ځای کوم چي د مسافرانو د شپه تېر او تم کېدلو لپاره جوړ سوی وي (لکه پخوا چي به په یوه اوږده لار کي داسي سرایونه د سخي طبیعته مالدارانو له طرفه جوړېدل). ﴿سقّاية﴾ د اُوبو چینبلو ځای. سبیل. په لار کي د لارویانو د اُوبو چینبلو لپاره جوړ سوی ځای. ﴿عمارة﴾ ودانول. تعمیرول. ترمیم او اصلاح کول (مرمت کول). ﴿يلزعها﴾ د ضرب مضارع ده: کښل (کاږل). اخیستل.

تشریح: په دې عبارت کي څو مسئلې بیان سوي دي. اوله مسئله دا ده که چیري واقف دا شرط ولګوي چي د وقف پیداوار او منافع به زما وي او هغه به زه اخلم. یا دا شرط ولګوي چي د وقف ولایت (مشري) به زما وي. نو د اول صورت یعني د پیداوار اخیستلو شرط د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز جائز دی، لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز جائز نه دی. همدا د هلال رازي او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قول هم دی. د ځیني حضراتو رایه دا ده چي د امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُ الله دا اختلاف په حقیقت کي پر هغه اختلاف مبني دی چي د امام محمد په نیز موقوف شی متولي ته سپارل او له خپل ملکیت ځخه جلا کول شرط دي. او د ځیني حضراتو رایه دا ده چي دا مستقله او نوې مسئله ده.

او برابره ده واقف که د ټوله پیداوار د اخیستلو شرط ولګوي یا د څه پیداوار د اخیستلو شرط ولګوي په هر صورت کي د دې مسئلې حکم مختلف فیه دی.

د امام محمد دلیل: دا دی چي په وقف کي د تقرّب او ثواب په نیت سره بل څوک د خپل مملوکه شي د پیداوار مالک جوړول کیږي، او دا ښکاره خبره ده چي د څه یا ټوله پیداوار د اخیستلو شرط لګول د دغه تملیک منافي دي، نو ځکه به په دې شرط سره وقف باطلیږي. ځکه چي په داسي شرط لګولو کي خپل ذات د خپل مملوکه شي مالک جوړول دي او تملیک من نفسه صحیح نه دی (په لنډه توګه د امام محمد دلیل داسي هم ویل کېدای سي چي د وقف مطلب دا دی: "د الله لپاره تبرع او احسان کول". اوس که واقف د خپل ځان لپاره شرط ولګوي نو وقف تبرّع پاته نه سو. نو ځکه به په دې شرط

سره وقف باطليږي)، لکه څرنګه چې يو سړی فقير ته يو شی صدقه کړي او هغه ته يې وسپاري يا د مسجد لپاره ځمکه وقف کړي او متولي ته يې وسپاري، اوس که دا سړی له صدقه مُسلمه شخه يا له وقف کړی سوي ځمکي څخه د ځان لپاره د څه اخيستلو شرط ولګوي، نو د هغه وقف باطليږي. همداسي په دې مسئله کي د پيداوار په شرط لګولو سره هم وقف باطليږي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي په حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ به له صدقې څخه خوراک کوی، او له صدقې څخه مراد وقف کړی سوی شی دی، او دا خبره تسليم سوې ده چي د خوراک له شرط لګولو څخه بغير له موقوف مال څخه خوراک کول حلال نه دي. نو له دې څخه معلومه سوه چي د واقف لپاره له وقف څخه د څه اخيستلو شرط لګول صحيح او جائز دی، او داسي شرط د وقف مُبطل نه دی.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چي وقف "د قربت په نيت سره د الله لپاره د ملکيت ختمولو" ته وايي، اوس که چيري واقف له وقف څخه د څه اخيستلو شرط لګوي نو هغه د الله له مملوکه شي د اخيستلو شرط لګوي، نه له خپل مملوکه شي څخه، نو ځکه دا شرط صحيح دی. ځکه چي د الله مملوکه شي اخيستل صحيح دي، د دې مثال داسي دی لکه يو څوک چي د مسافرانو د اوسېدلو او آرام کولو لپاره مسافر خانه جوړه کړي يا د لاروپانو لپاره د اوبو چيښلو ځای (سبيل) جوړ کړي يا خپله ځمکه د خلګو لپاره هديره وګرځوي، بيا هغه په خپله په مسافر خانه کي پاته سي يا له سبيل څخه اوبه وچيښي يا په هديره کي د خپل ځان او د خپلو خلګو د ښخولو شرط ولګوي. نو دا صحيح او جائز دي. همداسي په دغه مسئله کي له وقف کړی سوي شي څخه د څه پيداوار د اخيستلو شرط لګول هم جائز دي.

دريم دليل دا دی چي د واقف مقصود قربت دی، او پر خپل ځان د وقف د پيداوار په خرچولو سره هم دا مقصود حاصليږي، ځکه چي په حديث مبارک کي ذکر سوي دي "نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلٰی نَفْسِهِ صَدَقَةٌ".

ولوشرط إلخ: فرمايي که واقف دا شرط ولګوي چي کله زه وغواړم نو موقوفه ځمکه به په بلي ځمکي سره بدلوم (يعني هغه به په بلي ځمکي سره سودا کوم)، نو دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز استحساناً جائز دي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز شرط جائز نه دی، او وقف جائز دی. همدا قياس دی. او که واقف د وقف کولو په هکله د خپل ځان لپاره د دريو ورځو خيار شرط ولګوي (مثلاً داسي ووايي چي زه دغه شی اوس وقف کوم او د دې فيصله به درې ورځي وروسته کوم، يعني د دغه فيصلې لپاره درې ورځي اختيار اخلم)، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز شرط او وقف دواړه جائز

دي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز وقف باطل دی. او دا اختلاف په حقیقت کې پر هغه اختلاف مبني دی چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د واقف لپاره دا جائز دي چې د خپل ځان لپاره د وقف پيداوار او منافع خاص کړي (لکه اوس چې د هغه مسلک بيان سو). نو په همدې وجه د هغه په نېز خيار شرط هم جائز دی. او څرنګه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د واقف لپاره د وقف پيداوار او منافع اخيستل صحيح نه دي. لهذا د هغه په نيز خيار شرط لګول هم جائز نه دي.

وأما فصل الولاية إلخ: تر اوسه پوري د پيداوار اخيستلو په هکله د شرط لګولو بيان وو. اوس له دې ځايه څخه د ولايت اخيستلو په هکله د شرط لګولو بيان کوي. په دې هکله د امام قدوري رَحِمَهُ الله وضاحت دا دی چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په قول او د هلال رازي رَحِمَهُ الله په کتاب الوقف کې د دې خبري صراحت سوی دی چې که واقف د خپل ځان لپاره د ولايت اخيستلو شرط ولګوي نو هغه ته به ولايت ورکول کيږي او له شرط لګولو څخه بغير به نه ورکول کيږي. زموږ مشائخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي چې د هلال رازي دا صراحت د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول سره زيات مشابه دی. ځکه چې دا ناممکنه ده چې يو څوک له داسي کس څخه ولايت حاصل کړي چې هغه په خپله د ولايت مالک نه وي. دا د فقهي مشهوره قاعده ده "مَنْ لَا يَمْلِكُ شَيْئًا لَا يُمَلِّكُهُ غَيْرَهُ" يعني څوک چې په خپله د يو شي مالک نه وي هغه بل څوک هم د دې شي مالک نه سي جوړولای.

په دې هکله دويم دليل دا دی چې فقط واقف تر ټولو زيات وقف ته نږدې وي. او د وقف په هکله زيات واقفيت او خبر هغه ته وي. لهذا د وقف د ولايت زيات مستحق به هم فقط هغه وي. لکه يو څوک چې مسجد جوړ کړي، نو د مسجد د تعمير او ترميم کولو، د مؤذن لګولو او د داسي نورو زيات مستحق فقط هغه وي.

ولو أن الواقف إلخ: مسئله دا ده که واقف يو شی وقف کړي او د ځان لپاره د ولايت شرط ولګوي. حال دا چې هغه معتمد سړی نه وي. او د هغه له طرفه په وقف کې د لاس وهلو او د وقف استعمالولو خطره وي. نو قاضي ته دا حق سته چې له هغه څخه ولايت سلب کړي او يو أمين سړي ته يې وسپاري. لکه کله چې د يتيمانو د وصي په هکله دا خطره وي چې هغه به د دوی په مال کې خيانت وکړي. نو قاضي هغه هم برطرفه کولای سي.

که چيري واقف دا شرط لګولی وي چې باچا يا قاضي به ما له ولايت څخه نه برطرفه کوي. نو هم به قاضي هغه ته درس ورکوي او ولايت به ځني اخلي. ځکه چې دا شرط د شريعت خلاف دی. ځکه چې د قاضي ولايت عام وي او هغه د مسلمانانو د معاملاتو د إصلاح او سمون لپاره ټاکل سوی وي. او دلته واقف صاحب د خپل مفاد په خاطر د قاضي د ولايت ساقطولو شرط لګوي. لهذا شريعت دا زغملای نه سي.



فَصْلٌ (فِي بِنَاءِ الْمَسْجِدِ وَغَيْرِهِ)

(دا) فصل (د مسجد او د داسي نورو ديني ځايونو د جوړولو په بيان کي دی)

د مسجد وقف کله د وقف کونکي له ملکيت ځخه وځي؟

وَإِذَا بَنَى مَسْجِدًا لَمْ يَزَلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يُفْرِزَهُ عَنْ مِلْكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ لِلنَّاسِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ او که يو څوک مسجد جوړ کړي نو له هغه شخه د ده ملکيت نه ختميږي تر دې چي هغه له خپل ملکيت شخه جلا کړي د هغه د لاري سره (مطلب دا چي د مسجد لاره ايله کړي يعني) خلکو ته په هغه کي د لمونځ کولو اجازه ورکړي فَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ (بيا) که فقط يو سړی په هغه کي لمونځ وکړي زَالَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَنْ مِلْكِهِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه مسجد د ده له ملکيت شخه وځي أَمَّا الْإِفْرَازُ فَلِأَنَّهُ لَا يَخْلُصُ لِلَّهِ تَعَالَى إِلَّا بِهِ کوم چي إفراز دی (نو دا) ځکه (ضروري دی) چي له دې شخه بغير هغه د الله لپاره نه خالص کيږي وَأَمَّا الصَّلَاةُ فِيهِ فَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ التَّسْلِيمِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او کوم چي په هغه کي لمونځ کول دي (نو دا) ځکه (ضروري دي) چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د وقف د صحت لپاره (د وقف) ورسپارل ضروري دي وَيُشْتَرَطُ تَسْلِيمُ نَوْعِهِ او د وقف د نوع (او حالت) مطابق ورسپارل شرط دي (يعني وقف چي څرنګه ورسپارل کيږي فقط هغسي ورسپارل شرط دي) وَذَلِكَ فِي الْمَسْجِدِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ او دا په مسجد کي د لمونځ کولو په ذريعه ثابتيږي أَوْ لِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ الْقَبْضُ يا (په بله وينا دا) چي کله پر مسجد حقيقي قبضه کول ناممکن دي فَقَامَ تَحَقُّقُ الْمَقْصُودِ مَقَامَهُ نو د مسجد د مقصد ثابتېدل (پوره کېدل) به د قبضې قائم مقام وي ثُمَّ يَكْتَفِي بِصَلَاةِ الْوَاحِدِ فِيهِ فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَكَذَا عَنْ مُحَمَّدٍ بيا له طرفينو رَحِمَهُمَا الله شخه په يوه روايت کي فقط د يوه سړي لمونځ کول د تسليم (ورسپارلو) لپاره کافي دي لِأَنَّ فِعْلَ الْجِنْسِ مُتَعَذِّرٌ ځکه چي د پوره جنس فعل ناممکن دی فَيُشْتَرَطُ أَدْنَاهُ لهذا د جنس ادنیٰ به شرط وي وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ يُشْتَرَطُ

الصَّلَاةُ بِالْجَمَاعَةِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا دی: چي په جماعت سره لمونځ ا وکښي (١) کول شرط دي لِأَنَّ الْمَسْجِدَ بُنِيَ لِذَٰلِكَ فِي الْغَالِبِ ځکه چي مسجد عموما د جماعت د لمانځه لپاره جوړيږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَزُولُ مِلْكُهُ بِقَوْلِهِ جَعَلْتُهُ مَسْجِدًا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي (فقط) د جوړونكي په دې قول "جعلته مسجدًا" سره د هغه ملكيت ختميږي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ ځكه چي د هغه په نيز ورسپارل شرط نه دي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ لِمِلْكِ الْعَبْدِ ځكه چي وقف د بنده د ملكيت ساقطول دي فَيَصِيرُ خَالِصًا لِلّٰهِ تَعَالَىٰ بِسُقُوطِ حَقِّ الْعَبْدِ لهذا (فقط) د بنده د حق په سقوط سره به هغه له خالص لله ګرځي وَصَارَ كَالْإِعْتَاقِ او هغه د إعتاق په څير دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او مخكي موږ د دې بيان وكړی.

اللغات: ﴿يفرزه﴾ د افعال مضارع ده: عليحده كول. جلا كول. ﴿طريق﴾ لاره. ﴿لا يخلص﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: خالص كېدل. ﴿تسليم﴾ د تفعيل مصدر دی: ورسپارل. ﴿إعتاق﴾ د افعال مصدر دی: غلام آزادول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی كه يو سړی مسجد جوړ كړي نو تر څو چي دا سړی هغه مسجد له خپل ملكيت څخه جلا نه كړي او په هغه كي خلكو ته د لمونځ كولو عام اجازت نه وركړي. تر هغه وخته پوري به دا مسجد د هغه له ملكيت څخه نه وځي: له خپل ملكيت څخه جلا كول ځكه ضروري دي چي مسجد خالص د الله لپاره وګرځي. او په مسجد كي لمونځ كېدل ځكه ضروري دي چي همدا د مسجد د ورسپارلو طريقه ده. او مخكي ذكر سوه چي د طرفينو په نيز د موقوف شي ور سپارل شرط دي. نو ځكه به دا دواړه شيان د ملكيت د ختمېدلو لپاره ضروري وي.

بيا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز يو روايت دا دی چي كه فقط يو سړی هم په هغه مسجد كي لمونځ وكړي نو هغه به د باني له ملكيت څخه وځي: ځكه چي په هغه كي د هر مسلمان فرد لمونځ كول ناممكن دي. لهذا د جنس د ادنی يعني د فرد واحد په لمونځ كولو سره به تسليم ثابتيږي.

له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت دا دی چي د تسليم د ثبوت لپاره د جماعت لمونځ شرط دی. ځكه چي عموماً په مسجدونو كي په جماعت سره لمونځ كيږي او مسجدونه هم د جماعت د لمانځه لپاره تعميرول كيږي. لهذا فقط د يوه سړي په لمونځ كولو سره به تسليم نه ثابتيږي.

او څرنګه چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د وقف د صحت لپاره تسليم شرط نه دی. نو ځکه که باني فقط "جعلتُه مسجدا" ووايي نو د امام ابو يوسف په نېز به مسجد د هغه له ملکيت څخه وځي او د الله لپاره به خالص ګرځي. لکه څرنګه چې د غلام په إعتاق (آزادولو) کې محض د "أعتقتُ" په ويلو سره إعتاق ثابتيږي. ځکه چې دا د بنده د ملکيت إسقاط دی او د إسقاط لپاره تسليم شرط نه دی.

د مسجد د زېرخانې او بالا خانې حکم

قَالَ: وَمَنْ جَعَلَ مَسْجِدًا تَحْتَهُ سِرْدَابٌ أَوْ فَوْقَهُ بَيْتٌ وَجَعَلَ بَابَ الْمَسْجِدِ إِلَى الطَّرِيقِ وَعَزَلَهُ عَنْ مِلْكِهِ فرمايي: او که څوک داسې مسجد جوړ کړي چې تر هغه لاندې زېرخانه وي يا پر هغه د پاسه خونه [بالاخانه] وي او د مسجد دروازه د لارې وطرف ته راوباسي او هغه له خپل ملکيت څخه جلا کړي نو هغه به مسجد نه وي [فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهُ او ده [باني] ته به د مسجد خرڅولو اختيار وي وَإِنْ مَاتَ يُورَثُ عَنْهُ او که مړ سي نو هغه [مسجد] به د ده له طرفه ميراث کيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَخْلُصْ لِلَّهِ تَعَالَى ځکه چې هغه خالص د الله لپاره نه سو لِبَقَاءِ حَقِّ الْعَبْدِ مُتَعَلِّقًا بِهِ ځکه چې د هغه سره د بنده حق تړلی پاته دی وَلَوْ كَانَ السِّرْدَابُ لِمَصَالِحِ الْمَسْجِدِ او که زېرخانه د مسجد د منافعو لپاره وي جَازَ نو وقف جائز دی كَمَا فِي مَسْجِدِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لکه د بيتُ المقدس په مسجد کې وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: إِذَا جَعَلَ السُّفْلَ مَسْجِدًا وَعَلَى ظَهْرِهِ مَسْكَنٌ او حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی دی چې هغه فرمايلي دي: که څوک لاندې والا حصه مسجد وګرځوي او پر هغه د پاسه استوګنځی [خونه يا کور] وي فَهُوَ مَسْجِدٌ نو هغه مسجد دی لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مِمَّا يَتَأَبَّدُ ځکه چې مسجد له هغو شيانو څخه دی کوم چې همېشه پاتيږي وَذَلِكَ يَتَحَقَّقُ فِي السُّفْلِ دُونَ الْعُلْوِ دا خبره په لاندې والا حصه کې ثابتيږي، نه په پورتنۍ حصه کې وَعَنْ مُحَمَّدٍ عَلَى عَكْسِ هَذَا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د دې برعکس روايت سوی دی لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مُعَظَّمٌ ځکه چې مسجد د تعظيم لائق دی [يعني د هغه تعظيم او عزت به کيږي] وَإِذَا كَانَ فَوْقَهُ مَسْكَنٌ أَوْ مُسْتَغَلٌّ او کله چې د هغه د پاسه استوګنځی يا د کرايې والا ځای وي يَتَعَذَّرُ تَعْظِيمُهُ نو د هغه تعظيم به ناممکن وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ جَوَّزَ فِي الْوَجْهَيْنِ حِينَ قَدِمَ بَغْدَادَ وَرَأَى ضِيقَ الْمَنَازِلِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه

روایت سوی دی: چي هغه دواړه صورتونه جائز وګرځول. کله چي هغه بغداد ته راغلی او د ځایونو تنګي یې ولیدل فَكَأَنَّهُ اعْتَبَرَ الضَّرُوْرَةَ ګواکي امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د ضرورت اعتبار کړی دی ایعني د ضرورت پر بناء یې دواړه صورتونه جائز ګرځولي دي ا وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ حِيْنَ دَخَلَ الرَّيَّ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی: چي کله هغه د "ري" ښار ته داخل سو أَجَازَ ذٰلِكَ كُلَّهُ نو د دې ټولو ایعني د دواړو صورتونو ا اجازه یې ورکړه لِمَا قُلْنَا د هغه څه په وجه کوم چي موږ ذکر کړه ایعني د ضرورت پر بناء ا قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنِ اتَّخَذَ وَسَطَ دَارِهِ مَسْجِدًا وَأَذِنَ لِلنَّاسِ بِالدُّخُولِ فِيهِ فرمايي: همدارنګه که څوک خپل د کور مېنځ انس ا مسجد وګرځوي او په هغه کي خلګو ته د راتللو اجازه ورکړي انو هم دغه حکم دی ا يَعْنِي لَهُ أَنْ يَبِيعَهُ وَيُورَثُ عَنْهُ یعني هغه ته د دې ځای د خرڅولو اختیار سته او دا ځای د هغه له طرفه میراث کیږي لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مَا لَا يَكُونُ لِأَحَدٍ فِيهِ حَقُّ الْمَنْعِ ځکه چي مسجد هغه ځای ته وايي چي په هغه کي هیچا ته د منع کولو حق حاصل نه وي وَإِذَا كَانَ مِلْكُهُ مُحِيطًا بِجَوَانِبِهِ حال دا چي کله د دې مسجد څلور سره طرفو ته د مالک ملکیت دی كَانَ لَهُ حَقُّ الْمَنْعِ نو هغه ته د منع کولو حق حاصل دی فَلَمْ يَصِرْ مَسْجِدًا نو ځکه دا ا ځای ا مسجد نه سو لِأَنَّهُ أَبْقَى الطَّرِيقَ لِنَفْسِهِ ځکه چي هغه د خپل ځان لپاره اهم ا لاره باقي وساتل فَلَمْ يَخْلُصْ لِلّٰهِ تَعَالٰى لهذا دا خالص د الله لپاره نه سو وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ وَلَا يُورَثُ وَلَا يُوهَبُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي دا ځای اُبه مسجد وي او دا ا نه خرڅول کېدای سي او نه میراث کېدای سي او نه هبه کېدای سي اعْتَبَرَهُ مَسْجِدًا ا ګواکي ا هغه دا مسجد ګڼلی دی وَهٰكَذَا عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَصِيرُ مَسْجِدًا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه هم دغه روایت سوی دی چي دا ځای مسجد ګرځي لِأَنَّهُ لَمَّا رَضِيَ بِكَوْنِهِ مَسْجِدًا وَلَا يَصِيرُ مَسْجِدًا إِلَّا بِالطَّرِيقِ دَخَلَ فِيهِ الطَّرِيقُ ځکه کله چي هغه د دې ځای په مسجد کېدلو راضي سو نو لاره هم په هغه کي داخله سوه ځکه چي د لاري څخه بغیر هغه مسجد نه ګرځي وَصَارَ مُسْتَحَقًّا او هغه لاره مستحقه وګرځېده ایعني د مسجد لاره وګرځېده ا كَمَا يَدْخُلُ فِي الْإِجَارَةِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ لکه په إجاره کي چي هم له وضاحت کولو څخه بغیر لاره داخلیږي.

اللغات: ﴿**سرداب**﴾ زېرخانه، زېر زميني، ﴿**عزله**﴾ د ضرب ماضي ده: جلا کول، عليحده کول، ﴿**سُفل**﴾ او سِفل: لاندي والا، لاندي حصه، ﴿**عُلو**﴾ او عِلو او عَلو: لوړ والی (پورته والی)، لوړه حصه، ﴿**مسکن**﴾ د اوسېدلو ځای، استوګنځی، ﴿**مستغل**﴾ د کرايې ځای (هغه کور يا خونه چي مالک د کرايې لپاره جوړ کړی وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو څوک په داسي ځای کي مسجد جوړ کړي چي تر هغه لاندي زېرخانه وي يا پر هغه د پاسه خونه يا کور وي او د مسجد دروازه د عامي لاري وطرف ته را واباسي، نو شرعاً او ظاهراً به هغه مسجد نه وي او جوړونکي (باني) ته به د هغه د خرڅولو حق وي، همدارنګه که دئ مړ سي نو د ده وارثان به په هغه کي د ميراث مستحق وي، ځکه چي د هغه سره د مالک حق تړلی دی نو په دې وجه هغه د الله لپاره خالص نه سو. ها! که چيري زېرخانه يا بالاخانه د مسجد د مصالحو او ضروريا تو لپاره جوړه سوې وي نو هغه مسجد به شرعاً او ظاهراً مسجد وي. لکه د بيتُ المقدس زېرخانه چي وقف ده او د هيچا په ملکيت کي نه ده.

حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا قول نقل کړی دی چي که يو څوک د يو ځای لاندي حصه او لاندي چت مسجد وګرځوي او پر هغه د پاسه کور او د استوګني ځای وي، نو دا لاندي حصه به مسجد وي، ځکه چي د مسجد لپاره تأبيد ضرور دی او په لاندي حصه کي تأبيد او دوام متحقق دی، د دې په خلاف که پورتنۍ (لوړه) حصه مسجد وګرځول سي او په لاندي حصه کي کور او استوګنځی وي، نو هغه مسجد به شرعي مسجد نه وي. او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د دې برعکس روايت سوی دی، يعني د هغه په نېز پورتنۍ حصه مسجد ګرځول صحيح دي او لاندينۍ حصه مسجد ګرځول صحيح نه دي، ځکه چي مسجد محترم او معظم وي او س که د هغه د پاسه استوګنځی وي نو په دې سره به د هغه تعظيم فوت سي، نو په دې وجه لاندي خصه مسجد ګرځول صحيح نه دي.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي کله هغه د بغداد ښار ته ولاړی او هلته يې وليدل چي کورونه تنګ جوړ سوي دي او مسجدونه هم تنګ جوړ سوي دي، نو هغه په دواړو صورتونو کي مسجد شرعي مسجد وګرځوی يعني برابره ده تر هغه لاندي زېرخانه وي يا د پاسه يې بالاخانه وي په هر صورت کي به هغه شرعي مسجد وي کنې! داسي ځای به نه پيدا کيږي چي خلک په هغه کي په جماعت سره لمونځ وکړي، او کله چي امام محمد رَحِمَهُ الله د "رَی" ښار ته ولاړی، نو هغه هم د ضرورت پر بناء په دواړو صورتونو کي جوړ سوي مسجد ته د شرعي مسجد حکم ورکړی،

او نن سبا په ګران بيه ځمکو والا ښارونو (لکه د هندوستان بمبئي او نورو ښارونو) کي هم داسي ډېر مساجد آباد دي او په هغوی کي پنځه وخته لمونځونه کيږي.

وقال وكذالك إلخ: د دې حاصل دا دی چي که څوک د خپل کور د حويلۍ (غولي) په مېنځ کي مسجد جوړ کړي او په هغه کي د لمونځ کولو عام اجازت ورکړي. لېکن هغه له خپل ملکيت څخه عليحده او جلا نه کړي، او نه د عامي لاري وطرف ته د مسجد دروازه را وباسي. نو هغه ته به هم شرعي مسجد نه ويل کيږي او جوړونکي (باني) ته به د هغه د خرڅولو او هبه کولو حق وي. ځکه چي مسجد هغه ځای ته ويل کيږي چي په هغه کي هيچا ته د منع حق حاصل نه وي. حالانکي دلته د حويلۍ په مېنځ کي مسجد واقع دی او څلور سره طرفونو ته د مالک ملکيت دی. نو په دې وجه هغه ته د منع حق حاصل دی او کله چي هم هغه وغواړي نو د خپلي حويلۍ دروازه بندولای سي او عام اجازت ختمولای سي. نو ځکه به دا ځای او مسجد خالص د الله لپاره نه وي او د دې بيع او تمليک به صحيح وي.

په دې سلسله کي له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه دويم روايت دا دی چي دا ځای مسجد سو (او د الله لپاره وقف سو) لهذا د مالک لپاره د هغه خرڅول. هبه کول او داسي نور هيڅ شی صحيح نه دي. ځکه کله چي مالک هغه جوړ کړی او د مسجد نوم يې ورکړی او عامو خلکو ته يې په هغه کي د لمونځ کولو اجازه ورکړه، نو ښکاره خبره ده چي اوس هغه د ده له ملکيت څخه ووتی. پاته سوه د لاري مسئله. نو لاره د وضاحت او صراحت څخه بغير په هغه کي داخليږي. ځکه چي د لاري څخه بغير مسجد ته ګرسره مسجد نه ويل کيږي او بل دا چي څوک د مسجد لپاره غټ ځای ورکولای سي نو لاره بيا څه قصه لري د هغه په ورکولو کي به هيڅ بخل نه کوي. او لکه څرنګه چي په کرايه باندي د کور ورکولو په صورت کي د لاري له وضاحت او ذکر څخه بغير په هغه کور کي لاره داخليږي. همداسي به دلته هم په دې مسجد کي د هغه لاره داخليږي.

د مسجد خرڅولو او داسي نورو حکم

قَالَ: وَمَنِ اتَّخَذَ أَرْضَهُ مَسْجِدًا او که څوک خپله ځمکه مسجد وګرځوي ايعني مسجد پکښي جوړ کړي ا لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهِ وَلَا يَبِيعَهُ وَلَا يُورَثُ عَنْهُ نو هغه ته دا حق نسته چي دا ځای واپس واخلي او نه هغه دا خرڅولای سي او نه د هغه له طرفه میراث کېدای سي لِأَنَّهُ يُخْرَجُ عَنْ حَقِّ الْعِبَادِ وَصَارَ خَالِصًا لِلّٰهِ ځکه چي داسي ځای د بندګانو له حق څخه محفوظه کيږي ايعني د بندګانو له حق څخه وځي ا او د الله لپاره خالص ګرځي وَهٰذَا لِأَنَّ الْأَشْيَاءَ كُلَّهَا لِلّٰهِ تَعَالَىٰ او دا ځکه چي تمام شيان د

الله تعالىٰ دي وَإِذَا أَسْقَطَ الْعَبْدُ مَا ثَبَتَ لَهُ مِنَ الْحَقِّ او كله چي بنده هغه حق ساقط كړي كوم چي د ده لپاره ثابت وي رَجَعَ إِلَى أَصْلِهِ نو هغه حق د خپل أصليت وطرف ته وګرځيدی فَانْقَطَعَ تَصَرُّفُهُ عَنْهُ نو له هغه څخه د بنده تصرف ختم سو كَمَا فِي الْإِعْتَاقِ لكه څرنګه چي اد غلام ا په آزادولو كي [داسي كيږي] وَلَوْ خَرِبَ مَا حَوْلَ الْمَسْجِدِ وَاسْتُغْنِيَ عَنْهُ او كه د مسجد شاوخوا ځايونه ويران سي او مسجد ته ضرورت پاته نه سي يَبْقَى مَسْجِدًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو هم هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مسجد پاتيږي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ مِنْهُ ځكه چي هغه د بنده له طرفه إسقاط دی امطلب دا چي څوک مسجد جوړ كړي نو هغه له دې مسجد څخه خپل حق ساقط كړی او د هغه ملكيت ختم سو ا فَلَا يَعُودُ إِلَى مِلْكِهِ لهذا دا به د هغه ملكيت ته [دوباره] نه واپس كيږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَعُودُ إِلَى مِلْكِ الْبَانِي أَوْ إِلَى وَارِثِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به هغه د جوړونكي [باني] و ملكيت ته يا د هغه تر مرګ وروسته د وارث و ملكيت ته واپس كيږي لِأَنَّهُ عَيَّنَهُ لِنَوْعِ قُرْبَةٍ ځكه چي جوړونكي د يو قسم عبادت لپاره دا ځای متعين كړی وو وَقَدِ انْقَطَعَتْ او [اوس] هغه عبادت ختم سو فَصَارَ كَحَصِيرِ الْمَسْجِدِ وَحَشِيشِهِ إِذَا اسْتُغْنِيَ عَنْهُ نو داسي سو لكه د مسجد چټايي او د مسجد وابنه كله چي هغوی ته ضرورت پاته نه سي إِلَّا أَنَّ أَبَا يُوسُفَ يَقُولُ فِي الْحَصِيرِ وَالْحَشِيشِ أَنَّهُ يُنْقَلُ إِلَى مَسْجِدٍ آخَرَ لېكن د چټايي او وښو په باره كي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي هغوی به بل مسجد ته نقل كيږي.

اللغات: ﴿يُحرز﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: حفاظت كول، خوندي كول، ساتل. ﴿خرب﴾ د سمع ماضي ده: خرابېدل، ورانېدل، ويرانېدل (ويجاړېدل). كنډواله كېدل. ﴿استغنى عنه﴾ د استفعال له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: بې نيازه كېدل، بې پروا كېدل، ضرورت او اړتيا نه پاتېدل. ﴿حصير﴾ چټايي. پوزی. (لكه اوس چي د دې پر ځای درې استعماليږي). ﴿حشيش﴾ وچ وابنه (پخوا به د مسجد مخته د سايې لپاره ځای جوړېدی او پر هغه د پاسه به وابنه او نور څه اچول كېده. دلته له "حشيش" څخه هغه وابنه مراد دي. أثمار الهداية)

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی كه يو څوک په خپله ځمكه كي مسجد جوړ كړي، نو هغه وقف سو. اوس باني او مالک ته دا حق نسته چي هغه ځای خرڅ كړي يا يې په ميراث كي ور كړي: ځكه چي د مسجد په جوړولو سره هغه ځای خالص د الله لپاره وګرځېدی. او دا ځكه چي د دنيا او ما فيها هر شی د الله مملوک دی او

فقط د بندګانو د ضرورت په خاطر د هغو لپاره ملکيت او د استعمال اباحت (روايښت) ثابت کړی سوی دی.
اوس که يو څوک د الله په نامه يو شی وقف کړي او خپل ثابت سوی حق ساقط کړي. نو هغه شی د خپل أصلي او حقيقي مالک (الله ﷻ) وملکيت ته منتقل کيږي او بيرته د بنده ملکيت ته نه را ګرځي. لکه څرنګه چي يو غلام تر آزادولو وروسته د خپل أصل وطرف ته د حُريت (آزادۍ) وطرف ته منتقل کيږي او بيرته د مالک (مولیٰ) وملکيت ته نه را ګرځي. همدا حال د مسجد هم دی چي هغه بيرته د باني ملکيت ته نه را ګرځي.

ولو خرب إلخ: د دې حاصل دا دی که د مسجد شاوخوا علاقه ويرانه سي، مثلاً مسجد د صحراء په يو کلي کي وي او بيا هغه کلی په صحراء بدل سي او مسجد ته ضرورت پاته نه سي. نو په دې صورت کي هغه مسجد د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د مخکي په څير مسجد پاتيږي او د باني ملکيت ته نه واپس کيږي. ځکه چي هغه د باني له ملکيت څخه ووتی او د الله لپاره خالص سو. لهذا اوس په هغه کي هيڅ رجوع کېدلای نه سي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به په دې صورت کي هغه د مسجد باني يا د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي. ځکه چي باني هغه د يو خاص مقصد يعني د لمونځ او عبادت لپاره جوړ کړی او وقف کړی وو. او دا مقصد فوت سو ځکه چي د شاوخوا ځايونو د هلاکېدلو په وجه به اوس په هغه کي لمونځ نه کيږي. لهذا اوس به هغه بيرته د باني ملکيت ته را ګرځي. د دې مثال داسي دی لکه يو څوک چي مسجد ته چټايي يا نور څه مثلاً وابنه راوړي، او بيا هغه ته هيڅ ضرورت پاته نه سي (مثلاً د هغه پر ځای خلک بله چټايي يا نور وابنه راوړي). نو د عامو خلکو لپاره د هغه استعمالول مباح دي. همداسي کله چي مسجد ته هيڅ ضرورت پاته نه سي ، نو د باني لپاره به هغه ځای په کار اچول (استعمالول) او تصرف پکښي کول مباح وي. لېکن په حصير او حشيش سره د امام ابو يوسف په خلاف دليل نيول صحيح نه دي، ځکه چي د حصير او حشيش په صورت کي هم د هغه په نيز اباحت نسته بلکي حکم يې دا دی چي هغوی به يو بل مسجد ته (چي هلته ضرورت وي) وړل کيږي. همدا مُحقق او مفتیٰ به قول دی.

د اوبو چينبلو ځای (سبيل)، مسافرخانه (کاروانسرای) او د داسي نورو جوړولو حکم

قَالَ: وَمَنْ بَنَى سِقَايَةً لِلْمُسْلِمِينَ فرمايي: او که يو څوک د مسلمانانو لپاره د اوبو چينبلو ځای (سبيل) جوړ کړي أَوْ خَانًا يَسْكُنُهُ بَنُو السَّبِيلِ يا مسافرخانه جوړه کړي چي په هغه کي مسافران اوسيږي أَوْ رِبَاطًا يا رباط جوړ کړي ايعني يا داسي ځای جوړ کړي چي په هغه کي مجاهدين د سرحد د حفاظت لپاره اوسيږي أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً يا خپله ځمکه هديره وګرځوي لَمْ يَزَلْ مِلْكُهُ عَنْ ذٰلِكَ حَتّٰى يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو تر هغه وخته به له دې اشيانو ا څخه د باني ا جوړونکي ا ملکيت نه

ختميږي تر څو چي حاکم د دې فيصله نه وکړي. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِأَنَّهُ لَمْ يَنْقَطِعْ عَنْ حَقِّ الْعَبْدِ ځکه چي تر اوسه هغه شی د بنده (باني) له حق څخه قطع سوی نه دی أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهِ آيا ته نه ګورې! چي باني لره دا حق سته چي له هغه څخه نفع واخلي فَيَسْكُنَ فِي الْخَانِ وَيَنْزِلَ فِي الرِّبَاطِ (يعني هغه ته دا حق سته چي) په مسافرخانه کي اووسيږي او په رباط کي (ځيني وخت) پاته سي وَيَشْرَبَ مِنَ السِّقَايَةِ وَيُدْفَنَ فِي الْمَقْبَرَةِ او له سبيل څخه اوبه وچيښي او په هديره کي ښخ کړی سي فَيُشْتَرَطُ حُكْمُ الْحَاكِمِ أَوِ الْإِضَافَةُ إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ نو ځکه به د حاکم فيصله کول يا تر خپل مرګ وروسته حالت ته منسوب کول شرط وي كَمَا فِي الْوَقْفِ عَلَى الْفُقَرَاءِ لکه پر غريبانو د وقف کولو په باره کي (چي هم دغه حکم دی) بِخِلَافِ الْمَسْجِدِ په خلاف د مسجد لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ لَهُ حَقُّ الِانْتِفَاعِ بِهِ ځکه چي د واقف لپاره له مسجد څخه د نفع اخيستلو حق نه پاتيږي فَخَلَصَ لِلّٰهِ تَعَالَى مِنْ غَيْرِ حُكْمِ الْحَاكِمِ لهذا هغه د حاکم له حکم څخه بغير د الله لپاره خالص سو وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَزُولُ مِلْكُهُ بِالْقَوْلِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به د واقف ملکيت (فقط) د هغه په قول سره ختميږي كَمَا هُوَ أَصْلُهُ لکه څرنګه چي دا د هغه أصل دی إِذِ التَّسْلِيمُ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ ځکه چي (متولي ته) سپارل د هغه په نيز شرط نه دي وَالْوَقْفُ لَازِمٌ او (له ورسپارلو څخه بغير هم د هغه په نيز) وقف لازميږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ إِذَا اسْتَقَى النَّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوا الْخَانَ وَالرِّبَاطَ وَدُفِنُوا فِي الْمَقْبَرَةِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز چي کله خلک له سبيل څخه اوبه واخلي او په مسافرخانه او رباط کي اووسيږي او په هديره کي مړي ښخ کړل سي زَالَ الْمِلْكُ نو د واقف ملکيت ختميږي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ عِنْدَهُ شَرْطٌ ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز (متولي ته) سپارل شرط دي وَالشَّرْطُ تَسْلِيمُ نَوْعِهِ او (په هر شي کي) د هغه د نوع (او حالت) مطابق ورسپارل شرط دي وَذٰلِكَ بِمَا ذَكَرْنَاهُ او دا زموږ په ذکر سوو صورتونو سره ثابتيږي وَيُكْتَفَى بِالْوَاحِدِ او (د ورسپارلو د ثبوت لپاره) د شخص واحد فعل کافي دی لِتَعَذُّرِ فِعْلِ الْجِنْسِ كُلِّهِ ځکه چي د ټوله جنس فعل ناممکن دی وَعَلَى هٰذَا الْبِئْرُ الْمَوْقُوفَةُ وَالْحَوْضُ او وقف کړی سوی څاه او حوض هم پر دغه اختلاف دی وَلَوْ سَلَّمَ إِلَى الْمُتَوَلِّي او که واقف متولي (سرپرست) ته موقوف شی وسپاري صَحَّ

التَّسْلِيمِ فِي هٰذِهِ الْوُجُوهِ كُلِّهَا نو په دې ټولو صورتونو کي به تسليم اورسپارل ا صحيح کيږي لِأَنَّهُ نَائِبٌ عَنِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ ځکه پر کومو کسانو چي وقف سوی وي متولي د هغو نائب وي وَفِعْلُ النَّائِبِ كَفِعْلِ الْمَنُوبِ عَنْهُ او د نائب فعل د أصل قائم مقام وي وَأَمَّا فِي الْمَسْجِدِ فَقَدْ قِيلَ: لَا يَكُونُ تَسْلِيمًا او کوم چي په مسجد کي اد تسليم ثابتېدلو مسئله ده ا نو يو قول دا دی: چي محض متولي ته په ورسپارلو سره تسليم نه ثابتيږي لِأَنَّهُ لَا تَدْبِيرَ لِلْمُتَوَلِّي فِيهِ ځکه چي په مسجد کي متولي لره هيڅ دخل نه وي وَقِيلَ: يَكُونُ تَسْلِيمًا او بل قول دا دی: چي تسليم ثابتيږي لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَىٰ مَنْ يَكْنُسُهُ وَيُغْلِقُ بَابَهُ ځکه چي مسجد ته د داسي سړي ضرورت وي چي هغه مسجد جارو کړي او د مسجد دروازه بنده کړي انو په دې وجه د متولي لپاره هم څه نا څه دخل ثابت سو ا فَإِذَا سَلَّمَ إِلَيْهِ لهذا کله چي واقف متولي ته هغه وسپاري صَحَّ التَّسْلِيمُ نو تسليم به صحيح کيږي وَالْمَقْبَرَةُ فِي هٰذَا بِمَنْزِلَةِ الْمَسْجِدِ او د تسليم په حکم کي هديره د مسجد په څير ده عَلَىٰ مَا قِيلَ لکه څرنګه چي ويل سوي دي لِأَنَّهُ لَا مُتَوَلِّيَ لَهُ عُرْفًا ځکه چي په عرف کي د هديرې هيڅ متولي نه وي وَقِيلَ: هِيَ بِمَنْزِلَةِ السِّقَايَةِ وَالْخَانِ او بل قول دا دی: چي ادتسليم په حکم کي ا هديره د مسافر خانې او سبيل په څير ده فَيَصِحُّ التَّسْلِيمُ إِلَى الْمُتَوَلِّي نو ځکه به متولي ته ورسپارل صحيح کيږي ااو تسليم به ثابتيږي ا لِأَنَّهُ لَوْ نَصَبَ الْمُتَوَلِّي ځکه که چيري [په خپله ا واقف د هديرې لپاره متولي مقرر کړي يَصِحُّ نو صحيح کيږي وَإِنْ كَانَ بِخِلَافِ الْعَادَةِ که څه هم دا د عادت ااو عرف ا خلاف دي وَلَوْ جَعَلَ دَارًا لَهُ بِمَكَّةَ سُكْنَىٰ لِحَاجِّ بَيْتِ اللهِ وَالْمُعْتَمِرِينَ او که ايو سړی ا په مکه کي موجود خپل کور د حج او عمره کونکو لپاره استوګنځی وګرځوي أَوْ جَعَلَ دَارَهُ فِي غَيْرِ مَكَّةَ سُكْنَىٰ لِلْمَسَاكِينِ يا له مکې څخه بغير په بل ځای کي موجود خپل کور د مسکينانو لپاره استوګنځی وګرځوي أَوْ جَعَلَهَا فِي ثَغْرٍ مِنَ الثُّغُورِ سُكْنَىٰ لِلْغُزَاةِ وَالْمُرَابِطِينَ يا په يو سرحد کي واقع خپل کور د غزا کونکو امجاهدينو ا او د سرحد ساتونکو لپاره استوګنځی وګرځوي أَوْ جَعَلَ غَلَّةَ أَرْضِهِ لِلْغُزَاةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَىٰ يا د خپلي ځمکي پيداوار ااو منافع ا د الله په لار کي د غزا کونکو امجاهدينو لپاره ا وقف وګرځوي وَدَفَعَ ذٰلِكَ إِلَىٰ وَالٍ يَقُومُ عَلَيْهِ او دا اشيان ا يو متولي اسرپرست ا ته ورکړي کوم چي پر هغه نګراني کوي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي وَلَا رُجُوعَ فِيهِ او په دې کي رجوع نه سي کېدلای ايعني تر دې وروسته واقف هغه

واپس نه سي اخيستلای| لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی إِلَّا أَنَّ فِي الْغَلَّةِ تَحِلُّ لِلْفُقَرَاءِ دُونَ الْأَغْنِيَاءِ لېکن پيداوار به فقط د غريبانو لپاره حلال وي. نه د مالدارانو لپاره وَفِيمَا سِوَاهُ مِنْ سُكْنَى الْخَانِ وَالِاسْتِقَاءِ مِنَ الْبِئْرِ وَالسِّقَايَةِ وَغَيْرِ ذَٰلِكَ يَسْتَوِي فِيهِ الْغَنِيُّ وَالْفَقِيرُ او له دې څخه بغير نور شيان يعني د مسافر خانې په اوسېدلو. له څاه او سبيل څخه د اوبو په را اخيستلو او داسي نورو کي مالدار او غريب دواړه برابره دي وَالْفَارِقُ هُوَ الْعُرْفُ فِي الْفَصْلَيْنِ او په دواړو صورتونو کي فرق کونکی شی عرف عام دی فَإِنَّ أَهْلَ الْعُرْفِ يُرِيدُونَ بِذَٰلِكَ فِي الْغَلَّةِ الْفُقَرَاءَ ځکه چي د عرف والا ايعني خلک| د پيداوار په وقف سره غريبان مرادوي ايعني که څوک غله وقف وکړي نو په عرف کي دا ګڼل کيږي چي دا فقط د فقيرانو لپاره ده| وَفِي غَيْرِهَا التَّسْوِيَةَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ او له پيداوار څخه بغير د بل شي په وقف کي غريبان او مالداران برابر ګڼي وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ تَشْمَلُ الْغَنِيَّ وَالْفَقِيرَ فِي الشُّرْبِ وَالنُّزُولِ او په دې وجه [هم] چي په چيښلو او پاتېدلو کي ضرورت مالدار او غريب دواړو ته شامليږي ايعني د اوبو چيښلو ضرورت او په مسافرخانه کي د پاتېدلو ضرورت غريب او مالدار دواړو ته شامل دی. هر يو دې ته اړتيا لري| وَالْغَنِيُّ لَا يَحْتَاجُ إِلَى صَرْفِ هَٰذَا الْغَلَّةِ لِغِنَاهُ [لېکن] د دې پيداوار خرڅولو [استعمالولو] ته مالدار د خپلې مالدارۍ په وجه هيڅ اړتيا نه لري. والله أعلم بالصواب

اللغات: ﴿سقاية﴾ د اوبو چيښلو ځای (کوم چي په لار کي جوړ سوی وي. او لارويان اوبه ځني چيښي). سبيل. ﴿خان﴾ د دې لفظ ډيري معناوي دي. دلته يې معنیٰ ده: مسافر خانه. کاروانسرای. هغه سرای کوم چي په يو اوږده لار کي د مسافرانو د شپه تېر او تم کېدلو لپاره جوړ سوی وي. ﴿بنو السبيل﴾ د لاري زامنان. مراد ځني مسافرين دي. ﴿رباط﴾ د دې لفظ ډيري معناوي دي چي له هغوی څخه دلته دوې معناوي مراد کېدای سي: ① هغه ځای چي لښکر (مجاهدين) د سرحد د حفاظت لپاره په هغه کي اوسيږي چي زموږ په اصطلاح هغه ته سرحدي پوسته. چاوڼی او داسي نور وايي. ② د غريبانو او فقيرانو د جمع کېدلو ځای (مجمع الفقراء وملجأهم). ﴿استقیٰ﴾ د استفعال ماضي ده: د اوبو طلب کول. له حوض. څاه او داسي نورو څخه اوبه را اخيستل. ﴿بئر﴾ څاه. کوهی. جمع آبَار. ﴿الغلة﴾ پيداوار (له ځمکي څخه ترلاسه کړي سو غله. حبوب. دانې). د موقوف شي ګټه او منافع. ﴿تسوية﴾ د تفعيل ماضي ده: برابرول. برابري کول. ﴿مرابطين﴾ جمع د مُرَابِطٌ ده: د سرحد د حفاظت لپاره په سرحد کي اوسېدونکي مجاهدين. ﴿نزول﴾ د ضرب مصدر دی: شوه کېدل. پړاو اچول. عارضي قيام کول (د لږ وخت لپاره پاتېدل). ﴿ثغور﴾ جمع د ثَغْرٌ

ده: سرحد. وېش. پوله (باړ). ﴿الشُّكنٰی﴾ مخکښي موږ وويل چي د دې لفظ دوې معناوي دي: (۱) اوسول او اوسېدل (استوګه کول). (۲) استوګنځی (مسکن).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی د مسلمانانو لپاره د اوبو چيښلو ځای (سبيل) جوړ کړي لکه نن سبا چي هم په عامو لارو کي داسي ځايونه جوړ سوي دي. يا مسافر خانه (کاروانسرای) جوړ کړي. يا د مجاهدينو لپاره يو استوګنځی (رباط) جوړ کړي (يا مثلاً د غريبانو لپاره يو ځای جوړ کړي) يا په خپله ځمکه کي هديره جوړه کړي، نو تر کومه وخته چي قاضي او حاکم د دې شي د وقف کېدلو فيصله نه وکړي (يعني تر څو چي حاکم دا فيصله نه وکړي چي دا شی يعني سبيل يا داسي نور د مسلمانانو لپاره وقف او خاص دی). تر هغه وخته پوري دا شی د صانع او باني له ملکيت څخه نه وځي: ځکه چي تر دې مخکښي د شي سره په خپله د باني حق متعلق وي او باني په خپله له هغه څخه نفع اخيستلای سي (لکه څرنګه چي له خپل جايداد څخه نفع اخيستلای سي). لهذا د باني له ملکيت څخه د هغه د خارجېدلو او زائلېدلو لپاره يا د حاکم فيصله او فرمان صادرول ضروري دي. يا په خپله د باني له طرفه دا وضاحت کول ضروري دي چي "زما تر مرګ وروسته دا شی د عوامو لپاره دی". لکه پر فقيرانو چي ديو شي د وقف کولو په صورت کي هم د واقف د ملکيت زائلېدلو لپاره په دغه دوو شيانو کي يو شی (يعني د حاکم فيصله يا إضافة إلى ما بعد الموت) شرط دی. همداسي به په دې مسئله کي هم په دې دواړو کي يو شی شرط وي. دا حکم او دا تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی.

د دې په خلاف د مسجد مسئله ده. نو هغه له پورتني شيانو (سبيل او داسي نورو) څخه جلا ده. او په هغه کي فقط په وقف کولو سره د واقف ملکيت ختميږي، ځکه چي د واقف لپاره له مسجد څخه د نفع د اخيستلو هيڅ لاره نسته (يعني هغه د پورتني شيانو په څير او د خپل جايداد په څير له مسجد څخه نفع نه سي اخيستلای) او د حاکم له فرمان او فيصلې څخه بغير هم مسجد د الله لپاره خالص او مختص ګرځي.

وعند أبي يوسف إلخ: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به په دې صورتونو کي محض د واقف په دې قول "جعلتُه للمسلمين" سره د هغه ملکيت ختميږي. او د مکيت د زوال لپاره به د هيڅ حکم او فيصلې يا دستاويز ضرورت نه وي، ځکه چي د هغه نېز د وقف د صحت لپاره متولي ته موقوف شی ورسپارل (تسليم إلى المتولي) هم شرط نه دی بلکي محض د واقف په قول سره وقف پوره کيږي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به دغه وقف هغه وخت پوره کيږي کله چي خلک له سبيل څخه اوبه وچيښي يا په مسافر خانه او رباط کي اوسيږي. يا په هديره کي خلک ښخ کړی سي. يعني تر دې کارونو وروسته به ن. هغه ځمکي او جوړ سوي شي څخه د واقف او باني ملکيت ختميږي، ځکه

چې د هغه په نېز د وقف د صحت لپاره متولي ته موقوف شي ورسپارل (تسليم) شرط دی. او د تسليم صورت همدا دی چې کوم شی د کوم مقصد لپاره جوړ سوی وي په هغه مقصد کي دا شی استعمال سي نو تسليم ثابتيږي. خو د تسليم د ثبوت لپاره د فرد واحد استعمالول کافي دي. ځکه چې له هغه شي څخه د ټوله جنس نفع اخيستل مثلاً له سبيل څخه د ټولو خلګو اوبه چيښل يا په مسافرخانه کي د ټولو اوسېدل ناممکن او محال دي. د وقف کړی سوي حوض او څاه مسئله هم د أحنافو په نېز پر دغه اختلاف ده.

ولو سلم إلخ: د دې حاصل دا دی که باني (واقف) مسافرخانه يا رباط يا هديره يو متولي او منتظم ته وسپاري نو هم به تسليم (ورسپارل) ثابتيږي او وقف به پوره کيږي. او په دې تسليم سره به د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د هغه ملکيت ختميږي. ځکه چې متولي د موقوف عليهم نائب وي او د نائب فعل د أصل د فعل قائم مقام وي. لهذا د متولي قبضه به د هغو (موقوف عليهم) قبضه شمارل کيږي او وقف به پوره کيږي.

وأما في المسجد إلخ: څه مخکي دا خبره ذکر سوه چې که په مسجد کي فقط يو سړی لمونځ وکړي نو تسليم ثابتيږي او وقف پوره کيږي. اوس دلته دا بيانوي چې که تر اوسه په هغه مسجد کي لمونځ سوی نه وي او په دې وخت کي واقف هغه متولي ته وسپاري. نو آيا په دې سره تسليم ثابتيږي (يعني آيا په دې سره وقف پوره کيږي. که نه؟). نو په دې هکله دوه قولونه دي: (۱) يو قول دا دی چې تسليم نه ثابتيږي، ځکه چې متولي لره په مسجد کي هيڅ دخل نه وي. (۲) دويم قول دا دی چې تسليم ثابتيږي، ځکه چې د مسجد لپاره د يوه خادم ضرورت خامخا وي چې هغه مسجد جارو کړي او د مسجد دروازې بندي کړي. نو له دې څخه معلومه سوه چې متولي لره دخل سته. لهذا متولي ته په ورسپارلو سره به هم تسليم ثابتيږي او وقف به پوره کيږي.

او د هديرې په هکله هم دوه قولونه دي: (۱) د مسجد په څېر د هديرې په ورسپارلو سره هم تسليم نه ثابتيږي؛ ځکه چې په عرف کي د هديرې هيڅ ولي او متولي نه وي. (۲) دويم قول دا دی چې څرنګه په مسافرخانه او داسي نورو کي فقط د يوه سړي په فعل سره تسليم ثابتيږي. همداسي به متولي ته د هديرې په ورسپارلو سره هم تسليم ثابتيږي. يعني وقف به پوره کيږي او له مسجد څخه به د واقف ملکيت ختميږي.

ولوجعل دارًا له إلخ: په دې عبارت کې څلور خبرې ذکر سوي دي: ① که يو سړی په مکه مبارکه کې يو کور لري او هغه د حاجيانو او عمره کونکو د استوګنې لپاره وقف کړي، ② يا له مکې مبارکې څخه بغير په يو بل ځای کې خپل کور د مسکينانو د استوګنې لپاره وقف کړي، ③ يا په سرحدي علاقه کې يو کور لري او هغه د مجاهدينو د استوګنې او تـم کېدلو لپـاره وقـف کـړي، ④ يـا د خپلې ځمکې غله او پيداوار د مجاهدينو او غازيانو لپاره وقف کړي، او دا شيان يو متولي ته وسپاري کوم چې د دې نګراني کوي، نو دا ټوله صورتونه جائز دي او د دې شيانو په ورسپارلو سره به وقف پوره کيږي.

إلا أن في الغلة إلخ: لېکن دلته دا خبره تاسي په ياد لرئ! چې د مکان او کور په وقف کې د مالدار او غريب دواړو لپاره اوسېدل روا دي، لېکن د غلې او پيداوار وقف صرف د غريبانو او فقيرانو لپاره روا دی. او دا فرق د عرف په وجه دی، يعني که يو څوک پيداوار او غله وقف کړي، نو په عرف کې دا وقف د غريبانو لپاره ګڼل کيږي. او که مسافرخانه (کاروانسرای) وقف کړي، يا د اوبو چيښلو ځای (سبيل) وقف کړی. نو په عرف کې دغه وقف د غريب او مالدار دواړو طبقو لپاره ګڼل کيږي او په دې هکله دواړو ته په يوه نظر سره کتل کيږي. نو په دې وجه موږ په دواړو کې فرق کړی دی. عقلي دليل دا دی چې د اوبو چيښلو او په کاروانسرای کې پاتېدلو ته غريب او مالدار دواړه اړتيا لري. او غلې (پيداوار) ته فقط غريب اړتيا لري ځکه چې د مالدار او شتمن سره مال او غله ډېره وي، نو په دې وجه به هم د اوبو د چيښلو له ځای (سبيل) او کاروانسرای څخه غرايب او مالدار دواړه نفع اخيستلای سي، لېکن د وقف کړی سوي ځمکې غله او د وقف کړی سوي شي پيداوار او منافع به فقط د غريب او فقير سره خاص وي. او د مالدار او شتمن لپاره به د هغه استعمالول روا نه وي.

الحمدلله! نن د "۱۴۳۹" هجري کال د رمضان د مياشتې په اتلسمه نېټه چې "۲۰۱۸" ميلادي کال د مئي د مياشتې له شپاړسمې نېټې سره سمون لري د جمعې په سپېڅلې ورځ د "فتح الهداية" پنځم ټوک پای ته ورسېدی. الله ﷻ دې په خپل فضل او رحمت سره د پاته ټوکونو د تشريح توفيق هم راکړي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ، وَصَلَّى اللهُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَأَهْلِ بَيْتِهٖ وَعِتْرَتِهٖ أَجْمَعِيْنَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِشَارِحِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِأَسَاتِذَتِهٖ وَلِمَنْ قَامَ بِنَشْرِهٖ وَطَبْعِهٖ. (آمين)

احقر حبيب الرحمن مدني



